


Scanned with Ca

تفسیر خیر کثیر

پشتو ترجمه

تفسیر ابن کثیر

مؤلف: حافظ عماد الدین اسماعیل بن عمر بن ابن کثیر الدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری

مترجمین: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، وعبد الکریم صدیقی وقاری امیر نواز

جلد نمبر ②

تسهیلات از شاه فیصل

① د قرآنی آیاتونو تکی په تکی او روانه ترجمه

② د احادیثو تخریج

③ د فقهی مسئلو کښې مسلک حنفی وضاحت

④ مناسب عنوانات ورکول

خوروونکی

فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

Scanned with Ca

دچاپ حقوق صرف ناشره محفوظ دی

دکتاب نوم : تفسیرخیرکثیرترجمه تفسیرابن کثیر
مؤلف: حافظ عمادالدین اسماعیل بن عمربن ابن کثیرالدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری
خورونکی : فیصل کتب خانه محله جنگی
موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د ملاویدو پتې:- د فیصل کتب خانې نه سوا
مکتبه روغانیول جلال آباد
مکتبه رحیمی خوست
نعمت کتب خانه کابل
انتشارات علامه تفتازانی هرات وکابل
صداقت کتب خانه قندهارو کابل
قدرت کتاب فروشی کابل بنی ار
علمی کتب خانه کردیز
مکتبه علمیه اکوړه خټک
دینی کتب خانه تیمرکړه ره
فلاح کتب خانه جلال اباد
مکتبه فریدیه خوست
دیوبند کتب خانه خوست
جدید رشیدیه کتب خانه کابل
مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
مکتبه نعمانیه غزنی
مکتبه رحمانیه قندهار
امیرحمزه کتب خانه قندهار

Scanned with Ca

دالله ﷻ لار کښې دې دخوښې خیز صدقه کړې شی	۳	دمرګ په وخت کښې دالله نه ښه امید	۱۴
د ایت په نزول د ابو طلحه ؓ باغ صدقه کول	۳	یو حدیث اود هغې په مفهوم کښې درې اقوال	۱۴
د عمر ؓ په ایت عمل کول	۳	دفرقه بندئی ممانعت او د حبل نه مراد	۱۴
د عبدالله بن عمر ؓ په ایت عمل	۳	د قول ثانی دلائل د شپږو خبرو پیژندل	۱۴
دیهودو سوالونه او د نبی علیه السلام جوابونه	۴	په امت محمدی کښې درې اویا ډلې جوړیدل	۱۵
د ایت په شان نزول کښې بل روایت	۵	دغزوه حنین په موقع د انصارو د کمال.....	۱۵
په سابقه ایت اودې کښې مناسبت	۵	په انصارو کښې بیا زړه دشمنی تازه	۱۵
په شریعتونو کښې فروعی اختلافات شته	۵	د ایت د شان نزول یو بل روایت	۱۶
د یهودیانو په دین ابراهیمی باندې دعوی	۶	د جماعت نه څوک مراد دې؟	۱۷
په دین ابراهیمی څوک قائم دی؟	۶	د امر بالمعروف درې درجې	۱۷
په مخ د زمکې اولنئ عبادتخانه	۶	د امر بالمعروف نه کولو وعید	۱۷
د بیت الله او بیت المقدس تاریخ بناء	۷	دین کښې اختلاف کول د جهنم سبب دې	۱۷
د کورونو په اعتبار سره خانه کعبه اوله نه ده	۷	د نفسانی خواهشاتو تابع جمات باره کښې.....	۱۸
د اولنی کور به حق کښې د سدی قول	۷	د قیامت په ورځ به جنتیان او جهنمیان	۱۸
مکې ته بکه ولې وائی؟	۷	د قیامت په ورځ به جنتیان او جهنمیان	۱۸
دمکې نور نومونه	۷	د تورو او سپینو مخونو خاوندان به	۱۸
په مسجد حرام کښې ښکاره ښې	۷	د الله تعالی د ګنړو صفاتو بیان	۱۸
د بینات تفسیر	۸	امت محمدیه د ټولو امتونونه بهتر دې	۱۹
د نبی ﷺ مکې سره مینه	۸	امر بالمعروف کونکې ټولو کښې افضل دې	۲۰
د امن بله معنی	۸	بهترینه زمانه	۲۰
دحج فرضیت	۸	د بهترین امت کیدو یوه بله وجه	۲۰
د حج یو څل فرضیت	۸	د دې امت د فضیلت نور وجوهات	۲۰
دسبیل مطلب	۹	رسول الله ﷺ اعجاز	۲۰
دحج په ادا کولو کښې تلوار کول	۹	عسی علیه السلام باندې ددې امت فضیلت ښکاره کول	۲۰
دطاقت نه کوم طاقت مراد دې؟	۹	دامت محمدی اویا زره کسان بې حسا	۲۱
دحج نه انکار کفردې	۹	دامت محمدی ډیر کسان به بې حسابه جنت	۲۱
دفرض حج نه کولو وعید	۱۰	د ثوبان ؓ د حمص امیر ته حدیث بیانول	۲۱
دیهودیانو د اسلام ددین نه انکار	۱۰	په ټولو جنتیانو کښې د دې امت زیادت	۲۱
داهل کتاب خبرې منل ګمراهی ده	۱۱	جادو منتر نه کول او صرف په الله	۲۲
د ټولو نه افضل ایماندار	۱۱	په کومو صفاتو موصوف خلق به جنت	۲۲
دالله ﷻ د اطاعت مفهوم	۱۳	نبی کریم ﷺ سره د امت باره کښې دالله وعده	۲۳
دژبې د حفاظت اهمیت	۱۳	دا خبره په بل روایت سره	۲۳
د ایت په نسخ کښې دوه قولونه	۱۳	دالله په لپو سره د امت محمدی کسان	۲۳
دمرګ په وخت کښې د الله نه ښه ګمان ساتل	۱۳	د دې تائید دپاره بل روایت	۲۳

Scanned with Ca

الله بنده سره دهغه د ګمان مطابق معامله کوی	۱۳	څلور راکهه کسان جنت ته بې حسابه داخلیدل	۲۳
بې حسابه جنت ته د داخلیدونکو بل شمیر	۲۴	صحابؤ ته د بدر د فتح احسان وریادول	۳۳
د بې حسابه جنت ته تلونکو د ډیروالی تشبه.....	۲۴	په جنګ یرموک کښې د مسلمانانو فتح	۳۴
د جنتیانو په شپږ شلو صفونو کښې به مونږ.....	۲۴	مقام بدر ته بدر وئیلې وائی؟	۳۴
د مترجم دعا	۲۵	دالله نه د ویرې حکم	۳۴
جنت ته به دټولو نه وړاندې امت محمدیه داخلیږی	۲۵	فرشتې په کوم جنګ کښې نازلې شوې وې؟	۳۲
ترڅوچه زماامت جنت ته داخل نشی په نورو امتو.....	۲۵	د فرشتو نښې	۳۲
دبحث خاتمه	۲۵	دفرشتو د راتلو په زیری کښې فائده	۳۲
دحافظ ابن کثیر رحمه الله امت ته نصیحت	۲۵	د جهاد حکمتونه	۳۷
داهل کتابو مذمت	۲۶	نبی کریم ﷺ باندې عتاب	۳۷
د ایماندارو غلبۀ او د یهودو ذلت	۲۶	د ایت شان نزول	۳۷
دحبل نه څه مراد دې؟	۲۶	د ایت په شان نزول کښې بل روایت	۳۷
اهل کتاب او اهل محمد برابر نه دی	۲۷	د سود حرمت	۳۹
د ایت په شان نزول کښې یو روایت	۲۷	د جنت پلنوالې	۳۹
د ایت په شان نزول کښې دویم روایت	۲۷	د جنت الفردوس فضیلت	۴۰
د اهل کتابو مومنانو صفات	۲۸	د هرقل په نبی کریم ﷺ باندې سوال	۴۰
الله د مومن عمل نه ضائع کوی	۲۸	د جملې دوه مطلبونه	۴۰
کافران د مسلمانانو دوستان نشی کیدې	۲۹	د مومنانو بندګانو صفات	۴۰
هرنبی سره دوه ملګری	۳۰	د غصې برداشت کولو کښې حدیث قدسی	۴۰
د بطانه په لفظ د عمر رضی الله عنه استدلال	۳۰	غصه برداشت کولو د عذاب نه د بچ کیدل دی	۴۱
ذمی ته خاص عهده ورکول جائز نه ده	۳۰	پهلوان څوک دې؟	۴۱
د یو حدیث مفهوم د حسن بصری رحمه الله په نیز	۳۰	مونږ ته د وارث مال د خپل مال نه زیات.....	۴۱
دحافظ ابن کثیر رحمه الله تردید	۳۰	حقیقی پهلوان	۴۱
کافران د مسلمانانو دشمنان دی	۳۰	مفلس څوک دې؟	۴۱
کافران مسلمانانو سره محبت نه کوی	۳۱	یوصحابی رضی الله عنه ته د غصې نه کولو نصیحت	۴۱
کافرانو د نفاق لار اختیار کړې ده	۳۱	د غصې لرې کولو علاج	۴۱
کافران د مسلمانانو په خوشحالئ خفه کیږی	۳۱	دغصې لرې کولو دپاره اودس کول	۴۲
د جنګ بدر بدلې اخستو دپاره د کافرانو تیاری	۳۲	غصه برداشت کول د جهنم نه ازادی ده	۴۲
د رسول الله ﷺ د صحابؤ سره مشوره	۳۲	غصه برداشت کول د امن سبب دې	۴۲
د مدینې نه بهرته د وتو فیصله	۳۲	د حافظ ابن کثیر رحمه الله نبصره	۴۲
دعبدالله بن ابی واپس کیدل	۳۳	دړې قیمتی خبرې	۴۲
په میدان احمد کښې د جنګ نقشه برابرول	۳۳	د درجو اوچتونکی اعمال	۴۲
دجنګ انتظامات کول	۳۳	د قیامت په ورځ اعلان	۴۲
د قریشو جنګ دپاره راوتل	۳۳	بیا بیا ګناه کول او توبه ویستل	۴۲

Scanned with Ca

دجنګ شروع په کومه ورځ وه	۳۳	دنبی کریم ﷺ په صحت کښې روحانی ترقی	۴۳
د مسلمانانو د دوو قبیلو بزدلی	۳۳	د جنت ابادی	۴۳
د ګناه معاف کولو طریقه	۴۳	دانس بن نضر ؓ شجاعت	۵۲
د جنت اته دروازې چاته ښیرته کیږی؟	۴۳	دانس بن نضر ؓ شهادت	۵۲
د ګناهونو معاف کیدل	۴۳	دحضرت عثمان ؓ مقام او مرتبه	۵۲
د حافظ ﷺ تبصره	۴۴	د رسول الله ﷺ مسلمانان رابلل	۵۷
د مترجم دعا	۴۴	د طلحه ؓ شجاعت	۵۷
د شیطان هلاکت په څه دې؟	۴۴	د نبی کریم ﷺ محافظینې فرشتې	۵۷
شیطان ته دالله قسم	۴۴	په رسول الله ﷺ باندې څان قربانونکی	۵۸
د ګناه نه پس توبهٔ اوباسه	۴۴	د ابی بن خلف د نبی کریم ﷺ د لاسه قتل کیدل	۵۸
توبه الله ته ویستل دی	۴۴	هم دا واقعه په بل روایت	۵۸
د اصرار نه کولو مطلب	۴۴	د ابن بن خلف د مردارید و څانې	۵۸
څوک په ګناه اصرار کونکې نه دې؟	۴۴	دالله دغضب دوه مستحق کسان	۵۸
ازمائشونه په ټولو امتونو راغلی دی	۴۶	د رسول الله ﷺ غابنونه چا شهیدان کړی وو؟	۵۸
د قران پاک درې صفتونه	۴۶	دسعدبن ابی وقاص ؓ خواهش	۵۹
مسلمانانو ته تسلی	۴۶	د رسول الله ﷺ خیرې	۵۹
د نبی کریم ﷺ د وفات یا قتل په صورت.....	۴۸	رسول الله ﷺ د الله په حفاظت کښې	۵۹
د نبی کریم ﷺ په وفات د ابوبکر ؓ تقریر	۴۹	د امام واقدی رائې	۵۹
دحضرت علی ؓ قیمتی خبرې	۴۹	دابو طلحه ؓ بهادری	۵۹
د مرګ وخت مقرر دې	۴۹	د ابو عبیده ؓ د نبی ﷺ سره عشق	۵۹
د بزدلئ ممانعت	۵۰	د ابو عبیده ؓ د نبی ﷺ سره عشق	۵۹
په دریاب د صحابؤ اسونه ورګډیدل	۵۰	د نبی کریم ﷺ په زخم ایره پورې کول	۷۰
د دنیا او د آخرت طلبګار	۵۰	د غمونو نه څه مراد دې؟	۷۰
د ربینون معانی	۵۰	د پرکالئ تفسیر	۷۱
د ایت په مفهوم کښې دوه اقوال	۵۰	د پرکالئ دوه قسمونه	۷۲
د دنیا اواخرت بدله	۵۱	داحد په ورځ په مؤمنانو پرکالی	۷۲
دکافرانو د تابعدارئ نه ممانعت	۵۲	د مؤمنانود منافقانو د زړونو حالات	۷۲
د امت محمدی پنځه خصوصیات	۵۲	په مؤمنانو پرکالی راتلل	۷۲
د امت محمدی څلور فضیلتونه	۵۳	په عثمان ؓ اعتراضونه اود هغې جوابونه	۷۲
د نبی کریم ﷺ پنځه خصوصیات	۵۳	مؤمنان د فاسدو عقیدو ساتلو نه منع کول	۷۴
دجنګ احد واقعات	۵۳	د منافقانو د باطلې عقیدې تردید	۷۴
دجنګ احد واقعه د عبدالله بن عباس ؓ روایت	۵۴	شهادت د الله د مغفرت او رحمت سبب دې	۷۴
د ابن مسعود ؓ په روایت سره د احد د جنګ واقعه	۵۴	په صورت کښې الله تعالی ته پش کیدل	۷۴
د حمزه ؓ شهادت	۵۵	د نبی په امت باندې مهربانی	۷۵

Scanned with Ca

د ابوسفیان اعلان	۵۵	د عربی قاعده	۲۵
د حذیفه ﷺ د پلار شهادت	۵۲	د نبی کریم ﷺ صفات	۲۵
د بعضو مسلمانانو په وجه فتح په.....	۵۲	د فظا معنی	
د ایت مفهوم	۲۵	د جنګ احد مصیبت	۷۴
د نبی کریم ﷺ صفتونه په آسمانی کتابونو کښې	۲۵	د احد شهیدان د بدر د قیدیانو د رهائی.....	۷۴
مخلوق سره د نیکئ حکم	۲۵	د بدر د فدي په بدله کښې اویا شهیدان	۷۴
د مشورې حکم	۲۵	د ایت دوه مطلبه	۷۵
د نبی کریم ﷺ صحابه کرامو سره مشورې	۲۵	د احد په جنګ کښې حکمتونه	۷۵
د مشورې حکمی حیثیت	۲۲	د منافقانو د وینا دوه مطلبه	۷۵
مشوره ورکونکې امین دي	۲۲	د لارنه د عبدالله بن ابی واپس کیدل	۷۵
نبی صادق او امین دي	۲۸	د بئرمعونه د شهیدانو واقعه	۷۷
د ایت شان نزول	۲۸	شهیدان په دنیا ته د واپس راتلو تمنا کوی	۷۸
دمنافقانو د تهمت لګول	۲۸	هیڅ جنتی دنیا ته واپس تلل نه غواړی خو:	۷۸
د خیانت یوبل صورت	۲۸	د جابر ﷺ پلار ته د الله تعالی خطاب	۷۸
د ایت دویم تفسیر	۲۸	د شهیدان په تمنا سره د ایاتونو نازلیدل	۷۸
د ایت بل شان نزول	۲۸	د جابر ﷺ د پلار په خواهش ایاتونه نازلیدل	۷۹
خائن دپاره سخت عذاب دي	۲۸	د احادیثو په مینځ کښې تطبیق	۷۹
ګاونډی سره خیانت	۲۸	د حدیث په روایت کښې دري جلیل القدر..	۷۹
د حاکم د خیانت څیزونه	۲۹	د شهیدانو د وجه	۸۰
دخیانتګر نه د رسول الله ﷺ براءت	۲۹	د جنګ احد نه پس سمدستی بیا د جنګ..	۸۰
هم دا حدیث په بل سند سره	۲۹	پورتنئ واقعه په بل روایت سره	۸۱
د حاکمانو څه اخستل خیانت دي	۲۹	جابر ﷺ ته په جهاد کښې د شرکت اجازت	۸۱
معاذبن جبل ﷺ ته نصیحت	۲۹	د صحابؤ جانثاری	۸۱
د خیانت شوی څیز سره میدان حشرته راتلل	۷۰	دحضرت زبیر ﷺ د جهاد دپاره تیاریدل	۸۱
دیو صحابی ﷺ د عامل جوړیدو نه ویریدل	۷۰	د رسول الله ﷺ ترغیب	۸۲
دخیانت په وجه عذاب قبر	۷۰	حمراء الاسد ته رسیدل	۸۲
دخیانت نه ځان اوساتئ	۷۰	دابو سفیان په مسلمانانو باندې د.....	۸۲
خیانت د قیامت د ورځې رسوائی ده	۷۰	د معبد خزاعی اهم کردار ادا کول	۸۲
دقیامت په ورځ د خیانت شوی څیز راوړل	۷۰	د ایت مطلب	۸۳
په مال غنیمت کښې د خیانت په وجه شهید.....	۷۱	حسبنا الله د ابراهیم علیه السلام کلمه ده	۸۳
د صدقې په څارو کښې دخیانت کولو سزا	۷۱	د امام حاکم سهو	۸۳
د صدقې په مال کښې خیانت کول	۷۱	په مشکل وخت کښې دا دعا کول	۸۴
دخیانت شوی څیز عذاب	۷۱	د اسرافیل علیه السلام د شپیلئ وهلو انتظار	۸۴
خیانت شوی څیز سره به څه کولې شی؟	۷۱	په واقعه افک کښې د عائشې دا کلمه وئیل	۸۴

Scanned with Ca

مسلک حنفی	۷۲	د نعمت او فضل تفسیر	۸۴
په مال غنیمت کښې د خیانت کونکی سره د	۷۲	د ایت مطلب	۸۴
ایماندار او بې ایمان برابر نه دی	۷۲	شیطان د خپلو ملګرو ملګرتیا کوی	۸۵
نبی هم د انسانانو جنس نه دې	۷۲	د نبی کریم ﷺ په کفر باندې غمژن کیدل	۸۶
کافرانو ته مهلت ورکول	۸۷	د عقلمندو مناجات	۱۰۰
دایت مصداق	۸۷	د الله خپلو نیکانو بندګانو سره وعده.....	۱۰۱
د بخل انجام	۸۷	دتهجدو په وخت کښې دا ایاتونه لوستل	۱۰۱
مال په خامار وی	۸۷	هم دا عمل په بل روایت سره	۱۰۱
د مار نه منډې وهل	۸۸	د ابن عباس د نبی کریم ﷺ سره اودریدل	۱۰۱
مار به ټکونه ورکوی	۸۸	د ابن عباس ؓ د رسول الله ﷺ په.....	۱۰۲
مال به اژدها شی	۸۸	د لسو ایاتونو په نزول د رسول الله ﷺ ژړا	۱۰۲
د رشته دار حاجت نه پور کولو سزا	۸۸	هم دا واقعه په بل روایت کښې	۱۰۳
دیهودیانو شان کښې ګستاخی	۸۹	الله ﷻ د دعاګانو قبلونکی دې	۱۰۴
د ایت شان نزول	۸۹	د عمل نه ضائع کولو وعده	۱۰۴
د زبر او منیروضاحت	۹۰	دمهاجرینو درجه	۱۰۴
هر ساه لرونکی لره مرګ شته	۹۱	شهید ته د قرض نه سوا ټول ګناهونه معاف.....	۱۰۴
د حضرت خضر علیه السلام نصیحت	۹۲	خلقو ته نصیحت	۱۰۵
کامیاب څوک دې؟	۹۲	دکافرو راحت ته کتل نه دی پکار	۱۰۵
دنیا د آخرت په مقابله کښې	۹۲	د مؤمنانو ذکر	۱۰۶
د صبر تلقین	۹۳	د ابرابر وجه تسمیه	۱۰۶
د مسلمانانو د کافرانو په تکلیفونو صبر کول	۹۳	د نیکانو دپاره آخرت غوره دې	۱۰۶
دعبدالله بن ابی ګستاخی	۹۳	په اهل کتابو کښې دایمان دارو کامیابی	۱۰۷
حضرت سعد ؓ ته خبر ورکول	۹۳	د یهودیانو باعمله عالمان	۱۰۷
دجهاد اجازت ملاویدل	۹۴	د نجاشی متاثر کیدل	۱۰۸
یوه قاعده	۹۴	په نجاشی غائبانه جنازه	۱۰۸
دعلم پټولو ګناه	۹۵	د ایت شان نزول	۱۰۸
په دروغه قسم خوړلو بې برکتی	۹۵	شان نزول په روایت سره	۱۰۸
د ایت شان نزول	۹۵	دنجاشی د قبر نه رنړا ختل	۱۰۸
د ایت دویم شان نزول	۹۵	دنجاشی په الله توکل	۱۰۸
د ابوسعید ؓ په ژبه د ایت شان نزول	۹۶	د ایت مصداق څوک دی؟	۱۰۸
د ثابت بن قیس ویره	۹۶	دري قسمه خلقو ته دوچنده اجر ملاویدل	۱۰۸
دوه قراءتونه	۹۶	د الله په ایاتونو دنیا نه اخستل	۱۰۹
الله په هر څیز قادر دې	۹۶	د دري څیزونو حکم	۱۰۹
د ایت شان نزول	۹۸	د مرابطه معنی	۱۰۹

Scanned with Ca

د الله په کائناتو کښې سوچ فکر کول	۹۸	د مرابطه تفسیر	۱۰۹
زاکرین عقلمند دی	۹۸	د آیت شان نزول	۱۰۹
دعمران بن حصین رضی الله عنه په حدیث استدلال	۹۸	دګناهونو کفاره	۱۰۹
فکراوسوچ د اکابرینو په نظر کښې	۹۹	د مرابطه بل تفسیر	۱۰۹
خلاصه د کلام	۱۰۰	د یوې ورځې جهادی تیارئ ثواب	۱۱۰
د الله په لار کښې د مرګ فضیلت	۱۱۰	په روایت باندې د حافظ رحمه الله کلام	۱۱۹
د جهاد فضیلت دعثمان رضی الله عنه په ژبه	۱۱۰	د جمهورو دویم دلیل	۱۲۰
د روایت نه بیانولو وجه	۱۱۰	دریم دلیل	۱۲۰
دشرحبیل رضی الله عنه د اسلامی سرحد څوکئ کول	۱۱۰	د وینځو په مینځ کښې د نوبت عدم فرضیت	۱۲۰
د یوې شپې څوکئ په څوکیدار د الله رحمت	۱۱۱	د جملې مطلب	۱۲۰
صحابی رضی الله عنه ته د یوې شپې په څوکئ د جنت	۱۱۱	دمهر وجوب	۱۲۱
په څوکئ کونکې سترګه د جنهم د اور حرمت	۱۱۱	د مهر برکت	۱۲۱
د نبی کریم صلی الله علیه وسلم خیرې	۱۱۲	د لونړو مهر پخپله اخستلو ممانعت	۱۲۱
فضیل بن عیاض رحمه الله ته خط	۱۱۲	د مهر په تعین کښې د زوجینو اختیار	۱۲۱
د تقوی حکم	۱۱۳	هم دا مضمون په بل روایت سره	۱۲۱
د کامیابی زیرې	۱۱۳	د مال خرچ کولو دپاره دعقل شرطیت	۱۲۲
دسوره نساء تفسیر	۱۱۴	د سفهاؤ په تفسیر کښې اقوال	۱۲۳
سورت نساء مکی دی	۱۱۴	دیتیم دمال د حفاظت حد	۱۲۳
سورت نساء کښې څلور عظیم ایاتونه	۱۱۴	درې کسان مرفوع القلم دی	۱۲۳
یو پنځم ایات اضافه	۱۱۴	د بلوغ دویمه نښه	۱۲۳
تطبیق	۱۱۴	د بلوغ دریمه نښه	۱۲۴
د شپږم اووم او اتم ایت اضافه	۱۱۴	زیرناف ویښته علامت کرځولو باندې	۱۲۴
د الله نه د ویرې کولو حکم	۱۱۵	د مال د حفاظت راتلو سره مال حواله کول	۱۲۴
د بی بی حواء پیدائش	۱۱۵	مالدار او غریب دپاره د یتیم د مال نه اخستل	۱۲۴
د پنځې د سړې نه په پیدا کولو کښې حکمت	۱۱۵	د مالدرائ نه پس د یتیم مال واپس کولو حکم	۱۲۴
د پنځې نه په کومه طریقه فائده اخستې شی؟	۱۱۶	د اولنی قول دلائل	۱۲۴
خپلولی ساتل	۱۱۶	دابن حبان روایت	۱۲۵
دقطع تعلق ممانعت	۱۱۶	د ابن عباس رضی الله عنه فتوی	۱۲۵
دعبادت اصلی مقام	۱۱۶	دویم قول	۱۲۵
د ابائی رشتې په وجه یوبل سره د احسان کولو حکم	۱۱۶	د دویم دلائل	۱۲۵
د یتیمانو سره د ظلم کولو د ناجائزې طریقې حرمت	۱۱۷	د ابن عباس قول	۱۲۵
یتیمانو جینکو سره د نکاح کولو حکم	۱۱۸	دمال حواله کولو په وخت کښې ګواهان قائمول	۱۲۶
د آیت شان نزول	۱۱۷	ابوذر رضی الله عنه ته نصیحت	۱۲۶
شان نزول په بل روایت سره	۱۱۷	میراث کښې دهریو حصه مقرر ده	۱۲۷

Scanned with Ca

یو وخت کښې څلورو ښځو سره د نکاح کولو اجازت	۱۱۷	د میراث د تقسیم په وخت کښې	۱۲۷
دجمهورو مسلک	۱۱۹	غریبانانو ته په میراث کښې د څه	۱۲۷
دشیعګانو اختلاف	۱۱۹	د عبیده ﷺ او عروه ﷺ عمل	۱۲۷
د شیعه ګانو استدلال	۱۱۹	غریبانانو ته د څه ورکولو حکم په	۱۲۷
دجمهورو جواب	۱۱۹	غریبانانو ته د څه ورکولو حکم	۱۲۷
د یو عجیبه قول نقل کول	۱۲۸	مسلک حنفی	۱۳۸
د ایت صحیح مطلب	۱۲۸	د شرعی وصیت پوره کول ضروری دی	۱۳۸
غریبانانو ته د څه نه ورکولو نتیجه	۱۲۸	ضرر رسول ګناه کبیره ده	۱۳۸
په مال کښې د دریمې حصې د وصیت ممانعت	۱۲۸	د وارث دپاره د قرار حکم	۱۳۹
د یوې حصې نه کم وصیت کول	۱۲۹	دصحت اقرار دلیل	۱۳۹
د ایت دویم مطلب	۱۲۹	په وصیت کښې د الله حدود قائمولو حکم	۱۴۰
د یتیم مال خوړل لویه ګناه ده	۱۲۹	په وصیت کښې د عدل او ظلم جزا او سزا	۱۴۰
دمعراج په شپه د یتیمانو مال خوړونکو عذاب	۱۲۹	د زنا اولنې منسوخ حکم	۱۴۱
د یتیم مال خوړونکی حشر	۱۲۹	د زنا دویم او ناسخ حکم	۱۴۱
د یتیمانو د مال نه د ځان ساتلو وصیت	۱۲۹	دزنا داولنی حکم منسوخیتدلیل	۱۴۱
د سورۃ بقرې د ایت د نزول نه پس د صحابؤ عمل	۱۲۹	د وینځې د بدکارئ سزا	۱۴۲
د ابن کثیر ﷺ د میراث په احکامو تبصره	۱۳۱	په ناپوهتیا سره ګناه کولو نه پس توبه	۱۴۳
ټول علم درې حصې دی	۱۳۱	د مرګ نه وړاندې توبه ویستلو حکم	۱۴۳
میراث نیم علم دې	۱۳۱	د ځنکدن نه وړاندې توبه	۱۴۳
د ایت شان نزول	۱۳۱	د مرګ نه څومره وړاندې توبه قبلیږی؟	۱۴۳
د دواړو روایاتونو په مینځ کښې تطبیق	۱۳۱	په توبه قبلولو کښې د الله مهربانی	۱۴۴
د نارینه دوچنده حصې وجه	۱۳۲	الله او د شیطان قسمونه	۱۴۴
یوه باریکه نکته	۱۳۲	دحافظ ابن کثیر ﷺ تبصره	۱۴۴
دالله مهربانی د مور نه هم زیاته ده	۱۳۲	د ځنکدن په وخت کښې د توبې حکم	۱۴۴
د حصو تقسیم	۱۳۲	د مشرک ښښنه نشته	۱۴۴
د بعضو خلقو اعتراض	۱۳۲	دپردې حائل کیدو نه وړاندې توبه قبلیدل	۱۴۵
د صرف جینکو په صورت کښې د میراث تقسیم	۱۳۳	ښځې په وراثت کښې د اخستلو ممانعت	۱۴۶
د دوو جینکو نه د زیاتو په صورت کښې حکم	۱۳۳	د روایاتو خلاصه	۱۴۷
د مور پلار حصه	۱۳۳	دفاحشه په تفسیر کښې اقوال	۱۴۷
د مور په حصه کښې اختلاف	۱۳۳	د ایت شان نزول	۱۴۸
د مور پلار په حق کښې دریم صورت	۱۳۴	ښځو سره د ښه سلوک حکم:	۱۴۸
د وصیت او قرض نه پس به د میراث تقسیم وی	۱۳۴	بهترین سړي څوک دي؟	۱۴۸
د ښځې په مال کښې د خاوند حصه	۱۳۶	د نبی کریم ﷺ خپلو بیبیانو سره سلوک	۱۴۸
		ښځو سره د ښه سلوک تاکید	۱۴۹

Scanned with Ca

د خاوند په مال کښې د ښځې حصه	۱۳۷	دښځې باره کښې مومن ته نصیحت	۱۴۹
د کلاله تفسیر	۱۳۷	د طلاق ورکولو اراده	۱۴۹
د کلاله په تفسیر کښې ضعیف قول	۱۳۷	زیات مهر مقرر کول جائز دی	۱۴۹
د مورد طرفه د خوئې د نورو وارثانو نه په.....	۱۳۷	دعمرؓ په مهر کښې دغلو نه منع کول	۱۴۹
سکه رونړه هم په کښې شریک دی	۱۳۸	مهر نشی واپس کیدلې	۱۵۰
د علیؓ رائې	۱۳۸	د شیخینو روایت	۱۵۰
د پیغلې جینئ د زنا د ارتکاب واقعه	۱۵۰	دحجورکم تفسیر	۱۵۸
په نکاح کښې د شهادتینو اقرار	۱۵۰	یوسوال او دهغې جواب	۱۵۹
د میرنئ مور سره د نکاح حرمت	۱۵۱	د دوو خویندو په یو نکاح کښې جمع کول	۱۵۹
د ابوقیسؓ واقعه	۱۵۱	د جمع بین الاختین په حرمت باندې.....	۱۵۹
د خلف واقعه	۱۵۱	چې دچا په نکاح کښې دوه خویندې وی....	۱۵۹
د میرنئ مور سره د نکاح قباحت	۱۵۱	دوو وینځو سره په یو وخت کښې جماع کول	۱۶۰
د میرنئ مور سره د نکاح کونکی سزا	۱۵۲	د دوو وینځو خویندو په مینځ کښې.....	۱۶۰
د پلار مباشرې ښځې سره د نکاح کولو حرمت	۱۵۲	د دوو وینځو خویندو په مینځ کښې.....	۱۶۰
د پلا په صرف مباشرت یا کتلو سره حرمت.....	۱۵۲	د علیؓ نه هم د توقف روایت	۱۶۰
د امام احمدؒ د مذهب تائید	۱۵۲	د دوو خویندو وینځو جمع کولو په.....	۱۶۰
مسلک حنفی	۱۵۲	د جمع بین الاختین د حلت روایت.....	۱۶۱
هغه ښځې چه سړو باندې حرامې دی:	۱۵۳	**پنځمه پاره**	۱۶۲
مسلک حنفی	۱۵۴	د محصنات نه مراد دکافرو قیدی ښځې دی	۱۶۲
د رضاعی مور حرمت	۱۵۴	دکافرو قید شووښځو حکم	۱۶۲
رضاعت هم د حرمت سبب دې	۱۵۴	د وینځې خرڅول د بعضو په نیز طلاق دې	۱۶۳
په حرمت رضاعت کښې د بعضو صورتونو استثناء	۱۵۴	دجمهورو په نیز د وینځې خرڅول طلاق نه دې	۱۶۳
څومره مقدار سره رضاعت ثابتیږی او د دې.....	۱۵۴	دریم قول محصنات نه پاکدامې.....	۱۶۳
مسلک حنفی	۱۵۵	دحضرت عمرؓ په نیز د آیت مطلب	۱۶۳
په کومه مودۀ کښې پئ ورکولو باندې احکام	۱۵۵	د حلالو مصداق	۱۶۳
مسلک حنفی	۱۵۵	دمهر فرضیت	۱۶۴
د رضاعت اثر د ناسکه مور خاوند ته رسی که نه؟	۱۵۵	د نکاح متعه حرمت	۱۶۴
د خوابښیانو حرمت	۱۵۵	د نکاح متعه دجواز قائلین	۱۶۴
د خوابښې حرمت د هغې د لورسره د جماع.....	۱۵۵	دجمهورو مذهب او دلیل	۱۶۴
د علیؓ په قول سره تائید	۱۵۵	نکاح متعه حرامه ده	۱۶۵
د زید بن ثابتؓ په قول سره تائید	۱۵۵	مسلک حنفی	۱۶۵
د ابن عباسؓ په قول سره تائید	۱۵۶	دمهرمقررکولونه پس په هغې کښې.....	۱۶۵
د مختلفو عالمانو قول	۱۵۶	په مهر کښې د تقررئ نه پس د زوجینو.....	۱۶۵
د ابن جریجؒ فیصله	۱۵۶	د آزادې ښځې سره دنکاح کولو ونس نه	۱۶۵

Scanned with Ca

په غریب حدیث سره تائید	۱۵۶	د وینځي ولی څوک دي؟	۱۲۷
د پرکټو حرمت	۱۵۷	د عاقلي بالغي ازادي ښځي پخپله	۱۲۷
د قید د نه شرطیت یو مثال	۱۵۷	د زناکارو وینځو سره د نکاح ممانعت	۱۲۷
دام حبیبه خواهش	۱۵۷	د پاکدامن سړی دپاره زناکاري ښځي.....	۱۲۷
د بخاری روایت	۱۵۷	د قراءت وضاحت	۱۲۷
مسلک حنفی	۱۵۷	د وینځي او غلام احصان څه دي ؟	۲۷
دوینځي اود هغي د لور جمع کول	۱۵۸	د ابن کثیر ترجیح	۱۲۸
د ابن عبدالبر ﷺ په قول سره د حرمت تائید	۱۵۸	په جمهور باندي اشکال	۱۲۸
په وینځه د حد قائمولو دلیل	۱۶۸	په کبیره ګناهونو کښي یوه بله اضافه:	۱۸۱
دریم دلیل په عهد فاروقی کښي وینځوباندي	۱۶۹	کبیره ګناهونو کښي یوبله اضافه	۱۸۱
په وینځو دحد نه جاری کولو قائلینو د عامو	۱۶۹	په لویو ګناهونو کښي د شرابو د څکلو ذکر	۱۸۱
د ابوهریره د حدیث نه جوابونه	۱۶۹	د شرابو څکلو تباهی	۱۸۱
د ابوثور غلطی	۱۷۱	په دروغه قسم خوړل	۱۸۱
په زناکاري وادهٔ شوې وینځي او غلام	۱۸۲	د ګناه په وجه تور داغ لګیدل	۱۸۱
په جلا وطنۍ کښي مذاهب دویم مذهب	۱۷۳	مورپلار ته کنځل کول	۱۸۱
دریم مذهب	۱۷۳	مورپلار باندي لعنت وئیل	۱۸۱
دویم قول	۱۷۳	مسلمان ته کنځل کول	۱۸۱
دریم قول	۱۷۳	مسلمان بي عزته کول	۱۸۱
د ازادي ښځي سره د نکاح کولو قدرت	۱۷۴	دوه مونځونه جمع کول	۱۸۱
په شب معراج په مونځونو کښي کمي کیدل	۱۷۵	د مونځ پریخودو ګناه	۱۸۳
شرع نه خلاف تجارت او بیع خیار	۱۷۵	په الله باندي بدګماني کول	۱۸۳
دحرام خورۍ یو صورت	۱۷۲	هجرت ترک کول	۱۸۳
د تجارة اعرابی وضاحت	۱۷۲	د ابن کثیر ﷺ رائي	۱۸۳
په لین دین کښي د قبلولو حکم	۱۷۶	په وصیت کښي طرفدار لویه ګناه ده	۱۸۴
بیع د ژبانی خبرو نه بغیر په تعاطی یعنی	۱۷۷	کبیره ګناهونو په فهرس کښي بله اضافه	۱۸۴
د قبولو د حکم عمومیت	۱۷۷	دګناه کبیره باره کښي دعمر ﷺ نه تپوس	۱۸۴
د مجلس خیارحکم	۱۷۷	د کبائرو بل فهرست	۱۸۴
په معمولی خیزونو کښي صرف اخستل ورکول.....	۱۷۷	زیاتی اوبو اووانبو منع کول کبیره ګناه ده	۱۸۵
په خبرو اترو کښي ایجاب او قبول سره بیع	۱۷۷	د ابن عباس په نیز د کبیره ګناه تعریف	۱۸۵
حرام مال خوړل هلاکت دي	۱۷۸	د ګناه کبیره په باره کښي د تابعینو اقوال	۱۸۵
دهلاکت یو مصداق	۱۷۸	د یتیم مال خوړل	۱۸۶
دخودکشۍ کولو عذاب	۱۷۸	سود خوړل	۱۸۶

Scanned with Ca

جلد ۲:

خودکشی دجهنم تلو سبب	۱۷۸	تهمت لګول	۱۸۲
د ګناه کبیره بیان	۱۷۹	د دشمن نه تیښته کول	۱۸۲
دجمعې په مانځه ګناهونه معاف کیدل	۱۷۹	هجرت نه پس وطن ته واپس کیدل	۱۸۲
په مونځ روژه او زکاة د ګناهونو معاف کیدل	۱۷۹	د مؤمن قتل	۱۸۲
اووه لوئې ګناهونه	۱۷۹	د دروغو ګواهی ورکول	۱۸۲
دیو غلط خیال تردید	۱۷۹	صحابۂ ته بدرد وئیل	۱۸۲
نبی کریم سره په جنت کښې د ملګرتیا اعمال	۱۸۰	زیدبن اسلم او کبائر	۱۸۲
دکبیره ګناهونو نه خان ساتل دجنت داخلیدو سبب	۱۸۰	د کبیره ګناه په تعریف کښې اقوال	۱۸۷
دلویو ګناهونو یو بل روایت	۱۸۰	دهروی ﷺ رائې	۱۸۷
د کبیره ګناهونو یو بل فهرس	۱۸۰	ښځې دې سړو سره اوګه په اوګه تلو په.....	۱۸۸
دکبیره ګناهونو یوبل روایت	۱۸۱	د نزدې رشته دار په ځائې هغه هلك ته	۱۸۹
دنافرمانه ښځو پوهولو ترتیب وار دري طریقې	۱۹۲	هغه دري کسان چه الله ورسره دشمنی کوی	۲۰۱
دخلافت عثمانی یوه واقعه	۱۹۵	دتکبرمذمت	۲۰۱
دخلافت حیدری یو واقعه	۱۹۵	دبخیل توب او خودنې مذمت	۲۰۲
دعالمانو اجماع	۱۹۵	بخل هلاکت دې	۲۰۲
دتفریق دعدم اختیار قائلین	۱۹۵	د ایت یوبل مصداق	۲۰۳
د ښځې او خاوند په مینځ کښې روغه کولو.....	۱۹۶	دري قسمه خلق جهنم ته تلل	۲۰۳
دحسن سلوك مستحق خلق	۱۹۷	دحاتم طائی سخاوت	۲۰۳
دالله په بنده حق	۱۹۷	د ابن جدعان اخرت	۲۰۳
مور پلار سره د حسن سلوک حکم	۱۹۷	د ریا کار عقیده اوتعلق	۲۰۳
خپلوانو سره ښه کول	۱۹۷	دنیکئ اجر به څو چنده وی	۲۰۵
رشته دارته صدقه کول	۱۹۷	د ذرې برابر ایمان والا به د جهنم نه راوځی	۲۰۵
یتیمانو سره ښه سلوک	۱۹۷	په حقوق العباد کښې د کوتاهئ انجام	۲۰۵
مسکین سره د ښه کولو حکم	۱۹۷	مشرکانو ته د هغوئ د نیکو بدله	۲۰۲
د ګاونډیانو حقوق د احادیثو په رنړا کښې	۱۹۷	د حافظ ابن کثیر رائې	۲۰۲
د ګاونډی سره د حسن سلوک حکم	۱۹۸	په نیکئ یولاکهه او دوه لاکهه نیکئ ملاویدل	۲۰۲
بهترین ګاونډی	۱۹۸	ددې ایت په اوریدو د نبی کریم ﷺ.....	۲۰۷
د ګاونډی فکر کول	۱۹۸	د نبی کریم ﷺ د ژړا په باره کښې بل روایت	۲۰۷
دګاونډی سره د خیانت د ګناه غټوالې	۱۹۸	په روستو امت باندې د نبی کریم ﷺ	۲۰۷
دګاونډی د ښځې سره د زنا لویوالې	۱۹۸	حافظ ابن کثیر ؒ رائې	۲۰۷
دجبرئیل ؑ د ګاونډی د حقوقو تاکید کول	۱۹۸	د کافرو د خاورې کیدو ارمان کول	۲۰۷
د ګاونډی دري قسمونه	۱۹۹	د قران پاک ددوو ایاتونو په مینځ کښې تطبیق	۲۰۸
دروازې ته د نزدې ګاونډی حق	۱۹۹	د جنابت احکام او د شرابو د حرمت واقعه	۲۰۹
دګاونډی په حق کښې بل حدیث	۱۹۹	د شرابو مرحله وار حرمت	۲۰۹

Scanned with Ca

دقیامت په ورځ اولنۍ مقدمه	۱۹۹	د مانځه په وخت کښې اعلان کول	۲۰۹
د صاحب بالجنب نه مراد	۱۹۹	د حضرت سعد ﷺ په سبب د شرابو حرمت	۲۰۹
د ابن السبیل نه مراد	۲۰۰	د مانځه په وخت کښې د شرابو د حرمت سبب	۲۱۰
د غلام سره نیکی کول	۲۰۰	د نشې نه د خوب غلبه مراد ده	۲۱۰
الوفات کښې د غلامانو د حقوقو تاکید	۲۰۰	د مانځه په وخت کښې د نشې نه کولو.....	۲۱۰
غلامانو باندې خوراک صدقه ده	۲۰۰	د خوب په وخت کښې د مونځ نه کولو حکم	۲۱۰
د خوارک منع کولو ممانعت	۲۰۰	د جنابت حالت کښې جمات ته داخلیدل	۲۱۱
غلام ته خوراک ورکول دهغه حق دې	۲۰۰	د انصارو جمات ته د جنابت حالت.....	۲۱۱
غلام په خوراک کښې د شریکولو حکم	۲۰۰	د بخاری په حدیث استدلال	۲۱۱
غلامان د ازادو رونړه دی	۲۰۰	د جنب دپاره په جمات باندې تیریدو.....	۲۱۱
متکبر دالله نا خوښه وی	۲۰۱	په جمات د تیریدو د جواز دلیل	۲۱۱
د حضرت ابورجاء ﷺ قول	۲۰۱	په جمات د تیریدو د عدم جواز دلیل	۲۱۲
د حضرت علی ﷺ قول	۲۱۲	په سورۃ نساء کښې د تیمم واقعې بیانولو وجه	۲۱۹
د امام ابن جریر ﷺ تبصره	۲۱۲	د تیمم د ایت شان نزول	۲۲۰
د ،،عابر،،لغوی تحقیق	۲۱۲	پورتنۍ واقعې په دویم روایت	۲۲۰
داودس نه پس جنب دپاره په جمات کښې	۲۱۳	پورتنۍ واقعه په دریم روایت	۲۲۰
دامام احمد ﷺ دلیل	۲۱۳	پورتنۍ واقعه په څلورم روایت	۲۲۰
د تیمم د جواز عذر مرض	۲۱۳	د تیمم د ایت یو بل شان نزول	۲۲۱
د تیمم د جواز عذر سفر او لوئې اودس ماتې	۲۱۳	د یهودیانو په کتاب الله عمل نه کول	۲۲۲
د لمس تحقیق	۲۱۳	د یهودیانو دالله په کتاب کښې تحریف کول	۲۲۲
کوم حضرات د لمس نه جماع مراد اخلی	۲۱۳	د یهودو په پیغمبر ﷺ پورې بهتان کول	۲۲۲
د حضرت ابن عباس په قول سره استدلال	۲۱۳	د نبی کریم ﷺ په حق کښې گستاخی کول	۲۲۳
د لمس نه مراد د لاس اوړل دی	۲۱۴	د نافرمانو شکلونه مسخ کیدل	۲۲۴
کوم حضرات د لمس نه مراد د لاس اوړل اخلی	۲۱۴	د امام مجاهد تفسیر	۲۲۴
د عبدالله بن عمر قول	۲۱۴	د کعب احبار ﷺ د دې ایت په اوریدو اسلام قبلول	۲۲۴
تعارض او تطبیق	۲۱۴	د کعب احبار د ایمان راوړو بل روایت	۲۲۴
په مطلق لاس اوړلو سره د اودس ماتیدو کښې مذاهب	۲۱۴	په یهودو د الله د لعنت بیان	۲۲۵
په لمس د اودس ماتیدو د قائیلینو دلائل	۲۱۴	دالله د فیصلې اېل والیالله شرک نه معاف کوی	۲۲۵
د شپږم دلیل نه جوابونه	۲۱۵	کومه گناه چه الله ئې نه بښی	۲۲۵
دامام ابن جریر ﷺ د لمس نه جماع مراد	۲۱۵	کومه گناه چه الله ئې بښی	۲۲۵
دام سلمې ﷺ روایت	۲۱۵	د ابوذر ﷺ په بل روایت سره	۲۲۶
په ایت کښې د لمس نه مراد جماع ده	۲۱۶	د ابوذر ﷺ حدیث په لږ زیادت سره	۲۲۷
د تیمم حکم	۲۱۶	د شرک نه پرهیز کونکي جنتی دي	۲۲۷

Scanned with Ca

د اوبود نشتوالی په وخت کښې تیمم کول	۲۱۶	پورتنې حدیث په دویم سند سره	۲۲۷
تیمم په لغت کښې	۲۱۶	پورتنې حدیث په دریم سند سره	۲۲۷
دصعید په مصداق کښې مذاهب	۲۱۶	موحد جنتی دې	۲۲۷
کوم څیزچه دجنس د زمکې نه وی په هغې تیمم جائز دې	۲۱۶	دامت د ښښې یو عجیبه زیرې	۲۲۷
د دریم مذهب د قائلینو دلائل	۲۱۶	چې مشرک نه وی جنتی دې	۲۲۸
دتربت د لفظ تحقیق	۲۱۶	د شرک نه بیزاری د غلبې سبب دې	۲۲۸
د طیب معنی	۲۱۷	په یوه خبره د دوزخ مستحق جوړیدل	۲۲۸
هراندام دوه ځله مسح کول	۲۱۷	څوک چې ما بخښونکې منی	۲۲۸
د ابوداود روایت اودهغې ضعف:	۲۱۷	د الله د رحمت غلبه	۲۲۸
دشافعی رحمه الله دلائل	۲۱۷	د نبی ﷺ شفاعت د لویو	۲۲۹
د شافعی قدیم مذهب	۲۱۸	د الله د رحمت ایت	۲۲۹
د یو ضرب دپاره د حضرت عمار په واقعه.....	۲۱۸	دټولو نه لویه گناه	۲۲۹
دامام شافعی رحمه الله استدلال	۲۱۸	خوله باندې تعریف او د خودپسندئی مذمت	۲۳۱
تیمم د امت محمدی خصوصیت دې	۲۱۹	د ایت شان نزول	۲۳۱
د چاپه مخامخ تعریف کولو حرمت	۲۳۱	د منافقانو کردار	۲۴۵
دخپل ځان په خپله د تعریف کولو ممانعت	۲۳۱	د شان نزول باره کښې بل روایت	۲۴۶
په مخامخ دچا د مدحې کولو مذمت	۲۳۱	حضرت محمد ﷺ نه دعا طلب کول	۲۴۷
د جبت معانی	۲۳۲	د حضرت نبی کریم ﷺ فیصله حتمی ده	۲۴۷
د طاغوت معنی	۲۳۲	د زبیر رضی الله عنه او انصاری رضی الله عنه مقدمه	۲۴۸
د ایت په باره کښې دویم شان نزول	۲۳۳	په دې واقعه کښې بل روایت	۲۴۸
دیهودیانو اونصرانیانو د بخل بیان	۲۳۴	دانصاری نوم	۲۴۸
په ال ابراهم باندې دالله نعمتونه	۲۳۴	دحضرت عمر رضی الله عنه د نبی ﷺ په فیصله	۲۴۸
د اهل کتابو کفر	۲۳۴	دحضرت عمر رضی الله عنه واقعه په بل سند سره	۲۴۹
د کفر دویم مطلب	۲۳۴	د کافرارنو فطرت	۲۵۰
د جهنم عذاب او د جنت راحتونه ::	۲۳۵	دیوبزرگ قول	۲۵۰
د څرمنې بدلیدو باره کښې بل روایت	۲۳۵	دثابت بن قیس رضی الله عنه قول	۲۵۰
په ساعت کښې شل ځله څرمن بدلیدل	۲۳۵	دایت په شان نزول کښې بل حدیث	۲۵۰
د څرمنو د غټوالی اندازه	۲۳۶	دعبدالله بن رواحه رضی الله عنه فضیلت	۲۵۰
ځناورونه بدله اخستل	۲۳۷	دالله تعالی داطاعت انعام	۲۵۰
شهید نه به هم په امانت کښې خیانت نه معاف کیږی	۲۳۷	د الله او رسول تابعدار به کوم ځائې وی	۲۵۰
د خانه کعبې چابیانې هم امانت دې	۲۳۷	هرپیغمبر ﷺ د مرگ او ژوند	۲۵۰
ترقیامته پورې د خانه کعبې د چابیانونگران	۲۳۸	د ایت شان نزول	۲۵۱
دعدل او انصاف حکم	۲۳۸	د شان نزول باره کښې بل روایت	۲۵۱
د ابوهریره رضی الله عنه د روایت په بیانولو کښې خاص طریقه	۲۳۹	پورتنې روایت په بل سند سره	۲۵۱

Scanned with Ca

دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ اطاعت واجب.....	۲۳۹	زیاتي سجدې د نبی کریم د ملګرتیا سبب	۲۵۱
دامیر تابعداری صرف په نیکۍ کښې ده	۲۳۹	د نبی ﷺ د ملګرتیا نسخه	۲۵۲
دامیر د اطاعت منل مشروط دی	۲۴۰	دقران تالی به پیغمبرانو سره وی	۲۵۲
امیرکه غلام وی هم واجب الاطاعت دې	۲۴۰	د صحابود خوشحالۍ سبب	۲۵۲
دامیر د اطاعت په باره کښې بل حدیث	۲۴۰	دانس ؓ د نبی کریم ﷺ سره محبت	۲۵۲
د بیعت نه د انکار کولو ممانعت	۲۴۱	د پیغمبرانودرجو ته به څوک رسیږی	۲۵۲
عبدالله بن عمرو بن العاص ؓ روایت	۲۴۱	په حدیث اوریدو سره دیو حبشی.....	۲۵۲
دخالد بن ولید او عماربن یاسرواقعه	۲۴۱	کافرانو سره د قتال دپاره دجنګ.....	۲۵۴
د اولی الامر نه څوک مراد دی	۲۴۲	دمظلومو مسلمانانودمددپاره جهاد فرض دې	۲۵۵
دامیر اطاعت د نبی اطاعت دې	۲۴۲	ابن عباس ؓ په معذورینو کښې وو	۲۵۶
دامیر اطاعت کله واجب دې	۲۴۳	د ایت پس منظر	۲۵۷
داختلاف په صورت کتاب الله او سنت	۲۴۳	ایت د کمزور مسلمانانو باره کښې دې	۲۵۸
قرآن او حدیث نه ډډه کول	۲۴۵	ایت د یهود په باره کښې دې	۲۵۸
د ایت شان نزول	۲۴۵	د دنیا په باره کښې اشعار	۲۵۹
د صدود معنی	۲۴۵	دمرګ نه خلاصی نشته	۲۵۹
دخالدبن ولید ؓ هغه چاته نصیحت چې جهاد.....	۲۵۹	د ایت شان نزول کښې څلورم روایت	۲۷۴
مرګ یو اټل حقیقت دې	۲۵۹	د هغه کافرانو حکم چه غیرجانبدار وی	۲۷۵
دبروج یوضعیف تفسیر	۲۵۹	منافقانو سره د جنګ حکم	۲۷۵
په مشید ،مشدد اوغیرمشدد کښې فرق	۲۵۹	د شان نزول باره کښې بل روایت	۲۷۵
د بنځو د بې عقلۍ او بې وفائي عجیبه واقعه	۲۶۰	دقتل خطا احکام	۲۷۶
د حسنة تفسیر	۲۶۱	په دې صورتونو کښې د مسلمان د قتل جواز	۲۷۶
د شیخینوپه یوه مسئله کښې اختلاف	۲۶۲	حد قائمول د چا کار دې	۲۷۷
خیر دالله د طرفه او د شرسبب زمونږ د طرفه دې	۲۶۲	د ایت شان نزول کښې اولنې قول	۲۷۷
د راروانې جملې تشریح	۲۶۲	د ایت شان نزول کښې دویم قول	۲۷۷
په تکلیف سره ګناهونه معاف کیدل	۲۶۳	دقتل خطاء په کفاره کښې غلام ازادول	۲۷۷
دحضرت نبی کریم ﷺ اطاعت د الله ﷻ اطاعت دې	۲۶۴	د کفاره کښې د وینځې ازادول	۲۷۷
قرآن د تعارض نه پاک کتاب دې	۲۶۵	د قتل خطاء په کفاره کښې دیت ورکول	۲۷۸
د پخوانو عالمانو اقرار	۲۶۵	دیت په قاتل او عاقله دواړو باندې دې	۲۷۸
په قرآن کښې تضاد نشته	۲۶۶	دیت سل اوښان په څلورو حصو کښې.....	۲۷۸
د تقدیر په مسئله کښې اختلاف	۲۶۶	دیت د قاتل په عاقله دې	۲۷۸
بې تحقیقه خبره کول هم دروغ دی	۲۶۶	د امام د قتل خطاء بوج به په بیت المال وی	۲۷۹
دحضرت عمر ؓ احتیاط	۲۶۶	د مومن او کافر دواړو دیت یوبرابر دې	۲۷۹

Scanned with Ca

د استنباط تعریف	۲۲۷	دوه میاشتې پرله پسې روژې نیول	۲۷۹
د الله مدد مجاهدینو سره دی	۲۲۸	په سفر کښې روژې ماتول سره د تسلسل حکم	۲۷۹
په هرصورت کښې دشمن سره مقابله کول	۲۲۸	د سفر په وجه په افطار سره تتابع ختمیږی	۲۷۹
مجاهد به الله جنت ته داخلوی	۲۲۹	مسکینانو ته خوراک ورکول	۲۸۰
مومن به جنت ته داخلیږی	۲۲۹	د قتل عمد حرمت	۲۸۰
دجائز سفارش اجر	۲۲۹	دقیامت په ورځ د ټولو نه اوله مقدمه	۲۸۰
سلام اچول	۲۷۰	دمسلمان د قتل عظمت	۲۸۰
د سلام دری درجې	۲۷۰	دیو مسلمان په قتل ټول مخلوق جهنم ته تلل	۲۸۰
په سلام د لسو نه دیرشو پورې نیکئ ملاویدل	۲۷۰	په یوه خبره د مسلمان په قتل کښې.....	۲۸۰
سلام په چا اچول پکار دی؟	۲۷۰	دمسلمان په قتل کښې د ابن عباس ﷺ مذهب	۲۸۰
دیهودی د سلام جواب	۲۷۰	د قاتل د توبې باره کښې د مجاهد رحمہ اللہ قول	۲۸۱
په یهودی د سلام اچولو ممانعت	۲۷۱	دابن عباس ﷺ په نیزد مسلمان د قاتل.....	۲۸۱
دسلام او جواب حکم	۲۷۱	د ابن عباس ﷺ موافقین	۲۸۱
سلام اچول سنت او جواب ئې واجب دی	۲۷۱	څوک نشی بخښلی؟	۲۸۲
د منافقانو باره کښې د صحابه کرامو ﷺ اختلاف	۲۷۳	دمومن د قتل په وعید کښې یوبل حدیث	۲۸۲
په جنګ احد کښې د مسلمانانو تعداد	۲۷۳	د قاتل په توبه کښې دوه مذاهب	۲۸۲
دایت په شان نزول کښې بل روایت	۲۷۳	دایت په عموم باندې استدلال	۲۸۲
د ایت شان نزول کښې دویم روایت	۲۷۳	دابن کثیر رحمہ اللہ په یوبل حدیث باندې استدلال	۲۸۳
په قصد سره د قتل کونکی قاتل دنیاوی سزا	۲۸۳	د ګناه سفر هم د قصر فی الصلاة سبب دی	۲۹۵
سلام د اسلام نښه ده	۲۸۵	په سفر کښې د قصر دپاره ویره شرط ده کنه نه؟	۲۹۵
په دې حدیث اعتراضونه او دهغې نه	۲۸۵	د ویرې د قید نظیر	۲۹۶
د ایت دویم شان نزول	۲۸۵	په سفر کښې قصر د الله هدیه ده	۲۹۶
د ایت دریم شان نزول	۲۸۶	هم دا حدیث په بل روایت سره	۲۹۶
دایت څلورم شان نزول	۲۸۶	دا حدیث په بل روایت سره	۲۹۶
دایت پنځم شان نزول	۲۸۶	سفر که د امن وی هم موجب قصر دی	۲۹۷
د مسلمانانو اولنی حالت	۲۸۷	په تعداد د رکعتونو کښې دی	۲۹۷
د ایت دویم تفسیر	۲۸۷	د حدیث په صحت د ابن کثیر کلام	۲۹۸
عامو حالاتو کښې جهاد فرض کفایه دی	۲۸۸	په دواړو روایتونو کښې موافقت	۲۹۸
د معذورمسلمانانو استثنی	۲۸۸	په سفر کښې قصر نه دی بلکه پوره مونځ دی	۲۹۹
هم دا وقعه په بل روایت	۲۸۸	د ویرې حالت کښې مونځ کول	۳۰۰
د شان نزول باره کښې بل روایت	۲۸۸	دسختې ویرې په وخت د مونځ په مقدار ...	۳۰۰
مجاهدینو ته په کومو ناستو فضیلت دی	۲۸۹	د دی مذهب تطبیق	۳۰۰
دمجاهدینو درجې	۲۸۹	د تطبیق رد	۳۰۰
د دوو درجو مینځ کښې فاصله	۲۸۹	د سختې ویرې په وخت په یو رکعت.....	۳۰۰

Scanned with Ca

د هجرت فرضیت	۲۹۱	د مونځ روستو کولو قائلین	۳۰۱
د آیت په شان نزول کښې د عکرمه قول	۲۹۱	د جمهورومسلک	۳۰۱
د آیت په شان نزول کښې د ضحاک قول	۲۹۱	دامام اوزاعی ؒ قول	۳۰۱
حضرت عباس ؓ ته جواب	۲۹۲	د سخت جنګ په وخت کښې د مونځ	۳۰۱
د کمزور بې وسو مسلمانانو دپاره دعا	۲۹۲	دامام بخاری په بخاری کښې طریقه کار	۳۰۲
دا حدیث په بل روایت سره	۲۹۲	د حافظ ابن کثیر تعجب	۳۰۲
تائید دحدیث	۲۹۲	دجماعت په وجوب باندې استدلال	۳۰۲
ابن عباس اود هغوی مور په معذورو کښې وه	۲۹۲	د آیت نه یو کمزوري استدلال	۳۰۲
اجر او ثواب به د نیت مطابق وی	۲۹۳	د دې استدلال یو نظیر	۳۰۲
د عملونو دارومدار په نیت دې	۲۹۳	د نظیرد استدلال تضعیف	۳۰۳
د سلوکسانو د قاتل واقعه	۲۹۳	د اولنې قول مطابق بل روایت	۳۰۳
د موضوع سره متعلق یو بل روایت	۲۹۳	د صلاة خوف بل شان نزول	۳۰۴
د آیت باره کښې یوبل شان نزول	۲۹۴	د صلاة خوف طریقه	۳۰۴
دایت شان نزول کښې بل روایت	۲۹۴	په نبی کریم ﷺ باندې د توري ویستلو واقعه	۳۰۵
د آیت باره کښې بل شان نزول	۲۹۴	د صلاة خوف بل روایت	۳۰۵
دمجاهد په لار کښې مرګ د جنت سبب دې	۲۹۴	د صلاة خوف د طریقې بل روایت	۳۰۵
دمجاهد شهید مرتبه	۲۹۴	په صلاة الخوف کښې د وسلې نیولو حکم	۳۰۵
په سفر کښې د قصر حکم	۲۹۵	په آیت کښې د وسلې نیولو حکم.....	۳۰۵
کوم سفرموجب د قصر دې؟په دې کښې مذاهب	۲۹۵	د امن حالت کښې مونځ په وخت ادا کول	۳۰۶
نبی کریم ﷺ به په څه فیصله کوی ؟	۳۰۸	د کعب بن عجره عجیبه ؓ دعا	۳۲۱
د نبی کریم ﷺ فیصله چادپاره ناجائز نشی جائز کولې	۳۰۸	په چا افسوس پکار دې؟	۳۲۱
دخادر د پتیدو واقعه	۳۰۸	د حسن ؒ په نیز د بدئ نه مراد	۳۲۱
د بنو ابیرق قبیلې خلقو غلا کول	۳۰۹	دبدئ نه مراد شرک دې	۳۲۱
د روایت باقی حصه	۳۱۰	د قران د درې مشکلو لغاتو حل	۳۲۲
دالله تعالی درحمت بیان	۳۱۱	دابراهیم علیه السلام تابعدار څوک دې؟	۳۲۲
دیوې بښې واقعه	۳۱۲	د حنیف معنی	۳۲۲
دګناه نه پس دوه رکعته مونځ کول	۳۱۲	ابراهیم ؑ ته د خلت مقام ملاویدو سبب	۳۲۳
په توبه ویستلو سره د ګناه معاف کیدل	۳۱۲	دخلت مقام ملاویدو په سبب کښې دویم قول	۳۲۳
د اصلاح بین الناس فضیلت	۳۱۴	په دې واقعه د حافظ ابن کثیر ؒ تبصره	۳۲۳
په صلح کښې د دروغو وئیلو اجازت	۳۱۴	محمد ﷺ حبیب الله وو	۳۲۳
دصدقې نه افضل عمل	۳۱۴	ابراهیم ته د خلت مقام ملاویدو بل قول	۳۲۴
بهترین تجارت	۳۱۴	د خلت لقب ملاویدو باندې د ابراهیم.....	۳۲۴
د شرک نه سوا نوره هره ګناه معاف کیږی	۳۱۶	د زمکې او اسمانونو مالک صرف یو الله دې	۳۲۴
د اناث په تفسیر کښې اقوال	۳۱۶	د آیت مقصد	۳۲۶

Scanned with Ca

د شرک حکم کونکي شیطان دي	۳۱۷	د ایت مذکوره د شان نزول بل روایت	۳۲۲
څومره خلق به شیطان سره جهنم ته څي؟	۳۱۷	خاوند ته خپلو ډیرو بیبیانو کښي.....	۳۲۷
د شیطان د ګمراهئ لاري	۳۱۷	د یو روایت مطابق د ایت شان نزول	۳۲۸
د الله په مخلوق کښي د بدلون تفسیر	۳۱۷	د عمرفاروق ﷺ نه په دي مسئله کښي تپوس	۳۲۸
په دریم تفسیر د ابن کثیر ﷺ تبصره	۳۱۸	دعلی ﷺ نه په دي مسئله کښي تپوس	۳۲۹
خلق په فطرت اسلامی پیدا کیږی	۳۱۸	د ایت په شان نزول کښي بل روایت	۳۲۹
خلق په یو دین پیدا شوی وو	۳۱۸	د رافع بن حدیث واقعه په بل روایت	۳۲۹
دقیامت په ورځ د شیطان خپلو تابعدارو ته تقریر	۳۱۸	د حافظ ابن کثیر ﷺ تبصره	۳۲۹
د نیکانو خلقو د جزاء بیان	۳۱۸	بیبیانو سره د احسان کولو حکم	۳۳۰
د نبی کریم ﷺ خطبه	۳۱۹	په بیبیانو کښي د انصاف کولو حکم	۳۳۰
د مسلمانانو په اهل کتابو فضیلت	۳۱۹	دخپل پوره کوشش باوجود بعضي تقصیر حکم	۳۳۰
دامام مجاهد قول	۳۱۹	د الله ﷻ قدرت کامله	۳۳۲
دایت مفهوم	۳۲۰	د مومنانو دعا	۳۳۲
د مصیبت په شکل کښي دګناه سزا ملاویدل	۳۲۰	د ابن جریر په نیز د ایت مطلب	۳۳۲
مصیبت د ګناه وجه ده	۳۲۰	ریښتونی ګواهی پټول جائز نه دی اګر.....	۳۳۳
هم دا مضمون د عائشي په حدیث کښي	۳۲۱	دعبدالله بن رواحه ﷺ کردار	۳۳۴
هرمصیبت دمومن دپاره د ده د ګناه بدله ده	۳۲۱	مسلمان چي ایماندار دي هغه ته دایمان....	۳۳۵
هرمصیبت د مومن دپاره اجر دي	۳۲۱	د نزل او انزل مصداق	۳۳۵
کلیفونه د ګناهونو معاف کیدو ذریعه ده	۳۲۱	کافرو سره موالاتو کښي عزت نشته.....	۳۳۶
ازغي هم تکلیف دي	۳۲۱	دګناه په مجلس کښي کیناستل ګناه ده	۳۳۷
د پورتنی ایت د نسخي قول	۳۳۷	د قدرت باوجود الله معافی کول	۳۴۷
منافقان به کافرانو سره یوځائي په جهنم کښي وی	۳۳۷	دري قیمتی خویونه	۳۴۷
د منافق مونځ او دمنافق مثال	۳۳۸	دیوپیغمبر نه انکار د ټولو نه انکار دي	۳۴۸
دعلی ﷺ په قول کښي د سبیلا مطلب	۳۳۹	د پیغمبرانو په مینځ کښي فرق کول	۳۴۸
د سبیل دریم مفهوم	۳۳۹	دامت محمدی تعریف	۳۴۸
دالله مدد د مسلمانانو سره دي	۳۳۹	داهل کتابو د ګستاخئ تپوسونه	۳۴۹
د ایت استدلال	۳۳۹	دځنی عبادت کول	۳۵۰
منافقان الله سره دهوکه نشی کولي	۳۴۰	د دوی په سرونو د کوه طور پورته کول	۳۵۰
دمنافقانو انجام	۳۴۰	د قول او فعل بدلول	۳۵۰
د منافقانو د مونځ کیفیت	۳۴۰	دخالی د ورځي بي حرمتی کول	۳۵۰
په منافقانو باندي ګران مونځ	۳۴۰	د یهودیانو مختلفي نافرمانئ	۳۵۲
دماشومانو په وجه د کورونو سزولو نه منع کیدل	۳۴۱	د یهودو په زړونو د پردو کیدل	۳۵۲
د الله تعالی اهانت کونکي مونځګذار	۳۴۱	په بی بی مریم د زنا تهمت لګول	۳۵۲
ډیرکم الله یادوی	۳۴۱	د عیسی ﷺ د قتل دعوی	۳۵۳

Scanned with Ca

دمنافقانو تذبذب	۳۴۱	دعیسی ﷺ آسمان ته د پورته کیدو واقعه	۳۵۳
دمومن ،کافراومنافق مثال	۳۴۱	د عیسی ﷺ د قتل او پهانسی کیدو تردید	۳۵۴
دمنافق بل مثال	۳۴۲	د عیسی ﷺ د بعضې ملګرو کفر	۳۵۴
کافرو سره دوستی کول منع دی	۳۴۲	دعیسایانو دري ډلې	۳۵۴
د سلطان لفظ معنی	۳۴۲	دوهب بن منبه ؒ روایت	۳۵۴
د درک لفظ معنی	۳۴۲	دعیسی ﷺ د پهانسۍ بل روایت	۳۵۵
په جهنم کښې د منافقانو دعذاب کیفیت	۳۴۲	د حواریانو نومونه	۳۵۶
د ظالم ظلم بیانول جائز دی		دعیسی ﷺ د ګرفتارۍ دپاره چاپې وهل	۳۵۶
شپږمه پاره	۳۴۵	پهانسی شوې څوک وو؟	۳۵۶
ظالم ته خیرې نه کول غوره دی	۳۴۵	دعیسی ﷺ د مرګ نه مخکښې	۳۵۷
ظالم ته دعا کول پکار دی	۳۴۵	دکتابی د مرګ نه مخکښې	۳۵۷
ظالم ته د هغه د ظلم نه زیاته سزا نه دی ورکول	۳۴۵	صحیح قول	۳۵۸
بهتان لګونکی باندې بهتان نشی لګولې	۳۴۵	د حافظ ابن کثیر تبصره	۳۵۸
دظالم نه بدله اخستل جائز دی	۳۴۵	عیسی ﷺ به قیامت ته نزدې دوباره راځی	۳۵۹
دجګړې ګناه په هغه چاده چه د جګړې شروع هغه.....	۳۴۵	دعیسی ﷺ کارونه	۳۵۹
دکوربه شکایت کولو اجازت دمیلمستیا حق	۳۴۶	د عیسی ﷺ حج اوعمره	۳۵۹
دمیلمستیا اهمیت	۳۴۶	د مال زیاتیدل	۳۵۹
دمیلمستیا حکم	۳۴۶	دعیسی ﷺ پیژندګلو	۳۶۰
دري ورځو پورې میلمستیا واجب اوبیا صدقه ده	۳۴۶	عیسی ﷺ ته د نبی ﷺ نزدیکت	۳۶۰
دګرانډۍ د تکلیف نه بچ کیدو یوه طریقه	۳۴۶	دعیسی ﷺ مسلمانانو ته امامت ورکول	۳۶۰
الله ته پټ او ښکاره برابر دی	۳۴۶	دعیسی ﷺ دنیا ته دوباره راتګ	۳۶۱
دیاجوج ماجوج راوتل	۳۶۱	عیسی ﷺ او ټولې فرښتې د الله ﷻ بندګی کوی	۳۸۱
دیاجوج ماجوج راوتل	۳۶۱	دالله د بندګۍ نه د تکبر کولو سزا	۳۸۳
په مسلمانانو سختۍ راتلل	۳۶۱	قرآن لا جواب او برهان او واضح نور دې	۳۸۳
د دجال لویه فتنه	۳۶۲	د ایت شان نزول	۳۸۵
ددجال په ټوله دنیا چکرلګول	۳۶۲	د کلاله د لفظ په باره کښې اختلاف	۳۸۵
دعیسی ﷺ دراکوزیدو باره کښې تفصیلی حدیث	۳۶۳	د کلاله په باره کښې د حضرت عمر قول	۳۸۵
د یاجوج ماجوك راوتل	۳۶۵	د حضرت عمر ؓ د افسوس وجه	۳۸۵
دقیامت لس نښې	۳۶۶	د ،،هلک،، معنی	۳۸۶
دعیسی ﷺ صفتونه	۳۶۷	د کلاله خور ته نیمه حصه ملاویدل	۳۸۶
د سزا په طور الله تعالی حلال څټونه حراموی	۳۶۹	د پلار په وجود کښې د خور محرومتیا	۳۸۶
په اهل کتابو کښې د مضبوط ایمان خاوندان	۳۶۹	د لور په وجود د خور محرومتیا	۳۸۶
د قراءت وضاحت	۳۷۰	د لور په وجود کښې د خور عدم محرومتیا	۳۸۶
د اهل کتابو مؤمنانو نور صفتونه	۳۷۰	د رور د کلاله خور نه میراث اوړل	۳۸۷

Scanned with Ca

یو شان نزول	۳۷۱	د دوو خویندو نه د زیاتو صورت	۳۸۷
د وحی کول	۳۷۱	درونړوا وخویندو دجمع کیدو په صورت کښې حکم	۳۸۷
د پیغمبرانو شمار	۳۷۱	د احکامو بیانولو حکمت	۳۸۷
د پیغمبرانو د شمیر متعلق حدیث	۳۷۲	دکلاله په باره کښې د عمرؓ عدم تشفی	۳۸۸
په داسې قسم روایاتو باندې د حافظ رحمۃ اللہ علیہ تبصره	۳۷۲	په دې مسئلو کښې د عمرؓ عدم تشفی	۳۸۸
د یو لاکهه څلیرشت زره پیغمبرانو تعداد روایت	۳۷۳	د شیخینو اختلاف	۳۸۸
د ابراهیم د صحیفو نصیحتونه	۳۷۳	د سوره مائده تفسیر	۳۸۹
د موسی د صحیفو عبرتونه	۳۷۴	د سورة د نزول وخت	۳۸۹
د پخوانو کتابونو مضامین په قران کښې	۳۷۴	سورة مائده اخری سورت دې	۳۸۹
څو اهم نصیحتونه	۳۷۴	**سورة مائده**	۳۹۱
د دجال نوري نخښې	۳۷۴	مؤمنانو ته خطاب	۳۹۱
د موسی علیہ السلام الله ﷻ سره کلام کول	۳۷۵	دعلیؓ په فضیلت کښې موضوعی اثر	۳۹۱
د یو معتزلی لاجوابه کول	۳۷۵	د روایت تضعیف	۳۹۱
د موسی علیہ السلام سره د خبرو تعداد	۳۷۵	د عقود نه مراد	۳۹۲
د الله تعالی کلام څنګه وو؟	۳۷۷	د ابن عباسؓ قول	۳۹۲
د الله تعالی د کلام تشبیه	۳۷۷	خرڅونکی او اخستونکی ته د اختیار مسئله	۳۹۲
الله ډیر غیرتی دې	۳۷۷	صرف په ایجاب او قبول باندې بیع.....	۳۹۳
الله تعالی او فرښتې د پیغمبر د رسالت ګواه دی	۳۷۸	د حلالو څناورو ذکر	۳۹۳
د عیسایانو خپل دین کښې غلو کول	۳۷۹	مذبوحې په خیټه کښې د بچی حکم	۳۹۳
عیسی علیہ السلام د الله بنده او رسول وو	۳۸۰	د ،،ما یتلی،، نه مراد	۳۹۳
عیسی علیہ السلام د الله بنده ګڼلو صله	۳۸۰	څلور میاشتې معززې دی	۳۹۴
د نصرانیانو درې ډلې	۳۸۱	په معزز و میاشتو کښې د جنګ حکم	۳۹۴
په معزز و میاشتو کښې هم کافرانو.....	۳۹۴	د حرمت دلیل	۴۰۳
د نبی کریم ﷺ د قربانئ څاروی	۳۹۵	اعتبار عموم د الفاظو لره وی	۴۰۴
د تعظیم یو صورت	۳۹۵	استدلال	۴۰۴
دحرم د ونو کټ کولو ممانعت وجه	۳۹۵	اعتراض	۴۰۴
مشرکان په د حرم نه منع کولې شی	۳۹۷	دویم مسلک	۴۰۴
مشرکانو سره د جنګ کولو اجازت	۳۹۷	،وجوه ترجیح	۴۰۵
د محرم د حلالیدو نه پس ښکار کول مباح	۳۹۷	اعتراض	۴۰۶
انصاف مه پریږدئ	۳۹۷	جوابونه	۴۰۷
د ایت شان نزول	۳۹۷	که سپی دښکارنه خوراک کړې وی هغه	۴۰۷
د شنان وضاحت	۳۹۷	د ښکاری مارغه خوړلې شوی ښکار حکم	۴۰۷
د اثم او عدوان فرق	۳۹۷	که ښکاری مارغه د ښکار نه خوراک	۴۰۷
دظالم سره هم مدد کوه	۳۹۷	د مترديه حرمت	۴۰۷

Scanned with Ca

د خلوت نه جلوت افضل دي	۳۹۷	د نطيحة حرمت	۴۰۸
د نيکئ دلالت کونکی اجر	۳۹۸	د نطيحة اعرابي تشريح	۴۰۸
ظالم سره د مدد قباحت	۳۹۹	د درنده خوړلی خناور حرمت	۴۰۸
دمرداري حرمت	۳۹۹	د حلت صورت	۴۰۸
د کب حلت	۳۹۹	د علی ﷺ قول	۴۰۸
دملخ حلت	۳۹۹	د جمهورو مذهب	۴۰۸
د ابن عباس ﷺ فتوی	۳۹۹	د ښکاری خناورد زخمی کولو نه پس.....	۴۰۹
د وينې حرمت	۴۰۰	د باندښ د ذبح حکم	۴۰۹
د صحابی ﷺ کرامت	۴۰۰	کوم خناورچې په غاښ يا نوک سره	۴۰۹
د اعشی قصيده	۴۰۰	د مړئ نه سوا د بل ځانئ ذبحي حکم	۴۰۹
د خنزير د غوښې حرمت	۴۰۱	د بت په نوم د ذبحي حکم	۴۰۹
د خنزيد د ټولو اجزاؤ د حرمت دپاره استدلال	۴۰۱	په غشو د تقسيمولو حرمت	۴۱۰
د مرادري وازګه هم حرامه ده	۴۰۱	په خانه کعبه کښې د ابراهيم ﷺ مجسمه	۴۱۰
د مرداري، وينې او ما اهل لغيرالله حرمت	۴۰۱	د سراقه بن مالک ﷺ په غشو پال نيول	۴۱۰
د متروک التسميه خناور حکم	۴۰۱	د فال حرمت	۴۱۱
دځلورو څيزونو حرمت	۴۰۱	دغشو رواج په فارسيانو کښې	۴۱۱
د علی ﷺ د دور خلافت يوه واقعه	۴۰۲	د جوارئ وغيره حرمت	۴۱۱
په پس طرف د ښکار لګيدلو حکم	۴۰۲	دغشو په ځانئ د استخاره حکم	۴۱۱
د سپي د ښکار حکم	۴۰۳	د استخاري دعا	۴۱۱
د حافظ ابن کثير رحمه الله رائي	۴۰۳	دکافرانو ناامیده کيدل	۴۱۲
دامام ابو حنيفه رحمه الله نه يو روايت	۴۰۳	د دين اسلام تکميل	۴۱۲
د حرمت قول	۴۰۳	دابن عباس ﷺ روايت	۴۱۲
د ښکاری سپي ښکار زخمی کيدل د حلت.....	۴۰۳	په احکامو کښې اخری ايت	۴۱۲
د حضرت عمر ﷺ فراست	۴۱۳	د اهل کتابو د ذبيحي حکم	۴۲۴
د تکميل دين ايت د نزول ورځ او مقام	۴۱۳	د اهل کتابود وازګه حکم	۴۲۴
د ايت نزول په عرفه او جمعه کښې	۴۱۳	دبهودو وريته شوې چيلئ نبی کريم ﷺ خوری	۴۲۴
د اسلامی تاريخ اهم واقعات په کومه ورځ	۴۱۴	د يهودی د وازګې حکم	۴۲۴
د تکميل دين ايت په وخت نزول کښې	۴۱۴	يو ضعيف قول	۴۲۵
د مجبورئ په وخت کښې د حرامو خوړلو اباحت	۴۱۴	د مجوسيانو د ذبيحي حکم	۴۲۵
په رخصت باندې عمل کولو حيثيت	۴۱۴	دابوثور رحمه الله د حلت قولد دې قول تردید	۴۲۵
په اضطراری حالت کښې دړې حرام موجوديدل	۴۱۴	دمسلمانانو ذبيحه داهل کتابو دپاره حلاله ده	۴۲۵
کوم د اولوړې حالت دې؟	۴۱۵	د اهل کتابو پاکدامنو سره د نکاح حکم	۴۲۶
د ضرورت نه د زيادتو خوړلو دليل	۴۱۵	د محصنات نه ازادې ښځې مراد اخستل...	۴۲۶
د حرام خوړلو اجازت کښې يو قيد	۴۱۶	د محصنات نه ذمی ښځې مراد کيدل	۴۲۶

Scanned with Ca

ماقبل سره ربط	۴۱۷	مشرکانو سره د نکاح حرمت حکم نزول تاریخ	۴۲۶
د ایت شان نزول	۴۱۷	اهل کتابو ښځوته مهر ورکول د سړو.....	۴۲۷
پاک څیزونه حلال دی	۴۱۷	د زناکار سړی سره د پاکدامنې د نکاح حکم	۴۲۷
د کومو څناورو ښکار حلال دې؟	۴۱۷	د حضرت عمرؓ ارارده	۴۲۷
د مارغانود ښکار کراهت	۴۱۷	د مرتد د اعمالو ضائع کیدل	۴۲۷
د ابن عمرؓ قول	۴۱۷	اودس کله فرض کیږی ؟	۴۲۸
دجمهورو مذهب	۴۱۷	د نبی کریم ﷺ د هر مونځ دپاره اودس کول	۴۲۹
د جمهورو دلیل	۴۱۷	دنبی کریم ﷺ په یو اودس زیات مونځونه کول	۴۲۹
د امام احمدؒ په نیزد تور سپی استثناء	۴۱۸	ابن عمرؓ د هر مونځ دپاره اودس کول	۴۲۹
د سپو د قتل کولو حکم	۴۱۸	چې اودس وی نو د هرمانځه دپاره.....	۴۳۰
د سپی خوراک کړی ښکار حرمت	۴۱۹	په اودس کښې نیت شرط نه دې	۴۳۰
د سپی پریخودو په وخت کښې بسم الله وئیل	۴۱۹	د اودس نه وړاندې بسم الله وئیل سنت....	۴۳۰
د سپی خوراک کړی ښکار حلت	۴۱۹	دخوب نه په راپاسیدو دلاسونو وینځل سنت دی	۴۳۱
دیو اعرابی څو اهم تپوسونه	۴۲۰	په اودس کښې د ږیرې وینځلو حکم	۴۳۱
دریم درمیانی مذهب	۴۲۰	د ږیرې خلال سنت دې	۴۳۲
څلورم قول	۴۲۱	د خولې وینځل او پوزه کښې اوبه اچول	۴۳۲
د ښکاری سپی پریخودو په وخت کښې بسم الله وئیل	۴۲۱	خوله او پوزه کښې اوبه اچول په اودس	۴۳۲
دښکاری سپی پریخودو په وخت کښې بسم الله....	۴۲۱	په اودس کښې د څنګلو وینځلو فرضیت	۴۳۳
د نو مسلم مسلمان د مذبوحې حکم	۴۲۲	د څنګلو نه پورته حصه وینځل	۴۳۳
د خوراک په اول کښې بسم الله هیریدل	۴۲۲	په ،،بروسکم،، کښې د باء وضاحت	۴۳۳
په خوراک کښې د شیطان شرکت کول	۴۲۲	د سر د مسحې فرضیت	۴۳۳
کورته د داخلیدو په وخت بسم الله وئیل	۴۲۲	د سر د څلورمې حصې مسح فرض ده	۴۳۴
په ګنړه خوراک کولو کښې برکت	۴۲۳	د سر د مسحې تعداد	۴۳۴
د پاکو څیزونو حلت	۴۲۴	د یو څل مسح کولو دلائل	۴۳۴
د دري څل مسحې کولو دلیل	۴۳۴	دولس خلفاء به کله وی	۴۴۹
د سرمسح یو څل مسنون ده	۴۳۵	د شیعه ګانو د دولسو امامانو د عقیدې تردید	۴۵۰
د پښو وظیفه وینځل دی	۴۳۵	د یهودیانو د وعدې ماتول	۴۵۰
د اودس کښې د ترتیب حکم	۴۳۵	د اهل کتابو علمی بد دیانتی	۴۵۱
دجمهورو جوابونه	۴۳۵	د قران پاک صفتونه	۴۵۲
په اودس کښې ترتیب سره داندامونو وینځل سنت دې	۴۳۶	عیسی ؑ اوددوئ مورته اله وئیلو والا کافر دی	۵۳۴
په پښو د مسحې کول	۴۳۶	د الله په خپلو بندګانو مهربانی	۵۳۴
په پښو د مسحې کولو دلائل	۴۳۶	د دفطرة الوحی زمانه	۴۵۵
د جرد قراءت وجه	۴۳۷	نبی کریم ﷺ آخری پیغمبر دې	۴۵۵
د مسحې نه مراد غسل خفیف دې	۴۳۷	د نبی کریم ﷺ ذمه واریانې	۴۵۵

Scanned with Ca

د شیعګان غلطی	۴۳۷	مسلسل نبیان لیږل دالله ﷻ رحمت دي	۴۵۸
ابن جریر رحمه الله ته په پښو د مسحو کولو د نسبت تردید	۴۳۷	بنی اسرائیلو ته په ټولو خلقو فضیلت	۴۵۹
هغه احادیث چه د پښو وینځل ضروری ګرځوی	۴۳۸	د بنی اسرائیلو د فضیلت وضاحت	۴۵۹
په اودس کولو د اندامونو ګناهونه رژیدل	۴۳۹	د مقدسې زمکه نه مراد	۴۵۹
د امام ابن جریر رحمه الله تاویل	۴۴۰	د لیکلو مطلب	۴۶۰
په جرابو مسح کول	۴۴۰	د جاسوسۍ دپاره دولس کسان لیږل	۴۶۰
په سختو جرابو باندې مسح کول جائز ده	۴۴۱	دعمالقۀ قوت	۴۶۰
د رافضیانو تردید	۴۴۱	د عمالقۀ قدونه	۴۶۰
د شیعه ګانو بله غلطه نظریه	۴۴۱	اسرائیلی روایات	۴۶۰
دتیمم حکم	۴۴۲	دحافظ رحمه الله تنقیدی تبصره	۴۶۰
دعائشې رضی الله عنها هار روکیدل	۴۴۲	د موسی علیه السلام قوم بزدلی	۴۶۱
په امت باندې اسانتیا	۴۴۲	د صحابه کرامو جانثاری	۴۶۱
د اودس نه پس دعا کول	۴۴۲	د سعدبن معاذ رضی الله عنه تقریر	۴۶۱
په اودس د ګناهونو معاف کیدل	۴۴۳	د مقداد انصاری تقریر	۴۶۲
د عدل او انصاف حکم	۴۴۵	دحدیبیه په مقام د مقداد رضی الله عنه جانثارانه جمله	۴۶۲
دایمان راوړلو ترغیب	۴۴۵	د موسی علیه السلام خپل قوم نه بې زاری	۴۶۲
په اولاد کښې عدل کول	۴۴۵	په میدان تیه کښې خارق العادة حالات	۴۶۲
د دشمنۍ په وجه د عدل نه نه اوړیدل	۴۴۵	د موسی علیه السلام وفات	۴۶۳
د هو د ضمیر مرجع	۴۴۵	د سنة قراءتی وضاحت	۴۶۳
د آیت شان نزول	۴۴۶	د یوشع بن نون په مشرۍ کښې بیت	۴۶۳
د نبی کریم ﷺ د قتل مختلفې منصوبې	۴۴۶	د بیت المقدس په فتح کښې مال غنیمت	۴۶۳
سابقه اياتونو سره ربط	۴۴۸	د بنی اسرائیلو د بې خوندۍ ذکر	۴۶۳
د دولسو سردرانو نومونه	۴۴۸	د هابیل اوقابیل واقعه	۴۶۵
د دلیلة العقبه د شرکاؤ نومونه	۴۴۹	د آدم علیه السلام په وخت کښې د خور سره د نکاح حکم	۴۶۵
د امت د خلفاؤ تعداد	۴۴۹	د هابیل د قتل وجه څه وه؟	۴۶۶
متقیان به جنت ته څې	۴۶۶	دکافرانو د جهنم نه د خلاصی دپاره فدیه ..	۴۸۱
قابیل ته د هابیل جواب	۴۶۷	دمسلمانانود جهنم نه راوتل	۴۸۱
قاتل او مقتول دواړه جهنمیان	۴۶۷	د نبی کریم ﷺ په شفاعت د جهنم نه آزادی	۴۸۱
د فتنې نه ډډه کول	۴۶۷	د طلق بن حبیب د جهنم نه د چا د راوتلو انکار	۴۸۲
دفتنې په وخت کښې د نبی کریم ﷺ ارشادات	۴۶۷	دغلا نصاب او د دې شرطونه	۴۸۳
دخذیفه رضی الله عنه په جنازه کښې	۴۶۷	د غلا د حد طریقه پخوانۍ وه	۴۸۳
هابیل په څۀ قتل شوې وو؟	۴۶۸	په مطلق غلا د لاس کټ کولو حکم	۴۸۳
د شیطان قابیل ته د قتل طریقه خودل	۴۶۸	د موجب حد غلا مقدار	۴۸۳

Scanned with Ca

دهر قتل سزا به قابیل ته ملاویږی	۴۶۹	د مالکی مذهب دلائل	۴۸۳
قابیل او هابیل د آدم ﷺ خامن وو	۴۶۹	شافعی مسلک	۴۸۴
یوضعیف قول	۴۷۰	دمذهبی شافعی دلیل	۴۸۴
د هابیل د قتل نه پس د آدم ﷺ غم	۴۷۰	د احنافو مسلک	۴۸۴
قابیل ته په دنیا کښې سزا	۴۷۰	دعلی بن مسعود رضی الله عنه مسلک	۴۸۴
د انسان قدرو قیمت	۴۷۱	د غلا نصاب لس درهمه دي	۴۸۴
د محاصرې په وخت کښې د عثمان رضی الله عنه قول	۴۷۱	سلک حنفی	۴۸۴
په زمکه کښې د فساد خورولو سزا	۴۷۳	مسلک ظاهریه	۴۸۴
د ایت شان نزول	۴۷۳	جمهورو جوابونه	۴۸۵
د عرنیینو سزا	۴۷۳	د ابو العلاء معری اعتراضونه	۴۸۵
دحجاج چالاکی	۴۷۴	د غل توبه قبلیدل	۴۸۵
د یوې جملې تردید د عرنیینو گرفتاری	۴۷۴	د لاس کټ کیدو نه پس غل د مال ضامن نه دي	۴۸۵
عضې نور اقوال	۴۷۵	د غل توبه ویستل په عهد نبوی کښې	۴۸۵
د نسخې تاریخ	۴۷۵	د عمربن سمره رضی الله عنه د غلا اقرار	۴۸۶
د باغیانو د سزا ذکر	۴۷۶	په عهدی نبوی کښې د غلا حد جاری کول	۴۸۶
د جرم د نوعیت په اعتبار د سزا بدلیدل	۴۷۶	دحد په بدله کښې د فدیې اخستلو ممانعت	۴۸۶
د محاربیو د مختلفو جرمونو مختلف حکمونه	۴۷۶	د حد په باره کښې سفارش نه قبلول	۴۸۶
د قتلولو په سزا کښې اختلاف	۴۷۷	د یهودیانو مذمت	۴۸۹
د جزئیاتو د اختلاف نه ذکر کولو وجه	۴۷۷	د ایت شان نزول	۴۸۹
جلا وطنی	۴۷۷	یهودی ته رجم ورکول	۴۹۰
مفسد چې مسلمان وی د هغه حکم دابوموسی اشعری	۴۷۸	یهودو د رجم ولې پټ کړې وو	۴۹۰
د علی اسدی رضی الله عنه د بغاوت نه توبه	۴۷۸	دنبی کریم ﷺ په یهودی زانی درجم.....	۴۹۱
محارب کښې د گرفتارئ نه وړاندې توبه.....	۴۷۹	د نبی کریم ﷺ دوو یهودیانو عالمانو.....	۴۹۱
د وسیلې تفسیر	۴۸۰	د توراة او اهل توراة راغوښتلو کښې حکمت	۴۹۲
د وسیلې نور معانی	۴۸۰	د توراة حقانیت	۴۹۲
د وسیله په جنت کښې مقام دي	۴۸۰	دویم شان نزول	۴۹۲
دجهاد حکم	۴۸۱	دالله د حکم نه خلاف فیصله کول	۴۹۳
د قران خلاف فیصله کول کفر دي	۴۹۳	د قول تردید صحیح شان نزول	۵۰۹
دا کفر دکوم نوعیت دي؟	۴۹۴	د غیرمسلمو سره د محبت ممانعت	۵۱۰
د یهودیانو په تورات کښې تحریف	۴۹۴	دیو نصرانی په اور سوزیدل	۵۱۱
د ښځې او سړی په قصاص کښې دوه مذاهب	۴۹۵	د نبی کریم ﷺ په خبرورکولو ایمان راوړل	۵۱۱
د ښځې په قصاص کښې به سړې قتل کولې شی	۴۹۵	د ابومحذوره رضی الله عنه ایمان راوړل	۵۱۱
د ذمی په قصاص کښې به مسلمان قتل کولې شی	۴۹۵	د ابومحذوره رضی الله عنه نوم	۵۱۲

Scanned with Ca

د اصیلي غاښونه د وینځي د غاښونو په بدله	۴۹۵	داهل کتابو مسلمانانو سره د بغض وجه	۵۱۳
دغریبانانو غلام معاف کول	۴۹۶	زیات خلق فاسقان دی	۵۱۳
دمعافئ وجوهات	۴۹۶	په یهودیانو مختلف عذابونه	۵۱۴
په اندامونو کښي قصاص	۴۹۶	د منافقانو د ایمان نفی	۵۱۴
د احنافو دلائل	۴۹۶	دعلی ؓ خطبه	۵۱۴
په غاښونو کښي که ممکن وی قصاص شته	۴۹۷	د نهی عن المنکر نه کولو وعید	۵۱۵
دزخمونو د قصاص وخت	۴۹۷	دیهودیانو الله ته د بخل نسبت کول	۵۱۶
په زخمونو کښي که مماثلت کیدي شی.....	۴۹۷	دالله په خزانو کښي کمی نه راځی	۵۱۷
د زخم د قصاص نه پس د مرګ واقع کیدو.....	۴۹۷	دمسلمانانو کامیابی دکافرانو دحسرت سبب	۵۱۷
د قصاص په اخستلو د مرګ واقع کیدل.....	۴۹۷	ترقیامته به د یهودو کینه ختمه نشی	۵۱۷
دقصاص معاف کولو نه پس حکم	۴۹۷	د ایمان په وجه د برکتونو نزول	۵۱۷
د انصاری قریشی ته معافی کول	۴۹۸	د یو قول تضعیف	۵۱۸
داسمانی کتاب انجیل څه خصوصیات	۴۹۹	د دنیا نه به قرانی علوم ختم شی	۵۱۸
په اهل الانجیل کښي اختلاف د قراءت	۴۹۹	په اهل کتابو کښي معتدله ډله	۵۱۸
د قران پاک صداقت	۵۰۱	د امت محمدی دري اویا ډلي	۵۱۸
دویم تفسیر اودهغي ضعف	۵۰۱	نبی کریم ﷺ د پیغام رسولو حکم	۵۱۹
نبی کریم ﷺ ته د کتاب الله مطابق فیصلي کولو حکم	۵۰۱	نبی کریم ﷺ د الله تعالی یول.....	۵۱۹
دهر امت دپاره لار او طریقه	۵۰۲	دعلی ؓ په صحیفه کښي	۵۱۹
د شریعتونو په اصولو کښي اتفاق	۵۰۲	د امام زهری قول	۵۲۰
په احکامو کښي اختلاف یعتونو په.....	۵۰۲	په خطبه دحجة الوداع کښي د نبی کریم ﷺ فرمان	۵۲۰
د اسلام دشمنانو سره د دوستئ ممانعت	۵۰۵	د نبی کریم ﷺ دري خله ایا ما اورسول وئیل	۵۲۰
مرتد هم خپل نقصان کوی	۵۰۷	د نبی کریم ﷺ د حفاظت ذمه واری	۵۲۰
د مسلمانانو صفات	۵۰۸	په مکی دور کښي د نبی کریم ﷺ حفاظت	۵۲۱
داووه خبرو حکم	۵۰۸	د نبی کریم ﷺ خلاف د یهودو سازشونه	۵۲۱
د چا نه ویره نه دی کول پکار	۵۰۸	د باندیچی د شر نه د نبی کریم ﷺ حفاظت	۵۲۱
د نهی عن المنکر حکم	۵۰۸	په یوه بله موقع د نبی کریم ﷺ حفاظت	۵۲۱
د وس نه زیات بوج اوچتولو ممانعت	۵۰۹	د نبی کریم ﷺ د عصمت بله واقعه	۵۲۲
دالله فضل په بعضو کیږی	۵۰۹	د اهل کتابو د ایمان راوړو شرطونه	۵۲۳
دوستی چا سره پکار ده؟	۵۰۹	دصابیانو تعریف	۵۲۳
د یهودیانواو نصرانیانو وعده خلافی	۵۲۴	په کفاره د قسم کښي هرمسکین ته یوه	۵۴۱
د عیسی ؑ عبدیت	۵۲۶	په کفاره د قسم کښي د کافر غلام آزادولو جواز	۵۴۲
د عیسایانو د تثلیث د عقیدي رد	۵۲۶	د قسم د کفاري په روژو کښي تسلسل	۵۴۲
بی بی مریم نبیه نه وه	۵۲۷	د شرابواو جوارئی حرمت	۵۴۴

Scanned with Ca

دابن حزم رحمه الله رائي	۵۲۷	چې جواری په کښې نه وی نو د شطرنج جواز	۵۴۴
د نفع او نقصان مالك صرف الله ﷻ دي	۵۲۷	انصاب او ازلام	۵۴۵
د بنی اسرائیلو د یو عابد دهوکه کیدل	۵۲۸	د شرابو حرمت د احادیثو په رنړا کښې	۵۴۵
بنی اسرائیلو د لعنت اسباب	۵۲۸	په حالت د احرام کښې د ښکار حکم	۵۵۳
د نهی عن المنکر تاکید	۵۲۹	محرم دپاره د حرامو څناورو د ښکار حرمت	۵۵۳
په بنی اسرائیلو کښې اولنۍ خرابی	۵۲۹	د محرم دپاره د ماتونکی څناور قتل کولو جواز	۵۵۴
د نهی عن المنکر پریخودو انجام	۵۳۰	د محرم په قتل کښې قصد ،خطا او.....	۵۵۴
د نهی عن المنکر دري درجې	۵۳۰	په ښکار کښې د مثل نه مراد قیمت دي	۵۵۵
د عذاب عمومیت	۵۳۰	ښکار کونکي پخپله فیصله کونکي	۵۵۵
د مبلغ او غیرمبلغ مثالونه	۵۳۰	د اولنی قول دلیل	۵۵۵
افضل جهاد	۵۳۰	محرم د ښکار په قیمت لګولو کښې.....	۵۵۶
خپله بی عزتی کول	۵۳۱	دهرې زمانې حکمین پکاردی؟	۵۵۶
امربالمعروف کله پریخودې شی؟	۵۳۱	د ښکار په قیمت لګولو کښې د هرې	۵۵۷
د منافقانو کافرانو سره دوستی	۵۳۱	په درې څیزونو کښې د اختیار حکم	۵۵۷
د زنا شپږ خرابۍ	۵۳۱	محرم ته د ښکار کولو په کفاره کښې.....	۵۵۸
د نجاشی او د هغه د ملګرو بیان	۵۳۲	مسکین ته به څومره غله ورکولې شی؟	۵۵۸
د دې کسانو شمار	۵۳۳	د ښکار په قیمت به غله اخستې شی	۵۵۸
د یهودیانو مسلمانانو سره دشمنی	۵۳۳	د اطعام محل به کوم ځائې وی؟	۵۵۸
عیسایان مسلمانانو ته د یهودو په نسبت نزدې دی	۵۳۳	د ښکار په کفاره کښې د حرم د مسکینانو	۵۵۸
مسلمانانو سره د حق پرستو عیسایانو د دوستۍ وجه	۵۳۳	د محرم د ښکار په قتل په هر ځل د کفاري لزوم	۵۵۹
اوومه پاره	۵۳۴	په احرام کښې د سمندری ښکار حکم	۵۶۱
اهل ایمان چه کله قرآن اوری نو د هغوی زړونه نرم کیږی	۵۳۵	دکب نه سوا باقی ټول سمندری څناور حرام دی	۵۶۲
دخپل طرف نه یو څیز حلال یا حرام کولو ممانعت	۵۳۶	په مردارو کښې صرف د کب حلت هم	۵۶۳
درهبانیت اختیارولو اراده ښکاره کول	۵۳۶	د احرام په حالت کښې د اوچې د ښکار حکم	۵۶۳
دځان خصی کولو اجازت غوښتل	۵۳۶	په محرم ښکاری باندې د کفاري په.....	۵۶۳
دکهیر خوړولونه قسم کول	۵۳۷	د محرم د ښکار کولو نه پس د هغې نه.....	۵۶۴
دملیمه دمیلمستیا خیال ساتل	۵۳۷	د محرم د ذبیحې یا ښکار د غیرمحرم.....	۵۶۴
د جائز څیز حرامولو نه پس د هغې په	۵۳۷	دغیرمحرم ښکار خوړل د محرم دپاره	۵۶۴
د حلال څیز نه قسم ماتول او د قسم کفاره ورکول دی	۵۳۷	د غیرمحرم ښکار د محرم دپاره جواز	۵۶۵
په لغو قسمونو باندې کفاره نشته	۵۴۰	په رزق حلال باندې قناعت	۵۶۶
په کفاره د قسم کښې د غنمو نیم صاع او	۵۴۱	د بې ځایه سوالونو ممانعت	۵۶۶
د بتانو په نوم پریخودلی شوی څناورو حقیقت	۵۷۰	مشرکانو به په سخت وخت کښې صرف الله ﷻ...	۲۲۹
په سفر کښې د مړې وصیت کول	۵۷۲	نبی د امت دپاره د رحمت دعاګانې	۲۳۰
داهل ذمه ګواهی پخپل مینځ کښې یو بل.....	۵۷۲	دروغ ګنړل نه تابعداری	۲۳۳

Scanned with Ca

د قیامت په ورځ د پیغمبرانو نه پوښتنه	۵۷۹	دالله تعالی د رحمت شان	۲۲۲
په عیسی علیه السلام د الله تعالی د انعاماتو تذکره	۵۸۱	عذاب هم دالله تعالی په خوښې سره نازلیږي	۲۲۴
د آسمان نه د مائده نازلیدل	۵۸۳	د وړوکی مرګ او لوئي مرګ بیان	۲۲۶
د سلفو هغه روایتونه چه په حواریینو باندې	۵۸۴	نیك او بدروح انجام	۲۲۷
د قریشو سوال او د جبرائیل علیه السلام پیغام	۵۸۷	د ټولو کونکو سره نه کیناستلو حکم	۲۳۴
د قیامت په ورځ د حضرت عیسی علیه السلام نه جواب غوښتل	۵۸۹	دین لوبې ټوقې ګنړلو والا انجام	۲۳۵
د امت د بښنې د پاره د حضور ﷺ منتونه او زاړې	۵۹۰	مشرکانو ته فیصله کونکي جواب	۲۳۷
د محشر په ورځ کامیابیدونکی	۵۹۲	د اسرافیل علیه السلام شپیلئی حقیقت او ویره	۲۳۷
د سورة انعام مکی سورة تفسیر	۵۹۲	د حضرت ابراهیم علیه السلام خاندان او آزر	۲۴۵
د سوره انعام فضائل	۵۹۲	آزر ته د توحید درس او د هغې انجام	۲۴۶
سورة الانعام	۵۹۳	د آسمان او زمکې په ملکوت باندې نظر	۲۴۷
د الله تعالی قدرت کامله او انسان	۵۹۴	د مناظرې میدان که د غور او فکر مقام	۲۴۸
د معاندینو انجام	۵۹۶	دمشرکانو په وړاندې صفا صفا توحیدی خبرې	۲۵۱
د مشرکانو ذهنیت او د صفاد لائلو بیان	۵۹۷	کله چه صحابه کرام رضی الله عنهم ته د ظلم د	۲۵۲
هم د زمکې او آسمان د مالك بندګی کوئي	۵۹۹	د الله ﷻ په ابراهیم علیه السلام باندې انعامات	۲۵۵
د نفع او نقصان مالك هم صرف یو الله دې	۲۰۲	شرك یو ډیره خطرناکه بیماری	۲۵۷
دقیامت په ورځ د مشرکانو او دهغوئ د شرکاړ حال	۲۰۴	د آیت شان نزول	۲۵۹
کافران به د قیامت په ورځ څه وائی	۲۰۶	د قرآن او صاحب قرآن شان	۲۶۰
د قیامت د منکرانو انجام	۲۰۸	د ټولونه لوئ ظالم څوك دي	۲۶۱
د حضور ﷺ حرص چه څوك دوزخ ته لاړنه شی	۲۰۹	دژوندون او د کائناتو د نظام د خالق.....	۲۶۴
دمکې د کفارو قلبی شهادت	۲۱۰	د الله تعالی د نور قدرت کامله او.....	۲۶۶
دمعجزاتو صادریدل د الله ﷻ په مرضئ کیږي	۲۱۲	د غیرالله عبادت او بطلان	۲۶۷
څناور جدا امتونه اود محشرورځ	۲۱۳	دالله تعالی د وحدانیت بیان	۲۶۹
د توحید عقیده او د مکې مشرکان	۲۱۵	د الله تعالی د رویت بیان	۲۶۹
تنګدستی او خوشحالی یو ازمینښت او موقع ورکول	۲۱۶	مومن، کافر اوروښانه دلائل	۲۷۲
معاندینو ته د حق وعظ	۲۱۷	د الله تعالی حکم د نبی ﷺ او امت د پاره	۲۷۳
د غیبو او د خزانو مالك څوك دي	۲۱۹	باطلو معبودانو ته د کنځلو ممانعت	۲۷۴
د صحابه کرامو رضی الله عنهم حفاظت د عرش والا پخپله کوی	۲۲۰	د کافرانو د معجزو سوال او د الله ﷻ جواب	۲۷۶

Scanned with Ca

تفسیر خیر کثیر

پشتو ترجمه

تفسیر ابن کثیر

مؤلف: حافظ عماد الدین اسماعیل بن عمر بن ابن کثیر الدمشقی المتوفی ۷۷۴ هجری

مترجمین: مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، وعبد الکریم صدیقی وقاری امیر نواز

جلد نمبر ②

تسهیلات از شاه فیصل

① د قرآنی آیاتونو تکی په تکی او روانه ترجمه

② د احادیثو تخریج

③ د فقهی مسئلو کښې مسلک حنفی وضاحت

④ مناسب عنوانات ورکول

فورونکی

فیصل کتب خانه محله جنگی پیښور

موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

Scanned with Ca

لَنْ تَنَالُوا	الْبِرَّ	حَتّٰى	تُنْفِقُوْا	مِمَّا
هرگز نشی رسیدې تاسو	نیکی ته	اتردې اچه تاسو خرچ کړئ	خپلې دهغه څیزونو نه	
تاسو هیڅ کله پوره نیکی نشئ حاصلولې اترکومې چې تاسوخپل غوره څیزونه خیرات کړی نه وی				
تُحِبُّوْنَ ۭ	وَمَا تُنْفِقُوْا	مِنْ شَيْءٍ	فَاِنَّ اللّٰهَ	بِهٖ عَلِيْمٌ ۝
اچه ستاسوخوښ وی اوهغه چه خرچ کوئی تاسو	د څه څیزنه	انوبیشکه الله	په هغې خبردې	
..... او هرڅیز چې تاسوخیرات کوئ نو هغه الله جل شانه ته ښه معلوم دی				

قوله تعالی:: لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ ۭ

دالله ﷻ لارکښې دې دخوښې څیزصدقه کړې شی:- عمرو بن میمون ﷺ وائی چه د "بر" (نیکئ) نه دلته مراد جنت دې یعنی کومې پورې چه تاسو خپل خوښ څیز دالله ﷻ لارکښې خرچ نکړئ نوهیڅ کله به جنت ته داخل نشئ.

د ایت په نزول د ابوطلحه ﷺ باغ صدقه کول:- انس بن مالك ﷺ نه روایت دې چه په ټولو انصاروکښې ابوطلحه ﷺ د ټولو نه زیات مالدار وو.هغه ته په خپل ټول مال کښې بیرحاء نومې باغ ډیر زیات خوښ وواودامسجد نبوی ﷺ ته مخامخ وو.رسول الله ﷺ به اکثر دې باغ ته تلو. او ددې د کوهی خوږې اوبه ئې څکلې. هرکله چه دا پورتنې آیت نازل شو نو ابوطلحه ﷺ حاضر شو او رسول الله ﷺ ته ئې عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! الله ﷻ داشان فرمائی اوماته د ټولو نه زیات خوښ دا بیرحا نومې باغ دې. نو زه دا (باغ) په دې امید د الله ﷻ لار کښې صدقه کوم چه کومه نیکی الله ﷻ سره ده هغه ځما دپاره اولیکی.نو رسول الله ﷺ تاسو ته اختیار دې چه څنګه مناسب ګنړی نوداتقسیم کړئ. رسول الله ﷺ خوشحاله شو او وې فرمائیل چه واه واه دا ډیره فائدمنده سودا ده. ددې نه به خلقو ته ډیره فائده اورسی.بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ځما رائې دا ده چه ته دا باغ په خپلو رشته دارو کښې تقسیم کړی.ابو طلحه ﷺ عرض اوکړو چه ډیره ښه ده. اوبیا داباغ ابوطلحه په خپلو رشته دارو او د تره خامنو کښې تقسیم کړو. (مسند احمد ، بخاری ومسلم). ([1])

د عمر ﷺ په ایت عمل کول:- بخاری اومسلم شریف کښې راغلی دی چه یوځل عمر فاروق ﷺ هم د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو اوعرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! ځما د ټولو نه زیات خوښ اوبهترین مال هغه دې کوم چه خیبر کښې ماته زمکه ملاؤ شوې وه. (څه هغه دالله ﷻ لار کښې صدقه کوم). تاسو اوفرمائې څه اوکړم ؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اصل زمکه ځان سره اوساته اوددې پیداوار او میوې د الله ﷻ لار کښې وقف کړه. ([2])

د عبدالله بن عمر ﷺ په ایت عمل:- عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی چه هرکله څه به د تلاوت دوران کښې دې پورتنی آیت ته اورسیدم نو ما خپل مال او جائیداد کښې سوچ او فکر اوکړو.خوماته د خپلې رومی وینځې نه زیات خوښ څیز بل نه وو. نوما هم هغه د الله ﷻ دپاره آزاده کړه.(ځما په زړه کښې ددې دومره محبت دې چه) که ما د الله ﷻ لار په کښې خرچ کړې څیز واپس اخستې شو. نوما به دا وینځه ضرور اخستې وې. (مسندبزار). ([3])

---

[1]) احمد: ۱٤۱/۳،صحیح بخاری کتاب الزکاة باب الزکاة علی الاقارب: ۱٤٦۱،صحیح مسلم: ۹۹۸،موطأ امام مالک: ۵۹۵/۲)

[2]) صحیح بخاری کتاب الوصایا باب الوقف کیف یکتب : ۲۷۷۲، صحیح مسلم: ۱٦۳۲، نسائی: ۳٦۳۳)-

[3]) مسند احمد بزار:)-

Scanned with Ca

كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ

تول دخوراک څیزونه| وو |حلال | دپاره دبنی اسرائیلو |ماسواد هغې نه |چه حرام کړی وو

تول څیزونه(چې مسلمانانو دپاره حلال دی هغه) بنی اسرائیلو دپاره هم حلال وو| مګر کوم چې

إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ مِن قَبۡلِ أَن تُنَزَّلَ ٱلتَّوۡرَىٰةُۗ

اسرائیل (یعقوب علیه السلام) |په ځان خپل باندې | مخکښې ددې نه | چه نازل شوې ووتوراة

یعقوب علیه السلام پخپل ځان حرام کړی وو| (او داخبره) دهغه وخت ده چې تورات لانه وو نازل شوې |

قُلۡ فَأۡتُواْ بِٱلتَّوۡرَىٰةِ فَٱتۡلُوهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ۝٩٣ فَمَنِ

ورته اووایه(اې محمد ﷺ)انوراوړئی|توراة |او لولئ هغه|که یئ تاسو | ریښتنی |نوهغه چاچه

ورته اووایه چې بنه تاسوتورات راوړئ|او هغه اولولئ|که تاسو رشتونی یئ| ..... نو د دې نه

ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ ٱلۡكَذِبَ مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ۝٩٤

اوتړل |په الله پورې |دروغ | روستو |ددې نه |انوهم هغوئ |په حقیقت کښې |ظالمان دی

پس چه هم څوک په الله باندې دروغ اووائی| .....نوهمدغه خلق ظالمان دی |

قُلۡ صَدَقَ ٱللَّهُۗ فَٱتَّبِعُواْ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗاۖ

اووایه اې محمد ﷺ|چه ریښتیاویلی دی الله |نوروان شئ تاسو |په طریقه دابراهیم| یومخیزی

(اې پیغمبره)اووایه چې الله تعالی څه وئیلی دی هغه رښتیادی|نوتاسویومخیز شئ| اودابراهیم په لارروان شئ

وَمَا كَانَ مِنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ۝٩٥

او نه وو هغه| دمشرکانونه |

اوهغه دمشرکانو څخه نه وو|

قوله تعالی:: كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ إِلَّا مَا حَرَّمَ إِسۡرَٰٓءِيلُ عَلَىٰ نَفۡسِهِۦ

دیهودو سوالونه اود نبی علیه السلام جوابونه امام احمد رحمه الله په خپل مسند کښې د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت نقل کوی چه یوځل څه یهودیان د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو.او وې وئیل چه مونږ تاسونه څه د داسې خبرو تپوس کوؤ چې د نبی نه سوا دهغې معلومات چا ته نشته دي.رسول الله ﷺ د هغې جوابونه ورکړل. رسول الله ﷺ اوفرمانیل چه څه تپوس کوئی اوکړئی خوتاسو الله ﷻ حاضرناظر اوګنړئی اوماسره هغه شان وعده اوکړئی لکه څنګه چه یعقوب علیه السلام دخپلو خامنونه اخستې وه ، که ما تاسو ته صحیح صحیح جوابونه درکړل نو تاسو به اسلام راوړئی او ځما تابع کیږئی به. هغوئ قسمونه اوخوړل چه مونږ ته داخبره منظور ده. که تاسو صحیح صحیح جواب راکړو نو مونږ به اسلام قبلوؤ. اومونږ به رسول الله ﷺ فرمانبردا رجوړیږو.بیا ئې اووئیل چه مونږ ته څلور خبرې اوښایه① یعقوب علیه السلام په خپل ځان کوم خوراک حرام کړې وو. ② دسړی او ښځې اوبه څنګه وی (او ولې) کله هلک پیدا کیږی اوکله جینئ؟③ او دنبی امی خوب څنګه دې④ فرښتو کښې کومه یوفرښته دوی ﷺ ته وحی راوړی ؟ دې نه پس رسول الله ﷺ دوباره دهغوی نه قسمونه واخستل . اوبیا رسول الله ﷺ اوفرمانیل چه ① یعقوب علیه السلام سخت بیمار شو نو نذر ئې اومنلو که الله ﷻ ماته شفا راکړی نو څه به هغه څیز نه خورم چه ځما

Scanned with Ca

زیات خوښ دي. هرکله چه روغ شو نو د اوښ غوښه او پئ نې پریښودل.② دسړی اوبه سپین رنګ والا او ټینګې وی او دښځې اوبه زیړرنګې او نرئی وی. دواړو کښې چه کوم یو بری مومی (او رحم ته ئې منی وړاندې لاړه شی) نونر یا ماده اولاد پیداکیږی. اوپه شکل او شباهت کښې هم هغه شان وی③ ددې نبی امی سترګې اوده وی او زړه ئې ویخ وی④ ما ته هغه فرښته وحی راوړی کومې چې به ټولو نبیانو ته وحی راوړه یعنی جبریل علیه السلام .نوبس په دې باندې په چغو شو او وې وئیل که چرې ستاسو د وحی راوړونکې بله فرښته وې نو مونږ به ستاسونبوت منلې وې او عذر به پاتې نه وو. د هر سوال جواب ورکولو په وخت کښې به رسول الله ﷺ هغوئ ته قسم ورکولو او دهغوئ نه به ئې تپوس کولو او هغوئ به اقرارکولو چه آو جواب صحیح دي. دهغوئ باره کښې دا آیت (مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّجِبْرِيلَ) نازل شو(١)

د ایت په شان نزول کښې بل روایت:- اوبل روایت کښې دی چه اسرائیل ته د عرق النساء بیماری وه. او په دې کښې دهغوئ پنځم سوال هم دې چه دا رعد څه څیز دې؟ رسول الله ﷺ جواب ورکړو چه دالله تعالی فرښتو کښې یو فرښته ده چه په وریځو باندې مقرر ده،اودهغې لاس کښې د اوریو کوړه ده چه هغې سره وریځې دالله ﷻ د حکم مطابق شړی. او د ګړزاری آواز هم دهغې دې.د " جبریل " نوم آوریدو سره هغوئ اووئیل چه دا خودعذاب او جنګ فرښته ده. اودا خوځمونږ دښمنه ده.که د پیداوار او بارانونو والا فرښته میکائیل علیه السلام ستاسو ملګرې وه نو مونږ به منلې وې. (٢)

په سابقه ایت اودې کښې مناسبت: ①د یعقوب علیه السلام په شان دهغوئ اولاد هم وو اوهغوئی به داوښ غوښې نه هم پرهیز کولو. ددې آیت مخکښې آیت سره یومناسبت خو دادې چه څنګه اسرائیل علیه السلام خپل خوښ څیز نذر کړو هم دا شان تاسوهم کوئی.خو دیعقوب علیه السلام شریعت کښې ددې طریقه دا وه چه خپل خوښ او محبوب څیز به ئې دالله ﷻ په نوم پریښودو. اوځمونږ شریعت کښې دا طریقه نه ده. بلکه مونږ ته دا فرمائیلې شوی دی چه مونږ خپل خوښ څیزونه دالله ﷻ په نوم خرچ کړو.لکه فرمائی چه ﴿وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِ﴾ اوفرمائی چه ﴿وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ﴾ د محبت او خوښې نه باوجود هغوئ خپل خوښ څیزونه خمونږ لار کښې خرچ کوی. او مسکینانو ته خوراك ورکوی.

②بل مناسبت داهم دې چه مخکښې آیت د نصرانیانو رد وو او دې آیت کښې د یهودو رد دې. د هغوئ رد کښې د عیسی علیه السلام د پیدائش ریښتونې واقعه بیان شوې وه او دهغوئ د عقیدې رد ئې کړې وو او دلته دنسخ بیان کیږی اودهغوئ د باطلو عقیدو رد کیږی. دهغوئ کتاب کښې صفا موجود وو چه کله نوح علیه السلام د کشتئ نه په اوچه کوز شو نو په هغوئ علیه السلام باندې د ټولو څناورو خوراك حلال وو ، بیایعقوب علیه السلام په خپل خان د اوښ غوښه او د اوښ پئ حرام کړل.اود هغوئ اولاد هم داحرام ګنړل.نو په تورات کښې هم ددې حرمت نازل شو.دا شان نور هم څه څیزونه بیان شو،دا نسخ نه ده نو نورڅه دې ؟ قوله تعالی:: مِنْ قَبْلِ أَنْ تُنَزَّلَ التَّوْرَاةُ

په شریعتونو کښې فروعی اختلافات شته:- ①د آدم علیه السلام د شا اولاد خپلو کښې د رور او خور نکاح شروع کښې جائز وه خو دهغې نه پس حرامه شوه② آزادو بنځو باندې وینځې سره نکاح کول د ابراهیم علیه السلام شریعت کښې مباح وو.پخپله ابراهیم علیه السلام ساره رضی الله عنها باندې هاجره رضی الله عنها راوستې وه. خوبیا تورات کښې ددې نه منع اوشوه.③دوو خویندوسره په یو وخت کښې نکاح کول د یعقوب علیه السلام په زمانه کښې جائز وو.دیعقوب علیه السلام په خپل کور کښې په یووخت کښې دوه سکه خویندې وې. خوبیا تورات کښې داحرام شو. هم دې ته نسخ وائی.دا یهودیان ګوری او لولی نې لیکن بیا دنسخ نه انکار کوی او انجیل اوعیسی علیه السلام نه منی. اودهغوئ نه پس خاتم المرسلین سره هم داسې کوی.

---

١) احمد : ١ / ٢٧٨ ، وسنده حسن)-

٢) احمد : ١ /٢٧٤ ، ترمذی کتاب تفسیر القران باب ومن سورة الرعد: ٣١١٧، وسنده حسن)-

Scanned with Ca

قوله تعالی::قُلْ صَدَقَ اللّٰهُ ۟ فَاتَّبِعُوْا مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ۭ

د یهودیانو په دین ابراهیمی باندې دعوی:- نو دلته فرمائی چه دتورات نازلیدو نه مخکښې ټول خوراکونه حلال وو سوادهغې نه چه کوم اسرائیل په خپل ځان حرام کړی وو. تورات راوړنی او وې لولئی په هغې کښې موجود دی،بیا ستاسو دا بهتانونه او افتراګانې چه الله ﷻ خمونږدپاره همیشه د خالی ورځ د اختر مقررکړې ده او مونږ نه نې وعده اخستې ده چه مونږ به همیشه د تورات عاملان یو. او بل نبی به نه منو.داځومره ظلم او جبر دې ،نو د دې ټولو خبرو باوجودمتاسو دا طریقه یقیناً د ظالمانو ده.

په دین ابراهیمی څوک قائم دی؟:- الله ﷻ رښتونې خبر ورکړو، دین ابراهیمی هغه دي چه کوم قران پاك بیانوی. چې تاسو د دې کتاب او د دې نبی تابعداری نه کوئی ،نه ددې نبی ﷺ نه څوك اعلی نبی شته دې اود دوی د شریعت نه د بل چا شریعت زیات واضح هم نشته دې. لکه بل ځاني کښې فرمائی چه ﴿قُلْ اِنَّنِيْ هَدٰىنِيْ رَبِّيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۚ﴾ الخ .انې نبی ! تاسو اووائې چه ما ته ځما رب نیغه لار اوخودله د ابراهیم حنیف موحد مضبوط دین. اوبل ځاني کښې فرمائی چه مونږ تاته وحی اولیږله چه د ابراهیم حنیف موحد دین تابعداری اوکړه.

اِنَّ	اَوَّلَ بَيْتٍ	وُّضِعَ	لِلنَّاسِ	لَلَّذِيْ
ابیشکه| اولنئ کوټه(عبادتخانه)|چه جوړه شوه|دپاره د خلقو|خامخاهغه ده					
	بیشکه دټولونه اول کور چه د خلقو د عبادت دپاره مقرر شوې وو	هغه دې			
بِبَكَّةَ	مُبٰرَكًا	وَّهُدًى	لِّلْعٰلَمِيْنَ ۚ	فِيْهِ	اٰيٰتٌۢ
چه زمکه کښې ده	چه مبارکه ده	اوهدایت دې	دپاره د خلقو	په دې کښې	نښې دی
کوم چې په مکه کښې دې	هغه دبرکت ځائې دې	او دخلقو دپاره دهدایت (مرکزدې)	په دې کښې		
بَيِّنٰتٌ	مَّقَامُ	اِبْرٰهِيْمَ ۚ	وَمَنْ	دَخَلَهٗ	كَانَ	اٰمِنًا ۭ
څرګندې|ځائې دعبادت دې|دابراهیم| اوهغه څوک| چه داخل شودې ته|شو په امن کښې						
څرګنده نښې دی	او دابراهیم علیه السلام دعبادت ځائې دی	اوچې څوک دې ته داخل شی	انو هغه په امن شو						
وَلِلّٰهِ	عَلَى النَّاسِ	حِجُّ الْبَيْتِ	مَنِ اسْتَطَاعَ	اِلَيْهِ
اوحق دې دالله |په خلقوباندې	حج کول ددې کور| هغه څوک چه طاقت لری	دې کورته					
اودالله په خلقوباندې داحق دې	چه ددې کورزیارت دې کوی| څوک چې دې ته د تلو طاقت لری							
سَبِيْلًا ۭ	وَمَنْ	كَفَرَ	فَاِنَّ اللّٰهَ	غَنِيٌّ	عَنِ الْعٰلَمِيْنَ ۝
دلاړې	اوهغه چاچه| انکاراوکړو|انوبیشکه الله| بې پرواه دې	دمخلوقاتونه					
..... اوڅوک چې انکار اوکړی| نو(هغه ته دې معلومه وی چې|الله دخلقونه بې نیازه دې								

قوله تعالی::اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ

په مخ د زمکې اولنئ عبادتخانه:- (مسجد حرام) یعنی د خلقو د عبادت د قربانئ ، طواف ، مونځ اواعتکاف وغیره دپاره د الله ﷻ کور دی اود دې بانی ابراهیم علیه السلام وو. او د هغه د تابعدارئ دعوی یهودیان اونصاری اومشرکین او ټول مسلمانان کوی. هغه دا دا ده چه د ټولونه مخکښې مکه جوړه شوې ده.هم دې خلیل الله اودحج دپاره رومبې آوازکونکې دې،بیا تعجب او افسوس دې په دوی باندې

Scanned with Ca

چه دملت حنفی دعوی کوی اوددې کوراحترام نه وی،دلته حج دپاره نه رازی بلکه خپلې قبلې اوکعبې بیلې بیلې جوړوی.ددې کورپه جوړولوکښې برکت اوهدایت دې اوهغه دټول جهان والودپاره دې.

د بیت الله او بیت المقدس تاریخ بناء:-ابوذر ﷺ رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه د ټولو نه مخکښې کوم یو جمات جوړ شوی دې ؟ نورسول الله ﷺاوفرمائیل مسجد ،تپوس ئې اوکړو بیا کوم یو؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیت المقدس، تپوس ئې اوکړو چه ددې دواړو په مینځ کښې څومره وخت دې ؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څلویښت کاله. بیا تپوس کوی چه بیا کوم یو ؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه چرته هم د مونځ وخت شی نو مونځ اداکوه ټوله زمکه جمات دې(مسند احمد وبخاری ومسلم). (۱)

د کورونو په اعتبار سره خانه کعبه اوله نه ده:-علی ﷺ فرمائی چه کورونه خومخکښې ډیر وو لیکن خاص دالله ﷻ دعبادت دپاره هم دا کور رومبې دې. یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه په زمکه دټولو نه رومبې کورهم دا جوړشوې دې نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه نه ،خو برکتونو او مقام ابراهیم او امن والا کور هم دا رومبې کور دې.دبیت الله شریف د جوړیدو پوره کیفیت د سورة بقره آیت ﴿وَعَهِدْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ﴾ تفسیر کښې تیر شوې دې.هلته دې اوکتلې شی. دلته د دوباره بیان ضرورت نشته.

د اولنی کور به حق کښې د سدی قول:- سدی رحمه الله وائی چه د ټولو نه مخکښې په مخ د زمکې همدا کور جوړ شو لیکن صحیح قول د علی ﷺ دې او هغه حدیث کوم چه په بیهقی کښې دې په هغې کښې دی چه آدم علیه السلام د الله ﷻ په حکم بیت الله جوړ کړو اوالله ﷻ اوفرمائیل چه ته د ټولو نه رومبې انسان ئې اودا دټولو نه رومبنې کور دې (۲).

د ابن کثیر تبصره:-دا حدیث د ابن لهیعه نه روایت دې او هغه ضعیف راوی دې . ممکن ده چه دا د عبدالله ابن عمر ﷺ خپل قول وی.

قوله تعالی::لَلَّذِي بِبَكَّةَ

مکې ته بکه ولې وائی؟:-اودیرموک په ورځ چه هغوئ ته کومې دوه بورنی د اهل کتاب ملاؤ شوې وې په هغې دا لیکلې شوی وو.دمکې نوم مشهورنوم دې اودلویولویو جابرانو څټونه دلته مات شوی وو.او هرلوئې کونکې دلته پاتې راغلې وو.ددې وجې دې ته بکه اوونیلې شو.او ددې وجې هم دلته به د خلقو رش وو. اودا به هر وخت ډکه وه. او ددې وجې هم چه دلته به خلق یوځائې کیدل. تردې چه کله به ښځو مخکښې مونځ کولو .اوکله به سړو روستو مونځ اوکړو. او بل ځائې کښې به داسې نه کیدل.

دمکې نور نومونه:-ابن عباس ﷺ فرمائی چه د فج نه تنعیم پورې مکه ده. او دبیت الله نه تر بطحاء پورې بکه ده.بیت الله او مسجد ته بکه وئیلې شوې ده. بیت الله او ددې چاپیرچل خائې ته بکه او باقی ښار ته مکه وئیلې شوې ده. ددې نور هم ډیر نومونه دی.لکه بیت العتیق ، بیت الحرام،بلد الامین ، بلد المامون،ام رحم،ام القری،صلاح ،عرش،قادس ، مقدس،ناسبه رانس ،حاطمه ، کوثاء ، البلده ، النبیه ، الکعبه .

قوله تعالی::فِيهِ ءَايَٰتٌۢ بَيِّنَٰتٌ مَّقَامُ إِبْرَٰهِيمَ

په مسجد حرام کښې ښکاره نښې:- په دې کښې ښکاره نښې دی چه ددې د عظمت او شرافت دلیل دی .اودهغې نه ښکاره ده چه د خلیل الله بناء هم دا ده.په دې کښې مقام ابراهیم هم دې چه په هغې کښې به اسماعیل علیه السلام اودریدو او ابراهیم علیه السلام ته به ئې کانړی ورکول او هغوئ دکعبې دیوال اوچتولو. دا خو مخکښې د بیت الله شریف دیوال سره لګیدلې وه. لیکن عمر ﷺ د خپل خلافت په وخت کښې دا لږ شان لرې کړو اومشرق طرفته ئې کړو چه طواف په ښه طریقې سره کیږی.اوچه کوم خلق طواف نه

---

(۱) احمد : ۱۵۰/۵ ، بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب رقم: ۱۰ ، ح/۳۳۶۶، صحیح مسلم: ۵۲۰، نسائی: ۲۹۰، ابن ماجة: ۷۵۳).

(۲) دلائل النبوة للبیهقی : ٤٤/۲)-

پس مقام ابراهیم سره مونځ اداکوی چه هغوئ ته تکلیف نه وی اونه دلته رش جوړشي. دې طرفته دمونځ کولو حکم شوې دې . اوددې متعلق پوره تفسیر په آیت ﴿وَاتَّخِذُوا مِن مَّقَامِ إِبْرَٰهِيمَ مُصَلًّى﴾ کښې تیر شوې دې. (فالحمدلله).

د بینات تفسیر:-ابن عباس ﷺ فرمائی چه آیات بینات نه یو مقام ابراهیم دې باقي نور دی.مجاهد ﷺ فرمائی چه دخلیل الله ﷺ د قدمونو نښې چه په مقام ابراهیم باندې وی ، دا هم آیات بینات دی. ټول حرم لره اوحطیم او ټول ارکان دحج دمقام ابراهیم په تفسیر کښې مفسرینو داخل کړی دی

قوله تعالی::وَمَنْ دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا

د امن ځائې:-دې ته په راتلو سره راتلونکی ته امن ملاویږی. دجاهلیت په زمانه کښې هم مکه د امن ځائې وو ، که چاته د پلار قاتل هم دلته اومونډل نو هغه ته به نې څه نه وئیل. ابن عباس ﷺ فرمائی چه بیت الله پناه غوښتونکوته پناه ورکوی. لیکن ځائې او خوراك څکاك نه ورکوی. او بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا﴾ الخ. آیا دوی دا نه ګوری مونږ حرم د امن ځائې جوړکړو. او بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿وَآمَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ﴾ الله دوی ته د ویرې نه امن ورکړو. نه صرف انسان ته امن دې بلکه ښکارپره کول ،هغه ویرول ، هغه د هغه ژالې یا دهغه د ځائې نه اخوا کول هم منع دی.ددې وئې کټ کول ،دلته وانښه راوښکل هم ناجائز دی. په دې مضمون کښې ډیر احادیث وغیره پوره وضاحت سره دآیت ﴿عَهِدْنَآ﴾ الخ تفسیر کښې سورة بقره کښې تیر شوی دی.

د نبی ﷺ مکې سره مینه:- مسند احمد ،ترمذی ،او نسائی کښې حدیث دې اوهغې ته امام ترمذی ﷺ حسن صحیح وئیلی دې چه رسول الله ﷺ د مکې بازار او حروره کښې ولاړ وو او وې فرمائیل انې مکې!ته الله ﷻ ته د ټولې زمکې نه بهتره او خوښه ئې .که څه تانه په زبردستئ سره نه شوم ویستلې نو ما به ته چرې هم نه وې پریښودې.(١)

د امن بله معنی:-اوددې آیت یو معنی دا هم ده چه هغه د جهنم نه بچ شو. د بیهقی یو مرفوع حدیث کښې دی چه څوك بیت الله ته داخل شونو هغه نیکئ کښې راغلو اوګناهونو نه لرې شو.او د هغه ګناهونه اوبخښلې شو. لیکن د دې یو راوی عبدالله بن مومل قوی نه دې.

وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ

دحج فرضیت:-د آیت آخری حصه د حج د فرضیت دلیل دې. بعضې وائی چه ﴿وَأَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلَّهِ﴾ والا آیت دلیل د فرضیت دې. لیکن اوله خبره زیاته ظاهره ده. ډیرو احادیثو کښې راغلی دی .چه حج د اسلام په ارکانو کښې یو رکن دې. ددې په فرضیت باندې د مسلمانانو اجماع ده.

د حج یوځل فرضیت:-اودا خبره هم ثابت ده چه ټول عمر کښې یو ځل په مالدار مسلمان باندې حج فرض دې. رسول الله ﷺ خطبه کښې اوفرمائیل چه انې خلقو اتاسو باندې الله ﷻ حج فرض کړې دې تاسو حج کوئی.یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ! آیا هر کال ؟ نو رسول الله ﷺ خاموش شو.هغه دړې ځل تپوس اوکړو رسول الله ﷺ اوفرمائیل که چرې آو کړې وې نو دا به فرض شوې وو او بیابه تاسو دا نشو ادا کولې. چه څه اونه وایم نودهغې باره کښې تاسو تپوس مه کوئی.ستاسونه مخکښوخلقو به هم ډیر تپوسونه کول او خپلونبیانو علیهم السلام سره به ئې اختلاف کولو اوپه دې وجه هغوئ هلاك شو. څما احکام دطاقت مطابق پوره کوئی.او چه د کوم څیز نه مو څه منع کړم نو د هغې نه منع شئ. (مسند احمد).(٢)

---

(١) احمد: ٤/٣٠٥، ترمذی کتاب المناقب باب فی فضل مکة : ٣٩٢٥، وهو صحیح ابن ماجة: ٣١٠٨)-

(٢) صحیح مسلم کتاب الحج باب فرض الحج فی العمرة : ١٣٣٧، نسائی: ٢٦٢٠، احمد: ٢/٥٠٨،)-

Scanned with Ca

دصحیح مسلم شریف حدیث کښې دومره زیاتي دی چه داتپوس کونکي اقرع بن حابس ﷺ وو او رسول الله ﷺ جواب کښې دا فرمائیلی وو چه په عمر کښې یو خل فرض دي اوبیا نفل. (۱)
یوروایت کښې دی چه هم ددې سوالونو جواب باره کښې آیت ﴿لَاتَسْئَلُوْاعَنْ اَشْيَآءَ﴾ یعنی د زیاتو تپوسونو نه بچ اوسئ. (مسنداحمد) (۲)
یوروایت کښې دی که ما آوکړې وې نوهر کال حج فرض شوې وی نوتاسو به دا نشو ادا کولې. او بیا به عذاب نازلیدو. (ابن ماجه). (۳)
آو د یو سوال کونکی په تپوس باندې رسول الله ﷺ حج تمتع همیشه دپاره جائز کړې وو (۴)
یو بل حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ حجة الوداع کښې امهات المومنین یعنی خپلو بیبیانو ته فرمائیلی وو چه حج اوشو اوس کور نه مه اوخئ (۵)
پاتې شو استطاعت او طاقت نو هغه کله انسان ته په خپله بغیر د ذریعې نه حاصل وی او کله د څه بلې واسطې سره وی. لکه څنګه چه د احکامو کتابونو کښې ددې تفصیل موجود دې.
ترمذی کښې دی چه یو سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! کوم یو حج افضل دې ؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په هغې کښې قربانئ کثرت سره وی .او لبیك زیات اووئیلې شی.
قوله تعالی:: مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا
دسبیل مطلب:- یو بل سړی د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ د سبیل نه څه مراد دی ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه توښه ، د خوراك څکاك لاتق خرچ او سورلی. په دې حدیث کښې یو راوی ضعیف دې مګر د حدیث متابعت نورو سندونو سره هم شوې دې. د ډیرو صحابه کرام ﷺ او مختلفو سندونو سرمروی دې چه رسول الله ﷺ د ﴿مَنِ اسْتَطَاعَ اِلَيْهِ سَبِيْلًا﴾ تفسیر کښې زاد راحله یعنی توښه او سورلی خودلې ده.(۶)
دحج په ادا کولو کښې تلوار کول:- دمسند یو بل حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه د حج فرض زر ادا کوئی . معلومه نه ده چه څه راپیښ شی.(۷) ابو داود وغیره کښې دی چه د حج اراده کولو والا دې زر خپله اراده پوره کوی. (۸)
دطاقت نه کوم طاقت مراد دې؟: ① ابن عباس ﷺ فرمائی چه چا سره دري سوه درهم وی هغه طاقت والا دې. ② عکرمه ﷺ فرمائی چه ددې نه مراد صحت جسمانی دې.
قوله تعالی:: وَمَنْ كَفَرَ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِيٌّ عَنِ الْعٰلَمِيْنَ
دحج نه انکار کفردي:- بیا فرمائی چه څوك کفر اوکړی یعنی د حج د فرضیت انکار اوکړی . عکرمه ﷺ فرمائی چه کله دا آیت نازل شو چه د دین اسلام نه سوا چه کوم سړي بل دین اختیارکړی نوهغه قبول نه دې. نو یهودیانو اووئیل چه مونږ هم مسلمانان یو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل بیا په مسلمانانوباندې حج

---

(۱) ابوداود: کتاب المناسک باب فرض الحج : ۱۷۲۱، وهو حسن ، نسائی: ۲۶۲۱، ابن ماجة: ۲۸۸۶ .)-
(۲) ابن ماجة ابواب المناسک باب فرض الحج : ۲۸۸۵، وهو صحیح)-
(۳) صحیح بخاری کتاب الشرکة باب الاشتراک فی الهدی والبدن: ۲۵۰۵، صحیح مسلم: ۱۲۱۸)-
(۴) ابوداود: کتاب المناسک باب فرض الحج : ۱۷۲۲، وهو حسن ،)-
(۵) ترمذی کتاب التفسیر باب من سورة آل عمران : ۲۹۹۸، ابن ماجة: ۲۸۹۶،)-
(۶) ابن ماجة: کتاب المناسک باب ما یوجب الحج : ۲۸۹۷،)-
(۷) احمد: ۳۱۴/۱،)-
(۸) ابوداود:۲۲۵/۱، کتاب المناسک باب فرض الحج باب رقم: ٦:ح/ ۱۷۲۲، وهو حسن ،)-

Scanned with Ca

فرض دي. نوتاسو هم حج کوئی ،نو هغوئ ښکاره انکار اوکړو نو په دې باندې دا ایت نازل شو چه ددې نه انکار کولو والا کافر دي. او الله ﷻ د ټول جهان والو نه بې پرواه دي.

دفرض حج نه کولو وعید:- علی ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته اوفرمانیل چه کوم سړي په خوراك څكاك آو سورلئی باندې قدرت لری او دومره مال ورسره وی چې حج کولې شی.او بیا هم دې حج اونکړی او ده ته مرګ راشی نو دده مرګ به په یهودیت یا نصرانیت باندې وی. الله ﷻ فرمانی چه دالله ﷻ دپاره په خلقو حج بیت الله فرض دي ، په هغه چا چه د دې لارې طاقت لری.اوچه څوك کفرکوی. نو الله ﷻ د ټول عالم نه بې پرواه دي. (١) ددې راوی باندې هم کلام شوې دي.

عمر فاروق ﷺ فرمائی چه څوك طاقت لری او حج اونکړی نو دې به یهودی مری یانصرانی.ددې سندبالکل صحیح دي.(حافظ ابوبکر اسماعیلی)مسند سعید بن منصور کښې دی چه عمرفاروق ﷺ اوفرمانیل چه ځما قصد دي چه څه خلق مختلفو ښارونو ته اولیږم ، او هغوئ اوګوری چه کوم خلق مال لری او حج نه کوی نو په هغوئ باندې جزیه اولګوی ځکه چې هغوی مسلمانان نه دی. (٢)

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ	لِمَ تَكْفُرُوْنَ	بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۖ	وَاللّٰهُ شَهِيْدٌ
اووایه اې اهل کتابو|	ولې تاسوانکارکوئی|	د آیتونو دالله نه|	اوالله لیدونکې دې
(اې پیغمره) ورته اووایه چې اې اهل کتابو تاسوولې دالله پاک دحکمونو نه انکار کوئ| .....اوالله پاک			
عَلٰى مَا	تَعْمَلُوْنَ ۝	قُلْ	يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ	لِمَ تَصُدُّوْنَ
دهغه کارونو	چه تاسو ئې کوئی	اووایه (اې محمد ﷺ)	اې اهل کتابو		ولې منع کوئی تاسو
ستاسوټول کارونه وینی ګوری	ته ورته اووایه چې اې اهل کتابو!تاسو ولې د الله تعالی د لارې نه			
عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	مَنْ اٰمَنَ	تَبْغُوْنَهَا	عِوَجًا	وَّاَنْتُمْ
دلارې دالله نه	|هغه څوك چه ایمان ئې راوړې دې |التوئی تاسوهغې کښې| کوږوالې|حال داچه تاسو		
هغه څوك منع کوئ چا چه ایمان راوړې دې |اوتاسو په هغې کښې کوږوالې لټوئ	اوحال دادې		
شُهَدَآءُ ۭ	وَمَا اللّٰهُ	بِغَافِلٍ	عَمَّا	تَعْمَلُوْنَ ۝
ګواهان یئ (دهغې په نیغوالی)|اونه دې الله|	ناخبره	|دهغه کارونونه| چه تاسو ئې کوئی		
چې تاسو پخپله(دهغې دحق کیدو(ګواهان یئ	اوالله پاک ستاسو دکارونونه غافل نه دې			

قوله تعالی:: قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لِمَ تَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ۖ

دیهودیانو د اسلام ددین نه انکار :- اهل کتاب کافرانو ته الله ﷻ زورنه ورکوی چا چې به حق سره دښمنی کوله. او د الله ﷻ دآیتونونه به ئې انکارکولو. او خلق به ئې هم په زوره د اسلام نه منع کول. او ددې باوجود چه هغوئ ته د رسول الله ﷺ د حقانیت علم وو. دمخکښونبیانوعلیهم السلام پیش ګویانې او بشارتونه دوی سره موجود وو.د رسول هاشمی ، عربی،امی،مکی، مدنی سید اولاد آدم خاتم الانبیاء رسول ارض وسماء ﷺ ذکر د هغوئ په کتابونوکښې موجود وو. بیاهم په خپله بې ایمانئ ولاړ وو. ددې وجې دوی ته الله ﷻ فرمائی چه ماته ښه پته ده چه تاسو ځما د نبیانو تکذیب کوئی. او تاسو خاتم النبین ته څومره تکلیف رسوئی. اوځما د مخلص بندګانو په لارکښې تکلیفونه پیدا کوئی.څه ستاسو

---

(١) ترمذی کتاب الحج باب ماجاء فی التغلیظ فی ترک الحج: ٨١٢)-

(٢) ددې سند منقطع دي حسن بصری رحمه الله سره ددوی ملاقات ثابت نه دي)-

Scanned with Ca

د اعمالو نه غافله نه یم. د ټولو خرابو بدله به درته ملاویږی. په هغه ورځ به ستاسو نیول وی چه په کومه ورځ به هیڅ سفارش کونکي او مددګار نه وی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ
انې هغه کسانو| چه ایمان مو راوړې دې |که چرې تاسو خبره اومنله دیوډلې|دهغه کسانونه
انې دایمان خاوندانو که تاسوداهل کتابود یوې ډلې تابعداری اوکړه	.....
اُوْتُوا الْكِتٰبَ يَرُدُّوْكُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ
چه ورکړې شوې دې ورته کتاب|نووا پس به کړی تاسو|روستو|دایمان راوړلو ستاسو نه
.....نو تاسو به ستاسود ایمان راوړو نه پس بیرته کافران کړی
كٰفِرِيْنَ ۝ وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَاَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ
حالت دکفر ته|او څنګه کفرکوئې تاسو|اوحال داچه یې تاسو| چه لو ستلې کیږی په تاسو باندې
..... او تاسوبه په داسې حالت کښې کفر څنګه اوکړئ چه تاسو ته د الله تعالی «د کتاب»
اٰيٰتُ اللّٰهِ وَفِيْكُمْ رَسُوْلُهٗ ؕ وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ
آیتونه دالله |او په تاسو کښې موجود دې	رسول دالله	اوچا چه اونیوؤ	دین دالله	نو
آیتونه آورولې شی| او دهغه پیغمبرستاسومینځ کښې موجود دې |اوچاچې دالله په دین منګولې اولګولې
هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝
اووخودلې شوه هغه ته	لاره	نیغه	
نو هغه سمه لاره بیا مونده

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوْا فَرِيْقًا مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

داهل کتاب خبرې منل ګمراهی ده:- الله ﷻ خپلو مومنانو بندګانوته داهل کتابو او د دې بدظنې ډلې نه د منع کیدو فرمائی.ځکه چه دا حاسدان د ایمان دښمنان دی. او دعربو رسالت ته دوی په ښه سترګه نه ګوری. لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿ وَدَّكَثِيْرٌ ﴾ دا خلق سوزی اوتاسو د ایمان نه اړوی. تاسو ددوی په دهوکه کښې مه راځی. تاسو دکفر نه ډیر لرې یئ. خو تاسو خبروؤ دالله ﷻ آیتونه په تاسو شپه ورځ لوستلې شی .اود الله ﷻ رسول ﷺ تاسو کښې موجود دې. لکه بل ځائې کښې دی چه ﴿وَمَالَكُمْ لَا تُؤْمِنُوْنَ﴾ الخ ،تاسو به ایمان ولې نه راوړئ حال دا چې رسول الله ﷺ تاسو الله ﷻ طرفته رابلی. او تاسو سره وعده هم شوې ده.

قوله تعالی:: وَكَيْفَ تَكْفُرُوْنَ وَاَنْتُمْ تُتْلٰى عَلَيْكُمْ اٰيٰتُ اللّٰهِ

د ټولو نه افضل ایماندار:- حدیث مبارک کښې دی چه رسول الله ﷺ یوورځ خپلوصحابه کرام ﷺ نه تپوس اوکړو چه ستاسو په نیز د ټولو نه زیات ایماندار څوک دې ؟ هغوئ اووئیل چه فرښتې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هغوئ ایمان ولې نه راوړی ؟ هغوئ ته خو دالله ﷻ وحی راغلې ده. صحابه کرامو اووئیل چه بیا مونږ. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو ایمان ولې نه راوړئ خه تاسو کښې موجود یم. صحابه کرامو ﷺ اووئیل چه رسول الله ﷺ دې په خپله ارشاد اوفرمائی. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ټولو خلقو کښې د ټولو نه د عجیبه ایمان والا هغه دې چه ستاسو نه پس به راځی،هغوئ به کتابونوکښې

Scanned with Ca

وائی اوپه هغې به ایمان راوړی(۱)(امام ابن کثیر رحمه الله ددې حدیث سند اوددې معنی او مطلب پوره بیان شرح بخاری کښې کړې دې) فالحمدلله.

قوله تعالی:: وَمَنْ يَّعْتَصِمْ بِاللّٰهِ فَقَدْ هُدِيَ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝

بیا فرمائی چه ددې باوجود ستاسو دالله ﷻ دین لره مضبوطیا سره نیول او دالله ﷻ په پاك ذات باندې بهروسه اوتوکل ساتل د هدایت سبب دی. دې سره ګمراهی لرې کیږی. هم دا د رشد اوهدایت باعث دې او هم دې سره صحیح لار حاصلیږی. او دې سره کامیابی اومراد ملاویږی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا	اللّٰهَ	
اې هغه کسانو|چه ایما ن مو راوړې دې||اوویریږئی|دالله تعالی نه				
اې دایمان خاوندانو دالله پاک نه داسې ویره کوئ				
حَقَّ تُقٰتِهٖ	وَلَا تَمُوْتُنَّ	اِلَّا وَاَنْتُمْ		
لکه څنګه چه حق دې دیرې دهغه نه	او مه مرئی تاسو	مګر په دې حال کښې چه یئ تاسو		
څنګه چې دهغه نه دویرې حق دې	اوتاسو ته دې په داسې حالت کښې مرګ راشی چه تاسو			
مُّسْلِمُوْنَ ۝	وَاعْتَصِمُوْا	بِحَبْلِ اللّٰهِ	جَمِيْعًا	وَّلَا تَفَرَّقُوْا ۠	وَاذْكُرُوْا
|مسلمانان| اومنګولې اولګوئی|په رسئ (دین) دالله| ټول |اومه مختلف کیږئی| اویادکړئی|			
مسلمانان ئې| او ټول دالله (د دین) رسئ مضبوطه| ونیسئ	اودلې دلې مه جوړیږئ	اود الله پاک				
نِعْمَتَ اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	اِذْ كُنْتُمْ	اَعْدَآءً	فَاَلَّفَ	
نعمت دالله| په تاسوباندې |اکله چه وئ تاسو| دشمنان |انومینه ئې پیدا کړه				
دا نعمت یاد ساتئ	چې تاسودیوبل دشمنان وئ	نو هغه ستاسو د زړونو په مینځ کښې مینه واچوله			
بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ	فَاَصْبَحْتُمْ	بِنِعْمَتِهٖٓ	اِخْوَانًا ۚ	وَكُنْتُمْ	
په مینځ د زړونو ستاسو کښې|انوشوئ تاسو|په نعمت دهغه سره|(اسلامی) رونړه| او وې تاسو				
.....نوتاسو د هغه په مهربانئ سره رونړه رونړه شوئ	..... اوتاسو				
عَلٰى شَفَا حُفْرَةٍ	مِّنَ النَّارِ	فَاَنْقَذَكُمْ	مِّنْهَا ؕ	كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ اللّٰهُ	لَكُمْ
په غاړه| دکندې	د اور |انوبچ کړئی الله تاسو|دهغې نه |هم دغسې|بیانوی الله تعالی|تاسوته|		
داور دکندې په غاړه وئ| نوالله پاک درته د هغې نه نجات درکړو |دغه شان تاسوته الله خپلې ښې ښانی				
اٰيٰتِهٖ	لَعَلَّكُمْ	تَهْتَدُوْنَ ۝				
ښې خپلې	شاید چه تاسو	نیغه لار بیاومومئ				
دې دپاره چې تاسو په سمه لار راشئ						

(۱) حاکم: ٤/٨٥،-

قوله تعالی:: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ

دالله ﷻ د اطاعت مفهوم:- الله ﷻ نه پوره پوره ویریدل دا دی چه د هغه اطاعت اوکړې شی .اود هغه ذات نافرمانی اونکړې شی .د هغه پاك ذات ذکر اوکړې شی .اود هغه یاد هیر نه کړې شی. د هغه ذات شکر اداکړې شی اوکفر اونکړې شی. بعضو روایتونو کښې دا تفسیر مرفوع مروی دې لیکن صحیح خبره دا ده چه دا موقوف دی یعنی دا د عبدالله بن مسعود ﷺ قول دې ، والله اعلم.(۱)

دژبې د حفاظت اهمیت:- انس ﷺ فرمائی چه انسان تر هغه پورې دالله ﷻ نه د ویرې حق نشی ادا کولې تر کومې چه دې خپله ژبه محفوظ اونه ساتی. (۲)

د ایت په نسخ کښې دوه قولونه① اکثرو مفسرینو وئیلی دی چه دا آیت ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾ آیت سره منسوخ شوې دې.دې دویم آیت کښې فرمانی چه د خپل طاقت مطابق د هغه نه ویره کوئی② ابن عباس ﷺ فرمائی چه منسوخ شوې نه دې بلکه مطلب دا دې چه د الله ﷻ لار کښې جهاد کوئی . د هغه په کارونو کښې دچاد ملامتیا خیال مه ساتئ. عدل خپل کړئی تر دې چه خپله خپل نفس سره هم عدل کوئی.د خپل مور پلار او خپل اولاد باره کښې عدل انصاف کوئی.

قوله تعالی:: وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ

بیا فرمانی چه تاسو داسې حالت کښې اوسیږئ چې اسلام په حالت کښې درته مرګ راشی او او ټول ژوند په دې باندې قائم اوسئ چه تاسوهم په دې حالت کښې وفات شئ. د هغه رب کریم عادت هم دا دی چه انسان خپل ژوند څنګه تیر کړی نو هغه حالت کښې ورته مرګ رازی اوچه په کوم حالت کښې ورله مرګ را شی نوپه هغه حالت کښې به دقیامت په ورځ پورته کیږی. الله ﷻ دې ددې نه مونږ په خپله پناه کښې اوساتی. آمین. مسند احمد کښې دی چه خلقو د بیت الله شریف طواف کولو او حضرات ابن عباس رضی الله عنه هلته موجود وو.د هغوئ لاس مبارک کښې لرګې وو. وې فرمائیل چه نبی کریم ﷺ د دې آیت مبارک تلاوت اوکړو او بیا ئې اوفرمائیل که د زقوم یو قطره هم دنیا ته راپریوزی نو د دنیا د خلقو رزق په خراب شی اوهغوئ به هیڅ څیز نشی څکلې . بیا خیال اوکړئی چه د هغه دوزخیانو به څه حال وی چه د هغوئ خوراک څکاک زقوم وی (۳)

او حدیث پاک کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه کوم سړې جهنم نه لرې بچ کیدل او جنت کښې اوسیدل غواړی نو هغه ته پکار دی چه تر مرګه پورې په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ایمان اوساتی اوخلقو سره هغه شان سلوک کوی کوم چه دې خپل خان دپار غواړی . (مسند احمد) (۴)

دمرګ په وخت کښې د الله نه ښه ګمان ساتل:- جابر ﷺ فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه د هغوی د وفات نه دری ورځې مخکښې واوریدل چه د الله ﷻ نه د مرګ په وخت کښې ښه ګمان ساتئ. (مسلم) (۵)

الله بنده سره دهغه د ګمان مطابق معامله کوی:- رسول الله ﷺ فرمائی دالله ﷻ فرمان دې چه ځما بنده په ماځنګه ګمان ساتی نوځه هغه سره شان دهغه د ګمان مطابق معامله کوم. که دده ګمان ماسره ښه وی نوځه ده

---

۱) ابن ابی حاتم: ۴۴۶/۲،)-

۲) ابن ابی حاتم: ۴۴۸/۲،)-

۳) احمد: ۳۰۰/۱، ترمذی : کتاب صفة جهنم باب ماجاء فی صفة شراب اهل النار : ۲۵۸۵، وهو صحیح ابن ماجة: ٤٣٢٥)-

۴) احمد: ۱۹۲/۲،بهذا اللفظ داروایت صحیح مسلم کتاب الامارة باب وجوب الوفاء ببیعة الخلیفة ۱۸۴۴کښې هم مطول موجود دی)

۵) صحیح مسلم کتاب الجنة بآب الامر بحسن الظن بالله تعالی عند الموت: ۲۸۷۷، ابوداود: ۳۱۱۳، ابن ماجة: ٤١٦٧

Scanned with Ca

سره ښه معامله کوم او که هغه په ما باندې بدګمانی کوی نوځه هم هغه سره دغه شان معامله کوم. (مسند احمد).(١) ددې حدیث رومبنۍ حصه بخاری اومسلم کښې ده. (٢)

دمرګ په وخت کښې د الله نه ښه امید ساتل پکاری دی:- مسند بزار کښې دی چه رسول الله ﷺ دیو بیمار انصاری ﷺ پوښتنې ته تشریف یوړو او د سلام کولو نه پس رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څنګه ئې ؟ هغه اووئیل چه الحمد لله ښه یم .د الله ﷻ د رحمت امیدوار یم. اود هغه د عذابونو نه ویریږم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه واورنی اداسې وخت کښې چه د الله ﷻ ویره او طمع دواړه وی نو الله ﷻ هغه ته د امید څیز ورکوی او د ویرې څیز نه ئې بچ کوی. (٣)

یوحدیث اود هغې په مفهوم کښې درې اقوال:- مسند احمد کښې یو حدیث کښې دی چه حکیم بن حزام ﷺ د رسول الله ﷺ نه ددې خبرې بیعت اوکړو چه خه په ولاړه ولاړه راپریوزم.(١) ①ددې مطلب امام نسائی خوپه سنن نسائی کښې دا بیان کړې دې چه په سجده کښې دا شان کول پکار دی②اودا معنی هم بیان شویدې ده چه مړ نه شم مګر مسلمان مړ شم③اودا هم بیان شوې ده چه په جهاد کښې د شا نه او نه وهلې شم او مړ نشم.

قوله تعالی:: وَاعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللّٰهِ جَمِيْعًا

دفرقه بندئی ممانعت او د حبل نه مراد :- بیا فرمائی چه اتفاق پیداکړئی او اختلاف نه بچ اوسئی. ①حبل الله نه مراد د رب وعده ده. لکه [اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ] الخ. ②بعضو وئیلی دی چه ددې نه قران پاك مراد دې.

د قول ثانی دلائل:- ①یومرفوع حدیث کښې دی چه قران پاك لره مضبوط اونیسئ او ددې لار نیغه ده.(٤)

②اوروایت کښې دی چه کتاب الله دالله ﷻ مضبوطه رسئی ده چه د آسمان نه رازوړنده شوې ده. (٥)

③او حدیث کښې دی چه دا قران پاك دالله مضبوطه رسئ ده. دا ښکاره نور دې .دا سراسرشفا ورکونکې دې. او فائده مند دې. په دې چه څوك عمل کوی نو د هغه دپاره د بچ کیدو ځائې دې. څوك چې ددې تابعداری کوی نو د هغه دپاره نجات دې .(٦)

④ عبدالله ﷺ فرمائی چه په دې لارو کښې خو شیطانان اوسیږی. تاسو د الله ﷻ لارې ته راشئ اود الله ﷻ لار مضبوطه اونیسئ . او هغه قران پاك دې .(٧)

قوله تعالی:: وَلَا تَفَرَّقُوْا

د شپږو خبرو پیژندل:- اختلاف مه کوئی او تفرقه مه کوئی .د دې نه بچ اوسئ. صحیح مسلم کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه په دریو خبرو الله ﷻ خوشحالیږی او دریو خبرو باندې خفه کیږی① یو خو دا چه د هغه عبادت اوکړئ او هغه سره هیڅوك شریك نه کړئی ② دویم دا چه د الله ﷻ رسئ مضبوطیا سره اونیسئ او تفرقه مه پیدا کوئی③ دریم دا چه د مسلمان بادشاه خیرخواهی کوئی. (اوپه کومو دریو

---

١) احمد: ٣٩١/٢)-

٢) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی (یریدون ان یبدلواکلام الله) : ٧٥٠٥، صحیح مسلم: ٢٦٧٥،)-

٣) رمذی کتاب الجنائز باب الرجاء بالله ....٩٨٣، ابن ماجة: ٤٢٦١، وهو حسن)-

٤) ترمذی کتاب التطبیق باب کیف یحنی للسجود: ١٠٨٥، وهو صحیح احمد: ٤٠٢/٣)-

٥) ترمذی کتاب فضائل القران باب ماجاء فی فضل القران: ٢٩٠٦،)-

٦) الطبری: ٧٥٧٠، مسند ابی یعلی : ١٠٢١، المعجم الصغیر للطبرانی: ٢٦٧٨،)-

٧) دارمی : ٤٣/٢)-

٨) درامی : ٤٣١/٢، ح/٣٣٢٠)-

Scanned with Ca

خبرو چې الله تعالی خفه کیږی هغه دا دی)①او فضول بکواس ②دسوال زیاتی ③او دمال بربادنی سره الله ﷻ خفه کیږی. ډیرو روایتونو کښې داسې هم دی چه داتفاق په وخت کښې به دوی د خطا نه بچ شی(١)

په امت محمدی کښې درې اویا ډلې جوړیدل:- او ډیرو احادیثو کښې د نا اتفاقئ نه ویرول شوی دی. لیکن د دې باوجود په دې امت کښې افتراق پیدا شو او په دې کښې به درې اویا فرقې وی. چه په هغې کښې به یو نجات مومی او جنت ته به ځی. اودجهنم د عذابونو نه به ورته نجات ملاؤ شی. اودا هغه خلق دی چه په هغه طریقه قائم وی په کومه چې د الله رسول الله ﷺ او دهغوی صحابه کرام ﷺ قائم دی.

قوله تعالی:: وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ

بیا ورته خپل نعمت یادوی،د جاهلیت په زمانه کښې د اوس اوخزرج په مینځ کښې سخت جنګ او دښمنی وه. او خپلو کښې به ئې هر وخت جنګ جاری وو. او کله چه دواړو اسلام قبول کړو نو د الله ﷻ په فضل سره بالکل یو شو. ټول هر څه بغض کینه ئې ختمه شوه. او خپلو کښې رونړه رونړه شو. او د نیکئ او ښیګړې په کارونو کښې دیو بل مددګار شو.اوداالله ﷻ دین کښې یوبل سره متفق شو. لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿هُوَ الَّذِي أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ ۝ وَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ﴾ الخ.یعنی هغه الله ﷻ ستاسو تائید ئې اوکړو په خپل مدد سره اوپه مومنانوسره او د هغوی په زړونوکښې ئې محبت پیدا کړو. الخ

قوله تعالی:: وَكُنْتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا

خپل بل احسان ذکر کوی چه تاسو د اورغاړې ته ورغلی وئ اوستاسوکفر تاسو اور ته دیکه کولئ .خو ما تاسو ته د اسلام قبلولو توفیق درکړو.او تاسو مې د دې نه اوساتلئ.

د غزوه حنین په موقع د انصارو د کمال اطاعت نمونه:- دحنین نه پس هرکله چه مال د غنیمت تقسیم شو نو د دینی مصلحت مطابق رسول الله ﷺ بعضو خلقو ته زیات مال ورکړو نو یو سړی څه داسې نازیبا الفاظ اووئیل چه په هغې باندې رسول الله ﷺ د انصارو جماعت راجمع کړو او خطبه ئې اووئیله. په دې کښې ئې دا هم اوفرمائیل چه د انصارو ډلې ! آیا تاسو ګمراه نه وې ، بیا الله ﷻ ځما په وجه تاسو ته هدایت اوکړو؟ آیاتاسوانتشار کښې نه وئ بیا الله ﷻ ځما په وجه ستاسو زړونوکښې محبت پیداکړو. آیا تاسو فقیران نه وئ نوالله ﷻ ځما په وجه مالدار کړئی ؟ دهر یو سوال په جواب کښې به دې پاکباز جماعت او د الله ﷻ ډلې وئیل چه مونږ باندې د الله ﷻ او د رسول ﷺ احسانات نور هم ډیر دی (٢).

په انصارو کښې بیا زړه دشمنی تازه کیدل اود هغې ختمدل:- محمد بن اسحاق فرمائی چه داوس او خزرج په مینځ کښې د مودو راسې دشمنی وه او بیا دوی خپلو کښې رونړه رونړه شو نو دې سره په یهودوکښې یو شرارت پیداشو اوهغوئ سړی مقرر کړل چه د دوی په حجرو او مجلسونوکښې کینی.او دوی ته مخکښې دښمنئ او جنګونه یادوی او دوی کښې بیا دشمنی راوپاروی. نو د دوی دا سازش یو خل کامیاب شو او د دواړو قبیلو په مینځ کښې اور اولګیدو تردې چه توره راوتلې ، او دوه ډلې شو. او هم هغه د جاهلیت چغې ئې وهلې او وسله ئې راوویستله. او دیو بل د وینې تږی جوړ شو. او دا فیصله اوشوه. چه د حره په میدان کښې به راغونډ شواو هلته به خپله خوانمردی ښایو. تږې دې چې زمکه په خپلو وینو سیراب کړو. لیکن رسول الله ﷺ ته ډډې پته اولګیده. رسول الله ﷺ زر موقعې ته راورسیدو او د دواړو فریقو په مینځ کښې ئې تصفیه اوکړه. او وې فرمائیل چه تاسو بیا د جاهلیت نعرې وهئ ځما په موجودګئ کښې بیا تاسو جنګونه شروع کړل. بیا رسول الله ﷺ هم دا آیت اولوستلو او ټول

---

١) صحيح مسلم كتاب الاقضية باب النهى عن كثرة المسائل من غير حاجة: ١٧٥١)-

٢) صحيح بخارى كتاب المغازى باب غزوة الطائف : ٤٣٣٠، صحيح مسلم: ١٠٦١)-

Scanned with Ca

شرمنده شو.او دوه ساعته مخکښې چه نې کوم حرکت کړې وو په هغې نې افسوس شروع کړو. اوخپلو کښې نې سره مصافحه اوکړه اوبیا رونړه رونړه شو او وسله نې اوغورزوله. او صلح اوشوه.

د ایت د شان نزول یو بل روایت:- عکرمه ﷺ فرمائی چه دا آیت په هغه وخت کښې نازل شو چه کله صدیقه ﷺ باندې منافقانو تهمت اولګولو او د عائشه ﷺ برآت شوې وو،نوبیاد یوبل مقابله کښې رالاندې شو. والله اعلم.

وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ
او ضرور دې وی اپه تاسو کښې | یوه ډله |
او په تاسو کښې دې ضرور یوه ډله داسې وی
يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ؕ وَاُولٰٓئِكَ
چه رابلی (خلق) | نیکئ ته | اوحکم کوی | د نیکئ | اومنع کول کوی | دبدنی نه | اودغسې خلق |
چې خلق نیکوطرفته رابلی | او دنیکوکارونوحکم کوی | اودبدونه نې منع کوی | اوهمدغه خلق
هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٤﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا
خاص هغوئ | خلاصې موندونکی دی | اومه کیږئ تاسو | په شان دهغه کسانو | چه ډلې ډلې شول |
نجات موندونکی او کامیاب دی | .....اودهغې خلقو پشان مه کیږه چې په خپل مینځ کښې ډلې ډلې شو
وَاخْتَلَفُوْا مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ؕ
اوپه اختلافاتو(جګړو کښې) اخته شو | روستو دهغې نه | چه راغلی وو هغوئ ته | ښکاره هدایات
.....اود ښکاره ښنو راتلونه پس نې | اختلاف اوکړو .....
وَاُولٰٓئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿١٠٥﴾ يَّوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوْهٌ
اوداکسان چه دی | دوی دپاره | عذاب | لوئې دې | اپه هغه ورځ | چه سپین به شی | څه مخونه
دغې خلقو لره (په هغه ورځ) لوئی عذاب مقرر دې | په کومه ورځ چې به (بعضې) مخونه سپین وی
وَّتَسْوَدُّ وُجُوْهٌ ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْوَدَّتْ وُجُوْهُهُمْ
| اوتوربه شی | څه مخونه | نوهغه کسان | چه تور شی | مخونه دهغوئ |
اوبعضې مخونه به تور وی | ..... نودچامخونه چې تور وی (هغوئ ته به وئیلې شی)
اَكَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ
(اوبه وئیلې شی هغوئ ته) ایا تاسو دکفر لازاختیار کړې وه | روستو | دایمان راوړلوستاسو نه
.....چې تاسو دایمان غوندې لوئې (نعمت) موندلو نه پس بیا هم کفر خوښ کړې وو
فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿١٠٦﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ
| انواوځکئ | عذاب | اپه سبب دهغې | چه وئ تاسو | چه ناشکری مو کوله | اوهغه کسان
نواوس دخپل کفر په سزا کښې دعذاب خوندواوځکئ | .....او چې د چا
ابْيَضَّتْ وُجُوْهُهُمْ فَفِيْ رَحْمَةِ اللّٰهِ ؕ
| چه سپین شوی وی | مخونه دهغوئ | نو وی به هغوئ | په رحمت دالله تعالی کښې |
مخونه سپین وی | .....نو هغوئ به دالله پاک رحمتونو کښې مشغول وی

Scanned with Ca

هُمْ فِيهَا خٰلِدُونَ ﴿٥٦﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ اللّٰهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ
هغوئ به په هغې کښې | همیشه وی | دا ایتونه دالله تعالی دی | چه مونږ اوروهغه | تا ته |
همیشه به په (عیش وعشرت) کښې اوسیږی | دا دالله پاک حکمونه دی چې مونږ ئې تاسوته اوروؤ
بِالْحَقِّ ؕ وَمَا اللّٰهُ يُرِيدُ ظُلْمًا لِّلْعٰلَمِينَ ﴿١٠٨﴾ وَلِلّٰهِ مَا
په حقه سره | اونه دې الله | چه اراده اولری | دظلم | دپاره دمخلوقاتو | اوالله تعالی لره دی هغه چه |
اوالله پاک په خپل مخلوق باندې ظلم نه کوی | .....اود الله تعالی دپاره هغه (ټول) څه دی
فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ
په آسمانونو کښې دی | اوهغه چه په زمکه کښې دی | اوخاص الله تعالی ته | واپس کولې کیږی |
چه په آسمانونو کښې او زمکه کښې دی | اوټولې معاملې به اوس الله ته
الْاُمُورُ ﴿١٠٩﴾
معاملې (ټولې) |
پیش کیږی |

قوله تعالی:: وَلْتَكُنْ مِّنْكُمْ اُمَّةٌ يَّدْعُونَ اِلَى الْخَيْرِ

د جماعت نه څوک مراد دي؟:- ① ضحاك رحمه الله فرمائی چه د دې جماعت نه مراد خاص د صحابه کرامو رضی الله عنهم او خاص د راویان حدیث جماعت مراد دې. یعنی مجاهدین اوعلماء کرام .②ابو جعفر باقر رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ ددې آیت تلاوت اوفرمائیلو او بیا ئې اوفرمائیل چه د خیر نه مراد د قران اوحدیث اتباع ده. یادساتئ چه په هر هر متنفس باندې تبلیغ فرض دې. لیکن یو جماعت خو خاص دې کار کښې مشغول اوسیدل پکار دې.

د امر بالمعروف دري درجې:- رسول الله ﷺ فرمائی ①چه تاسو کښې څوك بل کس په بدکار اووینی نو هغه دې په لاس سره منع کړی ②او که ددې طاقت نې نه وی نو په خوله دې منع کړی ③او که ددې طاقت نې هم نه وی نو خپل زړه کښې دې ته بد اوګوری او دا د ټولو نه ضعیف ایمان دې. یوروایت کښې دې نه پس دا هم دی چه ددې نه پس د یو دانې برابر ایمان هم نشته (صحیح مسلم).([1])

د امر بالمعروف نه کولو وعید:- مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه په هغه ذات قسم چه د هغه په لاس کښې ځما روح دې.تاسو د نیکئ حکم کوئی او د بدئی نه منع کوئی.کنی نزدې ده چه په تاسوبه داسې یووخت راشی چه الله ﷻ به په تاسو خپل عذاب نازل کړی. او بیا به تاسو دعاګانې کوئی او هغه به نه قبلیږی([2])ددې مضمون نور ډیراحادیث هم دی. چرته په بل مقام به نې ذکر کړو انشاء الله.

قوله تعالی:: وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ تَفَرَّقُوا

دین کښې اختلاف کول د جهنم سبب دي :- بیا فرمائی چه تاسو د مخکښې خلقو په شان اختلاف مه کوئی تاسو د نیکې خبرې حکم او د بدئ نه منع کوئی .

---

[1]) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان کون النهی عن المنکر: ٤٩، ابوداود: ١١٤٠، ترمذی: ٢١٧٢، نسائی: ٥٠١٢، ابن ماجة: ١٢٧٥، عن ابی سعید الخدری)-

[2]) ترمذی کتاب الفتن باب ماجاء فی الامر بالمعروف : ٢١٢٩، وهو حسن: احمد: ٣٩١/٥)-

Scanned with Ca

د نفسانی خواهشاتو تابع جمات باره کښې پیشنګوئی:- مسند احمد کښې دی چه معاویه بن ابوسفیان ﷺ چه کله دحج دپاره مکی مکرمې ته تشریف یوړو نو د ماسپخین مونځ ادا کولو نه پس نې اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه اهل کتابو خپل دین کښې اختلاف کولو او هغوئ کښې اویا ډلې جوړې شوې.اوځما دې امت کښې به دریې اویا ډلې جوړیږی .یعنی په خواهشاتوکښې به اخته وی.ټول به جهنمیان وی.خویو بله ډله هم شته.او ځما امت کښې به داسې خلق هم وی چه د هغوئ رګ رګ کښې به نفسانی خواهشات داسې داخل شی لکه څنګه چه یوانسان سپې اوخوری اودهغه یویورګ اویو یو جوړ ته دهغې اثر رسی.انې دعربو خلقو اکه تاسو دخپل نبی ﷺ په راوړې شوی څیز قائم پاتې نشوئی نو نور خلق خوبه ډیر لرې شی (١) ددې حدیث ډیر سندونه دی .

قوله تعالی:: يَوْمَ تَبْيَضُّ وُجُوهٌ وَتَسْوَدُّ وُجُوهٌ

د قیامت په ورځ به جنتیان او جهنمیان دخپلو مخونو نه پیژندې شی :- بیا فرمائی چه په هغه ورځ به څه مخونه سپین وی او څه به تور وی.

د تورو او سپینو مخونوخاوندان به څوک وی؟په دې کښې اقوال:- ① د ابن عباس ﷺ فرمان دې چه د اهل سنت والجماعت مخونه به سپین وی او داهل بدعت مخونه به تور وی(٢) ② حسن بصری رحمه الله فرمائی چه دا تور مخونو والا به منافقان وی. او دوی ته به اووئیلې شی چه تاسود ایمان نه پس کفر ولې اوکړو. اوس مزه اوځکئ (٣) اوسپینو مخونو والا به همیشه همیشه په رحمت ربانی کښې وی ③ ابوامامه ﷺ چه کله د خارجیانو سرونه د دمشق په مسجد کښې آویزانه اولیدل نو وې فرمائیل چه دا د جهنم سپی دی. ددوی نه بدتر قتل شوی په مخ د ځمکې بل څوک نشته دې . دوی قتل کولو والا بهترین مجاهدین دی.بیا ئې دا آیت ﴿يَوْمَ تَبْيَضُّ﴾ تلاوت اوفرمائیلو.ابو غالب اووئیل چه آیادا دې درسول الله ﷺ نه آوریدلی دی ؟نو وې فرمائیل یو ځل دوه نه بلکه اووه ځله . که داسې نه وې نو ما به د ژبې نه دا الفاظ ویستلی هم نه وې .(٤)

د الله تعالی د کنړو صفاتو بیان :- ابن مردویه دلته د ابوذر ﷺ روایت نه یو اورد حدیث نقل کړې دې چه هغه ډیر عجیبه دې لیکن غریب دی. انې نبی ﷺ ! ددنیا او آخرت دا خبرې مونږ تاسوته ښکاره کوو. الله ﷻ حاکم عادل دې هغه ذات ظالم نه دې . اوهرڅیز ښه پیژنی اوپه هر څیزباندې قادر دې .بیا دا ممکن نه ده .چه هغه ذات په چا باندې ظلم اوکړی(چه د چا مخونه تور شی. هغوی به ددې لائق وی) د زمکې او آسمان ټول څیزونه د هغه ذات ملکیت دې .اود هغه ذات غلامان دی .اودهر کار آخری حکم د هغه په اختیار کښې دې .د دنیا او د آخرت متصرف او با اختیاره حاکم صرف هغه ذات دې

كُنتُمْ	خَيْرَ	أُمَّةٍ	أُخْرِجَتْ	لِلنَّاسِ
ایئ تاسوانې محمدی امته	بهترین	امت	چه ایستلی شوی یئ دپاره دخلقو	
تاسوغوره ډله یئ چې د خلقو د هدایت دپاره راویستې شوی یئ				
تَأْمُرُونَ	بِالْمَعْرُوفِ	وَتَنْهَوْنَ	عَنِ الْمُنكَرِ	وَتُؤْمِنُونَ
حکم کوئی تاسو	دنیکئ	او منع کوئی تاسو (خلق)	دبدئی نه	اوایمان لرئی
خلقو ته دنیکئ حکم کوئ	.....اودبدوکارونو نه ئې منع کوئ			.....او په الله باندې یقین لرئ

(١) احمد: ١٠٢/٤، ابوداود كتاب السنة باب شرح السنة: ٤٥٩٧، وسنده حسن)-،
(٢) ابن ابی حاتم: ٤٦٤/٢)-
(٣) ابن ابی حاتم: ٤٦٥/٢)-
(٤) ترمذی كتاب التفسير القران باب ومن سورة آل عمران : ٣٠٠٠، ابن ماجة : المقدمة باب فی ذكر الخوارج : ١٧٦، وسنده حسن)-

بِاللّٰهِ ؕ وَلَوْ اٰمَنَ اَهْلُ الْكِتٰبِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ
په الله تعالی باندې اوکه چرې ایمان راوړې وې اهل کتابو انو وه به ډیره بهتره ډپاره دهغوئ
اوکه اهل کتابو هم ایمان راوړې وې ..... نودا به ددوئ ډپاره بهتره وه
مِنْهُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ وَاَكْثَرُهُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝ لَنْ يَّضُرُّوْكُمْ
ځینې دهغوئ نه مومنان دی اوزیات دهغوئ نه فاسقان دی هرگز به ضرر اونه رسوی تاسوته
په دوئ کښې بعضې خو ایماندار دی او زیات په کښې نافرمان دی ددوئ تاسوته هیڅ ضرر نشی رسولې
اِلَّآ اَذًى ؕ وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ ثُمَّ
مګر په تکلیف درکولو (دژبې) اوکه دوی جنګ شروع کړی تاسو سره انواوبه ګرځوئ تاسوته شاګانې
صرف تنګول کوی ..... اوکه تاسو سره جنګ شروع کړی نو زربه درته شاګانې کړی
لَا يُنْصَرُوْنَ ۝ ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَمَا
بیا به اونه کړې شی مدد دوی سره اومقرر شوې دې په دوی باندې ذلت هرچرته چه
بیابه ددوئ هیڅ مدد اونکړی شی دوئ چې هرځائې کښې وی نو په دوئ به ذلت وی
ثُقِفُوْٓا اِلَّا بِحَبْلٍ مِّنَ اللّٰهِ وَحَبْلٍ
اومونډلې شی دوی مګر نه اپه رسئ (پناه ملاویدو) سره اطرفه دالله تعالی نه اوپه پناه ملاویدوسره
خوکه دالله جل شانه سره پناه اوغواړی ..... او دخلقونه هم پناه اومومی
مِّنَ النَّاسِ وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ وَضُرِبَتْ
اطرفه دخلقو اودوی اخته شو په غضب سره دطرفه دالله تعالی اومقرر کړې شوه
(نودابیله خبره ده) دوی دالله په غضب کښې ګیر شوی دی او د دوی دپاره .....
عَلَيْهِمُ الْمَسْكَنَةُ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ
په دوی باندې محتاجی اداپه دې وجه چه بیشکه دوی وو اچه کفر به ئې کولو اپه آیتونو دالله
محتاجی مقرر شوې ده ..... داځکه چې دوئ وړاندې نه دالله پاک د آیاتونو نه انکار کولو
وَيَقْتُلُوْنَ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ؕ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا
او قتلول به ئې پیغمبران په ناحقه اداانجام په دې سبب دې اچه دوی نافرمانی اوکړه اوو دوی
او پیغمبران علیهم السلام به ئې په ناحقه قتلول داځکه چې دوئ نافرمانه وو او دوی
يَعْتَدُوْنَ ۝
چه حد نه به تیریدل
د مقرر حد نه تیریدل

قوله تعالی:: كُنْتُمْ خَيْرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ

امت محمدیه دټولو امتونونه بهتر دي :- الله ﷻ خبر ورکوی چه امت محمدیه ﷺ د ټولو امتونو نه بهتر دي. صحیح بخاری کښې دی چه ابوهریره ؓ د دې آیت تفسیر کښې فرمائی چه تاسو دنورو حق کښې

Scanned with Ca

بهتر یئ تاسو خلق د څټونو نه نیسئ او اسلام طرفته ئې راولئ(۱) اومفسرین هم دا فرمائی چې تاسو ټول امتونو کښې بهتر یئ. او خلقو ته زیات نفع رسونکي یئ.

امر بالمعروف کونکي ټولوکښې افضل دي:- دابولهب لور دره رضی الله عنها فرمائی چه یو خل رسول الله ﷺ نه چا تپوس اوکړو اورسول الله ﷺ هغه وخت کښې په منبر باندې وو چه یارسول الله ﷺ کوم یو سړي بهتر دي ؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د ټولوخلقو نه بهتر هغه سړي دي چه د ټولو نه زیات قاری د قرآن پاك وی ، د ټولونه زیات پرهیزګار وی،د ټولو نه زیات د نیکو حکم کونکي وی، دټولو نه زیات د بدو نه منع کونکي وی،د ټولو نه زیات صله رحمی کنکي وی .(مسند احمد). (۲)

بهترینه زمانه:- ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا هغه صحابه کرام ﷺ دی چه کوموملکي نه مدینې ته هجرت کړې وو(۳) صحیح خبره دا ده چه دې آیت کښې ټول امت شامل دي.خو بیشکه دا حدیث کښې دی چه د ټولو نه بهتره ځما زمانه ده.بیا دې نه پس دې سره نزدې زمانه ، بیا دې نه پس زمانه (٤)

د بهترین امت کیدو یوه بله وجه:- یو بل روایت کښې دی چه [وَكَذٰلِكَ جَعَلْنٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا] الخ .مونږ تاسو بهترین امت جوړکړئی چه تاسو خلقو اندې ګواه اوسئ. رسول الله ﷺ فرمائی چه تاسو د مخکښې امتونو تعداد اویاؤ ته رسولې دي .دالله ﷻ په نیز تاسو ټول د هغوئ نه بهتر یئ او زیات ښه یئ. (٥)دامشهور حدیث دې ،امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وئیلی دی .

د دې امت د فضیلت نور وجوهات:- ددې امت د فضیلت دټولو نه یو غټ دلیل دا دې چه د دې امت نبی ﷺ فضیلت والا دې.رسول الله ﷺ د ټول مخلوق سردار او د رسولانونه زیات اکرم اوعزت والا دې .رسول الله ﷺ شریعت دومره کامل او دومره پوره دې چه داسې شریعت بل نبی ته نه وو ملاؤ شوې . نوظاهره خبره ده چه د دې خوبیانو والا امت به هم اعلی او افضل وی. ددې امت لږ شان عمل هم د نورو امتونو د زیات عمل نه بهتر او افضل دي.

د رسول الله ﷺ اعجاز:- علی بن ابوطالب ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه ما ته هغه نعمتونه راکړې شوی دی.چه ځما نه مخکښې امتونوته نه دی ملاؤ شوی. خلقو تپوس اوکړو چه هغه کوم نعمتونه دی ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ①ځما مدد رعب سره شوې دي.② ما ته د زمکې چابیانې راکړې شوی دی.③ ځما نوم احمد دي ځما دپاره ښاوره پاکی راوستونکې کړځولې شوې کړې④ ځما امت د ټولو نه بهتر امت جوړکړې شویدي (مسند احمد) (٦). ددې حدیث اسناد حسن دی .

عسی علیه السلام باندې د دې امت فضیلت ښکاره کول:- ابوالدرداء ﷺ فرمائی چه ما د ابوالقاسم نه آوریدلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه الله ﷻ عیسی علیه السلام ته اوفرمائیل ستا نه پس یو امت راتلونکي دي چه هغوئ به په نعمت باندې حمد اوشکر کوی. اومصیبت باندې به ثواب غواړی او صبر به کوی.حالانکه هغوئ ته به علم او حلم نه وی.عیسی علیه السلام تعجب سره تپوس اوکړو چه بغیر د زیاتې دوراندیشئ او علم

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب آل عمران (کنتم خیر امت اخرجت للناس...) : ٤٥٥٧)-

(۲) احمد: ٦/٤٣١،)-

(۳) حاکم : ۲۹٤/۲ وسنده صحیح)-

(٤) صحیح بخاری کتاب فضائل اصحاب النبی باب فضائل اصحاب النبی ﷺ : ۳٦۰٥، صحیح مسلم: ۲٥۳٥،)-

(٥) احمد: ٤٤٧/٤، ترمذی: کتاب تفسیر القران باب ومن سورة آل عمران : ۳۰۰۱، وسنده حسن ، وابن ماجة: ٤۲۸۸)-

(٦) احمد: ۹۸/۱.)-

Scanned with Ca

نه دا څنګه کیدې شی ؟ رب العالمین ورته اوفرمائیل چه هغوئ ته به علم او حلم څه ورکوم . (١) څه غواړم چه دلته بعضې هغه احادیث هم بیان کړم چه د هغې ذکر دلته مناسب دې ، واورئی.

دامت محمدی اویا زره کسان بې حسابه جنت ته تلل:- رسول الله ﷺ فرمائی چه ځما د امت نه به اویا زره سړی بغیر دحساب کتاب نه جنت ته داخلیږی. او د هغوئ مخونه به د څوارلسمې سپوږمئ په شان روښانه وی. دټولو زړونه به یو وی. ما خپل رب ته ګزارش اوکړو چه انې الله ﷻ دې تعداد کښې اضافه اوکړه. الله ﷻ اوفرمائیل هر یو سره به اویا زره نور هم وی .ابوبکرصدیق ﷺ چې به دا حدیث پاک بیانولونو فرمائیل به ئې بیا خو به دې تعداد کښې باندې پیچیان او میروال هم راځی (مسند احمد) (٢)

د امت محمدی ډیرکسان به بې حسابه جنت ته ځی:- نبی کرم ﷺ فرمائی چه ځما رب اویا زره کسان ځما دامت نه بغیر د حساب وکتاب نه جنت ته د داخلیدو زیرې راکړو. عمر فاروق چه دا واوریدل نو وې فرمائیل چه یارسول الله ﷺ دې کښې څه زیاتې اوکړئی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما خپل رب نه سوال اوکړو نوماته زیرې ملاؤ شو چه هر زرو سره زر نور.عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل چه نوره هم د برکت دعا اوکړئی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما بیا دعا اوکړه نو هریوکس سره د اویا زره کسانو جنت ته د داخلیدو وعده اوشوه. عمر فاروق ﷺ ګزارش اوکړو چه الله ﷻ نور هم اوغواړئی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما اوغوښتل نو دومره زیاتې ملاؤ شو ، بیا ئې دواړه لاسونه اوغوړول اووې فرمائیل چه دومره دومره.راوی د حدیث وائی چه څنګه الله ﷻ غواړی نو هغه پاک ذات ته معلوم دی چه دې کښې به څومره مخلوق راځی. (فسبحان الله وبحمده) (مسند احمد) (٣)

ثوبان ﷺ حمص کښې بیمار شو. عبدالله بن قرط د هغه ځائې امیر وو هغه د ده تپوس له رانغلو. یو کلاعی سړې چه کله د دوی تپوس ته راغلو نو دوی د هغه نه تپوس اوکړو چه ته لیکل کولې شی ؟ هغه اووئیل چه آو .هغه ته ئې اوفرمائیل چه اولیکه. دا خط دې ثوبان د طرف نه چه د رسول الله ﷺ خادم دې.عبدالله بن قرط طرف ته

د ثوبان ﷺ د حمص امیرته حدیث بیانول:- د حمد صلوة نه پس دې واضح وی که چرې دلته د عیسی ﷺ او یا موسی ﷺ څوک خادم بیمار شوې وې نو ته به هغه ته ورتلې.بیا ئې اوئیل چه دا خط یوسه او امیر ته ئې اورسوه. هرکله چه دا خط د حمص امیرته اورسیدو نو ویریدو او زر پاسیدو او نیغ راغلو تشریف ئې راوړو. تپوس کولو نه پس چه کله ده د واپس تلو اراده اوکړه نو ثوبان ﷺ دده څادر اونیولواو ورته ئې اوفرمائیل چه دا حدیث واوره بیا څه. ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی چه ځما امت کښې به اویا زره کسان بغیر د حساب اوکتاب نه جنت ته داخلیږی .هر یو زرو سره به زر نور وی(مسند احمد) دا حدیث هم صحیح دې (٤)

په ټولو حنتیانو کښې د دې امت زیادت:- عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه یوه شپه مونږ د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو اوتر ناوخته پورې مو خبرې کولې . هرکله چه مونږ سحر د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شونو رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه بیګاه شپه ماته ټول نبیان خپلو خپلو امتونو سره اوخودلې شو.بعضو نبیانو سره صرف یو کس وو او بعضو سره مختصر ډله وه اوبعضو سره یو جماعت ، اوچا سره هیڅوک نه وو ، هرکله چه موسی ﷺ راغلو نو هغوئ سره ډیرزیات خلق وو. ځما دا ډله خوښه شوه. ما تپوس اوکړو چه دا څوک دی ؟ نو جواب ملاؤ شو چه دا ستا رور موسی ﷺ دې . اودوی سره بنی اسرائیل دی .ما اووئیل چه ځما امت چرته دې ؟ جواب راکړې شو چه خپل بنسی طرفته

---

(١) احمد: ٩٨/١. وسنده حسن وصححه الحاكم: ٣٤٨/١، ووافقه الذهبي وحسنه الحافظ ابن حجر).

(٢) احمد: ٩٨/١).

(٣) احمد: ١٩٧/١، الطبراني في الكبير: ٩٢/٢، ح/١٤١٣، مختصرا).

(٤) احمد: ٢٨٠/٥ وسنده ضعيف).

Scanned with Ca

اوګوره،ما چه اوکتل نو بې شمیره مجمع ده چه ددې نه غرونه هم ډک شوی دی ،بیا خما نه تپوس اوشو چه اوس خوشحاله یې . ما اووئیل چه انې خما ربه څه راضی یم .نووې فرمائیل چه دوی سره اویا زره نور دی چه بغیر د حساب اوکتاب نه به جنت ته داخلیږی. نوبیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه (د محمد ﷺ نه دې خما مور پلار قربان شی) که کیدیشی نو ددې اویا زرو نه که دا نه شی کیدې نو دهغه خلقو نه چه کوم په غرونوکښې پټ کړې شوی وو .که دا نشی کیدې نودهغه خلقو نه چه کوم د آسمان په کنارو باندې وو.عکاشه بن محصن ﷺ اوریدلو او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زما دپاره دعا اوکړئی چه ما الله ﷻ ددې اویاؤ زرو نه اوګرځوی. رسول الله ﷺ دعا اوفرمائیله نو یو بل صحابی پاسیدو او هم دا درخواست ئې اوکړو.نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو باندې عکاشه سبقت اوکړو.

جادو منتر نه کول او صرف په الله تعالی باندې توکل کول :-اوس مونږ خپلو کښې اووئیل چه شاید دا اویازره کسان هغه خلق وی چه په اسلام باندې پیدا شو او پوره عمرکښې کله هم دوی الله سره شرک نه وی کړې رسول الله ﷺ ته چه کله ددې علم اوشو نو وې فرمائیل چه دا هغه خلق دی ①چه منتر او جادو نه کوی ②او د اورداغونه نه لګوی ③ او شکونه نه کوی ④او په خپل رب بهروسه کوی (مسنداحمد)([1]) یوبل سندسره دومره زیاتوالئ په یوبل روایت کښې دې چه کله ما (نبی کریم ﷺ) خپله رضامندی ظاهره کړه نوماته ئې اووئیل چه اوس ته ګس طرفته اوګوره. ما چه اوکتل نو بې شمیره مجمع وه . چه هغه د آسمان کنارو پورې وه. یوبل روایت کښې دی چه دا د حج د موسم واقعه ده. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دخپل امت دا کثرت ډیر زماډیرخوښ شو. ټول میدانونه او غرونه دوی نه ډک وو(مسنداحمد) ([2])یوبل روایت کښې دی چه عکاشه ﷺ نه پس اودریدونکئ یو انصاری ﷺ وو(طبرانی) ([3])یوبل روایت کښې دی چه خما امت کښې به اویا زره یا اووه لاکهه کسان جنت ته داخلیږی چه دوی به دیو بل لاسونه نیولی وی. ټول به یو وخت کښې جنت ته داخلیږی. ددوی مخونه .به د ځوارلسمې سپوږمئ په شان پرقیږی. (مسلم ،بخاری ، طبرانی) ([4]).

په کومو صفاتو موصوف خلق به جنت ته بې حسابه ځی:-حصین بن عبدالرحمان رحمه الله فرمائی چه څه سعید بن جبیر ﷺ سره وم. نو دوی تپوس اوکړو چه د شپې کوم ستوري ټکړې شوې وو هغه تاسو کښې چا لیدلې وو ،ما اووئیل چه ما لیدلې وو. دامه ګنړئی چه څه په مونځ کښې وم. نه بلکه څه لرم خوړلې وم سعید بن جبیر ﷺ تپوس اوکړو چه تا څه اوکړل؟ ما اووئیل چه دم مې وئیلی وو. وې وئیل چه ولې ؟ ما اووئیل چه شعبی رحمه الله د بریده بن حصیب ﷺ نه روایت کړې دې چه بدنظر او د زهریله ځناورو دم کول جائزدی. وې وئیل چه تاته څنګه یوحکم راورسی په هغې هغه شان عمل کوه. مونږ د ابن عباس ﷺ نه آوریدلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ماباندې امتونه پیش کړې شو ،بعضو نبیاتوعلیهم السلامو سره یو امتی وو او بعضو سره یو ډله بعضو سره دوه سړی او چا سره هیڅوک نه وو. اوس چه ما اوکتل نو په یو لویه ډله مې نظر پریوتو ،ما اوګنړل چه دا خما امت دې ، خو بیا راته معلومه شوه چه دا د موسی علیه السلام امت دې. ما ته اووئیلې شو چه د آسمان کنارو ته اوګوره .ما اوکتل نو هلته بې شمیره خلق وو ،ماته اووئیلې شو چه دا د رسول الله ﷺ امت دې . او دوی کښې اویا زره دی او دوی به بې حسابه جنت ته داخلیږی. دا حدیث ئې اوفرمائیلو نو رسول الله ﷺ مکان ته تشریف یوړو. او صحابه

---

[1]) احمد: ١/٤٠١)-.

[2]) احمد: ١/٤٠١)-

[3]) صحیح بخاری کتاب اللباس باب البردو والخبر والشملة: ٥٨١١ صحیح مسلم: ٢١٦)-

[4]) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب یدخل سبعون الفا بغیر حساب: ٦٥٤٣، صحیح مسلم: ٥٢٦)-

Scanned with Ca

کرامو ﷺ خپلو کښې اوونیل چه شاید دا د نبی کریم ﷺ صحابه وی. چا اوونیل چه دا په اسلام باندې پیدا کیدونکی او اسلام باندې مړکیدونکی دی. وغیره وغیره. رسول الله ﷺ تشریف راوړو او تپوس ئې اوکړو چه څه خبرې کوئی ؟ مونږ ذکر اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه نه دا خلق هغه خلق دی چه نه دم کوی او نه داغ لګوی. نه شك کوی. بلکه په خپل رب باندې بهروسه ساتی . عکاشه ﷺ د دعا درخواست اوکړو. رسول الله ﷺ دعا اوکړه چه یا الله ! ته دې په هغوی کښې شامل کړه .بیا دوه سړی پاسیدل او هم دا ئې اوونیل .رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه عکاشه ﷺ مخکښې شو.دا حدیث بخاری شریف کښې دې .لیکن په هغې کښې د دم کولو ذکر نشته دې . صحیح مسلم کښې دا لفظ هم دې (١)

نبی کریم ﷺ سره د امت باره کښې دالله وعده:- یو اوږد حدیث کښې دی چه رومبې جماعت به نجات اومومی ،ددوی مخونه به د ځوارلسمې سپوږمۍ په شان روښانه وی. دوی نه به حساب نه شی اخستی. بیادوی نه پس به د ټولو نه زیات روښانه مخونو والا د ستورو په شان روښانه وی. (مسلم) (٢).

رسول الله ﷺ فرمائی چه ما سره ځما د رب وعده ده چه ځما امت نه به اویا زره کسان بغیر حساب کتاب نه جنت ته داخلوی. هریو زرو سره به اویا زره نورې وی.او دریې لپې به ځما د پروردګار لپونه وی (کتاب السنن لحافظ ابی بکر بن عاصم) (٣) ددې سند صحیح دې.

دا خبره په بل روایت سره:- یوبل روایت کښې دی چه د رسول الله ﷺ نه ئې د اویا زرو تعداد واوریدو نو یزید بن اخنس ﷺ اوونیل چه یارسول الله ﷺ ! چه دا خو ستاسو د امت د تعداد مقابله کښې ډیر کم دې .نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هر زرو سره زر نور دی .او بیا الله ﷻ دریې لپې نورې فرمائیلی دی . (٤) ددې اسناد هم صحیح دی . (کتاب السنن لابن کثیر).

دالله په لپو سره د امت محمدی کسان جنت ته داخلیدل:- یو بل حدیث کښې دی چه ځما رب ډیر زیات عزت او جلال والا دې اوماسره ئې وعده کړې ده چه ځما د امت نه به اویا زره بغیر حساب اوکتاب نه جنت ته داخلوی. بیا به د یو زرو شفاعت سره یو زر نور.بیا به ځما رب د خپلولاسونو نه دریې لپې نورې جوړې کړی او جنت ته به ئې داخلې کړی . عمر فاروق ﷺ چه دا واوریدل نو ډیر خوشحاله شواو الله اکبر ئې اوونیلو او وې فرمائیل چه ددوی شفاعت به ددوی د نیکونو ، پلرونو ، ځامنو او لونړو اوخاوندان او قبیلیو باره کښې وی. الله ﷻ دې اوکړی چه څه هم د دوی نه شم چه دکومو نه الله ﷻ خپلې لپې ډکوی او جنت ته به ئې داخلوی. (طبرانی). (٥) ددې حدیث شریف سند کښې هم علت نشته دې . والله اعلم.

د دې تائید دپاره بل روایت:- یو حدیث مبارك کښې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دا اویا زره چه بغیر حساب اوکتابه جنت ته داخلیږی ځما خیال دې چه د دوی په راتلو راتلو به تاسو د خپلو بچو او بنځو دپاره په جنت کښې خائې هم مقرر کړې وی.(مسنداحمد)(٦) ددې سند هم دمسلم په شرط صحیح دې.

ځلور راګډه کسان جنت ته بې حسابه داخلیدل:- یو بل حدیث مبارك کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د الله ﷻ وعده ده چه ځما په امت کښې به ځلور لکه کسان جنت ته داخلوی. ابوبکرصدیق ﷺ

---

(١) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب یدخل سبعون الفا بغیر حساب: ٦٥٤١، صحیح مسلم: ٢٢٠)-.

(٢) صحیح مسلم: کتاب الایمان باب ادنی اهل الجنة: منزلة: ١٩١)-

(٣) کتاب السنة لابن ابی عاصم : ٥٨٩، ترمذی: کتاب صفة القیامة باب منه دخول سبعین الف..٢٤٣٧، وهو حسن ، ابن ماجة: ٤٢٨٦،)

(٤) احمد: ٢٥٠/٥ ، وسنده حسن کتاب السنة لابن ابی عاصم: ٥٨٨)-

(٥) طبرانی : ٣٠٤/٢٢، ح/٧٧١، وسنده حسن . من حدیث ابی سعد الانصار وسنده حسن)-

(٦) احمد: ١٦/٤، ابن ماجة: کتاب الزهد باب صفة امة محمد: ٢٨٥، من وجه اخر وهو صحیح)-

Scanned with Ca

اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ ! نور ئې هم لږ زیات کړئ.دې اوریدو سره عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه ابوبکر بس کړئ. ابوبکرصدیق ﷺ جواب کښې اوفرمائیل چه ولې روره که مونږ ټول په ټوله جنت ته داخل شو نو دې کښې ستا څه نقصان شته ؟عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل که الله ﷻ اوغواړی نویو لاس سره به ټول مخلوق جنت ته داخل کړی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه عمر ﷺ رښتیا وائی(مسند عبدالرزاق).

(١) دا حدیث یو بل سند سره بیان شوې دې ،دې کښې تعداد یو لاکهه راغلې دې (اصبهانی). (٢)

بې حسابه جنت ته د داخلیدونکو بل شمیر:- یو بل روایت کښې راغلی دی چه کله صحابه کرام ﷺ اویا زره او بیا یو زر سره زر نور او بیا د الله ﷻ د لپې ډکولو په مقدار بې حسابه جنت ته داخلیدل واوریدل. نو وې فرمائیل چه بیا خو د هغه په بدقسمتئ کښې هېڅ شك پاتې نشو. چه هغه د دې باوجود جهنم ته لاړ شی(ابویعلی)(٣)پورتنې حدیث مبارك یو بل سندسره هم بیان شوې دې.په هغې کښې تعداد دریٔ لاکهه دې بیا د عمرفاروق ﷺ قول او د نبی ﷺ تصدیق بیان شوې دې (طبرانی) (٤)یو بل حدیث کښې جنت ته د تلونکو ذکر رسول الله ﷺ فرمائیلې دې چه ځما دامت ټول مهاجر خو به په دې کښې راشی. بیا نور تعداد به نورو باندې چیانو سره پوره شی (محمدبن سهل)ابوسعید ﷺ فرمائی چه د رسول الله ﷺ مخکښې حساب کتاب اوکړې شو نوددې تعداد څلور کروړه نوی زره شو (٥)،

د بې حسابه جنت ته تلونکو د ډیروالی تشبه دتیارې سره:- یو بل حسن حدیث کښې طبرانی فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه قسم دې په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې د محمد ﷺ روح دې ، تاسو به دیو تیرې شپې په شان بې شمیره جنت ته داخلیږئ .زمکه به ستاسو نه ډکه شی ، فربښتې به وائی چه محمد ﷺ سره کوم جماعت راغلې هغه د ټولو نبیانو علیهم السلام د جماعت نه زیات دې (٦)

امت محمد به د جنتیانو دریمه حصه وی:- جابر ﷺ فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه صرف ځما تابعدار امت به د جنت څلورمه حصه وی. صحابه کرام ﷺ خوشحاله شو او نعره تکبیر ئې اووئیله ، بیا ئې اوفرمائیل چه ماته امید دې چه تاسو به د جنت دریمه حصه یئ. (مسنداحمد) (٧)

امت محمد به د جنت نیمه حصه وی:- یوبل حدیث پاک راغلی دی رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمائیل چه آیا تاسو راضی نه یئ چه تاسو به دټولو جنتیانو څلورمه حصه یئ. مونږ بیا نعره تکبیر اووئیله . بیا ئې اوفرمائیل چه زماامید دې چه تاسو به د جنتیانو کښې په نیم په نیمه تاسویئ. مونږ ډیر زیات خوشحاله شواودالله ﷻ حمدمو بیان کړو. بیارسول الله ﷺ اوفرمائیل چه آیا تاسو راضی نه یئ چه تاسود اهل جنت دریمه حصه یئ. مونږ بیا تکبیر اووئیلو(بخاری ومسلم) .

دجنتیانو په شپږ شلو صفونو کښې به مونږ اتیا صفونه یو:- طبرانی کښې یو روایت کښې دی چه عبدالله بن مسعود ﷺ نه مروی دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسودې کښې څه وائې چه تاسودجنتیانو څلورمه حصه شئ یاکه دجنت څلورمه حصه تاسوسره وی.مونږ اووئیل چه ډیره ده.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اووائې که نیم په نیمه یئ .نو هغوئ اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ بیاخو ډیر زیات دی.

---

(١) مصنف عبدالرزاق : ٢٠٥٥٦، احمد: ١٦٥/٣، السنة لابن عاصم : ٥٩٠)-

(٢) احمد: ١٩٣/٣،)-

(٣) مسند ابی یعلی : ٣٧٨٣)-

(٤) طبرانی : ٦٤/١٧،)-

(٥) المعجم الاوسط للطبرانی : ٤٠٦ الکبیر: ٣٠٤/٢٢، و مسند احمد: ٤٥٩/٢،)-

(٦) طبرانی : ٣٤٥٥، مجمع الزوائد : ٤٠٤/١٠)-.

(٧) احمد: ٣٨٣/٣، وسنده صحیح ، مجمع الزوائد : ٤٠٦/١٠، کشف الاستار:٣٥٣٣)-

Scanned with Ca

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه واورئی ! چه دټولو جنتیانو شپږ شلمه صفونه دی،چه په دې کښې به اتیا صفونه صرف ځمادامت وی.مسند احمد کښې هم دا روایت دې چه داهل جنت به شپږ شلمه صفونه وی اوپه دې کښې به ځما دامت اتیا صفونه وی(۱) داحدیث طبرانی او ترمذی وغیره هم نقل کړې دې (۲)
د طبرانی یو بل روایت کښې دی چه کله دا آیت ﴿ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ ۝ وَثُلَّةٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ۝﴾ نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو د اهل جنت څلورمه حصه یئ. بیا ئې اوفرمائیل چه ثلث به ئې ،بیا ئې اوفرمائیل چه دوه حصې (۳)،
د مترجم دعا:-(ائې لوئې رحمت والا او ډیرو نعمتونو ورکولو والاربه ! مونږ ستاډیر زیات شکرګزار یو تا هم د معزز اومحترم رسول ﷺ امت کښې پیدا کړی یو.ستا د ربښتونی رسول ﷺ د ربښتیا خولې مبارکې سره ستاددې عظیم رحم وکرم او کمال سره ځمونږ دګناهګارو په خولو کښې اوبه راغلې.ائې دمور پلار نه زیات مهربانه الله ! ځمونږ امید پست مه کړې او مونږهم دې خلقو سره جنت ته داخل کړه ، ائې الله ﷻ ! ستاد رحمت ددې بې شمیره بندګانونه یوقطره هم مونږ ګناهګارو باندې راو وره.نودابه ځمونږ د ګناهونو د وینځلو او ستا د رحمت او رضا حاصلولو دپاره کافی وی. ائې الله ﷻ ! مونږ د دې پاک ذکر په موقع دسوال لاسونه نیسو اواوښکو او امیدسره ستاد رحمت په طمع ستا د کرم لمنې نیولو سره ستا نه سوال کوؤ،ای ربه ته ئې قبول کړې ،او خپلې رضا سره مونږ ته هم جنت الفردوس کښې ځائې راکړه. آمین (اله الحق آمین).
جنت ته به دټولو نه وړاندې امت محمدیه داخلیږی :- صحیح بخاری او مسلم شریف کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه مونږ دنیا ته د ټولو نه روستو راغلو یواو جنت ته به د ټولو نه مخکښې ځو. او دوی ته کتاب الله مخکښې ملاؤ شو او مونږ ته روستو ملاؤ شو. چه په کومو خبروکښې هغوئ اختلاف کړې دې په هغې کښې الله ﷻ مونږته نیغه لار اوخودله. د جمعې ورځ هم دغه شان ده یعنی یهود ځمونږ نه روستو دهفتې په ورځ دی.او نصرانیان هم ځمونږ نه روستو دی چه د اتوار په ورځ (٤).
ترټولوچه زما امت جنت ته داخل نشی په نورو امتو حرام دي:- دارقطنی کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ترکومې ځه جنت ته داخل نشم نو نورو نبیانو باندې جنت ته داخلیدل حرام دی. او تر کومې چه ځما امت داخل نشی نو نورو امتونو باندې جنت ته داخلیدل حرام دی.(٥)
دبحث خاتمه:- دا وو هغه احادیث چه مونږ ددې آیت لاندې پیش کول غوښتل . فالحمدلله .
دحافظ ابن کثیر رحمه الله امت ته نصیحت:- امت ته پکار دی چه دلته په دې آیت کښې ځومره صفتونه دی په هغې مضبوطیاسره قائم پاتې شی.یعنی امر بالمعروف اونهی عن المنکر او ایمان بالله.
عمر بن خطاب ﷺ خپل حج کښې دا آیت مبارک تلاوت اوفرمائیلو او خلقو ته ئې اووئیل چه ائې خلقو که تاسو ددې آیت مبارک تعریف کښې ځان داخلول غواړئی نو دا صفتونه ځان کښې پیدا کړئی . امام ابن جریر رحمه الله فرمائی چه اهل کتابو به هغه کارونه نه پریښودل دکومو چه به کتاب الله کښې مذمت وو.الله ﷻ فرمائی چه [كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَن مُّنكَرٍ فَعَلُوهُ] یعنی دې خلقو به د خرابو خبرو نه منع نه کوله .
قوله تعالی:: وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم

---

(۱) احمد: ٤٥٣/١، وهو حديث حسن مسند ابی یعلی : ٥٣٥٨طبرانی: ١٠٣٥٠، ابن ابی شیبة:٤٧١/١١، شرح مشكل الآثار: ١٥٦/١)-
(۲) احمد:٣٥٥/٥، ترمذی: كتاب صفة الجنة باب ماجاء فی كم صف اهل الجنة: ٢٥٤٦، وهو حسن ، ابن ماجة: ٤٢٨٩)-.
(۳) الطبرانی مسند احمد: ٣٩١/٢، باختلاف يسير)-
(٤) صحيح بخاری كتاب الجمعة باب فرض الجمعة: ٨٧٦، صحيح مسلم: ٨٥٥)-
(٥) ابن عدی : ١٤٤٨/٤)-

Scanned with Ca

داهل کتابومذمت:- دې پورتنی ایت کښې د ایماندارو تعریف اوصفت بیان شوې دې نو دې نه پس د اهل کتابومذمت بیانیږی.نو فرمائی که دې خلقو هم ځما په آخری نبی ﷺ باندې ایمان راوړې وې نودوی ته به هم دا نعمتونه ملاویدل .خو دوی اکثر په فسق او نافرمانئ کښې مشغول دی.اوځه خلقو په کښې ایمان هم راوړو.

قوله تعالی:: وَاِنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ يُوَلُّوْكُمُ الْاَدْبَارَ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ۝

د ایماندارو غلبهٔ او د یهودو ذلت :- بیا الله. مسلمانانو ته بشارت ورکوی چه ویریږئی مه الله ﷻ به تاسو ستاسو په مخالفو باندې غالب کړی. نوهغوئ الله ﷻ د خیبر په موقع باندې ذلیل کړل. او د دوی نه مخکښې بنو قینقاع ،بنو نضیر، بنو قریظه نې هم ذلیل او پست کړل. دغه شان د شام نصرانیان هم مغلوب شو.او د شام ملك د دوی د لاس نه اووتلو او همیشه دپاره د مسلمانانو قبضه کښې راغلو. او هلته دعیسی ﷺ تر تشریف راوړو پورې یو حق جماعت په حق قائم وی او کله چه عیسی ﷺ راشی نو د ملت اسلام او د شریعت محمد ﷺ مطابق به حکم کوی ،صلیب به مات کړی . خنزیر به قتل کړی. جزیه به نه اخلی . اوصرف په اسلام باندې به وی.

قوله تعالی:: ضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ اَيْنَمَا ثُقِفُوْٓا

بیا فرمائی چه په دوی باندې ذلت او پستی راوستلې شوه. دالله ﷻ د پناه نه سوا هچرته هم امن او عزت نشته دې .یعنی کله چه جزیه ورکوی او د مسلمان بادشاه اطاعت قبول کړی. اوخلقو ته پناه ورکوی یعنی عقد و ذمه مقرر شی یایو مسلمان امن ورکړی اګرچه څوك ښځه وی یا اګر چه غلام وی د عالمانو یو قول دا هم دې

دحبل نه څه مراد دې؟ :-د ابن عباس ﷺ قول دې چه دحبل نه مراد عهد دې،چه دغضب مستحق به وی. مسکینی اولګولې شوه.دا ددوی دکفر،د دوی د نبیانو دقتل کولو،د دوی تکبر،حسد ،سرکشئ وغیره بدله ده. هم په دې وجه په دوی لعنت اوپستی راغله اومسکینی په دوی همیشه دپاره راغله.دا ددوی د نافرمانئ او تجاوز بدله ده. العیاذبالله. ابوداؤد طیالسی کښې حدیث کښې دې چه بنی اسرائیلو به یوه ورځ کښې سل سل نبیان علیهم السلام قتل کول ،اود ورځې په آخر کښې به ځپلوکارونو باندې په بازارونو کښې اخته وو (۱)

لَيْسُوْا سَوَآءً ؕ	مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ	اُمَّةٌ	قَآئِمَةٌ	يَّتْلُوْنَ	
نه دی برابر(ټول اهل کتاب)	د اهل کتابو نه	ایوهٔ ډله	اولاړه ده (په حق)	اچه لولی	
خو ټول اهل کتاب یو برابرنه دی	په دوئ کښې یوه ډله په حق کلکه ولاړه ده				
اٰيٰتِ اللّٰهِ	اٰنَآءَ الَّيْلِ	وَهُمْ	يَسْجُدُوْنَ ۝	يُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ
ایتونه دالله	په وختونو د شپې کښې	او هغوئ	سجدې کوی	ایمان لری	په الله تعالی باندې
اودشپې په وخت کښې هم دالله پاک ایتونه لولی		اوهغه ته سجده کوی			په الله پاک
وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ	وَيَاْمُرُوْنَ	بِالْمَعْرُوْفِ	وَيَنْهَوْنَ	عَنِ الْمُنْكَرِ	
اوپه ورځ داخرت باندې	اوحکم کوی	په ګولو دنیکئ باندې	اومنع کول کوی	دبدئی نه	
اوپه اخرت باندې ایمان لری	اوخلقو ته دنیکئ حکم کوی	اوددبدو کارونونه نې منع کوی			
وَيُسَارِعُوْنَ	فِي الْخَيْرٰتِ ؕ	وَاُولٰٓئِكَ	مِنَ الصّٰلِحِيْنَ	۝ ١١٤	وَمَا يَفْعَلُوْا
اومنډې وهی	په کارونو دنیکئ کښې	اوداکسان دی	دصالحانونه		اوهغه چه کوی
اودنیکئ کارونوته وړاندې کیږی	اودغه خلق دنیکانو په ډله کښې دی				اودوئ چې

(۱) ابن ابی حاتم :)-

Scanned with Ca

مِنْ خَيْرٍ	فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ ؕ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌۢ	بِالْمُتَّقِيْنَ ۝
څه نیکی	انوهرګزبه نه کیږي ناقدری دهغي	اوالله	ښه پیژني	پرهیزګار خلق
هره نیکی اوکړی	نودهغي ناقدری به هیچري اونشی	اوالله پاک ته پرهیزګارخلق معلوم دی		بیشکه چاچي

كَفَرُوْا	لَنْ تُغْنِيَ	عَنْهُمْ	اَمْوَالُهُمْ	
چه دکفرطریقه ئي اختیار کړه	هرګز به لرې نه کړي شی	دهغوئ نه	مالونه دهغوئ	
کفرخوښ کړو	..... نوداالله پاک د عذاب په مقابله کښي به ئي نه مال څه پکارشی			

وَلَآ اَوْلَادُهُمْ	مِّنَ اللّٰهِ	شَيْـًٔا ؕ	وَاُولٰٓئِكَ	اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ	هُمْ فِيْهَا
اونه اولاد دهغوئ	دعذاب دالله نه	هیڅ څیز	اوداکسان	خاوندان د اور دی	ادوی به په هغي کښي
اونه به ئي اولاد څۀ پکار راشی	دا خلق د اور ملګری دی	.....			او دوئ به په کښي

خٰلِدُوْنَ ۝	مَثَلُ مَا	يُنْفِقُوْنَ	فِيْ هٰذِهِ	الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا	
اهمیشه وی	امثال	ادهغه څه	اچه خرچ کوی؛ ئي (کافران)	په دي	ژوند ددنیا کښي
همیشه وی	..... کوم مالونه چي دوئ (داسلام برخلاف) په دي ژوند کښي خرچ کوی				

كَمَثَلِ	رِيْحٍ	فِيْهَا	صِرٌّ	اَصَابَتْ	حَرْثَ قَوْمٍ
په شان دمثال	ددا سي باد دي	اچه په هغي کښي	اډیره یخنی وی	اچه اورسیږی	فصل ادیوقوم ته
دهغي مثال د هغي سیلئ پشان دي	چي په کښي یخنی وی	اوهغه دچا په فصلونو پریوزی			

ظَلَمُوْٓا	اَنْفُسَهُمْ	فَاَهْلَكَتْهُ ؕ	وَمَا ظَلَمَهُمُ	
چه هغوئ ظلم کړي وی	اپه خانونو خپلو	اوتباه کړی هغه فصل	اونه دي کړي ظلم په هغوئ باندي	
چي په خان ئي ظلم کړي وی	اوفصل ورله تباه کړی	اوالله په دوی باندي هیڅ قسم ظلم نه دي کړي		

اللّٰهُ	وَلٰكِنْ	اَنْفُسَهُمْ	يَظْلِمُوْنَ ۝
الله	لیکن	اپه خانونو خپلوباندي	اظلم کوی هغوئ
بلکه هغوئ پخپله پخپلو خانونو ظلم کړي دي			

قوله تعالی:: لَيْسُوْا سَوَآءً ؕ

اهل کتاب او اهل محمد برابر نه دی: ابن مسعود ﷺ فرمائی چه اهل کتاب او اصحاب محمد ﷺ برابر نه دی.

د ایت په شان نزول کښي یو روایت:- مسند احمد کښي دی چه رسول الله ﷺ یو ځل د ماسخوتن مانځه دپاره ناوخته تشریف راوړو. بیا کله چه رسول الله ﷺ تشریف راوړو نوکوم صحابه کرام ﷺ چه انتظار کښي وو رسول الله ﷺ هغوئ ته اوفرمائیل چه هیڅ یو دین والا په دي وخت کښي ذکرنه کوی صرف تاسو د الله ﷻ ذکرکښي مشغول یئ. په دي باندي دا آیت نازل شو (۱)

قوله تعالی:: مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اُمَّةٌ قَآئِمَةٌ

د ایت په شان نزول کښي دویم روایت:- لیکن داکثرو مفسرینو قول دي چه داهل کتابو علماء لکه عبدالله بن سلام ،اسد بن عبید ،ثعلبه بن شعبه وغیره باره کښي نازل شوي وو. ځکه چه دا خلق په هغه اهل

---

(۱) احمد: ۳۹٦/۱، وسنده حسن مسند ابي يعلى : ٥٣٠٦، دا ابن حبان: ۱۵۳۰، صحیح ګرزولي دي)-

Scanned with Ca

کتابو کښې شامل نه وو چه د کوم مذمت مخکښې تیر شو. بلکه دا جماعت د الله ﷻ په امرباندې قائم وو.او دشریعت محمد ﷺ تابع وو. او دوی کښې استقامت دین شته دې.

د اهل کتابو مومنانو صفات:- دې پاك خلق د شپې د تهجدو مونځ کوی او په هغې کښې دالله ﷻ کلام وائی. الله ﷻ باندې اود قیامت په ورځ باندې ایمان لری اوخلقو ته هم د دې خبرو حکم کوی .او څوك چه د دې نه خلاف کوی نو هغوئ منع کوی او په نیکوکارونوکښې مخکښې وی. نو اوس الله ﷻ هغوئ ته خطاب کوی چه دا نیکان خلق دی،د دې سورت په آخر کښې فرمائی چه ﴿وَاِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ﴾ الخ،بعضې اهل کتاب په الله ﷻ اوپه قران پاك او په تورات او انجیل باندې ایمان ساتی.او دالله ﷻ نه ویریږی الخ. دلته هم فرمائی چه د دوی نیك اعمال به ضائع نشی.او دوی ته به پوره پوره بدله ملاویږی.

قوله تعالی:: ﴿وَمَا يَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ يُّكْفَرُوْهُ﴾

الله د مومن عمل نه ضائع کوی:- ټول پرهیزګار خلق د الله ﷻ نظر کښې دی او هغه پاك ذات د هیچا نیه عمل نه بربادوی. خو دې بې دینه خلقو ته الله ﷻ څه فائده نه ورکوی .او نه د دوی مال دوی ته څه فائده ورکوی.اونه ددوی اولاد نو دا جهنمیان دی.د[صر]معنی سخته یخنی ده چه کومې سره پتی سوزی. غرض څنګه چه د چا پتې تیار شی اوهغه بیا اوسوزی او ورته هیڅ فائده ورنکړی ،اصل ئې هم خراب شی .او د دوی په امیدونو باندې اوبه تونې شی. دغه شان دا کافران هم دی. چه څه دوی خرچ کوی ، د هغې نیکه بدله خو لا څه کوې بلکه عذاب به ورته ملاویږی. دا د الله ﷻ طرفنه ظلم نه دې بلکه د دوی د بدو عملونو بدله ده .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا			
ائې هغه کسانو	اچه ایمان مو راوړې دې			
ائې د ایمان خاوندانو				
لَا تَتَّخِذُوْا	بِطَانَةً	مِّنْ دُوْنِكُمْ	لَا يَاْلُوْنَكُمْ	
مه نیسئ	ادوستان دراز|ماسوا ستاسونه بل څوك|هیڅ کمې نه کوی هغوئ تاسوسره|		
دمسلمانانونه سوا نورخلق د راز ملګری مه جوړوئ	..... هغوئ ستاسو ته په نقصان رسولو			
خَبَالًا ؕ	وَدُّوْا	مَا	عَنِتُّمْ ۚ	قَدْ
په فساد کولو کښې|خوښ دې دهغوئ|هغه څیز|چه په تکلیف کښې اچوی تاسو|په تحقیق سره|				
کښې هیڅ قسم کوتاهی نه کوی| کوم څیزچې تاسوپه مشقت کښې اچوی نو دوئ په هغې خوشحالیږی				
بَدَتِ الْبَغْضَآءُ	مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۖۚ	وَمَا تُخْفِيْ	صُدُوْرُهُمْ	
ښکاره شوې دې بغض| د خلودهغوی نه |او هغه څه چه پټ ساتی|سینې (زړونه) دهغوئ|				
بیشکه د دوی د خلونه هم دشمنی څرګنده شوې ده |اوکومه چې ئې د دوی زړونه پټوی هغه				
اَكْبَرُ ؕ	قَدْ بَيَّنَّا	لَكُمُ الْاٰيٰتِ	اِنْ كُنْتُمْ	تَعْقِلُوْنَ ﴿١١٨﴾
هغه سخت دې|په تحقیق سره بیان کړې مونږ|تاسو ته |ننبې ښکاره|	که یې تاسو	اچه پوهیږئ|
خولادې نه زیاته ده	مونږ تاسوته ننبې ښکاره کړی دی	.....که تاسوعقل لرئ		

Scanned with Ca

هَآ أَنتُمْ أُولَآءِ	تُحِبُّونَهُمْ	وَلَا يُحِبُّونَكُمْ
واورئی تاسو هغه کسان یئ|چه تاسو مینه کوئی دهغوئ سره|اونه کوی مینه هغوئ تاسوسره|		
تاسو هغوئ سره مینهٔ محبت کوئی	.....خو هغوئ تاسو سره مینه محبت نه کوی	
وَتُؤْمِنُونَ	بِالْكِتَٰبِ كُلِّهِۦ ۖ	وَإِذَا لَقُوكُمْ
حال داچه تاسو ایمان لرئی|په ټولو آسمانی کتابونو باندې|اوکله چه هغوئ یو ځائې شی تاسو سره|		
په دې وجه چې تاسو په ټول آسمانی کتابونو ایمان راوړئ دې |اوچې کله نې تاسوسره ملاقات اوشی		
قَالُوٓا۟	ءَامَنَّا ۖ	وَإِذَا خَلَوْا۟	عَضُّوا۟	عَلَيْكُمُ	ٱلْأَنَامِلَ
نو وائی|ایمان راوړې دې مونږ|اوکله چه| جدا شی	نوچیچی |ستاسو خلاف| ګوتې	
نو وائی چې مونږ خو هم(ستاسو په کتاب)ایمان را وړئ دې	اوچې کله ځانله شی نود ډیرې غصې نه				
مِنَ ٱلْغَيْظِ ۚ	قُلْ	مُوتُوا۟	بِغَيْظِكُمْ ۗ	إِنَّ	ٱللَّهَ	عَلِيمٌۢ
د(دوجې د) دغصې نه|ورته اووایه| مړۀ شئ	دغصې خپلې سره| بیشکه |الله تعالی|پوهیږی|		
دربانديې ګوتې (په غاښونو کښې) چیچی	ورته اووایه چې په خپله غصه کښې مړئ شئ	بیشکه الله				
بِذَاتِ	ٱلصُّدُورِ ﴿١١٩﴾	إِن تَمْسَسْكُمْ	حَسَنَةٌ	تَسُؤْهُمْ
په هغه (خبرو)	چه په سینو (زړونو) کښې دی	که در رسیږی تاسو ته	څه ښیګړه	انوهغه خفه کوی هغوئ			
ته ستاسودزړونوحال معلوم دې	.....ستاسوخوشحالی دوی خفه کوی				
وَإِن تُصِبْكُمْ	سَيِّئَةٌ	يَفْرَحُوا۟ بِهَا ۖ	وَإِن	تَصْبِرُوا۟
اوکه اورسی تاسوته	څه بدی(مصیبت)	نو خوشحالیږی په هغې سره	اوکه	تاسو صبر اوکړئی			
اوکه تاسوته څه تکلیف اورسی نو دوئ پرې خوشحالیږی	.....اوکه تاسو صبراوکړو				
وَتَتَّقُوا۟	لَا يَضُرُّكُمْ	كَيْدُهُمْ	شَيْـًٔا ۗ
	او ویره اوکړئی (دالله تعالی نه)	نو تکلیف به او نه رسوی تاسو ته	مکر (تدبیر) د هغوئ	هیڅ څه			
او دالله نه موویره اختیارکړه	نو ددوئ فریبونه تاسوته هیڅ نقصان نشی رسولې				
إِنَّ ٱللَّهَ	بِمَا	يَعْمَلُونَ	مُحِيطٌ ﴿١٢٠﴾
|بیشکه الله|په هغه کارونو|چه کوی نې هغوئ| احاطه کونکې دې|		
بیشکه الله تعالی ددوئ دهرکارنه راچاپیره دې			

قوله تعالی:: يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ

کافران د مسلمانانو دوستان نشی کیدې :- الله ﷻ ایماندار منع کوی چه کافرو اومنافقانو سره دوستی مه کوئی خکه چه دا خو ستاسو دښمنان دی. د دوی په دې چالاکو خبرو مه تیروځئ. او د دوی مکر کښې مه راځئ او نه ورته داسې موقع ورکوئی چه دوی تاسو ته نقصان اورسوی. اوخپل باطنی عداوت به راوباسی.تاسو دوی بالکل خپل رازدار مه جوړوئی.ستاسو د راز خبرې پکار ده چې دې کافرو ته بالکل اونه رسی(بِطَانَةً) وائی دانسان رازدار دوست ته. او(مِّن دُونِكُمْ) نه مراد اهل اسلام نه سوا ټولې فرقې دی.

Scanned with Ca

هرنبی سره دوه ملګری:- بخاری شریف وغیره کښې حدیث دې چه رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم نبی الله ﷻ مبعوث کړی او چه کوم خلیفه الله ﷻ مقررکړی. د دوی دپاره ئې دوه بطانه مقرر کړی دی .یو د نیکې خبرې پوهولو والا اود نیکئ رغبت ورکولو والا.د بدئی رهبری کولو والا او پدې باندې آماده کولو والا. نو څوک چه الله ﷻ بچ کول غواړی.نوهم هغه بچ کیدیشی (۱).

د بطانة په لفظ د عمر﵁ استدلال:- عمر فاروق ﵁ ته اووئیلې شو چه دلته د حیره یو سړې دئ چه ډیر ښه لیکل کوی اودهغه ډیره ښه حافظه ده.تاسو هغه خپل محرر او منشی مقرر کړئی. نو عمرفاروق ﵁ اوفرمائیل چه بیا خو به څه یو غیرمسلم خپل بطانه جوړ کړم او الله ﷻ دا منع کړی دی (۲).

ذمی ته خاص عهده ورکول جائز نه ده:- چې دې واقعه ته د دې آیت په تناظر کښې اوکتې شی.نو دا خبره ذهن راځی.چه ذمی کافران هم داسې کارونو باندې نه دی لګول پکار څکه چه هغوئ به ددې په وجه د مسلمانانودپټو رازونو نه خبر شی .اودمسلمانانو دښمنان به د مسلمانانو مقابله کښې هوښیارکړی. څکه چه دوی خودا غواړی چه مسلمانان دې پست او ذلیل شی.

د یو حدیث مفهوم د حسن بصری﵀ په نیز:- ازهربن راشد وائی چه خلقو به د انس ﵁ نه احادیث آوریدل. که دیو حدیث مطلب باندې به پوهه نشول نو د دې مطلب به ئې د حسن بصری﵀ نه تپوس کولو. یو ورځ انس ﵁ دا حدیث بیان کړو چه د مشرکانو د اورنه رنړا مه اخلئ.او نه خپله ګوته کښې عربی نقش کوئی. هغوئ راغلل او د خواجه صاحب نه د دې د تشریح تپوس اوکړو نو هغوئ اوفرمائیل چه د آخری جملې مطلب خو دا دې چه په ګوته باندې محمد ﷺ مه لیکئ او د رومبئ جملې مطلب دا دې چه مشرکانونه خپلو کارونو کښې مشوری مه اخلئ. او ګورئی کتاب الله کښې هم دی چه ائې ایماندارو د خپلومسلمانانو نه سوا غیر مذهب خپل همراز مه جوړوئی (ابو یعلی) (۳).

دحافظ ابن کثیر﵀ تردید:- خو د خواجه صاحب دا تشریح قابل غورده. دحدیث مبارك صحیح مطلب دا مطلب دې چه دمحمد ﷺ نامه په عربئ کښې مه نقش کوئی. اوحدیث کښې صفا منع کړې شوې ده (۴) اودا په دې وجه وو چه د رسول الله ﷺ مهر سره مشابهت نه وی. اود اولنئ جملې مطلب دا دې چه د مشرکانو کلو ته نزدې مه ورځئ. د دوی د ګاونډنه لرې اوسئ. د دوی د ښارونونه هجرت اوکړئی. لکه څنګه چه ابوداود کښې دی چه آیا تاسو د مسلمانانواو مشرکانو په مینځ کښې د جنګ اور ته نه ګورئی (۵)اوحدیث مبارك کښې دی چه څوك مشرکانو سره میل جول ساتی یا هغوئ سره وی نو دې هم د هغوئی په شان دې (۶).

قوله تعالی:: قَدْ بَدَتِ الْبَغْضَآءُ مِنْ اَفْوَاهِهِمْ ۚ

کافران د مسلمانانو دشمنان دی:- بیا فرمائی چه د دوی د خبرو نه د دوی دښمنئ ښکاری. د دوی د مخونو نه هم د دوی د باطنی خبرو معلومات کیدیشی. او د دوی په زړونو کښې چې تباه کن شرارتونه دی .هغه ستاسو نه پټ دی.خو مونږ تاسو ته صفا صفا بیان کړی دی .عقل مند خلق د داسې مکارو خلقو په مکارئ کښې نه راځی.

قوله تعالی:: هَاَنْتُمْ اُولَآءِ تُحِبُّوْنَهُمْ وَلَا يُحِبُّوْنَكُمْ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالْكِتٰبِ كُلِّهٖ ۚ

---

۱) صحیح بخاری کتاب القدر باب المعصوم من عصمة الله : ٦٦١١، نسائی: ٤٢٠٧)-

۲) ابن ابی حاتم: ۲/ ٥٠٠)-

۳) نسائی کتاب الزینة باب قول النبی لا تنقشوا ...(٥٢١٢،)-

٤) صحیح بخاری کتاب اللباس باب قول النبی (لا ینقش علی نقش خاتمه) ٥٨٧٧، صحیح مسلم : ٢٠٩٢،)-

٥) ابوداود کتاب الجهاد باب النهی عن قتل من اعتصم بالسجود : ٢٦٤٥، نسائی : ٤٨٨٤، ترمذی: ١٦٠٤)-

٦) ابو داود کتاب الجهاد باب فی الاقامة بارض الشرک : ٢٧٨٧،)-

کافران مسلمانانو سره محبت نه کوی:بیافرمائی چه څومره دکمزورئی خبره ده چه تاسو دوی سره محبت ساتئ اودوی تاسوسره محبت نه ساتی.ستاسو ایمان کتاب باندې وی اودوی شکونوکښې پریوتی دی .تاسو خو د دوی کتاب منئ او دوی ستاسو کتاب نه منی. نو پکار ووچه دوی تاسو ته په ښه نظر کتئ خو د دې برخلاف دوی ستاسو په دښمنئ کښې سوزی.

قوله تعالی:: وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا ۖ وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمُ الْأَنَامِلَ مِنَ الْغَيْظِ ۚ

کافرانو د نفاق لار اختیار کړې ده:- کله چه تاسو سره مخامخ شی نود خپل ایمان قصې کوی. خو کله چه ستاسونه جدا شی نو دغضب اوحسد په وجه سوزی.نو مسلمانانو ته پکاردی چه د دوی په ظاهری حالت باندې نه خوشحالیږی.دوی که سوزی نو سوزی دې الله ﷻ به اسلام او مسلمانانو ته ترقی ورکوی.دا ورځې شپې به هرحالت کښې مخکښې روانې وی.اگر چه دوی دغصې نه مړه شی.الله ﷻ ددوی د زړونو د رازونو نه ښه واقف دې .ددوی ټولې منصوبې به ښاورو سره ښاوړې شی . دوی به خپلوشرارتونوکښې کامیاب نشی .دخپلې خوښې خلاف به دوی دمسلمانانو ترقی په خپلو سترګو اوینی.اوآخرت کښې به هم دوی ته معلومه شی چه مسلمانان به د جنت په نعمتونو کښې وی.او د دې برخلاف دوی دلته هم رسوا او ذلیل دی اوهلته به هم د جهنم خشاك جوړیږی.

قوله تعالی:: إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا ۖ

کافران د مسلمانانو په خوشحالئ خفه کیږی:-ددوی د دښمنئ داخومره لوئې دلیل دې چه کله تاسوته څه فائده اورسی.نو دوی زړه کښې خفه کیږی.اوالله دې نکړې که تاسوته څه نقصان اورسی نو دوی خوشحالیږی .که دالله ﷻ د طرفنه مومنانو سره مدد اوشی .چه دوی په کافرو باندې غالب شی او د دوی تعداد زیات شی نو دوی په دې باندې اوکه مسلمانانو باندې څه تنګی راشی یا دښمنئ کښې پریوزی نو ددوی اختر شی .

قوله تعالی:: وَإِنْ تَصْبِرُوا وَتَتَّقُوا لَا يَضُرُّكُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا ۗ إِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ۝

مسلمانانوته د صبر او تقوی حکم:-اوس الله ﷻ ایماندارو ته خطاب کوی او فرمائی که تاسو ددې شریرانو د شرارت نه او ددې بدبختانو د مکر نه نجات غواړئ نو صبر اوتقوی او توکل اوکړئ الله ﷻ به ستاسو دښمنان راګیرکړی. په هیڅا کښې دا طاقت نشته چه د یو بدئی نه ځان بچ کړی دا خو د الله ﷻ په خوښې سره کیږی. او څه چه الله ﷻ نه غواړی نو هغه نه کیږی. چې څوك په هغه ذات باندې توکل اوکړی نو هغه د ده دپاره کافی دې .دې مناسبت سره اوس د جنګ احد ذکر شروع کیږی. چه په هغې کښې دمسلمانانو دصبر اوتحمل بیان دې. او چه په هغې دالله ﷻ د آزمیښت پوره نقشه ده. او په هغې کښې د مسلمانانواو منافقانو ظاهری فرق دې . واورئی ارشاد دې چه :

وَإِذْ	غَدَوْتَ
اوکله چه	سحر وختی راووتلې ته
اومسلمانانوته ددې حال اووایه)	کوم وخت چې ته دسحر

مِنْ أَهْلِكَ	تُبَوِّئُ	الْمُؤْمِنِينَ	مَقَاعِدَ	لِلْقِتَالِ ۗ	وَاللَّهُ
ادکور خپل نه	چه مقررول دې	مومنان (په احد کښې)	په ځایونوباندې	دپاره دجنګ	اوالله
دکورنه اووتلې	او مسلمانان دې ځائې په ځائې د جنګ د مورچودپاره مقررکولو				.....اوالله

Scanned with Ca

سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٢١﴾ إِذْ هَمَّتْ طَّآئِفَتَانِ مِنكُمْ أَن تَفْشَلَا

|ښه آوریدونکی دی|اوهر څه نه خبر دی|یادکړه کله چه|اراده اوکړه| دوۀډلو |ستاسونه| چه بزدله شی|

هرڅه آوری اوپه هرڅه پوهه دی | هرکله چې ستاسو دملګرونه دوه ډلودبزدلئ اراه اوکړه

وَاللَّهُ وَلِيُّهُمَا ۗ وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ﴿١٢٢﴾

حال داچه الله تعالی|مددګار د دواړو دی|اوخاص په الله تعالی باندې|پکار دی توکل| مومنانولره |

اوالله تعالی د دواړو مددګار وو| او مؤمنان دې همیشه صرف په یو الله تعالی بهروسه ساتی

وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللَّهُ بِبَدْرٍ وَأَنتُمْ

او په تحقیق سره|مدد کړې وو تاسو سره| الله تعالی |په (جنګ د) بدر کښې | اوحال دا چه وئ تاسو

(اوددې نه مخکښې)الله دبدر په میدان کښې ستاسومدد کړې وو|..... کله چې تاسو

أَذِلَّةٌ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿١٢٣﴾

کمزوری|نو ځان اوساتئ |دالله دناشکرئی نه|امید دی چه تاسو| شکرګزار جوړ شئ|

ډیرکمزوری وئ| نو دالله تعالی نه اویریږئ | دې دپاره چې تاسو به شکرګزاره بنده ګان شئ|

قوله تعالی:: وَإِذْ غَدَوْتَ مِنْ أَهْلِكَ تُبَوِّئُ الْمُؤْمِنِينَ

د جنګ بدر بدلې اخستو دپاره د ګافرانو تیارئ : دا د احد د واقعې ذکر دی (١)اګرچه بعضې مفسرین وائی چه دا د جنګ خندق واقعه ده. لیکن صحیح هم دا ده چه دا د جنګ احد واقعه ده چه په دریمه هجرئی یولسم شوال د خالی په ورځ پیښه شوې وه. جنګ بدر کښې مشرکانو پوره شکست خوړلې وو. د دوی سرداران مردار شوی وو.اوس د هغوئ بدله اخستلو دپاره مشرکانو ډیر لوئې تیارې شروع کړې وو.هغه ټول تجارتی مال چه دبدر دجنګ په موقع باندې په نورولارو راغلې وو هغه ټول د جنګ دپاره کیخودې شو. او د هر طرفنه ئې خلق جمع کړل او د دریو زرو کسانو یو لشکر ئې تیار کړو او پور سازو سامان سره ئې په مدینه باندې حمله اوکړه.

د رسول الله ﷺ د صحابو سره مشوره:- بل طرفته رسول الله ﷺ د جمعې مونځ نه پس د مالک بن عمر ؓ جنازه اوکړه اوداصحابی ؓ د قبیله بنی نجار نه وو. بیائې خلقوسره مشوره اوکړه چې ستاسو په خیال کښې دمدافعت څه صورت کیدیشی ؟ نو عبدالله بن ابی اوفرمائیل چه مونږ ته پکار دی چه مدینې نه بهر اونه ځو.که هغوئ راشی او پراو اوکړی نو چې جیل خانه کښې چه راګیر شو. اوکه مدینې ته رانوتل نو یو طرفته به ځمونږ د بهادرو توری وی او بل طرفته به د غشو والو غشی وی ، او دپاس نه به د بنځو او ماشومانو کانړی ویشتل وی.اوکه دا شان واپس شو نو د بربادئی او خسارې نه سوا به بل هیڅ نه وی. لیکن ددې خلاف د بعضو صحابه کرامو ؓ دا رائې وه چه کوم په جنګ بدر کښې نه ووشریک شوی،هغوئ دا زور لګولې وو چه مدینې نه بهر اوخو او میدان کښې ښه په نره د هغوئ مقابله اوکړو .

د مدینې نه بهرته د وتو فیصله:- رسول الله ﷺ کور ته تشریف یوړو او وسله ئې واچوله او بهر ئې تشریف راوړو. دې صحابه کرامو ؓ ته خیال راغلو چه مونږ د الله ﷺ د نبی د منشاء خلاف بهرته وتوباندې زور ورکړو.ددې وجې هغوئ اووئیل چه یا رسول الله ﷺ اکه ستاسو اراده دلته د ایساریدو وی نو هم دلته پاتې شئ،ځمونږ د طرفنه هیڅ اصرار نشته دی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د الله ﷻ د نبی دپاره لائق نه

---

(١) ابن ابی حاتم: ٢/٥١٠)-

Scanned with Ca

دی چه هغه وسله واچوی اوبیا دې هغه اوباسی.اوس خو څه بالکل نه واپس کیږم ترڅو چه هغه اونشی چه کوم الله ﷻ غواړی.

دعبدالله بن ابی واپس کیدل:- نو رسول الله ﷺ یو زر لښکر سره مدینې منورې نه اووتلو. هرکله چه شوط ته اورسیدو نودې منافق عبدالله بن ابی دهوکه اوکړه او خپل درې سوه لښکر ئې واپس کړو . دې خلقو اووئیل چه مونږ ته پته ده چه جنګ خو هسې هم نه کیږی ولې هسې تکلیف اوچت کړو ؟

په میدان احمد کښې د جنګ نقشه برابرول:- رسول الله ﷺ دهغوئ هیڅ پرواه اونه کړه او اووه سوه صحابه کرام ﷺ سره د احد غرطرفته لاړل. غر ئې شاته کړو او ددې په بیڅ کښې ئې پراؤ اوکړو. او دا حکم ئې اوفرمائیل چه تاسو ته ترکومې څه اونه وایم نو جنګ بالکل مه شروع کوئی .د پنځوس صحابه کرامو ﷺ یو ډله ئې بیله کړه او ددې امیر ئې عبدالله بن جبیر ﷺ مقرر کړو او ورته ئې اوفرمائیل چه تاسو دې غونډئ ته اوخیژئی اوددې خبرې خیال ساتئی چه هسې نه دښمن د روستو نه راشی .خو کورنی که مونږ غالب شو یا مغلوب تاسو بالکل خائې مه پریږدئی .

دجنګ انتظامات کول:- دې انتظماتو کولو نه پس رسول الله ﷺ تیار شو او زره ئې واغوستله. (۱) مصعب بن عمیر ﷺ ته ئې بیرغ ورکړو. څو هلکان هم په دې لښکر کښې شامل وو.داواړه سپاهیان(ماشومان) هم د جنګ کولو دپاره تیار وو. څه بعضې ماشومان رسول الله ﷺ خان سره بونه تلل. او بیا ئې دوی جنګ خندق کښې شامل کړی وو. جنګ خندق دې نه دوه کاله پس اوشو.

د قریشو جنګ دپاره راوتل:- د قریشو لښکر ډیر شان سره راووتلو.دا د دریو زرو سپاهیانو لښکر وو. دوی سره دوه سوه ښه آسونه هم وو.اودا ئې خان سره راوستی وو.د دوی ښی طرفته خالد بن ولید وو او ګس طرفته عکرمه بن ابوجهل وو(دادواړه سرداران روستومسلمانان شوی وو)دهغوئ طرفنه بیرغ قبیله بنوعبدالدارسره وو(۲)بیا جنګ شروع شو چه ددې واقعات به موقع په موقع تفسیرسره رازی انشاء الله

دجنګ شروع په کومه ورځ وه:- الغرض دې آیت کښې هم د دې بیان دې چه رسول الله ﷺ مدینې نه بهر تشریف راوړو او خلق ئې دجنګ په خائې مقرر کړل . د میمنه میسره (ښی او ګس طرف ته) لښکر ئې مقرر کړو.الله ﷻ د ټولو خبرو آوریدونکې او د ټولو د زړونو نه ښه خبر دې .روایاتوکښې تر دې راغلی دی چه رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ مدینې منورې نه بهر تشریف یوړو او قران پاک فرمائی چه سحر سحرد ټول لښکر ځایونه مقرر وو. نومطلب دا شو چه د جمعې په ورځ ئې پراؤ اوکړو او باقی کاروائی ئې د خالی په ورځ سحر اوکړه.

قوله تعالی:: اِذْهَمَّتْ طَّآىِٕفَتٰنِ مِنْكُمْ اَنْ تَفْشَلَا

د مسلمانانو د دوو قبیلو بزدلی:- جابر بن عبدالله ﷺ فرمائی چه څمونږ باره کښې یعنی د بنو حارثه او بنو سلمه باره کښې دا آیت مبارک نازل شوې دې .ستاسو دوؤ ډلو د بزدلئ اراده کړې وه. په دې کښې څمونږ د یو کمزورنی بیان دې .خو دا آیت خپل حق کښې ډیر بهتر ګنړو. ځکه چه دې کښې فرمائیلې شوی دی چه الله د دواړو ولی دې (۳)

قوله تعالی:: وَلَقَدْ نَصَرَكُمُ اللّٰهُ بِبَدْرٍ وَّاَنْتُمْ اَذِلَّةٌ

صحابؤ ته د بدر د فتح احسان وریادول:- بیا فرمائی چه کورنی ما د بدر په ورځ هم تاسو غالب کړئی حالانکه تاسو ډیر کم وې اوتاسو سره سامان هم کم وو. د بدر جنګ په دویمه هجرئی کښې په اولسم (۱۷)رمضان المبارک د جمعې په ورځ شوې وو.او هم د دې نوم یوم الفرقان ایښودې شوې وو. په دې

---

(۱) ددې سند ملاؤ نشو او اوګورئی : فقه السیرة للالبانی: ص/۲۲۳)-

(۲) اوګورئی دلائل النبوة للبیهقی : ۲۰۶/۳)-

(۳) صحیح بخاری کتاب المغازی باب (اذ همت طائفتان منکم ...) : ٤٠٥١، صحیح مسلم: ٢٥٠٥)-

ورځ اسلام او اهل اسلام ته عزت ملاؤ شو او شرك برباد شو. محل د شرك ختم شو حالانكه په دې ورځ مسلمانان صرف دري سوه وو. دوی سره صرف دوه آسونه وو. اوصرف اویا اوښان وو. باقی نور پیدل وو.وسله ورسره هم د نیشت برابر وه. او د دښمن تعداد هم د دوی نه دري چنده وو. یو زرونه لږ کم وو. هریو سره زره وه او د ضرورت نه زیاته ښه وسله وه. او د ضرورت نه زیات آسونه وو. دمالدارئی دا حال وو چه سرهٔ زر ئې اغوستی وو. په دې موقع الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته عزت ورکړو او غالب ئې کړو. خپله وحی ئې نازله کړه او خپل نبی ﷺ او د دوی ملګری مبارك ئې کامیاب کړل. اوشیطان او د هغه لښکر ئی تباه کړو.خپلو مومن بندګانو او جنتی لښکر ته دې آیت کښې دا احسان وریادوی چه ستاسو د کم تعداد نه باوجود او د ظاهری اسبابو د عدم موجودګئ نه باوجود تاسو مې غالب کړئی چه تاسو ته معلوم شی چه غلبه صرف په ظاهری اسبابو باندې موقوف نه ده. هم ددې وجې دویم آیت کښې صفا صفا فرمائی چه جنګ حنین کښې تاسو په ظاهری اسبابوباندې نظراوکړو اود خپل زیات تعداد په لیدو خوشحاله شوی وې ، خوستاسو هغه زیات تعداد او موجود اسبابو تاسو ته هیڅ فائده درنکړه.

په جنګ یرموک کښې د مسلمانانو فتح:- عیاض اشعری رحمه الله فرمانی چه جنګ یرموک کښې څمونږ پنځه سرداران وو① ابوعبیده ﷺ ② یزید بن ابوسفیان ﷺ ③ ابن حسنه ④ خالد بن ولید ﷺ ⑤ اوعیاض ﷺ . او د خلیفه عمر فاروق ﷺ حکم وو چه د جنګ په وخت کښې دې ابوعبیده ﷺ سرداری اوکړی. دې جنګ کښې مونږ ته د څلورو واړو طرفونو نه ډ شکست آثار په نظر راغلل نو مونږ خلیفه عمر فاروق ﷺ ته اولیکل چه مونږ مرګ سره مخ یو تاسو مونږ سره مدد اوکړئی. څمونږ جواب کښې عمر فاروق ﷺ مونږ ته اولیکل چه ستاسوخط ماته ملاؤ شو او دې کښې د مدد طلب وو. څه تاسو ته داسې یوذات ښایم چه د ټولو نه زیات مددګار او د ټولو نه زیات مضبوط لښکر والا دې. اوهغه ذات باری تعالی دې چه هغه د خپل بنده او رسول ﷺ مدد اوکړو د بدر په ورځ. بدری لښکر خو ستاسو نه ډیر کم وو. خما خط آوریدو سره جهاد شروع کړئی. او اوس نه ما نه تپوس کوئی اونه مه څه لیکئی. دې خط سره څمونږ بهادری نوره هم زیاته شوه. څمونږ همتونه زیات شو. بیا مونږ ښه په نره جهاد اوکړو. الحمدلله دښمن ته ماته اوشوه او هغوئ اوتښتیدل. مونږ دولسو میلو پورې هغوئ پسې لاړو. د غنیمت ډیر سامان مو جمع کړو او دا مو خپلو کښې تقسیم کړو. بیا ابوعبیده ﷺ اوفرمائیل چه ما سره به څوك منډه اووهی؟ یو څوان اووئیل که تاسوخفه کیږئی نه نو څه به حاضرشم. نو په منډه کښې هغه مخکښې لاړو.ما اوکتل چه د هغه دواړه زلفې هوا کښې الوتې.اوهغه د دې څوان روستوآس زغلولو. (١)

مقام بدر ته بدر وئیلې وائی؟:- بدربن نارین یو سړی وو. دده په نوم یو کوهې مشهور وو. او د دې میدان هم دا نوم وو.د بدر جنګ هم په دې نوم سره مشهور شو. دا خائې دمکې او مدینې ترمینځه دې .

قوله تعالی:: فَاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝

دالله نه د ویرې حکم:- بیا فرمانی چه دالله تعالی نه ویریږئی چه تاسو ته د شکر ادا کولو توفیق ملاؤشی. او تاسو اطاعت اوکړئی شئ.

	اِذْ تَقُوْلُ
	یاد کړه چه کله تااووئیل
	په کوم وخت
لِلْمُؤْمِنِيْنَ	اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ بِثَلٰثَةِ اٰلٰفٍ
مومنانوته	ایا نه کافی کیږی ستاسودپاره داخبره چه مدداوکړی ستاسوارب ستاسو په دري زره
کښې چې تامسلمانانو ته	اووئیل چې تاسودپاره ولې داخبره کافی نه ده چې الله دري زره

(١) احمد: ٤٩/١ ، وسنده صحيح ، ابن حبان : الاحسان: ٤٧٤٦)-

مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُنْزَلِيْنَ ﴿١٢٥﴾ بَلٰٓى ۙ اِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا

افرښتو سره اچه راولیږلي شوي (داسمان نه) اوکافی کیږی اکه تاسو صبر اوکړو اواویریږئ دالله تعالی نه
فرښتي راکوزي کړي اوستاسومدد اوکړي بلکه که تاسو ټینګ پاتي شوئ اودالله د نافرمانئ نه مو ځان

وَيَاْتُوْكُمْ مِّنْ فَوْرِهِمْ هٰذَا يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ

اوراشي دښمن په تاسو په دغه وخت (یوناځاپه) امدد به اوکړي شی ستاسو اړب ستاسو اپه پنځو زرو
اوساتلو اوپه تاسو دشمن ناځاپه حمله اوکړه ..... نو ستاسو رب به تاسو سره د پنځو زرو

مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ ﴿١٢٦﴾ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ

فرشتوسره اچه نښې داري به وی اونه دي ګرځولي الله تعالی دا مدد امګر اخوشحالی استاسودپاره
فرشتو په ذریعه مدد اوکړی اوهغوئ به نشانداري وی اوداخبره ستاسودپاره الله پاک خوشحالی ګرځولي ده

وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ ۭ وَمَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ

او دپاره ددي چه مطمئن شی ازړونه ستاسو اپه دي سره اونه دي مدد امګر دي اد الله تعالی دطرفه نه
اوددي دپاره چه په دي باندي ستاسو زړونه مطمئن شی اود الله نه سوا د بل چا د طرفه مدد نشته

الْعَزِيْزِ الْحَكِيْمِ ﴿١٢٧﴾ لِيَقْطَعَ طَرَفًا مِّنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

اچه غالب دي احکیم دي امدد کوی دپاره ددي چه پریکړی ایوه حصه ادهغه کسانو نه اچه کفرئي کړي
اوهغه داختیار او حکمت خاوند دي ا (اومدد دځکه کوی) چي دکفارویو ډلي ته (دجنګ بدر په میدان کښې)

اَوْ يَكْبِتَهُمْ فَيَنْقَلِبُوْا خَاۗىِٕبِيْنَ ﴿١٢٨﴾ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ

یاداسي شکست ورکړی هغوئ ته اچه واپس لاړ شی نامراد انشته تاسولره ادفیصلي کولو په اختیاراتو کښې
شکست ورکړی ایا ني خوار اوذلیل کړی اچي نامراده واپس لاړشی ا (زما محبوبه ددوئ) فیصله ستاپه لاس کښې نده

شَيْءٌ اَوْ يَتُوْبَ عَلَيْهِمْ اَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَاِنَّهُمْ

څه حصه (اختیار دالله دي) ایاپه معاف کړي اهغوئ لره ایا به عذاب ورکړی هغوئ لره اپس بیشکه هغوئ
که دالله تعالی خوښه شی انو ددوئ توبه به قبوله کړي اوکه دالله پاک خوښه شی انو دوئ ته به عذاب ورکړي ځکه چي دوئ

ظٰلِمُوْنَ ﴿١٢٩﴾ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ

اظالمان دي اوالله تعالی لره دي اهغه څه اچه په اسمانونو کښې دي اوهغه څه اچه په زمکه کښې دي
په خپل خان زیاتي کوی اوهرڅه چي په اسمانونو کښې دي اوکه په زمکه کښې دي اهغه ټول دالله دي

يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ

ابښي اهغه څوک اچه خوښه ني شی اوعذابوی اهغه څوک اچه خوښه ني شی اواوالله تعالی
چاته چي غواړی نو بښنه کوی اوچاته چي غواړی نو عذاب ورکوی ..... اواوالله پاک

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢٩﴾

بښونکي ارحم کوونکي دي
بښونکي مهربان دي

قوله تعالی:: اِذْ تَقُوْلُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ اَلَنْ يَّكْفِيَكُمْ اَنْ يُّمِدَّكُمْ رَبُّكُمْ

فرشتې په کوم جنګ کښې نازلې شوې وې؟ بعضې وائي چه درسول الله ﷺ داتسلئ ورکول دبدر په ورځ وو. حسن بن بصری رحمه الله، شعبی رحمه الله ، ربیع بن انس رحمه الله وغیره نه هم دا قول نقل دې(١) ابن جریر رحمه الله هم دا قول خوښوی. ② دعامر شعبی رحمه الله قول دې چه مسلمانانو ته دا خبر ملاؤ شوې وو چه کرزبن جابر د مشرکانو مدد دپاره راځی. په دې باندې د مدد کولو وعده شوې وه. خو بیا رانغلو. ربیع بن انس رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ مخکښې د مسلمانانو دمدد دپاره زر فرښتې اولیږلې بیا دري زره شوې بیا پنځه زره(٢) دلته دې آیت کښې د دریو او بیا دپنځو زرو دمدد وعده ده. د بدر دواقعې په وخت کښې د یوزر فرښتو د مدد وعده وه. فرمائی چه ﴿فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّيْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ۝﴾ او دې دواړو آیتونو کښې تطبیق هم دادې ځکه چه ﴿مُرْدِفِيْنَ﴾ لفظ موجود دې. نو ړومبې یو زر نازلې شوې اوبیا دې نه پس دري زره نورې نازلې شوې اوآخر پنځه زره پوره شوې.په ظاهره معلومیږی چه دا وعده د جنګ بدر دپاره وه.دجنګ احددپاره نه وه③ بعضې وائی چه دجنګ احدپه موقع باندې داوعده شوې وه. مجاهد رحمه الله، عکرمه رحمه الله، ضحاك رحمة الله علیه، زهری رحمه الله، موسی بن عقبه رحمه الله وغیره نه هم دا قول نقل دې .خو دوی وائی چه مسلمانان میدان نه تښتیدلی وو نو ددې وجې فرښتې نازلې شوې.ځکه چه ﴿وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا﴾ سره هم دا فرمائیلی وو.یعنی که تاسو صبر اوکړئی او تقوی اختیار کړئی د ﴿فَوْرِهِمْ﴾ معنی وجد اوغضب ده.﴿مُسَوِّمِيْنَ﴾ معنی علامت والا.

قوله تعالی:: يُمْدِدْكُمْ رَبُّكُمْ بِخَمْسَةِ اٰلٰفٍ مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُسَوِّمِيْنَ۝

د فرشتو نښې: علی ﷺ فرمائی چه دفرښتونښه دبدر په ورځ سپین رنګ وړئ وه(٣) اوددې آسونونښه دا وه چه د دوی په تندو باندې سپینوالي وو.

ابوهریره ﷺ فرمائی چه د سور رنګ نښه وه. مجاهد رحمه الله فرمائی چه د څټ وینښته او د لکئ نښه وه. اوهم دا نښه د رسول الله ﷺ د لښکر وه یعنی دوړئ

مکحول رحمه الله فرمائی چه د فرښتو نښه د وړئی پټکی وو چه د تور رنګ پټکی وو او د حنین په ورځ سره پټکی وو. (٤)

ابن عباس ﷺ فرمائی چه د بدرنه علاوه په هیڅ جنګ کښې فرشتې نه دی شریکې شوې. او دا د سپین رنګ پټکی علامت وو. دا صرف مدد دپاره او شمیر زیاتولو دپاره وې. جنګ دپاره نه وې. دا هم مروی دی چه جنګ بدر کښې د زبیر ﷺ په سرباندې د سپین رنګ صافه وه او فرښتو د زیړ رنګ (٥).

قوله تعالی:: وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ اِلَّا بُشْرٰى لَكُمْ وَلِتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُكُمْ بِهٖ

دفرشتو د راتلو په زیری کښې فائده: بیا فرمائی چه دا د فرښتو نزول اوتاسو ته ددې خبر درکول صرف ستاسو د خوشحالولو د پاره او ستاسو د دلجوئی دپاره دې ګنې الله ﷻ ته دا قدرت حاصل دې چه بغیر ددوی د نزول نه تاسو غالب کړی. مدد د هغه ذات طرفنه دې . لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ﴾ الخ. که الله ﷻ اوغواړی چه نود دوی نه پخپله بدله واخلي. لیکن هغه ذات هر یو باندې آزمښت کوی. د الله ﷻ لار کښې چه ځوک قتل شی د دوی اعمال ختم نشو بلکه الله ﷻ به دوی

---

١) ابن ابی حاتم : ٥١٩/٢)-
٢) الطبری : ١٨٧/٧)-
٣) ابن ابی حاتم : ٥٢٥/٢)-
٤) طبرانی :: ١١٤٦٩)-
٥) ابن ابی حاتم : ٥٢٧/٢)-

Scanned with Ca

ته لار ښائی او د دوی اعمال به بهتر کړی. او دوی به جنت ته داخل کړی. او د دوی تعریف هغه کړیدې او هغه ذات عزت والا دې او خپل هر یو کار کښې حکمت لری.

د جهاد حکمتونه:- دا د جهاد حکم هم په رنګ رنګ حکمتونو مبنی دې. ①دې سره به کافران هلاک شی . ②یا به ذلیل شی ③یا به نامراد واپس شی.

قوله تعالی:: لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ

نبی کریم ﷺ باندې عتاب:- دې نه پس بیان کیږی چه د دنیا او آخرت ټول امور دالله ﷻ لاس کښې دی . انې نبی ﷺ تاته د دې یوې خبرې اختیار نشته دې .لکه فرمائی چه ﴿فَإِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلَاغُ وَعَلَيْنَا الْحِسَابُ﴾ الخ. ستاسو په ذمه د دوی هدایت نشته دې ، چاته چه الله ﷻ غواړی نو هدایت ورته ورکوی .او یو خانې کښې فرمائی چه ﴿ إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ﴾ الخ. او چاته چې ته غواړې نو هدایت نشې کولې.بلکه الله ﷻ چه چا ته اوغواړی نو هدایت کوی. نو ځما بندګانو کښې ستا هیڅ اختیار نشته دې . تاته چه کوم حکم اورشی نو دا نورو ته رسوئی ، ستا په ذمه هم دا ممکن دی چه الله ﷻ دوی ته توبه ورنصیب کړی. او د بدنی نه پس به هغوئی نیکی کوی. او الله ﷻ به د دوی توبه قبوله کړی. یا ممکن ده چه دوی ته د دوی د کفر اوګناه په وجه عذاب ورکړی نو دا ظالمان ددې مستحق دی.

د ایت شان نزول:- صحیح بخاری کښې دی چه رسول الله ﷺ به کله د سحر مونځ کښې د دویم رکعت نه سر اوچتولو او ﴿سمع الله لمن حمده ربنا لك الحمد﴾ به نې اووئیل نو کفارو ته به نې بددعا کوله چه انې الله ﷻ ! فلانی باندې لعنت اوکړی .دې باره کښې دا آیت نازل شو چه ﴿لَيْسَ لَكَ مِنَ الْأَمْرِ شَيْءٌ﴾ (١).

مسند احمد کښې ددې کافرو نومونه هم راغلی دی. لکه حارث بن هشام ، سهل بن عمرو ، صفوان ابن امیه . او هم په دوی کښې بالاخر څه دوی ته هدایت نصیب شو او هغوی مسلمانان شو.(٢) یوروایت کښې دی چه د څلورو کسانو دپاره ئې دا خیرې کړې وې. او د هغې نه رسول الله ﷺ منع کړې شو.

صحیح بخاری کښې چه کله به رسول الله ﷺ دچا دپاره ښه دعا یا بد دعا کوله نو رکوع نه پس به نې ﴿سمع الله﴾ الخ او ﴿ربنا﴾ به نې وئیله او بیا به نې دعاکوله. کله به نې وئیل چه انې الله ﷻ ! ولیدو بن ولیدو ، سلمه بن هشام ، عیاش ابن ابی ربیعه تباه کړه اوکمزورو مومنانونه ته نجات ورکړې . انې الله ﷻ ! قبیله مضر باندې خپل پکړ اوعذاب نازل کړه او په دوی باندې داسې قحط راوله لکه څنګه چه دې دیوسف ﷺ زمانه کښې راوستې وو.دا دعابه په اوچت آواز کیدله. او بعضې وختونوکښې به د سحرمونځ کښې قنوت کیدو او دې کښې به نې داسې وئیل چه انې الله ﷻ ! فلانی فلانی باندې لعنت اولیږه. او د عربو د بعضو قبیلو نومونه به نې اخستل.(٣)

د ایت په شان نزول کښې بل روایت:- او یو روایت کښې دی چه جنګ احد کښې چه کله د رسول الله ﷺ غاښونه مبارك شهیدان شو ، مخ مبارکه نې زخمی شوه او مخ مبارك نه نې وینه بهیدله نو خولې مبارکې نه نې اووتل چه هغه قوم به څنګه نجات بیا مومی چه هغوئ خپل نبی سره دا شان کوی. حالانکه نبی دوی الله ﷻ ته بلی. دې وخت کښې دا آیت نازل شو چه ﴿لَيْسَ لَكَ﴾ الخ(٤)رسول الله ﷺ دې جنګ کښې یو کنده کښې غوزار شوی وو.اورسول الله ﷺ نه وینه روانه وه. څه خو د دې کمزورنی په وجه اوځه په دې وجه چه دوه زرې ئې اغوستې وې او پاسیدې نشو.د خذیفه ﷺ مولی سالم ﷺ

---

١) صحیح بخاری کتاب المغازی باب (لیس لک من الامر شئ.....) : ٤٠٦٩، نسائی: ١٠٧٩)-

٢) احمد: ٩٣/٢، ترمذی: کتاب تفسیر القران باب ومن سورة آل عمران : ٣٠٠٤وهو صحیح)-

٣) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة آل عمران باب (لیس لک من الامر شئ...) : ٤٥٦٠ صحیح مسلم: ٦٧٥)-

٤) صحیح بخاری کتاب المغازی باب (لیس لک من الامر .....) قبل حدیث : ٤٠٦٩، صحیح مسلم: ١٧٩١)-

Scanned with Ca

راورسیدو اود مخ مبارکې نه ئې وینه اوچه کړه. هرکله چه لږ شان ښه شو نو رسول الله ﷺ دا اوفرمانیل او دا آیت نازل شو.(۱)

قوله تعالی:: وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

بیا فرمائی چه د زمکې او آسمان هر څیز دهغه پاك ذات دې ، ټول دهغه پاك ذات غلامان دې. چا ته چه اوغواړی نو ببښنه اوکړی او چاته چې اوغواړی نو عذاب ورکړی. متصرف هم هغه ذات دې چه څه حکم غواړی نو کوی ئې ، هیڅوك د هغه نه اعراض نشی کولې. هغه غفور رحیم دې.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٰۤا	
اې هغه کسانو اچه ایمان موراوړې دې مه خورئ سود	
.....اې دایمان خاوندانو .....تاسو (مال د) سود مه خورئ	
اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ۪ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۚ	
دوچند اچه بیابیادوچندئی سره او ویریږئی دالله نه امیددې چه تاسو به کامیابی (فلاح) اومومئ	
چې هغه په څوڅوچنده زیاتېږی اوالله نه ویریږئ .....دې دپاره چه کامیاب شئ	
وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِيْۤ اُعِدَّتْ لِلْكٰفِرِيْنَ ۚ وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ	
اوخان اوساتئ اد اورهغه نه اچه تیار کړې شوې دې دپاره دکافرانو اوحکم اومنئ دالله	
اودهغې اور نه خان بچ کړئ اچې کوم کافرانو دپاره تیارشوې دې اود الله پاک تابعداری کوئ	
وَالرَّسُوْلَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ۚ وَسَارِعُوْۤا اِلٰى مَغْفِرَةٍ	
اودرسول امید دې چه په تاسو ابه رحم اوکړې شی او په منډه ځئ ببښنې ته	
او د رسول تابعداری کوئ اې دپاره چې په تاسو رحم اوشی اود خپل پروردګار بخشش او جنت	
مِّنْ رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ ۙ اُعِدَّتْ	
دطرفه درب ستاسونه او جنت ته اچه پلنوالې دهغې آسمانونه دی او زمکه ده اچه تیار کړې شوی دی	
(حاصلولو) ته تلوار کوئ هغه جنت چه دهغې پلنوالې دآسمانونواو زمکې برابر دې ادغه جنت داسې	
لِلْمُتَّقِيْنَ ۙ الَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ	
ادپاره د پرهیزګارانو اهغه پرهیزګاران اچه خرچ کوی مال اپه خوشحالئ کښې اوپه تکلیفونو کښې	
پرهیزګارو دپاره تیار شوې دې اچې دفقیرئ او مالدارئ په وخت کښې خپل مالونه خرچ کوی	
وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۚ	
اوتیرونکی ادغصې وی اومعاف کونکی دخلقو دی او الله تعالی اخوښوی انیکی کونکی خلق	
اوقهر اوغصه برداشت کوی اوخلقو ته معافی کوی ..... اوالله پاک داسې نیکان خلق خوښوی	
وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْۤا اَنْفُسَهُمْ	
اوهغه کسان دی اکله چه اوکړی هغوی ادبې حیائی کار اياظلم اوکړی هغوی اپه خانونو خپلوباندې	
اوهغوئ داسې نیکان خلق دی اچې کله ترې د بې حیائې کار اوشی اياپه خان څه زیاتې اوکړی	

(۱) دا روایت مرسل یعنی ضیعف دې.

ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ ص وَمَنْ يَّغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا
انویاد کړی الله| اومعافی غواړی| دپاره دګناهونو خپلو|اوځوک دی	چه معاف کوی	ګناهونه |سوا
نو(هغه وخت)ورته الله یاد شی	اودخپل ګناهونوبښنه غواړی	اوبل څوک دی چې ګناهونه به اوبښی بغیر
اللّٰهُ ص وَلَمْ يُصِرُّوْا عَلٰى مَا فَعَلُوْا وَهُمْ
	دالله تعالی نه| اونه کوی ټینګتیا(همیشوالي)| په هغه (ګناه)| چه اوکړی هغوئ|اوحال دا چه هغوئ
دالله تعالی نه |اوهغوئ پخپلو غلطو کارونو هڅړې همیش والي نه کوی (بلکه سمدستی توبه اوباسی)
يَعْلَمُوْنَ ۝ اُولٰٓئِكَ جَزَآؤُهُمْ مَّغْفِرَةٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَجَنّٰتٌ
	پوهیږی په بدئی خپلي| دامتقیان دی|بدله دهغوئ ده| ببښنه	دطرفه درب دهغوئ نه| اوباغونه دی
اګرچې هغوئ په دې خپلي بدئ پوهیږی.	دداسي خلقوبدله دا ده	چې الله به ورته ببښنه اوکړی
تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ط وَنِعْمَ
چه بهیږی به|لاندې د(ونو) دهغې نه نهرونه| چه همیشه به وی|په هغې کښې |او څنګه ښه ده بدله
اوداسي باغونه بئ ورکړی	چې دهغې د (مانړو د) لاندې به نهرونه بهیږی	همیشه به په کښې اوسیږی
اَجْرُ الْعٰمِلِيْنَ ۝
دنیک عمله خلقو|
اودنیکانودپاره ډیره ښه بدله ده	

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوا الرِّبٰوٓا اَضْعَافًا مُّضٰعَفَةً ص

د سود حرمت :- الله ﷻ خپل مومنان بندګان د سود نه او سودی کاروبار نه منع کوی. جاهلانو به د سود قرضي ورکولي.یو موده به مقرروليي شوه. که دې موده کښې به رقم وصول نه شو نو موده به ئې زیاتوله او دې سره به ئې سود هم زیاتولو. او دا شان به سود زیاتیدو زیاتیدو او اصل رقم نه به هم زیات شو. الله ﷻ خلق ددې ناحق مال اخستلو نه منع کوی. او د تقوی حکم ورکوی او په دې باندې دنجات وعده کوی. د اور نه ئې ویروی. او د خپلو عذابونو نه ئې هم ویروی. اوبیائې خپل او د خپل رسول په اطاعت باندې آماده کوی. او ده سره د رحم اوکرم وعده کوی.

قوله تعالی:: وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمٰوٰتُ وَالْاَرْضُ ۙ

د جنت پلنوالي:- بیا ئې د سعادت دارین د حصول دپاره نیکو طرفته رابلی. اود جنت تعریف کوی. د لنډوالی بیان کوی او د اوږدوالی اندازه په آوریدو باندې پریږدی. لکه څنګه چه د جنت د فرش تعریف کوی او فرمائی چه ﴿بَطَآئِنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ؕ﴾ یعنی ددې استر د نرمو ریښمو دې. نو مطلب دا دې چه هرکله استر داسي دې نو د ظاهر به ئې څه حال وی. همدغه شان ددې بیان دلته هم کیږی. هرکله چه ددې پلنوالي د اوؤ آسمانونو او اوؤ زمکو برابر دې نو د دې پلن والي به څومره وی. او بعضو وئیلی د دی چه لنډوالي او پلن والي دواړه برابر دی. ځکه چه جنت د قبه په شان دې چه عرض لاندې ده. او چه کوم څیز دقبه په شان وی یا مستدیر وی د هغې لنډوالي او پلن والي یوشان وی.

Scanned with Ca

د جنت الفردوس فضیلت:- یو صحیح روایت کښې دی چه هرکله تاسو د الله ﷻ نه سوال کوئی نو د هغه پاك ذات نه فردوس غواړئی. هغه د ټولو نه اوچت او دټولو نه بهتر جنت دې. هم ددې جنت نه ټول نهرونه راوخی. او د دې چت د الله ﷻ عرش دې (۱)

د هرقل په نبی کریم ﷺ باندې سوال:- مسند احمد کښې دی چه هرقل رسول الله ﷺ ته یو سوال د اعتراض په طور اولیږلو چه تاسو ماته د هغه جنت دعوت راکوئ چه د هغې لنډوالئ او پلن والئ د آسمانونو او زمکې برابر دې. نو بیا تاسو اووائې چه جهنم چرته دې ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه سبحان الله کله چه شپه راشی نو ورځ چرته لاړه شی ؟ چه کوم قاصد دا خط د رسول الله ﷺ خدمت کښې پیش کړې وو اوحاضر شوې وو هغه سره د یعلی بن مره ملاقات حمص کښې شوې وو. وائی چه په دغه وخت کښې هغه ډیر زیات بوډا وو. وې وئیل چه کله ما دا خط رسول الله ﷺ ته ورکړو نو هغوئ خپل ګس طرفته ناست یو صحابی ته ورکړو. ما د خلقو نه تپوس اوکړو چه دده څه نوم دې ؟ خلقو اووئیل چه دا معاویه دې (۲) عمر فاروق ﷺ نه هم دا سوال شوې وو نو هغوئ فرمائیلی وو چه د ورځې په وخت کښې شپه او د شپې په وخت کښې ورځ چرته ځی؟ یهودو چه دا جواب واوریدو نو شرمنده شو او وې وئیل چه دا خو توراة نه اخستې شوې دې . ابن عباس ﷺ نه دا جواب مروی دې. یو مرفوع حدیث کښې دی چه یو کس د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کله هر یو څیز باندې شپه راشی نو ورځ چرته لاړه شی ؟ نودوی اووئیل چه چرته الله ﷻ غواړی. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه جهنم هم چه چرته الله ﷻ غواړی (بزار)(۳).

د جملې دوه مطلبونه:- ددې جملې دوه معنې دی ، یو خو دا چه د شپې په وخت کښې مونږ ورځ نشو کتلې .خو داهم ناممکنه نه ده .چې ورځ دې په یوځائې کښې هم نه وی. هم داشان دجنت پلن والې هم دې . خو بیا هم د جهنم دوجود نه انکار نشی کیدې. الله ﷻ چه چرته غواړی نو هغه هم دې② دویمه معنی دا ده چه هرکله ورځ دیوطرفنه راوځی نوشپه د بل طرفنه راوځی.دغه شان جنت اعلی علیین کښې دې او جهنم اسفل السافلین کښې دې خو څه منافات نشته دې ، والله اعلم.

قوله تعالی:: اَلَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ فِي السَّرَّآءِ وَالضَّرَّآءِ وَالْكَاظِمِيْنَ الْغَيْظَ

د مومنانو بندګانوصفات :- بیا الله ﷻ د جنتیانو صفت بیانوی چه (دا هغه خلق دی) چه په غم کښې خوشحالئ کښې ، صحت کښې او بیمارئی کښې غرض هر حال کښې دالله ﷻ لار کښې خپل مال خرچ کوی. لکه څنګه چه بل ځائې کښې دی : یعنی هغه خلق شپه ورځ په پټه او ښکاره خرچ کوی . هېڅ یو کار هغوئ د الله ﷻ د اطاعت نه نه شی بندولې . دهغه په مخلوق باندې د هغه حکم سره احسان کوی. داغصه برداشت کوونکی اوخلق د بدو نه منع کونکې دی .د﴿ کظم ﴾ معنی پټ هم ده .یعنی د خپلې غصې اظهار هم نه کوی.

د غصې برداشت کولو کښې حدیث قدسی:- بعضې روایتونو کښې دی چه انې ابن آدم که د غصې په وخت کښې ته ما یاد کړې یعنی خما حکم اومنې نو څه به تا د خپلې غصې په وخت کښې یاد کړم. یعنی د هلاکت په وخت کښې به تا بچ کړم. (ابن ابی حاتم) (۴).

---

۱) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب درجات المجاهدین: ۲۷۹۰)-.

۲) احمد: ۳/٤٤١)-.

۳) مسند البزار : ۲۱۹٦، حاکم: ۱/۳٦، ابن حبان: ۱۰۳، وسنده صحیح)-

٤) مسند یعلی : ٤۳۳۸،)-

Scanned with Ca

غصه برداشت کولو د عذاب نه د بچ کیدل دی:- اویوبل حدیث مبارک کښې دې چه رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم کس غصه باندې قابو راولی نوالله ﷻ د هغه نه عذاب لرې کوی.اوچه کوم سړې خپله ژبه دخلاف شرع خبرو نه اوساتی نوالله ﷻ به دده پرده اوساتی.دا حدیث غریب دې اوددې سند کښې کلام شته دې

پهلوان څوک دې؟:- حدیث مبارک کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه پهلوان هغه نه دې چه بل لره راوپرزوی بلکه حقیقت کښې پهلوان هغه دې چه د غصې په وخت کښې خپل نفس قابو کښې اوساتی. (احمد) (١)

مونږ ته د وارث مال د خپل مال نه زیات خوښ دې:- صحیح بخاری اومسلم کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه تاسو کښې څوک داسې دی چه هغه ته د خپل وارث مال د خپل مال نه زیات خوښ دې ؟ خلقو اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! هیڅوک نشته دې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څه وینم چه تاسو ته د خپل مال نه دخپل وارث مال زیات خوښ دې .ځکه چه حقیقت کښې خوستاسو مال هغه دې کوم چې تاسو د الله ﷻ لار کښې خرچ کوئی . او چه کوم پریږدئی نوهغه ستاسو مال نه دې بلکه ستاسو د وارثانو مال دې نو ستاسو د الله ﷻ لار کښې کم خرچ کول او زیات جمع کول .دادلیل دې ددې خبرې چه تاسو د خپل مال نه زیات د خپلو وارثانو مال سره زیات محبت ساتئی.

حقیقی پهلوان:- بیا فرمائی چه تاسو پهلوان پیژنئی ؟ خلقو اووئیل چه هغه څوک دې کوم چې څوک نشی راپرزولې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه نه بلکه حقیقت کښې پهلوان هغه دې چه دغصې په وخت کښې خپل جذبات قابو اوساتی. بیا ئې اوفرمائیل چه بې اولاد څوک دې ؟ خلقو اووئیل چه د چا اولاد نه وی. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه نه بلکه حقیقت کښې بې اولاد هغه دې چه د هغه په ژوند کښې د هغه څوک اولاد نه وی مړ شوی . (مسلم). (٢)

مفلس څوک دې؟:- یوبل روایت کښې هم دی چه رسول الله ﷺ تپوس اوکړو چه تاسو ته معلومه ده. چه مفلس څوک دې ؟خلقو اووئیل چه هغه سره مال نه وی.نورسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا هغه کس دې چه خپل مال په خپل ټول ژوند کښې دالله ﷻ لارکښې خرچ کړې نه وی. (مسند احمد). (٣)

یوصحابی ﷺ ته د غصې نه کولو نصیحت:- حارثه بن قدامه سعدی ﷺ د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضرشو اوعرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! ماته څه د فاندې خبره اوکړئی چه مختصر وی چه ماته یاده شی.نورسول الله ﷺ اوفرمائیل چه غصه مه کوه.رسول الله ﷺ ورته بیا هم دا اوفرمائیل.او ډیرډیر ځل ئې هم دا واوریدل. (مسنداحمد)(٤) یو سړی رسول الله ﷺ ته اووئیل چه ماته څه وصیت اوکړئی . نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه غصه مه کوه. هغه وائی چه ما غوراوکړو نومعلومه شوه چه د ټولو بدو مرکز غصه ده(مسند احمد). (٥)

د غصې لرې کولو علاج:- یوروایت کښې دی چه ابوذر ﷺ ته غصه راغله نو دوی کښیناستل او بیا څملاستل . ددوی نه تپوس اوشو چه دا څه دی ؟ نو وې فرمائیل چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه رسول الله ﷺ به فرمائیل چه چاته غصه راشی نوکه هغه ناست وی نو هغه دې اودریږی او که غصه ئې لاتر له نو هغه دې څملی . (مسند) (٦).

---

(١) احمد: ٣٨٢/١، صحیح بخاری کتاب الادب باب الحذر من الغضب : ٦١١٤، صحیح مسلم: ٢٦٠٩)-.

(٢) احمد: ٣٨٢/١، صحیح بخاری کتاب الرقاق باب ماقدم ماله فهو له : ٦٤٤٢، صحیح مسلم: ٢٦٠٨)-

(٣) احمد: ٣٦٧/٥١،)-

(٤) احمد: ٣٤٢/٥، وسنده صحیح حاکم ٦١٥/٣، ابن حبان: ٢٦٨٩، طبرانی : ٢٠٩٦)-

(٥) احمد: ٣٧٣/٥،، وهو صحیح بالشواهد)-

(٦) احمد: ١٥٢/٥، کتاب الادب باب ما یقال عن الغضب : ٤٧٨٢، وهو صحیح)-

Scanned with Ca

دغصې لرې کولو دپاره اودس کول:-مسند احمد کښې یو روایت دې چه عروه بن محمد ﷺ ته غصه راغله. نو دوی اودس ته کښناستل او وې فرمائیل چه ما د خپلو استاذانو نه دا حدیث آوریدلې دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه غصه د شیطان د طرفنه ده او شیطان داور نه پیدا شوې دې او اور اوبو سره مری. نو تاسو د غصې په وخت کښې اودس کوئی. (١)

غصه برداشت کول د جهنم نه ازادی ده:- درسول الله ﷺ نه ارشاد هم نقل دې چه کوم سړې تنګدست ته مهلت ورکړی یا خپل قرض معاف کړی ، الله ﷻ به دې د جهنم نه آزاد کړی. خلقو واورئی ! د جنت اعمال سخت او مشکل دی اود جهنم اعمال آسان دی. نیك بخت هغه دې چه فتنو نه بچ شی . هیڅ یو ګوټ الله ﷻ ته دومره خوښ نه دې چه څومره د غصې ګوت دې. د داسې سړی زړه د ایمان نه ډك شی . (مسند احمد). (٢)

غصه برداشت کول د امن سبب دې:- رسول الله ﷺ فرمائی چه د کوم سړی د دې طاقت وی چه هغه خپله غصه ضبط کولې شی او ضبط ئې کړی نو الله ﷻ د ده زړه د امن وامان نه ډك کړی. چه کوم سړې باوجود د موجود کیدو نه د شهرت جامه پریږدی نو ده ته الله ﷻ د قیامت په ورځ د کرامت او عزت جامه واغوندوی. او چه څوك د چا سر پټ کړی نو هغه ته به الله تعالی د قیامت په ورځ د بادشاهانو تاج ورپسر کړی. (ابوداود).(٣) رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم سړې د قدرت نه باوجود غصه اوځکی نو الله ﷻ دې د ټول مخلوق مخکښې اختیار ورکړی چه دده کومه یوه حوره خوښه وی (نو هغه به ده ته ورکوی). (مسند احمد). (٤)

د حافظ ابن کثیر رحمه الله تبصره:- ددې مضمون نور هم احادیث دی ، نو ددې آیت مطلب دا شو چه هغوی خپله غصه ضبط کوی او دې خلقو ته تکلیف نه رسوی بلکه خپل جذبات قابو کښې ساتی. او دالله ﷻ نه د ثواب امیدساتی. اودامعامله الله ﷻ ته حواله کوی. خلقو ته معافی کوی. د ظالمانو د ظلم بدله هم نه اخلی. هم دې ته احسان وائی. او الله ﷻ دې محسنانو بندګانو سره محبت ساتی.

قوله تعالی:: فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَمَنْ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا اللَّهُ

درې قیمتی خبرې:- حدیث مبارك کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه په دریو خبرو قسم کوم ① یو خودا چه صدقې سره مال نه کمیږی ② دویم داچه عفو درګزر کولو سره د انسان عزت زیاتیږی ③ دریم دا چه عاجزی او انکساری کونکی ته الله ﷻ اوچته مرتبه ورکوی .(٥)

د درجو اوچتونکی اعمال:- دمستدرک حدیث کښې دی چه کوم سړې دا غواړی چه دده بنیاد دې اوچت وی او دده درجې دې اوچتې وی نو ده ته پکار دی چه ظالمانو ته معافی اوکړی او نه ورکونکو ته ورکړی او تعلق کټ کونکو سره تعلق جوړ کړی.

د قیامت په ورځ اعلان:- او حدیث مبارك کښې دی چه دقیامت په ورځ به یو آواز کوونکې آواز اوکړی چه انې هغه خلقو چه نورو خلقو ته به مو معافی او عفو کوله خپل رب نه خپل اجر واخلئ د مسلمانانو خطاګانو لره معاف کولو والاخلق جنتیان دی . (٦).

بیا بیا ګناه کول او توبه ویستل:- نوالله ﷻ فرمائی چه ما دخپل بنده ګناه معاف کړه. دده نه بیا ګناه کیږی او بیا توبه کوی نو الله ﷻ نې معاف کوی. بیا په دریم ځل چه دده نه ګناه اوشی او بیا دې توبه کوی نو

---

١) احمد: ٢٢٧/٤ ابوداود کتاب الادب باب مال یقال عند الغضب : ٤٧٨٤، وسنده حسن)-،
٢) احمد: ٣٢٧/١،)-
٣) ابوداود کتاب الادب باب من کظم غیظا، : ٤٧٧٨،)-
٤) ابوداود کتاب الادب باب من کظم غیظا، : ٤٧٧٧، وسنده حسن ، ابن ماجة: ٤١٨٦)-
٥)صحیح مسلم کتاب البروالصلة باب استحباب العفو والتواضع : ٢٦٨٨، ترمذی: ٢٠٢٩، بدون قوله (ثلاث اقسم علیهن.)
٦) احمد: ٢٩٦/٢، صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله (یریدون ان یبدلوا...) :٧٥٠٧، صحیح مسلم: ٢٧٥٨،)-

Scanned with Ca

الله ﷻ دي بخښنې او کله چه په ځلورم ځل ګناه اوکړي او بيا توبه اوباسي نو الله ﷻ دي معاف کوي او وائي چه اوس ځما بنده څه کوي نوکوي دي (مسند احمد)داحديث بخاري اومسلم شريف کښې هم راغلي دي)([1])

د نبي کريم ﷺ په صحت کښې روحاني ترقي:- ابوهريره ﷺ فرمائي چه يو ځل مونږ رسول الله ﷺ ته اووئيل چه يارسول الله ﷻ ! چه کله مونږ تاسوته ګورو نو ځمونږ زړونه په ريبدو شي . او مونږ الله والا جوړ شو. خو هرکله چه ستاسو نه لاړ شو نو بيا هم هغه حالت پاتې نشي . او ښځو او بچو سره مشغول شو.اودکور په کارونو کښې راګير شو. نو رسول الله ﷻ اوفرمائيل چه واورئ کوم حالت چه ستاسو ځما په موجودګئ کښې وي که هم دا حالت ستاسو هر وخت کښې وي نو تاسو سره به فرښتو مصافحه کوله اوتاسو ته به ستاسو ملاقات لره ستاسوکورونو ته راتلې.واورئ اکه تاسو ګناه نه کوئ نو الله ﷻ به تاسوددې خاڼې نه لرې کړي او بل قوم به راولي چه هغه ګناه کوي او بيا الله تعالى هغه بخښي.([2])

قوله تعالى:: جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا

د جنت ابادي :- مونږ اوونيل چه يارسول الله ﷻ ! مونږ ته اوفرمائې چه د جنت بنا څه ده ؟ نو رسول الله ﷻ اوفرمائيل چه يو ښښته دسرو زرو اويو ښښته د سپنو زرو،د دې مصالحه خالص مشك دي. ددې کنکر لؤلؤ اوياقوت دي.ددې ښاوره زعفران ده.دجنت ژوند به هيڅکله ختم نشي او د دې ژوند هميشه دې ددوی کيږي به نه زړيږي . ددوی ځوانی به نه فنا کيږي .

د دې کسانو دعا نه رد کيدل:- د دريو کسانو دعا نه رد کيږي① دعادل بادشاه ② د روژه دار دعا او ③د مظلوم دعا.د دوی دعا وريځو ته اوخيژي د ده دپاره آسمان دروازې بيرته شي.او الله ﷻ ارشاد فرمائي چه ځما دې په خپل عزت قسم وی چه څه به ستا ضرور مدد کوم. اګر چه څه وخت پس وی . (مسند احمد)([3])

د ګناه معاف کولو طريقه:- امير المومنين خليفه ابوبکر صديق ﷺ فرمائي چه رسول الله ﷻ اوفرمائيل چه کوم سړي څه ګناه اوکړي بيا اودس اوکړي او دوه رکعته مونځ اوکړي او د خپلې ګناه معافی اوغواړي نو الله دا ګناه معاف کوي(مسند احمد) ([4])

د جنت اته دروازې چاته بيرته کيږي؟:- صحيح مسلم کښې په روايت د امير المومنين عمر بن خطاب ﷺ مروی دی چه رسول الله ﷺ فرمائي تاسو کښې څوک کامل اودس اوکړي او (**اشهدان لااله الاالله وحده لا شريك له واشهدان محمدا عبده ورسوله**) اووائي نو دده دپاره د جنت اته واړه دروازې بيرته کيږي. چه په کومه داخليدل. غواړي نو داخليږي به . ([5])

د ګناهونو معاف کيدل:-امير المومنين عثمان بن عفان ﷺ به دسنت مطابق اودس کولواوبيا به ئې فرمائيل چه ماد رسول الله ﷻ نه آوريدلی دی چه کوم سړي ځما په شان اودس اوکړي او دوه رکعته مونځ ادا کړي او دې کښې د خپل زړه سره خبرې اونکړي نو الله ﷻ د ده ټول ګناهونه معاف کوی . (بخاری ومسلم). ([6])

---

[1]) احمد: ٢٩٦/٢، كتاب التوحيد باب قول الله (يريدون ان يبدلوا.....) : ٧٥٠٧، صحيح مسلم: ٢٧٥٨،)-

[2]) احمد: ٣٠٥/٢ وسنده ضعيف)-

[3]) احمد: ٣٠٥/٢ وسنده ضعيف)-

[4]) احمد: ٢/١، ابو داود: كتاب الصلاة باب فى الاستغفار : ١٥٢١، وسنده حسن ، ترمذى: ٤٠٦، ابن ماجة: ١٣٩٥، ترمذى: ٣٥٩٨، وابن ماجة: ١٧٥٢ مختصرا)-

[5]) صحيح مسلم كتاب الطهارة باب الذكر المستحب عقب الوضوء : ٢٣٤)-

[6]) صحيح بخارى كتاب الوضوء باب الوضوء ثلاثا ثلاثا: ١٥٩، صحيح مسلم: ٢٢٦)-

Scanned with Ca

د حافظ رحمه الله تبصره:- نودا حدیث د عثمان بن عفان ﷺ او د هغې نه مخکښې حدیث د عمرفاروق ﷺ او د هغې نه مخکښې روایت د ابوبکر صدیق ﷺ نه او دا دریم روایت د ابوبکر صدیق ﷺ او علی کریم الله وجهه ﷺ نه روایت شوی دی. نو الحمد لله د الله ﷻ د مغفرت او د هغه دمهربانئ خبر د سید الامین والاخرین په خوله د رسول الله ﷺ د څلورو واړو خلفاء راشدینو په ذریعه راورسیدو.

د مترجم دعا:-(راځئ چه په دې موقع مونږ ګناهنګار هم لاس اوچت کړو او د خپل مهربان او کریم رب مخکښې د خپلو ګناهونو اقرار اوکړو او د هغه نه معافی اوغواړو. انې الله ﷻ ! اې د مور پلار نه زیات مهربان ذات ، انې عفو درګزرکولو والا، او یو سوال کونکی خالی لاسونه نه واپس کونکیه ته مونږ ګناهګاروته هم معافی اوکړه ، او خمونږ د ټولو ګناهونه معاف کونکیه ، خمونږ ګناهونه معاف کړه ، آمین مترجم). هم دا هغه آیت مبارك دې چه کله دا نازل شو نو ابلیس په ژړا شو(عبدالرزاق). (١)

د شیطان هلاکت په څه دې؟:-مسند ابویعلی کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه (لاالهالاالله) کثرت سره وائي.اوپه استغفارباندې همیش والي کوئی.ابلیس ګناهونو سره خلق هلاکول غواړی.او د ده خپل هلاکت(لا اله الا الله)سره دې. دې حالت ګتو سره ابلیس خلق په خواهش پرستئ کښې واچول. اودا خلق خپل ځان په نیغه لار ګڼې حالانکه دوی هلاکت کښې وی(٢)خوددې حدیث دوه راویان ضعیف دی

شیطان ته دالله قسم:-مسنداحمد کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه ابلیس اوونیل چه انې ربه ! ځما دې ستاپه عزت قسم وی څه به بنی آدم ترآخره پورې لمسوم. الله اوفرمائیل چه ځما دې په خپل جلال او عزت قسم وی چه ترکومې دې ځما نه بخښنه غواړی نو څه دې بخښم. (٣)

د ګناه نه پس توبهٔ اوباسه:- مسند بزار کښې دی چه یو سړی رسول الله ﷺ ته اووئیل چه ځما نه ګناه اوشوه. نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه توبه اوباسه. ده اووئیل چه ما توبه اوکړه بیا رانه ګناه اوشوه. نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه استغفار اوکړه. تر دې چه شیطان سړې شی (٤). بیا ئې اوفرمائیل چه ګناه بخښل د الله ﷻ په اختیار کښې دی.

توبه الله ته ویستل دی:- مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ ته یو قیدی راغلو او وې وئیل چه یا الله ځما تاته توبه ده محمد ﷺ ته توبه نه اوباسم. (یعنی ائې الله څه ستانه بخښنه غواړم) . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ده حقدار ته حق اورسولو.(٥)

د اصرار نه ګولو مطلب:- اصرار کولو نه مراد دا دې چه ګناه باندې بغیر د توبې کولو نه نه اصرار نه کوی.که ډیر خل ګناهونه اوشی نو ډیر استغفار هم کوی.

څوک په ګناه اصرار کونکې نه دې؟:- مسندابویعلی کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه هغه کس په ګناه باندې اصرارکونکې نه دې .او الوتلونکې نه دې چه څوك استغفار کوی. اګر چه د ده نه یو ورځ کښې اویا ځله هم ګناه اوشی.(٦)

بیا فرمائی چه دوی ته معلومه ده چه الله ﷻ توبه قبلونکې دې . لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿أَلَمْ يَعْلَمُوٓا أَنَّ اللَّهَ هُوَ يَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهِۦ﴾ یعنی آیا دوی ته معلومه نه ده چه الله ﷻ توبه قبلونکې دې . اوبل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ﴾ یعنی او څوک چه بد خراب کار اوکړی یا ګناه اوکړی اوخپل

---

١) تفسیر القران لعبد الرزاق : ٤٦٢/١، رقم: ٤٥٤،)-
٢) مسند ابی یعلی : ١٣٦،)-
٣) مسند احمد : ٢٩/٣،)-
٤) مسند البزار : ٣٢٤٩، مجمع الزوائد: ١٩٩/١٠،)-
٥) احمد: ٤٣٥/٣، طبرانی : ٨٣٩)-
٦) ابو داود کتاب الصلاة باب ق الاستغفار : ١٥١٤، ترمذی: ٣٥٥٩،)-

Scanned with Ca

خان باندې ظلم اوکړی بیاالله ﷻ نه مغفرت اوغواړی نو ده ته به معلوم شی چه الله ﷻ خومره ښښونکې مهربان دې.مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ په منبر باندې اوفرمائیل ائې خلقو ! تاسو په نورو باندې رحم اوکړئی ، ائې خلقو تاسو د نورو خطاګانې معاف کوئی،الله ﷻ به ستاسو ګناهونه معاف کړی.څوک چه دخان نه خبرې جوړوی والوهغه دپاره هلاکت دې اوګناه باندې همیشوالې کونکو دپاره هلاکت دې (١).

قوله تعالی:: أُولَٰئِكَ جَزَآؤُهُم مَّغْفِرَةٌ مِّن رَّبِّهِمْ

بیافرمائی چه ددې کارونو په بدله کښې ددوی جزا او مغفرت دې.او رنګ رنګ نهرونه پکښې بهیږی. او دې کښې به دوی همیشه وی ، دا ډیر ښه عاملان دی.

قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِكُمْ سُنَنٌ ۙ فَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَانظُرُوا	
اتیر شوی دی | وړاندې ستاسونه | ډیر د ورونه | پس اوګرځئ | په زمکه کښې | اواوګورئی	
| ستاسونه مخکښې (په دې زمکه) ډیرې زمانې تیرې شوی دی | نوتاسودزمکې په مخ اوګورئ	
كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِينَ ﴿١٣٧﴾ هَٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ	
| چه څنګه | وو | انجام | د دروغ ګنړلو (احکامو الله لره) | دا (قران) بیان دې | دپاره دخلقو	
چې د هغه خلقوڅه انجام شو اچې دالله احکام ئې په دروغه ګنړل | دادتولوخلقودپاره یوښکاره بیان دې	
وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿١٣٨﴾ وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنتُمُ	
| اوهدایت دې | اونصیحت دې | دپاره دپرهیزګارانو | اوهمت مه بائیلئ | اوغم مه کوئی | اوهم تاسو	
اوپرهیزګارودپاره هدایت او نصیحت دې | اوهمت مه بائیلئ | .....او غم مه کوئ | .....هم تاسو به	
الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٣٩﴾ إِن يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ	
به غالب یئ | که یئ تاسو | مومنان | که اورسیږی تاسوته | زخم | نو رسیدلې دې | قوم (کفار) ته (هم)	
غالب کیږئ | که چرې تاسومومنان یئ | که (نن) تاسوزخمی شوی یئ | نوبیشکه ستاسونه وړاندې نورخلق	
قَرْحٌ مِّثْلُهُ ۚ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ ۚ	
| زخم | پشان دهغې | اودا ورځې (دزمانې دی) | چه مونږ ئې اړوو راړوو | په مینځ دخلقو کښې	
هم ستاسوپشان زخمی شوی وو | ..... اوداخودزمانې ورځی دی چې مونږ ئې دخلقومینځ کښې اړورارو	
وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ	
اودپاره ددې چه معلوم کړی الله تعالی | هغه کسان | چه ایمان ئې راوړې دې | اوبل (دا) چه اونیسی |	
اودا (تکلیف) تاسوته ځکه اورسیدو | چې الله پاک ربنتونې مسلمانان ښکاره کړی	
مِنكُمْ شُهَدَاءَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿١٤٠﴾ وَلِيُمَحِّصَ	
ستاسونه | شهیدان (دحق ګواهان) | اوالله تعالی | نه خوښوی | ظالمان خلق | اوبل (دا) چه جداکړی	
اوپه تاسو کښې شهیدان اوشی | . اوالله پاک ظالمان خلق نه خوښوی | او په تاسو کښې جدا کړی	

(١) احمد: ١٦٥/٢، وسنده حسن)-

Scanned with Ca

اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ۝ اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا
الله تعالی | هغه کسان | چه مومنان دی | اوهلاک کړی کافران | آیاګمان کوئی تاسو | چه داخل به شئ تاسو
کوم چه خالص مسلمانان دی | اودهغوئ په لاس کافران هلاک کړی | آیا تاسو ګمان کوئ چې تاسو به
الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ
| جنت ته | او لامعلوم کړی نه دی الله تعالی | هغه کسان | چه جهاد ئې کړې دې | ستاسونه |
(اوچ په اوچه) جنت ته داخل شئ | حال دا چه تراوسه پورې الله هغه خلق نه دی ښکاره کړی چه په تاسو
وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ۝ وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ
اولانه دی معلوم کړی | الله تعالی صابران | او په تحقیق سره | وئ تاسو | چه آرزو به موکوله | دمرګ
کښې مجاهدین دی او هغه خلق چه صبر کونکی دی | اوتاسو خوبه په هغه وخت کښې دمرګ تمنا کوله
مِنْ قَبْلِ اَنْ تَلْقَوْهُ ص فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ
ورانديې دهغې نه | چه تاسو مخامخ شئ ددغه (مرګ) سره | نواوس اولیدو تاسو هغه | اوحال دادې چه تاسو
کوم وخت کښې چه لاتاسو مرګ لیدلې نه وو | ..... نواوس چې مرګ تاسو ته مخامخ شو
تَنْظُرُوْنَ ۝ ع
| ورته ګورئی |
اوتاسواولیدو

قوله تعالی:: قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ سُنَنٌ

ازمائشونه په ټولو امتونو راغلی دی:- داحد په ورځ اویا مسلمانان شهیدان شوی وو نوالله ﷻ مسلمانانو ته تسلی ورکوی چې ستاسونه ورانديې هم دینداره خلقو نقصان اوچت کړې دې. خو آخر غلبه هم دهغوی ته ملاو شوې وه. که تاسوپه مخکښې واقعاتو باندې یونظر واچوئی نوتاسو باندې به دا راز پرانیستئ شی. قرآن پاک کښې پخوانو امتونو بیان کیږی

قوله تعالی:: هٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝

د قران پاک دري صفتونه:- اودا (قرآن) وعظ او هدایت هم دې. یعنی ستاسو د زړونو هدایت او تاسو لره د ښه اوبدنه آګاه کولو والا دې. مسلمانانو ته دا واقعات یادوی

قوله تعالی:: وَلَا تَهِنُوْا وَلَا تَحْزَنُوْا وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝

مسلمانانو ته تسلی:- او بیا ورته د تسلئ په طور فرمائی چه تاسوددې جنګ په نتیجه کتلو سره بدلیږئ مه او غم مه کوئی ، فتح او نصرت اوغلبه صرف او صرف ستاسو دپاره ده ائې مومنانو. که تاسو زخمی شئ اوستاسو کسان شهیدان شونوتاسو نه مخکښې هم ستاسو دښمن قتل شوې وو. هغوئ هم زخمی شوی وو. دا خوریدونکې سیورنی دې او ښه هغه څوک دی چه د چا انجام غالب وی. او دا مونږ تاسو دپاره لیکلی دی .

قوله تعالی:: وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَآءَ

داکله کله شکست خاص کر جنګ احد کښې په دې وجه وو چه مونږ د صابرانو اوغیر صابرانو امتحان واخلواوکومو چه د مودو راسې د شهادت خواهش کولو هغوئ کامیاب شی او هغوئ خپل ځانونه. اومال د الله ﷻ لار کښې خرچ کړی.

قوله تعالی:: وَلِيُمَحِّصَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَيَمْحَقَ الْكٰفِرِيْنَ ۝

Scanned with Ca

الله ﷻ ظالمان نه خوښوی. داجمله معترضه بیان فرمائی ،دا په دې وجه که دایماندارو څه ګناهونه وی چه هغه لرې شی ګنې د دوی درجات زیات شی.اوپه دې کښې د کافرو ختمول دی. ځکه که دوی غالب شی نوکبر او غرور کښې به راشی اودا د هلاکت او بربادئ اسباب دی. او بیا به دوی بالکل ختم شی.

قوله تعالی:: اَمْ حَسِبْتُمْ اَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جٰهَدُوْا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصّٰبِرِيْنَ ۝

ددې ، تکلیفونواوازمیښتونو نه بغیر هیڅوك جنت ته نشی تلئ. لکه څنګه چه سورة بقره کښې ذکر دې چه تاسو ته معلومه ده چه ستاسونه مخکښې خلقو باندې هم امتحانونه راغلې وو د هغه په شان به په تاسو باندې هم راشی اوتاسو جنت ته لاړشئ.الخ. دابه اونشی.او بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿الٓمّٓ ۝ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ يُّتْرَكُوْٓا اَنْ يَّقُوْلُوْٓا اٰمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُوْنَ ۝﴾ یعنی آیا تاسو خلق دا ګمان کوئی چه مونږ صرف د دوی په قول باندې پریږدی چه دوی وائی چه مونږ ایمان راوړې دې او په دوی باندې به آزمیښت اونکړې شی . دلته هم دا فرمائی چه ترکومې پورې صبر کولو والا معلوم نکړې شی یعنی دنیا والو ته ظاهر نشی نه ترهغه به جنت ته داخل نشی .

قوله تعالی:: وَلَقَدْ كُنْتُمْ تَمَنَّوْنَ الْمَوْتَ مِنْ قَبْلِ اَنْ تَلْقَوْهُ ۖ

بیا فرمائی چه تاسو خو ددې نه مخکښې دداسې موقعو خواهش مند وې چه تاسو خپل صبر او مضبوطی او استقامت الله ﷻ ته اوښائی او د الله ﷻ لار کښې شهادت اومومئ. اوس تاسو ته مونږ موقع درکړه تاسو اوس خپله ثابت قدمی او العزمی اوښائی.

حدیث مبارك کښې دی چه د دښمن د ملاقات خواهش مه کوئی د الله ﷻ نه د غالب کیدو اوعافیت دعا کوئی او کله چه تاسو میدان ته کوز شئ نو بیا د اوسپنې په شان کلك شئ او صبر سره ثابت قدم اوسئ اوپوهه شئ چه جنت د تورو د سیورو لاندې دې .

قوله تعالی:: فَقَدْ رَاَيْتُمُوْهُ وَاَنْتُمْ تَنْظُرُوْنَ ۝

بیا فرمائی چه تاسو خپلو سترګو سره دا منظر اوکتلو چه نیزې چلیږی او توري هم او غشی وریږی ، او ډیر خراب جنګ روان دې ، هر طرفته لاشونه پراته دی. (١)

وَمَا مُحَمَّدٌ	اِلَّا	رَسُوْلٌ ۚ	قَدْ خَلَتْ	مِنْ قَبْلِهِ	الرُّسُلُ ؕ
اونه دې محمد ﷺ	مګر	یورسول دې	تیرشوی دی	مخکښې دهغه نه	رسولان
او محمد ﷺ نورځه نه دې خو بس یو رسول دې ادده نه مخکښې هم رسولان تیرشوی دی					
اَفَاۡئِنْ مَّاتَ	اَوْ قُتِلَ	انْقَلَبْتُمْ	عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ ؕ	وَمَنْ يَّنْقَلِبْ	
ایانوکه مړشی هغه	یا اووژلې شی	نوتاسوبه واپس ځئ	په پوندو خپلو باندې شاته	اوهغه څوك چه واپس لاړو		
نوکه دې مړشی یاقتل کړې شی	نوایاتاسوبه په خپلو پوندو(داسلام نه) بیرته ګرځئ	او (یادساتئ)څوك			
عَلٰى عَقِبَيْهِ	فَلَنْ يَّضُرَّ اللّٰهَ	شَيْـًٔا ؕ	وَسَيَجْزِى اللّٰهُ		
په پوندو خپلو (شاته)| نوهرګز به نقصان اونه رسوی الله ته |هیڅ څه|| و زر به بدله ورکړی الله			
چې په پوندو بیرته اوګرځی	نوهغه الله ته هیڅ نقصان نشی رسولې	اوالله به شکرګذارو ته ډیر			
الشّٰكِرِيْنَ ۝	وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ	اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ	كِتٰبًا	مُّؤَجَّلًا ؕ	
|شکرکونکو ته| اونشته یو نفس لره| چه مړشی |مګر |په حکم دالله	چه لیکلې شوې دې|په نیټه سره			
ډیر اجر ورکوی	هیڅ ژوندې دالله پاک دحکم نه بغیر نشی مړکیدې	مګریوه نیټه لیکلې شوې ده			

(١)صحیح بخاری کتاب الجهاد باب کان النبی ﷺ اذا لم یقاتل فی اول النهار ...: ٢٩٦٦، صحیح مسلم:١٧٤١، ابوداود: ٢٦٣١)

Scanned with Ca

وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْيَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ يُّرِدْ

او څوک چه غواړی | ثواب ددنیا | مونږ به ورکړو هغه ته | دهغې دنیا نه | اوڅوک | چه غواړی |

اوڅوک چې دنیاوی بدله غواړی | مونږ ورته په دنیا کښې بدله ورکوو | ..... او څوک چې

ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ؕ وَسَنَجْزِي الشّٰكِرِيْنَ ۝

ثواب دآخرت | مونږ به ورکړو هغه ته | دهغه آخرت نه | او زربه ورکړو مونږ بدله | شکرګزارو ته |

دآخرت دبدلې اراده لری | نو هغه ته به (په دنیا او) آخرت کښې بدله ورکوو | اوشکر کونکوته به ډیراجرورکوو

وَكَاَيِّنْ مِّنْ نَّبِيٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّيُّوْنَ كَثِيْرٌ ۚ

او ډیر (تیرشوی دی) | دپیغمبرانو نه | چه شریک جنګیدلی وو | دهغه سره | خدا پرست خلق | ډیر |

اوددې نه وړاندې ډیرپیغمبران وو | چې دهغوی په ملګرتیا کښې ډیرو الله والاکسانو جنګونه کړی وو

فَمَا وَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

نونه همت بائیللي وو هغوی | دوجې د مصیبتونونه | چه رسیدلی وو هغوی ته | په لاردالله کښې |

خو نه هغوی د هغه مصیبتونو د وجې چه دالله په لار کښې ورته رسیدلی وو بزدله شوی وو |

وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ

اونه ئې کمزوری ښکاره کړی وه | اونه ئې سرتیټ کړی وو (باطل ته) | اوالله تعالی خوښوی |

اونه کمزوری شوی وو. | ..... اونه ئې باطل ته سرتیټ کړې وو | او الله تعالی

الصّٰبِرِيْنَ ۝ وَمَا كَانَ قَوْلَهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا رَبَّنَا

داسې صابران خلق | اونه وه | وینا (دعا د هغوئی | مګر دا وه | چه وئیل به ئې | ائې ربه زمونږ |

صبرکونکی خلق خوښوی | (بلکه په هغه وخت کښې به) دهغوی خودا دعا وه چې ائې زمونږ ربه

اغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَاِسْرَافَنَا فِيْٓ اَمْرِنَا وَثَبِّتْ

معافي اوکړې مونږ ته | ګناهونه زمونږ | اودحد نه اوړیدل زمونږ | په کار زمونږ کښې | اومضبوط کړې

زمونږ ګناهونه معاف کړه | ..... اوزمونږ نه چې کوم زیاتي شوي دي هغه راته معاف کړه | او (د دشمن

اَقْدَامَنَا وَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝ فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ

|قدمونه زمونږ | اومدد اوکړې مونږ سره | په قوم کافرباندې | انو ورکړو الله تعالی هغوی ته

په مقابله کښې) زمونږ قدمونه مضبوط کړه | اودکافروپه مقابله کښې مونږته فتح راکړه | انوالله هغوی ته

ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

|ثواب ددنیا | اوښه ثواب | داخرت | اوالله خوښوی | داسې نیکان خلق |

د دنیا بدله ورکړه | اوداخرت بهترینه بدله ئې هم ورکړه | ..... اوالله نیکان خلق خوښوی

قوله تعالی: وَمَا مُحَمَّدٌ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ

د نبی کریم ﷺ د وفات یا قتل په صورت کښې څه کول دی؟:- داحد میدان کښې مسلمانانو ته شکست هم اوشو. اودوی کښې ډیر قتل هم اوشو. په هغه ورځ شیطان دامشهوره کړه چه محمد ﷺ هم شهید شو. اوابن قمیه کافرمشرکانو ته لاړواودا ئې مشهور کړه چه ما محمد ﷺ شهید کړو او اصل کښې دا یو

افـواه وه. اوددې سړی دا قـول بالکـل غلـط وو.ده پـه محمـد ﷺ باندې حملـه کړې وه خـو دې سـره د محمد ﷺ مخ مبارك زخمی شوې وو بله څه خبره نه وه. ددې غلطې خبرې تشهیر د مسلمانانو حوصلې پست کړې.او دجنګ نه ئې زړه مور شو او په تیښته شو. دې باره کښې دا آیت نازل شو چه د مخکښې نبیانو په شان دا هم یو نبی دې .کیدیشی چه په میدان جنګ کښې قتل شی.خودې سره به د الله ﷻ دین نه ختمیږی.

یو روایت کښې دی چه یو مهاجر اوکتل چه یو انصاری جنګ احد کښې د زخمونو دلاسه په زمکه پریوتلو.اووینه او ښاوره کښې لت پت شو. ده ته اووئیلې شو چه تاته هم معلومه ده چه رسول الله ﷺ قتل شوې دې.ده اووئیل که دا صحیح دی نو خپل کار ئې اوکړو (یعنی د الله پیغام ئې اورسولو) اوس د دوی په دین باندې ټول قربان شم. دې باره کښې دا آیت نازل شو(١)،

قوله تعالی:: اَفَاۡئِنۡ مَّاتَ اَوۡقُتِلَ انۡقَلَبۡتُمۡ عَلٰۤی اَعۡقَابِکُمۡ ۚ

بیا فرمانی چه د محمد ﷺ قتل څه داسې څیز نه دې چه تاسو دالله ﷻ د دین نه واړوئی . او داسې کولو والا به د الله ﷻ ددین هیڅ اونکړی،الله ﷻ به هغه خلقو ته جزائې خیر ورکړی چه د هغه ذات په اطاعت باندې کلك ولاړ وی.اود هغـه دیـن سره مـددکوی.او د هغـه درسـول ﷺ تابعـداری کـوی.اودې کښې مضبوط ولاړ وی.که رسول ژوندې وی او که نه.

د نبی کریم ﷺ په وفات د ابوبکر ﷺ تقریر:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه د رسول الله ﷺ د وفات خبرآوریدوسره ابوبکرصدیق ﷺ په آس باندې سور شو اومسجد ته ئې تشریف یوړو اودخلقو دې حالت کتلوسره دعائشه ﷺ کور ته راغلو،دلته محمد ﷺ باندې څادر غوړولې شوې وو.ابوبکر صدیق ﷺ د څادر پلو اونیولو او د دوی د مخ مبارك نه ئې څادر لرې کړو او ناګاهانه ئې د رسول الله ﷺ د مخ مبارك نه بوسه واخستله او په ژړه کښې ئې اوفرمائیل چه ځما مور پلار دې په تا باندې قربان وی ، په الله ﷻ قسم په تاسو به دوه ځله مرګ رانشی چه کوم مرګ تاسو دپاره لیکلې شوې دې هغه راغلو. (٢)

دې نه پس بیا مسجد ته راغلل او وې لیدلوچه عمرفاروق ﷺ خطبه ورکوی او فرمائیل چه تاسو خاموش شئ. هغوئ چپ کولو نه پس دوی اوفرمائیل چه کوم سړی د محمد عبادت کولو نو هغه دې پوهه شی چه محمد ﷺ وفات شو. اوچه چا د الله ﷻ عبادت کولو نو هغه دې خوشحاله وی چه الله ﷻ ژوندې دې او هغه ته مرګ نه راځی. بیا ابوبکرصدیق ﷺ دا آیت تلاوت اوفرمائیلو.خلقوته داسې معلوم شو چه ګنې دا آیت اوس نازل شو. بیا خو د هر سړی په ژبه هم دا آیت جاری شو او خلقو یقین اوکړو چه رسول الله ﷺ وفات شو ،د ابوبکر صدیق ﷺ نه ئې چه دا آیت واوریدو نو عمرفاروق ﷺ اومنل او هغوئ ته یقین اوشو چه رسول الله ﷺ د دې فانی دنیا نه لاړو(٣).

دحضرت علی ﷺ قیمتی خبرې:- علی ﷺ به په ژوند کښې فرمائیل چه نه مونږ د محمد ﷺ په مرګ باندې مرتد شواو نه د دوی په شهادت باندې . په الله ﷻ قسم که محمد ﷺ وفات شی نو مونږ به په دې دین باندې اوسو چه په کوم رسول الله ﷺ شهید شو. په الله ﷻ مې دې قسم وی چه څه خو د رسول الله ﷺ رور یم ،د رسول الله ﷺ ولی یم،د رسول الله ﷺ د تره خوئې یم، اود رسول الله ﷺ وارث یم او ځما نه به زیات حقدارد رسول الله ﷺ څوك وی؟

قوله تعالی:: وَمَا كَانَ لِنَفۡسٍ اَنۡ تَمُوۡتَ اِلَّا بِاِذۡنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا ؕ

د مرګ وخت مقرر دې :- بیا ارشاد دې چه هر سړی به دالله تعالی مقدر سره خپله موده پوره کوی او بیا به مری.لکه بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿ وَمَا يُعَمَّرُ الخ ﴾ یعنی هیڅ چا ته نه عمر ورکولې شی او نه په

---

١) دلائل النبوة للبيهقي: ٣/٢٤٨)-

٢) صحيح بخاری كتاب حواله سابق: ٤٤٥٤)-

٣) الطبرانی :)-

Scanned with Ca

عمر کښې څه کمي کولې شی. مګر ټول په کتاب الله کښې موجود دی. بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿هُوَالَّذِیْ خَلَقَكُمْ مِّنْ تُرَابٍ﴾ یعنی الله ﷻ تاسو د خاورې نه پیدا کړئی بیا نې وخت پوره شو او مرګ نې مقرر کړو.

قوله تعالی:: فَمَاوَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا

د بزدلئ ممانعت:- دې آیت مبارک کښې بزدله خلقو ته دشجاعت رغبت ورکړې شوې دې. او دالله ﷻ لار کښې د جهاد کولو شوق پیدا کولو بیان کیږی. اودابیانیږی چه دځوانمردنی په وجه عمر نه کمیږی او روستو تلوسره هم عمر نه کمیږی. مرګ خو په خپل وخت مقرر دې. اګر که تاسو ځوانمردنی او شجاعت او نامردی اوښائ.

په دریاب د صحابوؓ اسونه ورګډیدل:- حجر بن عدی رضی الله عنه چه کله د دښمن مقابلې ته تلو او دریائ دجله ته راورسیدو او د اسلام لښکر اودریدو نو دوی ددې آیت تلاوت کولو اوفرمائیل چه هیڅوک بې اجله نه مری، راځئ هم په دې دریاب باندې اسونه وروڅوو. دې فرمائیلو سره دوی خپل آس په دریاب وروڅولودې کتلو سره نورو خلقوهم خپل ځناور په اوبووروڅول. دښمن کښې وینه اوچه شوه. او په هغه هیبت راغلو او وې وئیل چه دا خو لیونی خلق دی، دوی خو د اوبو د چپو نه هم نه ویریږی، تښتئ تښتئ نو ټول په ټوله اوتښتیدل. (١)

قوله تعالی:: وَمَنْ یُّرِدْ ثَوَابَ الدُّنْیَا نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ وَمَنْ یُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا ۚ

د دنیا او د آخرت طلبګار:- بیا ارشاد کیږی چه د چا عمل صرف ددنیا دپاره وی نو دې کښې چه څومره ده دپاره لیکلې شوې وی هغه به ملاویږی. خو په آخرت کښې به هغه خالی لاس وی. او چه د چا مقصد صرف آخرت وی نو هغوئ ته به آخرت هم ملاویږی. او په دنیاکښې به ورته هم خپله حصه ملاویږی. لکه بل ځائې کښې چې فرمائی چه ﴿مَنْ كَانَ یُرِیْدُ الْعَاجِلَةَ الخ﴾ یعنی څوک چه د آخرت غوښتنه کوی نو مونږ هغه زیاتوؤ او د دنیا د غوښتنې والو ته مونږ دنیا ورکوؤ. لیکن آخرت کښې د هغوی هیڅ حصه نشته. او بل ځائې ارشاد دې چه ﴿مَنْ كَانَ یُرِیْدُ الْعَاجِلَةَ الخ﴾ یعنی چه څوک صرف د دنیاطلب کوی نو مونږ چې هغوی ته څه غواړو. هغه ورکوو. بیا هغه جهنمی جوړیږی او ذلت اورسوائی سره مخامخ کیږی. او څوک چې د آخرت غوښتنه کوی او کوشش کوی او ایمان ورسره هم وی نو د دوی کوشش الله ﷻ ته مقبول دې. هم د دې وجې فرمائی چه مونږ شکرګزارو ته ښه بدله ورکوو.

قوله تعالی:: وَكَاَیِّنْ مِّنْ نَّبِیٍّ قٰتَلَ ۙ مَعَهٗ رِبِّیُّوْنَ كَثِیْرٌ ۚ

د ربیون معانی:- د ﴿رِبِّیُّوْنَ﴾ ډیری معانی دی. لکه علماء کرام، ابرار، متقیان، عابدان، زاهدان، تابع فرمان وغیره وغیره. (٢) نو قرآن پاک د مصیبت په وخت کښې د هغوی عا نقل کوی.

قوله تعالی:: فَمَاوَهَنُوْا لِمَآ اَصَابَهُمْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَمَا ضَعُفُوْا وَمَا اسْتَكَانُوْا ۭ

د ایت په مفهوم کښې دوه اقوال:- ① بیا الله ﷻ د احد مجاهدینوته خطاب کوی او د دې نه مخکښې هم ډیرومجاهدینو خپلو جماعتونو سره دښمنانولښکرو سره جنګ کړې وو. اوستاسو پشان نې دالله ﷻ لار کښې تکلیفونه برداشت کړی وو. بیا هم د هغوی زړونه مضبوط او صابران اوشکرګزارو. او سست اوضعیف نه شو. او دصبر په بدله کښې دوی د الله ﷻ محبت حاصل کړو ② یومعنی دا هم بیان شوې ده چه ائې د احد مجاهدینوا تاسو په دې اوریدو چه رسول الله ﷺ شهید شو ولې بې همته کیږی؟ او د کفر په مقابله کښې ولې ویریږئی؟ حالانکه ستاسونه مخکښې خلق هم د نبیانوعلیهم السلام په شهادت باندې نه وو ویریدلی او نه نې همت بیللې وو. بلکه تیزئی سره اوجنګیدل دې دومره مصیبت

---

(١) ابن ابی حاتم: ٢/٥٨٤-

(٢) الطبری: ٧/٢٦٦، ابن ابی حاتم: ٢/٥٨٧-

Scanned with Ca

هم هغوی بې همته کړی نه وو،او د هغوی زړونه نې مات کړی نه وو.بیا د رسول الله ﷺ په شهادت باندې ولې دومره ویریږئ .

قوله تعالی:: فَاٰتٰىهُمُ اللّٰهُ ثَوَابَ الدُّنْيَا وَحُسْنَ ثَوَابِ الْاٰخِرَةِ ؕ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

د دنیا اواخرت بدله :- بیا فرمائی چه هغوی ته د دنیا ثواب نصر او مدد ملاوشو. اود آخرت بنیګړه او نیکی هم دوی سره جمع شوه.دا محسنین دالله ﷻ نیازبین بندګان دی .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِنْ	تُطِيْعُوا	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا
ائې هغه کسانو| چه ایمان مو راوړې دې| که چرې |تاسو خبره ا ومنله| دهغه کسانو|چه د کفر لارنې خپله کړې ده|				
ائې د ایمان خاوندانو!	..... که تاسو دهغه کسانو تابعداری اوکړه چا چې کفر اختیار کړې دې				
يَرُدُّوْكُمْ	عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ	فَتَنْقَلِبُوْا	خٰسِرِيْنَ ۝		
نو واپس به اوګرځوی تاسو| په پوندو ستاسو |انواوبه ګرځئ تاسو| نقصان موندونکی|					
نوتاسوبه په خپلو پوندو (کفر طرفته) واپس کړی	اودنقصان کونکونه به اوګرځئ				
بَلِ اللّٰهُ	مَوْلٰىكُمْ ۚ	وَهُوَ	خَيْرُ	النّٰصِرِيْنَ ۝	سَنُلْقِيْ	فِيْ قُلُوْبِ
بلکه الله تعالی دې|مدد ګار ستاسو| اوهغه| بهتر |مدد کونکې دې| زړبه اوغورزوؤ مونږ|په زړونو|				
(ددوئ خبره مه آوری)بلکه الله پاک ستاسوملګرې دې	اوهغه ډیرښه مددګار دې	.....مونږ خو				
الَّذِيْنَ	كَفَرُوا	الرُّعْبَ	بِمَآ	اَشْرَكُوْا
دهغه کسانو کښې |چه انکار ئې کړې دې دحق نه |رعب (یره)| په سبب دهغې|چه شریک کړې دې هغوئ				
دکافروپه زړونو کښې رعب اچولې دې	ځکه چې دوئ دالله پاک سره د اسې شریک جوړ کړې دې			
بِاللّٰهِ	مَا	لَمْ يُنَزِّلْ	بِهٖ	سُلْطٰنًا ۚ	وَمَاْوٰىهُمُ	النَّارُ ؕ
|دالله سره| هغه څیز	چه نه دې نازل کړې الله	په شریک کولو دهغې| څه دلیل	اوخائې د هغوئ| اور دې				
چې دهغې (د جواز) په باره کښې الله پاک هیڅ نه دې نازل کړې	اود دوئ خائې دوزخ دې				
وَبِئْسَ مَثْوَى الظّٰلِمِيْنَ ۝	وَلَقَدْ	صَدَقَكُمُ اللّٰهُ	وَعْدَهٗٓ	اِذْ
|اوبد خائې دې دظالمانو	او په تحقیق سره| ربښتیا کړه تاسوسره الله |وعده خپله| کله چه				
اودا ډیربد خائې دې چې داظالمان به په کښې اوسیږی	اوالله تاسوسره خپله وعده ربښتیا کړه	څه وخت				
تَحُسُّوْنَهُمْ	بِاِذْنِهٖ ۚ	حَتّٰٓى	اِذَا فَشِلْتُمْ	وَتَنَازَعْتُمْ
اووژل تاسو هغوئ| په حکم دهغه(یعنی الله) سره|تردې پورې| چه بې زړۀ شوئ تاسو|اوجګړه اوکړه تاسو				
چه د(جنګ په اول کښې)تاسو هغوئ دالله په حکم سره بې دریغه قتل کړل| خوچې تاسو بې زړه شوې				
فِي الْاَمْرِ	وَعَصَيْتُمْ	مِّنْۢ بَعْدِ مَآ	اَرٰىكُمْ
په کار خپل کښې	اونافرمانی اوکړه تاسو	روستو دهغې نه	چه اوخودلو تاسو ته (الله تعالی)				
اوپه خپل کار کښې موجګړه شروع کړه| (اودپیغبر)دحکم نافرمانی موشروع کړه| څه وخت چې				

Scanned with Ca

مَا تُحِبُّوْنَ ط	مِنْكُمْ	مَّنْ	يُّرِيْدُ	الدُّنْيَا	وَمِنْكُمْ
هغه څوک چه خوښوؤ تاسو	بعضي ستاسونه	هغه وؤ	چه غوښتله نې	دنيا	اوبعضي ستاسونه
الله پاک تاسو ته ستاسو	دخوښي څيزاوخودلو	تاسو کښي بعضي خلق ددنيا طلب کار وو			او بعضي
مَّنْ	يُّرِيْدُ	الْاٰخِرَةَ ج	ثُمَّ صَرَفَكُمْ		عَنْهُمْ
هغه وو	چه غوښتل نې	آخرت	بيا الله تعالى په شاکړئى تاسو		دهغوئ (کافرانو) نه
دآخرت طلب کار وو	نو تاسو ئې دکافرو (تعاقب) نه واړولئ				
لِيَبْتَلِيَكُمْ ج	وَلَقَدْ عَفَا	عَنْكُمْ ط	وَاللّٰهُ	ذُوْ فَضْلٍ	
دپاره ددې چه ازمائش اوکړى په تاسو	او يقينا معافى اوکړه الله	تاسوته	اوالله	خاوند دفضل دې	
چې په تاسو امتحان اوکړى	اوپه دې کښې ئې هم تاسو ته معافى اوکړه		اوالله په مؤمنانو باندې		
عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ ۝	اِذْ	تُصْعِدُوْنَ	وَلَا تَلْوٗنَ	عَلٰٓى اَحَدٍ	وَّالرَّسُوْلُ
په مومنانو باندې	ياد کړئى کله چه	منډې وهلې تاسو	او نه موکتل په شا	هيڅاته	اورسول
ډير مهربان دې	(هغه وخت) ياد کړئ چې تاسو مخ په بره روان وئ		اوهيڅا لاندې نه کتل	اوپيغمبر درته	
يَدْعُوْكُمْ	فِيْٓ اُخْرٰىكُمْ	فَاَثَابَكُمْ		غَمًّا بِغَمٍّ	
رابللئ تاسو	دروستو ستاسونه	نوبدله درکړه هغه تاسوته		دغم دپاسه دبل غم	
روستونه آوازونه درکول	نوددې عمل بدله داشوه چې دغم دپاسه غم ئې درکړو				
لِّكَيْلَا تَحْزَنُوْا	عَلٰى مَا	فَاتَكُمْ	وَلَا مَآ		
دپاره ددې چه تاسواونه کړئى خفګان	په هغه څه	چه لاړ شى دلاس ستاسونه	اونه په هغه مصيبت		
دې دپاره چې ستاسودلاسونو نه کومه فتح لاړه يادرته څه تکليف دراورسى نو چې تاسو په هغې غمژن نشئ					
اَصَابَكُمْ ط	وَاللّٰهُ	خَبِيْرٌۢ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ ۝	
چه اورسيدو تاسوته	او الله تعالى	خبردار دې	په هغه څه	چه تاسوئ	
.....	او الله پاک ستاسو په زړونو خبردار دې				

قوله تعالى: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تُطِيْعُوا الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَرُدُّوْكُمْ عَلٰٓى اَعْقَابِكُمْ

دکافرانو د تابعدارئ نه ممانعت: الله ﷻ خپل ايمانداربندګان منع کوى چه دکافرو اومنافقانو خبره مه منئ. او وائى که چرې تاسو ددوى اومنل نو تاسو باندې به دنيا اوآخرت کښې ذلت وى. دوى خو دا غواړى چه تاسو د اسلام نه واړوى. بيا فرمائى چه ماته مولا او مددګار اووائې اوما سره دوستئ او ماباندې بهروسه ساتئ او خما نه مدد غواړئى. بيا فرمائى چه ددې شريرانو په زړونو کښې د دوى دکفر په وجه ويره او خوف دې.

د امت محمدى پنځه خصوصيات: بخارى شريف او مسلم شريف کښې روايت دې چه پنځه خبرې دى چه خمانه مخکښې هيڅ يو نبى ته نه دى ورکړې شوى ① خما مدد په رعب سره شوې دې د تولې مياشتې لارې پورې ② خما دپاره خمکه جمات او د پاکونکې جوړه شوې ده ③ خما دپاره د غنيمت مال حلال

Scanned with Ca

کړې شوې دې ③ اوماته شفاعت راکړې شو ⑤ هرنبی خپل خپل قوم ته لیږلې شوې وو.اوځما پیدائش ځما نبوت د ټولې دنیا دپاره عام دې.(۱)

د امت محمدی ځلور فضیلتونه:- مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه الله تعالی په ټولو نبیانواوبعضو روایتونوکښې دی چه په ټولو امتونو باندې ماته ځلور فضیلتونه راکړی دی. ① ځه نې دنیاطرفته رسول جوړ کړم او وې لیږلم. ② ما او ځما امت دپاره نې ټوله زمکه جمات اوپاکونکې ګرځولې دې ، چه کوم ځائې کښې دمونځ وخت شی نو ځما امتیان هغه ځائې کښې مونځ کوی ③ ځمادښمن که ځما نه دیو میاشتې په مسافت باندې هم لرې وی الله ﷻ به د هغوئ زړه کښې ځما رعب اچوی. اوهغه به رپیږی. ④ ځما دپاره د غنیمت مال حلال کړې شو. (۲)

اوبل روایت کښې دی چه ځما مدد کړې شویدې په رعب سره او په دښمن باندې . (۳)

د نبی کریم ﷺ پنځه خصوصیات:- د مسند یو روایت کښې دی چه ماته پنځه ځیزونه راکړې شوی دی . ① ځه هر سپین او تور طرفته لیږلې شوې یم.

② ځما دپاره ټوله زمکه او اودس دپاره جوړه شوې ده .③ ځما دپاره د غینمت مال حلال کړې شوې دې.مخکښې دا حلال نه وو.④ ځما مدد رعب سره کړې شوې دې د ټولې میاشتې په مسافت .⑤ ماته شفاعت راکړې شو. ټولونبیانوعلیهم السلام شفاعت اوغوښتلو خو ما خپل شفاعت دخپل امت دهغه خلقو دپاره پټ ایښودې دې چه هغوئ شرك نه وی کړې .(٤)

ابن عباس ﷺ فرمائی چه الله ﷻ دابوسفیان په زړه کښې رعب واچولو او هغه د جنګ نه روستو شو(٥)

دجنګ احد واقعات :- بیا ارشاد فرمائی چه الله ﷻ خپله وعده پوره کړه او ستاسو مدد نې او کړو. ددې نه هم دا استدلال کیدیشی چه دا وعده د احد د ورځې وه. د دریو زرو د دښمن لښکر وو. خومقابلو راتلو سره دهغوئ حوصلې پست شوې او مسلمانانو ته فتح حاصله شوه. خو بیا د غشو والو د نافرمانئ په وجه او د بعضې حضراتو د کم همتئ په وجه هغه مشروط وعده روستوکړې شوه.

قوله تعالی::وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللّٰهُ وَعْدَهٗٓ اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ

بیا فرمائی چه تاسو هغه خپلولاسونو سره پریکولو. د ورځې په شروع کښې الله تعالی تاسو غالب کړئی لیکن تاسوبزدلی نه کار واخستو اودنبی نافرمانی مو اوکړه.اوخپلو کښې مواختلاف اوکړو. حالانکه الله ﷻ تاسوته ستاسو د رغبت ځیز درکړې وو.یعنی مسلمانان صفا غالب شوی وو. دغینمت مال ستاسو وړاندې وو.اوکفار په تیښته روان وو. تاسو کښې بعضو د د نیا طلب او دکافرو هزیمت ته کتلو سره د نبی ﷺ د فرمان خیال اونه ساتلو او غنیمت پسې ئې منډه کړه اګر چه بعضې نیك خلق د آخرت طلبګارخلق هم وو.خو ددې نافرمانئ په وجه کافرو ته بیا کامیابی ملاو شوه .او یو ځل بیا ستاسو آزمېښت اشو. غالب شوی وې خوبیا مغلوب شوئی. د فتح نه پس شکست اوشو. لیکن بیا هم الله ﷻ ستاسودا جرم معاف کړو.ځکه چه هغه ته معلومه ده چه تاسو دهغوئ نه په تعداد اواسبابو کښې کم وئ .دخطا معاف کیدل هم (وَعَفَا عَنْكُمْ) کښې داخل دی. اودا مطلب هم دې چه د دې لږ شان جنګ نه پس اودځه بزرګانود شهادت نه پس هغه ستاسونه خپل آزمېښت اوچت کړو.او باقی نې معاف کړل. الله ﷻ ایماندارخلقو باندې لطف وکرم او رحم کوی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التیمم باب رقم :۱۱ ح/۳۳۵، صحیح مسلم: ۵۲۱، نسائی : ٤۳۲)-

(۲) احمد: ۲٤۸/۵، ترمذی : کتاب التفسیر باب ماجاء فی الغنیمة : ۱۵۵۳، مختصرا وهو حسن)-

(۳) صحیح مسلم کتاب المساجد باب المساجد ومواضع الصلاة : ۵۳۲)-

(٤) احمد: ٤۱٦/٤،)-

(٥) ابن ابی حاتم : ۵۹۸/۲،)-

Scanned with Ca

دجنګ احد واقعه د عبدالله بن عباس ﷺ روایت:-دعبدالله بن عباس ﷺ نه مروی دی چه د رسول الله ﷺ مذ ځنګه په احد کښې اوشو دا شان چرته نه وو شوې . دې باره کښې د الله ﷻ ارشاد دې چه الله ﷻ خپله وعده ربښتیا کړه خوبیا ستاسود بعضو کارونو په وجه معامله بدله د دې خلاف شوه. بعضو خلقو دنیا خوښه کړه اودرسول الله ﷺ نافرمانی ئې اوکړه. یعنی رسول الله ﷺ بعضې تیراندازدغر په یو دره باندې مقرر کړی وو او ورته ئې فرمائیلی ووچه د دې ځائې نه د دښمن نګرانی کوئی هسې نه چه هغوئ مونږ باندې د شا نه حمله اوکړی. که تاسو اوګورئی چه مونږ شکست اوخوړو نوتاسو دخپل ځائې نه مه خوزئی . اوکه تاسو اوګورئی چه مونږ غالب شو نو بیا هم تاسو د غنیمت مال جمع کولو دپاره مه جمع کیږئی.هرکله چه رسول الله ﷺ غالب شو نو دې تیراندازو د رسول الله ﷺ د حکم خلاف اوکړو او خپل ځائې ئې پریښودو اومسلمانانو لره راغلل او د غنیمت مال ئې جمع کول شروع کړل. د صفونو خیال ئې اونه ساتلو. دره ئې خالی پریښوده. مشرکانو تیښیته پریښودله .او غور فکر کولو نه پس ئې په دې ځائې حمله اوکړه. چه کوم مسلمانان تر اوسه پورې هغه ځائې کښې وو هغوئ شهیدان شول. او اوس کافرانوپه مسلمانانو باندې د شا نه حمله اوکړه او دوی ته خبر نه وو. د مسلمانانو حوصلې پست شوې او د ورځې د شروع فتح په شکست کښې بدله شوه. اودا مشهوره شوه چه رسول الله ﷺ هم شهید شو. او جنګ دې رنګ سره د مسلمانانو یقین اوشو. لږ وخت پس چه کله د مسلمانانو نظرونه د رسول الله ﷺ په مخ مبارک پریوتلو نو خپل ټول مصیبتونه او تکلیفونه تږې هیر شو. اودخوشحالئ نه رسول الله ﷺ طرفته په منډه شو.رسول الله ﷺ دې طرفته راتلل او فرمائیل ئې چه دالله ﷻ غضب دې وی په هغه خلقو چه کومود الله د رسول ﷺ مخ مبارک په وینو ککړکړه. د دوی هیڅ حق نه وو چه په مونږ دا شان غالب شو.لږ وخت پس مونږ واوریدل چه ابوسفیان غر سره ولاړ دې او وائی چه (اعل هبل اعل هبل) د هبل بت نوم دې اوچت وی ، د هبل بت نوم دې اوچت وی. ابوبکر صدیق ﷺ چرته دې ؟ عمر فاروق ﷺ چرته دې ؟ عمرفاروق ﷺ تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! دوی ته جواب ورکړم ؟ نو رسول الله ﷺ عمر فاروق ﷺ ته اوفرمائیل چې ته داسې جواب ورکړه چه (الله اعلی واجل الله واعلی اجل) الله ﷻ ډیر اوچت دې او جلال والا دې. هغه تپوس اوکړو چه محمد ﷺ چرته دې ؟ ابوبکر ﷺ چرته دې ؟ عمر چرته دې ؟ دوی اوفرمائیل چه دا دې رسول الله ﷺ . اودا دې ابوبکر صدیق ﷺ او دا څه عمر فاروق ﷺ یم . ابوسفیان اووئیل چه دا د بدربدله ده او حالت دا رنګ بدلیږی رابدلیږی. د جنګ مثال خو د کوهی د ډول په شان دې .عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه برابر بالکل نه دی ستاسو مقتولان جهنم ته لاړل او څمونږ شهداء جنت ته اورسیدل.ابو سفیان اووئیل که یقینی داسې وی نو مونږ په نقصان کښې یو. واورئی ستاسو په مقتولانو کښې به د بعضو پوزې او غوږونه پریکړې وی.اوداسې خلق به تاسو اووینئ ، دا څمونږ د سردارانو رائې نه وه لیکن مونږ ته دا بد هم نه معلومیږی(۱) داحدیث غریب دې او دا قصه هم عجیبه ده. دا د ابن عباس ﷺ مرسلات دی. هغوئ په دې جنګ کښې شریك نه وو. مستدرك حاكم كښې هم داروایت موجود دې.ابن ابی حاتم او بیهقی په دلائل النبوة کښې دا مروې دې.او صحیح احادیثو کښې ددې بعضې شواهد هم موجود دی .

د ابن مسعود ﷺ په روایت سره د احد د جنګ واقعه:- مسند احمد کښې عبدالله بن مسعود ﷺ فرمانی چه د احد په ورځ ښځې مسلمانانو پسې وې او هغوئ به د زخمیانو مرهم پټی کولې. ماته پوره یقین وو چه نن په مونږ کښې هیڅوك طالب د دنیا نه وو بلکه په هغه وخت کښې که ماته په دې خبره قسم راکړې شوی وونو ما به قسم کړې وو . لیکن قران پاك کښې دا آیت نازل شو چه ﴿مِّنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا﴾ یعنی تاسوکښې بعضې ددنیا طالبان دی. هرکله چه صحابه کرام ﷺ د رسول الله ﷺ خلاف شو او د هغوئ نه

---

(۱) حاکم : ۲۹٦/۲، حاکم دا صحیح ګرزولې دې او ذهبی ددوی موافقت کړې دې ددې حدیث پاک اکثر حصه شواهد دپاره اوګورئی صحیح بخاری ، کتاب الجهاد باب مایکره من التنازع. ۳۰۳۹.

Scanned with Ca

د رسول الله ﷺ نافرمانی اوشوه. نو د دوی قدمونه پست شو. رسول الله ﷺ سره صرف اووه انصار او دوه مهاجرین باقی پاتې شو. هرکله چه مشرکان د رسول الله ﷺ نه گیر چاپیرشول نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ دې په هغه سړی رحم اوکړی چه څوک دا خلق لرې کړی. نویو انصاری پاسیدو او د دې لوڼې ډلې سره ئې یواځې جنگ شروع کړو او شهید شو. بیا کفارو حمله اوکړه. رسول الله ﷺ بیا هم دغه اوفرمائیل. بیا یو انصاری تیار شو او شجاعت سره ئې جنگ اوکړو چه هغوئ ئې مخکښې راتلو ته پرې نښودل . او دې هم شهید شو .تردې چه دا اووه واړه صحابه کرام ﷺ شهیدان شو. الله ﷻ دې د دوی نه راضی شی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه افسوس مونږ خپلو ملگرو سره د انصاف معامله اونکړه. اوس ابو سفیان په چغو اووئیل چه (اعل هبل) دوی اوفرمائیل چه (اللهاعلیواجل) ابو سفیان اووئیل چه (لنا العزي ولاعزي لكم) ځمونږ عزی بت دې ستاسو هېڅ عزی نشته دې . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اووائې چه (الله مولانا والكافرين لامولى لهم) الله ﷻ ځمونږ مولا دې . اودکافرو هیڅوک مولا نشته دې . ابوسفیان اووئیل چه نن ورځ د بدر د بدلې ورځ ده. څه ورځ ځمونږ څه ورځ ستاسو. دا خولاس په لاس سودا ده. د یو بدله کښې یو ده. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بالکل نه ځمونږ شهیدان ژوندی دی. او رزق ورته ملاویږی. او ستاسو مقتولان خو جهنم ته لاړل. بیا ابوسفیان اووئیل چه ستاسو مقتولانو کښې به تاسو گورنی چه د بعضو پوزې او غوږونه پریکړې شوی دی. لیکن ما نه د دې حکم کړې وو نه مې ددې نه منع کړې ده.او زه په دې باندې خفه هم نه یو.او خوشحاله پرې هم نه یم .

د حمزه ﷺ شهادت :- چه وې کتل نو معلومه شوه چه د حمزه ﷺ خیټه ئې شلولې وه او هنده د هغه ځیگر باندې چکونه لگولی وو. خودا ئې تیره کړې نه وه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ناممکن وو چه د حمزه ﷺ د غوښې یو ټکړه هم د هندې خیټې ته ورغلې وه. الله ﷻ د حمزه ﷺ دبدن حصه جهنم کښې اچول نه غوښتل. نو د حمزه ﷺ جنازه ئې خپلې مخې ته کیخوده او په دوی ئې د جنازې مونځ اوکړو. بیا دیو انصاری جنازه راوړې شوه . او هغه د حمزه ﷺ سره کیخودې شوه. او نبی کریم ﷺ بیا د هغه دجنازې مونځ اداکړو. خود حمزه ﷺ جنازه هم هلته وه. دا شان اویا کسان راوړې شو او د حمزه ﷺ اویا ځل جنازه ادا کړې شوه. (مسند). (١)

د ابوسفیان اعلان:- صحیح بخاری شریف کښې دبراء ﷺ نه مروی دی چه د احد په ورځ دې مشرکانو سره ځمونږ جنگ اوشو ، رسول الله ﷺ د تیراندازو یو جماعت بیل یو خانې کښې کینولو. او د دې سرداری ئې عبدالله بن جبیر ﷺ ته اوسپارله او وې فرمائیل که چرې تاسو اوکتل چه مونږ په هغوئ غالب شو نو تاسو د دې خانې نه مه خوزنی او که هغوئ غالب شو نو بیا هم تاسو د دې ځائې نه مه خوزئی. دجنگ شروع کیدو سره د مشرکانو قدمونه پست شو تر دې چه ښځو هم تهبندنه اوچت کړل او غرونو ته لاړې . اوس د تیراندازو جمات غنیمت غنیمت وینا سره لاندې راغلل. اگر چه ددوی امیر دوی ډیر منع کړل .خو هیڅا د دوی اونه منل. نو اوس مشرکانوپه مسلمانانو د شانه حمله اوکړه او اویا صحابه کرام شهیدان شو. ابو سفیان په یو غونډنی باندې اوخوتو.دوی اووئیل چه محمد ﷺ ژوندې دې ؟ آیا ابوبکر صدیق ﷺ ژوندې دې ؟آیا عمرفاروق ﷺ ژوندې دې ؟ خو د رسول الله ﷺ فرمان سره صحابه کرام ﷺ خاموش پاتې شو.نو ابوسفیان خوشالئ نه په ټوپونوشو او وې وئیل چه دا ټول ځمونږ د تورې دلاندې دی ،که چرې ژوندی وې نو ضرور به ئې مونږ ته جواب راکړې وې. دې کښې عمرفاروق ﷺ صبر نه شو او وې فرمائیل چه ائې د الله ﷻ دښمنه ته دروغژن ئې او ا لحمدالله مونږ موجود یو .او الله ﷻ ستاتباهئی او بربادئی دپاره باقی ساتلی یو.بیا هغه خبرې اوشوې چه کومې پورته بیان شوې (٢)

---

(١) احمد: ١/٤٦٣،)-

(٢) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب مات یکره من التنازع : ٣٠٣٩، ابوداود : ٢٦٦٢)-

Scanned with Ca

د حذیفه ﷺ د پلار شهادت:- صحیح بخاری کښې عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه جنګ احد کښې مشرکانو ته هزیمت اوشو او ابلیس آواز اولګولو چه انې د الله ﷻ بندګانو تاسو روستو اوګورئی . روستی جماعتونه په مخکښو باندې جماعتونو غالب شو. حذیفه ﷺ اوکتل چه د مسلمانانو توري ددوی په پلار یمان باندې وریږی. ډیرئې اووئیل چه انې د الله ﷻ بندګانو دا خما پلار دی دا خما پلار یمان ﷺ دی مګر د دوی چا آوریدل .هغه خو شهید شو لیکن حذیفه ﷺ هېڅ اونه وئیل بلکه وې فرمائیل چه الله ﷻ دې تاسو معاف کړی. لیکن د حذیفه ﷺ دا ښیګړه تر آخره پورې دوی سره وه. (١)

د بعضو مسلمانانو په وجه فتح په شکست ګنبې بدلیدل:- سیرت ابن اسحاق کښې دی چه زبیر بن عوام ﷺ فرمانی چه ماپه خپله اوکتل چه مشرکان د مسلمانانو رومبنۍ حملې سره په تیښته شو. تر دې چه د دوی ښځې هنده وغیره تهبندونه اوچت کړل او په تیښته شوې . خودې نه پس چه کله تیراندازو مرکز پریښودو او کافرو پرې د شا نه حمله اوکړه او بل طرفته چا دا اووئیل چه محمد ﷺ شهید شو .نو بیا حمله برعکس شوه ګنی مونږ به د مشرکانو علم بردارو ته رسیدلی وې او بیرغ به د هغوئ دلاس نه پریوتې وې. خو عمره بنت علقمه حارثه ښځې هغه اونیوله . او د قریشو مجمع دلته جمع شوه. (٢)

دانس بن نضر ﷺ شجاعت:-د انس بن مالك ﷺ ترۀ انس بن نضر ﷺ دې کتلو سره عمرفاروق ﷺ او طلحه وغیره ته ورغلل. اووې فرمائیل چه تاسو ولې همتونه اوبائیلل .هغوئ جواب کښې اووئیل چه محمد ﷺ شهید شو.انس ﷺ اوفرمائیل چه بیا تاسو څه کوئی؟دې وینا سره دې د مشرکانو کښې ورداخل شو تردې چه الله ﷻ سره ملاؤ شو.(٣)

دانس بن نضر ﷺ شهادت:- دې د بدر په ورځ جهاد کښې نه وو شامل شوې.نو وعده ئې کړې وه چه بیا که څه موقع راغله نو خپله ځوانمردی به ښایم . دې جنګ احد راغلو. هرکله چه مسلمانانو کښې شور شو نودوی اووئیل چه یاالله څه د مسلمانانو د دې کار نه معذور یم او دمشرکانو دکار نه برئ یم. بیا ئې خپله توره واخسته او مخکښې شو. لار کښې ورسره سعد بن معاذ ﷺ ملاوشو او وې وئیل چه چرته روان ئې؟ وې فرمائیل چه ماته خو د احد دغرنه دجنت خوشبو راځی. نو مشرکانو کښې ورداخل شو او ښه په بهادرئی سره اوجنګیدو تر دې چه شهادت ئې نصیب شو. د اتیاؤ نه زیات زخمونه د تورو د دوی په بدن مبارك باندې وو ،د دوی پیژندګلی نه کیدله .د ګوتوبندونو سره د دوی پیژندګلو اوشوه.(٤)

دحضرت عثمان ﷺ مقام او مرتبه:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه یو حاجی بیت الله شریف کښې یو مجلس اوکتلو اوتپوس ئې اوکړو چه دا څوك دې ؟ خلقو اووئیل چه دا قریشی دی . تپوس ئې اوکړو چه د دوی شیخ څوك دې ؟ جواب ملاؤ شو چه عبدالله ابن عمر ﷺ دې.نو هغه راغلو او وې وئیل چه څه تپوس کول غواړم .عبدالله ﷺ ورته اوفرمائیل چه اوکړه تپوس . ده اووئیل چه ستا دې په بیت الله قسم وی ربنتیا اووایه چه آیاعثمان بن عفان ﷺ د احد په ورځ تښتیدلې وو ؟ دوی جواب کښې اووئیل چه آؤ.هغه اووئیل چه د بدر په ورځ هم دوی غیر حاضر وو.دوی ورته جواب ورکړو چه آؤ ؟وې وئیل چه تاسو ته معلومه ده چه هغه بیعت رضوان کښې هم نه وو. وې فرمائیل چه دا هم صحیح دی . هغه خوشحاله شو اوتکبیر ئې اووئیلو.عبدالله ﷺ ورته اووئیل چه راشه چه څه تاته پوره واقعات اووایم . د احد په تیښته خو الله ﷻ معافی کړې ده. د بدر په ورځ د غیرحاضرئی وجه دا وه چه د دوی په کور کښې د رسول الله ﷺ لور بی بی وه هغه سخته بیماره وه. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته مه راځه مدینه کښې اوسه . تاته به الله ﷻ دې جنګ کښې د شرکت اجر درکوی. اوغینمت کښې هم ستا حصه

---

١) صحیح بخاری کتاب المغازی باب (اذ همت طائفتان منکم.....) : ٤٠٦٥)-

٢) الطبرانی : ٨٠٠٨، دلائل النبوة للبیهقی : ٢٢٧/٣، السیرة لابن هشام: ٢١/٣، وسنده حسن)-

٣) الطبری : ٤٩٤٥، ابن هشام . :٨٨/٣،)-

٤) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة احد: ٤٠٤٨، صحیح مسلم: ١٩٠٣)-

Scanned with Ca

ده .د بیعت رضوان واقعه دا ده چه هغوئ رسول الله ﷺ مکي والو ته لیږلی وو د پیغام دپاره ددي و جي چه کوم عزت دوی ته مکه کښې حاصل وو هغه بل چاته نه وو حاصل . دوی چه کله تشریف یوړو نو دا بیعت اخستې شوې وو. رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك پاس کړو او وې فرمائیل چه دا د عثمان ﷺ لاس دي،بیا ئې خپل بل لاس په دي کیخودلو. بیا ئې دي سړی ته اوونیل چه اوس لاړ شه او دي هم خان سره بوخه (١).

قوله تعالی:: إِذْ تُصْعِدُونَ وَلَا تَلْوُونَ عَلَىٰ أَحَدٍ

د رسول الله ﷺ مسلمانان رابلل:- بیا فرمانی چه (**اذ تصعدون**) الخ. یعنی تاسو د خپل دښمن نه تښتیدنی او غر ته ختئ. اود ویرې او خوف په وجه مو بل طرفته توجه نه وه. رسول الله ﷺ هم تاسو هلته پریښودو. او رسول الله ﷺ تاسو ته آوازونه کول اوتاسو ئې پوهولئ چه مه تښتئ راواپس شئ سدی رحمه الله فرمانی چه دمشرکانو دي اچانك او زورداري حملې سره دمسلمانانو حوصلې کمزورې شوې . څه مدبني طرفته واپس شو او څه غرونو ته اوختل . دالله رسول ﷺ ورته آوازونه کول او ورته ئې ونیل چه انې د الله تعالی بندګانو ځما طرفته راشئ ، ځما طرفته راشئ . د دي واقعې بیان په دي آیت کښې دي.عبدالله بن زبعری شاعر دا واقعه په نظم کښې هم بیان کړې ده. نبی کریم ﷺ هغه وخت کښې صرف دولسو کسانو سره پاتې وو. دمسند احمد یو اورد حدیث کښې د دي ټولو واقعاتو ذکر دي (٢)

د طلحه ﷺ شجاعت:- دلائل النبوة کښې دی چه کله شکست ملاؤ شو نو بیا رسول الله ﷺ په هغه وخت کښې صرف یولسو کسانوسره پاتې وو. چه په هغوئ کښې یو طلحه بن عبیدالله وو. دوی غر ته ختل خو مشرکانو نه پرې نښودو.نو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته آوازونه اوکړل چه څوك شته دي چه د دوی مقابله اوکړي. طلحه ﷺ د رسول الله ﷺ په آواز لبیك اوونیلو او تیار شو خو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه لږ صبر اوکړه.یوبل انصاری تیار شو او هغوئ سره.جنګیدو ، تر دي چه شهید شو .دغه شان یویو شهیدان شول. اوس صرف طلحه ﷺ پاتې شو. دا صحابی ﷺ هر خل تیار شو خو رسول الله ﷺ دي منع کړو،آخر دوی مقابلې ته راغلو او دا شان بهادرئی سره ئې جنګ اوکړو چه د هغه ټولو جنګ یو طرفته او ددوی جنګ بل طرفته . دي جنګ کښې د دوی ګوته کټ شوه. نو د دوی ژبې نه فریاد اوختلو. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل که تاسو بسم الله ونیلې وې یا مو د الله نوم اخستې وې نو ته به فرښتو اوچت کړې وې .او آسمان طرفته به ئې بوتلې وې او خلقو به درته کتل . دي وخت کښې رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرام ﷺ ته رسیدلې وو (٣)،

صحیح بخاری شریف کښې دی چه قیس بن ابی حازم رحمه الله فرمائی چه " ماوکتل چه د طلحه ﷺ هغه لاس چه د هغې نه دوی ډال سپر جوړ کړې وو شل شو. (٤)

د نبی کریم ﷺ محافظینې فرشتې:- سعد بن ابی وقاص ﷺ فرمائی چه ځما ترکش نه رسول الله ﷺ ټول غشی خواره کړه او وې فرمائیل چه ځما مور پلار دي په تا قربان وی مشرکان اوولړه (٥) نو نبی کریم ﷺ به غشی اوچتول اوما به ویشتل په دي مشرکانو.په هغه ورځ ما دوه کسان اوکتل چه د رسول الله ﷺ نبی اوکس طرفته وو او هغوئ ډیر سخت جنګ کولو. ما د دي نه مخکښې لیدلې وو او نه د دي نه روستو دا دواړه جبرائیل ﷺ و میکائیل ﷺ وو. (٦)

---

(١) صحیح بخاری کتاب فضائل اصحاب النبی ﷺ باب فضائل عثمان: ٣٦٩٩)-

(٢) احمد: ٤/٢٩٣، صحیح بخاری : ٤٠٤٣، مختصرا)-

(٣) نسائی کتاب الجهاد باب مایقول من یطعنه انعدو : ٣١٥١ وهو حسن)-

(٤) صحیح بخاری کتاب المغازی باب (اذ همت طائفتان....) : ٤٠٦٣)-

(٥) صحیح بخاری حواله سابق: ٤٠٥٥)-

(٦) صحیح بخاری حواله سابق: ٤٠٥٤،صحیح مسلم کتاب فضائل اکرامه صلی الله علیه وسلم بقتال الملائکة معه ﷺ: ٢٣٠٦)

Scanned with Ca

په رسول الله ﷺ باندې ځان قربانونکی:- اویو روایت کښې دی چه څوک رسول الله ﷺ سره د سخت جنګ په وخت کښې وو.هغوی یویو شهید شو،هغوئ ته به رسول الله ﷺ فرمائیل چه څوک شته دې چه دوی منع کړی او جنت ته لاړ شی، او جنت کښې خما ملګری وی (١).

د ابی بن خلف د نبی کریم ﷺ د لاسه قتل کیدل:- ابی بن خلف مکه کښې قسم کړې وو چه څه به رسول الله ﷺ قتلوم .هرکله چه رسول الله ﷺ ته د دې علم اوشو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هغه خو نه بلکه څه به هغه قتل کوم. د احد په ورځ دې د سر نه پښو پورې په زره کښې پټ وو.رسول الله ﷺ طرفته راغلو او دا ئې وئیل که محمد ﷺ بچ شو نو څه به هلاك شم. بل طرفنه مصعب بن عمیر ؓ دې خبیث طرفته وراندې شو خو هغوئ شهید شو.نو بیا رسول الله ﷺ هغه طرفته وراندې شو او د هغه ټول جسم زره کښې پټ وو ، صرف لږ شان تندې ئې ښکاریدو،رسول الله ﷺ په نیزه په تندی اووهلو او دې د آس نه راپریوتو. اګر چه د دې زخم نه وینه راونه وتله لیکن د ده دا حالت وو چه چغې ئې وهلې . خلقو دې اوچت کړو او لښکر ته ئې بوتلو او تسلی ئې ورکوله چه هیڅ داسې زخم نشته دې ، دومره ولې فریاد کوې.آخر د دوی د پیغورونونه مجبور شو .وې وئیل چه ما اوریدلی دی چه نبی علیه السلام فرمائیلی دی څه به ابی بن خلف قتل کوم. دا رښتیا دی څه هیڅکله نشم بچ کیدې.دې پسې مه خئ چه څه لږ شان زخمی شوې یم. په الله مې دې قسم وی چه د هغه په قبضه کښې خما ساه ده که د اهل حجاز والو په لاسونو داسې زخم لګیدلې وې نو هغوئ به هم هلاك شوی وو. نو داسې فریاد فریاد کښې هلاك شو او جهنم ته اورسیدو. (٢)

هم دا واقعه په بل روایت :- مغازی بن محمد بن اسحاق کښې دی چه هرکله دا سړې رسول الله ﷺ ته مخامخ شونو صحابه کرام ؓ خواهش اوکړو چه هغه سره جنګ اوکړی. خو رسول الله ﷺ هغوئ منع کړل او رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دې راپریږدئ. کله چه نزدې شو نو رسول الله ﷺ د حارث بن صمه نه نیزه واخستله او په هغه ئې حمله اوکړه. هرکله چه ئې د رسول الله ﷺ لاس کښې نیزه اولیده نو په ریبدو شو.مونږ په هغه وخت کښې اووئیل چه د ده خیر نشته.رسول الله ﷺ د هغه په مرئی وار اوکړو او هغه د آس نه پرمخ راپریوتلو.

د ابن بن خلف د مرداریدو ځائې:- د ابن عمر ؓ بیان دې چه بطن رابغ کښې دې کافر ته مرګ راغلو. یو شپه خه دې خائې باندې تیریدم نوما یو خائې کښې اور اوکتلو چه شغلې ختلې او اومې کتل چه یوسړې په زنځیرونو کښې ترلې شوې اور ته ئې راکاږی.اوهغه تنده تنده کوی.او بل سړې وائی چه ده ته اوبه ورکړئی دې پیغمبر ﷺ وهلې دې. دا ابی بن حلف دې.

دالله دغضب دوه مستحق کسان :- بخاری او مسلم کښې روایت دې چه رسول الله ﷺ خپل هغه مخامخ غاښونو طرفته اشاره اوکړه او وې فرمائیل چه په هغه خلقو دې دالله ﷻ سخت عذاب دې چې خپل نبی سره ئې دا شان سلوک اوکړل. او په هغوئ دې هم دالله تعالی غضب وی چه څوک چې د الله د رسول ﷺ د لاس نه قتل شی (٣).

د رسول الله ﷺ غاښونه چا شهیدان کړی وو؟:- او یو روایت کښې دا الفاظ هم دی چه کومو خلقو د رسول الله ﷺ مخ مبارك زخمی کړې وو(٤)عتبه بن ابی وقاص رسول الله ﷺ زخمی کړې وو،اودمخامخ څلورواړه غاښونه مبارك ئې شهیدان کړی وو. په مخ مبارك ئې زخمونه راغلی وو او په شوندو مبارکو ئې هم .

---

١) صحیح مسلم کتاب الجهاد : باب غزوةاحد: ١٧٨٩)-

٢) دلائل النبوة للبیهقی : ٢٥٨/٣،)-

٣) صحیح بخاری کتاب المغازی باب ما اصاب النبی ﷺ من الجراح.....: ٤٠٧٣، صحیح مسلم: ١٧٩٣)-

٤) صحیح بخاری : ٤٠٧٤)-

Scanned with Ca

دسعدبن ابی وقاص ﷺ خواهش:- سعد بن ابی وقاص ﷺ فرمائی چه څومره ماته د دې سړی د قتل کولوحرص وو دومره د بل چا د قتل کولو نه وو. دا سړې ډیر زیات بداخلاقه وو. او ټول قوم د ده دښمنان وو.او د ده بدئی کښې د رسول الله ﷺ دا فرمان کافی دې چه څوك نبی زخمی کړی نو په هغه د الله ﷻ غضب وی.(۱)

د رسول الله ﷺ خیرې:- عبدالرزاق کښې دی چه رسول الله ﷺ د ده دپاره بددعا کړې وه چه انې الله ﷻ دې کال کښې دې هلاك کړې او د ده مرګ دې په کفر کښې وی.نو هم دغه شان اوشو اودا بدبخت کافرشو او جهنم ته اورسیدو. (۲)

رسول الله ﷺ د الله په حفاظت کښې :- دیو مهاجر بیان دې چه د څلورو واړو طرفونو نه غشی راوریدل. خو د الله ﷻ قدرت سره به دا ټول بې ځایه تلل. ابی بن خلف په هغه ورځ قسم کړې وو چه ماته نن محمد ﷺ اوښانې .نن به ئې څه قتلوم. که هغوئ بچ شو نو بیا ځما خیر نشته. اوس هغه رسول الله ﷺ طرفته روان شو او بالکل رسول الله ﷺ ته نزدې شو او هغه وخت کښې رسول الله ﷺ سره هیڅوك نه وو. لیکن الله ﷻ د ده په سترګو پرده واچوله او ده ته رسول الله ﷺ نه ښکاریدو. هرکله چه هغه واپس شو نو صفوان ده ته پیغور اوکړو . ده اوونیل په الله قسم ما دې نه وو لیدلې والله هغه د الله په حفاظت کښې دې مونږ ته په لاس نه راځی. واورئی مونږ څلورو کسانو د هغه دقتل کولو اراده کړې وه اوخپلو کښې مو وعده کړې وه . مونږ ډیر اوغوښتل خو کامیابی نشو .(۳)

د امام واقدی رائې:- واقدی وائی چه ثابت شوې خبره دا ده چه د رسول الله ﷺ تندې زخمی کولووالا ابن قمه وو اودرسول الله ﷺ شوندو مبارکو اوغاښونو مبارکو ته تکلیف رسولو والا عتبه بن ابی وقاص وو.

دابوطلحه ﷺ بهادری:- ام المومنین عائشه صدیقه ﷺ بیان فرمائی چه کله به ځما پلار ابوبکرصدیق ﷺ د احد ذکرکولو.نو ښکاره به به ئې بیانول چه د هغې ورځې ټول فضیلت طلحه ﷺ دپاره دې ، هرکله چه ځه واپس شوم نو اومې کتل چه یو سړې د رسول الله ﷺ حمایت کښې داسې جنګ کوی نو ماواوونیل چه الله ﷻ دې اوکړی دا ابوطلحه وی. چه نزدې شوم او اومې کتل نوهغه ابوطلحه وو ، ما اوونیل چه ﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ﴾ چه ځما د قوم یو سړې دې . ځما اود مشرکانو په مینځ کښې یو سړې دې چه دمشرکانو مینځ کښې ولاړ وو. او د دوی ډیروزیاتو حملو مشرکان پست کړی وو. چه غورسره مې اوکتل نوهغه ابوعبیده بن جراح ﷺ وو. او بیا چه کله ما په غور رسول الله ﷺ ته اوکتل نو د رسول الله ﷺ غاښونه مبارك شهیدان شوی وو. او مخ مبارک ئې زخمی وو. او په تندی مبارك ئې د زرې دوه کړۍ ننوتې وې. ځه رسول الله ﷺ طرفته ورتلم خو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د ابوطلحه ﷺ خبر واخله .

د ابوعبیده ﷺ د نبی ﷺ سره عشق:- ما غوښتل چه د رسول الله ﷺ د تندی مبارك نه هغه دواړه کړۍ راوباسم خوابوعبیده ﷺ ماته قسم راکړو اوخپله نزدې راغلو او دا ئې محسوس کړل چه په لاسونوئې راوباسی نورسول الله ﷺ ته ډیر تکلیف وی نو غاښونو سره ئې یو کړۍ اونیوله او راویوستله . خودې کښې د هغوئ غاښ هم مات شو. ما غوښتل چه دویمه هم ځه راوباسم .خو ابوعبیده ﷺ بیا قسم راکړونو ځه روستوشوم. بیا هغوئ دویمه کړۍ هم راوویستله.دې ځل هم د هغه غاښونه مات شو. مونږ د هغه خبر واخستو.

د رسول الله ﷺ د زخم وینه څکل:- د رسول الله ﷺ د زخم وینه ابوسعید خدری ﷺ اوڅکله چه وینه کمه شی،بیا دوی ته اووئیلې شو چه خوله کښې اوبه واچوه. لیکن هغوئ اووئیل چه په الله ﷻ قسم څه به

---

۱) دلائل النبوة للبیهقی : ۲٦٥/۳،)-

۲) مصنف عبدالرزاق : ۹٦٤۹، دلائل النبوة للبیهقی : ۲٦٥/۳)-

۳) اخرجه الواقدی فی مغازیه : ۲۳۸/۱،)-

Scanned with Ca

خوله کښې اوبه وانچوم. بیا میدان جنګ ته لاړو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل که څوک جنتی سړی کتل غواړی نو ده ته دې اوګوری ، نو هم دې میدان کښې دوی شهید شو.(۱)

د نبی کریم ﷺ په زخم ایره پورې کول:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه د رسول الله ﷺ مخ مبارک مخامخ غاښونه.او سر مات شو فاطمې رضی الله عنها به د رسول الله ﷺ وینه وینځله اوعلی ﷺ به ډهال کښې اوبه راوړې او د رسول الله ﷺ په زخم به نې اچولې .هرکله چې دوی ته معلومه شوه. چه وینه نه اودریږی نو فاطمې رضی الله عنها بورنی اوسیزله. اودهغې ایره نې درسول الله ﷺ په زخم مبارک کیخوده. اودې سره وینه بنده شوه. (۲)

د غمونو نه څه مراد دې؟ - بیا فرمائی چه تاسوته غم دپاسه غم اورسیدو .د بغم " ب " په معنی د علی ده لکه ﴿فِيْ جُذُوْعِ النَّخْلِ﴾ کښې ،،فِيْ،، په معنی د (عَلٰی) ده.① یو غم خو شکست او دا مشهور یدل چه الله دې نه کړې رسول الله ﷺ باندې تکلیف دې . دویم غم د مشرکانو غالب راتلل او رسول الله ﷺ به فرمائیل چه د دوی سره دا بلندی لائق نه وه. ②دغه شان دا هم دی چه یو غم خود غنیمت دلاس نه تلل او دویم د هزیمت کیدو(۳).

عبدالرحمان فرمانی چه داشان یو غم د خپلو رونړو او دویم غم د نبی ﷺ ددې منحوس خبر. بیا فرمانی چه کوم غنیمت او فتح ستاسونه فوت شوه او زخمونه او شهادت ملاؤ شو په هغې باندې غم. الله ﷻ سبحانه وتعالی چه ډیر بلندئی او جلال والا دې ، هغه ستاسو اعمالونه خبر دار دې .

ثُمَّ أَنْزَلَ	عَلَيْكُمْ	مِّنْ بَعْدِ	الْغَمِّ	أَمَنَةً	نُّعَاسًا	يَّغْشٰى
بیائې نازل کړو	په تاسوباندې	روستو	د دغه غم نه	اطمینان (بې غمی)	پر کالی دخوب	چه راغله
	بیا ئې ددې لوئې غم نه پس ستاسو په زړونو کښې اطمینان پیدا کړو| چې یو ډلې ته خوب ورغلې وو|				
طَآئِفَةً	مِّنْكُمْ ۙ	وَطَآئِفَةٌ	قَدْ أَهَمَّتْهُمْ	أَنْفُسُهُمْ		
په یوه ډله باندې	ستاسونه	اوبله ډله وه		چه په فکر کښې اچولی وو هغوئ لره	نفسونو دهغوئ			
اوبله ډله پاتې شوه	.....	نوهغوئ سره د خپل ځان غم وو				
يَظُنُّوْنَ	بِاللّٰهِ	غَيْرَ الْحَقِّ	ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ ؕ	يَقُوْلُوْنَ	هَلْ لَّنَا	
چه ګمانونه نې کول	په الله باندې	ناحقه	ګمان دجاهلیت	هغوئ وائی (اوس)	چه اياشته مونږ لره	
چې په الله پاک باندې نې په ناحقه جاهلانه ګمان کولو	..... دغه خلق اوس وائی چې					
مِنَ الْأَمْرِ	مِنْ شَيْءٍ ؕ	قُلْ	إِنَّ الْأَمْرَ كُلَّهٗ	لِلّٰهِ ؕ		
د (چلولو) ددې کار نه	څه حصه	اورته اووایه	بیشکه اختیار ددې کارتول	الله تعالی لره دې		
چې په دې کار کښې زمونږ څه اختیار وو	ته ورته اووایه چې تول کارونه دالله پاک په اختیار کښې دی					
يُخْفُوْنَ	فِيْ أَنْفُسِهِمْ	مَّا	لَا يُبْدُوْنَ	لَكَ ؕ	يَقُوْلُوْنَ	لَوْ كَانَ
پټوی داخلق	په نفسونو خپلو کښې	هغه چه	نه نې ظاهروی	تاته	دوی وائی	که چرې وې	
اصل کښې دوئ خپلوزړونو کښې داسې خبرې پټې کړی دی	چې هغه ستاسوپه مخکښې نه بنکاره کوی	دوئ خپل مینځ				

---

(۱) مسند الطیالسی : ۳/۱، ح/٦)-

(۲) صحیح بخاری کتاب المغازی باب ما اصاب النبی ﷺ من الجراح یوم احد: ٤٠٧٥، صحیح مسلم: ۱۷۹۰، ابن ماجة: ٢٤٦٤)-

(۳) تفسیرابن جریر : ٦٧/٤)-

لَنَا مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ مَّا قُتِلْنَا هٰهُنَا ؕ

مونږ لره|ددې کار(دمشرئی) نه| څه اختیار |نه به وو وژلې شوی مونږ| دلته په(احد کښې)|

کښې وائی که چرې څه لږ ډیر اختیار زمونږ په لاس کښې وې| نومونږ به دلته نه وو قتل شوی

قُلْ لَّوْ كُنْتُمْ فِیْ بُیُوْتِكُمْ لَبَرَزَ الَّذِیْنَ كُتِبَ

ورته اووایه|که وئ تاسو|په کورونو خپلو کښې |خامخا به راوتلی وې |هغه کسان| چه لیکلې شوې وو

ورته اووایه |که چرې تاسو په خپلو کورونو کښې هم ناست وئ| نو د چا په قسمت کښې

عَلَیْهِمُ الْقَتْلُ اِلٰی مَضَاجِعِهِمْ ۚ وَلِیَبْتَلِیَ اللّٰهُ

|په هغوئ باندې|وژل (مرګ)|طرف دځایونو دمرګ خپل ته| او(داکار اوشو)دپاره ددې چه ازمائی|الله

چې مرګ لیکلې شوې وو| نوهغوئ به دخپل دمرګ ځایونوته راوتی وو| اودامعامله ځکه اوشوه چې الله

مَا فِیْ صُدُوْرِكُمْ وَلِیُمَحِّصَ مَا فِیْ قُلُوْبِكُمْ ؕ

هغه څه|چه په سینو ستاسو کښې دی|اودپاره ددې چه جدا کړی|هغه خیرې|چه په زړونو ستاسو کښې دې

ستاسودسینوپټ رازونه آزمائی| ..... اوستاسوزړونو نه دروغو نه صفا کړی

وَاللّٰهُ عَلِیْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿۱۵۴﴾ اِنَّ الَّذِیْنَ تَوَلَّوْا مِنْكُمْ

|او الله تعالی ښه پوهه دې| په حال د سینو |بیشکه هغه کسان |چه واپس اوګرزیدل|ستاسونه|

اوالله پاک ته دزړونو حال ښه معلوم دې | ..... په تاسو کښې چې څوک د

یَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ ۙ اِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ

په هغه ورځ |چه مخامخ شوې| دواړه ډلې |بیشکه (دهغې وجه داوه)|چه خویولی ئې ووهغوئ لره

دجنګ په ورځ تختیدلی وو| ..... نو هغوئ په اصل د خپلو خپلو عملونو په وجه

الشَّیْطٰنُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوْا ۚ وَلَقَدْ عَفَا اللّٰهُ عَنْهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

شیطان |په سبب دځینو| هغه ګناهونو|چه کړی ووهغوئ|اومعاف کړل الله تعالی| هغوئ | بیشکه الله

شیطان دهوکه کړی وو| .....اوالله پاک هغوئ معاف کړل| ..... اوبیشکه الله پاک

غَفُوْرٌ حَلِیْمٌ ﴿۱۵۵﴾

|ښښونکې دې| صبرناک دې|

ښښونکې صبرناک دې |

قوله تعالی:: ثُمَّ اَنْزَلَ عَلَیْكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ الْغَمِّ اَمَنَةً نُّعَاسًا یَّغْشٰى طَآىِٕفَةً مِّنْكُمْ

د پرکالئ تفسیر:- الله ﷻ په خپلو بندګانو چه احسان کړې وو دغم اومصیبت په وخت کښې دهغې بیان فرمائی چه هغه پاک ذات په دوی باندې پرکالی راوسته،وسله ئې لاس کښې وه،دشمن ئې مخکښې دې،لیکن زړه کښې ئې دومره تسکین دې چه سترګې ئې دپرکالئ نه نه غړیږی اودا د امن نشان دې لکه سورة انفال کښې د بدر واقعه کښې دی چه ﴿اِذْ یُغَشِّیْكُمُ النُّعَاسَ اَمَنَةً﴾ یعنی دالله ﷻ طرفنه امن د پرکالئ په صورت کښې نازل شو.

Scanned with Ca

د پرکالئ دوه قسمونه:- عبدالله بن مسعود ﷺ فرمانی چه دجنګ په وخت کښې پرکالی دالله ﷻ د طرفنه ده. اوپه مونځ کښې پرکالی راتلل د شیطان حرکت دې .

داحد په ورځ په مؤمنانو پرکالی:-ابوطلحه ﷺ بیان فرمائی چه د احد په ورځ ما ته دومره زیات خوب راغلو چه باربار خما دلاس نه توره غوزار شوه. دوی فرمائی چه کله ما سرپورته کړو او اومې کتل نود هر سړی داحالت وو(١)خویو ډله داسې وه چه د هغوئ په زړونو کښې نفاق وو،دوی د شرم په وجه وبره کښې وو.اود هغوئ غلط خیالات او بدګمانئ د حد نه تیرې شوې وې. (٢)

قوله تعالی::وَطَآئِفَةٌ قَدْ أَهَمَّتْهُمْ أَنفُسُهُمْ يَظُنُّونَ بِاللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ ظَنَّ الْجَاهِلِيَّةِ

د مؤمنانود منافقانو د زړونو حالات:- نواهل ایمان ،اهل یقین،اهل ثبات ، اهل توکل او اهل صدق خو یقین کولو چه الله ﷻ به دخپل رسول ضرور مدد کوی.او د دوی چه څه مراد دې نو هغه به ضرور پوره کوی. خو دمنافقان او بې یقینه خلقو او کمزوری ایمان والو داحالت وو چه دوی په عذاب کښې وو او افسوسونه ئې کول . اود دوی په زړونو کښې رنګ په رنګ وسوسې اوچتیدې. دهغوی پوره یقین راغلې وو.چه اوس مړه شو او اوس مړه شو. هغوی ته معلومه شوه چه رسول او مومن نه پاتې کیږی بلکه اوس د بچ کیدو هیڅ صورت نشته. فی الواقع د منافقانو داحال وو چه لږ شان ئې هم شکست اولیدو او د ناامیدئی وریځې ئې اوکتلې.د دوی برخلاف ایماندارو د الله نه نیک او ښه ګمان کولو.

په مؤمنانو پرکالی راتلل:-د دوی د زړونو خیالات دا وو که ځمونږ لږ شان هم وس وې نو مونږ نه به بچ شوې وې.او پټ په پټه به ئې دا وئیل.زبیر ﷺ بیان فرمائی چه په دومره سخت وخت کښې مونږ ته دومره زیات خوب راغلو چه ځمونږ زنې سینو سره اولګیدې.

ما په دې حالت کښې د معتب بن قشیر دا الفاظ واوریدل که ځمونږ لږ هم اختیار وې نو مونږ به دلته نه قتل کیدې(٣)الله ﷻ دوی ته فرمائی چه په تقدیرونوکښې وخت نه بدلیږی اګر چه تاسوپه کورونو کښې یئ. خو بیا هم چه د چا مرګ دلته لیکلې شوې وو نوهغوئ د کورونو نه راوتلی وو. اودلته دې میدان ته راغلی وو.او د الله ﷻ چه څه لیکلی وو هغه به پوره نازل شوې وې . دا وخت په دې وجه وو چه الله ﷻ ستاسو د زړونو رازونه او ستاسو ارادې ظاهرې کړی. دې آزمیښت سره نیک او بد کښې فرق اوشو.الله ﷻ ستاسو د ارادو او زړونو نه پوره واقف دې هغه پاک ذات په دې معمولی شان واقعې سره منافقان ښکاره کړل.

قوله تعالی::إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا

فرمائی چه په دوی باندې دا ګناه شیطان اوکړه. او اصل دا د دوی د عملونو نتیجه وه نه به دوی د رسول ﷺ نافرمانی کوله اونه به د دوی حوصلې کمزورې کیدې.دوی ته الله ﷻ معذوره وانی. او هغه ورته معافی اوکړه.او د دوی دا خطائې معاف کړه. د الله ﷻ کار تجویز کول،بخښل،معاف کول ، حلم اوبردباری کول او تحمل او عفوکول دی .ددې نه معلومه شوه چه د عثمان ﷺ وغیره خطا الله ﷻ معاف کړه.

په عثمان ﷺ اعتراضونه اود هغې جوابونه:- مسند احمد کښې دی چه ولید بن عقبه ﷺ یو ځل عبدالرحمان بن عوف ﷺ ته اووئیل چه تهد امیر المومنین عثمان بن عفان ﷺ نه دومره ولې خفه ئې ؟ هغوئ اووئیل چه دوی ته اووایه چه څه د احد په ورځ نه وم تختیدلې اونه دبدر په غزوه کښې غیر حاضر نه اوم

---

(١) صحیح بخاری کتاب المغازی باب (ثم انزل علیکم من بعد الغم ....) : ٤٠٦٨، تعلیقا، خو ٤٥٦٢ کښې موصولاهم موجود دی اومزید اوګورئی : احمد: ٢٩/٤، ترمذی: ٣٠٠٧، وسنده صحیح السنن الکبری للنسائی: ١١١٩٨)-

(٢) ترمذی کتاب تفسیر القران باب من سورة آل عمران : ٣٠٠٨،بدون ذکر الایة : صحیح دون قوله : والطائفة الاخری : ....واخذه للحق وهو مدرج)-

(٣) ابن ابی حاتم : ٦٢٠/٢، الطبری : ٨٠٩٣، وابن اسحاق دا سند حسن دی)-

Scanned with Ca

او نه مي د عمر سنت پرينبودی دی . ولید ﷺ لاړ او عثمان ﷺ ته ئي داواقعه بيان کړه نو هغوئ د دي جواب کښي اوفرمائيل چه قران پاك فرمائی چه ﴿وَلَقَدْ عَفَا عَنْكُمْ﴾ يعنی د احد ورځي خطا الله ﷻ معاف کړي ده. بيا چه کومه ګناه الله ﷻ معاف کړه نو په هغي شرم ولي دي ؟ دبدر په ورځ څه د رسول الله ﷺ دلور او خپلي بي بي په بيمارتی کښي مصروف اوم تردي چه هغه هم په دغه بيمارتی کښي وفات شوه. اوماته رسول الله ﷺ مال غنيمت کښي پوره پوره حصه راکړه. او ظاهر دی چه حصه به هغوئ ته ملاويده چه کوم موجود وو نو حکمی لحاظ سره ځما موجودګی ثابت شوه. پاتي شود عمر ﷺ سنت نو د هغي ما کښي طاقت نه وو. نه عبدالرحمان کښي . لاړشه او هغوئ ته دا جواب ورکړه. (١)

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	لَا تَكُونُوا	كَالَّذِينَ	
ائي هغه کسانو	چه ايمان مو راوړي دي	امه کيږئ تاسو	پشان دهغه خلقو	
ائي د ايمان خاوندانو!	تاسو دهغه خلقو په شان خبري مه کوئ			
كَفَرُوا	وَقَالُوا	لِإِخْوَانِهِمْ	إِذَا	ضَرَبُوا	فِي الْأَرْضِ
چه کافران شوی دی	او وي وئيل	رونړو خپلوته	کله چه	اووتل (په سفر)	په زمکه کښي
چي کوم کافر دی	چي کله دهغوئ خپل خپلوان په سفر لاړ شی يا چرته غزا ته لاړ شی (او شهيدان شی)				
أَوْ كَانُوا غُزًّى	لَّوْ كَانُوا	عِنْدَنَا	مَا مَاتُوا	وَمَا قُتِلُوا
ياوو غزا کونکی	اکه وي هغوئ	زمونږ سره	نه به مړه شوی وو	اونه به وو وژلي شوی
نوهغوئ ته وائی	که دوئ مونږ سره دلته پاتي شوي وي نونه به مړه شوی وو			اونه به قتل شوی وو
لِيَجْعَلَ اللَّهُ	ذَٰلِكَ	حَسْرَةً	فِي قُلُوبِهِمْ	وَاللَّهُ
دپاره ددي چه اوګرځوی الله تعالی	دغه خبره	يوافسوس	په زړونو دهغوئ کښي	اوالله
داسي خبري الله پاک دهغوئ په زړونو کښي دحسرت پيدا کولو په سبب ګرځوی				او اصل کښي الله پاک
يُحْيِي	وَيُمِيتُ	وَاللَّهُ	بِمَا	تَعْمَلُونَ	بَصِيرٌ
ژوندی کول کوی	اومړۀ کول کوی	اوالله تعالی	د هغه کارونو	چه تاسو ئي کوئی	ليدونکي دي
ژوندی کول اومړۀ کول کوی	.....	اوالله پاک ستاسو کارونه وينی ګوری			
وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ	فِي سَبِيلِ اللَّهِ	أَوْ	مُتُّمْ	لَمَغْفِرَةٌ
اوکه چري اووژلي شوئ	تاسو په لار دالله تعالی کښي	يا	مړۀ شوئ	البته کوم بخښش
اوکه تاسو دالله په لار کښي شهيد کړي شوئ	يا په خپل مرګ مړۀ شئ	نو مغفرت		
مِّنَ اللَّهِ	وَرَحْمَةٌ	خَيْرٌ	مِّمَّا	يَجْمَعُونَ
چه دي دطرفه دالله نه	اوکوم رحمت چه دي	هغه بهتر دي	دهغه څيزونو نه	چه داخلق ئي جمع کوی
او رحمت دالله پاک طرفنه دي	اودا د هغه ټولو مالونو نه بهتر دي چي کوم دا خلق راجمع کوی			
وَلَئِنْ	مُتُّمْ	أَوْ قُتِلْتُمْ	لَإِلَى اللَّهِ	تُحْشَرُونَ	فَبِمَا رَحْمَةٍ
اوکه چري	تاسو مړۀ شئ	يا اووژلي شئ	البته خامخا به الله تعالی ته	اورغونډ يږئ	اونو په سبب درحمت سره
اوکه تاسو مړۀ شوئ	يا اووژلي شوئ	نو په هرحال الله ته به را جمع کيږئ	(ائي پيغمبره)	دا مهربانی ده	

(١) احمد: ٦٨/١، وسنده حسن ، مجمع الزوائد: ٢٢٦/٧، طبراني : ١٣٥، مختصرا)-

Scanned with Ca

مِّنَ اللّٰهِ	لِنْتَ لَهُمْ ۚ	وَلَوْ كُنْتَ	فَظًّا غَلِيْظَ الْقَلْبِ
د طرفه د الله نه ﴿نرم شوې ته دوی ته (ائې زما محبوبه ﷺ) ﴿اوکه چرې وې ته ﴿ تند خویه ﴿اود سخت زړه والا			
د الله پاک چې ته دې خلقو سره ډیر زیات نرم ئې ﴿ اوکه چرې ته تند خو اوسخت زړه وې			
لَانْفَضُّوْا	مِنْ حَوْلِكَ ۖ ص	فَاعْفُ عَنْهُمْ	
نو خامخا به خوارۀ شوی وودوی ﴿ ستاسو دخوانه ﴿نومعاف کړه خطاګانې ددوی ﴿			
نو ټول خلق به ستا نه خواره واره شوی وې ﴿ نو ددوئ کوتاهیانې معاف کوه			
وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ	وَشَاوِرْهُمْ	فِي الْاَمْرِ ۚ	فَاِذَا
او بښنه غواړه دپاره د دوی ﴿ اومشوره کوه ددوی سره ﴿په کار ددین کښې ﴿ نوکله چه ﴿			
اوددوئ دپاره دبخښنې دعا کوه ﴿ اوپه (اهمو) کارونو کښې دوئ سره مشوره کوه ﴿ نوهرکله			
عَزَمْتَ	فَتَوَكَّلْ	عَلَى اللّٰهِ ؕ .	اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ
کله اراده اوکړه تا ﴿ نوبیا بهروسه کوه ﴿په الله تعالی باندې ﴿ بیشکه الله ﴿ خوښوی ﴿			
چې اراده دې پخه شی ﴿ نوبیا په الله پاک بهروسه کوه ﴿ اوالله هغه خلق خوښوی چې کوم			
الْمُتَوَكِّلِيْنَ ۝			
بهروسه کونکی خلق (په الله تعالی باندې ﴿			
په هغه بهروسه کوی ﴿			

قوله تعالی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا

مؤمنان دفاسدو عقیدو ساتلو نه منع کول : الله ﷻ مومنان منع کوې چه د کافروپشان فاسدې عقیدې نه ساتی دې کافرو ګنړل چه کوم خلق په سفر او جنګ کښې مړه شوکه چرې دوی سفر یا جنګ نه کولې نو دوی به نه مړه کیدل.

قوله تعالی: لِيَجْعَلَ اللّٰهُ ذٰلِكَ حَسْرَةً فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ

د منافقانو د باطلې عقیدې تردید - بیا فرمائی چه دا باطل خیال هم د دوی حسرت او افسوس زیاتولو والا دې. اصل کښې مرګ او ژوند دالله ﷻ په لاس کښې دې، د هغه خوښې سره ژوند ملاویږی. د هغې ارادې سره ټول کارونه جاری کیږی او دا هر څه د هغه په قبضه کښې دی . د هغه پاک ذات قضا او قدرت نه روستو کیږی. د هغه لوئې ذات دعلم او نظر نه هیڅ یو څیز پټ نه دې. د ټول مخلوق د هر یو کار هغه ته علم دې .

قوله تعالی: وَلَئِنْ قُتِلْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ مُتُّمْ لَمَغْفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَحْمَةٌ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُوْنَ ۝

شهادت د الله د مغفرت او رحمت سبب دې - دویم آیت کښې فرمائی چه دالله ﷻ لار کښې قتل کیدل یا مړه کیدل د الله ﷻ دمغفرت اورحمت ذریعه ده. او دا ددنیا او مافیها نه بهتر دی. ځکه چه دا فانی ژوند دې او هغه ژوند باقی دې او ابدی دې.

قوله تعالی: وَلَئِنْ مُّتُّمْ اَوْ قُتِلْتُمْ لَاِلَى اللّٰهِ تُحْشَرُوْنَ ۝

په صورت کښې الله تعالی ته پیش کیدل :- بیا ارشاد فرمائی که تاسو په هره طریقه قتل شئ نوستاسو واپسی به الله ﷻ طرفته وی. بیا به تاسو دالله سره دخپلو عملونو بدله بیامومئی که بده وی اوکه ښه وی.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ لِنتَ لَهُمْ
د نبی په امت باندې مهربانی :- الله ﷻ په خپل نبی ﷺ او مسلمانانوباندې احسان کوی چه د نبی منونکو اود دوی د نافرمانیۍ نه ځان ساتونکو دپاره الله ﷻ د نبی ﷺ زړه نرم کړې دې .که د الله ﷻ رحمت نه وې نودومره نرمی او آسانی به نه وه.
د عربیۍ قاعده:- قتاده ﷺ فرمائی چه (ما) صله ده اوعرب دا معرفه سره یوځائې کوی. لکه (فَبِمَانَقْضِهِمْ) الخ کښې اونکره سره ئې هم یو ځائې کوی. لکه (عَمَّاقَلِيْلٍ) کښې،دا شان دلته هم دی.یعنی د الله ﷻ رحمت سره نو د دوی زړونه نرم شوی دی .
د نبی کریم ﷺ صفات:- حسن بصری رحمه الله فرمائی چه دا د رسول الله ﷺ اخلاق دی چه په دې باندې د رسول الله ﷺ بعثت اوشو.دا آیت هم د هغه آیت په شان دې لکه (لَقَدْجَآءَكُمْ) یعنی تاسو ته هم ستاسو د جنس نه یو رسول راغلو چه په ده باندې ستاسو مشقت گران دې ستاسو باندې رآوړو باندې ډیر حرص کونکې دې په مومنانو باندې شفقت کونکې دې اورحم کونکې دې . مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ د ابوامامه باهلی ﷺ لاس اونیولو او وې فرمائیل چه ائې ابوامامه ! بعضې مومنان هغه دی چه د هغوئ دپاره ځما زړه پریشانه شی. (۱)
د فظا معنی: ﴿ فظا ﴾ نه مراد دلته سخت کلام دې . ځکه چه دې نه پس د﴿غَلِيْظَ الْقَلْبِ﴾ الفاظ دی.یعنی سخت زړه
د ایت مفهوم:- فرمان دې چه ائې نبی ﷺ ! که ته سخت کلامه او د سخت زړه خاوند وې.نو دا خلق به ستاسونه منتشر شوی وو. او تاسو به ئې پریښودی وې .خو الله ﷻ دوی ستاسو عاشقان جوړ کړل او د دوی زړونه ستاسو لاس کښې دی . د دې وجې تاسو هم دوی سره محبت اونرمی کوئی.
د نبی کریم ﷺ صفتونه په اسمانی کتابونوکښې:- عبدالله بن عمرو ﷺ فرمائی چه ما د رسول الله ﷺ صفتونه په مخکښې کتابونو کښې هم کتلی دی چه رسول الله ﷺ سخت کلام او سخت زړه والا او د بدنی بدله بدئ سره ورکولو والا نه دې بلکه معاف کولو والا دې (۲).
مخلوق سره د نیکئ حکم:- دترمذی یو حدیث مبارک کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی چه ما ته خلقو سره دنیکئ کولو او خیرخواهئ کولو دا شان حکم شوې دې لکه څنگه چه ځه د فرضو پابند یم. (۳)

قوله تعالی:: وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ
د مشورې حکم :- دې آیت کښې دا هم فرمان دې چه ته دوی ته معافی کوه. ددوی دپاره استغفار کوه. او کارونوکښې دوی سره مشوره کوه.
د نبی کریم ﷺ صحابه کرامو سره مشورې:- ددې وجې د رسول الله ﷺ عادت مبارک وو چه د خلقو د خوشحالئ دپاره به ئې هغوی سره مشوره کوله.
① لکه څنگه چه ئې د بدر په ورځ قافلې طرفته د وړاندې تلو باره کښې مشوره کړې وه اوصحابه کرامو ﷺ اوفرمائیل که تاسودسمندر په غاړه ولاړ یئ او مونږ ته حکم اوکړئی چه دې کښې ورتوپ کړئی نو بیا به هم مونږ انکار نه کوؤ. (۴)اوتاسو مونږ برك الغماد ته بوتلل غواړئ نوبیا به هم مونږ تاسوسره یو. مونږ د موسی ﷺ د ملگرو په شان نه یو چه موسی ﷺ ته ئې وئیلی وو چه ته اوستا رب

(۱) احمد: ۲٦٧/٥، وسنده حسن طبرانی : ٧٤٩٩)-
(۲) صحیح بخاری کتاب البیوع باب کراهیة السخب فی السوق: ۲۱۲٥)-
(۳) الکامل لابن عدی : ٤٤٧/۲،)-
(٤) صحیح بخاری کتاب المغازی باب قول الله (اذ تستغیثون ربکم .....) : ۳۹٥۲)-

Scanned with Ca

دې جنګ کوی مونږ خو دلته ناست یو. مونږ به ستاسو ښی او ګس طرفته صفونه جوړ او د دښمن مقابله به کوو.

② دا شان رسول الله ﷺ ددې خبرې هم مشوره اوکړه چه منزل به چرته وی ؟ اومنذربن عمرو مشوره ورکړه چه هغه خلقو سره د جنګ کولو دپاره وړاندې تلل پکار دی .

③ داشان د احد په موقع هم دوی مشوره اوکړه مدینه کښې پاتې شواو جنګ اوکړو که بهراوخو ؟ د جمهورو رائې داوه چه بهر میدان ته وتل پکار دی او دوی سره مقابله کول پکار دی .نو رسول الله ﷺ هم دا اوکړل .

④ او رسول الله ﷺ د جنګ احزاب په موقع باندې هم خپلو صحابه کرام ﷺ سره مشوره اوکړه چه د مدینې د پیداوار دریمه حصه واخلو او مخالفینو سره صلح اوکړو.نو سعدبن عباده ﷺ او سعد بن معاذ ﷺ ددې نه انکار اوکړو او رسول الله ﷺ هم دا مشوره قبوله کړه. او مصالحت ئې ترک کړو.

⑤ داشان د حدیبیه په ورځ رسول الله ﷺ د دې خبرې مشوره واخستله چه د مشرکانو په کورونو حمله اوکړوکه نه ؟نو ابوبکر صدیق ﷺ اوفرمائیل چه مونږ چا سره جنګ کولو دپاره نه یوراغلی بلکه خمونږ اراده د عمرې ده. نو دا هم رسول الله ﷺ منظور کړل .

⑥ دغه شان منافقانو چه کله د رسول الله ﷺ بی بی ام المومنین عائشه رضی الله عنها باندې تهمت اولګولو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ائې مسلمانانو ماته مشوره راکړئی چه دې خلقو سره څه اوکړم چه خما کور والابدناموی.په الله قسم خما د علم مطابق خو خما بی بی کښې هیڅ خرابی نشته دې.او چه کوم سړی سره داتړی هغه هم ښه نیك بنده دې. (١)

⑦اورسول الله ﷺ د عائشه رضی الله عنها جدائی دپاره علی ﷺ او اسامه ﷺ سره مشوره اوکړه. غرض دا چه د جنګ په کارونو کښې هم او په نورو کارونوکښې هم رسول الله ﷺ به خپلو صحابه کرامو ﷺ سره مشوره کوله.

د مشورې حکمی حیثیت:- په دې کښې د عالمانو اختلاف دې چه دا د مشورې کولو حکم په طور د وجوب وو اوکه اختیاری وو چه خلق خوشحاله شی . ابن عباس ﷺ فرمائی چه دې آیت کښې ابوبکر صدیق ﷺ اوعمرفارق ﷺ سره د مشورې کولو حکم دې (حاکم) (٢) دا دواړه د رسول الله ﷺ ملګری او وزیران وواود مسلمانانو پلاران دی(کلبی) مسنداحمد کښې دی چه رسول الله ﷺ دې دواړو بزرګانو ته اوفرمائیل که ستاسو امرکښې یو رائې شی نوخه به ستاسو خلاف نه کوم(٣) رسول الله ﷺ نه یوکس تپوس کوی چه د عزم څه معنی ده. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کله عقل مندو سره مشوره اوکړې شی او د هغوی په مشوره عمل اوکړی شی (ابن مردویه).

مشوره ورکونکې امین دې:- ابن ماجه کښې د دوی دا فرمان دې چه چا سره مشوره اوکړې شی هغه امین دی.ابوداود ،ترمذی نسائی وغیره کښې هم داروایت دې.امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وائی(٤)او یو روایت کښې دی چه کله تاسوخوك خپل رور سره مشوره اوکړی نوهغه ته پکاردی چه د ښه خبرې مشوره ورکړی. (ابن ماجه) .(٥)

قوله تعالی:: فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ

---

١) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (ان الذین یحبون ان تشیع الفاحشة ....) : ٤٧٥٧)-

٢) حاکم : ٣/٧٠،)-

٣) احمد: ٤/٢٢٧،)-

٤) ابن ماجة کتاب الادب باب المستشار المؤتمن : ٣٧٤٥، ابوداود : ٥١٢٨، وهو حسن ترمذی : ٢٨٢٢)-

٥) ابن ماجة کتاب الادب باب المستشار المؤتمن : ٣٧٤٧،)-

Scanned with Ca

بیا فرمانی چه کله تاسو دیو خبرې مشوره اوکړئی نو بیا د دې د کولو پخه اراده کوئی. نواوس په الله ﷻ باندې بهروسه اوساتئی، الله ﷻ بهروسه کوونکی دوستان ساتی.

اِنْ يَّنْصُرْكُمُ اللّٰهُ فَلَا غَالِبَ	
اکه مدد اوکړی ستاسو الله تعالی انونشته غالب کیدونکی	
اکه الله پاک ستاسو سره مدد کوی نو هیڅ طاقت په تاسو غالب کیدې نشی	
لَكُمْ ۚ وَاِنْ يَّخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِيْ يَنْصُرُكُمْ	
په تاسو (هیڅوک) اوکه پریښودئ هغه تاسو انو څوک دې هغه کس اچه مدد به اوکړی ستاسو	
اوکه الله پاک مو یواځې پریږدی نو بل داسې څوک کیدې شی چې دهغه نه پس به تاسوسره مدداوکړی	
مِّنْۢ بَعْدِهٖ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝ وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ	
روستو دهغه نه اوخاص په الله تعالی دې توکل اوکړی مومنان اونه دې داکار د هیڅ یو نبی	
..... او مؤمنان دې په الله پاک باندې بهروسه اوکړی اودهیڅ یونبی داکار نه دې	
اَنْ يَّغُلَّ ؕ وَمَنْ يَّغْلُلْ يَاْتِ بِمَا غَلَّ	
چه خیانت اوکړی او څوک چه خیانت اوکړی انورابه شی ادهغه څیز سره چه خیانت ئې کړې وی	
چې هغه خیانت اوکړی ..... اوڅوک چې خیانت اوکړی نوهغه څیز به خان سره	
يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۚ ثُمَّ تُوَفّٰى كُلُّ نَفْسٍ مَّا كَسَبَتْ	
په ورځ د قیامت ابیا به پوره ورکړې شی بدله هر نفس ته ادهغه عمل اچه کړې ئې وی	
دقیامت په ورځ راوړی بیابه هر سړی ته دخپل عمل پوره پوره بدله ورکولې شی	
وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ۝ اَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللّٰهِ كَمَنْۢ	
او په هغوئ به هیڅ ظلم نه کیږی آیا نوهغه څوک اچه پیروئی ئې اوکړه درضا دالله کیدیشی پشان دهغه چا	
او هغوی سره به هیڅ ظلم نشی کولې ایا هغه څوک چه همیشه دالله درضادپاره کار کوی دهغه چا	
بَآءَ بِسَخَطٍ مِّنَ اللّٰهِ وَمَاْوٰىهُ جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ	
چه ګیرشو اپه غضب کښې ادطرفه دالله تعالی نه اوآخری ځائې وی دهغه دوزخ او بدځائې دې	
پشان کیدې شی چې دالله پاک په غضب کښې ګیرشوې وی اوددې کس ځائې جهنم دې اوډیر	
الْمَصِيْرُ ۝ هُمْ دَرَجٰتٌ عِنْدَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا	
ادورتلو ادهغوئ لوئې درجې دی اپه نزد دالله تعالی اوالله تعالی الیدونکې دې ادهغه عملونو	
بدځائې دې د ورتلو د الله پاک په نیز دخلقو جدا جدا درجې دی او الله دهغوئ کارونه وینی	
يَعْمَلُوْنَ ۝ لَقَدْ مَنَّ اللّٰهُ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ بَعَثَ	
چه دوی ئې کوی اپه حقیقت کښې احسان کړې دې الله اپه مومنانوباندې اکله چه راولیږل (الله)	
کوری حقیقت کښې په مؤمنانو باندې الله پاک ډیرلوې احسان کړې دې چې په دوئ کښې ئې	

Scanned with Ca

فِيهِمْ	رَسُولًا	مِّنْ أَنفُسِهِمْ	يَتْلُوا	عَلَيْهِمْ	آيَاتِهِ
په هغوئ کښې |یوپیغمبر |دهغوئ دخپل قوم نه |چه لولی |په هغوئ باندې |آیتونه دالله تعالی				
ددوئ (دخپل قوم نه) یو پیغمبر رالیږلی دی	چې هغه ورته دالله پاک آیتونه اوری				
وَيُزَكِّيهِمْ	وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ	وَالْحِكْمَةَ	وَإِن كَانُوا		
اوپاکوی هغوئ (دګناهونه)	اوتعلیم ورکوی هغوئ ته دکتاب	اودحکمت (پوهې)	حالانکه ووهغوئ		
اودژوندتیرولو سمه لار ورته ښائی	او دوئ ته دکتاب اوحکمت خودنه کوی	اوددې نه			
مِن قَبْلُ	لَفِي ضَلَالٍ	مُّبِينٍ			
د مخکښې نه	خامخا په ګمراهئ	ښکاره کښې			
وراندې خوداخلق ښکاره ګمراهئ کښې وو					

قوله تعالی:: إِن يَنصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ

بیادویم آیت کښې ارشاد دې چه هم دا شان دی چه مخکښې تیر شو چه ﴿وَمَا النَّصْرُ إِلَّا مِنْ عِندِ اللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ﴾ یعنی مدد صرف دالله ﷻ د طرفنه دې .هغه ذات غالب دې اودحکمتونوخاوند دې .

قوله تعالی:: وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ

بیاحکم کوی چه مومنانو ته پکاردی بهروسه او توکل صرف په الله ﷻ باندې ساتی.

قوله تعالی:: وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَن يَغُلَّ ۚ وَمَن يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

نبی صادق او امین دې :- بیا فرمائی چه د نبی شان سره نه ښائی چه هغه خیانت اوکړی .

د ایت شان نزول:- ابن عباس ﷺ فرمائی چه د بدر په ورځ یو سور رنګه څادر نه ملاویدو نو خلقو اووئیل چه شایدرسول الله ﷺ اختسې وی .نودې باندې دا آیت نازل شو. (ترمذی) (١)

دمنافقانو د تهمت لګول:- اویو روایت کښې دی چه منافقانو په څه څیز په رسول الله ﷺ باندې تهمت لګولې وو. نودې باندې دا آیت نازل شو (**ومان کان**) الخ.نو ثابته شوه چه درسول ﷺ درسولانو سردار دې اوهرقسمه خیانت،بې ځایه طرفتدارئی نه پاک اوبری دې.که دمال تقسیم وی اوکه دامانت اداکول وی.

د خیانت یوبل صورت:- ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه نبی غلول نشی کولې چه بعضو لښکروته مال غنیمت ورکړی او بعضو ته حصه ورنکړی .

د ایت دویم تفسیر:- ددې آیت دا تفسیر هم بیان شوې دې چه نبی د الله ﷻ یو نازل شوې څیز پټ کړی او امت ته ئې اونه رسوی﴿ یغل ﴾ د"ي" پیش سره هم لوستلې شوې ده.نومعنی به داوی چه د نبی ذات داسې نه دې چه کوم خلق دوئ سره دی هغوئ دې خیانت اوکړی

د ایت بل شان نزول:- دقتاده ﷺ او ربیع نه مروی دی چه د بدر په ورځ د رسول الله ﷺ بعضوصحابه کرام ﷺ څه مال غنیمت د تقسیم نه مخکښې اخستې وواو دې باندې دا آیت نازل شو(ابن جریر).

خائن دپاره سخت عذاب دې :- بیا خائن خلق یروی او د سخت عذاب خبر ورکوی. احادیث مبارکه کښې هم د دې باره کښې سخت وعید راغلې دئ .

ګاونډی سره خیانت:- دمسند احمدحدیث کښې دی چه د ټولو نه زیات خیانت کولو والا هغه سړې دې چه دګاونډیانو د پټې زمکه یادهغه دکور په زمکه باندې قبضه اوکړی.که یو ګز زمکه هم قبضه کړی نو د اووه زمکو طوق به ده ته اغوستې شی . (١)

---

(١) ابوداود کتاب الحروف : ٣٩٤٧،-

د حاکم د خیانت څیزونه:- دمسند یو بل حدیث کښې دی څوک چه مونږ حاکم جوړ کړو ، که د هغه کور نه وی نوکورجوړولې شی، که ښځه نې نه وی نوخادم ساتلې شی، که سورلی ورسره نه وی نو سورلی اخستې شی. که ددې نه سوا نورڅه اخلی نوخائن به وی. دا حدیث ابوداودکښې نورو الفاظوسره منقول دی(۲)

دخیانتکړ نه د رسول الله ﷺ براءت:- دابن جریر روایت کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمانی چه څه په تاسو کښې هغه کس پیژنم چه هغه به چیلئ اوچته کړی او هغه چیلئ به چغې وهی ،هغه به د قیامت په ورځ راشی او خما نوم سره به ما بلی. (اې محمد) څه به ورته وایم چه څه ستا دپاره الله ته هیڅ نشم ونیلې ما خوتاته تبلیغ کړې وو. څه هغه کس هم پیژنم چه اوښ به نې اوچت کړې وی او رابه شی . او هغه به وائی چه ائې محمد ﷺ ! ائې محمد ﷺ ! څه به ورته وایم چه د الله ﷻ په مخکښې زه ستا هیڅ مدد نشم کولې. ما خوتبلیغ کړې وو. او څه هغه کس هم پیژنم چه هغه به داسې آس راولی چه آوازونه به کوی ،هغه به ماته آواز کوی چه یامحمد ﷺ ! یامحمد ﷺ ! څه به ورته اووایم چه د الله ﷻ مخکښې څه ستا هیڅ مدد نشم کولې ما درته ونیلی وو ، (۳) دا حدیث صحاح سته کښې نشته . (یعنی دا هغه کسان دی په مال غنیمت کښې نې خیانت کړی وی)

هم دا حدیث په بل سند سره :- مسنداحمد کښې دی چه رسول الله ﷺ د ازد قبیلې یو سړې حاکم جوړ کړو او وې لیږلو اوهغه ته به نې ابن اللتبیه ونیل. هرکله چه ده زکوة وصول کړو او واپس راغلو نو ده اوونیل چه دا خو ستاسو دې او دا ماته تحفه ملاؤ شوې ده. رسول الله ﷺ په منبر تشریف فرماشو او وې فرمائیل چه په دې خلقو باندې څه شوی دی چه کله څه دوی یو کار پسې اولیږم او دوی واپس راشی نو وائی چه دا ستاسو دی او دا ماته تحفه کښې ملاؤ شوې دې. دوی دې خپلو کورونوکښې کینی چه بیا څوک دوی ته تحفې ورکوی که نه ؟ په هغه ذات مې دې قسم وی چه د هغه په قبضه کښې د محمد ﷺ ساه ده ، چه تاسو کښې څوک د دې نه څه واخلی نو هغه به دا ځیز د قیامت په ورځ خپله غاړه کښې اچولې راوړی. که اوښ وی نو هغه به چغې وهی ، که غوا وی نو هم به چغې وهی ، اوکه چیلئ وی نو هغه به چغې وهی. بیا رسول الله ﷺ خپل لاسونه دومره اوچت کړل چه د ترخونو سپین والئ نې مونږ ته ښکاره شواو دری ځله نې اوفرمائیل چه ائې الله ﷻ آیا ما رستا احکام اورسول ؟ (۴)

د حاکمانو څه استل خیانت دی:- دمسند یو ضعیف حدیث مبارک کښې دی چه داسې تحصلدارانواو حاکمانو ته څه په تحفو کښې ملاؤ شی هغه خیانت دی (۵). دا روایت صرف مسند احمد کښې دې چه ضعیف دې اوداسې معلومیږی چه د مخکښو طویل احادیثو خلاصه ده .

معاذبن جبل ﷺ ته نصیحت:- ترمذی کښې روایت دې چه معاذ بن جبل ﷺ فرمانی چه څه رسول الله ﷺ یمن ته اولیږلم ، هرکله چه څه روان شوم نو څه نې راوغوښتم ، کله چه څه واپس شوم نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما ته صرف د یوې خبرې دپاره راغوښتې . که ته ځما د اجازت نه بغیر ځیز اخلی نوهغه به خیانت وی. او هر خائن به دقیامت په ورځ خپل خیانت سره حاضریږی. بس تاته مې هم دا ونیل ، اوس څه لارشه.(۶)

---

۱) احمد : ۲٤۱/٥، صحیح بخاری: ۲٤٥۲، صحیح مسلم: ۱٦۱۰)-
۲) احمد : ۲۲۹/٤، ابوداود کتاب الخراج باب فی ارزاق فی العمال : ۲۹٤٥، وسنده صحیح)-
۳) الطبری : ۱۰٥/٤ ح/۸۱٥۷،)-
٤) احمد : ٤۲۳/٥ ، صحیح کتاب الهبة باب من لم یقل الهدیة لعلة: ۲٥۹۸، ، صحیح مسلم : ۱۸۳۲)-
٥) احمد: ٤۲٤/٥ ،)-
٦) ترمذی : کتاب الاحکام باب ماجاء فی هدایا الامر : ۱۳۳٥،)-

Scanned with Ca

د خیانت شوی څیز سره میدان حشر ته راتلل:- مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ یو ورځ اډریدو او دخیانت ذکر ئې اوکړو او ددې لویولویو ګناهونو او وبالونونه ئې مونږ ویرولو. بیا رسول الله ﷺ دا ذکر اوفرمائیلو چه د قیامت په ورځ به خلق ځناورو سره راشی او رسول الله ﷺ ته به فریاد کوی او رسول الله ﷺ به انکارکوی ، لکه څنګه چې وړاندې بیان شو. په هغې کښې د سروسپینو ذکر دې دا حدیث مسلم او بخاری شریف کښې هم دې (۱)

دیو صحابی ﷺ د عامل جوړیدو نه ویریدل:- مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل انې خلقو څوک مونږ عامل جوړ کړو او بیا هغه ځمونږ نه یو د ستنې هومره څیز هم پټ کړی نوهغه خیانت دې . او دې سره به دقیامت په ورځ حاضریږی. دې آوریدو سره یو غنم رنګی انصاری سعدبن عباده ﷺ اودریدو او وې فرمائیل چه یارسول الله څه عامل نه جوړیږم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ولې ؟ هغه اووئیل چه دا تاسو چه اوفرمائیل . رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه اوس واوره چه څوک مونږ عامل جوړ کړو یا چاته مونږ څه کار حواله کړو نو هغه ته پکار دی چه لږ ډیر هرڅه راوړی چه کوم ده ته ورکړې شوی وی او واخلی او چه دڅه نه منع شی هغې نه دې منع شی . دا حدیث مسلم او ابوداود کښې هم دې (۲).

دخیانت په وجه عذاب قبر:- ابو رافع ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ به عام طور د مازیګر مونځ نه پس عبدالاشهل ته تشریف اوړو. او تقریبا تر مابنام پورې به هلته مجلس وو. یو ورځ د مابنام وخت کښې هلته ئې تشریف یوړو ، وخت کم وو ، تیز تیز تلل ، چه بقیع ته اورسیدو نورسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تف دې تاته تف دې . ما اوګنړل چه ګنې ماته وائی نو ما خپلې کپړې درست کړې ، او روستو پاتې شوم. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څه خبره ده ؟ ما اووئیل چه ستاسو د فرمان په وجه . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ماتاته نه وو وئیلی بلکه دا قبر د فلانی سړی دې ، دا سړې ما فلانئ قبیلې ته لیږلې وو. ده تری یو څادر اخستې وو ،اواوس هغې نه اور جوړ شوې دې او دې پرې سوزی. (مسند احمد) (۳).

دخیانت نه ځان اوساتئ:- عباده بن صامت ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ به د غنیمت د مال نه د اوښ د شا نه څه وینښته اخستل نو فرمائیل به ئې چه ځما هم په دې کښې حق شته دې چه څومره ستاسو په دې کښې دی .خیانت نه ځان ساتئ، د خیانت کونکی رسوائی به د قیامت په ورځ وی .تار ستنې پورې رسوائی او ددې نه حقیر څیز هم .دالله تعالی لار کښې نزدو او لرو سره جهاد کوئی. وطن کښې هم او سفر کښې هم .جهاد د جنت د دروازونه یو دروازه ده ، د جهاد په وجه الله ﷻ مشکلاتو او مصیبتونو نه نجات ورکوی.د الله ﷻ حدونه خپلواو پردو دواړو باندې جاری کوئ. دالله ﷻ باره کښې دې ملامت کونکې په ملامتیا وئیلو سره ستاسو خوله بنده نکړی.(مسند احمد).(۴)

خیانت د قیامت د ورځې رسوائی ده:- ددې حدیث بعضې حصه ابن ماجه کښې هم مروی ده. ابو مسعود انصاری ﷺ فرمائی چه کله څه رسول الله ﷺ عامل جوړ کړم اووې لیږلم .نو وې فرمائیل چه ائې ابو مسعود ﷺ ! لاړشه خو هسې نه چه تا څه د قیامت په ورځ داسې حالت کښې اوویني چه ستا په شا باندې اوښ وی او هغه چغې وهی چه کوم تا خیانت کړې وی .ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ بیا خو څه نه څم. نورسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیا خو تا په زور نه لیږم.(ابوداود).

دقیامت په ورځ د خیانت شوی څیز راوړل:- ابن مردویه کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی که یو کانړی جهنم ته اوویشتلې شی نو اویاکاله هغه روان وی او ددې بیخ ته نه رسی . د خیانت څیز به هم دعه شان

---

۱) احمد: ٤٢٦/٢، صحیح بخاری کتاب الجهاد بآب الغلول : ۳۰۷۳، صحیح مسلم: ۱۸۳۱)-

۲) صحیح مسلم کتاب الامارة باب ما غلظ تحریم الغلول : ۱۸۳۱، احمد: ۱۹۲/٤، ابوداود: ۳۵۸۱)-

۳) احمد: ۳۹۲/٦، نسائی کتاب الامامة باب الاسراع الی الصلاة من غیر سعی : ۸٦۳، وهو حسن)-

۴) ابوداود کتاب الخراج باب فی غلول الصدقة : ۲۹٤۷، وسنده حسن)-

Scanned with Ca

جهنم ته ویشتلي شي بیا به خیانتگر ته وئیلي شي چه لاړه شه دا راړوه. هم دا معنی د الله ﷻ دي دي فرمان چه ﴿وَمَا كَانَ لِنَبِيٍّ أَنْ يَغُلَّ ۚ وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۚ﴾ (١)

په مال غنیمت کښې د خیانت په وجه شهید جهنم ته تلل:-مسند احمد کښې دی چه د خیبر په ورځ صحابه کرام ﷺ راتلل او وې فرمائیل چه فلاني شهید دي .فلاني شهید دي .هرکله چه دیو سړی باره کښې اووئیلي شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بالکل نه ما هغه جهنم کښې لیدلي دي.ځکه چه ده د غنیمت دمال یو څادرپټ کړي وو.بیارسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اني عمر بن خطاب ﷺ ! ته لاړشه او خلقو ته اعلان اوکړه چه جنت ته به صرف ایماندار ځي. نو څه لاړم او ټولو ته مې دا اعلان اوکړو. دا حدیث مسلم اوترمذی کښې شته دي . امام ترمذی رحمه الله دي ته حسن صحیح وئیلی دی (٢).

د صدقې په څارو کښې دخیانت کولو سزا:- ابن جریر کښې دی چه یو ورځ عمرفاروق ﷺ د عبدالله بن انیس ﷺ سره د صدقاتو ذکر اوکړو او وې فرمائیل چه تاسو د رسول الله ﷺ دا فرمان نه دي آوریدلي چه رسول الله ﷺ صدقاتو کښې د خیانت کوونکوباره کښې اوفرمائیل چه دي کښې څوك اوښ یا چیلۍ واخلی نو دي به هغه د قیامت په ورځ اوچتوی.عبدالله ﷺ اوفرمائیل چه آو،دا روایت ابن ماجه کښې هم دي (٣).

د صدقې په مال کښې خیانت کول:-ابن جریر کښې د سعدبن عباده ﷺ نه مروی دی چه دې رسول الله ﷺ د صدقو دوصولئ دپاره لیږلو وو.نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اني سعده ! هسې نه چه ته د قیامت په ورځ چغه وهونکې اوښ راولې.نو سعد ﷺ اوفرمائیل چه نه خو به څه داعهده قبوله کړم اونه ددې احتمال شته دي.نورسول الله ﷺ ددې کار نه هم دې منع کړو.(٤)

دخیانت شوی څیز عذاب:- مسند احمد کښې دی چه مسلمه بن عبدالمالك سره د روم جنګ کښې سالم بن عبدالله هم وو.یوسړی د ده د مال نه څه خیانت مال راوویستو. د لښکر سردار دسالم ﷺ نه دې باره کښې فتوی طلب کړه نو دوی اوفرمائیل چه ما ته ځما پلار عبدالله ﷺ اوهغه ته د هغه پلارعمر بن خطاب ﷺ بیان کړي. چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چې د چا په مال کښې تاسو د غلا سامان اوموميء نو هغه اوسیزئی.راوی وائی چه ځما خیال دا هم دې چه دائې هم اوفرمائیل چه هغه ته سزا ورکړئی . نو هرکله چه دهغه مال بازارکښې راویستلې شو نو په هغې کښې یو قران پاك هم وو.

خیانت شوی څیز سره به څه کولې شی؟:-①سالم ﷺ نه دې باره کښې بیا تپوس اوشو نو وې فرمائیل چه دا خرڅ کړئی او د دې قیمت صدقه کړئی. دا حدیث ابو داود او ترمذی شریف کښې هم شته دي (٥). امام علی بن مدینی رحمه الله او امام بخاری رحمه الله فرمائی چه دا حدیث منکر دي . امام دارقطنی رحمه الله فرمائی چه صحیح دا ده چه دا دسالم رحمه الله خپله فتوی ده .حضرت امام احمد اود دوی دملګرو هم دا قول دي.حسن رحمه الله هم دا وائی ②علی ﷺ فرمائی چه دده مال دې اوسیزلئ شی او دې دې د مملوك د حد نه کم اووهلی شی.اوده ته دې دده حصه ورنکړې شی ③امام ابوحنیفه رحمه الله ،امام بخاری رحمه الله ،امام مالك رحمه الله اوامام شافعی رحمه الله اودجمهورو مذهب ددې خلاف دي. دوی وائی چه د ده مال دې اونه سیزلې شی .بلکه د دې په مثل دې ده ته تعزیری سزا ورکړې شی.امام بخاری رحمه الله فرمائی چه رسول الله ﷺ د خائن دجنازې نه انکار کړي وو اودده مال ئې نه وو سیزلې . والله اعلم.

---

١) ابن مردویه)-

٢) صحیح مسلم کتاب الایمان باب غلظ تحریم الغلول : ١١٤، ترمذی :١٥٧٤، احمد: ٣٠/١)-

٣) ابن ما جة کتاب الزکاة باب ماجاء فی عمال الصدقة: ١٨١٠، وهو حسن : احدم: ٤٩٨/٣)-

٤) الطبری : ٨١٦٢، وسنده صحیح .)-

٥) احمد: ٢٢/١، کتاب الجهاد باب فی عقوبة المال : ٢٧١٣،)-

Scanned with Ca

مسلک حنفی:- دا مسئله راته صریحی معلومه نشوه البته په احکام القران د علامه ظفراحمد عثمانی رحمه الله کښې دی (**لم یذکر للغلول عقوبة فی الدنیا فدل علی انه لایحرق رحله حدا**) یعنی الله تعالی په مال غنیمت کښې د خیانت کولو په سزا کښې څه دنیاوی سزا نه ده ذکر کړې د دې نه دا معلومیږی چې د مال غنیمت غلا شوې څیز به نشی سوزولې چونکه عثمانی رحمه الله حنفی دې او دوی د نه سوزولو ذکر کړې دې نو معلومه شوه چه د احنافو په نیز به خیانت شوې څیز نشی سوزولې (احکام القران ٢/٧٣١).

مسند احمد کښې دی چه کله د قران پاك د تغیر حکم اوکړې شونو عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اوفرمائیل چه تاسو کښې د چا نه څومره کیدیشی نو هغه دې پټ کړی. ځکه چه څوك څه څیز پټ کړی نو د قیامت په ورځ به هغه څیز راوړی. بیا ئې اوفرمائیل چه ما اویا خله د رسول الله ﷺ نه زبانی آوریدلی دی. نو آیا څه د رسول الله ﷺ لوستې شوی قرآت نه منکر شم او هغه پریږدم ؟(١)دا امام وکیع رحمه الله هم په خپل تفسیر کښې راوړې دی.

په مال غنیمت کښې د خیانت کونکی سره د نبی کریم ﷺ سختی:- ابو داود کښې دی چه د رسول الله ﷺ عادت مبارك وو چه کله به د غنیمت مال راغلو نو رسول الله ﷺ به بلال رضی الله عنه ته حکم کولو او هغه به خلقو ته اعلان کولو چه چا سره څه څه وی نوهغه راوړئی .نوبیا به رسول الله ﷺ په دې کښې پنځمه حصه ویستله او نور به ئې تقسیم کړو.یو ځل یو سړی دې نه پس د ویښتو یو غنچه راوړه او وې وئیل چه یارسول الله ﷺ دا ځمانه پاتې شوې وه. نو رسول الله ﷺ ورته اووئیل چه تا د بلال اعلان آوریدلې وو چه کوم هغه دې ځله کړې وو. هغه اووئیل چه آو. نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه په هغه وخت کښې دې ولې راونړو. نو هغه عذر اوکړو ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اوس ئې بالکل نه اخلم .هم ته به دا د قیامت په ورځ راوړې.(٢)

قوله تعالی:: أَفَمَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَ اللَّهِ كَمَنْ بَاءَ بِسَخَطٍ مِنَ اللَّهِ

ایماندار او بې ایمان برابر نه دی :- الله ﷻ فرمائی چه د الله ﷻ په شریعت باندې تک کونکی او د الله ﷻ رضامندی حاصلونکی،ددې ثوابونو حاصلونکی،اودهغه د عذابونو نه بچ نکی،نودا خلق او کوم خلق چې د هغه دعذاب مستحق شو،اوچه د مرګ نه پس به جهنم کښې خپل ځانې جوړوی.آیا دا دواړه برابرکیدیشی ؟بیا فرمائی چه نیکی او بدی دواړه مختلف درجو کښې دی (٣)، هغه د جنت درجو کښې دې. او دې د جهنم په طبقوکښې دې. لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَلِكُلٍّ دَرَجَاتٌ مِمَّا عَمِلُوا﴾ هر یو دپاره د هغه د عمل مطابق درجې دی. بیا فرمائی چه الله ﷻ ددوی عملونه اوکتل او زر ده چه دوی ته به پوره پوره عمل ملاوٌ شی. نه به نیکی کمیږی او نه به بدی زیاته شی . بلکه د عمل مطابق به جزا او سزا وی.

قوله تعالی:: لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ

نبی هم د انسانانو جنس نه دې :- بیا فرمائی چه مومنانو باندې د الله ﷻ لوئې احسان دې چه په دوی کښې ئې هم د دوی د جنس نه پیغمبر راولیږلو چه هغه سره خبرې اوکړی اوتپوسونه تری اوکړی ، او دوی سره سره پاسی او دوی ته تری فائده اورسی . لکه بل ځائې ارشاد دې چه ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا﴾ دلته هم مطلب دا دې چه ستاسو د جنس نه هغه ذات ستاسو جوړې پیدا کړې .او بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ﴾ اووایه چه څه ستاسو په شان انسان یم ، ماته وحی کیږی چه ستاسو معبود یو معبود دې او فرمان دی چه ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ﴾ یعنی ستاسو نه مخکښې چه مونږ څومره رسولان لیږلی دی هغوئ ټولو به خوراك کولو او بازارونو کښې به ګرځیدل.

---

(١) احمد:)-

(٢) ابوداود کتاب الجهاد باب فی الغلول اذا کان یسیرا : ٢٧١٢، وسنده حسن)-

(٣) ابن ابی حاتم : ٦٤٦/٢، الطبری: ٣٦٧/٧)-

Scanned with Ca

اوبل خاني کښې ارشاد دې چه ﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى﴾ یعنی ستا نه مخکښې مونږ سړو ته وحی کړې وه چه کلو کښې اوسیدل .او ارشاد دې چه ﴿يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ﴾ یعنی انې جناتو اوانسانانو !آیا تاسو ته ستاسو نه رسول نه وو راغلې ؟

قوله تعالی:: اَنْفُسِهِمْ يَتْلُوْا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِهٖ وَيُزَكِّيْهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

الغرض دا پوره احسان دې ، چې مخلوق طرفته هم د هغوی د جنس رسولان لیږلې شوی دی چه مخلوق دوی سره کینی پاسی.او د سوالو د جوابونو په ذریعه دین زده کوی. نوالله ﷻ فرمانی چه هغه د الله ﷻ آیتونه یعنی قران پاك دوی ته لولی او د نیکو خبرو حکم کوی او دبدو نه ئې منع کوی اودوی پاکوی او دوی نه د جاهلیت او ناپاکئ اثرات ختموی. او دوی ته سنت ښائی او د دې رسول ﷺ د راتلو نه مخکښې دوی ګمراه شوی وو. ظاهری بدئ اوپوره جهالت کښې وو.

اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ	
آیا اوهر کله چه راورسیدو تاسوته	
.....اوپه تاسوځه شوی دی چې کله په تاسوباندې	
مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ۙ قُلْتُمْ اَنّٰى هٰذَا ؕ	
مصیبت اچه په تحقیق سره ارسولې ووتاسو دوچند ددې انواوونیل تاسو چه دکومې راغې دا (غم)	
مصیبت راشی احالانکه تاسو دهغې دوچنده نقصان (دښمن) ته رسولې وو نوتاسووائې چې دادکوم خاني نه راغلو	
قُلْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اَنْفُسِكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝	
ورته اووایه دا دطرفه د نفسونو ستاسونه دې ابیشکه الله تعالی په هر څیزباندې اقادردې	
ورته اووایه چې دا تاسوته هم ستاسو د کړو په وجه راغلې دې بیشکه الله پاک په هرڅۀ قادر دې	
وَمَآ اَصَابَكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ	
اوهغه چه دااورسیدوتاسوته په هغه ورځ چه مخامخ شوې دواړه ډلې	
اوکوم تکلیف چې تاسو ته د دوو ډلو یو بل سره د مخامخ کیدو په په ورځ رسیدلې وو	
فَبِاِذْنِ اللّٰهِ وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝	
انوهغه په حکم دالله تعالی (دررسیدلې وو) دپاره ددې چه معلوم کړی مومنان	
دا دالله پاک په حکم سره وو (دا هرڅه د دې وجې) چې مؤمنان جدا کړی	
وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ نَافَقُوْا ۚ وَقِيْلَ لَهُمْ	
اودپاره ددې چه معلوم کړی اهغه کسان اچه منافقت ئې کړې ووا اوچه اووئیلې شو اهغوئ ته	
اومنافقان جداکړی ..... (هغه منافقان) چې ورته اووئیلې شی	
تَعَالَوْا قَاتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوِ ادْفَعُوْا ؕ قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ	
چه راشئ اجنګ اوکړئ اپه لار دالله کښې ایا دفاع (حفاظت) اوکړی انواوونیل هغوئ اکه مونږ ته علم وې	
چې راشئ دالله په لار کښې جهاد اوکړئ ایا (کم از کم) دخپل کور کلی نه دشمن لرې کړئ انوهغوئ اووئیل که مونږ ته معلوم	

Scanned with Ca

قِتَالًا	لَّا اتَّبَعْنٰكُمْ ؕ	هُمْ لِلْكُفْرِ	يَوْمَئِذٍ	اَقْرَبُ
ادجنګ	نو خامخابه مونږ پیروی کړې وې ستاسو	هغوئ کفرته	په دغه ورځ	ډیرنږدې وو
وې اچې دا جنګ دې	نومونږبه درپسې ضرور درغلی وو	ددې وینا په وخت کښې هم هغوئ کفرته زیات نږدې وو		
مِنْهُمْ	لِلْاِيْمَانِ ۚ يَقُوْلُوْنَ	بِاَفْوَاهِهِمْ	مَّا	لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ؕ
په نسبت دهغوئ	ایمان ته	اوانی هغوئ	په خولو خپل	اهغه خبرې
په نسبت دایمان	.....دوئ په خولې هغه څه وانې چې په زړونو کښې نې نه وی			
وَاللّٰهُ	اَعْلَمُ	بِمَا	يَكْتُمُوْنَ ۚ	اَلَّذِيْنَ
اواللہ تعالی	ښه پوهیږی	په هغه خبرو	چه پټوئی نې هغوئ	داهغه خلق دی
اوکومې خبرې چې دوئ پټوی	اللہ په هغې ښه خبر دې	.....داهغه خلق دې چې دوئی د خپلو رونړو		
لِاِخْوَانِهِمْ	وَقَعَدُوْا	لَوْ اَطَاعُوْنَا	مَا قُتِلُوْا ؕ	قُلْ
رونړو خپلو ته	اوحال داچه ناست وو پخپله	که دوی خبره منلې زمونږ	نونه به وو وژلې شوی	اورته اووایه
په باره کښې اووئیل	احالانکه دوئ پخپله ناست پاتې شو	که چرې زمونږ خبره نې منلې وې نو وژلې شوی به نه وو		ورته اووایه
فَادْرَءُوْا	عَنْ اَنْفُسِكُمُ	الْمَوْتَ	اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ۝	
انولرې کړئی	دخانونو خپلونه	مرګ	که چرې	یئ تاسو رښتنی
ښه ده تاسو دخپل ځان نه مرګ لرې کړئی	که تاسو په دې وینا کښې رښتونی یئ			

قوله تعالی:: اَوَلَمَّآ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ قَدْ اَصَبْتُمْ مِّثْلَيْهَا ۙ

د جنګ احد مصیبت :- دلته چه دکوم مصیبت ذکر کیږی دا د احد مصیبت دې چه په هغې اویا صحابه کرام ﷺ شهیدان شوی وو. او ددې نه دوچند مصیبت مسلمانانو کافرانو ته رسولې وو یعنی د بدر په ورځ اویاکافران قتل شوی وو او اویا قیدیان شوی وو. نومسلمانانو اووئیل چه دا مصیبت څنګه دې ؟ الله ﷻ فرمائی چه دا ستاسو د خپل طرفنه دې .

د احد شهیدان د بدر د قیدیانو د رهائی په بدله کښې :- عمر بن خطاب ﷺ بیان کوی چه د بدر په ورځ مسلمانانو فدیه واخسته او کوم کفار نې پریښودی وو د هغې په سزا کښې راتلونکی کال کښې دوی اویا مسلمانان شهیدان شول. او صحابه کرام ﷺ کښې شور جوړ شو او د رسول الله ﷺ خلور غاښونه مبارك شهیدان شو. د رسول الله ﷺ په سرمبارك باندې زخمونه راغلل. اود رسول الله ﷺ مخ مبارک هم وینې شو. ددې بیان دې آیت کښې کیږی. (ابن ابی حاتم ومسند امام احمد بن حنبل) (۱).

د بدر د فدې په بدله کښې اویا شهیدان :- علی ﷺ نه مروی دی چه جبرئیل ﷺ رسول الله ﷺ ته راغلو او وې فرمائیل چه انې محمد ﷺ ! الله تعالی ته دا خوښ نه دی چه ستا قوم کافران قیدیان جوړ کړی .تاسو دوی ته حکم اوکړئ چه دوئ خبرو کښې یو اختیار کړی. یا خودې دا قیدیان اووژنی یا دې د دوی نه فدیه واخلی او دوی دې آزاد کړی . خو بیا به مسلمانانو کښې دومره تعداد کښې شهیدان کیږی. رسول الله ﷺ خلق راجمع کړل او دواړه خبرې نې پیش کړې . نو هغوئ اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! دا ځمونږ د قبیلې خلق دی ،ځمونږ رشته دار رونړه دی. مونږ د دوی نه ولې فدیه وانخلو ؟ او دې مال سره به مونږ قوت حاصل کړو اوخپلو دښمنانوسره به جنګ اوکړو.اوبیا مونږ کښې چه دومره کسان

---

۱) احمد: ۳۰/۱ وسنده حسن)-

Scanned with Ca

شهیدان شی نو دې کښې ځمونږ څه نقصان دې؟نوجرمانه ئې وصول کړه اواویا قیدیان ئې پریښودل . اودوی نه هم اویا مسلمانان شهیدان شول په غزوه احدکښې (ترمذی ، نسائی).(۱)

دایت دوه مطلبه:- ① نومطلب دا شو چه دا ستاسو د طرفنه اوشو یعنی تاسو د بدر قیدیان ژوندی پریښودل اودهغوئ نه مودجنګ جرمانه وصول کړه.اودا شرط مو منظورکړی وو چه نوستاسودې دومره کسان شهیدشی نوهغه شهید شو② دویم مطلب دا دې چه تاسو د رسول الله ﷺ نافرمانی کړې وه په دې وجه تاسوته نقصان اورسیدو.تیراندازو ته رسول الله ﷺ حکم کړې ووچه هغوئ دې خپل ځائې نه پریږدی.خو هغوئ هغه ځائې پریښودو. الله ﷻ په هر څیز قادر دې او چه کومه اراده او حکم اوکړی نو هغه نه روستو کیږی .

قوله تعالی:: وَلِيَعْلَمَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۙ وَلِيَعْلَمَ الَّذِيْنَ نَافَقُوْا ۚ

د احد په جنګ کښې حکمتونه:- ①د دواړو جماعتونو د جنګ په وخت کښې تاسوته نقصان اورسیدو. او تردې چه تاسو د دښمن نه په تیښته شوئی . تاسو کښې بعضې خلق شهیدان شول او بعضې زخمیان شول.دا ټول هرڅه د الله ﷻ د قدر او قضا سره وو او د هغه پاك ذات حکمت د دې مقتضی وو. ②او د دې یومقصد دا هم ووچه الله ﷻ ته (په علم ظاهری سره) متزلزل ایمان والا او ثابت قدم خلق معلوم شی. او منافقان هم معلوم شی.لکه عبدالله بن ابی ابن سلول او دده ملګری چه په لار کښې واپس شو. یو مسلمان هغوئ پوهه کړه چه راځئ د الله ﷻ لار کښې جهاداوکړئی او یا کم ازکم هغه کسان خومنع کړه چه حمله کوؤنکی دی.

قوله تعالی:: قَالُوْا لَوْ نَعْلَمُ قِتَالًا لَّا اتَّبَعْنٰكُمْ ۭ

د منافقانو دوینا دوه مطلبه:- ①خو هغوئ دا خبره روستو اوغورزوله او وې وئیل چه مونږ خو د جنګ د طریقو نه واقف نه یوکه مونږ واقف وې نو ضرور به تاسو سره وې .دا هم د مدافعت یو صورت وو .چه هغوئ مسلمانانو سره وې او دې سره مسلمانان زیات بنکاریدل یا ئې دعاګانې کولې ② د هغوئ د جواب یو مطلب دا ووکه چرې مونږ ته معلوم وې چه تاسو په ربښتیا دښمن سره مقابله کوئی نو مونږ به هم تاسو سره وې . خو مونږ ته پته ده چه جنګ نه کیږی.

د لارنه د عبدالله بن ابی واپس کیدل:- سیرت محمد بن اسحاق کښې دی چه رسول الله ﷺ زرو کسانو سره احد طرفته لاړل.نیمه لار کښې عبدالله ابن سلول روان شو او د نورو ئې اومنل او د مدینې نه اووتلو. او خما ئې اونه منل. په الله قسم مونږ ته نه دې معلوم چه مونږ کومې فائدې دپاره جنګ اوکړو ؟ خلق ولې خپل ځانونه ضائع کوی.چه څومره نفاق او شك اوشکوك والا خلق وو د دوی په آواز ئې لبیك اووئیلو اودرېمه حصه لښکر هغه سره واپس شو. عبدالله بن عمرو ابن حزام دبنو سلمه رور دوی ډیر پوهول چه ای خما قومه خپل نبی او خپل قوم مه رسوا کوئی.دوی دښمن ته مه پریږدئی او واپس کیږئی مه خو هغوئ بهانه جوړه کړه چه مونږ ته معلومه ده چه جنګ نه کیږی . هر کله چه دا بې چاره ګان عاجزه شو.نو وې وئیل چه تاسو دې الله ﷻ غرق کړی د الله دښمنانو ، د الله تاسوته هیڅ حاجت نشته دې ، الله ﷻ دخپل نبی مددګار دې . نو رسول الله ﷺ هم هغوئ پریښودل (۲)

قوله تعالی:: هُمْ لِلْكُفْرِ يَوْمَىِٕذٍ اَقْرَبُ مِنْهُمْ لِلْاِيْمَانِ ۚ

الله ﷻ فرمائی چه هغوئ په هغه ورځ دایمان مقابله کښې کفر ته زیات نزدې وو. دې نه معلومه شوه چه د انسان احوال زیات مختلف دی. کله هغه کفر ته نزدې شی او کله ایمان ته نزدې شی .

قوله تعالی:: يَقُوْلُوْنَ بِاَفْوَاهِهِمْ مَّا لَيْسَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۭ

---

۱) ترمذی کتاب السیر باب ماجاء فی قتل الاسارى والفداء : ۱۵۶۷،)-

۲) السیرة لابن هشام : ۵۲/۳، معضلا الطبری : ۸۱۹۱،)-.

Scanned with Ca

بیا فرمائی چه دوی خپلو خولو نه خبرې جوړوی او د دوی زړونو کښې بل څه دی . لکه څنګه چه دوی وائی که مونږ ته جنګ راتلې نو مونږ به ضرور تاسو سره وې . حالانکه دوی ته یقینی طور معلومه ده چه مشرکان لرې لرې نه مسلمانانو سره د مقابلې دپاره راغلی دی.هغوئ سوزی څکه چه دهغوئ سرداران دبدر په ورځ میدان کښې پاتې شوی وو.اودهغوئ اشراف قتل شوی وو.نو اوس په دې کمزورو مسلمانانو حمله آور شو. او یقینی طور یو عظیم جنګ کیدونکې دې . نوالله ﷻ فرمائی چه ماته د دوې د زړونو د پټو خبرو هم علم دې .

قوله تعالی::اَلَّذِيْنَ قَالُوْا لِاِخْوَانِهِمْ وَقَعَدُوْا لَوْ اَطَاعُوْنَا مَا قُتِلُوْا

دا هغه خلق چه دوی ونیل که چرې خمونږ رونړو خمونږ خبره منلې وې اوکور کښې ناست وې او جنګ کښې شریك شوې نه وې نو نن به مړه شوی نه وو. نو دې باره کښې د الله ﷻ ارشاد دې که دا صحیح وی او تاسو په دې خپله خبره کښې رښتونی یئ او میدان ته نه تلو سره انسان د مرګ نه بچ کیږی نو پکاردی چه تاسو مړه نشئ ،د دې وجې تاسو کورونو کښې ناست یئ .لیکن ظاهره دا ده چه تاسو به هم یو ورځ روان یئ اګر چه تاسو مضبوطو برجونو کښې پناه واخلئ . مونږ به تاسو هله اومنو چه تاسو څان د مرګ نه بچ کړئ. جابر بن عبدالله ﷺ فرمائی چه دا آیت د عبدالله بن ابی بن سلول او د ده د ملګرو باره کښې نازل شوی دی (١)

وَلَا تَحْسَبَنَّ	الَّذِيْنَ	قُتِلُوْا	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	اَمْوَاتًا ؕ	بَلْ اَحْيَآءٌ
اومه کوه ګمان	اپه هغه کسانو	اچه وژلې شوی دی	په لاره دالله کښې	دمړو	بلکه ژوندی دی
اوتاسو ګمان مه کوئ دهغه خلقو په باره کښې چې دالله په لار کښې شهید شوی وی	اچې ګنې دامړۀ دی بلکه دوی ژوندی دی				
عِنْدَ رَبِّهِمْ	يُرْزَقُوْنَ ۙ	فَرِحِيْنَ	بِمَآ	اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ	
په نیزد رب خپل	اهغوئ ته رزق ورکولې شی	اخوشحاله دی	اپه هغه څه	اچه ورکړی دی هغوئ ته الله	
دخپل رب په نیز دوئ ته رزق ملاویږی	الله پاک چې کوم فضل پرې کړې دې په هغې دوی خوشحالیږی				
مِنْ فَضْلِهٖ ۙ	وَيَسْتَبْشِرُوْنَ	بِالَّذِيْنَ	لَمْ يَلْحَقُوْا بِهِمْ	مِّنْ خَلْفِهِمْ ۙ	
دفضل خپل نه	اوخوشحالیږی	اپه هغه کسانو	اچه لاته دوی رسیدلی دی هغوئ ته	اروستو دهغوئ نه	
اوپه هغه مسلمانانو باندې یو بل ته زیرې ورکوی کوم چه ورپسې رسیدلی نه دی بلکه روستو پاتې دی					
اَلَّا خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ	وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۘ	يَسْتَبْشِرُوْنَ	بِنِعْمَةٍ	مِّنَ اللّٰهِ
چه نشته یره	اپه هغوئ باندې	اونه به دوی غمژن شی	اخوشحالی حاصلوی	اپه نعمت خپل سره	ادطرفه دالله نه
په هغوئ هیڅ ویره نشته دې	او نه به هغوئ غمژن شی	اهغوئ دالله په نعمت او فضل باندې ډیرزیات خوشحاله دی			
وَفَضْلٍ ۙ	وَّاَنَّ اللّٰهَ	لَا يُضِيْعُ	اَجْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ	الَّذِيْنَ	اسْتَجَابُوْا
اوپه فضل سره	اوپه دې چه بیشکه الله	انه ضائع کوی	اجردمومنانو	اهغه کسان	اچه قبول کړو حکم
اوپه دې چې الله پاک دمؤمنانو اجر نه ضائع کوی بلکه پوره پوره ورکوی) اچاچې د الله او د رسول حکم					
لِلّٰهِ	وَالرَّسُوْلِ	مِنْۢ بَعْدِ مَآ	اَصَابَهُمُ	الْقَرْحُ ۛ	لِلَّذِيْنَ
دالله تعالی	اودرسول	اروستو دهغې نه	اچه رسیدلې ووهغوئ ته	زخم	ادپاره دهغه کسانو
د زخمی کیدو نه پس هم قبول کړلو	.....				..... نو په هغوئ کښې چې

(١) الطبری : ٣٨٣/٧)-.

Scanned with Ca

اَحْسَنُوْا	مِنْهُمْ	وَاتَّقَوْا	اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝	اَلَّذِيْنَ	قَالَ لَهُمُ
چه نیکئ ئې کړې وې	دهغوئ نه	اوپرهیزئې کړې وی	اجر لوئې دې	هغه کسان چه	ووئیل هغوئ ته
کوم نیکان اوپرهیزګار دی هغوئ دپاره لوئې اجردې	.....				هغه کسان چې هغوئ ته

النَّاسُ	اِنَّ النَّاسَ	قَدْ جَمَعُوْا	لَكُمْ	فَاخْشَوْهُمْ	
خلقو	چه بیشکه خلق	راجمع شوی دی	ستاسو خلاف	نواوویریږئی	دهغوئ نه
خلقو اووئیل چې خلق (کافران) ستاسو د حملې دپاره راجمع شوی دی				نو دهغوئ نه اوویریږئ	

فَزَادَهُمْ	اِيْمَانًا ۖ	وَّقَالُوْا	حَسْبُنَا اللّٰهُ	
نوزیات کړل هغوئ لره (دې خبرې)	دجهته دایمان نه	او وې وئیل	چه کافی دې مونږ لره الله	
نوپه دې خبره دهغوئ ایمان نور هم زیات شو	اودا ئې اووئیل چې زمونږ دپاره یوازې الله پاک کافی دې			

وَنِعْمَ	الْوَكِيْلُ ۝	فَانْقَلَبُوْا	بِنِعْمَةٍ	مِّنَ اللّٰهِ
او هغه ډیر ښه	کارسموونکې دې	انو واپس راغلل هغوئ	په نعمت سره	دطرفه دالله نه
اوهغه ډیر ښه کارساز دې	.....	نوهغوئ دالله پاک په نعمت اوفضل سره راواپس شول په داسې		

وَفَضْلٍ	لَّمْ يَمْسَسْهُمْ	سُوْٓءٌ ۙ	وَّاتَّبَعُوْا	رِضْوَانَ اللّٰهِ ؕ	وَاللّٰهُ
او په فضل سره	چه اونه رسید وهغوئ ته	هیڅ ضرر	اوپیروئی ئې اوکړه	درضا مندئی دالله	اوالله تعالی
حال کښې چه هیڅ نقصان ورته اونه رسیدو			اودالله پاک درضاکار ئې هم اوکړو		اوالله پاک د ډیر لوئې

ذُوْ	فَضْلٍ عَظِيْمٍ ۝	اِنَّمَا ذٰلِكُمُ	الشَّيْطٰنُ	يُخَوِّفُ	اَوْلِيَآءَهٗ ۪
مالک دفضل	لوئې دې	بیشکه	دغه شیطان وو	چه ویرول ئې خلق	ددوستانو خپلونه
فضل خاوند دې	.....	حقیقت کښې داشیطان وو چې تاسو ئې دخپلو ملګرونه ویرولئ			

فَلَا تَخَافُوْهُمْ	وَخَافُوْنِ	اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝	
انومه ویریږئی دهغوئ نه	او ویریږئی زمانه	که یئ تاسو	مومنان
نوتاسو دخلقونه مه ویریږئی	اوزمانه ویریږئ	که تاسو مومنان یئ	

قوله تعالی:: وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ؕ

د بئرمعونه د شهیدانو واقعه:- الله ﷻ فرمائی اګر چه شهید دالله ﷻ لار کښې اووژلې شی لیکن آخرت کښې د دوی روحونه ژوندی وی او هغوئ ته روزئ ملاویږی .دا د دې آیت شان نزول دې چه رسول الله ﷺ څلویښت یا اویا صحابه کرام ﷺ بیرمعونه طرفته لیږلی وو.دا جماعت ترې هغه غار ته رسیدلی وو خان باندې تکلیف تیر کړی او د الله د رسول کلمه هغوئ ته اورسوی. یو صحابی د دې دپاره تیار شو. او هغه د دې خلقو کورونوطرفته ورغلو او په اوچت آواز ئې اوئیل چه انې بیر معونه والو واورنی ! څه د الله تعالی د رسول قاصد یم څما ګواهی ده چه معبود صرف الله ﷻ دې او محمد د هغه بنده او د هغه رسول دې .دې آوریدو سره یوکافر څان سره غشئ واخستو او د کور نه راووتلو او دغه شان نښه ئې برابره کړه اودا صحابی ﷺ ئې پرې اوویشتلو .ددې صحابی د ژبې نه بیساخته اووتل چه (فزت ورب الکعبة) دکعبې په رب قسم څه مراد ته اورسیدم . اوس کافر دې نښو پسې روان شو او هلته اورسیدل. او د

Scanned with Ca

دوی سردار عامر بن طفیل دا ټول مسلمانان شهیدان کړل. انس ﷺ فرمائی چه د دوی باره کښې قران پاك کښې نازل شو چه ځمونږ د طرفنه ځمونږ قوم ته دا خبر اورسوه چه مونږ رب سره ملاقی شوی یو او هغه لونې ذات ځمونږ نه راضی شوې دې او مونږ هم د هغه پاك ذات نه راضی شوی یو. مونږ دا آیتونه باربار وئیل بیا یو موده پس دا منسوخ شو او اوچت کړې شو. او آیت ﴿ ولا تحسبن ﴾ الخ نازل شو (محمدبن جریر). (۱)

شهیدان به دنیا ته د واپس راتلو تمنا کوی:- صحیح مسلم شریف کښې دی مسروق فرمائی چه مونږ عبدالله ﷺ نه د دې آیت مطلب اوپوښتلو نو عبدالله ﷺ اوفرمائیل چه مونږ رسول الله ﷺ نه د دې آیت باره کښې تپوس کړې وو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل .چه د هغوئ روحونه د شین رنګ مارغانو قالب کښې دی.دعرش مشالونه د هغوی دپاره دی ،ټول جنت کښې چه چرته دوی خی هلته تلې شی او د جنت په استوګنوکښې آرام کوی. د هغوی رب هغوی طرفته یو نظر اوکړو د هغوی نه نې تپوس اوکړو چه څه غواړئی ؟ وې وئیل چه ائې الله ﷺ ! نور څه اوغواړو ټول جنت کښې مونږ ته اختیار دې چه چرته نه خورو څکو نو مونږ ته اختیار دې . نوبیا څه طلب کړو؟ الله ﷺ بیا د هغوی نه د دې تپوس اوکړو په دریم ځل تپوس کولو سره هغوی هم دا اوفرمائیل . هرکله چه هغوی اوکتل چه بغیر د غوښتلو نه هیڅ چاره نشته نو وې وئیل چه ائې ځمونږ ربه ! مونږ غواړو چه ته ځمونږ روحونه ځمونږ بدنونو ته واپس کړې بیا مونږ دنیا ته واپس شواو ستا لارکښې جهاد اوکړو اوشهیدان شو. اوس معلومه شوه چه هغوی ته د نور کمې نه وو نو د هغوی نه تپوس کول پریښودې شو(۲).

هیڅ جنتی دنیا ته واپس تلل نه غواړی خو رسول الله ﷺ فرمائی چه کوم خلق مړه شی او د الله تعالی سره ښه بدله اومومی نوهغوئ بیا دنیا ته واپس راتلل نه خوښوی. خو د شهید دا خواهش وی چه دنیا ته دوباره لاړشی او دوباره دالله ﷻ لار کښې شهید شی ځکه چه د شهادت درجې ده ته معلومې وی (مسند احمد) صحیح مسلم شریف کښې دا حدیث مبارك موجود دې . (۳)

د جابر ﷺ پلار ته د الله تعالی خطاب:- مسنداحمد کښې دی چه رسول الله ﷺ جابر بن عبدالله ﷺ ته اوفرمائیل چه ائې جابرتاته معلومه ده چه الله ﷻ ستا پلار ژوندی کړو او هغه ته نې اووئیل چه ای ځما بنده اوغواړه څه غواړې ؟ نو هغه اووئیل چه ما دنیا ته بیا اولیږل چه بیا ستا لار کښې شهید شم .الله ﷻ اوفرمائیل چه ما خو فیصله کړې ده چه هیڅوك به دوباره نه واپس کیږی .(٤) دهغه نوم عبدالله بن عمرو بن حرام انصاری وو.الله ﷻ دې د هغه نه راضی شې .

د شهیدان په تمنا سره د ایاتونو نازلیدل:- صحیح بخاری کښې دی چه جابر ﷺ فرمائی چه ځما د پلار د شهادت نه پس خه په ژړا شوم او د پلار د مخ مبارك نه مې کپړا اوچته کړه او بار بار مې د هغه مخ ته کتل.صحابه کرامو ﷺ خه منع کړم لیکن رسول الله ﷺ خاموش وو. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ائې جابره ! مه ژاړه. کله چه د احد په ورځ ستا پلار شهید شونو ترڅو چه ستا پلار راوچت شوې نه وو ملائکو په هغه خپلې وزرلې خورې کړې وې .(٥) نو الله ﷻ د هغه روح دشین مارغه په قالب کښې واچولو چه د جنت میوې خوری او د جنت د نهرونو نه اوبه څکی او د عرش د سیوری لاندې زوړندو

---

۱) الطبری : ۸۲۲٤، وسنده حسن . د آآیت تنیسخ روایت صحیح بخاری: ۴۰۹۵، صحیح مسلم: ۲۷۷۵، کښې موجود دی)-

۲) صحیح مسلم کتاب الامارة باب بیان ان ارواح الشهداء فی الجنة: ۱۸۸۷)-

۳) احمد:۳/۱۲٦. صحیح مسلم کتاب الجهاد باب تمنی المجاهدین ان یرجع الی الدنیا : ۱۲٦۵، صحیح مسلم : ۱۸۷۷)-

٤) احمد: ۳/۳٦۱، مسند حمیدی : ۱۲٦۵، مسند ابی یعلی : ۲۰۰۲)-

٥) صحیح بخاری کتاب المغازی باب من قتل من المسلمین یوم احد: ٤۰۸۱، تعلیقا ، او ۱۲٤٤ کښې موصولا هم موجود دی)-

Scanned with Ca

مشالونو کښې ارام کوی. هرکله چه دوی ته دا بهترین نعمتونه ملاؤ شو نو وې وئیل چه کاش خمونږ هغه رونړو ته د دې علم وې چه کوم نعمتونه مونږ دلته راکولې شی نو هغوی به د جهاد نه مخ نه اړولو. او دالله ﷻ لار کښې به جنګ کولو سره نه سترې کیدل . الله ﷻ دوی ته اوفرمائیل چه تاسو بې فکره اوسئ د اخبر به هغوئ ته اورسی نو دا آیتونه نازل شو.(۱)

د جابر ﷺ د پلار په خواهش ایاتونه نازلیدل:- ابن عباس ﷺ فرمائی چه د حمزه ﷺ او ددوی ملګرو باره کښې دا آیتونه نازل شو (مستدرك حاکم) دا هم مفسرینو فرمائیلی دی چه د احد د شهیدانو باره کښې دا آیتونه نازل شو. (۲) ابوبکر ابن مردویه کښې جابر ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ ماته اوکتل او وې فرمائیل چه انې جابر! دا څه خبره ده چه ته ډیر غمژن ئې . نو ما اوونیل یارسول الله ﷺ ! خما پلار شهید شو اوپه هغه باندې قرض وو او خما خویندې دی . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه واوره ! څه به تاته اووایم ، چه چا سره الله تعالی کلام کړې دې د پردې په شا سره ئې ورسره کلام کړې دې . خو ستا پلار سره ئې مخامخ په مخامخ خبرې اترې اوکړې . وې فرمائیل چه خما نه اوغواړه چه څه غواړې . ستا پلار اوونیل چه انې الله ﷻ څه ستا نه سوال کوم چه ته ما دوباره دنیا ته اولیږه چه څه دوباره ستا لار کښې شهید شم . الله ﷻ اوفرمائیل چه دا خبره خو ما مخکښې هم کړې وه چه هیڅوك به دوباره واپس دنیا ته نه راځی. نووې وئیل چه بیا خما نه پس راتلونکو ته دې د دې مرتبو خبر اورسوه. نوالله ﷻ دا آیت نازل کړو چه (وَلَاتَحْسَبَنَّ الخ) (۳). بیهقی کښې دومره زیاتوالې دې چه عبدالله ﷺ اوفرمائیل چه انې الله ﷻ ستا حق هم ادا نه کړې شو (۴)

شهیدان د جنت په دروازه:- مسند احمد کښې دی چه شهیدان جنت کښې دروازه باندې د نهر په غاړه ګنبد باندې دی . سحر مابنام دوی ته د جنت نعمتونه ملاویږی (۵)

داحادیثو په مینځ کښې تطبیق:- دواړو احادیثو کښې تطبیق دې ①چه بعضې شهیدان هغه دی چه د هغوئ روحونه د مارغانو قالبونو کښې دی او بعضې هغه دی چه د هغوئ ځائې ګنبد دې . ②اودا هم کیدیشی چه هغوئ جنت کښې ګرزځی راګرځی او دلته جمع کیږی .او بیا دوی د خوراك ځکاك دپاره دلته راځی. والله اعلم .

دلته که هغه حدیث نقل کړو نو بې موقعه به نه وی چه په هغې کښې دی. چه دهر مومن دپاره همدا بشارت دې .مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷻ فرمائی چه د مومن روح یو مارغه دې چه د جنت په ونو کښې میوې خوری .تردې پورې چه د قیامت په ورځ کله چه د الله ﷻ مخکښې ټول مخلوق ولاړ وی نو روحونه به د دوی بدنونو ته واپس کړی (۶).

د حدیث په روایت کښې درې جلیل القدر امامان:- ددې حدیث راویانو کښې درې جلیل القدر امامان دی کوم چې د هغه څلورو واړو امامانو نه دی د کومو مذهبونه چې منلې شی .①یو خو امام احمد بن حنبل رحمه الله ددې حدیث روایت کړې دې②دویم امام محمد بن ادریس شافعی رحمه الله دې ③ دریم د ده استاد امام مالك بن انس رحمه الله اصبحی دې نو امام احمد رحمه الله ، امام شافعی رحمه الله اوامام مالك رحمه الله ، درې واړه زبردست پیشوایان دی ،او د دې حدیث راویان دی . نو د دې حدیث نه ثابته شوه چه د ایماندارو

---

۱) احمد: ۲٦٥/۱، ابوداود : کتاب الجهاد باب فی فضل الشهادة : ۲٥۲۰، وهو حسن)-
۲) حاکم : ۳۸۷/۲، وسنده ضعیف الطبری: ۳۸۹/۷)-
۳) ترمذی کتاب تفسیر القران سورة آل عمران : ۳۰۱۰، وسنده حسن ابن ماجة: ۱۹۰،)-
٤) حاکم: ۲۰۳/۳ ، وسنده موضوع دلائل النبوة للبیهقی : ۲۹۸/۳)-
٥) احمد: ۲٦٦/۳،)-
٦) احمد: ٤٥٥/۳، ابن ماجة: ٤۲۷۱ وهو صحیح)-

Scanned with Ca

روحونه د جنتی مارغانو په شکل کښې اوسی.اود شهیدانو روحونه لکه مخکښې تیر شو چه د شین رنګ مارغه په شان قالب کښې اوسیږی. دا روحونه د ستورو په شان دی او د عامو مومنانو روحونوته دا مرتبه نه ده حاصله . دوی په خپله الوزی راالوزی. الله ﷻ چه ډیر لوئې مهربان اوزبردست احساناتو والا دي،خمونږ دعاده چه هغه مونږ ته پخپل فضل.اوکرم سره ایمان اواسلام باندې مرګ راولی.آمین .

قوله تعالی:: فَرِحِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ مِن فَضْلِهِۦ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُوا۟ بِهِم مِّنْ خَلْفِهِمْ

د شهیدانو د وجه:- بیا فرمائی چه دا شهیدان چه په کومو کومو نعمتونو اوآسانو کښې دی دوی بې حده خوشحاله او مسرور دی .

①او دوی ته دا خوشحالی او راحت هم دې چه د دوی رونړه چه کوم د دوی نه پس د الله ﷻ لاړ کښې شهیدان کیږی او دوی ته به راځی نو دوی ته به د بیا دپاره ویره نه وی . او نه به دوی ته د هغه ځیزونو ویره وی چه کوم دوی روستو پریښودی دی . الله ﷻ دې مونږ ته جنت نصیب کړی.

② محمد بن اسحاق رحمه الله فرمائی مطلب دا دې چه هغوئ خوشحاله دی او د دوی نور رونړه چه دوی سره جهاد کښې شریك وو. هغوئ به هم شهیدان کیږی دوی سره به ملاویږی وی او الله ﷻ به دوی ته ثواب ورکوی.

③ سدی رحمه الله فرمائی چه شهید ته یو کتاب ورکولې شی چه په فلانئ ورځې به تاته فلانې راځی ، نو ځنګه چه ددنیا خلق د یو غیرحاضر خپل په راتلو خوشحالیږی نو دعه شان دا شهیدان به هم د دې شهیدانو په خبر باندې خوشحالیږي.

④سعید بن جبیر ﷺ فرمائی مطلب دا دې چه کله شهید جنت ته لاړ شی اوهلته د جنت منزلونه او رحمتونه اوګوری نو وائی به چه کاش د دې علم خمونږ دې رونړو ته هم وی چه کوم اوسه پورې دنیا کښې دی نو دوی به ډیر په ځوانمردئی سره جهاد کښې حصه اخسته . او هغه ځایونو ته به ځی چه کوم ځائې نه ژوندی راتلو امید نه وی . نو هغوئ به هم خمونږ نعمتونو کښې حصه دار وی. نو رسول الله ﷺ دې خلقو ته د دوی حال اورسولو اوالله ﷻ دوی ته اووئیل چه ما ستاسو خبر ستاسو نبی ﷺ ته ورکړو، دې سره هغوئ ډیرزیات خوشحاله شو .

⑤بخاری او مسلم شریف کښې دبیر معونه قصه بیان شوې ده چه کوم اویا انصار صحابه ﷺ وو. او کافرو هغوئ په یو ورځ د سحر په وخت کښې قتل کړی وو. او د دوی د قاتلانو په حق کښې رسول الله ﷺ یو میاشت پورې مونځ کښې قنوت کښې بددعا کړې وه ، او په هغوئ ئې لعنت کړې وو. او د دوی باره کښې قران پاك کښې دا آیت نازل شو چه خمونږ قوم ته خبر اورسوه مونږ خپل رب سره ملاقی شو هغه خمونږ نه راضی دي اومونږ دهغه نه راضی یو(١). هغوئ د الله ﷻ نعمتونو کتلو کتلو سره خوشحاله دی .

⑥ عبدالرحمان ﷺ فرمائی چه آیت (یستبشرون) د یولو ساه لرونکو حق کښې دې که شهیدان وی که غیر شهیدان . داسې موقعې ډیرې کمې دی چه الله ﷻ د خپلو نبیانو فضیلت او ددوی د ثوابونو ذکر کوی او دې نه پس د مومنانو د ثوابونو ذکراونکړی.

قوله تعالی:: ٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُوا۟ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعْدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلْقَرْحُ

د جنګ احد نه پس سمدستی بیا د جنګ دپاره تیاریدل:- بیا دهغه ریښتونو مسلمانانو تعریف کیږی چه هغوئ د حمراء الاسد په ورځ د زخمونو باوجود جهاد ته ملا تړلې وه. مشرکانو مسلمانانو ته زخمونه رسولی وواو خپلو کورونوته واپس شو. خو بیا دوی ته خیال راغلو چه موقعه ښه وه مسلمانان ناکامه شوی دو او زخمی شوی وو.ددوی بهادران شهیدان شوی وو. که مونږ لږ شان نور بهادرئی سره جنګیدلې وې نو فیصله به شوې وې . هرکله چه رسول الله ﷺ د هغوئ د دې ارادې نه خبر شو نو مسلمانان ئې تیارول

---

١) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة رجیع.... ٤٠٩٠، صحیح مسلم: ٦٧٧)-

شروع کړل چه ماسره روان شئ مونږ مشرکانو پسې خو چه په هغوئ رعب پریوځی او په دې پوهه شی چه مسلمانان لا تراوسه پورې طاقت کښې دی.احد کښې چه کوم خلق موجود وو صرف هغوئ ته د تلو حکم وو. خو صرف جابر بن عبدالله ﷺ دوی سره وو دوی نه علاوه. په دې آواز باندې مسلمانانو لبیک اوونیلو اودزخمی کیدو باوجود اووینه کښې لت پت د الله ﷺ اود هغه درسول ﷺ اطاعت ته تیار شو.

پورتنئ واقعه په بل روایت سره:- عکرمه ﷺ بیان کوی چه کله مشرکان احد نه واپس شو نو لاره کښې ئې سوچ اوکړو چه نه خو تاسو رسول الله ﷺ قتل کړې دې او نه مو د مسلمانانو ښځې نیولې دی ، افسوس تاسو هیڅ اونکړل او واپس شوئ . هرکله چه دا خبر رسول الله ﷺ ته اورسیدو نو رسول الله ﷺ مسلمانانو ته د تیارئی حکم ورکړو. دوی تیار شو او د مشرکانو تعاقب کښې اووتل تردې چه حمراء الاسد پورې یا بیرابی عیینه ته راورسیدل. د مشرکانوزړونه د رعب د ویرې ډک شو او دې وینا سره مدینې منورې نه اووتل چه راتلونکې کال ته به ګورو .رسول الله هم واپس مدینې منورې ته راغلو .دا هم یومستقل جنګ دې .ددې ذکر دې آیت مبارک کښې دې .(١)

حضرت جابر ﷺ ته په جهاد کښې د شرکت اجازت:- د احد جنګ په پنځلسم شوال ، د هفتې په ورځ شوې وو. (د دې نه یو روځ پس) په شپارسم تاریخ د اتوار په ورځ رسول الله ﷺ اعلان اوکړو چه اې خلقو ! د دښمن تلاش کښې اووځئ او صرف هغه خلق اووځئ چه کوم میدان احد کښې وو. په دې آواز جابر ﷺ حاضر شو او عرض ئې اوکړو یارسول الله ﷺ ! پرون جنګ کښې ځه نه ووم. ځکه چه ځما پلار عبدالله ماته اووئیل چه اِئې خویه تاسره دا وړې وړې خویندې دی،ځما دا خوښه نه ده چه مونږ دواړه دوی ځانته پریږدو.یو به دلته پاتې شو.او ځه دا نه غواړم چه ځه رسول الله ﷺ سره لاړنشم او ته ورسره لاړشې . د دې وجې ځما خوښه ده چه ته خپلو خویندو سره کښینه او ځه ځم . په دې وجه ځه هلته پاتې شوم . ځما پلارتاسو سره راغلو.اوس ځما خواهش دې چه تاسو نن ماته اجازت راکړئی ځه تاسو سره لاړشم نو رسول الله ﷺ ورته اجازت ورکړو.

د صحابؤ جانثاری:- درسول الله ﷺ غرض ددې سفر نه دا وو چه دښمن اوتښتی او ورته دا خیال اوشی چه مونږ کښې لا قوت باقی دې .او دوی ځمونږ د مقابلې نه عاجز نه دی. د قبیله بنو عبدالاشهل یو صحابی ﷺ بیان کوی چه مونږ په غزوه احد کښې دواړه رونړه شامل وو. او مونږ ډیر زیات زخمی شو اوس واپس شو. هرکله چه د رسول الله ﷺ اعلان کونکی اعلان اوکړو چه واپس راشئ نو مونږ دواړو رونړ وخپلو کښې اوونیل چه افسوس مونږ سره سورلی نشته چه په هغې سواره شواو دالله ﷺ نبی ﷺ سره لاړشو. اونه د زخمونو په وجه په بدن کښې دومره طاقت شته دې چه پیدل لاړ شو.افسوس دا دې چه غزوه ځمونږ دلاس نه اووتله . ځمونږ بې شمیره زخمونه به مونږ نن منع کړی. خو بیا مونږ همت اوکړو. ماباندې ځما د رور په نسبت کم زخمونه وو. هرکله چه ځما رور بالکل عاجز شو نو قدم به ئې نشو اوچتولې ډیر مشکل سره تلو اوکله چه به سترې شو نو ایسار به شو او دغه شان مونږ لښکر ته اورسیدو. (سیرت ابن اسحاق) (٢)

دحضرت زبیر ﷺ د جهاد دپاره تیاریدل:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه عائشه صدیقه ﷺ عروه ﷺ ته اوونیل چه اې وراره ستا دواړه پلاران هم دې خلقو کښې دی د کومو باره کښې چې آیت (اَلَّذِیْنَ اسْتَجَابُوْا) الخ نازل شو.یعنی زبیر ﷺ او صدیق ﷺ او رسول الله ﷺ ته د احد جنګ کښې نقصان اورسیدو او مشرکان مخکښې لاړل . نو رسول الله ﷺ ته خیال راغلو چه هسې نه دوی واپس شی ،نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوک شته دې چه دوی پسې لاړ شی . په دې آواز اویا کسان د دې کار دپاره تیار شو چه

---

(١) السنن الکبری للنسائی : ١١٠٨٣، طبرانی فی الکبیر: ١١٦٣٢،)-

(٢) الطبری : ٨٢٣٣، دلائل النبوة للبیهقی : ٣١٤/٣،)-.

Scanned with Ca

په هغوئ کښې یو ابوبکر صدیق ﷺ وو ، دویم زبیر ﷺ وو (۱). دا روایت او نور ډیر روایتونه ډیرو سندونو سره ډیرو کتابونو کښې راغلی وو.ابن مردویه کښې دی چه رسول الله ﷺ عائشه رضی الله عنها ته اوفرمائیل چه ستا دواړه پلاران په دې خلقو کښې دی لیکن دا حدیث مرفوع بیانول صرف خطا ده ،ددې وجې چه ددې په راویانو کښې ثقه هم شته دې چه په کښې اختلاف دې . چه د رسول الله ﷺ نیکونو کښې نه وو. صحیح دادی چه عائشه رضی الله عنها دا خبره د اسماء بنت ابی بکر ﷺ خوئې عروه ﷺ نه وئیلې وه.ابن عباس ﷺ فرمانی چه الله ﷻ د ابوسفیان زړه کښې رعب واچولو او د دې باوجود چه هغه د احد جنګ کښې لږ شان کامیاب شوې هم وو. لیکن بیا هم مکې ته لاړو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ابوسفیان تاسوته نقصان رسولو دپاره واپس شوې وو. الله ﷻ د هغه زړه کښې رعب اچولو .د احد جنګ دشوال میاشت کښې شوې وو او تاجران خلق ذی القعده کښې مدینې ته راغلی وو او بدر صغری کښې به ئې هرکال په دې میاشت کښې پراؤ کولو.دې ځل هم د دې واقعې نه پس راغلل او مسلمانان ډیر زخمیان وو ، رسول الله ﷺ ته به ئې خپل تکلیفونه بیانول . اوډیر زیات غمژن وو.نبی علیه لسلام خلق په دې خبره باندې رامات کړل چه هغوئ رسول الله ﷺ سره لاړ شی او وې فرمائیل چه دا خلق به اوس لاړ شی اوبیا به حج ته رازی. او بیا به دا قدرت راتلونکی کال پورې نه وی . خو شیطان خپل دوستان ویرول او لمسول شروع کړل او وې وئیل چه خلقو ستاسو د ختمولو دپاره لښکرې تیارې کړی دی . او په دې وجه خلق نرم شو.

د رسول الله ﷺ ترغیب:- رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه واورئی که تاسو کښې یو هم لاړ نشی نوځه به یوازې څم .نو بیاد رسول الله ﷺ ترغیب سره ابوبکرصدیق ﷺ ،عمرفاروق ﷺ اوعثمان ﷺ ،علی ﷺ، زبیر ﷺ،سعد ﷺ ،طلحه ﷺ ، عبدالله بن عوف ﷺ ، عبدالله بن مسعود ﷺ ، حذیفه بن یمان ﷺ ، ابو عبیده بن جراح ﷺ وغیره اویا صحابه کرام ﷺ رسول الله ﷺ سره تلوته تیار شو. دا مبارك لښکر د ابو سفیان تلاش کښې تر بدرصغری پورې لاړو ، هم د هغوئ د فضیلت او د بهادرئی ذکر په دې آیت مبارك کښې دی .

حمراء الاسد ته رسیدل:- رسول الله ﷺ دې سفرمبارك کښې مدینې منورې نه اته میله لرې حمراء الاسد ته اورسیدو. مدینه کښې ئې څپل نائب ابن ام مکتوم ﷺ جوړ کړې وو. هلته رسول الله ﷺ پیر،نهه او چارشنبې پورې قیام اوفرمائیلو او بیا مدینې منورې ته واپس شو. په دې دوران کښې د قبیله بنو خزاعه سردار معبد خزاعی دلته راغلو او دې هم مشرك وو لیکن دې ټولې قبیلې سره د رسول الله ﷺ صلح شوې وه. ددې قبیلې مشرك اومومن ټول د رسول الله ﷺ خیرخواه وو. هغه اووئیل چه د رسول الله ﷺ ملګرو ته کوم تکلیف رسیدلې دې په هغې مونږ ته ډیر زیات افسوس دې . الله ﷻ دې دوی ته د رسول الله ﷺ خوشحالی نصیب کړی. کله چه حمراء اسد ته رسول الله ﷺ اورسیدو نو ددې نه مخکښې ابوسفیان تلې وو.

دابو سفیان په مسلمانانو باندې د حملې کولو اراده:- ده او دده ملګرو د واپس کیدو اراده کړې وه چه کله مونږ په دوی غالب شو او دوی مواووژل او زخمی موکړل نو بیا کار نیمګړې ولې پریږدو ځئ چه واپس لاړ شو او دوی بیخی ختم کړو. دا مشورې کیدلې

د معبد خزاعی اهم کردار ادا کول:- چه معبد خزاعی راورسیدو. ابوسفیان د هغه نه تپوس اوکړو چه وایه څه خبر دې ؟ هغه اووئیل چه رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ﷺ سره ستاسو تعاقب کښې راروان دې.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب (استجابو لله والرسول ...) : ٤٠٧٧، صحیح مسلم: ٢٣١٨)-

Scanned with Ca

هغه خلق ډیر غصه کښې وو چه کوم رومبی جنګ کښې نه وو شریک شوی ، هغوئ هم راغلی دی او د ټولو ارادې څه بدلې دی . اوډیر زیات طاقت سره حمله کونکی دی. ما خو داسې لښکرهیڅکله نه دې لیدلې.دې اوریدو سره د ابوسفیان وار خطا شو او وې وئیل چه ښه شوه چه تا سره مې ملاقات اوشو کنی مونږ پخپله هغوئ طرفته ورتلونکی وو. معبد اووئیل چه بالکل نه دا اراده پریږدئ او خما خبره چه تاسو به ددې خائې نه دتلو نه مخکښې د هغوئ آسونه اووینئ . اودهغوئ د لښکر اودهغوئ د غصې حال درته ما اووئیلو. خو صرف تاسو ته وایم چه ځئ او خپل خانونه بچ کړئ. ماسره داسې الفاظ نشته دې چه هغې سره څه د اسلام والو غیض وغضب او اراده او بهادری او سختی او پوخ والئ بیان کړم. نو مختصر دا دی چه واورئی که خپل خیر غواړئی نو زر ددې خائې نه لاړشئ . ابو سفیان اودده ملګری د ویرې نه تك تور شو او د مکې لار ئې اونیوله. د قبیله عبدالقیس یو سړې د کاروبار غرض سره مدینې ته روان وو ، هغه ته ابوسفیان اووئیل چه ته رسول الله ﷺ ته دا خبراورسوه چه مونږ ستا د ختمولو دپاره لښکر جمع کړې دې او مونږ د واپس کیدو اراده کړې ده. که تاسو دا پیغام زمونږ اورسولو نو عکاظ کښې به کشمش کښې زیاته حصه درکړو. نو دا خلق حمراء الاسدته راغلل او د ویرولو دپاره ئې د خطرناك خبر واورولو. لیکن صحابه کرام ﷺ ډیر استقلال او خوانمردئی سره جواب ورکړو چه مونږ لره الله ﷻ کافی دې اوهغه بهترین کارسازدې. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما د دوی دپاره د کانړی یو نشان مقرر کړې دې که واپس شی او هلته راورسی نو داسې به ختم شی لکه تیره شوې ورځ. (۱)

دایت مطلب: بعضو خلقو دا وئیلی دی چه دا آیت د بدر باره کښې نازل شوې دې . لیکن صحیح دا دی چه دحمراء اسد باره کښې دا آیت نازل شوې دې . مطلب دا دې چه دالله ﷻ دښمنانود دوی دغمژن کولو دپاره د دښمن د سامان او اکثریت نه ویرول خو دوی صبرناك ثابت شو. ددوی یقین کښې هیڅ فرق رانغلو بلکه د دوی توکل نور هم زیات شو. او د الله ﷻ مدد طرفته د دوی نظرونه نور هم وړاندې شو.

قوله تعالی:: وَقَالُوْا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ۝

حسبنا الله د ابراهیم علیه السلام کلمه ده:- صحیح بخاری کښې عبدالله بن عباس ﷺ نه مروی دی چه (حَسْبُنَا اللّٰهُ) الخ ابراهیم ﷺ اور ته د ورتلو په وخت کښې وئیلی وو. او محمد ﷺ په هغه وخت کښې کله چه رسول الله ﷺ خلقو د ډیرو لښکرونو نه ویرولو. (۲)

د امام حاکم سهو:- دتعجب خبره دا ده چه امام حاکم دا روایت نقل کړې دې اوفرمائیلی ئې دی چه دا په بخاری شریف او مسلم شریف کښې نشته دی (۳). بخاری شریف کښې یو روایت کښې دا هم دی چه دا آخری کلمه وه چه د خلیل الله ﷺ د خولې مبارکې نه په هغه وخت کښې وتلې وه څه وخت چې هغه اور ته غورځولې شو. (۴).

اوانس ﷺ والا روایت کښې دی چه د احد په موقع کله چه رسول الله ﷺ ته د کافرو د لښکر خبر ورکړې شو نو رسول الله ﷺ دا کلمه اووئیله.او یو روایت کښې دی چه د علی ﷺ سردارئی کښې چه کله رسول الله ﷺ یو وړوکې شان لښکر روان کړو او لارکښې ورته د خزاعه یو اعرابی دا خبرو ورکړو نو رسول الله ﷺ دا فرمائیلی وو .د ابن مردویه حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی وو چه کله تاسو باندې څه ګران کار او لوئې کار راشی نو تاسو (حَسْبُنَا اللّٰهُ) آخره پورې وائې .

---

۱) الطبری : ۸۲٤۳)-

۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة آل عمران باب قوله تعالی (الذین قال لهم الناس ...) : ٤٥٦۳)-

۳) حاکم : ۲۹۸/۲، وهو حدیث صحیح بالشواهد)-

۴) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة آل عمران باب قوله تعالی (الذین قال لهم الناس ...) : ٤٥٦٤)-

Scanned with Ca

په مشکل وخت کښې دا دعا کول:-مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ ددوؤ سړو مینځ کښې فیصله اوکړه نو چه دچا خلاف فیصله شوې وه هغه دا کلمه اوونیله. نو رسول الله ﷺ هغه واپس راوغوښتلو او ورته ئې اوونیل چه په عاجزئی او کاهلئ باندې د الله ﷻ ملامتیا اوشوه ، دانائی او دوراندیشی او عقل مندی کوه. بیا چه کله څه کار کښې انخښلې نو دا وایه (١).

د اسرافیل علیه السلام د شپیلئ وهلو انتظار:- دمسند یو حدیث شریف کښې دی چه څنګه آرام اوکړم حالانکه صاحب د شپلئ (اسرافیل d) خوله کښې شپیلئ نیولې ده. او تندې ئې لاندې کړې دې او د الله ﷻ د حکم منتظر دې چه کله به ورته حکم اوشی او دې شپیلئ کښې به پوک اووهی. صحابه کرامو ﷺ اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ څه اووایو ؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ﴿حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ ۝ على الله توكلنا﴾ وائې .(٢)

په واقعه افک کښې د عائشې دا کلمه وئیل:-ام المومنین زینب رضی الله عنها او ام المومنین عائشه رضی الله عنها نه مروی دی چه زینب رضی الله عنها فخر سره اوفرمائیل چه ځما نکاح خو پخپله الله ﷻ کړې ده او ستا نکاح ستا وارثانو کړې ده. صدیقه رضی الله عنها اوفرمائیل چه ځما د براءت او پاکئ آیتونه د آسمان نه په پاک کلام کښې نازل شوی دی.زینب رضی الله عنها اومنل او تپوس ئې اوکړو چه ته کله د صفوان بن معطل په سورلئی باندې سوریدې نو تا څه وئیلی وو ؟ نو صدیقه رضی الله عنها اوفرمائیل چه ﴿حَسْبِيَ اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيْلُ﴾ دې آوریدو سره ام المومنین زینب رضی الله عنها اوفرمائیل چه تا د ایمان والو کلمه وئیلې وه.

قوله تعالی: فَانْقَلَبُوْا بِنِعْمَةٍ مِّنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ لَّمْ يَمْسَسْهُمْ سُوْٓءٌ

نو هم دې آیت کښې دالله ﷻ ارشاد دې چه په الله ﷻ توکل کونکی خلق الله ﷻ غالب کړل او دوی سره چه کوم خلق خراب وو هغوئ ئې ذلت او بربادئی سره مغلوب کړل. دا خلق بغیر د څه نقصان نه او خرابئی نه خپلو بنارونو ته واپس شو. دښمن خپل مکار توب کښې ناکام شو. د دوی نه الله ﷻ رضا شو. ځکه چه دوی دالله ﷻ د رضا کار کړې وو. الله ﷻ ډیر فضل او کرم والادې .

د نعمت او فضل تفسیر:-ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا نعمت وو چه هغوئ سلامت اوسی او فضل دا وو چه رسول الله ﷺ د تاجرانو یو قافلې نه مال واخستو چه په هغې کښې نفع اوشوه او دا تولې نفع رسول الله ﷺ خپلو ملګروباندې تقسیم کړه (٣).

مجاهد رحمه الله فرمائی چه ابوسفیان رسول الله ﷺ ته اوونیل چه اوس د وعدې ځائې بدر دې . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ممکن ده . نو رسول الله ﷺ هلته اورسیدو خو دا ډیر پوک هلته رانغلو. هغه ځائې د منډئ ورځ وه.مال ئې واخستو چه ډیر په نفع خرڅ شو. ددې نوم غزوه بدر صغری دې

قوله تعالی: اِنَّمَا ذٰلِكُمُ الشَّيْطٰنُ يُخَوِّفُ اَوْلِيَآءَهٗ

د ایت مطلب:- بیا فرمائی چه دا شیطان وو چه تاسوئې دخپلو دوستانو نه ویرولئ . تاسوته پکار دی چه د دوی نه مه ویریږئ بلکه صرف ځما نه ویره کوئی . ځکه چه د ایماندارئی شرط دا دې چه کله تاسو څوک ویروی او د دینی کارونو نه مو منع کوی نو مسلمانان په الله ﷻ باندې توکل او بهروسه ساتی اوهغه طرفته رجوع کوی او هغه ذات د ده دپاره کافی او ناصر دې . لکه چې فرمائی چه ﴿اَلَيْسَ اللّٰهُ بِكَافٍ عَبْدَهٗ﴾ آیاالله ﷻ د خپل بنده دپاره کافی نه دې ؟ دا خلق وو تاسو د دوی نه سوا نوزو نه ویروی (تر دې چه فرمائی چه) ته اووایه چه زما دپاره الله ﷻ کافی دې ، توکل کونکو ته پکار دی چه صرف په هغه باندې بهروسه اوساتی .

---

(١) احمد: ٦/٢٤، ابوداود كتاب الفضائل باب الرجل يحلف على حقه : ٣٦٢٧)-

(٢) احمد: ١/٣٢٦، ترمذی كتاب صفة القيامة بآب ماجاء فی شان الصور : ٢٤٣١)-

(٣) دلائل النبوة : ٣/٣١٨)-

Scanned with Ca

شیطان د خپلو ملګرو ملګرتیا کوی:- ①او بل ځائې کښې ارشاد دې چه د شیطان ملګرو سره جنګ اوکړئی ، شیطان ډیر مکر والا دې ②او بل ځائې کښې ارشاد دې چه دا شیطانی لښکر دې ، یاد ساتئ د شیطان لښکر هم نقصان کښې دې ③او بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ﴾ الله ﷻ لیکلی دی چه یقینا زه او زما رسولان به غلبه بیا مومی او الله تعالی قوی او عزیز دې .④اوبل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿وَلَيَنْصُرَنَّ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ﴾ چه څوک د الله ﷻ مدد اوکړی نو الله ﷻ به د هغه سره مدد اوکړی. ⑤او فرمان دې چه ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنْ تَنْصُرُوا اللّٰهَ يَنْصُرْكُمْ﴾ انې ایمان والو ! که تاسو د الله ﷻ مدد کوئی نو الله ﷻ به هم ستاسو مدد اوکړی الخ. ⑥او آیت کښې دی چه بالیقین مونږ د خپلو رسولانو او ایماندارو مدد دنیا کښې هم کوؤ او په هغه ورځ هم په کومه ورځ چې به ګواه ولاړ وی چه په کومه ورځ به د ظالمانو هیڅ عذر دوی ته فائده نه ورکوی. او ددوی دپاره لعنت دې.او ډیر خراب ځائې دې .

وَلَا يَحْزُنْكَ	الَّذِيْنَ	يُسَارِعُوْنَ	فِي الْكُفْرِ ۚ	اِنَّهُمْ	لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ
اونه دې کړی غمژن تا	هغه کسان	چه هغوئ تندی کوی	په کفر کښې	بیشکه هغوئ	هرګز نقصان نشی رسولې الله ته
اوته دهغه خلقو په کارونو مه غمژن کیږه چې د کفر ترقئ دپاره منډې وهی				دوئ	هیڅکله الله ته هیڅ نقصان نشی رسولې
شَيْـًٔا ؕ	يُرِيْدُ اللّٰهُ	اَلَّا يَجْعَلَ	لَهُمْ	حَظًّا	فِي الْاٰخِرَةِ ۚ
هیڅ څه	اراده لری الله تعالی	چه نکړی مقرر	دهغوئ دپاره	څه برخه	په آخرت کښې
	.....الله پاک داغواړی چې په آخرت کښې ورته هیڅ حصه ورنکړی				
وَلَهُمْ	عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝	اِنَّ الَّذِيْنَ	اشْتَرَوُا الْكُفْرَ	بِالْاِيْمَانِ	
اودهغوئ دپاره	عذاب دې لوئې	بیشکه هغه کسان	چه وائې خیستو کفر	په ایمان باندې	
او دوئ دپاره لوئې عذاب مقرر دې	بیشکه کومو کسانو چې دایمان مقابله کښې کفر کښې اخستې دې				
لَنْ يَّضُرُّوا اللّٰهَ	شَيْـًٔا ۚ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝	وَلَا يَحْسَبَنَّ	
هرګز نقصان نه شی رسولې الله ته	هیڅ څه	او دې هغوئ دپاره	عذاب دردناک	او ګمان دې نه کوی	
هغوئ دالله پاک هیڅ نقصان نشی کولې	اوهغوئ دپاره دردناک عذاب مقرردې			او کومو کسانو چه	
الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اَنَّمَا نُمْلِيْ	لَهُمْ	خَيْرٌ	لِّاَنْفُسِهِمْ ؕ
اهغه کسان	چه کافران شوی دی	چه کوم مهلت مونږ ورکوؤ	هغوئ ته	چه بهتر دې	دهغوی دپاره
کفر کړې دې هغوی دې داخیال نه کوی چې کنې مونږ د دوی د ښیګړې دپاره دوی ته مهلت ورکوو					
اِنَّمَا نُمْلِيْ	لَهُمْ	لِيَزْدَادُوْٓا	اِثْمًا ۚ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ
بیشکه مهلت ورکوؤ مونږ	هغوئ ته	دپاره ددې چه زیاته کړی هغوئ	ګناه	اومقرر دې هغوئ له	عذاب
مونږ خومهلت ورکوو چې دوئ په کښې دګناهونوبارونه خان لره درانه کړی				.....	اودوی دپاره
مُّهِيْنٌ ۝	مَا كَانَ اللّٰهُ	لِيَذَرَ	الْمُؤْمِنِيْنَ	عَلٰى مَآ اَنْتُمْ	
سپوونکې	نه دې الله تعالی	چه پریږدی	مومنان	په هغه حال کښې چه یئ تاسو	
سپکونکې عذاب مقرر دې	الله پاک مؤمنان په دې حالت کښې نه پریږدی			په کوم کښې چه تاسو ئې	

Scanned with Ca

عَلَيْهِ حَتّٰى يَمِيْزَ الْخَبِيْثَ مِنَ الطَّيِّبِ ؕ وَمَا كَانَ اللّٰهُ

په هغې باندې (په دې وخت کښې) اتردې پورې اچه جدا به کړی ناپاک | دپاکونه | اونه دې الله تعالی
تردې چه هغه پاک او پلیت خلق جدا جدا کړی | .....اودهغه داطریقه هم نه ده

لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَجْتَبِيْ مِنْ رُّسُلِهٖ مَنْ

چه خبر کړی تاسو اپه غیبوباندې | لیکن الله | غوره کوی |درسولانو خپلونه | هغه څوک |
چې تاسوتول دغیبوپه خبروخبر کړی | بلکه دې د پاره الله پخپلو پیغمبرانو کښې چې څوک غوره کول غواړی نوهغه غوره کوی

يَّشَآءُ ۪ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَاِنْ تُؤْمِنُوْا

چه غواړی نې هغه|نوایمان راوړی| په الله تعالی باندې|اوپه رسولانو دهغه باندې| اوکه تاسو ایمان راوړو|
نوتاسوپه الله پاک او دهغه په رسول باندې ایمان راوړی| (چې ددې په ذریعه درته غیب معلوم شی) او که دایمان

وَتَتَّقُوْا فَلَكُمْ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝ وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ

او ویریدئی دالله نه|نودې ستاسو دپاره| اجر لوئې |اوګمان دې نه کوی| هغه کسان|چه بخل کوی|
اوپرهیزګارئ په لار روان شی| نوتاسودپاره ډیرلوئې اجر دې | اوپه چاچې الله پاک (دمال) فضل کړې دې

بِمَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ هُوَ خَيْرًا لَّهُمْ ؕ

په هغه څیز |چه ورکړې دې هغوئ ته الله| دفضل خپل نه | چه دابخل | ګنی بهتر دې|دهغوئ دپاره
اوهغوئ په کښې شومتیا کوی | .....نوداخیال دې نه کوی چې شومتیا د دوی دپاره بهتره ده

بَلْ هُوَ شَرٌّ لَّهُمْ ؕ سَيُطَوَّقُوْنَ مَا بَخِلُوْا

|بلکه| دا بخل |بد دې دهغوئ دپاره| زړ ده چه دهغوئ دغاړې زندئی به شی|هغه چه بخل کړې دې هغوئ
بلکه داددوئ دپاره دنقصان سبب دې| دغه دشومتیامال به ورته د قیامت په ورځ تیزندئ کړی شی

بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ وَلِلّٰهِ مِيْرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ وَاللّٰهُ

اپه هغې سره| په ورځ د قیامت|اوخاص الله لره دې| میراث دآسمانونو | او دزمکې | اوالله تعالی
..... اودآسمانونو اوزمکو ټول میراث د الله تعالی دې | .....اوالله پاک

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۝

اپه هغه کارونو| چه کوئی نې تاسو| خبر دې |
ستاسوپه کارونو ښه خبردې |

قوله تعالی:: وَلَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ ۚ

د نبی کریم ﷺ په کفر باندې غمژن کیدل:- محمد ﷺ خلقو باندې ډیر زیات مهربان وو ، ددې وجې ورته
بې لارې کیدل خوښ نه وو کوم کسانو چې به کفر کولو رسول الله ﷺ به په دې ډیر غمژن کیدو. د دې وجې
الله ﷻ رسول الله ﷺ منع کوی چه د الله ﷻ حکمت د دې تقاضا کوی چه د دوی کفر الله ﷻ ته یا رسول
الله ﷺ ته هیڅ نقصان نشی رسولې .دا خلق خپله آخروی حصه بربادوی اوخپلو خانونو دپاره عذابونه
تیاروی.الله ﷻ به د دوی د مخالفت نه رسول الله ﷺ محفوظ اوساتی.رسول الله ﷺ دې په دې غمژن
کیږی نه .

Scanned with Ca

قوله تعالی:: إِنَّ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْكُفْرَ بِالْإِيمَانِ

کافرانو ته مهلت ورکول:- بیا فرمائی چه ځما دا وعده هم مقرر ده چه څوک ایمان په کفر سره بدل کړی هغوئ هم ځمونږ هیڅ نشی کولې بلکه هم خپل نقصان کوی . او ځان دپاره دردناك عذاب تیاروی.

قوله تعالی:: وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِّأَنفُسِهِمْ

بیا دکافرانو بیان کوی چه د الله ﷻ مهلت د دوی په ګمان کښې دوی دپاره ښه دی① لکه څنګه چه الله ﷻ فرمائی چه ﴿أَيَحْسَبُونَ أَنَّمَا نُمِدُّهُم بِهِ مِن مَّالٍ وَبَنِينَ ۝ نُسَارِعُ لَهُمْ فِي الْخَيْرَاتِ ۚ بَل لَّا يَشْعُرُونَ ۝﴾ یعنی آیا دا کفار ګمان کوی د دوی د مال او اولاد زیاتوالې د دوی دپاره ځمونږ د طرفنه د خیریت ننبنه ده ؟ نه بلکه دوی کښې شعور نشته دی② بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ بِهَٰذَا الْحَدِيثِ ۖ﴾ یعنی ما او دا دروغژن پریږده اومونږ په مزه مزه دوی رانیسو چه دوی ته به ددې علم هم نه وی ③ او بل ځائې کښې ارشاد دی چه ﴿فَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ﴾ الخ. یعنی د دوی په مالونو او اولاد مه دهوکه کیږه الله ﷻ دوی ته په دنیا کښې هم عذاب ورکوی او د دوی مرګ به هم په کفر باندې وی .

قوله تعالی:: مَّا كَانَ اللَّهُ لِيَذَرَ الْمُؤْمِنِينَ

بیا فرمائی چه دا خبره یقینی ده چه بعضې احکام او بعضې امتحاناتو داسې وی چه الله ﷻ هغې سره ښکاره کوی او ظاهروی چه د هغه دوست څوك دی ؟ اود هغه دښمن څوك دی ؟ مومن صابر څوك دی او منافق فاجر جدا کوی . او صفا به ښکاره شی.

دایت مصداق:- ددې نه مراد د احد د جنګ ورځ ده چه په هغې کښې د ایماندارو صبر ، د ایمان پوخوالې استقامت، او توکل او فرمانبرداری او اطاعت اود منافقانو بې صبری او مخالفت اوتکذیب او موافقت او انکار او خیانت صفا ښکاره شو. غرض دا چه د جهاد حکم ، د هجرت حکم ، دا یو آزمیښت وو چه چاپه ښه اوبد کښې تمیز اوکړو.سدی رحمه الله فرمائی خلقو وئیلی وو که محمد ﷺ رینبتونې وی نو اودې وائی چه په مونږ کښې رینبتونې مسلمان کوم یو دی اوکوم نه دی ؟ نو دې باندې دا آیت ﴿مَّا كَانَ اللَّهُ﴾ الخ. نازل شو. (ابن جریر).

قوله تعالی:: وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُطْلِعَكُمْ عَلَى الْغَيْبِ

بیا فرمان دی چه د الله ﷻ غیب تاسو نه شئ پیژندئی ، هغه داسې اسباب پیدا کوی چه د مومن او منافق صفا تمیزاوشی.لیکن الله ﷻ خپلو رسولانو کښې چه څوك غواړی نو منتخب کوی نې .او بل ځائې ارشاددی چه ﴿عَالِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ﴾ الله ﷻ عالم الغیب دی نو په خپلو غیبو هیڅوك نه خبروی. مګر چه کوم یو رسول خوښ کړی د هغه مخکښې نګهباني فرښتې ګرځوی راګرځوی .

قوله تعالی:: فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ۚ وَإِن تُؤْمِنُوا وَتَتَّقُوا فَلَكُمْ أَجْرٌ عَظِيمٌ ۝

بیا فرمائی چه الله ﷻ باندې اودهغه په پیغمبرانوباندې ایمان راوړئی.یعنی اطاعت نې اوکړئی او د شریعت پابند اوسئ یاد ساتئی چه ایمان اوتقوی کښې ستاسو دپاره اجر عظیم دی .

قوله تعالی:: وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ

د بخل انجام:- بیا ارشا دی چه بخیل سړی دی خپل مال ځان دپاره بهتر نه ګڼری .دا خوددده دپاره ضرر ناك څیز دی .دین خودې لیکن کله کله دنیاوی طور سره د دې انجام او نتیجه دا وی چه د بخیلئ به د دوی غاړه کښې طوق اچولې شی .

مال په خامار وی:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه چاته الله ﷻ مال ورکړی اوهغه ددې نه زکوة نه ورکوی نوددې مال نه به د قیامت په ورځ یوګنجې مارجوړ شی او د ده د مرئ نه

Scanned with Ca

به راتاؤ شی او ددې مار په سترګو به دوه نښې وی او د ده شونډې به ځیرې وی.او وائی به چه ځه ستا مال یم او ځه ستا خزانه یم بیا رسول الله ﷺ هم دا آیت (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ) الخ تلاوت اوفرمائیلو. (١)

د مار نه منډې وهل:-دمسند احمد یو حدیث کښې دی چه دې به منډې وهی او مار به ده پسې وی او دې به راونیسی او د ده د غاړې نه به طوق شی . (٢)

مار به ټکونه ورکوی:- مسند ابویعلی کښې دی چه کوم سړې خزانه خان نه روستو پریږدی اومړشی نو هغه خزانه د یو جزامی مار په شان شکل کښې به ده پسې منډې وهې او د هغه مار سترګو باندې دوه تورټاکی وی او دې به ورته وائی چه ته څوك ئې ؟ دې به اووائی چه ځه ستا خزانه یم کومه چه تا خان نه روستو پریخودې وه. تر دې چه هغه مار به دې راونیسی او دده لاس به خوری اوبیا باقی بدن (٣).

مال به اژدها شی:- دطبرانی حدیث مبارك کښې دی چه کوم سړې خپل آقا ته ورشی او هغه نه خپل حاجت اوغواړی او د دې باوجود چه هغه سره وی او ده ته ورنکړی نو دا به دقیامت په ورځ دده دپاره یو اژدها جوړه شی . (٤)

د رشته دار حاجت نه پور کولو سزا:- دویم روایت کښې دی چه کوم رشته دار محتاج د خپل مالدار رشته دار نه سوال اوکړی اودې هغه ته ورنکړی نو د ده سزا به دا وی چه هغه مال به دده غاړه کښې دهار په شان اچولې شی (ابن جریر) .(٥)

ابن عباس ﷺ فرمائی چه اهل کتابو د خپلو کتابونو خبرو خودلو کښې بخل کولو د هغوئ سزا په دې آیت کښې بیانیږی لیکن صحیح خبره دا ده اګر چه دا قول د دې آیت عموم کښې داخل دې .بلکه دا په طور داولی داخل دې ، والله اعلم.

قوله تعالی:: وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ؕ

بیا فرمائی چه د آسمانونو او زمکې مالك الله ﷻ دې ، هغه چه تاسو ته څه درکړی دی په هغې کښې دهغه په نوم ورکړه کوئی او د ټولو کارونو واپس کیدل هغه طرفته ده. سخاوت کوئی چه په هغه ورځ مو پکار راشی او خیال ساتئ ځکه چه ستاسو نیتونو او د زړۀ ارادو او ټولو عملونو نه الله ﷻ خبر دې.

لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ	قَوْلَ الَّذِيْنَ	قَالُوْٓا		
خامخا واوریده الله	خبره دهغه کسانو	چه وې وئیل		
بیشکه الله پاک دهغه کسانو	خبره واوریده	چې دائې اووئیل		
اِنَّ اللّٰهَ	فَقِيْرٌ	وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ	سَنَكْتُبُ	مَا	قَالُوْا
چه الله تعالی	فقیر دې	اومونږ غنیان یو	ازرده چه اوبه لیکومونږ	هغه	چه هغوئ اووئیل
بیشکه الله پاک محتاج دې	اومونږ مالداران یو	مونږ به	ددوئ داخبره اولیکو	او دا هم	چې

---

١) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب اثم مانع الزکاة : ١٤٠٣، نسائی : ٢٤٨٤)-

٢) احمد : ٩٨/٢، ترمذی : کتاب التفسیر القران باب ومن سورة آل عمران : ٣٠١٢، وسنده صحیح نسائی: ٢٤٤٣، ابن ماة: ١٧٨٤)-

٣) حاکم : ٣٨٨/١،)-

٤) الطبری:٨٢٨٤)-

٥) الطبری : ٨٢٨١، موقوفا وسنده حسن ، : ٨٢٨٣، مرسلا : ٨٢٨٢، مرفوعا متصلا و رواه احمد: ٣/٥ ، والنسائی : ٢٥٦٧ وسنده حسن)-

Scanned with Ca

وَقَتْلَهُمُ	الْاَنْۢبِيَآءَ	بِغَيْرِ حَقٍّ ۙ	وَّنَقُوْلُ	ذُوْقُوْا	عَذَابَ الْحَرِيْقِ ۝ ذٰلِكَ

او وژل دهغوئ|پیغمبرانولره| په ناحقه |او اوبه وایومونږ|اوځکئ| عذاب داورسوزونکي|دا عذاب|
دوئ په ناحقه پیغمبران قتل کول| (اوچې وخت راشي)نوورته به اووایوچې د سوزونکی عذاب خوندا وځکئ

بِمَا	قَدَّمَتْ	اَيْدِيْكُمْ	وَاَنَّ اللّٰهَ	لَيْسَ	بِظَلَّامٍ

په سبب دهغې دې| چه وړاندې کړی دی| لاسونو ستاسو | اوبیشکه الله |نه دې| ظالم |
دا ستاسو دخپلولاسونود کړو سزا ده | .....اواللہ پاک په بنده ګانوباندې

لِّلْعَبِيْدِ ۝	اَلَّذِيْنَ قَالُوْٓا	اِنَّ اللّٰهَ	عَهِدَ اِلَيْنَآ	اَلَّا نُؤْمِنَ

په بندګانوباندې|هغه کسان چه وائی| بیشکه الله تعالی|(حکم)هدایت کړې دې مونږته| چه مونږبه نه منو
یوذره ظلم نه کوی | ځوک چې دا وائي چې الله مونږ ته وئیلی دی چې ایمان مه راوړئ

لِرَسُوْلٍ	حَتّٰى	يَاْتِيَنَا	بِقُرْبَانٍ	تَاْكُلُهُ	النَّارُ ؕ قُلْ

هیڅ یورسول| تردې پورې|چه راوړی مونږ ته | یو قربانی |چه اوخوری هغې لره| اور | اووایه
په هیڅ یوپیغمبرتردې پورې چې اول زمونږ په مخکښې داسې قربانی اونکړی چې دغیبواور راشی اوهغه اوخوری

قَدْ جَآءَكُمْ	رُسُلٌ مِّنْ قَبْلِيْ	بِالْبَيِّنٰتِ	وَبِالَّذِيْ

چه راغلی وو تاسوته|دیر رسولان|وړاندې زمانه | په ښکاره ننښوسره|اودهغه ننښې سره هم
ته ورته اووایه چې زمانه وړاندې پیغمرانو تاسو ته څرګنده ننښې راوړې وې | اوهغه ننښه نې

قُلْتُمْ	فَلِمَ	قَتَلْتُمُوْهُمْ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ ۝	فَاِنْ

|چه مطالبه کړې وه تاسو| نوولې |اووژل تاسوهغوئ| که یئ تاسو | رښتینی | نوکه چرې
هم راوړې وه چې تاسوئې غواړئ | نو هغوئ مو ولې وژل که تاسورښتینی یئ | .....نوکه چرې

كَذَّبُوْكَ	فَقَدْ كُذِّبَ	رُسُلٌ	مِّنْ قَبْلِكَ

دروغ اوګنړلې شوې ته (ائې محمد ﷺ)|نودروغ ګنړلې شوې دی| دیر رسولان | مخکښې ستاسو نه
دوئ تا دروغژن ګنړی | .....نو ستانه وړاندې پیغمبران هم دروغژن ګنړل شوی وو

جَآءُوْ	بِالْبَيِّنٰتِ	وَالزُّبُرِ	وَالْكِتٰبِ	الْمُنِيْرِ ۝

|چه راوړې نې وې | ښکاره ننښې |اوصحیفې | او کتاب | رڼا ورکونکې
چې هغوئ ښکاره ننښې او صحیفې اوخلیدونکې کتاب راوړې وو|

دیهودیانو شان کښې کهستاخی :- ابن عباس ﷺ فرمانی چه کله دا آیت نازل شو چه څوک دی چه الله ﷻ ته قرض حسنه ورکړی.اوهغه داپه څو څو چنده زیات کړی.نو یهودیانو اووئیل چه ائې نبی ﷺ استا رب فقیردې څه چه د خپلو بندګانو نه قرض غواړی.دې باندې دا آیت **(لقد)** الخ نازل شو.

قوله تعالی: لَقَدْ سَمِعَ اللّٰهُ قَوْلَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ فَقِيْرٌ وَّنَحْنُ اَغْنِيَآءُ

دایت شان نزول:- ابن ابی حاتم کښې دی چه ابوبکرصدیق ﷺ دیهودیانو مدرسې ته تشریف یوړو ، اوهلته لوئې معلم فخاص وو اود دې لاندې یو لوی عالم اشیع وو،خلق جمع وو اوهغوئ سره مذهبی خبرې کولې.ابوبکر صدیق ﷺ اوفرمانیل چه ائې فخاص !دالله ﷻ نه اوویریږه اومسلمان شه.په الله قسم

Scanned with Ca

چه تاته ښه معلوم دی چه رسول الله ﷺ د الله ریښتونې رسول دې . او دې رسول ﷺ د الله ﷻ د طرفنه حق راوړی دی او ددې رسول ﷺ صفتونه توراة او انجیل کښې بیان شوی دی چه ستاسو لاس کښې دې نو فخاص جواب کښې اوونیل چه ائې ابوبکر ﷺ ! واوره په الله قسم الله تعالی خمونږ محتاج دې مونږ د هغه محتاج نه یو. مونږ هغه ته دا شان عاجزی نه کوو لکه څنګه هغه لوئې ذات مونږ ته عاجزی کوی. بلکه مونږ خو د هغه نه بې پرواه یو ، مونږغنیان یو او مالدار یو اوکه هغه ذات غنی وې نو قرض به ئې نه غوښتلو. لکه څنګه چه ستاسو پیغمبر وائی.مونږ دسود نه منع کوی او پخپله سود کوی .که غنی وې نو مونږ ته به ئې سود ولې راکولو. دې باندې ابوبکر صدیق ﷺ غصه شو او فخاص ئې په مخ یوځپیړه اووهلو او وې فرمائیل چه په الله ﷻ قسم چه د چا په قبضه کښې خما ساه ده که تاسویهودو سره خمونږ معاهده نه وې نو ائې د الله دښمنه مابه ستا سر د تن نه جدا کړې وې . خئ ائې بدنصیبو حق په دروغه ګنړئ . فخاص لاؤو او د دې شکایت ئې رسول الله ﷺ ته اوکړو . رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق ﷺ نه تپوس اوکړو هغه دې ولې اووهلو؟ابوبکرصدیق ﷺ ورته دا واقعه بیان کړه. خو فخاص دخپل قول نه واوړیدو چه ما خوداسې نه وو کړی. دې باره کښې دا آیت نازل شو. (۱)

قوله تعالی:: سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ الْأَنْبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ

بیا الله ﷻ دوی ته د عذاب خبر ورکوی ، د دوی دا قول اودې سره دا شان بله لویه ګناه یعنی د نبیانوعلیهم السلام قتل کول مونږ د دوی په اعمال نامه کښې لیکلې دې.یو طرفته د الله ﷻ شان کښې بې آدبی او بل طرفته نبیانو علیهم السلام وژلو سره به دوی ته د دوی په دې غلطو کارونو سخته سزا ملاویږی. دوی ته به مونږ اووایو چه د سوزونکی عذاب مزه اوځکئ .اودوی ته به اوونیلې شی چه داستاسو د رومبی کرتوت بدله ده . دې سره به دوی په سخت عذاب کښې ذلیل او خوار وی. داسراسر عدل دې او انصاف دې او ظاهره ده چه مالك خپلوغلامانو باندې ظلم کونکی نه وې .

قوله تعالی:: الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ عَهِدَ إِلَيْنَا أَلَّا نُؤْمِنَ لِرَسُولٍ حَتَّىٰ يَأْتِيَنَا بِقُرْبَانٍ تَأْكُلُهُ النَّارُ

بیا د دې خیال دپاره ئې دا دعوی اوکړه چه په آسمانی کتابونو کښې کوم چې مخکښې نازل شوی وو هغې کښې مونږ ته الله ﷻ حکم راکړې دې کله پورې مونږ ته یو رسول دا معجزه اونه ښائی چه د ده امت په کښې یو سړې قربانی اوکړی او د هغې قربانئ د خوراك دپاره آسمان نه یو قدرتی اور راشی او دا اوخوری. نو مونږ به هغه ایمان نه راوړو. د دوی د دې قول باره کښې ارشاد دې چه بیا تاسو ولې هغه پیغمبران علیهم السلام اوژل چه کومو ځان سره دا معجزه او دې سره نور براهین راوړی وو ؟ هغوئ ته خو الله ﷻ دا معجزه ورکړې وه چه د هریو قبوله شوې قربانی به آسمان ته پورته کیده خوتاسو هغه هم ریښتیا اونه ګنړل. هغوئ سره مو هم دښمنی مخالفت اوکړه بلکه هغوئ مو قتل کړل. ددې نه صفا ظاهره شوه چه تاسو ته ستاسو د خبرې پخپله هم څه لحاظ نشته دې ، نه تاسو د حق ملګری یئ او نه یو نبی منئ. یقینا تاسو دروغژن یئ .

قوله تعالی:: فَإِنْ كَذَّبُوكَ فَقَدْ كُذِّبَ رُسُلٌ مِنْ قَبْلِكَ

بیاالله ﷻ خپل نبی ته تسلی ورکوی چه د دوی په دروغ ګنړلو سره تاسو مه غمژن کیږئ اومه غم کوئ او د رومبو پیغمبرانو علیهم السلام واقعات خپل خان ته په طور دتسلئ یاد کړئ چه هغوئ هم دلیلونوظاهریدونه پس اودخپل حقانیت ښه واضح کیدونه باوجود بیادوئ هم دوئ دا دروغ اوګنړلو.

د زبر او منیروضاحت: ﴿زُبُر﴾ نه مراد آسمانی کتابونه دی چه ددې صحیفو په شان آسمان نه په دې رسولانو نازل شوی وو او ﴿الْمُنِيرِ﴾ نه مراد واضح او ښکاره او روښانه دلیلونه دی.

---

(۱) الطبری : ۸۳۰۰ ،-

Scanned with Ca

كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ
ا هرنفس څکونکي ا
هرژوندي به
الْمَوْتِ ط وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط فَمَنْ
دمرګ دي ا او بیشکه ا پوره به درکړي شی تاسوته ا اجرونه ستاسو ا په ورځ د قیامت ا نوهغه څوک
یوځل مری ا اوتاسوته به ځپل پوره اجر دقیامت په ورځ درکولي شی ا .....نوځوک چې
زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَاُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ ط وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ
اچه بچ کړي شو ا د اور نه ا اوداخل کړي شو ا جنت ته ا نوهغه کامیاب شو ا اونه دي ا ژوند ددي دنیا
ددوزخ داور نه بچ شی ا اوجنت ته داخل شی ا نو هغه کامیاب شو ا اوددنیاژوندنورهیڅ نه دي
اِلَّا مَتَاعُ الْغُرُوْرِ ۝١٨٥ لَتُبْلَوُنَّ فِيْٓ اَمْوَالِكُمْ
امګر ا سامان دي ا د دهوکې ا خامخا به تاسو آزمائیلي کیږئ ا په مالونو ستاسو کښې
مګر بنکاره دهوکه ده ا .....ستاسود مالونواوځانونوامتحان به ضرور کیږی
وَاَنْفُسِكُمْ ق وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ
او په نفسونو ستاسو کښې ا اوخامخا به آورئی تاسو ا دهغه کسانونه ا چه ورکړې شوې دي ورته کتاب
اوتاسو به دهغې خلقونه چې مخکښې ورته کتاب ورکړې شوې دي .....
مِنْ قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَذًى كَثِيْرًا ط
اوراندې ستاسونه ا اودهغه کسانونه ا چه شرک ئې کړې دي ا تکلیف ورکونکی خبرې ا ډیرې
اودمشرکانودخولې نه ډیرې بدې ردې خبرې آورئ .....
وَاِنْ تَصْبِرُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ ذٰلِكَ مِنْ عَزْمِ الْاُمُوْرِ ۝١٨٦
ا اوکه تاسو صبر اوکړو ا او پرهیزګاری مواوکړه ا نو بیشکه دا ا د اوچتو کارونوڅنی دی ا
اوکه تاسوصبر اوکړو ا او ځانونه بچ اوساتئ ا نو دا د ډیرې اوچتې حوصلې خبره ده ا

قوله تعالی:: كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ط وَاِنَّمَا تُوَفَّوْنَ اُجُوْرَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ط

هر ساه لرونکی لره مرګ شته :- ټول مخلوق ته اطلاع ده چه هر ساه لرونکی څیز لره مرګ شته دي لکه فرمانی چه ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ۝﴾ یعنی دي زمکه باندې چه څومره دی ټول فانی کیدونکی دی.صرف ستاد رب ذات باقی پاتې کیدونکي دي چه ډیر بزرګئ اوانعام والا دي ،نو صرف هغه واحد ذات به همیشه ژوندي وی. اوکله به هم نه فنا شی جنات او انسانان ټول په ټوله مړه کیدونکی دی ،دا شان فرښتې او حاملان عرش به هم مړی کیږی اوصرف الله ﷻ وحده لا شریك به باقی پاتې شی .مخکښې هم هغه ذات وواو آخره پوري به هم هغه ذات پاتې وی.هرکله چه ټول مړ شی نو موده به ختمه شی صلب آدم نه چه څومره اولاد پیداکیدونکي وو هغه پیدا شو اوټول په ټوله مړه شو. د مخلوق خاتمه اوشوه او هغه وخت کښې به الله ﷻ قیامت قائم

کړی .اومخلوق ته به دهغوئ د ټولو عملونو، وړو ،لویو،ښکاره ،پټو ، صغیره اوکبیره ټولو کناهونوسزا ملاؤ شی. په هیڅا به هیڅ ظلم نه وی . هم دائې د دې نه پس جمله کښې فرمائیلی دی.

د حضرت خضر علیه السلام نصیحت:- علی ﷺ فرمانی چه د رسول الله ﷺ د وفات نه پس مونږ ته محسوس شو چه گویا څوک رازی ،د پښو آواز ئې راتلو،لیکن هیڅوک به نه وو. هغه راغلو او وې وئیل چه اې اهل بیت تاسو باندې دې سلام وی او د الله تعالی رحمت دې وی په تاسو باندې ،هر جاندار څیز د مرګ مزه څکونکې دې ، تاسو ټولو ته به ستاسو د عملونو بدله ملاؤ شی د قیامت په ورځ . د هر مصیبت نه خلاصې د الله تعالی سره دې . دهر مړ کیدونکی بدله ده او دهر فوت کیدونکی حاصلیدل دی. الله ﷻ باندې بهروسه ساتئ او ښه امید تری ساتئی. او دا ګنړئی چه په ربنتیا په مصیبت کښې اخته هغه کس دې چه د ثواب نه محروم شی،تاسو باندې دې د الله تعالی د طرفنه سلامتیا وی او د هغه رحیم ذات برکتونه او رحمتونه دې وی (ابن ابی حاتم) .دعلی ﷺ خیال دې چه دا خضر علیه السلام وو. (۱)

قوله تعالی:: فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ

کامیاب څوک دی؟:- حقیقت دا دی چه پوره کامیاب انسان هغه دې چه د جهنم نه بچ شی او جنت ته لاړشی.رسول الله ﷺ فرمانی چه جنت کښې د یو کوړې خایې ملاویدل د دنیا او ما فیها نه بهتر دی که تاسو غواړئی نو وانی چه ﴿فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ النَّارِ وَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ﴾ ددې مخکښې زیاتوالئ نه بغیر دا حدیث بخاری او مسلم شریف وغیره کښې هم دې او زیاتئ سره ابن ابی حاتم کښې دی او ابن مردویه کښې هم دی. (۲)

رسول الله ﷺ فرمائی چه دچا خواهش وی چه دجهنم نه بچ شی او جنت ته داخل شی نو هغه ته پکار دی چه تر مرګه پورې په الله ﷻ ،د قیامت په ورځ ایمان اوساتی اوخلقو سره هغه سلوک اوکړی چه کوم دې پخپله خوښوی.(۳)دا حدیث د رومبی آیت ﴿فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ﴾ تفسیر کښې تیر شوې دې.مسند احمد کښې هم د وکیع بن جراح تفسیر کښې دا حدیث موجود دې.

دې نه پس د دنیا د حقارت او د ذلت بیان کیږی .چې دا ډیره ذلیله او فانی اوزوال کیدو والا څیز دې.

لکه بل خائې کښې فرمانی چه﴿بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقٰى﴾ تاسو خو د دنیا په ورکړه باندې فخر کوئی حالانکه اصل کښې بهتر اوبقاء والا څیز آخرت دې .دویم آیت کښې دی چه تاسو ته موخه درکړی دی دا خو د دنیا فائده ده او د دې زینت بهترین او باقی پاتې کیدو والا خو هغه دې چه کوم الله ﷻ سره دی.

قوله تعالی:: وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ

دنیا د اخرت په مقابله کښې:- حدیث مبارک کښې دی په الله ﷻ قسم دنیا د آخرت مقابله کښې صرف داسې دی لکه چه یو سړې خپله ګوته سمندر کښې ډوبه کړی نو دده ګوته د سمندر د اوبو مقابله کښې چې څه نسبت لری . هم هغه د دنیا د آخرت په مقابله کښې لری (۴)

قتاده ﷺ فرمانی چه دنیا څه څیز دې ، هسې د دهوکې څیز دې اوتاسوبه ددې دپرینبودو نه پس یوورځ ددې نه ځائې . په هغه الله ﷻ مې دې قسم وی چه دهغه نه سوا بل څوک دعبادت لائق نشته چه دا نزدې ستاسو نه جدا کیدونکې او بربادونکې څیز دې ، نو تاسو ته پکار دی چه هوش نه کار واخلئ او دلته

---

۱) ابن ابی حاتم داروایت علی ابی علی الهاشمی په وجه موضوع دې)-

۲) احمد: ۴۳۸/۲، ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة آل عمران ۳۰۱۳، وسنده حسن ، ابن حبآن : ۷۴۱۷، او امام حاکم : ۲۹۹/۲ کښې دا صحیح ګرزولې دې او علامه ذهبی رحمه الله ددې موافقت کړې دې اوداشان ددې معنی صحیح بخاری: ۳۲۵۰ کښې هم موجود ده)-

۳) صحیح مسلم کتاب الامارة باب وجوب الوفاء ببیعة الخلیفة .....: ۱۸۴۴)-

۴) صحیح مسلم کتاب الجنة باب فناء الدنیا : ۲۸۵۸ ترمذی: ۲۳۲۳، ابن ما جة: ۴۱۰۸)-

Scanned with Ca

د الله ﷻ اطاعت اختیار کړئی او دخپل طاقت نه زیاتې نیکئ اوکتئ . دالله ﷻ درکړې شوی طاقت نه بغیر هیڅ یو کار نه کیږی .

قوله تعالی:: لَتُبْلَوُنَّ فِیْ اَمْوَالِکُمْ وَاَنْفُسِکُمْ

بیا دانسانی آزمیښت ذکر کیږی .لکه بل ځانې کښې ارشاد دې چه ﴿وَلَنَبْلُوَنَّکُمْ بِشَیْءٍ مِّنَ الْخَوْفِ وَالْجُوْعِ﴾ الخ ، مطلب دا دې چه د مومن امتحان ضرور کیږی کله جانی،کله مالی اوکله د اهل وعیال ذریعې سره او کله نورو طریقو سره ،دا آزمیښت د دیندارئی اندازې مطابق کیږی .دسخت دیندار امتحان هم سخت وی او دکمزوری دیندار امتحان هم کمزورې وی .

قوله تعالی:: وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ مِنْ قَبْلِکُمْ

د صبر تلقین :-بیا الله ﷻ صحابه کرامو ته خبر ورکوی چه د بدر نه مخکښې مدینه منوره کښې تاسوته د اهل کتابو اومشرکانو نه تکلیفونه او پریشانئ اورسیدې ،بیا تسلی ورکوی او طریقه ورته بنائی چه تاسو د صبر لمن اونیسئ او پرهیزګاری اختیار کړئ او دا ډیر لوئې کار دې .

د مسلمانانو د کافرانو په تکلیفونو صبر کول:- اسامه بن زید ﷺ فرمانی چه رسول الله ﷺ او د رسول الله ﷺ صحابه کرام ﷺ مشرکانو ته او اهل کتابو ته ډیره معافی کوله. او د هغوئ تکلیفونه به ئې برداشت کول. اود الله ﷻ د دې فرمان عاملان وو تر دې چه د جهاد آیتونه نازل شو.

دعبدالله بن ابی ګستاخی:- صحیح بخاری شریف کښې د دې آیت د تفسیر لاندې دی چه رسول الله ﷺ په خپل خر سور شو او اسامه ﷺ ئې خان پسې کینولو اود سعاد بن عباده ﷺ عیادت دپاره دحارث بن خزرج قبیلې ته لاړل .دا واقعه د جنګ بدر نه مخکښې شوې وه. لاره کښې یو مخلوط مجلس ناست وو چه په هغې کښې مسلمانان ،یهودیان ،مشرکان اوعبدالله بن ابی بن سلول وو. دې هم تراوسه پورې خپل رنګ کښې رنګ وو. مسلمانانو نه عبدالله بن رواحه ﷺ هم وو. د رسول الله ﷺ سورلئ مبارکې نه دوړې اوختلې نو عبدالله بن ابی بن سلول په خپله پوزه کېږا واچوله او وې وئیل چه دوړې مه کوه ، رسول الله ﷺ ته ورغلو.او رسول الله ﷺ سورلئ نه کوز شو او سلام ئې اوکړو او دوی ته ئې داسلام دعوت ورکړو او دقران پاک څو آیتونه مبارک ئې اولوستل . نو عبدالله بن ابی بن سلول اووئیل ائې صاحبه واوره ما ته ستا دا طریقه نه ده خوښه . د رسول الله ﷺ خبرې حق سهی لیکن دا ولې چه رسول الله ﷺ ځمونږ مجلسونو ته راځی او مونږ ته تکلیف راکوی. خپل کور ته لاړ شه او دا هغه چاته اووایه چه څوک تاته درشی دې آوریدو سره عبدالله بن رواحه ﷺ اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ بیشکه تاسو ځمونږ مجلسونوته تشریف راوړئی .ځکه چه مونږ ته دا خوښ دی . او دې کښې خپلو کښې ډیر تکرار اوشو. او یو بل ته ئې بدرد اووئیل او نزدې وه چه جنګ هم شوې وې لیکن د رسول الله ﷺ پوهولو سره خیر شو. او ټول خاموش شو.

حضرت سعد ﷺ ته خبر ورکول:- رسول الله ﷺ خپلې سورلئ باندې سواره شو او سعد ﷺ ته لاړو او هلته ئې سعد ﷺ ته اوفرمائیل چه ائې ابو حباب ! ننه عبدالله بن ابی بن سلول دا دا وئیلی دی سعد ﷺ اووئیل چه یارسول الله ﷺ تاسو دوی پریږدئی او دوی معاف کړئی. قسم په الله چه په په تاسو باندې ئې قران پاک نازل کړو ، واورئی چه د هغوئ خو رسول الله ﷺ سره ډیره زیاته دښمنی ده. او دا ځکه چه د دې خانې خلقو هغه خپل سردار جوړول غوښتل او د مشرئ د پټې ټرلو مشوره ئې کړې وه .بل طرفته الله ﷻ رسول الله ﷺ خپل نبی ﷺ راولیږلو. خلقو رسول الله ﷺ نبی اومنلو. د هغه سرداری ختمه شوه. او په دې وجه هغه غمژن دې او هم په دې وجه دې د خپل زړه نه تیکې غوځوی. چه څه ئې اووئیل نو هغه ئې اووئیل . تاسود هغه هیڅ پرواه مه کوئی . نو رسول الله ﷺ هغه معاف کړو. اوهم دا د رسول الله ﷺ عادت مبارک وو. او د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو ﷺ هم . یهودیانو او مشرکانو ته به ئې معافی

Scanned with Ca

کوله. اوپه دې فرمان به ئې عمل کولو. هم دا حکم په دې آیت (ودکثیر) کښې دې چه کوم حکم د معافئ دې آیت (ولتسمعن) کښې دې .

دجهاد اجازت ملاویدل:- بیا دې نه پس رسول الله ﷺ ته د جهاد اجازت ورکړې شو. او رومبئ غزوه بدر اوشوه او په دې کښې د کفارو د لښکر سرداران قتل شو. دې حالت او د اسلام شوکت کتلو سره اوس عبدالله بن ابی بن سلول او دده ملګری ویریدل او ددې نه بغیر دوی ته هیڅ په نظر نه راتلل چه بیعت اوکړی او په ظاهره مسلمانان شی. (۱)

یوه قاعده:- نودا کلیه قاعده یاد ساتل پکار دی چه هر حق والا چه نیکئ او ښیګړې کوی او څوك د خلاف شرع کار نه منع کوی او په دې کښې هغه ته ضرر اومصیبتونه رسی نو هغه ته پکار دی چه دا ټول تکلیفونه برداشت کول او دالله تعالی لار کښې د صبر او سهاری نه کار اخلی. هم په هغه پاك ذات بهروسه ساتی. هم د هغه ذات نه مدد غواړی اوخپل کامل رغبت او پوره رجوع هغه طرفته ساتی.

وَاِذْ اَخَذَ	اللّٰهُ	مِيْثَاقَ	الَّذِيْنَ	اُوْتُوا الْكِتٰبَ	لَتُبَيِّنُنَّهٗ

(یادکړه) کله چه واخستله الله| پخه وعده| دهغه کسانونه| چه ورکړې شوې دې ورته کتاب| چه خامخا بیانوئ تاسو هغه کتاب
او (دوی ته یاد کړه) کله چې الله پاك داهل کتابونه لوظ واخستو| چې تاسو به خلقو ته دا کتاب بیانوئ

لِلنَّاسِ	وَلَا تَكْتُمُوْنَهٗ	فَنَبَذُوْهُ	وَرَآءَ	ظُهُوْرِهِمْ	وَاشْتَرَوْا

| خلقو ته | | اونه به پټوئ هغه| نو اوغورزوئ هغوئ هغه| روستو | دشاګانو خپلونه| اووا ئې خستو
| ..... | او په دې کښې به هیڅ نه پټوئ | خودوئ (هلوتول) شاته اوغورزولو | او په لږ قیمت ئې

بِهٖ	ثَمَنًا قَلِيْلًا	فَبِئْسَ	مَا	يَشْتَرُوْنَ	لَا تَحْسَبَنَّ	الَّذِيْنَ

| په هغې| قیمت لږ | نوبددې | هغه چه | هغوئ ئې اخلی| ګمان مه کوه ته| په هغه کسانو
| خرڅ کړو | .....اودائې ډیره خرابه سودا اوکړه | ..... ته په هغه چا ګمان مکوه څوك چې

يَفْرَحُوْنَ	بِمَآ	اَتَوْا	وَّيُحِبُّوْنَ	اَنْ يُّحْمَدُوْا	بِمَا

| چه خوشحالیږی| په هغه کار| چه اوکړو هغوئ| اوخوښوی هغوئ| چه اوستائیلې شی| په هغه کار
| په خپلو بدو کارونو خوشحالیږی | اوداغواړی چې په داسې کارونو هغوئ تعریف اوشی

لَمْ يَفْعَلُوْا	فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ	بِمَفَازَةٍ	مِّنَ الْعَذَابِ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ

| چه نه وی کړې هغوئ| نومه ګڼه ته هغوئ| خلاصیدونکی| دعذاب نه | اودې هغوئ لره| عذاب
| کوم چې هغوئ نه وی کړی | چې ګڼی هغوئ به دعذاب نه بچ شی| ..... دهغوئ دپاره

اَلِيْمٌ	وَلِلّٰهِ	مُلْكُ السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَاللّٰهُ	عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ

| دردناک | اوالله لره ده| بادشاهی دآسمانونو| اودزمکې | اوالله تعالی| په هرڅیز باندې | قادر دې
| خودردناک عذاب مقرر دې | اودآسمانونو اوزمکو مالک صرف یو الله دې | اوهغه په هرڅه قدرت لری

قوله تعالی:: وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهٗ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة آل عمران باب (ولتسمعن من الذین ...) : ٤٥٦٦، صحیح مسلم : کتاب الجهاد: -(۱۷۹۸)

دعلم پټولو ګناه:- الله ﷻ دلته اهل کتاب ویروی چه دپیغمبرانو په ذریعه د دوی نه کومه د الله وعده اخستې شوې وه چه په رسول الله ﷺ باندې به ایمان راوړئی او د رسول الله ﷺ ذکر او د رسول الله ﷺ بشارت خلقوته رسوئی او هغوئ به د رسول الله ﷺ په تابعدارئی راضی کوئی اوبیا چه کله رسول الله ﷺ تاسوته تشریف راوړی نو تاسو به د هغه تابعداری کوئ .خو هغوئ دا عهد پټ کړو او د دې په ظاهرولو باندې دوی سره د دنیا اوآخرت وعده شوې وه ، د دې بدله کښې لږه شان دنیا کښې راګیر شواو پریشانه پاتې شو او د دوی دا اخستل خرڅول ډیر زیات بد دی. په دې کښې عالمانو ته تنبیه ده چه هغوئ دې داسې نه کوی ګنی دوی باندې به هم عذاب راشی کوم چې په هغوئ راغلې وو او دوی نه به الله ﷻ خفه شی لکه څنګه چه د هغوئ نه خفه شوې وو. علماء کرامو ته پکار دی چه دوی سره کوم فائده ورکونکې علم وی.چې په هغې سره خلق بنه عمل کولې شی او دا خوروی او هیڅ خبره نه پټوی. حدیث مبارک کښې دی چه کوم سړی نه د یوې مسئلې تپوس اوشی او هغه دا پټه کړی نو د قیامت په ورځ به هغه ته د اور واګې اچولې شی (۱)

په دروغه قسم خوړلو بې برکتی:- دویم آیت مبارک کښې د ریاکارئی مذمت دې . بخاری اومسلم شریف کښې حدیث مبارک دې چه کوم سړې په دروغه دعوی اوکړی اوزیات مال کتل غواړی نو الله ﷻ به هغه نورهم کم کړی.(۲)دبخاری او مسلم دویم حدیث مبارک کښې دې چه کوم ته نه وې ورکړې شوې نو هغه سره آسودګی کونکی د دوؤ دروغو کپړو اغوستنکی پشان دې (۳).

قوله تعالی:: لَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ يَفْرَحُوْنَ

دایت شان نزول:- مسند احمد کښې دی چه یو خل مروان خپل دربان رافع ته اووئیل چه عبدالله بن عباس ﷺ ته ورشه او هغوئ ته اووایه که په خپل یو کار باندې خوشحالیدل او نه کولو باندې تعریف خوښولوباندې به دالله تعالی عذاب وی. نو په دې په مونږباندې دالله ﷻ عذاب وی نو دغه شان خو مونږ کښې هیڅوک نشی بچ کیدې .عبدالله ﷺ د دې جواب کښې اوفرمائیلو چه ستا دې آیت سره څه تعلق دې ؟ دا خو د اهل کتابو باره کښې دې .بیا رسول الله ﷺ (وَاِذْ اَخَذَ اللّٰهُ) نه تر آیت د آخره پورې تلاوت اوفرمائیلو او وې فرمائیل چه دوی نه نبی ﷺ دیو څیز باره کښې تپوس کړې وو نو هغوئ د دې څه غلط جواب ورکړو. او بهر وتلو سره نې ګمان اوکړو چه مونږ د رسول الله ﷺ د سوال جواب ورکړو . اودې سره د دوی دا خواهش هم وو چه رسول الله ﷺ سره به خمونږ تعریف اوکړی اود اصل جواب په پټولو او ددې فقرې په وئیلو باندې دوی خوشحاله وو. هم د دې بیان دې آیت کښې کیږی. داحدیث بخاری وغیره کښې هم دې . (۴)

دایت دویم شان نزول:- او صحیح بخاری شریف کښې دا هم دی چه کله رسول الله ﷺ میدان جنګ ته تشریف اوړو نو منافقان خپلو کورونو کښې کښیناسته او رسول الله ﷺ سره نه تلل ، بیا نې خوشحالئ کولې چه مونږ جنګ کولو نه بچ شو ، اوس چه کله د الله ﷻ نبی ﷺ واپس کیږی نو دوی خبرې جوړوی او د دروغو عذرونه کوی او قسمونه خوری او خپل عذرونو سره رسول الله ﷺ ته یقین دهانی کوی او غواړی چه کوم کار مونږ نه دې کړې په هغې هم خمونږ تعریف اوشی نودې باندې دا آیت نازل شو. (۵)

---

۱) ابوداود کتاب العلم باب کراهیة منع العلم : ۳٦٥٨، وسنده حسن ترمذی : ۲٦٤۹)-

۲) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان غلظ تحریم قتل الانسان نفسه : ۱۱۰، ددې اصل صحیح بخاری : ۲۰۴۷، کښې موجود دې)-

۳) صحیح بخاری کتاب النکاح باب المتشبع بما لم ینل : ۵۲۱۹، صحیح مسلم: ۲۱۲۹)-

۴) احد:۱/۲۸۹، صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة آل عمران باب (ولا تحسبن الذین یفرحون...)٤٥٦٨، صحیح مسلم: ۲۷۷۸)-

۵) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة آل عمران باب (ولا تحسبن اللذین یفرحون...) : ٤٥٦٨، صحیح مسلم: ۲۷۷۸)-

Scanned with Ca

د ابوسعید ﷺ په ژبه د ایت شان نزول: - تفسیر ابن مردویه کښې دی چه مروان د ابوسعید ﷺ نه د دې آیت مبارک باره کښې تپوس کړې وو لکه څنګه چه پورته تیر شو چه ابن عباس ﷺ نه ئې تپوس اوکړو نو ابوسعید ﷺ د دې مصداق او د دې شان نزول هغه منافقان اوګرځولو.چه کوم به د غزوه په وخت کښې کښیناستل ، که مسلمانانو ته به نقصان اوشو نو خوشحالیدل به او که فائده به ورته اوشوه نو خپل عذر به ئې ظاهرولو او فتح اونصرت جشن به ئې کولو. په دې باندې مروان اوونیل چه چرته دا واقعه او چرته دا آیت ؟ نو ابو سعید ﷺ اوفرمائیل چه دا زید بن ثابت هم ددې نه واقف دې .مروان زید ﷺ نه تپوس اوکړو نوهغوئ هم د دې تصدیق اوکړو.ابوسعید ﷺ اوفرمائیل چه د دې علم رافع بن خدیج ﷺ ته هم دې چه په مجلس کښې موجود وو. لیکن هغه ویریږی چه هسې نه ته ترې هغه اوښې واخلې چه کومې ورته تا صدقې کښې ورکړې دی. زید بهر اووتلواو وې ونیل چه ته ځما په شهادت باندې ځما تعریف نه کوې ؟ابو سعید ﷺ اوفرمائیل چه تاسوریښتونې شهادت ادا کړو. نو زید ﷺ اوفرمائیل چه بیا هم د ریښتونی شهادت څه مستحق یم . مروان په هغه زمانه کښې د مدینې منورې امیر وو.

دویم روایت کښې دی چه د مروان دا سوال د رافع بن خدیج ﷺ نه مخکښې وو. د دې نه مخکښې روایت کښې تیر شوی دی چه مروان د دې آیت باره کښې عبدالله بن عباس ﷺ نه تپوس کړې وو ، نو یادداشتې چه په دې دواړو کښې تضاد او منافات نشته . مونږ نشو وئیلې څکه چه دا آیت عام دې ، دا په کښې هم شامل دی . او دغه هم. مروان والا روایت هم ممکن دې چه مخکښې دې دواړو صاحبانو جواب ورکړې وی ، بیا نور دتشفئ په طور عبدالله بن عباس ﷺ نه هم مروان په ذریعه دخپلو کسانو سوال کړې وی . والله اعلم.

د ثابت بن قیس ویره: - ثابت بن قیس انصاری ﷺ د رسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو یارسول الله ﷺ ! ماته د خپل هلاکت ډیره زیاته ویره ده.رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه ولې ؟ جواب کښې ئې اوفرمائیل چه د دې یو وجه دا ده چه الله ﷻ د دې خبرې نه منع کړې ده چه څه مې نه وی کړې او په هغې تعریف خوښئ او ځما حال دادې چه څه تعریف خوښوم. دویمه خبره دا ده چه تکبر نه الله ﷻ منع کړې ده او څه جمال خوښوم . دریمه خبره داده چه د رسول الله ﷺ آواز نه اوچت آواز سره خبرې کول منع دی او ځما آواز اوچت دې .نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه آیا ته په دې خبره خوشحاله نه ئې چه ستا ژوند ښه وی او ستا مرګ د شهادت مرګ وی او ته جنتی ئې . نودې خوشحاله شو او وې ونیل چه ولې نه یارسول الله ﷺ ! دا خو ډیره ښه خبره ده ،نو هم دا شان اوشو چه د دوی ژوند ښه شو او مرګ ئې د شهادت شو.مسیلمه کذاب سره د مسلمانانو جنګ اوشو په هغې کښې ثابت بن قیس انصاری ﷺ شهید شو. (١)

قوله تعالی: فَلَا تَحْسَبَنَّهُمْ بِمَفَازَةٍ مِّنَ الْعَذَابِ

دوه قراءتونه - x(تحسبهم) لره ﴿یحسبهم﴾ هم لوستلې شوې دي .

کافران د عذاب نه نشی بچ کیدې: - بیا فرمان دې چه ته دا خیال مه کوه چه دوی به د عذاب نه خلاص شی ، دوی به عذاب ضرور مومی او هغه هم دردناک .

قوله تعالی: وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

الله په هر څیز قادر دې: - بیا ارشاد دې چه د هر څیز مالك او په هر څیز قادر الله ﷻ دې . هغه پاك ذات هیڅوك نشی عاجز کولې.نو تاسو د هغه نه ویریږئ اود هغه پاك ذات مخالفت مه کوئ . د هغه د غضب نه ویریږئ اود هغه د غضب نه دبچ کیدو کوشش کوئ.او د پاك ذات د عذاب نه ځان بچ کړئ ،نوخو څوك د هغه نه لوړې شته دې اونه څوك د هغه زیات قدرت والا شته دې .

---

(١) حاکم : ٢٣٤/٣،صحیح ابن حبان: ٧١٢٧-.

Scanned with Ca

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ

بیشکه په پیدا کولو | د آسمانونو | او زمکې کښې | او په مختلف کیدلو | د شپې | او ورځ کښې
د آسمانونو او زمکې پیدا کولو کښې او د شپې او ورځې پرله پسې راتلو کښې دهغې .....

لَآيٰتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ ﴿١٩٠﴾ الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ قِيَامًا وَّقُعُودًا

د پوهې نښې د قدرت دی | د پاره د عقل مند وخلقو | هغه (عاقلان) | چه یاد وی الله | په ولاړه | او په ناسته |
عقل مند و د پاره د پوهې نښې دی | ..... چې په ولاړه او په ناسته

وَّعَلٰى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ

او په پهلو خپلو یعنی په ملاسته | وغور وفکر کوی | په پیدائش (جوړښت کښې) | د آسمانونو |
او په هرا ړخ د الله پاک ذکر کوی | او د آسمانونو او زمکې په پیدائش کښې سوچ فکر کوی

وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا سُبْحٰنَكَ

او د زمکې | او (وائی) ائې ربه زمونږ انه دی پیدا کړی تا | د اتول هرڅه | عبث (بې مقصده) | پاکی ده تالره |
(او دا وائی) ائې زمونږه ربه د اعجیبه څیزونه تا بې فائدې نه دی پیدا کړی | (د عبث کار کولونه) پاک ئې

فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿١٩١﴾ رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ

نو اوساته مونږ | د عذاب د اوور نه | ائې ربه زمونږ | بیشکه ته چه | څوک داخل کړې | اور ته |
نو مونږ د دوخ د عذاب نه بچ اوساته | ائې زمونږ ربه تا چې څوک دوزخ ته ورداخل کړل نو هغه

فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ ۖ وَمَا لِلظّٰلِمِينَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿١٩٢﴾ رَبَّنَا

نو په حقیقت کښې | تارسوا کړو هغه | او نشته ظالمانو د پاره | څوک مددګار | ائې ربه زمونږ |
دې اوشرمولو | او د ظالمانو د پاره هیڅوک مددګار نشته دې | ..... ائې زمونږه ربه

إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِي لِلْإِيمَانِ أَنْ آمِنُوا بِرَبِّكُمْ

بیشکه مونږ | واورېدو | یو اواز کونکی | چه رابلی خلق | طرف د ایمان ته | چه ایمان راوړئ | په رب خپل |
مونږ د یوسړی اواز واورېدو چې هغه د ایمان طرفته بلنه کوله | او دا ئې وئیل چې خپل رب اومنئ

فَآمَنَّا ۖ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا

نو ایمان را وړو مونږ | ائې ربه زمونږ | معاف کړه مونږ ته | ګناهونه زمونږ | او لرې کړې زمونږ نه |
نو مونږ د هغه خبره اومنله | ائې زمونږه ربه زمونږ کوتاهی معاف کړه | او زمونږ نه ګناهونه لرې کړه

سَيِّئَاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ ﴿١٩٣﴾ رَبَّنَا وَآتِنَا مَا

ګناهونه زمونږ | او وفات کړې مونږ | د نیکانو خلقو سره | ائې ربه زمونږ | او راکړه مونږ ته | هغه |
..... او د نیکانو له کښې مو خاتمه اوکړه | زمونږه ربه تا چې کومې

وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ

چه وعده ئې کړې ده تاسو | په ذریعه د رسولانو خپلو | او مه شرمنده کوه مونږ | په ورځ د قیامت |
وعدې زمونږ | ره کښې پیغمبرانو سره کړې دی هغه راسره پوره کړه | او د قیامت په ورځ زمونږ پرده اوساته

إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ ۝
بیشکه ته	نه کوې خلاف	د وعدې
بیشکه ته دخپلې وعدې خلاف نه کوې	

قوله تعالی:: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيٰتٍ

د ایت شان نزول:- طبرانی کښې دی چه ابن عباس ﷺ فرمائی چه قریش یهودو ته ورغلل او د هغوئ نه ئې تپوس اوکړو چه موسی ﷺ تاسو ته کوم معجزات راوړی وو ؟ هغوئ اووئیل چه هغه لرګې چه د هغې نه به بلا جوړیده ، او پرقیدونکې لاس .بیا نصرانیانو ته ورغلل اودهغوئ نه ئې تپوس اوکړو چه عیسی ﷺ تاسو ته کومې ننبۍ راوړې وې ؟ هغوئ جواب کښې اووئیل چه مورزاده رانده روغول او برګی مرض والا ښه کول ،او مړی ژوندی کول .بیا قریش رسول الله ﷺ ته راغلل او رسول الله ﷺ ته ئې اووئیل چه دعا اوکړئی خمونږ دپاره د صفا غر د سرو شی. رسول الله ﷺ دعا اوکړه او په دې باندې دا آیت نازل شو چه ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾ الخ. یعنی څوک چه د قدرت ننبې کتل غواړی نوهغوئ دپاره په دې کښې ننبې دی .دوی به هم په دې کښې غور کوی نو د هغه لوئې قدرتونو والا الله ﷻ مخکښې به په سجده شی .(۱) لیکن دې روایت کښې یو اشکال دې ، هغه دا چه دا سوال مکه مکرمه کښې شوې وو او دا آیت مدینه منوره کښې نازل شوې وو. والله اعلم .

قوله تعالی:: وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

د الله په ګائناتو کښې سوچ فکر کول:- د آیت مطلب دا دې چه د آسمان په شان اوچت او وسعت والا مخلوق او د زمکې په شان لاندې اوسخت اولوئې مخلوق ، بیا آسمان کښې لوئې لوئې ننبې دی . لکه ګردش کونکی او په یو خائې ولاړ ستوری او د زمکې لوئې لوئې پیداوار لکه غرونه او خنګلونه او ونې او وښه او پتی او مختلف قسمه جاندار او سوری او بیل بیل ذائقې والا او رنګ په رنګ خوشبو والا اومختلف قسم خواصو والا میوې وغیره . آیا دا ټول قدرتونه یو عقل مند انسان دپاره د سوچ نه دی او د ده رهبری الله ﷻ طرفته نه کوی ؟ چه دوی د نورو ننبو د کتلو ضرورت محسوسوی . بیا د ورځې اوشپې راتلل او کم اوزیات کیدل اوبیا یوشان کیدل ، دا ټولې دالله ﷻ د قدرت کامله پوره پوره ننبې دی . هم د دې وجې آخر کښې فرمائی چه په دې کښې عقل والو دپاره کافی ننبې دی چه څوک پاک نفس والا هر په څیز باندې نظر اچونکونکې وی.اود بیوقوفانوپه شان رانده او په غورونو کانړه نه وی . ددې داحالت بل خائې بیان فرمائی چه دوی د آسمان او زمکې ډیرې ننبې خپلو پښو لاندې راولی او تیریږی او دې کښې غور او فکر نه کوی،دوی کښې اکثر د الله ﷻ منلونه پس بیا هم شرک نه بچ کیږی .

زاګرین عقلمند دی: اوس ددې عقل مندوصفتونه بیانیږی چه دوی په ناسته ملاسته دالله تعالی نوم اخلی

دعمران بن حصین ﷺ په حدیث استدلال:- دبخاری او مسلم شریف حدیث کښې دی چه رسول الله ﷺ عمران بن حصین ﷺ ته اوفرمائیل په ولاړه مونځ کوه ، که طاقت دې نه وی نوپه ناسته کوه او که دا هم نه شې کولې نو په ملاسته کوه(۲) یعنی هیڅ حالت کښې هم د الله ﷻ ذکر نه مه غافله کیږه. زړه کښې ، په پټه ، او په ژبه د الله ﷻ ذکر کوه.دا خلق د آسمان او زمکې پیدائش ته ګوری .او د هغه پاک ذات په حکمتونوکښې غور کوی کوم چې د هغه خالق او یو الله ﷻ په قدرت باندې دلالت کوی .

---

(۱) اسباب النزول للواحدی : ۲۸٤، الطبرانی : ۱۲۳۲۲)-

(۲) صحیح بخاری کتاب التقصیر باب اذا لم یطق قاعدا صلی علی جنب : ۱۱۱۷، ابوداود: ۹۵۲، ترمذی : ۳۷۲، ابن ماجة: ۱۲۲۳)-

Scanned with Ca

فکراوسوچ د اکابرینو په نظر کښې:- ① شیخ سلیمان دارانی رحمه الله فرمائی چه د کور نه د وتلو په وخت کښې په کوم کوم څیز خما نظر پریوزی ، خه کورم چه په هغې کښې د الله ﷻ یو نعمت زما دپاره موجود دې . اوزما دپاره په هغې کښې دې

② حسن بصری رحمه الله فرمائی چه دیو ساعت غور او فکر کول د ټولې شپې د قیام نه بهتر دې .

③ فضیل رحمه الله فرمائی چه د حسن رحمه الله قول دې چه غور او فکراو مراقبه یو داسې آئینه ده چه ستا په وړاندې ستا بدئی او نیکئ پیش کوی.

④ سفیان بن عیینه رحمه الله فرمائی چه غور او فکر یو داسې نور دې چه ستا په زړه به اثر کوی او اکثر به نې دا بیت لوستلو چه :

اذا المرء کانت له فکرة ⁰ ففی کل شئ له عبرة

ترجمه :- یعنی چه دکوم انسان باریك بینی او سوچ عادت جوړ شی نوهغه ته هر یو څیز کښې یو عبرت او نښه په نظر راځی .

⑤ عیسی علیه السلام فرمائی چه خوش نصیب دې هغه کس چه د هغه وینا د الله ﷻ ذکر اونصیحت وی او چپ پاتې کیدل ئې غوراو فکر وی او دده کتل عبرت او تنبیه وی.

⑥ لقمان حکیم علیه السلام دا د حکمت نه ډکه مقوله یاد ساتل پکار دی چه تنهائی کښې څوك څومره زیات ناسته کوی نو دومره دده غور اوفکراو انجام بینی هم زیاته وی. او چه څومره دا زیاتیږی نو دومره په انسان لاړې زیاتیږی په انسان پرانیستې کیږی او دا به دې جنت ته رسوی.

⑦وهب بن منبه رحمه الله فرمائی چه څومره مراقبه زیاته وی نو دومره به پوهه زیاته وی. او څومره چه پوهه زیاته وی نو دومره به علم زیات نصیب کیږی. او چه څومره علم زیات وی نو نیك عملونه به هم زیاتیږی .

⑧ عمر بن عبدالعزیز رحمه الله ارشاد فرمائی چه د الله ﷻ ذکر کښې خپله ژبه لوندول ډیر بهتر دی او د الله ﷻ نعمتونوکښې غور اوفکرکول ډیر افضل عبادت دی.

⑨ مغیث اسود رحمه الله مجلس کښې ناست وو او وې فرمانیل چه اې خلقو ! هره ورځ قبرستان ته خئ چه تاسو ته خپل انجام معلوم وی. او بیا خپل زړه کښې هغه منظر حاضر کړئی چه تاسو الله ﷻ ته مخامخ ولاړ یئ ،بیا یو ډلې ته جهنم ته د تلو حکم کیږی او یو ډلې ته جنت ته . خپل زړونه دې حال کښې جذب کړئی او خپل بدنونه هم هلته حاضر کړئی . جهنم خپل مخکښې کړئی ، د هغې ستیکونه ، د هغې د اور قیدخانې خپل مخکښې کړئی . دې وینا سره به نې په چغوچغو ژړل تردې چه بې هوشه به شو.

⑩ عبدالله ابن مبارك رحمه الله فرمائی چه یو سړی یو راهب سره یو قبرستان او یو د ګند اچولو ځائې کښې ملاقات اوکړو او هغه ته نې اووئیل چه اې راهبه ! تاسره دې وخت کښې دوه خزانې دی ، یو خزانه د خلقو یعنی قبرستان ،او یو خزانه د مال یعنی ګند اچولو ځائې .

⑪ عبدالله بن عمر رضی الله عنه به ویرانو کورونو طرفته تلواو یو ویرانه دروازې سره به اودریدو او ډیر افسوس او حسرت سره به نې وئیل چه اې ویرانو کورونو ! ستاسو اوسیدونکی چرته دی ؟ بیا به نې پخپله فرمائیل چه ټول د زمکې لاندې شو ،ټولو د فنا جامونه اوځکل . صرف د الله ﷻ ذات باقی پاتې کیدونکې دې .

⑫ ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دوه رکعته چه د زړه اطمینان سره ادا شی د هغه ټول مونځ نه افضل دی چه کوم کښې ټوله شپه تیره شی خو په هغې کښې دلچسپی نه وی.

Scanned with Ca

⑬ خواجه حسن بصری رحمه الله فرمائی چه انې ابن آدم ! (خپله خپته دریو حصو کښې تقسیموه) یو حصه کښې خوراك اچوه ، یوحصه اوبو دپاره پریږده اویو حصه د ساګانو اخستلو دپاره پریږده چه دې سره ته د خپل آخرت باره کښې اود آخرت انجام باره کښې غور اوکړې شې .

⑭ دبعضو حکیمانو قول دې چه کوم یو سړې د دنیا په څیزونو بغیر د عبرت حاصلولونه نظر اچوی نو د غفلت اندازې سره د ده دا سترګې کمزورې شی .

⑮ بشیر ابن حارث جافی رحمه الله فرمائی که خلقو د الله ﷻ د عظمت خیال کولې نو بالکل به د دوی نه ګناهونه نه کیدل .

⑯ عامر بن عبدقیس رحمه الله فرمائی چه ما ډیرو صحابه کرامو رضی الله عنهم نه آوریدلی دی چه د ایمان رڼا مراقبه او غور وفکرکښې ده.

⑰ مسیح ابن مریم سیدنا عیسی علیه السلام فرمائی چه انې ابن آدم ! انې ضعیف انسانه ! ته چه چرته هم ئې نو د الله ﷻ نه ویریږه او دنیا کښې عاجزی او مسکینی کوه او جمعې خپل کور جوړ کړه او خپلو سترګو ته ژړا اوښایه ، او خپل بدن ته د صبر عادت اوښایه ، اوخپل زړه غور آوفکر کونکی جوړ کړه ، د صبا د رزق غم نن مه کوه .

⑱ عمر بن عبدالعزیز یو ځل مجلس کښې ناست وو او په ژړا شو. خلقو ترینه ددې وجه اوپوښتله نو دوی اوفرمائیل چه ما د دنیا او د دې په لذتونوکښې او د دې خواهشونوکښې غور آوفکر اوکړو او عبرت مې حاصل کړو ،هرکله چه په نتیجه اورسیدم نو ځما خواهشات ختم شوی وو.

خلاصه د کلام:- حقیت دا دی چه دهر سړی دپاره په دې کښې عبرت او نصیحت دې او پندونصیحت دې . حسین بن عبدالرحمان هم خپلو شعرونو کښې دا مضمون ښه بیان کړې دې . نوالله ﷻ د خپلوهغه بندګانو مدح اوتعریف بیان کړو چه کوم د مخلوقاتو نه عبرت او نصیحت حاصل کړی او د هغه خلقو مذمت ئې بیان کړه چه د الله ﷻ په قدرتونو باندې غور نه کوی . دمومنانو مدح کښې بیانیږی چه دا خلق په ناسته په ولاړه د الله ﷻ ذکرکوی ، د زمکې او آسمان په پیدائش کښې غور و فکر کوی او وائی چه انې الله ﷻ ! تا دا مخلوق عبث اوبې کاره نه دې پیدا کړې بلکه د یو مقصد دپاره دې پیدا کړې دې چه خرابوته د خرابو بدله او نیکو ته د نیکو بدله ورکړې .

قوله تعالی:: رَبَّنَآ اِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ.....وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ اِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ۝

د عقلمندو مناجات:- بیا د الله ﷻ د پاکوالی بیان دې فرمائی چه انې الله ﷻ ته د دې نه پاك ئې چه یو څیز بې مقصده پیدا کړې. انې خالق خلق ، انې په عدل اوانصاف سره د کائناتو چلونکیه ، انې د نقصانونو او عیبونو نه پاك ذاته ، مونږ ته د هغه عملونو طاقت او توفیق راکړې چه په هغې سره مونږ ستا د عذاب نه بچ شو او ستا نعمتونو سره جنت ته داخل شو. دوی داسې هم وائی چه انې الله ﷻ ! چه تا څوك جهنم ته بوتلل نو هغوئ برباد شو،ذلیل او خوار شو او د مجمع حشر مخکښې دې دوی رسوا کړل ،د ظالمانو هیڅوك مددګار نشته .او نه د دوی څوك بچ کونکې شته نه ستا د ارادې مخکښې راتلې شی ، انې ربه ! ځمونږ د اعلان کونکی اعلان واوریدو چه ایمان طرفته ئې رابلل کول .نو مونږ پرې ایمان راوړو. د دې نه مراد رسول الله ﷺ دې چې فرمائی به ئې په خپل رب باندې ایمان راوړئی ،نومونږ ایمان راوړې دې ، او تابعداری ئې اختیار کړئی. نو ځمونږ دایماندار اتباع په وجه ځمونږ ګناهونه معاف کړه او د هغې پرده پوشی اوکړه او ځمونږ ګناهونه ځمونږ نه لرې کړه ، اومونږ صالحان او نیکان جوړ کړه .انې رب ﷻ تا چه مونږ سره د خپل رسول ﷺ په ژبه کومې وعدې کړې دی هغه پوره کړه. او دامطلب هم بیان شوې دې چه کومه وعده تا خپلو رسولانو سره د ایمان راوړوکړې وه ، لیکن رومبنۍ معنی صحیح ده.

Scanned with Ca

د الله خپلو نیکانو بندګانو سره وعده پوره کول:-د مسند احمد یو حدیث مبارک کښې دی چه دعسقلان دوه عروسه دی چه یو په کښې دا دې ①هم دلته نه به الله ﷻ دقیامت په ورځ اویازره کسان راوچتوی چه هغوئ سره به حساب کتاب نه وی②هم دلته نه به اویا زره شهیدان اوچتیږی چه دوی به یو وفد جوړوی او الله ﷻ ته به ورځی③ هم دلته به د شهیدانو لښکرې وی چه د دوی سرونه به پریکړې شوی د دوی په لاسونو کښې وی اوددوی د څټونو نه به وینې بهیږی اودا به وائی چه انې الله ﷻ ! تا چه مونږ سره دخپلو رسولانوپه ذریعه کومې وعدې کړې وې هغه پوره کړه. مونږ د قیامت په ورځ مه رسوا کوه ،ته وعده خلافئ نه پاک ئې . الله ﷻ به اوفرمائی چه ځما بندګان ریښتونی دی ،دوی ته په نهر بیضه کښې غسل ورکړئی .دوی چه په دې کښې غسل اوکړی نو پاک صاف او ښکلی رنګ والا به شی . اودوی دپاره به ټول جنت مباح وی. چه چرته غواړی نو خوراک به کوی اوچه چرته تلل غواړی نو تلئ به شی(١) دا حدیث غریب دې او بعضې وائی چه موضوع دې . والله اعلم . مونږ د قیامت په ورځ ټوله ډله کښې مه رسوا کوه. ستا وعدې ریښتونې دی او تا چه د خپلورسولانو په ذریعه کومې وعدې کړې دی هغه اټل دی ، د قیامت ورځ به ضرور راځی . نوته مونږ ته د هغه ورځې نه نجات راکړه.رسول الله ﷺ فرمائی چه بنده باندې به غصه او ملامتیا او شرمندګی دومره زیاته شی اوداشان به دالله تعالی مخکښې اودرولې شی او قائل او معقول به کړې شی چه دې به اووائی چه کاش ما جهنم ته اوغورزوی .(٢) (ابویعلی). ددې حدیث مبارک سند هم غریب دې .

دتجهدو په وخت کښې دا ایاتونه لوستل:-د احادیثو نه دا هم ثابت دی چه کله به رسول الله ﷺ د تهجدو دپاره پاسیدل نو د سورة آل عمران دا لس آیتونه به ئې لوستل.

هم دا عمل په بل روایت سره :- بخاری شریف کښې دی چه ابن عباس ﷺ فرمائی ما خپلې ترور میمونه ﷺ کره شپه تیره کړه ، دا د رسول الله ﷺ بی بی وه. کله چه رسول الله ﷺ راغلو نو څه وخت پورې ئې میمونې ﷺ سره خبرې کولې او بیا اوده شو، کله چې د شپې آخره شوه نو رسول الله ﷺ پاسیدو او آسمان طرفته ئې نظر اوکړواو ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ الخ﴾ تردسورة آخره پورې ئې تلاوت اوفرمائیلو.بیاپاسیدو او مسواک سره ئې استعمال کړو او اودس ئې اوکړو اویوولس رکعته مونځ ئې اداکړو.کله چه ئې د بلال حبشی ﷺ د اذان آواز واوریدو نو دوه رکعته ئې د سحر سنت ادا کړل او بیا ئې جمات ته تشریف یوړو او خلقو ته ئې د سحر مونځ ورکړو.(٣)

د ابن عباس د نبی کریم ﷺ سره اودریدل:- صحیح بخاری کښې دا روایت بل ځائې کښې هم دې چه د بسترې لنډوالی کښې څه او پلن والی کښې رسول الله ﷺ او د رسول الله ﷺ زوجه صاحبه ام المومنین میمونه ﷺ څملاستل نیمې شپې ته نزدې یا څه پس رسول الله ﷺ پاسیدو او خپلو لاسونو مبارکو سره ئې خپلې سترګې مبارکې مخلې ، او ددې لسو آیتونو مبارکو تلاوت ئې اوفرمائیلو او بیائې د زوړند مشکیزې نه اوبه واخستې او په ښه شان ئې اودس اوکړو او مونځ ته اودریدو . څه پاڅیدم او د رسول الله ﷺ ښی طرفته د رسول الله ﷺ اقتداء کښې مونځ دپاره اودریدم . رسول الله ﷺ خپل ښی لاس څماسر باندې کیخودو او څه ئې دغوږ نه اونیولم او څه ئې خپل ګس طرفته کړم .او دوه رکعته ئې شپږ ځل ادا کړل یعنی دولس رکعته مو اوکړل. بیا ئې وتر اوکړل او څملاستو تر دې چه د موذن د آذان آواز

---

(١) احمد : ٣/٢٢٦،)-

(٢) مسند یعلی : ١٧٧٦،)-

(٣) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة آل عمران باب قوله (ان فی خلق السموات ...) : ٤٥٦٩، صحیح مسلم: ٧٦٣)-

Scanned with Ca

نې واوریدو اوموذن راغلواو ورته نې اطلاع ورکړه. رسول الله ﷺ اودریدلو او دوه رکعته نې ادا کړل او بهر لاړل اود سحرمونځ نې ادا کړو.(١)

د ابن عباس ﷺ د رسول الله ﷺ په کور کښې شپه تیرول: - د ابن مردویه دې حدیث کښې دی عبدالله ﷺ فرمائی چه ما ته خما پلار عباس ﷺ اوفرمائیل چه تاسو نن شپه د رسول الله ﷺ کور کښې تیره کړه. او د رسول الله ﷺ د مونځ کیفیت اوګورره. د شپې چه کله ټول خلق د ماسختن مونځ دپاره لاړل نو خه ناست اووم. هرکله چه رسول الله ﷺ تلو کښې شو نو وې فرمائیل څوک نې؟ عبدالله نې. ما اووئیل چه آو جی. وې فرمائیل چه ولې ولاړ نې ؟ ما اووئیل چه د پلار حکم دې چه شپه د رسول الله ﷺ کور کښې تیره کړه. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بنه راخه . کور ته چه راغلو نو وې فرمائیل چه بستره خوره کړئی . د ټاټ تکیه راغله او رسول الله ﷺ په هغې سرمبارک کیخودو او څملاستو تر دې چه ما د رسول الله ﷺ د خراټی آواز واوریدو ، بیا رسول الله ﷺ پاسیدو او نیغ کیښناستو او آسمان طرفته نې اوکتل او دري څل نې ﴿سبحان الملك القدوس﴾ اووئیل . بیا نې د سورة آل عمران آخری لس آیتونه تلاوت کړل ، او بل روایت کښې دی چه د تلاوت نه پس رسول الله ﷺ دا دعا اوفرمائیله چه :

(اللهم اجعل فی قلبی نورا وفی سمعی نورا وفی بصری نورا و عن یمینی نورا و عن شمالی نورا ومن بین یدی نورا ومن خلفی نورا ومن فوقی نورا ومن تحتی نورا واعظم لی نورا یوم القیامة) (ابن مردویه) دا دعا بعضو صحیح طریقو سره هم مروی ده.(٢)

د لسو ایاتونو په نزول د رسول الله ﷺ ژړا: - ددې آیت د تفسیر په شروع کښې د طبرانی حوالې سره تیر شوی دی د هغې نه معلومیږی چه دا آیت مکی دې . لیکن مشهور د دې خلاف دې. یعنی دا چه دا آیت مدنی دې . اوددې دلیل کښې دا حدیث مبارک پیش کیدې شی کوم چې ابن مردویه کښې دې چه عطاء ﷺ،ابن عمر ﷺ او عبید بن عمیر ﷺ عائشه ﷺ ته راغلو ،د دوی او د عائشه ﷺ مینځ کښې پرده وه. عائشه صدیقه ﷺ تپوس اوکړو چه عبید ته ولې نه راځې ؟ عبید اوفرمائیل چه اماجان صرف په دې وجه د شاعر قول دې چه (زرغبا تزددحبا) یعنی لږ لږ راخه چه محبت زیات شی . ابن عمر ﷺ اوفرمائیل چه انې مور بی بی مونږ ته هغه عجیبه خبره اوکړه چه د رسول الله ﷺ ذات مبارک کښې تاسو کتلی وی .عائشه صدیقه ﷺ په ژړه شوه او وې فرمائیل چه د رسول الله ﷺ ټول کارونه عجیبه وو. یو واقعه واورئی . یو خل د شپې خما نمبر کښې رسول الله ﷺ ته راغلواو ماسره څملاستو ، بیا نې ماته اووئیل چه انې عائشه ﷺ خه د خپل رب خه عبادت کول غواړم ما پریږده . ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ خه ستاسو قرب غواړم اودا هم خما خوښ ده چه رسول الله ﷺ د الله ﷻ عبادت اوکړی نو رسول الله ﷺ پاسیدو او یو مشك نه نې اوبه واخستې او اودس نې اوکړو اومونځ ته اودریدل ، بیا چه کله نې ژړا شروع کړه نو دومره نې اوژړل چه ږیره مبارکه نې لمده شوه. بیا سجدې ته لاړل او دومره نې اوژړل چه زمکه لمده شوه ،بیا په ارخ څملاستل او ژړل نې تر دې چه بلال ﷺ راغلو او مونځ دپاره نې رسول الله ﷺ اوبللو او کله چه نې د رسول الله ﷺ اوښکې اولیدې نو وې فرمائیل چه انې د الله ﷻ رسوله ﷺ تاسو ولې ژاړئی ؟ الله ﷻ ستاسو ټول مخکښې روستی ګناهونه معاف کړی دی . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه انې بلال ﷺ ! خه به ولې نه ژاړم ؟ ما باندې نن شپه دا آیت نازل شوې دي چه ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ﴾. هلاکت دې هغه سړی دپاره چه دا آیت اولولی او بیا هم غور اوتدبر نه کوی .

---

(١) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (ربنا انک من تدخل النار .....) : ٤٥٧١، صحیح مسلم: ٧٦٣)-

(٢) صحیح بخاری کتاب الدعوات باب الدعاء اذا انتبه اللیل : ٦٣١٦، صحیح مسلم : ٧٦٣، ابو داود : ٥٠٤٣)-

Scanned with Ca

هم دا واقعه په بل روایت کښې:- دعبد بن حمید تفسیر کښې هم دا حدیث شته دې ، په هغې کښې دی چه کله مونږ عائشه رضی الله عنها ته ورغلو نو مونږ ورته سلام اوکړو نو عائشه رضی الله عنها تپوس اوکړو چه څوک دی ؟ مونږ ورته خپل نومونه اوخودل . اوآخر کښې دا هم دی چه مونځ نه پس رسول الله ﷺ په خپل ښی طرف ملاست وو او او د خپل رخسار لاندې ئې لاس مبارك ایښودې وو او ژړل ئې تردې چه اوښکو سره زمکه لمده شوه. اود بلال رضی الله عنه جواب کښې رسول الله ﷺ دا هم فرمائیلی وو چه آیا څه دې شکر گزار بنده جوړ نه شم ؟او د آیتونو نازلیدو باره کښې (عَذَابَ النَّارِ) پورې رسول الله ﷺ تلاوت کړې وو.(١)

دابن مردویه په یو ضعیف سند سره منقول روایت کښې د ابوهریره رضی الله عنه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ به د سورة آل عمران آخری لس آیتونه هره شپه لوستل (٢)، دې روایت کښې مظاهر ابن اسلم ضعیف دې .

فَاسْتَجَابَ	لَهُمْ	رَبُّهُمْ	أَنِّي			
انوپه جواب کښې اووئیل	اهغوئ ته	ارب دهغوئ	چه زه			
نوالله پاک دهغوئ دعاقبوله کړه	اوورته ئې اووئیل	چې زه به				
لَا أُضِيعُ	عَمَلَ	عَامِلٍ	مِنْكُمْ	مِنْ ذَكَرٍ	أَوْ أُنْثَىٰ	
نه ضائع کوم	عمل	دیوعمل کونکي	ستاسو نه	که نارینه وی	اوکه زنانه وی	
تاسو کښې دهیچا عمل نه ضائع کوم	که نارینه وی اوکه زنانه	.....تاسوتول				
بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ		فَالَّذِينَ هَاجَرُوا				
(څکه چه) ځینې ستاسو د ځیزونورو نه دی	انوهغه کسان چه هجرت ئې کړې دې	(دوطن خپل نه)				
دیوبل حصه یئ	نو هرچا چې زما دپاره کور کلئ پریخودې وی					
وَأُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ	وَأُوذُوا	فِي سَبِيلِي				
او ایستلې شوې دی	اد کورونو خپلونه	او تکلیفونه ورسولې شوی دی	اپه لار خما کښې			
اودکورونو نه ویستلې شوی وی	اوزما په لار کښې ئې تکلیفونه برداشت کړی وی					
وَقَاتَلُوا	وَقُتِلُوا	لَأُكَفِّرَنَّ	عَنْهُمْ	سَيِّئَاتِهِمْ		
اوجنګونه ئې کړی دی	او وژلې شوې دی	اخامخابه لرې کړم زه	دهغوئ نه	اګناهونه دهغوئ		
اوجنګیدلی وی	او وژلی شوی وی	زه به ضرور دهغوئ ګناهونه معاف کړم				
وَلَأُدْخِلَنَّهُمْ	جَنَّاتٍ	تَجْرِي	مِنْ تَحْتِهَا	الْأَنْهَارُ	ثَوَابًا	
اوخامخابه داخل کړم هغوئ	اجنتونو ته	اچه بهیږی به	لاندې دهغې نه	نهرونه	دابدله ده	
اوداسې باغونو ته به ئې داخل کړم	اچې دهغې لاندې ولې بهیږی	اللہ پاک سره دهغوئ ثواب مقرر دې				
مِنْ عِنْدِ اللَّهِ	وَاللَّهُ	عِنْدَهُ	حُسْنُ الثَّوَابِ			
دطرفه اللہ تعالی نه	اواللہ ځه دې	د هغه سره دې	بهترینه	بدله		
اواللہ پاک سره دیربنه ثواب موجود دې						

---

١) عبد بن حمید)-

٢) الیوم واللیلة لابن السنی ، : ٦٨٨،)

Scanned with Ca

قوله تعالی:: فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ

الله ﷻ د دعاګانو قبلونکی دي :- دلته (اسْتَجَابَ) په معنی د (اجاب) دي. او دا عربیځ کښې برابر او مروج نه وائی.ام سلمه رضی الله عنها یوه ورځ د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه څه خبره ده چه د ښځو چرته هم په قران پاك کښې ذکر نشته ؟ په دې باندې دا آیت نازل شو.د انصار بیان دي چه ښځو د ټولو نه رومبی مهاجره چه هودج ته راغله هغه ام سلمه رضی الله عنها وه.(١) د دې مور بی بی نه دا هم مروی دی چه دا آیت د ټولو نه آخر کښې نازل شوې دي .د دې آیت مطلب دا دي چه صاحب عقل او صاحب ایمان خلقو چه کله الله ﷻ نه دعاګانې اوکړي د کومو ذکر چې رومبنی آیتونو کښې وو نو الله ﷻ هم د دوی ټول مرادونه پوره کړل.د دې په وجه دا آیت د " ف " نه شروع شو. لکه بل ځائې کښې ارشاد دي چه (وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي) الخ یعنی کله چې ځما بندګان ستا نه زما په باره کښې سوال کوی نو ته ورته اووایه چه څه خو تاسو ته ډیر نزدې یم ،کله چه څوك ځما نه غواړی نو څه د هغه دعا قبلوم. نو دوی ته پکار دی چه ځما نه اوغواړی او ماباندې ایمان راوړی ،څه لرې نه ده چه دوی ته رشد او هدایت نصیب شی.

قوله تعالی:: أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى

د عمل نه ضائع کولو وعده:- بیا د قبولیت او دعا تفسیر کیږی اوالله ﷻ خبر ورکوی چه څه د یو عامل عمل نه بې ځایه کوم بلکه هر یو ته پوره پوره بدله ورکوم. که ښځه وی او که سړې ، هریو په ثواب او د عملونو بدله کښې یوشان دي .

قوله تعالی:: فَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَأُخْرِجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَأُوذُوا فِي سَبِيلِي

دمهاجرینودرجه:- نو کوم خلق چه د شرك ځائې پریږدی او د ایمان ځائې ته راشی ، دار الکفر نه هجرت اوکړی او خپل رونړه ،دوستان، ګواندیان د خپل الله ﷻ په نوم پریږدی ،د مشرکانو تکلیفونه برداشت کوی اوآخر عاجزه شی خو بیا هم ایمان نه پریږدی بلکه د خپل خوږ وطن نه زړه صبر کړی. دوئ د خلقو هیڅ نقصان نه وو کړې چه د دې بدله کښې دوی ته تکلیف ورکوی بلکه د دوی صرف دا قصور ووچه ځما په لار روان وو صرف ځما د توحید په وجه ئې د دنیا سره دشمنی قبوله کړه. ځما په لاره تلو سره رنګ په رنګ تکلیفونوسره دوی مخ شول. لکه بل ځائې کښې ارشاد دي چه ﴿يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ أَنْ تُؤْمِنُوا بِاللَّهِ رَبِّكُمْ﴾ یعنی داخلق رسول الله ﷺ اوتاسو صرف په دې وجه د وطن نه اوباسی چه تاسو ایمان راوړې دي اوهغه پاك ذات ستاسو رب دي .او ارشاد دي چه ﴿وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ إِلَّا أَنْ يُؤْمِنُوا بِاللَّهِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ﴾ یعنی دوی سره ئې دښمنی په دې وجه وه چه دوی په الله عزیز اوحمید باندې ایمان راوړ .

قوله تعالی:: لَأُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ

شهید ته د قرض نه سوا ټول ګناهونه معاف کیدل:- بیا فرمائی چه دوی جهاد هم اوکړو او دوی شهیدان هم شو.دا اعلی درجه ده او اوچته مرتبه ده چه د الله ﷻ لار کښې جهاد دي ، سورلی ختمیږی او خوله نې ښاوري سره ښاوري شی .بخاری او مسلم شریف کښې دی چه یو سړی اووئیل چه یارسول الله ﷺ که څه په نیك نیت اوبهادرئی سره جهاد اوکړم او روستو نه شم او بیا شهید شم نو آیا الله ﷻ به ځما ګناهونه معاف کړی.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه آو. بیا رسول الله ﷺ هغه نه تپوس اوکړو تا چې څه اووئیل هغه لږ بیا اووایه.نوهغه بیا خپل سوال دوباره کړو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه آو (ګناهونه به دې معاف کړی) خو قرض نه معاف کوی. دا خبره ماته جبریل ﷺ اوس اوکړه.(٢)

---

(١) حاکم : ٢/٣٠٠،).

(٢) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة احد:٤٠٤٦، صحیح بخاری مسلم:١٨٨٥، نسائی : ٣١٥٦)-

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَلَاُدْخِلَنَّهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ثَوَابًا مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ
بیادلته فرمائی چه خُه به ددوی بدئ معاف کړم او دوی به جنت ته داخل کړم. چه په هغې کښې خلور واړه طرفته نهرونه بهیږی په هغې کښې په چا کښې پئ دی او چا کښې شهد اوچاکښې شراب او چا کښې صفا اوبه او دغه شان نعمتونه دی چه نه به چرته ستر گو کتلی وی اونه به غوږونو آوریدلی وی اونه به چرته د انسان زړه کښې ددې خیال تیر شوې وی.دا د الله ﷻ د طرفنه ده بدله . ظاهره ده چه کوم ثواب د هغه شهنشاه عالی طرفنه وی نو هغه به څومره زبردست وی او بې انتها به وی ؟ لکه دیو شاعر قول دې که هغه عذاب ورکړی نو هغه هم هلاکونکې او بربادونکې دې او که انعام ورکړی نو هغه هم بې حسابه ،د قیاس نه زیات . ځکه چه د هغه ذات بې پرواه دې . د نیکو اعمالو بدله الله ﷻ سره ده .

خلقو ته نصیحت:- شداد بن اوس رضی الله عنه فرمائی چهې انې خلقو ! د الله ﷻ په قضا باندې غمژن او بې صبره کیږئ مه.واورئ مومن باندې ظلم او جبر نه کیږی . که تاسوته خوشحالی او رحمت اورسی نو په هغې الله ﷻ حمد بیان کړئ او د هغه شکر پرې اوباسئ .او که تاسوته څه مصیبت اورسی.نو د صبر لمن مه پریږدئ. او دنیکئ او ثواب خواهش کوئ الله ﷻ بهترین بدله او ثواب ورکونکئ دې

دکافرو راحت ته کتل نه دی پکار:- :- الله ﷻ فرمائی چه انې نبی ﷺ! د دې کافرانو بد مستئ او ددوی ناز ونعم د دوی راحت او آرام او د دوی خوشحالئ طرفته مه گوره نزدې ده چه دا ټول فنا کیدونکی دی او دوی دپاره به صرف د دوی بدعملونه د عذاب په صورت کښې باقی پاتې شی . دا ټول نعمتونه د آخرت مقابله کښې هیڅ نه دی . هم د دې مضمون ډیر آیتونه قران کریم کښې دی ① لکه ﴿مَا یُجَادِلُ فِیْۤ اٰیٰتِ اللّٰهِ اِلَّا الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فَلَا یَغُرُّكَ تَقَلُّبُهُمْ فِی الْبِلَادِ﴾ یعنی کافران د الله ﷻ آیتونو کښې جنگ کوی د دوی بنارونو کښې گرزیدل راگرزیدل دې تاسوپه دهوکه کښې وانه چوی②بل خاني کښې ارشاد دې ﴿قُلْ اِنَّ الَّذِیْنَ یَفْتَرُوْنَ عَلَی اللّٰهِ الْكَذِبَ﴾ الخ : یعنی کوم خلق چه په الله ﷻ پورې دروغ تړی هغوئ فلاح نه مومی . هسې دې دا شان دنیا کښې فائده واخلی لیکن آخری راتگ خو خمونږ طرفته دې بیا به مونږ د دوی دکفر بدله کښې دوی ته سخت عذاب ورکړو③بل خاني کښې ارشاد دې چه مونږ به دوی ته لږه شان فائده ورکړو اوبیا به ئې دنقصان والا عذاب طرفته راکاږو بې بس به ئې کړو④اوبل خاني ارشاد دې چه دې کافرانو ته لږ مهلت ورکړه .⑤او بل خاني کښې ارشاد دې چه آیا هغه سړې د ښه وعدې مونږلووالا دې او چه کوم دنیا کښې آرام سره ژوند تیروی . اود قیامت په ورځ به عذاب کښې حاضریدو والا برابر کیدیشی ؟

لَا یَغُرَّنَّكَ تَقَلُّبُ	
ادهوکه دې نه کړی تا اگرزیدل	
ته په دې مه دهوکه کیږه چې	
الَّذِیْنَ كَفَرُوْا فِی الْبِلَادِ ۝۱۹۶ مَتَاعٌ قَلِیْلٌ ۚ ثُمَّ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ	
دهغه کسانو اچه کافران دی اپه ملکونو کښې ا(دا، فائده ده)ا لږه ا بیا اخائې دهغوئ ا دوزخ دې ا	
چې کافر په بنارونو کښې گرځی ا دادیو څو ورځو مزې دی ا اوبیا ددوئ خائې دوزخ دې	
وَبِئْسَ الْمِهَادُ ۝۱۹۷ لٰكِنِ الَّذِیْنَ اتَّقَوْا رَبَّهُمْ لَهُمْ جَنّٰتٌ	
اوډیر خراب خائې دې دقرار الیکن هغه کسان اچه ویریږی ا دخپل رب نه ا دوی دپاره دی باغونه ا	
اوډیربدخائې دې ا خوځوک چې دالله پاک نه ویریږی ا هغوئ دپاره داسې باغونه تیار شوی دی	

Scanned with Ca

تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	نُزُلًا	مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ

چه بهیږی به| لاندې دهغې نه| نهرونه |اوهمیشه به وی| په هغې کښې |میلمستیاده| دطرفه دالله تعالی|

چې دهغې لاندې به ولې بهیږی | دوئ به په هغې کښې همیشه اوسیږی | دغه د الله د طرفه میلمستیاده

وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ	خَيْرٌ	لِّلْاَبْرَارِ ۝١٩٨	

او څه چه دالله سره دی| (هغه) بهتر دی|دپاره دنیکانو

اونیکانو دپاره هغه څه بهتر دی چې دالله پاک سره موجود دی|

قوله تعالی:: وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ۝

د مؤمنانو ذکر:- چونکه دکافرو دنیاوی او د آخرت حال بیان شو نو اوس دې سره د مومنانو ذکر کیږی چه داخلق به د قیامت په ورځ د نهرونو په جنتونو کښې وی.

د ابرابر وجه تسمیه:- ①ابن مردویه کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی چه دوی ته ابرار په دې وجه وائی چه دوی مور پلار او اولاد سره نیک سلوک کوی. چه څنګه ستا د پلار تاباندې حق دې دغه شان ستا د اولاد تاباندې حق دې .هم دا روایت ابن عمر ؓ نه موقوفًا هم مروی دې .او موقوف کیده ئې زیات صحیح ښکاری ،والله اعلم .

② حسن ؒ فرمائی چه ابرار هغه خلق دی چه کوم تکلیف نه ورکوی .

د نیکانو دپاره اخرت غوره دې:- عبدالله بن مسعود ؓ فرمائی چه هر سړی دپاره مرګ ښه څیز دې که هغه سړی نیک وی او که بد .که نیک وی نوده دپاره الله ﷻ سره هغه څه دی چه بهتر دی او که بد وی نو د ده د ګناهونو په وجه چې به د الله ﷻ عذاب د ده په ژوند کښې زیاتیدل هغه د ګناهونو سلسله ختمه شوه ، د رومبی دلیل دا قول دالله ﷻ ﴿وَمَا عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّلْاَبْرَارِ ۝﴾دي .او د دویم دلیل ﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنَّمَا نُمْلِيْ لَهُمْ خَيْرٌ لِّاَنْفُسِهِمْ ؕ﴾الخ یعنی کافر دې ځمونږ مهلت خپل حق کښې بهتر نه ګڼری،دا مهلت د دوی ګناهونو کښې زیاتوالې راولی او د دوی دپاره رسوا کوونکې عذاب دې . ابوالدرداء ؓ نه هم دا مروی دی .

وَاِنَّ	مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ					

| اوبیشکه | ځینې داهل کتابو نه|

|اوپه اهل کتابو کښې بعضې داسې دی

لَمَنْ	يُّؤْمِنُ	بِاللّٰهِ	وَمَآ	اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

خامخا هغه څوک دی|چه ایمان لری| په الله تعالی|او په هغه کتاب| چه نازل کړې شوې دې تاسوته|

چې الله پاک منی | او هغه کتاب هم منی چې تاسو ته راغلې دې (یعنی قران پاک)

وَمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْهِمْ	خٰشِعِيْنَ	لِلّٰهِ ۙ	لَا يَشْتَرُوْنَ

اوپه هغه کتاب| چه نازل کړې شوې دې | هغوئ ته | ایریدونکی دی |دالله تعالی نه| نه اخلی |

اوهغه هم منی چې هغوئ ته رالیږلې شوې دی | الله پاک ته عاجزی کوی | دالله پاک

بِاٰيٰتِ اللّٰهِ	ثَمَنًا قَلِيْلًا ؕ	اُولٰٓئِكَ	لَهُمْ	اَجْرُهُمْ	عِنْدَ رَبِّهِمْ ؕ

په آیتونو دالله تعالی| قیمت لږ | داکسان چه دی| ددوی دپاره | اجر د دوی دې |درب ددوی سره|

آیتونه (ددنیا) په لږ قیمت نه خرڅوی | دهغوئ بدله دخپل رب سره ده.....

Scanned with Ca

اِنَّ اللّٰهَ	سَرِيْعُ	الْحِسَابِ ۝	يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا اصْبِرُوْا
بیشکه الله تعالی	زر اغستونکی	د حساب دی		اې هغه کسانو چه ایمان مو راوړی دی صبر کوئ
اوالله پاک زر حساب کونکی دی	.....			اې دایمان خاوندانو صبر کوئ
وَصَابِرُوْا	وَرَابِطُوْا ۟	وَاتَّقُوا اللّٰهَ		
اوتینګ اوسئ (دباطل په مقابله کښې)	او ملاتړلی تیا اوسئ (دحق په خدمت کښې)	او ویریږئ د الله نه		
(اودکفر مقابلې ته) پښې مضبوطې کړئ	اوملاګانې کلکې اوتړئ	اوالله پاک نه ویریږئ		
لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ ۝ ع			
امید دی چه تاسو	کامیابی بیاموميء			
امیدې چې (دعذاب نه به) خلاصې بیاموميء				

قوله تعالی:: اِنَّ مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ لَمَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ

په اهل کتابو کښې دایمان دارو کامیابی:- الله ﷻ د اهل کتابو د هغه فرقې تعریف کوی چه کومو پوره ایمان راوړې دی .قران کریم هم منی او د خپل نبی ﷺ کتاب باندې هم ایمان راوړی. د الله ﷻ ویره د دوی په زړونو کښې وی او د الله ﷻ د احکامو پابندئی کښې ډیر په شوق سره مشغول اوسی. الله ﷻ ته عاجزی او فریاد کوی.د رسول الله ﷺ پاکې اوښکاره نښې نه پټوی کومې چه د دوی کتابونو کښې دی . بلکه هر یو ته ئې ښائی.او ورته ترغیب ورکوی چه رسول الله ﷺ اومنئ. داسې ډلې ته به الله ﷻ اجر ورکوی که یهود دی او که نصرانیان دی.

① سورة قصص کښې دا مضمون داسې بیان شوې دی چه ﴿اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ﴾ الخ. چه چا ته مونږ دې نه مخکښې کتاب ورکړې وو هغوئ په هغې باندې هم ایمان لری اوکله چه دا کتاب په هغوئ لوستلې شی نووائی چه مونږ په دې باندې هم ایمان راوړو ، دا برحق او ځمونږ د رب طرفه دی . مونږ خو مخکښې نه دا منلو . دوی ته به د دوی د صبر دوچند اجر ملاویږی.

② اوبل ځائې ارشاد دی چه چاته مونږ کتاب ورکړې دی او هغوی دغه کتاب په صحیح طریقه لولی نو هغوئ قران باندې هم زر ایمان راوړی. الخ.

③ بل ځائې ارشاد دی چه ﴿وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ۝﴾. د موسی ﷺ قوم کښې هم یوه ډله د حق هدایت کونکی او د حق سره عدل کونکی دی .

④ اوبل ځائې کښې ارشاد دی چه ﴿لَيْسُوْا سَوَآءً ۭ﴾ الخ. یعنی اهل کتاب ټول یو شان نه دی ، په دوی کښې یوه ډله د شپې هم کتاب الله لولی او سجدې کوی.

⑤ اوبل ځائې کښې دی چه اې نبی ﷺ ا ته اووایه چه اې خلقو ا تاسو که ایمان راوړئ اوکه نه راوړئ ، مخکښې چه چا ته علم ورکړې شوې دی ، کله چه دوی ته د قران پاک آیتونه تلاوت کړې شی نو هغوی په سجدو کښې پریوځی او وائی چه ځمونږ رب پاک دی او یقینًا د هغه وعده ریښتونې ده او باقی پاتې کیدونکی ده. دا خلق په ژړا ژړا سجدې ته ځی او خشوع او خضوع کښې مشغول وی. دا صفتونه یهودو کښې موندلې شوی دی اګرچه ډیر کم خلق داسې وو.

د یهودیانو باعمله عالمان:- عبدالله بن سلام ﷺ او د دوی په شان نور ایماندار یهودیان عالمان .لیکن د دوی تعداد لس هم نه وو.خو نصرانیان اکثر هدایت طرفته راغلې وو. او د حق منونکی وو لکه بل ځائې کښې ارشاد دی چه ﴿وَلَتَجِدَنَّهُمْ اَحْرَصَ النَّاسِ عَلٰى حَيٰوةٍ ۛ وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ﴾ نه تر ﴿خٰلِدِيْنَ فِيْهَا﴾ آخری آیت

Scanned with Ca

پوري .مطلب دا دي چه ايمان والو سره عداوت او دښمنئ کښې د ټولو نه زيات يهوديان دي او مشرکانو او ايمان والو سره محبت والو کښې نصرانيان مخکښې دي. الخ.

د نجاشي متاثر کيدل:- اوس فرمائي چه داسې خلق الله ﷻ په نيز د اجر عظيم مستحق دي. حديث مبارک کښې دي چه جعفر بن ابي طالب ﷺ چه کله سورة مريم تلاوت اوفرمائيلو نو د نجاشي او د بادشاه د اراکينواودنصرانيانو عالمانو مخکښې نو دوی باندې رپيدل راغلل نو ټول حاضرين سره د بادشاه په ژړا شو.او دومره متاثره شوچه په ژړا ژړا د دوی ږيرې لمدې شوې. (١)

په نجاشي غائبانه جنازه:- صحيح بخاری اومسلم کښې دي چه د نجاشي بادشاه د وفات خبر رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ﷺ ته ورکړو او ورته ئې اوفرمائيل چه ستاسو رور حبشه کښې وفات شوې دې ،د هغه د جنازې مونځ ادا کړئ . او رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو ﷺ سره ميدان ته اووتلو او صفونه ئې جوړ کړل او د هغه د جنازې مونځ ئې ادا کړو(٢).

د ايت شان نزول:- ابن مردويه کښې دي چه کله نجاشي وفات شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه خپل رور دپاره استغفار اوکړئ نو بعضو خلقو اووئيل چه اوکورئ رسول الله ﷺ مونږته د نصرانې دپاره د استغفار کولوحکم کوی چه په حبشه کښې وفات شوې دي . نودې باندې دا آيت نازل شو.(٣) يعنې د ده داسلام خبرقران پاک ورکړو.

شان نزول په روايت سره: ابن جرير کښې دي چه د ده دمرګ خبر رسول الله ﷺ ورکړوچه ستاسورور اصحمه وفات شوې دې.بيارسول الله ﷺ بهر تشريف يوړو او څنګه چه دجنازې مونځ کيږي نوهغه شان ئې دجنازې مونځ څلورو تکبيرونو سره اداکړل.نودې باندې منافقانواعتراض اوکړو او دا آيت نازل شو.

دنجاشي د قبر نه رنړا ختل:- ابوداود کښې دي چه عائشه رضي الله عنها فرمائي چه د نجاشي د وفات نه پس مونږ دا آوريدل چه د هغه په قبر باندې نور ښکاری. (٤)

دنجاشي په الله توګل:- مستدرک حاکم کښې دي چه د نجاشي يو دښمن د ده د سلطنت نه نجاشي باندې حمله اوکړه نو مهاجرينو اووئيل چه ته دوی سره مقابلې ته تيار شه مونږ هم تاسره يو. ته به ځمونږ بهادری وينې.اوتا چه کوم ښه سلوک مونږسره کړې دې دهغې بدل به مونږ خلاص کړو. ليکن نجاشي اووئيل چه د خلقو په مدد سره د بچ کيدو نه د الله ﷻ په مدد سره بچ کول بهتر دی . دې باره کښې دا آيت نازل شو(٥)

د ايت مصداق څوک دی؟:- ① مجاهد رحمه الله فرمائي چه د دې نه مراد اهل کتاب مسلمانان دی (٦)② حسن بصری رحمه الله فرمائي چه ددې نه مرادهغه اهل کتاب دی چه د رسول الله ﷺ نه مخکښې وو. اسلام نه خبر وو او هغوئ ته د رسول الله ﷺ د اطاعت شرف هم حاصل شو. نو هغوئ ته اجر هم دوچنده ملاؤ شو.يود رسول الله ﷺ نه د مخکې ايمان او بل په رسول الله ﷺ باندې ايمان .

دري قسمه خلقو ته دوچنده اجر ملاويدل:- بخاری او مسلم شريف کښې ابوموسی نه مروی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دري قسمه خلقوته به دوچند اجرملاويږي① په هغوئ کښې يوداهل کتابوهغه کس دې هغه پخپل نبی باندې ايمان راوړې وو اومابانديې ئې هم ايمان راوړو(٧)اوباقی دوه ئې هم ذکر کړل

---

١) سيرة ابن هشام : ١/٣٥٧)-

٢) صحيح بخاری كتاب المناقب الانصار باب موت النجاشي : ٣٨٧٧ صحيح مسلم: ٩٥١)-

٣) الطبراني في الاوسط : ٣٦٨٨، وسنده حسن)-

٤) ابوداود كتاب الجهاد باب في النور يرى عند قبر الشهيد : ٢٥٢٣،)-

٥) حاكم : ٢/٣٠٠)-.

٦) الطبري: ٧/٤٩٩)-

٧) صحيح بخاری كتاب العلم باب تعليم الرجل امته واهله: ٩٧، صحيح مسلم: ١٥٤، ابوداود :٢٠٥٣، ترمذی: ١١١٦، نسائي: ٣٣٤٦)

Scanned with Ca

قوله تعالی:: لَا يَشْتَرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا

د الله په آیاتونو دنیا نه اخستل:- د الله ﷻ آیتونه په لږ قیمت نه خرڅوی یعنی دوی سره چه کوم علم دی هغه نه پټوی .لکه څنګه چه دوی کښې د یو رذیل جماعت طریقه وه بلکه دا خلق خودا ښه خوروی او ظاهروی.د دوی بدله د دوی رب سره ده. الله ﷻ زر حساب کونکی دی .یعنی زر راغونډونکی او ګیرونکی او شمیرونکی.

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا

د دری څیزونو حکم:- بیا فرمائی چه خما خوښ دین اسلام باندی کلك اوسئ او په راحت او مصیبت هیڅ حال کښې دا مه پریږدئی تر دی چه تاسو ته مرګ راشی نو چه هم په دی باندی درته مرګ راشی. او خپل هغه دښمنانو سره هم صبرنه کارواخلئ چه کوم خپل دین پټوی.امام حسن بصری رحمه الله وغیره علماء سلف هم دا تفسیر بیان کړی دی.

د مرابطه معنی:- ①(**مرابطه**) وائی د عبادت په څانې کښې همیشه اوسیدو او ثابت قدم اوسیدو ته.

د مرابطه تفسیر:- او وئیلی شوی دی چه د یو مونځ نه پس د بل مونځ انتظار کښې اوسئ. هم دا قول دی په مسلم شریف کښې او نسائی کښې د عبدالله ابن عباس ﷺ ، سهل بن حنیف رضی الله عنه اومحمد بن کعب قرظی رحمه الله .رسول الله ﷺ فرمائی چه راشئ چه څه تاسو ته اوښایم چه الله ﷻ په کومو څیزونو ګناهونه ختموی،درجې اوچتوی ①اودس کول اګر چه تکلیف وی ② لرې نه مسجد ته راتلل ③ دیو مونځ نه پس د بل مونځ انتظار کول ،هم دا رباط دی .هم دا مرابطه دی .هم دا دالله ﷻ لارکښې مستعدی ده. (۱)

د ایت شان نزول:- ابن مردویه کښې دی چه ابوسلمه رضی الله عنه نه یو ورځ ابوهریره تپوس اوکړو چه انې خما وراره تاته معلومه ده چه د دې آیت شان نزول څه دی ؟ هغوئ اووئیل چه ماته نه دی معلوم. دوئ اوفرمائیل چه ائې زما واوره ! په هغه وخت کښې هیڅ غزوه نه وه چه کله دا آیت د هغه خلقو حق کښې نازل شو چه کومو به جمات آبادولو.او مونځونه به ئې صحیح صحیح ادا کول.اوبیا به ئې د الله ﷻ ذکرکولو ①دوی ته حکم کیږی چه تاسو د پنځو مونځونو پابندی کوئی ②او خپل نفس او خپل خواهشاتو باندې قابو ساتئ ③او جماتونوکښې مرابط اوسیږئ. او د الله ﷻ نه ویریږئی.هم دا اعمال موجب فلاح دی.(۲)

دګناهونو کفاره:- د ابن جریر حدیث کښې دی چه آیا څه دی تاسوته هغه اعمال اونه ښایم چه د ګناهونو کفاره ده. ① سره د تکلیف او مشقت نه کامل اودس کول ② او د یو مونځ نه پس د بل مونځ انتظار کول .ستاسو کوشش هم په دی کښې پکار دی. او حدیث کښې دی چه جمات ته په تلو کښې زیات قدمونه اخستل (۳) او یو روایت کښې دی چه دګناهونو معافئ غوښتلو سره درجې هم زیاتیږی او هم دا د دې آیت مطلب دی لیکن دا حدیث بالکل غریب دی . ابوسلمه بن عبدالرحمان رحمه الله فرمائی چه د (رَابِطُوْا) نه مراد د مونځ انتظار دی .(۴) ، لیکن پورته بیان شوی دی چه دا فرمان د ابوهریره رضی الله عنه دی . والله اعلم

د مرابطه بل تفسیر:- اودا هم وئیلی شوی دی چه (رَابِطُوْا) نه دښمن سره جهاد کول او د اسلامی ملك د حدونو نګهبانی کول او دښمن اسلامی ښارونو کښې داخلې ته نه پریښودل . ددې ترغیب کښې ډیر احادیث دی او په دی باندې هم د ډیر ثواب وعده ده.

---

۱) موطا امام مالک : ۲٦۱/۱، صحیح مسلم کتاب الطهارة باب فضل اسباغ الوضوء علی المکاره : ۲۵۱، نسائی : ۱٤۳)-
۲) ابن مردویه)-
۳) ابن جریر)-
٤) ابن جریر)-

Scanned with Ca

د یوې ورځې جهادی تیارئ ثواب:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه دیو ورځې جهاد تیاری کول د تولې دنیا او څه چه په دې کښې دی د دې نه بهتر دې(١)د مسلم شریف حدیث مبارک کښې دی چه د یو شواروز د جهاد تیاری کول د یوې میاشتې دکاملو روژو نه او د یوې میاشتې د شب بیداری نه افضل دی او که د دې تیارئی کولو په وخت کښې ورته مرګ راشی نو چه څومره نیک اعمال نې کړی دی د تولوثواب به ورته ملاویږی.اوداالله ﷻ طرفنه به دوی ته روزی ملاویږی. او دوی به دفتنو نه په امن وی (٢)

د الله په لار کښې د مرګ فضیلت:- مسند احمد کښې دی چه د هر مرده اعمال ختمیږی مګر چه کوم سړی د الله ﷻ لار کښې تیارئی کښې وی او دې حالت کښې دې مړ شی نو د ده عمل تر قیامته پورې زیاتیږی او ده ته د قبرعذاب نه نجات ملاویږی .

ابن ماجه کښې روایت دې چه دوی ته به د قیامت د ورځې ویرې نه نجات ملاویږی (٣). ابن ماجه کښې یو روایت کښې دی چه دوی ته به د قیامت د ویرې نه امن ملاویږی .(٤)مسند احمد کښې دی چه دوی ته سحر ماښام جنت کښې روزی ملاویږی . او تر قیامته پورې به دوی ته دمرابط اجر ملاویږی(٥)مسنداحمد کښې دی چه کوم سړی د مسلمانانو د سرحد سره دړې ورځې تیارئی کښې تیرې کړی نوده ته د ټول کال د تیارئی اجر ملاویږی. (٦)

د جهاد فضیلت دعثمان ﷺ په ژبه:- امیر المومنین عثمان بن عفان ﷺ یو ځل په منبر خطبه کښې اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی تاسو ته زه هغه خبره کوم چه کومه چې ما د رسول الله ﷺ نه پخپله آوریدلې وه.دا ما تراوسه پورې په یو خاص خیال سره نه ده کړې .درسول الله ﷺ فرمان دې چه د الله ﷻ لارکښې یو شپه پهره کول د زرو کالو د شپو د عبادت نه بهتر دې هغه زر کلونه چې د هغې ټولې شپې په قیام کښې او ټولې ورځې په روژه کښې تیرې کړی شی .(٧)

د روایت نه بیانولو وجه:- ددې حدیث د نه بیانولو یو وجه خلیفه رسول عثمان ﷺ دا بیان کړې ده چه د دې فضیلت آوریدوسره هسې نه تاسو مدینه پریږدئی اومیدان جنګ ته لاړ شئ اوس نې خه وایم هرسړی ته اختیار دې چه کومه خبره خان دپاره خوښوئی نو هغه دې د هغې پابند شی (٨). دویم روایت کښې دا هم دی چه آیا ما او رسولو؟ خلقو اوونیل چه آؤ. نورسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ائې الله ﷻ ته ګواه اوسه.(٩)

دشرحبیل ﷺ د اسلامی سرحد څوکئ کول:- ترمذی شریف کښې دی چه شرحبیل بن سمط ﷺ دسرحد حفاظت کښې وو. او زمانه زیاته تیره شوه نو د ده زړه تنګ شو. اوپه دې کښې ده ته سلمان فارسی ﷺ ورغلو او وې فرمائیل چه تاته د الله تعالی د پیغمبر یو حدیث واورم. رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څوک یوه ورځ د سرحد په حفاظت کښې تیره کړی نو دا د یوې میاشتې د روژې او قیام اللیل نه بهتر ده .اوڅوک چې دې حالت کښې وفات شی نو هغه به د قبر د فتنه نه بچ وی. او دده اعمال به تر قیامته پورې جاری وی. (١٠)

---

١) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب فضل رباط یوم فی سبیل الله : ٢٨٩٢)-
٢) صحیح مسلم کتاب الامارة باب فضل الرباط فی سبیل ا لله : ١٩١٣)-
٣) احمد : ٢٠/٦ ابوداود کتاب الجهاد باب فی فضل الرباط : ٢٥٠٠ وسنده صحیح ترمذی : ١٦٢١)-
٤) ابن ماجة ابواب الجهاد باب فضل الرباط فی سبیل الله : ٢٧٦٧، وهو صحیح)-
٥) احمد: ٤٠٤/٢،)-
٦) احمد: ٣٦٢/٦،)-
٧) احمد: ٦١/١)-
٨) ابن ماجة کتا ب الجهاد باب فضل الرباط فی سبیل الله : ٢٧٦٦،)-
٩) احمد: ٦٢/١، وهوحسن بالشواهد)-
١٠) ترمذی فضائل الجهاد باب ماجاء فی فضل المرابط : ١٦٦٤، وهو صحیح)-

Scanned with Ca

د یوې شپې ثوکئ ابن ماجه کښې دی چه یوه شپه د الله ﷻ لار کښې پهره ورکول په دې غرض چه مسلمانان په امن کښې وی ، او نیت ئې صحیح وی اګر چه دا د رمضان شپه نه وی نودا د هغه یوکال د عبادت د ثواب نه بهتر ده چه په هغې کښې د ورځې روژه او او په شپه تهجدو کښې مشغول وی. او دالله ﷻ لار کښې دیوې ورځې تیارې په دې غرض چه مسلمانان محفوظ وی او د ده نیت د ثواب وی او دا د رمضان میاشت نه وی نو ده ته د الله ﷻ په نیز د زرو کالو د روژو او تهجدو نه افضل ثواب ملاویږی.او که دې غازی شی اوسلامتیا سره واپس شی نود ده اعمال نامه کښې به د زرو کالو ګناهونه نه لیکلې کیږی اونیکئ به په کښې لیکلې شی.اوددې مرابط اجر به ده ته تر قیامته پورې ملاویږی (١) دا حدیث مبارک غریب دې بلکه منکر دې ، د دې یو راوی عمرو بن ابن صبح مهتم دې.د ابن ماجه یو غریب حدیث کښې دی چه یوه شپه د مسلمان لښکر چوکیداری د یو زرو کالو د شپو د عبادت او د ورځو د روژو نه افضل دی.د هر کال درې سوه شپیته ورځې اوهره ورځ د زرو کالو په شان . (٢)

په ثوکیدار دالله رحمت:- د دې راوی سعید بن خالد ته ابوزرعه رحمه الله وغیره ائمه ضعیف وئیلې دی . بلکه امام حاکم رحمه الله فرمائی چه د دوی روایاتو کښې موضوع احادیث هم شته دې.یو منقطع حدیث کښې دی چه د اسلامی لښکر په چوکیدار باندې دې د الله ﷻ رحم وی(ابن ماجه). (٣)

صحابی ﷺ ته د یوې شپې په ثوکئ د جنت زیرې ملاویدل:- سهل بن حنظله ﷺ فرمائی چه د حنین په ورځ مونږ رسول الله ﷺ سره وو،د مابنام مونځ مو رسول الله ﷺ سره ادا کړو.یو کس په آس سور راغلو او وې فرمائیل چه یارسول الله ﷺ ! څه مخکښې تلې اوم او فلانی غر ته ختلې اوم او ما اوکتل چه د قبیله هوازن خلق میدان ته راغلی دی تر دې چه د هغوئ اوښې ، چیلئ او بنځې او ماشومان هم وو. رسول الله ﷺ په خندا شو او وې فرمائیل چه ماشاء الله دا ټول به سبا د مسلمانانو غنیمت کښې وی . بیا ئې اوفرمائیل چه نن شپه به پهره څوك ورکړی ؟ انس بن ابومرثد ﷺ اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ ! څه حاضر یم .رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه لاړ شه او سورلئ راوله. هغه په خپل آس سور شو او حاضر شو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دغه غر ته ورشه او خبردار تر سحره پورې هیڅ چیرې مه کوه. سحر چه کله رسول الله ﷺ مونځ دپاره راغلل اودوه رکعته سنت ئې ادا کړل او خلقو نه ئې تپوس اوکړو چه ستاسو د پهردارخو څه شورشغرب نه وو؟ خلقو اوئیل چه نه یارسول الله ﷺ . نو بیا ئې تکبیر اووئیلې او رسول الله ﷺ مونځ شروع کړو.اود رسول الله ﷺ خیال دغه غر طرفته وو. هرکله چه رسول الله ﷺ سلام اوګرزولو نو وې فرمائیل چه خوشحاله شئ ستاسو پهره دار راغلو . مونږ چه اوکتل نو هغه لږ وخت پس مونږ ته هم ښکاره شو. هغه چه راغلو نو رسول الله ﷺ ته ئې عرض اوکړو یارسول الله ﷺ ! څه په دې غر پورته ختلې ووم اوستاسو د وینا مطابق مې هلته شپه تیره کړه. سحر ما بل غر کښې اولټولو خو هلته هم څوك نه وو.رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه آیا ته د شپې هلته نه لاندې هم راکوز شوې وې . نو هغه اووئیل چه نه صرف د مونځ دپاره او قضاء حاجت دپاره لاندې راکوز شوې ووم. نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه تا ځان دپاره جنت واجب کړو. اوس که ته د دې نه پس څه عمل نه کوې نو هیڅ باك نشته دې (ابوداود نسائی) (٤)

په ثوکئ کونکې سترګې د جنهم د اور حرمت:- مسنداحمد کښې دی چه دیو غزوه په موقع باندې یوه شپه مونږ په اوچت ځانې وو.او سخته یخنی وه.تردی چه خلقو زمکه کښې کندې کنیستې وې اوخان دپاسه ئې څه چتونه جوړ کړی وو.رسول الله ﷺ آواز اوکړو چه څوك شته دې چه نن شپه ځمونږ چوکیداری

---

(١) ابن ماجة كتاب الجهاد باب فضل الرباط فى سبيل الله : ٢٧٦٨)-

(٢) ابن ماجة كتاب الجهاد باب فضل الحرس والتكبير فى سبيل الله : ٢٧٧٠. وسنده موضوع ، سعيد بن خالد منكر الحديث دي)-

(٣) ابن ماجة كتاب الجهاد باب فى فضل الحرس : ٢٧٦٩)-

(٤) ابوداود كتاب الجهاد فضل الحرس فى سبيل الله : ٢٥٠١، وسنده حسن السنن الكبرى للنسائى : ٨٨٧٠)-.

Scanned with Ca

اوکړی اوخما نه بهترینه دعا واخلی .نو یو انصاری اودریدو او وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! څه تیار یم رسول الله ﷺ هغه راوغوښتلوا و د هغه نه ئې د هغه د نوم وغیره تپوس اوکړو او ورته ئې دعا اوکړه. کله چه ابوریحانه ﷺ دا دعاګانې واوریدلې نو مخکښې شواو وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! څه به پهره ورکوم. رسول الله ﷺ څه راوبلل او څمانه ئې هم د نوم وغیره تپوس اوکړو او ماته ئې هم دعا اوکړه. خو د دې انصاری ﷺ نه دا دعا کمه وه. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په هغه سترګه باندې د جهنم اور حرام دې چه کومه د الله ﷻ د ویرې اوژاړی.او په هغه سترګه باندې هم د جهنم اور حرام دې چه د الله ﷻ لار کښې شپه رونړه کړی.(۱)

مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی کوم سړې چه د مسلمانانوپهره دار شی او پخپله خوښه د سلطان د اجرت نه بغیر غوادړی. نو دې به خپلو سترګوسره د جهنم اورقدرته او نه ګوری . صرف د قسم پوره کیدو دپاره ، چه کوم دې آیت مبارک کښې دی ﴿وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا﴾ یعنی تاسو ټول به دې ته وارد کیږئی (۲)

د نبی کریم ﷺ خیرې:- صحیح بخاری کښې دی چه برباد شو د دنیا بنده او دجامو بنده ، که مال ورته ورکړې شی نو خوشحالیږی او که ورنکړې شی نو خفه کیږی .دې برباد او غرق شو. که دده بدن کښې ازغې لاړشی نود ویستلو کوشش ئې مه کوئی . خوش نصیب او بنه سړې هغه دې چه د الله ﷻ لار کښې جهاد دپاره ئې د خپل آس واړې نیولې وی . د ده وینښته خواره واره وی. او د ده قدمونه ګرد آلوده وی. که دې په چوکیدارئی مقرر کړې شی نو چوکیداری کوی او که د لښکر مخکښې حصه کښې مقرر کړې شی نو هلته خوشحاله وی. دخلقو نظرنه دې دومره زیات پریوتې وی که چرته څی نو ده ته اجازت نه ملاویږی .او که چا ته ئې سفارش اوشی نو هغه نه قبلیږی (۳)

الحمد لله ددې آیت متعلق ډیر احادیث بیان شو. د الله ﷻ په دې فضل او کرم مونږ شکر ادا کوو. او که مونږ ډیر شکر ادا کړو نو د الله ﷻ شکر نشو پوره کولې.تفسیر ابن جریر کښې دی چه ابوعبیده بن جراح ﷺ د جنګ د میدان نه امیر المومنین خلیفة ا لمسلمین عمر فاروق ﷺ ته یو خط اولیکلو . په هغې کښې د درومیانو د فوځ کثرت او دهغوئ آلات حرب اود هغوئ تیارئی باره کښې ئې اولیکل. او ورته ئې اولیکل چه سخته خطره ده .دلته نه ورته فاروق اعظم ﷺ جواب کښې اولیکل چه په هغې د حمد وثناء نه پس د تحریروجه دا وه .چه کله کله په مومنانو باندې سختئ هم راځی . لیکن الله ﷻ دې نه پس آسانئ رالیږی. واورئی یو سختئ دوو آسانو باندې نه شی غالبه کیدې . واوره د الله ﷻ فرمان دې چه ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا وَرَابِطُوْا﴾ الخ (۴).

فضیل بن عیاض رحمه الله ته خط:- عبدالله بن مبارک رحمه الله په ۱۷۰ هجرئی یا ۱۷۷ هجرئ کښې د طرسوس ښار کښې محمد بن ابراهیم ابن ابی سکینه چه دده د وداع دپاره راغلې وو؟ اوده جهاد کولو دا اشعار اولیکل او فضیل بن عیاض ته ئې اولیږل :

① یاعابد الحرمین لوابصرتنا * لعلمت انك فی العبادة تلعب
② من کان یخضب خده بدموعه * فنحورنا بدمائنا تتخضب
③ اوکان یتعب خیله فی باطل * فخیولنا یوم الصبیحة تتعب
④ ریح العبیر لکم ونحن عبیرنا * رهج السنابك والغبار الاطیب
⑤ ولقد اتانا من مقال نبینا * قول صحیح صادق لایکذب

---

۱) احمد: ۱۳٤/٤، نسائی : کتاب الجهاد باب فی ثواب عین سهرت : ۳۱۱۹،)-
۲) احمد: ٤۳۷/۳)- .
۳) صحیح بخاری کتاب الجهاد بآب الحراسة فی الغزو فی سبیل ا لله : ۲۸۸۷)-
٤) الطبری:۵۰۳/۷)-

Scanned with Ca

⑥لايستوى غبار خيل الله فى * انف امرءودخان نار تلهب
⑦هذا كتاب الله ينطق بيننا * ليس الشهيد بميت لا يكذب

①ائې په مکه اومدینه کښې اوسیدونکو اوعبادتکونکو! که تاسو مجاهدین کتلې نو تاسوته به معلومه شوی وه چه ستاسو عبادت خو لوبې توقې دی.
②یوهغه سړې چه د هغه اوښکې د هغه رخسار لوندکړی او یو مونږ یو چه خپل خان د الله ﷻ لار کښې حلال کړو او خپله وینه کښې پخپله څملو.
③یوهغه سړې دې چه د هغه آس باطل او بې کاره ستړې کیږی او څمونږ آسونه د حملې او جنګ په ورځ ستړی کیږی.
④ که عبیرخوشبو ستاسودپاره ده نو څمونږ دپاره خوشبودآسونودتاپونو بناوره او پاک ګرد اوغباردې.
⑤یقین اوساتئ مونږ ته د رسول الله ﷺ دا حدیث رارسیدلې دې چه هغه بالکل صحیح او رښتونې دې ⑥چه د چا پوزې ته د الله د لښکرګرد.اورسیدو نو د ده پوزې ته به د شغله وهونکی اور لوږې هم نه اونه رسی.
⑦ اودادې دالله کتاب چه مونږ سره موجود دې او صفا بیان کوی او رښتیا وانی چه شهید مړ نه دې.
محمد بن ابراهیم رحمه الله فرمائی چه کله څه مسجد حرام ته اورسیدم او فضیل بن عیاض ته مې دا اشعار اووئیل نو دوی ډیر زیات اوژړل او وې فرمائیل چه ائې ابو عبدالرحمان د الله ﷻ رحمتونه دې وی په هغوئ باندې .او دائې رښتیا وئیلی دی او ماته ئې نصیحت کړې دې او دې کښې څما بیحده خیرخواهی دې. بیا ئې ماته اووئیل چه ته حدیث لیکې نو ما اووئیل چه آو جی.نو وې وئیل چه تا خان سره کومه نصیحت نامه راوړې ده د هغې بدله کښې څه تاته یو حدیث لیکم . هغه دا دې چه رسول الله ﷺ ته یو سړی درخواست اوکړو یارسول الله ﷺ ! ماته داسې عمل اوښانې چه هغې سره څه د مجاهد ثواب اومومم. رسول الله ﷺ ورته اووئیل چه آیا تا کښې دومره طاقت شته دې چه ته مونځ کوې او ستړې کیږئې نه او روژې نیسې او کله هم روژه نه پریږدې ، هغه اووئیل چه یارسول الله ﷺ ما کښې دومره طاقت چرته دې ؟ څه ډیر زیات کمزورې یم. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه که تا کښې دومره طاقت وې او تا داسې کړې هم وې نوبیا به هم ته د مجاهد درجې ته نشوې رسیدلې . تاته دا هم معلومه ده چه د مجاهد د آس رسئ اوږده شی اوهغه یو طرف او بل طرفته خوره شی نو په دې هم مجاهد ته نیکئ ملاویږی (۱).

قوله تعالى::وَاتَّقُوا اللَّهَ
د تقوی حکم:- دې نه پس الله ﷻ حکم کوی چه د الله تعالی نه ویریږئی او هر حال کښې هر وخت هره معامله کښې د الله ﷻ نه ویریږئی.هرکله چه رسول الله ﷺ معاذ بن جبل رضی الله عنه یمن طرفته اولیږلو نو ورته ئې اوفرمائیل چه انې معاذ ! چه چرته هم ئې نو دالله ﷻ ویره زړه کښې ساته اوکه ستا نه څه ګناه اوشی نو زر ورپسې نیکی کوه چه هغه ګناه ختمه کړی او خلقو سره ښه اخلاق او مروت سره ملاویږه. (۲)

قوله تعالى::لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ۝
د کامیابی زیرې:- بیا فرمائی چه په دې څلورو کارونوکولو سره به تاسو په دنیا او آخرت کښې کامیاب شئ.

---

۱) صحیح بخاری کتاب الجهاد فضل الجهاد والسیر:۲۷۸۵)-
۲) احمد: ۲۳٦/٥، ترمذی کتاب البر والصلة باب ماجاء فی معاشرة الناس :۱۹۸۷، وهوحسن)-

Scanned with Ca

محمد بن کعب قرظی رحمه الله فرمائی چه د دې مطلب دا دې چه ځما لحاظ ساتئی او ځما د ویرې نه رپیږئی او ویریږئی . ځما او خپله معامله کښې متقیان اوسئ ، نو سبا چه کله ماسره ملاویږئی نو نجات به مومئ اوبامراد به یئ (١) انتهی (الحمد لله) . دسورة آل عمران تفسیر ختم شو.

(ولله الحمد والمنة ونسأله الموت على الكتاب والسنة امين يا اله العالمين).

دسوره نساء تفسیر

سورت نساء مکی دې: ①ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه داسورة مدینه منوره کښې نازل شو②عبدالله بن زبیر رضي الله عنه او زید بن ثابت رضي الله عنه هم دا فرمائی.ابن عباس رضي الله عنه نه مروی دی چه کله دا سورت نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه اوس منع نشته دې (٢)

په سورت نساء کښې څلور عظیم ایاتونه:- مستدرك حاكم كښې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروی دی چه سورة نساء کښې پنځه آیتونه داسې دی که ټوله دنیا ماته ملاؤ شی نو بیا به هم ماته دومره خوشحالی نه وی چه څومره د دې آیتونو سره ده ① یعنی آیت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ الخ. یعنی الله ﷻ په چاباندې ذره برابر ظلم نه کوی او چه د چا څومره نیکئ وی نو د هغې ثواب ورته زیات ورکوی. اود خپل طرفنه چه ورته انعام عظیم ورکوی هغه بیل دې .

②او آیت ﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلًا كَرِيمًا﴾ الخ. یعنی که تاسو د کبیره ګناهونونه بچ کړئ نو ستاسو واړه ګناهونه به هم معاف کړو اوتاسو ته به عزت والا ځائې یعنی جنت درکړو .

③ اوآیت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ الخ یعنی الله ﷻ سره چه څوك شرك اوکړی نوهغه نه بخښې باقی ټول ګناهونه بخښی چه اوغواړی .

④ اوآیت ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ جَاءُوكَ﴾ الخ. یعنی که دا خلق د ګناه کولونه پس تاته راشی او پخپله دالله ﷻ نه دخپلو ګناهونو معافی اوغواړی او رسول الله ﷺ هم د دوی دپاره استغفار اوغواړی نو بیشکه الله ﷻ معاف کونکی او مهربان ذات دې .

یو پنځم ایات اضافه:- امام حاکم رحمه الله فرمائی چه هسې خود دې اسناد صحیح دی لیکن د دې یو راوی عبدالرحمن د خپل پلار نه آوریدو کښې اختلاف کوی. د عبدالرزاق روایت کښې دی چه (وَلَوْ أَنَّهُمْ)الخ بدله کښې ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَحِيمًا﴾ یعنی چا نه چه یو غلط کار اوشی یا په خپل نفس څه ظلم اوکړی بیا الله ﷻ نه معافی اوغواړی نو بیشکه الله ﷻ بخښونکئ او مهربان دې .

تطبیق:- دواړو حدیثونو کښې تطبیق داشان دې چه دیو آیت بیان ړومبی حدیث کښې خو پاتې شوې دې او د دې

بیان دویم حدیث کښې دې نو ړومبی څلور آیتونه د ړومبی حدیث او پنځم آیت د دې حدیث ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ﴾الخ سره پنځه شی یا دا چه ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾باندې پوره دې.او ﴿وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً﴾لره بیل شمیرلې شی نودواړو حدیثو کښې پنځه پنځه آیتونه شو والله اعلم ،(مترجم).

د شپږم اووم او اتم ایت اضافه:- ابن جریر کښې ابن عباس رضي الله عنه نه مروی دی چه دې سورة کښې اته آیتونه دی ①ړومبی آیت ﴿يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ﴾ الخ .یعنی الله تعالی غواړی چه تاسو ته خپل احکام صفا صفا بیان کړی. او تاسو ته دهغه نیکو خلقو لار اوښائی چه ستاسونه مخکښې تیر شوی وو.اوتاسو سره مهربانی اوکړی او الله ﷻ دانا او صاحب د حکمت دې .

---

(١) الطبری : ٧/٥١٠)-.

(٢) الطبرانی : ١٢٠٣٣،)-.

Scanned with Ca

② دویم آیت دي ﴿وَ اللّٰهُ يُرِيْدُ اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْكُمْ﴾ الخ. یعنی الله ﷻ غواړی چه تاسو باندې خپل رحمت نازل کړی اوستاسو توبه قبوله کړی او کوم خلق چه خواهشاتو پسې روان دی هغوئ غواړی چه تاسو د حق لارې نه لرې کړی ③دریم آیت دي ﴿يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ ۚ وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا﴾انسان چونکه ضعیف پیدا کړې شوې دي،الله ﷻ ده باندې اسانتیا کول غواړی.باقی ټول آیتونه هغه دی چه کوم مخکښې تیر شو.ابن ابی ملیکه رحمه الله فرمائی چه ما ابن عباس ﷺ نه د سورة نساء باره کښې واوریدل نو ما قران پاک اولوستلو او څه لا وړوکي بچي ووم(حاکم). (۱)

آیاتونه		سورة النساء مدنی دي		رکوع ګانې
		بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ		
۷۶		شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکي دي		۲۴

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوْا رَبَّكُمُ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ

انې خلقو | اوویریږئ| درب خپل نه| هغه (رب) |چه پیدا انې کړئی تاسو| دنفس یونه |

انې خلقو دخپل رب د(نیولو)نه ویریږئ | هغه رب چې تاسوتول ئې دیونفس نه پیدا کړی یئ

وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيْرًا وَّنِسَآءً ۚ

اوپیدائې کړه |دهغه نفس نه |جوړه دهغه|او خوارۀ ئې کړل دهغې دواړو نه |نارینه| ډیر | اوزنانه (ډیرې)|

اوهم دهغې یوکس نه ئې دهغه جوړئ (بی بی حوا) پیدا کړه|اوبیاددغې دواړو نه ئې ډیرسړی اوښځې خواره کړل

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْ تَسَآءَلُوْنَ بِهٖ

اواللّٰه ﷻ نه ویریږئ| هغه (الله تعالی) |چه تاسو دیوبل نه حقونه غواړئی|په واسطه دهغه سره|

اواللّٰه پاک نه ویریږئ | چې دهغه په نوم تاسو دیوبل حقونه غواړئی | او

وَالْاَرْحَامَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيْبًا ①

او خان اوساتئ دخپلولئ دختمولو نه|بیشکه الله تعالی|دې په تاسوباندې|نظر ساتونکې|

اودخپلولئ د تعلقاتو(ختمولونه اویریږئ) اواللّٰه ستاسوټولونګهبان دي

د الله نه ډویرې کولو حکم:- الله ﷻ دخپلې تقوی حکم کړې دي چه ستاسو بدن نه دي صرف د هغه ذات عبادت صادر شی اوستاسو په زړه کښې دي صرف د هغه ویره وی.

قوله تعالی:: خَلَقَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا

د بی بی حواء پیدائش:- بیا خپل قدرت کامله بیانوی چې هغه ذات تاسو ټول د یو سړی یعنی آدم ﷺ نه پیدا کړی یئ .آدم ملاست وو چه د دوی د ګسې پوښتئ نه حوا علیها السلام پیدا کړې شوه. ددوی بی بی یعنئ حوا علیها السلام ئې هم د دوی نه پیدا کړه.

د ښځې د سړی نه په پیدا کولو کښې حکمت:- ابن عباس ﷺ فرمائی چه ښځه د سړی نه پیدا شوې ده ، ددې وجې ددې شهوت اوحاجت سړی کښې ایښودې شوې دي .اوسړې د زمکې نه پیدا شوې دي د ددې وجې د ده حاجت زمکه کښې ایښودې شوې دي . نو تاسو خپلې ښځې په خپل قابو کښې ساتئ.

---

۱) حاکم : ۳۰۰/۲ وسنده حسن)-

Scanned with Ca

د ښځې نه په کومه طریقه فائده اخستې شي؟:- صحیح حدیث مبارک کښې دی چه ښځه د پوښتنې نه پیدا کړې شوی ده اود ټولو نه اوچته پوښتنې د ټولو نه زیاته کړه ده. که ته دا بالکل نیغول غواړې نو دا به ماته شی اوکه ته په دې کښې څه کوږوالې باقی پریږدې نوته به د دې نه فائده اوچته کړې .(١)

قوله تعالی:: وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً

بیا فرمائی چه ددې دواړو یعنی آدم ﷺ او حوا نه ډیرانسانان پیدا شول چه دنیاکښې څلور واړه طرفونو ته خواره شوی دی.اوددې انسانانو قسمونه اوصفتونه اورنګونه او بول چال مختلف دی.لکه څنګه چه داد الله ﷻ قبضه کښې وو او بیا ئې دا خواره کړل ، بیا به یو وخت داسې راشی چه دا ټول به بیا قبضه کښې واخلی اویو میدان کښې به ئې جمع کړی. نوتاسو د الله ﷻ نه ویریږئی اود هغه اطاعت کوئی اودهغه عبادت کوئی .

قوله تعالی:: وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ

خپلولی ساتل:- هم ددې الله ﷻ په نوم تاسو خپلو کښې یوبل نه غواړئی . لکه دا وئیل چه تاته الله ﷻ اود هغه رشتې یادوم او وایم .او د هغه ذات په نوم قسمونه خورئی او وعدې کوئی .

دقطع تعلق ممانعت :- الله ﷻ نه ویریږئی او د رشتو حفاظت کوئ او دا مه ختموئ . بلکه جوړوئی ئې . او خپلوسره صله رحمی،نیکی او ښه سلوک کوئی (أَرْحَامَ) هم یو قرات دې.یعنی د الله ﷻ په نوم او د ربښتو دخاطره. الله ﷻ ستاسو د ټولو عملونو او حالاتو نه خبر دې . ښه مو ګوری . لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا﴾ یعنی او الله ﷻ هر څیز باندې ګواه اوحاضر دې .

دعبادت اصلی مقام:- صحیح حدیث مبارک کښې دی چه د الله ﷻ عبادت داسې کوه لکه چه ته هغه وینی او که دې مرتبې ته نه ئې رسیدلې نو چې هغه تا وینی (٢)مطلب دادې چه د هغه ذات خیال اوساتئ چه هغه ستاسو په ناسته پاسته او ګرزیدو باندې نګران دې .

د ابائی رشتې په وجه یوبل سره د احسان کولو حکم:- دلته فرمائی چه ائې خلقو اتاسو ټول دیومورپلار نه پیدا یئ.یو بل باندې شفقت کوئی اوکمزوری او ناتوان سره ملګرتیاکوئی اودهغوئ سره ښه سلوک کوئی صحیح مسلم شریف کښې حدیث دې چه کله د قبیله مضر څه خلق رسول الله ﷺ ته راغلل او څادرونه ئې خان نه تاوْ کړی وو ځکه چه د دوی په بدن جامې نه وې. نو رسول الله ﷺ د ماسپخین مونځ نه پس اودریدو وعظ او نصیحت ئې اوفرمائیل او په هغې کښې ئې د دې آیت مبارک تلاوت اوفرمائیلو چه ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ الخ. بیائې خلقوته دخیرات کولو ترغیب ورکړو ، چا سره چه څه وو نو هغه ئې دې خلقو ته ورکړل ،درهم اودینار هم او کهجورې او غنم هم.(٣) الخ. مسند او سنن کښې د خطبه حاجات په بیان کښې دی چه بیا ئې دریې آیتونه اولوستل او په هغې کښې یو آیت دا هم وو.(٤)

وَآتُوا	الْيَتَامَىٰ	أَمْوَالَهُمْ	وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيثَ	بِالطَّيِّبِ ۖ	وَلَا تَأْكُلُوا
او ورکړئی	یتیمانوته	مالونه دهغوئ	اومه بدلوئی	خراب مال	په ښه مال سره	اومه خورئی
دیتیمانومالونه هغوئ ته واپس کوئ	اوښه څیز په بدځیز مه بدلوئی	او مه خورئی تاسو			

---

(١) صحیح بخاری کتاب النکاح باب المدارة مع النساء: ٥١٨٤، صحیح مسلم: کتاب الرضاع باب الوصیلة بالنساء حدیث نمبر: ١٤٦٧)-

(٢) صحیح بخاری کتاب الایمان باب سوال جبریل علیه السلام عن الایمان : ٥٠ صحیح مسلم: ٩)-

(٣) صحیح مسلم کتاب الزکاة باب الحث علی الصدقة : ...: ٢٣٥١، ترمذی : ٢٦٧٥)-

(٤) ابوداود : ٢١١٨، الترمذی : ١١٠٥، ابن ماجة: ١٨٩٢، والنسائی: ١٤٠٥)-

اَمْوَالَهُمْ اِلٰٓى اَمْوَالِكُمْ ؕ اِنَّهٗ كَانَ حُوْبًا كَبِيْرًا ۝ وَاِنْ خِفْتُمْ
مالونه دهغوئ|یوخائي دمالونو خپلوسره|بیشکه «دامال خورل»| ده ګناه لویه |اوکه ویریږئ تاسو|
دهغوئ مالونه خپلومالونو سره شریک| ځکه چې دا ډیره لویه ګناه ده	.....اوکه تاسوویریږئ
اَلَّا تُقْسِطُوْا فِى الْيَتٰمٰى فَانْكِحُوْا مَا طَابَ
چه اوبه نه کړئ انصاف| په حق د یتمانو کښې |نو په نکاح کښې واخلی| هغه ښځې چه خوښې وی|
چې تاسوبه دیتیمانو جینکو په حق کښې انصاف اونه کړې شئ| نوکومې نورې ښځې چې موخوښې وی هغوئ په نکاح واخلئ
لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ مَثْنٰى وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ ۚ فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا
تاسوته| دښځونه |دوه دوه	او دري دري| او څلورڅلور| نوکه یریدئ تاسو| چه اوبه نکړې شئ انصاف
دوه دوه اودري دري اوڅلورڅلور| نوکه تاسو سره دا ویره وی چې د هغوئ مینځ کښې به انصاف اونه کړې شئ
فَوَاحِدَةً اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ؕ ذٰلِكَ اَدْنٰٓى
نو یوه اوکړئ| یا هغه وینځې چه مالکان شوی دی| ښې لاسونه ستاسو| داکار |زیات نزدې دی|
نویوه(تاسودپاره بس ده) یاداسې وینځې چې ستاسو په ملکیت کښې راغلې وی| نودبې انصافئ نه
اَلَّا تَعُوْلُوْا ۝ وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً ؕ فَاِنْ
دې ته چه اونه کړئ بې انصافی تاسو|او ورکوئ ښځو ته |مهرونه دهغوئ|په خوشحالئ سره| نوکه	
دبچ کیدودپاره دا کار زیات ښه دی	اوښځوته دهغوئ مهرونه په خوشحالئ اداکوئ| نوکه
طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَىْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا
هغوئ راضی شوې به بخښنه|تاسوته| څه حصه	ددغې مهرنه| په خوشحالئ دنفس خپل سره|
.....هغوئ تاسوته په خوشحالئ مهر کښې څه حصه پریږدی	.....
فَكُلُوْهُ هَنِيْٓـًٔا مَّرِيْٓـًٔا ۝
نو خورئ هغه |مزه نا که| بې ضرره	
نوهغه ښه په مزه بې ضرره خورلئ شئ|

قوله تعالی::وَاٰتُوا الْيَتٰمٰٓى اَمْوَالَهُمْ وَلَا تَتَبَدَّلُوا الْخَبِيْثَ بِالطَّيِّبِ ۪

د یتیمانو سره د ظلم کولو د ناجائزې طریقې حرمت :- الله ﷻ د یتیمانو سرپرستانو ته حکم کوی چه کله یتیم بلوغت او پوهې ته اورسی نو تاسو سره چه د هغوئ کوم مالونه دی هغه هغوئ ته حواله کړئ پوره پوره بغیر د څه کمی او خیانت نه .اوخپل مال سره د دې د ګډون نیت مه ساتئ. هر کله چه تاسوته الله ﷻ حلال رزق درکوی نو بیا ولې حرامو پسې منډې وهئ ؟ تاسو ته ستاسو د تقدیر رزق ملاویږی. تاسو خپل مال مه پریږدئ او د نورو حرام مال ته زړه مه ښه کوئ. تاسو چه کله کمزورئ خناور اووینئ نو غټ او ښکلی ته زړه مه کوئ . د خراب ورکولو او ښه اخستلو او کوټه ورکول او کره اخستلو نیت مه کوئ.مخکښې به خلقوداسې کول چه دیتیمانو دچیلو رمو نه به ئې ښه چیلئ اخستې اوخپلې کمزورې او خرابې چیلئ به ئې د هغوئ رمه کښې کیخودې اوشمیر به ئې پوره کولو اودکوټه درهم مقابله کښې به ئې کړه درهم اخستلو اود ابه ئې وئیل چه مونږ خو د درهم بدله کښې درهم او د

چیلئ بدله کښې چیلئ واخسته. د هغوئ مال کښې به ئې خپل مال ګډوډ کړو او بیا به ئې ونیل چه اوس دا څنګه بیل کړو ؟ د هغوی مال مه خرابوئی ځکه چه دا لویه ګناه ده (۱).

یو ضعیف حدیث کښې هم دامعنی آخری جمله کښې راغلې ده.د ابوداود حدیث مبارك کښې یو دعا کښې دحوب لفظ دګناه معنی کښې راغلې دې (۲)ابوایوب ﷺ چه کله خپلې بی بی ته د طلاق ورکولو اراده کړې وه نو رسول الله ﷺ هغه ته فرمائیلی وو چه دې طلاق کښې ګناه ده .نو هغه خپلې ارادې نه روستو شو. یو روایت کښې دی چه داکومه واقعه مروی ده د ابوطلحه ﷺ او ام سلیم رضی الله عنها ده.(۳)

قوله تعالی:: وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِی الْیَتٰمٰی فَانْكِحُوْا مَا طَابَ لَكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ

یتیمانو جینکو سره د نکاح کولو حکم :- بیا فرمائی که ستاسو په کفالت کښې څوك یتیمه جینئ وی او تاسو هغې سره نکاح کول غواړئ لیکن چونکه د هغې هیڅوك نه وی. نو تاسو داسې مه کوئی چه مهر اوحقوق کښې کمې اوکړئ او خپل کور ته ئې راولئ ، ددې نه منع شئ او نورې ډیر ښځې دی چه هغوئ سره تاسو نکاح کولئ شئ.

د ایت شان نزول:- عائشه رضی الله عنها فرمائی چه یو یتیمه جینئ وه اوهغې سره ډیر مال وو او د هغې یو باغ هم وو ، اودا جینئ چه د چا پرورش کښې وه هغه دې سره د دې مال په وجه نکاح اوکړه او دې ته ئې پوره مهر هم ورنکړو.نودې باندې باره کښې دا آیت نازل شو.ځما خیال دې چه دې باغ اودې مال کښې دا جینئ حصه داره وه. (۴)

شان نزول په بل روایت سره:- صحیح بخاری کښې دئ عروه بن زبیر د عائشه رضی الله عنها نه د دې آیت مبارك د مطلب تپوس اوکړو نوعائشه رضی الله عنها اوفرمائیل چه انې وراره ! دا ذکر د هغه یتیمې جینئ دې چه کومه دخپل ولی په قبضه کښې وی اوهغه مال کښې شریکه وی او د هغه د دې مال اوجمال خوښ وی اوغواړی چه دې جینئ سره نکاح اوکړی لیکن کوم مهر وغیره چې د بل ځائې نه دې ته ملاویږی هغه دې ته نه ورکوی نو دا سړې ددې نه منع کوی چه دا نیت پریږده او بلې ښځې سره نکاح اوکړه. بیا دې نه پس خلقو د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو نو دې باره کښې دا آیت مبارك نازل شو چه ﴿یَسْتَفْتُوْنَكَ فِی النِّسَاءِ﴾ الخ. هلته فرمائیلې شوی وو چه کله د یتیمې جینئ سره کم مال وی او ددې جمال هم کم وی نو ددې سرپرست ددې نه ډډه کوی او دې ته هیڅ توجه نه ورکوی نوبیا هیڅ وجه نشته چه د دې مال اوجمال ته مائل شی او د دې پوره حقوق ادا نکړی او دې سره خپله نکاح اوکړی. (۵)

عدل او انصاف سره پوره پوره مهر مقرر کوئ نو دې کښې هیڅ حرج نشته دې. ګنی بیا خو ښځې څه کمې نه دی که بل چا سره نکاح کول غواړئ نو وې کړئی.

قوله تعالی:: مَثْنٰی وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ

یو وخت کښې څلورو ښځو سره د نکاح کولو اجازت :- که ستاسو خوښه وی نو دوه دوه ښځې خپله نکاح کښې ساتلئ شئ. اوکه غواړئی نو دری دری ساتلئ شئ او که غواړئی نو څلور څلور . بل ځائې هم دا الفاظ هم په دې معنی کښې دی .

فرمائی چه ﴿جَاعِلِ الْمَلٰٓئِكَةِ رُسُلًا اُولِیْٓ اَجْنِحَةٍ مَّثْنٰی وَثُلٰثَ وَرُبٰعَ﴾ یعنی کومې فرښتې چه الله ﷻ خپلې قاصدانې جوړوی او لیږی ئې نو په هغوئ کښې بعضې دوؤ دوؤ وزرو والا وی او بعضې دری دری وزرو والا

---

۱) الطبری: ۵۲۵/۷)-

۲) ابوداود کتاب الطب باب کیف الرقی :۳۷۹۲)-

۳) حاکم : ۳۰۲/۲)-

۴) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النساء باب (وان خفتم الا تقسطوا...) : ٤٥٧٣)-

۵) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النکاح باب (وان خفتم الا تقسطوا ...): ٤٥٧٣ ، صحیح مسلم: ۳۰۱۸)-

Scanned with Ca

بعضې څلور څلورو وزرو والا.فرښتو کښې ددې نه زیاتو وزرو والا فرښتې هم شته دې څکه چه په دلیل سره ثابت دی .

دجمهورو مسلک:- لیکن سړی دپاره په یو وخت کښې د څلورو ښځو نه زیاتې ساتل منع دی.لکه څنګه چه دې آیت مبارک کښې موجود دی.او لکه څنګه چه د ابن عباس ﷺ او جمهوروقول دې.دلته الله ﷻ د خپل احسان او انعام ذکرکوی. که د څلورو نه د زیاتو اجازت وې نو ضرور به نې فرمائیلې وې . امام شافعی رحمه الله فرمائی چه دا حدیث چه د قران پاك وضاحت کونکې دې دې اوخودل چه د رسول الله ﷺ نه سوادبل چادپاره دڅلورو نه زیاتې بیبیانو ساتلو اجازت نشته دې.هم په دې باندې د عالمانو اجماع ده

دشیعګانو اختلاف:- ①البته د بعضو شیعه ګانو قول دې چه نهه پورې جمع کول جائز دی .②بلکه بعضو شیعه ګانووئیلی دی چه نهونه هم زیات جمع کولو کښې هیڅ باك نشته.دې.اوهیڅ تعداد مقرر نه دې .

د شیعه ګانو استدلال:- د دوی استدلال د رسول الله ﷺ دفعل نه دې ①لکه څنګه چه صحیح حدیث مبارك کښې راغلی دی چه د رسول الله ﷺ نهه بیبیانې وی (١)②او بخاری شریف کښې یو معلق حدیث کښې بعضو راویانو یولس بیان کړی دی (٢) ③انس ﷺ نه مروی دی چه رسول الله ﷺ پنځوس بیبیانو سره عقد کړې وو او د دیارلسو رخصتی اوشوه او یو وخت کښې یولس بیبیانې دوی سره وې ، د وفات وخت کښې د رسول الله ﷺ نهه بیبیانې وې .

دجمهورو جواب:- ځمونږ عالمان د دې جواب کښې فرمائی چه دا د رسول الله ﷺ خصوصیت وو . امتی لره یو وخت کښې څلورو نه زیاتې بیبیانې ساتل نه دی پکار اونه د دې اجازت شته دې .لکه څنګه چه دا حدیث په دې امر دلالت کوی .

د جمهورو دلیل:- ①غیلان بن سلمه ثقفی رحمه الله چه کله مسلمان شو نو دده لس ښځې وې . نو رسول الله ﷺ ورته ارشاد اوفرمائیلو چه په دوی کښې د خپلې خوښې څلور اوساته او باقی پریږده (نو هغه همداشان اوکړل).

بیا د د عمرفاروق ﷺ په زمانه کښې ئې خپلو دغه بیبیانو ته طلاق ورکړو. او په خپلو خامنو کښې ئې خپل مال تقسیم کړو.هرکله چه عمر فاروق ﷺ ته دا معلومه شوه نو عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه شاید ستا شیطان ستا زړه کښې دا خبره واچوله او ستا زړه کښې ئې دا خبره کینوله چه نزدې ده چه ته به مړ کیږې او تا ددې وجې خپلې بیبیانې جدا کړې چه ستا مال وانخلی او تا خپل مال خپل اولاد کښې تقسیم کړو. څه تاته حکم کوم چه ته خپلو بیبیانو ته رجوع اوکړه او خپل اولاد نه مال واپس واخله ، که تا داسې اونکړل نو څه به ستا نه پس ستا دا طلاقې شوې ښځې هم ستا په مال کښې وارثانې جوړې کړم څکه چه تاهغوئ ته هم ددې ویرې د وجې طلاق ورکړې دې .او معلومیږی چه ستا ژوند هم اوس ختیمدونکې دې اوکه تا څما خبره اونه منله نو یادساته چه څه به حکم کوم چه ستا قبر دې په کانړو ویشتلې شی.لکه څنګه چه د ابورغال قبر ویشتلې شی (٣).(مسندا حمد ، شافعی، ترمذی، ابن ماجه ، دار قطنی، بیهقی وغیره).

په روایت باندې د حافظ رحمه الله کلام:- یو مرفوع حدیث پورې دې خو دې ټولوکتابونو کښې شته دې ، خو د عمرفاروق ﷺ واقعه صرف په مسند کښې ده. لیکن دا زیات حسن دې ، اګرچه امام بخاری دې ته ضعیف وئیلی دی او د دې د اسناد بله طریقه ئې خودلې ده او دې طریقې ته ئې غیرمحفوظ وئیلی دی .خودې تعلیل کښې هم نظر دې . والله اعلم. او بزرګ محدثینوهم په دې باندې کلام کړې دې . لیکن د

---

(١) صحیح بخاری کتاب النکاح باب کثرة النساء: ٥٠٦٧، صحیح مسلم: ١٤٦٥)-

(٢) صحیح بخاری کتاب الغسل باب اذا جامع ثم عاد..: ٢٦٨)-

(٣) احمد: ١٤/٢، دارقطنی : ٢٧١/٣، بیهقی : ١٧٣/٧، ترمذی : کتاب النکاح باب ماجاء فی الرجل وعنده یسلم وعنده عشر نسوة: ١١٢٨ ابن ماجة: ١٩٥٣، مختصرا)-

Scanned with Ca

مسند احمد والا حدیث ټول راویان ثقه دی. او د شیخینو په شرط باندې دی. یو بل روایت کښې دی چه دا لس واړه ښځې هم خپل خاوند سره مسلمانې شوې وې. اوګورئی سنن نسائی. (۱)

استدلال:- ددې حدیث نه صفا ښکاره ثابته شوه. که د څلور نه زیاتې ښځې یو وخت کښې ساتل جائز وی نورسول الله ﷺ به هغه ته دا نه فرمائیل چه لسو ښځو کښې چه کومې څلور ستا خوښې وی هغه پریږده او باقی رخصت کړه. ځکه دې څلورو واړو هم اسلام قبول کړې وو. تر دې چه دا خبره هم یاد ساتل پکار دی چه ثقفی سره دا لس ښځې موجود وې . او رسول الله ﷺ د ده نه شپږ جدا کړې . بیا څنګه کیدیشی چه یو سړې د څلورو نه زیاتو ښځو سره واده اوکړی ؟ والله اعلم بالصواب .

د جمهورو دویم دلیل:- دویم حدیث ابوداوداو ابن ماجه وغیره کښې دې . عمیره اسدی ؓ فرمائی چه کله ما اسلام قبول کړو نو ځما نکاح کښې اته ښځې وې ، ما رسول الله ﷺ ته د دې ذکر اوکړو . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په دوی کښې څلورو نه سوا څلور جدا کړه.(۲) ددې سند حسن دې او د دې شواهد هم موجود دی،د راویانو د نومونو مخکښې روستوکیدل د داسې روایاتو دپاره نقصان ده نه وی.

دریم دلیل:- دریم حدیث مسند شافعی کښې دې . نوفل بن معاویه ؓ فرمائی چه کله ما اسلام قبول کړو نوځما نکاح کښې پنځه ښځې وې . رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل چه په دوی کښې څلور خوښې کړه او یو جدا کړه. ما هغه ښځې ته طلاق ورکړو کومه چه زیات عمر والا او بې اولاده د شپیتو کالوه (۳) نودا احادیث د رومبی حدیث د غیلان والا حدیث شواهد دی لکه څنګه چه امام بیهقی ؒ فرمائیلی دی .

قوله تعالی:: فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۚ

بیا فرمائی که چرې یو نه زیاتو بیبیانو کښې انصاف نه شئ کولئ او تاسو سره د دې ویره وی چه انصاف به اونه کړئ نو صرف یو باندې بس والئ اوکړئی . اګر چه وینځه وی لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَلَنْ تَسْتَطِيعُوا أَنْ تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ﴾ یعنی تاسو که غواړئی لیکن تاسو نه به اونه شی چه د ښځو مینځ کښې پوره انصاف او عدل اوکړې شئ او هسې نه چه یو طرفته شئ او بله په مصیبت کښې مه اچوئی .

قوله تعالی:: ذَٰلِكَ أَدْنَىٰ أَلَّا تَعُولُوا ۚ

د وینځو په مینځ کښې د نوبت عدم فرضیت:- خو یاد ساتل پکار دی چه د وینځو مینځ کښې د نمبر وغیره تقسیم واجب نه دې البته مستحب دی. چه څوك ئې اوکړی نو هغه ښه اوکړل او چا چې اونه کړل نو هیڅ باك نشته دې .

د جملې مطلب:- ①دې نه پس چه کومه جمله ده هغې د مطلب باره کښې بعضو وئیلی دی چه دا نزدې ده چه ستاسو اهل وعیال یعنی فقیری مو زیاته نه وی لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً﴾ یعنی که تاسو ته د فقر ویره وی . یوعربی شاعر فرمائی چه :

فمایدري الفقیرمتی غناه ::: ومایدري الغني متی یعیل

(ترجمه) فقیر ته پته نشته چه دې به مالدار شی اومالدار ته معلومه نه ده چه دې به کله غریب شی . هرکله چه یو مسکین محتاج شی نو عرب وائی چه (عال الرجل) یعنی دا سړې فقیرشو.غرض داچه دې معنی کښې خودا لفظ مستعمل دې لیکن دلته دا تفسیر څه زیات ښه معلومیږی ځکه چه که د آزادوښځو کثرت د فقیرئی وجه جوړیږی نو د وینځو کثرت هم د فقیرئی سبب جوړیدې شی .نو

---

۱) دارقطنی : ۲۷۱/۳، بیهقی : ۱۸۳/۷، وسنده حسن)-

۲) ابوداود کتاب الطلاق باب فیمن اسلم وعنده نساء اکثر من تربع : ۲۲٤۱، ابن ماجة: ۱۹۵۲،)-

۳) مسند الشافعی : ۱٦/۲)-

صحیح قول د جمهورو دي اومراد تري دا دي چه دنزدي ده چه تاسو د ظلم نه بچ شئ. عرب وائی چه (**عال فی الحکم**) چه ظلم شوي وی ، د ابو طالب یو قصیده کښې دی چه :

بمیزان قسط لایخیس شعیرة ::: له شاهد من نفسه غیر عائل

(ترجمه) داسې تلې سره ئې تول کوی چه هغې کښې داوربشې دانې هومره هم کمې نشته دي دوی سره ددي ګواه ددوی نفس دي چه ظالم دي .

ابن جریر کښې دی چه کله کوفیانو عثمان ﷺ باندې خط کښې یو الزام لګولې وو نو د هغې جواب کښې خلیفهٔ رسول اولیکل چه (**انی لست بمیزان اعول**) څه د ظلم تله نه یم .

صحیح ابن حبان وغیره کښې یو مرفوع حدیث د دي تفسیر کښې مروی دي چه د دي معنی ده چه تاسوظلم مه کوئی(۱)ابو حاتم رحمه الله فرمائی چه ددي مرفوع کیدو خطا ده البته د عائشه رضي الله عنها دا قول دي .

دغه شان د x**لاتعولوا**) معنی هم یعنی تاسو ظلم مه کوئی ، عبدالله بن عباس ﷺ ،عائشه رضي الله عنها ، مجاهد رحمه الله ،عکرمه رحمه الله ، حسن رحمه الله ، ابومالك رحمه الله ،ابورزین رحمه الله ،نخعی رحمه الله ، شعبی رحمه الله ، ضحاك رحمه الله او عطاء خراسانی رحمه الله ،قتاده رحمه الله ، مقاتل بن حیان وغیره نه هم دا مروی دی(۲)عکرمه رحمه الله هم د ابوطالب شعر پیش کړې دي،امام ابن جریر رحمه الله دا روایت کړې دي اوپخپله امام صاحب هم دا خوښوی.

قوله تعالی:: وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً

د مهر وجوب:- بیا فرمائی چه خپلو بیبیانو ته مهر په خوشحالئ سره ورکوئی چه کوم هم مقرر وی . او چه کوم تاسو منظور کړی وی،خو که ښځه پخپله خپل ټول سامان لږ ډیر پخپله خوښې سره سړی ته معاف کړی نو هغې ته اختیار دي.او دي صورت کښې بیشکه سړي که دا خپل استعمال کښې راولی نو حلال اوطیب دی.رسول الله ﷺ نه پس بل هیچاره جائز نه دی چه بغیر د واجب مهر نه نکاح اوکړی او نه دا چه د مهر ته چل ول جوړکړی اوددروغو ورته یونوم ورکړی.(۳)

د مهر برکت:- ابن ابی حاتم کښې د علی ﷺ قول دي چه هرکله تاسو کښې څوك بیمار شی نو هغه ته پکار دی چه د خپلې ښځې نه د هغې د مال نه دري درهمه یا کم و بیش واخلی او د دي شهد واخلی او په دي کښې دآسمانی باران اوبه یوځائې کړی نو ورته دري دري ښیګړې ملاؤ شی.﴿هَنِيٓـًٔا مَّرِيٓـًٔا﴾① د ښځې مال ② د شهدو شفا ③د مبارك باران اوبه.

د لونړو مهر پخپله اخستلو ممانعت:- ابو صالح رحمه الله فرمائی چه خلقو به د خپلو لونړو مهر پخپله اخستو نو دي باندې دا آیت نازل شو او هغوئ د دي نه منع کړې شو. (ابن ابی حاتم ابن جریر).

د مهر په تعین کښې د زوجینو اختیار:- د دي حکم آوریدو سره خلقو رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه د دوی خپلو کښې مهر څه دي ؟رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په کوم څیز باندې د دوی کوروالاراضی وی(ابن ابی حاتم) (۴).

هم دا مضمون په بل روایت سره:- رسول الله ﷺ خپله خطبه کښې دري ځله اوفرمائیل چه د کونډو نکاح کوئی،یوسړي پاسیدو او تپوس ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! دوی کښې خپلو کښې مهر څه دي ؟

---

۱) صحیح ابن حبان : ٤٠١٨، وسنده صحیح)-
۲) الطبری : ٥٤٩/٧)-
۳) الطبری : ٥٥٣/٧)-
۴) بیهقی : ٢٣٩/٧)-

Scanned with Ca

رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په څه باندې د دوی کور والا راضی وی (۱). د دې یو راوی ابن سلمانی ضعیف دی. بیا دې کښې انقطاع هم ده.

وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِيْ	
اومه ورکوئی (حواله کوئی) ناپوهانوته مالونه خپل هغه	
اوناپوهه کسانو ته خپل مالونه مه ورکوئی	
جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِيٰمًا وَّارْزُقُوْهُمْ فِيْهَا	
چه جوړه کړې ده الله تعالی ستاسو دپاره ادګزران ذریعه البته خوراک ورکوئی هغوئ ته په دغه مالونو کښې	
کوم چې الله پاک ستاسو ګذران ذریعه ګرزولی ده او هغوئ ته په کښې ډوډئ او	
وَاكْسُوْهُمْ وَقُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا ۝ وَابْتَلُوا	
اوجامې ورکوئی هغوئ ته اوکوئ هغوئ ته خبرې نیکې (خوږې خوږې) او امتحان کوئی	
اوجامه ورکوئی اودنیکئ او نصیحت خبرې ورته کوئی ..... اوتاسو امتحان کوئی	
الْيَتٰمٰى حَتّٰٓى اِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ ۚ فَاِنْ اٰنَسْتُمْ مِّنْهُمْ رُشْدًا	
ادیتیمانو تر دې چه اورسیږی هغوی احد دنکاح ته نوکه اولیدل تاسو دهغوئ نه هوښیارتیا	
په یتیمانوباندې تردې چې هغوئ دنکاح عمر ته اورسی نوکه تاسوپه کښې لږ ډیر تمیزبیاموندو	
فَادْفَعُوْٓا اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ ۚ وَلَا تَاْكُلُوْهَآ اِسْرَافًا وَّبِدَارًا	
انوورکړئی هغوئ ته مالونه دهغوئ اومه خورئی تاسوهغه اپه زیاتئ سره اوپه تلوارسره (ددې نه)	
نوهله ورته مالونه حواله کړئی اوداسې مه کوئی چې د هغوئ مالونه په زورزیاتی اوخورئ اوپه تلوار ئې والوزوئی	
اَنْ يَّكْبَرُوْا ۭ وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۚ	
چه هغوئ رالوئې شی (او وابه ئې اخلی) اوهغه څوک چه وی مالدار نوهغه دې ځان اوساتی	
ددې ویرې نه چې دوئ به لوئې شی اوخپل مال به طلب کړی اوڅوک چه مالداروی هغه دې دعوض اخستونه ځان اوساتی	
وَمَنْ كَانَ فَقِيْرًا فَلْيَاْكُلْ بِالْمَعْرُوْفِ ۭ فَاِذَا دَفَعْتُمْ	
اوهغه څوک چه وی فقیر (غریب) نوخوری دې مطابق دعامې طریقې نوکله چه حواله کړئی تاسو	
اوڅوک چې محتاج وی نو هغه دې د رواج مطابق خرڅ خوراک اخلی بیاچې کله تاسویتیمانوته	
اِلَيْهِمْ اَمْوَالَهُمْ فَاَشْهِدُوْا عَلَيْهِمْ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ حَسِيْبًا ۝	
هغوئ ته مالونه دهغوئ انوګواهان اونیسئ په هغوئ باندې اوکافی دې الله دحساب دپاره	
ته د هغوی مالونه حواله کوئ نوګواه پرې جوړ کړئ اود صحیح حساب دپاره الله کافی دې	

قوله تعالی: وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ

د مال خرچ کولو دپاره دعقل شرطیت:- الله ﷻ خلق منع کوی چه کم عقل بې وقوف د مال د تصرف نه منع کړی. مال الله ﷻ په تجارتونو وغیره کښې لګولې دې او د ده د معاش ذریعه ئې جوړه کړې ده. د دې

---

(۱) بیهقی: ۲۳۹/۷،-

Scanned with Ca

نه معلومه شوه چه کم عقل خلق دمال خرچ کولو نه منع کول پکار دی.لکه چې نابالغ ماشوم وی یالیونې وی یا دیوانه وی یا کم عقل بې قوف وی او بې دینه وی او په خرابه طریقه خپل مال خرچ کوی. دغه شان هغه سړې چه په هغه ډیر زیات قرض وی او هغه دا قرض د خپل ټول مال نه هم نشی اداکولې.که دا قرض داړې حاکم وخت ته درخواست اوکړی نو حاکم وخت به هغه ټول مال د ده د قبضې نه واخلی او دې به بیدخله کړی.

د سفهاؤ په تفسیر کښې اقوال:- ① ابن عباس ﷺ فرمائی چه دلته سفهاء نه مراد ستا اولاد او ستا ښځې دی(۱)دغه شان ابن مسعود ﷺ ،حکم بن عیینه ﷺ اوضحاك ﷺ فرمائی چه ددې نه مراد ښځې او ماشومان دی (۲) ② سعید بن جبیر ﷺ فرمائی چه ددې نه یتیم مراد دې (۳)دمجاهد ﷺ او عکرمه ﷺ اوقتاده ﷺ قول دې چه ددې نه ښځې مراد دی (۴)ابن ابی حاتم کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه بیشکه ښځې بې وقوفې دی مګر کومې چه د خپل خاوند تابعداړې وی.(۵) ③ابن مردویه کښې دا اوړد حدیث هم مروی دې چه ابوهریره ﷺ فرمائی چه ددې نه مراد سرکشه خادم دې .

قوله تعالی::وَارْزُقُوهُمْ فِيهَا وَاكْسُوهُمْ

بیا فرمائی چه دوی ته خوراك څکاك ورکوئی اودوی سره ښه خبرې کوئی . ابن عباس ﷺ فرمائی یعنی ستا مال چه په دې باندې ته ژوند تیروې.دا خپلو بچو او ښځو ته مه ورکوه چه بیا د هغوئ لاس ته ناست ئې . بلکه خپل مال خپله قبضه کښې ساته .اود دوی اصلاح کوه او دوی ته په خپل لاس جامې او د خوراك څکاك بندوبست کوه. او د دوی خرچ هم (۶)

قوله تعالی::وَابْتَلُوا الْيَتٰمٰى حَتّٰى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ

دیتیم دمال د حفاظت حد :- بیا فرمائی چه دیتیمانو پرورش کوئی تر دې چه هغوئ ځوانئ ته اورسی. دلته نکاح نه مراد بلوغت دې او بلوغت هغه وخت کښې ثابتیږی چه کله دې خاص قسم خوبونه وینی چه په هغې کښې خاص اوبه راوځی. علی ﷺفرمائی چه ما ته د رسول الله ﷺ دا فرمان ښه یاد دې چه احتلام نه پس یتیمی نشته دې او نه چپ پاتې کیدل ټوله شپه ورځ. (۷)

دړې کسان مرفوع القلم دی:- دویم حدیث مبارك کښې دی چه د دړې قسمه خلقو نه قلم اوچت شوې دې. ① بچی نه چه تر څو دې بالغ شوی نه وی② د اوده نه چه ترڅوهغه بیدار شوې نه وی③ لیونی نه ترڅو چه هغه هوش کښې راغلې نه وی(۸)

د بلوغ دویمه نښه:- نو یو خو دا بلوغت علامت دې . او دویم علامت د بعضو په نیز دا دې چه د پنځلسو کالو شی ،د دې دلیل په بخاری اومسلم کښې د ابن عمر حدیث دې .په هغې کښې هغوئ فرمائی چه د احد په جنګ کښې ځه رسول الله ﷺ خانسره بونتلم . په هغه وخت کښې ځما عمر څوارلس کاله وو او کله چه د خندق جنګ راغلو نو رسول الله ﷺ ځه قبول کړم اوپه هغه وخت کښې ځما عمر پنځلس کاله وو.عمر بن عبدالعزیز ته چه کله داحدیث اورسیدو نو هغوئ اوفرمائیل چه دنابالغ اوبالغ حد دادې(۹)

---

۱) الطبری : ۵۶۲/۷)-.
۲) الطبری : ۵۶۲/۷)-.
۳) الطبری : ۵۶۳/۷)-
۴) الطبری : ۵۶٤/۷)-..
۵) ابن ابی حاتم :)-
۶) الطبری : ۵۷۰/۷)-..
۷) سنن ابی داود : ۲۸۷۳،)-
۸) ابوداود کتاب الحدود باب فی المجنون یسرق اویصیب حدا: ٤۳۹۸، ترمذی: ۱٤۲۳،نسائی ۳٤٦۲،ابن ماجة:۲۰٤۱، وهوحسن)
۹) صحیح بخاری کتاب الشهادات باب بلوغ الصبیان وشهادتهم : ۲٦٦٤، صحیح مسلم: ۱۸٦۸،)-

Scanned with Ca

د بلوغ دریمه نښه:- دریم علامت د بلوغت د زیرناف ویښتو راوتل دی . په دې کښې د عالمانو دری اقوال دی .یو دا علامت د بلوغ دې او دویم دا چه دا د بلوغ علامت نه دې او دریم دا چه په مسلمانانو کښې نه دې او ذمیانوکښې دې . ځکه چې ممکن ده چې دوائی سره ویښته زر راوخیژی. او ذمی چه کله ځوان شی نوپه هغه جزیه لازم شی نو دائې ولې استعمال کړل ؟خو صحیح خبره دا ده چه د ټولو په حق کښې دا علامت د بلوغت دې.ځکه چه اول خو جبلی امر دې ، د علاج معالجه اهتمام خو دیرې لرې احتمال دې صحیح هم دا ده چه دا ویښته په خپل وخت باندې راوزی.

زیرناف ویښته علامت کړځولو باندې دویم دلیل:- دویم دلیل مسند احمد کښې حدیث دې په هغې کښې عطیه قرظی ﷺ بیان فرمائی چه د بنو قریظه جنګ نه پس مونږ خلق رسول الله ﷺ ته پیش کړې شو نو رسول الله ﷺ حکم اوکړو چه یو سړې دې اوګوری چه د چا دا ویښته راوتلی وی نو هغه دې قتل کړې شی .اوچه د چا نه وی راوتلی نوهغه دې پریښودې شی.نو ځما هم نه وو راوتلی نو ځه نې پریښودم. سنن اربعه کښې هم داحدیث مبارك شته دې (١)اوامام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وائی. د سعد ﷺ فیصله باندې راضی شوې وه او دا قبیله د جنګ کولو نه روستو شوی وه. بیا سعد ﷺ اوفرمائیل چه په دوی کښې کوم خلق جنګ کوی هغوئ قتل کړئ او ماشومان دې قید کړې شی .

دریم دلیل:- غرائب ابی عبید کښې دی چه یو هلك د یو ځوانئ جینئ باره کښې اووئیل چه ما دې سره بدکاری کړې ده.اصل کښې دا تهمت وو.عمر فاروق ﷺ ده ته دتهمت حد ورکول غوښتل خو وې فرمائیل چه اوګورئی که د ده زیرناف ویښته راوتلی وی نو په ده حد جاری کړئی ګنی دې پریږدئی . کله چه اوکتلې شو نو نه وو نو د هغه نه حد لرې کړې شو.

قوله تعالی:: فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ ۖ

د مال د حفاظت راتلو سره مال حواله کول:- بیا فرمائی چه کله تاسو اوګورئی چه دوی دخپل مال صلاحیت اودمال دحفاظت لائق شو نو ددوی سرپرستو ته پکار دی چه هغوی ته د هغوی مالونه ورکړی. بغیر د ضروری حاجت نه صرف د دې ویرې نه چه دوی به لوئې شی او دوی به ځمونږ نه خپل مال واخلی نو چه مونږ د دې نه مخکښې د دوی مال ختم کړو. د دوی مال مه خورئی .

قوله تعالی:: وَمَنْ كَانَ غَنِيًّا فَلْيَسْتَعْفِفْ ۖ وَمَنْ كَانَ فَقِيرًا فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ ۚ

مالدار او غریب دپاره د یتیم د مال نه اخستل: ① چه چاته ضرورت نه وی که مالدار وی نو هغه ته پکار دی چه د دوی د مال نه دې هیڅ نه اخلی.ددوی دپاره دا مال دمرداری او روانې وینې په شان حرام دې .②ځوکه غریب او محتاج وی نو بیشکه چه د خپل پرورش دحق مطابق د حاجت دپاره دستور مطابق د دې مال نه دې واخلی(٢) خپل حاجت ته دې اوګوری اوخپل محنت ته دې هم اوګوری. که د ده محنت د حاجت نه کم وی نودحاجت مطابق دې واخلی اوکه دحاجت د محنت نه کم وی نو دمحنت بدله دې واخلی.

د مالدرائ نه پس د یتیم مال واپس کولو حکم:- بیا داسې ولی که مالدار شی نو ده چه څه خورل څکل کړی وی هغه به واپس کوی که نه ؟په دې کښې دوه اقواله دی،یو دا چه دابه واپس کوی ځکه چه دا ده د خپل کاربدله کښې اخستې وو.د امام شافعی رحمه الله ملګرو په نیز هم دا صحیح دی.ځکه چه آیت بغیر د بدل نه مباح کړی دی.

د اولنی قول دلائل:- ① مسند احمد وغیره کښې دی چه یو سړی اووئیل یارسول الله ﷺ! ما سره مال نشته دې او یو یتیم ځما پرورش کښې دې ، نو آیا څه د هغه د مال نه خورلې شم ؟ نو رسول الله ﷺ

---

(١) احمد:٤/٤١٠،ابوداود کتاب الحدود باب فی الغلام یصیب الحد:٤٤٠٤ ترمذی:١٥٨٤،نسائی:٣٤٦٠، ابن ماجة:٢٥٤١، وهو صحیح)

(٢) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (من کان فقیرا کل بالمعروف ...) : ٤٥٧٥)-

اوفرمائیل چه او ته د هغه مال خپل کار کښې راوستې شې خو په دې شرط چه د حاجت نه زیات نه وی . او نه د دې جمع کول وی او نه دا چه خپل مال بچ کوې او د هغه مال خرچ کوې. (۱)

دابن حبان روایت:- ② ابن ابی حاتم کښې هم داسې روایت دې . ابن حبان وغیره کښې دی چه یو سړی رسول الله ﷺ نه سوال اوکړو چه ځه یو یتیم د ادب خودلو دپاره د ضرورت مطابق وهلې شم که نه ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څنګه ته خپل بچی ته زورنه ورکوې (دغه شان کولې شی) . اومه داسې کوه چه خپل مال بچ کړې اود هغه مال خرچ کوې او د هغه مال سره خان مالداره کوې . (۲)

د ابن عباس ﷺ فتوی:- ③ ابن عباس ﷺ نه چا تپوس اوکړو چه ما سره چه څومره اوښان دی او ما سره چه کوم یتیمان پرورش کښې دی د هغوئ هم اوښان دی . څه خپل اوښان د پیو دپاره غریبانانو ته تحفه کښې ورکوم نو آیاداخمادپاره جائز دی چه د دې یتیمانو د اوښو پی؛ اوخکم؟نو ابن عباس ﷺ اوفرمائیل ته د دې یتیمانو ورکې اوښې راولی او ددې د خوراك بندوبست کوې اود هغوئ دپاره حوض درست کوې اود دې نګهبانی کوی نو بیشکه د پئیو نه هم فائده اوچتولې شی خو په دې طریقه چه دې بچو ته نقصان اونه رسی اونه حاجت والا ته (موطاامام مالك) (۳) .

عطاء بن ابی رباح رحمۃ اللہ علیہ ،عکرمه رحمة الله علیه،ابراهیم نخعی رحمۃ اللہ علیہ،عطیه عوفی رحمۃ اللہ علیہ اوحسن بصری رحمۃ اللہ علیہ نه هم دا قول نقل دې .

دویم قول:- دویم قول دادې چه د غریبی لرې کیدو نه پس به هغه مال یتیم ته واپس کوی. څکه چې اصل ممانعت دې.یو وجې سره جواز شوې وو چه کله هغه وجه ختمه شی.نو د دې بدله به ورکوی.داسې لکه چه یو سړې بې بسه شی او دغیر مال اوخوری لیکن کله چه د ده حاجت پوره شی نو دې نه پس که په ده باندې ښه وخت راغلونو دې به دا واپس کوی.

د دویم دلائل:- ①د دویم دلیل دا دې چه عمر فاروق ﷺ چه کله دخلافت په تخت کښیناستو نو اعلان ئې اوکړو چه خما حیثیت دلته د یو یتیم د ولی پشان دې . که خما ضرورت نه وو نو څه به د بیت المال نه هیڅ نه اخلم. اوکه محتاج ووم نو د قرض په طوربه اخلم.هرکله چه ما باندې ښه وخت راغلو نو هغه به واپس کوم. (ابن ابی الدنیا). دا حدیث سعید بن منصور کښې هم دې او د دې اسناد صحیح دی.بیهقی کښې هم دا حدیث دې .

د ابن عباس قول:- ②ابن عباس ﷺ نه د آیت ددې جملې تفسیر مروی دې چه د قرض په طور دې واخلی او نورو مفسرینونه دامروی دی.عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی چه دمعروف خورلو مطلب دادې چه دریو گوتو سره دې خوراك کوی. او روایت کښې د دوی نه مروی دی چه هغوئ دې صرف خپل مالونه د خپل ضرورت پوره کولو دپاره خرچ کړی چه ده ته د یتیم د مال ضرورت نه وی . عامرشعبی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه داسې بې بسی وی چه مرداره خوراك جائز وی نو بیشکه اودې خوری . لیکن بیا به ئې ادا کوی. یحیی بن سعدانصاری رحمة الله علیه! او ربیعه رحمۃ اللہ علیہ نه د دې تفسیر داشان مروی دې که یتیم فقیر وی نو ده ته دې ولی د ده د ضرورت مطابق ورکوی او دې ولی ته به څه نه ملاویږی دا عبارت کښې صحیح نه معلومیږی. څکه چه د دې نه مخکښې جمله دا.هم ده چه که هغه غنی وی نو منع دې شی .یعنی چه کوم ولی غنی وی،نو دلته هم دا مطلب دې چه کوم ولی فقیر نه وی چه یتیم فقیر وی ،دویم آیت کښې دی چه ﴿وَلَا تَقْرَبُوا مَالَ الْيَتِيمِ إِلَّا بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُ﴾ :- (ترجمه) دیتیم مال ته نزدې مه

---

۱) احمد: ۱۸۶/۲، ابوداود کتاب الوصایا باب ماجاء فیما لولی الیتیم ان ینال من مال الیتیم : ۲۸۷۲ وسنده حسن نسائی : ۳۶۹۸، ابن ماجة:۲۷۱۸)-

۲) ابن حبان :٤٢٤٤، وسنده حسن، المعجم الصغیر: ٢٤٤)-

۳) موطا امام مالک کتاب صفة النبی ﷺ باب ما جاء فی الطعام: ۳۳، وهو صحیح)-

Scanned with Ca

ورخئ خو که د اصلاح په طور وی (نو ښه ده). بیا که حاجت وی نو حسب حاجت په طریق معروف ددې نه خوراك څكاك كوئی .

قوله تعالی: فَإِذَا دَفَعْتُمْ إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ فَأَشْهِدُوا عَلَيْهِمْ

دمال حواله کولو په وخت کښې ګواهان قائمول:- بیا سرپرستو ته بیان کوی چه کله هغوئ بلوغت ته اورسی او تاسو اووینئ چه په دوی کښې تمیز راغلې دې.نوځه وخت چې تاسو دوی ته د دوی مال ورکوئ نو ګواهان پرې مقرر کوئ هسې نه چې انکار اوکړی.هسې خو اصل ریښتونې ګواه اوپوره نګران او پاریك حساب کونکی الله ﷻ دې،هغه ته ښه معلومه ده چه ولی د یتیم مال کښې څه نیت لرلې دې ؟ آیا ده خیانت اوکړو،تباه ئې کړل،د دروغوریشیاؤ حساب ئې اولیکلو،او ورئې ګړل اوکه صفا نیت سره ئې اوکړل، اودپرصفائې سره ئې د ده د مال خیال اوساتلواو حساب اوکتاب ئې صفا اوساتلو. ددې ټولو خبرو علم خو هغه یو لوئې او نګهبان ذات ته دې

ابوذر ﷺ ته نصیحت:- صحیح مسلم کښې حدیث مبارك دې چه رسول الله ﷺ ابوذر ﷺ ته اوفرمائیل چه انې ابوذر ! څه وینم چه ته کمزوری ئې او څه چه خپل ځان دپاره غواړم نو هم هغه ستا دپاره غواړم، خبردار د دوؤ کسانو هم سردار او امیر مه جوړیږه او مه د یو یتیم ولی جوړیږه. (١)

لِلرِّجَالِ	نَصِيبٌ	مِّمَّا	تَرَكَ	الْوَالِدَانِ	وَالْأَقْرَبُونَ ص
اډپاره دنارینه	حصه ده	دهغه مال نه	چه پریښودې وی	مور پلار	اوخپلوانو
دنارینه هم په هغه مال کښې برخه مقرره چې مور پلار اونوروخپلوانو پریخودې وی					
وَلِلنِّسَاءِ	نَصِيبٌ	مِّمَّا	تَرَكَ	الْوَالِدَانِ	وَالْأَقْرَبُونَ
اودپاره دزنانه	حصه ده	دهغه مال نه	چه پریښودې وی	مورپلار	اوخپلوانو
اودښځوهم هغه مال کښې حصه مقرر ده چې کوم مورپلار اونوروخپلوانو پریخودې وی					
مِمَّا	قَلَّ مِنْهُ	أَوْ كَثُرَ ط	نَصِيبًا	مَّفْرُوضًا ۝٧	وَإِذَا حَضَرَ
دهغې نه که لږوی دهغې مال نه	اوکه ډیر	حصه	مقرر کړې شوې	اوکله چه حاضر شی	
که دغه مال لږ وی اوکه ډیر وی	داحصې دالله پاک دطرفنه مقرر دی	اوکله چې			
الْقِسْمَةَ	أُولُوا الْقُرْبَىٰ	وَالْيَتَامَىٰ	وَالْمَسَاكِينُ		
(دمیراث)دتقسیم په وخت کښې	(دخاندان خلق (چه وارثان نه وی)	اویتیمان	مسکینان		
دتقسیم په وخت کښې خپل خپلوان ،یتیمانان او مسکینان (د تقسیم مجلس ته) حاضر شی					
فَارْزُقُوهُم	مِّنْهُ	وَقُولُوا	لَهُمْ	قَوْلًا	مَّعْرُوفًا ۝٨ وَلْيَخْشَ
نوورکړئ هغوئ ته	دهغې نه	او وائې	هغوئ ته	خبره	نیکه (خوږه پسته) اوپکار دی چه اوویریږی
نوهغوئ ته هم په کښې څه ورکوئ	او سمې روغې خبرې ورسره کوئ	اوداسې خلقو ته ددې نه ویره پکاردہ			
الَّذِينَ	لَوْ تَرَكُوا	مِنْ خَلْفِهِمْ	ذُرِّيَّةً	ضِعَافًا	خَافُوا عَلَيْهِمْ ص
هغه کسان	که چرې پریږدی هغوئ	روستو دمرګ خپل نه	اولاد	کمزوری	اونویریږی
که هغوئ ځان نه پس داسې اولاد پریخودې وی	اوځنګه ویره به ئې په زړونو کښې راتله				

(١) صحيح مسلم كتاب الامارة باب كراهية الامارة بغير ضرورة : ١٨٢٦ ابوداود: ٢٧٦٨، نسائي: ٣٦٩٧)-

فَلْيَتَّقُوا اللّٰهَ	وَلْيَقُوْلُوْا	قَوْلًا سَدِيْدًا ۝	اِنَّ الَّذِيْنَ	يَاْكُلُوْنَ
نوپکار دی چه اووېرېږی دالله نه	اوپکار دی چه اووائی	خبره سمه خوږه	بیشکه هغه کسان	چه خوری
نوپکارده چې دالله پاک نه اووېرېږی	او (یتیمانوسره) سمه خبره کوئی		بیشکه هغه کسان چې	
اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى	ظُلْمًا	اِنَّمَا	يَاْكُلُوْنَ	فِيْ بُطُوْنِهِمْ ط	نَارًا
مالونه دیتیمانو	په ظلم سره	اپه حقیقت کښې	خوری (یعنی اچوی)	هغوئ	په خپلو کښې
چې دیتیمانومالونه	په ناحقه خوری	هغوئ نور څه نه کوی	خوخپلې خپتې	د اور نه ډکوی	
وَسَيَصْلَوْنَ	سَعِيْرًا ۝				
او اچولې کیږی	به هغوئ	دلمبو سخت اور ته			
اوددوزخ اور ته	به زر داخل کړې شی				

قوله تعالى:: لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ

میراث کښې دهریو حصه مقرر ده :- دعربو دمشرکانودا دستور وو چه کله به څوک مړ شو نو د هغه مشر اولادته به د ده مال ملاویدو، کشر اولاد او ښځې به بالکل ددې نه محرومه وې . اسلام دا حکم اوفرمائیلو او د ټولو ئې یو برابر حیثیت قائم کړو چه وراثان به ټول وی که قرابت حقیقی وی او که په وجه د زوجیت وی یا په وجه د نسبت آزادئ وی ، حصه به ټولو ته ملاویږی اګر چه کم وبیش وی. ام کجه رضی الله عنها درسول الله ﷺ خدمت کښې حاضر شوه او عرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! څما دوه لونړه دی اودهغوئ پلار وفات شوې دې .او هغوئ سره هیڅ نشته دې .نو دا آیت مبارك نازل شو. هم دا حدیث به نورو الفاظو سره د میراث او نورو آیتونو تفسیر کښې به انشاء الله نزدې راشی ،والله اعلم .

قوله تعالى:: وَاِذَا حَضَرَ الْقِسْمَةَ اُولُوا الْقُرْبٰى

د میراث د تقسیم په وخت کښې غریبانانو ته څه ورکول:- د دویم آیت مبارك مطلب دا دې چه کله د یو مرده میراث تقسیمیږی او هلته د ده څوك لرې رشته دارهم راشی چه د هغه هیڅ حصه مقرر نه وی او یتیمانان او مساکین راشی نو هغوئ ته هم څه نه څه ورکړئی .

غریبانانو ته په میراث کښې د څه ورکولو شرعی حیثیت:- د اسلام شروع کښې دا واجب وو اوبعضې وائی چه مستحب وو.او اوس هم دا حکم باقی دې که نه ؟په دې کښې دوه اقواله دی . ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا باقی دې (١) مجاهد رحمه الله ، ابن مسعود ﷺ ، ابوموسی ﷺ ، عبدالرحمان بن ابوبکر ﷺ ، ابوالعالیه رحمه الله ، شعبی رحمه الله ، حسن رحمه الله ،ابن سیرین رحمه الله ،سعید بن جبیر رحمه الله ،مکحول رحمه الله ،ابراهیم نخعی رحمه الله ، عطاء بن ابی رباح رحمه الله ، زهری رحمه الله ،یحیی بن معمر رحمه الله هم دې ته باقی وائی. بلکه دا حضرات سوا د ابن عباس ﷺ نه د وجوب قائل دی. (٢)

د عبیده رحمه الله او عروه رحمه الله عمل:- عبیده رحمه الله ، د یو وصیت ولی وو هغوئ یو چیلئ ذبح کړه او دري قسمه خلقو باندې ئې اوخوړله .اووې فرمائیل که دا آیت نه وې نو دا هم څمامال وو. عروه رحمه الله د مصعب رحمه الله دمال تقسیم وخت کښې خپلوانو ته مال ورکړې وو .د زهری رحمه الله هم قول دې چه دا آیت محکم دې ، منسوخ نه دې .

غریبانانو ته د څه ورکولو حکم په وصیت پورې متعلق دې:- یو روایت کښې ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا موقوف دې وصیت باندې .نو د عبدالرحمان بن ابوبکر ﷺ وفات نه پس د دوی څوئې عبدالله د خپل

---

(١) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورةالنساء باب (واذا حضر القسمة...) : ٤٥٧٦)-

(٢) الطبری: ٨/٨)-

Scanned with Ca

پلارمیراث تقسیم کړو او دا واقعه د ام المومنین عائشه رضی الله عنها په موجودګئ کښې شوې وه. نو کور کښې چه څومره مسکینان او قرابتدار وو ټولو ته ئې ورکړل او د دې آیت تلاوت ئې اوفرمائیلو ابن عباس رضی الله عنه ته چه کله معلومه شوه نو وې فرمائیل چه هغه صحیح اونه کړل . ددې آیت نه مراد دا دې چه کله مرده وصیت کړې وی (ابن ابی حاتم).

غریبانانو ته د څه ورکولو حکم منسوخیت قائلین:- د بعضو قول دې چه دا آیت بالکل منسوخ دې لکه عبدالله بن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دا آیت منسوخ دې او ناسخ آیت (یُوْصِیْکُمُ اللهُ) الخ دی. حصې مقررولو نه مخکښې دا حکم وو،بیا کله چه حصې مقرر شوې اوهرحقدار ته پخپله الله حق اورسولو نو اوس صدقه صرف هغه پاتې شوه چه دکومې مرده وصیت کړې وی .سعید بن مسیب رحمه الله هم دافرمانی کړه وصیت ددې خلقودپاره وو نو دابله خبره ده. ګنی دا آیت منسوخ دې.دجمهورو دځلورو وارو امامانو هم داقول دې .

د یو عجیبه قول نقل ګول:- امام ابن جریر رحمه الله دلته یو عجیبه قول اختیار کړې دې د هغه د اوږد او بار بار تقریر حاصل دا دې چه د مال د تقسیم په وخت کښې کله چه د مرده رشته دار راشی نو دوی ته ورکړئی اوکه یتیمانان مسکینان راشی نو دوی سره خبرو کښې نرمی اوکړئی او دوی ته ښه جواب ورکړئی. لیکن دې کښې نظردې (یعنی دا قول ضعیف دې) والله اعلم.ابن عباس رضی الله عنه وغیره فرمانی چه تقسیم نه مراد دلته د میراث تقسیم دې ،نو دا قول د امام جریر رحمه الله خلاف دې

د ایت صحیح مطلب:- صحیح مطلب د دې آیت دا دې چه کله دا غریب خلق د میراث د تقسیم په وخت کښې راشی او تاسو خپله خپله حصه جدا کړئی او دا غریبانان ګوری نو دوی تاسو هم څه ورکړئی . او دوی د هغه ځائې نه خالی لاس مایوسه مه لیږئی.دا الله رضی الله عنه روف رحیم ته خوښ نه دی .دوی ته د الله رضی الله عنه لارکښې صدقه هم ورکوئی چه دوی هم خوشحاله شی.

غریبانانو ته د څه نه ورکولو نتیجه:- لکه بل ځائې کښې فرمائی چه کله فصل پوخ شی نو په دغه ورځ د دوی حق ادا کړئی او الله رضی الله عنه د دې خبرې ډیر مذمت کړې دې چه تاسو د اوږو اومسکینانو نه د خپل باغ میوې په پټه کور ته راوړې لکه سورة ن کښې دی چه هغوی د شپې په وخت کښې په پټه د پټې او باغ دانې اومیوې راوړلودپاره لارل .اودهغوی نه هلته عذاب مخکښې رسیدلې وو.او ټول باغ سویزیدلې ایرې ایرې وو.د نورو حق تباه کوونکو هم دا حشر وی. حدیث شریف کښې دی چه په کوم مال کښې صدقه اونشی یعنی هغه سړې د خپل مال نه صدقه اونه باسی نو د ده مال د ده دپاره تباهی جوړیږی ([1]).

قوله تعالی:: وَلْيَخْشَ الَّذِيْنَ لَوْ تَرَكُوْا مِنْ خَلْفِهِمْ ذُرِّيَّةً ضِعٰفًا خَافُوْا عَلَيْهِمْ

بیافرمائی چه ویریږی دې هغه خلق چه کوم مالونه پریږدی الخ. یعنی یو سړې د خپل مرګ په وخت کښې وصیت کوی او دې کښې خپلوانو ته ضرر رسوی نو د دې وصیت آوریدونکی ته پکار دی چه د الله رضی الله عنه اویریږی او د ده صحیح خبرې طرفته رهنمائی اوکړی. او د ده د وارثانو دپاره داسې ښیګړه اوغواړی لکه د خپلو وارثانو سره چه ښیګړه کوی، کله چه د هغوی د بربادئی اوتباهئ ویره وی.

په مال کښې د دریمې حصې د وصیت ممانعت:- بخاری او مسلم شریف کښې دی چه کله رسول الله رضی الله عنه د سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه بیمار پرسئ دپاره ورغلل او سعد رضی الله عنه اوئیل چه یارسول الله رضی الله عنه ! ما سره ډیرمال دې اوصرف ځما یو لور ده نو که تاسو اجازت راکوئی نو څه به د خپل مال دریمې حصې د الله رضی الله عنه لار کښې صدقه کړم ؟ نو رسول الله رضی الله عنه اوفرمائیل چه نه . هغوئ اوفرمائیل چه د نیم اجازت راکړئی نو رسول الله رضی الله عنه اوفرمائیل چه نه . هغه بیااوئیل چه دیوې حصې اجازت راکړئی .رسول الله رضی الله عنه اوفرمائیل چه خیر دې لیکن

---

[1]) بیهقی : ٤/١٥٩، مسند الحمیدی بتحقیقی : ٢٣٩،)-

دا هم زیات دی . ته که د خان نه روستو خپلوان مالدار پریږدي نو دا ډیره بهتره ده د دې نه چه ته هغوئ غریبانان پریږدي او هغوئ کړیږی (۱)

د یوې حصې نه کم وصیت کول: ابن عباس ﷺ فرمائی خلق دیوې حصې نه کم وصیت کوی نو دا ډیره ښه ده خکه چه رسول الله ﷺ یو حصې ته هم زیات ونیلی دی (۲) فقهائې کرام فرمائی که دمرده وارثان مالداروی نو بیا خیر دې دیوې حصې وصیت دې اوکړی. اوکه غریبانان وی نو مستحب دی چه ددې نه دکم وصیت اوکړی.

قوله تعالی:: اِنَّ الَّذِیْنَ یَاْکُلُوْنَ اَمْوَالَ الْیَتٰمٰی ظُلْمًا

دایت دویم مطلب: - د دې آیت دویم مطلب دا بیان شوې دې. چه تاسو د یتیمانو دومره مال ساتئ چه څومره تاسو غواړئی چه ستاسو د مرګ نه پس نور خلق ستاسو د ورکی اولاد خیال ساتی. څنګه چه تاسو نه غواړئی چه د دوی مال دې نور خلق ظلم سره او خوری او هغوئ دې په داسې حالت کښې بالغ شی چې فقیران وی. دغه شان د نورو د اولاد مال هم مه خورئی دا هم ښه مطلب دې ، خکه د دې نه پس دهغه خلقو سزا بیان شویده چه کوم په ناحقه د یتیمانانو مال خوری چه دا خلق خپلو خیټو کښې اور اچوی او دوی جهنم ته تلونکی دی .

د یتیم مال خوړل لویه ګناه ده: - بخاری او مسلم شریف کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د اووه ګناهونو نه خان ساتئ خکه چه دا د هلاکت باعث دی . تپوس اوشو چه کوم ؟ رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ① الله ﷻ سره شرک کول ② جادو ③ بې وجې قتل ④ سود خوړل ⑤ دیتیم مال خوړل ⑥ جهاد نه تیښته کول ⑦ په پاکه مسلمانه ښځه باندې تهمت لګول . (۳)

دمعراج په شپه د یتیمانو مال خوړونکو عذاب: - ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرات صحابه کرامو ﷺ کله رسول الله ﷺ نه د معراج د شپې د واقعې باره کښې تپوس اوکړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ما ډیر خلق اوکتل چه د هغوئ شونډې لاندې زورندې وې او فرښتو دهغوئ شونډې نورې هم راښکلې ، بیا به ئې په دې باندې د جهنم کانړی اینبودل چه دا به د دوی د خیټو نه روستو وتل او دوی به ډیرې چغې وهلې. اوهائې هائې به ئې کول . ما جبریل ﷺ نه تپوس اوکړو چه دا کوم خلق دی ؟ هغوئ اوفرمائیل چه دا هغه خلق دی چه دوی به د یتیمانو مال خوړلو او دوی به خپلو خیټو کښې اور اچولو. او نزدې ده چه دوی به جهنم ته داخل شی (۴).

د یتیم مال خوړونکی حشر: - سدی رحمه الله فرمائی چه د یتیم مال خوړنکی به د قیامت په ورځ خپل قبر نه داسې پاسی چه د ده سپیرمو نه به د اور شغلې خیژی. هر سړې به دوی پیژنی چه دوی په ناحقه دیتیم مال خوړلې وو. ابن مردویه کښې یو مرفوع حدیث مبارک کښې هم دا مضمون نزدې نزدې مروی دې.(۵)

د یتیمانو د مال نه د ځان ساتلو وصیت: - او یو حدیث مبارک کښې دی چه خه تاسوته وصیت کوم چه د دې دواړو ضعیفانو مال دوئ ته حواله کړئې، د ښځو او د یتیمانانو، د دوی د مال نه ځان اوساتئ .

د سورة بقرې د ایت د نزول نه پس د صحابو عمل: - سورة بقره کښې روایت تیر شوې دې چه کله دا آیت نازل شو نو چا سره چه یتیمانان وو نوهغوئ د دوی مالونه جدا کړل. عام طور داسې به کیدل چه د خوراک څکاک داسې څیز به بچ شو نو یاخو به ئې بل وخت کښې دا باسی څیز خوړو . او یا به سخاشو اودابه ئې اوغورزولو ، اوکور والو کښې به هیچا دا نه خوړلو. دا خبره دوادړو ته ښه معلوم نشوه. رسول الله ﷺ ته هم

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الوصایا باب ان یترک ورثته اغنیاء خیر ...:۲۷٤۲، صحیح مسلم: ۱٦۲۷)-

(۲) صحیح بخاری حواله سابق : ۲۷٤۳، صحیح مسلم: ۱٦۲۹)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الحدود باب رمی المحصنات:٦۸۵۷، صحیح مسلم:۸۹)-

(٤) الطبری: ۸۷۲۵،)-

(۵) مسند ابی یعلی : ۷٤٤۰، ابن حبان : ۵۵٦٦،)-

Scanned with Ca

ددې ذکراوشو ، دې باندې دا آیت نازل شو چه ﴿وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الْيَتٰمٰى﴾ الخ . د دې مطلب دا دې چه په کوم کار کښې د یتیمانو بهتری وی نوهغه کوئی ، نو دې نه پس بیا خوراک څکاک یو ځائې شو.

يُوْصِيْكُمُ اللّٰهُ فِيْٓ اَوْلَادِكُمْ ۖ

|حکم کوی تاسو ته الله تعالی| په باره د اولاد ستاسو کښې

|ستاسو اولاد په باره کښې الله تاسو ته حکم کوی

لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ۚ فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً

|حصه دپاره د نارینه|په مثل | دحصې | ددوؤ زنانه| نوکه وی (دمړی وارثانې) صرف ښځې (لونړه)|

چې دیوسړی برخه ددوه سړو برابره ده نوکه د مړی وارثانې دوه

فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ ۚ وَاِنْ كَانَتْ

زیاتې | د دوؤ نه | نو ده حصه دهغوئ| په دریو کښې دوه حصې|دهغه مال نه|چه پریښې وی مړی| اوکه وه |

یادوؤ نه زیاتې وی نوهغوئ له دې په دریو کښې دوه برخې ورکړې شی اوکه

وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ ۭ وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ

(وارثه) صرف یوښځه (لور)|نوده حصه دهغې|نیمې (دمیراث)| اوده حصه دمورپلار دمړی|دپاره دهریو|

یوزنانه وارثه وی نوهغې له دې نیم مال ورکړې شی او مورپلار ته دې هریو ته

مِّنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ اِنْ كَانَ لَهٗ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ لَّمْ

دهغوئ دواړو |شپږمه | دهغه مال نه |چه پریښودې وی مړی|(هله) که وی|هغه مړی لره | ولد |نوکه نه وو|

دواړو نه شپږمه حصه ورکړې شی که چرې ددوی اولاد وی | .....اوکه چرې

يَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗٓ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ

هغه مړی لره | ولد |او وارثان وو دهغه مړی|صرف مورپلار دهغه|نوده حصه دمور دهغه|

د ده اولاد نه وی اومورپلار ئې وارثان وی | .....نو (په دې صورت کښې) د مور ئې

الثُّلُثُ ۚ فَاِنْ كَانَ لَهٗٓ اِخْوَةٌ فَلِاُمِّهِ السُّدُسُ

دریمه (باقی دپلار ده)|اوکه وو هغه مړی لره|رونړه خویندې|نوده حصه دمور دهغه| شپږمه |

دریمه حصه ده | اوکه رونړه خویندې ئې پاتې وی | نو دمور ئې بیا شپږمه حصه مقرر ده

مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصِيْ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ۭ اٰبَاۗؤُكُمْ

روستو (د اداکولو)دوصیت نه|چه وصیت اوکړی| په هغې سره|یاروستو دقرض ورکولونه| پلاران ستاسو|

داحصې به هله ویستې شی چې اول دمړی وصیت پوره کړې شی|اوکه قرض پرې وی نواول به هغه اداکولې شی

وَاَبْنَاۗؤُكُمْ لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ۭ

اوخامن ستاسو| نه پوهیږئ تاسو| چه کوم یو دهغوئ نه | زیات نزدې دی|تاسوته| په لحاظ دنفعې سره .

اوستاسوپلرونه او خامن چې دی تاسونه پوهیږئ چې څوک تاسوته فائده رسولو کښې زیات نزدې دی

فَرِيضَةً	مِّنَ اللَّهِ ط	إِنَّ اللَّهَ كَانَ	عَلِيمًا	حَكِيمًا ۝	
اډامقرر حصې دی اډطرفه د الله تعالی اډبیشکه الله دې	اښه پوهه اوډحکمت خاوند اډ				
داحصې الله پاک مقرر کړی دی اډ	بیشکه الله پاک په هرڅه پوهه دی اډ				

قوله تعالی:: يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ ۖ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ ۚ

د ابن کثیر رحمه الله د میراث په احکامو تبصره :- دا آیت کریمه او د دې نه پس آیت کریمه او د دې سورت آخری آیت کریمه د علم فرائض آیتونه دی . دا پوره علم د هغه آیتونو اومیراث احادیثونه استنباط کړې شوې دې چه کوم احادیث د دې آیتونو ګویا تفسیراووضاحت دې . دلته مونږ د دې آیت تفسیر لیکو. باقی چه د میراث دمسائلو پوره تقریر دې او هغې کښې چه د کومو دلائلو پوهه کښې اختلاف دې د هغې د بیانولو مناسب ځائې د احکاموکتابونه دی ، تفسیر نه دې . الله ﷻ دې خمونږ مدد اوکړی.

ټول علم دریې حصې دی:- د علم فرائض زده کولو رغبت کښې ډیر احادیث دی . دې آیتونو کښې چه د کومو فرائضو بیان دې دا ټول زیات اهم دی.ابوداود او ابن ماجه کښې دی چه علم اصل کښې دریې حصې دی اوددې نه سوا فضول دی ① دقران ایاتونه چه مضبوط دی اودهغې احکام باقی دی.② سنت قائمه یعنی احادیث چه کوم ثابت دی ③او فریضه عادله یعنی د میراث مسائل چه ددې دواړو نه ثابت دی(١)

میراث نیم علم دې:- دابن ماجه دویم ضعیف حدیث مبارک کښې دی چه فرائض (دمیراث علم) زده کړئ او نوروته ئې ښائې دانیم علم دې.او هیریږی اوهم داړومبې هغه ځیزدې چه ځمادامت نه به واخستې شی(٢) ابن عیینه رحمه الله فرمائی چه دې ته نیم علم په دې وجه وئیلې شوی دی چه ټول خلق داعام طوریږیش کوی.

دایت شان نزول:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه د دې آیت تفسیر جابر بن عبدالله ﷺ نه مروی دې چه ځه بیمار ووم. رسول الله ﷺ او ابوبکر صدیق ﷺ ځما پوښتنې ته راغلل. د بنو سلمه محله کښې پیاده راتلل،ځه په هغه وخت کښې بیهوش ووم. رسول الله ﷺ اوبه راوغوښتلې او اودس ئې اوکړو او بیائې د اودس اوبو نه ماباندې ځاځکی راواچول نو دې سره ځه هوش کښې راغلم. ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ! ځه خپل مال څنګه تقسیم کړم ؟نودې کښې دا آیت مبارک نازل شو. صحیح مسلم او نسائی وغیره کښې هم دا حدیث موجود دې.(٣)

دایت دویم شان نزول:- ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه ، مسنداامام احمد بن حنبل وغیره کښې مروی دې چه دسعد بن ربیع ﷺ بی بی صاحبه رسول الله ﷺ ته راغله اوعرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ دا دواړه دسعد ﷺ لونړه دی.د دوی پلار تاسو سره جنګ احد کښې شریک شوې وو او هم هلته شهید شو. د دوی ترهٔ د هغه ټول میراث قبضه کړې دې .او د دوی دپاره ئې هیڅ نه دی پریښودی.او دا ښکاره ده چه ددوی نکاح بغیر د مال نه نشی کیدې.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د دې فیصله به پخپله الله ﷻ کوی . نو دا آیت نازل شو.رسول الله ﷺ د هغوئ ترهٔ ته جواب اولیږلو چه دوه حصې دې دواړو جینکو ته ورکړه او اتمه حصه د دوی مور ته ورکړه او باقی مال ستا دې (٤)

د دواړو روایاتونو په مینځ کښې تطبیق:- ظاهره داسې معلومیږی چه د جابر ﷺ سوال باندې ددې سورة آخری آیت نازل شوې دې لکه څنګه چه نزدې به راشی انشاء الله.ددې وجې د دوی وارثانې د دوی خوئیندې وې،جینکئ ئې هډو وې نه. هغه خو کلاله وو.او دا آیت مبارک دې باره کښې نازل شو یعنی د سعد

---

١) ابو داود كتاب الفرائض باب ماجاء فى تعليم الفرائض : ٢٨٨٥)-

٢) ابن ماجة كتاب الفرائض باب الحث على تعليم الفرائض : ٢٧١٩)-

٣) صحيح بخارى كتاب التفسير سورة النساء باب (يوصيكم الله فى ...) : ٤٥٧٧، صحيح مسلم: ١٦١٦)-

٤) احمد: ٣٥٢/٣، ابوداود كتاب الفرائض باب ماجاء فى ميراث الصلب : ٢٨٩١، ترمذى: ٢٠٩٢، ابن ماجة: ٢٧٢٠)-

بن ربیع ﷺ د وراثت باره کښې نازل شوې دې .او ددې راوی هم پخپله جابر ﷺ دې. خوامام بخاری رحمه الله داحدیث د دې آیت مبارک تفسیر کښې وارد کړې دې.د دې وجې مونږ هم د هغه تابعداری اوکړه ، والله اعلم.

د نارینه دوچنده حصې وجه:- مطلب دا دې چه الله ﷻ تاسو ته ستاسو د اولاد باره کښې عدل کوئ . اهل جاهلیت به ټول مال هلکانو ته ورکولو. او جینکئ به ئې خالی لاس پریښودې.نو الله ﷻ د هغوئ حصه هم مقررکړه. خود دواړوحصو کښې فرق اوساتلې شو. ځکه چه د سړو په ذمه کومې ذمه واړئ دی هغه د ښځو په ذمه نه دی .لکه د خپلو متعلقینو د خوراک ، څکاک ،اوخرچ اوکفالت ،تجارت اوکسب اونور مشقتونه د دوی په ذمه وی. نو دوی ته ئې د ښځو مقابله کښې دوچنده حصه ورکړه.

یوه باریکه نکته:- بعضو هوښیار بزرګانو دلته یو باریکه نکته بیان کړې ده ، فرمائی چه الله ﷻ خپلو بندګانو باندې ډیر زیات مهربان دی د مور پلار په نسبت ، مور پلار ته د دوی داولاد باره کښې وصیت کوی،نو معلومه شوه چه مور پلارخپل اولاد باندې دومره مهربان نه دې څومره چه څمونږ خالق الله ﷻ خپل مخلوق باندې مهربان دې .

دالله مهربانی د مور نه هم زیاته ده:- یو صحیح حدیث مبارک کښې دی چه د قیدیانو نه د یو ښځې ماشوم د دې نه ورک شو، هغې دلیونو پشان خپل ماشوم تلاش کولو او چه کوم ماشوم به ئې لیدو نو خپلې سینې سره به ئې لګولو او هغه ته به ئې پئ ورکول. رسول الله ﷺ چه دا اوکتل نو خپلو صحابو ﷺ ته ئې اوفرمائیل چه تاسو اووائې چه آیا دا ښځه به داخپل ماشوم اور ته اوغورځوی ؟خلقو اووئیل یارسول الله ﷺ ! بالکل نه.رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په الله ﷻ قسم الله ﷻ خپلو بندګانو باندې د دې نه هم زیات مهربان دې (١)

د حصو تقسیم:- ابن عباس ﷺ فرمائی چه مخکښې د مال حصه دار او حقدار صرف هلکان وو. مور پلار ته به د وصیت په طور مال ملاویدو. الله ﷻ دا منسوخ کړل او هلك ته ئې د جینئ نه دوچند حصه ورکړه. اومور پلارته ئې شپږمه حصه ورکړه. او دریمه حصه هم .او ښځې ته اتمه حصه او څلورمه حصه اوخاوند ته نیمه او څلورمه. (٢)

د بعضو خلقو اعتراض:- فرمائی چه دمیراث احکام نازلیدو سره بعضو خلقو اووئیل چه دا ښه خبره ده چه ښځې ته شپږمه حصه او اتمه حصه ورکړې شوه. او جینئ ته نیمه حصه او ورو ورو ماشومانو دپاره هم حصه مقرر شوه. حالانکه نه خو دوی کښې څوك جنګ ته تلې شی او نه دغنیمت مال راوړې شی .دا چه تاسو د دې آیتونو په نازلیدو خاموشی اختیاروئ چه شاید رسول الله ﷺ نه دې هیر شی یا دې رسول الله ﷺ څمونږ په وینا دا بدل کړی. بیا خلقو رسول الله ﷺ ته اووئیل چه تاسو جینئ د پلار په مال کښې د نیم مال حصه داره جوړوئی حالانکه نه خو هغه په آس د کښیناستو قابله ده او نه دښمن سره مقابله کولې شی.رسول الله ﷺ ماشوم ته وراثت کښې حصه ورکوی حالانکه داهغه ته هیڅ فائده نه ورکوی. دې خلقو به د جاهلیت زمانه کښې داسې کول (٣)چه میراث به ئې صرف هغه کس ته ورکولو چه کوم به د جنګ کولو قابل وو. مشر هلك به ئې د وراثت قابل ګڼلو(که د مرده ځامن او لونړه دواړه وی نو فرمائی چه دجینئ څومره حصه رسی نوددې نه دې دوچند هلك ته ورکړې شی . یعنی که یو هلك او یو جینئ وی نو د ټول مال دریم حصې کړی دوه حصې هلك ته او یو حصه دې جینئ ته ورکړې شی .

قوله تعالی:: فَإِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ

---

(١) صحیح بخاری کتاب الادب باب رحمة الولد وتقبله ومعانقته : ٥٩٩٩، صحیح مسلم: ٢٧٥٤)-.
(٢) صحیح بخاری کتاب الادب التفسیر: سورة النساء باب (ولکم نصف ما ترک ازواجکم...) : ٤٥٧٨)-
(٣) الطبری: ٨٧٢٨)-

د صرف جینکو په صورت کښې د میراث تقسیم:-(اوس فرمائی کـه صرف جینکئ وی نو دوی ته به څه ملاویږی (مترجم)لفظ (فَوْقَ) ته بعضې خلق زائد وائی . لکه ﴿فَاضْرِبُوْافَوْقَ الْاَعْنَاقِ﴾ کښې لفظ (فَوْقَ) زائد دې . لیکن مونږ دا نه منو. نه په دې آیت کښې او نـه هغـه آیت کښې . ځکه چه قران پاك کښې هیڅ داسې څیز زیاتی نشته دې چه د هغې هیڅ فائده نه وی . د الله ﷻ کلام کښې داسې کیدل محال دی. بیا دا خیال ساتل پکار دی که داسې وې نو دې نه پس (فَلَهُنَّ) به نه راتلو بلکه (فلهما) به راتلو.

د دوو جینکو نه د زیاتو په صورت کښې حکم:- خو دا دې مونږ ته معلومه وی که چرې جینکئ د دوؤ نه زیاتې نه وی یعنی صرف دوه وی نو هم دا حکم دې .یعنی دوی ته به دوه ثلث ملاویږی① ځکه چه دویم آیت کښې دوؤ خویندو ته دوه ثلث ورکړې شوې دی. اوکله چه دوؤ خویندو ته دوه ثلث ورکولې شی نو دوؤ جینکو ته دوه ثلث ولې نه ملاویږی ؟ دوی دپاره دوه حصې په طور د اولی پکار دی او حدیث مبارك کښې راغلی دی چه دوؤ جینکو ته رسول الله ﷺ دوه حصې مال ورکړې دې لکه څنګه چه د دې آیت مبارك د شان نزول په بیان کښې د سعد ﷺ د لونړو په ذکرکښې ددې نه مخکښې بیان شو. نو اوس کتاب او سنت نه ثابت شو .دغه شان ددې دلیل دا هم دې که یو جینئ وی او هلك نه وی نو دې صورت کښې به دې ته نیم مال ورکولې شی.او که دوؤ ته دنیم نیم ورکولو ذکر کول مقصود وو وې نو هم دلته بهٔ بیانیدو ،هرکله چه یو جدا کړې شوه نومعلومه شوه ه د دوؤ هغه حکم دې چه دووٴنه زیات وی،والله اعلم

قوله تعالی:: وَلِاَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ

د مور پلار حصه :- دمورپلار حصه بیانیږی .د دوی د وراثت مختلف صورتونه دی ①یو دا کـه د مرده اولاد د یو جینئ نه زیات وی او مور پلار ئې هم وی نو دوی ته به شپږمه حصه ملاویږی. یعنی شپږمه حصه مورته او شپږمه حصه پلار ته که د مرده صرف یو لور وی نو نیم مال به دې جینئ ته ورکولې شی اوشپږه حصه به مور ته اوشپږمه حصه پلار ته .اوکومه شپږمه حصه چه باقی پاتې شوه هغه به په طور د عصبه پلارته ملاویږی. نو دې حالت کښې به پلار فرض اوتعصب دواړه جمع کړی . یعنی مقرره شپږمه حصه او په طور د عصبه والا مال.

قوله تعالی:: فَاِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهٗ وَلَدٌ وَّوَرِثَهٗۤ اَبَوٰهُ فَلِاُمِّهِ الثُّلُثُ

دویم صورت دا دې که صرف مورپلار وراثت کښې وی نو مور ته به دریمه حصه ا و باقی ټوله به پلارته په طوردعصبه ملاویږی. یعنی دوه ثلث به د ده مور ته ملاویږی. یعنی د مور په نسبت پلارته به دوچند حصه ملاویږی .که د مرده ښځې خاوند هم وی یا د مرده سړی ښځه هم وی یعنی اولاد ئې نه وی ، مور پلار ئې وی او خاوند وی یا ښځه نودې باندې اتفاق دې چه خاوند ته به نیمه او ښځې ته به څلورمه حصه ملاویږی.

د مور په حصه کښې اختلاف:- بیا د علماء کرامو دې کښې اختلاف دې چه مورته به د دې نه پس څه ملاویږی ؟ په کښې درې قوله دی .

① یو دا چه کوم مال باقی پاتې شی په هغې کښې دریمه حصه به ورته ملاویږی دواړو صورتونوکښې یعنی که ښځه خاوند پریږدی او مړه شی او که سړې ښځه پریږدی اومړ شی .ددې وجې باقی مال ددوی نسبت سره ګویا ټول مال دې .او دمور حصه دپلار نه نیمه ده. نو باقی مال نه دریمه حصه دې واخلی او دوه دریمې حصې چه باقی وی هغه به پلار ته ملاویږی .عمر فاروق ﷺ ، عثمان ﷺ ، او په اعتبار د زیات صحیح روایت د علی ﷺ فیصله هم دا ده.د ابن مسعود ﷺ او د زید بن ثابت ﷺ هم دا قول دې . اووه واړه فقهاء کرام او څلورواړه امامانواو دجمهور عالمانو هم دا فتوی ده.

② دویم قول دادې چه دې دواړو صورتونو کښې به مور ته دټول مال ثلث ملاویږی ځکه چه دا آیت عام دې ،که خاوند اوښځه یو ځائې وی او که نه وی. نو عام طور به دامور ته ورکولې شی که د مرده اولاد

Scanned with Ca

نه وی.د ابن عباس ﷺ همدا قول دي . علی ﷺ او معاذ بن جبل ﷺ نه هم دا شان مروی دی . شریح ﷺ او داود ﷺ هم دا فرمانی . ابوالحسن بن لبان ﷺ په خپل کتاب ایجاز کښې چه کوم دعلم فرائض باره کښې دي همدا قول خوښ کړي دي ، خو دي قول کښې نظر دي بلکه دا قول ضعیف دي ځکه چه آیت دده دا حصه په هغه وخت کښې مقرر کړي ده چه کله د ټول مال وراثت صرف مور پلار ته ملاویږی او کله چه زوج یا زوجه وی او هغوئ د خپلو حصو مستحق وی نوبیا چه کوم باقی پاتې شو بیشکه هغه ددې دواړو حصه ده نو دي کښې به ورته ثلث ملاویږی.

④ دریم قول دادي که مرده سړي وی او دده ښځه موجود ده نو صرف دي صورت کښې خو به دي ته دټول مال دریمه حصه ملاویږی ځکه چه دي ښځې ته به دټول مال څلورمه حصه ملاویږی . که دټول مال دولس حصې شی نو دري حصې خو به دا واخلی او څلور حصې به مور ته ملاویږی باقی پنځه حصې به پلار ته ملاویږی . لیکن که ښځه مړه شوې وی اوددې خاوند موجود وی نو مور ته به دباقی مال دریمه حصه ملاویږی که دټول مال دریمه حصه دي صورت کښې مور ته ملاوشی نو د دلته د پلار هم زیاته حصه رسی. لکه د مرده دمال نې شپږ حصې کړې ، دري خاوند ته ورکولې شی او دوه مور ته به ملاویږی ، نو پلار ته به یو ملاؤ شی چه دمور نه هم لږه ده.ددې وجې دي صورت کښې شپږو کښې دري حصې خو به پلار ته ملاویږی او یو مور ته او دوه پلار ته .دامام ابن سیرین ﷺ هم داقول دي ، داسې ګنړل پکار دی چه دا قول د دوؤ اقوالو نه مرکب دي . ضعیف هم دي او صحیح قول رومبې دي. والله اعلم .

قوله تعالی:: فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ

د مور پلار په حق کښې دریم صورت:- دمور پلار احوالو کښې دریم صورت دادي چه هغه رونړو سره وی که هغه سکه رونړه وی اوکه صرف دپلار طرفنه وی یا صرف د مور طرفنه وی . نو که پلار موجود وی نو د خپل رور میراث کښې به دوی ته هیڅ نه ملاویږی لیکن مور به شپږمه حصه واخلی او دوی ته به نې ورکړی. او که بل وارث نه وی او صرف مور سره پلار وی نو مال به ټول په ټوله پلار ته ملاویږی. دوه رونړه هم د ډیرو رونړو په حکم کښې دی. دجمهورو هم دا قول دي . خو ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه یوځل رسول الله ﷺ عثمان ﷺ ته اووئیل چه دوه رونړه مور دثلث نه شی کولې او سدس ته نشی رسیدلې.قرآن پاک کښې د(**اخوة**) دجمع لفظ دي ، دوه رونړه که ددې نه مراد وي نو (**اخوان**) به ونیلی کیدو.خلیفه ثالث جواب ورکړو چه دا دمخکښې نه راروان دی .اوځلورو واړو طرفونوته دا مسئله دا شان رارسیدلې ده ، ټول خلق ددې عاملان دی. ځه دا نه شم بدلولې .اول خو دا اثر ثابت نه دي ،د دي د راوی شعبه ﷺ باره کښې د امام مالک ﷺ جرح موجود ده .بیا په دي خبره چه دا قول د ابن عباس ﷺ نه دي دویم دلیل دا دي چه پخپله د ابن عباس ﷺ خاص ملګری او اوچت شاګردان هم د دي خلاف دی .زید ﷺ فرمانی چه دوؤ ته هم (**اخوة**) ونیلې کیږی .

الحمد لله مادامسئله ډیره وضاحت سره یو بیله رساله کښې لیکلې ده.سعید بن قتاده ﷺ نه هم دغه شان مروی دی.خو که د مرده یو رور وی نو مور د دریمې حصې نه نشی لرې کولې.دعالمانوفرمان دي چه دي کښې حکمت دا دي چه د مرده د رونړو دودونو او د خوراک څکاک وغیره ټوله خرچه به د پلار په ذمه وی. دمور په ذمه به نه وی ځکه چه مقتضائې حکمت دا وو چه پلار ته زیات ملاؤ شی.دا توجیه ډیره ښه ده لیکن ابن عباس ﷺ نه صحیح سند سره دا مروی دی چه دا شپږمه حصه چه دمورکمه شوې ده هغه به ورکولې شی.دا قول شاذ دي . امام ابن جریر ﷺ فرمانی چه د عبدالله ﷺ دا قول د ټول امت خلاف دي.د ابن عباس ﷺ قول دي چه ﴿ کلاله ﴾ هغې ته وائی چه د هغه خونې او پلار نه وی.

قوله تعالی:: مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ

د وصیت او قرض نه پس به د میراث تقسیم وی :- د ټولو سلفو اوخلفو اجماع ده چه قرض وصیت باندې مقدم دي اوکه د آیت مطلب ته هم په غور اوکتلې شی نو هم دا معلومیږی . ترمذی وغیره کښې دی

چه علی بن ابی طالب ﷺ فرمائی چه تاسو قران پاك کښې د وصیت حکم مخکښې لولئ او د قرض روستو لیکن یاد ساتل پکار دی چه رسول الله ﷺ قرض مخکښې ادا کړې دې .بیا ئې وصیت جاری کړې دې . چه د یو مور رونړه وی نو دابه خپلوکښې وارثان وی بغیر دعلاتی رونړو.یو کس به د خپل رور وارث وی ،د هغه نه چه هغه د بلې مور نه وی (۱)دا حدیث صرف د حارث ﷺ نه مروی دې. اوپه دې باندې بعضې محدیثینو جرح کړې ده. خو حارث حافظ فرائض وو،دې علم کښې دوی ته خاص دلچسپی او دسترس وو او دحساب هم ډیر لوئې ماهر وو ، والله اعلم.

قوله تعالی:: اٰبَآؤُكُمْ وَاَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُوْنَ اَيُّهُمْ اَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا ؕ

بیا فرمائی چه مونږ پلار اوخامنو دپاره خپله خپله حصه مقرر کړه. اودجاهلیت رسم موختم کړو.بلکه اسلام کښې چه کوم مخکښې حکم وو چه مال به اولاد ته ملاویدو ،مور پلار ته به صرف په طور د وصیت ملاویدو لکه ابن عباس ﷺ نه مخکښې بیان شو نو هغه منسوخ شو.او اوس دا حکم شو. تاسو ته دامعلومه نه ده چه تاسو ته به دپلارنه زیاته نفع ملاویږی اوکه اولاد به نفع درکوی.امید د دواړو نه نفع ده.یقین په چاباندې د زیاتې نفعې نشته ،دویم دا زیاته ممکن ده چه دپلار نه زیات خوئې په کار راشی اونفع ورکړی اودا ممکن هم ده چه دخوئې نه زیات پلار په کار راشی.اودهغه نه ورته نفع اوشی.

قوله تعالی:: فَرِيْضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝

بیا فرمائی چه دا مقررې حصې اومیراث دا دالله ﷻ د طرفنه فرض دی او په دې کښې د څه امید یا ویرې په وجه د کمې او زیاتی ګنجائش نشته دې . او نه د چا محروم کول جائز دی اونه چاته زیات ورکول جائز دی .الله ﷻ علیم اوحکیم دې چه څوك د څه مستحق وی هغه ته ئې هغه هومره حصه ورکړې ده ،هرڅیز هغه پاك ذات ته ښه معلوم دې . ستاسو د نفع او نقصان هغه ته پوره علم دې . د هغه پاك ذات هیڅ یو کار د حکمت نه خالی نه وی. تاسو ته پکار دی چه د هغه پاك ذات احکام او فرمان باندې تګ اوکړئی .

وَلَكُمْ
اوده حصه ستاسو
نِصْفُ مَا تَرَكَ اَزْوَاجُكُمْ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهُنَّ وَلَدٌ ۚ فَاِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ
انیم| دهغه مال|چه پریښودې وی | ببیبانو ستاسو| که نه وی دهغوئ اولاد | اوکه وی دهغوئ اولاد
اوستاسوښځې چې کوم مال پریږدی په هغې کښې ستاسونیمه حصه ده |هله که دهغوئ اولاد نه وی |اوکه
فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ
انو ده حصه ستاسو څلورمه|دهغه مال نه چه پریښودې وی هغوئ| روستو(د اداکولو) دوصیت نه
اولاد ئې وی نو بیا دهغوئ په میراث کښې ستاسوڅلورمه حصه ده| دابه دهغوئ د وصیت پوره کولو نه پس وی
يُّوْصِيْنَ بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ؕ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا
اچه کړې وی هغوئ|هغه وصیت|یاروستو د قرض ورکولونه| اوده حصه دښځو| څلورمه| دهغه مال نه
یا د قرض ادا کولو نه پس وی | اوستاسوپه پاتې مال کښې دهغوئ څلورمه حصه ده

(۱) ترمذی کتاب الفرائض باب ماجاء فی میراث الاخوة من الاب والام : ۲۰۹٤، ابن ماجة:۲۷۱۵،)۔

Scanned with Ca

تَرَكْتُمْ إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ

| چه پریږدئی تاسو | که نه وی | ستاسو | اولاد | او که وی | ستاسو | اولاد

که چرې دهغوئ اولاد نه وی | .....اوکه اولاد ئې وی نو

فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِّنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ

| نوده حصه دښځو اتمه | دهغه مال نه | چه پریږدئی تاسو | روستو (داداکولو) دوصیت نه | چې اوکړئی تاسو

نوبیا ستاسوپه میراث کښې دهغوئ اتمه حصه ده | هله چې ستاسووصیت اول پوره شی

بِهَا أَوْ دَيْنٍ ۗ وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّورَثُ كَلٰلَةً

یاروستوداداکولو دقرض نه | اوکه وی | سړې | چه میراث ترې اوړې شی | مونږ وتلې

یا ستاسوقرض اداکړی شی | اوکه چرې یوسړې یاښځه مړه شی اونه ئې موروی اونه ئې پلار وی اونه ئې اولادوی |

أَوِ امْرَأَةٌ وَّلَهٗ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ ۚ

| یا وه ښځه کلاله او وو د هغه | رور یا خور | نوده حصه دهریو ددې دواړو نه | شپږمه

یائې رور یا یوه خور پاتې شی | .....نو هر یوته به شپږمه حصه ورکولې شی

فَإِنْ كَانُوْٓا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَآءُ فِي الثُّلُثِ

اوکه وو رور او خور (دمونږوتلی) | زیات | ددغه (یو) نه | نوهغوئ ټول شریکان دی | په دریمه حصه کښې

اوکه رونړه خویندې ئې دیونه زیاتې وی | نو ټول به په دریمه حصه شریک کښې ګنړلې شی

مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ أَوْ دَيْنٍ ۙ

| روستو داداکولو دوصیت نه | چه وصیت کولې شی | په هغه سره | یا روستو د ورکولو دقرض نه |

داهله چې اول ترې هغه وصیت پوره کړې شی د کوم چه وصیت شوی وی یا قرض اداکړې شی |

غَيْرَ مُضَآرٍّ ۚ وَصِيَّةً مِّنَ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ

چه نه وی نقصان رسوونکې (نورورته) | داحکم دی | دطرفه دالله نه | اوالله تعالی | پوهه دی |

خوچې (دغه قرض یا وصیت) د ضرر دپاره نه وی | دا دالله پاک حکم دی | او الله پاک په هرڅه پوهه

حَلِيْمٌ ۝

صبرناک دی |

او صبرناک دی |

قوله تعالی:: وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ

د ښځې په مال کښې د خاوند حصه :- الله ﷻ فرمائی چه ائې سړو ! ستاسو ښځې چه مړې شی که د دوی اولاد وی نوپه هغې کښې نیمه حصه ستاسو ده اوکه د هغوئ اولاد وی نوتاسو ته به څلورمه حصه ملاویږی د وصیت او قرض نه پس .ترتیب داسې دی چه قرض دې ادا کړې شی ، بیا دې وصیت پوره کړې شی بیا دې میراث تقسیم کړې شی . دا داسې مسئله ده چه په دې باندې د ټولو عالمانو اجماع ده. نمسی هم په دې مسئله کښې د څامنو حکم کښې دې بلکه د اولاد نه پس اولاد هم دې حکم کښې دې چه د دوی موجودګئ کښې به خاوند ته څلورمه حصه ملاویږی .

قوله تعالی:: وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّكُمْ وَلَدٌ ۚ

دخاوند په مال کښې د ښځې حصه :-بیادښځو حصه بیانوی چه هغوئ ته به یاځلورمه حصه ملاویږی یا اتمه حصه،ځلورمه په دې حالت کښې چه د وفات شوی خاوند اولادنه وی ، اتمه په هغه صورت کښې چې اولاد وی اودې ځلورمه حصه کښې یا اتمه حصه کښې به دمرده ټولې ښځې شاملې وی.که ځلور وی نوداحصه به دوی کښې برابرتقسیمولې شی،که درې وی نو بیا هم،که یو وی نودهغې پوره حصه ده

قوله تعالی:: وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُوْرَثُ كَلٰلَةً

د کلاله تفسیر:- ﴿مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ﴾تفسیر ددې نه مخکښې تیرشوې دې﴿كَلٰلَةً﴾ مشتق ده د﴿اکلیل﴾ نه﴿اکلیل﴾ وانی هغه تاج وغیره ته چه د هغه سر هر طرفته پټ کړی ، دلته د دې نه مراد دا دې چه د ده وارثان د ده نه گیرچاپیره خلق وی،اصل او فرع یعنی جړې یا ښاخ نه وی ابوبکرصدیق ﷺ نه د ﴿كَلٰلَةً﴾ د معنې ټپوس اوشو نو ابوبکرصدیق ﷺ اوفرمائیل چه څه خپلې رائې سره جواب ورکوم که صحیح وی نودالله ﷻ طرفنه دې او که غلط وی نو ځما او شیطان طرفنه به وی .اوالله ﷻ اود هغه رسول ﷺ د دې نه بری الذمه دی ﴿كَلٰلَةً﴾ هغه سړې دې چه د هغه نر اولاد نه وی او نه ئې پلار وی. عمر فاروق ﷺ چه کله خلیفه شونو دوی هم د دې موافقت سره اوفرمائیل چه ماته د دې نه شرم راځی چه څه د ابوبکر ﷺ رائې سره اختلاف اوکړم (ابن جریر) (۱)

ابن عباس ﷺ فرمائی چه کوم خلقو چې د حضرت عمر فاروق زنانه رالاندې کړې ده په هغوی کښې د ټولو آخری زمانه کښې یم. ما د دوی نه آوریدلی وو چه خبره هغه ده چه کومه ما ونیلې ده صحیح ده اودرست هم دا ده چه کلاله وانی هغې ته چه نه ئې پلار وی اونه ځوئې.علی ﷺ،ابن مسعود ﷺ ، ابن عباس ﷺ ،زید بن ثابت ﷺ ، شعبی رحمه الله ، حسن رحمه الله ،قتاده رحمه الله ،جابربن حکم رحمه الله هم دا فرمائی (۱)داهل مدینه، اهل کوفه او اهل بصره هم دا قول دې .اووه واړه فقهائې کرام ، ځلور واړه امامان او جمهور سلف اوخلف بلکه ټول هم دا فرمائی،ډیرو بزرګانو په دې باندې اجماع کړې ده. اویومرفوع حدیث مبارک کښې هم داراغلی دی(۲).

د کلاله په تفسیر کښې ضعیف قول:- ابن لبان فرمائی چه ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه کلاله هغه دی چه د چا اولاد نه وی.لیکن صحیح رومبې قول دې.اوممکن دی چه راوی مراد باندې پوهه شوې نه وی.

قوله تعالی:: وَلَهٗ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا السُّدُسُ

بیا فرمائی چه دده رورياخور وی یعنی د مور د طرفه وی لکه څنګه چه په بعضې قراءت کښې **(او اخت من ام)** دی لکه سعدبن ابی وقاص ﷺ وغیره ابوبکرصدیق ﷺ وغیره نه هم دا تفسیر مروی دې . نو دوی کښې هر یو دپاره شپږمه حصه مقرر ده. که زیات وی نو یو ثلث کښې ټول شریک دی ،

د مورد طرفه د ځوئې د نورو وارثانو نه په تقسیم کښې اختلاف:- چه کوم رور د مور نه وی د نورو رونړو نه مختلف دی① یو خو دا چه د خپل میراث ورکولو نه باوجود هم وارث وی ،لکه مور، ②دویم دا چه د دوی سړی او ښځې،یعنی رور او خور میراث کښې برابره دی③دریم دا چه دوی په هغه وخت کښې وارثان وی چه کله مرده کلاله وی. نود پلار نیکه ، د ځوئې ، د نمسی موجودګئ کښې هم وارث نه وی ② ځلورم دا چه دوی ته د ثلث نه زیاته نه ملاویږی.که دوی هرځومره وی .سړی وی که ښځې.عمر فاروق ﷺ دا فیصله کړې ده چه کوم رور یا خور د مورنه وی نو د هغوئ میراث به د اشان تقسیمیږی چه سړی دپاره دوچند او ښځې ته به یوه حصه ملاویږی زهری رحمه الله فرمائی چه عمرفاروق ﷺ داسې فیصله نه شی کولې .ترڅو چه هغوئ د رسول الله ﷺ نه آوریدلی نه وی.

قوله تعالی:: فَإِنْ كَانُوْا أَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ

---

(۱) الطبری : ۸/۵۳)-

(۲) الطبری : ۸/۵۵)-.

(۳) الحاکم : ٤/۳۳٦)-

Scanned with Ca

سکه رونړه هم په کښې شریک دی:- ایت کښې دومره خو ښکاره دی که د دې نه زیات وی نو ثلث کښې شریك دی. دې صورت کښې د عالمانو اختلاف دې که د مرده په وارثانو کښې خاوندوی او مور وی یا نیا وی او دوه ټې مورنی رونړه وی او یا یو یا د یو نه زیات د پلارنی رونړه وی نو جمهور وائی چه دې صورت کښې به خاوند ته نیمه حصه ملاویږی .اومور یا نیا ته به شپږمه حصه ملاویږی.او چه کوم رور ټې د مور نه وی.هغه ته به یوه حصه ملاویږی. اوپه دې کښې د قدر مشترک په طور سکه رونړه هم شامل دی.کوم رونړه چې ټې د مور نه وی .د امیرالمومنین عمرفاروق ﷺ په زمانه کښې یو داسې صورت راپیښ شوې وو.نو دوی خاوند ته نیمه حصه ورکړه. او ثلث ټې هغوئ ته ورکړه چه کوم د مور نه رونړه وو،نو سکه رونړه هم پیش شو.عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه تاسو دوی سره شریك یئ . عثمان ﷺ نه هم دغه شان شریك کول او دوؤ روایتونونه یو روایت کښې داسې د ابن مسعود ﷺ او زید بن ثابت ﷺ او ابن عباس ﷺ نه مروی دی .سعید بن مسیب رحمه الله ،قاضی شریح رحمه الله ،مسروق رحمه الله ،طاؤس رحمه الله ، محمد بن سیرین رحمه الله ،ابراهیم نخعی رحمه الله ،عمر بن عبدالعزیز رحمه الله ،ثوری رحمه الله اوشریك رحمه الله نه هم دا قول نقل دې.امام مالك رحمه الله ، امام شافعی رحمه الله ،او امام اسحاق بن راهویه رحمه الله هم دې طرفته تلی دی.

د علی ﷺ رائې:- خو علی بن ابوطالب ﷺ دې کښې د شرکت قائل نه دې. بلکه دوی د مور اولاد ته دې حالت کښې ثلث ورکولو او د یو مور پلار اولاد ته به ټې هیڅ نه ورکول. ددې وجې چه دوی عصبه دی. او عصبه په هغه وخت کښې وی چه ذوی الفروض نه بچ شی بلکه وکیع بن جراح رحمه الله وائی چه علی ﷺ نه د دې خلاف مروی نه دی .ابی کعب ﷺ ،ابوموسی اشعری ﷺ نه هم دا قول نقل دې.ابن عباس ﷺ نه هم مشهور دا ده .شعبی رحمه الله ،ابی لیلی رحمه الله ،ابوحنیفه رحمه الله ،ابویوسف رحمه الله ،محمد بن حسن، حسن بن زیاد رحمه الله ، زفربن هذیل رحمة الله علیه، امام احمد رحمة الله علیه، یحیی بن آدم رحمه الله ، نعیم بن حماد رحمة الله علیه، ابوثور رحمة الله علیه، داود بن علی ظاهری رحمه الله هم دې طرفته نظر کوی . ابوالحسین ابن لبان فرضی رحمه الله هم دا اختیار کړی دی ، اوګورئی د دوی کتاب الایجاز.

مسلک حنفی:- د احنافو مسلک په مذکوره مسئله کښې د جمهورو پشان دې البته حافظ ابن کثیر فرمائیلی دی چه سکه رونړه به په کښې هم د قدر مشترک په طور شریک وی خو ثناء الله پانی پتی رحمه الله فرمائیلی دی چه د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نیز به سکه رونړه په دې کښې نه وی شامل که یو وی اوکه زیات وی ځکه چه دې عصبه دې او د ذوی الفروض نه څه پاتې شوی نه دی نو د ده په کښې څه نشته او د امام شافعی رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نیز په ثلث کښې سکه رونړه هم شریک دې (تفسیر مظهری (۲/۲۴۳)-

قوله تعالی:: مِنۢ بَعۡدِ وَصِيَّةٖ يُوصَىٰ بِهَآ أَوۡ دَيۡنٍ غَيۡرَ مُضَآرّٖ

د شرعی وصیت بوره کول ضروری دی :- بیا فرمائی چه دا تقسیم د وصیت پوره کولو نه پس دې. وصیت دې داسې وی چه خلاف عدل نه وی اونه په کښې چاته د نقصان رسولو ویره وی او نه په چا ظلم اوجبر کړې شوې وی ، اود یو وارث وراثت نه وی وهلې شوی. اونه چا ته کم زیات ورکړې شوې وی. ځوک چې ددې خلاف وصیت کوی یا د شریعت نه خلاف وصیت کولو کښې کوشش کوی نو دې دالله ﷻ دحکم اودهغه په شریعت کښې خلاف حکم کولووالا او هغه ذات سره جنګ کولووالادې.

ضرر رسول ګناه کبیره ده:- رسول الله ﷺ فرمائی چه وصیت کښې څه ضرر او نقصان رسول ګناه کبیره ده. (ابن ابی حاتم) (۱).

نسائی کښې دابن عباس ﷺ قول هم داشان مروی دې. بعضو روایتونو کښې ابن عباس ﷺ نه د دې فرمان نه پس د آیت ټکړه تلاوت کول هم مروی دی .د امام ابن جریر رحمه الله د قول مطابق صحیح هم دا خبره ده چه دا مرفوع حدیث نه دې موقوف قول دې .(۱)

---

۱) دار قطنی : ٤/١٥١،)-

د وارث دپاره د قرار حکم:- ① د آئمه کرام رحمهم الله په دې کښې اختلاف دې چه وارث دپاره چه کوم اقرار مرده اوکړی آیا هغه صحیح دې که نه ؟ بعضې وائی چه صحیح نه دې ، ځکه چه دې کښې د تهمت لګولو ګنجائش دې. حدیث شریف کښې صحیح سند سره راغلی دی چه الله ﷻ هر حقدار ته د هغه حق رسوی.او اوس وارث دپاره څه وصیت نشته دې (۱)امام مالك ، امام احمدبن حنبل رحمه الله ،امام ابوحنیفه رحمه الله نه هم داقول نقل دې . د شافعی رحمه الله هم دارومبې قول وو

② لیکن آخری قول دا دې چه اقرار کول به صحیح منلې شی . طاؤس رحمه الله ، حسن رحمه الله ، عمر بن عبدالعزیز رحمه الله نه هم دا قول نقل دې .امام بخاری رحمه الله هم دا قول خوښوی اوخپل کتاب بخاری شریف کښې هم دې ته ترجیح ورکوی. نواز

د صحت اقرار دلیل:- د هغوئ دلیل یو حدیث دا هم دې چه رافع بن خدیج رضی الله عنه وصیت اوکړو فزاریه چه په کوم څیز باندې خپلې دروازې بندې کړې وی هغه دې بیرته نکړې شی.امام بخاری رحمه الله بیا فرمائی چه بعضې خلق وائی چه دده دا اقرار کول جائز نه دی ځکه چه په دې کښې وارثانو سره بدګمانی ده. لیکن څه وایم چه رسول الله ﷺ فرمائی چه بدګمانئ نه ځان اوساتئ ،بدګمانی د ټولو نه لوئې دروغ دی. (۲) قران پاك کښې د الله ﷻ فرمان دې چه الله ﷻ تاسو ته حکم کوی چه د چا کوم امانت وی هغه امانت هغه ته اورسوئی. دې کښې د وارث او غیر وارث هیڅ تخصیص نشته دې .(۳)

تنبیه:- یادساتئ چه دا اختلاف په هغه وخت کښې دې چه کله اقرار فی الواقع صحیح وی اود نفس الامر مطابق وی اوکه صرف حیله سازی وی او بعضر وارثانو ته زیات ورکول او بعضو ته کم ورکول وی او دایو بهانه وی نو بالاجماع دا پوره کول حرام دی. او ددې آیت صفا الفاظ هم د دې د حرمت فتوی ورکوی . بیا فرمائی چه دا دالله ﷻ احکام دی چه ډیر د برداشت او علم خاوند دې .

تِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ؕ	وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ
دا حدونه دالله دی	اوڅوک چه اومنی حکم دالله تعالی	اودرسول دهغه
دادالله پاک مقرر حدونه دی	اوڅوک چې دالله اودهغه درسول حکمونه منی	
يُدْخِلْهُ	جَنّٰتٍ تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
نوداخل به کړی هغه لره	داسې باغونو ته چه بهیږی به	لاندې دهغې نه نهرونه
هغوئ به الله پاک داسې باغونو ته داخل کړی	.....چې دهغې لاندې به ولې بهیږی	
خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ	وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۞	وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ
همیشه به وی هغوئ په هغې کښې	اوداکامیابی ده لویه	اوڅوک چه نافرمانی کوی دالله تعالی
په هغې کښې به همیشه وی	.....اوهمدالویه کامیابی ده	ز او څوک چې دالله او
وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ	حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ	نَارًا خٰلِدًا
اودرسول دهغه او اوړی	دحدونودهغه نه نوداخل به کړی هغه	اور ته چه همیشه به وی
درسول حکمونه اونه منی	اودالله پاک دمقرر حدونونه مه څخکښې تیرشی	نوداسې اور ته به ئې داخل کړی چې

---

(۱) النسائی فی الکبری : ۱۱۰۹۲، وسنده صحیح)-

(۲) ابوداود کتاب الوصایا باب ماجاء للوراث : ۲۸۷۰، وسنده حسن ترمذی: ۲۱۲۰، ابن ماجة: ۲۷۱۳، نسائی: ۳٦۷۱)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الادب باب ما ینهی عن التحاسد والتدبر: ٦۰٦٤، صحیح مسلم:۲٥٦۳، ابوداود: ٤۸۸۲، ترمذی : ۱۹۲۸)

(٤) صحیح بخاری کتاب الوصایا باب قول الله تعالی (من بعد وصیة یوصی بها...) قبل حدیث : ۲۷٤۹)-

Scanned with Ca

فِيهَا	وَلَهُ	عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٤﴾	
په هغې کښې	اودپاره دهغه دې	عذاب سپکونکې	
همیشه به په کښې وی	اوهغه دپاره رسوا کونکې سزا مقرر ده		

قوله تعالی:: ﴿تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ ۚ وَمَن يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ يُدْخِلْهُ جَنَّاتٍ

په وصیت کښې د الله حدود قائمولو حکم:- اوچه کوم سړې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نافرمانی اوکړی او د هغه مقرر شوی دی حدونو نه مخکښې تیر شی نوداسړې به الله ﷻ جهنم ته واچوی په هغې کښې به دې همیشه وی.داسې خلقو دپاره ذلیل عذاب دې . یعنی دا فرائض او دا مقدار چه الله ﷻ مقرر کړی دی اود دې مړی وارثان چه الله ﷻ ددوی د قرابت والو ته او ددوی دحاجت مطابق چه څومره حصه ورکړې ده دا ټول د الله ﷻ حدونه دی.تاسو دا حدونه مه ماتوئی اومه ددې نه مخکښې خئ چه کوم سړې د هغه پاك ذات احکام اومنی،او بهانوحیلو سره خپلو ته ورکړه کښې کمې زیاتې اونکړی، د الله ﷻ حکم او دهغه فریضه هغه شان اداکړی څنګه چې الله ﷻ بیان کړې ده،نو دالله ﷻ وعده ده چه دوی به داسې جنت ته داخل کړی چه هغې کښې به همیشه نهرونه بهیږی،اودا خلق کامیاب اومقصد ته رسیدونکی دی.

قوله تعالی:: ﴿وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدَّ حُدُودَهُ

اوچه څوك د الله ﷻ حکم رد کړی او د یو وارث حصه کمه زیاته کړی ، اود الله ﷻ د رضا خیال اونه ساتی،بلکه د هغه پاك ذات حکم بدل کړی اودهغې خلاف عمل اوکړی،یعنی د الله ﷻ تقسیم نظرانداز کړی اود هغه پاك ذات حکم عدل نه ګنړی نو داسې سړې به همیشه رسوائې او رسواکن او دردناك عذاب کښې وی .

په وصیت کښې د عدل او ظلم جزا او سزا :- رسول الله ﷺ فرمائی چه یو سړې تر اویاکالو پورې دنیکئ عمل کوی ، بیا د وصیت په وخت کښې ظلم او زیاتې کوی ، دده خاتمه په خراب عمل باندې اوشی ، او دې جهنمی جوړ شی.اویو سړې د بدئی عمل اویاکاله کوی ، بیا خپل وصیت کښې عدل کوی او د ده خاتمه په نیکئ سره اوشی او دې جنت ته داخل شی . بیا د دې حدیث راوی ابوهریره ﷺ فرمائی چه دا آیت اولولئ ﴿تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ﴾ نه تر ﴿وَلَهُ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿١٤﴾﴾ پورې .

سنن ابی داود (باب الاضرار فی الوصیة) کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی یو سړې یا یوه ښځه د الله ﷻ عبادت کښې ترشپیتو کالو پورې مشغول وی ، خو د مرګ په وخت کښې وصیت کښې څه کمې زیاتې اوکړی نو د ده دپاره جهنم واجب شی. بیا ابوهریره ﷺ ﴿مِن بَعْدِ وَصِيَّةٍ﴾ نه تر د آیت آخره پورې اولوستو. ترمذی او ابن ماجه کښې هم دا حدیث دې ، امام ترمذی دې ته حسن غریب وائی. مسند احمد کښې دا حدیث مکمل او پوره موجود دې (١).

وَاللَّاتِي	يَأْتِينَ	الْفَاحِشَةَ					
او هغه ښځې	چه راشی	کار دزنا ته					
اوستاسوپه زنانه کښې څوک چې بدکاری اوکړی							
مِن نِّسَائِكُمْ	فَاسْتَشْهِدُوا	عَلَيْهِنَّ	أَرْبَعَةً	مِّنكُمْ ۖ	فَإِن شَهِدُوا		
دښځو ستاسو نه	نو ګواهی واخلئ	خلاف دهغوئ	دڅلورو کسانو	ستاسونه	نوکه ګواهی اوکړه هغوئ		
نوپه هغوئ باندې څلور کسان ګواهان پیش کړئ	نوکه څلور کسان پرې ګواهی ورکړی						

(١) احمد: ٢/٢٧٨، ابوداود: ٢٨٦٧، ابن ماجة: ٢٧٠٤، وسنده حسن)-

فَأَمْسِكُوهُنَّ	فِي الْبُيُوتِ	حَتَّىٰ	يَتَوَفَّاهُنَّ الْمَوْتُ	أَوْ يَجْعَلَ
نوبندی کړئ هغوئ	په کو رونو کښې اتردې پورې	چه واخلی هغوئ لره مرګ	یا اوګرځوی	
نوهغوئ په کورونو کښې ترهغې پاپندې کړئ چې مرګ نې فنا کړی	اویا ورته الله تعالی			
اللَّهُ لَهُنَّ	سَبِيلًا ۝	وَاللَّذَانِ	يَأْتِيَانِهَا	مِنكُمْ
الله	ادپاره دهغوئ| لار د خلاصی| اوهغه دوه کسان| چه راشی د زنا دې کار ته	ستاسونه	
بله څه لار (قانون) راوباسی	اوپه تاسو کښې کوم دوه کسان چې بدکاری اوکړی			
فَآذُوهُمَا ۚ	فَإِن تَابَا	وَأَصْلَحَا		
نوتکلیف اورسوئ هغوئ دواړو ته	نوکه توبه اوویستله دواړو	اوصحیح کړو دواړو عمل خپل		
نوسزا ورته ورکړئ	.....نوکه توبه اوباسی	.....اود خپلو عملونو اصلاح اوکړی		
فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا ۗ	إِنَّ اللَّهَ	كَانَ تَوَّابًا	رَّحِيمًا ۝	
انوپریږدئی| هغوئ دواړه| بیشکه الله	دیر توبه قبلونکی| رحم کوونکی دې|	
نوبیا نې پریږدئ	بیشکه الله پاک توبه قبلونکی او مهربان دې			

قوله تعالی:: وَالَّتِي يَأْتِينَ الْفَاحِشَةَ مِن نِّسَائِكُمْ

د زنا اولنی منسوخ حکم:- د اسلام شروع کښې دا حکم وو چه کله به د عادلانو ګواهانو ربنتونې ګواهئ سره د ښځې بدکاری ثابت شوه نو هغې باره کښې داحکم وو چه هغه به دکورنه بهر نشی پرینښودلې اوکور کښې دې قید کړې شی او همیشه دې قید کړې شی یعنی مرګ نه دې مخکښې داپرې نښودې شی.د دې بیان فرمائی چه دا بله خبره ده چه الله ﷻ د دوی دپاره څه بله لار راوباسی. بیا چه کله د دویم صورت سزا تجویز شوه نو هغه ناسخ شو اودا حکم ختم شو.

د زنا دویم او ناسخ حکم:- ابن عباس ﷺ فرمائی چه کله د سورة نور آیت نه وو نازل شوې نو د بدکارې ښځې هم دا حکم وو. بیا دې آیت کښې د واده شوې ښځې د رجم یعنی هغه په کانړو ویشتلو او ناواده کړې ته د کوړو ورکولو حکم نازل شو. عکرمه ﷺ ، سعید بن جبیر ﷺ ،حسن ﷺ ، عطاء ﷺ ، ابوصالح ﷺ ، قتاده ﷺ ، زید بن اسلم ﷺ اوضحاك نه هم داقول نقل دې چه دا آیت منسوخ دې اودې امر باندې دټولو اتفاق دې .

د زنا اولنی حکم منسوخیت دلیل:- عباده بن صامت ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ باندې کله وحی نازله شوه نو رسول الله ﷺ باندې به د دې ډیر اثر وو .اوتکلیف به نې محسوسولو. او د رسول الله ﷺ مخ مبارک به زیړ شو او رنګ مبارك نې بدل شو. الله ﷻ خپل نبی ﷺ باندې یو وحی نازل کړه هرکله چه هغه ختمه شوه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خما خبره واوری الله ﷻ د دې دپاره لار راوښکله . که واده شوې سړې او واده شوې ښځه وه نو سل کوړې ، بیا کانړو سره ویشتل او که واده شوی نه وی نو سل کوړې او دیو کال جلاوطنی (مسلم وغیره) ([1])ترمذی وغیره کښې دا حدیث د الفاظو بدلون سره راغلې دې . امام ترمذی ﷺ دې ته حسن وائی . داشان ابوداود کښې هم دی.([2])دابن مردویه غریب حدیث کښې دی چه ناواده شوی او واده شوی دې حکم سره دا هم دی که دواړه بوډاګان وی نو دوی به رجم کولې

---

[1]) احمد: ٣١٨/٥، صحیح مسلم: کتاب الحدود باب حد الزنی : ١٦٩٠)-.

[2]) ابوداود کتاب الحدود باب فی الرجم: ١٤٣٤، ابن ماجة: ٢٥٤٩، وصحیح مسلم: ١٦٩٠/١٣)-

Scanned with Ca

شی لیکن دا حدیث غریب دی . طبرانی کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمانیلی دی چه د سورة نساء نازلیدو نه پس اوس د منع کولو حکم پاتې نشو. (یعنی د کور نه د وتلو نه د منع کولو حکم) (١)

د امام احمد رحمه الله مذهب د دی حدیث مطابق هم دا دی چه زانی واده شوی ته دې کوړې هم ورکړې شی اورجم هم .اوجمهور وائی چه کوړې به نشی ورکولې بلکه رجم کولې به شی.ځکه چه رسول الله ﷺ ماعز رضی الله عنه اوغامدیه ښځه رجم کړه. او کوړې نې ورته ورنکړې . دعه شان دوؤ یهودیانو ته هم رسول الله ﷺ د رجم کولو حکم کړې وو د رجم کولو نه مخکښې ئې د کوړو حکم نه وو فرمانیلې . نو د جمهورو د قول مطابق معلوم شو چه دوی ته د کوړو ورکولو حکم منسوخ شوې دې . ضرروی نه دی ، والله اعلم.

مسلک حنفی:- اوپه محصن کښې به د سنګسارسره د کوړو دواړه سزاګانې نشی جمع کولې.ځکه چه رسول الله ﷺ دا دواړه سزاګانې نه دی جمع کړې.اوددې وجې هم چه د سنګسارنه پس د کوړو وهلوځه فائده نشته.ځکه چه نورو ته د تنبیه ورکولوفائده په سنګسارکولوسره حاصلیږی.ځکه چه سخته سزا خو سنګسارکول دی.اوخپله زناکارته هم د هغه دمرګ نه پس تنبیه نشی ملاویدې.(٢)

قوله تعالی:: وَالَّذٰنِ يَأْتِيٰنِهَا مِنكُمْ فَاٰذُوهُمَا

د لواطت حکم:- بیا فرمائی که د بې حیایئی دا کار دوه سړی خپلو کښې اوکړی نو دوی ته تکلیف ورکړئی یعنی دوی ته بدرد اووائې او شرم اوغیرت ورته مخکښې کړئی . دا حکم هم داشان شو تر دې چه الله ﷻ د کوړو او اورجم سره منسوخ کړل. عکرمه رحمه الله ، عطاء رحمه الله ،حسن رحمه الله ،عبدالله بن کثیر رحمه الله فرمائی چه د دې نه مراد سړې او ښځه دی .

سدی رحمه الله فرمائی چه د دې نه مراد هغه ځوانان هلکان دی چه واده شوی نه وی. مجاهد رحمه الله فرمائی چه د لواطت باره کښې دا آیت نازل شوې دې . رسول الله ﷺ فرمائی چه څنګه تاسو لواطت باندې څوک اوګورئی نو دې او دا دویم کس دواړه قتل کړئی.(٣)

قوله تعالی:: فَإِنْ تَابَا وَأَصْلَحَا فَأَعْرِضُوا عَنْهُمَا

که دوی ددې خپل کار نه منع شی او توبه ګارشی او صحیح شی نو بیا تاسو دوی سره سختی مه کوئی اودوی سره خبرو کښې نرمی کوئی. ځکه چه ګناه نه توبه کونکی داسې دې لکه چه ده هډو ګناه کړې نه وی. الله ﷻ توبه قبلونکې دې اوبردبار دې .

د وینځې د بدکارئ سزا:- صحیح بخاری اومسلم کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی که د چا وینځه بدکاری اوکړی نو د دې مالك دی دې ته حد ورکړی او په دې دې غصې نه کوی (١)یعنی د حد ورکولو نه پس دې دا نه وهی ځکه چه حد کفاره ده.

		إِنَّمَا التَّوْبَةُ		
		ابیشکه قبلول دتوبې		
		اصل خبره داده چې		
عَلَى اللَّهِ	لِلَّذِينَ	يَعْمَلُونَ السُّوءَ	بِجَهَالَةٍ	ثُمَّ يَتُوبُونَ
حق دې په الله تعالی باندې	دپاره دهغه کسانو	چه کوی بد عمل	په ناپوهئ سره	بیا توبه اوباسی
الله پاک دهغه کسانو دتوبې قبلولو حق په خان منلې دې		چې په ناپوهئ کښې یو غلط کار اوکړی		

---

١) دار قطنی ٦٨/٤، بیهقی : ١٦٢/٦،)-

٢) تسهیل الهدایه (١٣٦/٤)-

٣) ابوداود کتاب الحدود فیمن عمل قوم لوط : ٤٤٦٢، وسنده حسن ترمذی: ١٤٥٦، ابن ماجة: ٢٥٦١)-

١) صحیح بخاری کتاب الحدود باب لایثرب علی الامة اذا زنت : ٦٨٣٩، صحیح مسلم: ١٧٠٣)-

Scanned with Ca

مِنْ قَرِيْبٍ فَأُولٰٓئِكَ يَتُوْبُ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ط وَكَانَ اللّٰهُ
زر نودغه کسان چه دی|رجوع به کوی په رحمت سره الله تعالی| په هغوئ باندې| اودې الله تعالی|
اوبیا ډیرزرتوبه اوباسی	نوداسې خلقو ته الله پاک درحمت په نظر گوری	اوالله پاک
عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝١٧ وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ج
په هر څه پوهه اوصاحب د حکمت |اونشته قبلول| دتوبې	دپاره دهغه کسانو| چه کوی بدکارونه|
په هرڅه پوهه او دهرمصلحت نه خبر دې	اوتوبه دهغه چا دپاره نه ده	.....چې ګناهونه کوی
حَتّٰٓى اِذَا حَضَرَ اَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ اِنِّيْ تُبْتُ الْـٰٔنَ
تردې پورې| چه کله| حاضر شی|یوته په هغوئ کښې| مرګ| (نو) وائی| چه بیشکه ماتوبه کړه| اوس|
تردې چې په دوئ کښې دچا دمرګ وخت راشی	نو (هغه وخت) نې اوونیل	چې اوس مې توبه ده
وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ط اُولٰٓئِكَ
اونه ده قبوله توبه دهغه کسانو |چه مړۀ شی| په داسې حال کښې چه هغوئ| کافران وی| دا کسان چه دی	
اونه (توبه)دهغه چا دپاره چې کافر مړشی| .....دغه کسانو دپاره
اَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝١٨
تیارکړې دې مونږ| دپاره دهغوئ| عذاب	دردناک
مونږ دردناک عذاب تیارکړې دې	

قوله تعالی:: اِنَّمَا التَّوْبَةُ عَلَى اللّٰهِ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السُّوْٓءَ بِجَهَالَةٍ

په ناپوهتیا سره ګناه کولو نه پس توبه :- مطلب دا دې چه الله ﷻ د خپلو هغه بندګانو توبه قبلوی چه په ناخبرئی کښې څوک بدکار اوکړی . بیا توبه اوباسی نودا داسې شو چه ګویا ده هډو ګناه نه ده کړې خو دا توبه بهٔ د ملك الموت کتلونه مخکښې وی. مجاهد رحمه الله فرمائی چه څوک هم غلطئ سره یا په قصدسره څه نافرمانی اوکړی هغه جاهل دې چه تر کومې پورې د دې نه منع نه شی (١). ابوالعالیه رحمه الله فرمائی چه صحابه کرامو رضی الله عنهم به فرمائیل چه بنده چه کومه ګناه اوکړی هغه جهالت دې(٢)قتاده رحمه الله هم د صحابه کرام یو ډلې نه داسې روایت کوی.عطاء رحمه الله ابن عباس رضی الله عنه نه هم دغه شان مروی دی .

د مرګ نه وړاندې توبه ویستلو حکم :د زرتوبه ویستلوتفسیر کښې دی چه ملك الموت کتلو نه مخکښې وخت ته سکرات ته نزدې وئیلې شوی دی،خپل صحت کښې توبه کول پکار دی.دساه وتلو نه مخکښې توبه کول پکار دی.عکرمه رحمه الله فرمائی چه دنیا ټول په ټوله نزدې ده. ددې متعلق احادیث واورئی.

د ځنکدن نه وړاندې توبه:- رسول الله ﷺ فرمانی چه الله ﷻ د خپلو بندګانو توبه قبلوی ترکومې چه دده ځنکدن شروع نشی. (ترمذی) (٣).

د مرګ نه څومره وړاندې توبه قبلیږی؟:- چه کوم مومن بنده د خپل مرګ نه یو میاشت مخکښې توبه اوباسی نو د ده توبه الله ﷻ ته قبوله ده. تردې چه دې (یومیاشتې) نه پس هم بلکه د مرګ نه یوورځ مخکښې ،بلکه دې نه یو ساعت مخکښې هم چه څوک اخلاص سره توبه اوکړی او خپل رب طرفته

---

(١) الطبری: ٨/٨٩)-

(٢) الطبری: ٨/٨٩)-.

(٣) ترمذی کتاب الدعوات باب ان الله یقبل توبة العبد مالم یغر غر: ٣٥٣٧، وهو حسن ابن ماجة: ٤٢٥٣)-

Scanned with Ca

رجوع اوکړی نو الله ﷻ د ده توبه قبلوی. عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی چه څوك د مرګ نه یو کال مخکښې توبه اوباسی نوالله ﷻ د هغه توبه قبلوی ، او چه څوك یو میاشت مخکښې توبه اوباسی نو الله ﷻ دده توبه قبلوی . او چه څوک یوه هفته مخکښې توبه اوباسی نو الله ﷻ د هغه توبه قبلوی ، او چه څوك یو ورځ مخکښې توبه اوکړی نو الله ﷻ د هغه قبلوی. ددې آوریدو سره ابوایوب انصاری ﷺ دا آیت اولوستو نو دوی اوفرمائیل چه هم هغه وایم چه څه مې د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی.

په توبه قبلولو کښې د الله مهربانی:- مسند احمد کښې دی چه څلور صحابه کرام ﷺ جمع شول او په هغوئ کښې یو اووئیل مادرسول الله ﷺ نه آوریدلی دی (١)چه کوم سړی د خپل مرګ نه یو ورځ مخکښې هم توبه اوباسی نو الله ﷻ د هغه توبه قبلوی .دویم تیپوس اوکړو چه آیا دا ربښتیا دی چه دا تا د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی ؟ هغه اووئیل چه آؤ. نوبل اوئیل چه ما د رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی که نیمه ورځ مخکښې هم توبه اوباسی نو الله ﷻ د هغه توبه قبلوی.دریم اووئیل چه تا دا آوریدلی دی ؟ هغه اووئیل چه آؤ. وې وئیل چه ما آوریدلی دی که یو ساعت مخکښې هم ورته توبه ورته نصیب شی نو الله ﷻ د هغه توبه قبلوی . څلورم اووئیل چه تا دا آوریدلی دی ؟ هغه اووئیل چه آؤ ما آوریدلی دی . هغه څلورم اووئیل چه ما رسول الله ﷺ نه تردې پورې آوریدلی دی چې تر کومې پورې د ده مرئی ته روح نه وی راغلې نو د ده دپاره د توبې دروازې بیرته وی. (٢)ابن مردویه کښې دی چه تر کومې پورې د ده غرغره شروع نشی نوترهغه وخت پورې د ده توبه قبوله ده(٣) ډیرومرسلو احادیثوکښې دا مضمون راغلې دی.

الله او د شیطان قسمونه:- ابوقلابه رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ کله په ابلیس لعنت اوکړو نو هغه وخت اوغوښتواووې وئیل چه ستا په عزت او جلال قسم چه ترکومې د ابن آدم بدن کښې روح وی نو څه به د هغه د زړه نه نه اوزم. الله ﷻ اوفرمائیل چه ځما دې په خپل ذات قسم وی چه تر کومې پورې په هغه کښې روح وی نودهغه توبه به قبلوم.یو مرفوع حدیث مبارك کښې هم دې ته نزدې نزدې(بیان)نقل دې.

دحافظ ابن کثیر رحمه الله تبصره :- د دې تولو احادیثو نه معلومیږی چه کله ترکومې پورې ژوندې وی او ده ته د خپل ژوند امید وی نو تر هغه وخته پورې چه دې الله ته توبه اوباسی نو الله ﷻ هغه قبلوی. او په ده باندې رجوع کوی او الله ﷻ علیم او حکیم دې .

قوله تعالی:: وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِيْنَ يَعْمَلُوْنَ السَّيِّاٰتِ ۚ

د ځنکدن په وخت کښې د توبې حکم:- خو کله چه د ژوند نه مایوسه شی او فرښتې اوګوری او د ده بدن نه روح اوځی او حلق ته راورسی او سینه کښې ښخ شی اوحلق ئې غرغره شروع کړی نو بیا دده توبه نه قبلیږی . ځکه چه الله د دې نه پس فرمائی چه تر مرګه پورې چه کوم ګناهونه ئې کړی وو او کله دې مرګ اوګوری او ا ووائی چه اوس څه توبه کوم نو د داسې سړی توبه قبوله نه ده لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿فَلَمَّا رَاَوْا بَاْسَنَا﴾ (دوؤ آیتونو پورې) مطلب دا دې چه ځمونږ د عذابونو معائنه کولو نه پس ځمونږ د ایمان اقرار کول نفع نه ورکوی. اوبل ځائې کښې دی چه ﴿يَوْمَ يَاْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ﴾ الخ ، مطلب دا دې چه کله مخلوق نمر لره د مغرب نه راختو باندې وینی نو په هغه وخت کښې به دوی ایمان راوړی نو نه خو به د دوی ایمان قبول وی او نه به د دوی عمل دوی ته نفع ورکوی.

قوله تعالی:: وَلَا الَّذِيْنَ يَمُوْتُوْنَ وَهُمْ كُفَّارٌ ۚ

د مشرک ببښنه نشته :- بیا فرمائی چه کفر او شرك باندې چه څوك مړه شی نو د دوی ندامت او توبه به

---

(١) مسند الطیالسی : ٢٢٨٤)-

(٢) احمد: ٣/٤٢٥)

(٣) مسند البزار : ٣٢٧٣، مجمع الزوائد : ١٠٩٨)-

Scanned with Ca

دوی ته هیڅ فائده نه ورکوی . اونه به فدیه او نه به بدله دوی ته څه فائده ورکوی. اګر چه دوی د ټولې زمکې برابر سرزر هم ورکړی.

دپردې حائل کیدو نه وړاندې توبه قبلیدل:- ابن عباس ﷺ وغیره فرمائی چه دا آیت د اهل شرك باره کښې نازل شوې دې . مسند احمد کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه الله ﷻ د خپل بنده توبه قبلوی. او دې ښښی. ترکومې چه پرده رانشی . ورته اووئیلې شو چه پردې نه څه مطلب دې ؟ وې فرمائیل چه د شرك حالت کښې چه نې ساه اوزی (١) داسې خلقو دپاره الله ﷻ سره سخت او دردناك عذاب تیار کړې دې او همیشه به دوی په هغې کښې وی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
اې هغه کسانو چه ایمان مو راوړې دې
اې دایمان خاوندانو!
لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ؕ وَلَا تَعْضُلُوْهُنَّ
نه دی حلال تاسو لره چه میراث کښې واخلئ ښځې په زور سره او مه تنګوئی هغوئ
تاسو دپاره جائز نه دی چې په زور د ښځو نه میراث یوسئ او هغوئ (په دې غرض) مه تنګوئ
لِتَذْهَبُوْا بِبَعْضِ مَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ
دپاره ددې چه واخلئ تاسو بعضې هغه مال (مهر) چه تاسو ورکړې وی هغوئ ته البته که هغوئ راشی
چې دخپل ادا شوی مهر څه حصه تری نه واپس واخلئ ..... مګر که هغوئ
بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۚ وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ۚ فَاِنْ كَرِهْتُمُوْهُنَّ
بدکارنی ته ښکاره سره او ژوند تیروئی هغوئ سره په ښه طریقه نو که نه خوښوئ تاسو هغوی لره
ښکاره بدکاری اوکړی انو بیا (نې تنګولې شئ) او د ښځو سره په ښه طریقه وخت تیروئ که هغوئ ستاسو خوښې نه وی
فَعَسٰٓى اَنْ تَكْرَهُوْا شَيْـًٔا وَّيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيْهِ خَيْرًا كَثِيْرًا ﴿١٩﴾ وَاِنْ
اکیدیشی چه تاسو نه خوښوئی یو څیز او کیخودې وی الله تعالی اپه هغې کښې خیر ډیر او که چرې
نو داکیدیشی چې یو څیز ستاسو خوښ نه وی او الله پاک په هغې کښې تاسو له ډیره فائده ایخودې وی
اَرَدْتُّمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَّكَانَ زَوْجٍ ۙ وَّاٰتَيْتُمْ اِحْدٰىهُنَّ
اراده اوکړه تاسو د بدلولو دیوې ښځې په خائې د بلې ښځې حال دا چه ورکړې وی تاسو ایو د هغوئ ته
او که تاسو (په ښه طریقه وخت نشئ تیرولئ) او دیوې په خائې بله ښځه بدلول غواړئ او یوې ته مو
قِنْطَارًا فَلَا تَاْخُذُوْا مِنْهُ شَيْـًٔا ؕ اَتَاْخُذُوْنَهٗ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا
ډیر مال نو مه اخلئ تاسو د هغه مال نه څه څیز آیا تاسو به اخلئ هغه (مال) په تور پور کولو سره او په ګناه
ډیر مال ورکړی وی انو هغه تری واپس مه اخلئ ..... آیا تاسو دا غواړئ چې په بهتان تړلو او ښکاره

(١) احمد:٥/١٧٤.

مُّبِيْنًا ﴿٢٠﴾ وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ
ښکاره سره|او څه رنګ به ا خلئ تاسو|او حال دا چه| رسیدلی وی	ځینې ستاسونه	ځینوته (په کوروالی سره)|
ظلم کولو باندې دغه مال واخلئ	اوداځنګه واپس اخستئ شئ حال دا چې تاسویوبل سره لیدل کتل کړی دی
وَّاَخَذْنَ مِنْكُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ﴿٢١﴾ وَلَا تَنْكِحُوْا مَا
او اخستی وی هغوئ	ستاسونه	وعده	کلکه (په نکاح سره)| اومه کوئی نکاح| دهغې سره|
اوهغوئ ستاسونه دنکاح په وخت کښې مضبوطې وعدې اخستې وی |اوهغه ښځو سره هیڅرې نکاح مه کوئ
نَكَحَ اٰبَآؤُكُمْ مِّنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ؕ اِنَّهٗ
چه نکاح کړی وی| پلارانو ستاسو| دښځونه |البته څه چه	وړاندې شوی دی	بیشکه داکار
چې کوموسره ستاسوپلرونو نکاح کړی وی| (ددې حکم نه چې مخکښې څه اوشوهغه اوشو بیا دپاره خیال ساتئ
كَانَ فَاحِشَةً وَّمَقْتًا ؕ وَسَآءَ سَبِيْلًا ﴿٢٢﴾
دې دبې حیائی	اودغصې	اوبده لاره ده	
خکه چه دا ډیره دبې حیائی خبره ده	اودنفرت کار دی	

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَرِثُوا النِّسَآءَ كَرْهًا ؕ

ښځې په وراثت کښې د اخستلو ممانعت :- صحیح بخاری کښې دی ابن عباس ﷺ فرمائی چه کله به یو سړی مړ شو نو د هغه وارثان به د دې ښځې پوره حقدار ګنړلې شو. که په هغوئ کښې به چا غوښتل نوهغه به ئې خپله نکاح کښې اخسته. اوکه هغه به غوښتل نو د بل چا نکاح کښې به ئې ورکوله. که غوښتل به ئې نو نکاح کولو ته به ئې نه پریښودله . د ښځې د خپلوانونه زیات به دا خلق د دې حقدار ګنړلې شو. د جاهلیت د دې رسم خلاف دا آیت نازل شو.(۱)

دویم روایت:- دویم روایت کښې داهم راغلی دی چه هغه خلقو به دا ښځه مجبوروله چه هغه د مهر د حق نه دستبرداره شی ګنی داسې بې نکاح ناسته وی. (۲)

دریم روایتک:- داهم مروی دی چه په هغوئ کښې به ځوك راغلل او د دې ښځې د خاوند په مرګ به ئې په دې ښځه باندې څادر واچولو نو هغه د دې ښځې مختار ګنړلې شو.

څلورم روایت:- اویو روایت کښې دی که دې څادر اچونکی به دا ښځه ښکلې اومونده نو خپله نکاح کښې به ئې اخسته.که دا به ښکلې نه وه نو دابه هسې ناسته وه تر دې چه دې ته به مرګ راغلو او بیا به د دې د مال وارث شو.

پنځم روایت:- دا هم مروی دی چه د مړی یو نزدې دوست به په دې کپړا واچوله نو بیا به که هغه د دې ښځې بدله کښې څه فدیه ورکړه نو هغه ته به ئې د نکاح کولو اجازت ورکولو ګنی هسې به ترمرګه ناسته وه.

شپږم روایت:- زید بن اسلم رحمه الله فرمائی چه د اهل مدینه به دا دستور وو چه وارث به د دې ښځې هم وارث جوړیدو.دې خلقو به دې ښځې سره ډیر خراب سلوك کولو. تر دې چه د طلاق ورکولو په وخت کښې به ئې دوی ته شرط اینبودو چه چرته څه غواړم نو ستا نکاح به هلته کوم. دغه شان قید نه د

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النساء باب (لا یحل لکم ان ترثو ا لنساء کرها..) : ٤٥٧٩، ابوداود: ٢٠٨٩)-
۲) ابوداود کتاب النکاح باب فی قوله تعلی(لا یحل لکم ان ترثو.....) : ٢٠٩٠، وسنده حسن)-

Scanned with Ca

ازادیدو صورت به دا وو چه هغه ښځې ته څه ورکړی اوخان ترې خلاص کړی .الله ﷻ ددې نه مومنان منع کړل.

اتم روایت:- ابن مردویه کښې دی چه کله ابوقیس بن اسلت وفات شو نو د هغه ځوئې د هغه ښځې سره نکاح کول غوښتل لکه څنګه چه د جاهلیت په زمانه کښې دستور وو. نودې باندې دا آیت نازل شو.

نهم روایت:- عطاء رحمه الله فرمائی چه د یو بچی په پرورش کولوبه ئې هغه خرچ کولو.

لسم روایت:- مجاهد رحمه الله فرمائی چه کله به څوک مړ شو نو د هغه ځوئې به د هغه ښځې حقداً رګنړلې شو. که هغه به غوښتل نوپخپله به ئې دې خپلې ناسکه مورسره نکاح کوله اوکه غوښتل به ئې نو د بل چا نکاح کښې به ئې ورکوله. لکه رور یا وراره یا چه چرته به ئې غوښتل .

یوولسم روایت:- عکرمه رحمه الله روایت کوی چه د ابوقیس د دې ښځې نوم کبشه وو. هغې د دې صورت خبر رسول الله ﷺ ته ورکړو چه نه خو ماته دا خلق د خپل خاوند په میراث کښې حصه راکوی اونه ما پریږدی چه څه بل چرته نکاح اوکړم. نو دې باندې دا آیت نازل شو. (١)

دولسم روایت:-یو روایت کښې دی چه د کپړې اچولو رسم نه مخکښې که ښځه به اوتښتیده او خپل مورپلارکره به راغله نو هغې ته به خلاصې ملاؤ شو.

دیارلسم روایت:- مجاهد رحمه الله فرمائی چه کله به دوی ته یوه یتیمه ماشومه پاتې شوه نو هغه به دوی نه ورکوله(مورته)په دې امید چه کله ځمونږ ښځه مړه شی نو دې سره به نکاح اوکړویا به د خپل ځوئې دې سره نکاح اوکړو.

دروایاتوخلاصه:- اوس د دې ټولو اقوالو نه معلومه شوه چه د دې ټولو صورتونو نه الله ﷻ په دې آیت مبارک کښې منع اوفرمائیله. او ښځو ته د دې مصیبت نه نجات ملاؤشو. والله اعلم .

قوله تعالی:: وَلَا تَعْضُلُوهُنَّ لِتَذْهَبُوا بِبَعْضِ مَا آتَيْتُمُوهُنَّ

بیافرمانی چه دې ښځو ته د خوراک ځکاک او ژوند تیرولو کښې تکلیف او پریشانی مه ورکوئی چه یا خودې هغوئ خپل مهر پریږدی او یا دې دوی ته څه پریږدی یا خپل څه بل حق نه لاس اووینځی اودا به په دې باندې مجبورولې او زورولې شوه.

ابن عباس ﷺ فرمائی چه د دې مطلب دا دې چه ښځه ئې خوښه نه ده ، دې سره ئې زړه او نه لګیدو او داپرپریښودل غواړی نودې صورت کښې به مهر او ټول حقوق وغیره ورکول وی. اوددې نه دبچ کیدو دپاره په دې ښځه باندې زورزیاتې کوی اورنګ رنګ تکلیفونو کښې ئې راګیروی چه هغه خپل حقوق پریږدی اولاړه شی اویاراضی شی .نو دې صورت کښې قرآن پاک مسلمان ته خبرداری ورکړو چه دا صورت پریږدنی .ابن سلمانی رحمه الله فرمائی چه دې دواړو آیتونو کښې رومبې آیت د جاهلیت امر ختمولو دپاره او دویم ایت د اسلام د دامرداصلاح دپاره نازل شوې وو.

قوله تعالی:: إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ

دفاحشه په تفسیرکښې اقوال:- ①ابن مبارک رحمه الله هم دا فرمائی . مګردې صورت کښې چه د دوی نه ښکاره بې حیائی صادر شی . دې نه مراد په قول د اکثرو مفسرینو صحابه کرامو ﷺ وغیره زناکاری ده. یعنی دې صورت کښې جائز دی چه دې دې نه مهر واپس واخستې شی. او هغه دې پریشانه کړې شی چه خلع باندې راضی شی (٢) لکه څنګه چه د سورة بقره آیت مبارک کښې دی چه ﴿لَا يَحِلُّ لَكُمْ﴾ الخ. یعنی تاسو دپاره حلال نه دی چه تاسو د هغې نه څه واخلئ چه کوم تاسو هغې ته ورکړی دی . مګر دې حالت کښې چه دواړه د الله ﷻ حدونه قائم نشی ساتلې او د دې ویره وی الخ.

---

(١) الطبری : ٨٨٧٤ ،)-

(٢) الطبری: ٨/١١٥)-.

Scanned with Ca

② بعضو برزګانو فرمائیلی دی چه ﴿بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ﴾ نه مراد د خاوند خلاف کیدل ، د هغه نافرمانی کوی،خوله غلطه خوزول،خراب اخلاق،د زوجیت حقوق ښه طریقې سره نه ادا کول وغیره دی. (۱)

③ امام ابن جریر رحمه الله فرمائی چه د دې آیت الفاظ عام دی ، دې کښې زنا او دا دواړه په دې کښې شامل دی یعنی هغه ټولو صورتونوکښې چه خاوند لره مباح وی چه هغه تنګ کړی چه هغه خپل ټول حقونه یا لږ حق پریږدی او بیا هغه جدا کړی .دامام صاحب رحمه الله دا فرمان ډیر مناسب دې ، والله اعلم . دا روایت هم مخکښې تیر شویدې چه تر دې پورې ددې آیت د نازلیدو سبب دجاهلیت رسم دې . چه په دې کښې الله ﷻ منع فرمائیلې ده . ددې نه معلوم شو چه دا پوره بیان دامر جاهلیت داسلام نه دختمولو دپاره شوې دې.

د ایت شان نزول:- ابن زید فرمائی چه د مکې قریشو کښې دا خبره وه چه کله به د یو سړی یو شریفې ښځې سره نکاح اوشوه او د دوی موافقت به نه وو نو دې سړی به هغې ته طلاق ورکولو ، لیکن دا شرط به په کښې وو چه د هغه د اجازت نه بغیر به دې بل ځائې کښې نکاح نشوه کولې . په دې خبره به ئې ګواه مقرر کړو.او اقرار نامه به ئې اولیکله.اوس که چرته نه به پیغام راغلو او هغه ښځه به راضی وه نو دې سړی به وئیل چه ته ما ته دومره رقم راکړه نو څه به تاته د نکاح کولو اجازت درکړم. که هغې به ادا کړو نو ورته به ئې اجازت ورکړو ګنې دغه شان به هغه پاتې وه او بله نکاح به ئې نشوه کولې . ددې ممانعت په دې آیت کښې نازل شو.دمجاهد رحمه الله په قول دا حکم او د سورة بقرة آیت دواړه یو دې.

قوله تعالی:: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾

ښځو سره د ښۀ سلوک حکم:- بیا فرمائی چه ښځو سره نیک سلوک کوئی چه هغوئ ستاسو دپاره ښائسته اوښه حالت کښې وی. تاسو هم خپل حالت ښه ساتئ. لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ یعنی لکه څنګه چه ستاسو حقوق په دوی باندې دی نودغه شان د هغوئ حقوق په تاسو باندې دی.

بهترین سړی څوک دی؟:- رسول الله ﷺ فرمائی چه په تاسو کښې بهترین سړی هغه دې چه خپلې کور والا سره بهتر سلوک کوی څه خپلو بیبیانو سره ښه سلوک کوم. (۲)

د نبی کریم ﷺ خپلو بیبیانو سره سلوک:- رسول الله ﷺ د خپلو بیبیانو سره ډیرې خوشحالئ ، مهربانئ ، نرمو اخلاقو او رونړ تندی سره ملاویدلو. هغوئ سره به ئې د خندا خوشحالئ خبرې کولې . د هغوئ زړونه به ئې خپل لاس کښې ساتل . هغوئ ته به ئې ښه خوراک څکاک ورکولو. په فراخه زړه به ئې دوی باندې خرچ کولو. داسې دخنداخبرې به ئې کولې چه دې سره به هغوئ ځندل. داسې هم شوی دی چه رسول الله ﷺ عائشه رضی الله عنها سره منډه هم وهلې ده. چه په هغه منډه کښې عائشه رضی الله عنها مخکښې لاړه. څه موده پس بیا ئې منډه اووهله نو دې ځل عائشه رضی الله عنها روستو پاتې شوه. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بدل خلاص شو(۳)

د دې نه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چه دې سره عائشه صدیقه رضی الله عنها خوشحاله شی. چه کومې بی بی سره به رسول الله ﷺ شپه تیروله نو ټولې بیبیانې به هلته جمع شوې .یو ساعت نیم به کښیناستې او خبرې اتړې به ئې کولې . کله کله به داسې هم کیدل چه رسول الله ﷺ به هغوئ سره یو ځائې خوراک اوکړو او بیا به ټولې خپلوخپلو کورونو ته تللې او رسول الله ﷺ به هم هلته آرام کولو چه کوم ځائې به د شپې تیرولو نمبر وو. خپلې بی بی صاحبې رضی الله عنها سره به یو څادر کښې ځملاستو او قمیص مبارک به ئې

---

(۱) الطبری: ۸/۱۱۷)-

(۲) ترمذی کتاب المناقب باب فضل ازواج النبی : ۳۸۹۵ وهو صحیح)-

(۳) ابوداود کتاب الجهاد باب فی السبق علی الرجل : ۲۵۷۸، وسنده صحیح ابن ماجة: ۱۹۷۹، مختصرا)-

Scanned with Ca

اوویستلو ، صرف تهبند به ئې وو. د ماستخن مونځ نه پس به کور ته تلو اوساعت دوه به ئې خبرې اترې کولې چه دې سره به د کور والو زړه خوشحاله شو. غرض دا چه ډیر محبت او مینې سره به رسول الله ﷺ وخت تیرولو. نو مسلمانانو ته پکار دی چه خپلو بیبیانو سره ښه په مینه او محبت سره اوسیږی . الله ﷻ فرمائی چه ستاسو ښه والئ ځما د نبی په نقش قدم تلل دی . د دې تفصیلی احکامو ځایې تفسیر نه دې بلکه په دې مضمون کتابونه شته دې . والحمد لله .

قوله تعالی:: فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَىٰ أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا

ښځو سره د ښه سلوک تاکید:- بیا فرمائی که ستاسو زړه نه غواړی نو بیا هم تاسو خپلو بیبیانو سره ښه سلوک کوئی اودامکن دی چه الله ﷻ تاسو ته ډیره ښیګړه درکړی . ممکن دی چه نیک اولاد درته درکړی. اودې سره الله ستاسو نصیب ښه کړی .

دښځې باره کښې مومن ته نصیحت:- صحیح حدیث کښې دی چه مومن سړې دې مومنه ښځه نه جدا کوی. که د دې یو خبره نیمه ئې خوښه نه وی نو یو نیم عادت به ئې ښه هم وی . ([1])

قوله تعالی:: وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا

د طلاق ورکولو اراده:- بیا فرمائی په تاسو کښې که څوک خپلې بی بی ته طلاق ورکول غواړی او د دې په ځائې بلې بی بی سره نکاح کول غواړی نو هغې ته د هغه مهر نه ورکړئ کوم چه تاسو مقرر کړې وی او د هغې نه دا واپس مه اخلئ اګر چه تاسو هغوئ ته خزانې ورکړې وی .د سورة آل عمران تفسیر کښې د قنطار پوره بیان تیر شوې دې ، ځکه دلته دوباره د بیانولو ضرورت نشته دې .

زیات مهر مقرر کول جائز دی:- د دې نه ثابت شو چه مهر کښې زیات مال ورکول هم جائز دی . امیر المومنین عمر فاروق ﷺ نه مخکښې د زیاتو زیاتو مهرونو ورکولو نه منع کړې وه. بیا ئې د خپل قول نه رجوع اوکړه لکه چه مسند احمد کښې دی چه حضرت عمرفاروق ﷺ چه د ښځو مهر ترلو کښې زیاتې مه کوئی که په دنیاوی اعتبار سره څه د ښیګړې څیز وې یا د الله ﷻ په نیز دا د تقوی څیز وې نو ستاسو ټولو نه مخکښې به د الله ﷻ رسول ﷺ دا عمل کړې وو. رسول الله ﷺ د خپلې یو بی بی یا یو لور مهر د دولسو اوقیو نه زیات نه دې مقرر کړې (تقریبا پاؤ باندې سل روپی) .

انسان چه کله مهر زیات مقرر کړی نو دا د هغه دپاره مصیبت جوړیږی . تر دې چه په مزه مزه د ده ښځه په ده بوج شی او د ده په زړه کښې هغې سره دښمنی پیدا شی. اودې وائی چه تا ځما په اوګو باندې مشک زړوند کړی دی ([2]) دا حدیث هم ډیرو کتابونو کښې مروی دی .

دعمر ﷺ په مهر کښې دغلو نه منع کول:- یو حدیث مبارک کښې دی چه عمرفارق ﷺ منبر باندې تشریف فرما شو او وې فرمائیل چه انې خلقو ! تاسو ولې زیات زیات مهرونه ترلې شروع کړل ؟ رسول الله ﷺ او د رسول الله ﷺ صحابه کرامو ﷺ خو د څلورو سوؤ درهمو ترلې مقررکړې وو (چه دا سل روپئ جوړیږی) که دا زیات مهر د تقوی او کرامت سبب وې نو تاسو به دې کښې زمونږ نه وړاندې شوې نه وئ خبردار چه د نن نه پس ځما آوریدو کښې رانشی چه چا د څلور سوؤ درهمو نه زیات مهر مقرر کړې دی . دې فرمائیلو نه پس دوی د منبر نه لاندې راکوز شو نو یو قریشیه ښځه ورته مخامخ شوه او ورته ئې اوفرمائیل چه انې امیر المومنین ! آیا تاسو خلق منع کړل چه د څلورو سوؤ نه زیات مهر مه مقرروئ ؟ دوی ورته اوفرمائیل چه آو. هغه ښځې اووئیل چه آیا تا د الله ﷻ نازل شوې قرآن پاک نه دې آوریدلې ؟ وې فرمائیل چه څه ؟ هغې اووئیل چه الله ﷻ فرمائی چه ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا﴾ الخ ، تاسو هغوئ ته خزانه ورکړې وی . الخ. عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه ما معاف کړئی ، د عمر نه خو هر سړې زیات پوهه دې . بیا دوی واپس شو. او هم په هغه وخت په منبر کښیناستل او خلقو ته ئې اوفرمائیل چه انې

([1]) صحيح مسلم كتاب الرضاع باب الوصية بالنساء: حديث : ١٤٧١)-

([2]) حم: ٤٠/١، ابوداود كتاب النكاح باب الصدق: ٢١٠٦، وهو حسن ترمذی: ١١١٤، نسائی : ٣٣٥١، ابن ماجة: ١٨٨٧،)-.

Scanned with Ca

خلقو ! ما تاسو د خلورو سوو درهمو نه زیات مهر مقررلو نه منع کړی وی . خو اوس وایم چه خوک د خپل مال نه خومره مهر ورکول غواړی ورکوی دی . خپلې خوښې سره چه خومره مهر ورکول غواړی نو ورکوی دی . څه به هغه نه منع کوم. (۱)یو روایت کښې ددې ښځې دا آیت لوستل مروی دی چه ﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا مِّن ذَهَبٍ﴾ د عبدالله بن مسعود ﷺ قرآت کښې هم داشان دی . او د عمرفاروق دا فرمانیل هم مروی دی چه یوه ښځه عمر باندې غالب شوه. (۲)

او روایت کښې دی چه دوی اوفرمائیل اګر چه ذی القصه د یزیدبن حصین لور وی بیا هم د دې مهر زیات مه مقرر کوئی او که تاسو اوکړل نو زیات رقم به بیت المال دپاره اخلم . دې سره یو لوړې اوږدې پوزې والا ښځې اووئیل چه ائې عمر فاروق ! تاسو دا حکم نشئ کولئ الخ.

قوله تعالی:: وَكَيْفَ تَأْخُذُونَهُ وَقَدْ أَفْضَىٰ بَعْضُكُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ

مهر نشی واپس کیدلې :- بیا فرمائی چه تاسو چه کوم مهر خپلو ښځو ته ورکړې دې هغه تاسو څنګه واپس کوئی ؟ حالانکه تاسو هغوئ نه ډیره فائده اوچته کړې ده ، تاسو هغوئ نه خپل حاجتونه پوره کړی دی او هغوئ تاسو سره او تاسو هغوئ سره یو ځائې شوئی . یعنی تاسو د ښځې خاوند تعلقات هم قائم کړل.

د شیخینو روایت:- صحیح بخاری او مسلم کښې دا حدیث نقل دې په هغې کښې د یو سړی په خپله ښځه باندې د زنا تهمت لګول او بیا د رسول الله ﷺ مخکښې بیانول او بیا د دې دواړو قسمونه خوړل او دې نه پس د رسول الله ﷺ دا فرمائیل چه الله ﷻ ته ښه معلوم دی چه تاسو دواړو کښې دروغژن څوک دې ؟ آیا تاسو کښې اوس هم څوک توبه کوی ؟ دې څل ئې دا اوفرمائیل نو دې سړی اوئیل چه ما کوم مال دې ته ورکړې دې مهر کښې د هغې باره کښې تاسو څه فرمائې ؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د هغې بدله کښې خو ستا دپاره حلاله شوې وه. او اوس چه تادې باندې تهمت اولګولو نو خبره نوره هم لرې شوه (۳)

د پیغلې جینئ د زنا د ارتکاب واقعه:- دغه شان یو بل حدیث مبارک کښې دی چه نضر یو پیغلې سره نکاح اوکړه او هرکله چه هغې سره یو ځائې شو نو وې کتل چه د هغې د زنا نه حمل شوې وو ،د دې ذکر ئې رسول الله ﷺ ته اوفرمائیل . نو رسول الله ﷺ هغه جدا کړو او مهر ئې ورته ورکړو او دې ښځې ته ئې د کوړو ورکولو حکم اوفرمائیلو. او وې فرمائیل چه کوم بچې پیدا شی هغه به ستا غلام وی .او مهر خو سبب وو. ددې د حلت (ابوداود).(۴) غرض دا چه دې آیت کښې هم دا مطلب دې چه دواړو ښځې خاوند کښې خلوت شوې وو ، بیا مهر واپس کول څه معنی لری .

قوله تعالی:: وَأَخَذْنَ مِنكُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا ۝

بیا فرمائی چه عقد نکاح چه دا یومضبوطه وعده ده او تاسو دې کښې ترلې شوی یئ. تاسو د الله ﷻ دا فرمان واوریدو که تاسو یوځائې اوسیږئ نو په ښه طریقه او که جدا کیږئ نو هم په ښه طریقه .

په نکاح کښې د شهادتینو اقرار:- یو حدیث مبارک کښې دی چه تاسو دا ښځې د الله ﷻ امانت سره اخلئ! و تاسو دوی خپل ځان دپاره د الله ﷻ کلمې سره حلالوئی . یعنی د خطبه نکاح تشهد سره . رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه چه کوم بهترین انعامات ورکړې شو په هغې کښې یو داهم وو چه رسول الله ﷺ ته فرمائیلې شوی وو چه ستا د امت یو خطبه هم قبوله نه ده ترڅو چه هغوئ د دې امرګواهی ورنکړی ته بنده ئې او ځما رسول ئې . (ابن ابی حاتم)

---

۱) ابو یعلی)-

۲) مصنف عبدالرزاق : ۱۰٤۲۰،)-

۳) صحیح بخاری کتاب الطلاق : باب صداق الملاعنه: ۵۳۱۱، صحیح مسلم: ۱٤۹۳)-.

٤) ابوداود کتاب النکاح ، باب الرجل یتزوج المراة فیجدها حبلی : ۲۱۳۱،)-.

Scanned with Ca

صحیح مسلم شریف کښې دی جابر ﷺ نه مروی دی چه رسول الله ﷺ خطبه حجة الوداع کښې فرمائیلی وو چه تاسو خپلې ښځې د الله تعالی په امانت کښې اخیستې دی او هغوئ مو د الله ﷻ کلمې سره خان دپاره حلالې کړې دی (١).

قوله تعالی:: وَلَا تَنكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُم

د میرنئ مور سره د نکاح حرمت:- بیا الله ﷻ د ناسکه مور د حرمت بیان کوی . او د هغې تعظیم او توقیر بیان فرمائی . تردې که یو پلار یو ښځې سره نکاح اوکړه او هغه ښځه نې لا کور ته هم نه وه راوستې چه هغې ته نې طلاق ورکړو یا د ده پلار مړ شو وغیره نو بیا هم هغه ښځه د دې خوئې دپاره حرامه ده . په دې باندې اجماع ده . **د ابوقیس ﷺ واقعه:-** ابوقیس ﷺ یو ډیر لوئې اونیک صحابی وو ، د ده د وفات نه پس د ده خوئې د ده ښځه اوغوښتله اوهغه د ده ناسکه مور وه. په دې باندې د ده ناسکه مور اوونیل چه بیشکه ته په خپل قوم کښې نیک نې خو خه تا خپل خوئې ګنړم. خو خه بیاهم رسول الله ﷺ ته ورځم. دلته راغله او رسول الله ﷺ ته نې ټوله قصه بیان کړه. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خپل کور ته واپس شه. (١)بیا دا آیت نازل شو چه کومې ښځې سره یو پلار نکاح کړې وی نو هغې سره د خوئې نکاح کول حرام دی . داسې واقعات هغه وخت کښې نور هم موجود وو نوهغوئ د خپلو ارادو نه منع کړې شو. یو خو دا د ابوالقیس واقعه وه. دده د ښځې نوم ام عبیدالله ضمره وو.

د خلف واقعه:- دویمه واقعه د خلف وه ،د هغه په کورکښې د ابوطلحه لور وه. د هغه د انتقال نه پس د هغې خوئې صفوان هغه خپله نکاح کښې راوسته . امام سهیلی فرمائیلی دی چه په جاهلیت کښې د دې نکاح کول معمول وو او دا به باقاعده نکاح ګنړلې شوه. او بالکل حلاله ګنړلې شوه. د دې وجې دلته هم د دې ذکر اوشو چه کوم مخکښې تیر شو نو هغه تیر شو ، لکه دوه خویندو سره د نکاح کولو حرمت هم دلته بیان کړې شو. کنانه بن خزیمه هم دشان کړی وو چه د خپل پلار ښځې سره نې نکاح کړې وه. اونضر د دې نه پیدا شوې وو. او د رسول الله ﷺ فرمان موجود دې چه ځمانه پورته نسل هم باقاعده نکاح کښې وو او د زنا نه نه وو. نو معلومه شوه چه دا خبره په هغوئ کښې برابره جاری اوجائز وه. اودا به نې نکاح شمیرله.

ابن عباس ﷺ فرمائی چه کومې کومې رشتې الله ﷻ حرامې کړی دی هغه ټولې جاهلیت والا هم حرامې ګنړلې سوا د خپلې ناسکه میرنئ مور او دوه خویندې په نکاح کښې جمع کولو نه. نوالله ﷻ خپل کلام مبارک کښې هم دا رشتې حرام اوګرځولې. عطاء او قتاده رحمهما الله هم دا فرمائی . یاد ساتئی چه سهیلی چه د کنانه کومه واقعه نقل کړې ده هغه د غور طلب ده او قابل نظر ده. بالکل صحیح نه ده. والله اعلم

قوله تعالی:: إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَمَقْتًا ۖ وَسَاءَ سَبِيلًا ۝

د میرنئ مور سره د نکاح قباحت:- بهر صورت دا رشته د دې امت په افرادو باندې حرامه ده او ډیره قبیح ده. ځکه فرمائی چه دا ډیر فحش او خراب کار او د بغض سبب او خرابه لار ده. بل ځائې کښې فرمان دی چه ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ﴾ الخ یعنی هیڅ یو خرابئ او بې حیائی او فحش کار ته نزدې مه ورځئ که ښکاره وی اوکه پټ وی او فرمان دی چه ﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ﴾ الخ ، زنا ته نزدې مه ورځئ یقینی طور دا فحش کار دی او خرابه لار ده. تر دې چه د دې نه نې هم زیات اوفرمائیل چه دا کار دې سره سره د بغض دې . یعنی فی نفسه هم دا لوئې امر دی . دې کښې پلار او خوئې کښې عداوت پیداکیږی. او دښمنی هم ظاهریږی . دا ظاهره ده او عام طور موندې شی چه کوم یو سړې یوې ښځې سره نکاح اوکړی او د دې رومبی خاوند سره بغض ساتی .هم دا وجه ده چه د رسول الله ﷺ بیبیانې امهات المومنین اوګرزولې شوې او امت باندې د مور په شان حرامې شوې . ځکه چه هغه د نبی ﷺ بیبیانې دی . او محمد ﷺ د

---

(١) صحیح مسلم: کتاب الحج باب حجة النبی ﷺ : ١٢١٨ ، ابوداود: ١٩٠٥، ابن ماجة: ٣٠٧٤)-

(٢) بیهقی : ١٦١/٧،)-

Scanned with Ca

پلار په شان دي . بلکه په اجماع سره ثابت دی چه د رسول الله ﷺ حق د نیکونو اوپلرونو د حقونونو نه هم زیات دي بلکه د رسول الله ﷺ محبت د خپل ځان د محبت نه هم مقدم دي.(**صلوات الله وسلامه علیه**) دا هم وئیلي شوی دی چه دا کار د الله ﷻ د بغض سبب دي او خرابه لار ده،اوس چه څوک داسي کار اوکړی نو هغه دین نه مرتد دي.هغه دي قتل کړي شی.او د هغه مال دي بیت المال کښې داخل کړي شی.

د میرنئ مور سره د نکاح کونکی سزا:- سنن او مسند احمد کښې مروی دی چه یو صحابی رسول الله ﷺ یو کس طرفته اولیږلو او هغه کس د خپل پلار ښځې سره واده کړي وو چه هغه قتل کړی او د هغه مال یې واخیست.(۱) براء بن عازب ﷺ فرمائی چه ځما تره عمیر ﷺ د رسول الله ﷺ بیرغ سره مالره راغلو ، ما ترې تپوس اوکړو چه ای ترۀ ! رسول الله ﷺ تاچرته لیږی ؟ وې فرمائیل چه هغه سړی طرفته چه هغه د خپل پلار ښځې سره نکاح کړي ده ، ماته حکم دي چه ځه هغه قتل کړم . (مسند احمد). (۲)

د پلار مباشري ښځې سره د نکاح کولو حرمت:- مسئله په دې باندې د علماء کرامه اجماع ده چې کومې ښځې سره پلار مباشرت اوکړو اګر چه ورسره نکاح اوکړی یا ئې ملکیت کښې راولی یا ئې شبه سره وی ، هغه ښځه په ځوئې حرامه ده.

د پلا په صرف مباشرت یا کتلو سره حرمت کښې اختلاف:- که جماع نه وی شوې صرف مباشرت ئې اوشو یا ئې هغه اندامونه اوکتل چه د هغې کتل د یو اجنبی سړی دپاره کتل حلال نه وو. نو دې کښې اختلاف دي . امام احمد رحمه الله دي صورت کښې هم ښځه دې ځوئې دپاره حرامه ګڼړی.

د امام احمد رحمه الله د مذهب تائید:- حافظ ابن عساکر رحمه الله وائی چه دې واقعې نه هم د دې مذهب تقویت ملاویږی چه خدیج حمصی رحمه الله چه د امیر معاویه مولی وو ، امیر معاویه ﷺ دپاره یوه وینځه واخسته چه غنم رنګې او ښکلې وه او بغیر د کپړو نه ئې هغه ته اولیږله. د هغه لاس کښې یو چاړه وه ، هغې سره ئې اشاره اوکړه او وې وئیل چه ښه نفع ده خو د دې دپاره اسباب وې .بیا ئې اوفرمائیل چه دا یزید بن معاویه ته اولیږه ، بیا ئې اووئیل چه نه اودریږه ، ربیعه بن عمر حرسی ماته راوله . دا ډیر لوئې فقیه وو. هرکله چه هغه راغلونو معاویه ﷺ د هغه نه د دې مسئلې تپوس اوکړو چه ما د هغه ښځې اندامونه لیدلی دی ، د هغې کپړې په بدن نه وی . اوس ځه هغه ځپل ځوئې یزید ته په نکاح کولې شم ؟ نو آیا هغه لره دا حلاله ده که نه ؟ ربیعه رحمه الله اوفرمائیل چه امیر المومنین داسې مته کوئی دا اوس دهغه قابله پاتې نشوه. وې فرمائیل چه ته صحیح وائې . ښه ده لاړ شه او عبدالله ابن مسعده فزاری راوله .هغه چه راغلو،هغه غنم رنګې وو،هغه ته امیر معاویه ﷺ اوفرمائیل چه ځه داوینځه تاته درکوم چه ستااولاد سپین وي .دا عبدالله بن مسعده ﷺ هغه صحابی دي چه کوم رسول الله ﷺ فاطمه رضی الله عنها ته ورکړي وو. فاطمه رضی الله عنها دهغه خصمانه اوکړه او بیاني د الله ﷻ په نوم آزادکړو. بیا دي معاویه ﷺ ته راغلو.

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز که فرج ته په شهوت سره اوګوری نو په دې باندې حرمت راځی یعنی که پلار یا ځوی د یوې ښځې فرج ته په شهوت باندې اوګوری نو په دوی کښې د ناظرد پلاریا ځوئې دغه منظور الیها یعنی چاته چې ئې نظر کړی وی نکاح جائز نه ده او که د فرج نه علاوه بل داسې ځائې ته ئې کتلې وی هغه عورت وی نو په دې سره حرمت نه واقع کیږی (احکام القران للعلامة ظفراحمد العثمانی ۲۰۳۱۲)-

---

(۱) احمد: ٣٩٧/٤، کتاب الحدود باب فی الرجل یزنی بحریمه: ٤٤٥٧، وسنده صحیح ترمذی : ١٣٦٢ نسائی : ٣٣٣٣، ابن ماجة: ٢٦٠٧)-

(۲) احمد: ٢٩٢/٤)-

حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ

احرامي كړي شوي دي | په تاسو باندې | مينديې ستاسو |

| اوډيرخراب دستوردې | په تاسوحرامي دي ستاسو مينديې

وَبَنٰتُكُمْ وَأَخَوٰتُكُمْ وَعَمّٰتُكُمْ وَخٰلٰتُكُمْ وَبَنٰتُ الْأَخِ

اولونړه ستاسو | اوخويندې ستاسو | اود پلارخويندې ستاسو | اود مورخويندې ستاسو | اولونړه درور |

لونړه ستاسو | خويندې ستاسو | .....اوخويندې دپلرونو | اوخويندې د ميندوستاسو | او وريرې

وَبَنٰتُ الْأُخْتِ وَأُمَّهٰتُكُمُ الّٰتِيٓ أَرْضَعْنَكُمْ وَأَخَوٰتُكُمْ

اولونړه د خويندو (خورزې) | او ميندې ستاسو | هغه | چه تې ئې درکړې وې تاسوته | اوخويندې ستاسو |

اوخورزې | .....اوهغه ميندې چې تاسوته ئې تې درکړې وې | .....اودتې خويندې

مِّنَ الرَّضَاعَةِ وَأُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ وَرَبَآئِبُكُمُ الّٰتِي

دتې رودولو شريکې | اوميندې دښځو ستاسو (خوابنې) | او پرکتيانې ستاسو | هغه |

.....اوخوابنيانې ستاسو | .....اوپرکتئ ستاسو هغه چې

فِي حُجُوْرِكُمْ مِّنْ نِّسَآئِكُمُ الّٰتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ

چه په غيږوستاسو کښې لوئې شوې وې | دښځو ستاسونه | هغه ښځې | چه کور والې کړې وې تاسو دهغوئ سره

ستاسو په تربيت کښې وې | دهغه ښځونه چې تاسوورسره نزديکت کړې وې (جماع مو ورسره کړې وې)

فَإِنْ لَّمْ تَكُوْنُوْا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ وَحَلَآئِلُ

| اوکه چرې نه يې تاسو | چه کورواليې مو کړې وې | هغوئ سره | نونشته ګناه | په تاسوباندې | اوښځې |

نوکه نزديکت مونه وې کړې | نوبيا دپرکتئ په نکاح کولو کښې هيڅ ګناه نشته دې

أَبْنَآئِكُمُ الَّذِيْنَ مِنْ أَصْلَابِكُمْ وَأَنْ تَجْمَعُوْا

دخامنو ستاسو (اينګورياني) | اهغه (خامن) | چه پيدا وې دشاګانو ستاسونه | اوداچه | يو ځائې والې اوکړئ

اوستاسودخپلو حقيقي خامنوښځې | اودا چې يوځائې کړئ تاسوپه يووخت کښې

بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ ط إِنَّ اللّٰهَ كَانَ

| په مينځ ددوؤ خويندو کښې | ماسوا | دهغې نه چه مخکښې شوې دي | بيشکه چه الله | دې

دوه خويندې | څه چې ووهغه تير شو بيشکه الله پاک

غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝

| ابښونکې | ارحم کوونکې

بخښونکې رحم کونکې دې

قوله تعالى:: حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهٰتُكُمْ

هغه ښځې چه سړو باندې حرامې دي :- نسبي ،رضاعي، اود سخرګنئ رشته کښې چه کومې ښځې سړي دپاره حرامې دي دهغې بيان په دې آيت مبارک کښې کيږي. ابن عباس ﷺ فرمائي اووه ښځې په وجه د

Scanned with Ca

نسب حرامې دی.او اووه ښځې د سخرګنۍ په وجه.بیا هغوئ ﷺ د دې آیت مبارک تلاوت اوفرمانیلو. دخور لونړو پورې خو نسبی رشتې دی. (١)

جمهورعلماء کرامو دې آیت نه استدلال کړې دې چه زنا نه کومه جینئ پیداشوې وی هغه هم په دې زانی باندې حرامه ده ځکه چه دا هم لور ده. او لونړه حرامې دی . هم دا مذهب د امام مالك رحمه الله ، امام ابوحنیفه رحمه الله ،او دامام احمد بن حنبل رحمه الله دی.د امام شافعی رحمه الله نه د دې اباحت کښې څه حکایتونه نقل کړې شوی دی.ځکه چه دا شرعی لحاظ سره لور نه ده . نو لکه څنګه چه د ورثه باره کښې دادلور په حکم کښې نه شاملیږی اودې ته میراث نه ملاویږی ،دغه شان د دې آیت مبارک حرمت کښې داخل نه ده . والله اعلم .

مسلك حنفی:-لکه څنګه چه حافظ ابن کثیر رحمه الله فرمائیلی دی هم د احنافو مسلک دې چې د کومې ښځې سره زنا اوشی د هغې لور په زانی باندې حرامه ده (تفسیر مظهری ٢٧٤\٢)-

قوله تعالی:: وَأُمَّهَٰتُكُمُ الَّتِيٓ أَرۡضَعۡنَكُمۡ

د رضاعی مور حرمت:-بیا فرمائی چه څنګه تاسوباندې سکه میاندې حرامې دی هم دغه شان رضاعی مورهم حرامه ده.

رضاعت هم د حرمت سبب دې:- صحیح بخاری او مسلم کښې دی چه په رضاعت سره هغه ښځې حرامیږی کومې چې په نسب سره حرامیږی. صحیح مسلم کښې دی چه هغه ښځې رضاعت سره هم حرامې دی چه کومې نسب سره حرامې دی. (٢)

په حرمت رضاعت کښې د بعضو صورتونو استثناء:-بعضې فقهائې کرامو په دې کښې څلور صورتونه او بعضو شپږ صورتونه مخصوص کړی دی چه دا احکام د فروع کتابونوکښې دی ، لیکن تحقیقی خبره دا ده چه په دې کښې څه خصوصیت نشته دې ځکه چه هم د دې پشان بعضو صورتونه نسب کښې هم موندې شی .او دې صورتونو کښې بعضې صرف د سخرګنۍ رشتو په وجه حرام دی .نو حدیث باندې هیڅ اعتراض نه شی کیدې . والحمدلله .

څومره مقدار سره رضاعت ثابتیږی او د دې د مودې بیان:- د آئمه کرامو په دې کښې اختلاف دې چه څومره خل پئ څکلوسره حرمت ثابتیږی ①بعضې خو وائی چه تعداد معین نه دی،په مطلق پیوځکلوسره حرمت ثابتیږی. امام مالك رحمه الله هم دا فرمائی.د ابن عمر رضی الله عنه، سعید بن مسیب رحمه الله، عروه بن زبیر رحمه الله زهری رحمه الله هم دا قول دې . دلیل دا دې چه دلته رضاعت عام دې .

②بعضې وائی چه درې خله پئ اوڅکی نو حرمت ثابت شو . لکه څنګه چه صحیح مسلم کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چې پ یو خل یا دوه څکلو سره حرمت نه ثابتیږی(٢)داحدیث مختلفو الفاظو سره مروی دې.امام احمد بن حنبل رحمه الله ،اسحاق بن راهویه رحمه الله ،أبوعبیده رحمه الله اوابوثور رحمه الله هم دا فرمائی.علی رضی الله عنه،ام فضل رضی الله عنها، ابن زبیر رضی الله عنه،سلیمان ابن یسار رضی الله عنه ،سعید بن جبیر رضی الله عنه نه هم دا مروی دی

③ بعضې وائی چه پنځه خل پئ څکلو سره حرمت ثابتیږی ددې نه کم نه . د دوی دلیل صحیح مسلم کښې دا روایت دې چه عائشه رضی الله عنها فرمائی چه مخکښې قرآن پاك کښې لس خل دپئیو څکلو د حرمت حکم نازل شوې وو ، بیا منسوخ شو او د پنځو خلو پئیو څکلو حکم باقی پاتې شو. د رسول الله ﷺ

---

(١) الطبری : ١٤٢/٨)-

(٢) صحیح بخاری کتاب الشهادات باب الشهادت علی الانساب : ٢٦٤٦، صحیح مسلم: ١٤٤٤)-

(٣) صحیح مسلم کتاب الرضاعة باب فی المصة والمصتان : ١٤٥٠، من طریق آخر عن عائشة رضی الله عنها ابوداود : ٢٠٦٣، ترمذی: ١١٥٠)-

Scanned with Ca

وفات پوري هغه په قران پاك كښې لوستلې كيدو(۱)دويم دليل دسهله بنت سهيل روايت كښې دې چه هغه ته رسول الله ﷺ حكم كړې وو (۲) چه سالم ﷺ چه د ابو خذيفه ﷺ مولى وو پنځه خل پې ځكول. عائشه رضي الله عنها ته چې به كومه بنځه راغله نو هم د دې حديث مطابق به ئې ورته هم دا حكم كولو. امام شافعي رحمه الله او ددوى ټول ملګرى هم دا فرمانى چه پنځه خل پې ځكول معتبر دى.

مسلك حنفى:- احناف رحمهم الله فرمائى.چه په مطلق پې ورکولو يا رودلوسره حرمت رضاعت ثابتيږى.كه كم وى اوكه زيات وى.خوپه دې شرط چه د رضاعت په موده كښې وى.حسن بصرى ،سعيدبن المسيب، وكيع، عبدالله بن مبارك او زيات جمهورفقهاء رحمهم الله ددې قائلين دى.(تسهيل الهدايه شرح هدايه ۱۹۹\۳)-

په كومه مودهٔ كښې پې ورکولو باندې احكام مرتب كيږى؟:- دا هم ياد ساتل پكار دى چه د جمهورو مذهب دا دې چه رضاعت به د پټيو ځكلونه مخكښې يعنى دوه كالو كښې دننه دننه عمر كښې وى ، د دې مفصل بيان آيت ﴿حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ﴾ تفسير كښې تير شوې دې.

مسلك حنفى:- د احنافو هم دا مسلك دې چه هغه رضاعت معتبر دې او په هغې باندې د رضاعت احكام جارى كيږى كوم چې د رضاعت په موده كښې دننه دننه اوشى اوكه د رضاعت د مودې نه پس ماشوم ته پې ورکړې شى نو په هغې باندې حرمت رضاعت نه ثابتيږى (تسهيل الهدايه ۲۰۳\۳)-

د رضاعت اثر د ناسكه مور خاوند ته رسى كه نه؟:- بيا په دې كښې اختلاف دې چه د دې رضاعت اثر به د ناسكه مورخاوند ته هم رسى كه نه ؟ نو جمهور او آئمه اربعه فرمائى چه رسى به. او د بعضو سلفو قول دې چه صرف پې ځكونكې ته به رسى او رضاعىٔ پلار ته نه رسى. ددې د تفصيل ځائې د احكامو لوئې لوئې كتابونه دى ، تفسيرنه دې.

قوله تعالى:: وَأُمَّهٰتُ نِسَآئِكُمْ

د خوابنيانو حرمت:- بيا فرمائى چه خوابنې حرامه ده. چه كومې جينې سره نكاح اوشى نو د نكاح په وجه د دې مور سره د دې هلك نكاح حرامه شوه كه صحبت اوشى اوكه اونه شى .خو چه كومې بنځې سره نكاح كوى او د دې بنځې د رومبى خاوند نه لور وى نوكه دې بنځې سره صحبت اوكړى.نو دا جينې په ده حرامه شوه اوكه مجامعت نه مخكښې ئې دې بنځې ته طلاق ورکړو نو دې جينې سره بيا نكاح كول حرام نه دى. ځكه چه دې آيت مبارك كښې دا قيد دې . چې تاسو ورسره جماع كړې وى

د خوابنې حرمت د هغې د لورسره د جماع كولو پورې مقيد ده:- بعضې خلقو ضمير خوابنې او ددې پرورش كښې چه كومې جينكې دى دواړو طرفته راجع كړې دې ، هغه وائى چه خوابنې هم په هغه وخت كښې حرامه ده چه كله د دې د لور سره د دې خوم جماع كړې وى گنى نه ده حرامه . صرف په عقد سره نه خو بنځه حراميږى او نه پرې دا بنحه حرآمه شوه اونه ددې بنځې لور.

د علي ﷺ په قول سره تائيد:- على ﷺ فرمائى چه كوم سړى يوې جينې سره واده اوكړو ، بيا د دخول نه مخكښې ئې ورته طلاق ورکړو نو هغه د دې مور سره نكاح كولې شى. خو د ربيبه جينې سره د دې مور ته دا شان طلاق ورکولو نه پس نكاح كولې شى .

د زيد بن ثابت رضي الله عنه په قول سره تائيد:- زيد بن ثابت ﷺ نه هم دا قول منقول دې . يو بل روايت كښې دى چه د دوى نه مروى دى چه دوى به فرمائيل چه كله هغه بنځه غيرمدخوله مړه شى او دا خاوند د هغې ميراث واخلى بيا د دې مور راوستل مكروه دى ، خوكه دخول نه هخكښې ورته طلاق ورکړى نو كه غواړى د هغې د مور سره نكاح كولې شى .

---

(۱) صحيح مسلم كتاب الرضاع بآب تحريم بخمس رضعات : ۱٤٥۲، ابوداود : ۲۰٦۲، ترمذى: ۱۱٥۰، نسائى: ۳۳۰۹)-

(۲) صحيح مسلم كتاب الرضاع باب رضاعة الكبير : ۱٤٥۳، نسائى: ۳۳۲۱، ابن ماجة: ۱۹٤۳)-

Scanned with Ca

د ابن عباس ﷺ په قول سره تائید: - بکر ابن کنانه رحمه الله فرمائی چه ځما نکاح ځما پلار د طائف یوې بښځې سره اوکړه او لا کورته مې راوستې نه وه چه د هغې پلار مړ شو او د هغې مور یعنی ځما خوابنې کونلې شوه او هغه ډیره مالداره وه نو ځما پلار ماته مشوره راکړه چه خه هغه جینئ پریږدم او دې بښځې سره نکاح اوکړم. ما د ابن عباس ﷺ نه د دې مسئلې تپوس اوکړو نو هغوئ اوفرمائیل چه ستا دپاره جائز ده .بیا ما ابن عمر ﷺ نه تپوس اوکړو نو هغوئ اووئیل چه جائز نه ده . ما دا خپل پلار ته اوښیل نو هغوئ معاویه ﷺ ته اولیکل او د دې دواړو بزرګانو فتوې نې هم ورته اولیکلې. د دې جواب کښې امیر معاویه ﷺ اوفرمائیل چه خه خونه حرام حلالولې شم او نه حلال حرامولی شم ، تاسو پوهه شئ اوستاسو کار. تاسودا حالت ګورئی ټول حالت ستاسو مخکښې دې . دې نه سوا بښځې نورې هم ډیرې دی . غرض دا چه نه نې اجازت ورکړو او نه نې انکار اوکړو. ځما پلار خپل خیال د هغې د مور طرفنه واړولو او ځما نکاح نې هغې سره اونه کړه.

د مختلفو عالمانو قول: - عبدالله بن زبیر ﷺ فرمائی چه د بښځې د لور اود لوردمور یو حکم دې که بښځې سره نې دخول نه وی کړې نو دا دواړه حلالې دی . لیکن د دې اسنادو کښې مبهم راوی دې . مجاهد رحمه الله نه هم دا قول نقل دې . ابن جبیر رحمه الله او ابن عباس ﷺ هم دې طرفته دی. امیر معاویه ﷺ دې کښې توقف کړې دې په شافعیانو کښې ابوالحسن احمد بن محمد صابونی نه هم په قول د رافعی مروی دې.عبدالله ابن مسعود نه هم د دې پشان مروی دی .لیکن بیا دوی د خپل قول نه رجوع کړې ده. طبرانی کښې دی چه د قبیله فزاره شاخ د قبیله بنو کمخ یو سړی یو بښځې سره نکاح اوکړه ، بیا نې ددې مورطرفته مخ شو نو د عبدالله ابن مسعود ﷺ نه نې د دې مسئلې باره کښې تپوس اوکړو چه آیا خه د هغې مور سره نکاح کولې شم که نه ؟ دوی اوفرمائیل چه آو. نو ده هغه جینئ ته طلاق ورکړو او د هغې مور سره نې واده اوکړو. او د هغې نه نې هم اولاد اوشو. بیا ابن مسعود ﷺ مدینې منورې ته راغلو او د دې مسئلې تحقیق نې اوکړو نو معلومه شوه چه دا حلال نه دی . نو واپس کوفې ته لاړو او هغه سړی ته نې اووئیل چه دا بښځه جدا کړه دا تالره حرامه ده. هغه دا فرمان اومنلو او هغه نې جداکړه. جمهور علماء دې طرفته دی چه جینئ صرف عقد نکاح سره نه حرامیږی تر هغه وخت پورې چه دې سره مباشرت اونشی خومور به صرف دجینئ په عقد نکاح سره حرامه وی اګر چه مباشرت نه وی شوې ابن عباس ﷺ فرمائی چه کله یو سړی خپلې بښځې ته د دخول نه مخکښې طلاق ورکړی یا هغه بښځه مړه شی نودهغه مور د ده دپاره حلاله نه ده . چونکه دا خبره مبهم ده د دې وجې نې دا نه ده خوښه کړې شوې .ابن مسعود ﷺ ،عمران بن حصین ﷺ ،طاؤس رحمه الله ،مسروق رحمه الله ،عکرمه رحمه الله ،عطاء رحمه الله ، حسن رحمه الله ، مکحول رحمه الله ،ابن سیرین رحمه الله ،قتاده رحمه الله ،او زهری رحمه الله نه همدا مروی دی . د ځلورو واړو امامانو، فقهائې کرامو او جمهور سلف اوخلف کرامو همدا مذهب دې . والحمد لله.

د ابن جریج رحمه الله فیصله: - امام ابن جریج فرمائی چه صحیح قول هم دهغه حضراتو دې چه کوم دواړو صورتونو کښې د حرمت قائل دی. ځکه چه الله ﷻ د دې حرمت سره د دخول شرط نه دې لګولې لکه څنګه چه د دې جینئ د مور دپاره نې دا شرط لګولې وو. بیا په دې باندې اجماع ده. چه دا یو داسې دلیل دې چه د دې خلاف کول په دې وخت کښې جائز نه دی چه کله په دې باندې اتفاق اوشو.

په غریب حدیث سره تائید: - او یو غریب حدیث مبارک کښې دا هم مروی دی د کوم په مسند کښې کلام دې چه رسول الله ﷺ فرمائی چه کله یو سړی یو بښځې سره واده اوکړی نو د ده دپاره د هغې مور سره نکاح کول حرام دی حلال نه دی که دې جینئ سره نې صحبت شوې وی که نه وی شوې . خو چه کومې بښځې سره نکاح اوکړی بیا د ملاویدونه مخکښې هغې ته طلاق ورکړی نو که غواړې د هغې لور سره

نکاح کولې شی(١) اګر چه د دې حدیث مبارک سند کمزورې دې .لیکن په دې مسئله باندې اجماع ده چه د دې په صحت باندې ګواه ده. چه دې نه پس د بلې ګواهئ ضرورت نشته دې

قوله تعالی:: وَرَبَآئِبُكُمُ الَّتِيْ فِيْ حُجُوْرِكُمْ

د پرکتو حرمت:- بیا فرمائی چه تاسو دکومو جینکو پرورش کړې وی او هغه ستاسو په غیرہ کښې وی هغه هم په تاسو حرامې دی . په دې شرط چه تاسو د دې ناسکه لونړو مور سره صحبت کړې وی . د جمهور فرمان دې چه د دوی په غیر کښې لوئې شوی وی اوکه نه وی په دواړو صورتونو کښې حرامې دی. عام طور داسې جینکئ خپلې مور سره وی او خپل ناسکه پلارانو سره پرورش مومی د دې وجې دا وئیلې شوی دی چه دا څه قید نه دې ،(یعنی که ستاسو په پرورش کښې نه وی نو بیا ورسره نکاح کولې شئ نه په دواړو صورتونو کښې ورسره نکاح نشئ کولې)

د قید د نه شرطیت یو مثال:- لکه دې آیت کښې دی چه ﴿وَلَا تُكْرِهُوْا فَتَيٰتِكُمْ عَلَى الْبِغَآءِ إِنْ أَرَدْنَ تَحَصُّنًا﴾ یعنی که ستاسو وینځې پاکدامنې اوسیږی نو تاسو هغوئ په بدکارئ باندې مه بې بسه کوئی .دلته هم دا قید که هغوئ پاکې اوسی که په اعتبار د واقعې سره دې دا نه که هغوئ خپله داسې وی (یعنی زنا کول غواړی) نو هغوئ په بدکارئ باندې آماده کړئی .دغه شان په دې آیت کښې کښې هم د ،،حجورکم،، قید احترازی نه دې بلکه که غیرہ کښې نه وی نو بیا هم حرامې دی .

دام حبیبه خواهش:- صحیح بخاری او مسلم کښې دی چه ام حبیبه رضی الله عنها اوفرمائیل یا رسول الله ﷺ ! تاسو ځما خور د ابوسفیان لور غزه سره نکاح اوکړئی . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ته څه غواړې ؟ مور بی بی اوفرمائیل چه آو څه خو رسول الله ﷺ لره یوازې نه شم پریښودې بیا څه دې بنیګړه کښې خپل خور ولې شامله نه کړم رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه واوره هغه په ما حرامه ده .ام المومنین اوفرمائیل چه مونږ اوریدلی دی چه تاسو د ابوسلمه رضی الله عنه لور سره نکاح کول غواړئی . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د هغه لور چه د ام سلمه رضی الله عنها د خیټې نه ده ؟ ام حبیبه اووئیل آو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه واوره اول خو هغه زما دپاره حرامه ده ځکه چه هغه ځما ربیبه ده ، ما سره ئې پرورش شوې دې ، دویم دا که داسې نه وې نو بیا هم هغه په ما حرامه وه . ځکه چه هغه د هغې پلار ما سره شریك پئ رودلی دی او هغه ځما وریره شوه.ماته اوددې پلار ابوسلمه ته ثوبیه پئ راکړی دی ،خبردار ماته خپلې لونړه او خپلې خویندې مه پیش کوئی. (٢)

د بخاری روایت:- د بخاری شریف روایت کښې دا الفاظ دی که ځما نکاح ام سلمه سره نه وی شوې نو بیا هم هغه په ما حرامه وه. (٣) نو رسول الله ﷺ د حرمت سبب صرف نکاح اوګرځوله هم دا مذهب د څلورو واړو امامانو ، اووه واړه فقهاء کرامو،او د جمهور سلفو او خلفودې .

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز چې د لور سره نکاح اوشی اګرچې وطی نه وی شوې نو د هغې مور په دې ناکح باندې حرامه ده (احکام القرآن للعلامة ظفراحمد العثمانی (٢١١١٢)-

د قید د شرطیت قول :داهم وئیلې شوی دی که هغوئ دوی سره پرورش موندې وی نو حرامې دی ګنی نه .

د دې قول دلیل:- مالك بن اوس بن حدثان رضی الله عنه فرمائی چه ځما بنځې نه اولاد پاتې شو او مړه شوه. ځما هغې سره ډیر زیات محبت وو. د دې وجې ماته د هغې د مرګ ډیره زیاته صدمه وه. علی رضی الله عنه سره ځما اتفاقیه ملاقات اوشو نو کله چه څه هغوئ غم کښې اولیدم نو ځما نه ئې تپوس اوکړو چه څه خبره ده ؟ ما ورته پوره واقعه اووئیله نو علی رضی الله عنه اوفرمائیل چه ستانه مخکښې دهغې د رومبی خاوند نه اولاد

---

(١) الطبری : ٨٩٥٧)-

(٢) صحیح بخاری کتاب النکاح باب (وامهاتکم التی ارضعنکم ....) ٥١٠١ ، صحیح مسلم: ١٤٤٩)-

(٣) صحیح بخاری کتاب النکاح باب عرض الانسان ابنته : ٥١٢٣)-

Scanned with Ca

شته دي ،ما اوونيل چه او شته دي يو جينئ . او هغه طائف کښې اوسيږي . وي فرمائيل چه بيا هغې سره نکاح اوکړه. ما ورته د قران پاک دا آيت مبارک اولوستو چه بيا د دې څه مطلب دي ؟
علی ﷺ اوفرمائيل چه دا خو په هغه وخت کښې دی چه د هغې تاسره پرورش شوې وی اوهغه خوستا په قول طائف کښې ده تاسره نه ده (۱).اګر چه د دې اسناد صحيح دی ليکن دا قول بالکل غريب دی. داود بن علی ظاهری رحمه الله او د دوی ملګری هم دې طرفته دی . امام رافعی رحمه الله د امام مالک رحمه الله هم دا قول خودلې دی (چې د هغوی هم دا مذهب دی) ابن حزم هم دا اختيار کړې دی . خمونږ شيخ حافظ ابوعبدالله ذهبی رحمه الله مونږ ته اوونيل چه دا خبره ما د خپل شيخ امام تقی الدين ابن تيميه رحمه الله مخکښې پيش کړه نو هغوئ دا ډيره مشکل محسوس کړه او توقف ئې اوفرمائيل ، والله اعلم.

دحجورکم تفسير:- ﴿حُجُورِكُمْ﴾ نه مراد کور دي . لکه ابوعبيده ﷺ نه چه مروی دی .

دوينځې اود هغې د لور جمع کول:- کومه وينځه چې د ده ملکيت کښې وی او دې سره لور هم وی ، دې باره کښې عمر فاروق ﷺ نه سوال اوشو چه يونه پس به بله جائز وی که نه ؟ نو دوی اوفرمائيل چه څه دا نه خوښوم .د دې سند منقطع دي .ابن عباس ﷺ نه هم دغه شان سوال اوشو نو دوی جواب کښې اوفرمائيل چه يو آيت نه دا حلاله معلوميږی . دويم آيت نه حرامه نو څه خو به دا بالکل اونه کړم.

د ابن عبدالبر رحمه الله په قول سره د حرمت تائيد:- شيخ ابوعمر بن عبدالبر رحمه الله فرمائی چه په علماء کرامو کښې دې مسئله کښې هيڅ اختلاف نشته دې چه د چا دپاره حلال نه دی چه يوې بنځې سره د هغې د ملکيت په وجه وطی اوکړی . اوبيا د دې بنځې لور سره هم د هغې د ملکيت په وجه وطی اوکړی ځکه چه الله ﷻ دا په نکاح کښې هم حرامه ګرزولې ده. دا آيت اوګورئی او د علماء کرام په نيز د دې احکام د نکاح تابع دی . مګر چه کوم روايت عمر فاروق ﷺ او ابن عباس ﷺ نه نقل کړې شوې دې ، د ائمه کرامو فتوی او د هغوئ متبعينو کښې هيڅوک په دې باندې نه دی .
قتاده رحمه الله فرمائی چه د ربيبه لور او د هغې دلور لور او دغه شان څومره چه لاندې رشته خی ټولې حرامې دی.

ابوالعاليه رحمه الله نه هم د قتاده رحمه الله روايت په شان مروی دی. ﴿دَخَلْتُمْ بِهِنَّ﴾ نه مراد ابن عباس ﷺ فرمائی چه دوی سره نکاح کول دی .عطاء فرمائی چه هغوئ رخصت کړې شی او جامې تری لرې کړې شی او ورسره چيرې چار اوکړې شی او ارادې سره سړې کښينی. ابن جريج رحمه الله نه سوال اوشو چه داکار د بنځې په کور کښې شوې وی . فرمائی چه هلته او دلته هم دا حکم دی. که داسې اوشو نو د دې بنځې لور په ده حرامه شوه. (۲) امام ابن جرير رحمه الله فرمائی چه صرف خلوت او تنهائی کښې کيدو سره د دې حرمت نه ثابتيږی . که مباشرت کولو او لاس لګولو او شهوت سره د هغې اندام طرفته کتلو نه مخکښې نې طلاق ورکړې وو نو د ټولو اجماع سره خبره ثابت شوه چه جينئ به په ده حرامه نه وی تر هغه وخت پورې چې جماع نه وی شوې .
قوله تعالی:: وَحَلَٰٓئِلُ أَبۡنَآئِكُمُ ٱلَّذِينَ مِنۡ أَصۡلَٰبِكُمۡ
بيا فرمائی چه ستاسو انګيندې هم تاسو باندې حرامې دی چه دا ستاسو د ځامنو ببيانې دی . يعنی ستاسو دپاللې شوی ځامنو ببيانې حرامې نه دی ، خوکه دسکه ځوئې بنځه يعنی انګور سخر باندې حرامه ده. لکه بل ځائې کښې ارشاد دی چه ﴿فَلَمَّا قَضَىٰ زَيۡدٞ مِّنۡهَا وَطَرٗا زَوَّجۡنَٰكَهَا لِكَيۡلَا يَكُونَ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ حَرَجٞ فِيٓ أَزۡوَٰجِ أَدۡعِيَآئِهِمۡ﴾ يعنی کله چه زيد د هغې نه خپل حاجت پوره کړو نو مونږ هغه ستا نکاح کښې درکړه چه په مومنانو د هغوئ د پاللې شوۀ هلکانو بنځو باره کښې آسانتيا شی . عطاء رحمه الله فرمائی چه مونږ به

---

۱) ابن ابی حاتم : وسنده صحيح)-
۲) الطبری: ۱٤۸/۸)-

Scanned with Ca

اوریدل چه کله رسول الله ﷺ د زید ښځې سره نکاح اوکړه نو د مکې مشرکانو ګونډ ګونډ شروع کړو . نو دې باندې دا آیت نازل شو چه ﴿وَمَا جَعَلَ أَدْعِيَاءَكُمْ أَبْنَاءَكُمْ﴾ او آیت ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ﴾ نازل شو. (١) یعنی بیشکه د صلبی هلکانو بیبیانې حرامې دی پاللې شوې هلکان شرعی لحاظ ستاسو په اولاد کښې نه دي.رسول الله ﷺ تاسو کښې د چا پلار نه دي .

حسن بن محمد رحمه الله فرمانی چه دا آیتونه مبهم دی. لکه څنګه چه ستاسو د هلکانو بیبیانې ستاسو خوابنې.طاؤس رحمه الله ، ابراهیم رحمه الله ، زهری رحمه الله ، اومکحول رحمه الله نه هم دا شان مروی دی . خه وایم چه د مبهم نه مراد عام دی یعنی مدخول بها او غیر مدخول بها دواړه شامل دی ،صرف نکاح کولو سره حرمت ثابتیږی . که صحبت شوې وی او که نه وی شوې . په دې مسئله اتفاق دي .

یوسوال او دهغې جواب:- که یو سړې سوال اوکړې چه د رضاعی خوئې ښځې حرمت به څنګه ثابت وی . ځکه چه آیت کښې خو د صلبی خوئې ذکر دي . نو جواب دا دي چه هغه حرمت د رسول الله ﷺ د دې حدیث نه ثابت دي کوم کښې چې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه په رضاعت سره هغه څه حرامیږی څه چه په نسب سره حرامیږی (٢)دجمهورو مذهب هم دا دي چه د رضاعی خوئې ښځه حرامه ده . بعضو خلقو په دې باندې اجماع کړې ده.

قوله تعالی:: وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ

د دوو خویندو په یو نکاح کښې جمع کول:- بیا فرمائی چه د دوو خویندو یو نکاح کښې ساتل هم حرام دی. هم داشان ملکیت د وینځو د حکم هم دي چه دوو خویندو سره یو وخت کښې وطی کول حرام دی. مګر د جاهلیت زمانه کښې چه څه اوشو نو هغه اوشو اوهغه تیر شو. نو معلومه شوه چه اوس دا کار بیا دپاره جائز نه دي لکه بل ځائې کښې ارشاد دي چه ﴿لَا يَذُوقُونَ فِيهَا الْمَوْتَ إِلَّا الْمَوْتَةَ الْأُولَىٰ﴾ یعنی هلته به مرګ نه وی لکه څنګه چه مخکښې مرګ راغلې وو.

د جمع بین الاختین په حرمت باندې د عالمانو اجماع:- نو معلومه شوه چه اوس به بیا دپاره کله مرګ نه راځی. صحابه رضی الله عنهم ،تابعین ،آئمه اوسلف او خلف علماء کرام رحمة الله علیهم هم په دې باندې اجماع کوی چه د دوو خویندو یو ځائې نکاح کول حرام دی. او چه کوم سړې مسلمان وی او د هغه نکاح کښې دوه خویندې وی نو هغه ته به اختیار ورکولې شی چه یو اوساتی او یو پریږدی او دې به داسې کوی.

چې دچا په نکاح کښې دوه خویندې وی نو هغه به څه کوی؟:- فیروز رضی الله عنه فرمائی چه کله څه مسلمان شوم نو ځما نکاح کښې دوه ښځې وې او دواړه خپلو کښې خویندې وې ،رسول الله ﷺ ماته حکم اوکړو چه په دوی کښې یو اوساتم او یو ته طلاق ورکړم(مسند احمد)ابن ماجه ، ابوداود ،او ترمذی کښې هم دا حدیث دي(٣) ترمذی کښې دا هم دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کومه غواړې اوساته او یو ته طلاق ورکړه.امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وائی.ابن ما جه کښې دابوخراش نه داسې واقعه هم مذکور ده. (٤)ممکن دی چه د ضحاك بن فیروز کنیت ابوخراش وی او دا واقعه یو وی اود دې خلاف هم ممکن دی.(یعنی چه دا دواړه جدا جدا واقعې وی)

دیلمی رضی الله عنه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! ځما نکاح کښې دوه خویندې دی ، رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په دوی کښې چه په هغوی کښې یوې ته طلاق ورکړه (ابن مردویه)نو دیملی رضی الله عنه نه مراد فیروز دې دوی د یمن سردار وو. او دوی اسود عنسی متنبی ملعون قتل کړې وو.

---

(١) الطبری: ١٤٩/٨)-

(٢) صحیح بخاری کتاب الشهادات باب الشهادت علی الانساب: ٢٦٤٦، صحیح مسلم: ١٤١٤)-

(٣) احمد: ٢٣٢/٤، ابوداود: کتاب الطلاق باب فیمن اسلم وعنده نساء اکثر : ٢٢٤٣،)-

(٤) ابن ماجة: کتاب النکاح باب الرجل یسلم: ١٩٥٠، وهو حسن بالشواهد)-

Scanned with Ca

دوو وینځو سره په یو وخت کښې جماع کول:- دوه وینځې چه خپلو کښې خویندې وی هغوئ یو نکاح کښې جمع کول او ورسره وطی کول حرام دی . د دې دلیل د دې آیت د عموم د وجې ابن مسعود ﷺ نه ددې باره کښې سوال اوشو نو دوی اوفرمائیل چه مکروه دی. سائل اووئیل چه قرآن پاك کښې موجود دی چه ﴿إِلَّا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ مګر هغه چه د هغوئ مالك ستاسو ښی لاسونه دی . په دې باندې ابن مسعود ﷺ اوفرمائیل چه ستا اوښ خوهم ستا لاس کښې دې .هم دا قول دجمهورو،څلورو واړه امامانو وغیره نه مشهور دې

د دوو وینځو خویندو په مینځ کښې جمع کولو اباحت:- اګر چه بعضې سلفو دې مسئله کښې توقف کړې دې . عثمان بن عفان ﷺ نه چه کله ددې مسئلې باره کښې تپوس اوشو نو دوی اوفرمائیل چه یو آیت دا حلالوی او بل نې حراموی.نو څه خو د دې نه منع کوم.سائل د هغه ځائې نه اووتلو نولار کښې ورته یو صحابی ﷺ ملاؤ شو ، ده د هغه نه هم دا تپوس اوکړو ،هغوئ دا اوفرمائیل چه که ماته څه اختیار وې نو ما به داسې کولو والوته عبرت ناکه سزا ورکولې.امام مالك رحمه الله فرمائیلی دی چې ابن شهاب فرمائی چه ځما ګمان دې چه دا ویونکې غالباً علی ﷺ وو. زبیر بن عوام ﷺ نه هم د دې پشان مروی دی .(١) ابن عبدالبر په کتاب الاستذکار کښې وئیلی دی چه د دې واقعې راوی قبیصه بن ذویب دې .هغه د علی ﷺ نوم د دې وجې نه دې اخستې چه هغه د عبدالمالك بن مروان ملګرې وو.او دې خلقو باندې د علی ﷺ نوم اخستل دروند وو(یعنی د حسد د وجې ئې د هغه نوم نه اخستل)

د دوو وینځو خویندو په مینځ کښې جمع کولو حرمت:- ایاس بن عامر وائی چه ما علی بن ابی طالب نه سوال اوکړو چه ځما ملکیت کښې دوه وینځې دی او دواړه خپلو کښې خویندې دی ، یو سره ما تعلقات قائم کړی دی او ځما د هغې نه اولاد هم شوې دې ، اوس ځما زړه غواړی چه د دې خور سره چه ځما وینځه ده هم نکاح اوکړم. نو تاسو اوفرمائې چه د شریعت دې باره کښې څه حکم دې ؟ دوی اوفرمائیل چه رومبئ وینځه آزاده کړه. او بیا د دې دې بلې خور سره نکاح اوکړه. هغه اووئیل چه نور خلق خو وائی چه څه د دې نکاح اوکړم نو بیا د دې خور سره تعلقات قائمولې شم. علی ﷺ اوفرمائیل چه ګوره دې صورت کښې هم خرابی ده . هغه دا که د دې خاوند دې ته طلاق ورکړی یا مړ شی نو هغه به ستا طرفته واپس راځی .د دې آزادولو کښې خو سلامتی ده ، بیا دوی ځما لاس اونیول او وې فرمائیل چه واوره اد آزادو ښځو او وینځو د حرمت او حلت لحاظ دواړه یو شان دی .خو البته تعداد کښې فرق دې . یعنی آزادې ښځې څلورو نه زیاتې نشی جمع کولې او وینځو کښې هیڅ تعداد نشته دې . او پدې څکلو کښې هم هغه ټولې رشتې حرامې دی چه د نسل اونسب په وجه حرامې دی د دې نه پس ابو عمر اووئیل : چې دا روایت داسې دې که څوك د مشرق نه یا مغرب نه صرف د دې روایت د آوریدو دپاره مکې یا بل ځائې ته لاړ شی یعنی سفر اوکړی نو هم د ده دا سفربه ده دپاره سودمندوی والله اعلم

د علی ﷺ نه هم د توقف روایت:- دا یاد ساتل پکار دی چه علی ﷺ نه هم داشان مروی دی چه ځنګه عثمان ﷺ نه مروی دی.په ابن مردویه کښې دی چه دوی اوفرمائیل دوه وینځې چه خپلو کښې خویندې وی یو وخت کښې دواړه جمع کول او دوی سره مباشرت کول د یو آیت نه د دې حرمت ثابتیږی او د دویم ایت نه حلالوالې .

د دوو خویندو وینځو جمع کولو په حرمت کښې اقوال:- ①ابن عباس ﷺ فرمائی چه وینځې په زما د قرابت په وجه په دوی کښې بعضې په ما باندې حرامیږی خو د دوی خپلو کښې چه کوم قرابت وی دا په ما باندې نه حراموی.دجاهلیت د زمانې خلقو هم دا حرام ګنړل چه کوم تاسو حرام ګنړئی.خو د پلار د ښځې سره نکاح او د دوو خویندو جمع کول ئې حرام نه ګنړل کله چې اسلام نو دا دواړه یې هم حرامې کړې .هم په دې وجه د دې

(١) موطا امام مالک کتاب النکاح باب ماجاء فی کراهیة اصابة الاختین : ٣٤، وهو صحیح)-

Scanned with Ca

دواړو حرمت بیان سره سره فرمانی چه کومې نکاح شوی دی هغه شوی دی ② ابن مسعود ﷺ فرمانی چه کومې آزادې ښځې حرامې دی هغه وینځې هم حرامې دی.خوعدد کښې څه قید نشته دې یعنی آزادې ښځې څلورو نه زیاتې نشی جمع کولې اود وینځودپاره دا حد نشته دې③ شعبی رحمه الله هم دا فرمانی.

د جمع بین الاختین د حلت روایت:- ابوعمر رحمه الله فرمائی چه عثمان ﷺ دې باره کښې چه څه فرمانیلی دی هغه د سلفو یو جماعت هم وائی . چه په هغوئ کښې ابن عباس هم دې .

د ابن کثیر رحمه الله رائې:- لیکن اول خو د دې نقل کښې پخپله دې حضراتو سره ډیر اختلاف دې . دویم دا چه دې قول طرفته پوهه علماء کرامو مطلقاً توجه نه ده کړې او نه ئې دا قبول کړی دی . دحجاز ،عراق ، شام بلکه د مشرق او مغرب ټول فقهاء کرام د دې خلاف دی .کامل علم والو او ریښتیا پوهې والو اتفاق دې چه څنګه دوه خویندې نکاح کښې نشی جمع کیدې . سوا د یو څو کسانو نه چه هغوی صرف آلفاظو ته کتلی دی آود سوچ آو فکر نه بغیر ئې د دې جمهورو عالمانو نه جدا ئی اختیار کړې ده د کامل علم آو پوهه خاوندانو خو په دې اتفاق دې چې لکه څنګه د دوو خویندو په مینځ کښې جمع والې نشی کولې دغه شان د دوه وینځې هم چه خپلو کښې چې خویندې وی د ملکیت په وجه نه شی جمع کیدې

دغه شان د مسلمانانو اجماع ده چه دې آیت کښې مور ، خور او لور وغیره حرام شوی دی دوی سره چه څنګه نکاح حرام ده دغه شان که دوی وینځې شی نو هم دوی سره ملاویدل حرام دې . غرض د نکاح او ملکیت نه پس دواړو حالتونو کښې دا ټول په ټوله برابرې دی. نه نکاح کولو په ذریعه دوی سره ملاویدل جائز دی آو نه د ملکیت په وجه دغه شان هم دا حکم د دوؤ خویندو د جمع کولو او د خوابنې او د دویم خاوند د ښځې نه چه کومه لور وی دهغې دې .پخپله ددې جمهورو مذهب هم دا دې.او هم دا هغه دلیل دې چه په دې ټولو مخالفینو باندې پوره سند اوکامل حجت دې.الغرض دوه خویندې یو وخت کښې ساتل هم حرام دی .او دوه خویندې په طورد وینځو ساتل او دوی سره ملاویدل هم حرام دی

(الحمد لله د تفسیر ابن کثیر څلورمې پارې پښتو ترجمه ختمه شوه).

Scanned with Ca

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ كِتٰبَ

او وادهٔ شوې | دښځو نه | ما سوا دهغه ښځونه | چې مالکان شوی دی | ښځ لاسونه ستاسو | دا فرض دې

اووادهٔ شوې ښځې (چه د بل په نکاح کښې وی) | مګر هغه ښځې حرامې نه دی چې ستاسو په ملکیت کښې راشی (یعنی وینځې) | دا قانون دې

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ

دالله | په تاسو | اوحلالې کړې شوی دی | ستا سو دپاره | هغه چې ماسوادی ددغه محرماتونه | (په دې شرط) چې

دالله ﷻ چې تاسو دپاره نې جوړ کړې دې | ددې نه سوا هرڅومره ښځې چې دی هغه تاسو دپاره حلالې دی

تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ

طلبوئ تاسو هغوئ | په مالونو خپلو سره | د پاره د نکاح کولو .....

دخپلو مالونو (مهرونو) په ذریعه نې طلبوئ | د نکاح په قلعه کښې نې بند ونکې نې

غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ۭ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ

نه چې زنا کونکی یئ دهغوئ سره | بیا هغه چې مزه واخستله تاسو | په هغې سره | دهغوئ نه

دانه چې صرف خپل شهوت پرې پوره کوئ | بیا چې تاسو کومو ښځونه مزه واخسته .....

فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ۭ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

نوورکړئ هغوئ ته | مهرونه دهغوئ | تاکلی شوی | او نشته ګناه | په تاسو

نو هغوئ ته خپل مهرونه پوره اداکړئ | او په دې کښې هیڅ باک نشته چې دمهر مقرر کولونه پس

فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

په هغه کار کښې | چې راضی شوئ تاسو | په هغې باندې | روستو | دمقررولو دمهرنه | بیشکه الله

تاسوخپل مینځ کښې په څه (کمی زیاتی) باندې راضی شئ | ..... بیشکه الله ﷻ

كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝۲۴

دې پوهه | او دحکمت خاوند |

په هرڅه پوهه او صاحب د حکمت دې |

قوله تعالی:: وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ

د محصنات نه مراد دکافرو قیدی ښځې دی :-یعنی خاوندانو والا ښځې هم حرامې دی. خو که دکافرانو ښځې میدان جنګ کښې ستاسوقید کښې راشی نودیوحیض تیرولونه پس هغه تاسو دپاره حلالې دی.

دکافرو قید شووښځوحکم:-مسند احمد کښې حضرت ابوسعید خدری ؓ نه روایت دې چه جنګ اوطاس کښې ښځې قید شوې او ددوی خاوندان وو ، نو مونږ نبی کریم ﷺ نه دې باره کښې تپوس اوکړو نو دې باره کښې دا آیت نازل شو. او دوی سره ملاویدل حلال شو. ترمذی ، ابن ماجه ، او صحیح مسلم وغیره کښې هم داحدیث شته دې[1] دطبرانی روایت کښې دی چه داواقعه دجنګ خیبر ده.

[1]) احمد:۳/۷۲، صحیح مسلم کتاب الرضاع باب جواز وطئی المسبیة بعد الاستبراء : ۱۴۵۶، ابوداود: ۲۱۵۵ ترمذی: ۱۱۳۲)-

Scanned with Ca

د وینځې خرڅول د بعضو په نیز طلاق دې: ①دسلفو یو جماعت ددې آیت کریمه په عموم استدلال کوی اوفرمائی چه وینځه خرڅول ددې د خاوند د طرفنه د طلاق ملاویدل دی②حضرت ابراهیم رحمه الله نه چه کله ددې مسئلې باره کښې تپوس اوشو نو دوی دحضرت عبدالله رضی الله عنه دا فتوی بیان کړه.③او یوسند سره مروی دی چه حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اوفرمائیل چه کله یو خاوند والا ښځه خرڅه کړې شی ددې د بدن زیاته حصه ددې دمالك وی. (یعنی د خرڅ نه پس بیا هغه د خپل خاوند پاتې نشوه بلکه د هغې مالک به د هغې نه فائده اخلی ازمترجم) ④حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه ، حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه اوحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه هم دا فتوی نقل ده چه ددې خرڅول ددې طلاق دې.

⑤ابن جریر کښې دی چه د وینځې طلاقونه شپږ دی.خرڅول ئې طلاق دې.آزادول هم.هبه کول هم براءت کول اوددې د خاوند طلاق ورکول هم (دا پنځه صورتونه بیان شو ، شپږم صورت نه په تفسیر ابن کثیر کښې شته دې او نه ابن جریر کښې ، مترجم)⑥حضرت ابن المسیب رحمه الله فرمائی چه خاوند والا ښځو سره نکاح کول حرام دی.خو وینځې سره حرامه نه ده.ځکه چه ددوی طلاق ددوی خرڅول دی⑦ حضرت معمر رحمه الله او حضرت حسن رحمه الله هم دا فرمائی چه کوم ددې بزرګانو قول دې.

دجمهورو په نیز د وینځې خرڅول طلاق نه دې:- لیکن جمهور ددې خلاف دی.هغوئ فرمائی چه خرڅول ددوی طلاق نه دې ځکه چه اختسلو والا نائب دې او خرڅولو والا ددې نفع ددې ملکیت نه اخلی. او دا دهغه نه سلب کوی او خرڅوی ئې.

دلیل:-ددوی دلیل دحضرت بریره رضی الله عنها حدیث دې چه په مسلم او بخاری وغیره کښې دې چه ام المومنین حضرت عائشه رضی الله عنها چه کله دا واخسته نو دا ئې آزاده کړه نو ددې نکاح حضرت مغیث رضی الله عنه سره فسخ نه شوه. بلکه رسول کریم ﷺ دوی ته د فسخ کولو او باقی ساتلو اختیار ورکړو. اوحضرت بریره رضی الله عنها فسخ کول خوښ کړل. دا واقعه مشهوره ده (۱)

استدلال:- نو که خرڅول طلاق وې نو دا بزرګان وائی چې نبی کریم ﷺ به حضرت بریره رضی الله عنها ته د خرڅیدو نه پس دخپلې نکاح باقی ساتلو اونه ساتلو اختیار نه ورکولو. اختیار ورکول دلیل دې دنکاح باقی ساتلو. نود آیت نه مراد صرف هغه ښځې دی چه جهاد کښې قبضه کښې راشی.والله اعلم

دریم قول محصنات نه پاکدامې ښځې مراد دی:- او دا هم وئیلې شوی دی چه دمحصنات نه مراد پاك دامنې ښځې دی یعنی عفیفه ښځې تاسو باندې حرامې دی ترکومې چه تاسو نکاح ،ګواه ،مهر اود ولی د طرفه نه د هغوی دعصمت مالکان جوړ نشئ .که یو وی او که څلور.ابوالعالیه رحمه الله او طاؤس رحمه الله هم دا مطلب بیان کړې دې.

دحضرت عمر په نیز د ایت مطلب:- حضرت عمر رحمه الله او حضرت عبیده رحمه الله فرمائی چه مطلب دادې چه څلورو نه زیاتې ښځې تاسو باندې حرامې دی خو وینځو کښې شمیر نشته.

قوله تعالی:: كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ

بیافرمائی چه دا حکم الله رضی الله عنه په تاسو باندې فرض کړو. یعنی د څلورو حکم. نوتاسو دا کتاب لازم اونیسئ او ددې د حد نه مخکښې مه ځئ .او ددې د شریعت اوددې د فرائضو پابند اوسئ.دا هم وئیلې شوی دی چه حرامې ښځې الله رضی الله عنه خپل کتاب کښې بیان کړې دی .

قوله تعالی:: وَأُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ

د حلالو مصداق :بیا فرمائی ①چه کومې ښځې حرامې دی هغه مونږ بیان کړی. ددوی نه علاوه ټولې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب العتق باب بیع الولاء، ۲۵۳۶، صحیح مسلم: ۱۵۰٤، ابوداود: ۲۲۳۳، ترمذی: ۱۱۵٤ وابن ماجة: ۲۵۲۱)-.

Scanned with Ca

حلالي دی.

② یو مطلب دا هم بیان شوي دي چه ددي څلورو نه کمي تاسو دپاره حلالي دی.لیکن دا قول د حقیقت نه لري قول دي. او صحیح مطلب رومبي دي.او هم دا د حضرت عطاء قول دي.

③ حضرت قتاده رحمه الله ددي دامطلب بیانوی چه دي نه مراد وینځي دی.هم دا آیت دلیل دي دهغه خلقو چه د دوؤ خویندود جمع کولو د حلت قائل دی. اود هغوئ دلیل هم دي کوم چي وائی چي یو آیت دا حلالوی او دویم ئي حراموی.

قوله تعالی::اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ

دمهر فرضیت:- او بیا فرمائی چه تاسوداحلالي ښځي خپل مال سره حاصلي کړئی.څلورو پوري خو د آزادو ښځوحکم دي. او د وینځو شمیر نشته دي. البته د شریعت په طریقه به وی .ددي وجي فرمائی چه د زنا نه دبچ کیدو دپاره به وي.او د شهوتونو پوره کول بر تري مقصود نه وی.

قوله تعالی::فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً

بیا فرمائی چه کومو ښځو نه تاسو فائده اوچتوئ نو ددي مقابله کښي تاسو هغوئ ته مهر ورکړئی.لکه څنګه چي په بل آیت مبارك کښي دی ﴿وَكَيْفَ تَاْخُذُوْنَهٗ وَقَدْ اَفْضٰى بَعْضُكُمْ اِلٰى بَعْضٍ﴾ : (ترجمه) * تاسو به مهر دښځونه څنګه اخلئ حالانکه تاسو یو بل سره یو ځائي شوی یئ.اوبل ځائي کښي فرمائی چه ﴿وَاٰتُوا النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحْلَةً﴾ :(ترجمه) * تاسو د ښځو مهر خوشحالئ سره ادا کوئی .او بل ځائي کښي فرمائی چه ﴿وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ اَنْ تَاْخُذُوْا مِمَّآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْئًا﴾ : (ترجمه) تاسو چه څه ښځو ته ورکړی دی دهغي واپس اخستل حرام دی.

د نکاح متعه حرمت :- ددي آیت مبارك نه نکاح متعه په جواز باندي استدلال کړي شویدي.بیشکه متعه داسلام شروع کښي مشروع وه خو بیا منسوخ شوه. ①امام شافعی رحمه الله او دعلماء کرامو یو جماعت فرمائی چه دوه ځله متعه مباح شوه اوبیامنسوخ شوه② بعضي وائی چه ددي نه زیات ځله مباح اومنسوخ شوه③اودبعضو قول دي چه صرف یوځل مباح اوبیامنسوخ شوه اوبیا نه ده مباح شوي.

د نکاح متعه دجواز قائلین:-حضرت ابن عباس رضي الله عنه او څه نور صحابه کرامو رضي الله عنهم نه دضرورت په وخت کښي ددي اباحت مروی دي.حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه هم یو روایت داسي مروی دي.حضرت ابن عباس رضي الله عنه ، حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه ، حضرت سعید بن جبیر رضي الله عنه او سدی رحمه الله نه د ﴿مِنْهُنَّ﴾ نه پس ﴿اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ قراءت مروی دي.

دجمهورو مذهب او دلیل:- لیکن جمهور ددي خلاف دی. او ددي بهترینه فیصله بخاری او مسلم کښي دحضرت علی کرم الله وجهه روایت کوی. په هغي کښي دی چه نبی کریم ﷺ دخیبر په ورځ نکاح متعه اودکورنو خرونو د غوښي نه منع اوفرمائیله[1] ،ددي حدیث مبارك الفاظ داحکامو کتابونوکښي تفصیل سره بیان شوی دی.

دویم دلیل:- صحیح مسلم کښي دی چه حضرت سبره بن معبد جهنی رضي الله عنه نه مروی دی چه د فتح مکه غزوه کښي هغه نبی کریم ﷺ سره وو. نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه ائي خلقو ! ما تاسو ته ښځو سره د متعه کولو اجازت درکړي وو ، یاد ساتئ بیشکه الله ﷻ دا ترقیامه پوري حرامه کړه. چه چا سره داقسم ښځه وی نو هغه ته پکار دی چه هغه پریږدی او تاسوچه هغوئ ته څه ورکړی وی د هغي نه څه

---

[1]) صحیح بخاری کتاب المغازی غزوة خیبر : ٤٧١٦، صحیح مسلم : ١٤٠٧، نسائی : ٣٣٦٨، ترمذی: ١٧٩٤ ابن ماجة:١٩٦١)-

Scanned with Ca

واپس مه اخلی:(۱)

دریم دلیل:- صحیح مسلم شریف کښې یو روایت کښې دی چه دا نبی کریم ﷺ حجة الوداع کښې فرمائیلی وو. دا حدیث ډیرو الفاظو سره مروی دې.او ددې تفصیل څائې د احکامو کتابونه دی.

نکاح متعه حرامه ده

مسلک حنفی:- داحنافو مذهب هم د جمهورو پشان دې یعنی دوی هم د نکاح متعې د حرمت قائل دی (احکام القران للعلامة ظفراحمد العثمانی (۲۲۹\۲)-

قوله تعالی::وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُمْ بِهِ مِنْ بَعْدِ الْفَرِيضَةِ ۚ

دمهر مقرر کولونه پس په هغې کښې کمې زیاتې:- بیا فرمائی چه مقرر کولو نه پس که تاسو رضامندئ سره څه مقرر کړئی نو دې کښې هیڅ باك نشته دې .

په مهر کښې د تقررئ نه پس د زوجینو په رضا کمې زیاتې جائز دې

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز هم د مهر مقرر کولو نه پس که ښځه خاوند په مهر کښې کمې زیاتې کوی نو دا جائز دې خو چه په خپل مینځ کښې په رضا مندئ سره وی (احکام القران للعلامة ظفراحمد العثمانی (۲۳۲\۲)-

دقائلین متعې په نیز د ایت مطلب:- کوم کسان چه د متعې د جواز قائل دی نوهغوی د دې دا مطلب بیانوی. چه کله مقرر وخت تیر شی نو د متعې په موده زیاتولو او چه څه مو ورکړی دی دهغې نه علاوه نور څه ورکولو کښې هیڅ ګناه نشته دې.

سدی رحمه الله وائی چه که غواړی نو مخکښې چې ئې کوم مهر مقرر کړې وی نو د متعې موده ختمیدونه وړاندې دې ورته اووائی چه زه د دومره مودې دپاره نوره متعه کوم.نو کهٔ دې درحم د پاکوالی نه وړاندې د متعې په موده کښې زیاتې اوکړو. او موده پوره شوه .نو بیا ددې هیڅ دباؤ نشته دې .هغه ښځه به جدا شی او یو حیض پورې به صبر اوکړی اود خپل رحم صفائی به اوکړی. .په دې دواړو کښې میراث نشته.نه به دا ښځه ددې سړی وارثه وی او نه به دا سړې ددې ښځې وارث وی.

دمانعین متعې په نیز د ایت مطلب:- او کومو حضراتو چې دا جمله .د نکاح مسنون دمهر په باره کښې خودلې دې.نو دهغوئ په نیز خو مطلب ښکاره دې چه په دې آیت کښې د مهر د ادا کولو تاکید بیانیږی.لکه فرمائئ چه مهر آسانئ او خوشحالئ سره ورکوئی. نو مطلب دا شوکه د مهر مقررولو نه پس ښځه خپل حق معاف کړی یا لږ پریږدی اونور معاف کړی او ددې نه دست برداره شی نو ښځه خاوند باندې هیڅ ګناه نشته دې.حضرت حضرمی رحمه الله فرمائی چه خلق مهر مقرروی ،بیا ممکن ده چه دوی باندې تنګی راشی نو که ښځه خپل حق پریږدی نوجائز دی.امام ابن جریر رحمه الله هم دا قول خوښ کړې دې (۲)حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه مراد ددې نه دادې چه دمهر پوره پوره رقم هغوئ ته حواله کړئ.بیا هغوئ ته د جدا اوسیدو او جدا کیدو پوره پوره اختیار ورکړئی.

قوله تعالی::إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ۝

بیا ارشاد دې چه الله ﷻ علیم او حکیم دې.په دې احکامو کښې کوم چې د حلت او حرمت متعلق دی چه کوم حکمتونه پراته دی. او په دې کښې کوم مصلحتونه دی الله ﷻ ته هغه ښه معلوم دی.

---

(۱) صحیح مسلم کتاب النکاح باب النکاح المتعة : ۱٤۰٦، ابن ماجة: ۱۹۹۲)-

(۲) الطبری : ۱۸۰/۸)-.

Scanned with Ca

وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ

|او هغه څوك|چې طاقت نۀ لری |په تاسو کښې | دمال | چې نکاح اوکړی

|اوپه تاسو کښې چې څوک داطاقت نه لری چې هغه

الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

د اصیلو| مومناتو ښځو سره |نودهغه وینځوسره دې نکاح اوکړی |چې مالکان شوی وی ښی لاسونه ستاسو

اصیلې مسلمانې ښځې سره نکاح اوکړی |نوهغه مسلمانو ښځو سره دې نکاح اوکړی چې تاسو ئې مالکان ئې

مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ؕ بَعْضُكُمْ

دهغه وینځو ستاسو نه| چې مومنانې وی | او الله | ښۀ عالم دې | په ایمانونو ستاسو |ابعضې ستاسو

.....الله ﷻ ته ستاسو دایمان حال ډیرښه معلوم دې (کیدیشی وینځه داصیلې نه ښۀ مسلمانه وی) تاسوټول

مِّنْ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ

دبعضو نه دی|نوپه نکاح واخلئ هغوئ |په اجازت |دسر پرستانو دهغوئ | اوورکړئ هغوئ ته | مهرونه دهغوئ

یوشان یئ نوهغوئ سره دمالکانوپه اجازت نکاح اوکړئ| اودرواج مطابق ورته مهرونه هم ورکړئ

بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ

درواج مطابق| چې پاکدامنې وی| او نۀ وی زنا کاري | او نۀ وی نیونکی دپټو یارانو

چې هغوئ دنکاح په قلعه کښې محفوظې شی| او په څرګنده بدکاری نۀ کوی|اونۀ پټ پټ یاران نیسی

فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ

بیاهرکله چې|نکاح اوکړی |نو که راتلل اوکړل هغوئ | بدکارئ ته |نومقرره ده د هغوئ دپاره | نیمه

نوهرکله چې هغوئ په نکاح سره محفوظې شی| اودې نه پس بدکاری اوکړی |نوهغوئ ته داصیلې

مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ؕ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ؕ

دهغې اچې ده په اصیلو ښځو باندې| د سزا نه | داحکم دپاره د هغه چا دې|چې ویریږی|دماتیدودحد نه| تاسو نه

په نسبت نیمه سزا ورکړئ | .....داآسانی هغه چا د پاره ده چې هغه سره د زنا ویره وی

وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝۲۵ ع

اوکه صبراوکړئ تاسو|دا غوره ده|ستاسو دپاره| او الله |ببښونکې|مهربان دې|

داوکه تاسو صبر اوکړئ |نودا ستاسودپاره ډیره بهتره ده| اوالله ﷻ ببښونکئ مهربان دې |

قوله تعالی:: وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ

د آزادې ښځې سره دنکاح کولو ونس نه لرو صورت:- ارشاددې چه د چا د آزادو مسلمانو ښځو سره دنکاح کولو طاقت او قدرت نه وی ربیعه رحمه الله فرمائی چه ﴿ طولا ﴾ نه مراد قصد او خواهش دې.یعنی وینځې سره دنکاح کولو خواهش.امام ابن جریر رحمه الله داقول نقل کړیدې اوبیا ئې داپخپله رد کړې دې مطلب دادې چه کله داسې حالت وی نو دمسلمانانو ملکیت کښې چه کومې وینځې دی

هغوئ سره نکاح اوکړئ.دتولو کارونو حقیقت الله ﷻ ته معلوم دي.تاسوصرف ظاهر کتونکی یئ. تاسوتول آزاداوغلام ایمانی رشته کښې یویئ.وینځوسره نکاح دهغوئ دمالکانوپه اجازت سره کوئ

قوله تعالی::فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ

د وینځې ولی څوک دي؟ :- معلومه شوه چه د وینځو ولی دهغوئ مالك دي.دهغوئ د اجازت نه بغیر ددوی نکاح نه منعقد کیږی.دغه شان غلام هم د خپل مالك د رضا نه بغیر خپله نکاح نشی کولی.حدیث مبارك کښې دی چه کوم غلام د خپل مالك د اجازت نه بغیر خپله نکاح اوکړی نو دا زناکار دي (۱).

خوکه د وینځې مالکه یوه ښځه وی نو د مالکې په اجازت سره دي هغه وینځه هغه څوک په نکاح ورکړی څوک چې ددې ښځې نکاح کولې شی.(مثلا د مالکې پلار راواخله ځکه چه د مالکې ولی د هغې پلار دي نو لکه څنګه چې هغه د خپلې لور د نکاح ولی دي دغه شان د خپلې لور د وینځې د نکاح هم ولي دي ازمترجم) ځکه چه حدیث مبارك کښې دی چه ښځه دي دبلې ښځې نکاح نه کوي او نه دي ښځه خپله نکاح په خپله کوی.هغه ښځې زنا کاري دی چه کومې خپله نکاح په خپله کوی (۲).

د عاقلې بالغې آزادې ښځې پخپله خپله نکاح کول جائز ده

مسلک حنفی:- مسئله داده.چه دحرۀ، عاقله، بالغه نکاح ددې په رضامندئ، بغیر د ولی منعقد کیږی.او که نه منعقد کیږی؟ د ظاهرالروایة مطابق د شیخینو رحمهما الله په نیز منعقدکیږی.اود ابویوسف رحمه الله نه په غیر ظاهر الروایت کښې یو روایت دي.چه بغیر د ولی نه نکاح نه منعقد کیږی.اود امام محمد رحمه الله په نیز موقوف منعقد کیږی.که ولی اجازت ورکړی.نو نافذ به وی.او که اجازت ورنکړی.نو منعقد به نه وی. (تسهیل الهدایه شرح هدایه ۵۷۱/۳)-

قوله تعالی::وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ

بیا فرمائی چه د ښځو مهر په خوشحالئ ورکوئی کمولو سره ،تکلیف ورکولو سره او داسې نه چه دا وینځه اوګنړئی او دي ته کم ورکوئی.

قوله تعالی::مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ

د زناکارو وینځو سره د نکاح ممانعت:- بیا فرمانی چه اوګورئی چه هسې نه دا ښځې بدکارئی طرفته په خپله مائلې وی. اونه داسې وی که څوك دوی طرفته مائل شی نو دوی هغه طرفته مائله کیږی .نه په ښکاره زنا کاري وی او نه په پټه بدکاري وی.چه یو ځائې بل ځائې یاراني جوړوی او ګرځی او پټ په پټه یاراني کوی. چه څوك داسې خرابې وی نو الله ﷻ تاسو ته حکم کوی چه داسې ښځو سره نکاح مه کوئی.

د پاکدامن سړی دپاره زناکاري ښځې سره نکاح جائز ده

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز د زناکاري ښځې سره نکاح کول جائز دی د تفصیل دپاره اوګورئ (احکام القرآن للجصاص باب تزویج الزانیة ۳۹۱/۳) -

قوله تعالی::فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ

د قراءت وضاحت:- د ﴿اُحْصِنَّ﴾ دویم قرات ﴿اَحْصَنَّ﴾ هم وئیلې شوې دي د دواړو معنی یو ده.

د وینځې او غلام احصان څه دي؟ ①دلته د احصان نه مراد اسلام دي ② یا وادۀ شوې ښځې

---

۱) ابوداود کتاب النکاح باب فی نکاح العبد بغیر اذن موالیه : ۲۰۷۸، ترمذی: ۱۱۱۱، ابن ماجة: ۱۹۵۹،

۲) ابن ماجة کتاب النکاح باب لانکاح الا بولی : ۱۸۸۲، السنن الکبری للبیهقی :۱۱۰/۷، عن ابی هریرة وسنده صحیح وله حکم المرفوع)-

Scanned with Ca

① ابن ابی حاتم نه یو مرفوع حدیث کښې دی چه ددوی احصان اسلام او عفت دې.لیکن دا حدیث منکردې ،دې کښې ضعف هم دې.او د یو راوی نوم هم نشته.داسې حدیث د حجت لائق نه دې.

② دویم قول یعنې احصان نه مراد نکاح ده.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی ، حضرت مجاهد رحمه الله ، حضرت طاؤس رحمه الله ،حضرت ابن جبیر رحمه الله ، حضرت حسن رحمه الله او حضرت قتاده رحمه الله وغیره نه هم دا قول نقل دې.امام شافعی رحمه الله نه ابوعلی طبری رحمه الله خپل کتاب ایضاح کښې هم دا نقل دی.مجاهد رحمه الله فرمائی چه د وینځې محصن کیدل دادی چه هغه د یو آزاد سړی نکاح کښې راشی.داشان دغلام احصان دادې چه هغه آزادمسلمانې ښځې سره نکاح اوکړی.حضرت ابن عباس ﷺ نه هم دا منقول دی. شعبی رحمه الله او نخعی رحمه الله هم دا فرمائی.

د ابن کثیر ترجیح:-دا هم وئیلې شوی دی چه ددې دواړو قراء تونو اعتبار سره معنی هم بدلیږی.﴿ **اُحْصِنَ** ﴾ نه مرادخو نکاح ده او ﴿ **اَحْصَنَ** ﴾ نه مراد اسلام دې .ابن جریر رحمه الله هم دا قول خوښوی.لیکن په ظاهره مراد دلته نکاح ده.والله اعلم.ځکه چه د آیت سباق هم په دې دلالت کوی. دایمان ذکرخو لفظونو کښې موجود دې.

په جمهور باندې اشکال:- بهر حال په دواړو صورتونو کښې دجمهورو دمذهب مطابق بیا هم د آیت معنی کښې هم اشکال باقی دی.ځکه چې د جمهورو قول دې چه وینځې سره د زنا کولو په وجه هغې ته به پنځوس کوړې ورکولې شی. برابره ده که هغه مسلمانه وی او که کافره ،که واده شوې وی او که واده شوې نه وی.حالانه دآیت مفهوم دا تقاضا کوی چه غیر محصنه وینځه باندې حد نشته دې.

جوابونه:-نوددې مختلف جوابانونه دی① دجمهورو قول دې چه بیشکه منطوق په مفهوم باندې مقدم دې ،ددې وجې مونږ هغه عام احادیث په کومو کښې چه په وینځو باندې د حد جاری کولو بیان دې ددې آیت مفهوم باندې مقدم کوو.

په وینځه د حد قائمولو دلیل:- صحیح مسلم کښې حدیث دې چه حضرت علی ﷺ خپله خطبه کښې اوفرمائیل چه "اې خلقو خپلو وینځو باندې حدقائم ساتئ که هغوئ محصنې وی اوکه غیرمحصنې وی. نبی کریم ﷺ ماته حکم کړې چه د وینځې سره زنا کولو باندې حد قائم کړم. خو هغه نفاس کښې وه نو زه ویریدم چه هسې نه دحد کوړې لګولو سره دا مړه شی.نو ما هغه وخت کښې هغې باندې حد قائم نه کړو. اود نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شوم اوواقعه مې ورته بیان کړه نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تا ښه اوکړل چه تر کومې پورې چې هغه صحیح شوې نه وی نو حد پرې مه جاری کوه" (۱)مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله دا نفاس نه فارغه شی نو دې ته پنځوس کوړې ورکړئ.(۲)

دویم دلیل:- حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه ما نبی کریم ﷺ نه آوریدلی وو چه کله تاسو کښې څوک وینځې سره زنا اوکړی او زنا ظاهره شی نو هغې ته حد ورکړئ او بدرد ورته مه وائې.بیا که دوباره زنا اوکړی نو بیا ورته حد ورکوئ او بدردورته مه وائې.بیا که په دریم ځل هم زنا اوکړی او ښکاره شی نو دا خرڅه کړئ اګر چه دوینښتو د رسئ بدله کښې وی.اوصحیح مسلم کښې دی چه کله دریم ځل دا کار ددې نه اوشی نو په ځلورم ځل نې خرڅه کړئ (۳)

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الحدود باب تاخیر عن النفساء : ۱۷۰۵، ترمذی : ۱٤٤۱، السنن الکبری للنسائی : ۷۲۹۹)-

(۲) زوائد مسند احمد: ۱۳٦/۱،

(۳) صحیح بخاری کتاب الحدود باب لایثرب علی الامة اذا زنت: ٦۸۳۹، صحیح مسلم: ۱۷۰۳، ابوداود : ٤٤۷۰،)-

دریم دلیل:په عهد فاروقی کښې وینځوباندې حد جاری کول:- عبدالله بن عیاش بن ابوربیعه مخزومی رحمه الله فرمائی چه " مونږ قریشی ځوانانوته حضرت عمرفاروق رضی الله عنه د امارت په وینځوباندې د حد جاری کولو حکم کړې وو. مونږ هغوئ ته د زنا په وجه پنځوس کوړې ورکړې وې "(۱)

په وینځو دحد نه جاری کولو قائلینو د عامو احادیثو نه جواب:- ② کوم حضرات چې دې طرفته دی چه وینځه باندې د احصان نه بغیرحد نشته.هغوئ فرمائی چه (په کومو احادیثو کښې چې د وینځو د حد ذکر دې نو) دغه وهل د ادب او خودنې او منع کولو په غرض وو. حضرت ابن عباس رضی الله عنه هم دې طرفته دې.حضرت طاؤس رحمه الله ، حضرت سعید رحمه الله ، حضرت ابوعبیده رحمه الله او د حضرت داؤد ظاهری رحمه الله هم دا مذهب دې

د دویم فریق دلیل:- دهغوئ لوئې دلیل د آیت مفهوم دې اودا د شرط په مفهومونو کښې دې.او د اکثرو په نیز حجت دې .ددې وجې دهغوئ په نیز د آیت مفهوم د احادیثو په عموم باندې مقدم کیدې شی.

دویم دلیل:- اود حضرت ابوهریره رضی الله عنه اوزید بن خالد حدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ نه تپوس اوشو چه کله وینځه زنا اوکړی اوهغه محصنه نه وی یعنی وادۀ شوې نه وی. نو څه په کولې شی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که هغه زنا اوکړی نو حد ورکړئی او که بیا زنا اوکړی نو هغې ته کوړې ورکړئی او بیا ئې خرڅه کړئی اګر چه د ویښتو د رسئ بدله کښې وی. د حدیث مبارک راوی حضرت ابن اشهاب رحمه الله فرمائی چه ما ته معلوم نه ده چه د دریم ځل نه پس ئې څلورم ځل اوفرمائیل که نه.(۲)

نو ددې حدیث مطابق هغه جواب ورکوی چه ګورئی دلته د حد مقدار او دکوړو تعداد نه دې بیان شوې لکه چه د محصنه باره کښې ئې صفا فرمائیلی دی او لکه قرآن پاک کښې چې مقرر شوی دی چه د محصنات په مقابله کښې په دوی باندې نیم حد دې. نو آیت او حدیث مبارک کښې داسې تطبیق واجب شو ، والله اعلم.

دریم دلیل:- ددې نه هم زیات صراحت والا روایت کوم چې د حضرت سعید بن منصور په روایت کښې حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل شوې دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په وینځه باندې حد نشته دې تر څو چه هغه احصان اونکړی. یعنی څو پورې چه هغه نکاح والا نشی.نو کله چه خاوند والا جوړه شی نو په دې باندې نیم حد دې په نسبت د آزادې نکاح دارو ښځو.

دا حدیث ابن خزیمه کښې هم دې ، لیکن هغه فرمائی چه دا مرفوع ګنړل خطا ده. دا موقوف دی یعنی د حضرت ابن عباس رضی الله عنه قول دې.بیهقی کښې هم روایت دې او دهغوئ هم دا فیصله ده.(۳)او وائی چه د حضرت علی رضی الله عنه اوحضرت عمر فاروق رضی الله عنه حدیث د یوواقعې فیصله ده.او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه د حدیث هم ډیر جوابابونه دی.

د ابوهریره د حدیث نه جوابونه:- ① یودا چه دامحمول دې په هغه وینځه چه واده شوې وی .داشان دې دواړو احادیثو کښې تطبیق او جمع کیدې شی.

②دویم داچه دې حدیث کښې دحدلفظیو راوی دخپله ځانه داخل کړې دې اوددې دلیل دجواب فقره ده

③ دریم دا چه دا حدیث د دوۀ صحابه کرامو رضی الله عنهم دې .اوهغه حدیث صرف دیو صحابی رضی الله عنه دې.اود دوو صحابو حدیث د یو صحابی په حدیث باندې مقدم دې.

---

(۱) موطا امام مالک : ۸۲۷/۲، کتاب الحدود باب جامع ماجاء فی حد الزنی: ۱۶ وسنده صحیح)-

(۲) صحیح بخاری کتاب الحدود باب اذا زنت الامة: ٦٨٣٧، صحیح مسلم: ١٧٠٤، ابوداود: ٤٤٦٩)-

(۳)بیهقی :۲٤۳/۸،عن ابن عباس ابن ابی شیبة:۵۱۹/۹،ح/۲۸۲۸۸،ددې سند کښې سفیان بن عیینه مدلس دې اوروایت معنعن دې،

Scanned with Ca

اودغه شان دا حدیث نسائی هم نقل کړې دې اودې د مسلم په شرط باندې برابر دې.حضرت عباد بن تمیم د خپل تره نه روایت کوی اوهغه بدری وو چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل کله وینځه زنا اوکړی نو دې ته کوړې ورکړئی .که بیا زنا اوکړی نو کوړې ورکړئی ، که بیا زنا اوکړی نو بیا ئې په کوړو اووهئ، چې بیاه زنا اوکړی نو دا خرڅه کړئی اګر چه د ویښتو د یو رسئ بدله کښې وی. (۱)

④ څلورم جواب دادې چه دا هم لرې ده چه یو راوی په جلد باندې لفظ د حد اطلاق کړې وی او هغه جلد لره حد ګڼلې وی یا د حد د لفظ اطلاق تادیبا په طور د سزا وی لکه څنګه چه د حد د لفظ اطلاق په طور د سزا وی. چه کوم بیمار زانی په یو څانګه وهلې شوې وو په کومه کښې چې سل واړه واړه ښاخونه وو. اولکه د لفظ د حد اطلاق په هغه سړی کړې شوې وو چه دخپلې ښځې وینځې سره ئې زنا کړې وه لکه ښځې دده دپاره حلاله کړې وه .حالانکه هغې ته سل کوړې ورکول تعزیر صرف یو سزا وی. لکه امام احمد وغیره سلف خیال کوی ، حد حقیقی صرف دادې چه څوان ته سل کوړې او واده شوی ته یا لوطی ته رجم ورکړې شی ، والله اعلم.

ابن ماجه وغیره کښې حضرت سعید بن جبیر ﷺ فرمائی چه وینځې کله نکاح نه وی کړې نو هغه دې په زنا باندې اونه وهلې شی.ددې اسناد صحیح دی.لیکن ددې دوه مطلبه کیدیشي.یو خو دا چه بالکل دې اونه وهلې شی نه حد اونه نور څه ، نودا قول خو غریب دې.ممکن ده چه د آیت الفاظو ته نظر کولو نه پس فتوی ورکړې شوی وی او حدیث ورته نه وی رسیدلې.دویم مطلب دا چه د حد په طور دې اونه وهلې شی.که دا معنی مراد وی نو ددې خلاف نه ده. اوکه سزا ورکړې شی نو دا به د حضرت ابن عباس ﷺ د فتوی مطابق وی ، والله اعلم.دریم جواب دادې چه دا آیت باندې دلالت کوی چه محصنه وینځه باندې په نسبت دآزادې ښځې نیم حد دې.لیکن محصنه کیدو نه مخکښې د کتاب اوسنت عموم کښې هم شامل دې چه دې ته هم سل کوړې ورکړې شی .لکه دالله ﷻ فرمان دې چه ﴿اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ﴾ :

(ترجمه) * زنا کاره ښځه او زنا کار سړې دې سل کوړې اووهلې شی.

لکه حدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه ځما کلام واخلئ او ځما کلام باندې ځان پوهه کړئی.الله ﷻ ددوی دپاره لاره راویستې ده. که د دواړو طرفونو نه واده شوی نه وی نو سل کوړې او یو کال جلاوطنی او که دواړه واده شوی وی نو سل کوړې او کانړو سره رجم کول.داحدیث مسلم شریف کښې دې (۲)اودغه شان نور احادیث هم دی.د داود بن علی ظاهری رحمه الله هم داقول دې.لیکن دا ډیر ضعیف دې.ځکه چه الله ﷻ محصنه وینځو ته په نسبت دآزادوښځو د نیمو کوړو ورکولو سزا بیان کړې ده یعنی پنځوس کوړې. نوبیا تر کومې چه هغه محصنه نه وی نو بیا ددې سزا نه هم زیاته سزاواره څنګه کیدیشی.حالانکه شریعت قاعده داده چې داحصان نه مخکښې کمه سزاده اواحصان نه پس زیاته ده.بیاددې برعکس څنګه کیدیشی. نبی ﷺ نه صحابه کرام ﷺ دهغه وینځې دسزا باره کښې تپوس کوی چې واده شوې نه وی. او نبی کریم ﷺ هغوئ ته جواب ورکوی چه هغوئ په کوړو اووهئ لیکن دا نه فرمائی چه سل کوړې ئې اووهئ. نوکه ددې هغه حکم وی لکه څنګه چه حضرت داود ظاهری رحمه الله بیان کړې دې نوبیا نبی کریم ﷺ باندې ددې حکم بیانول واجب وو. ځکه چه دهغوئ داسوال خو صرف په دې وجه وو چه د وینځې د واده کیدو نه پس هغې ته دسلوکوړو وهلو بیان نشته دې ګنی ددې قید لګولو څه ضرورت وو چه سوال کښې وائی چه هغه واده شوې نه وی.ځکه چه بیا خو

---

(۱) السنن الکبری للنسائی : ۷۲۳۸، وضعف ابآ اویس ولکن سنده حسن ابو اویس حسن الحدیث)-

(۲) صحیح مسلم کتاب الحدود باب حد الزنی: ۱۶۹۰)-

واده شوې او نه واده شوی کښې هیڅ فرق پاتې نشو، که دا آیت نازل شوې نه وې.لیکن دې دواړو صورتونو کښې دوی ته د یو علم شوې وو ددې وجې د دویم باره کښې سوال اوکړې شو او نبی کریم ﷺ ورته جواب ورکړو او معلوم شو.

لکه څنګه چه بخاری او مسلم کښې دی چه کله صحابه کرامو ﷺ د نبی کریم ﷺ نه په نبی کریم ﷺ باندې د درود لیږلو متعلق تپوس اوکړو نو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه سلام خوهغه شان دې چه څنګه تاسوته معلوم دی.(۱)

اویوروایت کښې دی چه کله دالله ﷻ فرمان ﴿إِنَّ اللَّهَ وَمَلَٰئِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ نازل شو.اوالله ﷻ حکم اوفرمائیلو چه په نبی کریم ﷺ باندې درود اوسلام لیږئ نو صحابه کرامو ﷺ اوفرمائیل چه د سلام طریقه او د هغې الفاظ خومونږ ته معلوم دی. خو مونږ ته ددې کیفیت بیان کړئ (۲). نودغه شان دا سوال هم دې.

④ د آیت د مفهوم څلورم جواب د ابوثور دې چه د ابوداود د جواب نه زیات بهتر دې ، هغه فرمائی چه کله وینځې واده شی.نو دهغوئ د زنا حد نیم شی، د هغه حد نه کوم چه د واده شوو آزادو ښځو د زناکارئی حددې.نو ظاهره ده چه دآزادو ښځو حد دې صورت کښې رجم دې.او دا هم ظاهره ده چه رجم نیم نه شی کیدې.نو دې صورت کښې به رجم وی. او د واده نه مخکښې که دا زنا اوکړی نو دې ته به پنځوس کوړې ورکولې شی.ځکه چه دې حالت کښې آزاده ښځه باندې سل کوړې دی.

د ابوثور غلطی:- پنه اصل کښې د آیت په مطلب پوهیدلو کښې ده نه غلطی شوې ده او په دې کښې د جمهورو خلاف دې.بلکه امام شافعی رحمه الله فرمائی چه د یو مسلمان په دې کښې هیڅ اختلاف نشته دې چه مملوك باندې د زنا سزا رجم نه دې .

ددې وجې آیت دلالت کوی چه په دوی باندې د محصنات نیم عذاب دې اود محصنات لفظ کښې چه کوم الف لام دې هغه دعهد دې.یعنی هغه محصنات چه د هغوئ بیان ددې آیت شروع کښې تیر شوی دی چه ﴿أَنْ يَنْكِحَ الْمُحْصَنَٰتِ﴾.او مراد صرف آزادې ښځې دی.دلته د آزادو ښځو د نکاح دمسئلې بحث نشته ، بحث دادې چه مخکښې ارشاد دې چه په دې باندې د زناکارئی دسزا کوم حد وو ، دهغې نه نیمه سزا په دې وینځو باندې دې.نومعلومه شوه چه دا د هغه سزا ذکر دی چه نیمې دې شی اوهغه کوړې دی نو هغه به دسلو نه نیمې پنځوس پاتې شی.رجم یعنی سنګسارول کول داسې دی چه ددې تقسیم نشې کیدې .(یعنی نیمیدې نشی) والله اعلم.

مسند احمد کښې یوه واقعه ده چه دابوثور رحمه الله د مذهب پوره تردید کوی.په دې کښې دی چه صفیه وینځې یو غلام سره زنا اوکړه او هغه نه نې یو بچې پیدا شو او ددې بچی دعوه زانی اوکړه. مقدمه حضرت عثمان ﷺ ته اورسیده. حضرت عثمان ﷺ حضرت علی ﷺ راوبللو.او ددې مسئلې حل کول نې ورته حواله کړل: دالله ﷻ شیر حضرت علی اوفرمائیل چه په دې کښې به هغه فیصله وی چه کومه نبی کریم ﷺ کړې وه. بچې خو به دهغه وی چه د چا دا وینځه ده. او زانی به سنګساریږی. بیا نې دې دواړوته پنځوس پنځوس کوړې ورکړې.(۳)

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب الصلاة علی النبی صلی الله علیه : ٤٠٥)-

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب ان الله وملائکته سورة احزاب : ٤٧٩٧، صحیح مسلم: ٤٠٦)-

(۳) احمد: ١٠٤/١، ح/٨٢٠،

Scanned with Ca

داهم وئیلې شوی دی چه ددې مفهوم نه مراد تنبیه ده ، اعلی ته په ادنی باندې ، یعنی کله چه هغوئ واده شوی وی نو په هغوئ باندې د آزادو ښځو په نسبت نیم حد دې.نو پدې باندې خو رجم د سره شته نه.نه دنکاح نه مخکښې اونه د نکاح نه روستو. دواړو حالتونوکښې صرف کوړې دی.

اوددې دلیل حدیث دې.صاحب الایضاح هم دا فرمائی او حضرت امام شافعی رحمه الله همدا ذکر کوی امام بیهقی رحمه الله خپل کتاب " السنن و الآثار" کښې همدا ئې ذکرکړې دې.لیکن داقول د آیت دلفظ نه ډیر لرې دې .اوهغه دا چه د نیم حد کیدو دلیل صرف آیت دې ، دې نه سوا هیڅ نشته دې.نو دې نه سوا به نیم څنګه کیدیشی ؟

اوداهم وئیلې شوی دی چه مطلب دادې چه کله واده شوې وی نو دې حالت کښې به صرف امام حد قائموی.ددې وینځې مالك دې ته حد نشی ورکولې.

د امام احمد رحمه الله مذهب کښې یو قول دا دې چه د واده نه مخکښې ددې خاوند ته دحد جاری کولو اختیار بلکه حکم دې.خو دواړو صورتونوکښې به حد نیم نیم وی.

خو دا هم لرې خبره ده څکه چه آیت کښې ددې استدلال نشته دې اوکه دا آیت نه وې نو مونږ ته به معلوم نه وې چه د وینځو باره کښې حد نیم دې. اودې صورت کښې به هغوئ هم عموم کښې داخلې وی او پوره حد یعنی سل کوړې او رجم هم په دوی جاری کول واجب وو.لکه څنګه چه عام روایتونو نه ثابت دی.حضرت علی رضی الله عنه نه مروی دی چه ائې خلقو ! خپلو ماتحتو باندې حد جاری کړئی ، واده شوې یا غیر واده شوې.اوهغه عام حدیث چه کوم مخکښې تیر شویدې چه په هغې کښې د خاوند والا او بې خاوند هیڅ تفصیل نشته دې.د حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت والاحدیث پاک نه جمهورو دادلیل نیولې دې .اوهغه دادې چه کله تاسو کښې څوك یو وینځې سره نکاح اوکړی. او بیا ددې زنا بنکاره شی.نو ده له پکار دی چه په دې باندې حد جاری کړی او دې ته دې ردبد نه وائی.(ملخصا). ([1])

خلاصه داچې دوینځې دزناکارئی باره کښې ډیر اقوال دی.یو دا چه تر کومې پورې ددې نکاح نه وی شوې. دې ته به پنځوس کوړې ورکولې شی.او دنکاح نه پس هم هم دا حد دې.

په زناکاري وادۀ شوې وینځې او غلام باندې هم پنځوس کوړې حد دې

مسلک حنفی:- په زناکاره وینځه که هغه واده شوې وی اوکه پیغله وی دغه شان غلام که هغه واده کړې وی اوکه لونډ وی په دواړو صورتونو کښې پنځوس کوړې وهل دی چې واده شوې نه وی نو هغه حکم خو بنکاره دې چه د ناواده کړی آزاد سړی او ښځې حد چې زنا اوکړی سل کوړې دی نو دغلام او وینځې به پنځوس کوړې وی اوپاتې شو وادۀ شوې غلام او وینځۀ نو چونکه د آزاد سړی او ښځې حدزنا رجم دې او رجم داسې څیز دې چه دا نیم کیدې نشی چې نیم سړې دې مړ شی او نیم دې ژوندې وی څکه چه روح یو دې نیم کیدې نشی نو د دې وجې د وادۀ شوی غلام او وادۀ شوې وینځې حد زنا به هم پنځوس کوړې وی دا د احنافو مسلک دې بلکه د څلورو واړه امامانو هم دا مسلک دې (معارف القران ۳۷۳/۲).

په جلا وطنئ کښې مذاهب - او دا وینځه به جلا وطن کولې شی که نه ؟ په دې کښې درې اقوال دی.① یو داچه جلاوطنی به نې وی.② دویم دا چه نه به وی.③ دریم دا چه جلاوطنئ کښې به نې نیمو الې هم وی یعنی دشپږو میاشتو دپاره به دا دکور نه ویستلې شی پوره کال نه.پوره کال آزادو ښځو دپاره دا دری واړه قولونه د امام شافعی رحمه الله مذهب کښې دی

---

[1]) صحیح بخاری کتاب البیوع باب بیع العبد : ۲۱۵۲، صحیح مسلم:۱۷۰۳، ابوداود: ٤٤٧٠)-

دویم مذهب:- لیکن د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز جلاوطنی د تعزیر په طور ده.هغه په حد کښې نه ده ، دامام په رائې په موقوف ده. که غواړی جلاوطن دې کړی اوکه غواړی نه دې جلاوطن کوی.سړی او ښځې ټول په دې حکم کښې برابر دی.

دریم مذهب:- خود امام مالك رحمه الله مذهب کښې دی چه جلاوطنی صرف د سړو دپاره ده ښځودپاره نشته دې.ځکه چه جلاوطنی صرف ددې دحفاظت دپاره ده.او که ښځه جلاوطن کړې شی نودا به دحفاظت نه بهر شی .او د سړو یا ښځو باره کښې د جلاوطن کولو والا حدیث صرف حضرت عباده رضی الله عنه او حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه مروی دې چه نبی کریم ﷺ دهغه غیر شادی شده زانی باره کښې فرمائیلی وو ، دحد ورکول او دیو کال د جلاوطنئ حکم نې فرمائیلې وو (بخاری) [۱] ددې معنوی مراد همدا دې چه ددې حفاظت دې اوشی او ښځه که جلاوطن کړې شی نو دا به د حفاظت نه اوځی.والله اعلم.

دویم قول:- دویم قول دادې چه وینځې ته به ددې په زنا کارئی باندې د واده نه پس پنځوس کوړې ورکولې شی .او د ادب خودلو دپاره به دا وهلې هم شی.لیکن ددې مقرر شمیرنشته.مخکښې تیر شوی دی چه د واده نه مخکښې به دا نشی وهلې.لکه چه د حضرت سعید بن مسیب رحمه الله قول دې.که ددې نه مراد دا وانخستې شی چه دا بالکل هډووهل پکارنه ده نو دا به تاویلی مذهب وی.ګنی قول ثانی کښې دا داخلولې شی.

دریم قول:- او یو قول دادې چه د واده نه مخکښې سل کوړې او واده نه پس پنځوس کوړې لکه چه د ابوداود قول دې.اودا د ټولو اقوالونه بهتر قول دې.او دا چه واده نه مخکښې پنځوس او واده نه پس رجم دې لکه چه د ابوثور قول دې. لیکن داکمزورې دې.والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب.

قوله تعالی::ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ؕ

بیا فرمائی چه وینځو سره نکاح کول به په دې شرط سره جائز دی.چې څوک ورسره نکاح کوی هغوئ ته په زنا کښې د واقع کیدو خطره وی او د وادۀ نه بغیر ژوند تیرول هغوی دپاره سخت وی. ددې په وجه به دوی ته تکلیف وی.نو بیشکه پاك دامنې وینځو سره نکاح کول جائز دی.اګر چه دې حالت کښې هم خپل نفس منع کول او دې سره نکاح نه کول ډیر بهتر دی. ددې وجې چه ددې نه کوم اولاد وی هغه به ددې د مالك وینځې وی.خوکه خاوندغریب وی نو ددې به دا اولاد ددې د مالك ملکیت د امام شافعی رحمه الله دقول قدیم مطابق نه وی.

قوله تعالی::وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ؕ

بیافرمائی که تاسو صبر اوکړئی نو دا ستاسو دپاره افضل دی.او الله غفور او رحیم دې.جمهور علماء کرامو ددې آیت نه استدلال کړې دې چه وینځې سره نکاح کول جائز دی. لیکن دا ضروری ده چه دا په هغه وخت کښې دی چه کله آزادې ښځې سره د نکاح کولو طاقت ئې نه وی او نه په ده کښې د صبرکولو طاقت وی.بلکه زنا کښې د واقع کیدو ویره وی.ځکه چه په دې کښې یو خرابی داده چه اولاد غلامئ کښې راځی.دویم داچه یو شان سپکوالې وی .چه آزاده ښځو نه نظر واوړی.او وینځو طرفته مائل شی.

خوامام ابوحنیفه رحمه الله او ددوی ملګری دجمهورو خلاف دی،هغوئ وائی چه دا دواړه خبرې شرط نه دی بلکه چه د چا په نکاح کښې څوك آزاده ښځه نه وی هغه لره وینځې سره نکاح کول جائز دی که هغه وینځه مومنه وی اوکه اهل کتابو نه وی.که د ده د آزادو ښځو سره د نکاح کولو طاقت هم وی او اګر چه ده ته بدکارئی کښې داخته کیدو ویره نه وی.

---

[۱]) صحیح بخاری کتاب الحدود باب الاعتراف بالزنی : ۶۸۶۷، صحیح مسلم: ۱۷۹۰)-.

Scanned with Ca

ددوی لوئي دلیل دا آیت دي چه ﴿وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ یعنی آزادي ښځي دهغوئ نه چه تاسو نه مخکښي ورته کتاب الله ورکړي شوي وو.نو هغوئ وائی چه دا آیت عام دي.آزاده غیر آزاده په دي کښي ټولي شاملي دی. او محصنات نه مراد پاکي اوپاك دامنې او عصمت والا ښځي مراد دی. لیکن ددي ظاهری دلالت هم پدي مسئله کښي دي چه کوم د جمهورو مذهب دي ، والله اعلم.

د ازادي ښځي سره د نکاح کولو قدرت باوجود د وینځي سره نکاح جائز ده

مسلک حنفی:- د پورتنی بحث نه معلومه شوه چه د امام شافعی او نورو امامانو مذهب دا دي چی د سړی د آزادي ښځي سره د نکاح کولو قدرت وی نو ده دپاره د وینځي سره نکاح کول جائز نه دی او بیا حافظ ابن کثیر رحمه الله امام اعظم رحمه الله ته د آزادي ښځي سره د نکاح د قدرت باوجود وینځي سره دنکاح کولو د جواز کوم قول نقل کوی نو دا نسبت ئي صحیح دي البته دومره ضرور ده چه د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز هم غوره دا ده چه د ازادي ښځي سره نکاح اوکړی خوکه د آزادي په ځائي د وینځي سره اوکړه نو دا نکاح جائز ده خو د سره د کراهته (معارف القرآن تفسیر مفتی محمد شفیع عثمانی رحمه الله ۲/۳۷۱).

يُرِيْدُ	اللّٰهُ					
غواړی	الله					
الله دا غواړی						
لِيُبَيِّنَ	لَكُمْ	وَيَهْدِيَكُمْ	سُنَنَ	الَّذِيْنَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	
چې اوښائی تاسو ته طریقې	اوروان کړی تاسو	په طریقو	دهغه نیکانو خلقو	چې مخکښې ستاسونه وو		
چې تاسوته خپل حکمونه بیان کړی	اوپه هغه لار مو روان کړی چې ستاسونه مخکښې خلق ئې پرې روان کړی وو					
وَيَتُوْبَ	عَلَيْكُمْ ؕ	وَاللّٰهُ	عَلِيْمٌ	حَكِيْمٌ ۝	وَاللّٰهُ يُرِيْدُ	اَنْ
اوقبولوالې د توبې اوکړی	اپه تاسو	اواللّٰه	ښه پوهه	اودحکمت خاوند دي	اواللّٰه اراده لری	چې
اوتاسوته خپل رحمت متوجه کړی	اواللّٰه ﷻ په هرڅه پوهه اوصاحب د حکمت دي				اواللّٰه پاک غواړی	
يَّتُوْبَ	عَلَيْكُمْ ۗ	وَيُرِيْدُ	الَّذِيْنَ	يَتَّبِعُوْنَ	الشَّهَوٰتِ	
رجوع اوکړی په رحمت سره	په تاسو باندې	اواراده لری	اهغه کسان	چې تابعداری کوی	دخواهشانو	
چې تاسوته خپل رحمتونه راوګرزوی	اوڅوک چې په خپلوخواهشاتوپسې ګرځی					
اَنْ تَمِيْلُوْا	مَيْلًا	عَظِيْمًا ۝	يُرِيْدُ اللّٰهُ	اَنْ يُّخَفِّفَ	عَنْكُمْ ۚ	
چې مائله شئ تاسو	په مائله کیدلو	لویو سره	غواړی الله	چې سپکوالې اوکړی	په تاسو	
هغوئ داغواړی چې تاسودسمې لارې نه ډیرلرې کړی	اواللّٰه ﷻ داغواړی چې په تاسوباندې سپکوالې اوکړی					
وَخُلِقَ	الْاِنْسَانُ	ضَعِيْفًا ۝				
او پیدا کړې شوې دي	انسان	کمزورې				
(ځکه چې) انسان کمزورې پیدا کړې شوې دي						

قوله تعالی:: يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

د الله ﷻ احکامو کښې سختی نشته:- فرمان دې چه ائې مومنانو ! الله ﷻ اراده کړې ده چه حلال او حرام تاسو ته بیان شوی دی (لکه چه دې صورت کښې او نورو صورتونو کښې هغه پاک ذات بیان کړی دی) هغه الله ﷻ غواړی چه د مخکښې خلقو قابل تعریف لارې ستاسو په پوهه کښې راولی چه تاسوپه هغه شریعت باندې عمل اوکړئی چه کوم دهغه محبوب او دهغه درضا مندئی دې.

قوله تعالی:: وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ۝

هغه پاک ذات غواړی چه ستاسو توبه قبوله کړی.چه دکومې ګناه نه او کومې حرام کارئی نه تاسو توبه اوکړئی نوهغه توبه زر قبلوی.هغه ذات عالم اوصاحب د حکمت دې.خپل شریعت ، په خپله اندازه ، او خپل حکم کښې هغه صحیح علم او کامل حکمت والا دې.

قوله تعالی:: وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا ۝

د نفسانې خواهشاتو پیروکار یعنې د شیطانانو غلامان یهود او نصارا تاسو د حق نه لرې کول غواړی.الله ﷻ خپلو احکامو او حکم کښې منع کولو او شریعت کښې اندازې مقرر کړې دی اوپه دې کښې ئې ستاسودپاره آسانئ پیدا کړی ده.او هم په دې وجه ئې څو شروطو سره ستاسودپاره وینځو سره نکاح کول حلال کړی دی.

قوله تعالی:: وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا ۝

انسان چونکه پیدائشی کمزورې دې ددې وجې الله ﷻ خپلو احکامو کښې سختی نه ده اینبودې.دې فی نفسه هم کمزورې او دده ارادې او حوصلې هم کمزورې دی، د ښځو باره کښې هم کمزورې دې. دلته چه راشی نو بې وقوفه تري جوړ شی.

په شب معراج په مونځونو کښې کمې کیدل:- کله چه نبی کریم ﷺ شب معراج کښې سدرة المنتهی نه واپس شو او کلیم الله حضرت موسی ﷺ سره ئې ملاقات اوشو نو حضرت موسی ﷺ تري تپوس اوکړو چه تاسوباندې څه فرض کړې شو ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه پنځوس مونځونه.نوکلیم الله حضرت موسی ﷺ اوفرمائیل چه واپس لاړشئ اوالله ﷻ ته سوال اوکړئی چه دا کم کړی.ستاسو امت کښې ددې طاقت نشته دې.ستاسو نه مخکښې خلقوباندې هم تجربه شوې ده. او هغوئ ددې نه په کمو ویریدلی وو. اوستاسو امت خو غوږونو اوسترګو اوزړه په اعتبارسره نور هم کمزورې دی.نو نبی کریم ﷺ واپس لاړو او لس ئې معاف کړل.بیا هم داخبره اوشوه نو بیا نبی کریم ﷺ لاړو او بیا ئې لس کم کړو تر دې چه آخری خل پنځه پاتې شو(۱).

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ						آمَنُوا
هغه کسانو						چې ایمان مو راوړې دې
ائې دایمان خاوندانو						
لَا تَأْكُلُوا	أَمْوَالَكُمْ	بَيْنَكُمْ	بِالْبَاطِلِ	إِلَّا أَنْ	تَكُونَ	
مه خورئ تاسو	مالونه	دیوبل	په خپل منځ کښې	په ناجائزه طریقه	ما سوا ددې نه	چې وی
خپل مینځ کښې دیوبل مالونه په ناجائزه طریقه مه خورئ						.....خوکه
تِجَارَةً	عَنْ تَرَاضٍ	مِنْكُمْ ۚ	وَلَا تَقْتُلُوا	أَنْفُسَكُمْ ۚ	إِنَّ اللَّهَ	
سوداګری	په رضامندئ سره	ستاسود طرفه	اومه قتلوئ	خانونه خپل	بیشکه الله	
سوداګری ستاسو په خپل مینځ کښې په رضا اوشی(نوخیردې)				اوخپل خانونه هلاکت کښې مه اچوئ		بیشکه الله

(۱) صحیح بخاری کتاب الصلاة باب کیف فرضیت الصلاة فی الاسراء :۳۴۹، صحیح مسلم: ۱۶۳)-

كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا ﴿٢٩﴾ وَمَنْ يَفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا

دې په تاسو باندې| مهربانه | اوڅوك چې كوى | دغه كارونه| په زياتئ سره | اوپه ظلم سره

په تاسو ډير مهربان دې| ..... اوڅوك چې په ظلم زياتى داسې كارونه كوى .....

فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ۭ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴿٣٠﴾ اِنْ

نو زر به | دا خل كړو مونږه هغه| اور ته |اودې دا كار | په الله باندې | آسان | كه

نومونږ به ئې د جهنم اور ته وردا خل كړو| اودا كار الله ﷻ ته ډير آسان دې ..... كه

تَجْتَنِبُوْا كَبَآىِٕرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ

تاسو خان اوساتلو| دلويو ګناهونو | هغونه|چې تاسو منع كړې شوې ئې|دهغې نه | نومونږ به ختم كړو|ستاسو نه

تاسو(هغې) لويو ګناهونونه پرهيزاوكړئ دكومونه چې منع كړې شوې يئ| .....نومونږ به ستاسو

سَيِّاٰتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُّدْخَلًا كَرِيْمًا ﴿٣١﴾

ګناهونه ستاسو| اومونږ به داخل كړو تاسو| ځائې دداخليدو| عزتمندته|

واړه ګناهونه معاف كړو| اودعزت ځائې ته به مو داخل كړو |.....

قوله تعالى:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ

د شرع نه خلاف تجارت او بيع خيار:- الله ﷻ خپل ايماندارو بندګانوته فرمائى چې تاسو ديوبل مال په باطلوطريقوسره مه خورئى.اګر چه دهغه ګټې نه وى چې هغه شرعى طور حرامه ده.لكه سودخورى، جوارى او داسې هررنګ حيله سازى اګر چه دې ته شريعت جوازصورت وركړپس وى.الله ﷻ ته ښه معلوم دى چه اصل حقيقت څه دې.

دحرام خورئ يو صورت:- حضرت ابن عباس ﷺ نه سوال اوشو چه يو سړې كپړا اخلى او وائى كه خما خوښه شوه نو دا به واخلم ګنى كپړا او يو درهم به واپس كوم. دوى ددې آيت مبارك تلاوت اوفرمائيلو يعنى دا نې باطل مال كښې شامل كړل.

حضرت عبدالله ﷺ فرمائى چه دا آيت محكم دې يعنى منسوخ نه دې اونه تر قيامته پورې منسوخ كيدېشى.ددوى نه مروى دى چه كله دا آيت نازل شو نو مسلمانانو د يوبل خوارك پريښودلو نو دې باندې دا آيت نازل شو چه ﴿لَيْسَ عَلَى الْاَعْمٰى﴾ يعنى په رونډ باندې څه ګناه نشته

د تجارة اعرابى وضاحت:- او ﴿تِجَارَةً﴾ ﴿تِجَارَةٌ﴾ هم لوستلې شوې دې.دا استثناء منقطع ده.اګر چه داسې فرمائيلې كيږى دكوم مال حرمت راغلې وى مال دهغې نه وى.خوشرعى طريقې سره تجارت نه فائده اوچتول جائز دى چه د خريدار او خرڅولو والا رضامندئى سره وى.لكه بل ځائې كښې فرمائى چه هېڅ يو بې ګناه سړې مه وهئ او كه په حق سره وى نو جائز دى.لكه څنګه چه بل آيت كښې دى چه هلته به دوى ته مرګ نه راځى صرف هغه مرګ چې دوئ ته په رومبى ځل راغلې وو.(يعنى دوئ ته به بيا مرګ نه راځى).

قوله تعالى:: اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ

په لين دين كښې د قبلولو حكم:- حضرت امام شافعى رحمه الله ددې آيت مبارك نه استدلال كوى او فرمائى چه اخستل خرڅول بغير د قبوليت نه صحيح نه دى.ځكه چه درضامندئى پوره سند نشته دې.صرف لين دين كول هم كله كله رضامندئى باندې پوره دليل نه وى. .او جمهور ددې برخلاف دى. او د درې

واړو امامانو هم دا قول دي چه څنګه زباني خبري اتري درضامندئ دليل دي.هم دغه شان لين دين هم درضامندئ دليل دي.

بعضي حضرات فرمائي چه کم قيمت معمولي څيزونوکښې خو صرف اخستل او ورکول کافي دي اودغه شان د اخستلو خرڅولو چه کومه طريقه وي.په صحيح مذهب کښې احتياطي طور سره خبرواترو کښې که قبلوليت اوکړي نو دابله خبره ده.

بيع د ژباني خبرو نه بغير په تعاطي يعني مبيعې ورکولو او پيسو اخستلو سره جائز ده

مسلک حنفي:- حافظ ابن کثير رحمه الله چې دري واړه امامانو ته کوم نسبت کړي دي چې څنګه زباني خبرې اتري درضامندئ دليل دي.هم دغه شان لين دين هم د رضا مندئ دليل دي.په دې دري واړه امامانو کښې امام ابوحنيفه رحمه الله هم شامل دي او دا نسبت دوی ته صحيح دي احقر شاه فيصل په تسهيل الهدايه شرح هدايه کښې ليکی ﴿بيع تعاطئ دي ته وائی.چه د ايجاب او قبول نه بغير د مبيع او د ثمن لين دين (اخستل خرڅول) کول،يعنی که بائع مشتری ته مبيع ورکړی.او مشتری ده ته ثمن ورکړی.او د دواړو د طرفه کلام قطعا نه وی. نودا بيع به منعقد کيږی.ځکه چه په دې صورت کښې ايجاب او قبول اګرچه نه دي موجود شوي.خود بيع معنی موجود شوي ده. په دې وجه به دا بيع هم صحيح وی.(تسهيل الهدايه (۳۱۵)ـ

د قبولو د حکم عموميت:- حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه اخستل خرڅول وی اوکه بښنه وی ټولو ته دا حکم شامل دي.د ابن جريريو مرفوع حديث مبارک کښې دی چه تجارت رضامندی ده.او د اخستلو خرڅولونه پس اختيار دي.هېڅ يومسلمان دپاره داجائزنه دی چه بل مسلمان ته دهوکه ورکړی.داحديث مرسل دي.

د مجلس خيارحکم:- پوره رضامندئ کښې دمجلس د خاتمې پورې اختياردي.بخاری او مسلم کښې دی چه نبی کريم صلی الله عليه وسلم چه اخستونکی او خرڅونکی دواړو ته اختيار دي. ترکومې چه جدا شوی نه وی.(۱) بخاری شريف کښې دی چه کله دوه کسان اخستل خرڅول اوکړی نو هر يو ته اختيار دي چه ترکومې جدا شوی نه وی.(۲)ددې حديث مطابق حضرت امام مالک رحمه الله ، حضرت امام شافعی رحمه الله او ددوی دملګرو فتوی ده او د جمهورو سلفو هم فتوی ده. اوهم پوره رضامندی په دې کښې داخله ده. داخستلو خرڅولو نه دري ورځې پس اختيار ورکول هم. اګر چه دا اختيار ټول کال پورې وی ،لکه دکلی خلقو کښې چې وی وغيره.

په معمولی څيزونوکښې صرف اخستل ورکول کافی دی:- دحضرت امام مالک رحمه الله مشهور مذهب هم دا دي چه ددوی په نيز صرف لين دين کولو سره بيع صحيح کيږی.د حضرت امام شافعی رحمه الله مذهب کښې هم يو دا قول دي او په دوی کښې بعضي وائی چه دمعمولی قيمت څيزونو کښې نشته دي کوم چه خلقوداخستلو خرڅولو دپاره ايښودی وی، صرف لين دين کافی دي. دبعضو اصحابو اختيار هم دا دي لکه څنګه چه متفق عليه دی.

په خبرو اترو کښې ايجاب او قبول سره بيع پوره کيږی د مجلس ختميدو ضرورت نشته

مسلک حنفي:- د احنافو په نيز خرڅونکی او اخستونکی ته د عقد ختمولو اختيار تر هغه وخته پورې وی ترڅوچې دوی په خبرو اترو کښې عقد فيصله کړي نه وی اوچې کله عقد فيصله کړی او خرڅول اخستل

---

(۱) صحيح بخاری کتاب البيوع باب کم يجوز الخيار: ۲۱۰۸، صحيح مسلم: ۱۵۳۲، ابوداود:۳۴۵۵، نسائی : ۴۴۷۴)ـ
(۲) صحيح بخاری کتاب البيوع باب اذا خير احدهما صاحبه بعدالبيع : ۲۱۱۲، نسائی:۴۴۷۳)ـ

Scanned with Ca

پوره شی نو د دې نه پس په دوی کښې یو کس ته هم د عقد د فسخ کولو اختیار نشته اګرچې د عقد مجلس لاباقی وی ختم شوې نه وی (تفسیر مظهری (۲۹۹۱۲)-

قوله تعالی:: وَلَا تَقْتُلُوٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ

حرام مال خوړل هلاکت دي:- بیا فرمائی چه تاسو هغه مال مه خورنی چه کوم الله ﷻ حرام کړې دي اودهغه نافرمانی مه کوئی ، اود یو بل مال مه خورئی ،او د یو بل مال بې ځایه مه خرڅوئی ، او ولې تاسو داسې کولو سره ځان هلاکوئی. الله ﷻ غفور ورحیم دې او هر حکم او هر ممانعت رحمت دې.

دهلاکت یو مصداق:- مسند احمد کښې دی چه حضرت عمرو بن عاص ﷺ د ذات السلاسل کال باندې نبی کریم ﷺ لیږلې وو. دوی فرمائی چه ماته یو شپه احتلام اوشو ، یخنی ډیره وه ،تردې چه ماسره ویره شوه چه هسې نه دیخنئ نه مړ شم ، نو ما تیمم اوکړو او خپل جماعت ته مې د سحر مونځ ورکړو. هرکله چه هلته نه واپس شو نو مونږ خلق د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو نو ما ورته دا ټوله واقعه بیان کړه.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آیا تا خپلو ملګرو ته د جنابت په حالت کښې مونځ ورکړو. ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ یخنی ډیره زیاته وه او ماته دخپل ځان خطره وه نوماته یاد شو چه الله ﷻ فرمائی چه خپل ځان دخپله لاسه مه هلاکوئی.الله ﷻ رحیم دې ، ما تیمم اوکړو او مونځ مې ورکړو.نو نبی کریم ﷺ په خندا شو او ماته ئې هیڅ اونه وئیل.(۱)یو روایت کښې دی چه نورو خلقو نبی کریم ﷺ ته بیان اوکړو او بیا د نبی کریم ﷺ په تپوس کولو سره حضرت عمرو بن عاص ﷺ ورته دا عذر اوکړو.

قوله تعالی:: وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ؕ

دخودکشئ کولو عذاب:- بخاری او مسلم کښې دی چه کوم سړې اوسپنې سره خودکشی اوکړی نو تر قیامته پورې به هغه په اوسپنه ځان وهی اوخودکشی به کوی.او چه څوک په قصد د مرګ کولو نیت اوکړی او دې نیت سره زهر اوخوری نو هغه به همیشه جهنم کښې زهر خوری.(۲)او یو روایت کښې دی چه کوم سړې خپل ځان په خپله یو څیز سره قتل کړی هغه به تر قیامته پورې هم دې څیز سره ځان وژلو په عذاب کښې وی.(۳)

خودکشی دجهنم تلو سبب:- نبی کریم ﷺ فرمائی چه ستاسو نه مخکښې یو سړې زخمی شو ، هغه خپل لاس په چاره ځان نه جدا کړو ، او د ده وینه نه اودریده ، او هم دې حالت کښې مړ شو.نو الله ﷻ اوفرمائیل چه ځما بنده دخپله لاسه خپل ځان فنا کولو کښې تیزی اوکړه. ما ده باندې جنت حرام کړو(۴)

هم ددې وجې الله ﷻ فرمائی چه کوم کس دا په ظلم او زیاتئ سره اوکړی یعنی ده ته معلومه وی چه دا حرام دی او بیا هم دې دا اوکړی په دې حرام کولو دې زړه ور وی نو دې جهنمی دې.نو هر عاقل لره پکار دی چه ددې سختې ویرې نه اوویریږی.د زړه په غوږونو سره دالله ﷻ فرمان واوری نو ددې نه اجتناب کول پکار دی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التیمم باب اذا خاف الجنب علی نفسه: ...تعلیقا قبل حدیث : ۳۴۵، او حافظ ابن حجر ددې سند ته صحیح وائی الفتح: ۴۵۴/۱، ابوداود: کتاب الطهارة باب اذا خاف الجنب البرد: ۳۳۴)-

(۲) صحیح کتاب الطب باب شرب السم:۵۷۷۸، صحیح مسلم: ۱۰۹، ابوداود: ۳۸۷۲، ترمذی: ۲۰۴۳، وابن ماجة: ۳۴۶۰،نسائی : ۱۹۶۷)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الایمان والنذور باب من حلف بملة سوی الاسلام : ۶۶۵۲، صحیح مسلم: ۱۱۰، ابوداود: ۳۲۵۸، ترمذی: ۱۵۴۳، نسائی: ۳۸۴۴)

(۴) صحیح بخاری کتاب الجنائز باب ماجاء فی قاتل النفس: ۱۳۶۴، صحیح مسلم: ۱۱۳)-

Scanned with Ca

د ګناه کبیره بیان:- بیا فرمائی که تاسو د لویو لویو ګناهونه نه بچ شوئی نو مونږ به ستاسو واړه واړه ګناهونه معاف کړو. او تاسو به جنت ته داخل کړو. حضرت انس ﷺ نه مرفوعاً مروی دی چه مونږ ته درب کریم دطرفنه کوم مثال راغلې دې مونږدهغې په شان مثال نه دې لیدلې..بیابه مونږ ددې دپاره دخپل اهل اومال نه جدا نشو ځکه چه هغه د کبیره ګناهونونه سوا زمونږ واړه ګناهونه معاف کوی. بیا ئې ددې آیت تلاوت اوفرمائیلو. (۱)

دجمعې په مانځه ګناهونه معاف کیدل:- ددې آیت متعلق ډیر احادیث دی.څه لږ ډیر مونږ دلته بیانوؤ. مسنداحمد کښې حضرت سلمان فارسی ﷺ نه مروی دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسوته معلوم دی چه د جمعې ورځ څه ده ؟ ما جواب ورکړو چه دا هغه ورځ ده چه په دې کښې الله ﷻ ځمونږ پلار حضرت آدم ﷺ پیدا کړې وو. نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه واوره چه څه ماته معلوم دی هغه واوره.چه کوم سړې په دې ورځ په ښه شان پاکې حاصل کړی.اود جمعې مونځ دپاره راشی او مونځ ختمیدو پورې چپ ناست وی نو دده دا عمل د راتلونکې جمعې پورې دده دګناهونو کفاره جوړیږی تر څو چه دې د قتل نه بچ وی (۲)

په مونځ روژه او زکاة د ګناهونومعاف کیدل:- ابن جریر کښې دی چه یو ځل نبی کریم ﷺ خطبه اوفرمائیله او وې فرمائیل چه په هغه رب قسم چه دهغه په لاس کښې ځما روح دې.او دریم خله ئې دا اوفرمائیل او نبی کریم ﷺ سر مبارك ښکته کړو او مونږ هم سرونه ښکته کړل او خلق په ژړا شو او زړونه ئې په ژړا باندې تش کړل چه دالله ﷻ رسول په څه څیز قسم کړې دې او بیا ولې خاموش شو.لږ وخت پس ما سر اوچت کړو اود نبی کریم ﷺ مخ مبارك باندې خوشحالی وه اودې سره مونږ هم دومره خوشحاله شو که چرې مونږ ته سور رنګې اوښان ملاؤ شوی وې نو دومره به نه وې خوشحاله شوې .اوس نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم بنده پنځه وخت مونځ کوی او درمضان روژې نیسی اوزکوة ورکوی او اووه کبیره ګناهونونه بچ اوسی نو دده دپاره د جنت ټولې دروازې بیرته کولې شی او ده ته به اووئیلې شی چه سلامتی سره دې ته داخل شه.(۳)

اووهٔ لوئې ګناهونه :- چه دکومو اووهٔ ګناهونوپه دې حدیث کښې ذکر دې دهغې تفصیل بخاری اومسلم شریف کښې داشان راغلې دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ددې اوؤ ګناهونو نه بچ اوسئ ځکه چه دا هلاکونکې دی. تپوس اوشو چه یارسول الله ﷺ هغه کوم کوم دی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ① الله ﷻ سره شرك کول ② اوهغه (نفس) قتل کول چه د کوم قتل الله ﷻ حرام کړې دې.خو که په څه شرعی وجه دده وینه حلاله شوې وی نو دا بله خبره ده.③ او جادو کول ④ او سود خوړل ⑤ او دیتیم مال خوړل ⑥ او کله کفارو سره جنګ وی نو دمیدان جنګ نه تښتیدل.⑦ او په پاکو ښځو تهمت لګول.(۴)
یو روایت کښې دجادو بدله کښې هجرت کول او واپس خپل و طن ته راتلل.(۵)

دیوغلط خیال تردید:-دا یاد ساتئ دې اووهٔ ګناهونوته د کبیره وئیلو دا مطلب نه دې چې کبیره ګناهونه صرف هم دادی لکه څنګه چه دبعضو خلقو خیال دې او دهغوئ په نیز مفهوم مخالف معتبر دې. دراصل دا ډیرکمزورې خیال دې او غلط اصول دی.اوخاص کر په هغه وخت کښې چه کله ددې خلاف

---

۱) حافظ ابن حجر مختصر زوائد البزار: ۷۸/۲،
۲) احمد: ۱٤۰٤)-.
۳) نسائی کتاب الزکاة باب وجوب الزکاة: ۸/۵ ح/۲٤٤۰، وسنده حسن لذاته)-
٤) صحیح بخاری کتاب الحدود باب فی المحصنات : ٦۸۵۷، صحیح مسلم: ۸۹، ابوداود: ۲۸۸٤، نسائی: ۳۷۰۱)-
۵) ابن ابی حاتم والبزار کشف الاستار:

Scanned with Ca

دلیل موجود وی. اودلته خوښکاره لفظونو کښې د کبیره ګناهونو ذکر هم موجود دي.دالاندې احادیث اوګورئی.

نبی کریم سره په جنت کښې د ملګرتیا اعمال:- مستدرك حاکم کښې دی چه حجة الوداع کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه انې خلقو ! دالله ﷻ ولی صرف مونځګزار دی چه کوم پنځه وخته مونځ کوی په پابندئی سره چه څوك د رمضان روژې نیسی اودا فرض منی او د ثواب په نیت نې ساتی ، هم داشان زکوة ورکوی په خوشحالئ ، او دټولو کبیره ګناهونو نه بچ اوسی د کومو نه چه الله ﷻ منع کړی ده.یو سړی تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! هغه کبیره ګناهونه کوم کوم دی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ① شرك کول ② قتل کول ③ میدان جنګ نه تیښته کول ④ د یتیم مال خوړل ⑤ سود خوړل ⑥ پاك دامنو ښځو باندې تهمت لګول ⑦ د مور پلار نافرمانی کول.⑧دبیت الحرام حرمت ماتول چه په مرګ او ژوند کښې ستاسو قبله ده.واورئی ! چه کوم سړې تر مرګه پورې ددې ګناهونو نه بچ پاتې شی او مونځ کوی او زکوة ورکوی ، هغه به دالله ﷻ نبی ﷺ سره جنت کښې په سرو محلونو کښې وی.(۱)

دکبیره ګناهونو نه ځان ساتل دجنت داخلیدو سبب:- حضرت طیلسه بن میاس ﷺ فرمائی چه مانه یو ګناه اوشوه چه ځما په نیز کبیره وه. ما حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ ته ددې ذکر اوکړو نو دوی اوفرمائیل چه هغه کبیره ګناهونه نهه دی.① الله ﷻ سره شرك کول ② یو سړې بغیر د څه وجې قتل کول ③ د میدان جنګ نه تښتیدل ④ په پاکو ښځو باندې تهمت لګول ⑤ سود خوړل ⑥ دیتیم مال په ظلم خوړل ⑦ جمات حرام کښې الحادخورول ⑧ جادو جائز ګڼړل ⑨ او د مورپلار نافرمانی کول.حضرت طیلسه بن میاس ﷺ فرمائی چه ددې بیان نه پس حضرت ابن عمر اوکتل چه ځما ویره هیڅ کمه نه شوه نو وې فرمائیل چه آیا ته دا غواړې چه د جهنم د اور نه بچ شې او جنت ته داخل شې ؟ نو ما اوفرمائیل چه آو.نو وې فرمائیل چه ستامور پلار ژوندی دی ؟ ما اووئیل چه صرف پلار مې ژوندې دي.وې فرمائیل چه ته هغه سره نرمې خبرې کوه او هغه ته خوراك ورکوه او ددې کبیره ګناهونو نه بچ اوسه ، ته به یقینی طور جنت ته داخل شې.(۲)

دلویو ګناهونو یو بل روایت:- اویو روایت کښې دی چه حضرت طیلسه ﷺ سره حضرت ابن عمر ﷺ میدان عرفات کښې د ونې دلاندې ملاقات شوې وو. په هغه وخت کښې حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ په خپل سر او مخ باندې اوبه اچولې. په دې کښې دا هم دی چه کله حضرت عبدالله ﷺ دتهمت لګولو ذکر اوکړو نو ما اووئیل چه دا هم په د قتل پشان لویه ګناه ده څه ؟ هغوئ اوفرمائیل چه آو.او په دې کښې د جادو دګناه هم ذکر دي.او یو روایت کښې دی چه ځما اودهغه ملاقات د مابنام په وخت کښې شوې وو او ما دهغوئ نه د کبائرو ګناهونو باره کښې تپوس کړې وو نو وې فرمائیل چه ما رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی چه کبائر اووه دی ، ما تپوس اوکړو چه کوم کوم دی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ①چه شرك ②او تهمت.ما اووئیل چه دا هم په د قتل پشان دی.وې فرمائیل چه آو .③او یو مومن بغیر دڅه سبب نه وژل ④اودجنګ نه تښتیدل ⑤او جادو کول ⑥اوسود خوړل ⑦اودیتیم مال خوړل ⑧او د مور پلار نافرمانی کول او ⑨بیت الله شریف کښې الحاد کول چه په ژوند او مرګ ستاسو قبله ده.(۳)

د کبیره ګناهونو یو بل فهرس:- مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه ①د الله ﷻ یو بنده الله ﷻ سره شریك نه وی جوړ کړی،مونځ قائموی② درمضان روژې اونیسی③ او دکبیره ګناهونو نه

---

(۱) حاکم: ۵۹/۱، ابوداود کتاب الوصایا باب ماجاء فی التشدید فی اکل مال الیتیم : ۲۸۷۵، نسائی: ۴۰۱۷،

(۲) ابن جریر والبخاری فی الادب المفرد: ۹، وسنده صحیح)-

(۳) الطبری: ۹۱۸۹، موقوفا

بچ شی نو هغه جنتی دي.یو سړی تپوس اوکړو چه یارسول ﷺ کبائر څه دی؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ①چه الله ﷻ سره شرك کول ②مسلمان لره قتل کول ③دجنګ په ورځ تیښته کول (۱)

دکبیره ګناهونو یوبل روایت:- ابن مردویه کښې دی چه نبی کریم ﷺ د یمن خلقو ته یو کتاب لیکلې اولیږلو چه په هغې کښې فرائض سنن وو ،دیت یعنی دجرمانو احکام وو ، اودا کتاب ئې دحضرت عمروبن حزم په لاس یمن ته لیږلې وو. په دې کتاب کښې دا هم وو چه دقیامت په ورځ به په ټول کبیره ګناهونو کښې دټولونه لویه ګناه دا وی ①چه انسان الله ﷻ سره څوك شریك جوړ کړی ②او یو ایماندار سړې قتل کړی بغیر حق نه ③اودالله ﷻ لارکښې جهاد کښې جنګ کوی او بیا بیغیرتوب اوبنانی او خان بچ کولو دپاره اوتښتی ④، اودمور پلارنافرمانی کوی ⑤او په بنځو باندې الزام لګوی ⑥ ، او جادو کوی ⑦ اوسود خوری⑧، او دیتیم مال بربادوی. (۲)

په کبیره ګناهونوکښې یوه بله اضافه:- یو روایت کښې دی چه کبیره ګناهونوکښې دروغ خبره یا د دروغو شهادت هم دی.(۳)او یو حدیث مبارك کښې دی چه دکبیره ګناهونو دبیانولوپه وخت کښې نبی کریم ﷺ تکیه وهلې ناست وو. لیکن کله چه ئې دابیان اوفرمائیلو چه د دروغو ګواهی او د دروغو خبره نوپه هغه وخت کښې دوی د تکیه نه پاسیدل او ډیر زور سره ئې دا خبره بیان کړه او باربار ئې دا بیانوله.تردې چه مونږ اووئیل چه کاش اوس حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم ددې تکرار نه کوی.

کبیره ګناهونوکښې یوبله اضافه:- بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! کومه ګناه د ټولو نه لویه ده ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ①چه ته څوك الله ﷻ سره شریك جوړ کړې ددې باوجود چه ته صرف هغه پاك ذات پیدا کړې ئې. ما تپوس اوکړو چه دې نه پس②نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ته خپل بچی ددې ویرې نه قتل کړې چه هغوئ به تاسره خوراك کوی ③ما تپوس اوکړو کومه ګناه ډیره لویه ده ؟④نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ته خپلې ګوانډئی سره بدکاری اوکړې،بیا نبی کریم ﷺ دا آیت مبارك تلاوت کړو چه ﴿وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ اَثَامًا﴾.(۴)

په لویوګناهونوکښې د شرابو د څکلو ذکر:- ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمروبن عاص ﷺ دمسجد حرام حطیم کښې دننه ناست وو.اوسړی ترینه د شرابو باره کښې تپوس اوکړو نو دوی اوفرمائیل چه خما پشان بوډا ډیر عمر والا سړې په دې ځائې کښې کښینی او دالله رسول ﷺ باندې دروغ ونیلې شی؟دشر ابو څکل د ټولو ګناهونو نه لویه ګناه ده.دا کار دټولو خبائثو مور ده.شرابی مونځ نه کوی.هغه خپلې مور ، ترور سره دزنا کولو نه نه منع کیږی.(۵)دا حدیث مبارك غریب دې.

د شرابوڅکلو تباهی :- ابن مردویه کښې دی چه حضرت ابوبکرصدیق ﷺ ، حضرت عمر فاروق ﷺ او نور صحابه کرام ﷺ یو ځل یو مجلس کښې ناست وو ،هلته د ګناه کبیره ذکر اوشو چه دټولو نه لویه ګناه کومه یوه ده. نوچا سره څه خاص جواب نه وو. ددې وجې هغوئ حضرت عبدالله بن عمر ﷺ اولیږلو چه ته لاړ شه او حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ نه دې باره کښې تپوس اوکړه. څه لاړم

---

(۱) احمد: ۴۱۳/۵، کتاب تحریم الدم باب ذکر الکبائر : ۴۰۱۴،
(۲) ابن مردویه وحاکم:۳۵۹/۱، ح/۱۴۴۷، وصحیح ابن حبان: مع الاحسان: ۶۵۲۵، صحیح مسلم: ۸۸)-
(۳) صحیح بخاری کتاب الادب باب عقوق الوالدین من الکبائر:۵۹۷۶، صحیح مسلم: ۸۷، ترمذی: ۱۹۰۱،)-
(۴) صحیح بخاری کتاب الادب باب قتل الولد خشیة ان یاکل معه: ۶۰۰۱، صحیح مسلم: ۸۶)-
(۵) طبرانی : ۱۱۳۷۲

Scanned with Ca

او هغه راته اووئیل چه د ټولو نه لویه ګناه شراب څکل دی.څه چه واپس راغلم او د مجلس خلقو ته مې جواب واورولو. خو دې سره د مجلس خلقو ته اطمینان ملاوشو. اوټول حضرات پاسیدل او د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ کورته لاړل او پخپله ئې دهغوئ نه دې باره کښې تپوس اوکړو. نو هغوئ اوفرمائیل چه خلقو د نبی کریم ﷺ مخکښې یو واقعه بیان کړه چه بنی اسرائیلو کښې یو بادشاه یو سړې ګرفتار کړو،بیا ئې هغه ته اووئیل چه یا خو د خپل خان نه لاس اووینځه او یا په دې کارونوکښې یو اوکړه. یعنی یا خو شراب اوڅکه یا په ناحقه قتل اوکړه یا زنا اوکړه یا د خنزیر غوښه اوخوره،دوه غور کولو نه پس د خان د ویرې لږ شان شراب اوڅکل.هرکله چه ئې شراب اوڅکل نو نشه شو اوبیا ئې هغه ټول کارونه اوکړل چه کومو نه دې روستو شوې وو. نبی کریم ﷺ چه کله دا واقعه بیان کړه نو مونږته ئې اووئیل چه کوم سړې شراب څکی نو تر څلویښتو ورځو پورې دهغه مونځ نه قبلیږی اوچه څوک دشرابو څکلو عادت کښې مړ شی اودده مثانه کښې لږ شان شراب هم وی نو په هغه باندې الله ﷺ جنت حرامو ی. اوکه دشرابو څکلو نه څلویښتو ورځو کښې دننه دننه مړ شی نو دې دجاهلیت په مرګ مړ شی.دا حدیث غریب دې (۱)

په دروه قسم خورل: یو روایت کښې دی چه په دروغه قسمه خورلوته هم الله ﷺ ګناه کبیره وئیلې ده (بخاری وغیره). (۲)

د ګناه په وجه تور داغ لګیدل:- ابن ابی حاتم کښې د دروغوقسم بیان نه پس دا فرمان هم دې چه څوک دالله ﷺ قسم اوکړی او یو خبره اوکړی او په هغې د مچ دوزرې برابرهم زیاتې اوکړی ، نو دده زړه باندې یو تور داغ اولګی چه تر قیامته پورې باقی وی.

مورپلارته کنځل کول:-ابن ابی حاتم کښې دی چه داهم ګناه کبیره ده چه انسان خپل مور پلار ته کنځل اوکړی. خلقو تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ا څوک به مور پلارته څنګه کنځل کوی ؟نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څوک دبل مور پلار ته کنځل اوکړی نودا داسې دی لکه چه ده خپل مور پلار ته کنځل اوکړه. که ده دهغه پلار ته ، دهغه مور ته بدرد اووئیل نو ده دا خپل مور پلار ته اووئیل.

مورپلارباندې لعنت وئیل:- بخاری شریف کښې دی چه د ټولو نه لویه ګناه داده چه سړې خپل مور پلار باندې لعنت اووائی.خلقو اووئیل چه دا څنګه کیدیشی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د بل مور پلارباندې لعنت وئیل خپل مور پلار باندې لعنت وئیل دی (۳).

مسلمان ته کنځل کول:- صحیح حدیث مبارک کښې دی چه مسلمان ته کنځل کول سړې فاسق جوړوی.اودده قتل کول کفر دې. (۴)

مسلمان بې عزته کول:- ابن ابی حاتم کښې دی چه اکبرالکبائر یعنی ټولو کبیره ګناهونوکښې د ټولو نه لویه د مسلمان عزت اخستل دی ، او د یو کنځل بدله کښې دوه کنځل دی (۵)

دوه مونځونه جمع کول:- ترمذی کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې دوه مونځونه بغیر د عذر نه جمع کړی هغه د کبیره ګناهونو یو دروازه باندې داخل شو (۶).

---

(۱) حاکم: ۱٤۷/٤، وصححه علی شرط مسلم وسنده حسن المعجم الاوسط: ۳٦٥)-

(۲) صحیح بخاری کتاب استتابة المرتدین باب اثم من اشرک بالله: ٦۹۲۰)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الادب باب لا یسب الرجل والدیه: ٥۹۷۳، صحیح مسلم: ۹۰، ابوداود:٥۱٤۱، ترمذی: ۱۹۰۲)-

(۴) صحیح بخاری کتاب الایمان باب خوف من ان یحبط وهو لا یشعر : ٤۸ صحیح مسلم: ٦۷)-

(۵) ابوداود کتاب الایمان باب فی الغیبة : ٤۸۷۷،

(۶) ترمذی: کتاب الصلاة باب ماجاء فیمن ادرک رکعة من العصر قبل ان تغرب الشمس : ۱۹۹،

Scanned with Ca

ابن ابی حاتم کښې دی چه دحضرت عمر بن خطاب ﷺ کتاب چه ځمونږ مخکښې اولوستې شو په هغې کښې وو چه دوه مونځونه بغیر د څه عذر نه یو ځائې کول ګناه کبیره ده .او دجنګ میدان نه تښتیدل او مال لوټ کول ګناه کبیره ده.خلاصه دا چې ماسپښین یا مازیګر یا ماسخوتن وخت نه مخکښې وخت کښې بغیر د څه شرعی عذر نه جمع دوه مونځونه جمع کول ګناه کبیره ده.بیا چه کوم سړې نې بالکل نه کوی دهغه د ګناه به لا څه وائې.

د مونځ پریخودو ګناه:- صحیح مسلم او صحیح بخاری کښې دی چه دبنده او شرک ترمینځه دمونځ پریښودل دی (۱)دسنن یو حدیث مبارک کښې دی چه مونږ کښې اوکافرو کښې فرق کونکې د مونځ پریښودل دی.چا چه داپریښودلو نو هغه کفر اوکړو(۲)او یوروایت کښې دی چه د نبی کریم ﷺ فرمان دې چا چې د مازیګر مونځ پریښودو دهغه اعمال تباه شو. (۳)اوحدیث مبارک کښې دی چا نه چې د مازیګر مونځ فوت شو.نو دده مال او دده اهل وعیال هلاک شول. (۴)

په الله باندې بدګمانی ګول:- ابن ابی حاتم کښې دی چه یو سړی نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه ګناه کبیره کومې کومې دی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ① الله تعالی سره شرک کول.② دالله ﷻ رحمت او نعمت نه ناامیده کیدل.③ اودهغه د نیولو نه بې خوف کیدل .او دا ټولو نه لویه ګناه ده.

هم ددې په شان یو بل روایت هم د امام بزار نه مروی دی ،لیکن زیات صحیح داې اود حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ باندې موقوف دې. (۵)ابن مردویه کښې دی چه حضرت ابن عمر ﷺ فرمانی د ټولو نه لویه ګناه الله ﷻ باندې بدګمانی کول دی.او دا روایت ډیر غریب دې. (۶)

هجرت ترک کول:- مخکښې چه کوم روایت تیر شوې دې چه په هغې کښې د هجرت نه پس د کفر وطن ته واپس تلل اوهغې کښې اوسیدل هم ګناه کبیره ده. دا حدیث شریف ابن مردویه کښې دې.اووه کبیره ګناهونو کښې نې یوه دا هم شمار کړه. خو په دې کښې نظر(په دې لفظ سره د حدیث ضعف ته اشاره وی) دې اودې ته مرفوع وئیل غلط دی (۷)

د ابن کثیر رحمه الله رائې:- صحیح خبره هغه ده چه کومه تفسیرابن جریر کښې مروی ده چه حضرت علی ﷺ یوځل دکوفې جمات کښې ولاړ وو اوخلقو ته نې خطبه وئیله. اودې خطبه کښې نې اوفرمائیل چه اې خلقو!کبیره ګناهونه اووه دی.دې آوریدو سره خلق په چغو شو. دوی دا دوباره اوئیل. بیا نې اوفرمائیل.بیا نې اوفرمائیل چه تاسو ځما نه ددې تفصیل نه غواړئی؟ خلقو اوونیل چه اې امیر المومنین ! اوفرمائې هغه کومې کومې دی.حضرت علی ﷺ اوفرمائیل چه ① الله ﷻ سره شرک کول.② چه کوم نفس الله ﷻ حرام کړې وی هغه قتل کول ③ پاکو ښځو باندې تهمت لګول ④ دیتیم مال خوړل ⑤ سود خوړل ⑥ د جنګ دوران کښې تیښته کول ⑦ هجرت نه پس بیا دوباره دارالکفر کښې اوسیدل.دحدیث راوی حضرت محمد بن سهیل رحمه الله خپل پلار حضرت سهیل بن خثیمه رحمه الله نه تپوس اوکړو چه دائې څنګه په ګناه کبیره کښې داخل کړل.نو دوی اوفرمائیل چه خوږه خویه ددې نه به زیات

---

۱) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان اطلاق اسم الکفر علی من ترک الصلاة : ۸۲، ابوداود: ۲۶۲۰، ابن ماجة: ۱۰۷۹)-
۲) ترمذی کتاب الایمان باب ماجاء فی ترک الصلاة : ۲۶۲۱، وسنده صحیح ، نسائی : ٤٦٤، ابن ماجة: ۱۰۷۹)-
۳) صحیح بخاری کتاب مواقیت الصلاة باب اثم من فاتته العصر : ۵۵۲، صحیح مسلم: ٦٢٦)-
۴) صحیح بخاری کتاب مواقیت الصلاة باب اثم من فاتته العصر : ۵۵۲، صحیح مسلم: ٦٢٦)-
۵) ابن ابی حاتم: وسنده حسن البزار کشف الاستار : ۱۰٦، وهوحسن ، مجمع الزوائد : ۱۰٤/۱)
۶) ابن مردویه
۷) ابن جریر

Scanned with Ca

ظلم څه وی چه یو سړی هجرت اوکړی او مسلمانانو سره یو خائی شی ، مال غنیمت کښې دده حصه مقرر شی ، مجاهدینو کښې دده نوم اولیکلې شی ، بیا هغه داټول څیزونه پریږدی او اعرابی جوړ شی او دارالکفر ته لاړشی او لکه څنګه چه وو هغه شان شی. (۱)

په وصیت کښې طرفدار لویه ګناه ده:- مسنداحمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ حجة الوداع کښې خطبه اوفرمائیله او وې فرمائیل چه خبردار هغه (ګناهونه) څلور دی. ① الله تعالی سره شریك مه جوړوئ. ② ناحق قتل مه کوئی خو شرعی اجازت بل څیز دې ③ زنا مه کوئی ④ غلا مه کوئی (۲) هغه حدیث مخکښې تیر شوې دې. کوم کښې چه دی چه وصیت کولو کښې چاته نقصان رسول ګناه کبیره ده. (۳)

دکبیره ګناهونوپه فهرس کښې بله اضافه:- ابن جریر کښې دی چه ﷺ صحابه کرامو ﷺ یو خل دګناه کبیره ذکر اوکړو ① چه الله تعالی سره شریك جوړول. ② دیتیم مال خوړل. ③ جنګ نه تیښته کول. ④ پاکو ښځو باندې تهمت لګول ⑤. دمور پلار نافرمانی کول ⑥. دروغ وئیل ⑦. دهوکه کول ⑧. خیانت کول ⑧. جادو کول. ⑨ سود خوړل. داټول ګناه کبیره دی. نو ر سول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو به هغه ګناهونوسره څه کوئی چه کوم خلق دالله ﷻ وعدې اوخپل قسمونه لږ لږ قیمت باندې خرڅوی. آخر آیت پورې سدوی تلاوت اوفرمائیلو (۴) ددې اسناد ضعیف دی. اوداحدیث حسن دې. نو دې ټولو احادیثوکښې د ګناه کبیره ذکر موجود دې.

دګناه کبیره باره کښې دعمر ﷺ نه تپوس:- اوس دې باره کښې د سلفو صالحین اقوال اوګورئی. ابن جریرکښې دی چه څه خلقو مصر کښې حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ نه تپوس اوکړو چه مونږ ډیرې داسې خبرې ګورو چه په هغې ځمونږ عمل نشته دې. ددې وجې مونږ دې باره کښې امیر المومنین حضرت عمرفاروق ﷺ نه تپوس کوؤ. حضرت ابن عمرو ﷺ دوی سره مدینې منورې ته راغلل او حضرت عمرفاروق ﷺ سره ملاؤ شو دوی تپوس اوکړو چه کله راغلی یئ ؟ هغوئ جواب کښې اونیل چه دومره وخت مو اوشو. هغوئ نه ئې تپوس اوکړو چه تاسوساجازت غوښتلې دې که نه.؟ ددې جواب ورکولو نه پس ئې ددې خلقو ذکراوکړو. دوی اوفرمائیل چه هغوئ جمع کړئی. بیا هغوئ دوی ته راغلل او په هغوئ کښې ئې یو نه تپوس اوکړو چه ستا دې په الله ﷻ او په قرآن قسم وی چه تا پوره قران پاك لوستې دې ؟ هغه اوونیل چه آؤ. وې فرمائیل چه تا دا په زړه کښې محفوظ کړې دې. هغه اوونیل چه نه. اوکه آؤ ئې کړې وې نو حضرت عمرفاروق ﷺ به هغه عاجز کړې وې. بیا ئې اوفرمائیل چه دا خپل نظر کښې خپله ژبه کښې او خپل چال کښې راګیر کړې دې. بیا یو یو نه ئې دا سوال اوکړو. بیا ئې اوفرمائیل چه تاسو عمر دې مشقت کښې اچول غواړئی چه د خلقو ژوند د کتاب الله مطابق صحیح شی. ځمونږ رب ته مخکښې ځمونږ د خطا ګانو علم وو. بیا دوی آیت ﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا﴾ تلاوت کړو. بیا ئې اوفرمائیل چه آیا اهل مدینه ته ستاسو د راتګ سبب معلوم دې ؟ هغوئ اوونیل چه نه. وې فرمائیل چه دوی وې فرمائیل که چرې هغوئ ته ددې علم وې نو مابه دې باره کښې هغوئ ته هم وعظ کړې وی. ددې اسناد حسن دی او متن هم حسن دې. اګر چه دا روایت حسن رحمه الله د حضرت عمرفاروق ﷺ نه نقل دې. او په هغې کښې انقطاع ده. لیکن دومره نقصان سره ددې پوره شهرت حاصل دې.

---

(۱) الطبری: ٤/۳۹)-

(۲) احمد: ٤/۳۳۹، وهو صحیح)-.

(۳) دار قطنی : ٤/۱۵۱،

(٤) الطبری: ۹۲۲۷،

Scanned with Ca

د کبائرو بل فهرست:- ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت علی ﷺ فرمائی چه ګناه کبیره دادی ① الله تعالی سره شرک کول ② چا لره قتل کول ③ دیتیم مال خوړل ④ پاکه ښځه باندې تهمت لګول ⑤ د جنګ نه تیښته کول ⑥ هجرت نه پس دارالکفر کښې قیام کول ⑦ جادو کول ⑧ دمور پلار نافرمانی کول سود خوړل ⑨ جماعت نه جدا کیدل ⑩ خریدوفروخت ماتول.مخکښې تیر شوی دی چه حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه د لوئې نه لویه ګناه الله تعالی سره شریك جوړول او دالله ﷻ رحمت نه مایوسه کیدل دی.او دالله ﷻ مکرنه نه ویریدل.ابن جریر ددوی نه روایت کوی چه دسورة نساء دشروع نه واخله تردیرشو آیتونو پورې ګناه کبیره بیان شوی دی.بیادوی داآیت مبارك تلاوت کړوچه ﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا﴾

د زیاتی اوبو اووابنو منع کول کبیره ګناه ده: بریده ﷺ فرمائی چه کبیره ګناهونه(دادی)① الله ﷻ سره شریك جوړول② مورپلارخفه کول ③هرکله چې اوبه ډیرې وی او(دضرورت نه زیاتې وی) نودا خلقوته نه ورکول④ ده سره چې کوم نرځناور وی دهغې بدله کښې ماده ورکول اوپدې څه نه اخستل(۱)

بخاری او مسلم یو مرفوع حدیث کښې دی چه نه دې د بچ شوو اوبو منع اوکړې شی اونه دې د بچ شوی وابنو نه منع اوکړې شی. (۲)

او یو روایت کښې دی چه دری قسمه ګناهګارو ته به الله تعالی د قیامت په ورځ د رحمت نظر نه کوی او نه به دوی پاکوی. بلکه دوی دپاره دردناك عذاب دې ، یوهغه سړې چه په څنګل کښې د بچ شوۍ اوبو نه مسافر منع کړی (۳)مسنداحمد کښې دی چه کوم کس د بچ شوې اوبه او بچ شوې وابنو نه منع اوکړی نو الله ﷻ به دقیامت په ورځ په ده خپل فضل نه کوی.حضرت عائشه ﷺ فرمائی چه کبیره ګناهونه هغه دی چه کوم ښځو نه دبیعت اخستلو په بیان کښې تیر شوی دی یعنی آیت ﴿عَلَىٰ أَنْ لَّا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا الخ﴾.

یو خل حضرت انس بن مالک ﷺ ددې آیت دعظیم الشان احسان بیان فرمائی.اوبه دې باندې ټې ډیرد خوشحالئ اظهاراوکړو یعنی ایت (ان تجتنبوا)

د ابن عباس په نیز د کبیره ګناه تعریف:- یو خل د حضرت ابن عباس ﷺ مخکښې خلقو اووئیل چه ګناه کبیره اووۀ دی.دوی اوفرمائیل چه ډیر خله اووۀ دی.دویم روایت کښې دی چه دوی اوفرمائیل چه اووۀ خو کم درجه ده ګنی اویا دی دیو بل سړی په مخکښې دوی اوفرمائیل چه هغه اووۀ سوه دی.او اووۀ خو ډیر نزدې دی.یاد ساتئ د استغفار نه پس کبیره کبیره نه پاتې کیږی. او په ګناه باندې همیشوالی کولو سره صغیره ګناه ضغیره نه پاتې کیږی.او بل سند سره مروی دی چه دوی اوفرمائیل چه کومه ګناه باندې چې د جهنم یا د الله د غضب یا د لعنت یا د عذاب وعید بیان شوې دې هغه کبیره دی.اویو روایت کښې دی چه کومو نه الله تعالی منع اوفرمائی هغه کبیره دی.چه په کوم کار کښې دالله ﷻ نافرمانی وی هغه لوئې ګناهونه دی.

د ګناه کبیره په باره کښې د تابعینو اقوال:- دتابعینو اقوال هم اوګورئی.عبیده ﷺ فرمائی چه کبیر ګناهونه دا دی ① الله تعالی سره شرك کول ② قتل نفس بغیر حق ③ میدان جنګ نه تښتیدل ④

---

(۱) ابن ابی حاتم موقوفا والبزار: ۱۰۷،

(۲) صحیح بخاری کتاب المساقات باب من قال ان صاحب الماء احق بالماء: ۲۳۵۳، صحیح مسلم: ۱۵۶۶، ترمذی: ۱۲۷۲، ابن ماجة: ۲۴۷۸)-

(۳) صحیح بخاری کتاب المساقات باب اثم من منع ابن السبیل من الماء : ۲۳۵۸، صحیح مسلم: ۱۰۸، ابوداود: ۳۴۷۳، ابن ماجة: ۲۲۰۷)-

Scanned with Ca

دیتیم مال خوړل ⑤ سود خوړل ⑥ بهتان لګول ⑦ هجرت نه پس وطن ته واپسی. د حدیث راوی ابن عون دخپل استاد محمد رحمه الله نه تپوس اوکړو چه آیا جادو ګناه کبیره دې ؟ وې فرمائیل چه دا بهتان کښې راغلو. دا لفظ ډیرو بدو ته شامل دې.

شرک:- حضرت عبیده بن عمیر رضی الله عنه په ګناه کبیره باندې دقرآن پاك آیت تلاوت کړو شرك باندې :﴿وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللّٰهِ فَكَاَنَّمَا خَرَّ مِنَ السَّمَآءِ الخ﴾ یعنی الله ﷻ سره شرك کولو والا داسې دې لکه چه دآسمان نه راپریوتو. نودې مارغان اونیسی او دې به بوځی ، یا ئې هوا یو نامعلوم ځائې کښې اوغورځوی.

د یتیم مال خوړل:- دیتیم دمال باره کښې ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ اَمْوَالَ الْيَتٰمٰى ظُلْمًا﴾ (ترجمه) " چه کوم خلق ظلم سره دیتیم مال خوری هغوئ خپلو خیټوکښې د جهنم اور اچوی.

سود خوړل:-دسودخورنی باره کښې دی چه ﴿اَلَّذِيْنَ يَاْكُلُوْنَ الرِّبٰوا﴾ (ترجمه) چه کوم خلق سود خوری هغوئ به د قیامت په ورځ مخبوط الحواس او پاګل جوړ شی اوولاړ به وی.

تهمت لګول:- په پاکدامنوښځو باندې د تهمت لګولو باره کښې دی ﴿وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ الْمُحْصَنٰتِ﴾ (ترجمه) چه کوم خلق په پاکو بې خبرو ایماندارو ښځو باندې تهمت اولګوی.

د دشمن نه تیښته کول:- په میدان جنګ کښې د دشمن نه د تیښته په باره کښې دی. ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا زَحْفًا فَلَا تُوَلُّوْهُمُ الْاَدْبَارَ﴾ الخ(ترجمه) " اې ایمان والو اکله چه کافرو سره تاسو د جنګ دپاره مخامخ شئ.نو مخ مه اړوئ.

هجرت نه پس وطن ته واپس کیدل:- هجرت نه پس کفرستان کښې اوسیدو باندې ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ ارْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِهِمْ﴾ الخ. (ترجمه) چه کوم خلق هدایت نه پس مرتد شی.

د مؤمن قتل:- دمومن قتل باره کښې دی ﴿وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا﴾ الخ. (ترجمه) " چه څوك یو مسلمان په قصد سره اوژنی دهغه سزا جهنم ده او دې کښې به همیشه وی.

د دروغو ګواهی ورکول:- حضرت عطاء رحمه الله نه هم دګناه کبیره بیان نقل شوې دې.او په هغې کښې د دروغو ګواهی ده. **صحابؤ ته بدرد وئیل**:- حضرت مغیره رحمه الله فرمائیلی دی دا وئیلې کیږی چه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته بد وئیل هم ګناه کبیره ده. زه وایم چه دعلماء کرامو یو جماعت هغه ته کافر وئیلی دی چه څوك صحابه کرام رضی الله عنهم ته بد وائی.حضرت امام مالك رحمه الله نه مروی دی چه امام محمد بن سیرین رحمه الله فرمائی چه څه دا باور نشم کولې چه د چا په زړه کښې د نبی کریم ﷺ محبت وی او هغه حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه سره دښمنی اوساتی (ترمذی) .([1])

زیدبن اسلم او ګبائر:- حضرت زید بن اسلم رحمه الله ددې آیت تفسیر کښې لیکی چه ګبائر دادی چه ① الله ﷻ سره شریك جوړول ② الله ﷻ او دهغه رسولان نه منل ③ جادو کول ④ اولادقتل کول ⑤ الله ﷻ نه د اولاد او ښځې نسبت کول.او هم داشان هغه اعمال او اقوال دی چه د هغې نه پس هیڅ نیکی نه قبلیږی.خو چه کوم داسې ګناهونه دی چه هغې سره دین پاتې کیږی او عمل قبلیدې شی داسې ګناهونه دنیکئ بدله کښې الله ﷻ معاف کوی.

حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ هغوی سره د مغفرت وعده کړې ده څوك چې دکبیره ګناهونو نه بچ شی اومونږته دا هم ذکر شوی دی چه نبی کریم ﷺ دا هم اوفرمائیل چه څوک کبیره ګناهونو نه بچ اوسئ اودرست اوسئ او زیرې واورئی ([2]) مسند عبدالرزاق کښې په صحیح سند سره د رسول کریم ﷺ

---

[1]) ترمذی: کتاب المناقب باب قول عمر لابی بکر یاخیر الناس : ۳۶۷۵،

[2]) ابن جریر

Scanned with Ca

نه مروی دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خما شفاعت خما دامت کبیره ګناهونو والو دپاره هم دي [1] امام ترمذی رحمه الله هم دي ته حسن وائی اګر چه ددي روایت او سند دضعف نه خالی نه دي مګر ددي چه کوم شواهد دی هغې کښې هم صحیح روایات دی.لکه یو حدیث مبارک کښې دی چه آیاتاسو ته معلومه ده. چه خما شفاعت به صرف متقیانو دپاره اومومنانو دپاره دي څه ؟ نه نه بلکه دګناهګارو او خطاکارو خلقو دپاره هم دي.[2]

دکبیره ګناه په تعریف کښې اقوال:-اوس دعلماء کرامو اقوال واورئی چه په هغې کښې وئیلې شوی دی چه کبیره ګناه څه ته وائی؟①بعضې وائی چه کبیره هغه ده په کومه کښې چه شرعی حد وی② بعضې وائی چه په هغې باندې قران پاک کښې یا احادیثو کښې سزا وی③ دبعضو قول دي چه هغې سره دینداری کمیږی او دیانتدارئی کښې کمي راځی.

دهروی رحمه الله رائې:- قاضی ابوسعید هروی رحمه الله فرمائی چه دهغې حرمت په ښکاره لفظونو سره ثابت وی او چه د هغې په کولوباندې حد وی لکه قتل وغیره.هم داشان د هرې فریضې ترک کول او د دورغو ګواهئ والا روایت او د دروغو قسم⑥ قاضئ رویانی رحمه الله فرمائی چه کبائر اووه دی.① بې وجه څوک قتل کول.② زنا ③ لواطت ④ شراب څکل ⑤ غلاکول ⑥ غصب ⑦ تهمت .او یو اتم څیز هم دویم روایت کښې مروی دي یعنی د دروغو ګواهی

اودې سره داهم شامل کړې شوی دی چه سود خوری ، درمضان روژې بلاعذر نه نییسی د دورغو قسم خپلولی کټ کول ،د مور پلار نافرمانی ،جهاد نه تښتیدل ،دیتیم مال خوړل ، ناپ تول کښې کمي خیانت کول ، مونځ دوخت نه مخکښې یا د وخت نه روستو بې د څه عذر نه اداکول. مسلمان بې د څه وجې قتل کول ، نبی کریم ﷺ باندې دروغ تړل ،د نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضي الله عنهم ته کنځل کول ، بې د سبب نه ګواهی پټول ، رشوت اخستل ، ښځو او سړو کښې ناچاقی کول ، بادشاه ته چغل خوری کول ، زکوة نه منع کول ، د قدرت باوجود ښه خبرې نه کول ، د بدو خبرو نه منع نه کول ، قران زده کولو نه پس هیرول ، ساه لرونکي څیز په اور سیزل ، د ښځې خپل خاوند ته بې د څه سبب نه نه راتلل ، دالله ﷻ رحمت نه ناامیده کیدل ، دالله ﷻ دمکر نه بې ویرې کیدل ، داهل علم او حاملان قران بدوئیل ، ظهار کول ،د خنزیر غوښه خوړل ، مردار خوړل ، خوکه د ضرورت په وجه وی اود اضطرار په حالت کښې وی نو دا بله خبره ده.

امام شافعی رحمه الله فرمائی چه په دي کښې بعضو کښې د توقف ګنجائش شته دي.دکبائرو باره کښې بزرګان دین ډیر کتابونه لیکلی دی.شیخ حافظ ابوعبدالله ذهبی رحمه الله هم یو کتاب لیکلي دي چه په هغې کښې ئې اویا کبیره ګناهونه شمیرلي دی.او دا هم وئیلې شوی دی چه کبیره ګناهونه هغه دی چه په هغې باندې شارع ﷺ د جهنم وعید آورولې دي.که دا قسمه ګناهونه اوشمیرلې شي نو ډیرې دی.اوکه کبیره ګناه هغې ته اووئیلې شی چه هغې نه شارع ﷺ منع کړې وی نو ډیر دی ، والله اعلم.

وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا
اومهٔ کوئ آرزوتاسو ادهغه څیز
او الله تعالی چه

[1] ترمذی کتاب صفة القیامة باب منه حدیث شفاعتی لاهل الکبائر من امتی : ۲٤۳۵، وسنده صحیح ابن ماجة: ٤۳۱۰)-

[2] ابن ماجة: کتاب الزهد باب ذکر الشفاعة : ٤۳۱۱

Scanned with Ca

فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ

چې زیات ورکړې وی الله| هغه څیز|بعضو ته په تاسو کښې |په مقابله دبعضو|ډ دپاره دنارینو| حصه

یوکس ته دبل په مقابله کښې کوم فضیلت ورکړې دې تاسو دهغوې خواهش مۀ کوئ| نارینو چې

مِمَّا اكْتَسَبُوْا ؕ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ؕ

مطابق دهغې عمل چې کړې وی هغوئ| اوده دپاره دزنانو| حصه| مطابق دهغه عمل چې کړې وی هغوئ

پخپل عمل څه ګټلی وی هغه دهغوئ حصه ده|اوزنانوچې خپل په عمل څه ګټلی دی هغه دهغوئ حصه ده

وَاسْـَٔلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ۝۳۲

اواوغواړئ دالله نه | فضل دهغه | بیشکه الله | دې | په هر څیز باندې | علم لرونکې|

دالله ﷻ نه دهغه دکرم او فضل سوال کوئ | بیشکه الله ﷻ په هرڅۀ پوهه دې |

شخې دې سړو سره اوکه په اوکه تلو په ځائې دې دالله ﷻ فضل تلاش کړی :حضرت ام سلمه رضی اللہ عنہا یو خل وئیلې وو چه یارسول الله ﷺ !سړی جهاد کوی اومونږ شخې ددې ثواب نه محرومه یو.داشان میراث کښې هم مونږ ته دسړو په نسبت نیمه حصه ملاویږی.دې باندې دا آیت مبارک نازل شو(ترمذی)[1]او یو روایت کښې دی چه دې نه پس آیت ﴿رَبُّهُمْ اَنِّیْ لَاۤ اُضِیْعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِّنْكُمْ مِّنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى﴾ نازل شو.او یو روایت کښې دی چه شخو داخواهش کړې وو چه کاش مونږ سړی وې نو جهاد کښې به شریکیدې.او یو روایت کښې دی چه یو شخه د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضره شوې وه او وئیلی ئې وو چه تاسو اوګورئ که نه شخوته یو او سړو ته دوه حصې ملاویږی.د دوۀ شخو شهادت د یو سړی برابر دې.بیا عمل کښې داسې دی چه یو نیکی نیمه نیکی پاتې کیږی،دې باندې دا آیت نازل شو(۲)حضرت سدی رحمۃ اللہ علیہ فرمانی چه سړو وئیلی وو چه هرکله مونږ د دوۀ حصو مالکان یو نو مونږ ته دې دوچند اجر هم ملاۀ شی. او شخو درخواست کړې وو چه کله مونږ باندې جهاد فرض نه دی اومونږ ئې نه کوۀ نو دشهادت ثواب مونږ ته ولې نه ملاویږی ؟ دې باندې الله ﷻ دا دواړه منع کړل او حکم ئې اوفرمائیل چه څما فضل تلاش کړئ.حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی چه ددې مطلب دادې چه انسان دې دا خواهش نه کوئی چه کاش د فلانی مال او اولاد دې څما وې.نودې باندې دهغه حدیث نه هیڅ اشکال نه ثابتیږی چه په هغې کښې دی چه دحسد قابل صرف دوه دی.① یو مالدار چه دالله ﷻ لار کښې خپل مال خرچ کوی.② او دویم وائی چه کاش ماسره هم مال وې نو ما به هم داشان دالله ﷻ لار کښې خرچ کولو. نودا دواړه دالله ﷻ په نیز اجر کښې برابر دی.(۳)خکه چه دا منع نه دی یعنی دداسې نیکئ حرص هم بد نه دې ، دلته دداسې څیز ددې نیکئ پشان کار کولو غرض سره دحاصلولو خواهش دې چه محمود دی. اوهلته دده خپل څیز پخپله دده قبضه کښې کولو نیت دې چه په هر رنګ کښې مذموم دې.نو ددینی او دنیاوی فضیلت خواهش دا شان منع دې.بیا فرمائی چه یو ته به ددې عمل ثواب ملاویږی ، دخیر بدله کښې خیر او شر بدله کښې شر. اودا هم مراد اخستې شی چه هر یو ته دهغه د حق مطابق میراث ملاویږی.بیا ارشاد دې چه مونږ نه څمونږ فضل غواړئ اوخپلو کښې دیو بل د فضیلت خواهش بې

---

[1]) ترمذی کتاب التفسیر القران باب ومن سورة النساء : ۳۰۲۲،

[2]) ابن ابی حاتم : وسنده حسن)-

[3]) صحیح بخاری کتاب العلم باب الاغتباء ف العلم والحکم : ۷۳، صحیح مسلم: ۸۱۶)-

Scanned with Ca

سود امر دي.او خما نه خما فضل اوغواړئ خه هيڅكله بخيل نه يم. ، كريم يم ، وهاب يم ، تاسو ته به دركوم ، او ډير څه به دركوم. نبی كريم ﷺ فرمائی چه اې خلقو ! الله ﷻ نه دهغه فضل تلاش كړئ ، الله ﷻ نه غواړئ او الله ﷻ نه غوښتنه الله ﷻ ته ډيره خوښه ده.يادساتئ د ټولو نه اعلی عبادت د فراخوالی او وسعت اورحمت انتظار كول اوددې اميد ساتل دی(۱)او يو روايت كښې دی چه داسې اميد ساتلو والا الله ﷻ ته ډير خوښ دی (۲) الله ﷻ عليم دې ، هغه ته ښه معلوم دی چه څوك دورګړې قابل دی او څوك دفقيرئی قابل دی.او څوك د آخرت د نعمتونو مستحق دی. او څوك دهغه ځانې د رسوايانو سزاوار دی.او هغه ذات دده اسباب او وسائل آسانوی.

وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا
او دپاره دهريو مقررګړی دی مونږه حقداران دهغه مال
او اوګورئ ،كوم يومال چې مورپلار اونور،خپلوان پريږدی
تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ط وَالَّذِيْنَ عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ
چې پريږدی مور اوپلار اورشته داران اوهغه كسان چې غوټه شوی دی قسمونه ستاسو
نومونږ هريودپاره وارثان مقررګړی دی اوچاسره چې تاسولوظونه ګړی دی
فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ط اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدًا ۝
نوورګړئ هغوئ ته حصه دهغوئ بيشكه الله دې په هرشيز باندې نظر لرونكی
نوهغوئ ته هم خپلې خپلې حصې ورګړئ بيشكه الله (حاضرناظردې) په هر شيز باندې ګواه دې

د نزدې رشته دار په ځائې هغه هلك ته حصه ورکول چه چا ته ئې رور يا ځوئې وئيلې وی :: د ډيرو مفسيرينو نه مروی دی چه دموالی نه مراد وارثان دی.بعضې وائی چه ددې نه عصبه مراد دی.د ترۀ اولادته هم موالی وائی.لكه دحضرت فضل ابن عباس ﷺ اشعاروكښې دی.نو دآيت مطلب داشو چه اې خلقو ! تاسو هر يو دپاره مونږ عصبه جوړ ګړی دی چه دهغه مال وارثان وی چه كوم ددوی مور پلار او رشته دارو پريښودې وو. او هغه چه تاسو ورته رونړه ونيلی دی اوتاسو قسمونه خوړلو خوړلو سره هغوئ خپل رونړه جوړ ګړی دی او هغوئ ستاسو رونړه جوړ شوی دی. هغوئ ته د هغوئی د ميراث حصه ورکړئی لكه څنګه چه تاسو قسمونو سره وعده كړې وه. دا حكم داسلام شروع كښې وو او بيا منسوخ شو. اوحكم اوشوچه تاسو كومې وعدې كړې دی هغه پوره كړئی او مه ئې هيروې.خو ميراث هغوئ ته نه شی رسيدې.صحيح بخاری شريف كښې دی چه حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه د موالی نه مراد وراثان دی.او دې نه پس جملې نه مراد دادې چه مهاجرين كله مدينې منورې ته راغلل نو دا دستور وو چه هر مهاجر به دخپل انصار رور وارث وو ، او دده خپل رشته دار به وارثان نه وو ، نو دې آيت مبارك دا طريقه منسوخ كړه. او حكم ئې اوكړو چه ددوی مدداوكړئی او دوی ته فائده اورسوئی دوی سره خيرخواهی اوكړئی ليكن ميراث ددوی حق نه دی او وصيت كوئی.(۳)
داسلام نه مخكښې دا دستور وو چه دوه سړو كښې به دا وعده اوشوه چه څه ستا وارث اوته خما وارث داشان دعربو قبائلو به وعدې كولې ، نو نبی كريم ﷺ اوفرمائيل چه د جاهليت رسمونه او وعدې

---

۱) ترمذی كتاب الدعوات باب انتظار الفرج : ۳۵۷۱

۲) الترمذی : ۳۵۷۱)-.

۳) صحيح بخاری كتاب التفسير سورة النساء باب (لكل جعلنا موالی) ۴۵۸۰)-

اسلام مضبوطوی (۱)لیکن اوس اسلام کښې قسمونه اوداقسمه وعدې نشته دا دې ایت مبارک منسوخ کړې.او وې فرمائیل چه ذی رحم رشتې د کتاب الله حکم سره زیات اولی دی په نسبت دمعاهدو والو، یو روایت کښې دی چه نبی کریم ﷺ دجاهلیت قسمونه او وعدو باره کښې تر دې تاکید اوکړو چه فرمائی که ماته سرۀ اوښان راکړې شی اوداقسم ماتولو دپاره اووئیلې شی چه کوم دارالندوه کښې شوې وه نو څه دا نه خوښوم.(۲) ابن جریر کښې دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمائی چه څه خپل وړوکوالی کښې خپل ماما سره حلف طیبین کښې اووم ، ماته سره اوښان ملاؤنشو خوداقسم هېڅکله نه ماتوم(۳)نو یاد ساتئ چه د قریشو او انصارو کوم تعلق نبی کریم ﷺ قائم کړې دې هغه صرف الفت او محبت پیداکولودپاره وو خلقو سوال اوجواب کښې د نبی کریم ﷺ دا فرمان مروی دې چه دجاهلیت حلف پوره کړئ.اوس اسلام کښې هیڅ حلف نشته دی (۴)د مکې دفتح په ورځ هم نبی کریم ﷺ اوریدل او خپله خطبه کښې ئې ددې خبرې اعلان کړې وو. (۵)

داؤد بن حصین رحمه الله فرمائی چه ما حضرت ام سعد بنت ربیع رضی الله عنها نه قرآن پاک لوستو ، ماسره دهغه نمسی موسی بن سعد هم لوستو چه دحضرت ابوبکر رضی الله عنه غیر کښې ئې د یتیمئ ورځې تیرې کړې وې.ما دې آیت مبارک کښې ﴿ **عاقدہ** ﴾ اولوستلو نو ځما استاذې څه منع کړم او وې فرمائیل چه ﴿ **عقدت** ﴾ وایه.واوره دا آیت د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او دهغه د ځوئې حضرت عبدالرحمان رضی الله عنه باره کښې نازل شوې دې.دوی مخکښې د اسلام نه منکر وو. او حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه قسم کړې وو چه دې به خپل وارث نه جوړوی. او آخر چه کله دې د مسلمانانو سره دډیر زیات جنګیدو نه پس اسلام طرفته راغلو او مسلمان شو نو حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته حکم اوشوچه دې دخپلې حصې میراث نه مه محرومود. خودا قول غریب دې او صحیح قول رومبې دې.الغرض ددې آیت او احادیث نه دهغوئ قول رد کیږی چه دقسم او وعدو په وجه نن هم دوراثت رسولو قائل دی لکه د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او د هغوئ د ملګرو خیال دې او امام احمد رحمه الله نه هم یو روایت دا شان شوې دې.

لیکن صحیح مذهب د جمهورو دې اوحضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام شافعی رحمه الله او دمشهور قول مطابق د امام احمد هم.نو آیت کښې ارشاد دې چه دهر سړی وارث ددې نزدې خلق دی او نور نه.بخاری اومسلم کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه حصه دارو وارثانو ته دهغوئ حصې ورکوئی او چه څه بچ شی نو هغه دې عصبه ته ملاؤ شی (۶)او وارثان هغه دی چه دهغې ذکر دفرائضو دوؤ آیتونو کښې دې. او چه چا سره تاسو مضبوط قسمونه او وعدې کړې دی یعنی ددې آیت نازلیدو نه مخکښې هغوئ ته دهغوئ حصه ورکړئ یعنی دمیراث اودې نه پس چه کوم حلف دی هغوئ په تاثیر والا نشی کنړلې.او دا هم وئیلې شوی دی که ددې نه مخکښې وعدې او قسمونه وی اوکه ددې آیت مبارک د نازلیدو نه پس وی ، دټولو حکم دادې چه داسې حلیفو ته به میراث نه ملاویږی. اود حضرت ابن عباس رضی الله عنه په قول دهغوئ حصه نصرت ، مدد ، خیرخواهی او وصیت دې میراث نه.دوی فرمائی چه خلقو به وعدې کولې چه دوی کښې څوك مخکښې مړ شی او کوم یو پاتې شی نو دې به دهغه مرده وارث وی. نو الله ﷻ آیت ﴿وَأُولُوا الْأَرْحَامِ﴾ نازل کړو او حکم ئې اوفرمائیلو چه ذی رحم محرم یو نه بل

---

(۱) احمد: ۳۱۷/۱ دارمی : ۲۵۲۶، مسند ابو یعلی : ۲۳۳۶، ابن حبان : ۴۳۷۰، وهو حدیث حسن طبرانی : ۱۱۷۴۰)-

(۲) طبری : ۹۲۹۱)-

(۳) الطبری : ۹۲۹۷،)-

(۴) احمد: ۶۱/۵)-.

(۵) الطبری : ۹۲۹۹)-

(۶) صحیح بخاری کتاب الفرائض باب میراث الولد من ابیه وامه: ۶۷۳۲، صحیح مسلم: ۱۶۱۵، ترمذی: ۲۰۹۸)-

Scanned with Ca

بهتر دي خو خپلو دوستانو سره ښه سلوك كوئى.يعنى كه هغوئ دپاره ثلث مال كښي وصيت اوكړئى نو داجائزدى.معروف او مشهور امر هم دا دي.او نورو هم ډيرو سلفونه مروى دى چه دا آيت منسوخ دي اوناسخ آيت ﴿وَأُولُوا الْأَرْحَامِ﴾ والا دي. حضرت سعيد بن جبير ﷺ فرمائى چه دوى ته ددوى حصه ورکړئى يعنى ميراث.حضرت ابوبكر صديق ﷺ يو صاحب خپل مولى جوړكړي وو نو هغه ئي وارث كړو.
ابن المسيب رحمه الله فرمائى چه دا آيت دهغه خلقو حق كښي نازل شوي دي چه دخپلو خامنو نه سوا نورو لره خپل خامن جوړوى او هغوئ ئي دخپل جائيداد وارثان جوړول.نو الله ﷻ اوفرمائيل چه دوى ته په وصيت كښي د دوى حصه ورکوئى.اوميراث ئي موالى يعنى ذى رحم محرم رشته دارو ته او عصبه طرفته واپس کړه اوددي نه ئي منع اوفرمائيله او دا ئي ناخوښ کړل چه صرف زبانى دعوؤ او هغو ته ميراث ورکړي شى چه کوم ته تاسو صرف په خوله خامن وئيلى دى او هغوئ دپاره ئي وصيت اوفرمائيلو. امام ابن جرير رحمه الله فرمائى چه ځما په نيز مختار قول دادي چه دوى ته حصه ورکړئى يعنى د نصرت ، نصيحت او مدد ، دا نه چه دوى ته ميراث كښي حصه ورکړئى ،نو ددي معنى كولو سره بيادا آيت منسوخ منلو هېڅ وجه باقى پاتي نشوه اونه دا وئيلي كيږى چه دا حكم مخكښي وو او اوس پاتي نشو. بلكه د آيت دلالت صرف په دي امر دي چه كومي وعدي خپلو كښي د مددكولو او خيرخواهئ اوښيګړي وى هغه پوره كړئى نودا آيت محكم او غير منسوخ دي.خوداامام صاحب دي قول باندي ذره نظر شته دي ځكه چه په دي شك نشته دي چه بعضي عهدوپيمان به صرف نصرت او مدد وو. ليكن دي كښي هم شك نشته دي چه بعضي وعدي د وراث وي او د ډيرو سلفو نه مروى دى. اولكه څنګه چه د حضرت ابن عباس ﷺ تفسير كښي تير شوى دى چه په هغي كښي هغوئ صفا فرمائيلى دى چه مهاجر به د انصارو وارثان وو. دده نزدي رشته دار به وارثان نه وو. او نه به ذى رحم رشته دار وارثان وو. تر دي چه دامنسوخ شو. بيا امام صاحب رحمه الله دا څنګه فرمائيلي دى چه دا آيت محكم اوغير منسوخ دي ، والله اعلم.

اَلرِّجَالُ	قَوَّامُوْنَ	عَلَى النِّسَآءِ	بِمَا فَضَّلَ	اللّٰهُ	بَعْضَهُمْ
	سړى	حاكمان دى	په سبب ددي چې فضيلت ورکړي دي	الله	بعضو دهغوى ته
	سړى په زنانو حاكمان دى	ځكه چې الله ﷻ يودلي ته په بله باندي فضيلت			
عَلٰى بَعْضٍ	وَّبِمَآ	اَنْفَقُوْا	مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ	فَالصّٰلِحٰتُ	قٰنِتٰتٌ
په بعضو	اوپه سبب ددي	چې خرچ كوى نارينه	ادمالونوخپلو نه	نو نيكانې صالحانې ښځى	احكم منونكى وى
ورکړي دي	او ځكه چې سړو(په ښځو)خپل مالونه خرچ کړى دى	.....	نو نيكانې ښځې	حكم منونكې ښځې	
حٰفِظٰتٌ	لِّلْغَيْبِ	بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ	وَالّٰتِيْ	تَخَافُوْنَ	
حفاظت كونكى وى	دپاره دغائب خاوندانو	د الله په حفاظت سره	اوهغه ښځى	چې ويريږئ تاسو	
اوردخاوند) په غيرموجودګئ كښي (دخپل عزت) حفاظت كونكې ښځې اكومې چې الله ﷻ محفوظ كړى دى	او چه				
نُشُوْزَهُنَّ	فَعِظُوْهُنَّ	وَاهْجُرُوْهُنَّ	فِي الْمَضَاجِعِ		
دسركشئ دهغوئ نه	نو نصيحت اوكړئ هغوئ ته	او جدا شئ دهغوئ نه	دخوب په بستروكښي		
د كومو ښځو سركشئ نه ويريږئ	نو(اول ئي) په طريقه پوهه كړئ	اوبيا تري خپلي بسترې جدا كړئ			

Scanned with Ca

وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ	فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ	فَلَا تَبْغُوْا	عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ؕ
اواووهئ هغوئ	نوکه تابعداري شوي هغوئ حکم منلو ستاسوته	نومه لټوئ تاسو	په هغوئ باندي الاره دزياتي
اوبيائي اووهئ	نوکه هغوئ ستاسو خبره اومنله	نو هيڅ بي هيڅ ورته بهانې مه جوړوئ	اودايقين اوکړئ
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ۝			
بيشکه الله	دي	اوچت	لوئ
چې بيشکه الله ﷻ ډير اوچت اوډير لوئې دي			

دنافرمانه ښځو پوهولو ترتيب وار دري طريقې:- الله ﷻ فرمائی چه سړي د ښځې حاکم او مشر او سردار دي.دې لره صحيح او درست ساتلو والا دي ، ددې وجې سړی د ښځو نه افضل دی.همدا وجه ده چه نبوت صرف په سړو کښې راروان دي.او داشان شرعی طور خليفه هم سړي کيدیشی.نبی کريم ﷺ فرمائی چه هغه خلق هيڅکله نجات نشی موندې چه کوم خپل ولی يو ښځه جوړه کړی (بخاری) (۱) داشان منصب او قضاء وغيره هم صرف سړی لائق دی.دويمه وجه دافضيلت داده چه سړي په ښځو باندې خپل مال خرچ کړی چه کوم دکتاب و سنت ددوی په ذمه دی.لکه مهر کښې نان نفقه کښې او نورو ضرورتونو پوره کولو کښې.نو سړي فی نفسه افضل دي. او س د نفع او حاجت پوره کولو هم دده درجه اوچته ده. نو دي په ښځه سردار جوړکړي شوي دي.لکه بل ځائي کښې دي چه ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ ؕ﴾حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی مطلب دادي چه ښځې به دسړو اطاعت کوی.اودسړی د بچو پرورش او ددې دمال حفاظت به دا ښځه کوی.حضرت حسن بصری ﷺ فرمائی چه يو ښځې نبی کريم ﷺ ته د خپل خاوند شکايت اوکړو چه هغه دا په څپيړه وهلې وه. نو نبی کريم ﷺ د بدلې اخستلو حکم ورکړي وو چه دا آيت نازل شو او بدله پاتې شوه. (۲)يو بل روايت کښې دی چه يو انصاری خپلې ښځې سره د نبی کريم ﷺ خدمت کښې حاضر شو ، دې ښځې نبی کريم ﷺ ته اوفرمائيل چه يارسول الله ﷺ ده څه په څپيړه وهلې يم او دهغې داغ تر اوسه پوري ځما په مخ موجود دي. نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه ددې حق نه وو. نو هلته هم دا آيت نازل شو چه د آدب خودلو دپاره سړی په ښځو باندې حاکمان دي. نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه ما نور څه غوښتلی وو او الله ﷻ نور څه اوغوښتل. حضرت شعبی ﷺ فرمائی چه دمال خرچ کولو نه مراد دمهر ادا کول دی.که يو سړي په ښځه باندې د زناکارئی تهمت اولګوی نو د لعان حکم دي او که ښځه دخپل سړی متعلق دا خبره اوکړی او دا ثابته نه کړی نو ده ته به کوړې ورکولې شی.نو ښځو کښې نيک نفس والا هغه دی چه کومې د خپلو خاوندانو اطاعت ګزاري وی.اودخپل مال او نفس حفاظت کولووالا وی.د کوم چه الله ﷻ په خپله حکم کړيدي.نبی کريم ﷺ فرمائی چه بهتره ښځه هغه ده چه کله ددې خاوند دې طرفته اوګوری نو هغه خوشحاله کړی.اوکله چه دې ته حکم اوکړی نودائي پوره کوی.اوکله چه ددې خاوند چرته بهرلاړشی نوخپل نفس دبدو نه محفوظ ساتی او دخپل خاوند د مال حفاظت کوی.بيا نبی کريم ﷺ ددې آيت مبارک تلاوت اوفرمائيلو.دا حديث د آيت دذکر نه علاوه صحيح دي،مسند احمد کښې دی چه نبی کريم ﷺ فرمائی چه کله يوښځه پنځه وخته مونځ اداکړی،درمضان روژې نيسی اودخپلې شرمګاه حفاظت کوی او دخپل خاوند فرمان برداره وی ، نودې ته به اووئيلې شی چه دجنت په کومه دروازه ته غواړې په هغې داخله شه (۳)

---

(۱) صحيح بخاری كتاب الفتن باب رقم: ۱۹ ، ۷۰۹۹، نسائی : ۵۳۹۰، ترمذی: ۲۲۶۲،)-

(۲) اسباب النزول للواحدی : ۳۱۱، والطبری: ۹۳۰۵، مرسلا)-

(۳) احمد: ۱۹۱/۱، المعجم الاوسط للطبرانی : ۴۵۹۵)- .

بیا فرمانی چه تاسو دکومو ښځو دسرکشئ نه ویریږئ یعنی ستاسو اوچتیدل غواړی او نافرمانی کوی او بې پرواه وی او تاسره دښمنی ساتی نو اول دې ته نصیحت اوکړه او بنه نې پوهه کړه او کوز پاس ورته اوښایه ، اودالله ﷻ نه اوویروه ، حقوق زوجیت ورته یادکړه ، اودا ورته اووایه چه گوره دخاوند دومره حقوق دی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی که ما چاته حکم کولې چه دالله ﷻ نه سوا بل چاته سجده اوکړه نو ښځې ته به مې حکم کړې وو چه هغه دې خپل خاوند ته سجده اوکړی. ځکه چه دټولو نه لوړې حق په دې باندې دده دې.(۱) بخاری شریف کښې دی چه کله یو سړې خپله ښځه خپلې بسترې ته راوبلی اوهغه انکار اوکړی نو تر سحره پورې فرښتې په دې لعنت وائی.(۲) صحیح مسلم کښې دی چه په کومه شپه یو ښځه مرروره شي او دخپل خاوند بسره ته پریږدی نو تر سحره پورې دالله ﷻ درحمت فرښتې په دې باندې لعنت وائی.(۳) نودلته ارشاد فرمائی چه داسې ښځې مخکښې پوهه کړئی او بیانې د خپلو بسترو نه جدا کړئی(۴)حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی یعنی که ځملوئې نو په بستر خو ددوی نه مخ واړوئی او دوی سره مجامعت مه کوئی.او دې سره خبرې اترې هم مه کوئ. اودا ډنبځې دپاره ډیره لویه سزا ده.بعضې مفسرین فرمائی چه دوی سره ملاسته پریږدئی.نبی کریم ﷺ نه سوال اوشو چه د ښځې په خاوند څه حق دې ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله ته خوراک کوې نو دې ته هم ورکړه او کله چه څه اغوندې نو هغې ته هم ورکړې او هغه په مخ مه وهئ اومه هغې ته کنځل کوئی ،اودکور نه مه جداکوئی په غصه کښې او که ته په غصه کښې دې سره خبرې اترې پریږدې نو دا دکور نه مه اوباسه(۵)بیا فرمائی که دې سره هم اونشی نو تاته اجازت دې چه غصې او وهلو سره دا په لار راوله.

صحیح مسلم کښې د نبی کریم ﷺ دحجة الوداع خطبه کښې دی چه دښځوباره کښې دالله ﷻ نه اوویریږئی ځکه چه هغوئ ستاسو خدمت کونکې او ماتحت دی. ستاسو په هغوئ حق دادې چه تاسو د چا په تګ راتګ خفه کیږئی هغوئ مه پریږدئی.که هغوئ داسې اونکړی نو تاسو هغوئ ته تنبیه هم کولئ شئ. لیکن سختې نې مه وهئ.تاسو باندې دهغوئ حق دادې چه هغوئ ته خوراک ځکاک ورکوئی او هغوئ ته پوشاک هم ورکوئی.(۶) نو داسې وهل نې نه دی پکار چه دهغې نشان پاتې شی اوهغې سره څه اندام مات شی یا څه څه زخم پرې راشی.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی که هغوئ پدې هم منع نشی نو فدیه تري واخلئ او طلاق ورته ورکړئی.یوحدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دالله ﷻ وینځې مه وهئ.دې نه پس یو ځل حضرت عمرفاروق ﷺ راغلواوعرض نې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! ښځې ستاسو ددې حکم په آوریدو سره زړورې شوې ، دې باندې نبی کریم ﷺ دهغوئ د وهلو اجازت ورکړو.اوس د سړو د طرفنه ډیر وهل شروع شو او ډیرو ښځو نبی کریم ﷺ ته شکایت اوکړو نو نبی کریم ﷺ سړوته اوونیل چه انې خلقو واورئی ! مالره ښځې راغلې او فریاد نې اوکړو ، یادساتئ تاسو کښې چه څوک خپلې ښځې وهی هغه بنه سړی نه دی.(۷) (ابوداود وغیره)

---

۱) احمد: ۲۳۲۲، ابوداود: ۲۱٤۰، وسنده حسن ابن ماجة: ۱۸۵۳)-

۲) صحیح بخاری کتاب النکاح باب اذا مات المراة مهاجرة: ۵۱۹۳)-

۳) صحیح مسلم کتاب النکاح باب تحریم امتناعها من فراض زوجها: ۱٤۳٦)-

٤) ابوداود کتاب النکاح بآب فی حق المراة علی زوجها : ۲۱٤۲، وسنده صحیح ابن ماجة: ۱۸۵۰)-

۵) ابوداود کتاب النکاح بآب فی حق المراة علی زوجها : ۲۱٤۲، وسنده صحیح ابن ماجة: ۱۸۵۰)-

٦) صحیح مسلم کتاب الحج باب حجة النبی ﷺ ۱۲۱۸ ابوداود: ۱۹۰۵، ابن ماجة: ۳۰۷٤)-

۷) ابوداود کتاب النکاح باب فی ضرب النساء : ۲۱۳٦، وهو صحیح ابن ماجة: ۱۹۸۵)-

Scanned with Ca

حضرت اشعث فرمائی چه یو خل څه د حضرت فاروق اعظم ﷺ میلمه شوم. په هغه ورځ ښځه خاوند کښې څه جنګ اوشو او حضرت عمرفاروق ﷺ خپله بې بی اووهله. بیائې ماته اووئیل چه اشعث دې خبرې یاد ساته چه کومې ما دحضرت نبی ﷺ نه آوریدلی دی.① یو دا چه سړې نه به تپوس نه شی کولې چه ده خپله ښځه په څه اووهله.② دویم دا چه دوترو کولو نه مخکښې مه څمله او ③ دریم دراوی د ذهن نه وتلی دی (نسائی) (۱) بیا فرمائی که ښځې ستاسو فرمانبرداړې شی نو تاسو هغوئ باندې هیڅ سختی مه کوئی اومه هغوئ وهئ او مه ددوی نه بیزاره کیږئی.الله ﷻ اوچت او لویو والا دې. یعنی که د ښځو د طرفنه قصور اوشی نو تاسو ددوی د توبه کولو نه پس دوی ته څه تکلیف اورسولو نو یاد ساتئی چه ددوی بدله اخستلو والا پخپله الله ﷻ دې. او یقیناً هغه پاك ذات ډیر زورور اوزبردست دې.

وَاِنْ	خِفْتُمْ	شِقَاقَ	بَيْنِهِمَا	
اوکه چرې	یریږئ تاسو	دمخالفت نه	په منځ دهغوئ دواړو کښې	
اوډیرلوئې دې	اوکه د دواړو (ښځې خاوند) په مینځ کښې			
فَابْعَثُوْا	حَكَمًا	مِّنْ اَهْلِهٖ	وَحَكَمًا	مِّنْ اَهْلِهَا
نو اولیږئ	یوفیصلې کونکې	دخپلوانو دسړی نه	او بل فیصلې کونکې	دخپلوانودښځی نه
د مخالفت نه ویریږئ	نو یوثالث د سړی دخپلوانونه مقررکړئ		او یو ثالث د ښځې د خپلوانونه مقرر کړئ	
اِنْ يُّرِيْدَآ	اِصْلَاحًا	يُّوَفِّقِ اللّٰهُ	بَيْنَهُمَا	
که اراده لرله هغوئ دواړو	د صلحې کولوانوموافقت به پیدا کړی الله		په منځ دهغوئ دواړو کښې	
که هغوئ دواړه جوړښت غواړی	نو الله ﷻ به د دواړو په مینځ کښې موافقت پیدا کړی			
اِنَّ اللّٰهَ	كَانَ عَلِيْمًا	خَبِيْرًا ۝		
بیشکه الله	دې ښه پوه	ښه خبردار		
بیشکه الله ﷻ ښه پوهه اوپه هرڅه خبردار دې				

د ښځې خاوند په جنګ کښې د حکمینو تقرری:-مخکښې ئې دا صورت بیان کړو چه نافرمانی او کج روی د ښځو طرفنه وی ، اوس دلته دهغه صورت بیان کیږی که دواړه یو بل نه خفه وی نو څه به کولې شی؟نوعلماء کرام فرمائی چه داسې حالت کښې دې ثقه او پوهه سړې مقرر کړی چه ظلم اوزیاتې معلوم کړی چه د چا دطرفنه دې.نو ظالم دې دظلم نه منع کړی.که دې سره هم بهتری رانغله.نو د ښځې د طرفه دې اودسړی دطرفه دې یو یو بهترین سړې مقرر کړی شی.او دا دواړه دې یو ځائې شی او تحقیقات دې اوکړی او چه په کومه خبره امر کښې مصلحت وی اوکوم بهتر اوګڼړی نو دهغې فیصله دې اوکړی یعنی که جدا کوی ئې اوکه خپلو کښې ورله صلح کوی.

صلحې ته ترجیح ورکول:- لیکن نبی ﷺ ددې خبرې ترغیب ورکړې دې. چه ترکومې کیدیشی نو کوشش کونی چه د مصحلت کولو څه صورت پیدا شی. که ددې دواړو تحقیق کښې د خاوند د طرف نه خرابی ثابته شی نو دې به دخپلې ښځې نه منع کړی اودې به مجبورولې شی چه دې د خپله رویه

(۱) ابوداود کتاب النکاح باب فی ضرب النساء : ۲۱٤۷، وسنده حسن ابن ماجة: ۱۹۸٦)-.

Scanned with Ca

کښې فرق راولی هغه دې صحیح کړی .او ترصحیح کیدو پورې دې ددې نه جدا وی. اود هغې اخراجات وغیره دې اداکوی.اوکه شرارت دښځې د طرفه وی نو هغې ته دې نان نفقه نه ورکوی اودا دې مجبوره کړې شی چه خاوند سره بنه دخوشحالئ ژوند تیر کړی.دغه شان که هغه(مشران) دا فیصله اوکړی چې خاوند دې ښځې ته طلاق ورکړی نوخاوند به ورته طلاق ورکوی. اوکه هغه (مشران) دافیصله اوکړی چې دواړه به یو ځائې اوسیږی نو دا (ښځه خاوند به دا منی).

دابن عباس رائې:- بلکه حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی که دواړو کسانو په یو فیصله متفق شو چه دوی دې په خوشحالئ سره خپل تعلقات صحیح کړی او دا فیصله یو فریق اومنی او بل فریق ئې نه منی نو دې حالت کښې یو وفات شی نو بل فریق به دده وارث وی چه کوم خفه وو. لیکن چه کوم خفه وو هغه ته به د هغه کس روائت نه ملاویږی کوم چې راضی وو (ابن جریر).

مسلک حنفی:- ما سره چه احنافو کوم کتابونه دی په هغې کښې راته دا جزیه معلومه نشوه د دې وجې معذرت غواړم چې په دې مسئله کښې ما تاسو د مسلک حنفی نه خبرنکړې شوئ (احقر شاه فیصل)

دخلافت عثمانی یوه واقعه:- یوداسې جګړه کښې حضرت عثمان ﷺ حضرت ابن عباس ﷺ او حضرت معاویه ﷺ حاکمان مقرر کړی وو او فرمائیلی ئې وو که تاسو دې دواړو کښې صلح کول غواړئ نو دا به صلح وی اوکه جدائی پکښې راوستل غواړئ نو دا به جدائی وی.یو روایت کښې دې چه حضرت عقیل بن ابی طالب فاطمه بنت عتبه بن ربیعه سره نکاح اوکړه نو (فاطمه بنت عتبه) اوونیل چې ته ماته راځې هم اوهم ځه به ستا خرچ برداشت کوم. اوس داسې اوشوچه کله به عقیل دې ته راتلو نو تپوس به ئې کولو چه عتبه بن ربیعه اوشیبه بن ربیعه چرته دې.دوی به فرمائیل چه ستا ګس طرفته جهنم کښې.په دې به هغه غصه شوه.یوځل حضرت عثمان ﷺ لره راغلو او دا واقعه ئې بیان کړه.خلیفة المسلمین په دې په خندا شو اوحضرت ابن عباس ﷺ اوحضرت امیر معاویه ﷺ ئې د فیصلې دپاره مقررکړل.حضرت ابن عباس ﷺ خو به فرمائیل چه دې دواړو کښې دې جدائی راوستې شی.لیکن حضرت امیر معاویه ﷺ به فرمائیل چه بنو عبدمناف کښې دا تفریق نه خوښوم.اوس دا دواړه حضرات دحضرت عقیل ﷺ کورته ورغلل او وې کتل نودروازه ئې بنده ده او دواړه ښځه خاوند دننه دی ، دا دواړه واپس شو.

دخلافت حیدری یو واقعه:- مسندعبدالرزاق کښې دی چه دحضرت علی ﷺ دخلافت په زمانه کښې یو ښځه خاوندکښې اختلاف راغلو. او دوی دواړه راغلل. یو سره ددوی خپلوان وو.اوبل سره کورنئ خلق وو.حضرت علی ﷺ یو یو ډله بیله کړه او دوی ته ئې حکم اوکړو،بیا ئې دواړو ډلو ته اوفرمائیل چه تاسوته معلوم دی چه ستاسو څه کار دې او ستاسو څه منصب دې که تاسو غواړئ نو دواړه یو خائې کړئ اوکه غواړئ نو دواړه جدا کړئ.دې آوریدو سره ښځې اوونیل چه څه د الله ﷻ په فیصله راضی یم که د جدا کیدو په صورت کښې وی اوکه د یو ځائې کیدو په صورت کښې وی.سړی اوونیل چه زه بیلتون خوښوم. په دې باندې حضرت علی ﷺ اوفرمائیل چه نه نه ، په الله قسم تا ته به دواړه صورتونه منظوروی.

دعالمانو اجماع:- نو دعلماء کرامو په دې اجماع ده چه داسې صورت کښې دواړو منصفانو ته اختیار دی تردې چه ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی که غواړی نودوه یا درې طلاق هم ورکولې شی.حضرت امام مالک رحمه الله نه هم دا مروی دی.

دتفریق دعدم اختیار قائلین:- حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه دوی ته د جمع کولو اختیار دې د تفریق نه حضرت امام مالک رحمه الله نه هم دا قول نقل دې .د امام احمد رحمه الله او ابوثور رحمه الله او داؤد رحمه الله همدا مذهب دې.

Scanned with Ca

ددوی دلیل ﴿اِنْ یُّرِیْدَآ اِصْلَاحًا﴾ جمله ده په دې کښې د تفریق ذکر نشته دې. که دوی د دواړو طرفونونه وکیلان وی نو بیشکه ددوی حکم به جمع او تفریق دواړو کښې نافذ وی .اودې کښې د چا خلاف هم نه دې منقول.بیا دا هم خیال ساتل پکار دې چه دواړه ډلې دې دحاکم طرفنه مقرر وی. او فیصله به هم دوی کوی .اگر چه ددوی نه فریقین ناراض وی یا دوی د دواړو ښځې خاوند طرفنه وکیلان وی.

دجمهورو مذهب رومبې دې اودلیل دادې چه دوی ته قران پاک حکم کړې دې او که کومه فیصله یا حکم شی نودې فیصلې سره که څوک خوشحاله وی او که څوک خفه وی.بهر صورت د هغه فیصله به قطعی وی.د آیت ظاهری الفاظ د جمهورو مرسته کوی د امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ نوې قول هم دادې او امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ اوددی ملگرو نه همداقول نقل دې.

دویم قول (چه د حکمینو ته د تفریق اختیار نشته) چې د چا دې هغوئ وائی که دا د حکم په صورت کښې وې نو بیا په حضرت علی رضی اللہ عنہ هغه خاوند ته ولې فرمائیل چه ترکومې ښځې د دواړو صورتونو اقرار کړې وی اوته ئې اونه کړې نو ته دروغژن ئې ، واللہ اعلم.

ابن عبدالبر رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه دعلماء کرامو اجماع ده چه هرکله د دواړوډلو قولونه مختلف وی نو د دویم قول اعتبار به نه وی او په دې امر باندې هم اجماع ده چه دوی اتفاق کول غواړی نو ددوی فیصله به نافذ وی البته که جدائی غواړی نو بیا به هم فیصله نافذ وی که نه.په دې کښې اختلاف دې .لیکن د جمهورو مذهب همدا دې چه په دې کښې به هم ددوی فیصله نافذ وی اگر چه دوی وکیل نه وی جوړکړې شوې

د ښځې او خاوند په مینځ کښې روغه کولو کښې د حکمینو اختیار

مسلک حنفی:- که ښځۀ او خاوند دواړه حکمینو یعنی فیصله کونکوته اختیار ورکړی یا هغوی خپل وکیلان مقرر کړی او دا اومنی چه تاسو دواړو کومه فیصله اوکړه هغه مونږ ته منظوره ده نو په دې کښې صورت کښې که دواړه فیصله کونکو د دوی د جدائی فیصله اوکړه نو دا به صحیح وی او نافذه به وی د احنافو دا مسلک دې (معارف القران ۴۰۳۱۲).

وَاعْبُدُوا اللّٰهَ	وَلَا تُشْرِكُوْا	بِهٖ	شَيْئًا		
او عبادت کوئ دالله	اومۀ شریکوئ	دهغه سره	هیڅ څیز		
اوصرف دالله ﷻ عبادت کوئ	اوهیڅ څیز ورسره مۀ شریکوئ				
وَّبِالْوَالِدَيْنِ	اِحْسَانًا	وَّبِذِي الْقُرْبٰى	وَالْيَتٰمٰى	وَالْمَسٰكِيْنِ	
او دمور او پلار سره	احسان کوئ	او دخپلوانو سره	او دیتیمانو سره	او دمسکینانو سره	
اومورپلار سره ښۀ سلوک کوئ	او خپلوانو سره		او یتیمانو سره	او مسکینانوسره	
وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى	وَالْجَارِ الْجُنُبِ	وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ	وَابْنِ السَّبِيْلِ		
اودګاونډی رشته دار سره	او دګاونډی غیررشته دار سره	اودملګری	دخنګ سره	او دمسافر سره	
او ګاونډیانو سره که خپلوان وی او که پردی وی	اودناستي ملګری سره	لکه د دفترملګري	د سفرملګري	او مسافرسره	
وَمَا	مَلَكَتْ	اَيْمَانُكُمْ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	لَا يُحِبُّ	
او دهغه وینځو غلامانو سره	چې مالکان وی دهغوئ	ښئ لاسونه ستاسو	بیشکه الله	نۀ خوښوی	
او(هغې وینځومریانوسره)	چې تاسوئې مالکان ئې		بیشکه الله ﷻ نۀ خوښوی		

Scanned with Ca

مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُوْرًا ۙ
هغه څوك	چې وی	کبرژن	فخرکونکی	
هغه سړی چې چا کښې تکبر وی	اوفخرکونکی وی	

قوله تعالی::وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهٖ شَيْئًا

دحسن سلوک مستحق خلق :-اللّٰه ﷻ دخپل عبادت حکم کوی او دخپل توحید باره کښې بیان کوی. او فرمائی چه ماسره شریك مه جوړوئی.څکه چه خالق ، مالك ، رازق ، ټولو نعمتونو والا ،ټول مخلوق باندې هر وخت کښې درحمت باران کولو والا صرف هغه پاك ذات دې نو د عبادت لائق هم هغه لوئې ذات دې.

دالله په بنده حق:- حضرت معاذ ﷺ ته نبی کریم ﷺ فرمائی چه تاته معلومه ده چه دالله ﷻ په بندګانو باندې څه حق دې ؟ دوی جواب کښې فرمائی چه الله او دهغه رسول ﷺ ته ښه معلوم دی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل دا چه د ① هغه عبادت کوی② هغه سره څوك شریك جوړ نکړی.بیا ئې اوفرمائیل چه تاته معلوم دی چه کله بنده دا کارونه اوکړی نو الله ﷻ هغه ته څه ورکوی ؟ دا چه هغه لوئې ذات ده ته عذاب ورنکړی.(۱)

قوله تعالی::وَّبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا

مور پلار سره د حسن سلوک حکم:- بیا فرمائی چه مور پلار سره احسان کوئی هغوئ د عدم نه وجود ته د راوستو سبب جوړ شوی دی. قرآن پاك کښې ډیرو آیتونو کښې الله ﷻ خپل عبادت سره مور پلار سره د احسان کولو حکم کړې دې لکه فرمائی چه ﴿اَنِ اشْكُرْ لِيْ وَلِوَالِدَيْكَ﴾ او ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْٓا اِلَّآ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾.

قوله تعالی::وَّبِذِي الْقُرْبٰى

خپلوانو سره ښه کول:دلته ئې هم اوفرمائیل چه خپلو رشته دارو سره ښه سلوك کوئی او احسان کوئی.

رشته دارته صدقه کول:- حدیث مبارك کښې دی چه مسکین ته صدقه ورکول صرف صدقه ده لیکن نزدې رشته دار ته صدقه ورکول صدقه هم ده او صله رحمی هم ده.(۲)

قوله تعالی::وَالْيَتٰمٰى

یتیمانو سره ښه سلوک :-بیا حکم فرمائی چه یتیمانو سره احسان کوئی ، څکه چه دوی سره محبت کونکې،ددوی خبر اخستلونکې اوددوی په سر لاس راښکونکې او ددوی نیازبین توب زغمونکې بل څوك نشته دې،هغه څوك وفات شول چې دوی ته به ئې محبت سره خوراك څکاك ورکولو.

قوله تعالی::وَالْمَسٰكِيْنِ

مسکین سره د ښه کولو حکم:- بیا مسکینانو سره د حسن سلوك ارشاد دې فرمائی چه هغوئ حاجت منددی ،خالی لاس دی ، محتاج دی ، ددوی ضرورتونه تاسو پوره کړئی ، ددوی حاجتونه تاسو پوره کړئی اوددوی کارونه کوئی.د فقیر او مسکین پوره بیان به دسورة برآت تفسیر کښې راشی،انشاء الله.

قوله تعالی::وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ

د ګاونډیانوحقوق د احادیثو په رنړا کښې :- دخپلو ګاونډیانو خیال ساتئ او هغوئ سره حسن سلوك کوئی که هغه ستاسورشته داروی اوکه نه ، که مسلمان وی اوکه یهودیان یا نصرانیان. دا هم وئیلې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب من جاهد نفسه فی طاعة الله : ٦٥٠٠، صحیح مسلم: ٣٠)-
(۲) ترمذی کتاب الزکاة باب ماجاء فی الصدقة علی ذوی القربی : ٦٨٥، وهو صحیح : نسائی: ٢٥٨٣)-

Scanned with Ca

شوی دی چه ﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ﴾ نه مراد ښځه ده او ﴿وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾ نه مراد رفیق سفر دي. د ګاونډیانو حق کښې ډیر احادیث راغلی دی.دهغې نه څه واورئ.

د ګاونډی سره د حسن سلوک حکم:- مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه ما ته حضرت جبریل ؑ د ګاونډیانو باره کښې تر دې وصیت کولو چه ماته ګمان اوشو چه کیدې شی ګاونډیان به د یو بل وارثان هم شی.(۱)

بهترین ګاونډی:- فرمائی چه بهتر ملګرې هغه دې چه هغه خپلو ملګرو سره حسن سلوک کښې د ټولو نه زیات ښه وی، او ګاونډیانوکښې د الله په نیز د ټولو نه زیات بهتر هغه دې چه ګاونډیانو سره نیک سلوک کښې ټولو نه زیات وی.(۲)

د ګاونډی فکر کول:- فرمائی چه انسان ته نه دی پکار چه د خپل ګاونډی د آسودګئ نه بغیر دې ښه پرې خپله خوراک اوکړی.(۳)

دګاونډی سره د خیانت د ګناه غټوالي:- یو ځل نبی کریم ﷺ صحابه کرام ؓ ته اوفرمائیل چه تاسو د زنا باره کښې څه وائې؟خلقو اووئیل چه هغه حرامه ده.الله ﷻ اوهغه رسول ﷺ دا حرامه کړې ده. او تر قیامته به دا حرامه وی. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واورئی ! لسو ښځو سره زنا کونکې دهغه سړی نه کم ګناهګاري دی چه څوک د خپل ګاونډی ښځې سره زنا اوکړی.بیا ټپوس کوی چه تاسو د غلا متعلق څه وائې ؟ هغوئ جواب کښې اووئیل چه داهم الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ حرامه کړې ده اوهغه هم تر قیامته پورې حرامه ده.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واورئی ! د لسو کورونو نه غلا کونکې ګناه ذ هغه سړی نه کمه ده چه څوک د خپل ګاونډی دکور نه غلا اوکړی.(۴)

دګاونډی د ښځې سره د زنا لویوالي:- بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت ابن مسعود ؓ سوال کوی چه یارسول الله ﷺ کومه یوه ګناه لویه ده ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا چه ته الله ﷻ سره شریک جوړ کړې حالانکه هغه پاک ذات ته پیدا کړې ئې ما ټپوس اوکړو چه کومه ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ته د خپل ګاونډی ښځې سره زنا اوکړې.(۵)

دجبرئیل ؑ د ګاونډی د حقوقو تاکیدکول:- یو انصاری صحابی ؓ اوفرمائیل چه څه د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضریدو دپاره کور نه اووتلم او هلته اورسیدم. او ما چه اوکتل نو یو صاحب ولاړ دې او نبی کریم ﷺ هغه طرفته متوجه دې.ما خیال اوکړو چه شاید دده به نبی کریم ﷺ سره څه کار وی.نبی کریم ﷺ اودریدو او هغه سره ئې خبرې شروع کړې وې.ډیر ناوخته شو تردې چه څه دې پریشانه کړم چه نبی کریم ﷺ به ستړې شوې وی. ډیر وخت پس نبی کریم ﷺ واپس شو او ما ته راغلو. ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! دې سړی خو تاسو ډیر وخت ولاړ اوساتلئ او څه پریشانه شوم چه نبی کریم ﷺ به ډیر ستړې شوې وی. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تا اونه کتل ؟ ما اووئیل چه آوه ما ښه اوکتل.وې فرمائیل چه تاته معلومه ده چه دا څوک وو ؟ هغه حضرت جبریل ؑ وو اوماته ئې د ګاونډی د حقوقو باره کښې تاکید کولو ، تر دې ئې دهغه حقوق بیان کړل چه ماته ګمان اوشو چه غالبًا ئې به ګاونډی وارث هم جوړ شی(۶) (مسند امام احمد).

---

۱) صحیح بخاری کتاب الادب باب الوصاة بالجار: ۶۰۱۵، صحیح مسلم: ۲۶۲۴)-
۲) ترمذی کتاب البر والصلة باب ماجاء فی حق الجوار: ۱۹۴۴، وسنده صحیح)-
۳) احمد: ۵۴/۱،)-
۴) احمد: ۸/۶، وسنده حسن)-
۵) صحیح بخاری کتاب الادب باب قتل الولد خشیة ان یاکل : ۶۰۰۱، صحیح مسلم: ۸۶)-
۶) احمد: ۳۲/۵)-

Scanned with Ca

بل روایت:- مسند عبد بن حمید کښې دی حضرت جابر بن عبدالله ﷺ فرمانی چه یو سړي د عوالی مدینې (د مدینې پورته طرف) نه راغلو ، هغه وخت نبی کریم ﷺ او حضرت جبریل ﷺ په هغه ځاني کښې مونځ کولو چه کوم ځاني کښې به نې دجنازې مونځ کولو. هرکله چه نبی کریم ﷺ فارغ شو نو هغه سړی ورته اووئیل چه نبی کریم ﷺ سره دا بل سړي څوک دي چه مونځ کوی؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تا هغه اولیدلو؟ هغه اووئیل چه آؤ.وې فرمائیل چه تا ډیره لویه نیکی اوکتله.دا حضرت جبریل ﷺ وو چه ماته ئې د ګاونډی باره کښې وصیت کولو تر دې چه ما اوکتل چه نزدې ده چه هغه به وارث جوړ کړې شی. (۱)

د ګاونډی دري قسمونه:-اتم حدیث شریف د بزاردي. چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ګاونډیان په دري قسمه وی دیو حق والا یعنی ادنی،د دوو حقوقو والایعنی درمیانه اودریو حقونووالایعنی اعلی.یو حق والا هغه دې چه کوم مشرک دې او ده سره نې رشته نه وی. دوو حقونو والا هغه دې چه مسلمان وی اورشته دارنه وی یوحق داسلام اودویم د ګوانډ.اودریو حقونووالاهغه دې چه مسلمان هم وی،ګوانډی هم وی او خپل رشته دار هم وی نو د اسلام حق ، د ګوانډ حق او د صله رحمئ حق دري حقونه شو. (۲)

دروازې ته د نزدې ګاونډی حق:- دمسند احمد نهم حدیث مبارک کښې دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه ځما دوه ګاونډیان دی ، یو ته هدیه لیږم نو په دواړو کښې چا ته اولیږم.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د چا دروازه درته زیاته نزدې وی. (۳)

دګاونډی په حق کښې بل حدیث:- د طبرانی لسم حدیث کښې دی چه نبی کریم ﷺ اودس اوکړو ، خلقو د نبی کریم ﷺ د اودس اوبه واخستې او ځان باندې ئې مخل شروع کړې ، نو نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چه داسې ولې کوئی ؟ هغوئ اووئیل چه دالله ﷺ اودهغه درسول ﷺ دمحبت په وجه.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څوک دا غواړی چه الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ ده سره محبت اوکړی نو هغه ته پکار دی چه کله خبرې کوی نو ریښتیا وائی، اوکله چه ده سره څوک امانت کیږدی نو هغه امانت ادا کوی (۴)

(تفسیر ابن کثیر کښې دا حدیث هم دې ځای باندې ختم شوې دې لیکن شاید مخکښې جمله دده نه په غلطئ سره پاتې شوې ده چه دهغې صحیح تعلق دې مسئلې سره دې او هغه داده چه هغه ته پکار دی چه د ګاونډی سره ښه سلوک کوی او احسان ورسره کوی مترجم).

دقیامت په ورځ اولنئ مقدمه:- یولسم حدیث د مسند احمد کښې دی چه دقیامت په ورځ به دټولو نه مخکښې کومه جګړه دالله ﷻ مخکښې پیش کولې شی هغه به د دوو پروسیانویعنی ګوانډیانو وی (۵)

قوله تعالی::وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ

د صاحب بالجنب نه مراد:- بیا حکم دې د ﴿وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ﴾ سره دسلوک کولو. ①ددې نه مراد د ډیرو مفسرینو په نیز ښځه ده② او ډیر فرمائی چه ددې نه مراد د سفر ملګري دې .③ اودا هم مروی دی چه ددې نه مراد دوست او ملګري دې .برابره ده که سفر کښې وی او که دقیام حالت کښې وی.

قوله تعالی::وَابْنِ السَّبِيْلِ

---

(۱) البزار : ۱۸۹۷، کتاب الادب المفرد : ۱۲۶، وسنده حسن)-

(۲) مسند البزار : ۱۸۹۶، وسنده مرفوع)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الادب باب حق الجوار فی قریب الابو اب: ۶۰۲۰)-

(۴) الطبرانی وابونعیم والبیهقی فی شعب الایمان: ۱۵۳۳، وسنده حسن مجمع الزوائد : ۱۴۵/۴)-

(۵) احمد: ۱۵۱/۴، والطبرانی : ۳۰۳/۱۷، ح/۸۳۶، وهو حدیث حسن)-

د ابن السبیل نه مراد:- ①ابن السبیل نه مراد میلمه دي ②اودا هم چه کوم په لاره روان وی اوچاسره ایسار شی. نو که دلته تري میلمه مطلب واخستي شی نو چه سفر کښې تلو تلو کښې میلمه جوړ شی نودواړه یوشو. ددې پوره بیان به هم د سورة بقره په تفسیر کښې راشی.

قوله تعالی::وَمَامَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ

د غلام سره نیکی کول- بیا دغلامانو باره کښې فرمان دي چه هغوئ سره نیک سلوك کوئی ځکه چه دوی غریبانان دی اوستاسو په لاس کښې قیدیان دی.او دوی باندې تاسوته پوره اختیار دي.نوتاسو ته پکار دی چه په دوی رحم اوکړئی.او ددوی د ضرورتونو د خپل وس مطابق خیال اوساتئ.په **مرض الوفات کښې دغلامانو دحقوقو تاکید:-** نبی کریم ﷺ خو خپل مرض الموت کښې هم ددوی باره کښې وصیت کړي دي.نبی کریم ﷺ فرمائی چه اې خلقو ! دمونځ او غلامانو خیال ساتئ ، باربار به نې دا فرمائیل تر دي چه ژبه مبارکه ئې تته شوه. ( )

غلامانوباندې خوراک صدقه ده:- دمسند احمد یو حدیث مبارك کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسو څه خورئی هغه هم صدقه ده او چه څه خپلو بچو ته ورکوئی هغه هم صدقه ده ، او چه څه تاسو خپلوبیبیانو ته ورکوئی هغه هم صدقه ده ،او چه څه خپلو غلامانوته ورکوئی هغه هم صدقه ده..[۲]

دخوارک منع کولوممانعت:- مسلم کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ یو ځل خپل داروغه ته اوفرمائیل چه آیا تا غلامانو ته خوراك ورکړي دي ؟ هغه اووئیل چه نه.وې فرمائیل چه لاړشه او خوراک ورته ورکړه.نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه انسان دپاره دا ګناه کافی ده چه دکوم خوراك دې مالك دی. او دې دهغې نه منع اوکړی (اوغوښتونکی ته ئې ورنکړی) [۳] ( )

غلام ته خوراک ورکول دهغه حق دي:- مسلم شریف کښې دی چه دمملوك ماتحت (غلام یا وینځې) حق دي چه هغه ته خوراك څکاك او اغوستلو دپاره هرڅه ورکړي شی .اود هغه د طاقت نه زیات کار تري وانخستي شی [۴] ( )

غلام په خوراک کښې د شریکولو حکم:- بخاری شریف کښې دی چه کله تاسو ته یو خادم خوراك راوړی.نو تاسوته پکار دی چه اول خو هغه خان سره کینوئ اوکه نه ئې کینوئ نو یو نمړئی دوه هغه ته ورکړي.ځکه چه هغه ددې خوراك د پخلی ګرمی او برداشت کړي دي.او یو روایت کښې دی چه پکار دی چه هغوئ خان سره کینوئی ، او که خوراك کم وی نو یو نمړئی دوه هغوئ ته ورکړئی.[۵] ( )

غلامان د ازادو رونړه دی:- نبی کریم ﷺ فرمائی چه ستاسو غلامان هم ستاسو رونړه دی.الله ﷻ هغوئ ستاسو ماتحت جوړ کړی دی .نو چه د چا لاس کښې دهغه لاس وی هغوئ دي ورته خوراك ورکوی او پوشاك دي ورته هم ورکړی او هغوئ نه دي داسې کار نه اخلی چه هغوئ ئې طاقت نه لری. که څه داسې مشکل کار راشی نو پخپله دي هم ورسره شریک شی.(بخاری ومسلم). [۶] ( )

قوله تعالی::إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا

---

[۱]) ابن ماجة كتاب الجنائز باب ما جاء فی ذكرمرض رسول الله صلى الله عليه وسلم : ١٦٢٥)-

[۲]) احمد: ١٣١/٤ وسنده حسن)-

[۳]) صحيح مسلم: كتاب الزكاة باب فضل النفقة على العيال والمملوك : ٩٩٦، ابوداود : ١٦٩٢)-

[۴]) صحيح مسلم كتاب الايمان باب اطعام المملوك مما ياكل : ١٦٦٢)-

[۵]) صحيح بخاری كتاب الاطعمة باب الاكل مع الخادم : ٥٤٦٠، صحيح مسلم : ١٦٦٣، ابوداود: ٣٨٤٦، ترمذی: ١٨٥٤، ابن ماجة: ٣٢٨٩)-

[۶]) صحيح بخاری كتاب العتق باب قول النبی صلى الله عليه وسلم (العبد اخوانكم فاطعموا هم) : ٢٥٤٥، صحيح مسلم: ١٦٦٢، ابوداود : ٥١٥٨، ترمذی : ١٩٤٥، ابن ماجة: ٣٦٩٠،)-

Scanned with Ca

متکبر دالله نه خوښه وی:- بیا فرمائی چه خودبین ، متعجب ، متکبر ، خودپسند ، خلقو باندې فوقیت ظاهرونکې ، خپل ځان لوئې حسابونکې،خپل ځان د نورو نه بهتر ګڼونکې ، الله ﷻ ته خوښ نه دې .اګرچه هغه خپل ځان لوئې حسابوی.لیکن دالله ﷻ په نیز هغه ذلیل دې.اود خلقو نظر کښې هغه حقیردې.دا څومره بده خبره ده چه یو کس بل سره احسان اوکړی او بیاپه هغه احسان کوی .لیکن الله ﷻ چه کوم نعمتونه ده ته ورکړی دی دهغې شکر نه ادا کوی.خلقو کښې چه کینی نو فخر کوی چه څه دومره لوئې سړې یم ، ماسره دا دی او دا دی.نواز .

دحضرت ابورجاء ؒ قول:- حضرت ابورجاء هروی رحمه الله فرمائی چه هر بدخلق متکبر خودپسند وی. بیا ئې ددې آیت مبارك تلاوت اوفرمائیلو او وې فرمائیل چه دمور پلار نافرمان سرکش او بدنصیب وی.بیا دوی دا آیت مبارك تلاوت کړو چه ﴿وَبَرًّۢا بِوَالِدَتِیْ وَلَمْ یَجْعَلْنِیْ جَبَّارًا شَقِیًّا﴾.حضرت عوام بن حوشب رحمه الله هم دا فرمائی.

هغه درې کسان چه الله ورسره دشمنی کوی:- حضرت مطرف رحمه الله فرمائی چه ماته دحضرت ابوذر ؓ یو روایت رارسیدلې وو او ځما زړه کښې خواهش وو چه څه وخت پخپله حضرت ابوذر ؓ سره ملاقات اوکړم او دا روایت ترې زبانی واورم. نو یو ځل مې ورسره ملاقات اوشو نوورته ماواوئیل چه ماته خبر رارسیدلې دې چه تاسو د رسول الله ﷺ دا یو حدیث بیان فرمائیلې دې چه درې قسمه خلق دالله ﷻ دوستان دی،اودرې قسمه خلق نه خوښوی.حضرت ابوذر ؓ فرمائی چه آؤ دارینښتیا دی. څه به خپل خلیل ﷺ باندې څنګه دروغ جوړ کړم ما اووئیل چه هغه درې کسان کوم دی چې هغوئ سره الله ﷻ دښمنی ساتی.دوی هم ددې آیت تلاوت اوفرمائیلو.اووې فرمائیل چه دا خو ته په کتاب الله کښې هم کتې شې.(۱)

دتکبرمذمت:- دښو هجیم یو سړې نبی کریم ﷺ ته وائی چه ماته نصیحت اوکړه. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه جامې د ګیتو نه لاندې مه ساته. ځکه چه دا تکبرا وخود پسندی ده. او الله تعالی دا نه خوښوی.(۲)

الَّذِیْنَ	یَبْخَلُوْنَ	وَیَاْمُرُوْنَ	
هغه کسان |	چې شومتیا کوی |	او حکم کوی	
هغه کسان چې شومان وی او نورو ته			
النَّاسَ	بِالْبُخْلِ	وَیَكْتُمُوْنَ	مَاۤ	اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ	مِنْ فَضْلِهٖ ؕ
خلقو ته |	د شومتوب |	او پټوی |	هغه څه |	چې ورکړی وی هغوئ ته الله |	دفضل خپل نه
هم دشومتیا حکم کوی |	اوالله ﷻ چې ورته پخپل فضل څه(مال متاع)ورکړې دی هغه پټوی				
وَاَعْتَدْنَا	لِلْكٰفِرِیْنَ	عَذَابًا مُّهِیْنًا ۚ	وَالَّذِیْنَ	یُنْفِقُوْنَ
او تیار کړې دې مونږه |	دپاره دکافرانو |	عذاب رسواکونکې |	او هغه کسان |	چې خرچ کوی
اومونږ کافرانو دپاره رسواکونکې عذاب تیارکړې دې |	اوهغه کسان(هم دالله پاک خوښ نه دی) چې هغوئ خپل			

---

(۱) حاکم : ۸۸/۲، وسنده صحیح)-

(۲) احمد: ٦٤/٥، لم اجده ورواه احمد: ٦٤/٥، بسند آخر وسنده صحیح وانظر سنن ابی داود : ٤٠٨٤)-

Scanned with Ca

اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ
مالونه خپل | دپاره دښودنې | د خلقو | اونۀ لری یقین | په الله باندې | او نۀ په ورځ د آخرت باندې
مالونه صرف دنوم دپاره خرچ کوی | اونه په الله ایمان راوړی اونه په ورځ د آخرت باندې
وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَآءَ قَرِيْنًا ۝ وَمَاذَا
اوهغه څوك چې وی | شیطان | د هغه | ملګری | نو بد دی | داملګری | اوڅه نقصان ووۍ
اورښتیا خبره داده چې شیطان دچاملګری شی | نودغه ډیربد ملګری دی | او ددوئ څه نقصان کیدو
عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا
هغوئ دپاره | که ایمان راوړی وی هغوئ | په الله باندې | او په ورځ دآخرت باندې | اوخرچ کړی وی هغوئ
که دوئ په الله ﷻ او په ورځ دآخرت باندې ایمان راوړئ وی | او د الله په لاره کښې ئې هغه څه خرچ کړی
مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ۝
دهغې نه | چې ورکړی دی هغوئ ته الله | اودې الله | په هغوئ ښه عالم |
وی کوم چې ورته الله ﷻ ورکړی دی | اوالله ﷻ ته ددوئ حال ډیرښه معلوم دی |

قوله تعالی:: اَلَّذِيْنَ يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ

دبخیل توب او خودنې مذمت :-ارشاد دی چه کوم خلق دالله ﷻ د خوشحالولو په موقع د مال خرچ کولو نه مخ اړوی لکه مورپلار ته ورکول ،د رشته دارو سره ښه سلوك کول ، یتیمانو سره ، مسکینانو سره ، رشته دارو سره،اوپردو سره،ملګرو سره،مسافرو سره،او هغه غلامانو سره چه کوم دده ماتحت وی ، او هغوئ ته فی سبیل الله ورکړه کول ، او صرف دا نه بلکه خلق هم دبخل نه منع کوی او د الله په لار کښې دخرچ کولو مشورې ورکوی.حدیث مبارك کښې دی چه کومه یوه بیماری د بخل نه لویه ده .(یعنی نشته) (۱)

بخل هلاکت دی:- اوحدیث مبارك کښې دی چه اې خلقو ! بخیلئ نه ځان اوساتئ ، هم دې ستاسونه مخکښې خلق تباه کړی دی .هم ددې په وجه دهغوئ نه قطع رحمی او فسق وفجور او بدکارونه ظاهر شوی وو(۲)

قوله تعالی:: وَيَكْتُمُوْنَ مَآ اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ

بیا فرمانی چه دا خلق د دې ګناه نه علاوه په یوه بله ګناه کښې هم اخته دی. یعنی دالله ﷻ نعمتونه پټوی،هغه نه ظاهروی،او نه دوی په خپل خوراك څکاك کښې هغه ظاهری وی او نه په اخستلو کښې دی،لکه بل ځائې کښې فرمانی چه ﴿اِنَّ الْاِنْسَانَ لِرَبِّهٖ لَكَنُوْدٌ ۚ وَاِنَّهٗ عَلٰى ذٰلِكَ لَشَهِيْدٌ ۚ﴾ (ترجمه) * انسان دخپل رب ناشکره دې او په دې خپل حالت او خصلت ګواه دې.بیا فرمانی چه ﴿وَاِنَّهٗ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيْدٌ ۚ﴾ یعنی هغوئ دمال محبت کښې مست دی.نو دلته هم فرمان دې چه دوی دالله ﷻ فضل لره پټوی.

قوله تعالی:: وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝

بیا دوی ته تنبیه ورکوی چه کافرو دپاره مونږ ذلت والا عذاب تیار کړې دې.دکفر معنی ده پټ ساتل ،

---

۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب ق قصة عمان والبحرین : ۳۸۳، من قول ابی بکر)-
۲) احمد: ۱۹۵/۲، وسنده صحیح ، الحاکم:۱۱/۱، ابن حبان :۵۱۷۶)-

Scanned with Ca

اوپتول ، نو بخیل هم دالله ﷻ د نعمتونوپتو نکې دي. او په دې باندې پرده اچوونکې او ددې انکار کونکې دي.نو هغه ددې نعمتونوناشکره شو. حدیث مبارک کښې دی چه الله ﷻ کله په خپل یو بنده باندې خپل انعام کول غواړی نودا غواړی چه دهغې اثر په هغه باندې ظاهرکړی.(۱) ددې معنی کښې یو روایت ابوداود (۲) کښې د نبی کریم دعا ده چه ﴿ واجعلنا شاکرین لنعمتك مثنین بها علیك قابلیها واتمها علینا ﴾ انې الله ﷻ مونږ دخپلو نعمتونو شکر ګزار جوړ کړه. اوددې په وجه مونږ خپل ثنا خوان جوړ کړه.او ددې قبلولو والا او دانعمتونه مونږ ته بیا راکړه. (۳)

دایت یوبل مصداق:- دبعضوسلفو قول دې چه دا آیت د یهودو د هغه بخل باره کښې دې چه هغوئ به خپل کتاب کښې د نبی کریم ﷺ صفات پټول.ددې وجې ددې آخر کښې دی چه مونږ دکافرو دپاره ذلت والا عذاب تیار کړې دې.هیڅ شك نشته دې چه ددې آ۔ حمل په هغوئ باندې کیدې شی.لیکن دا په ظاهره دلته د مال دبخل بیان دې .اګر چه په دې کښې د علم بخل هم شامل دې.خیال اوکړئ چه آیت خپلوانو او کمزورو ته د مال ورکولود بیان باره کښې دې .هم دغه شان د دې نه روستو آیت کښې د الله تعالی دهغه خلقو مذمت بیانوی چې کوم خودنې دپاره مال خرچ کوی .دلته دهغه خلقوبیان اوشو چې بخیلان او ممسکان دی او چه پیسه پیسه جمع کوی.

قوله تعالی::وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ اَمْوَالَهُمْ رِئَآءَ النَّاسِ:: بیادهغه خلقو بیان دې چه ورکړه کوی خو نیت ئې پکښې نه وی،صرف په دنیا کښې د خپل نوم دپاره ئې ورکوی.

درې قسمه خلق جهنم ته تلل:- یوحدیث مبارک کښې دې چه په کومو درې قسمه خلقوباندې به د جهنم اور بلولې شی هغه به هم دا ریاکار وی. ① عالم ریاکار ② غازی ریاکار ③ سخی ریاکار.دا سخی به وائی چه انې الله تعالی ما ستا په هره لار کښې خپل مال خرچ کړو. نو ده ته به دالله تعالی د طرفنه جواب ورکړې شی چه ته دروغژن ئې ، ستا اراده صرف دا وه چه په سخی او جواد سره مشهور شې نو هغه اوشو. یعنی ستا مقصد دنیا کښې پوره شو او تاته په دنیا کښې شهرت ملاؤ شو (دا د اوږد حدیث لږه حصه ده خو د هغې خلاصه دا ده چه دغه درې واړه کسان به جهنم ته اوغورځولی شی) (۴)

دحاتم طائی سخاوت:- اوحدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ حضرت عدی بن حاتم ﷺ ته اوفرمائیل چه ستا پلار په خپل سخاوت سره څه غوښتی وو هغه ورته ملاؤ شو.(یعنی دنیاوی شهرت) (۵)

دابن جدعان اخرت:- نبی کریم ﷺ نه سوال کیږی چه عبدالله بن جدعان خو لوئې سخی وو .هغه به مسکینانو او فقیرانو سره ډیر ښه سلوك کولو.او دالله ﷻ په نوم ئې غلامان آزادول. نودا به هغه ته فائده ورکوی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه نه ، هغه ټول عمر کښې یو ځل هم دا نه وو وئیلې چه انې الله ﷻ زما ګناهونه دقیامت په ورځ معاف کړه. (۶)

قوله تعالی::وَلَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ۭ وَمَنْ يَّكُنِ الشَّيْطٰنُ لَهٗ قَرِيْنًا فَسَاۗءَ قَرِيْنًا۝

دریا کار عقیده اوتعلق:- ددې و جې الله تعالی دا فرمانی چه ددوی ایمان په الله ﷻ او په ورځ د قیامت باندې نشته دې ، ګنی دشیطان پنجه کښې به دوی نه راتلل او بد به ئې ښه نه ګنړل.دا دشیطان

---

۱) احمد: ۴۷۴/۳، وسنده ضعیف وله شاهد صحیح عند ابی داود : ۴۰۶۳، فالحدیث به حسن

۲) کتاب اللباس باب فی الخلقان : ۴۰۶۳ ، نسائی : ۵۲۲۶،)-

۳) ابوداود کتاب الصلاة باب التشهد : ۹۶۹، وسنده حسن وهو صحیح)-

۴) صحیح مسلم کتاب الامارة باب من قاتل للریاء والسمعة : ۱۹۰۵، نسائی: ۳۱۳۹، ترمذی: ۲۳۸۲)-

۵) احمد: ۲۵۸/۴، وسنده حسن ابن حبان: ۳۳۲)-

۶) صحیح مسلم کتاب الایمان باب الدلیل علی ان من مات علی الکفر: ۲۱۴، ترمذی: ۳۱۲۱، ابن ماجة: ۴۲۷۹)-

Scanned with Ca

ملګری دی اوشیطان ددوی ملګرې دې.دملګری په بدئ باندې هم سوچ اوکړئی ، عربی شاعر وائی چه

عن المرء لاتسأل وسل عن قرینه
فکل قرین بالمقارن یقتدی

(ترجمه)دانسان باره کښې تپوس مه کوه،دهغه دملګرو تپوس اوکړه،هرملګرې دخپل ملګری په نقش قدم روان وی.

قوله تعالی::وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ۝

بیا فرمائی چه دا څه رکاوټ نشته چې دهغې په وجه دوی په الله باندې ایمان نشی راوړلې اواو صحیح لار روان شی ، اوریاکاری پریږدی ، او اخلاص او یقین باندې قائم پاتې شی. ددوی په دې کښې څه نقصان دې بلکه سراسر فائده ده چه ددوی آخرت به ښه شی.او دوی ولې د الله ﷻ په لار کښې خرچ کولوکښې کنجوسی کوی. دالله ﷻ محبت او دهغه رضامندی حاصلولو دپاره کوشش نه کوی.الله ﷻ ته دوی ښه معلوم دی.ددوی دښه بد نیتونوعلم الله ﷻ ته دې.اهل توفیق او غیر اهل توفیق هغه پاک ذات ته ښکاره دی.هغه نیکانو ته دنیک عمل کولو توفیق ورکوی او دوی ته خپله رضا ورکوی او دوی ته خپل قرابتداری ورکوی.اوبدان خپل ګرفت کښې راولی اودې سره به ددوی دنیا اوآخرت برباد وی

اِنَّ اللّٰهَ	لَا يَظْلِمُ						
بیشکه الله	نه کوی ظلم						
بیشکه الله ﷻ په چاباندې							
مِثْقَالَ	ذَرَّةٍ ۚ	وَاِنْ تَكُ	حَسَنَةً	يُّضٰعِفْهَا	وَيُؤْتِ	مِنْ لَّدُنْهُ	اَجْرًا
په قدر	د ذرې	او که وی	نیکی	نو دوچند کوی هغه	او ورکوی	دطرف خپل نه	اجر
دذرې برابر ظلم نه کوی	اوځوک چې یوه نیکی اوکړی نوهغه ورته په څوچنده زیات ورکوی					اودخپل طرفنه ورته	
عَظِيْمًا ۝	فَكَيْفَ	اِذَا	جِئْنَا	مِنْ كُلِّ اُمَّةٍ	بِشَهِيْدٍ		
لوئ	نو څرنګ حال به وی	په هغه وخت	چې راولو مونږ	د هر امت نه	یوګواه		
ډیرلوئې اجر ورکوی	نوهغه وخت به دوئ څه کوی چې مونږ به د هرامت نه یویو ګواه راوبلو						
وَّجِئْنَا بِكَ	عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ	شَهِيْدًا ؕ ۝	يَوْمَئِذٍ	يَّوَدُّ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	
اوراولو مونږ تا لره	په دې خلقو باندې	ګواه	په دغه ورځ به	آرزوکوی	هغه کسان	چې انکار ئې کړې وو	
اوپه دې خلقوباندې به تاګواه کړو	چا چې کفر کړې وی اود رسول صلی الله علیه وسلم نافرمانی ئې کړې						
وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ	لَوْ تُسَوّٰى	بِهِمُ	الْاَرْضُ ؕ	وَلَا يَكْتُمُوْنَ			
اونافرمانی ئې کړې وه درسول	اکاش چې هواره کړې شی	په هغوئ	زمکه		اونه به شی پټولې		
وی هغوئ به دا وائی کاش چه زمکه په دوی باندې همواره شی او دوی سره هلو حساب اونشی							
اللّٰهَ	حَدِيْثًا ۝ ع						
دالله نه	هیڅ خبره						
اوهلته به دالله ﷻ نه هیڅ پټولې نشی							

Scanned with Ca

قوله تعالی:: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۖ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضَاعِفْهَا﴾

دنیکئ اجر به څو چنده وی:- الله رب العزت فرمائی چه هغه په هیڅا ظلم نه کوی اونه دڅا نیکی ضائع کوی بلکه ددې اجر به دقیامت په ورځ ډیر زیات ورکوی.لکه بل ځائې کښې آیت مبارک کښې دې چه ﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ﴾مونږ به د انصاف تلې قائم کړو.

اوفرمائی چه حضرت لقمان ؑ خپل خوئې ته فرمائیلی وو چه ﴿يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ﴾ انې خویه که یوڅیزد اوری د دانې برابر وی اګر چه هغه په کانړی کښې یاپه آسمان کښې وی یاپه زمکه کښې دننه وی الله ﷻ به هغه ضرور حاضروی بیشکه الله ﷻ باریك بین اوخبردارديې.او بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ﴾ په هغه ورځ به خلق مختلفو حالاتوکښې پیش کړې شی دا پیش کول به د دې دپاره وی چې هغوئ ته خپل عملونه اوخودلې شی.نو چا چه ذره نیکی کړې وی هغه به هغه ته خودلې شی او چه چا ذره برابر ګناه کړی وی هغه به هغه ته خودلی شی.

د ذرې برابر ایمان والا به د جهنم نه راوځی:- بخاری اومسلم کښې دشفاعت اوږد حدیث مبارک کښې دی چه بیا به الله ﷻ اوفرمائی چه واپس لاړ شئ او چه د چا په زړه کښې د اوری ددانې برابر هم ایمان اوګورئی نو هغه د جهنم نه راوباسئ.نو ډیر مخلوق به د جهنم نه راوښکلې شی.حضرت ابوسعید ؓ چه به داحدیث مبارک اوفرمائیلو نو وئیل به نې که تاسو غواړئی نو دا آیت قرانی اووایې ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۖ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضَاعِفْهَا﴾.([1])

په حقوق العباد کښې د کوتاهئ انجام:- ابن ابی حاتم کښې حضرت عبدالله بن مسعود ؓ فرمائی چه د قیامت په ورځ به دالله ﷻ یوبنده راوستلې شی او یو آواز کونکې به په اوچت آواز د محشر خلقو ته اووائی چه دا د فلانی خوئی یا لور ده اوددې یا دده نوم فلانې دې ، که ده باندې د چا حق وی نوهغه دې راشی او دده نه دې خپل حق واخلی.په هغه وخت کښې به دا حالت وی چه یو سخه به داغواړی چه ددې څه حق ددې په پلار یا رور یا خور یا خاوند باندې وی چه راشی اوهغه تري واخلی.رشتې به ختمې شی.هیڅوك به دڅا پکار نه راځی.الله ﷻ که اوغواړی نو خپل حق به معاف کړی.خو دخلقو به هیڅ حق نه معاف کوی.هرکله چه حقداران راشی نو هغه ته به اووئیلې شی چه د دوی حق ادا کړه.دې به اووائی چه دنیا خو ختمه شویده او اوس خما لاس کښې څه دی چه څه نې ده ته ورکړم. نو دده نیکئ به واخستې شی اوحقدارو ته به ورکړې شی اود هریوحق به په دې طریقه اداکړې شی.اوس دا سړې دالله ﷻ دوست دې.نو دې سړی به د غوښتو د دانې برابر نیکی پاتې نشی چه هغه الله ﷻ زیاته کړی او الله ﷻ دې جنت ته داخل کړی.بیا نبی کریم ﷺ ددې آیت مبارك تلاوت اوفرمائیلو. اوکه هغه بنده دالله تعالی دوست نه وی بلکه بدبخت او سرکش وی. نو حال به داوی چه فرښتې به اووائی چه انې الله ﷻ دده ټولې نیکئ ختمې شوې ، او اوس هم لاحقدار باقی دی.حکم به اوشی چه دهغوی ګناهونه واخلئ او په ده نې واچوئی او دې جهنم ته داخل کړئی.اعاذنا الله منها.

ددې موقوف اثر بعضو شواهد مرفوع احادیثو کښې هم موجود دی.ابن ابی حاتم کښې د حضرت ابن عمر ؓ فرمان دې چه آیت ﴿مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا﴾ د باندې یچیانو باره کښې نازل شوې دې.نو دې باندې هغوئ نه سوال اوشو چه بیا د مهاجرینو باره کښې څه دی.دوی اوفرمائیل چه ددې نه ډیر ښه

[1])صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی: (وجوه یومئذ ناظرة) : ۷۴۳۹، صحیح مسلم: ۱۸۳ نسائی: ۵۰۱۳، ابن ماجة: ۱۷۹)-

Scanned with Ca

آیت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ﴾ دی.(۱)

مشرکانو ته د هغوئ د نیکو بدله :- حضرت سعید بن جبیر رحمه الله فرمائی چه دمشرکانو په عذاب کښې به هم د نیکو په وجې کمې کولې شی. خودوی به د جهنم نه نه راوځی.په صحیح حدیث مبارک کښې دی چه حضرت عباس رضی الله عنه نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! ستاسو ترۀ ابوطالب ستاسو ملاتړوو ، تاسو ئې د خلقو د بچ بچ کړئی ، او تاسو دپاره هغوئ سره په جنګ وو ، نو آیا هغوئ ته به هغه دا څه فائده نه ورکوی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه په لږ شان اور کښې دې اوکه ځما تعلق نه وې نو هغه به دجهنم په لاندې طبقه کښې وو.(۲)

د حافظ ابن کثیر رائې:- خو دا ډیر ممکن ده چه دا فائده صرف ابوطالب دپاره وی.یعنی نورو کفارو دپاره نه وی.ددې وجې مسند طیالسی کښې حدیث مبارک دې چه الله ﷻ دمومن په هیڅ نیکئ ظلم نه کوی،دنیا کښې د رزق وغیره صورت کښې دهغې بدله ورکوی. اوآخرت کښې ثواب او اجر ورکولو والا دی.او کافر خو په دنیا کښې خپله نیکی خوری.قیامت کښې به ده سره هیڅ نه وی.(۳)

قوله تعالی::وَيُؤْتِ مِن لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيمًا۝

په دې آیت مبارک کښې د اجر عظیم نه مراد جنت دې.الله ﷻ دې په خپل فضل و کرم او رحم سره خپله رضامندی راکړی او جنت دې ځمونږ نصیب کړی ، آمین.

په نیکئ یولاکهه او دوه لاکهه نیکئ ملاویدل:-مسند احمد کښې یو غریب حدیث مبارک کښې دی حضرت ابوعثمان رحمه الله فرمائی چه ما ته خبر اوشو چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائیلی دی چه الله ﷻ خپل بنده ته دیونیکئ بدله کښې یولاکهه نیکئ ورکوی.ماته تعجب اوشواوما اووئیل چه دحضرت ابوهریره رضی الله عنه خدمت کښې خو ستاسو نه زیات پاتې شوې یم ما کله دهغوئ نه دا حدیث نه دې آوریدلې.اوس ما پخه اراده اوکړه چه لاړ شم او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه ددې تپوس اوکړم. ما د سفر سامان اوترلو ، او روایت معلوماتو دپاره اووتلم. معلوم شو چه هغوئ حج ته تلی دی.نوما هم د حج اراده اوکړه اوهلته اورسیدم او حضرت ابوهریره رضی الله عنه سره مې ملاقات اوشو. ما اووئیل چه انې ابوهریره رضی الله عنه ! ما آور یدلی دی چه تاسو دا حدیث بیان کړې دې ، آیا دا رینبتیا دی ؟ دوی اوفرمائیل چه ته خو تعجب کښې معلومیږې.تا قران پاک نه دې لوستلې ، الله ﷻ فرمائی چه څوك الله ﷻ ته ښه قرض ورکړی نو الله ﷻ دا ډیر ډیر زیات کړی او دویم آیت کښې تولې دنیا ته کمه وئیلې شویده. د الله ﷻ قسم ما نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه یو نیکی به زیاته کړې شی او ددې بدله کښې به دوه لاکهه نیکئ ملاوَ شی.(۴)

دا حدیث مبارک نورو طریقوسره هم مروی دی.

قوله تعالی::فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا۝

بیا د قیامت د خراب حال او سختئ بیان کیږی چه په هغه ورځ به نبیان علیهم السلام په طور د ګواه پیش کیږی.اوآیت کښې دی چه ﴿وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتَابُ وَجِيءَ بِالنَّبِيِّينَ وَالشُّهَدَاءِ وَقُضِيَ بَيْنَهُم بِالْحَقِّ وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾ زمکه به دخپل نور سره پرقیږی،اعمال نامې به ورکولې شی،او نبیان به په طور د ګواه

---

(۱) مجمع الزوائد : ۲۶/۷،ددې سند کښې عطیه مجروح راوی دی(التقریب : ۲۴/۲، رقم: ۲۱۶) نود ا روایت مردود دی)-

(۲) صحیح بخاری کتاب مناقب الانصار باب قصة ابی طالب : ۳۸۸۳، صحیح مسلم: ۲۰۹)-

(۳) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین : باب جزاء المومن: ۲۸۰۸)-

(۴) احمد: ۵۲۱/۲)-

Scanned with Ca

پیش کیږی.اوبل خائې کښې ارشاد دې چه ﴿وَيَوْمَ نَبْعَثُ مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ شَهِيدًا﴾ هرامت نه به مونږ هم ددوی نه ګواه پیش کوو.

ددې ایت په اوریدو د نبی کریم د سترګو اوښکې:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه نبی کریم ﷺ حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ته اوفرمائیل چه قران پاك اووایه.حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ اوونیل چه یارسول الله ﷺ څه به تاسو ته قران پاك وایم په تاسو خو نازل شوې دی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خما زړه غواړی چه د بل نه ئې واوړم. نو ما د سورة نساء د شروع آیتونه اوونیل ، هرکله چه څه آیت ﴿ **فکیف** ﴾ تلاوت ته اورسیدم نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بس کړه. ما اوکتل چه د نبی کریم ﷺ سترګو مبارکو نه اوښکې جاری وې.(۱)

د نبی کریم ﷺ د ژړا په باره کښې بل روایت:- حضرت محمد بن فضاله انصاری ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ قبیله بنو ظفر ته تشریف یوړو ، او په هغه صخره باندې اودریدو چه کومه نن هم دهغوئ محله کښې ده ، نبی کریم ﷺ سره حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ، حضرت معاذ بن جبل ﷺ او نور صحابه کرام ﷺ هم وو. نبی کریم ﷺ یو قاری ته اوونیل چه قران پاك اووایه.هغه په وئیلو وئیلو کښې کله دې آیت ﴿ **فکیف** ﴾ ته راورسیدو نو نبی کریم ﷺ دومره اوژړل چه د نبی کریم ﷺ په رخسار او ږیره مبارکه باندې اوښکې راغلې.او عرض ئې اوکړو چه ای ربه چه کوم موجود دی نو په هغوئ خو به زه ګواه شم لیکن چه کوم خلق ما نه دی لیدلی دهغوئ باره کښې څه دی؟(ابن ابی حاتم) (۲)ابن جریر کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څه په دې خلقو ګواه یم تر کومې چه څه په دوی کښې یم.نو کله چه ته مادديې دنیا نه فنا کړې نو بیا خو به صرف هم ته په دوی نګهبان ئې.

په روستو امت باندې د نبی کریم ﷺ د ګواهئ وضاحت:- ابوعبدالله قرطبی رحمه الله په خپل کتاب کښې د تذکره باب کښې فرمائی چه د نبی کریم ﷺ د خپل امت دشهادت باره کښې څه راغلی دی.په هغې کښې حضرت سعید بن مسیب رحمه الله دا قول راوړې دې چه هر سحر مابنام نبی کریم ﷺ باندې د خپل امت اعمال پیش کولې شی نو نبی کریم ﷺ به د قیامت په ورځ په دوی ګواهی ورکوی ، بیا هم دا آیت ئې تلاوت اوفرمائیلو.

حافظ ابن کثیر ﷺ رائې:- لیکن اول خو دا د حضرت سعید رحمه الله خپل قول دې.دویم دا چه ددې سند انقطاع ده.په دې کښې یو راوی مبهم دې اودهغه نوم نشته دې.دریم دا چه دا حدیث مرفوع نه بیانوی. خو امام قرطبی رحمه الله دا قبلوی او ددې ذکر کولونه پس فرمائی چه دا مخکښې تیرشوی دی چه الله ﷻ ته دهر پیر او هر جمعرات په ورځ اعمال پیش کیږی .نو دا په نبیانو علیهم السلام او مور پلار باندې هره جمعه پیش کیږی.او په دې کښې هیڅ تعارض نشته دې.ممکن ده چه ځمونږ نبی ﷺ باندې هره جمعه پیش کیږی .او هره ورځ هم.

قوله تعالی::يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا وَعَصَوُا الرَّسُولَ لَوْ تُسَوَّىٰ بِهِمُ الْأَرْضُ ۚ

د کافرو د خاورې کیدو ارمان کول:- بیا فرمائی چه په هغه ورځ به کافر او د نبی کریم ﷺ مخالفین آرزو کوی چه کاش زمکه اوچوی. او دوی په دې کښې داخل شوې وې. بیا زمکه بیا برابر شوې وې.ځکه چه داسې تکلیفونه به ورته ملاویږی چه دبرداشت نه بهر وی.اودغه شان رسوائې دالله غصې سره به نې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب فضائل القران باب قول المقری للقاری حسبک : ۵۰۵۰. صحیح مسلم: ۸۰۰، ابوداود: ۳۶۶۸، ترمذی: ۳۰۳۸)-

(۲) طبرانی : ۲۴۳/۱۹ ح/۵۴۶ وسنده حسن)-

Scanned with Ca

مخ وی.اودوی به یریږی. لکه بل آیت مبارک کښې چې فرمائی ﴿یَوْمَ یَنْظُرُ الْمَرْءُ﴾ چه په کومه ورځ چې به انسان په خپلو سترګو خپل مخکښې لیږلې اعمال اووینی نو کافربه اووائی چه کاش ښاوری شوې وې.

قوله تعالی:: وَلَا یَکْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِیْثًا ۝

بیا فرمائی چه دوی به د خپلو ټولو بدوعملونو اقرار په هغه ورځ کوی. او یو څیز به هم پټ نه ساتی.

د قران پاک د دوو ایاتونو په مینځ کښې تطبیق:-یو سړی حضرت ابن عباس ﷺ ته اوفرمائیل چه انې حضرت یوځائې کښې قران پاك کښې دی چه مشرکان به دقیامت په ورځ اووائی چه ﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا کُنَّا مُشْرِکِیْنَ ۝﴾ په الله قسم چه زمونږ رب دې مونږ شرك نه دې کړې او بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿وَلَا یَکْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِیْثًا ۝﴾ یعنی دوی به الله ﷻ نه یوه خبره هم نشی پټولې.بیا ددې دواړو آیتونو مطلب څه دې؟ دوی اوفرمائیل چه ددې بل وخت دې او دهغې بل وخت.هرکله چه دوی اوګوری چه موحدین (مومنان) جنت ته روان دی نو اووبه وائی چه راشئ تاسوهم د شرك نه انکار اوکړئی ، دا څه عجب کار دې.بیا به ددوی په خولو باندې مهر اولګولې شی ، او لاس او پښې به ئې خبرې کوی ، او دالله ﷻ نه به یو خبره هم نه پټوی.(ابن جریر).

دویم روایت:- مسند عبدالرزاق کښې دی چه دا سړی راغلو او وې وئیل. چه ما باندې ډیر څیزونه قرآن پاك کښې مختلف دی.نو دوی اوفرمائیل چه څه مطلب دې .؟ آیا ته په قران پاك کښې شك کوې ؟ هغه اووئیل چه نه شك نه کوم خو ځما په نظر کښې دې کښې اختلاف راځی.دوی اوفرمائیل چه کوم کوم ځائې کښې اختلاف دې هغه مقامات بیان کړه. نو هغه دا دوه آیاتونه پیش کړه چه یو نه پټیدل ثابت دی.دویم نه نه پټیدل ثابت دی.نو دوی ددې جواب کښې د دواړو آیتونو تطبیق اوکړو.

دریم روایت:- یو بل روایت کښې د سائل نوم هم راغلې دې چه هغه نافع بن رازق وو. اودا هم دی چه حضرت ابن عباس ﷺ هغه ته دا اوفرمائیل چه شاید ته دیو مجلس نه راغلې ئې ، او هلته به ددې تذکره شوې وی.تا به وئیلی وی چه څه څم او حضرت ابن عباس ﷺ نه تپوس کوم. که دا ګمان صحیح دې نوپه تالازم دی چه جواب آوریدو نه پس دا هغوی ته اورسوې ، بیا ئې هم دا جواب ورکړو.

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَقْرَبُوا	الصَّلٰوةَ
ائې هغه کسانو	چې ایمان مو راوړې دې	مه نزدې کیږئ	مانځه ته
ائې مومنانو تاسو د نشې په حالت کښې مونځ ته مه نزدې کیږئ			
وَاَنْتُمْ	سُكٰرٰى	حَتّٰى تَعْلَمُوْا	مَا تَقُوْلُوْنَ	وَلَا جُنُبًا
په داسې حال کښې چې تاسو	په نشه کښې یئ	تردې پورې	چې پوهه شئ	اې هغه څه	چې تاسوئې وایئ	اونه په حال د جنابت کښې
..... البته چه څه وائې او په هغې پوهیږئ (نوبیا مونځ کوئ) اونه په حالت د جنابت کښې (مانځه ته				
اِلَّا	عَابِرِیْ	سَبِیْلٍ	حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا	وَاِنْ كُنْتُمْ	مَّرْضٰۤى
ماسوا ددې نه	چې تیریدونکي یئ	په لاره	تر دې پورې	چې تاسو غسل اوکړئ	اوکه ئې تاسو	ناجوړه
نزدې کیږئ البته که په لاره تیریدونکي ئې ترڅوچې موغسل نه وی کړې	اوکه ناجوړه ئې					
اَوْ عَلٰى سَفَرٍ	اَوْ جَآءَ	اَحَدٌ مِّنْكُمْ	مِّنَ الْغَآئِطِ	اَوْ لٰمَسْتُمُ	النِّسَآءَ
یا په سفر کښې یئ	یا راشی	یو له تاسو نه	اودس ماتی نه	یاګوتی وروړئ تاسو	ښځو ته
یاپه سفر کښې یئ	یا په تاسو کښې څوک د اودس ماتی نه واپس شی	یاښځوسره نزدیکت اوکړئ			

Scanned with Ca

فَلَمْ تَجِدُوْا	مَآءً	فَتَيَمَّمُوْا	صَعِيْدًا طَيِّبًا	فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ
او اونۍ مومنۍ!	اوبه	نو تیمم اوکړئ	اپه خاوره	پاکه	او مسح اوکړئ	په مخونو خپلو

اواوبه اونۍ مومنۍ انوپه پاکه خاوره باندې تیمم اوکړئ | اوپه مخونواو لاسونومسح اوکړئ

وَاَيْدِيْكُمْ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	كَانَ عَفُوًّا	غَفُوْرًا ۝
اوپه لاسونو خپلو	بیشکه الله	دې عفو کونکې	ببنونکې

بیشکه الله ﷻ نرمی کونکې او ببنونکې دې

قوله تعالی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ

د جنابت احکام او دشرابو دحرمت واقعه :- الله ﷻ خپل بندګان منع کوی چه د نشې حالت کښې مونځ کوی .ځکه چه هغه وخت کښې مونځګزار ته معلومه نه وی چه هغه څه وائی.دې سره د مانځه د محل یعنی جمات ته تلو نه هم منع کوی.چې دې (شرابی)او جنب کس دې جمات ته نه ځی.یعنی چاته چه دغسل حاجت وی نو داسې سړې که دمسجد په یوه دروازه باندې ورداخل شی او په بله دروازه باندې اوځی نودا جائز دی.

د شرابو مرحله وار حرمت:- د نشې حالت کښې مونځ ته د نه ورتلو حکم د شرابو دممانعت نه مخکښې وو. څنګه چه هغه حدیث مبارك نه ثابت دی کوم دسورة بقره آیت مبارك ﴿يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ﴾ تفسیر کښې ذکرشوې دې .نبی کریم ﷺ چه کله دا آیت مبارك د حضرت عمر فاروق ﷺ مخکښې تلاوت کړو نو دوی دعا اوفرمانیله چه انې الله ﷻ دشرابو باره کښې پوره بیان نازل کړه. بیا دا آیت مبارك نازل شو یعنی د نشې حالت کښې مونځ ته نزدې مه ورځئ.دې سره خلقو د مونځ وخت کښې د شرابو څکل پریښودل .ددې آوریدو سره هم حضرت عمررضی الله عنه دا دعا اوکړه نو آیت ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝﴾ نه تر ﴿فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ۝﴾ نازل شو.په دې کښې دشرابو نه دبچ کیدو صفا حکم موجود دې.ددې آوریدو سره حضرت فاروق اعظم ﷺ اوفرمائیل چه (دشرابو څکلو نه) مونږ منع شو.( )[1]

د مانځه په وخت کښې اعلان کول:- هم ددې روایت یو بل سند کښې دی چه کله دسورة نساء دا آیت نازل شو اودنشې وخت کښې د مونځ نه ممانعت اوشو نو هغه وخت کښې دا دستور وو چه کله به مونځ ته خلق آودریدل نو یو سړی به آواز کولو چه هیڅ نشې والا سړې دې مونځ ته نزدې نه راځی( )[2]

دحضرت سعد ﷺ په سبب د شرابو حرمت:- ابن ماجه شریف کښې دی چه حضرت سعد ﷺ فرمانی چه ځما باره کښې څلور آیتونه نازل شوی دی.یو انصاری خوراك اوکړو او ډیرو خلقوته ئې دعوت ورکړو.مونږ تولو خوراك څکاك اوکړو ، بیا موشراب اوڅکل او ښه نشه شو.بیا خپلوکښې مو فخر کولو ، یو سړی د اونټ هډوکئ را اوچت کړو او په هغې ئې حضرت سعد ﷺ اوویشتو او دې سره دهغوئ پوزه زخمی شوه. او دهغې داغ پاتې شو. تر دغه وخت پورې شراب منع نه وو. نو دا آیت نازل شو ، دا حدیث مبارك صحیح مسلم او بخاری کښې پوره پوره مروی دی.( )[3]

---

[1]) ابوداود: ۳۶۷۰،)-

[2]) ابوداود اول کتاب الاشربة باب تحریم الخمر : ۳۶۷۱. وسنده صحیح)- .

[3]) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب فی فضل سعدبن اب؛ی وقاص : ۱۷۴۸، ابوداود : ۲۰۸، ترمذی : ۳۱۸۹،)-

Scanned with Ca

دمانځه په وخت کښې د شرابو د حرمت سبب:- دابن ابی حاتم روایت کښې دی چه عبدالرحمان بن عوف ﷺ دعوت اوکړو او خلق ورغلل او خوراك ئې اوکړو اوبیائې شراب هم اوڅکل او مست شو. دې کښې دمونځ وخت شو ، یو سړې ئې امام جوړ کړو ، هغه مونځ کښې سورة ﴿قُلْ يَاأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ﴾ کښې داشان اوونیل چه ﴿ماأعبدماتعبدون،ونحن نعبدماتعبدون﴾ نودې باندې دا آیت نازل شو اودنشې حالت کښې مونځ کول منع شو. داحدیث مبارك ترمذی کښې هم دې او حسن دې.(۱)

د ابن جریر رحمه الله روایت کښې دی چه حضرت علی ﷺ ، حضرت عبدالرحمان ﷺ او دریم یو بل صاحب شراب اوڅکل او حضرت عبدالرحمان ﷺ مونځ کښې امام شو.او دقرآن پاك قرات ئې غلط کړو. په دې دا آیت مبارك نازل شو. ابو داود اونسائی کښې هم دا روایت دې.(۲) د ابن جریر رحمه الله یو بل روایت کښې دی چه حضرت علی ﷺ امامت اوکړو او چه څنګه وئیل پکار وو هغه شان ئې اونه وئیل.دې باندې دا آیت مبارك نازل شو. او یو بل روایت کښې مروی دی چه حضرت عبدالرحمان بن عوف ﷺ امامت اوکړو اوداشان ئې اوونیل چه ﴿قُلْ يَاأَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ۝ اَعْبُدُ مَاتَعْبُدُوْنَ۝ وَاَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ۝ وَاَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ۝ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ۝ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ۝﴾.نودا آیت نازل شو او دې حالت کښې مونځ کول حرام شو.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دشرابوحرمت نه مخکښې به خلقو دنشې حالت کښې مونځ کولو.نو دې آیت دوی دداسې کولونه منع کړل. (ابن جریر).

دنشې نه د خوب غلبه مراد ده:- حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه ددې دنازلیدو نه پس خلق ددې نه منع شو ، بیا دشرابو مطلق حرمت نازل شو.حضرت ضحاك رحمه الله فرمائی چه دې نه دشرابو نشه مراد نه ده بلکه د خوب غلبه مراد ده.امام ابن جریر رحمه الله فرمائی چه صحیح هم داده چه ددې نه دشرابو نشه مراد ده.او دلته خطاب هغوئ ته شوې دې کوم چه په نشه کښې وو. لیکن دومره چه احکام شرع په دوی باندې جاری نه شی.ځکه چه د نشې داسې حالت والا سړې دمجنون په حکم کښې دې.د ډیرو اصولی حضراتو قول دې چه خطاب هغه خلقو ته دې چه کلام باندې پوهیږی. داسې نشې والو طرف ته نه دې چه هلږ پوهیږی نه دوی ته څه وئیلې کیږی ؟ ددې وجې خطاب باندې پوهیدل شرط دی.

او داهم وئیلې شوی دی اګر چه الفاظ دا دی چه دنشې حالت کښې مونځ مه کوئی لیکن مراد دادې چه د نشې څیزونه مه خورئ ځکئ مه.ځکه چه په شپه او ورځ کښې پنځه مونځونه فرض دی.نو دا څنګه ممکن دی چه یو شرابی سړې به داپنځه وخت مونځ په صحیح وخت ادا کړی او دې همداسې شراب څکی. والله اعلم.

د مانځه په وخت کښې د نشې نه کولو د حکم نظیر:- نو دا حکم به داشان وی چه څنګه دا حکم دې چه ائې مومنانو الله ﷻ نه ویریږئ څومره چه دهغه پاك ذات نه د ویرې حق دې.او که مرئی نو چه تاسو مسلمانان یئ.نو ددې مراد دادې چه داسې تیاری هر وخت اوساتئ داسې پاك اعمال هر وخت کوئی چه تاسو ته مرګ راشی نو چه تاسو په اسلام باندې یئ.دغه شان په دې آیت مبارك کښې ارشاد دې. تردې چه تاسو څه وایې په هغې پوهیږئ.دا د نشې حد دې یعنی دنشې حالت کښې به هغه سړې ګنړلې شی چه خپله خبره باندې هم نه پوهیږی.نشې سړې به قرات غلطوی ، اوده ته به د سوچ او فکر کولو موقع نه ملاویږی.او نه به دې خشوع او خضوع او عاجزی کولې شی.

د خوب په وخت کښې د مونځ نه کولو حکم:- مسند احمد کښې دی نبی کریم ﷺ اوفرمائیل کله چه تاسو کښې څوك د خوبه وی او هغه مونځ کښې وی نو هغه ته پکار دی چه واپس شی او اوده شی تردې چه

---

۱) ترمذی : کتاب تفسیر القران باب ومن سورة النساء : ۳۰۲۶، وهو حسن)-

۲) ابوداود کتاب الاشربة باب تحریم الخمر : ۳۶۷۱، وسنده حسن)-

Scanned with Ca

ده ته معلومه شی چه دې څه وائی.(۱) بخاری او نسائی کښې هم داحدیث مبارک شته دې(۲) او ددې بعضو طرق کښې دا الفاظ هم دی چه ممکن ده چه هغه خپل خان دپاره استغفار وائی.او دهغه د ژبې نه ددې خلاف اووئیلې شی.(۳)

قوله تعالی:: وَلَا جُنُبًا إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ

دجنابت حالت کښې جمات ته داخلیدل :- بیا فرمان دې چه نه خودې جنب مونځ ته نزدې کیږی ترڅو چه غسل اونه کړی .خوکه هسې تیریږی جمات کښې نو داتیریدل جائز دی .حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی ددې ناپاکئ حالت کښې جمات ته داخلیدل جائز نه دی.خو دجمات یو طرفته تلو کښې څه حرج نشته دې خو جمات کښې دې نه کینی.(۴) او دنور صحابه کرامو ﷺ او تابعینو هم دا قول دې.

دانصاروجمات ته د جنابت حالت کښې داخلیدل:- حضرت یزید بن ابوحبیب ﷺ فرمائی چه بعضې انصار چه د جمات نه ګیرچاپیره اوسیدل. او هغوئ به جنب وو او کور کښې به نې اوبه نه وې اودهغوئ دکورونو دروازې جمات ته متصل وې نو هغوئ ته اجازت وو چه جمات کښې هم دې حالت کښې تیریدې شی.

د بخاری په حدیث استدال:- دبخاری د حدیث نه هم دا خبره ښکره معلومیږی چه د خلقو دروازې جماتکښې وې.نو نبی کریم ﷺ دخپل مرض الموت آخری وخت کښې فرمائیلی وو چه جمات ته د کوموخلقو دروازې دې هغه تولې بندې کړئی او صرف د حضرت ابوبکرصدیق ﷺ دروازه پریږدئی(۵) ددې نه دا هم معلومه شوه چه د نبی کریم ﷺ نه پس به د نبی کریم ﷺ جانشین حضرت ابوبکرصدیق ﷺ وی.ځکه چه دهغوئ به جمات ته دراتلو ضرورت زیات پیښیږی چه دمسلمانانو د اهمو امورو فیصلې اوکړی.نبی کریم ﷺ د تولو دروازو بندلو او د حضرت ابوبکرصدیق ﷺ دروازه ئې بیرته ساتلو حکم اوکړو.داحادیثو بعضو کتابونوکښې دحضرت ابوبکر صدیق ﷺ په ځائې د حضرت علی ﷺ نوم دې.هغه بالکل غلط دی.(۶) صحیح هم هغه دې چې په کسوم صحیح دې.

دجنب دپاره په جمات باندې تیریدو کښې مذاهب:- ①ددې آیت کریمه نه زیاتو امامانو دلیل نیولې دې چه جنب سړې جمات کښې ایساریدل حرام دی خو تیریدل پکښې جائز دی.هم داشان حیض او نفاس والا ښځه هم.②اوبعضو وئیلی دی چه دې دواړو لره تیریدل هم جائزنه دی .ممکن دی چه جمات کښې ګردوغبار وی .③ اوبعضې وائی که ددې خبرې ویره نه وی نو ددوی تیریدل هم جائز دی.

مسلک حنفی: دجنب دپاره په جمات باندې تیریدل څنګه دی؟

په جمات د تیریدو د جوازدلیل:- ①دصحیح مسلم شریف حدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ عائشه رضی اللہ عنہا ته اوفرمائیل چه ماسره جمات نه بورئی راوړه نو ام المومنین ورته اوفرمائیل چه یارسول الله څه خو حیض کښې یم.نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه ستا حیض ستا لاس کښې نه دې(۷) ددې نه

---

۱) احمد: ۱۵۰/۳، صحیح بخاری کتاب الوضوء باب الوضوء من النوم ومن لم یر من النعسة: ۲۱۳)-

۲) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب الوضوء من النوم ومن لم یر من النعسة: ۲۱۳ نسای: ٤٤٣)-

۳) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب الوضوء من النوم ومن لم یرمن النعسة:۲۱۳،صحیح مسلم:۷۸٦، ابوداود: ۱۳۱۰،ترمذی : ۳۵۵،ابن ماجة: ۱۳۷۰)

۴) ابن ابی حاتم : وسنده حسن ابوجعفر الرازی حسن الحدیث هاهنا)-

۵) صحیح بخاری کتاب الصلاة باب الخوخة والممر فی الجمات: ٤٦٧)-

۶) احمد : ۳۳۱/۱، مطولا عن ابن عباس ﷺ وسنده حسن الحاکم: ۱۳۲/۳، وصححه ووافقه الذهبی)-

۷) صحیح مسلم کتاب الحیض باب جواز غسل الحائض راس زوجها : ۲۹۸)-

Scanned with Ca

ثابتیږی چه حائضه جمات ته تلې شی.او دنفاس والا هم دا حکم دې.دا دواړه د تلو په لار راتلئ شی.

په جمات د تیریدو د عدم جواز دلیل:- ابوداود کښې د حضرت امام بخاری رحمه الله فرمان دې چه څه حائضه او جنب دپاره جماتته راتګ نه حلالوم. (۱) امام ابومسلم خطابی رحمه الله فرمائی چه دې حدیث ته یو جماعت ضعیف وئیلی دی.ځکه چه ددې یو راوی افلت مجهول دې.لیکن ابن ماجه کښې دا روایت دې اوهغې کښې د افلت په ځائې محدوج ذهلی دې.(۲) رومبی حدیث په روایت د حضرت عائشه رضی الله عنها دې اودویم په روایت دحضرت ام سلمه رضی الله عنها دې.لیکن صحیح نوم دحضرت عائشه رضی الله عنها دې.

بل روایت:- یوبل روایت ترمذی کښې هم دې او په هغې کښې دی چه ائې علی رضی الله عنه ! دې جمات کښې خما ستا نه سوا جنب لره حلال نه دی.(۳) داحدیث بالکل ضعیف دې او بالکل ثابت نه دې.په دې کښې راوی سالم دې چه متروک دې او دده استاد عطیه هم ضعیف دې.والله اعلم.

د حضرت علی رضی الله عنه قول:- ددې آیت مبارک تفسیر کښې حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه مطلب دادې چه جنب سړې دې حالت کښې د غسل نه بغیرمونځ نه شی کولې.لیکن که مسافر وی او ورته اوبه ملاؤ نشی نو اوبه ملاویدو پورې هغه کولې شی .(۴) حضرت ابن عباس رضی الله عنه ، حضرت سعید بن جبیر رحمه الله ، حضرت ضحاك رحمه الله نه هم دا مروی دی.حضرت مجاهد رحمه الله ، حضرت حسن رحمه الله ، حضرت زید رحمه الله او حضرت عبدالرحمان رحمه الله نه هم دا شان مروی دی.

یوقول:- یوقول چه دا حدیث عبدالله بن کثیر رحمه الله فرمائی چه مونږ به آوریدل چه دا آیت د سفر حکم کښې دې.ددې حدیث مبارك نه ددې مسئلې شهادت کیدیشی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه ښاوره د مسلمان طهارت دې اګر چه تر ته لس کاله اوبه ملاؤ نشی.اوکله چه ملاؤ شی نو هم دا استعمال کړه. دا ستا دپاره بهتر دی.(۵) (اهل سنن اواحمد).

د امام ابن جریر رحمه الله تبصره:- امام ابن جریر رحمه الله فرمائی چه په دې دواړو اقوالو کښې اولنی قول دهغه خلقو دې چه وائی ددې نه مراد جمات کښې تیریدل داشان دی لکه چې سړې جماعت ته داخل شی.ځکه چه کوم مسافر ته دجنابت حالت کښې اوبه ملاؤ نشی نو دهغه حکم مخکښې صفا بیان شوې دې .نو که هم دا مطلب دلته هم واخستلې شی نو بیا دا هم واپس کولو کښې دویمه جمله باقی نه پاتې کیږی. نو معنی د آیت اوس دا شوه چه ائې ایمان والو ! کله چې تاسو په نشه کښې یئ نو تاسو جماعت ته مه داخلیږئ ترڅو چې تاسو پخپلو خبرو باندې پخپله نه پوهیږئ. هم داشان دجنابت حالت کښې هم جمات ته مه ځئ ترکومې چې غسل اونکړئ خوکه هسې تیریږئ نو داجائز دی.

د ،،عابر،،لغوی تحقیق:- د﴿ **عابر** ﴾ معنی تلل راتلل یعنی تیریدو والا دی ددې مصدر ﴿ **عبرا** ﴾ او ﴿ **عبورا** ﴾ راځی.هرکله چه څوك نهر کښې تیرشی نو عرب وائی چه ﴿ **عبرا فلان النهر** ﴾ فلانې سړې نهر نه تیر شو او همداشان قوی اوښه چه سفر کوی هغې ته ﴿ **عنبر الاسفار** ﴾ وائی.امام ابن جریر رحمه الله چه دکوم قول تائید کوی هم دا دجمهورو قول هم دې او آیت مبارك نه ظاهر همدا دی.یعنی الله ﷻ په دې ناقص حالت کښې د مونځ نه منع فرمائی چه دمقصود نه خلاف دې.هم دا شان دمونځ ځائې ته داسې حالت کښې راتلو نه منع کوی.اودا ددې ځائې دعظمت او پاکوالی خلاف دی ، والله اعلم.

---

۱) ابوداود کتاب الطهارة باب فی الجنب یدخل الجمات: ۲۳۲، وسنده حسن)-

۲) ابن ماجة : ٦٤٥،)-

۳) الترمذی : ۳۷۲۷،)-

٤) ابن ابی حاتم :)-

٥) احمد: ۱۵۵/۵، ابوداود : کتاب الطهارة باب الجنب یتیم : ۳۳۲، وسنده حسن ، ترمذی : ۱۲٤، نسائی:)-

Scanned with Ca

قوله تعالی::حَتّٰی تَغْتَسِلُوْا

داودس نه پس جنت دپاره په جمات کښې ایساریدلو کښې اختلاف:- بیا فرمانی تر دې پورې چه تاسو غسل اوکړئ ، حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ، حضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام شافعی رحمه الله وانی چه جنب دپاره جمات کښې ایساریدل حرام دی .ترکومې چه غسل اونکړی یا که اوبه ملاؤ نشی یا اوبه وی خو ددې استعمالولو قدرت نه لری نو تیمم دې اوکړی② حضرت امام احمد رحمه الله فرمانی چه که جنب اودس اوکړی نو ده دپاره جماتکښې ایساریدل جائز دی.

دامام احمد رحمه الله دلیل:- مسند احمد او سنن سعید بن منصور کښې مروی دی ، حضرت عطاء ابن یسار رحمه الله فرمانی چه ما د نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم اوکتل چه هغوئ جنب وو او اودس به نې اوکړو او جمات کښې به ناست وو.(۱) والله اعلم.

قوله تعالی::وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰۤى

د تیمم د جواز عذر مرض:- بیا د تیمم مواقع بیانوی او فرمانی چه د کومې بیمارئی په وجه تیمم جائز دې هغه بیمارئ دا دی چه په هغه وخت کښې اوبو سره دیو اندام د فوت کیدو یا ددې دخرابیدو یا دمرض د زیاتیدو ویره وی.بعضې علماء کرام هر مرض باندې د تیمم فتوی ورکوی.ځکه چه دا آیت عام دې.حضرت مجاهد رحمه الله فرمانی چه یو انصاری بیمار وو ، نه اودریدې شو او نه نې اودس کولې شو او دده څوك خادم هم نه وو چه ده ته نې اوبه ورکړې وې.هغوئ ددې ذکر نبی کریم ﷺ ته اوکړو نو دې باندې دا حکم نازل شو. دا روایت مرسل دې.

قوله تعالی::اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ

د تیمم د جواز عذر سفراو لوئې اودس ماتې:-دویم حالت دتیمم دجواز سفر دې که اوږد وی او که کم وی.

﴿ **غائط** ﴾ وانی نرمې زمکې ته ، دلته دا کنایه شوې ده د غټو متیازو نه

قوله تعالی::اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ

د لمس تحقیق:- د﴿لٰمَسْتُمُ﴾ دویم قرات ﴿لٰمَسْتُمُ﴾ دې.ددې تفسیر کښې دوه اقوال دی ،

د لمس نه مراد جماع ده:- یو دا چه مراد تری جماع ده لکه څنګه چه آیت کښې دی چه ﴿وَاِنْ طَلَّقْتُمُوْهُنَّ﴾ که تاسو خپلو بیبیانو ته د مجامعت نه مخکښې طلاق ورکړئی او دهغوئ مهر مقرر کړئی هغې نه ورته نیمه ورکړئی.او بل آیت مبارك کښې دی چه ائې ایمان والو ! کله چه تاسو ایماندارو ښځو سره نکاح اوکړئی بیا مجامعت نه وړاندې ورته مخکښې طلاق ورکړئی نو ددوی په ذمه عدت واجب نه دې.دلته هم لفظ ﴿ مِنْ قَبْلِ اَنْ﴾ دې.حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه مروی دی چه ﴿اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ﴾ نه مراد مجامعت دې.

کوم حضرات د لمس نه جماع مراد اخلی:- حضرت علی رضی الله عنه ، حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه ، حضرت مجاهد رحمه الله ،حضرت طاؤس رحمه الله ، حضرت حسن رحمه الله ، حضرت عبید بن عمیر رحمه الله ، حضرت سعید بن جبیر رحمه الله ،حضرت شعبی رحمه الله ، حضرت قتاده رحمه الله او حضرت مقاتل بن حیان نه هم دا مروی دی.

دحضرت ابن عباس په قول سره استدلال:- حضرت سعید بن جبیر رحمه الله فرمانی چه یو ځل په دې لفظ مذاکره اوشوه نو څو موالی اوونیل چه دا جماع نشوه او څو عربواوونیل چه جماع ده.ما ددې بیان حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته اوکړو ، نو حضرت ابن عباس رضی الله عنه تپوس اوکړو چه ته چاسره وې.ما اوونیل موالی سره.وې فرمانیل چه موالی مغلوب شو. د لمس او مس اومباشرت معنی جماع ده.الله ﷻ دلته کنایه کړې ده.

---

(۱) سعیدبن منصور وسنده حسن لذاته)-

Scanned with Ca

د لمس نه مراد د لاس اوړل دی:- دویم بعضو نورو حضراتو ددې نه مراد مطلق لاس لګول اخستی دی.که د ښځې دبدن هرې حصې سره وی نواودس واجبیږی.حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ، فرمائی چه مباشرت سره لاس لګولو سره ، بوسه اخستلو سره به اودس کول وی ، لمس نه مراد لاس لګول دی.حضرت ابن عمر ﷺ هم ددې قائل دې چه کله د ښځې نه بوسه واخستې شی نو اودس کول به وی.(۱) هغوئ به دا لمس کښې داخلول.

کوم حضرات د لمس نه مراد د لاس اوړل اخلی:- حضرت عبیده رحمه الله ، حضرت ابوعثمان رحمه الله ، حضرت ثابت رحمه الله ، حضرت ابراهیم رحمه الله او حضرت زید رحمه الله هم دا فرمائی چه لمس نه مراد جماع نه علاوه دی.

دعبدالله بن عمرقول:- حضرت عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی چه دانسان خپلې ښځې نه بوسه اخستل او دې ته لاس لګولو سره ملامست راځی نو دې سره به اودس کول وی.(۲) (موطا امام مالك). دارقطنی کښې پخپله د حضرت ابن عمر ﷺ نه مروی دی.

تعارض او تطبیق:- لیکن دویم روایت کښې ددوی نه ددې خلاف نقل دی چه دوی اودس کښې وو او دوی د خپلې ښځې نه بوسه واخستله ، بیا ئې اودس اونکړو او مونځ ئې ادا کړو.نو ددواړو روایتونو د ثابتولو نه پس دا فیصله کوی چه دوی اودس مستحب ګنړلو. والله اعلم.

په مطلق لاس اوړلو سره د اودس ماتیدو کښې مذاهب:- مطلق لاس لګولو سره داودس کولو قائل حضرت امام شافعی رحمه الله او ددوی ملګری دی.او حضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه هم دا نقل دی.

په لمس د اودس ماتیدو د قائیلینو دلائل:- ①ددې قول قائلین وائی چه دلته دو قراتونه دی ﴿لَمَسْتُم﴾ او ﴿لمستم﴾ اود لمس اطلاق لاس لګولوسره هم قران پاك نه کیږی.ارشاد دې چه ﴿وَلَوْنَزَّلْنَاعَلَيْكَ كِتَٰبًا فِى قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ﴾ ښکاره دی چه دلته لاس لګول مراد دی.

②داشان حضرت ماعزبن مالك ﷺ ته د رسول الله ﷺدا فرمائیل چه شاید تا به بوسه اخستې وی یا به دې لاس لګولې وی.(۳) هلته هم لفظ د ﴿لمست﴾ دې.او صرف دلاس لګولو معنی کښې دې.

③ اوحدیث مبارك کښې دی چه ﴿والیدزناهااللمس﴾ ، لاس لګولو ، او زنا کول دی.(۴)

④حضرت عائشه رحمه الله رضی الله عنها چه ډیرې کمې ورځې به داسې وی چه نبی ﷺ مونږ ته راغلې وی او څومره نه ئې بوسه نه وی اخستې او لاس ئې مونږ ته نه وی لګولې .(۵)

⑤دبخاری شریف او مسلم شریف حدیث مبارك کښې دی چه نبی کریم ﷺ ملامست سره بیع نه منع اوفرمائیل.(۶) دا هم دلاس لګولو بیع ده. نودا لفظ چه څنګه جماع دپاره وئیلې کیږی داشان لاس لګولو دپاره هم استعمالیږی. شاعر وائی چه :

ولمست کفی کفه اطلب الغنی (ترجمه) ما لاس دده لاس سره یو ځائې کړه ما خو مالداری غوښتله.

---

(۱) موطا امام مالک کتاب الطهارة باب الوضوء من قبلة الرجل امراته : ٦٥، البیهقی : ۱۲٤/۱، مطولا وسنده ضعیف ومختصرا وسنده صحیح وهو صحیح بالشواهد مجمع الزواند :۲۵۲/۱)-

(۲) موطا امام مالک کتاب الطهارة باب الوضوء من قبلة الرجل امراته : ٦٤، ح/۹۳، وهو صحیح)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الحدود باب هل یقول الامام للمقر لعلک لمست او غمزت : ٦٨٤٤)-

(٤) احمد: ۲٤۹/۲، صحیح ابن حبان : ٤٤۲۲، وسنده صحیح صحیح ابن خزیمة : ۳۰ وسنده صحیح)-

(٥) احمد: ۱۰۸/٦، ابوداود کتاب النکاح باب القسم بین النساء : ۲۱۳٥ وسنده حسن)-

(٦) صحیح بخاری کتاب البیوع باب بیع الملامسة : ۲۱٤٤، صحیح مسلم: ۱٥۱۲،)-

Scanned with Ca

① یو بل روایت مبارک کښې دی چه یو سړې د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! دهغه سړی باره کښې څه فیصله ده چه هغه یو سړې پردئ ښځې سره هغه ټول کارونه اوکړی کوم چې ښځه خاوند خپلوکښې کوی سوا د جماع نه.نو آیت ﴿أَقِمِ الصَّلٰوةَ﴾ نازل شو اونبی کریم ﷺ فرمانی چه اودس دې اوکړی او مونځ دې ادا کړی. دې باندې حضرت معاذ ﷺ تپوس کوی چه آیا دا حکم دده دپاره خاص دی که د ټولو مسلمانانو دپاره دې.نبی کریم ﷺ جواب فرمانی چه ټول ایمان والو دپاره دی(۱)امام ترمذی رحمه الله دا د زائد حدیث سره روایت کوی ، ددې سند متصل نه دې ، امام نسائی رحمه الله دا مرسلا روایت کوی.الغرض ددې قول قائل ددې حدیث نه استدلال کوی چه دې سره د اودس حکم په دې وجه وو چې هغه ښځې ته لاس لګولې وو جماع ئې ورسره نه وه کړې.

د شپږم دلیل نه جوابونه:- ددې جواب ورکولې شی ①اول خو دا حدیث منقطع دې ، ابن ابی لیلی رحمه الله اود معاذ ﷺ ترمینځه ملاقات ثابت نه دې.

②دویم دا کیدیشی چه ده ته ئې د اودس حکم د فرض اداکولو دپاره ورکړې وو لکه څنګه چه د حضرت ابوبکرصدیق ﷺ حدیث مبارک کښې دی چه بنده څه ګناه اوکړی بیا اودس اوکړی اودوه رکعته مونځ ادا کړی نو الله ﷻ دده ګناه معاف کوی (۲)الخ.دا پوره حدیث سورة آل عمران کښې د آیت ﴿ذَكَرُوا اللّٰهَ فَاسْتَغْفَرُوا﴾ تفسیر کښې تیر شوی دې.

دامام ابن جریر رحمه الله د لمس نه جماع مراد اخستونکو قول ته ترجیح ورکول:- امام ابن جریر رحمه الله فرمانی چه ددې دواړو اقوالو نه بهتر قول دهغوئ دې کوم چې دا وائی چه ددې نه مراد جماع ده نور څه نه.او صحیح مرفوع حدیث کښې راغلی دی چه نبی کریم ﷺ خپلې بی بی نه بوسه واخسته او اودس ئې اونکړو او مونځ ئې اوکړو. ام المومنین حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه نبی کریم ﷺ به اودس اوکړو او بیا به ئې بوسه واخسته او بیا به ئې مونځ کولو او اودس به ئې نه کولو.حضرت حبیب رحمه الله فرمانی چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه کله به نبی کریم ﷺ د خپلې یوې یو بی بی نه بوسه واخسته نو چه کله به مونځ ته تلو نو اودس به ئې نه کولو. ما اووئیل چه هغه به تاسو وې نو حضرت عائشه رضی الله عنها مسکئ شوه. ددې سند کښې کلام دی.(۳)لیکن نورو سندونو سره ثابت دی چه پورتنې راوی یعنی حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه آوریدونکې حضرت عروه بن زبیر رحمه الله دې ،

اویوروایت کښې دی چه اودس نه پس به نبی کریم ﷺ خمانه بوسه اخسته او بیا به ئې اودس نه کولو(۴) اویو سند سره مروی دی چه نبی کریم ﷺ بوسه واخسته او بیائې اودس اونکړواو مونځ ئې ادا کړو. (۵)

دام سلمې رضی الله عنها روایت:- حضرت ام سلمه رضی الله عنها فرمائی چه نبی کریم ﷺ به بوسه اخسته حالانکه د نبی کریم ﷺ به روژه وه ، بیا به ئې نه روژه نیوله او نه به ئې اودس کولو. (۶) (ابن جریر)

د زینب رضی الله عنها روایت:- حضرت زینب بنت خزیمه رضی الله عنها فرمائی چه نبی کریم ﷺ به بوسه اخستلو نه پس اودس نه کولو او مونځ به ئې ادا کولو. (۱)

---

(۱) احمد: ۲۴۴/۵، الترمذی : ۳۱۱۳)-
(۲) ابوداود : ۱۵۲۱، وسنده حسن الترمذی : ۳۰۰۶، ابن ماجة: ۲۳۹۵،)-
(۳) ابوداود کتاب الطهارة باب الوضوء من القبلة : ۱۷۹، وهو حسن ترمذی : ۸۶)-
(۴) الطبری : ۹۶۳۷)-
(۵) ابوداود کتاب الطهارة باب الوضوء من القبلة : ۱۷۸، وهو حسن نسائی: ۱۷۰)-
(۶) الطبری : ۹۶۳۸، المعجم الاوسط للطبرانی : ۳۸۱۷، واللفظ للطبری : علامه هیثمی مجمع الزوائد : ۲۴۷/۱ کښې یزید بن سنان په وجه دا معلول ګرزولې دې)-

Scanned with Ca

په ایت کښې د لمس نه مراد جماع ده

مسلک حنفی:- احناف د دې قائلین دی په آیت کښې د لمس نه مراد جماع ده ښځې ته لاس اوړل مراد نه دی د دې وجې د دوی په نیز ښځې ته په لاس اوړلو او د هغې په ښکلولو باندې اودس نه ماتیږی لکه څنګه چې امام ابن جریر رحمہ اللہ دې قول ته ترجیح ورکړې ده. چه په آیت کښې د لمس نه جماع مراد ده (احکام القران للعلامة ظفر احمد العثمانی رحمہ اللہ ۲۷۲\۲).

قوله تعالی: فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا

دتیمم حکم:- بیا فرمانی که اوبه نه مومئ نو پاکې ښاورې سره تیمم اوکړئ. ددې نه اکثرو فقهاء کرامو استدلال کړې دې چه چاته اوبه نه ملاویږی نو دهغه دپاره د تیمم اجازت د اوبو دتلاش نه پس دې. کتب فروع کښې دتلاش کیفیت لیکلې شوې دې.

د اوبود نشتوالی په وخت کښې تیمم کول:- بخاری اومسلم کښې دی چه نبی کریم ﷺ یو سړې اوکتلو چه د خلقو نه ځانله دې او خلقو سره ئې مونځ اونکړو، نو نبی کریم ﷺ هغه نه تپوس اوکړو چه مونځ دې ولې اونکړو، آیا ته مسلمان نه ئې څه؟ هغه اووئیل چه یارسول الله ﷺ یم خو مسلمان لیکن جنب یم او اوبه نشته. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بیا دې صورت کښې ستا دپاره ښاوره کافی وه. (۲)

تیمم په لغت کښې:- د تیمم لفظی معنی قصد کول دی، عرب وائی چه ﴿ تیممك الله بحفظه ﴾ یعنی الله ﷻ دې حفاظت ستا قصد اوکړی. د امراؤ القیس شعر کښې دا لفظ هم دې معنی کښې راغلې دې.

دصعید په مصداق کښې مذاهب:- ①د صعید معنی کښې وئیلې شوې دی چه هر څیز چه کوم د زمکې نه راخیژی. نو په دې کښې ښاوره، شګه، ونه، کانړۍ، وابنه، هم داخل دی. دحضرت امام مالك رحمہ اللہ قول هم دادې. ②او وئیلې شوی دی. چه کوم څیز د ښاورې دجنس نه وی لکه شګه، چونا، دا مذهب دابوحنیفه رحمہ اللہ دې. ③اودا هم وئیلې شوی دی چه صرف ښاوره ده. داقول د حضرت امام شافعی رحمہ اللہ او امام احمد بن حنبل رحمہ اللہ او ددوی دملګرو دې.

کوم څیز چه د جنس د زمکې نه وی په هغې تیمم جائز دې

مسلک حنفی:- د کوم مذهب نسبت چه ابن کثیر رحمہ اللہ امام اعظم رحمہ اللہ ته کړې دې دا نسبت ټیک دې د دوی په نیز کوم څیز چه د جنس د زمکې نه وی په هغې باندې تیمم جائز دې (احکام القران للعلامة ظفر احمد العثمانی رحمہ اللہ ۲۸۰\۲).

د دریم مذهب د قائلینو دلائل:- ①دهغوئ دلیل خو د قران پاك دا آیت مبارك دې چه ﴿فَتُصْبِحَ صَعِيْدًا زَلَقًا﴾ یعنی هغه ښاوره خویندارکې شی.

②دویم دلیل د صحیح مسلم شریف کښې دا حدیث مبارك دې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مونږ ته ټولو خلقو باندې فضیلتونه راکړې شوی دی (۱) څمونږ صفونه د فرشتو د صفونو په شان دی، (۲) څمونږ دپاره ټوله زمکه جمات جوړه کړې شوه (۳) او د زمکې ښاوره څمونږ دپاره پاکه او پاکونکې جوړه کړې شوه هرکله چه مونږ ته اوبه ملاؤ نشی. (۳)

دتربت د لفظ تحقیق:- د حدیث مبارك الفاظو کښې د تربت لفظ دې او یو سند سره د تربت په خاني تراب هم مروی دې. نو دې حدیث مبارك کښې داحسان ضابطولو په وخت کښې د ښاورې تخصیص کړې شوې دې. که یو څیز هم د اودس قائمقام په کار وې نو ددې ذکر به ئې هم ورسره کړې وې.

---

(۱) احدم: ۶۲/۶).

(۲) صحیح بخاری کتاب التیمم باب رقم: ۹، صحیح مسلم: ۶۸۲).

(۳) صحیح مسلم کتاب المساجد باب المساجد ومواضع الصلاة: ۵۲۲).

Scanned with Ca

د طیب معنی:- دلته چه د طیب لفظ دې دوې معنی کښې وئیلې شوی دی چه دوې نه مراد حلال دی.او وئیلې شوی دی چه دوې نه مراد پاک دې لکه حدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی پاکه ښاوره د مسلمان اودس دې اگر چه لس کالو پورې اوبه اونه مومی. بیا کله چه اوبه ملاؤ شی نو هغه خپل بدن سره اولگوی ،دا دوی دپاره بهتر ده. (۱) امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وائی.حافظ الحسن قطان رحمه الله هم دې ته صحیح وائی.حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی دتولو نه زیاته پاکه ښاوره د پتی زمکه ده ، بلکه تفسیر ابن مردویه کښې خو دا مرفوعا وارد شوی دی.(۲)

قوله تعالی:: فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ

بیا فرمان دې چه دا په خپل مخ او لاسونو باندې اومخی.تیمم د اودس په خائې کیږی ، اودا صرف دپاکوالی حاصلولو دپاره دې،د اودس پشان د تولو اندامونو باره کښې نه دې.نو صرف په دواړو لاسونو او مخ باندې مخل کافی دی او په دې اجماع ده ،

هرانداډ دوه ځله مسح کول:- لیکن تیمم کښې د امامانواختلاف دې.جدید مذهب د حضرت امام شافعی رحمه الله دادې چه دوه ځل په مخ او دوه ځل په لاسونو باندې مسح کول واجب دی.

دې وجه دا دې. د ﴿ **یدین** ﴾ اطلاق ترخونو پورې او څنگلو پورې کیږی لکه آیت د اودس کښې هم داشان دې لفظ اطلاق کیږی او مراد صرف تلی وی لکه څنگه چه د ترخ د حد باره کښې دی چه ﴿فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا﴾ دلته دتیمم حکم کښې دلاس ذکر مطلق دې او د اودس حکم کښې مقید دې .دې وجې دا مطلق به په مقید باندې حمل کولې شی.ځکه چه طهوریت جامع موجوددې.

اوبعضې خلق دې دلیل کښې د دار قطنی والا روایت پیش کوی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل تیمم دوه ضربونه دی ، یو ضرب لاس وهل او مخ باندې مخل او دویم ضرب لاس وهل او دواړه لاسونه ترڅنگلو پورې مخل.(۳) خو دا صحیح نه دې،ځکه چه دې په سند کښې ضعف دې ، حدیث ثابت نه دې

د ابوداود روایت اودهغې ضعف:- د ابوداود یو حدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ خپل لاسونه مبارک په یو دیوال باندې اوهل او مخ باندې ټې اومخل او بیائې دوباره لاسونه اوهل او په خپلو څنگلو ټې اومخل. (۴)لیکن دې اسناد کښې محمد بن ثابت عبدی ضعیف دې ، هغوئ ته د حدیث بعضو حافظانو ضعیف وئیلی دی.هم دا حدیث بعضو ثقه راویانو هم روایت کړې دې.لیکن هغه مرفوع نه دې بلکه دې ته دعبدالله ابن عمر رضی الله عنه فعل وائی. امام بخاری رحمه الله ، امام ابوزرعه رحمه الله ، اوامام ابن عدی رحمه الله فیصله کړې ده چه دا موقوف دې.او امام بیهقی فرمائی چه دې حدیث ته مرفوع ونیل منکر دی.

دشافعی رحمه الله دلائل:- ①دحضرت امام شافعی رحمه الله دلیل دا حدیث هم دې چه نبی کریم ﷺ تیمم اوکړو او خپل مخ ټې اومخل اوخپلو دواړو لاسونه ټې اومخل.(۵)

②حضرت ابوجهم رضی الله عنه فرمائی چه ما اوکتل چه نبی کریم ﷺ متیازې کوی ، ما نبی کریم ﷺ ته سلام اوکړو لیکن نبی کریم ﷺ جواب رانکړو. فارغیدو نه پس نبی کریم ﷺ یو دیوال ته ورغلو او خپل دواړه لاسونه مبارک ټې په هغې اووهل او بیائې په خپل مخ رابنکل اوبیائې خپل دواړه لاسونه په دیوال اووهل او پخپلو لاسونو ټې رابنکل تر څنگلو پورې.بیا ټې خماد سلام جواب راکړو(۱) (ابن جریر)

---

(۱) ابوداود کتاب الطهارة باب الجنب یتیمم: ۳۳۲، وسنده حسن ترمذی : ۱۲٤، نسائی : ۳۲۳)-
(۲) ابن ابی حاتم : ۹٦۲/۳، ح/۵۳۷٤)-
(۳) حاکم: ۱۷۹/۱، دارقطنی : ۱۸۰/۱)-
(۴) ابوداود کتاب الطهارة باب التیمم فی الحضر : ۳۳۰)
(۵) بیهقی : ۲۰۵/۱)-

د شافعی قدیم مذهب:- دا د حضرت امام شافعی رحمه الله جدید مذهب وو. د دوی قدیم مذهب دا دی چه ضربونه خو تیمم کښې دوه دی لیکن دویم ضرب کښې لاسونه صرف تر مړوندونو پورې مخل پکار دی

دریم قول:- دریم قول دادې چه صرف یو ضرب یعنی یو خل لاسونه وهل ښاوره باندې وهل کافی دی. دګرد نه ګنده لاسونه دې په مخ باندې اووهی دواړو مړوندونو پورې.

د یو ضرب دپاره دلیل

د یو ضرب دپاره د حضرت عمار په واقعه باندې استدلال:- ①مسند احمد کښې دی چه یو سړې امیر المومنین حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته راغلو او وې وئیل چه ځه جنب شوې یم اوماته اوبه ملاؤ نه شوې نو ماته څه کول پکار دی.دوی اوفرمائیل چه مونځ نه دی کول پکار.دربار کښې حضرت عمار رضی الله عنه هم ناست وو ، وې فرمائیل چه ائې امیر المومنین ! آیا تاسو ته یاد نه دی چه څه او تاسو یولښکر کښې وو او مونږ جنب وو او مونږ ته اوبه ملاؤ نشوې.نوتاسو مونځ اونکړو او ما ښاوره کښې ځان لت پت کړه اومونځ مې ادا کړو. هرکله چه مونږ واپس شو او د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو نو ما ورته دا ټوله واقعه اووئیله نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ستادپاره دومره کافی وو. بیا نبی کریم ﷺ خپل لاسونه په زمکه اووهل او دې ته ئې پوکې ورکړو اوخپل مخ باندې ئې اومخل او خپلو تلو باندې ئې او مخل.(۲)

② په مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تیمم کښې یو خل لاسونه وهل دی د مخ دپاره وی او د دواړو لاسونو د تلو دپاره دی.(۳)

③ مسند احمد کښې حضرت شقیق رحمه الله فرمانی چه څه حضرت عبدالله رضی الله عنه اوحضرت ابوموسی رضی الله عنه سره ناست ووم نو ابویعلی حضرت عبدالله رضی الله عنه ته اووئیل که یو سړی ته اوبه ملاؤ نشی نو مونځ به کوی که نه دې باندې حضرت عبدالله رضی الله عنه اوفرمائیل چه تاته یاد نه دی چه حضرت عمار حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته څه وئیلی وو. دائې وئیلی وو چه ائې عمر رضی الله عنه ! تاسو ته یادنه دی چه کله څه او تاسو نبی کریم ﷺ اوښانوته لیږلی وو ، هلته څه جنب شوم او ښاوره کښې لت پت شوم ، واپس چه راغلو او نبی کریم ﷺ ته مو دا بیان اوکړو نو نبی کریم ﷺ په خندا شو او وې فرمائیل چه تادپاره دومره کافی وو ، بیا نبی کریم ﷺ خپل لاسونه یوبل سره یوځائې کړل اوخپل مخ باندې ئې یو خل لاسونه اومخل دا یو ضرب شو.په دې باندې حضرت عبدالله رضی الله عنه اوفرمائیل چه حضرت عمرفاروق رضی الله عنه په دې باندې قناعت اونکړو .دې آوریدو سره حضرت ابوموسی رضی الله عنه اوفرمائیل چه بیا به ته ددې آیت سره څه کوې چه کوم سورة نساء کښې دې. چه کله تاسو اوبه اونه مومئ نو د ښاوري قصد اوکړئ.ددې جواب حضرت عبدالله رضی الله عنه ورنکړې شو او وې فرمائیل چه واوره که مونږ خلقو ته د تیمم کولو اجازت ورکړو نو ډیر ممکن دی چه کله دوی ته یخې اوبه معلومې شی نو تیم به کوی.(۴)

دامام شافعی رحمه الله استدلال:- سورة مائده کښې فرمان دې چه ﴿فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ﴾ دا په خپلو لاسونو اومخ باندې اومګئ. په دې حضرت امام شافعی رحمه الله استدلال کوی چه تیم په پاکه ښاوره کول او په هغې ګردآلود کیدل چې په لاسونو باندې ګرد راشی او هغه په مخ اولاسونو رانښکل ضروری دی.

---

۱) الطبری : ۹۶۷۳،)-

۲) صحیح بخاری کتاب التیمم باب التیمم هل ینفخ فیها : ۳۳۸، صحیح مسلم: : ۳۶۸، ابوداود : ۳۲۶، نسائی : ۳۱۶ ابن ماجة: ۵۶۹)-

۳) احمد: ۲۶۳/٤، وهو حسن ترمذی: ۱٤٤)-

۴) صحیح بخاری کتاب التیمم باب التیمم ضربة : ۳٤۷، صحیح مسلم: ۳٦۸، ابوداود: ۳۲۱، نسائی: ۳۲۰)-

Scanned with Ca

دابوجهم په حدیث استدلال:- لکه څنګه چه د حضرت ابوجهم ﷺ حدیث مبارک کښې تیر شو چه هغوئ نبی کریم ﷺ اولیدلوچه استنجا ئې کوله او سلام ئې اوکړو. او په دې کښې دا هم دی چه نبی کریم ﷺ فارغ شو نو یو دیوال ته ورغلل او هغه ئې خپلې همسا سره اوګرولواوبیائې په دې لاس اووهلو او تیمم ئې اوکړو.بیا فرمان دې چه الله ﷻ تاسو باندې ستاسو دین کښې تنګی او سختی کول نه غواړی بلکه هغه تاسو پاکول غواړی ، ددې وجې ئې د اوبو نه ملاویدو په وخت کښې ښاوري سره تیمم مباح کړو او تاسو باندې ئې خپل انعام اوکړو چه تاسو شکر ادا کړئی.

تیمم د امت محمدی خصوصیت دې:- نو دا امت دې نعمت سره مخصوص دې لکه څنګه چه بخاری او مسلم شریف کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ماته پنځه څیزونه داسې راکړې شوی دی چه خما نه مخکښې هیچا ته نه دی ورکړې شوی.

① دیوې میاشتې په مسافت سره خما مدد رعب سره اوکړې شوچه دومره پورې به زما رعب د دشمن په زړونو کښې وی کوم ځائې ته چې سړې په یو میاشت کښې رسیږی)

② خما دپاره ټوله زمکه جمات او پاکونکې جوړه کړې شوه.

③ خما په یو امتی باندې چه کله د مونځ وخت راشی نو هغه دې هم هغه ځائې کښې مونځ ادا کړی دهغه ځمات او دهغه اودس هغه سره هم هلته موجود دی (حالانکه د نورو امتونو عبادت به صرف د هغوی په عبادت خانو کښې وو)

④ مادپاره د غنیمت مال حلال کړې شو اودا خما نه مخکښې حلال نه وو.

⑤ ماته شفاعت راکړې شوې دې ، ټول نبیان علیهم السلام خپلو خپلو امتونو طرفته لیږلې شوی وو خو څه ټولې دنیا دپاره لیږلې شوې یم.([1])

د امت محمدی درې خصوصیات:- اود صحیح مسلم حوالې سره هغه حدیث تیر شوې دې چې مونږ ته په ټولو خلقو درې فضیلتونه راکړې شوی دی.

① ځمونږ صفونه د فرشتو د صفونو پشان جوړکړې شوی دی.

② ځمونږ دپاره ټوله زمکه جمات جوړه کړې شوه.

③ او ددې زمکې ښاوره ځمونږ دپاره اودس جوړ کړې شوې دې کله چه مونږ ته اوبه ملاؤ نشی.

قوله تعالی:: إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُورًا ۝

دې آیت کریمه کښې الله ﷻ حکم فرمائی چه خپلو مخونو او خپلو لاسونو باندې مسح کوئی چه کله تاسوته اوبه ملاؤ نشی.الله ﷻ معاف کولو والا او بخښونکې دې.دهغه لوئې ذات د عفو شان دې چه هغه ذات ستاسو دپاره داوبو نه ملاویدوپه وخت کښې تیمم مشروع کړو او د مونځ کولو اجازت ئې درکړو .که تاسو دپاره ئې داسې نه وې کړې نو تاسو ته به ډیر زیات مشکلات وو. خکه دې آیت کریمه کښې مونځ په ناقص حالت کښې منع کړې شویدې لکه د نشې حالت کښې یا جنابت حالت کښې یا د بې اودسۍ حالت کښې ، نو ترکومې چې تاسو په خپلو خبرو باندې په خپله نه پوهیږئی ، اوباقاعده غسل او شرعی طور سره اودس اونکړئی نو تاسو مونځ نه شئ کولې. خو که د بیمارئی حالت کښې یې اوکله چه اوبه نه ملاویږی نو د غسل او اودس قائمقام تیمم جوړ کړې شوې دې.نود الله ﷻ په دې احسان مونږ دپاره شکر ادا کول پکاردی. الحمد الله.

په سورة نساء کښې دتیمم واقعې بیانولو وجه:- دتیمم رخصت نازلیدو واقعه هم واورئی.مونږ داواقعه دسورة نساء ددې آیت مبارک په تفسیر کښې په دې وجه بیانوؤ چه سورة مائده کښې د تیمم کوم آیت

---

[1]) صحیح مسلم کتاب المساجد باب المساجد: ۵۵۲)-

دې هغه ددې نه پس نازل شوې دې.ددې دلیل دادې چه دا ظاهره ده چه دا ایت دشرابو دحرمت نه مخکښې دې او شراب د جنګ احد نه څه وخت پس حرام شوی دی کله چه نبی کریم ﷺ دبنونضیر دیهودیانو محاصره کړې وه. او د سورۀ مائده آخری آیت مبارك چه دې کښې نازل شوهغې کښې بالخصوص د دې سورت ابتدائی حصه ده .نو مناسب هم دا دی چه د تیمم شان نزول هم دا بیان کړې شی ، الله ﷻ دې نیك توفیق راکړی او هم په هغه بهروسه ده.

دتیمیم د ایت شان نزول:- مسند احمد کښې دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها حضرت آسماء رضی الله عنها نه یو هار اوغوښتلو د قرض په طور چه دابه بیا واپس کوم ، هغه سفر کښې ورك شو.نبی کریم ﷺ ددې د تلاش کولو دپاره کسان اولیږل او هغوئ ته هغه هار ملاؤ شو. خو دې کښې دمونځ وخت راغلو او دوی سره اوبه نه وې ،هغوئ بې اودسه مونځ اوکړو او نبی کریم ﷺ چه ورغلل نو ددې شکایت نې ورته اوکړو. نو دې باندې د تیمم حکم نازل شو. حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه اوفرمائیل چه ائې ام المومنین حضرت عائشه رضی الله عنها ! الله ﷻ دې تاسو ته جزاء خیردرکړی ، چه تاسو ته کوم تکلیف هم رسیدلې دې په الله قسم د هغې نتیجه ستاسو او دټولو مسلمانانو دپاره خیر وی. (۱)

پورتنئ واقعې په دویم روایت:- بخاری شریف کښې دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمانی مونږ سفر کښې وو بیداء یا ذات الجیش کښې خما هار اوشلیدو او پریوتلو. اوددې تلاش دپاره نبی کریم ﷺ سره د قافلې ایسار شو. اوس نه مونږ سره اوبه وې او نه هلته میدان کښې اوبه وې.خلقو خما شکایت خما پلار حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته اوکړو چه اوګوره .مونږ ددې په وجه په څه مصیبت کښې اخته شو. نو خماپلار حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه مالره راغلواو په هغه وخت کښې نبی کریم ﷺ خما په پتون باندې خپل سر مبارك ایښودې وو او اوده وو. راتلو سره نې ماته اووئیل چه تا نبی کریم ﷺ او نوروخلق ایسار کړی دی.او اوس نه هغوئ سره اوبه شته او نه دلته میدان کښې اوبه په نظر راځی. الغرض څه نې ښه اورټلم او الله ﷻ خبر چه څه څه نې ماته اووئیل.او څه نې تشو تشو کښې وهلم.خو ما لږ هم تندې تریو نه کړو اونه مې څه حرکت اوکړو چه هسې نه د نبی کریم ﷺ آرام کښې څه خلل راشی.تولە شپه تیره شوه.سحر خلق پاسیدل خو اوبه نه وې ، الله ﷻ دتیمم آیت نازل کړو او ټولو تیمم اوکړو. حضرت اسید بن حضیر رضی الله عنه اوفرمائیل چه ائې دابوبکرصدیق رضی الله عنه کورنئ ! دا څه ستاسو رومبې برکت نه دې.اوس کله چه مونږ هغه اوښې راوچت کړو چه په کومې څه سوره ووم نو دهغې لاندې هار ملاؤ شو. (۲)

پورتنئ واقعه په دریم روایت :- مسنداحمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ خپلې بې بی صاحبې حضرت عائشه رضی الله عنها سره اولات جیش باندې تیر شو ،د ام المومنین حضرت عائشه رضی الله عنها یمنی مهرو هار مات شوې او چرته پریوتې وو او ورك شوې وو. او ددې تلاش کښې مونږ دلته ایسار شو. نبی کریم ﷺ سره ټولو مسلمانانو دلته شپه تیره کړه سحر چه پاسیدلو نو اوبه نه وې ،نو الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته اجازت ورکړو چه ښاوری سره تیمم اوکړی او پاکی حاصله کړی. او مسلمانان نبی کریم ﷺ سره اودریدل او زمکه باندې نې لاسونه اووهل او چه کومه ښاوره به دې پوری لګیدلې وه دهغې د څنډلو نه بغیر نې هغه په خپلو مخونو باندې رابنکل تر اوګو پوری او لاسونه ترلاندې ترخونو پوری (۳).

پورتنئ واقعه په څلورم روایت:- د ابن جریر رحمه الله روایت کښې دی چه ددې نه مخکښې حضرت ابوبکر

---

(۱) احمد: ۵۷/۶، صحیح بخاری کتاب التیمم باب اذا لم یجدماء ولاترابا: ۳۳۶، صحیح مسلم: ۳۶۷، ابوداود: ۳۱۷، نسائی: ۳۲۳، ابن ماجة: ۵۶۸)-

(۲) صحیح بخاری کتاب التیمم باب : ۱، صحیح مسلم: ۳۶۷ ، نسائی : ۳۱۰)-

(۳) احمد : ۲۶۳/٤ ، ابوداود : ۳۲۰، وسنده صحیح)-

صدیق ﷺ حضرت عائشه رضی الله عنها ته په غصه شوې وو لیکن د تیمم اجازت نه پس په خوشحالئ خوشحالئ خپلې لورته راغلو.او وې فرمائیل چه ته ډیره مبارکه ئې مسلمانانو ته دومره لونې اجازت ملاؤ شو. بیا مسلمانانو یو ضرب سره خپل مخونه اومخل او دویم ضرب سره ئې خپلې څنګلې او ترخونو پورې لاسونه اومخل. (۱)

د تیمم د ایت یو بل شان نزول:- ابن مردویه کښې روایت دې چه حضرت اسلع بن شریك ﷺ اوفرمائیل چه نبی کریم ﷺ په اوښه باندې سور روان وو ، دیخنئ موسم وو ، دشپې وخت وو ، سخته یخنی وه.او څه جنب شوم او بل طرفته نبی کریم ﷺ د کوچ کولو اراده اوکړه نو ما دې حالت کښې د نبی کریم ﷺ اوښه چلول خوښ نه کړل اودې سره ماته دا خیال هم راغلو که یخواوبه سره لامبم نو مړ به شم یا به بیمار شم.ما پټ شان یو انصاری ته اوئیل چه تاسو ددې اوښې واګې اونیسئ ، نو هغه اوښه نیولې وه اوتلو اوما اور بل کړو او ګرمو اوبو سره مې غسل اوکړو ، بیا مې منډه اووهله او قافلې ته اورسیدم.نبی کریم ﷺ ماته اوفرمائیل چه اسلع څه خبره ده د اوښې چال څنګه بدل شوې دې ؟ ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! ما دا نه وه روانه کړې بلکه فلانی صحابی ﷺ داروانه کړې وه.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ولې ما ورته ټوله واقعه اووئیله نو دې باندې دا آیت ﴿لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ﴾ نه تر ﴿عَفُوًّا غَفُوْرًا﴾ پورې نازل شو. (۲)دا روایت بل سند سره هم مروی دی.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ	
آیا نۀ دی کتلی تا	هغه کسانو ته
آیا تادهغې خلقو حالت نه دې لیدلې	
اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ	
چې ورکړې شوې ده ورته	څه حصه د کتاب نه هغوئ اخلی ګمراهی اوغواړی دا
چې دکتاب(علم) نه ورته لویه برخه ورکړې شوې وه	اوبیا هم ګمراهی اخلی اودا غواړی
اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ۝ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَعْدَآئِكُمْ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ	
چې تاسو ورکه کړئ لار	اوالله ښه پیژنی دشمنان ستاسو اوکافی دې الله دوست
چې تاسود حقې لارې نه بې لارې کړی اوالله ﷻ ته ستاسودشمنان ډیرښه معلوم دی اوتاسودپاره دالله ﷻ ملګرتیاکافی ده	
وَّكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيْرًا ۝ مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا	
اوکافی دې الله مددګار	بعضې دهغه کسانونه چې یهودیان دی
اوتاسودپاره دالله پاک مددکافی دې	.....د هغه کسانو نه چې یهودیان شوی دی
يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا	
اړوی	خبرې دخایونو دهغې نه اووایئ هغوئ واوریدله مونږه او مونږ او نۀ منل
خپلې خلق لفظونه دخپلو مناسبوخایونونه اړوی راړوی (اوچه تاسوته راشی) نووائی مونږ واوریدل او مونږ نۀ منو	

(۱) طبری : ۹۶۷۵)-
(۲) طبرانی : ۸۷۵،)-

وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَّرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ
واوره	درته دې واو نهٔ رولې شی	اولفظ راعنا وائی	په تاوولو	دژبوخپلوسره
او واوره(انې نبی)الله دې درته واونهٔ روی او د راعنا په الفاظو ژبې پرې تاو راتاو کړی
وَطَعْنًا فِي الدِّيْنِ ط وَلَوْ اَنَّهُمْ قَالُوْا سَمِعْنَا
او په عیب وئیلوسره	په دین کښې	او که چرې هغوئ	وئیلې وې	چې واوریده مونږ وینا (ستا)
اود دین اسلام په قبلولو(مسلمانانوته)پیغورونه ورکوی|اوکه ددې (لفظونو) په خائې دوئ وئیلې چې مونږ واوریدل
وَاَطَعْنَا وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ
اواومنلو مونږه حکم	اولفظ واوره	او اوګوره مونږ ته	خامخاوه داخبره	بهتره	دهغوئ دپاره
اوتابعداری کوو(ستاسو) او واوره (خبره زمونږ) او زمونږ لحاظ اوکړه| نو دابه ددوئ دپاره ډیره بهتره وه
وَاَقْوَمَ لا وَلٰكِنْ لَّعَنَهُمُ اللّٰهُ بِكُفْرِهِمْ فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝
اوزیاته صحیح	خو لیکن	لعنت کړې دې په هغوئ الله	په سبب دکفردهغوئ	نونهٔ راوړی ایمان	مګر لږ
اودموقعې مطابق خبره به وې|خوپه دوی باندې الله ﷻ دکفرپه وجه لعنتونه ورولی دی نو ډیرکم په کښې ایمان راوړی

قوله تعالی:: اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يَشْتَرُوْنَ الضَّلٰلَةَ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ تَضِلُّوا السَّبِيْلَ ۝

دیهودیانو په کتاب الله عمل نه کول:- الله ﷻ فرمائی چه دیهودیانو یو قابل مذمت خصلت داهم دې چه ګمراهی دهدایت په مقابله کښې اختیاروی. په نبی کریم ﷺ باندې چه څه نازل شوی دی هغې نه مخ اړوی .او چه کوم علم الله ﷻ د خپل طرفنه دوی ته ورکړې دې نو هغه هم شاته غورځوی. ددوی کتابونوکښې پخپله هم د نبی کریم ﷺ باره کښې بشارتونه موجود وو. خود خپلو مریدانو نه دوی خیرخیرات اخلی او ددې په لالچ کښې دوی دا نه ظاهروی بلکه دې سره دا غواړی چه پخپله مسلمانان هم ددې نه واړوی،دالله ﷻ دکتاب نه منکرشی، هدایت او ریښتونې علم پریږدی.الله ﷻ ستاسو دښمنانونه ښه خبر دې.هغه لوئې ذات تاسو د دښمن نه خبرداروی چه تاسو دوی دهوکه نکړی.تاسو دپاره دالله ﷻ حمایت کافی دې.تاسو یقین اوساتئی چه کوم خلق الله ﷻ ته ټیټیږی الله ﷻ دهغوئ ضرور مددکوې اودهغوئ مددګار جوړیږی .

قوله تعالی:: مِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ

دیهودیانو دالله په کتاب کښې تحریف کول:- دریم آیت چه د لفظ من نه شروع کیږی ، په هغې کښې بیان دجنس دپاره دې.لکه ﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْاَوْثَانِ﴾ کښې.بیا د یهودیانو د هغه ډلې ذکر کوی چه کومو تحریف کړې وو ، ددې نه مراد دا دې چه هغوئ د کلام الله مطلب بدلوی،اود الله تعالی چې کوم مراد وی د هغې خلاف تفسیرکوی.او دا کاردوی په قصد سره کوی.اودې سره دوی کلام الله باندې افتراء کوی او ددې مرتکب کیږی.

قوله تعالی:: وَيَقُوْلُوْنَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ

د یهودو په پیغمبر ﷺ پورې توقې کول:- بیا فرمائی چې دوی وائی چه انې پیغمبر ﷺ! چه څه تاسو اووئیل مونږ هم واوریدل لیکن مونږ منلو والا نه یو.خیال اوکړئی اوددوی کفر اوالحاد اوګورئی چه په قصد سره ناپاکو الفاظو سره اظهار خیال کوی.او وائی چه تاسو واورئی او الله ﷻ دې اوکړې چه تاسو

واونرئی یا دا مطلب چه تاسو واورئی اوستاسو دې واونه ریدئی شی لیکن رومبې مطلب زیات بهتر دې.دا ونیل ددوی د خندا په طور وو ، الله ﷻ دې په دوی لعنت اوکړی.

وَرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ ۚ

د نبی کریم ﷺ په حق کښې گستاخی کول:- او ﴿رَاعِنَا﴾ به ئې ونیل چه ددې نه به په ظاهره دا گنړلې کیدل چه دا خلق وانی چه مونږ طرفته غوږ کیږده.لیکن هغوئ به ددې نه مراد دا اخستو چه تاسو ډیرلو ئې والا یئ ، ددې پوره مطلب ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا ﴾ تفسیر کښې تیر شوې دې.مقصد دادې چه کوم ئې ظاهرول ، دهغې خلاف خپلې ژبې اړوی او د طعن په طور خپلو زړونو کښې پټ ساتی.در اصل دا به دوی د نبی کریم ﷺ بې ادبی او گستاخی کوله. نو دوی ته هدایت کولې شی چه دوی دې داسې الفاظ پریږدی چه دهغې معنی دوه وی.او صفا صفا دې اووائی چه مونږ واوریدل ، تاسوځمونږ عرض واورئی،تاسو ځمونږ طرفته اوگورئی.دا وینا ددوی دپاره بهتر ده او هم دا صفا او ریښتونی اومناسب خبره ده.خو ددوی زړونه د نیکئ نه لرې دی. اصل ایمان دپاره ددوی زړونو کښې خائې نشته دي.ددې جملې تفسیر هم مخکښې تیر شوې دې ، مطلب دادې چه نفع ورکولو والا ایمان دوی کښې نشته دي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	أُوتُوا الْكِتَابَ	آمِنُوا	بِمَا	نَزَّلْنَا
ائې هغه کسانو	چې درکړې شوې دي کتاب	ایمان راوړئ	په هغه (قران)	چې نازل کړې دي مونږه
ائې دکتاب خاوندانو (یهودو)	په هغه کتاب ایمان راوړئ	کوم چه مونږ نازل کړې دي		
مُصَدِّقًا	لِمَا	مَعَكُمْ	مِنْ قَبْلِ	أَنْ نَطْمِسَ	وُجُوهًا
چې تصدیق کونکې دي	دهغه کتاب	چې تاسوسره دي	وړاندې ددې نه	چې مونږه بدل کړو	مخونه
چې ستاسود کتاب تصدیق کونکې دي	د دې نه وړاندې (ایمان راوړی)	چې مونږ مخونه بدل کړو			
فَنَرُدَّهَا	عَلَىٰ أَدْبَارِهَا	أَوْ نَلْعَنَهُمْ	كَمَا	لَعَنَّا	أَصْحَابَ السَّبْتِ ۚ
پس اوگرخوو هغه	شاگانو طرف ته	یالعنت اوکړو په هغوئ	الکه چې	لعنت کړې وؤ مونږه	دخالی د ورځې په خلقو
او هغه شاطرف ته واړوؤ	یاپرې داسې لعنت اوکړو	چې دخالی د ورځې په خاوندانو	چې موکړې وؤ		
وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ	مَفْعُولًا ۝	إِنَّ اللَّهَ	لَا يَغْفِرُ	أَنْ يُشْرَكَ	بِهِ
اودی	حکم دالله	خامخا کیدونکی	بیشکه الله	نه معاف کوی دا خبره	چې شریك جوړ کړې شی	دهغه سره
اودالله ﷻ حکم ضرور پوره کیدونکی دي	.....		الله ﷻ خو بس یوشرک نه معاف کوی			
وَيَغْفِرُ	مَا	دُونَ ذَٰلِكَ	لِمَنْ يَشَاءُ ۚ	وَمَنْ	يُشْرِكْ
اومعاف کوی	هغه گناه	چې ماسوا وی	دهغې نه	هغه چاته چې خوښه ئې شی	او هغه څوك چې شریك جوړ کړی
اوددې نه سوا چه هرڅومره گناهونه وی	چې غواړی نو معاف کوی ئې	او چا چې			
بِاللَّهِ	فَقَدِ افْتَرَىٰ	إِثْمًا	عَظِيمًا ۝		
دالله سره	نو هغه جوړ کړل	دروغ	لوئ		
الله ﷻ سره شریک پیدا کړو	نوهغه ډیرلوئي دروغ جوړ کړل په الله باندې				

قوله تعالی:: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ آمِنُوا بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِمَا مَعَكُمْ

دنافرمانو شکلونه مسخ کیدل:- الله ﷻ یهودیانو او نصرانیانو ته حکم فرمانی چه ما خپل زبردست کتاب په خپل بهترین نبی ﷺ نازل کړي دي چه په دي کښې پخپله ستاسو د کتاب تصدیق هم دي په دي ایمان راوړئی ددي نه مخکښې چه ستاسو صورتونه مسخ شی او سترګې مو د مخې په خانې شاته شی.یا دامطلب چه ستاسو څهرې به مسخ کړو،او سترګې غوږونه او پوزې ټول هر څه مو ختم شی.بیا مو دا مسخ څهر هم ختمه شی.داعذاب ددوی د کړو دي.دوی هم حق نه آوری او باطل طرفته او هدایت نه ضلالت طرفته روان دی.نو الله ﷻ دوی ته تنبیه ورکوی چه څه به هم داشان ستاسو مخونه الټه کړم چه تاسو به الټه روان یئ اوستاسوسترګې به بدلې شی.او هم داشان تفسیر بعضو د ﴿إِنَّا جَعَلْنَا فِيٓ أَعْنَاقِهِمْ﴾ الخ آیت هم کړي دي.غرض دا چه دا د ډیر خراب مثال او ګمراهئ او هدایت نه د لرې والی بیان اوشو.

دامام مجاهد تفسیر:- حضرت مجاهد رحمه الله نه مروی دی مطلب دادي چه مونږ په ریښتیا تاسو دحق لارې نه آړوو. اوګمراهئ طرفته مومتوجه کووؤ. مونږ به تاسو کافران کړو.او ستاسو څهرې د شادوګانو په شان کړو.

د کعب احبار رضي الله عنه د دې ایت په اوریدو اسلام قبلول:- ابوزید رحمه الله فرمانی چه دا واپس کول دا وو چه د حجازد زمکې نه ئې د شام ښارونو ته اورسول.دا هم تیر شوی دی چه ددې آیت په آوریدو سره حضرت کعب احبار رضي الله عنه اسلام قبول کړي وو. ابن جریر کښې دی چه د حضرت ابراهیم رحمه الله مخکښې د حضرت کعب احبار رضي الله عنه د اسلام راوړلو ذکر اوشو نو دوی اوفرمائیل چه حضرت کعب احبار رضي الله عنه دحضرت عمر فاروق رضي الله عنه زمانه کښې اسلام قبول کړي وو. دې بیت المقدس ته تلو او مدینې ته راغلو او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هغه ته ورغلو او وې فرمائیل انې کعب رضي الله عنه ! مسلمان شه. هغوئ جواب ورکړو چه ته خو په قران کښې وائې چه د چا توراة اوچت کړو او بیا هغوئ دا اوچت نه کړو یعنی عمل ئې پر اونکړو نو دهغوئ مثال د خر په شان دي چه په هغه بوج اچولې شوې وی .اوداهم تاسو ته معلومه ده چه څه هم دهغه خلقو نه یم چه د چا نه توراة اوچت کړې شوې دي.په دې باندې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه پریښودو. تر دې چه دې حمص ته اورسیدو او هلته ئې واوریدل چه یو سړی چه ددوی د کورنئ نه وو ددې آیت مبارك تلاوت اوکړو. هرکله چه هغه دا آیت مبارك ختم کړو نو دې اوویریدو چه هسې نه ددې آیت وعید ما ته راونه ګرځی.او هسې نه چه ځما خوله هم واوړی.ده زر اووئیل ﴿ یارب اسلمت ﴾ انې ځما ربه ما ایمان راوړو. بیا حمص نه واپس شو او خپل وطن یمن ته راغلو او تردې چه خپل کور والو سره اسلام کښې داخل شو. (۱)

د کعب احبار د ایمان راوړو بل روایت:- ابن ابی حاتم کښې د حضرت کعب احبار رحمه الله واقعه داشان مروی ده چه دده استاد ابومسلم جلیلی به دې په دې ملامته کولو چه تا نبی کریم ﷺ ته په راتلو کښې سستی کړی ده. بیا ئې هغه اولیږلو چه لاړشه اوګوره چه نبی کریم ﷺ هم هغه پیغمبر دي چه د چا خوشخبری او صفتونه په توراة کښې دی.دوی راغلل او وې وئیل چه کله څه مدینې منورې ته اورسیدم نو ما هلته یو کس اولیدو چه دقران پاك تلاوت ئې کولو چه انې اهل کتابو مونږ چه کوم کتاب نازل کړي دي او تاسو سره چه کوم کتاب ریښتونې دي ، په دې باندې ددې نه مخکښې ایمان راوړلی چه مونږ ستاسو څهرې ختمې کړو او دا الټه کړو. څه زر راوچت شوم او زر زر مې غسل اوکړو او خپله څهره باندې مې لاس راښکلو چه هسې نه ایمان راوړلو کښې ما باندې ناوخته شی او ځما څهره الټه نشی.بیازر راغلم او مسلمان شوم.(۲)

---

(۱) ابن جریر)-

(۲) ابن ابی حاتم)-

Scanned with Ca

قوله تعالی:: أَوْنَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّا أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ
په یهودو د الله د لعنت بیان:- بیا فرمائی یا خو به مونږ په دوی لعنت اوکړو لکه څنګه چه د خیالی ورځې په خلقو لعنت کړې وو یعنی کومو خلقو چه د خیالی په ورځ حیلو بهانو سره کبان ښکار کولو حالانکه هغوئ ددې کار نه منع کړې شوی وو. اودهغې نتیجه دا شوه چه هغوئ نه شادوګان او خنزیران جوړ شو. ددوی تفصیلی واقعه به په سورة اعراف کښې راشی انشاء الله.
قوله تعالی:: وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا
دالله د فیصلې اټل والې:- بیا فرمائی چه دالله ﷻ کارونه به پوره کیږی او هرکله چه هغه یو حکم ورکوی نو هیڅوک نشته دې چه ددې مخالفت او ددې ممانعت اوکړی.
قوله تعالی:: إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِۦ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُ
الله شرک نه معاف کوی:- بیا خبر ورکوی چه څوک الله ﷻ سره شرک کوی نو الله ﷻ دهغه ګناهونه نه معاف کوی. یعنی چه کوم سړې الله ﷻ سره داسې وخت کښې ملاقات اوکړی چه هغه مشرک وی نو هغه باندې د بخشش دروازې بندې دی. ددې جرم نه سوا نور ګناهو نه که هر څنګه وی چا ته چې ئې اوغواړی نو بښی یې. ددې آیت کریمه متعلق ډیر احادیث مونږ په په اختصار سره ذکر کوو.
اولنې حدیث:- حدیث په حواله مسند احمد .دالله ﷻ په نیز د ګناه درې قوانین دی.① یو خوهغه چه الله ﷻ دهغې هیڅ پرواه نه کوی.② دویم هغه چه په هغې کښې الله ﷻ هیڅ نه پریږدی.③ دریم هغه چه الله ﷻ هغه بالکل نه بخښی .
کومه ګناه چه الله ئې نه بښی:- نو کوم چه هغه نه بخښی نو هغه شرک دې.الله ﷻ فرمائی چه الله ﷻ سره څوک شرک کوی نو الله تعالی هغه نه بښی.اوبل ځائې کښې ارشاد دې چه څوک الله ﷻ سره شرک اوکړی په هغه جنت حرام دې.
کومه ګناه چه الله ئې بښی:- او چه د کوم دیوان الله تعالی سره څه وقعت نشته دې هغه د بنده خپل ځان باندې ظلم کول دی.د هغې ګناه تعلق الله تعالی سره دې.د یو ورځې روژه چه کومه هغه پریخودې وی .یا مونځ نو الله ﷻ هغه بښی.او چه دکوم دیوان د الله ﷻ په نیزد څه وقعت نشته دې هغه دبنده پخپل ځان ظلم کول دی او دهغې بدله او قصاص ضروری دې.(۱)
دویم حدیث:- دویم حدیث مبارک کښې دی په حواله د مسند بزار دالفاظو رووبدل سره د هغې مطلب هم دادې(۲) دریم حدیث په حواله مسند احمد ،ممکن دی چه الله ﷻ هره ګناه اوبښی مګر هغه سړې چه دکفر په حالت کښې مړ شی ا و هغه سړې چه هغه بل بنده قتل کړې وی.(نو دهغوی بښنه نه کوی) (۳)
څلورم حدیث:- څلورم حدیث په حواله دمسنداحمد .الله فرمائی چه ائې بنده ! ته چه کومې پورې ځما عبادت کوې او ځما نه نیک امید ساتې نو څه به ستا خطاګانې معاف کوم ، ائې ځما بنده که ته د ټولې زمکې برابر ګناهونه اوکړې اوما ته راشې نو څه تاته د هغې مغفرت اوکړم خو په دې شرط چه تا ماسره شرک نه وی کړې.(۴)
پنځم حدیث:- په حواله د مسند احمد ، چه کوم بنده لا اله الا الله اووائی ، بیا هم په دې باندې دې وفات شی نو هغه به ضرور جنت ته ځی.دې آوریدو سره حضرت ابوذر ﷺ تپوس اوکړو اګر چه هغه

---

(۱) احمد: ۲٤۰/٦ ،)-
(۲) البزار ۳٤۳۹ ،)-
(۳) احمد: ۹۹/٤، نسائی : ۳۹۸۹ وسنده صحیح)-
(٤) احمد: ۱٥٤/٥، وسنده حسن)-

Scanned with Ca

زنااو غلا کړي وی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اګر چه هغه زنا او غلا کړي وی.دري ځل هم دا سوال او جواب اوشو. دځلور سوال په جواب کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اګر چه د ابوذر پوزه خړه وی.حضرت ابوذر ؓ دهغه ځائې نه خپل څادر اوخندلو او لاړو او دې نه پس به ئې چه کله دا جمله وئیله نو وئیل به ئې اګرچې د ابوذر پوزه په خاورو ککړه وی.(۱)

دابوذر ؓ په بل روایت سره :- دا حدیث بل سند سره هم مروی دې خو هغې کښې لږ شان زیاتوالی دی. په هغې کښې دی چه حضرت ابوذر ؓ فرمائی چه څه نبی کریم ﷺ سره مدینه منوره کښې روان ووم. مونږ د احد غر ته کتل ، دې کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ائې ابوذر ؓ ! ما اوئیل چه لبیک یارسول الله ﷺ.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واوره ! که ماسره ددې غر برابر هم سره زر وي نو ما به دا نه غوښتل چه دا ماسره تر دري ماښامو پوري پاتې شی ، سوا د هغه دینار نه چه کوم څه د قرض خلاصولو دپاره کیږدم.اوباقی ټول مال دالله تعالی لار کښې داشان داشان خرچ کړم. نبی کریم ﷺ نبی او ګس طرفته لپې اوشیندلې.بیا څه وخت پس مونږ روان وو چه نبی کریم ﷺ ماته آواز اوکړو اووې فرمائیل چه چاسره دلته زیاتی وی نوهلته به ورسره کمې وی.خو چه څوک چې دا شان او داشان خرچ اوکړی او نبی کریم ﷺ خپلې لپې به خپلې مخې او ګس طرفنه ډکولې او اشاره به ئې کوله. بیا څه تلو نه پس ئې اوفرمائیل چه ائې ابوذر ! چه څه راځم ته دلته اودریږه. نبی کریم ﷺ تشریف یوړو ، او خما نظر نه غائب شو ما آوازونه آوریدل ، زړه مې بې آرامه شو چه هسې نه په تنهائی کښې څوک دښمن ورته نقصان اورسوی.ماقصد اوکړو چه ورشم خو دې سره ماته د نبی کریم ﷺ دا فرمان یاد شو چه تر کومې پورې څه رانشم نو ته دلته اوسه. نو څه هلته ولاړوم په دې کښې نبی کریم صلی الله علیه وسلم راغلو.نو ما ورته اوئیل چه یارسول الله ﷺ دا آوازونه څنګه وو؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ما ته حضرت جبریل ؑ راغلې وو او فرمائیلی ئې وو چه ستاسو امت کښې څوک وفات شی او هغه الله تعالی سره څوک شریک کړې نه وی .نوهغه به جنت ته داخلیږی .ما اووئیل اګر چه هغه زنا او غلاکړې وی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اګر چه هغه زنا او غلا کړې وی. (۲)

د ابوذر ؓ حدیث په لږ زیادت سره:- داحدیث بخاری اومسلم کښې هم دی. او بخاری او مسلم کښې داهم دی چه حضرت ابوذر ؓ فرمائی چه څه د شپې اووتلم نو اومې کتل چه نبی کریم ﷺ یواځې تشریف اوړی نو خما خیال راغلو چه کیدې شی نبی کریم ﷺ خپل ځان سره څوک نه بوځی.نو څه د سپوږمئ رڼا کښې نبی کریم ﷺ پسې روان ووم. هرکله چه نبی کریم ﷺ شاته اوکتل نو څه ئې اولیدلم او تپوس ئې اوکړو چه ته څوک ئې ؟ ما اوونیل ابوذر ، الله ﷻ دې ما ستاسو نه قربان کړی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه راځه ما پسې راروان شه .مونږ لږ مخکښې لاړو.بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه (په دنیا کښې) د زیات مال دولت مالک به د قیامت په ورځ کمی والا وی.مګر هغه چه چاته الله ﷻ مال ورکړي وی ، اوهغه دغه مال مخکښې روستو نیکو کارونو کښې خرچ کوی.بیا څه لږ شان تلو نه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم څه یو ځائې کښې کینولم اودهغه ځائې نه ګیرچاپیره کانړی وو. او نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خما واپسئ پورې دلته ناست اوسه. بیا نبی کریم ﷺ مخکښې لاړل تردې چه خما نظر نه غائب شو. نبی کریم ﷺ زیات وخت تیر کړو.بیا ما اوکتل چه نبی کریم ﷺ تشریف راوړی او په خوله مبارکه وائی او راروان دی چه اګر چه زنا ئې کړې وی اګر چه غلا ئې کړې وی.هرکله چه ماته راورسیدل نو څه صبر نه شوم او تپوس مې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! الله ﷻ دې ما ستاسو نه قربان

---

(۱) صحیح بخاری کتاب اللباس باب الثیاب الابیض : ۵۸۲۷، صحیح مسلم: ۹۴)-

(۲)صحیح بخاری کتاب الاستئذان باب من اجاب بلبیک : ۶۲۶۸صحیح مسلم:کتاب الزکاة باب الترغیب فی الصدقة حدیث ۱)

کړی،دې میدان کښې تاسو چا سره خبرې کولې،ما واوریدل چه څوک تاسو ته جواب درکوی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه حضرت جبریل ﷺ وو. ماته راغلو چه خپل امت ته خوشخبری واوروه چه څوک مری او هغه الله تعالی سره شریك نه وی جوړ کړې هغه به جنتی وی.ما اووئیل چه ائې جبریل ﷺ ! اګر چه هغه زنا کړې وی اواګر چه هغه غلا کړې وی.نو حضرت جبریل ﷺ اوفرمائیل چه آو.ما بیا تپوس اوکړو،هغوئ جواب راکړو چه آو. ما بیا هم دا تپوس اوکړو نو وې فرمائیل چه آو.او اګر چه هغه شراب څکلی وی.(۱)

د شرک نه پرهیز کونکې جنتی دې:- شپږم حدیث په حواله د مسند عبدبن حمید .یو سړې نبی کریم ﷺ ته راغلو او وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! واجب کوونکې څیز کوم یو دې ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل کوم سړې چې داسې حالت کښې مړ شی چه هغه شرك نه وی کړې نو هغه دپاره جنت واجب دې ، او څوك چه داسې حالت کښې مړشی چه هغه شرك کړې وی نو هغه دپاره جهنم واجب دې (۲).

پورتنې حدیث په دویم سند سره:- هم دا حدیث مبارك بل طریق سره مروی دې.اوپه هغې کښې دی چه کوم سړی الله تعالی سره شرك نه وی کړې او هغه مړ شی نو هغه دپاره بخښش حلال دې،که الله ﷻ غواړی نو هغه ته به عذاب ورکړی او که غواړی نو هغه به اوبښی.څوك چه الله تعالی سره شرك اوکړی نو الله ﷻ هغه نه بښی.او دې نه سوابښی (ابن ابی حاتم).

پورتنې حدیث په دریم سند سره:- او بل سند سره مروی دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه همیشه د مغفرت مستحق وی ترڅوچې پردې اوچتې نکړې شی.تپوس اوکړې شو یارسول ﷺ ! پردې اوچتیدو نه څه مراد دی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې شرك نه کوی اوالله ﷻ سره ملاقات اوکړی نو هغه دپاره دالله ﷻ مغفرت حلال شو ، که الله ﷻ غواړی نو عذاب به ورکړی اوکه غواړی نو دې به اوبښی.بیا نبی کریم ﷺ آیت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ﴾ تلاوت کړو. (مسند ابویعلی).

موحد جنتی دې:- اووم حدیث په حواله د مسند احمد سره نقل دې، چه کوم سړې مړ شی او هغه الله ﷻ سره شرك نه وی کړې نو هغه به جنت ته داخلیږی.(۳)

دامت د بښنې یو عجیبه زیری:- اتم حدیث په حواله د مسند احمد نقل دې. یو ځل نبی کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ ته راغلو او وې فرمائیل چه ستاسو رب ﷻ ماته اختیار راکړې دې چه څه دا خوښ کړم چه دخپل امت اویا زره کسان جنت ته بې حسابه داخل کړم یا دا خبره خوښه کړم چه الله ﷻ کوم څیز خما دامت دپاره محفوظ کړې دې هغه خوښ کړم.نو صحابه کرام ﷺ اوئیل چه آیا الله تعالی به ستاسو دپاره هغه څیز اوساتی.ددې اوریدو سره نبی کریم ﷺ دننه تشریف یوړو ، بیا ئې تکبیر اووئیلو او بهر ئې تشریف راوړو او وې فرمائیل چه خما رب ﷻ ماته اویا زره کسانو پورې زیاتوالې راکړو اوهغه پته حصه هم.حضرت ابوایوب انصاری ﷺ چه کله دا حدیث بیان کړو نو حضرت ابورهم ﷺ سوال اوکړو چه هغه پټ څیز څه دې ؟ دې سره خلقو دوی ته څه وئیل شروع کړل چرته ته او چرته د نبی کریم ﷺ اختیارشوې څیز.ابوایوب انصاری ﷺ اوفرمائیل چه ترکومې خمونږ ګمان دې اودا بالکل یقین ته نزدې دې،هغه داچه هغه څیز جنت ته تګ دې دهرهغه سړی دپاره چه په ریښتونی زړه سره ګواهی ورکړی چه الله ﷻ یو دې،اودهغه نه سوابل معبود نشته دې اومحمد ﷺ دهغه رسول اودهغه بنده دې . (۱)

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب المکثرون هم المقلون:٦٤٤٣، صحیح مسلم کتاب الزکاة باب الترغیب ف الصدقة حدیث (۲:

(۲) صحیح مسلم کتاب الایمان باب الدلیل علی من مات لا یشرک به شیئا : ۲٦۹ عن جابر ﷺ)-

(۳) احمد: ۳/۷۹)-

Scanned with Ca

چې مشرک نه وی جنتی دی:- نهم حدیث په حواله د ابن ابی حاتم نقل دی. یو سړی د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! ځما وراره حرامو نه لاس نه نیسی ، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دهغه دینداری څنګه ده ؟ وې وئیل چه مونځګزار دی او موحد دی حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه لارشه اودهغه نه دهغه دین په طوردهبه طلب کړه، که انکار ئې اوکړو نوهغه نه واخله.هغه لارو اوهغه نه ئې طلب کړو.هغه انکار اوکړو. هغه واپس راغلو او نبی کریم ﷺ ته ئې خبر ورکړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ماته معلومه شوه چې هغه په دین باندې ولاړ دی. نودې باندې دا آیت مبارک نازل شو چه ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ﴾ الخ.(۲)

د شرک نه بیزاری د غلبې سبب دی:- لسم حدیث په حواله د حافظ ابو یعلی ، یو سړی نبی کریم ﷺ ته راغلو او وې وئیل چه یارسول الله ﷺ !ما هیڅ یو حاجت یا حاجت والا پرې نښودو اوټول هرڅه مې اوکړل.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آیا ته دا ګواهی نه ورکوې چه الله ﷻ نه سوابل څوک د عبادت لائق نشته دی او محمد ﷺ دهغه رسول دی .درې ځل هغه دا اووئیل چه آو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا به په ټولو باندې غالب شی.(۳)

په یوه خبره د دوزخ مستحق جوړیدل:- یولسم حدیث په حواله د مسند احمد ، حضرت ابوهریره ﷺ ضم ضم ابن جوش یمامی ته اووئیل چه اې یمامی یو سړی ته هیڅ کله دا مه وایه چه الله ﷻ به تانه بښی یا به تا جنت ته نه داخلوی.یمامی رضی الله عنه اوفرمائیل چه دا خبره خو مونږ خلق خپلو رونړو او دوستانو سره غصه کښې وایو.دوی ورته اوفرمائیل چه خبردار دا بالکل مه وایه.واورئی ما نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه بنی اسرائیلو کښې دوه سړی وو،یو خو عبادت کښې ډیر زیات ښه وو او بل خپل ځان باندې زیاتی کولو والا وو.او دواړه خپلو کښې دوستان او رونړه وو. عابد چه به کله دا بل سړی په څه ګناه کښې اوکتلو نو وئیل به ئې چه اې دوسته منع شه. نو هغه به جواب کښې وئیل چه ما خپل رب ته پریږده اوهغه ما باندې نګهبان جوړ کړې نه ئې.یو ځل عابد اووئیل چه په الله ﷻ قسم تا به هغه ذات بالکل اونه بخښی یا به دې جنت ته داخل نکړی. الله ﷻ هغه ته فرښته اولیږله چه هغوئ د دواړو روحونه قبض کړل. هرکله چه دا دواړه الله ﷻ ته پیش شو نو الله ﷻ دې ګناهګاره ته اووئیل چه ځما رحمت سره جنت ته داخل شه او دې عابد ته ئې اووئیل چه آیا تاته حقیقی علم وو ؟آیا ته ځما په هر څیزباندې قادر ئې؟دې جهنم طرفته بوځئ.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په هغه ذات قسم چه هغه په لاس کښې دابوالقاسم روح دی،هغه د خپلې ژبې نه یوکلمه داسې اوویسټله چه هغې دده آخرت تباه کړو(۴)

څوک چې ما بخښونکې منی:- دولسم حدیث مبارک په حواله د طبرانی.چه چا ددې خبرې یقین اوکړو چه څه ډګناه په بخښش قادر یم نو څه هغه اوبخښم او هیڅ پرواه نه وی تردې چه هغه ماسره شریک جوړ نه کړی.(۵)

د الله د رحمت غلبه:- دیارلسم حدیث په حواله د بزار ابویعلی.چه په کوم عمل باندې الله ﷻ د ثواب وعده کړې ده نو هغه مالك الملك ضرور پوره کوی.او چه په کوم باندې ئې د سزا وئیلی دی دهغې اختیار دی.(۱)

---

۱) احمد: ۴۱۳/۵، مجمع الزوائد : ۳۷۴/۱۰،)-

۲) طبرانی : ۴۰۶۳، مجمع الزوائد: ۷/۵،)-

۳) مسند ابو یعلی : ۳۴۳۳ ، وسنده صحیح مجمع الزوائد : ۸۳/۱۰)-

۴) احمد : ۴۲۳/۲، ابوداود : کتاب الادب فی النهی عن البغی : ۴۹۰۱، وسنده حسن)-

۵) الطبری :)-

Scanned with Ca

حضرت ابن عمر ﷺ فرمائی چه مونږ صحابه کرامو ﷺ به د قاتل باره کښې،دیتیم دمال باره کښې،او پاکو ښځو باندې د تهمت لګولو باره کښې ، او د دروغو ګواهئ ورکولو باره کښې ، هیڅ شك شبه نه کوله. تردې چه آیت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ﴾ نازل شو.نو صحابه کرام ګواهئ نه منع شو (۲)(ابن ابی حاتم)دابن جریرروایت کښې دی چه د کومو ګناهونو ذکرقران پاك کښې شوې دې او هغه ګناهونه څوك هم کوی نودهغه جهنمی کیدو باره کښې مونږ ته هیڅ شك نه وو. تر دې چه مونږ ته دا آیت نازل شو ، هرکله چه مونږ داواوریدو نو مونږ د ګواهئ ورکولو نه منع شو او ټول ا مور مو الله تعالی ته اوسپارل.(۳)

د نبی ﷺ شفاعت د لویو ګناهګارانو دپاره دې:- دبزاریوروایت کښې دی چه چا به کبیره ګناه کوله نو مونږ به هغوئ دپاره استغفار نه کولو. تر دې چه د مونږ نبی کریم ﷺ نه دا آیت مبارك واوریدلو او نبی کریم ﷺ ا وفرمائیل چه ما خپل شفاعت په خپل امت کښې د کبیره ګناه کوونکو دپاره روستو کړې دی.(۴)

د الله د رحمت ایت:- ابوجعفر رازی نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمائی کله چې دا آیت ﴿يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا﴾ نازل شویعنی اې ځما هغه بندګانو چه پخپلوځانونو باندې موظلم کړې دې تاسو ځما د رحمت نه مه مایوسه کیږئ.نو یو سړې واوریده او دا تپوس ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ شرك کولو والا هم ؟ نبی کریم ﷺ داسوال کول خوښ نه کړه .بیا نبی کریم ﷺ آیت ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ﴾ اولوستو (۵).

د ابن کثیر تبصره:- د سورة تنزیل (زمرا) آیت مشروط دې تو بې سره ، نو چه کوم سړې دکومې ګناه نه توبه اوباسی او الله ﷻ طرفته رجوع اوکړی اګر چه باربار اوکړی ، نو دمایوسه کیدو والا آیت کښې د توبې شرط ضرور دې ګنی دې کښې به شرك هم راشی او بیا به مطلب صحیح نه وی.ځکه چه دې آیت مبارك کښې وضاحت سره موجود دی چه الله ﷻ مشرك نه بخښی .خوددې نه سوا نور ګناهونه بخښی.یعنی اګر چه ده توبه نه وی ویستې .د دې مطلب سره دا آیت امید ورکولو والا دې .اود زیات امید طمع ددې نه پیدا کیږی .والله اعلم.

قوله تعالی:: وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا ۝

بیا فرمائی چه څوك الله سره شرك اوکړی نوهغه ډیره لویه ګناه اوکړه لکه څنګه چه آیت مبارك کښې دی چه شرك ډیره لویه ګناه ده.

دټولو نه لویه ګناه:- بخاری او مسلم کښې حضرت ابن مسعود ﷺ نه مروی دی چه ما اووئیل یارسول الله ﷺ ! دټولو نه لویه ګناه کومه یوه ده ؟ وې فرمائیل چه الله ﷻ سره شریك جوړول.حالانکه هغه ذات ته پیدا کړې ئې.(۶) بیا پوره حدیث مبارك بیان شوې دې ،ابن مردویه کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه څه تاسو ته د ټولو نه لویه ګناه ښایم.هغه الله ﷻ سره شرك کول دی.بیا حضرت نبی کریم ﷺ ددې آیت مبارك آخری حصه تلاوت کړه. بیا د مور پلار نافرمانی کول.بیا حضرت نبی کریم ﷺ دا آیت مبارك تلاوت اوفرمائیلو چه ﴿أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ﴾ یعنی ځما شرك ادا کړئی او د خپل مور پلار شکر

---

(۱) مسند ابی یعلی : ۳۳۱٦، البزار : ۳٦۳۵،)-

(۲) الطبری : ۹۷۳۷، ابن ابی حاتم :)-

(۳) ابن ابی حاتم :)-

(۴) البزار : ۳۲۵٤، وسنده حسن)-

(۵) الطبری : ۹۷۳۵، ابن جریر)-

(۶) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی (فلا تجعلوا لله انداداً) : ۸۵٤۰ ، صحیح مسلم: ۹٦)-

Scanned with Ca

ادا کړئی او خما طرفته واپس کیدل دی.(۱)

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ	
آیا تا اونۀ کتل هغه کسانو ته چې پاک ښکاره کوی	
آیاته هغه خلقو ته نۀ ګوری	
اَنْفُسَهُمْ ؕ بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ۝	
خانونه خپل بلکه الله پاکوی هغه څوك چې اوغواړی اوکولې به نشی ظلم په هغوی د تار هومره	
چې خپل خانونه پاکدامن ښکاره کوی بلکه الله ﷻ چې د چاباره کښې اوغواړی نوهغه پاکوی اوپه	
اُنْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ وَكَفٰى بِهٖۤ اِثْمًا مُّبِيْنًا ۝	
اوګوره څرنګې تړی هغوی په الله باندې دروغ اوکافی دی دادروغ ګناه ښکاره	
هغوی به د ذرې هومره ظلم اونشی اوګوره دوی څنګه په الله ﷻ باندې دروغ تړی اودا ښکاره ګناه کافی ده	
اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ يُؤْمِنُوْنَ	
آیاتا اونۀ کتل هغه کسان چې ورکړې شوې ده حصه د کتاب هغوی ایمان راوړی	
ته خلقو ته نۀ ګورې چې د کتاب (تورات دعلم نه) څه حصه ورته ورکړې شوې ده اوحال دادې چې ایمان راوړی	
بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰۤؤُلَآءِ	
په وهمی خبرو اوپه شیطان باندې او وانې په حق دهغه کسانو کښې چې کافران دی دا	
په وهمی اوشیطانی څیزونوباندې .....اود کافرو باره کښې وانی چې دا خلق	
اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ۝ اُولٰٓئِكَ	
زیات په نیغه دی دهغه کسانو نه چې ایمان نې راوړې دې دحیشیته دلارې دا(وینا کونکی)	
دمسلمانانو په نسبت په بهتره لار روان دی	
الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ	
هغه کسان دی چې لعنت کړې دې په هغوی الله اوهغه څوك چې لعنت اوکړی پرې الله	
چې الله ﷻ پرې لعنت کړې دې .....اوپه چا چې الله ﷻ لعنت اوکړی	
فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ۝	
نو هرګز به بیا اونۀ مومې ته هغه دپاره څوك مددګار	
نوهیڅوک به دهغه مددګار بیانۀ مومې	

قوله تعالی:: اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ بَلِ اللّٰهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ

(۱) ابن مردویه ۸)-

خوله باندې تعریف او د خودپسندئی مذمت:- دیهودیانواو نصرانیانو قول وو چه مونږ دالله ﷻ اولاد او د هغه نیازبین یو.او وئیل به ئې چه جنت ته به صرف یهود داخلیږی یا نصرانیان.ددوی دقول تردید کښې دا آیت ﴿اَلَمْ تَرَ﴾ الخ ، نازل شو.

د ایت شان نزول:-او په قول د مجاهد ﷺ ددې آیت شان نزول دادې چه دې خلقو به خپل بچی امامان جوړول او وئیل به ئې چه دوی بې گناه دی.داهم نقل دی چه ددوی خیال وو چه خمونږ بچی فوت شوی دی هغوئ خمونږ دپاره الله تعالی د نزدیکت ذریعه ده ، خمونږ سفارشیان دی او مونږ به هغوئ پاک کړی.نو دا آیت مبارك نازل شو.حضرت ابن عباس ﷺ دیهودو دخپلو بچو د مخکښې کولو واقعه بیانوی او فرمائی چه دروغژن دی ، الله ﷻ یو گناهگار د یو بې گناه په وجه نه پاکوی.دا به ئې وئیل چه خمونږ بچی بې گناه دی نو ددوی پشان مونږ هم بې گناه یو.

د چاپه مخامخ تعریف کولو حرمت:- اوونیلې شوی دی چه دا آیت د نورو مدح بیانولو رد کښې بیان شوې دې.صحیح مسلم شریف کښې دی چه مونږ ته حضرت نبی کریم ﷺ حکم اوکړوچه دمدح کوونکی خوله د ښاورې نه ډکه کړئ.(۱)

بخاری او مسلم شریف کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ یو خل یو سړې اوکتلو چه د بل سړی تعریف اومدح ئې کوله نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تا د خپل ملگری څټ مات کړو. بیائې اوفرمائیل که چرې تاسو کښې څوك د څه ضرورت دپاره دبل تعریف کوی نو داسې وائې چه خه فلانې سړې دا شان گنړم.حقیقی پاکوالئ چه دالله ﷻ په نیزهم داشان ده داسې په خله دې تعریف نه کوی.(۲)

دخپل ځان په خپله د تعریف کولو ممانعت:- مسنداحمد کښې د حضرت عمر بن خطاب ﷺ قول دې چه څوك اووائی چه څه مومن یم هغه کافر دې او چه څوك اووائی څه عالم یم ، هغه جاهل دې او څوك چې اووائی چه جنتی یم ، هغه دوزخی دې.(۳) ابن مردویه کښې ددوی دا فرمان هم نقل دې چه ماته تاسو باندې دټولو نه زیاته ویره ددې خبرې ده چه یو سړې خودپسندی کوی او په خپل ځان فخر کوی.(۴)

مسنداحمد کښې دی چه حضرت معاویه ﷺ ډیر کم حدیث بیانولو.اوډیری کمې جمعې به وی چه په هغې کښې دوئ داڅو حدیثونه نه وی بیان کړی چه چا سره الله تعالی د نیکئ اراده اوکړی نو هغه ته دین کښې پوهه ورکوی.اودا مال خوږ او شین رنگې دې ، اوڅوك چې دا حق طریقه حاصلوی نو په هغې کښې به برکت وی. تاسو خپلو کښې د یو بل د مدح او تعریف کولو نه پرهیز اوکړئ ځکه چه دا چاړه رابښکل دی.(۵)

په مخامخ دچا د مدحې کولو مذمت:- حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه انسان سحر خپل دین دپاره اوڅی او بیا کله چه واپس شی نو ده سره دده دین نه هیڅ نه وی.(همداشان) هغه چا سره ملاؤ شی اومدح او تعریف ئې اوکړی ، او قسمونه خوری او وائی چه ته داسې نې او ته داسې نې ، حالانکه نه هغه دده د نقصان مالك دې او نه دده د فائدې او زیاته ممکنه ده چه ددې تعریفی کلمو نه پس دهغه نه داکارونه اونشی لیکن ده خو الله ﷻ خفه کړو ، بیا دوی هم دا آیت مبارك تلاوت کړو(ابن جریر) او

---

۱) صحیح بخاری کتاب الزهد باب النهی عن المدح : ۳۰۰۲ ابوداود : ٤٨٠٤، ترمذی : ۲۳۹۳، ابن ماجة: ۳۷٤۲)-

۲) صحیح بخاری کتاب الادب باب مایکره من ا لتمادح : ٦٠٦١ ، صحیح مسلم: ۳۰۰۰)-

۳) احمد:).

٤) ابن مردویه)-

۵) احمد : ۹۳/٤)- دا ړومبئ جمله دوې نه ابن ماجه کښې هم مروی ده.

Scanned with Ca

ددې تفصیلی بیان به آیت ﴿فَلَا تُزَكُّوٓا أَنفُسَكُمْ﴾ تفسیر کښې انشاء الله راشی.نو دلته ارشاد دې چه الله ﷻ هغه ذات دې چه د چاپاکول اوغواړی هغه پاکوی.ځکه چه هغه دټولوځیزونو حقیقی اواصلی مالك دې

قوله تعالی::وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا۝

د فتیل تفسیر:- بیا فرمائی چه الله ﷻ د چا دیو تار هومره نیکی هم نه ضائع کوی د فتیل معنی ده دکهجورې ګټکی مینځ کښې چه کوم تار وی هغه دې، او مروی دی چه هغه تار چه هغه څوك ګوتو سره تقسیم کړی.

قوله تعالی::انْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ

بیا فرمائی چه ددوی افتراء ته اوګورئی چه څنګه دالله ﷻ د اولاداو د هغه د محبوب کیدو دعوې کوی.اوځنګه وائی چه مونږ به صرف څو ورځې په اور کښې یو.او څنګه دخپلو مشرانو په نیکو اعمالو باندې اعتماد کوی.حالانکه دیو عمل بل ته نفع نه ورکوی.لکه ارشاد دې چه ﴿تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ﴾ دایو جماعت وو چه تیر شو دهغوئ اعمال به هغوئ سره او ستاسو اعمال به تاسره وی.

قوله تعالی::وَكَفَىٰ بِهِ إِثْمًا مُّبِينًا۝

بیا فرمائی چه ددوی دا ښکاره کذب او افتراء ددوی دپاره بس ده.

قوله تعالی::أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ

د جبت معانی:- ①د﴿ **جبت** ﴾معنی حضرت فاروق اعظم وغیره نه نقل دی چه ددې معنی جادو او طاغوت او شیطان ده.([1]) ② دا قول هم دې چه ﴿ **جبت** ﴾ د حبش لفظ دې ، ددې معنی شیطان ده.شرك بت پرستی،بت،جادو وغیره هم راغلې ده③ بعضې وائی چه ددې نه مراد حیي بن اخطب دې.④بعضې وائی چه کعب ابن اشرف دې ⑤یو حدیث مبارك کښې دی چه فال او مارغانو ،، یعنی ددوی نومونه یا وینا یا الوتل یا ددوی نومونو سره ګمان کول ، او زمکه باندې نښې راښکلو سره معامله کول دا ټول جبت دی ([2]) ⑥ حضرت حسن رحمه الله وائی چه جبت نه مراد د شیطان دهرکه ده .([3])

د طاغوت معنی:- دطاغوت نسبت مخکښې سورة بقره کښې تیر سوی دی.دلته د دوباره بیانولو ضرورت نشته دې.حضرت جابر ﷺ نه چه کله د طاغوت باره کښې سوال کیږی نو فرمائی چه دا کاهنان خلق چه دوی ته به شیطان راتلو.②حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه دوی دانسان صورت کښې شیطانان دی.اودوی ته خپلې خپلې جګړې راوړی.او دوی حاکمان منی .③حضرت امام مالك رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد هرهغه څیز دې چه د الله نه سواد هغه کیږی.(اوهغه خلقو معبود جوړ کړی وی)

قوله تعالی::وَيَقُولُونَ لِلَّذِينَ كَفَرُوا هَٰؤُلَاءِ أَهْدَىٰ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا سَبِيلًا۝

د ایت شان نزول:- بیا فرمائی چه ددوی جهالت او بې دینی اوخپل کتاب سره کفر دې حد ته رسیدلې دې چه کافرانو ته په مسلمانانو فوقیت ورکوی.ابن ابی حاتم کښې دی چه حیی بن احطب او کعب بن اشرف د مکې خلقو ته ورغلل نود مکې خلقو دوی ته اووئیل چه تاسو اهل کتاب او اهل علم یئ نو اووائی چه مونږ زیات بهتریو که حضرت محمد ﷺ.هغوئ اوئیل چه ته څوك ئې اوهغه څوك دې.نو اهل مکه اووئیل چه مونږ صله رحمی کوو. تیار اوښان ذبح کوو. خلقو باندې لسی (شوملې) څکوو. غلامان آزادوو. حاجیانوته اوبه ورکوو. او حضرت نبی کریم ﷺ خو بیلتون راوستونکې دې ، هغه خمونږ رشتې ختمې کړې ، دهغوئ ملګری خو هغه حاجیان وو کوم غله وو. چه کوم بنی غفار د قبیلې

---

[1]) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (وان کنتم مرضی .....) قبل حدیث : ٤٥٨٣)-

[2]) ابوداود کتاب الکهانة باب فی الخط وزجر الطیر: ٣٩٠٧ ،)-

[3]) احمد : ٤٧٧/٣، ابوداود: ٣٩٠٧)-

Scanned with Ca

نه دی.اوس اووانې چه مونږ ښه یو اوکه هغه ؟ نو دې دواړو اوونیل چه ته بهتر نې او ته په نیغه لار نې ، نودې باندې دا آیت مبارك نازل شو چه ﴿إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ﴾ نازل شو. (۱)

دایت په باره کښې دویم شان نزول:- د بنو وائل او بنو نضیر څوسردارانو چه کله عربو کښې د حضرت نبی کریم ﷺ خلاف سازشونه کول او یو عظیم جنګ دپاره نې تیارې کولو او په هغه وخت کښې چه کله قریشوته راغلل نو قریشو دوی عالم او درویشان اوګنړل او اوتپوس نې تري اوکړو چه اووانې څمونږ دین ښه دې او که دحضرت محمد ﷺ ، نو دې خلقو اوونیل چه ته په ښه دین باندې یې او په زیاته صحیح لار نې.نو دې باندې دا آیت مبارك نازل شو او خبر ورکړې شو چه دا لعنتی ډله ده ، او ددوی دنیا او آخرت کښې هېڅوك مددګار نشته دې ،ددې وجې صرف کفار خپل خان سره یو خانې کوی په طور د چاپلوسۍ او دخوشامدئی داکلمات دخپلو معلوماتو خلاف وائی لیکن یادساتئی چه دوی نشی کامیابیدئی.نوهم دا اوشو ، دوی یو زبردست لښکر تیار کړو او ټول عرب نې خان سره یو خائې کړل او دې خلقو مدینه منوره باندې حمله اوکړه.تردې چه حضرت نبی کریم ﷺ دمدینې منورې نه ګیرچاپیره کنده اوکنسته. خو آخر د دنیا خلقو اوکتل چه ددوی مکر هم دوی ته خار جوړ شو. اوهم دوی نقصانیان او تاوانیان شو. نامراد او ناکام ، خالی لاسونه پاتې شو ، بلکه دوی نامرادئی او مایوسۍ سره اونقصان سره واپس شو.الله ﷻ دمومنانو کفایت په خپله اوکړو ، او خپل قوت او عزت سره نې دا خلق اوشرمول ، **فالحمدلله الکبیرالمتعال.**

أَمْ لَهُمْ	نَصِيبٌ	مِّنَ الْمُلْكِ					
آیا شته دوئ دپاره	څه حصه	د بادشاهئ نه					
آیا ددوئ (د الله تعالی) په بادشاهئ کښې څه حصه شته							
فَإِذًا	لَّا يُؤْتُونَ	النَّاسَ	نَقِيرًا ﴿۵۳﴾	أَمْ يَحْسُدُونَ	النَّاسَ	عَلَىٰ مَا	
که وی نو بیا به	ورنکړی	خلقو ته	یو پوټې هم	آیا حسد کوی دوئ	خلقو سره	په هغه څیز	
که داسې وې نودوئ به نوروخلقو ته لږ څیزهم نه وې ورکړې				آیا دوئ نوروخلقوسره په دې حسد کوی			
آتَاهُمُ اللَّهُ	مِن فَضْلِهِ ۚ	فَقَدْ آتَيْنَا	آلَ إِبْرَاهِيمَ	الْكِتَابَ			
چې ورکړې دې هغوئ ته الله	دفضل خپل نه	نو ورکړې وؤ مونږه	اولاد د ابراهیم ﷺ ته	کتاب			
چې الله ﷻ په هغوئ خپل فضل کړې دې	(نوورته دې معلومه وی چې) مونږ دابراهیم ﷺ اولاد ته کتاب						
وَالْحِكْمَةَ	وَآتَيْنَاهُم	مُّلْكًا عَظِيمًا ﴿۵۴﴾	فَمِنْهُم	مَّنْ	آمَنَ		
اوحکمت	اوورکړې وؤ مونږه هغوئ ته	بادشاهی	لویه	اونوخینی دهغوئ نه	هغه دی	چې ایمان نې راوړې دې	
او حکمت ورکړې وؤ	اولویه بادشاهی مورکړې وه	نوبیا په هغوئ کښې چاخو پرې ایمان راوړو					
بِهِ	وَمِنْهُم	مَّن	صَدَّ عَنْهُ ۚ	وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ	سَعِيرًا ﴿۵۵﴾		
په هغې	اوبعضې دهغوئ نه	هغه دی	چې مخ نې وارولو دهغې نه	اوکافی دی	دوزخ	شغلې کوونکې اور	
اوچا تري نه مخ اوګرزولو	(او ایمان ئې راونړلو)	او د جهنم ګرم اور دوی دپاره کافی دې					

[1] (ابن ابی حاتم صحیح ابن حبان : الاحسان : ٦٥٣٨ وسنده صحیح)

Scanned with Ca

قوله تعالی:: أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا ۝

دیهودیانو اونصرانیانو د بخل بیان:- دلته په طور د انکار سوال کیږی چه آیا هغوئی د ملك دځه حصی مالکان دی یعنی نه دی.بیا ددوی بخیلی بیانیږی که داسې وې نو دوی چا د لږې شان فائدې رسولو هم روادار نه وو. خاص کر د الله ﷻ دې پیغمبر ته به ئې دومره هم نه ورکولې ځومره چې د کهجورې د گټکی په مینځ کښې پرده وی.لکه بل آیت مبارك کښې دی چه ﴿ قُل لَّوْ أَنتُمْ تَمْلِكُونَ خَزَائِنَ رَحْمَةِ رَبِّي إِذًا لَّأَمْسَكْتُمْ خَشْيَةَ الْإِنفَاقِ ﴾ که تاسو ځماد رب د خزانو مالکان وئ نو تاسو به دخرچ دویرې بالکل منع شوی وئ .اگر چه بنکاره ده چه هغه نشې کمیدې لیکن ستاسو کنجوسی تاسو ویروی.ددې وجې فرمائی چه انسان ډیر بخیل دې.

قوله تعالی:: أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ۖ

ددې بخل دبیان نه پس ددوی حسد بیانوی.چه نبی کریم ﷺ ته الله ﷻ کوم عظیم نبوت ورکړې دې او نبی کریم ﷺ عربو نه دې،بنی اسرائیلو نه نه دې،ددې وجې دوی سوزی او خلق د نبی کریم ﷺ دتصدیق کولو نه منع کوی.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی دلته ﴿النَّاسَ﴾ نه مراد مونږیو نور څوك نه.

فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ۝

په ال ابراهم باندې دالله نعمتونه:- الله ﷻ فرمائی چه مونږ آل ابراهیم ته نبوت ورکړو او کتاب مو ورکړواو تعلیم طریقې مو ورته اوخودلې او په دوئ ته مو بادشاهت ورکړو اودا بنی اسرائیل د حضرت ابراهیم ﷺ اولاد نه وو.،

قوله تعالی:: فَمِنْهُم مَّنْ آمَنَ بِهِ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُ ۚ

د اهل کتابو کفر:- ددې باوجود په دوی کښې بعضې مومنان شو او انعام او اکرام ئې اومنلو.،خو بعضو بیاهم کفر اختیار اوکړو او دائې اونه منل او خلق ئې هم ددې نه منع کړل ، حالانکه هغوئ هم بنی اسرائیل وو نو دوی دخپلو نه هم منکر شوی وو. نوبیا ائې نبی آخرالزمان ! ستاسو نه انکار څه لرې خبره نه ده ، او تاسو هم ددوی نه یئ.(۱)

د کفر دویم مطلب:- دا مطلب هم کیدیشی چه په حضرت محمد ﷺباندې بعضو ایمان راوړو او بعضو نه.نو دا کافر خپل کفر کښې ډیر سخت او ډیر زیات پاخه دی.او دوی دهدایت او حق نه ډیرلرې دی

قوله تعالی:: وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ۝

بیا دوی ته سزا بیانیږی چه دوی دپاره دجهنم سوزیدل کافی دی ، ددوی د کفراوعناد په وجه او دوی دتکذیب په وجه او سرکشئ په وجه ددوی هم دا سزا ده.

إِنَّ الَّذِينَ						
بیشکه هغه کسان						
بیشکه چاچې						
كَفَرُوا	بِآيَاتِنَا	سَوْفَ	نُصْلِيهِمْ	نَارًا ۖ	كُلَّمَا	نَضِجَتْ
چې انکار ئې کړې دې	دآیتونو زمونږ نه	ازرده چه	مونږ داخل کړو هغوئ	اورته	هر کله چې	اوسوزی
زمونږ دآیتونومنلونه انکارکړې دې	اهغوئ به مونږ د جهنم اور ته داخل کړو	هرکله چې دهغوئ څرمنې اوسوزی				

(۱) طبرانی : ۳/۱۱۳-

جُلُوْدُهُمْ	بَدَّلْنٰهُمْ	جُلُوْدًا غَيْرَهَا	لِيَذُوْقُوا	الْعَذَابَ ؕ
څرمني دهغوئ	نو بدلي به کړو مونږ د هغوئ	څرمني	نوري	ادپاره ددي چې وڅکي	عذاب
نومونږ به ورته نوري څرمني ورواغوندؤ	.....	چې دعذاب خوندپه ښه شان اوڅکي			
اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا	حَكِيْمًا ۝	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	
بيشکه الله	دي	غالب	او صاحب دحکمت	اوهغه کسان	چې ايمان ني راوړو	اوعمل ني اوکړو نيک	
الله ﷻ غالب دي اودحکمتونو صاحب دي	اوچا چې زمونږ آيتونه	اومنل	اونيک عملونه ني اوکړل				
سَنُدْخِلُهُمْ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا
داخل به کړومونږ هغوئ	باغونو ته	چې بهيږي به	لاندد هغې نه	نهرونه	همیشه به وی هغوئ	په هغې کښې
هغوئ به داسې باغونوته داخل کړو	چې دهغې لاندې به ولې بهيږي	همیشه همیشه به په هغې کښې اوسيږي				
اَبَدًا ؕ	لَهُمْ	فِيْهَا	اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۫	وَّنُدْخِلُهُمْ	ظِلًّا
تل همیشه	اوی به دپاره دهغوئ	په هغې کښې	بيبيانې	پاکې	اومونږ به داخل کړو هغوئ	سوری
ددوئ ملګرتيادپاره به پاکې بيبيانې ورکولې شی	اوخپلو سورو ته به ني داخل کړو					
ظَلِيْلًا ۝						
ګنړ ته						

قوله تعالی: اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ؕ

د جهنم عذاب او دجنت راحتونه :: د الله ﷻ آيتونه نه منونکی او درسولانو بې عزتی کونکو سزا او ددوی د بد انجام ذکرکيږی، دوی به هغه اور طرفته ديکه کولې شی چه د څلورو واړو طرفونو نه ګيروی او د دوی هرارخ به سوزی .او صرف دا نه بلکه دا عذاب به هميشه وی ،

قوله تعالی: كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ جُلُوْدًا غَيْرَهَا لِيَذُوْقُوا الْعَذَابَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝

يوځرمن به ټې اوسوزی او بله به پرې راشی اوهغه به دسپين کاغذ په شان وی.د يو يو کافر به سل سل څرمني وی.او هره څرمن باندې به قسما قسم او بيل بيل عذاب وی.يو يوورځ کښې به اويازده خل څرمني بدلوی.(۱) يعنی ددوی څرمني ته به اوونيلې شی چه بيا واپس شه نو واپس به شی.

د څرمني بدليدو باره کښې بل روايت:- هرکله چه دحضرت فاروق ﷺ مخکښې ددې آيت مبارک تلاوت اوشو نو هغوئ تلاوت کونکی ته د دوباره تلاوت کولو اوونيل.هرکله چه هغه دوباره اوونيل حضرت معاذ بن جبل ﷺ فرمانی چه څه تاسو ته ددې تفسيراووايم.يو يوساعت کښې سل سل خله به بدلولې شی.دې باندې حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائيل چه ما نبی کريم ﷺ نه هم دا آوريدلی دی (۲)(ابن مردويه وغيره).

په ساعت کښې شل ځله څرمن بدليدل:- دويم روايت کښې دی چه په هغه وخت کښې کعب ونيلی وو چه ماته ددې آيت تفسير ياد دې ما د اسلام قبلولو نه مخکښې لوستې وو. دوی اوفرمائيل چه بيان ني اوکړه که هغه هم هغه شان وو چه څنګه ما نبی کريم ﷺ نه آوريدلې دې نو مونږ به دا قبول کړو ګنی

---

(۱) ابن ابی حاتم)-

(۲) ابن ابی حاتم وابن مردويه)-

Scanned with Ca

مونږ به دې ته هېڅ توجه نه ورکوؤ. نو دوی اوفرمائیل چه یو ساعت کښې یو سل شل ځل وی.دې باندې حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه ما همداشان نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی.(۱)

د څرمنو د غټوالی اندازه:- حضرت ربیع بن انس ﷺ فرمائی چه رومبی کتاب کښیې لیکلی وو چه ددوی څرمنې به څلوینښت لاسونه یا شپږ اویا لاسه وی،او ددوی خیټې به دومره وی چه دې کښې به غرونه راځی.هرکله چه دا څرمنې اور اوخوری نو نورې څرمنې به پیدا شی.یوحدیث مبارک کښې ددې نه هم زیات راغلی دی.مسند احمد کښې دی چه جهنمیان به جهنم کښې دومره غټ غټ وی چه ددوی د غوږ د نرمئی نه واخله تراوګو پورې دیو کال مسافت وی.اود دوی د څرمنې غټوالې به اویا ذراع وی.او ددوی مخامخ غاښونه به د احد دغر هومره وی.(۲)

یوضعیف قول:- او دا هم وئیلې شوی دی چه د څرمنې نه مراد لباس دې .لېکن دا ضعیف دې او دظاهری لفظ خلاف دې.

قوله تعالی::وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ

بیا د نیکو خلقو دانجام ذکر کوی چه هغوئ به جنت عدن کښې وی چه هغې کښې به نهرونه جاری وی چه دوی چرته هم غواړی.نو تلې به شی ، خپلو محلونو کښې باغونو کښې چه په کومو لارو باندې غواړی نو تلئ به شی او هم هلته به (ددوی په خوښه) هغه نهرونه بهیږی.بیا دټولونه اوچته مزه دا ده چه دا ټول نعمتونه به ابدی او همیشګیر وی.نه به په دې کښې زوال وی او نه به په دې کښې کمې وی او نه به دا واپس کیږی او نه به فنا کیږی نه به دا زړیږی اونه به خرابیږی اونه به ختمیږی.

قوله تعالی::لَهُمْ فِيْهَآ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ۫

بیا په هغوی باندې هلته نه حیض راځی او نفاس او ګندګې او خیری او بوئی.د رذیلو صفتونو اوخرابو اخلاقو نه پاکې بیبیانې وی .

قوله تعالی::وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِيْلًا ۝

او دوی به په ګنړو او اوږدو سیورو کښې وی او دا به ډیر د فرحت او سرور اوخوشحالئ سیوری وی.نبی کریم ﷺ فرمائی چه جنت کښې یو ونه ده چه دهغې د سیوری لاندې یو کال پورې یو سور مزل اوکړی .نوهم به د هغې سیورئی ختم نه شی او دا شجرة الخلد ده.(ابن جریر).(۳)

اِنَّ اللّٰهَ	يَاْمُرُكُمْ	اَنْ تُؤَدُّوا	الْاَمٰنٰتِ	اِلٰٓى اَهْلِهَا ۙ
بیشکه الله	حکم کوی تاسوته	چې اوسپارئ تاسو	امانتونه	د امانت خاوندانو ته
..... (مسلمانانو) الله ﷻ تاسوته حکم درکوی چې امانتونه خپلومالکانو ته واپس کړئ				
وَاِذَا حَكَمْتُمْ	بَيْنَ النَّاسِ	اَنْ تَحْكُمُوْا	بِالْعَدْلِ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ
اوهرکله چې فیصله کوئ تاسو	په منځ دخلقو کښې	نوفیصله کوئ	په انصاف سره	بیشکه الله
اوکله چې تاسو دخلقو ترمینځه فیصله کوئ	نو په عدل اوانصاف سره	فیصله کوئ	بیشکه الله	

---

۱) ابن مردویه)-

۲) احمد: ۲/۲۶۰)-

۳) الطبری : ۹۸۷۳)-

Scanned with Ca

نِعِمَّا	يَعِظُكُمْ	بِهٖ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	كَانَ	سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴿۵۸﴾
ډیر ښه دي هغه	چې نصیحت کوي تاسوته	په هغې سره	بیشکه الله	دي	ښه اوریدونکي اوښه لیدونکي
تاسوته ډیرښکلي نصیحت کوي	.....		بیشکه الله ﷻ هرڅه آوري او هرڅه وینې ګوري		

قوله تعالي: اِنَّ اللّٰهَ يَاْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰٓى اَهْلِهَا

د امانت قسمونه او د امانت د ادا کولو تاکید :نبی کریم ﷺ فرمائی چه څوك تاسره دامانت کیږدی نو د هغه امانت اداکړه اوڅوك چه تاسره خیانت اوکړی نوته هغه سره خیانت مه کوه (امام احمد و اهل سنن) (۱)

د ایت عموم:- د آیت الفاظ عام دی ،اودې کښې دالله ﷻ ټول حقوق شامل دی.لکه روژه ، مونځ ، زکوة ، کفاره ، نذر وغیره.او دبندګانو خپلو کښې حقوق هم شامل دی.لکه امانت کښې کیخودې شوې خیز وغیره ، نو څوك چه دا حق نه ورکوی نو دقیامت په ورځ به هغه رانیولې کیږی.

ځناورونه بدله اخستل:- صحیح حدیث مبارك کښې دی چه د قیامت په ورځ به دهر حقدار حق هغه ته ورکولې شی.تر دې چه یود ښکرو چیلئ به یوه بې ښکرو چیلئ وهلې وی نو ددې بدله به هم اخستې شی.(۲)

شهید ته به هم په امانت کښې خیانت نه معاف کیږی:- حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه د شهادت په و جه ټول ګناهونه ختمیږی ، مګر امانت نه ختمیږی ،اګر چه څوك دالله ﷻ لار کښې شهید شی ، هغه به هم د قیامت په ورځ راوستې شی او ورته به اوونیلې شی چه خپل امانت اداکړه. جواب به اوشی چه اوس خو دنیا نه ده ځه ئې چرته نه ادا کړم ؟ فرمائی چه دا څیز به ده ته جهنم کښې په نظر راشی او ده ته به اوونیلې شی چه دا واخله. دې به دا په خپله اوګه باندې واخلي او لاړ به شی.لیکن دا به ترې غوزار شی ، نودې به هم دې عذاب کښې ګرفتار وی.حضرت زاذان رحمه الله چه دا روایت واریدو نو راغلو او دا ئې حضرت براء ﷺ ته بیان کړو. هغوئ اوونیل چه ځما رور ریښتیا وئیلی دی بیا ئې دقران پاك دا آیت مبارك تلاوت کړو. (۳)حضرت ابن عباس ﷺ وغیره فرمائی چه هر نیك اوبد لره هم دا حکم دې.ابوالعالیه رحمه الله فرمائی چه دکوم څیز حکم ورکړې شوې وی او د کوم څیز نه منع شوې وی هغه ټول امانت دی.حضرت ابی بن کعب ﷺ فرمائی چه ښځه د خپل شرمګاه هم امانتداره ده.

حضرت ربیع بن انس رحمه الله فرمائی چه کوم معاملات ستا او نوروپه مینځ کښې وی دا ټول دې کښې شامل دی. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی په دې کښې دا هم داخل دی چه سلطان د اختر په ورځ خلقو ته خطبه ورکړی.

د خانه کعبې چابیانې هم امانت دي:- ددې آیت مبارك شان نزول کښې مروی دی چه کله نبی کریم ﷺ مکه معظمه فتح کړه او اطمینان سره بیت الله شریف ته داخل شونو خپله اوښه باندې سور وو او ط ئې اوکړو ، حجر اسود سره ئې خپله همسا مبارکه اولګوله. ددې نه پس ئې عثمان بن طلحه ﷺ چه د خانه کعبې کنجی به هغه سره وه ،هغه ئې راوغوښتلواو کنجی ئې ترې اوغوښتله . هغه ورته وزکول غوښتل چه په دې کښې حضرت عباس ﷺ عرض اوکړو. یارسول الله ﷺ ! داماته اوسپارنی چه ځما په کورنئی کښې د زمزم اوبه څکول او دکعبې کنجیانې دواړه وی.دې آوریدو سره حضرت عثمان بن طلحه ﷺ خپل لاس روستو کړو. نبی کریم ﷺ ترې دوباره طلب کړه او بیا هم دا واقعه اوشوه. نبی

---

(۱) احمد : ۴۱۴/۳ ، ابوداود : کتاب البیوع باب فی الرجل یاخذ حقه: ۳۵۳۵)-

(۲) صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب تحریم الظلم : ۲۵۷۲ ترمذی : ۲۴۲۰)-

(۳) ابن ابی حاتم)-

Scanned with Ca

کریم ﷺ تري په دریم خل اوغوښتله.حضرت عثمان فرمائی چه دالله ﷻ په امانت سره ئې درکوم نبی کریم ﷺ د کعبې مبارکې دروازه بیرته کړه او دننه داخل شو. هلته چه کوم بتان او تصویرونه وو هغه ټول ئې مات کړل او وې غورزول.د حضرت ابراهیم ﷺ بت هم وو چه دهغه لاس کښې دفال غشی وو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ دې دا مشرکان تباه کړی دحضرت ابراهیم ﷺ دې غشو سره څه کار. بیا ددې څیزونو د ختمولو او تباه کولو او په دې باندې اوبو اچولو نه پس بهر راوتل.دکعبې په دروازه نبی کریم ﷺ اودریدلو او وې فرمائیل چه دالله تعالی نه سوا بل هیڅ څوک معبود نشته او دهغه بال ذات سره هیڅوک شریك نشته. هغه لوئې ذات خپله وعده ریښتیا کړه اودخپل بنده مدد ئې اوکړو او هغه زبردست ذات دې لوئې لښکر ته ئې شکست ورکړو. بیا نبی کریم ﷺ یو اوږده خطبه اوفرمائیله چه په هغې کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د جاهلیت ټول جنګونه اوس ختم شو او ځما دپښو لاندې شو ، که هغه مالی وې او که جانی وی، خود بیت الله شریف د چوکیدارائی او حاجیانو ته د اوبو ورکولو منصب به هغه شان باقی وی .ددې خطبې نه پس نبی کریم ﷺ لا ناست نه وو چه حضرت علی ﷺ راغلو او وې فرمائیل چه یارسول الله ﷺ ! ماته کنجی راکړئی چه د بیت الله شریف د چوکیدارئی او د حاجیانوته د اوبو ورکولو منصبونه دواړه یو ځائې شی. خو نبی کریم ﷺ هغه ته ورنکړه. مقام ابراهیم ئې دکعبې دننه نه راوویستلو او دا نبی کریم ﷺ دکعبې دیوال سره یو ځائې کړو او خلقو ته ئې اوفرمائیل چه ستاسو کعبه داده.بیا نبی کریم ﷺ طواف کښې مشغول شو.لا ئې دوه چکرې نه وې لګولې چه حضرت جبریل ﷺ نازل شو او نبی کریم ﷺ په خپله خوله مبارکه ددې آیت مبارك تلاوت شروع کړو. دې باندې حضرت عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل چه ځما مور پلار دې په تاسو قربان وی ماخو ددې نه مخکښې ستاسو نه ددې آیت مبارك تلاوت نه وو آوریدلی.بیا نبی کریم ﷺ عثمان بن طلحه ﷺ راوبللو او هغه ته ئې کنجی ورکړه او وې فرمائیل چه نن د وفا او نیکئ او د ښه سلوك ورځ ده (۱).

ترقیامته پورې د خانه کعبې د چابیانونکړان:- دا حضرت عثمان بن طلحه ﷺ دې چه دهغه نسل کښې تر ننه پورې دکعبې مبارکې کنجی هم دوی سره ده. او دوی دصلح حدیبیه او فتح مکه په میڼځ کښې اسلام راوړې وو او هغه وخت کښې خالید بن ولید او عمر بن عاص ﷺ مسلمانان شوی وو. ددوی تره حضرت عثمان بن طلحه د احد جنګ کښې مشرکانو سره وو بلکه دهغوئ بیرغ لرونکی وو. او هم هلته دکفر حالت کښې وژلې شوې وو. الغرض مشهوره هم دا دی چه دا آیت مبارك دې باره کښې نازل شوې دې.اوس دا دې باره کښې نازل شوې دې که نه دې ، بهر صورت ددې حکم عام دې لکه څنګه چه دعبدالله ابن عباس ﷺ او محمد بن حنفیه رحمه الله قول دې چه هر ته د امانت د ادا کولو حکم دې.

قوله تعالی::وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ

دعدل او انصاف حکم:- بیا ارشاد دې چه فیصلې عدل سره کوئی.حاکمانو ته د احکم الحاکمین حکم کیږی چه هیڅ حالت کښې دې عدل نه پریږدی.حدیث مبارك کښې دی چه الله ﷻ حاکم سره وی تر کومې چه هغه ظلم اونکړی. کله چه هغه ظلم اوکړی نو هغه دې خپل ځان ته اوسپاری.(۲) یو اثر کښې دی چه دیو ورځې عدل د څلویښتو کالو د عبادت برابر دې.

قوله تعالی::إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ

بیا فرمائی چه د امانت ادا کول او د عدل او انصاف حکم او دغه شان د شریعت ټول احکام او ممنوعات ستاسو د ښیګړې او فائدې څیزونه دی.او ددې امر تاسو ته ستاسو پروردګار کوی.(ابن ابی حاتم).

---

(۱) السیرة النبویة لابن هشام : ٤/٤٢،)-

(۲) ابن ماجة کتاب الاحکام باب التغلیظ فی الحیف والرشوة: ۲۳۱۲، وسنده حسن ترمذی : ۱۳۳۰)-

Scanned with Ca

د ابوهریره ﷺ د روایت په بیانولو کښې خاص طریقه:- اویو روایت کښې دی چه حضرت ابوهریره ﷺ کله ددې آیت آخری الفاظ اووئیل نو خپل په غوږ مبارک کښې ئې دشهادت گوته کیخوده (یعنی اشاري سره ئې آوریدل اوکتل او غوږ اوسترگه باندې ئې گوته کیخوده) او وې فرمائیل چه ما دغه شان رسول الله ﷺ نه آوریدلی دی.راوی دحدیث ابوزکریا رحمه الله فرمائی چه خمونږ استاد مقری رحمه الله هم داشان اووئیل او اشاري سره ئې مونږ ته اووئیل ، دخپل ښی لاس گوته ئې خپلې گسې سترگې باندې کیخوده او ددې سره گوته ئې په خپله گوته باندې کیخوده (ابن ابی حاتم) دا حدیث داشان ابوداودهم روایت کړې دی.(۱)

اوامام ابن حبان رحمه الله هم خپل صحیح کښې دا راوړې دی او حاکم مستدرک کښې او ابن مردویه خپل تفسیر کښې هم نقل کړی دی.ددې سند کښې چه ابویونس رحمه الله دې هغه دحضرت ابوهریره ﷺ مولی دې دهغه نوم سلیم بن جبیر دې.

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	أَطِيعُوا اللَّهَ	وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ	وَأُولِي الْأَمْرِ
اې هغه کسانو	چې ایمان مو راوړې دې	حکم اومنئ دالله	اوحکم اومنئ د رسول	اودخاوندانو دحکم
اې مومنانو دالله ﷻ حکم منئ	اود رسول حکم منئ	اودخپلو(مسلمانانو)حاکمانو حکم منئ		
مِنكُمْ ۖ	فَإِن	تَنَازَعْتُمْ	فِي شَيْءٍ	فَرُدُّوهُ	إِلَى اللَّهِ
ستاسونه	نو بیا که	ستاسو په منځ کښې جګړه راشی	په څه خبره کښې نو واپس کوئ هغه	الله ته	
نوکه تاسوخپلو کښې په یوخبره کښې مختلف شئ	نو هغه الله ﷻ اورسول ته اوسپارئ				
وَالرَّسُولِ	إِن كُنتُمْ	تُؤْمِنُونَ	بِاللَّهِ	وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ	ذَٰلِكَ	خَيْرٌ	وَأَحْسَنُ
اورسول ته	که یئ تاسو	چې ایمان لرئ	په الله	اوپه ورځ د آخرت	دا کار	غوره دې	اوډیر ښه دې
که تاسوپه ربښتیا په الله او په ورځ دآخرت ایمان راوړئ	دا خبره ډیره ښه ده	اوددې انجام ډیر ښه دې			
تَأْوِيلًا ﴿٥٩﴾					
دانجام په لحاظ سره					

قوله تعالی:: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ

دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ اطاعت واجب او دعلماء امراء اطاعت مشروط دې:- صحیح بخاری شریف کښې په روایت دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ مروی دی چه رسول الله ﷻ یو وړوکی لښکر کښې حضرت عبدالله بن حذافه بن قیس لیږلې وو دهغه باره کښې دا آیت مبارک نازل شو.(۲)

دامیر تابعداری صرف په نیکئ کښې ده:- بخاری اومسلم شریف کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ یو لښکر اولیږلو چه دهغې سردار ئې یو انصاری مقرر کړو. یو ځل هغه سخت غصه شو او وې فرمائیل چه آیا تاسو حضرت نبی کریم ﷺ نه وو وئیلی چه ځما تابعداری به کوئی ؟ ټولو اووئیل چه بیشکه دا حکم ئې راکړې دی.وې فرمائیل چه ښه لرگی راجمع کړئی.بیا ئې اور راغوښتلواو او په هغې ئې اولګولو ، بیائې حکم ورکړو چه تاسو اورته وردا خل شئ.یو نوجوان اوفرمائیل چه اې خلقو ! واورئی د

---

(۱) ابوداود کتاب السنة باب فی الجهمیة : ٤٧٢٨)-

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (اطیعوالله واطیعو الرسول) : ٤٥٨٤، صحیح مسلم: ١٨٣٤، ابوداود: ٢٦٢٤، ترمذی : ١٦٧٢)-

Scanned with Ca

اوردبچ کیدو دپاره تاسو دحضرت نبی کریم ﷺ لمن نیولې ده.تاسو تیزی مه کوئی تر کومې چه حضرت نبی کریم ﷺ سره مونږ ملاؤ شوی نه یو.بیا که حضرت نبی کریم ﷺ هم دا اوفرمائیل چه بیشکه تاسو اور ته داخل شئ.نو دا خلق د حضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او ټوله واقعه ئې ورته بیان کړه.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که تاسو اور ته داخل شوی وې نو ټول عمر به اور کښې وئ.واورئی فرمانبرداری صرف نیکئ کښې ده.(۱)

دامیر د اطاعت منل مشروط دی:- ابوداودو کښې دی چه مسلمانانو باندې آوریدل او منل فرض دی.اګر چه ستاسو طبیعت غواړی او ستاسو زړه روستو شی. خو تر هغه وخته پورې دې چه الله تعالی درسول الله ﷺ دنافرمانئی حکم اونکړی.هرکله چه دنافرمانئی حکم ملاؤ شی نو مه ئې آورئی او مه ئې منئ.(۲)

د امیر د اطاعت تاکید:- بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه فرمانی چه مونږ درسول الله ﷺ نه بیعت اوکړو داوریدو او د منلو(چه مونږ به ستا خبره اورو او منو) که مونږ خوشحال یو اوکه نه،که سختی وی که آسانی اګر چه مونږ باندې نورونه ترجیح ورکړی ،او مونږ نه ئې بیعت واخستو چه داهل نه به دهغه کار نه اخلو مګر دا چه تاسو ښکاره کفر باندې هغه اوګورئی او دې باره کښې ستاسو واضح دلیل وی .

امیر که غلام وی هم واجب الاطاعت دې:- بخاری اومسلم شریف کښې دی چه واورئی او اطاعت اوکړئی اګر چه تاسو باندې یو حبشی غلام هم امیر جوړ کړې شی ،اګر چه دهغه سر کشمش دې.(۳)صحیح مسلم کښې دی چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه ماته خلیل (یعنی حضرت نبی کریم ﷺ) وصیت اوکړو د آوریدو او د منلو اګر چه ناقص لاس والا حبشی غلام وی.(۴)دمسلم یو بل حدیث مبارک کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ دحجة الوداع خطبه کښې اوفرمائیل اګر چه تاسو باندې یو حبشی غلام عامل جوړ کړې شی چه هغه تاسو کتاب الله طرفته رابلی نو تاسو دهغه آورئی او منئ.(۵)یو روایت کښې دا الفاظ دی اګرکه غلام حبشی وی چه د هغه اندامونه کټ شوی وی ، دی. (۶)ابن جریر کښې دی چه ځما نه پس به خلق تاسو سره ملاویږی د نیکانو نه نیک او د بدانو نه بد ،تاسو کښې هر یو د هغوی حق حکم آورئی او منئ.اوهغوی پسې مونځونه کوئی.که هغوئ نیکی کوی نوهغوئ لره نفع ده او ستاسو دپاره هم.اوکه هغوئ ګناه کوی نو ستاسو دپاره ښه والې دې او په هغوئ بوج دې .(۷)

دامیر د اطاعت په باره کښې بل حدیث:- حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بنی اسرائیلو کښې مسلسل پیغمبران راغلل ، یو نه پس بل ، او ځما نه پس هیڅ نبی نشته دې.مګر خلفاء به وی ، او ډیر به وی.خلقو تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ بیا مونږ دپاره څه حکم دې.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د رومبې بیعت پوره کړئی بیا دده نه پس والا ، دهغوئ حق هغوئ ته ورکړئ. الله ﷻ به د هغوی نه د هغوی رعیت باره کښې تپوس کوی .(۸)

---

۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب سریة عبدالله بن حذافة: ٤٣٤٠، صحیح مسلم: ١٨٤٠، ابوداود: ٢٦٢٥ نسائی : ٤٢١٠)-
۲) ابو داود کتاب الجهاد باب فی الطاعة: ٢٦٢٦ والبخاری :٧١٤٤، ومسلم: ١٨٣٩)-
۳) صحیح بخاری کتاب الاحکام بآب السمع والطاعة : ٧١٤٢ ابن ماجة: ٢٨٦٠)-
۴) صحیح مسلم کتاب الامارة وجوب طاعة لامراء فی غیر معصیة: ١٨٣٧)-
۵) صحیح مسلم ایضا: ١٨٣٨، نسائی: ٤١٩٧)-
۶) صحیح مسلم ایضا: ١٨٣٨،)-
۷) الطبری : ٩٨٨١ ،)-
۸) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب ما ذکر عن بنی اسرائیل : ٣٤٥٥، صحیح مسلم: ١٩٣٢، ابن ماجة: ٢٨٧١،)-

Scanned with Ca

حضرت نبی کریم ﷺ چه کوم سړي خپل امیرکښې یو کار داسې اوګوری چه دده خوښ نه وی نو ده ته پکار دی چه صبر اوکړی.چه کوم کس د جماعت نه یو لیشت جدا شو نو دې هلاك شو (بخاری او مسلم)[1]

د بیعت نه د انکار کولو ممانعت:- ارشاد دې چه کوم سړي د امیر د اطاعت نه لاس روستو کړی هغه به دقیامت په ورځ الله ﷻ سره د حجت او دلیل نه بغیر ملاقات کوی اوچه څوك داسې حالت کښې مړ شی چه ده بیعت نه وی کړې نو هغه به دجاهلیت په مرګ مړ کیږی.[2] (مسلم).

عبدالله بن عمر وبن ا لعاص ﷺ روایت:- حضرت عبدالرحمان ﷺ فرمائی چه څه بیت الله شریف ته لاړم او اومې کتل چه حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص دکعبې سیوری ته ناست وو، ا و دخلقو یوه ډله جمع وه ، څه هم یو طرفته کیناستم.په هغه وخت کښې حضرت عبدالله ﷺ دا حدیث بیان کړو، څه یو سفر کښې حضرت نبی کریم ﷺ سره ووم ،یو منزل کښې مونږ کوز شو ، چا خپله خیمه صحیح کوله او چا خپل غشی سنبالولو ، او څوك نورو کارونو کښې مشغول شول.مونږ واوریدل چه یو آواز کونکې آواز کوی ، مونږ هغه طرفته متوجه شو نومونږ واوریدل چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه په هر نبی باندې د الله ﷻ طرفنه فرض وی چه خپل امت ته هغه ټولې نیکۍ اوښائی چه کومې ده ته معلوم وی ، او دټولو بدو نه ئې منع کړی چه کومې دده په نظر کښې بدې وی.واورئی ! خما د امت دعافیت زمانه اول زمانه ده ، آخره زمانه کښې به لوئې لوئې مصیبتونه راشی او داسې داسې کارونه به ښکاره شی. چه هغه مسلمانان نه خوښوی ، او ډیرې فتنې به راشی ، یو فتنه به راشی او مومن به ګنړی چه په دې کښې ځما هلاکت دې ، بیا دې نه پس به بله ددې نه لویه فتنه راشی ، او هغې کښې به ده ته دخپل هلاکت یقین راشی ، او هم داشان به فتنې او فسادونه او زبردست آزمینښتونه اوپوره تکلیفونه راځی ، نوکوم سړي چه دا خبره خوښه کړی چه د جهنم نه لرې شی او جنت کښې ځان دپاره حصه جوړه کړی نو ده ته پکار دی چه تر مرګه پوری په الله ﷻ او په ورځ د قیامت پوره پوره ایمان اولری ، او خلقو سره هغه سلوك اوکړی چه کوم ځان دپاره خوښوی.واورئی ! چه چا د امام تابعداری اوکړه نو هغه دخپل لاس قبضه او د خپل زړه میوه هغه ته ورکړه .اوس ده ته پکار دی چه دهغه اطاعت اوکړی ، که بل څوك راشی اودهغه نه دا اخستل غواړی نو پکار دی چه هغه سره جنګ اوکړی.عبدالرحمان ﷺ فرمانی چه ما دا واوریدل نو نزدې ورغلم او ورته مې اووئیل چه تاته څه دالله ﷻ قسم درکوم چه ته اووایه چه تا دا پخپله د حضرت نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دې.او خپل زړه کښې دې محفوظ کړی دې. ما اووئیل چه ګورئی دخپل د ترۀ زوئې حضرت معاویه ته چه هغه مونږ ته د خپل باطل مال نه دخوراك او خپلو کښې د جنګ کولو حکم راکوی. حالانکه الله ﷻ ددې دواړو کارونو نه ممانعت کړې دې.ارشاد دې چه ﴿وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم﴾ ددې آوریدو سره حضرت عبدالله لږ خاموش شو او بیا ئې اوفرمائیل چه د الله ﷻ اطاعت کښې دهغه اطاعت دې او دالله ﷻ دنافرمانۍ حکم چه هغه درکړی نو هغه مه قبلوه.[3](مسلم) دې باره کښې نور احادیث هم ډیر دی.

دخالد بن ولید او عماربن یاسرواقعه:- هم ددې د ممانعت په تفسیر کښې حضرت سدی رحمه الله نه مروی دی چه حضرت نبی کریم ﷺ یو لښکراولیږلو چه دهغې امیر حضرت خالد ﷺ وو. دې لښکر کښې حضرت عمار بن یاسر ﷺ هم وو. دې لښکر چه کوم قوم طرفته تګ غوښتلو روان شو او دشپې په

---

[1] صحیح بخاری کتاب الاحکام بآب السمع والطاعة : ۷۱۴۳، صحیح مسلم : ۱۸۴۹)-

[2] صحیح مسلم کتاب الامارة باب وجوب ملازمة جماعة المسلمین : ۱۸۴۹)-

[3] صحیح مسلم کتاب الامارة باب وجوب الوفاء ببیعة الخلیفة :۱۸۴۴ ابوداود: ۴۲۴۸ مختصرا نسائی : ۴۱۹۶ ابن ماجة: ۳۹۵۶)-

Scanned with Ca

وخت کښې هغه کلی ته اورسیدل او هلته ئې پراؤ اوکړو. دې خلقو ته دخپلو جاسوسانو په ذریعه معلومه شوه او ټول په ټوله دشپې اوتښتیدل .صرف یو سړې پاتې شو ، هغه خپلو کور والو ته اووئیل اوهغوئ ددهٔ دکور ټول مال راجمع کړو ، بیا دشپې په وخت کښې د خالد ﷺ لښکر ته راغلو او معلومه شوه چه حضرت عمار بن یاسر ﷺ ته راغلو، او هغوئ ته ئې اووئیل چه انې ابوالیقظان ما اسلام قبول کړې دې او ګواهی مې ورکړې ده چه دالله ﷻ نه سوا بل معبود نشته دې اودا چه محمد ﷺ د الله تعالی رسول او بنده دې.ځما قوم چه ستاسو واوریدل چه تاسو دلته راغلی یئ نو ټول ددې خانې نه اوتښتیدل.صرف ځه باقی یم.نو آیا صبابه ځما داسلام ماته نفع راکړی ، که نفع نه راکوی نو چه ځه هم اوتښتم. حضرت عمار ﷺ فرمائی چه یقینی طور به اسلام تاته نفع درکوی.ته مه ځه بلکه ایسار شه سحر چه کله حضرت خالد ﷺ لښکر کشی اوکړه نو سوا ددې سړی نه هلته هیڅ نه وو. هغه ئې دمال سره ګرفتارکړو.هرکله چه حضرت عمار ﷺ ته معلومه شوه نو دوی حضرت خالد ﷺ ته راغلل او ورته ئې اووئیل چه دې پریږده ده اسلام قبول کړې دې او ځما پناه کښې دې.حضرت خالد ﷺ اووئیل چه ته څوک ئې چه چاته به پناه ورکوې.دې باندې دواړو کښې څه تلخ کلامی اوشوه. او قصه دومره زیاته شو چه حضرت نبی کریم ﷺ ته ټوله واقعه بیان شوه. په دې باندې دحضرت عمار ﷺ پناه جائز اوګرزولې شوه. او بیا دپاره ئې دامیر د اجازت نه بغیر د پناه نه ورکولو هدایت ئې ورته اوفرمائیلو. بیا دواړو کښې تلخ کلامی تیزه شوه، دې باندې حضرت خالد ﷺ حضرت نبی کریم ﷺ ته اوفرمائیل چه دې پریکړې پوزی غلام ته تاسو هیڅ نه وائې.دا اوګورئ دې ماته بدرد وانی.حضرت نبی کریم ﷺ حضرت خالد ﷺ ته اوفرمائیل چه عمار ته بدرد مه وایه.چه څوک عمار ته کنځل کوی نو الله تعالی هغه ته کنځل کوی.چه څوک حضرت عمار ﷺ سره دشمنی کوی نو هغه الله ﷻ سره دښمنی کوی.اوچه څوک حضرت عمار ﷺ باندې لعنت کوی نو الله تعالی په هغه لعنت وانی.اوس حضرت خالد ﷺ ډیر ملامت شو.حضرت عمار یاسر ﷺ خفه وتلې وو. حضرت خالد ﷺ په منډه ورغلو او حضرت عمار بن یاسر ﷺ ته ورغلواو دهغه نه ئې معافی اوغوښتله.او خپل تقصیر معافی ئې ترې اوغوښتله.اوتر دې هغه پسې وو چه هغه معاف کړې نه وو او ده نه راضی شوې نه وو. نو الله ﷻ دا آیت مبارک نازل کړو (۱)

(امر امامت او خلافت متعلق شرطونه وغیره د آیت د﴿وَاِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلٰٓئِكَةِ اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً﴾ په تفسیرکښې تیر شوی دی هتله دې اوکتلې شی مترجم)

د اولی الامر نه څوک مراد دی:- حضرت ابن عباس ﷺ نه هم دا روایت مروی دې (ابن جریر او ابن مردویه). حضرت ابن عباس ﷺ وغیره فرمائی چه اولی الامر نه مراد پوهه او دین داره خلق دی ، یعنی علماء کرام.ظاهری خبره خودا معلومیږی.مخکښې حقیقی علم الله ﷻ ته دې چه دا لفظ عام دې اوکه علماء کرام او امراء دواړه دې کښې شامل دی .لکه څنګه چه مخکښې تیر شو.قران پاک فرمائی چه ﴿لَوْلَا یَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِیُّوْنَ﴾ یعنی ددوی عالمانو دوی د حرام خورلو او دروغو وئیلو نه ولې منع نکړل.او بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿فَاسْئَلُوْٓا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُوْنَ﴾ حدیث مبارک کښې دی چه قران پاک والو نه تپوس اوکړئی که تاسوته ددې علم نه وی.

دامیر اطاعت د نبی اطاعت دې:- صحیح حدیث مبارک کښې دی چه ځما اطاعت کونکې دالله ﷻ اطاعت

---

(۱) طبری : ۹۸٦٦عن السدی وابن حبان: ۷۰٤۰، وسنده صحیح من حدیث خالد بن الولید ﷺ بلفظ مختلف وبدون ذکر الایة)

Scanned with Ca

کونکې دې.اوچه چا خما نافرمانی اوکړه هغه دالله ﷻ نافرمانی اوکړه. (۱)اوچه چا دامیر اطاعت اوکړو نو هغه خما اطاعت اوکړو ،او چا چه خما دمقرر شوی امیر نافرمانی اوکړه نو هغه خمانافرمانی اوکړه.نو دا دی احکام د عالمانو او امراء د اطاعت.

دامیر اطاعت کله واجب دې:- دې آیت مبارک کښې ارشاد دې چه د الله ﷻ اطاعت کوئی یعنی دهغه دکتاب او د هغه د رسول ﷺ اطاعت کوئی یعنی په سنتو عمل کوئی او د حکم والو اطاعت کوئی یعنی په هغه څیز کښې چه دالله ﷻ اطاعت وی.او چه دالله ﷻ د حکم خلاف وی او تاسوته هم ددې خلاف کار حکم درکوی نو دا مه قبلوئی.ځکه چه داسې وخت کښې دعلماء او امراء منل حرام دی.لکه څنګه چه رومبی آیت کښې تیر شو چه اطاعت صرف په نیکئ کښې دې.یعنی دامیر حکم د الله تعالی اود رسول الله د حکم موافق وی مسند احمد کښې ددې نه هم زیات صفا حدیث مبارک دې .او په هغې کښې دی چه په اطاعت کښې د الله د فرمان خلاف حکم منل نشته (۲)

قوله تعالی::فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

داختلاف په صورت کتاب الله او سنت رسول ا لله حاکم مقرر کول:- بیا فرمائی که تاسو ته په څه باره کښې جګړه راپیښه شی نو الله ﷻ طرفته راشئ یعنی کتاب الله طرفته او سنت رسول ﷺ طرفته لکه چه دحضرت مجاهد رحمه الله تفسیر کښې دی. نودلته الله ﷻ په صفا او واضح لفظونو کښې حکم ورکوی چه خلق په کومه مسئله کښې اختلاف اوکړی که هغه مسئله د اصول دین متعلق وی اوکه د فروع دین متعلق.ددې د تصفیه صرف هم دا صورت دې چه کتاب الله او سنت حاکم اومنلې شی.چه څه دې کښې وی هغه قبول کړی لکه بل آیت مبارک کښې چې دی چه ﴿وَمَا اخْتَلَفْتُمْ فِيهِ مِنْ شَيْءٍ فَحُكْمُهُ إِلَى اللَّهِ﴾ چه کوم څیز کښې ستاسو اختلاف وی نو د هغې فیصله الله ﷻ طرفته ده.

نوکتاب اوسنت چه کوم حکم درکړی اوپه کومه مسئله د صحت شهادت درکړی نو هم هغه حق ده او هم هغه باقی ده. قران پاک فرمائی چه د حق نه پس چې نور څه هم دی هغه ضلالت اوګمراهی ده. ددې وجې دلته هم دې حکم سره دا ارشاد دې که تاسو په الله ﷻ اوپه ورځ د قیامت ایمان ساتئی یعنی که تاسو دایمان دعوی کښې رینبتونی یئ نو تاسوته چه د کومې مسئلې علم نه وی او چه کومه مسئله کښې ستاسو اختلاف وی او په هغه امرکښې ستاسو جدا جدا رائې وی نودهغې فیصله کتاب او سنت رسول ﷺ سره کوئی او چه څه په دې دواړو کښې وی نو هغه منئ.نوثابته شوه چه کوم سړې داختلافی مسئلې تصفیه کتاب الله او سنت طرفته نه راوړی نو هغه په الله تعالی او په ورځ دقیامت ایمان نه لری

قوله تعالی::ذَلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا

بیا ارشاددې چه په جنګ جګړو کښې او اختلاف کښې خپله فیصله کتاب الله او سنت رسول ﷺ ته راوړئی اوهغه طرفته رجوع کول بهتردی.او هم دا نیك کار او ښه امر دې.او هم د ښه بدلې ورکولو کار دې.اوددې میوه ډیره ښه جزا ده.

أَلَمْ تَرَ	إِلَى الَّذِينَ	يَزْعُمُونَ	أَنَّهُمْ	آمَنُوا
ا آیا اونه لیدل تا اهغه خلق ا چې ګمان کوی اچې بیشکه هغوئ ا ایمان راوړې دې				
.ته هغه کسانو ته نه ګورې ا چې (په خولې خو)دا دعوی کوی چې مونږ تا ته				

(۱) صحیح بخاری کتاب الاحکام باب قول الله تعالی (اطیعوا الله واطیعو الرسول) :۷۱۳۷، صحیح مسلم: ۱۸۳۵ نسائی : ۴۱۹۸)-

(۲) احمد: ۴۲۶/۴، وهو صحیح بالشواهد)-

بِمَآ أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَآ أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ

په هغه کتاب| چې نازل کړې شوې دې | تاته | او په هغه کتابونو | چې نازل کړې شوی دی | مخکښې سنانه

نازل شوې کتاب هم منو|.....او ستا نه مخکښې نازل شوی کتابونه هم منو

يُرِيْدُوْنَ أَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا إِلَى الطَّاغُوْتِ وَقَدْ أُمِرُوْٓا

هغوئ غواړي| چې يوسی فيصلې دمقدماتو خپلو | ابليس ته | حالانکه حکم شوې ووٴ هغوئ ته

(خوعمل ئې دادې) چې خپلې جګړې شيطان ته وړاندې کوی | اوحال داچې هغوئ ته حکم شوې ووٴ

أَنْ يَّكْفُرُوْا بِهٖ ؕ وَيُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ أَنْ يُّضِلَّهُمْ ضَلٰلًا

چې کفر اوکړی | په ابليس | اوغواړی | شيطان | چې ګمراهه کړی دوئ| په ګمراهئ

چې دهغه نه به انکار کوی| ..... اوشيطان خودا غواړی چې دوئ دسمې لارې نه

بَعِيْدًا ۝ وَإِذَا قِيْلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلٰى مَآ أَنْزَلَ اللّٰهُ

لرې سره | اوهرکله چې| اووئيلې شی دوئ ته| راشئ | هغه کتاب ته| چې نازل کړې دې الله

ډيرلرې کړی| هرکله چې دوئ ته اووئيلې شی چې کوم حکم الله ﷻ راليږلې دې هغې ته راشئ

وَإِلَى الرَّسُوْلِ رَأَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ۝

اوراشئ رسول ته | ته ووينې | دامنافقان | چې بچ کوی ځانونه| تاته دراتلونه | په بچ کولو سره

اودهغه رسول ته مخامخ شئ| نو ته دا منافقان ګورې چې تا نه لرې لرې ګرځی

فَكَيْفَ إِذَآ أَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ

نو څۀ حال به وی | کله چې| اورسيږی دوئ ته| مصيبت | په سبب دهغه عمل| چې مخکښې ليږلې دې

.....بيا هغه وخت به ئې څه حال وی چې د کړو عملونو په وجه پرې مصيبت راشی

أَيْدِيْهِمْ ثُمَّ جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ۖ بِاللّٰهِ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ

لاسونو ددوئ | بيا | راځی تاته | قسمونه خوری| چې قسم په الله| نۀ وه | اراده زمونږه| مګر صرف

نوبياتاسوته راځی| او په الله ﷻ باندې قسمونه خوری چې زمونږ غرض خو صرف (د مسلمانانو سره)

إِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ۝ أُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ يَعْلَمُ اللّٰهُ مَا

د ښيګړې | اود موافقت راوستو |دا هغه کسان دی | چې معلوم دی | الله ته | هغه څۀ

ښيګړه او اتفاق راوستل دی| ددغه کسانو د زړونو حال الله ﷻ ته معلوم دې

فِيْ قُلُوْبِهِمْ ۖ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ وَقُلْ لَّهُمْ

چې په زړونوددوئ کښې دی| نوډډه اوکړه| ددوئ نه | اونصيحت اوکړه دوئ ته| اواوايه| دوئ ته

.....| نوته دهغوئ دخبروهيڅ پرواه مه کوه| هغوئ ته نصيحت کوه| او د هغوی

فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ	قَوْلًا	بَلِيْغًا ۝
په حق دنفسونو ددوئ کښې	وینا	کوزیدونکې زړونو ته
په زړونو کښې اثر پیدا کونکې وعظ ورته کوه		

قوله تعالی:: يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَحَاكَمُوْٓا اِلَى الطَّاغُوْتِ

قرآن او حدیث نه ډډه کول:- پورته آیت مبارک کښې الله ﷻ دهغه خلقو دعوی دروغ ګرځولې ده.څوک چه زبانی اقرارکوی.چه دالله ﷻ په مخکښو کتابونو او دې قران پاک باندې ځمونږ ایمان دې.لیکن کله چه دیوې مسئلې تحقیق کول وی ،اوکله چې یو اختلاف ختمول وی ، اوکله چه هم یوجګړه ختمول وی ، نو قران او حدیث طرفته رجوع نه کوی بلکه بل طرفته ځی.

د ایت شان نزول:- دا آیت نازل شویدې دهغه دوؤ سړو باره کښې چه په هغوی کښې څه اختلاف وو ، یو یهودي وو او بل انصاری وو. یهودی ونیل چه څه حضرت محمد ﷺ ته ورځو چه هغه فیصله اوکړی او انصاری ونیل چه کعب بن اشراف ته ورځو. دا هم ونیلې شوی دی چه دا آیت دهغه منافقانو بارې کښې نازل شویدې چه هغوئ اسلام ظاهرولولیکن پټ په پټه ددوی توجه جاهلیت طرفته وه. ددې نه سوا نور اقوال هم دی.آیت د حکم او الفاظو په اعتبار سره عام دې.دا ټول واقعات په دې کښې شامل دی.دې کښې دهر هغه سړی دمذمت او برائی اظهار کوی چه کتاب او سنت پریږدی او باطل طرفته خپله فیصله اوړی.اوهم دا مراد دلته د طاغوت نه دې.(یعنی د قران وحدیث نه سوا څیز یا سړې) ،

رَاَيْتَ الْمُنٰفِقِيْنَ يَصُدُّوْنَ عَنْكَ صُدُوْدًا ۝

د صدود معنی:- دصدود نه مراد تکبر اومخ اړول دی.لکه څنګه چه بل آیت مبارک کښې دی چه ﴿وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ اتَّبِعُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ قَالُوْا بَلْ نَتَّبِعُ مَآ اَلْفَيْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا﴾ کله چه دوی ته اوونیلې شی چه الله ﷻ کومه وحی نازله کړېده دهغې فرمانبرداری اوکړئ نو جواب کښې وائی چه مونږ دخپلو نیکونو او پلارانو په نقش قدم خو دایمانداړو جواب دا نه وی بلکه دهغوئ جواب بل آیت کښې داسې مذکور دې چه ﴿اِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ ایمانداړو چه کله د الله اورسول فیصلې او حکم طرفته اوبللې شی نو دهغوئ جواب دا وی چه مونږ واوریدل او مونږ د زړه دکومی نه دا قبلوو.

قوله تعالی:: فَكَيْفَ اِذَآ اَصَابَتْهُمْ مُّصِيْبَةٌ بِمَا قَدَّمَتْ اَيْدِيْهِمْ ثُمَّ جَآءُوْكَ يَحْلِفُوْنَ ۚ بِاللّٰهِ اِنْ اَرَدْنَآ اِلَّآ اِحْسَانًا وَّتَوْفِيْقًا ۝

د منافقانو کردار:- بیا دمنافقانو مذمت بیانیږی چه ددوی دکناهونو په وجه چه کله دوی ته تکلیفونه رسی اوستا ضرورت محسوسوی نو دوی په منډه راځی او ستا خوشحالولو دپاره عذر معذرت کوی. او قسمونه خوری اود خپلې نیکئ او صلاحیت یقین ورکول غواړی.او وائی چه نبی کریم ﷺ پریښودل او خپلې فیصلې بل طرفته اوړلو مقصد دا وو چه د نورو زړه هم خوشحاله کړو. او دوی سره مو خپلو کښې زړونونه خیرې لرې شی ګنی مونږ د زړه نه دوی سره مخلص نه یو. لکه څنګه چه په دې آیت کښې چه ﴿فَتَرَى الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ﴾ نه ترڅ ﴿نَادِمِيْنَ﴾ پورې بیان شوی دی.

یعنی ته به اوګورې چه د کومو کسانو په زړونو کښې مرض دې یعنی منافقان دی هغوی به د یهود او نصرانیانوټولودوستئ کښې کوشش کوی او وائی چه مونږ ته په آفت کښې د اخته کیدو خطره ده .خو دیره ممکن ده چه الله مسلمانانو ته ﷻ فتح راولی یا خپل بل څه حکم راولیږی او دا خلق په هغه ارادو پښیمانه شی. کومې چه د دوی په زړونو کښې پټې دی.

Scanned with Ca

د شان نزول باره کښې بل روایت:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ابوبرزه اسلمی یو جادوګر وو ، یهودو به په هغه خپلې فیصلې کولې.یو واقعه کښې مشرکان ده طرفته په منډه شو نو دې باندې دا آیت مبارك نازل شو چه ﴿ **الم تر** ﴾ نه تر ﴿ **توفیقا** ﴾ پورې (۱).

قوله تعالی:: أُولَٰئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَعِظْهُمْ

بیا فرمائی چه داسې خلق یعنی دمنافقانو زړونو کښې څه دی ، ددې علم الله ﷻ سره دې ، دهغه نه هېڅ وړوکې څیز هم پټ نه دې.او هغه ددوی د ظاهر او باطن نه خبر دې.نو ددوی نه چشم پوشی اوکړه او ددوی په باطنی ارادو باندې غصه مه کوئی ، او دوی ته د نفاق نه د لرې اوسیدو اود فساد نه کولو نصیحت اوکړئی او دوی ته داسې خبرې اوکړه چه د دوی په زړونو کښې کینی او اثر پرې اوکړی او ددوی دپاره دعا هم اوکړئی.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا
اونۀ دې لیږلې مونږ ایورسول ا مګر
اومونږ هریو پیغمبر صرف ددې دپاره رالیږلې دې
لِيُطَاعَ بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ وَلَوۡ أَنَّهُمۡ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ
چې د هغه حکم اومنلې شی ا په حکم دالله سره ا اوکه چرې دوئ ا څه وخت چې ئې ا ظلم کړې ووا په خانونو خپلو
چې دالله ﷻ په حکم د هغه خبره اومنلې شی ا او څه وخت چه دوی په خانونوزیاتې کړې وې
جَآءُوكَ فَٱسۡتَغۡفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ
راغلې وې تاله ا اومعافی ئې غوښتې وې دالله نه ا اومعافی غوښتې وې ا دپاره ددوئ ا رسول ا نوخامخا به موندلې وو ددوئ
اوتاته راغلې وې ا اودالله نه ئې ببښنه غوښتې وې ا اوپیغمبرهم دوی دپاره معافی غوښتې وې انو یقیناً
ٱللَّهَ تَوَّابٗا رَّحِيمٗا ۝٦٤ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ
الله ا توبه قبلونکې ارحم کونکې انو قسم دې ستا د پروردګار ا نشی مومنان کیدې دوئ ا تر دې پورې
الله به ئې ببنونکې مهربانه موندلې وې استاپه رب مې دې قسم وی چې دوی ترهغه وخته پورې ایماندارکیدې
يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ
چې فیصله کونکې کړی تا ا په هغه جګړه کښې ا چې راشی ا په منځ ددوئ کښې ا اوبیا ا اونۀ مومی
نۀ شی ترځوچې پخپلوجګړو کښې ستاحکم اونۀ منی ا اوبیا چې ته فیصله اوکړې نو دوی پخپلو
فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا ۝٦٥
په زړونوخپلو کښې اڅه تنګی ادهغه فیصلې نه اچې اوئې کړې ته ا اووې منی دوئ ا په منلوسره ا
زړونو کښې (د هغې فیصلې په وجه) تنګی بیانۀ مومی ا او د هغې منلو ته ښه غاړه بسته شی ا

(۱) المعجم الکبیر: ۱۲۰٤٥)-

وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ اِلَّا لِيُطَاعَ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ

حضرت محمد ﷺ نه دعا طلب کول :- مطلب دادې چه هره زمانه کښې د رسول تابعداری د الله ﷻ د طرفنه فرض ده. منصب درسالت هم دادې چه ددوی ټول احکام دې د الله ﷻ احکام اوکړلې شی. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ﴿ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ ﴾ نه مراد دا دې چې ددې توفیق خو دالله ﷻ لاس کښې دې، دهغه په قدرت او مشیت باندې موقوف دی. لکه څنګه چه آیت کښې دی چه ﴿اِذْ تَحُسُّوْنَهُمْ بِاِذْنِهٖ ؕ﴾ دلته هم د اذن نه مراد امر قدرت او مشیت دې ،یعنی هغه تاسو ته په دوی غلبه درکړه.

قوله تعالی:: وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ

بیا الله ﷻ غاصبانو او خطاکارو ته ارشاد فرمائی چه دوی ته پکار دی چه رسول الله ﷺ ته راشی او دهغه نه معافی اوغواړی. او پخپله حضرت نبی کریم ﷺ ته هم عرض کول پکار دی. چې تاسو خمونږ دپاره دعا اوکړئی. هرکله چه داسې اوکړی نو یقینا الله ﷻ به دوی طرفته رجوع اوکړی. او دوی به اوبښی او په دوی به رحم اوکړی.

ابومنصور صباغ په خپل کتاب کښې مشهورې قصې لیکلې دی ، لیکلی نې دی چه د عتبی بیان دې چه څه د حضرت نبی کریم ﷺ قبر سره ناست اووم ،یو اعرابی راغلو او هغه اووئیل السلام علیك یارسول الله ﷺ ! ما د قران پاك آیت آوریدلې دې او تاسو ته راغلې یم چه ستاسو په وړاندې د خپلو ګناهونو استغفار اوکړم ، او د حضرت نبی کریم ﷺ شفاعت طلب کړم ، بیا هغه دا اشعار اووئیل چه :

یاخیرمن دفنت بالقاع اعظمه
فطاب من طیبهن القاع والاکم
نفسی الفداء لقبر انت ساکنه
فیه العفاف وفیه الجود والکرم

چه د چا هډوکی میدانونو کښې دفن شوی دی ا ود چا خوشبو سره به میدانونه او غونډئی ټولې خوشبوداری جوړې شی. ائې په دې ټولو کښې بهترینې هستئ ! خما ځان دې په دې قبر قربان وی چه د هغې کښې اوسیدونکې ته یې په کوم قبر کښې چې هوښیارتیا او سخاوت او شرافت دې

بیا اعرابی واپس شو اوماته خوب راغلو. خوب کښې مې اوکتل چه ګویا حضرت نبی کریم ﷺ ماته فرمائی چه ورشه او دې اعرابی ته زیرې ورکړه چه الله ﷻ دده ګناه معاف کړه.

د حضرت نبی کریم ﷺ فیصله حتمی ده :- بیا الله ﷻ دخپل بزرګ اومقدس ذات قسم کوی او فرمائی چه ترهغه پورې یو سړې دایمان حدودو کښې نه راځی. چه ترڅو پورې چه هغه ټولو امورو کښې الله ﷻ اود هغه رسول ﷺ حاکم اونه منی اود حضرت نبی کریم ﷺ هریو حکم او هره فیصله او هرحدیث مبارك قابل قبول او حق صریح اونه منی، اوزړه بالکل د رسول ﷺ تابع نکړی. غرض دا چې ظاهر او باطن او واړه اولونې ټولو کارونو کښې د رسول الله ﷺ حدیث اصل اصول اومنی نو هغه مومن دې.

قوله تعالی:: ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ

نوفرمان دې چه ستا احکام په فراخه زړه قبلوئی او په خپل زړه کښې څه تنګی او خرابی نه راولی. پوره تسلیم ټولو احادیث سره راځی. نو نه خو د احادیثو منلو نه روستو کیږی او نه ددې د روستو کولو اسباب لټوی او نه ددې دمرتبې څه بل څیز منی .او نه ددې تردید کوی. او نه ددې مقابله کوی. اونه ددې په منلو کښې جګړې کوی. لکه حضرت نبی کریم ﷺ فرمان دې چه په هغه ذات مې دې قسم وی

Scanned with Ca

چه د هغه په قبضه کښې ځما روح دې چه تاسو کښې تر هغه وخت پورې هیڅوک مومن نشی جوړیدې چه ترڅو هغه خپل خواهش د هغه دین تابع نکړې کوم چې ما راوړې دې (۱)

د زبیر رضی الله عنه او انصاری رضی الله عنه مقدمه:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه حضرت زبیر رضی الله عنه یو انصاری سره د باغ په اوبه کولو جګړه اوکړه ، نو حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه زبیر ته اوبه اوڅکوه او بیا ئې د انصاری باغ ته پریږده. دې باندې انصاری اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! دا خو ستا د ترور خوئې دې ، دې آوریدو سره د حضرت نبی کریم ﷺ مخ مبارك مغیر شو او وې فرمائیل چه زبیر ! چه ته اوبه ورکړې نو بیا اوبه اوساته (مه ئې ورکوه) تردې چه اوبه د باغ دیوالونوته اورسی نو بیا ئې خپل ګوانډی طرفته پریږده.اول خو حضرت نبی کریم ﷺ داسې صورت بیان کړو چه په هغې کښې حضرت زبیر رضی الله عنه ته څه تکلیف نه وو ، او انصاری ته فراخی ورکړی.لیکن کله چه انصاری دا خپل حق کښې بهتر اونه ګنړله نو حضرت نبی کریم ﷺ زبیرته دهغه پوره حق ورکړو. حضرت زبیر رضی الله عنه فرمائی چه ترکومې ځما خیال دې نو دا آیت ﴿فَلَا وَرَبِّكَ﴾ الخ هم دې باره کښې نازل شوې دې.(۲)

په دې واقعه کښې بل روایت:- مسند احمد کښې یو مرسل حدیث مبارك کښې دی چه دا انصاری بدری وو(۳)او یو روایت کښې دی چه دواړو کښې په دې جنګ وو چه نهر سره دحضرت زبیر رضی الله عنه باغ نزدې وو او بیاد انصاری.انصاری وئیل چه اوبه مه ایساروه چه دواړو باغونو ته یوشان راځی.(۴)

دانصاری نوم:- ابن ابی حاتم کښې دی چه دا دواړه دعویدار حضرت زبیر رضی الله عنه او حضرت حاطب بن ابی بلتعه رضی الله عنه وو(۵) حضرت نبی کریم ﷺ دوی کښې دا فیصله اوکړه چه مخکښې دې نزدې والا اوبه ورکړی او بیا دې لاندې والا.

دحضرت عمر رضی الله عنه د نبی ﷺ په فیصله نه راضی کیدونکې کس قتلول:- بل یو غریب روایت کښې شان نزول دا مروی دې چه دوه کسانو خپل جنګ حضرت نبی کریم ﷺ ته یوړو او خپله فیصله ئې حضرت نبی کریم ﷺ ته پیش کړه خوچه دچا خلاف وه هغه اوئیل چه یارسول الله ﷺ اتاسو مونږ حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته اولیږئ، حضرت نبی کریم ﷺ ورته اووئیل چه ډیره ښه ده هغه ته ورشئ.هرکله چه دوی راغلل نو چه د چا حق کښې فیصله شوې وه هغه ټوله واقعه بیان کړه.حضرت عمرفاروق رضی الله عنه دې بل سړی ته اووئیل چه دا ریښتیا دی. هغه اقرار اوکړو. دوی ورته اوفرمائیل چه تاسو دواړه دلته ایسار شئ څه راځم او تاسو کښې فیصله کوم. لږ وخت پس توره په لاس راغلو او چه کوم سړی وئیلی وو چه مونږ حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ته واستوه د هغه څټ ئې والوزولو. دویم سړی چه دا اوکتل نو اوتښتیدو ، حضرت نبی کریم ﷺ ته راغلو او وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! ځما ملګرې اووژلې شو او ما ځان بچ کړو او دلته راغلم اوکه نه وې راغلې نو ځما هم خیرنه وو. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ما عمر داسې نه ګنړلو چه هغه به داسې جرات سره دیومومن خون واخلی.دې باندې دا آیت مبارك نازل شو. اوالله ﷻ حضرت عمرفاروق رضی الله عنه بری کړو. خو هسې نه چې دې نه پس هم دا طریقه خلقو کښې روانه وی. نو ددې وجې دې نه پس آیت نازل شو چه ﴿وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ﴾ چه مخکښې راځی.(ابن ابی حاتم).ابن مردویه

---

۱) شرح السنة للبغوی : ۱۰٤)-

۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (فلا وربک لا یومنون...) : ٤٥٨٥، صحیح مسلم: ۲۳۵۷ ، ابوداود : ۳٦۳۷، ترمذی: ۱۳٦۳ نسائی: ٥٤۱۸ ابن ماجة: ۱٤۸۰)-

۳) احمد: ۱٦٥/۱ البخاری: ۲۷۰۸ وهو صحیح)-

٤) احمد: ٥/٤ صحیح بخاری : ۲۳٥۹ صحیح مسلم: ۲۳٥۷)-

٥) ابن ابی حاتم)-

Scanned with Ca

کښې هم داروایت چه غریب اومرسل دې او ابن ابی لهیعه راوی ضعیف دې.والله اعلم.

دحضرت عمر ﷺ واقعه په بل سند سره :- دویم سند سره مروی دی چه دوه سړی د حضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او خپله جګړه ئې پیش کړه. حضرت نبی کریم ﷺ د حقدار سړی په حق کښې فیصله اوکړه.لیکن چه دچا خلاف فیصله شوې وه هغه اووئیل چه څه په دې راضی نه یم.حضرت نبی کریم ﷺ تری تپوس اوکړو چه ته څه غواړې ؟ هغه اووئیل چه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ ته ورشو. دواړه چه کله هلته اورسیدل نو حضرت صدیق اکبر ددوی واوریدل او وې فرمائیل چه ستا فیصله هم هغه ده چه کومه حضرت نبی کریم ﷺ کړې ده. هغه بیاهم خوشحاله نه شو. او وې وئیل چه څه حضرت عمرفاروق ﷺ ته ورځو. هغوئ ته چه ورغلل نو بیا هغه اوشو چه کوم پورته بیان شو(تفسیرحافظ ابواسحاق)

وَلَوْ اَنَّا	كَتَبْنَا	عَلَيْهِمْ	اَنِ اقْتُلُوْٓا	اَنْفُسَكُمْ	اَوِ اخْرُجُوْا	مِنْ دِيَارِكُمْ
اوکه چرې مونږه	فرض کړې وې	په دوئ	چې قتل کړئ	خانونه خپل	یا اوځئ بهر	د کورونو خپلو نه
اوکه مونږ دوئ ته دا حکم ورکړې وې اچې خپل خانونه قتل کړئ	یا د خپلو کورونو نه اوځئ					
مَّا فَعَلُوْهُ	اِلَّا	قَلِيْلٌ	مِّنْهُمْ ؕ	وَلَوْ	اَنَّهُمْ	فَعَلُوْا	مَا
نونۀ به وۀ کړې دوئ داکار	سوا	دلږو کسانو	ددوئ نه	اوکه	دوئ	کړې وې	هغه
نو په دوئ کښې به ډیرو کمو کسانو په دې عمل کړې وو	اوکه چرې دوئ په دغه نصیحت عمل کړې وې						
يُوْعَظُوْنَ	بِهٖ	لَكَانَ	خَيْرًا لَّهُمْ	وَاَشَدَّ	تَثْبِيْتًا ۙ﴿۶۶﴾	
چې نصیحت کیږی دوئ ته	په هغې سره	نووۀ به دا کار	غوره	ددوئ دپاره	اوزیات ټینګ ساتونکې	ایمان کښې
نودابه ددوئ دپاره ډیره بهتره وه	..... اودایمان دمضبوطیا سبب به وۀ						
وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ	مِّنْ لَّدُنَّآ	اَجْرًا عَظِيْمًا ۙ﴿۶۷﴾	وَّلَهَدَيْنٰهُمْ			
اوبیابه خامخا ورکړې وۀ مونږ دوئ ته	دطرفه خپل نه	اجر لوئې	اوخامخابه خودلې وه مونږ دوئ ته			
اوکه داسې ئې کړې وې نو مونږ به ورله دخپل طرفنه ډیرلوئې اجرورکړې وۀ	اوپه سمه					
صِرَاطًا	مُّسْتَقِيْمًا ﴿۶۸﴾	وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ	وَالرَّسُوْلَ	فَاُولٰٓئِكَ	مَعَ الَّذِيْنَ	
لاره	نیغه	اوځوک چې حکمونه منی دالله	اود رسول	نودغه کسان به	دهغوکسانو سره وی	
لار به موروان کړی وۀ	اوځوک چې د الله اودهغه درسول حکم اومنی	انوهغوئ به دهغې خلقو سره وی				
اَنْعَمَ اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ	مِّنَ النَّبِيّٖنَ	وَالصِّدِّيْقِيْنَ	وَالشُّهَدَآءِ		
چې انعام کړې دې الله	په هغوئ باندې	یعنی دپیغمبرانو سره	او دصدیقانو سره	اودشهیدانو سره		
په چا چه الله ﷻ نعمتونه کړی دی	چې پیغمبران دی ، صدیقان دی ، شهیدان دی					
وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ	وَحَسُنَ	اُولٰٓئِكَ	رَفِيْقًا ؕ﴿۶۹﴾	ذٰلِكَ الْفَضْلُ	مِنَ اللّٰهِ ؕ	
او د نیکانو سره	او ښه دی	دا کسان	دپاره دملګرتیا	دا حقیقی فضل دې	د طرفه د الله نه	
اونیکان دی	اودغه کسان ډیرښه ملګری دی	.....دا هغه فضل دې چې دالله ﷻ دطرفنه کیږی				

Scanned with Ca

وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ۝

او کافی دی| الله | پوهه |

اوددې په حقیقت صرف دالله علم کافی دی|

قوله تعالی: وَلَوْ اَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ اَنِ اقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ اَوِ اخْرُجُوْا مِنْ دِيَارِكُمْ مَّا فَعَلُوْهُ اِلَّا قَلِيْلٌ مِّنْهُمْ ؕ

د کافرارنو فطرت:- الله خبر ورکوی چه اکثر خلق داسې دی که هغوئ دهغه کارونو نه منع کړې شی چې دکومو نه منع کړې شوې او دوئ هغه لګیا دی کوی نوهغوئ به دا کارونه کول.ځکه چې د دوی ذلیله طبیعتونه دالله ﷻ د حکم مخالف جوړ شوی دی.نو دلته الله ﷻ دخپل علم خبر ورکوی چه کوم کارونه شوی نه دی او هغه کیدلې نو هغه به څنګه کیدلې.

دیوبزرګ قول:- ددې آیت مبارک آوریدو سره یو بزرګ اوفرمائیل که الله ﷻ مونږ ته دا حکم کړې وې نو یقینا مونږ به کړې وې لیکن دهغه شکر دې چه هغه مونږ ددې نه بچ کړو.هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ ته دا خبره اورسیده نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بیشکه ځما امت کښې داسې داسې خلق هم دی چه هغوئ په زړونو کښې ایمان د مضبوطو غرونونه نه هم زیات مضبوط او ثابت دی (۱) (ابن ابی حاتم).

دثابت بن قیس ﷺ قول:- ددې روایت بل سند کښې دی چه ډیر صحابه کرامو ﷺ دا فرمائیلی وو. د حضرت سدی رحمه الله قول دې چه یو یهودی حضرت ثابت بن قیس بن شماس ته په فخر سره وئیلی ووچه الله ﷻ په مونږ باندې پخپله دخپل ځان قتل کول فرض کړې وو.نو دې باندې حضرت ثابت ﷺ اوفرمائیل چه والله که مونږ باندې دافرض وې نومونږ به دا هم کولې.نودې باندې آیت مبارک نازل شو.

دایت په شان نزول کښې بل حدیث:- اویو روایت کښې دی چه کله دا آیت نازل شو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که دا حکم شوې وې نو ددې حکم منلو کښې به یو ابن عبد هم وې (ابن ابی حاتم).

دعبدالله بن رواحه ﷺ فضیلت:- او یو روایت کښې دی چه دا آیت مبارک حضرت نبی کریم ﷺ اوونیلو نو عبدالله بن رواحه ﷺ طرفته ئې اشاره اوکړه او وې فرمائیل چه دې هم په دې عمل کولووالو نه دې.

قوله تعالی: وَلَوْ اَنَّهُمْ فَعَلُوْا مَا يُوْعَظُوْنَ بِهٖ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَاَشَدَّ تَثْبِيْتًا ۝ وَّاِذًا لَّاٰتَيْنٰهُمْ مِّنْ لَّدُنَّآ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ وَّلَهَدَيْنٰهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيْمًا ۝

دالله تعالی داطاعت انعام:- بیا فرمائی که دې خلقو دا حکم منلې وې او زمونږ منع کړو کارونو نه منع شوې وې نودابه ددوئ په حق کښې زیاته بهتره وه.ددې نه چې هغوئ دالله د حکم مخالفت اوکړی او ممانعت کښې اخته شی،اوهم دا زیات ریښتونی دی،نو هغه وخت کښې به مونږ دوی ته جنت ورکړې وې او دنیا او آخرت کښې به مو ددوی راهنمائی کړې وې.

قوله تعالی: وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ وَحَسُنَ اُولٰٓئِكَ رَفِيْقًا ۝

د الله او رسول تابعدار به کوم ځائې وی:- بیا فرمائی چه دالله ﷻ او رسول ﷺ په احکامو باندې چې چا عمل اوکړو اودمنع شوې کارونونه منع شو.نوهغه ته به دالله ﷻ دعزت په کور کښې عزت ملاویږی.او دې به دنبیانوعلیهم السلام ملګرې وی ، او د صدیقینو مرتبې د نبیانو علیهم االسلام نه پس دی ،بیا دشهیدانو،بیا دټولو مومنانو چه هغوئ صالحان وی.او دهغوئ ظاهر او باطن ښکلې وی.لږ خیال خو اوکړئی چه څنګه پاک او بهترین ملګری دی.

هرپیغمبر ﷺ د مرګ او ژوند اختیار ملاویدل:- صحیح بخاری کښې دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ما د حضرت نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه هر نبی ته د هغه د مرض په زمانه کښې دنیا کښې د

---

(۱) ابن ابی حاتم : ۹۹۲۶)-

پاتې کیدو او اخرت ته دتلو اختیار ورکولې کیږی هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ بیمار شو نو اود کوم مرض نه چې حضرت نبی کریم ﷺ نه شو پاسیدې نو د حضرت نبی کریم ﷺ آواز مبارک ډیر زیات په مزه شو ، خو ما واوریدل چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی ﴿چه هغونی سره چه چا باندې الله ﷻ انعام کړې دې چه نبیان علیهم السلام دی ، صدیقین دی ، شهیدان دی اونیکان دی.ما ته معلومه شوه چه اوس حضرت نبی کریم ﷺ ته اختیار ورکړې شوې دې (۱)

هم دا مطلب دې دهغه بل حدیث مبارک کښې چه کوم کښې د حضرت نبی کریم ﷺ الفاظ وارد شوی دی چه انې الله ﷻ ! څه اوچت او بهتر ملګری غواړم.دې څل حضرت نبی کریم ﷺ دا الفاظ ارشاد اوفرمائیل او بیا وفات شو.(۲) علیه افضل الصلوة والتسلیم.

دایت شان نزول:- ددې آیت مبارک شان نزول په باره کښې تفسیرابن جریر کښې دی چه یو انصاری حضرت نبی کریم ﷺ ته راغلو او حضرت نبی کریم ﷺ اوکتل چه هغه ډیر پریشانه دې.حضرت نبی کریم ﷺ ترې د پریشانئ د سبب تپوس اوکړو .نوجواب کښې هغه اووئیل یارسول الله ﷺ ! دلته مونږ خلق ستاسو خدمت کښې سحر ماښام ناست یو اوستاسو دیدار کوؤ ، او یو ساعت دوه هم تاسو سره ناست یو.لیکن تاسو به د قیامت په ورځ د نبیانو علیهم السلام په اعلی مرتبوکښې یئ؛اومونږ به تاسو ته نشو دررسیدې.حضرت نبی کریم ﷺ هیڅ جواب ورنکړو نو دې سره جبریل ﷺ نازل شو او دا آیت مبارک ئې راوړو.حضرت نبی کریم ﷺ هغه صحابی پسې کسان اولیږل اوهغه ته ئې دا زیرې ورکړو.

د شان نزول باره کښې بل روایت:- هم دا اثر مرسل سند سره هم مروی دې.دهغې سند ډیر بهتر دې.حضرت ربیع ﷺ فرمائی چه صحابه کرامو ﷺ اووئیل چه دا ظاهره ده چه د حضرت نبی کریم ﷺ درجه حضرت نبی کریم ﷺ باندې ایمان راوړو والو نه ډیره زیاته اوچته ده.نو مونږ چه کله جنت کښې جمع شو نو خپلو کښې به یو بل څنګه ګورو او څنګه به ملاویږو. نو دا آیت مبارک نازل شو او حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د اوچتو درجوجنتیان به د لاندې درجو جنتیانو ته راځی او دبهار موسم کښې به یوباغ کښې په ټول جمع کیږی اود الله ﷻ داحساناتو ذکر او دهغه پاک ذات تعریفونه به کوی.او چه څه غواړی نوهغه به ورته ملاویږی او هروخت کښې به نازونعم کښې وی.

پورتنې روایت په بل سند سره:- ابن مردویه کښې روایت دې چه یو سړې حضرت نبی کریم ﷺ ته راغلو او وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! څه تاسو د خپل ځان نه اود خپل اهل وعیال نه او د خپلو بچونه زیات محبوب ګنړم ، څه چه کورته لاړشم نو د زیارت کولو شوق ما بې قراره کړی او صبر نشم کولې او منډې وهم اوبیا دیداردپاره راشم.لیکن کله چه ماته خپل اودحضرت نبی کریم ﷺ مرګ رایاد شی او ددې یقین دې چه حضرت نبی کریم ﷺ به جنت کښې نبیانوعلیهم السلام سره په اوچتو درجو کښې وی اوځه به لاندې درجوکښې یم. نو ویریږم چه بیا به څه دحضرت نبی کریم ﷺ دیدارنه محروم شم. حضرت نبی کریم ﷺ ورته هیڅ جواب ورنکړو په دې دا آیت نازل شو(۳)ددې روایت نورې هم طریقې دی

زیاتې سجدې د نبی کریم د ملګرتیا سبب:- صحیح مسلم شریف کښې دی چه ربیعه بن کعب اسلمی ﷺ فرمائی چه څه یو شپه د حضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې ووم او اوبه وغیره به مې ورته راوړې.یو څل حضرت نبی کریم ﷺ ماته اوفرمائیل چه څه اوغواړه.ما اووئیل چه څه په جنت کښې ستاسو ملګرتیا غواړم.وې فرمائیل چه دې نه سوا نور.بل څه اوغواړه.ما اوونیل چه هم دا غواړم.حضرت نبی کریم ﷺ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النساء: باب (فاولئک مع الذین) : ٤٥٨٦ صحیح مسلم: ٢٤٤٤، ابن ماجة ١٦٢٠)-
(۲) صحیح بخاری کتاب المغازی باب اخر ماتکلم به النبی صلی الله علیه وسلم ٤٤٦٣، ابن ماجة: ٢٤٤٤)-
(۳) ابن مردویه ، دا روایت دشواهدو لحاظ سره حسن دې)-

Scanned with Ca

اوفرمائیل چه ماسره مدد کوه او سجدې ښه ډیرې کوه. (۱)

د نبی ﷺ د ملګرتیا نسخه:- مسند احمد کښې دی چه یو سړی حضرت نبی کریم ﷺ ته اوونیل چه خ دالله ﷻ د بې شریك کیدو او د حضرت نبی کریم ﷺ د رسول کیدو ګواهی ورکوم ، پنځه وخته مونځ ادا کوم ، دخپل مال نه زکوة ورکوم ، او درمضان روژې نیسم.نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څوك تر مرګه پورې په دې قائم وی نو هغه به نبیانو ، صدیقینو ، اوشهیدانوسره داشان وی لکه ځنګه چه ځما دا دوه ګوتې یو ځائې دی .لیکن دا شرط چه دمور پلارنافرمان نه وی.

دقران تالی به پیغمبرانو سره وی:- مسند احمد کښې دی چه چا دالله تعالی لار کښې زر آیتونه اوونیل نو هغه به انشاء الله د قیامت په ورځ نبیانو ، شهیدانو او صالحانو سره وی.

د صحابود خوشحالئ سبب:- ترمذی شریف کښې دی چه ریښتونې امانتدار تاجر به نبیانو ، صدیقینو اوشهیدانو سره وی.(۲)ددې ټولو نه زیات زیړې په هغه حدیث مبارك کښې دې کوم چې د صحاح او مسانید وغیره کښې د صحابه کرامو ﷺ یو لوئې ډلې نه په تواتر سره نقل دې چه حضرت نبی کریم ﷺ نه دهغه سړی باره کښې تپوس اوشو چه یوقوم سره محبت ساتی لیکن هغوی سره ملاؤ شوې نه وی.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ﴿المرءمعمن احب﴾ هر انسان به هغه چا سره وی چه چا سره نې محبت کولو. حضرت انس فرمائی مسلمانان څومره په دې حدیث مبارك سره خوشحاله شو نو دومره په بل ځیز سره نه وو خوشحاله شوې.(۳)

دانس ﷺ د نبی کریم ﷺ سره محبت :- حضرت انس ﷺ فرمائی چه په الله قسم ځما محبت حضرت نبی کریم ﷺ او حضرت ابوبکرصدیق ﷺ ، حضرت عمرفاروق ﷺ سره دې ، نوځما امیددې چه الله ﷻ به ما دوی سره پورته کوی.اګر چه ځما اعمال ددوی په شان نه دی (یا الله ﷻ ! ته ځمونږ زړونه هم د حضرت نبی کریم ﷺ اودحضرت نبی کریم ﷺ د ملګرو دمحبت نه ډك کړې اوزمونږ حشر هم دوی سره اوکړې ،

د پیغمبرانودرجو ته به څوك رسیږی:- حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه جنتیان به دخپل ځان نه پورته درجو والا جنتیانو بالاخانو نه داسې ګوری لکه څنګه چه تاسو یو خلیدنه ستوری ته چه مشرق یا مغرب کښې وی هغې ته ګورئی دوی به ډیره فاصله کښې وی.صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو چه یاسول الله ﷺ !دا منزلونه به خو د نبیانو علیهم السلام دپاره مخصوص وی نو مونږ هلته څنګه رسیدې شو. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ولې نه په هغه ذات قسم چه د هغه په قدرت کښې زما روح دې دې منزلونو ته به هغه خلق رسی چه څوك په الله ﷻ باندې ایمان راوړی اورسولان ریښتونی منی.(۴)(بخاری او مسلم).

په حدیث اوریدو سره دیو حبشی صحابی وفات کیدل:- یو حبشی د حضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اوکړه څه تپوس کوې ، هغه عرض اوکړ یارسول الله ﷺ ! تاسو ته الله ﷻ په رنګ ،صورت ، اونبوت کښې مونږ باندې فضیلت درکړې دې ، نو که خه په هغه ځیزونو ایمان راوړم په کومو چې تاسو تاسو ایمان راوړې دې ، او هغه احکام اومنم کوم چې تاسو منئ نوآیا جنت کښې خه تاسو سره یو ځائې کیدې شم ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آو په هغه الله ﷻ مې دې قسم وی چه دهغه په قبضه کښې ځما روح دې جنتی حبشی به جنت ته داسې داخلیږی

---

۱) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب فضل السجود : ٤٨٩)-

۲) احمد : ٤٣٧/٣)-

۳) صحیح بخاری کتاب فضائل اصحاب النبی ﷺ باب مناقب عمر ﷺ : ٣٦٨٨ صحیح مسلم: ٢٦٣٩)-

۴) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب ما جاء ق صفة الجنة : ٣٢٥٦ ، صحیح مسلم: ٢٨٣١)-

Scanned with Ca

چه سپین به وی او دده د تندی پرڤا او نور به د زرو میلو په مسافت باندې هم په نظر راځی.بیا نې اوفرمائیل چه ﴿ لااله‌الاالله ﴾ ویونکو سره الله ﷻ وعده ده.او ﴿ سبحان‌الله‌وبحمده ﴾ ویونکو دپاره یولاک شل زره نیکئ لیکلې کیږی ، دې باندې یو بل صاحب اووئیل یارسول الله ﷺ ! چه هرکله داسې دی نو بیا به مونږ څنګه هلاک شو ؟ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه یو انسان به دقیامت په ورځ داسې اعمالو سره راشی که هغه په غر باندې کیخودې شی نو په هغه به هم بوج شی ، خو یونعمت به داسې راشی چې صرف د هغه په شکر کښې به دا اعمال کم په نظر راځی.خو دا بله خبره ده چه الله ﷻ خپل رحمت کامله سره دا پټ کړی او جنت ورکړی ، او دا آیتونه نازل شو چه ﴿هَلْ اَتٰى عَلَى الْاِنْسَانِ﴾ نه تر ﴿وَمُلْكًا كَبِيْرًا﴾ پورې.نو حبشی صحابی ﷺ اووئیل یارسول الله ﷺ ! چه په جنت کښې ستاسو سترګې مبارکې کوم کوم څیزونه ګوری نو آیا هغه به ځما سترګې هم ګوری ؟ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آو.نو دې باندې هغه دومره اوژړل چه هم دې کښې وفات شو.رضی الله عنه وارضاه.حضرت ابن عمر ﷺ فرمائی چه ما اوکتل چه دهغه لاش مبارک خپله حضرت نبی کریم ﷺ قبرته کوزوی.[1] دا روایت غریب دې او دې کښې نکارت .دی او ددې سند ضعیف دې.بیا فرمائی چه داخاص دالله ﷻ عنایت او د هغه فضل دې او دهغه رحمت دې چه ددې قابل شو ، الله ﷻ ته ښه معلوم دی او هغه ښه پیژنی چه د هدایت او توفیق مستحق څوک دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	خُذُوْا	حِذْرَكُمْ		
ائې هغه کسانو چې ایمان مو راوړې دې		اونیسئ	وسلې خپلې		
ائې مومنانو تاسو خپلې وسلې ځان سره اونیسئ					
فَانْفِرُوْا	ثُبَاتٍ	اَوِانْفِرُوْا جَمِيْعًا ۝	وَاِنَّ مِنْكُمْ	لَمَنْ	
بیا اوخئ په جدا جدا ډلو کښې یا اوخئ ټول په جمع		اوبیشکه بعضې په تاسو کښې		خامخاهغه څوک دی	
اوپه جدا جدا ډلو یا په جمع سره اوخئ		.....په تاسو کښې ځینې داسې هم شته چې			
لَيُبَطِّئَنَّ ۚ	فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةٌ	قَالَ	قَدْ اَنْعَمَ	اللّٰهُ	
چې بچ کوی خان دجنګ نه	نوکه اورسیږی تاسو ته	څه مصیبت	وائی چې	فضل اوکړو	الله
(دجنګ نه) خان بچ کوی	که تاسو ته څه مصیبت اورسی نو دې وائی چې الله ﷻ رابانديې ډیرلوې فضل				اوکړو
عَلَيَّ	اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ	شَهِيْدًا ۝	وَلَئِنْ	اَصَابَكُمْ	فَضْلٌ
په ما باندې	چې نه ووم زه	دهغوئ سره	حاضر	اوکه چرې	اورسیږی تاسو ته
چې زه ورسره موجود نه ووم		اوکه په تاسو باندې الله ﷻ (د فتحې یا د مال غنیمت)			فضل
مِّنَ اللّٰهِ	لَيَقُوْلَنَّ	كَاَنْ لَّمْ تَكُنْۢ	بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ		مَوَدَّةٌ
د الله د طرفه	نو وائی	الکه چې نه وه	په منځ ستاسو کښې اوپه منځ دهغه کښې		څه دوستی
اوکړې انوداسې وائی لکیا شی چې ګنې ستاسو او دهغه په مینځ کښې هډو مینه (پیژندګلو) نه وه					

[1] الطبرانی فی الکبیر : ۱۳۵۹۶)-

يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ فَأَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴿۷۳﴾ فَلْيُقَاتِلْ

کاش چې زه وې ادهغوئ سره انو کامیاب شوې به ووم اپه کامیابئ الوئ سره انو پکار دي چې اوجنګیږي

کاش چې زه هم ورسره (جهاد دپاره) تلې وې | نو په لویه کامیابئ به کامیاب شوې ووم | د الله په لار کښې

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ؕ وَمَنْ يُّقَاتِلْ

په لاره دالله کښې اهغه کسان اچې خرڅوی | ژوند ددنیا اپه آخرت باندې | او څوک چې جنګ اوکړی

هغه کسانو دپاره جهاد کول پکار دي | چې ددنیا ژوند د آخرت بدله کښې اخلی | اوڅوک چې

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿۷۴﴾

په لار دالله کښې | نوکه قتل کړې شی | یا غالب شی | نو زر به | ورکوو مونږه هغه ته | اجر لوئ

دالله ﷻ په لار کښې جهاد اوکړی | اوبیا شهید کړې شو | یاغلبه اومومی | نو مونږ به ورته ډیرزر لوئ اجر ورکړو

کافرانو سره د قتال دپاره دجنګ سامان دتیارولو ساتلو حکم :- الله ﷻ مسلمانانو ته حکم کوی چه هغوئ هر وخت خپل دبچ کید بندوبست کوی او هر وخت وسله په لاس اوسی چه دوی باندې دښمن په آسانه غالب رانشی. دضرورت وسله ځان سره ساتئی او خپل شمیر زیاتوئی ، او قوت زیاتوئی ، او باقاعده دجهاد دپاره په یو آواز ښه په ځوانمردئی سره راپاسئ ، ورو ورو لښکرو کښې تقسیم شئ یا د فوج په صورت کښې ، چه هر څنګه هم وی نو کله چه آواز اوشی نو زر تیاریږئی. دا دمنافقانو خصلت دي چه پخپله هم دالله ﷻ د لارې نه زړه پتوی او نورو ته هم دې تلقین کوی. لکه څنګه چه عبدالله بن ابی سلول سردار دي. دمنافقانو فعل وو چه الله ﷻ دې هغوئ رسوا کړی. ددوی دا حالت دي که د الله ﷻ رحمت سره مسلمانانو ته ددښمن مقابله کښې کامیابی اونشوه نو دښمن به په دوی غالب شی ، او دوی ته نقصان اورسیدو ، اوددوی سړی شهیدان شو ، نو دوی کور کښې ناست وی ، او په خپل هوښتارتوب فخر کوی ، او دا دالله ﷻ انعام ګڼړی چه دوی په جهاد کښې شریک نه شو. خو دې بې خبرو ته معلوم نه دی چه کوم اجر و ثواب دې مجاهدینو ته ملاؤ شو دهغه ټولو نه دا بدنصیبه محروم پاتې شو. که دوی وې نو دوی به د غازی درجه موندې وې. او د خپل صبر ثواب په دوی ته ملاؤ شوې وې. یا به دوی ته د شهادت اوچته درجه ورکړې شوې وې.

او که مجاهدینو ته دالله ﷻ فضل ملاؤ شو یعنی دوی په دښمنانو باندې غالب شو ، دوی ته فتح نصیب شوه ، دوی دښمنان تس نس کړل ، او مال د غنیمت کښې دوی ته وینځې او غلامان ملاؤ شو او دوی فتح اونصرت سره واپس راغلل ، نو اوس دوی غصه کښې دی او ډیر افسوسونه کوی ، او پښیمانه دی ، او داسې کلمات د خولې نه اوباسی چه ګویا دوی هډو ستاسو نه نه وو ، لکه چه ددوی دین بل دي. وائی چه هغوئ سره هم نه شو او مونږ ته حصه هم ملاؤ نشوه. او مونږ نه وینځې او غلامان هم لاړل. الغرض چه په دنیا کښې په دوې باندې پښیمانتیا ده. نو کوم مومنان چه دالله ﷻ لار کښې تلو ته تیار دی هغوئ ته پکار دی چه هغه خلقو سره جهاد اوکړی چه کوم ددنیا بدله کښې دین خرڅوی. خپل کفر د خپل عدم ایمان په وجه بربادوی. واورئی ! دالله ﷻ لار کښې چه څوک مجاهد وی نو هغه ته نقصان نه وی ، ددوی دواړه جهانونه ښائسته وی. که دې قتل کړې شی نو ده ته اجر و ثواب ملاویږی ، غالب شی نو بیا هم ورته ثواب ملاویږی.

بخاری او مسلم کښې دی چه د الله ﷻ لار کښې دمجاهد ضامن پخپله الله ﷻ دې ، یا به دوی جنت ته داخل کړی ،یا چه دکوم خائې نه هغه تلې دې هغه به ته صحیح سالم غنیمت سره واپس را شی.(۱) فالحمدلله.

وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ	
اوآخرځه شوی دی په تاسو | چې نه جنګیږئ | په لار د الله کښې | حال دا چه کمزوری	
آخر څه وجه ده چې تاسو د الله ﷻ په لار کښې جهاد نه کوئ | .....حالانکه هغه کمزوری	
مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا	
د سړو نه | او دښځو نه | اودماشومانو نه | هغه کسان | چې وائی | ائې ربه زمونږه | راوباسې مونږ	
سړی اوښځې اوماشومان چې هغوئ فریادونه کوی | او وائی چې ائې زمونږه ربه مونږ راوباسې	
مِنْ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ	
د دې کلی نه | چې ظالمان دی | اوسیدونکی د دې | او پیدا کړې دپاره زمونږ | د خپل طرف نه	
ددې کلی(مکې) نه | څکه چه ددې خلق ظالمان دی | اودخپل طرفنه مونږ دپاره څوک ملګرې اوګرزوه	
وَلِيًّا ۚ وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا ۝ الَّذِينَ آمَنُوا	
دوست | او پیدا کړې دپاره زمونږ | دطرفه خپل نه | مددګار | هغه کسان | چې ایمان ئې راوړې دې	
اودخپل طرفه مونږ دپاره څوک مددګونکې پیدا کړه | ..... کوم خلق چې ایماندار دی	
يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَالَّذِينَ كَفَرُوا يُقَاتِلُونَ	
هغوئ جنګ کوی | په لار د الله کښې | اوهغه کسان | چې دکفر په لاره روان دی | هغوئ جنګ کوی	
هغوئ د الله ﷻ په لار کښې جهاد کوی | .....اوکوم چې کافران دی هغوئ د	
فِي سَبِيلِ الطَّاغُوتِ فَقَاتِلُوا أَوْلِيَاءَ الشَّيْطَانِ ۖ إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ	
په لار د ابلیس کښې | نو اوجنګیږئ | ددوستانو دشیطان سره | بیشکه تدبیر | دشیطان	
شیطان په لار کښې جنګ کوی | نودشیطان ملګرو سره په کلکه اوجنګیږئ | بیشکه دشیطان تدبیرونه	
كَانَ ضَعِيفًا ۝	
دې کمزوری |	
(د الله د تدبیر په مقابله کښې) ډیر کمزوری دی |	

قوله تعالی::وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ

د مظلومو مسلمانانو د مدد دپاره جهاد فرض دې :- الله ﷻ مومنانو ته رغبت ورکوی خپله لار کښې د جهاد کولو او فرمائی چه هغه کمزوری او بې وسه خلق چه په مکه کښې دی او په هغوئ کښې ښځې او

(۱) صحیح بخاری کتاب فرض الخمس باب قول النبی صلی الله علیه وسلم احلت لکم الغنائم : ۳۱۲۳، صحیح مسلم: ۱۸۷۶، نسائی : ۳۱۲٤)-

Scanned with Ca

ماشومان هم دی او هغوئ هلته تنګ شوی دی.او کافران په هغوئ نوی نوی ظلمونه کوی .اوهغوئ بالکل بې وسه دی او هغوئ آزاد کړئ او هغوئ هم دا وائی چه مونږ ددې خائې نه آزاد کړئ.مکې مکرمې ته دې آیت مبارك کښې قریه ونیلې شوی دی ﴿وَكَأَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ هِيَ أَشَدُّ قُوَّةً مِّنْ قَرْيَتِكَ الَّتِي أَخْرَجَتْكَ﴾ دیر کلی ددې کلی نه زیات طاقتور وو ، او ددې کلی والو هغوئ اوویستل.دمکې اوسیدونکی ماته د دکافرانودظلم شکایت کوی او ورسره خپلو دعاګانوکښې وائی چه ائې ربه د خپل طرفنه مونږ دپاره مددګار اوولی مقرر کړه.

ابن عباس ؓ په معذورینو کښې وو:- صحیح بخاری کښې دی چه حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چه خه اوڅما مور هم په دې کمزورو خلقو کښې وو(۱)او یو روایت کښې دی چه دوی ﴿وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ﴾ اولوستلو او وې فرمائیل چه څما مور بی بی هم په دې خلقو کښې ده.او هغه الله ﷻ معذوره کړې ده. (۲)

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيْفًا ۝

بیافرمائی چه ایماندار دالله ﷻ د فرمانبردارئی اورضا دپاره جهاد کوی.اوکفاردشیطان اطاعت کوی.نو مسلمانانو ته پکار دی چه دشیطان دوستان چه د الله ﷻ دښمنان دی ، دوی سره د زړه نه جهاد اوکړی او یقین اوساتی چه د شیطان مکروه او فریب به ددوی هیڅ اونکړی.

اَلَمْ تَرَ	اِلَى الَّذِيْنَ	قِيْلَ	لَهُمْ	كُفُّوْٓا	
آیا او نه لیدل تا	هغه کسان	چې اووئیلې شو	هغوئ ته	چې بند کړئ	
ته هغه خلقو ته نه ګورې چې ورته وئیلې شوې وو					
اَيْدِيَكُمْ	وَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ	وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ	فَلَمَّا	كُتِبَ	
لاسونه خپل	اوقائموئ مونځ	او ورکوئ زکاة	نو هر کله	چې فرض کړې شو	
چې خپل لاسونه «دجنګ نه» بند کړئ	اومونځ قائموئ	اوزکاة ورکوئ	نواوس چې هرکله		
عَلَيْهِمُ	الْقِتَالُ	اِذَا	فَرِيْقٌ	مِّنْهُمْ	يَخْشَوْنَ	النَّاسَ
په هغوئ باندې	جهاد	نو اوس دا حال دې چې	یوه ډله	دهغوئ نه	ویریږئ	دخلقو نه
هغوئ ته د جهاد حکم ورکړې شو	نوپه دوی کښې دیوې ډلې دا حال دې چې د خلقونه داسې ویریږی					
كَخَشْيَةِ	اللّٰهِ	اَوْ اَشَدَّ خَشْيَةً ۚ	وَقَالُوْا	رَبَّنَا	لِمَ كَتَبْتَ	عَلَيْنَا
پشان دویرې	دالله	یا زیاته ویره	اووائی	ائې ربه زمونږه	ولې فرض کړو تا	په مونږ
لکه څنګه چې دالله نه ویره پکار ده	بلکه ددې نه هم زیات ویریږی	او وائی چې ائې زمونږ ربه په مونږ دې				
الْقِتَالَ ۚ	لَوْلَآ اَخَّرْتَنَآ	اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيْبٍ ؕ	قُلْ	مَتَاعُ الدُّنْيَا	
جهاد	ولې دې روستو نه کړومونږه	دنیتې	نزدې پورې	ورته اووایه	سامان د ژوند ددنیا
ولې جهاد فرض کړو	ولې دې مونږ ته نور مهلت رانکړو	ائې پیغمبره ﷺ	ته ورته اووایه چې ددنیا ژوند		

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (وما لکم لا تقاتلون ...) : ٤٥٨٧)-

۲) صحیح بخاری ایضا : ٤٥٨٨)-

Scanned with Ca

قَلِيْلٌ ۚ	وَالْاٰخِرَةُ	خَيْرٌ	لِّمَنِ	اتَّقٰى ۣ	وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ۝
لږدي	اوآخرت	ډيرښه دي	دپاره دهغه چا	چې ويريږي	اونه به کيږي ظلم په تاسو
د يو تار برابر هم					
ډيرلږ دي	اودپرهيزګارو دپاره آخرت ډيرغوره دي	.....	او په تاسو به د يو تار برابر هم ظلم ونشي کولې		

اَيْنَ مَا	تَكُوْنُوْا	يُدْرِكْكُّمُ	الْمَوْتُ	وَلَوْ	كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ
هر چرته چې	يئ تاسو	رالاندې به کړي تاسولره	مرګ	اګر که	يئ تاسو په قلاګانو
(پاتې شومرګ) نو چه هرخائې کښې ئې مرګ به درته ضرور راځي				اګر که په مضبوطو قلاګانو کښې	

مُّشَيَّدَةٍ ؕ	وَاِنْ تُصِبْهُمْ	حَسَنَةٌ	يَّقُوْلُوْا	هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ	وَاِنْ
مضبوطو کښې	اوکه اورسي دوئ ته	څه خير	نو واني	دا د طرفه د الله نه دي	اوکه
محفوظ ئې	اوهرکله چې دوئ ته څه فائده اورسي	نو وائي چې دا د الله ﷻ دطرفه مقرر ده			اوکه

تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ	يَّقُوْلُوْا	هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ؕ	قُلْ كُلٌّ	مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ	
اورسي دوئ ته څه مصيبت	نووائي	دادې د طرفه ستا نه دي	اووايه چې ټول	دطرفه دالله نه دي	
دوئ ته څه نقصان اورسي	نو دوئ وائي چې دا ستا د طرفه دي	ته ورته اووايه چې دا ټول هرڅه دالله د طرفه دي			

فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ	الْقَوْمِ	لَا يَكَادُوْنَ	يَفْقَهُوْنَ	حَدِيْثًا ۝	مَآ اَصَابَكَ
نوڅه شوی دی په دې	خلقو	چې نه دی نزدې دي ته	چې پوهه شي	په څه خبره	څه چه اورسيدل تا ته
آخرپه دوئ څه شوې دی چې	په هيڅ	خبره نه	پوهيږي	.....	تا ته چې څه

مِنْ حَسَنَةٍ	فَمِنَ اللّٰهِ ۘ	وَمَآ اَصَابَكَ	مِنْ سَيِّئَةٍ	فَمِنْ نَّفْسِكَ ؕ	
د خير نه	نو دطرفه دالله نه دی	او څه چې اورسيدل تاته	د شر نه	نو هغه دنفس ستا نه دی	
خير رسي	نود الله ﷻ په مهربانئ دررسي	اوچې کوم نقصان دررسي	نوهغه دخپل عمل په وجه دررسي		

وَاَرْسَلْنٰكَ	لِلنَّاسِ	رَسُوْلًا ؕ	وَكَفٰى بِاللّٰهِ	شَهِيْدًا ۝	
اولیږلې ئې مونږ ته (اې محمده ﷺ)	دپاره دخلقو	رسول	او کافی دي الله	په حيثيت د ګواه	
اوائې پيغمبره ﷺ ته خومونږ ټولوخلقوته رسول لیږلې ئې			او په دي خبره صرف دالله ګواهی کافی ده		

قوله تعالی:: اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ قِيْلَ لَهُمْ كُفُّوْٓا اَيْدِيَكُمْ

دایت پس منظر :- واقعه بیانیږی چه د اسلام په شروع کښې کله چه مسلمانانو مکه مکرمه کښې وو ، کمزوری وو ، کم وو ، په عزتمند ښار کښې وو ،دکافرو غلبه وه ، دوی دهغوئ ښار کښې وو ، هغوئ زیات وو ، هغوئ جنګی سازوسامان سره طاقت کښې وو ، ددې وجې الله ﷻ په هغه وخت کښې مسلمانانوته د جهاد حکم ورنکړو بلکه دوی (مسلمانانو) ته ئې اوفرمائیل چه دوی دي دکافرانو سزاګانې برداشت کوی ، د هغوئ مخالفت دي برداشت کوی، دهغوئ ظلمونه دي زغمی ، دالله ﷻ د طرفنه چه کوم احکام نازل شوی دی په هغې دي عمل کوی ، مونځ دي ادا کوی ، زکوة دي ورکوی

.اګر چه دوی سره مال هم زیات نه وو لیکن بیا هم هغوی ته مسکینانو سره د مدد کولو او همدردنی کولو حکم شوې وو. د الله ﷻ د مصلحت تقاضا دا وه چه دوی دې کفارو سره جنګ نه کوی بلکه صبر دې کوی.بل طرفته کافرو دوی باندې ډیر زیات ظلمونه کول.هر وړوکی لوئې ته به ئې سختې سزاګانې ورکولې.مسلمانان ئې ډیر زیات تنګ کړی وو. ددې وجې ډیر زیات برداشت سره جوش پیدا شوې وو ،او ژبې نه به ئې الفاظ وتل چه د دې روزانه روزانه مصیبتونو نه خودا بهتر ده چه په یو ځل په دوی باندې د زړه براس اوباسو ، میدان کښې لاس په لاس معلوم کړو ، کاش چه مونږ ته الله ﷻ د جهاد حکم راکړی.لیکن اوسه پورې حکم نه وو شوې.هرکله چه دوی ته د هجرت اجازت ملاؤ شو او مسلمانانو خپل دین ، خپل زر ، خپله زمکه په الله ﷻ قربان کړل. او خپل دین اسلام سره مکې مکرمې نه لاړل ، مدینه منورې ته اورسیدل نو دلته دوی ته هر رنګ سهولت اوامن ملاؤ شو ، دمدد کولو دپاره ورته انصارمدینه ملاؤ شو.، تعداد ئې زیات شو ، قوت او طاقت ئې څه قدرې زیات شو ، نو اوس د الله ﷻ طرفنه دوی ته اجازت ملاؤ شو چه تاسو سره څوک جهادکوی نو هغوئ سره جهاد کوئی. بعضې خلق ویریدل ، میدان جنګ کښې د قتل کیدو نظاره ، دښځو د کونډیدو خیال ، دبچو د یتیم کیدو ویره ،ددوی مخکښې وه.په ویره کښې ئې اووئیل چه ائې الله ﷻ جهاد دې ولې اوس فرض کړو ،لږ خو به دې مهلت راکړې وې.

هم دا مضمون نورو آیتونو کښې دا شان بیان شوې دې چه﴿وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا لَوْلَا نُزِّلَتْ سُورَةٌ﴾مختصر دا چه ایماندار وائی چه یو سورت ولې نازل نه شو. هرکله چه څه سورت نازل شی او په هغې کښې د جهاد ذکر وی نو د بیمار زړه خلق وائی او په غصه کښې وائی او دمرده ګڼانو په شان سترګې بندې کړې ، په دوئ افسوس دی. حضرت عبدالرحمان بن عوف او ددوی ملګری مکې ته حضرت نبی کریم ﷺ ته راځی او وائی چه یارسول ﷺ ! مونږ ته د کفر حالت کښې عزت حاصل وو اوس د اسلام حالت کښې مونږ ذلیله ګنړلې شو (مطلب دا وو چه د حضرت نبی کریم ﷺ حکم منل ضروری دی ، او حضرت نبی کریم ﷺ مقابلې کولو نه منع کوی چه دې سره دکافرو جرات نور هم زیات شو ، او هغوئ مونږ ته ذلیل وائی ، نو حضرت نبی کریم ﷺ مونږ ته ولې د مقابلې کولو اجازت نه راکوی).لیکن حضرت نبی کریم ﷺ جواب ورکړو چه ماته دالله ﷻ هم دا حکم دې چه مونږ معافی اوکړو او خبردار کافرو سره جنګ مه کوئی.بیا چه کله مدینې منورې ته ئې هجرت اوکړو نودلته د جهاد احکام نازل شو خوخلق روستو شو ، نو دې باندې دا آیت مبارک نازل شو (نسائی ، حاکم ، ابن مردویه). ([1])

ایت د کمزور مسلمانانو باره کښې دی:- حضرت سدی رحمه الله فرمائی چه کله صرف د صلوة او زکوة حکم وو نو خواهش به ئې کولو چې جهاد فرض شی ، هر کله چه د جهاد فرضیت نازل شو نو کمزوری مسلمانان ویریدل لکه څنګه چه د الله تعالی نه ویریدل پکار دی.بلکه ددې نه هم زیات ویریدل او وې وئیل چه ائې ربه ! تا په مونږ جهاد ولې فرض کړو ، ولې دې مونږ ته دمرګ وخت پورې صحیح فائده اوچتولو نه منع کړو. دوی ته جواب ملاویږی چه دنیاوی فانده ناپائیدار او دې سره سره ډیره کمه ده ، خو آخرت دمتقیانو دپاره ددنیا نه ډیر زیات بهتر او پاک دې.

ایت د یهود په باره کښې دې:- حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه دا آیت دیهودیانو باره کښې نازل شوې دې.جواب کښې اوونیلې شو چه د پرهیزګارو انجام ډیر ښه دې.تاسو ته به ستاسو داعمالو بدله پوره پوره درکولې شي.یو نیک عمل به مو هم ضائع نکړو .دې جمله کښې دوی ته د دنیا نه بې رغبتئ دپاره وئیلې شی ، او آخرت طرفته توجه ورکولې شی او د جهاد رغبت ورکولې شی.

---

[1]) نسائی کتاب الجهاد باب وجوب الجهاد: ۳۰۸۸ وسنده صحیح)-

Scanned with Ca

حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ دي په هغه بنده رحم اوکړی چه هغه دنیا کښې داسې مشغول وی چه ټوله دنیا آول نه تر آخره پوري داشان شي لکه اوده سړي چه خپل خوب کښې یو خوښ څیز اوګوری لیکن دې چه کله راویښ شی نو ده ته معلومه شی چه هیڅ نه وو.

د دنیا په باره کښې اشعار:- د ابو مصهر رحمه الله داکلام څومره بنکلي دي:

ولاخیرفی الدنیالمن لم یکن له — من الله فی دارالمقام نصیب
فان تعجب الدنیا رجالا فانها — متاع قلیل والزوال قریب

ترجمه:دهغه سړی دپاره دنیا دښیګړې نه بالکل خالی ده. اوده ته به صبا آخرت کښې هیڅ حصه نه ملاویږی.اګرچه دنیا لیدلو سره بعضې خلق تعجب کوی.خو په حقیقت کښې دا لږه غوندې فائده ده اوهغه هم ډیره زر فنا کیدونکي ده.

قوله تعالی::اَیْنَ مَا تَکُوْنُوْا یُدْرِکْکُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ کُنْتُمْ فِیْ بُرُوْجٍ مُّشَیَّدَةٍ ؕ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ یَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ۚ وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَیِّئَةٌ یَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ ؕ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ؕ فَمَالِ هٰۤؤُلَآءِ الْقَوْمِ لَا یَكَادُوْنَ یَفْقَهُوْنَ حَدِیْثًا ۝

دمرګ نه خلاصی نشته:- بیاارشادباری تعالی دي چه آخر به هر یو د مرګ مزه څکی ، هیڅ یو ذریعې سره هیڅوک نشی بچ کیدې،لکه دا فرمان دي چه ﴿کُلُّ مَنْ عَلَیْهَا فَانٍ ۝﴾ څومره مخلوق چه په زمکه دی ټول به فنا کیږی.او بل ځائي کښې ارشاد دي ﴿کُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ ؕ﴾ هر یو ساه لرونکي مړکیدونکي دي.بل ځائي فرمائی ﴿وَمَا جَعَلْنَا لِبَشَرٍ مِّنْ قَبْلِكَ الْخُلْدَ ؕ﴾ ستاسو نه مخکښې خلقو کښې مونږ د هیچا دپاره همیشه ژوند نه وو مقرر کړی.مقصد دادي که څوک جهاد کوی او که نه کوی د الله تعالی نه سوا هر څوک به دمرګ مزه څکی.هر یو دپاره یو وخت مقرر دي او دهر یو د مرګ ځائي مقرر دي.

دخالدبن ولید رضی الله عنه هغه چاته نصیحت چې جهاد نه ویریږی:- حضرت خالد بن ولید رضی الله عنه چه کله بیمار وو نو فرمائیل نې چه قسم په الله ﷻ فلانی فلانی ځائي غرض په سوونو جنګونو کښې ما حصه واخسته ، ثابت قدمئی خوانمردئی او بهادرئی سره مې جهاد اوکړو.راشئ اوګورئی ځما د بدن هیڅ یوه حصه هم داسې نه ده چه په هغې باندې د نیزې داغ نه وی.یا په غشی نه وی لګیدلې یا په توره یا په بله وسله نه وی لګیدلې.لیکن ځمامرګ میدان جنګ کښې نه وو لیکلې شوی او اوس اوګورئی څه په خپل کټ باندې مرم ، چرته دی هغه خلق چه دجهاد نه مخ اړوی ، هغوئ دي ځما نه سبق زده کړی.

مرګ یو اټل حقیقت دي :- بیا فرمائی چه د مرګ پنجې نه تاسو لره اوچتې ، مضبوطې او محفوظ قلعه ګانې هم نشی خلاصولې.

دبروج یوضعیف تفسیر:- بعضو وئیلی دی چه ددې نه مراد آسمان او برج دی ، لیکن دا قول ضعیف دي.صحیح هم داده چه مراد تړې محفوظ مقامات دی یعنی د مرګ نه که هر څومره حفاظت اوکړې شی لیکن مرګ به په خپل وخت راځی او دخپل وخت نه مخکښې کیږی.

دزهیر شعردي چه مرګ نه تښتیدو والا که آسمان نه پورهئ هم اولږوی نو ده ته هیڅ نفع نه شی ورکولې

په مشید،مشدد اوغیرمشدد کښې فرق:- یو قول دي چه ﴿مشیدة بتشدید اومشید﴾ بغیر تشدید نه یو معنی کښې دی.اوبعضې دي دواړو کښې د فرق قائل دی.د اول معنی مطول او د دویم معنی مزین یعنی لاس لګولو سره.

د جولا د لاسه د مرګ یوه عجیبه قصه:- ابن جریر او ابن ابی حاتم کښې په دې موقع د یو مطول قصه حضرت مجاهد رحمه الله نه مروی ده. (۱) پخوا زمانه کښې یو حامله ښځه وه. هرکله چه ددې درد شروع شو

(۱) دااثر اسرائیلیاتونه دي والله اعلم-

نو ددې ماشومه پیدا شوه نو دې خپلې نوکرې ته اوونیل چه لاړه شه او اور راوړه ، هغه بهر اوونلله او وې کتل نو په دروازه باندې یو سړې ولاړ دې اوتپوس کوی چه څه اوشو هلك که جینئ هغې ورته اوونیل چه جینئ شوې ده. نوهغه ورته اونیل چه دا جینئ به سلو سړو سره زنا کوی اوبیا دې سره چه دا کوم سړې نوکر دې هغه سره به نکاح کوی اوددوی مرګ سبب به یو جولا وی.دا سړې هم ددې خانې نه واپس راغلو او راتلو سره نې ددې جینئ خیټه یو چړې سره اوڅیرله ، اودا مړه اوګنړله او دهغه خانې نه په تیښته لاړو. ددې مور چه دا اوکتل نو د خپلې لور خیټه نې ټانکې کړه او ددې علاج نې شروع کړو ، او دا جینئ ښه شوه ، او پدې یو موده تیره شوه او دا جینئ بالغه شوه. اودا جنیئ ډیره ښکلې وه. په غلطو کښې اخته شوه. بل طرفته نوکر د سمندر په لار چرته تلې وو او کار نې شروع کړو او ډیره پیسه نې پیدا کړه ، ده هغه ټول مال خان سره دې خپل وطن ته راړو.ده یو بوډئی ښځه راوغوښتله او هغې نه نې اونیل چه څه واده کول غواړم.په کلی چه کومه ښکلې ښځه وی هغې سره ځما واده اوکړه.دا ښځه لاړه او ټول ښار کښې ددې جینئ نه بله ښکلې جینئ نه وه.دې هم دا پیغام ورکړو ، هغې منظور کړاو نکاح اوشوه. اودا جینئ دده کور ته راغله. دواړو ښځې خاوند کښې ډیر محبت وو.

یو ورځ ذکر کښې دې ښځې دده نه تپوس اوکړو چه ته څوك نې او چرته نه راغلې نې.اودلته څنګه راغلې نې.وغیره وغیره.ده ورته خپله ټوله واقعه بیان کړه چه څه دلته دیوښځې غلام اوم.اوددې لور سره مې دا حرکت کولو نه پس اوتښتیدم.او اوس دومره کلونو پس دلته راغلې یم.دې ورته اوونیل چه تادچا خیټه څیرې کړې وه څه هم هغه یم ، او دې ورته هغه خپل زخم اوخودلو. نوبیا هغه ته یقین اوشو نو ده ورته اووئیل چه ښه ده ما ته دې سره داهم معلوم شو ، اوهغه دا چه تا به سلو سړو سره زنا کړې ده. هغې اوئیل چه دا صحیح دی داکار ما کړې دې لیکن شمیر ماته یاد نه دې.هغې اوونیل چه ماته ستا باره کښې یو بله خبره هم معلومه شوه او ستا د مرګ سبب چه ستا دمرګ سبب به یو جولا وی.خو بیا هم ځما تاسره ډیر زیات محبت دې.خه به ستا دپاره یو اوچت محل جوړ کړم.ته به په هغې کښې اوسه چه تاته جولاګان وغیره نشی درتلې. نو هغه یو داسې محل تیار کړو او دا ښځه په هغې کښې اوسیده. څه موده پس یو ورځ دواړه ښځه خاوند ناست وو ، چه په دې کښې د وی په چت جولا اولیدو.ددې کتلو سره دې سړې اوونیل چه اوګوره نن دا جولا ښکاره شو.ښځې اوونیل چه دا ځما دپاره جان لیوا دې ؟ هرکله چه داسې ده نو څه دا مړکړم.غلامانو ته نې حکم اوکړو چه دا ژوندې اونیسئ او ما ته نې راوړئ.هغوئ هغه اونیولو او په زمکه کښې نې کیځودلو او په دې نې پښه کیځوه چه دا مړ کړی.هغه نې مړ کړو. دهغې نه چه کوم ګند راووتلو نود هغې یو قطره ددې د ګوتې او نوك ترمینځه پریوتله او ددې د زهر اثر په دې اوشو او ګوته نې توره شوه او ددې نه آخر مړه هم شوه.

حضرت عثمان ؓ باندې چه کله باغیانو حمله اوکړه نو حضرت عثمان ؓ د حضرت محمد ﷺ د امت دخیر خواهئ او ددوی د اتفاق دپاره دوه اشعار اوونیل ، چه دهغې مطلب داهم دې چه دمرګ نه بچ کیدو دپاره څه څیز هیڅ او هیڅ قوت نشته دې.

د ښځو د بې عقلئ او بې وفائې عجیبه واقعه:- دحضر بادشاه ساطرون لره چه دکسری سابورذولاکتاف قتل کړې وو هغه واقعه مونږ دلته بیانوؤ.ابن هشام کښې دی چه کله سابور عراق کښې وو نو هغه زمانه کښې دې علاقه باندې ساطرون حمله کړې وه. ددې جواب کښې چه کله ده حمله اوکړه نو هغه قلعه بند شو. هغه یو کال پورې محاصره اوکړه لیکن قلعه فتح نه شوه.

یو ورځ د ساطرون لور نضیره دخپل پلار قلعه کښې ګشت کولو چه په دې کښې ددې نظر په سابور پریوتلو. سابور په هغه وخت کښې ډیر په شاهانه لباس او رینښمی لباس او تاج شاهی کښې وو. د نضیره زړه کښې خیال راغلو چه ده سره ځما واده اوشی نو ډیره به ښه وی. نو دې ورته خفیه پیغامونه

لیږل شروع کړل اودا وعده اوشوه که دا جینئ ددې قلعې په فتح کولو کښې سابور سره مدد اوکړی نو سابور به دې سره نکاح اوکړی. ددې پلار ساطرون شرابی وو. تولـه شپه بـه نشه کښې وو. دده لور دې موقعې نه فانده واخسته او خپل پلار نې تولـه شپه په نشه کښې مدهوش اوساتلو او دده تکیه لاندې نه نې د دروازې چابیانې واخستې.او د خپل یو بهروسې والا غلام په ذریعـه نې سابور تـه اورسولې.او د دې مدد سره هغه دروازه بیرته کړه.اوښار کښې نې قتل عـام اوکړو.او په دې ښار قابض شو. دا هم ونیلې شوی دی چه په دې قلعه کښې یو جادو وو چه تر کومې هغـه جادو مات نه کړې شی نو ددې قلعې فتح کول ناممکن وو ، دې جینئ هغه ته ددې جادود ختمولو طریقـه اوخودلـه چه یو زړه کونتره واخلئ.او ددې پښې د پیغلې د رومبی حیض وینې سره ګنده کړې شی ، بیا دې دا کونتره پرېښودې شی اوکله چه دا د قلعې په دیوال کینی نو د قلعې نه به دجادو اثر ختم شی اودقلعې پاتې به بیرته شی. نو سابور هم داسې اوکړل او قلعه فتح شوه او ساطرون نې قتل کړو او ټول خلق ختم شول او ټول ښار نې ویران کړو او دا جینئ نې خان سره بوتله.اودې سره نې نکاح اوکړه.یو شپه چه دا جینئ نضیره په خپله بستره ملاسته وه ، دې ته خوب نه ورتلو ، بې چینـه وه او اوړیده راوړیده ، نوسابور تـرې تپوس اوکړو چه څه خبره ده.دې اووئیل چه شاید بستره کښې څه دی چه ددې په وجه ماته خوب نه رازی.شمع بله کړې شوه او بستره راغونډه کړې شوه. نو ددې نه دآس یو پاڼه راوتله. سابور په دې نزاکت حیران شو چه د دومره وړې پاڼې په وجه دې ته خوب نه ورخی.تپوس نې اوکړو چه ستا پلار بـه تا دپاره څه کول.هغې اووئیل چه صرف نرمه د ریښمو بستره به وه ، صرف د باریك ریښمو لباس بـه وو ، صرف د نلو ګوده به مې خوړه او صرف انګوری شراب به مې څکل.دا انتظام ځما پلار ځما دپاره کړې وو.دا وه هم داسې چه ددې دپنډئی ګوده هم په نظر راتله.

دې خبرو خبرو کښې سابور باندې یو بل رنګ اوختو.اوهغه اووئیل چه کوم پلار تـه داسې په ناز ونعم اوپاللې نوهغه سره تا دا څه سلوك اوکړو چـه هغـه دې ځما په لاس قتل کړو او دهغـه ملك او تاج دې بربادکړو او اوس ستا نه څه امید ساتل پکار دی.الله ﷻ ته معلوم چه ماسره بـه څه کوی.نو هم په هغـه وخت کښې نې حکم اوکړو چه دا د سر د ویښتو نه یو آس سره اوترئی او آس نـه واګې اوباسئ ،نو هم داسې اوکړې شو او آس ویرولې شو او هغه اوتښتیدو او دا نې په زمکه راښکلـه اوددې ښځې بدن ذره ذره شو. دا واقعه عربو په خپلو نظمونو کښې هم بیان کړې ده.

بیا فرمانی چه کله دوی ته ښه سبزی ، ښه میوې او کرکیلـه ملاوه شی نو وائی چه دا دالله ﷻ د طرفـه دی.او کـه قحط پرې راشی ، روزئ کښې پرې تنګی راشی ، او مرګ او د اولاد کمې پرې راشی او کرکیله اوباغونه نې خراب شی نو وائی چه داد نبی د تابعدارئی په وجـه دی. دادمسلمانئ په وجه دی. او دینداره کیدو په وجه.فرعونیانو به هم دغه شان بدو کښې دحضرت عیسی ﷺ او مسلمانانوپحقله به بدګمانی کوله. لکه قران پاك کښې بل خاني کښې ذکر دی ، یو آیت کښې دی چه ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ عَلَىٰ حَرْفٍ﴾ یعنی بعضې خلق داسې هم دی چه په یو غاړه ولاړ وی او دالله ﷻ عبادت کوی. یعنی که دوی ته څه خیر اورسی نو خوشحالیږی. او کـه څه مصیبت ورتـه اورسی.نو زر التـه شی ، دا هغه خلق دی چه په دواړو جهانونو کښې برباد دی.نو دلتـه هم دمنافقانو بدی بیانیږی چه په ظاهره مسلمانان دی او په زړه کښې کوتـه دی او دوی نه چه کله څه نقصان اورسی نو دوی شور جوړکړی او وائی چه دا داسلام په وجه مونږ ته نقصان اورسیدو.

د حسنة تفسیر:- حضرت سدی رحمه الله فرمانی چه ﴿حَسَنَةٌ﴾ نه مراد دلتـه باران کیدل ، ځناورو کښې زیاتوالې ، د بچو زیاتوالې ، خوشحالی راتلل ، وغیره دی.که داسې اوشی نو وائی چه دا ټول د الله د طرفه دی او که ددې خلاف اوشی نو وائی چه ددې بې برکتئ سبب رسول الله ﷺ دې او وائی چه دا ستا

Scanned with Ca

د طرفه دی.یعنی مونږ دخپلو مشرانو لار پریښوده او ستا تابعداری مو اختیار کړه نو په دې وجه مونږ په دې کښې راګیرشو. نوالله ﷻ ددې ناپاك قول او غلطې عقیدې تردید کوی او فرمائی چه دا ټول هر څه دالله ﷻ د طرفه دی.دهغه قضا په هر نیك او بد ،فاسق او فاجراومومن او کافر ټولو باندې ده. نیکی او بدی د هغه لونې ذات د طرفه ده.

قوله تعالی:: ﴿وَإِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ وَإِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَقُولُوا هَٰذِهِ مِنْ عِنْدِكَ ۚ قُلْ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ ۖ فَمَالِ هَٰؤُلَاءِ الْقَوْمِ لَا يَكَادُونَ يَفْقَهُونَ حَدِيثًا﴾

بیا ددوې دهغه قول هم تردید کوی چه کوم د شك شبهې ، کم علمئ ، بې وقوفئ ،جهالت او ظلم په وجه دوی کوی فرمائی چه په دوی څه شوی دی چه په خبره نه پوهیږی

د شیخینوپه بوه مسئله کښې اختلاف:- یو غریب حدیث مبارك کښې د ﴿کل من عندالله﴾ متعلق دی هغه واورئی.بزار کښې دی چه مونږ حضرت نبی کریم ﷺ سره ناست وو چه په دې کښې څه خلقو سره حضرت ابوبکرصدیق ﷺ ، اوحضرت عمرفاروق ﷺ د دوی آوازونه اوچیتیدل.او حضرت نبی کریم ﷺ ته نزدې راغلل او بیا دواړه صاحبان کیناستل. نو حضرت نبی کریم ﷺ ترې تپوس اوکړو چه دا تیزې تیزې خبرې مو ولې کولې.یو سړی اوونیل چه یارسول الله ﷺ ! حضرت ابوبکرصدیق ﷺ خو ونیل چه نیکئ او ښیګړې دالله ﷻ د طرفه دی.او بدئی او تکلیفونه ځمونږ د طرفه دی.حضرت نبی کریم ﷺ حضرت عمر فاروق ﷺ نه تپوس اوکړو چه تا څه وئیل.حضرت عمر فاروق ﷺ اوئیل چه دواړه خبرې دالله ﷻ دطرفه دی.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هم دا بحث دحضرت جبریل ﷺ او حضرت میکائیل ﷺ په مینځ کښې شوې وو. میکائیل به هم هغه وئیل چه کوم حضرت ابوبکرصدیق ﷺ وائی او حضرت جبریل ﷺ به هغه وئیل چه څه ائې عمر فاروق ته وائې.نو هرکله چه آسمان والوکښې اختلاف دې نو زمکې والو کښې به خامخا اختلاف وی. نوآخر د حضرت اسرافیل ﷺ د طرفه فیصله اوشوه او هغوئ فیصله اوکړه چه حسنات او سئیات دواړه دالله ﷻ دطرفه دی .بیا حضرت نبی کریم ﷺ دواړو بزرګانو طرفته متوجه شو او وې فرمائیل چه ځما فیصله واورئی اویادساتئی که الله ﷻ خپله نافرمانئ کول غوښتلې نوابلیس به ئې نه پیدا کولو.لیکن شیخ الاسلام امام تقی الدین ابوالعباس ابن تیمیه ﷺ فرمائی چه : داحدیث موضوع دی او دټولو محدیثنو په دې اتفاق دې چه دا روایت ضعیف دې.

قوله تعالی:: ﴿مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ ۖ وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَفْسِكَ ۚ﴾

خیر دالله د طرفه او د شرسبب زمونږ د طرفه دی:- بیا الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته خطاب کوی خو مراد ترې عموم دی یعنی ټولو ته خطاب دې چه تاسو ته څه ئیکی رسی نو هغه دالله ﷻ رحم او لطف دې.او چه کومه بدی درسی نو دا پخپله ستاسو د اعمالو نتیجه ده .لکه بل آیت مبارك کښې چه دی چه ﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُوا عَنْ كَثِيرٍ﴾ چه تاسو ته کوم مصیبت درسی نو هغه ستاسو دبعضو عملونو په وجه دې او الله ﷻ خو د ډیرو بدعملونو نه تاسوته معافی کوی.

د راروانې جملې تشریح:- ﴿فَمِنْ نَفْسِكَ ۚ﴾ نه مراد سبب د ګناه دې. یعنی شامت داعمالو. حضرت نبی کریم ﷺ نه منقول دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم یو سړی ټول بدن یو لرګی سره رابنکلی شی یا دده قدم اوخوئیږی یا ده ته څه لږ شان محنت اومشقت اورسی او په دې سره په ده خوله راشی نو هغه هم په څه نه څه ګناه سره وی ،او هسې خو الله ﷻ د ډیرو ګناهونو نه معافی کوی.هغه ډیر زیات دی.[1]ددې مرسل حدیث مضمون یو متصل حدیث مبارك کښې هم دې .

---

[1]) الطبری : ۹۹۷۵ ».

په تکلیف سره ګناهونه معاف کیدل:- حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه په هغه ذات مې دې قسم وی چه دهغه په قبضه کښې ځما روح دې ، چه کله یو ایماندار ته یو تکلیف اورسی تردې چه دده بدن کښې یو ازغې هم ننوځی نو ددې په وجه الله ﷻ دده ګناهونه معاف کوی ،(۱) ابوصالح رحمه الله فرمائی چه ددې آیت مطلب دادې چه تاسو ته کوم مصیبت دررسي نو دهغې سبب ستاسو ګناه ده ، خوددې مقدر کولو والا الله تعالی دې.حضرت مطرف بن عبدالله رحمه الله فرمائی چه تاسو دتقدیر باره کښې څه غوارئ ، نوتاسو دپاره د سورة نساء آیت مبارك کافی نه دې.بیا ئې دا آیت مبارك اولوستلو چه په الله ﷻ قسم خلق الله ﷻ ته نه دی سپارلې شوی ، دوی ته حکم شوې دې ، او دې الله ﷻ طرفته به دوی واپس کیږی.دا قول ډیر قوی اومضبوط دې.او دقدریه او جبریه پوره تردید کوی ، تفسیر ددې دبحث موضوع نه دې.

قوله تعالی:: وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ۝

بیا فرمائی چه ائې نبی ﷺ ! ستا کار د شریعت تبلیغ کول دی،د الله ﷻ د رضامندئ او د هغه کارونونه نه خلق منع کول دی چې دکومو نه ممانعت شوې دې.او خلقو ته هغه احکام رسول دی چې دکومو درسولو حکم شوې دې د الله ﷻ ګواهی کافی ده.هغه ته رسول جوړ کړې ئې دغه شان هم دهغه ګواهی په دی خبره هم کافی ده چه تا تبلیغ اوکړو ، ستا اوددوی ترمینځه چه څه اوشو نو هغه پاك ذات په هغې کښې خبر دې.دوی چه تاسوسره کومه دښمنی او کبر کوی نو هغه ذات په هغې هم خبردار دې.

مَنْ يُّطِعِ الرَّسُوْلَ	فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ	وَمَنْ تَوَلّٰى	فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ	
چاچې تابعداری اوکړه درسول	نو په اصل کښې هغه تابعداری اوکړه دالله	اوچاچه مخ واړولو	نونه ئې لیږلې مونږ ته	
چاچې درسول تابعداری اوکړله	نوهغه دالله ﷻ تابعداری اوکړله	اوچا چې مخ اوګرځولو	نو ته خو موږ	
عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۝	وَيَقُوْلُوْنَ	طَاعَةٌ ۫	فَاِذَا بَرَزُوْا	مِنْ عِنْدِكَ
په دوئ باندې محافظ	اووائی دوئ	مونږ تابعدار یو	خوکله چې راوزی دوئ	د مجلس ستانه
په دوې نګران نه ئې مقرر کړې	اودوئ وائی چې مونږستاتابعداری کوو	اخوچې ستادمجلس نه پورته شی		
بَيَّتَ	طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ	غَيْرَ الَّذِيْ	تَقُوْلُ ۭ	وَاللّٰهُ يَكْتُبُ
نو دشپې مشورې کوی	یوه ډله	ددوئ نه	خلاف د هغه خبرو	چې ته ئې وانې
نویوه ډله په کښې داشان شته	چې دشپې مجلس جوړوی	او ستا د خبرې خلاف مشورې کوی		
مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ	فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ	وَتَوَكَّلْ	عَلَى اللّٰهِ ۭ	وَكَفٰى بِاللّٰهِ
هغه خبرې چې دشپې ئې کوی دوئ	انو پروا مه کوه د دوئ	او بروسه کوه	په الله باندې	اوکافی دې الله
دهغوئ ټولې پټې مشورې لیکی	نوددوئ پرواه مه	اوپه الله ﷻ بهروسه کوه		او الله د کارسازئ
وَكِيْلًا ۝				
کارساز				
دپاره کافی دې				

(۱) صحیح بخاری کتاب المرضی باب ما جاء فی کفارة المرض : ۵۶۴۱ ، صحیح مسلم: ۲۵۷۳)-

قوله تعالی::مَنْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ
د حضرت نبی کریم ﷺ اطاعت د الله تعالی اطاعت دي :- الله تعالی فرمائی چه څما بنده او رسول حضرت محمد ﷺ اطاعت صحیح معنو کښی څما اطاعت دي.د حضرت نبی کریم ﷺ فرمان حقیقت کښې څما فرمان دي.حضرت نبی کریم ﷺ دخپل طرفنه هیڅ نه وائی.چه څه فرمائی هغه څما د طرفنه ورته وحی کیږی.حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه څوك څما تابعداری کوی هغه دالله تعالی تابعداری کوی .او چا چه څما نافرمانی اوکړه.نو هغه دالله ﷻ نافرمانی اوکړه.او چه چا څما نافرمانی اوکړه نو هغه دالله ﷻ نافرمانی اوکړه.اوچاچه دامیر اطاعت اوکړو نو هغه څما اطاعت اوکړو اوچه چا د امیر نافرمانی اوکړه نو هغه څمانافرمانی اوکړه. دا حدیث مبارك مسلم او بخاری شریف کښې دي.(۱)

قوله تعالی::وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا
بیافرمائی چه ائې نبی ﷺ !کوم خلق چه ګناه کوی اوبې غمه کینی نو دهغوئ وبال په تاسو نشته دي تاسو باندې صرف رسول دی.نیك نصیب چه دا اومنی نو نجات به ورته ملاؤ شی او اجر به ورته ملاؤ شی.خو ددې نیکو ثواب به حضرت نبی کریم ﷺ ته هم ملاویږی.ځکه چه اصل کښې ددې لارې راهبر ، ددې نیکئ معلم حضرت نبی کریم ﷺ دي او چه څوك ئې او نه منی ، او عمل پرې اونکړی نو هغوئ به ډیر په نقصان کښې کوی.بدنصیب به وی.ددوی دګناهونو بوج به هم په دوی وی. ددوی ګناه حضرت نبی کریم ﷺ باندې نه ده.ځکه چه تاسو ددوی پوهولو او حق لار خودلو کښې هیڅ کمې نه دي کړې.حدیث مبارك کښې دی چه د الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ تابعداری کونکې په هدایت دي. او د الله او د رسول ﷺ نافرمان خپل نفس ته نقصان رسونکي دي.(۲)

قوله تعالی::وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُوْنَ
بیا دمنافقانو حال بیانوی چه په ظاهری طور خو د اطاعت او موافقت اظهارګوی.خو کله چه د نظرونو نه لرې شی.او خپل ځائې ته اورسی نو داسې شی لکه چه دوی هډو خبر نه وو. چه څه دلته وو دهغې بالکل برعکس دشپو پټ پټ ګرزی.
حالانکه الله ﷻ د پټو او چالا کو نه ښه خبر دي.دهغه مقرري د زمکې فرښتې ددوی تول کړه وړه ، اوتولې خبرې ، ددوی اعمال نامې هر څه لیکی.نو دوی لره ویروی چه دا څه بې هوده حرکت دي.هغه ذات خو تاسو پیداکړنی. هغه ذات نستاسو هیڅ خبره نه شی پټیدې. دا چه تاسو ظاهر او باطن یو شان نه ساتئ ستاسو ددې ظاهر او باطن به سزا به هغه تاسو سزا درکوی.
اوبل آیت کښې هم دمنافقانو دخصلت بیان دي الفاظو سره فرمائی چه ﴿ وَيَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَبِالرَّسُوْلِ
قوله تعالی::فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا
بیا خپل نبی ﷺ ته حکم کوی چه تاسو دوی ته معافی اوکړئی او ددوی خطاګانې معاف کړئی ، ددوی حال د دوی نوم سره نورو ته مه وائې ،ددوی نه بالکل بې ویرې اوسئ ، الله ﷻ باندې بهروسه اوساتئ ، او چه څوك هغه پاك ذات طرفته رجوع اوکړی نو هغه پاك ذات دهغه دپاره کافی دي.

اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ	الْقُرْاٰنَ ؕ	وَلَوْ كَانَ	مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ
آیا نونۀ کوی غور دوئ	په قرآن	اوکه چرته وې (داقرآن)	دطرفه دغیرالله نه
آیا دوی قرآن پاك ته فکر نه کوی	که دا کتاب د الله نه سوا د بل چا د طرفه وې		

[1])صحیح بخاری کتاب الاحکام باب قول الله (اطیعوا الله واطیعوا الرسول) ۷۱۳۷ صحیح مسلم: ۱۸۳۵ عن ابی هریرة ﷺ)
[2]) ابوداود کتاب الصلاة باب الرجل یخطب علی قوس :۱۰۹۷)-

Scanned with Ca

لَوَجَدُوْا	فِيْهِ	اخْتِلَافًا	كَثِيْرًا ﴿۸۲﴾	وَاِذَا جَآءَهُمْ	اَمْرٌ
نو موندلي به وو دوئ	په دي کښې	اختلاف	ډير	او هر کله چې راشي دوئ ته	يو خبر
نو دوئ به په کښې ډير اختلاف موندلي وو	.....			اودوئ چې يو خبر واوري	
مِّنَ الْاَمْنِ	اَوِ الْخَوْفِ	اَذَاعُوْا بِهٖ ؕ	وَلَوْ رَدُّوْهُ	اِلَى الرَّسُوْلِ	
دامن (اطمينان)	ياد ويري	نو خوروی دوئ هغه	اوکه چرې رسولي وې دوئ دغه خبر	رسول ته	
که هغه دامن وی اوکه د ويرې	نودوئ هغه خوروی	.....	اوکه دوئ دغه خبرې رسول ته		
وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ	مِنْهُمْ	لَعَلِمَهُ	الَّذِيْنَ		
اوذمه وارو کسانوته	ددوئ نه	نو معلوم کړې به وې دې لره	هغه کسانو		
اوخپلو (مسلمانانو) مشرانو ته سپارلئ وې انو په دوی کښې به د هغه کسانو په علم کښې داخبره راغلې وې چې کوم					
يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ	مِنْهُمْ ؕ	وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ			
تحقيق کونکی دی د دغې (خبر)	ددوئ نه	او که نه وې فضل دالله			
د خبرې په معنی او مطلب ښه پوهيږی	.....	اوکه په تاسوباندې دالله فضل			
عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهٗ	لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ	اِلَّا	قَلِيْلًا ﴿۸۳﴾	
په تاسو	اورحمت دهغه	نو خامخا به تابعداری کړې وه تاسو دشيطان	ما سوا	د لږو نه	
اورحمت نه وې	.....	نو ديوځوکسانو نه سوا به نور ټول شيطان پسې روان شوی وئ			

قوله تعالى:: اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ ؕ

قرآن د تعارض نه پاک کتاب دي :- الله ﷻ خپلو بندګانو ته حکم کوی چه هغوئ دې قرآن پاك غور فکر اوتدبرسره لولی. ددې نه دې اعراض نه کوی ، ددې نه دې بې پرواهی نه کوی، ددې مضبوط مضمون ، د دې د حکمت نه ډك احکام ، اوددې په بليغ او فصيح الفاظودې سوچ اوکړی. دې سره دا خبر ورکوی چه دا کتاب داختلافاتو، اضطراباتو اوتضاد نه پاك دې. ځکه چه دا د حکيم او حميد الله ﷻ کلام دې. هغه پاك ذات چې څنګه هغه حق دې. دغه شان دهغه کلام هم سراسر حق دې.

بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿اَفَلَا يَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ اَمْ عَلٰى قُلُوْبٍ اَقْفَالُهَا ۝﴾ يعنی داخلق ولې قران پاك کښې تدبر نه کوی اوکه ددوی په زړونو څه مضبوطې تالې لګيدلې دی .

قوله تعالى:: وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوْا فِيْهِ اخْتِلَافًا كَثِيْرًا ﴿۸۲﴾

بيا فرمائی که دا قران پاك دالله تعالى د طرفنه نه وې نازل شوې لکه څنګه چه دمشرکانواو منافقانو ګمان دې ، که في الواقع داقران چادخپل طرفنه پيش کړې وو او بل څوك ددې قائل وې نوضرورت ددې خبرې وو چه دې کښې به دخلقو اختلاف وې يعنی ناممکنه ده چه انسانی کلام د اضطراب او تضاد نه سالم وی. بيا خوبه دا وې چه دې خلقو به څه نورموندې او هغوئ به څه نور. او دلته نې يو خبره اوکړه او مخکښې ئې ددې نه بله خبره اوکړه. نو داسې پاك کتاب دداسې متضادو خبرو نه بچ شوې او صفا دليل دې چه دا دالله ﷻ کلام دې.

د پخوانو عالمانو اقرار:- او بل ځائې کښې د پخو عالمانو قول نقل کوی. چې هغوئ وائی مونږ دې باندې ايمان راوړو، دا هرڅه ځمونږ د رب د طرفه دی. يعنی محکم او متشابه ټول حق دی او ددې وجې

متشابه لره محکم طرف ته واپس کوی او هدایت مومی.او چه دکومو خلقو زړونه کاږه دی هغوئ محکم لره متشابه طرفته واپس کوی او ګمراه کیږی.هم دا وجه ده چه الله ﷻ داول قسم خلقو تعریف اوکړو او د دویم قسم خلقو ئې بدی بیان کړه.

په قران کښې تضاد نشته:- اَفَلَا یَتَدَبَّرُوْنَ الْقُرْاٰنَ دعمرو بن شعیب ﴿ **عن ابیه عن جده** ﴾ حدیث کښې دی چه څه اوځما رورېو مجلس کښې ناست وو اودوی سره د سرو اوښانوملاویدل هم نه وو. مونږ دواړه راغلو او اوموکتل چه د حضرت نبی کریم ﷺ دروازه باندې څه صحابه کرام ﷺ ولاړ دی ، مونږ ادب سره یو طرفته کښیناستو. دوی خپلو کښې دقران پاك یو آیت مبارك کښې مذاکره کوله. او څه اختلاف ئې وو. آخر خبره زیاته شوه. اوخپلوکښې ئې په زوره زوره خبرې شروع کړې.ددې آوریدو سره حضرت نبی کریم ﷺ غصه کښې بهر تشریف راوړو. اود حضرت نبی کریم ﷺ مخ مبارك دغصې نه سور وو.اوبه دوی ئې ښاوړې راغورزولې ، او حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه چپ شئ ، ستاسو نه مخکښې امتونه هم په دې وجه هلاک شوی وو چه هغوئ خپلو نبیانو کښې اختلاف اوکړو. او دکتاب الله یو آیت مبارك ئې د بل آیت مبارك خلاف اوګرځولو. یادساتئ د قران پاك هیڅ یوآیت د بل آیت مبارك خلاف نه دې اونه هغه په دروغه ګڼړی.بلکه دقران یو یو آیت مبارك دبل آیت مبارك تصدیق کوی.تاسو چه په کوم یو پوهه لرئی نو په هغې عمل اوکړئی او چه په کوم نه پوهیږی نو هغه پوهې والو دپاره پریږدئی.(۱)

د تقدیر په مسئله کښې اختلاف:- اوبه یو روایت کښې دی چه صحابه کرامو ﷺ د تقدیر باره کښې بحث کولو.راوی وائی چه کاش څه په دغه مجلس کښې نه وې ناست.حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ فرمائی چه څه د ماسپخین په وخت کښې حضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر ووم ،او دې کښې دوؤ سړو کښې دیو آیت مبارك باره کښې اختلاف پیدا شو ، او آوازونه ئې اوچت شو. نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مخکښې امتونه هم په دې وجه هلاك شوی وو چه هغوئ کتاب الله کښې اختلاف کړې وو.(۲)(مسند احمد).

قوله تعالی:: وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ

بې تحقیقه خبره کول هم دروغ دی:- بیا دا جلد باز خلق منع کوی ، چه دیو امن یا ویرې خبرې آوریدو سره بې تحقیقه مه یو طرفته کیږئ اومه بل طرفته .ځکه چې ممکن ده هغه بالکل غلطه وی.د صحیح مسلم په مقدمه کښې حدیث مبارك دې چه انسان لره هم دا دروغ کافی دی چه هغه څه واوری هغه بیان کړی ، ابوداود کښې هم دا روایت دې.(۳)بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ د قیل وقال نه منع فرمائیلې ده (۴)یعنی هغه خبرې نه چه صرف ئې آوریدلې وی او دا بغیر د تحقیق نه بیانوی.ابوداود کښې یو حدیث مبارك دې چه د انسان دا خراب فعل دې چه داسې اووائی چه خلق داسې وائی اوبیا خلق دسې خیال کوی اوداسې وائی. (۵)او صحیح حدیث کښې دی چه کوم سړې څه خبره اوکړی او هغه ګمان کوی چه دا غلطه ده نو هغه هم د دروغژنو نه یو دروغژن دې.(۶)

دحضرت عمر ﷺ احتیاط:- دلته مونږ د حضرت عمر فاورق ﷺ روایت نقل کول مناسب ګڼړو چه هرکله دوی ته دا خبر اورسیدو چه حضرت نبی کریم ﷺ خپلو بیبیانو ته طلاق ورکړې دې نو حضرت

---

(۱) احمد : ۱۸۱/۲، وسنده حسن)-

(۲) احمد : ۱۸۷/۲، ابن ماجة فی المقدمة فی القدر: ۸۵ وسنده حسن)-

(۳) صحیح مسلم فی المقدمة باب النهی عن الحدیث بکل ما سمع : ۸ ابوداود : ۴۹۹۲)-

(۴) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب ما یکره من قیل وقال : ۶۴۷۳ صحیح مسلم: ۱۷۱۵)-

(۵) ابوداود کتاب الادب باب مافی الرجل زعموا : ۴۹۷۲ وهو صحیح)-

(۶) صحیح مسلم فی المقدمة باب وجوب الروایة عن الثقات : ۱ ابن ماجة: ۳۹)-

Scanned with Ca

عمر فاروق ﷺ کور نه جمات ته راغلل او دلته هم خلقو وئیل چه اؤ طلاق ئې ورکړې دې نو خو حضرت عمر فاروق ﷺ پخپله حضرت نبی کریم ﷺ ته ورغلو او تپوس ئې ترې اوکړو چه دا رینبتیا دی چه تاسو خپلو بیبیانو ته طلاق ورکړې دې ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا غلط دی.نو حضرت فاروق اعظم ﷺ دالله ﷻ لونی بیان کړه. (۱)

صحیح مسلم کښې دی چه بیا دوی ﷺ جمات ته راغلل او د جمات په دروازه باندې اودریدل په اوچت آواز ئې اوفرمائیل چه ائې خلقو ! حضرت نبی کریم ﷺ خپلو بیبیانو ته طلاق نه دې ورکړې.نو دې باندې دا آیت مبارک نازل شو. نوحضرت عمر فاروق ﷺ هغه هستی ده چه هغوئ ددې معاملې تحقیق اوکړو. (۲)

قوله تعالی:: وَلَوْ رَدُّوْهُ إِلَى الرَّسُوْلِ وَإِلٰى أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ؕ

د استنباط تعریف:- استنباط وائی یو څیز دیو ځائې نه اومخزن نه راویستل چه کله یو سړې یو غراوکنی او دهغې لاندې نه یو څیز راوباسی نو عرب وائی چه ﴿ استنبط الرجل ﴾ بیا فرمائی که الله ﷻ تاسو باندې فضل او رحم نه وې کړې نو تاسو به د کامل ایمان نه پس ټولو دشیطان تابعداری کړې وې.داسې موقعو باندې هم دا معنی وی چه تاسو ټول په ټوله ، نو دعربو داسې اشعار هم دی.

فَقَاتِلْ	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ	لَا تُكَلَّفُ	اِلَّا نَفْسَكَ	وَحَرِّضِ	الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ
نو جنګ کوه	په لارد الله کښې	نه ئې مکلف ته	مګردخان خپل	اوتیز کړه	مومنان
نو دالله ﷻ لار کښې جهاد کوه	ته دخپل خان نه سوا دبل چا ذمه دار نه ئې			اومومنان جهادته تیزوه	
عَسَى اللّٰهُ	اَنْ يَّكُفَّ	بَاْسَ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا ؕ	وَاللّٰهُ	اَشَدُّ بَاْسًا
لرې نه ده چې الله ابند کړې	زور دهغه کسانو	چې کفر ئې کړې دې	اوالله	ډیرسخت دې	په زور کښې
ډیر زر به الله ﷻ دکافرانو زور ختم کړې	.....			دالله ﷻ زور د ټولونه سخت دې	
وَّاَشَدُّ	تَنْكِيْلًا ۝	مَنْ يَّشْفَعْ	شَفَاعَةً حَسَنَةً	يَّكُنْ لَّهٗ	
اوډیر سخت دې	په سزا ورکولو کښې	څوک چې سفارش کوی	سفارش ښه	نو وی به هغه لره	
اودهغه سزا دهرچانه سخته ده	څوک چې دنیکئ سفارش کوی هغه دپاره به				
نَصِيْبٌ مِّنْهَا ۚ	وَمَنْ يَّشْفَعْ	شَفَاعَةً سَيِّئَةً	يَّكُنْ لَّهٗ	كِفْلٌ	مِّنْهَا ؕ
حصه دهغې نه	اوڅوک چې سفارش کوی	سفارش بد	نووی به هغه لره	حصه	دهغې نه
د نیکئ نه حصه وی	اوڅوک چې دبدئ سفارش کوی نو هغه د پاره به د بدئ نه حصه وی				
وَكَانَ اللّٰهُ	عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	مُّقِيْتًا ۝	وَاِذَا	حُيِّيْتُمْ	بِتَحِيَّةٍ
اودې	الله په هریو څیز	قدرت لرونکې	او هرکله چې	اوکړې شی تاسو ته	سلام
او الله ﷻ د هرڅه قدرت لری	اوهرکله چې په تاسو سلام واچولې شی				

۱) صحیح بخاری کتاب العلم باب التناوب فی العلم : ۸۹، صحیح مسلم: ۱۴۷۹)-
۲) صحیح مسلم کتاب الطلاق باب فی الایلاء : ۱۴۷۹)-

Scanned with Ca

فَحَيُّوا	بِأَحْسَنَ مِنْهَآ	أَوْ رُدُّوهَا ؕ	إِنَّ اللّٰهَ	كَانَ
نو دسلام جواب ورکړئ	په ښه طریقې سره دهغې نه	یا واپس کړئ هم هغه	بیشکه الله	دې
نو (سلام اچونکی ته) دهغې نه بهتر جواب ورکوئ	یاکم ازکم هغه جواب ورکوئ الله ﷻ			
عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ	حَسِيبًا ۝٨٦	اللّٰهُ	لَآ	إِلٰهَ	إِلَّا هُوَ ؕ
د هر څیز	حساب کونکی	الله هغه دی	چې نشته	لائق د عبادت هیڅوک	مګر هم هغه دی
دهرڅیز حساب کونکی دی	الله ﷻ هغه ذات دی چې دهغه نه بغیر بل معبود نشته دی				
لَيَجْمَعَنَّكُمْ	إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ	لَا رَيْبَ	فِيهِ ؕ	وَمَنْ
خامخا به هغه راجمع کړی تاسو	ورځ دقیامت ته	چې نشته شك	په هغې کښې	او څوك دی
تاسوټول به خامخا دقیامت په ورځ راجمع کوی	چې دهغې په راتګ کښې هیڅ شک نشته			
أَصْدَقُ	مِنَ اللّٰهِ	حَدِيثًا ۝٨٧ ع
ډیر ریښتینی	د الله نه	په خبرو کښې
اودالله نه زیاته ریښتنی خبره دچاکیدی شی		

قوله تعالی:: فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ

د الله مدد مجاهدینو سره دی :-نبی کریم ﷺ ته حکم کیږی چه پخپله دالله ﷻ لار کښې جهاد اوکړئ. اګرچه تاسو سره څوك هم دنبی کریم ﷺ سره مدد نه کوی.

په هرصورت کښې دشمن سره مقابله کول:- ابواسحاق رحمه الله حضرت براء بن عازب رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه یو مسلمان ځانله وی او دښمنان سل وی نو آیاهغه دې دوی سره جهاد اوکړی.دوی ورته اوونیل چه آؤ.نو وې فرمائیل چه دې نه خو د قران پاك دا آیت منع کوی ، الله ﷻ فرمائی چه دخپله لاسه په هلاکت کښې ځانونه مه اچوئ نو حضرت براء رضی الله عنه اوفرمائیل چه واوره ! الله ﷻ خپل نبی ﷺ نه فرمائی چه دالله ﷻ لار کښې جهاد اوکړه فقط ستا نفس مکلف کولې شی.او حکم کیږی چه مومنانوته هم ترغیب ورکوه. (ابن ابی حاتم).مسند احمد کښې دومره زیادت دې چه مشرکانو باندې حمله کولو والا هلاکت طرفته تلونکې نه دې بلکه ددې نه مراد دالله ﷻ لار کښې خرچ کولو نه منع کونکې دې.(۱)اویو روایت کښې دی چه کله دا آیت نازل شو نو حضرت نبی کریم ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم ته اوفرمائیل چه ماته ځما رب د جهاد حکم کړې دې (۲) نو تاسو جهاد کوئی.داحدیث غریب دې.

قوله تعالی:: وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ ۖ

د جهاد ترغیب:- بیا فرمائی چه مومنانو ته د جهاد ترغیب ورکړه. د بدر میدان کښې حضرت نبی کریم ﷺ د مسلسلانانو د صفونو ته د ترتیب ورکولو په وخت کښې اوفرمائیل چه پاسئ هغه جنت طرفته چه دهغې پلن والې د آسمان او زمکې هومره دې. (۳)

---

(۱) احمد : ۲۸۱/٤، وسنده حسن ددې معنی روایت صحیح بخاری ۴۵۱۲ کښې موجود دې)-

(۲) وسنده ضعیف)-

(۳) صحیح مسلم کتاب الامارة باب ثبوت الجنة للشهید : ۱۹۰۱،)-

Scanned with Ca

مجاهدبه الله جنت ته داخلوی:- د جهاد د ترغیب کښې ډیر احادیث دی.بخاری شریف کښې دی چه څوك په الله ﷻ باندې ایمان راوړی او مونځ قائموی او زکوة ورکوی.درمضان روژې نیسی نو په الله ﷻ حق دی چه دې جنت ته داخل کړی ، دالله ﷻ لار کښې ئې جهاد کړې وی یا چه چرته پیدا شوې وی هم هلته قائم وی .خلقو اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! آیامونږ خلقو ته ددې زیرې ورنکړو ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واورئی جنت کښې سل درجې دی چه دهغې په درجو کښې دومره فاصله ده چه څومره د زمکې او آسمان ترمینځه ده،دا درجې الله ﷻ دهغو دپاره تیارې کړې دی چه څوك دهغه په لار کښې جهادکوی.نو کله چه تاسوالله ﷻ نه جنت غواړئی نوجنت الفردوس غواړئی هغه بهترین جنت دې،او دټولونه اعلی دې،ددې دپاسه د رحمان عرش دې،اوهم ددې نه دجنت ټول نهرونه راوتلی دی.(۱)

مومن به جنت ته داخلیږی:- دمسلم یو حدیث مبارك کښې دی چه کوم کس په الله ﷻ ، په دین اسلام ،په حضرت محمد ﷺ باندې راضی وی نودهغه دپاره جنت واجب دې.حضرت ابوسعید ﷺ ددې آوریدو سره اوئیل چه یارسول ﷺ دوباره اوفرمائې. حضرت نبی کریم ﷺ دوباره هم دا اوفرمائیل ، اووې فرمائیل چه یو بل عمل دې چه الله ﷻ د هغې په وجه الله ﷻ دخپل بنده سل درجې اوچتوی ، د یو درجې او بلې درجې مینځ کښې دومره فاصله ده لکه څومره چه د زمکې او آسمان ترمینځه ده. تیوس اوکړې شو چه هغه کوم یو دی ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دالله ﷻ لار کښې جهاد کول.(۲)

قوله تعالی::عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

بیا فرمائی چه کله تاسو جهاد دپاره تیار شئ نو مسلمانان به ستاسو دتعلیم په وجه تیار شی.نو تاسو سره به دالله ﷻ مدد شامل حال وی.الله ﷻ به دکفر زور ختم کړی.دکفارو حوصله به کمزورې شی.اودوی کښې به حوصله پاتې نشی .چه مسلمانانو سره مقابلې ته راشی.

قوله تعالی::وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا

د الله ﷻ نه زیات جنګی قوت اود هغه ذات نه زیات د قوت خاوند اوسختې سزا ورنکې څوك نشته .هغه قادر ذات دې ،او هغه ذات به (کافران) په دنیا کښې مغلوب کړی ، او هم دوی ته به په آخرت کښې عذاب ورکړی لکه بل ایت مبارک کښې دی چه (وَلَوْ يَشَآءُ اللّٰهُ لَانْتَصَرَ مِنْهُمْ الخ)، اوکه د الله خوښه شی نو دهغوئ نه به پخپله بدله واخلی.لیکن الله ﷻ هغه ذات دې چه تاسو باندې امتحان کوی.چه کوم یو کس په یو کارخیر کښې حصه واخلی نو هغه ته هم دهغه نیکئ بدله کښې ثواب ورکولې شی.او چه څوك ددې خلاف کوشش اوکړی او بد اوکړی نو دده دکوشش او نیت به هم په ده بوج وی.

قوله تعالی::مَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنْ لَّهٗ نَصِيْبٌ مِّنْهَا

دجائز سفارش اجر:- حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه سفارش اوکړئی اجر به بیا مومئ.الله ﷻ به دخپل نبی ﷺ په خوله دا جاری کړی.(۳)دا آیت د یو بل د سفارش باره کښې نازل شوې دې .دې مهربانی ته اوګورئی چه فرمائی چه صرف په شفاعت باندې به اجرملاویږی.که په سفارش سره کار اوشی اوکه اونشی الله ﷻ د هرڅیز حافظ دې ، هرڅیز باندې حاضر دې ، دهر څیز حساب اخستلو والا دې ، په هرڅیز قادر دې،په هر څیز باندې همیشه دهغه نظر وی، هر یو ته روزئی ورکوئې دې دهر انسان د عملونو اندازې لګونکې دې.

قوله تعالی::وَاِذَا حُيِّيْتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَآ اَوْ رُدُّوْهَا اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيْبًا

---

۱) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب درجات المجاهدین : ۲۷۹۰)-

۲) صحیح مسلم کتاب الامارة باب بیان ماأعده الله للمجاهدین : ۱۸۸٤ نسائی : ۳۱۳۳)-

۳) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب التحریض علی الصدقة : ۱٤۳۲، صحیح مسلم: ۲٦۲۷)-

Scanned with Ca

سلام اچول:- مسلمانانو ! کله چه تاسو ته یو مسلمان سلام اوکړی نو ددې سلام جواب بهترینو الفاظو سره ورکړئ، یا کم ازکم هم هغه الفاظو سره جواب ورکړئ کوم چې درته هغوی وئیلی وی.نوزیاتوالې په دې کښې مستحب دې .او برابرې فرض دې.

د سلام درې درجې:- ابن جریر کښې دی چه یو سړې د حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه ﴿ السلام علیك یارسول الله﴾ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ﴿ وعلیك السلام ورحمة الله﴾ بیا بل کس راغلو ، او هغه اووئیل چه ﴿ السلام علیك ورحمة الله﴾ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ﴿ وعلیك السلام یارسول الله ورحمة الله وبرکاته﴾ بیا یو بل کس راغلو او هغه اووئیل چه ﴿ السلام علیك یارسول الله ورحمة الله وبرکاته﴾ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ﴿ وعلیك ﴾نو هغه سړی اووئیل چه ائې دالله نبی ﷺ ! فلانی اوفلانی تاسو ته سلام اوکړو نو تاسو ﷺ جواب کښې څه زیاتې اوکړو او ما دپاره مو داسې اونکړل.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تا خمونږ دپاره باقی څه پرې نښودل.دالله ﷻ فرمان دې چه کله تاسو ته سلام اوکړې شی نو تاسو هغه شان جواب ورکوئی ، یا دهغې نه په ښه الفاظو کښې جواب ورکړئی ، د وجې مونږ هم هغه جواب درکړو. (۱)دا روایت ابن ابی حاتم کښې هم دا شان معلق مروی دې.هغه ابوبکر ابن مردویه روایت کړیدې.او ما دا مسند کښې نه دې کتلې.والله اعلم. ددې حدیث نه هم معلومه شوه چه د سلام کلماتو کښې ددې نه زیاتې نشته.که وې نو حضرت نبی کریم ﷺ به دې آخری صحابی ﷺ ته په جواب کښې وئیلې وې.

په سلام د لسو نه دیرشو پورې نیکئ ملاویدل:- مسند احمد کښې دی چه یو سړې حضرت نبی کریم ﷺ ته راغلو او ﴿السلام علیکم یارسول الله ﴾ ئې اووئیل اوکیناستو.حضرت نبی کریم ﷺ جواب ورکړو او وې فرمائیل چه ده ته لس نیکئ ملاؤ شوې ، او بل راغلو اوهغه اووئیل چه ﴿ السلام علیکم یارسول الله ورحمة الله ﴾ اوبیا کیناستو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ده ته شل نیکئ ملاؤ شوې.بیا دریم کس راغلو او هغه اووئیل چه ﴿ السلام علیك یارسول ورحمة الله وبرکاته ﴾ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ده ته دیرش نیکئ ملاؤ شوې.(۲) امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن غریب وائی.

سلام په چا اچول پکار دی؟:- حضرت ابن عباس ﷺ دا آیت مبارك عام اخلی.او فرمائی چه د الله تعالی مخلوق کښې تاسوته څوك سلام اوکړی نو هغه ته جواب ورکوئی اګر چه مجوسی وی.حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه د سلام بهتر جواب ورکول خو دمسلمان دپاره دی.اوددې واپس کول د اهل ذمه دپاره دی.لیکن دې تفسیر کښې خبرې شته لکه څنګه چه پورته حدیث کښې تیر شو چه ددې نه مراد دا دې چه د هغه د سلام بهترجواب ورکړې شی ،اوکه مسلمان د سلام ټول الفاظ اووائی نو بیا دې جواب ورکولو والا هم دا واپس کړی.ذمی خلقوته پخپله سلام ورکول صحیح نه دی .اوکه درته سلام اوکړی نو جواب کښې دې هم دومره الفاظ اووائی.

دیهودی د سلام جواب:- بخاری او مسلم کښې دی چه کله څوك یهودی اونصرانی تاسو ته سلام اوکړی نو خیال ساتئ تاسو د دې په ځائې چې ﴿ السلام علیك﴾ اووایې.د دې په ځائې ﴿وعلیك ﴾ وایې.(۳)

---

(۱) الطبری : ۱۰۰۵۰، و)-

(۲) احمد : ٤/٤٣٩، ابوداود : کتاب الادب باب کیف السلام : ٥١٩٥ وسنده حسن ترمذی : ٢٦٨٩)-

(۳) صحیح بخاری کتاب الاستئذان باب کیف الرد علی اهل الذمة بالسلام : ٦٢٥٧، صحیح مسلم: ٢١٦٤، ابوداود: ٥٢٠٦ ، ترمذی : ١٦٠٣)-،

په یهودی د سلام اچولو ممانعت:- صحیح مسلم کښې دی چه تاسو یهودیانو او نصرانیانو ته په سلام کښې وړاندې والې مه کوئی ، او کله چه لار کښې رش وی نو هغوئ د لارې تنګ طرف ته مجبوره کوئ (۱)

دسلام او جواب حکم:- امام حسن بصری رحمه الله فرمائی چه سلام نفل او ددې جواب ورکول فرض دی. (۲) اونورعلماکرام هم دا فرمائی.نو که جواب ورنکړی نو ګناهګاربه وی.ځکه چې سلام دالله ﷻ حکم دې .

سلام اچول سنت او جواب ئې واجب دې

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز د سلام اچول سنت دی او د دې جواب ورکول په هغه الفاظو سره کوم چه سلام اچونکی وئیلی وی واجب دی مثلا هغه اووائی ﴿السلام علیکم﴾ نو د دې په جواب کښې ﴿وعلیکم﴾ وئیل واجب دی او په دې باندې اضاف کول مستحب دی یعنی چې په جواب کښې اووائی ﴿وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته﴾ **احکام** القران للعلامة ظفر احمد العثمانی رحمه الله (۲۸۲ ۳۰تا ۳۰۴)-

قوله تعالی:: اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ لَا رَيْبَ فِيْهِ ؕ

بیا الله ﷻ دخپل توحید بیان کوی اوخپل الوهیت ښکاره کوی، او په دې کښې ضمنی طور قسم هم خوری.ددې وجې دا دویمه جمله لام سره شروع کړې شی.چه قسم په جواب کښې راځی.نو رومبئ جمله خبرې او قسم هم دې چه الله تعالی به نزدې ټول خلق په میدان حشر کښې جمع کړی.او هلته به هریوته دهغه د عمل بدله ملاویږی.

وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا ۝

دالله ﷻ نه زیات محبت کولو والا هیڅوک نشته دې.دهغه خبر دهغه وعده ، دهغه وعید ټول ریښتیا دی.هم هغه ذات معبود برحق دې اودهغه نه سوا بل مربی نشته دې.

فَمَا لَكُمْ	فِي الْمُنٰفِقِيْنَ
	نوڅه شوی دی په تاسو | په باره دمنافقانو کښې
	دا په تاسو باندې څه شوی دی چې د منافقانو
فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا ؕ	
چې دوه ډلې یئ | حالانکه الله اواپس ګرځولی دی هغوئ | په سبب دهغه عملونو | چې کړی دی هغوئ	
باره کښې دوه ډلې شوئ | حال دادې چې الله پاک هغوئ دخپل عمل په سبب اړولی دی	
اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ ؕ وَمَنْ	
آیا تاسو غواړئ | چې نیغه لار اوښایئ | هغه چاته | چې بې لارې کړې دې الله | حالانکه هغه ځوک	
آیاتاسودا غواړئ چې هغه چاته هدایت اوکړئ ځوک چه الله تعالی ګمراه کړی وی |اوځوک چې	
يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ۝ وَدُّوْا لَوْ	
چې بې لارې کړی دی | الله | نو هرګز | ته به اونۀ مومې | دپاره دهغه | څه لار | هغوئ غواړی	
الله ﷻ دلارې نه بې لارې کړی | نو هغه دپاره بیا ته سمه لار نشې موندې | ..... هغوئ خو دا غواړی	

---

۱) صحیح مسلم کتاب السلام باب النهی عن ابتداء اهل الکتاب بالسلام: ۲۱۶۷ ابوداود: ۵۲۰۵ ، ترمذی : ۱۶۰۲ ،)-

۲) الادب المفرد : ۱۰۴۰)-

Scanned with Ca

تَكْفُرُونَ كَمَا كَفَرُوا فَتَكُونُونَ سَوَاءً

چې تاسو کافران شئ| لکه څنګه چې | هغوئ په خپله کافران دی| اوشئ تاسو اوهغوئ ټول | برابر

که څنګه چې پخپله کافردی چې دغه شان تاسو هم کافران شئ| .....چې ټول برابر شئ

فَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ أَوْلِيَاءَ حَتَّىٰ يُهَاجِرُوا

نو په دې وجه تاسو مۀ جوړوئ| دهغوئ نه| دوستان ځان له| تر دې چې | هجرت اوکړی هغوئ

نوهیڅوک ترینه ځان سره مۀ ملګری کوئ| تر دې چې د الله په لار کښې (د مکې نه مدینې ته) هجرت

فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوهُمْ وَاقْتُلُوهُمْ حَيْثُ

په لاردالله کښې | نو که مخ ئې واړولو دهجرت نه|نو اونیسئ هغوئ | اوقتل کړئ هغوئ | چرته چې

اوکړی | نوکه دهجرت نه ئې ډډه اوکړه | نو چه په کوم ځائې کښې یئ نو نیسئ یئ او قتلوئ یئ

وَجَدْتُمُوهُمْ ۖ وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَلَا نَصِيرًا ﴿٨٩﴾ إِلَّا

اومونډل تاسو هغوئ | اومۀ نیسئ |په هغوئ کښې | دوست | اونۀ مددګار | ماسوا

..... اوپه دوی کښې هیڅوک ځان لره ملګرې یا مددګار مۀ جوړوئ| البته

الَّذِينَ يَصِلُونَ إِلَىٰ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ

دهغه منافقانونه|چې یوځاني شی| دیوقوم سره| چې په منځ ستاسو| اوپه منځ دهغه کښې| معاهده وی

هغه منافقان (دقتل دحکم نه بچ دی) چې داسې قوم سره یوځائې شی چې ستاسوورسره معاهده شوې وی

أَوْ جَاءُوكُمْ حَصِرَتْ صُدُورُهُمْ أَنْ يُقَاتِلُوكُمْ

یاراشی هغوئ تاسوته |چې تنګې شوی وی |سینې دهغوئ| ددې خبرې نه چې| جنګ اوکړی تاسو سره

یا داسې منافقان چې تاسو ته راشی او په جنګ کولو ستومانه وی نۀ تاسره جنګ کوی

أَوْ يُقَاتِلُوا قَوْمَهُمْ ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ

یا جنګ اوکړی|دقوم خپل سره| اوکه |غوښتلې الله |نوخامخا به ئې غلبه ورکړې وې هغوئ ته| په تاسو

اونۀ خپل قوم سره جنګ کوی | اوکه الله ﷻ غوښتلې نودغه منافقان به ئې په تاسو مسلط کړې وې

فَلَقَاتَلُوكُمْ ۚ فَإِنِ اعْتَزَلُوكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوكُمْ وَأَلْقَوْا

نوخامخا به جنګیدل تاسو سره|ببیاکه چرې| هغوئ پریږدی تاسو|اونۀ کوی جنګ تاسو سره|اووړاندې ئې کړه

اوتاسوسره به ئې جنګونه کول| نوکه هغوئ ستاسودمقابلې نه ډډه اوکړی| اوتاسوسره جنګ نۀ کوی

إِلَيْكُمُ السَّلَمَ ۙ فَمَا جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيلًا ﴿٩٠﴾

تاسو ته | صلح | پس نۀ دې درکړې الله| حق تاسو ته | په هغوئ باندې | دلارې

اود صلحې لاس دراوړاندې کړی| نوبیا الله ﷻ تاسوته دهغوی مقابله کښې دجنګ حق نۀ دې درکړې

سَتَجِدُوْنَ	اٰخَرِيْنَ	يُرِيْدُوْنَ	اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ
زر ده چې بیا به مومنۍ تاسو	نورمنافقان	چې غواړي به هغوئ	چې په امن کښې پاتې شی ستاسونه
یو بل قسم منافقان به بیامومنۍ چې	(جنګ نۀ خوښوی)	داغواړی چې ستاسو دطرفه هم په امن کښې وی	
وَيَاْمَنُوْا	قَوْمَهُمْ ؕ	كُلَّمَا	رُدُّوْٓا
اوپه امن پاتې شی	دقوم خپل نه	هرکله چې	اوبللې شی هغوئ
اودخپل قوم د طرفه هم په امن کښې وی	خوهرکله چې دشرموقع په لاس ورشی نو هغې ته ورګرځی		
فِيْهَا ۚ	فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ	وَيُلْقُوْٓا	اِلَيْكُمُ
په هغې کښې	نو که نۀ شول په څنګ ستاسو نه	اووړاندې ئې نۀ کړه	تاسو ته
نوکه دغه خلق ستاسره دمقابلې نه روستو نشو	.....	او صلح پیش نکړی	
وَيَكُفُّوْٓا	اَيْدِيَهُمْ	فَخُذُوْهُمْ	وَاقْتُلُوْهُمْ
اوبندیئ نۀ کړل	لاسونه خپل	انواونیسئ هغوئ	اوقتل کړئ هغوئ
اولاسونه ئې او نۀ نیول	نوچې کوم ځائې ئې بیامومنۍ هلته ئې رانیسئ او قتلوئ ئې		
وَاُولٰٓئِكُمْ	جَعَلْنَا	لَكُمْ	عَلَيْهِمْ
اوهغوئ ټول چې دی	ګرځولې دې مونږ	تاسو دپاره	په هغوی باندې
اوهم په دې خلقوباندې مونږ تاسو ته د لاس پورته کولو څرګند اختیاردرکړې دې			

قوله تعالی::فَمَالَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ

د منافقانو باره کښې د صحابه کرامو ﷺ اختلاف :-په دې کښې اختلاف دې چه دمنافقانو په کوم یو امر کښې دمسلمانانودوه قسمه خیالات پیدا شوی وو. حضرت زید بن ثابت ﷺ فرمائی چه حضرت نبی کریم ﷺ کله د احد میدان جنګ ته تشریف یوړو نو هغه وخت کښې حضرت نبی کریم ﷺ سره منافقان هم وو چه جنګ نه مخکښې واپس شوی وو. د دوی باره کښې بعضې مسلمانانو وئیل چه دوی قتل کول پکار دی اوبعضو وئیل چه دوی هم مومنان دی (۱)نو دې باره کښې دا آیت مبارک نازل شو. نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا ښار پاک دې دا به پخپله ګند او خیرې داسې لرې کړی لکه څنګه بتئ د اوسپنې نه خیرې اوزنګ لرې کوی (۲)(بخاری او مسلم)

په جنګ احد کښې د مسلمانانو تعداد:- ابن اسحاق کښې دی چه د احد دجنګ لښکر یو زر وو ، عبدالله بن ابی بن سلول دری سوه کسانو سره واپس شوې وو اوحضرت نبی کریم ﷺ سره بیا اووه سوه کسان پاتې وو.

دایت په شان نزول کښې بل روایت:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی مکه کښې څه خلق وو چه کلمه ویونکی وو. لیکن دمسلمانانو خلاف به ئې مشرکانو سره مدد کولو. دوی د څه ضرورت دپاره د مکې نه بهراووتل ، دوی ته یقین وو چه د دوی به اصحاب رسول ﷺ سره څه جنګ جګړه نه وی.خکه چه دوی

---

(۱) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین باب صفات المنافقین : ۲۷۷۶)-

(۲) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة احد : ۴۰۵۰، صحیح مسلم: ۱۳۸۴، ترمذی : ۳۰۲۸)-

Scanned with Ca

په ظاهره کلمه ګو وو. بل طرفته چه کله د مدینی مسلمانانوته ددې علم اوشو.نو وې وئیل چه دې نامرادو سره ږومبې جهاد اوکړئی،دوی ځمونږ دښمنانانوسره دی.اوبعضو اووئیل چه سبحان الله چه دا خلق ستاسو په شان کلمه وائی ، تاسو هم هغوئ سره جنګ کوئی ؟ صرف پدې وجه چه هغوئ هجرت نه دې کړې ،اوخپل کورونه ئې نه دی پریښودی.مونږ دپاره دهغوئ وینه او مال څنګه حلالیدیشی ؟ دا دهغوئ اختلاف د حضرت نبی کریم ﷺ مخکښې اوشو خو حضرت نبی کریم ﷺ خاموش پاتې شو نو دې کښې دا آیت مبارك نازل شو. (ابن ابی حاتم).

د ایت شان نزول کښې دویم روایت:- دحضرت سعد بن معاذ ﷺ څوئې فرمائی چه حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها باندې چه کله تهمت اولګیدو او حضرت نبی کریم ﷺ په منبر باندې اودریدل او وې فرمائیل چه څوك شته دې چه ما د حضرت عبدالله بن ابی د تکلیف نه بچ کړی. په دې باندې د اوس او خزرج په مینځ کښې چه کوم اختلاف پیدا شو نود هغې باره کښې دا آیت مبارك نازل شو. لیکن دا قول غریب دې.ددې نه سوا نور اقوال هم دی.الله ﷻ دوی ددوی دنافرمانئ په وجه هلاك کړل.ددوی دهدایت هیڅ لار نشته.دوی خوغواړی چه د ریښتونی مسلمانان هم ددوی په شان ګمراه شی. دومره دشمنی. ددوی په زړونو کښې دې ، نو تاسو منع کولئ شئ چه تر کومې پورې دوی هجرت اونکړی نو دوی خپل مه ګڼړئی.دا خیال مه ساتئی چه دوی ستاسو دوستان دی او مددګار دی.بلکه دوی پخپله ددې لائق دی چه دوی سره جهاد اوکړې شی.بیا دوی کښې دهغه حضراتو استثناء کولې شی چه هغوئ دیوداسې قوم پناه اخستې وی چه هغوئ سره دمسلمانانو وعدې شوی وی.نو ددوی حکم به هم هغه وی چه کوم د هغه قوم دې چه وعده وسره شوې وی

د ایت شان نزول کښې څلورم روایت:- سراقه بن مالك مدلجی وائی چه کله د بدر جنګ کښې مسلمانان غالب شو او چاپیر چل کښې خلقو کښې اسلام ښه خور شو نو ماته معلوم شوه چه د حضرت نبی کریم ﷺ اراده ده چه خالد بن ولید ته یو لښکر ورکړی او ځما قوم بنو مدلج سره جنګ اوکړی.نو ځه د حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت کښې حاضر شوم او ما اووئیل چه ځه تاسوته خپل یو احسان دریادوم ، خلقو ماته اووئیل چه ته خاموش شه ، لیکن حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه وایه چه ځه وئیل غواړې.ما اووئیل چه ما ته معلومه ده چه تاسو ځما قوم طرفته لښکر لیږل غواړئی.ځه غواړم چه تاسو دوی سره صلح اوکړئی په دې خبره که قریش اسلام راوړی نو هغوئ به هم اسلام قبلوی او که هغوئ اسلام قبول نه کړو نو په هغوئ هم حمله مه کوئی.حضرت نبی کریم ﷺ د حضرت خالد بن ولید لاس اونیولو او وې فرمائیل چه ده سره لاړ شه او دده د وینا مطابق دده قوم سره صلح اوکړه. نو په دې خبره صلح اوشوه چه هغوئ به د اسلام د دښمنانو هیڅ قسمه مدد نه کوی.اوکه قریش اسلام قبول کړی نو دوی به هم اسلام قبلوی.نواالله ﷻ دا آیت مبارك نازل کړو چه دوی غواړی چه تاسو هم د دوی په شان کفر اوکړئی.بیا تاسو او هغوئ برابرشئ. نو دوی کښې هیڅ څوك دوست مه جوړوئی

هم دا روایت ابن مردویه کښې هم دې.او په دې کښې دی چه آیت ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ يَصِلُونَ﴾ نازل شو ، نو چه کوم خلق هم دوی سره ملاویږی نو هغه به هم ددوی په شان په امن کښې وی.اوددې زیات مناسب کلام سره دې.صحیح بخاری شریف کښې دصلح حدیبیه قصه کښې دی بیا چې چا غوښتل نو دکافرو جماعت کښې به داخلیدل او امن کښې به وو ، اوچې چا به غوښتل نو د مدینی مسلمانانو سره به ملاویدو. او د معاهدې په وجه به په امن کښې وو.[1] دحضرت ابن عباس ﷺ قول دې چه دا حکم بیا

[1]) صحیح بخاری کتاب الشروط باب الشروط فی الجهاد: ۲۷۳۱،)-

دې آیت منسوخ کړو چه ﴿فَاِذَا انْسَلَخَ الْاَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِيْنَ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ﴾ یعنی کله چه د معززې میاشتې تیرې شی نو مشرکانو سره جهاد کوئی چه چرته هم دوی اووینئ.

قوله تعالی:: اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ

د هغه کافرانو حکم چه غیر جانبدار وی:- بیادیو بل جماعت ذکر کیږی چه هغوئ ددې خبرې نه مستثنی دی چه میدان جنګ ته راوستلې کیږی نو بې بسه شی وی ،هغوئ خو تاسو سره نه جنګ کول غواړی او نه تاسو سره یو خانې کیدل غواړی او نه خپل قوم سره جنګ کول خوښوی.بلکه دا داسې خان بچ کولو والا خلق دی چه نه تاسو سره دی او نه ستاسو دښمنانو سره او نه ستاسو دوستانو سره.دا هم دالله ﷻ فضل دې چه دغه خلق ئې په تاسومسلط نکړل. که هغه ذات غوښتلې نو دوی ته به نې طاقت ورکړې وې او ددوی زړونو کښې به ئې اچولې چه دوی تاسوسره جنګ اوکړی.نو که دوی تاسو سره د جنګ کولو نه منع شی او صلح سره یو شی نو تاسو ته هم دوی سره دجنګ کولو اجازت نشته. هم دا قسمه خلق وو چه د بدر په ورځ دمکې مشرکانو سره راغلل اود زړه نه دوی تاسو سره جنګ نه خوښولو.لکه حضرت عباس وغیره. هم دا وجه وه چه حضرت نبی کریم ﷺ د حضرت عباس ؓ د قتل نه منع کړې وه.او حکم ئې کړې وو چه دوی دې ژوندې گرفتار کړې شی.

قوله تعالی:: سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ؕ

منافقانو سره د جنګ حکم:- بیادیو بل جماعت ذکرکیږی.چه په ظاهره پورته ذکر شوؤ خلقو پشان دی. لیکن اصل کښې نیت کښې ئې فرق دې.دا خلق منافقان دی.چه کله حضرت نبی کریم ﷺ ته راشی نواسلام ظاهروی او دمسلمانانو نه خپل مال او خان محفوظ ساتی.بل طرفته چې کله دوی کفارو سره یو خانې شی او کوم کسان چې د باطلو معبودانو عبادت کوی ، هغوئ سره ملاو شی دې دپاره چه دهغوئ نه په امن کښې وی،اصل کښې دا خلق کافر دی لکه بل خانې کښې چې دی چه کله خپلو شیطانانو ته ورشی نو هغوئ ته په تنهائی کښې وائی چه مونږ تاسوسره یو.دلته هم ذکر کیږی چه کله دوی فتنې طرفته ځی نو د پوره زړه نه په هغې کښې حصه اخلی.لکه څنګه چه څوک پرمخ پروت وی.فتنې نه مراد دلته شرک دې.

د شان نزول باره کښې بل روایت:- حضرت مجاهد ؒ فرمائی چه دا خلق هم د مکې وو. دلته چه به راغلل نو ریاکارئی دپاره به ئې اسلام قبلولو. هلته چه به لاړل نو بتانو ته به ئې سجدې کولې.نو مسلمانانو ته ئې اوفرمائیل که ددې خپلې دوغله پالیسئ نه منع نشو ، تاسو ته د تکلیف درکولو نه منع نشو،صلح نه کوی،نودوی هم امن کښې مه پریږدئی،دوی سره هم جهاد کوئی.دوی قیدیان کړئی.چه دوی چرته هم دوی اومومئ. نو دوی سره خبرې مه کوئی.بیشکه په دوی باندې مونږ تاسو ته غلبه درکړې ده او بنکاره حجت مو درکړې دې

وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ۚ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا						
اونه دې کار دیومومن	چې قتل کړی	مومن	مګر په خطا سره	اوځوک چې	مړکړی	یومومن	په خطا سره
اودیو مسلمان داکار نه دې اچې هغه بل مسلمان قتل کړی	مګر په خطا سره	او چا چې یومسلمان په خطاسره قتل کړو					
فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ						
نو دی آزادول	دیو غلام	مومن	او دیت دې	چې سپارلې شوې وی	وارثانو دمړی ته	مګر	
نوکفاره ئې داده، چې یو مؤمن مرئ دې آزاد کړی	اود مړی وارثانو ته دې خون بها ورکړی	مګر					

Scanned with Ca

اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ؕ	فَاِنْ كَانَ	مِنْ قَوْمٍ	عَدُوٍّ لَّكُمْ	وَهُوَ مُؤْمِنٌ
که هغوئ معاف کړی دیت انوکه ووژ(مقتول)	دداسې قوم نه	چې دشمن ووژستاسو		اوهغه ووژ مومن
که هغوئ خون بها اوبښی(نوجانزده)	اوکه دغه مؤمن مړې دداسې قوم سړې ووچې ستاسوورسره دشمنی وی			
فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ	مُّؤْمِنَةٍ ؕ	وَاِنْ كَانَ	مِنْ قَوْمٍ	بَيْنَكُمْ
نو دی آزادول دیو غلام	مومن	اوکه ووژ مړې	دداسې قوم نه	چې په منځ ستاسو
نویومسلمان مرئ دې آزاد کړی (اودومره بس دی)	اوکه دداسې قوم سړې وو چې ستاسو			
وَبَيْنَهُمْ	مِّيْثَاقٌ	فَدِيَةٌ	مُّسَلَّمَةٌ	اِلٰٓى اَهْلِهٖ	وَتَحْرِيْرُ
اوپه منځ دهغوئ کښې	معاهده وه	نو دې دیت	ورسپارلې شوې	وارثانو دمړی ته	او آزادول
اودهغوئ په مینځ کښې یوه معاهده وی	نودهغه وارثانو ته دې خون بها هم ورکړی				او
رَقَبَةٍ	مُّؤْمِنَةٍ ۚ	فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ	فَصِيَامُ	شَهْرَيْنِ	مُتَتَابِعَيْنِ ۙ
دیو غلام	مومن	نو چاچې اونۀ موندو (غلام)	نودی پرې روژې نیول	دوه میاشتې	پرله پسې
یوغلام دې هم آزادکړی	اوڅوک چه د مرئ آزادولو طاقت نۀ مومی	نو هغه دې دوه میاشتې پرله پسې روژې			
تَوْبَةً	مِّنَ اللّٰهِ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا	حَكِيْمًا ۝	وَمَنْ	يَّقْتُلْ
دپاره دقبلولودتوبې	دطرفه دالله نه	اودې الله	پوهه خاوند د حکمت	اوڅوك	چې قتل کړی
اونیسی اد الله ﷻ دطرفه دتوبې ویستلو طریقه ده	اوالله په هرڅه پوهه اوصاحب د حکمت دې	او څوک چې یو			
مُؤْمِنًا	مُّتَعَمِّدًا	فَجَزَآؤُهٗ	جَهَنَّمُ	خٰلِدًا	فِيْهَا	وَغَضِبَ اللّٰهُ
یومومن	په قصدسره	نو سزا دهغه	جهنم دې	چې همیشه به وی	په هغې کښې	اوغضب کړې دې الله
مومن په قصدسره قتل کړی	نودهغه سزادوزخ دې	اوپه هغې کښې به همیشه وی				اوپه هغه د الله غضب
عَلَيْهِ	وَلَعَنَهٗ	وَاَعَدَّ	لَهٗ	عَذَابًا عَظِيْمًا ۝		
په هغه باندې	اولعنت کړې دې الله په هغه باندې	او تیارکړې ئې دی	هغه دپاره	عذاب لوئ		
دې	او لعنت ئې پرې کړې دې	او د هغه دپاره ئې لوئې عذاب تیار کړې دې				

قوله تعالی:: وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا

دقتل خطا احکام :-ارشاد دې چه یو مسلمان دپاره جائز نه دی چه په څه حال کښې دیومسلمان رور خون په ناحقه توئې کړی.

په دې صورتونو کښې د مسلمان د قتل جواز:- بخاری او مسلم شریف کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه یو مسلمان دپاره جائز نه دی چه هغه د الله ﷻ دوحدانیت باندې او د رسول الله ﷺ د رسالت

گواهی ورکوی چې قتل کول حلال نه دی مګر دري حالتونو کښې ① یو دا چه هغه څوک قتل کړی وی ② دویم چه واده ئې کړی وی او زنا اوکړی ③ دریم دین اسلام پریږدی اودمسلمانانو نه جدا شی (۱).

حد قائمول د چا کار دې:- بیا داهم یاد ساتئ چه کله ددوی نه په دې دریو واړو کارونو کښې څه کار واقع شی نوپه عوامو کښې هچا ته دا اختیار نشته چه دې قتل کړی ځکه چې دا کار دامام یا د نائب امام منصب دې.

د ایت شان نزول کښې اولنې قول:- ددې نه پس استثناء منقطع ده. دعربو شاعرانو کلام کښې هم دا قسمه استثناء ډیرې دی.ددې آیت مبارک شان نزول کښې یو قول دا هم نقل دې چه عیاش بن ابی ربیعه چه د ابوجهل ناسکه رور وو ، اودده دمور نوم اسماء بنت مخزمه وو، ددده باره کښې نازل شوې دې.ده یوسړې قتل کړې وو اوهغه ته ئې د اسلام قبلولو په وجه سزاګانې ورکولې تر دې چه هغه مړ شو.دهغه نوم حارث بن یزید غامدی وو .د حضرت عیاش ﷺ زړه کښې دا خار راغلو اوزړه کښې ئې پخه اراده اوکړه چه کله هم موقع ملاؤ شوه. نوزه به دې قتل کوم.الله ﷻ څه ورځې پس قاتل ته هم د اسلام قبلولو هدایت نصیب کړو. او هغه مسلمان شو. او هجرت ئې هم اوکړو. لیکن حضرت عیاش ﷺ ته دا معلومه نه وه ،د مکې د فتح په ورځ دې دهغوئ په نظر کښې راغلو. په دې وجه چه هغه تر اوسه پورې کفرکښې وو. په ده ئې اچانک حمله اوکړه اوهغه ئې قتل کړو نو دې باندې دا آیت نازل شو.

د ایت شان نزول کښې دویم قول:-دویم قول دادې چه دا آیت مبارک د حضرت ابودرداء ﷺ باره کښې نازل شوې دې. چې هغه په یوکافرکس باندې حمله کړې وه او توره ئې پرې راویستې وه خو هغه کلمه اوونیله لیکن دوی په توره اووهلو اوهغه ئې قتل کړو. هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ ته دا واقعه بیان شوه نو حضرت ابودرداء ﷺ ورته خپل عذر بیان کړو چه هغه صرف د خپل خان بچ کولو دپاره کلمه وئیلې وه. حضرت نبی کریم ﷺ خفه شو او وې فرمائیل چه ولې تا د هغه زړه شلولې وو څه.دا واقعه صحیح حدیث کښې هم شته دې.لیکن هلته د بل صحابی نوم دي . (۲)

قوله تعالی::وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ

دقتل خطاء په کفاره کښې غلام ازادول:- بیا دقتل خطا ذکر کیږی اوپه دې کښې دوه څیزونه واجب دی.یو غلام آزادول،دویم دیت ورکول.ددې غلام دپاره داشرط هم دې چه هغه ایماندار وی کافر نه وی.وړوکې ماشوم بچې هم کافی نه دې تر کومې چه هغه خپلې ارادې سره ایمان ظاهر نکړی.او د دومره عمر نشی.دامام ابن جریر رحمه الله مختار قول دا دې که دده مور پلار دواړه مسلمانان وی.نو دا جائز دی کنی نه.دجمهورو مذهب دادې چه مسلمانیدل شرط دی د وړوکې او لوئې څه قید نشته دې.

د کفاره کښې د وینځې ازادول:- یو انصاری ﷺ یو توري وینځې سره د حضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضریږی او وائی چه ځما په ذمه دیو مسلمان آزادول دی.که دا مسلمانه وی نو زه دا آزادوم. حضرت نبی کریم ﷺ ددې وینځې نه تپوس اوکړو چه آیا ته ګواهی ورکوې چه دالله ﷻ نه سوا بل معبود نشته دې.هغې اوونیل چه آؤ. حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه آیا ته ددې خبرې هم ګواهی ورکوې چه څه دالله ﷻ رسول او بنده یم.هغې اوفرمائیل چه آؤ.حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه مرګ نه پس دوباره ژوندی کیدو باندې هم ته یقین ساتې.هغې اوفرمائیل چه آؤ. حضرت نبی کریم ﷺ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الدیات باب قوله تعالی(ان النفس بالنفس): ٦٨٧٨،صحیح مسلم: ١٦٧٦، ابوداود : ٤٣٥٢ ابن ماجة: ٢٥٣٤)-

(۲) صحیح بخاری کتاب المغازی باب بعث النبی صلی الله علیه وسلم اسامة: ٤٢٦٩، صحیح مسلم: ٩٦ عن اسامة بن زید ﷺ)

Scanned with Ca

اوفرمانیل چه دا ازاده کړه.(۱) ددې اسناد صحیح دی.اوصحابی څوك وو؟ دده نوم که معلوم نه وی نو په دې وجه ددې په سند کښې څه نقصان نه راځی(ځکه چه صحابه ټول عدول دی). دا روایت دحدیث نوروکتابونو کښې دا شان دې چه حضرت نبی کریم ﷺ د هغې نه تپوس اوکړو چه الله ﷻ څرته دی؟ هغې اوونیل چه آسمانونوکښې.حضرت نبی کریم ﷺ ترې تپوس اوکړو چه څه څوك یم ؟ هغې جواب کښې اوونیل چه ته دالله رسول ﷺ ئې.حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمانیل چه دا آزاده کړه دا ایماندار ده.(۲) نویو د غلام یاوینځې آزادول واجب دی

د قتل خطاء په کفاره کښې دیت ورکول:- او بل دیت ورکول دی چه دمقتول کور والو ته ورکړې شی.دا د هغه مقتول بدله ده. دا دیت سل اوښان دی ، او ددې پنځه قسمه دی ، شل خوددۀ عمر اوښې او شل هم ددې عمر اوښې اوشل د دریو کالو چه وی اوښې او نورې به د پنځوکالو وی.او شل چه د څلوروکالو ښکاری.همدا فیصله حضرت نبی کریم ﷺ د قتل خطا په دیت کښې کړې ده. اوګورئی سنن ومسند احمد(۳)داحدیث په روایت دحضرت عبدالله ﷺ موقوف هم مروی دې.حضرت علی ﷺ او یو بل جماعت نه هم منقول دی.او دا هم وئیلې شوی دی چه دا دیت به په څلورمه حصه کښې تقسیم شوې وی.دا دیت به ددې قاتل په عاقله او دده د عصبه یعنی د ده په نزدې رشته دارو باندې وی. دده په خپل مال باندې نشته.حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی چه په دې امر کښې ما ته څوك مخالف نه دی معلوم.حضرت نبی کریم ﷺ د دیت فیصله هم په دې خلقو کړې ده. او دا حدیث خاصه کښې په کثرت سره دې.امام صاحب چه کوم حدیث مبارك طرفته اشاره کوی هغه ډیردی .

دیت په قاتل او عاقله دوارو باندې دې

مسلک حنفی:-دامام ابوحنیفه رحمه الله او امام ابو یوسف په نیز دیت په عاقله او قاتل دوارو باندې دې صرف په عاقله باندې نه دې واجب بلکه قاتل به ورسره په دیت کښې شریک وی (تفسیرمظهری ۲،۱۰۴)-

دیت سل اوښان په څلورو حصو کښې تقسیم دی

مسلک حنفی:- د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز دیت سل اوښان دی خو بیا دا اوښان په څلورو درجو کښې تقسیم دی پنځویشت به بنت محاض وی او پنځویشت به بنت لبون وی او پنځویشت به حقه وی او پنځویشت به جذعه وی (تفسیرمظهری ۲،۱۰۴)-

دیت د قاتل په عاقله دې:- بخاری او مسلم کښې د حضرت ابوهریره ﷺ نه مروی دی چه دهذیل قبیلې دوه ښځې خپلو کښې په جنګ شوې ، یو ښځې دا بله په کانړی اوویشته اوهغه حامله وه ، ددې بچی هم ضائع شو او هغه هم مړه شوه. حضرت نبی کریم ﷺ ته راغلل نو حضرت نبی کریم ﷺ فیصله اوکړه چې ددې بچی په بدله کښې خو یو وینځه یا غلام ازادول دی.اودښځې بدله کښې دیت او دیت د قاتلې ښځې د حقیقی رشته دارو په ذمه دې.(۴)

---

(۱) احمد : ۴۵۲/۳)-

(۲) صحیح مسلم کتاب المساجد باب تحریم الکلام فی الصلاة: ۵۳۷)-

(۳) ابو دادو : ۴۵۴۵ ترمذی : ۱۳۸۶ نسائی : ۴۸۰۶، آبن مآجة: ۲۶۳۱، احمد : ۴۵۰/۱،)-

(۴) صحیح بخاری کتاب الدیات باب جنین المراة : ۶۹۱۰ صحیح مسلم: ۱۶۸۱، ابوداود : ۴۵۷۶، نسائی: ۴۸۲۲)-

مسئله:- ددې نه دا هم معلومه شوه چه کوم قتل عمد خطا سره وی هغه هم په حکم کښې دخطاء محض پشان دې یعنی د دیت اعتبار سره په دې کښې تقسیم ثلث شو ، درې حصې به وی خکه چه په دې کښې شباهت عمد یعنی بالقصد هم دې.

د امام د قتل خطاء بوج به په بیت المال وی:- صحیح بخاری شریف کښې دی چه د بنوخزیمه دجنګ دپاره حضرت خالد بن ولید ﷺ لره حضرت نبی کریم ﷺ یو لښکر کښې سردار جوړ کړو او وې لیږلو ، هغوئ چه هلته لاړل نو د اسلام دعوت نې ورکړو ، هغوئ دعوت قبول کړو لیکن د نادانئی په وجه نې د ﴿أَسْلَمْنَا﴾ یعنی مونږ مسلمان شو په ځائې ﴿ صبانا ﴾ اوئیل یعنی مونږ بې دین شو ، خالد بن ولید ﷺ دوی سره قتل کول شروع کړل.هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ ته ددې معلومات اوشو نو حضرت نبی کریم ﷺ لاس اوچت کړو او الله ﷻ ته نې عرض اوکړو چه یا الله د خالد بن ولید ددې فعل نه بیزاری او برات خه ستا مخکښې وړاندې کوم. بیا حضرت علی ﷺ نې راوبللو اوهغوئ نې اولیږل چه لاړه شه او دهغوی مقتولانو ته دیت ورکړه او ددوی چه کوم مالی نقصان شوې دې هغه هر څه ورته اداکړه. (۱)

مسئله:- ددې نه ثابته شوه چه د امام یا نائب د خطا بوج به په بیت المال وی.

قوله تعالی::إِلَّآ أَن يَصَّدَّقُوا۟

بیا فرمائی چه دیت ورکول واجب دی.خوکه د مقتول اولیاء په خپله ددې اخستلو نه روستو شی نو دوی ته اختیار دې اوهغوئ دا په طور د صدقه معاف کیدلې شی.

قوله تعالی::فَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ

بیا فرمائی دې که مقتول مسلمان وی لیکن دده اولیاء حربی کافران وی نو قاتل باندې دیت نشته دې.قاتل باندې په دې صورت کښې د غلام یا وینځې آزادول دی.

قوله تعالی::وَإِن كَانَ مِن قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُم مِّيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ

اوکه د مقتول وراث او ولی د داسې قوم نه وی چا سره چې ستاسو صلح او وعده شوې وی. نو په دې صورت کښې به دیت وی خوکه چرې مقتول مومن وو نوکامل دیت به وی ، اوکه مقتول کافر وو نو د بعضو په نیز خو پوره دیت وی.دبعضو په نیزنیم دیت ، دبعضو په نیز دریمه حصه دیت ، دا تفصیل د احکامو په کتابونوکښې موجود دې.

د مومن او کافر دواړو دیت یوبرابر دې

مسلک حنفی:- دامام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ په نیز د مومن او کافر په دیت کښې څه فرق نشته بلکه د کافر دیت به هم د مومن د دیت پشان پوره وی (تفسیرمظهری (۴۰۸۱۲)-

قوله تعالی::فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِّنَ اللَّهِ

دوه میاشتې پرله پسې روژې نیول:- اوپه قاتل باندې مومن غلام یا وینځه آزادول هم لازم دی .اوکه دچا طاقت د غریبئ په وجه نه وی نو د هغه په ذمه د دوۀ میاشتو روژې دی چه پرله پسې به نې نیسی ، که دځه عذر په وجه لکه بیماری شوه یا حیض شو یا نفاس شو. نو ددې عذرونو نه بغیر دې روژه په مینځ کښې نه پریږدی،او که ددې عذر نه بغیر ئې روژې پریخودې نو بیا به دسر نه دروژو شمیر پوره کوی.

په سفرکښې روژې ماتول سره د تسلسل حکم:- د سفر باره کښې دوه اقوال دی ، ① یو داچه دا هم شرعی عذر دې.② دویم دا چه دا عذر نه دې.

د سفر په وجه په افطار سره تتابع ختمیږی

---

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب بعث النبی صلی الله علیه وسلم خالد بن ولید : ۴۳۳۹ نسائی : ۵۴۰۷)-

Scanned with Ca

مسلک حنفی:- د سفر په وجه که روژه ماته کړی نو د جمهورو په نیز چې په هغې کښې احناف هم شامل دی ده باندې سردوباره روژنې نیول لازمیږی تتابع او پرله پسې والې ختم شو البته د امام شافعی په قدیم قول کښې ده باندې د سفر په وجه که تتابع فوت شی سردوباره د روژو نیول نشته (تفسیر مظهری ۳۲۷\۲)-

مسکینانو ته خوراک ورکول:- بیا فرمائی چه د قتل خطا د توبې دا صورت دې چه غلام نشی آزادولې، نوروژې اونیسی ، او که دروژې طاقت په کښې نه وی نودې مسکینانو ته خوراک ورکولې شی که نه، نو یو قول خو دادې چه شپیته مسکینانو ته به خوراک ورکوی.لکه څنګه چه د ظهار دکفارې دې حلته صفا بیان فرمائی اودلته د قتل خطاء په باب کښې په دې وجه بیان نه فرمائی چه دا دویرولو والا مقام دې.که د آسانئی صورت نې بیان کړو نو هیبت او عظمت به دومره باقی پاتې نشی.دویم قول دادې چه دروژې لاتدې څه نه وی ، که وې نو بیان سره به نې بیان کړې وې.د حاجت په وخت کښې بیان لره موخر کول صحیح نه دی

قوله تعالی::وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيمًا حَكِيمًا۝::: الله علیم او حکیم دې ، ددې تفسیر څو ځل تیر شوې دې.

قوله تعالی::وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيمًا۝

د قتل عمد حرمت:- دقتل خطا نه پس اوس د قتل عمدبیان دې.ددې ډیر زیات سخت او ډیر مضبوط تاکید راغلې دې.دا هغه ګناه ده چه دا الله ﷻ شرک سره یو ځائې بیان کړې ده.فرمائی چه ﴿وَالَّذِيْنَ لَا يَدْعُوْنَ مَعَ اللّٰهِ اِلٰهًا اٰخَرَ وَلَا يَقْتُلُوْنَ النَّفْسَ الَّتِيْ حَرَّمَ اللّٰهُ اِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُوْنَ ۚ وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ يَلْقَ اَثَامًا۝﴾ یعنی مسلمانان بندګان هغه دی چه الله سره هغوئ بل معبود نه جوړی او نه هغوئ یوکس په ناحقه قتلوی. بل ځائې کښې ارشاد دې چه ﴿قُلْ تَعَالَوْا اَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ﴾ دلته هم الله ﷻ د حرامو کارونو ذکر فرمائی او د شرک او د قتل ذکر کوی.او ددې مضمون آیتونه نور هم ډیر زیات دی او احادیث هم دې باب کښې وارد شوی دی.

دقیامت په ورځ د تولو نه اوله مقدمه:- مسلم شریف او بخاری شریف کښې دی چه د تولو نه مخکښې به دقیامت په ورځ د دیت فیصله کیږی (۱) ابو داود کښې دی چه د ایماندارو خلقو په نیکیانو کښې زیاتې رازی تر ترڅو چه دې په ناحقه قتل اونکړی.اوکه داسې نې اوکړل نو تباه به شی.

دمسلمان د قتل عظمت:- اویو حدیث مبارک کښې دی چه د تولې دنیا زوال دالله ﷻ په نیز دیو مسلمان قتل کولو نه کم نقصان دې (۲)

د یومسلمان په قتل تول مخلوق جهنم ته تلل:- اویوحدیث مبارک کښې دی که د زمکې او د آسمان تول خلق دیو مسلمان په قتل کښې شریک شی نو الله ﷻ به تول پرمخ دوزخ ته داخل کړی (۳)

په یوه خبره دمسلمان په قتل کښې د شرکت ګناه:-اویو حدیث مبارک کښې دی چه کوم سړی دیو مسلمان په قتل کښې نیمې خبر کولو سره هم مدد اوکړی نوهغه به دقیامت په ورځ الله ﷻ ته په داسې حالت کښې حاضریږی چه دده په تندی به لیکلې شوې وی چه داسړې دالله ﷻ درحمت نه محروم دې (۴)

د مسلمان په قتل کښې د ابن عباس ﷺ مذهب:- د حضرت ابن عباس ﷺ قول دې چه چا یومومن په قصد سره قتل کړو نو دده توبه نه قبلیږی.د کوفې خلقو چه کله په دې مسئله کښې اختلاف اوکړو.نو

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب القصاص یو م القیامة: ۶۵۳۳، صحیح مسلم: ۱۶۷۸)-

(۲) ابوداود کتاب الفتن باب فی تعظیم قتل المومن : ۴۲۷۰، وسنده صحیح)-

(۳) ترمذی کتاب الدیات باب ماجاء فی تشدید قتل المومن : ۱۳۹۵ وهوحسن نسائی : ۳۹۹۲)-

(۴) ابن ماجة ابواب الدیات باب التغلیظ فی قتل مسلم ظلم : ۲۶۲۰)-

حضرت ابن جبیر حضرت ابن عباس ﷺ ته ورغلو او تپوس ئې ترې اوکړو. نو هغوی ورته اوفرمانیل چه دا د قران پاک آخری آیت دې بل هیڅ یو آیت دا آیت نه دې منسوخ کړې.(۱) او دوی فرمانی چه دویم آیت ﴿وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ﴾ دې چه په هغې کښې د توبې ذکر دې هغه د مشرکانو باره کښې نازل شویدې.(۲) لیکن کله چه یوسړی د اسلام په حالت کښې یو مسلمان په غیر شرعی وجه باندې قتل کړو نو دده سزا جهنم دې. اوده توبه نه قبولیږی.

د قاتل د توبې باره کښې د مجاهد رحمه الله قول:- حضرت مجاهد رحمه الله چه کله د حضرت ابن عباس ﷺ دا قول بیان کړو نو وې فرمائیل مګر څوک چه پښیمانه شو. (نو دهغه توبه قبلیږی) (۳)

دابن عباس ﷺ په نیزد مسلمان د قاتل دپاره توبه نشته:- سالم بن ابوالجعد رحمه الله فرمانی چه حضرت ابن عباس ﷺ کله نابینا شوې وو ، یو ځل مونږ هغوئ سره ناست وو نو دې کښې یو سړې راغلو او دوی ته ئې آواز اوکړو اوتپوس ئې اوکړو چه دې باره کښې تاسو څه وائې چه چا یو مومن په قصد سره قتل کړو. نودوی اوفرمائیل چه دهغه سزا جهنم ده. اودې کښې به دې همیشه وی ، په ده به دالله تعالی غضب وی او په ده به دالله ﷻ لعنت وی ، او ده دپاره عظیم عذاب تیار دې ، هغه بیا تپوس اوکړو که هغه توبه اوباسی اونیک عمل کوی او هدایت باندې کلك اوسی ؟

نو وې فرمائیل چه دده مور په ده بوره شی دده دپاره هدایت چرته دې. په هغه ذات مې دې قسم وی چه د هغه په لاس کښې ځما روح دې ما د حضرت نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه هغه مور دې په هغه بوره شی چه چا یو بنده قتل کړو ، هغه به د لاسونونه نیولې شوی وی او د رحمان عرش ته به مخامخ راوستې شی او دده رګونو کښې به وینه ځی رازی ، او ا لله ﷻ ته به اووائی چه د ده نه تپوس اوکړه چه ده څه ولې قتل کړې وو ؟ په هغه الله ﷻ قسم چه دهغه په قبضه کښې ځما ساه ده ددې آیت نازلیدونه پس د حضرت نبی کریم ﷺ وفات پورې ددې منسوخ کیدو والا آیت نازل نشو. او یو روایت کښې دومره دی چه نه د دې نه پس په حضرت نبی کریم ﷺ وحی راغلې وه (۴).

د ابن عباس ﷺ موافقین :- حضرت زید بن ثابت ﷺ ، حضرت ابوهریره ﷺ ، حضرت عبدالله بن عمر ﷺ حضرت ابوسلمه بن عبدالرحمان رحمه الله ، حضرت عبید بن عمیر رحمه الله ، حضرت قتاده رحمه الله ، حضرت ضحاك رحمه الله هم دحضرت ابن عباس ﷺ خیال سره متفق دی. ابن مردویه کښې دی چه مقتول به دغه قاتل نیولې وی او د قیامت په ورځ به ئې دالله ﷻ مخکښې راولی ، او بل لاس کښې به ئې خپل سر نیولې وی او وائی به چه ائې ځما ربه دده نه تپوس اوکړه چه ده څه ولې قتل کړې وو ؟ قاتل به اووائی چه ائې پروردګاره ! ددې وجې چه ستاد عزت دخاطره . الله ﷻ به اووائی چه دا ځما لار ده. دویم مقتول به هم خپل سر نیولې راوړی او هم دا به وائی. قاتل به جواب کښې اووائی ځکه چه د فلانی عزت وی الله ﷻ به اوفرمانی چه دده ګناه به هغه واپس واخلی. بیا به دې اورته واچولې شی. اودې کوهی کښې به اویاکاله لاندې روان وی. (۵)

---

(۱) صحیح بخاری کتاب- التفسیر سورة النساء (من قتل مومنا متعمدا) : ٤٥٩٠، صحیح مسلم: ٣٠٢٣)-

(۲) صحیح بخاری کتاب- التفسیر سورة الفرقان: قوله تعالی (الا من تاب وامن) : ٤٧٦٦، صحیح مسلم : ٣٠٢٣،)-

(۳) صحیح بخاری کتاب مناقب الانصار باب مالقی النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه من المشرکین بمکة: ٣٨٥٥)-

(۴) الطبری: ١٠١٩٣،احمد: ٢٤٠/١،نسائی:کتاب القسامة باب ماجاءفی کتاب القصاص: ٤٨٧٠، ابن ماجة:٢٦٢١، دا روایت شواهدو سره صحیح دی)-

(۵) ابن مردویه وسنده ضعیف النسائی ٤٠٠٢، بلفظ اخر وسنده ضعیف وهو صحیح بالشواهد)-

Scanned with Ca

څوک نشی بښلې؟ مسند احمد کښې دی ممکن دی چه الله ﷻ ټول ګناهونه بښی،لیکن (هغه سړی نه بښی)چه دکفر په حالت کښې مړشی دویم هغه چه یو مومن په قصد قتل کړی[۱] ابن مردویه کښې داسې حدیث هم دې اوهغه بالکل غریب دې[۲] محفوظ هغه حدیث دې چه دسند په حواله سره بیان شو[۳]

دمومن د قتل په وعید کښې یوبل حدیث :- حمید وانی چه ماته ابوالعالیه راغلو ،ماسره یو دوست هم په هغه وخت وو ، مونږ اووئیل چه تاسو دواړه ځما نه عمر کښې کم یئ او په حافظه کښې زیات یې راځئ ماسره بشر بن عاصم ته لاړشئ هرکله چه مونږ هلته اورسیدو نو حضرت بشر ته مو اووئیل چه هغه ته هم هغه حدیث واوروه.هغوئ آورول شروع کړل .چه په دې عقبه بن مالك لیثی ﷺ اووئیل چه حضرت نبی کریم ﷺ یو وړوکې شان لښکر لیږلی وو.هغوئ په یو قوم حمله اوکړه او خلق اوتښتیدل ، دوی سره یو سړې تښتیدو او دې سړی پسې یو لښکر والا سړې ورپه منډه وو ، هرکله چه هغه ورنږدې شو او په هغه ئې توره راویستله نو هغه اووئیل چه ځه مسلمان یم. دې سړی دهغه هیڅ خیال اونکړو او هغه سړې ئې اووهلو، ددې خبر حضرت نبی کریم ﷺ ته اوشونو حضرت نبی کریم ﷺ ډیر زیات خفه شو. دا خبر هغه سړی ته هم اورسیدو. یو ورځ حضرت نبی کریم ﷺ خطبه وئیله چه دې قاتل اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! په الله ﷻ قسم هغه خو دا خبره صرف د قتل نه د بچ کیدو دپاره کړې وه. حضرت نبی کریم ﷺ دهغه نه مخ واړولو او خطبه ئې وئیله. هغه دوباره اووئیل.حضرت نبی کریم ﷺ ترې دوباره مخ واړولو.دې صبر نه شو او په دریم ځل ئې هم بیا داسې اووئیل.نو حضرت نبی کریم ﷺ بیا هغه طرفته متوجه شو او د حضرت نبی کریم ﷺ په مخ مبارك باندې د خفګان آثار وو. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه قاتل مومن باندې دالله ﷻ انکار دې.دې خله ئې دا اووئیل.دا روایت نسائی کښې هم دې.[۴]

د قاتل په توبه کښې دوه مذاهب د ابن کثیر رحمه الله فیصله:- نو یو مذهب خودا شو چه دمومن د قاتل توبه نه ده قبوله. دویم مذهب دا چه تو به دده د الله ﷻ ترمینځه ده. دجمهور سلفو اوخلفو هم دا مذهب دې که هغه توبه اوویستله او الله ﷻ طرفته ئې رجوع اوکړه ، خشوع وخضوع کښې مشغول شو ، نیك عملونه ئې کول ، نو الله ﷻ به دهغه توبه قبوله کړی. او مقتول ته به د خپل طرفه بدله ورکړی او هغه به راضی کړی.الله ﷻ فرمانی چه ﴿إِلَّا مَن تَابَ﴾ دا خبردې اوخبر کښې د نسخ احتمال هډو وی نه. او دا آیت د مومنانو باره کښې دې نو دا آیت په کافرانو پورې خاص کول د ظاهر خلاف دې.او دیو بنکاره دلیل محتاج دې.والله اعلم.

دایت په عموم باندې استدلال:- الله ﷻ فرمانی چه ﴿قُلْ يَا عِبَادِيَ الَّذِينَ أَسْرَفُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ﴾ یعنی انې ځما بندګانو ! چه چا په خپلو ځانونو زیاتې کړې وی.نو ځما د رحمت نه دې نه مایوسه کیږی .دا آیت مبارك د عموم اعتبار سره هرې ګناه ته شامل دې.که هغه کفر او شرك وی اوکه هغه شك اونفاق وی ، که هغه قتل او فسق وی.چه څوك الله ﷻ طرف ته رجوع اوکړی نو الله ﷻ به هغه طرفته متوجه شی او چه څوك توبه اوباسی نو الله ﷻ به د هغه توبه قبوله کړی.فرمانی چه ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ﴾ یعنی الله ﷻ شرك نه بښی اود دې نه سوا ټول ګناهونه چه اوغواړی نو بښی.دالله ﷻ ددې آیت مبارك نه قربان

---

[۱] نسائی کتاب المحاربة (تحریم الدم): ۳۹۸۹، وسنده صحیح)-

[۲] ابوداود وسنده صحیح وابن حبان : ۵۹۸۰، والحاکم: ۳۵۱/٤، والبیهقی : ۲۱/٦)-

[۳] ابن مردویه)-

[۴] احمد : ۲۷۹/۵، وسنده حسن ، ددې شواهد دپاره نور اوګورئی : صحیح بخاری : ۴۲۲۹، صحیح مسلم ۹۲ و دابوداود : ۲۶۴۳)-

Scanned with Ca

شم هغه لونې ذات هم په دې سورت کښې ددې ایت نه مخکښې هم یو ایت مبارک بیان کړې دې اودهغې تفسیر مونږ په هغه ځائې کښې بیان کړې دې.او بیا ددې آیت مبارک نه پس د خپلې عامې معافئ اعلان کوی چه بندګانو کښې ددې کامل مغفرت امید پیدا شی ، والله اعلم.

دابن کثیر رحمه الله په یوبل حدیث باندې استدلال:- بخاری او مسلم شریف کښې هغه حدیث مبارک هم په دې موقع دیادساتلو قابل دې چه په هغې کښې دی چه یو بنی اسرائیلی سل قتلونه کړی وو ، بیا هغه د یو عالم نه تپوس کوی چه آیا ځما توبه به قبوله شی که نه.هغه جواب ورکو ی چه ستااو ستا توبه کښې څوک حائل کیدیشی ؟ او هغه ته وائی چه دا بدئی پریږده او د نیکانو ښار ته لاړ شه. نو هغه هجرت کوی او لاره کښې وفات کیږی او د رحمت فرښتې ده ته راځی (۱). دا حدیث پوره پوره ډیر خل بیان شوې دې.نوچې په بنی اسرائیل کښې د قاتل توبه قبلیده. نو په دې امت مرحومه باندې د توبې دروازې ولې بندلې شی،مونږ نه خو په هغوئ باندې ډیرې زیاتې پابندئی وې .اودهغه ټولو نه الله تعالی مونږ آزادکړو.او رحمة للعالمین پشان پیغمبر ئې راولیږلو. هغه دین ئې راکړو چه د آسانو او نیکاره او سهل دین دې.نو دلته چه دقاتل کومه سزا بیان شوې ده دهغې نه مراد دا دې چه د هغه سزا داده چه هغه ته به سزا ورکولې شی .حضرت ابوهریره رضی الله عنه او د سلفو یو جماعت هم دا فرمانی.بلکه ددې پشان یوبل حدیث ابن مردویه کښې دې.خو د سند په لحاظ سره هغه صحیح نه دې.اودغه شان د هر وعید مطلب هم دادې که ددې مقابل څه نیک عمل وغیره نه وی نو ددې بدئی بدله هغه ده چه کومه وعید کښې بیان شوه. هم دا طریقه د وعید باره کښې ځمونږ په نیز ډیره درست او احتیاط والا ده .والله اعلم بالصواب.

اودقاتل جهنم ته د تلو په تقدیر هم که په قول د حضرت ابن عباس رضی الله عنه وغیره د توبې نه قبلیدو په وجه وی اوکه په قول د جمهورو،د نیکو عملونو په وجه سره به هغه به همیشه په جهنم کښې نه وی بلکه دلته د خلود نه مراد ډیر وخت پورې پاتې کیدل دی.لکه څنګه چه د متواتر حدیث نه ثابت دی چه جهنم نه به هغه خلق هم راوځی چه د چا په زړونو کښې د اوری د دانې هومره ایمان وی.(۲) او پورته چه کوم حدیث بیان شو ممکن ده چه الله ﷻ ټول ګناهونه دکفر اود مومن د قتل نه بغیرمعاف کړی ، او په دې حدیث کښې ،د ،عسی، ، ټکی د ترجې (امید) دپاره وی نو دواړو صورتونو کښې به ترجی یعنی امید اخوا شی نو بیا به هم وقوع یعنی داسې کیدل دواړو سره یو کښې نه پورته کیږی اوهغه قتل دې.چونکه په دې کښې انسانی حق دې ، هغه توبې سره نه ختمیږی بلکه انسانی حق خو د توبې صورت هم حقدار ته رسول ضروری دی.په دې کښې چه څنګه قتل دې هم داشان غلا ده ، غصب دې ، تهمت دې ، او نور انسانی حقوق هم دی. اودهغې توبې سره معاف کیدل اجماعًا ثابت دی.بلکه د توبې د صحت شرط دې چه ددوی حقوق اداکړی.او کله چه اداکولو محال وی نودقیامت په ورځ به ددې مطالبه به ضروری وی.لیکن مطالبې سره سزا واقع کیدل ضروری نه دی.ممکن دی چه دقاتل ټول نیک عملونه مقتول ته ورکړې شی یا بعضې ورکړې شی او ده سره هم څه پاتې شی او دې اوبخښلې شی.او دا هم ممکن دی چه دقاتل مطالبه الله ﷻ خپل فضل وکرم سره د خپل طرفنه دحورو او قصرونو او د بلند درجو ورکولو سره پوره کړی.او ددې بدله کښې دې خپل قاتل ته معافی اوکړی او په دې خوشحاله شی او الله ﷻ قاتل اوبخښی وغیره. والله اعلم.

په قصد سره د قتل کونکی قاتل دنیاوی سزا:- په قصد دقتل کونکی دپاره په دنیا کښې څه سزا ده او په

---

(۱) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب : ٥٤، رقم: ٣٤٧٠، صحیح مسلم: ٢٧٦٦)-
(۲) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قوله تعالی (وجوه یومئذ ناضرة) : ٧٤٣٩ صحیح مسلم: ١٨٣)-

Scanned with Ca

خرت کښې څه سزا ده. دنیا کښې خو الله ﷻ دمقتول ولیانو ته په ده باندې غلبه ورکړې ده. فرمانی چه ﴿وَمَنْ قُتِلَ مَظْلُومًا فَقَدْ جَعَلْنَا لِوَلِيِّهِ سُلْطَانًا﴾ چه څوک ظلم سره قتل کړې شی مونږ دده پسماندګانو ته غلبه ورکړې ده. هغوی ته اختیار دې چه یا خو بدله واخلی یعنی قاتل قتل کړی یا ئې معاف کړی یا دیت یعنی خون بها یعنی جرمانه وصول کړی.اوددې په جرمانه کښې هم سختی ده. دا په دری قسمه ده .دیرش خو د څلور کلن عمر اوښان او دیرش پنځه کلن او څلویښت بنه پاخه اوښان لکه څنګه چه د احکامو کتابونو نه ثابت دی.

په دې کښې د ائمه اختلاف دې چه په ده (قاتل عمد) باندې د غلام آزادول یا دوه میاشتې پرله پسې روژې نیول یا خوراك ورکول شته که نه ؟ نو امام شافعی رحمه الله او ددوی ملګری او دعلماء کرامو یو جماعت خو د دې قائل دې چه کله قتل خطاکښې دا وی نو عمد کښې به په طریقه اولی سره وی .او په دوی باندې جواب کښې په دروغه د غیر شرعی قسم دکفارې پیش کش شوې دې .او هغوئ ددې عذر عمد پریښودې دې.دمونځ قضاء ئې جوړه کړې ده.لکه څنګه چه په دې باندې اجماع ده. خطا کښې امام احمد رحمه الله اوددوئ اصحاب او نور حضرات وائی چه قتل عمد د کفارې نه زیات دې.ځکه چه دې کښې کفاره نشته.اودغه شان د دروغو قسم او ددوی دپاره دواړو صورتونوکښې او په قصد سره پریښودې شوې مونځ کښې فرق کولو هیڅ لار نشته دې.ددې وجې په قصد سره پریښودې شوی مونځ دپاره د قضا په وجوب قائل دی.

په قتل عمد کښې کفاره نشته

مسلک حنفی:- د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نیز په قتل عمد کښې کفاره نشته (احکام القران للعلامة ظفراحمد العثمانی رحمه الله ۲/۳۲۲).

د اول فریق دلیل:- د مخکښې جماعتونو دلیل یو دا حدیث مبارك هم دې کوم چه مسند احمد کښې مروی دې چه خلق حضرت واثله بن اسقع رحمه الله ته راغلل او وې ونیل چه یو داسې حدیث اووائې چه په هغې کښې کمې زیاتې نه وی نو ډیر زیات خفه شو. او وې فرمائیل چه کله تاسو قران پاك وائې نو په دې کښې کمې زیاتې کوئی ؟ هغوئ اووئیل چه حضرت ځمونږ مطلب دادې چه پخپله حضرت نبی کریم ﷺ نه تاسو اوریدلی وی.وې فرمائیل چه مونږ حضرت نبی کریم ﷺ ته د یوسړی باره کښې ورغلو چه هغه د قتل په وجه خپل ځان ته جهنمی وئیل. نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دده د طرف نه یو غلام آزاد کړئ،دهغه د یو یو اندام په بدله کښې به الله تعالی د ده یو یو اندام د جهنم نه آزاد کړی.(۱)

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا	إِذَا	ضَرَبْتُمْ	فِي سَبِيلِ اللَّهِ	فَتَبَيَّنُوا	
اې هغه کسانو چې ایمان موراوړې دې اکله چې اسفر کوئ تاسو اپه لار دالله کښې اونبنۀ تحقیق کوئ					
اې مومنانو تاسوچې دالله لار کښې (جهاددپاره) لاړشئ اونږپخپل پردی کښې، نبه تحقیق کوئ					
وَلَا تَقُولُوا	لِمَنْ	أَلْقَىٰ	إِلَيْكُمُ السَّلَامَ	لَسْتَ	مُؤْمِنًا ۚ تَبْتَغُونَ
اومۀ وایئ تاسو | هغه چاته | چې پیش کړی اتاسو ته سلام | چې نۀ ئې ته | مومن | غواړئ تاسو					
اوځوک چې درباندې سلام واچوی | نوهغه ته دا مۀ وائې چې ته مومن نۀ ئې | .....که تاسو					

(۱) احمد : ٤/۱۰۷، ابوداود : ۳۹٦٤ وسنده حسن)-

عَرَضَ	الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا	ز فَعِنْدَ اللّٰهِ	مَغَانِمُ	كَثِيْرَةٌ ط	كَذٰلِكَ	كُنْتُمْ
مال	دژوند د دنیا	نو دی الله سره	غنیمتونه	ډیر	هم په دې حالت	وئ تاسو
د دنیا مال غواړئ	نو الله پاک سره ډیر ښه غنیمتونه دی	..... آخر تاسو هم				
مِّنْ قَبْلُ	فَمَنَّ اللّٰهُ	عَلَيْكُمْ	فَتَبَيَّنُوْا ط	اِنَّ اللّٰهَ	كَانَ	
مخکښې ددې نه	نو احسان اوکړو الله	په تاسو	نوښه تحقیق کوئ	بیشکه الله	دې	
ددې نه وړاندې (مکه) کښې دغه شان کمزوری حالت کښې پاتې شوی وې	انو الله په تاسو احسان اوکړو او الله					
بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرًا ۝				
په هغه څه	چې تاسو ئې کوئ	خبردار				
ستاسود ټولو کارونونه ښه خبر دې						

قوله تعالی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا

سلام د اسلام نښه ده :-ترمذی وغیره کښې یو حدیث مبارک دې چه د بنو سلیم یو کس چیلئ څرولې ، دې د صحابه کرام ﷺ یو جماعت سره تیر شو او سلام ئې اوکړو نو صحابه کرام ﷺ خپلو کښې اوونیل دې مسلمان نه دې صرف د خپل ځان بچ کولو دپاره ئې سلام واچولو.نو هغه ئې قتل کړو. او چیلئ ئې ترې واخستې لاړل.نو دې باندې دا آیت مبارک نازل شو. (۱)

په دې حدیث اعتراضونه او دهغې نه دابن کثیر رحمه الله جوابونه:- دا حدیث مبارک صحیح دې لیکن څه خلقو په دې کښې علتونه راویستی دی چه د سماك راوی نه سوا ددې طریقې بل څوك ناقل نشته .اودې د عکرمه ﷺ نه ددې روایت کوی اود هغه په روایت کښې تامل هم دې.اوددې آیت شان نزول کښې نور واقعات هم مروی دی.بعضې وائی چه دمحلم بن جثامه باره کښې نازل شوې دې.بعضې وائی چه د اسامه بن زید ﷺ باره کښې نازل شوې دې.او ددې نه سوا نور اقوال هم دی.لیکن څه وایم چه دا ټول کلام مردود دې.سماك نه دا ډیرو آئمه کرامو نقل کړې دې ، د عکرمه ﷺ نه په صحیح کښې دلیل اخستې شویدې.هم دا روایت په نورو طریقو سره حضرت ابن عباس ﷺ نه صحیح بخاری کښې مروی دې(۲)

د ایت دویم شان نزول:- سنن سعید ابن منصور کښې هم مروی دی.ابن جریر او ابن حاتم کښې دی چه یوسړی لره دده پلار او دده قوم دخپل اسلام خبر رسولو دپاره د حضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې اولیږلو.لارکښې دده ملاقات د حضرت نبی کریم ﷺ لیږلې شوی یو جماعت سره اوشو. ده هغوئ ته اوونیل چه څه مسلمان شوې یم خو ددوی یقین اونشو او دې ئې دشمن اوګڼلو او دې ئې قتل کړو.هرکله چه دده پلارته ددې خبر اوشو نو پخپله د خضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او ټوله واقعه ئې ورته بیان کړه. نو حضرت نبی کریم ﷺ هغه ته زر دینار ورکړل او دیت ئې ادا کړو او هغه ئې عزت سره رخصت کړو نو دې باندې دا آیت مبارک نازل شو.

---

۱) صحیح بخاری کتاب تفسیر القران باب ومن سورة النساء : ۳۰۳۰)-

۲) صحیح بخاری کتاب تفسیر القران باب ومن سورة النساء باب (ولا تقولوا لمن القی الیکم السلام) ۳۴۹۱، صحیح مسلم: ۳۰۱۵)-

Scanned with Ca

د ایت دریم شان نزول:- دا دمحلم بن جثامه واقعه ده چه حضرت نبی کریم ﷺ خپل یو وړوکي لښکر اضم طرفته اولیږلو. هرکله چه دا لښکر بطن اضم ته اورسیدو نو عام بن اضبط اشجعی په خپله سورلئ سور وو او خپل سامان سره راتلو ، چه نزدې راغلو نوسلام ئې اوکړو ، ټول اودریدل لیکن محلم بن جثامه خپل څه ذاتی وجه باندې په ده حمله اوکړه.هغه ئې قتل کړو او دهغه سامان ئې قبضه کړو. بیا مونږ حضرت نبی کریم ﷺ ته اورسیدو او ټوله واقعه مو ورته بیان کړه. نودې سره دا آیت مبارك نازل شو. (۱)

دایت څلورم شان نزول:- یو بل روایت کښې دی چه عامر اسلامی طریقې سره سلام کړې وو. خو د جاهلیت د رومبی عداوت په وجه محلم هغه قتل کړې وو. حضرت نبی کریم ﷺ چه دا خبر واوریدو نو د عامر خلقو ته ئې اوئیل تاسو واوریدل ، لیکن عینیه اووئیل چه نه نه په الله ﷻ قسم ترکومې چه دده په ښځو دا مصیبت رانشی چه کوم ځما په ښځو باندې راغلې دې.محلم خپل دواړه څادرونه اغوستی وو او راغلو او حضرت نبی کریم ﷺ ته مخامخ کیناستو ، په دې امید چه حضرت نبی کریم ﷺ دده دپاره استغفار اوکړی.لیکن حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ دې اونه ښښی.دې ددې ځانې نه پښیمانه په ژړا اووتلو او خپل څادر سره ئې خپلې اوښکې اوچولې.اووه ورځې هم لا نه وې تیرې چه دې وفات شو. خلقو هغه دفن کړو لیکن زمکې دده لاش بهر راغوزار کړو. حضرت نبی کریم ﷺ ته هر کله چه ددې ذکر اوشو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ستاسو ددې ملګری نه بدتر خلق زمکه خپل ځان کښې پریږدی.لیکن دالله ﷻ اراده ده چه هغه ذات تاسوته د مسلمان حرمت اوښانی نو دده لاش په غر واچولې شو ، او دده دپاره کانړی هم واچولې شو ، او دا آیت مبارك نازل شو.(۲) (ابن جریر)

دایت پنځم شان نزول:- صحیح بخاری شریف کښې تعلیقًا مروی دی چه حضرت نبی کریم ﷺ حضرت مقداد ﷺ ته اوفرمائیل چه هر کله تایو داسې سړې قتل کړو چه هغه دکافرو نه پټ پټه اسلام قبول کړې وو اوهغه خپل اسلام ښکاره کړې هم وو. اوتاسو مکه کښې داشان وې چه ایمان به مو پټولو. (۳)
بزار کښې دا واقعه داشان مروی ده چه حضرت نبی کریم ﷺ یو وړوکي لښکر لیږلې وو چه په هغې کښې حضرت مقداد ﷺ هم وو. هرکله چه دښمنانو ته اورسیدو نو وې کتل چه ټول یو خوا بل خوا شوی دی.صرف یو مالدار سړې هلته پاتې شوې دې.ده دهغوئ په کتلو اوئیل چه ﴿اشهدان لااله الاالله﴾ لیکن بیاهم پرې هغه حمله اوکړه او هغه ئې قتل کړو. یو سړی چه دا واقعه اوکتله نو هغه ډیر غصه شو او وې وئیل چه مقداد تا هغه قتل کړو او هغه کلمه وئیلې وه ؟ څه به ددې ذکر حضرت نبی کریم ﷺ ته کوم. هرکله چه دا لښکر واپس شو نو دې سړی دا واقعه حضرت نبی کریم ﷺ ته عرض کړه حضرت نبی کریم ﷺ حضرت مقداد راوغوښتلو او وې فرمائیل چه تا دا څه اوکړل ؟ صبا دقیامت په ورځ به ته ﴿لا اله الاالله﴾ سره څه کوې ؟ نو الله ﷻ دا آیت مبارك نازل کړو او حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ائې مقداد هغه سړې پټ په پټه مسلمان وو. لکه څنګه چه تا په مکه کښې خپل ایمان پټ ساتلې وو. بیا تا هغه د اسلام ظاهرولو باوجود قتل کړو ؟ (۴)

قوله تعالی:: تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ

---

۱) احمد : ۱۱/۶، مجمع الزوائد : ۸/۷)-
۲) ابن جریر)-
۳) صحیح بخاری کتاب الدیات باب قول الله تعالی (ومن یقتل مومنا متعمدا ...) ۶۹۶۶ تقلیقا)-
۴) البزار : ۲۲۰۲،)-

Scanned with Ca

بیا فرمائی چه تاسو د کوم غنیمت لالچ کښې غفلت کوئی او د سلام اچونکی په ایمان کښې شك کوئ او هغوئ قتل کوئی،واورئی دا غنیمت هم دالله ﷻ دطرفنه دې.هغه سره ډیر غنیمتونه دی چه هغه تاسو ته حلالې ذریعې سره درکوی.او تاسو لره به ددې مال نه کښې ډیر بهتر وی.

قوله تعالی:: كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ۝

د مسلمانانو اولنې حالت:- تاسو هم خپل وخت یاد کړئی چه تاسو هم داسې وئ.تاسو به هم د خپلې کمزورئی او ضعف په وجه خپل ایمان نشو ظاهرولې.قوم نه پټیدئی.نن الله ﷻ تاسو باندې احسان اوکړو ، تاسو ته ئې قوت درکړو ، او تاسو په ښکاره د اسلام اظهار کولې شئ،نوچه کوم بې سروسامان د دښمن په پنجه کښې انښتی دی او د ایمان اظهار ښکاره نشی کولې،هرکله چه هغوئ د خپل ایمان اظهار اوکړی نو تاسو ته پکار دی چه دا اومنئی.او یو آیت مبارك کښې دی چه ﴿وَاذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ﴾ یاد کړئی کله چه تاسو کمزوری وې ، الغرض ارشاد دې چه څنګه به د چیلو شپونکی خپل ایمان پټولو هم دغه شان ددې نه وړاندې تاسو په ډیر زیات سخت حالت کښې د مشرکانو په مینځ کښې وئ او خپل ایمان مو پټولو.

د ایت دویم تفسیر:- دا مطلب هم بیان شوې دی چه تاسو هم وړاندې مسلمانان نه وئ الله ﷻ تاسو باندې احسان اوکړو او تاسو ته ئې اسلام نصیب کړو.حضرت اسامه ﷺ قسم کړې وو چه ددې نه پس به کله هم یو ﴿ لااله الاالله ﴾ وئیلو والا سړې نه قتلوم. ځکه دوی ته هم په دې ښه سزا ورکړې شوې وه. بیا د تاکید په طور دوباره وائی چه ښه تحقیق کوئی.بیا دهمکی ورکوی چه الله ﷻ د خپلو عملونو نه غافله مه ګڼئی.چه تاسو څه کوئی هغه ذات ته ددې هر څه خبر دې.

لَا يَسْتَوِي	الْقٰعِدُوْنَ		مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ	
نۀ دی برابر	ناست کسان		دمومنانو نه	
انښی برابریدې هغه مسلمانان چې بې دڅه عذر نه په کور ناست وی				
غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ	وَالْمُجٰهِدُوْنَ	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	بِاَمْوَالِهِمْ	
د چاچې څه عذرنشته	اوجهاد کونکی	په لارد الله کښې	په مالونوخپلوسره	
اوهغه مومنان چې دالله ﷻ په لار کښې په سرومال سره جهاد کوی				
وَاَنْفُسِهِمْ ؕ	فَضَّلَ اللّٰهُ	الْمُجٰهِدِيْنَ	بِاَمْوَالِهِمْ	وَاَنْفُسِهِمْ
اوپه ځانونوخپلوسره	فضیلت ورکړې دی الله	جهاد کونکو ته	په مالونو خپلو سره	اوپه ځانونو خپلو سره
..... الله ﷻ فضیلت ورکړې دی په سرومال باندې جهاد کونکوته				
عَلَى الْقٰعِدِيْنَ	دَرَجَةً ؕ	وَكُلًّا	وَّعَدَ اللّٰهُ	الْحُسْنٰى ؕ
په کیناستونکو	په درجه کښې	او دټولو سره	وعده کړی ده الله	دښې جزا
په ناستو خلقوباندې	..... اګرچې هریو سره ئې دجنت وعده کړې ده			
وَفَضَّلَ اللّٰهُ	الْمُجٰهِدِيْنَ	عَلَى الْقٰعِدِيْنَ	اَجْرًا	عَظِيْمًا ۝
او فضیلت ورکړې دی الله	جهاد کونکوته	په کیناستونکو باندې	داجر	لوئ
خو د هغه غازیانو دپاره د ناستو خلقو په مقابله کښې ډیرلوئې اجر دې				

Scanned with Ca

دَرَجٰتٍ	مِّنْهُ	وَمَغْفِرَةً	وَّرَحْمَةً ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ
دهغوئ دپاره درجې دی لوئ	دطرفه دهغه (الله) نه	او مغفرت دې	او رحمت دې	او دې الله
هغوئ دپاره دالله ﷻ دطرفه لوئې لوئې درجې اوبښنه او رحمت دې				..... او الله ﷻ
غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا ﴿۹۶﴾			
بخښونکې	رحم کونکې			
بښونکې رحم کونکې دې				

قوله تعالی:: لَا يَسْتَوِي الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ

عامو حالاتو کښې جهاد فرض کفایه دې:- صحیح بخاری کښې دی چه کله ددې آیت مبارك دشروع آیتونه نازل شو چې هسې ناست مسلمانان او مجاهدین مسلمانان برابر نه دی.حضرت نبی کریم ﷺ حضرت زید ﷺ راوغوښتلو اوپه هغه ئې دا آیاتونه لیکل.په دې کشې حضرت ابن ام مکتوم ﷺ نابینا راغلو او وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! ځه خو نابینا یم.دې باندې دا الفاظ ﴿غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ﴾ نازل شو.یعنی سوا د هغه ناستو نه چه معذوره وی.(۱)

قوله تعالی:: غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ

د معذورمسلمانانو استثنی:- او یوروایت کښې دی چه حضرت زید ﷺ خپل خان سره قلم دوات راوړی وو.او یو حدیث کښې دی چه حضرت ابن ام مکتوم ﷺ فرمائیلی وو چه ، یارسول الله ﷺ ! که ما کښې طاقت وې نو ځه به هم ضرور جهاد کښې شامل شوې وې.دې باندې دا الفاظ نازل شو. په هغه وخت کښې د حضرت نبی کریم ﷺ پتون مبارك د حضرت زید ﷺ په پتون وو. اوپه هغوئ دومره بوج راغلو چه نزدې وو چه دهغوئ پتون مات شوې وې.(۲)

د وحی دروندوالې:- او یوبل حدیث مبارك کښې دی چه کله ددې الفاظو وحی راغله نو په حضرت نبی کریم ﷺ باندې سکینه نازله شوه نو ځه د حضرت نبی کریم ﷺ خوا کښې ناست ووم. په الله ﷻ قسم چه هغه بوج چه کوم د رسول الله ﷺ د پتون په ماباندې پریوتې وو د هغې نه ما زیات بوج نه وو لیدلې بیا وحی تلو نه پس حضرت نبی کریم ﷺ تر (عظیما) پورې آیت ماته حکم اوکړو.اوما په یو هډوکی اولیکلو.

هم دا وقعه په بل روایت:- او دیو حدیث الفاظ دی چه د حضرت ابن ام مکتوم ﷺ الفاظ لا ختم شوی نه وو چه په حضرت نبی کریم ﷺ باندې وحی نازل شوه. حضرت زید ﷺ فرمائی چه هغه منظر تر اوسه پورې ځما په نظر کښې دی لکه چه ځه ئې ګورم چه دې نه پس نازل شوی الفاظ ما دهغه ځائې نه خپل تحریر کښې اولیکل (۳)

د شان نزول باره کښې بل روایت:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه دې نه مراد دبدر جنګ کښې چه کوم خلق شامل وو اوهغه چه کوم نه وو تلی (۴)د بدر د غزوې په موقع حضرت عبدالله بن جحش ﷺ او

---

(۱) صحیح بخاری کتاب تفسیر القران باب ومن سورة النساء باب (لایستوی القاعدون....): ۴۵۹۳، صحیح مسلم: ۱۸۹۸)-

(۲) صحیح بخاری کتاب تفسیر القران باب ومن سورة النساء باب (لایستوی القاعدون....): ۴۵۹۳، ترمذی: ۳۰۳۳، نسائی: ۳۱۰۱)-

(۳) ابوداود کتاب الجهاد بآب الرخصة فی العقود...: ۲۵۰۷ وسنده حسن)-

(۴) صحیح بخاری کتاب تفسیر القران باب ومن سورة النساء باب (لایستوی القاعدون....): ۴۵۹۳،)-

Scanned with Ca

حضرت عبدالله بن ام مکتوم ﷺ راغلل او حضرت نبی کریم ﷺ ته ئې عرض اوکړو چه مونږ داوړه نابینا یو ،مونږ دپاره څه رخصت شته ؟.هغوی ته دې آیت قرانی کښې رخصت ورکړې شو.

نوکومو مجاهدینوته چه ناستو مسلمانانو فضیلت ورکړې شوې وو دا هغه دی چه صحت مند او تندرست دی(۱) نو اول خو مجاهدینو ته ناستو خلقو باندې مطلقًا فضیلت وو،خو بیا هم دې وحی سره چه کوم الفاظ نازل شو نوپه دې سره هغه خلق چه معذوره وو دعامو ناستو مسلمانانو نه مستثنی شو.لکه راننده ، شل ، او بیمار دا دمجاهدینو درجه کښې دی.

مجاهدینو ته په کومو ناستو فضیلت دې:- بیا دمجاهدینو چه کوم فضیلت بیان شوې دې هغه په هغه خلقو دې چه بې د څه وجې جهادکښې شامل شوې نه شو. لکه چه د حضرت ابن عباس ﷺ تفسیر تیر شو. اوهم دا پکار هم دې.بخاری کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه مدینه کښې داسې خلق هم شته چه تاسو کوم جهاد دپاره سفر اوکړئ یا د جهاد په سفر په یو ځائې باندې تییږئ. نو هغوئ ستاسوسره اجر کښې برابر دی.صحابه کرام ﷺ عرض اوکړو اګرچې هغوی په مدینه کښې مقیم دی. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آؤ ځکه چې هغوئ د عذر د وجې ایسارشوی دی (۲)

او یو روایت کښې دی چه تاسو چه څه خرچ کوئی دهغې ثواب هم تاسو ته ملاویږی او دوی ته هم ملاویږی.(۳)هم دا مطلب یو شاعر په دې الفاظو کښې بیان کړې دې چه :

یاراحلین الی البیت العتیق لقد — سرتم جسوماً وسرنا نحن ارواحنا

انا اقمنا علی عذروعن قدر — ومن اقام علی عذر فقد راحا

(**ترجمه**:-ائې دالله ﷺ دکور حج کوونکو! اګر چه تاسو خپلو بدنونو سره دې طرفته روان یئ ، لیکن مونږ هم خپل روحانی طریقې سره روان یو، واورئی ، بې وسئ او عذر مونږ منع کړی یو او دا ظاهره ده چه عذر سره پاتې کیدونکی په جهاد کښې د تلونکو نه کم نه دې.

قوله تعالی:: وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ:: بیا فرمائی چه هریوسره دالله ﷺ وعده د جنت او د لوئې اجر ده.دې نه معلومه شوه چه جهاد فرض عین نه دې بلکه فرض کفایه دې.

قوله تعالی:: وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۙ

بیا ارشاد دې چه مجاهدینو ته غیرو مجاهدینو باندې فضیلت حاصل دې.

قوله تعالی:: دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ؕ

بیا ددوی اوچتې درجې ،ددوی دګناهونومعافی ، او په دوی باندې چه کوم رحمت او برکت دې ، دهغې بیان فرمائی او دخپل عام رحم او بخشش خبر ورکوی.

دمجاهدینودرجې:- بخاری اومسلم کښې دی چه جنت کښې سل درجې دی الله ﷺ په خپل لار کښې مجاهدینو دپاره تیارې کړی دی.د هرو دوؤ درجو په مینځ کښې دومره فاصله ده څومره چه دآسمان او زمکې ترمینځه ده (۴)

د دوو درجو مینځ کښې فاصله:- اوحدیث مبارک کښې دی حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړې دالله ﷺ لار کښې غشئ اولی هغه ته دجنت درجه ملاویږی.یو سړی تپوس اوکړو چه درجه څه ده ؟

---

(۱) ترمذی کتاب تفسیر باب ومن سورة النساء : : ۳۰۳۲)-

(۲) صحیح بخاری کتاب المغازی باب : ۸۲ ح/٤٤٢٣، ابن ماجة: ۲۷٦٤)-

(۳) ابوداود کتاب الجهاد باب الرخصة فی العقود: ۲۵۰۸ وهو صحیح)-

(۴) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب درجات المجاهدین فی سبیل الله : ۲۷۹۰ عن ابی هریرة ﷺ صحیح مسلم: ۱۸۸٤)-ا

Scanned with Ca

حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه ستاسو د کورونو دبالاخانو هومره نه ده بلکه د دوؤ درجو مینځ کښې دسلو کالو فاصله ده.(۱)

إِنَّ الَّذِينَ	تَوَفَّاهُمُ	الْمَلَائِكَةُ	
بیشکه هغه کسان	چې روحونه واخستل دهغوئ	فرښتو	
چا چې په ځان زیاتي اوکړو	او فرشتو دهغوئ روحونه قبض کړل		
ظَالِمِي	أَنْفُسِهِمْ	قَالُوا	فِيمَ	كُنْتُمْ	قَالُوا
چې ظلم کونکی ووؤ	په ځانونو خپلو	اووئیل ورته فرښتو	په کوم حال کښې	وئ تاسو	اووئیل هغوئ
نوتپوس ترینه اوکړو فرښتو	چې تاسو په څه حال کښې وئ	په هغوئ جواب کښې اووئیل چې			
كُنَّا	مُسْتَضْعَفِينَ	فِي الْأَرْضِ	قَالُوا	أَلَمْ تَكُنْ	أَرْضُ اللَّهِ	وَاسِعَةً
ووؤ مونږه	کمزورې کړې شوې	په زمکه کښې	اووئیل فرښتو	آیا نه وه	زمکه دالله	فراخه
مونږ دزمکې په مخ کمزوری خلق وو	.....	نو فرښتو اووئیل چې ولې دالله زمکه فراخه نه وه				
فَتُهَاجِرُوا	فِيهَا	فَأُولَئِكَ	مَأْوَاهُمْ	جَهَنَّمُ	وَسَاءَتْ
چې هجرت کړې وې تاسو	په هغې کښې	نو دا هغه خلق دی	چه ځائ دهغوئ	دوزخ دې	اوبدځائې دې
چې تاسو په کښې هجرت کړې وې	داهغه خلق دی چې ددوئ ځائې جهنم دې	او ډیریږد			
مَصِيرًا ﴿٩٧﴾	إِلَّا	الْمُسْتَضْعَفِينَ	مِنَ الرِّجَالِ	وَالنِّسَاءِ	وَالْوِلْدَانِ
دورتلو	مګرنهٔ هغه	چې بې وسه دی	د نارینو نه	او د زنانو نه	او د ماشومانو نه
ځائې دې د ورتلو	خو کوم نارینه اوزنانه اوماشومان چې په رښتیا کمزوری دی	او بهر ته د تلو هیڅ ذریعه			
لَا يَسْتَطِيعُونَ	حِيلَةً	وَلَا يَهْتَدُونَ سَبِيلًا ﴿٩٨﴾	فَأُولَئِكَ	عَسَى اللَّهُ
چې طاقت نه لری	د څه حیلې	اونه مومی لار د وتلو	نو دا بې وسه چې دی	امیددې چې الله
نه لری او لار نه مومی	.....	نو کیدې شی چې الله تعالی هغوئ ته		
أَنْ يَعْفُوَ	عَنْهُمْ	وَكَانَ اللَّهُ	عَفُوًّا	غَفُورًا ﴿٩٩﴾	وَمَنْ
معافی اوکړی	دګناهونو دهغوئ نه	اودې	الله	ډیر معافی کونکې	بښونکې	اوڅوک
معافی اوکړی	.....	اوالله ډیرمعاف کونکې او بښونکې ذات دې	.....	اوڅوک چې		
يُهَاجِرْ	فِي سَبِيلِ اللَّهِ	يَجِدْ	فِي الْأَرْضِ	مُرَاغَمًا	كَثِيرًا	وَسَعَةً
چې هجرت اوکړی	په لار د الله کښې	او به مومی	په زمکه کښې	ځائې دپنا اخستلو	ډیر	اوفراخی
دالله ﷻ په لار کښې هجرت اوکړی	هغوئ به په مخ دزمکې استوګنې دپاره ډیرخایونه	اوهرقسم فراخی بیامومی				

(۱) نسائی: کتاب الجهاد باب ثواب من رمی بسهم : ۳۱٤٦، عن کعب بن مرة ﷺ.

وَمَنْ	يَّخْرُجْ	مِنْۢ بَيْتِهٖ	مُهَاجِرًا	اِلَى اللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	ثُمَّ
اوڅوك	چې اوخې	دکور خپل نه	چې هجرت کونکې وی	طرف دالله ته	اودرسول دهغه ته	بیا
اوڅوک چې دخپل کور نه دالله او د هغه د رسول ﷺ په لار کښې هجرت اوکړی	.....	بیا				
يُدْرِكْهُ	الْمَوْتُ	فَقَدْ وَقَعَ	اَجْرُهٗ	عَلَى اللّٰهِ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ	غَفُوْرًا
اورسیږی هغه ته	مرګ	نو واقع شو	اجر دهغه	په الله باندې	اودې الله	ببښونکې
په لار کښې ورته مرګ راشی	نو هغه ته به هم الله ﷻ د هجرت اجر ورکوی	.....	اوالله ﷻ ببښونکې			
رَّحِيْمًا ۝						
رحم کونکې						
اورحم کونکې دې						

قوله تعالی:: اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ

د هجرت فرضیت:- محمد بن عبدالرحمان الاسود ﷺ فرمائی چه اهل مدینه نه جنګ کولو دپاره چه کوم یو لښکر تیار شوې وو په هغې کښې ځما نوم هم وو. ځه دحضرت ابن عباس ﷺ مولی حضرت عکرمه ﷺ سره ملاؤ شوم ، هغه ددې خبرې ذکر اوکړو نو هغوئ ځه په دې کښې دشرکت کولو نه سختئ سره منع کړم. او وې وئیل چه واوره ! ما د حضرت ابن عباس ﷺ نه آوریدلی دی چه بعضې مسلمانان چه د حضرت نبی کریم ﷺ زمانه کښې مشرکان وو او ددوی تعداد زیاتیدو ، اکثر به داسې هم وو چه په دوی کښې به ئې څوك په غشی ویشتلو سره هلاك کړو ،دمسلمانانو توري سره به قتل کړې شو. نودې باره کښې دا آیت مبارك نازل شو. (۱)یعنی دمرګ په وخت کښې ددوی د خپلې بې وسئ حیله الله ﷻ ته قبوله نه ده.

اویو روایت کښې دی چه داسې خلق چه خپل ایمان به ئې پټ ساتلو ، هرکله چه دوی کافرو سره جنګ بدرکښې راغلل نو په هغوئ کښې بعضې د مسلمانانو دلاسه اووژلې شو. نو په دې مسلمانان غمګین شو چه افسوس دا خو ځمونږ رونړه وو او ځمونږ دلاسه مړه شو. ددوی دپاره به ئې استغفار کولو. نو دې باندې دا آیت مبارك نازل شو(۲) نو باقی مسلمانانو دپاره دا آیت مبارك اولیکلې شو چه ددوی هیڅ عذر نه وو.وې وئیل چه دوی راوتل او دوی سره مشرکان یوځائې شو او دوی تقیه اوکړه.نو دا آیت مبارك نازل شو چه ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَّقُوْلُ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ﴾

دایت په شان نزول کښې د عکرمه قول:- حضرت عکرمه ﷺ فرمائی چه دا آیت دهغه خلقو باره کښې نازل شوې دې چه داسلام کلمه به ئې وئیله او وو مکه کښې.په دوی کښې علی بن امیه بن حلف او ابو قیس بن ولید بن مغیره او ابومنصور بن حجاج او حارث بن زمعه وو.

دایت په شان نزول کښې د ضحاك قول:- ضحاك رحمه الله فرمائی چه دهغه منافقانو باره کښې دا آیت مبارك نازل شوې دې چه د حضرت نبی کریم ﷺ دهجرت نه پس هم مکه کښې پاتې شوی وو. بیا د بدر جنګ کښې مشرکانو سره راغلل. بیا بعضې میدان جنګ کښې اووژلې شو. مقصد دادې چه د دې آیت مبارك حکم عام دې دهر هغه سړی دپاره چه په هجرت قادر وی ، بیا هم په مشرکانو کښې پروت

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (ان الذین توفهم) : ٤٥٩٦)-
۲) الطبری : ١٠٢٦٥ ،)-

Scanned with Ca

وو او په دین مضبوط نه وی نو هغه دالله تعالی په نیز ظالم دی.او ددې ایت مطابق اودمسلمانانو په اجماع سره هغه د حرام کار مرتکب شوې دی.دې آیت مبارک کښې هجرت پریښودو ته ظلم ونیلې شوې دی.داسې خلقوته دوی د نزع په حالت کښې فرښتې وائی چه تاسو ولې دلته ایسار یئ؟ ولې مو هجرت اونکړو ؟ نودوی جواب ورکوی چه مونږ دخپل ښار مکې نه نه شو تلې.نو دې جواب کښې ورته فرښتې وائی چه آیا دالله ﷻ زمکه کښې فراخی نه وه ؟ ابوداود کښې دی چه کوم سړی مشرکانو سره یو ځائې وی او هغوئ سره اوسی نو هغه هم دهغوئ په شان دې. دا وه د دوستئ نتیجه (۱).

حضرت عباس ﷺ ته جواب:- حضرت سدی رحمه الله فرمائی چه حضرت عباس ﷺ او حضرت عقیل ﷺ او نوفل گرفتار شوی وو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه عباس ته خپله فدیه ورکړه او د خپل وراره هم.حضرت عباس ﷺ اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ ! چه آیا مونږستاسو قبلې طرفته مونځ نه کوؤ څه؟ آیا مونږ کلمه دشهادت نه وایو څه؟حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اې عباس ! تا خو بحث اوکړو لیکن ته به دې کښې پاتې راشې.واوره ! الله ﷻ فرمائی چه ، بیا حضرت نبی کریم ﷺ هم دا آیت مبارک تلاوت کړو،یعنی تاسو هجرت ولې اونکړو ؟ (۲)

قوله تعالی::إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ

بیا چه کوم خلق دهجرت په پریښودو ملامته نه وی دهغوئ ذکرکوی چه کوم خلق دمشرکانو دلاسه پاتې نه شی او هیڅکله به پاتې نشی نو هغوی ته دلاري علم نشته دی.هغوی ته به الله ﷻ معافی اوکړی.دعسی کلمه دالله تعالی کلام کښې دوجوب او یقین دپاره راځی.الله تعالی معاف کولو والا او معافئ کونکې دې.

د کمزور بې وسو مسلمانانو دپاره دعا:- حضرت ابوهریره ﷺ بیان کوی چه حضرت نبی کریم ﷺ د ماسخوتن مونځ کښې سمع الله لمن حمده وئیلو نه پس سجدې ته د تلو نه مخکښې دا دعا کړې وه چه اې الله ﷻ ! عیاش بن ابو ربیعه ، سلمه بن هشام ،ولیدو ابن ولید او ټول بې وسه مسلمانان د کافرو د پنجې نه خلاص کړه.اې الله ﷻ ! خپل سخت عذاب په قبیله مضر نازل کړه. اې الله ﷻ ! په دوی باندې داسې قحط راوله لکه څنګه چه دې دحضرت یوسف ﷺ په زمانه کښې راوستې وو. (۳)

دا حدیث په بل روایت سره :- ابن ابی حاتم کښې د حضرت ابوهریره ﷺ نه مروی دی چه حضرت نبی کریم ﷺ د سلام گرځولو نه پس قبلې طرفته مخ کړو. او لاس ئې اوچت کړو. او دعا ئې اوکړه اې الله ﷻ ! ولید بن ولید ، عیاش ابن ربیعه ، سلمه بن هشام او ټول بې وسه مسلمانان دکافرو دپنجې نه خلاص کړه .ځکه چه دوی کښې د حیلې طاقت نشته.او نه د لارې موندلو. (۴)

تائید دحدیث:- ابن جریرکښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ دماسپخین دمونځ نه پس دا دعا کوله. ددې حدیث مبارک شواهد په صحیح کښې هم د سند نه علاوه په نورو سندونو سره هم نقل دې لکه څنګه چه مخکښې تیر شو.

ابن عباس اود هغوی مور په معذوروکښې وه:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه څه او ځما مور په هغه ضعیفو ښځو او بچو کښې وو چه د چا ذکر په دې آیت مبارک کښې دې ، مونږ ته الله ﷻ معذور ونیلی

---

(۱) ابوداود کتاب الجهاد باب فی الاقامة بارض الشرک : ۲۷۸۷)-

(۲) الطبری : ۱۰۲۷ داروایت مرسل دې)-

(۳)صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النساء: باب قول الله تعالی (فاولئک عسی الله ان یعفو عنهم) ۴۹۹۸،صحیح مسلم: ۶۷۵)

(۴) ابن ابی حاتم)-

Scanned with Ca

دی.(۱)

قوله تعالی:: وَمَنْ يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً

اجر او ثواب به د نیت مطابق وی :- د هجرت ترغیب ورکوی او مشرکانو نه د جدا کیدو هدایت کوی او فرمانی چه دالله تعالی لار کښې دې هجرت کولو والا نه پریشانه کیږی بلکه دوی چه هر ځائې ته ځی نو دوی دپاره به الله ﷻ د پناه اسباب تیاروی.او هغوی به آرام سره هلته اوسیږی.د مراغم یومعنی یو ځائې نه بل ځائې ته تلل دی.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه هغوئ د خپل غم نه دبچ کیدو دپاره ډیر صورتونه اومومی. دامن ډیر اسباب به دوی ته ملاؤ شی.

قوله تعالی:: وَمَنْ يَخْرُجْ مِنْ بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللهِ

بیا فرمانی چه کوم سړې دهجرت نیت سره دخپل کور نه اوځی ، بیا دهجرت ځائې ته د رسیدو نه وړاندې په لار کښې وفات شی. نو ده ته هم د هجرت ثواب ملاؤ شو.

د عملونو دارومدار په نیت دې:- حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه دهر عمل دارومدار په نیت دې.او هر سړی دپاره هغه بدله ده چه هغه د کوم نیت کړې وی. نو چه د چا هجرت چې دالله ﷻ د رضا دپاره او د رسول الله ﷺ د رضا دپاره وی،نوهغه هجرت الله ته قبول دې.او چه د چا هجرت د دنیا حاصلولودپاره وی یا یو ښځې سره د نکاح دپاره وی.نو هغه ته به داصل هجرت ثواب نه ملاویږی بلکه دهغه هجرت به هغه شان ګنړلې کیږی.(د څۀ دپاره چې ئې هجرت کړې وی) (۲) دا حدیث مبارک عام دې.اوهجرت وغیره ټول اعمال په دې کښې شامل دی.

د سلوګسانو د قاتل واقعه :- بخاری اومسلم شریف کښې دهغه سړی باره کښې دی چه هغه یو کم سل قتلونه کړی وو ، بیا ئې یو عابد قتل کړو او سل ئې پوره کړل.بیائې یو عالم نه تپوس اوکړو چه آیا دده توبه قبلیدیشی که نه ؟ نوهغه عالم ورته اوونیل چه ستا او ستا د توبې مینځ کښې هېڅ څیز حائل نه دې ته خپلې قبیلې نه هجرت اوکړه او فلانی ښار ته لاړ شه اوهلته دالله ﷻ عابدان بندګان اوسیږی.نو ده هجرت اوکړو او هغه طرفته روان شو ، لا په لار کښې وو چه ده ته مرګ راغلو. درحمت او عذاب فرښتې دده باره کښې په مختلفې شوې.بعضو ونیل چه دې سړی توبه کړې وه او هجرت ئې اوکړو او روان شوې وو خو هلته اونه رسیدو. بیا هغوئ ته حکم اوشو چه هغوی دې د دواړو طرفونو زمکه ناپ کړی. چه داسړې کوم کلی ته نزدې وو نو هغوئ سره به دې وی.بیا الله ﷻ زمکې ته حکم اوکړو چه د خراب کلی طرفنه لرې شه (یعنی د هغه طرفنه فاصله زیاته کړه) اود نیکانو کلی ته نزدې شه. هرکله چه زمکه ناپ کړې شوه نو توحید والو طرفته یو لویشت نزدې وو او دې درحمت فرښتو بوتلو. یو روایت کښې دی چه دمرګ په وخت کښې ده دخپلې سینې په زور دنیکو خلقو کلی طرفته خان رابنکو. (۳)

د موضوع سره متعلق یو بل روایت:- مسند احمد کښې یو حدیث مبارک دې چه کوم سړې خپل کور نه دالله ﷻ لار کښې د جهاد په نیت اووتلو ، بیا حضرت نبی کریم ﷺ خپلې درې واړه ګوتې مبارکې یعنی دکلمې ګوته ، مینځنئ ګوته او دې سره نزدې ګوته یو ځائې کړه او بیا ئې اوفرمانیل چه چرته دې مجاهد ؟ بیا هغه خپلې سورلئ نه راپریوتو او یو ځناور دې څیرې کړو یا په خپل مرګ مړ شو نو دده

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النساء : باب قول الله تعالی (الاالمستضعفین من الرجال والنساء) : ۴۵۹۷)-

(۲) صحیح بخاری کتاب بدء الوحی کان بدالوحی الی رسول الله صلی الله علیه وسلم : ۱ صحیح مسلم : ۱۹۰۷، ابوداود: ۲۲۰۱، ترمذی : ۱۶۴۷ نسائی : ۳۸۲۵)-

(۳) مسند احمد : ۳۶/۴،)-

Scanned with Ca

دهجرت ثواب دالله تعالی په ذمه دي.(راوی وائی چه په خپل مرګ مړکیدو دپاره چه کومه کلمه حضرت نبی کریم ﷺ استعمال کړه) په الله قسم ما ددې نه مخکښې دا کلمه د حضرت نبی کریم ﷺ نه دهیڅ یو عربی د ژبې نه نه وه آوریدلې او چه کوم سړې د غضب په حالت کښې قتل شو نو هغه ددې ځانې مستحق شو.

د ایت باره کښې یوبل شان نزول:- حضرت خالد بن حزام ﷺ هجرت او حبشې ته لاړو لیکن لار کښې دې یو مار اوچیچلو او په دې کښې دده روح قبض شو. ددوی باره کښې دا آیت مبارک نازل شو. حضرت زبیر ﷺ فرمائی چه هجرت کولو نه پس هغه حبشې ته رسیدلې وو او ماته دهغه باره کښې خبر شوې وو چه دې هم هجرت کوی راځی. اوماته معلومه وه. چه په قبیله بنو اسد کښې د دوی نه سوا بل چا هجرت نه وو کړې. او چه څومره مهاجرین وو د هغوی سره رشته دار وو، خوماسره هیڅوک نه وو. ما د هغه یعنی دحضرت خالد ﷺ ډیر زیات انتظار کولو. هرکله چه ماته دهغه د شهادت خبر ملاؤ شونو څه ډیر زیات خفه شوم.(۱)دا اثر ډیر غریب دې.د دې وجه دا ده چه دا قصه مکه مکرمه کښې وه او دا آیت مدینه منوره کښې نازل شوې دې.لیکن زیاته ممکنه ده چه د راوی مقصد دا وی چه د آیت مبارک حکم عام دې.اګر چه شان نزول ئې نه وی.والله اعلم.

دایت شان نزول کښې بل روایت:- او یو روایت کښې دی چه حضرت ضمیره بن جندب ﷺ هجرت کولو دپاره حضرت نبی کریم ﷺ طرفته راروان شو لیکن حضرت نبی کریم ﷺ ته د رارسیدو نه مخکښې لار کښې وفات شو ، ددوی باره کښې دا آیت مبارک نازل شوې دې.(۲)

د ایت باره کښې بل شان نزول:- او یو روایت کښې دی چه حضرت ابوضمیره چه په سترګو ړوند وو ، هرکله چه دا آیت مبارک ﴿إِلَّا الْمُسْتَضْعَفِينَ﴾ ئې واوریدو نو وې وئیل چه څه مالدار یم او ماسره سامان هم شته دې ماته پکار دی چه هجرت اوکړم. نو دسفر سامان ئې تیار کړو او حضرت نبی کریم ﷺ طرفته راروان شو. لیکن لا په تنعیم کښې وو چه دوی ته مرګ راغلو.ددوی باره کښې دا آیت مبارک نازل شو.

دمجاهد په لار کښې مرګ د جنت سبب دي:- طبرانی کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ فرمائی چه کوم سړې ځما لار کښې د جهاد کولو دپاره اووتلو صرف ځما وعدې ئې ریښتونې اوګنړلې او ځما په رسولانو ئې ایمان راوړو نو هغه د الله ﷻ ضمانت کښې دي یا به هغه لښکر سره مړ شی او جنت ته به داخل شی یا به واپس دالله ﷻ ضمانت کښې راشی یا به غنیمت او اجر او دالله ﷻ فضل واخلی ، که دې په خپل مرګ مړ شی یا آس نه پریوځی مړشی یا اوښ نه پریوځی مړ شی یا ئې یو زهریله ځناوراوچیچی یا په خپله بستره مړشی یا شهیدشی.ابوداود کښې دومره زیاتوالې دې چه هغه جنتی دې.

دمجاهد شهید مرتبه:- بعضې الفاظ ابوداود کښې نشته دې (۳). ابویعلی کښې دی چه کوم سړې حج دپاره اوځی،بیا مړ شی نو تر قیامته پورې به دده دپاره دحج ثواب لیکلې کیږی.څوک چې عمرې دپاره اوځی او لارکښې وفات شی نو دده دپاره تر قیامته پورې دعمرې اجر او ثواب لیکلې کیږی.او چه څوک جهاد دپاره اوځی اومړ شی نو تر قیامته پورې دده دپاره د جهاد ثواب لیکلې کیږی.داحدیث مبارک غریب دې.(۴)

---

۱) ابن ابی حاتم :)-

۲) ابن ابی حاتم :)-

۳) ابوداود کتاب الجهاد باب فیمن مات غازیا : ۲٤۹۹،)-

٤) ابو یعلی : ٦۳٥۷ ،)-

Scanned with Ca

وَاِذَا	ضَرَبْتُمْ	فِي الْاَرْضِ	فَلَيْسَ	عَلَيْكُمْ	جُنَاحٌ
او هر کله چې	سفر کوئ تاسو	په زمکه کښې	نو نشته	په تاسو	هیڅ ګناه
اوهرکله چې تاسو په سفرروان شئ نو په تاسو باندې هیڅ ګناه نشته					

اَنْ تَقْصُرُوْا	مِنَ الصَّلٰوةِ	اِنْ خِفْتُمْ	اَنْ يَّفْتِنَكُمُ	الَّذِيْنَ	
چې لنډ والې اوکړئ	په مانځه کښې	که ویریږئ تاسو	چې په فتنه کښې به واچوی تاسو	هغه کسان	
که تاسومونځ کښې قصر اوکړئ	.....	که دا ویره درسره وی چې کافران به مو پریشانه کړی			

كَفَرُوْا	اِنَّ الْكٰفِرِيْنَ	كَانُوْا	لَكُمْ	عَدُوًّا	مُّبِيْنًا
چې کافران دی	بیشکه چې کافران	دی	ستاسو	دشمنان	ښکاره
بیشکه کافران ستاسو ښکاره دشمنان دی					

په سفر کښې د قصر حکم:- فرمان دې چه تاسو کله په سفر اوخئ او هم دا الفاظ دسفر دپاره په سورۃ مزمل کښې هم راغلی دی. نوتاسو باندې مونځ کښې کمی کولو باندې هیڅ ګناه نشته دې. د کمې یا کمیت یعنی دځلورو رکعتو په خائې دوه رکعته دی لکه څنګه چه جمهورو ددې آیت مبارک نه ګڼلی دی.اګر چه په دې کښې بعضو مسئلو کښې اختلاف دې.

کوم سفرموجب د قصر دی؟ په دې کښې مذاهب:- ①بعضې وائی چه دا شرط دې چه سفر د اطاعت وی لکه جهاد دپاره یا حج دپاره یا عمرې دپاره یا د علم طلب دپاره یا زیارت (د نبی کریم ﷺ) دپاره وی وغیره.حضرت ابن عمر ؓ ، حضرت عطاء ؒ اویحیی یو روایت کښې وائی چه دامام مالك هم دا قول دې. ځکه چه ددې نه مخکښې فرمان دې که تاسو ته د کافرو نه ویره وی.②بعضې وائی چه ددې قید هیڅ ضرورت نشته دې چه سفر دقربت خداوندی دپاره وی یا نه وی بلکه دمونځ کمې هر مباح سفر دپاره دې.لکه اضطرار او د بې وسئ صورت کښې چه مرداري د خوراك اجازت دې.خو شرط دادې چه سفر معصیت نه وی.حضرت امام شافعی ؒ او حضرت امام احمد ؒ وغیره امامانو هم داقول دې.یو سړی حضرت نبی کریم ﷺ نه سوال اوکړو چه څه د تجارت دپاره په سمندر کښې سفر کوم نو حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه ده ته د دوؤ رکعتو کولو حکم دې. دا حدیث مبارك مرسل دې.③د بعضې مذهب دې چه په هر سفر کښې دقصر مونځ کول پکار دی.سفر که مباح وی اوکه ممنوع.تر دې که څوك د غلا دپاره راشی اومسافرو ته د تکلیف ورکولو دپاره وتلې وی نو هغه ته هم د قصر مونځ کول پکار دی.حضرت ابوحنیفه ؒ ، حضرت ثوری ؒ ، او حضرت داود ؒ نه هم دا قول نقل دې چه دا آیت مبارك عام دې.لیکن دا قول د جمهورو خلاف دې.

د ګناه سفر هم د قصر فی الصلاة سبب دې

مسلك حنفی:- لکه څنګه چه حافظ ابن کثیر ؒ فرمائیلی دی هم دا مذهب د احنافو دې (تفسیرمظهری ۴۳۱\۲).

په سفرکښې د قصر دپاره ویره شرط ده کنه نه؟ :- دکفارو سره د ویرې شرط لګولې شوې دې دا په اعتبار اکثرسره.د آیت دنازلیدو په وخت کښې هم دغه حالت وو .(یعنی دکافرو د طرفه په مسلمانانو ویره وه) ددې وجې آیت کښې هم ددې بیان شوې دې.هجرت نه پس به د مسلمانانو سفرونه ټول په ټوله ویرې وو. قدم په قدم به د دښمن خطره وه بلکه د دجهاد یا د یو خاص لښکر سره د تلو نه بغیر به چا سفرکولې نشو. اودا قاعده ده چه کله منطوق په اعتبار د غالب راشی نو ددې مفهوم معتبر نه وی.

Scanned with Ca

د ویرې د قید نظیر:- لکه څنګه چه بل ایت کښې دی چه خپلې وینځې په بدکارنی مه مجبوره وې که هغوئ پاکوالئ غواړی.(نو د آیت مطلب دا نه دې که وینځې زما کول غواړی نو بیا خیر دې تاسو پرې زنا کوئ بلکه په هغه وخت کښې چې کومې وینځې وې هغوی پاکدامنې وی او زنا به ئې د خپلو مالکانو د مجبورئ نه کوله نو ځکه الله تعالی دا قید اولګولو. که هغوی پاکدامنی غواړی دغه شان دلته هم د سفر په آیت کښې چونکه مسلمانان په ویره کښې وو.نو ځکه الله تعالی د ویرې ذکر اوکړو دا مطلب نه دې که په سفر کښې ویره نه وی نو تاسو قصر مه کوئ) او لکه چه څنګه الله تعالی په بل ځائې کښې فرمائی چه ستاسوهغه پرکتیئ چه ستاسو په پرورش کښې وی دهغه ښځو نه چه تاسوورسره صحبت کړې وی .(نوستاسو دپاره د هغوی سره نکاح جائز نه ده) نو لکه څنګه چه په دې دوؤ آیتونو کښې قید بیان شوې دې.لیکن ددې په قید د حکم دارومدار نشته دې.بلکه ددې نه بغیر هم حکم هغه دې ، یعنی وینځې بدکارنی دپاره مجبورول حرام دی.برابرده که هغوئ پاکوالې غواړی اوکه نه غواړی.همداشان دهغه ښځې لور حرامه ده چه هغې سره نکاح نه پس صحبت شوې وی که د خاوند په پرورش کښې وی او که نه وی.حالانکه دواړو ځایونو کښې دقران پاك قید موجود دې.نو څنګه چه په دې دواړو موقعو کښې بغیر د قید نه هم دا حکم دې هم دغه شان دلته هم که ویره نه وې نو بیا هم زمونږ دپاره دسفر په وجه په سفر کښې مونځ کښې قصر کول جائز دی.

په سفر کښې قصر د الله هدیه ده:- مسند احمد کښې دی چه حضرت یعلی بن امیه حضرت عمرفاروق ﷺ نه تپوس اوکړوچه دمونځ د تخفیف حکم خو د ویرې په حالت کښې دې اواوس خو امن دې.نو حضرت عمرفاروق ﷺ جواب کښې اوفرمائیل چه هم دا خیال ځما هم وو اوهم دا سوال ما د حضرت نبی کریم ﷺ نه کړې وو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا دالله ﷻ صدقه ده چه هغه پاك ذات تاسو ته درکړې ده تاسودا صدقه قبوله کړئی.(۱)

هم دا حدیث په بل روایت سره:- مسلم او سنن وغیره کښې هم دا حدیث مبارك شته دې ،بالکل صحیح روایت دې.ابوحنظله حذاء ﷺ حضرت عمر فاروق ﷺ نه دسفر دمونځ باره کښې تپوس اوکړو نو حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه دوه رکعته دی.هغوئ اووئیل چه په قران پاك کښې خو د ویرې په وخت کښې دوه رکعته دی او په دې وخت کښې خو پوره امن دې.نو حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه هم دا د رسول الله ﷺ سنت دی.(ابن ابی شیبه). د یو بل سړی په سوال حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه د آسمان نه خو رحصت نازل شوې دې که اوس تاسو دا غواړئی نو واپس ئې کړئی.

دویم دلیل:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی د مکې معظمې اومدینې منورې په مینځ کښې د امن باوجود مونږ د حضرت نبی کریم ﷺ سره دوه رکعته مونځ اوکړو (۲) (نسائی وغیره).

دریم دلیل:- اویو بل حدیث مبارك کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ مدینې نه مکې معظمې ته روان شواوهیڅ دښمن ویره نه وه صرف دالله ویره وه اوحضرت نبی کریم ﷺ به دوه رکعته مونځ اداکولو. (۳)

دا حدیث په بل روایت سره:- بخاری شریف کښې حدیث مبارك دې چه واپسئ کښې هم حضرت نبی کریم ﷺ دوه رکعته مونځ کولو. اودمکې په دې سفر کښې حضرت نبی کریم ﷺ لس ورځې قیام فرمائیلې وو. (۱)

---

۱) صحیح مسلم کتاب صلاة المسافرین وقصرها باب صلاة المسافرین : ٦٨٦، ابوداود: ١١٩٩، ترمذی : ٣٠٣٤ ابن ماجة: ٩٤٥)-

۲) ترمذی کتاب الجمعة (السفر) باب ما جاء فی التقصیر فی السفر : ٥٤٧، وهو صحیح نسائی : ١٤٣٦ بمعناه)-

۳) ترمذی کتاب الجمعة (السفر) باب ماجاء فی التقصیر فی السفر: ٥٤٧ وهو صحیح نسائی : ١٤٣٧)-

Scanned with Ca

څلورم دلیل: مسند احمد کښې حضرت حارثه ﷺ نه روایت دی چه ما حضرت نبی کریم ﷺ سره منی کښې دماسپښین او مازیګر مونځ دوه دوه رکعته اداکړو حالانکه په هغه وخت کښې مونږ کثرت کښې وو او ډیر زیات امن کښې وو. (۱)

پنځم دلیل:- صحیح بخاری کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمر فرمائی چه ما حضرت نبی کریم ﷺ او حضرت ابوبکرصدیق ﷺ سره او حضرت عمرفاروق ﷺ سره او حضرت عثمان ﷺ سره (سفر کښې) دوه رکعته ادا کړی دی.لیکن حضرت عثمان ﷺ اوس د خپل خلافت په آخری زمانه کښې پوره مونځ کولو.(۲)

شپږم دلیل:- د بخاری شریف یو روایت کښې دی چه کله حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ته حضرت عثمان ﷺ د څلورو رکعتو ذکر اوکړو نو و دوی اوفرمائیل چه ﴿انالله﴾ او وې فرمائیل چه ما حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم سره منی کښې دوه رکعته مونځ کړې دې او صدیق اکبر ﷺ سره هم او حضرت عمرفاروق ﷺ سره هم ، کاش چه د څلورو رکعتو په ځائې خما دوه رکعته قبول شی.(۳) نو دا احادیث ښکاره دلیلونه دی ددې خبرې چه د سفر د دوؤ رکعتو دپاره ویره شرط نه ده بلکه د ډیر امن په صورت کښې هم دوه رکعته اداکولې شی.

سفر که د امن وی هم موجب قصر دې

مسلک حنفی:- داحنافو مسلک دا دې که په سفر کښې امن وی نو بیا به هم قصر کوی باقی په آیت کښې چې د ،،خوف،، قید ذکر دې نو د دې وضاحت حافظ ابن کثیر رحمه الله کړې دې دوباره ذکر کولو ته ضرورت نشته (تفسیرمظهری (۴۳۳\۲)۔

قصر په تعداد د رکعتونو کښې دې:- ددې وجې بعضې علماء کرام فرمائی چه دلته کیفیت کښې یعنی قرات قومه ،رکوع سجود وغیره کښې قصر اوکمې مراد نه دې بلکه په کمیت کښې یعنی تعداد درکعتونو کښې تخفیف مراد دې.حضرت ضحاك رحمه الله ، حضرت مجاهد رحمه الله ، او حضرت سدی رحمه الله نه هم دا قول نقل دې لکه چه رازی.ددې یو دلیل د حضرت امام مالك رحمه الله نه روایت کړې شوې دې حدیث مبارك هم دې چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه مونځ دوه دوه رکعته په حضر او سفر کښې فرض کړې شوې وو. بیا سفر کښې خو هغه دوه رکعته فرض شو او د حضر په صورت کښې دوه زیات کړې شو.(۵)

د نورعلماء کرامو یو ډله دا وائی چه اصل مونځ دوه رکعته وو خوبیا ددې آیت مبارك کښې قصر نه مراد کمیت دې نوبیا د رکعتونو تعداد کښې کمې څنګه کیدیشی ؟ ددې قول ډیر زیات تائید ډیر وضاحت سره دهغه حدیث مبارك نه کیدیشی چه کوم مسند احمد کښې دې چه حضرت عمرفاروق ﷺ نه روایت دې چه د نبی کریم ﷺ په ژبه دسفر دوه رکعته دی اودضحی مونځ هم دوه رکعته دې او عیدالفطر مونځ هم دوه رکعته دې اودجمعې مونځ هم دوه رکعته دې.هم داپوره مونځ دې قصر والا نه دې.(۶)

---

۱) صحیح بخاری کتاب التقصیر باب ما جاء فی التقصیر وکم یقیم یقصر : ۱۰۸۱، صحیح مسلم: ۶۹۳ ابوداود : ۱۲۳۳ ، ترمذی : ۵۴۸ نسائی : ۱۴۵۴، ابن ماجة: ۱۰۷۷)۔

۲) صحیح بخاری کتاب التقصیر باب الصلاة بمنی : ۱۰۸۳، صحیح مسلم: ۶۹۶)۔

۳) صحیح بخاری کتاب التقصیر باب الصلاة بمنی : ۱۰۸۳، صحیح مسلم: ۱۰۹۰ ، نسائی : ۶۴۵۱)۔

۴) صحیح بخاری کتاب التقصیر باب الصلاة بمنی : ۱۰۸۴، صحیح مسلم: ۶۹۵)۔

۵) صحیح بخاری کتاب الصلاة کیف فرضت الصلوة فی الاسراء : ۳۵۰ ، صحیح مسلم: ۶۸۵، ابوداود : ۱۱۹۸ نسائی : ۴۵۳)۔

۶) نسائی : کتاب تقصیر الصلاة باب :۱ ح/۱۴۴۱، وهو صحیح : ابن ماجه: ۱۰۶۳)۔

Scanned with Ca

د حدیث په صحت د ابن کثیر کلام:- دا حدیث مبارک نسائی ، ابن ماجه او صحیح ابن حبان کښې هم دي.ددې سند په شرط دمسلم دي.ددې د راوی د ابن ابی لیلی دحضرت عمرفاروق ﷺ نه آوریدل ثابت دی.لکه څنګه چه امام مسلم رحمه الله په خپله صحیح مقدمه کښې لیکلی دی (۱)او پخپله دې روایت کښې او ددې نه سوا نور وضاحت سره موجود دی. او هم دا صحیح دی.انشاء الله.اګر چه بعضې محدثین ددې د آوریدو قائل نه دی. لیکن ددې منلو کښې هم ددې سند کښې څه نقصان نشته دې څکه چه بعضو طرق کښې ابن ابی لیلی یو راوی دي او دهغوئ دحضرت عمرفاروق ﷺ نه آوریدل ثابت دی.والله اعلم.(۲)

مسلم وغیره کښې د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه مروی دی چه الله ﷻ ستاسو د نبی حضرت محمد ﷺ په خوله مبارکه مونځ د اقامت په حالت کښې څلور رکعته فرض کړې دي او په سفر کښې دوه رکعته او د ویرې په حالت کښې یو رکعت لکه څنګه چه حضر کښې ددې نه مخکښې او ددې نه روستو مونځ مو کولو یا کولې شی هم دغه شان په سفر کښې هم. (۳)

په دواړو روایتونو کښې موافقت:- او دې روایت کښې او دحضرت عائشه رضي الله عنها والا روایت کښې چه کوم پورته تیر شو چه په حضر کښې الله ﷻ دوه رکعته فرض کړی وو هیڅ منافات نشته دي ، ددې وجې اصل دوه رکعته وو ، روستو دوه نور زیات شو ، بیا د حضر څلور رکعته شو نو اوس ونیلې شی چه د اقامت حالت کښې فرض څلور رکعته دی.لکه څنګه چه حضرت ابن عباس ﷺ والا روایت کښې دی ، والله اعلم.

الغرض د دواړه روایتونونه ثابتیږی چه په سفر کښې دوه رکعته دی او هم دا پوره مونځ دي ، کم نه دي.اوهم دا د حضرت عمرفاروق ﷺ د حدیث مبارک نه ثابت دي.نو ددې نه مراد د قصر کیفیت دي لکه څنګه چه صلوة خوف کښې.هم ددې وجې فرمائی که تاسو د دې خبرې نه ویریږئی چه کافر به تاسو په فتنه کښې واچوی. او دې نه پس فرمائی چه کله تاسو دې کښې یئ او مونځ کوئی نوبیاهم. بیا دقصر مقصد صفت او کیفیت هم بیان فرمائی.امام المحدثین حضرت امام بخاری رحمه الله کتاب الصلوة الخوف هم دې آیت ﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ﴾ نه تر ﴿مُّهِينًا﴾ پورې لیکل شروع کړی دی.

حضرت ضحاك رحمه الله ددې تفسیر کښې فرمائی چه دا د جنګ وخت دي ، انسان په خپله سورلئ باندې مونځ او تکبیر وائی ، ددوی مخ چه کوم طرفته وی هم هغه طرفته دي وی.حضرت سدی رحمه الله فرمائی چه کله تا سفر کښې دوه رکعته مونځ اوکړو نو هغه د قصر مقدار پوره کوئ.خو کله چه دکافرو فتنه وی اوویره وی نو یو رکعت قصر دي.او ددې ویرې نه سوا دا حلال نه دي.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد هغه ورځ ده چه کله حضرت نبی کریم ﷺ د خپلو صحابه کرام ﷺ سره عسفان کښې وو او مشرکان په ضجنان کښې وو ، یو بل سره تیار وو او په دې کښې د ماسپخین د مونځ وخت شو.حضرت نبی کریم ﷺ ټول صحابه کرامو ﷺ سره حسب معمول څلور رکعته پوره ادا کړل.بل طرفته مشرکانو د سامان لوټ کولو اراده اوکړه.

ابن جریر رحمه الله دا د حضرت مجاهد رحمه الله او حضرت سدی رحمه الله او حضرت جابر رحمه الله اود حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت کوی او همدا قول اختیاروی.او دې ته وائی چه هم دا صحیح دي.حضرت خالد بن اسید ﷺ حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ته وائی چه د صلوة خوف د قصر حکم خو مونږ په کتاب الله کښې مومو

---

(۱) انظر آخره مقدمة صحیح مسلم)-

(۲) ابن ما جة کتاب اقامة الصلوة باب تقصیر الصلاة فی السفر : ۱۰٦٤ وسنده صحیح)-

(۳) صحیح مسلم کتاب الصلاة المسافرین و قصرها باب صلاة المسافرین وقصرها : ٦٨٧، ابوداود : ۲٤۷، نسائی : ۱٥۳۲)-

Scanned with Ca

لیکن د صلوة مسافر د قصر حکم خو مونږ په کتاب الله کښې نه مومو نو حضرت ابن عمر ﷺ جواب کښې فرمائی چه مونږ خپل نبی حضرت نبی کریم ﷺ لیدلې وو چه په سفر کښې به ئې قصر کولو. اومونږ هم په دې عمل اوکړو. (۱)

په سفر کښې قصر نه دې بلکه پوره مونځ دې:- خیال اوکړئی چه حضرت ابن عمر ﷺ هم ددې اقرار کوی. دې آیت کښې د مسافر د قصر مونځ بیان نه کوی بلکه ددې دپاره ئې فعل رسول الله ﷺ سند جوړ کړو. ددې نه زیات صریح روایت د ابن جریر دې چه کوم کښې چې حضرت سماك ﷺ ددوی نه د صلوة سفر مسئله تپوس کوی. دوی ورته فرمائی چه د سفر مونځ دوه رکعته دې. اوهم دا دوه رکعته د سفر د پوره مونځ دې قصر نه دې. قصر خو صلوة خوف کښې دې چه هغه امام یو جماعت ته یو رکعت کوی. دویم جماعت د دښمن سره مقابله کښې وی. بیا دوی لاړی شی او بل جماعت راشی. او امام دوی ته یو رکعت ادا کړی نو امام دوه رکعته ادا کړل او ددې دواړو جماعتونو یو یو رکعت شو. (۲)

وَاِذَا كُنْتَ	فِيْهِمْ	فَاَقَمْتَ لَهُمُ	الصَّلٰوةَ	فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ	مِّنْهُمْ
اوهرکله چې موجود ئې ته	په دوئ کښې	او قائموې	دپاره د دوئ	مونځ	انو اودریږی دې
اوائې پیغمبره هرکله چې ته دمسلمانانو	په کښې موجود یې	او دجنګ په وخت	کښې	ورته مونځ ورکوی	انو دوی یوه ډله دې
مَّعَكَ	وَلْيَاْخُذُوْٓا	اَسْلِحَتَهُمْ ۭ	فَاِذَا	سَجَدُوْا	فَلْيَكُوْنُوْا
تاسره	او اودې نیسی	هغوئ	اوسله	خپله	انو بیا چې
اودریږی	او خپله	خپله	وسله	دې	ځان سره اونیسی
مِنْ وَّرَآئِكُمْ ۡ	وَلْتَاْتِ	طَآئِفَةٌ	اُخْرٰى	لَمْ يُصَلُّوْا	
روستو	ستاسو نه	اورا دې شی	ډله	بله	چې لاتهٔ دې کړې
روستو لاړ شی	او بله ډله چې	مونځ ئې نه وی کړې	هغه دې رامخکښې شی	.....	
فَلْيُصَلُّوْا	مَعَكَ	وَلْيَاْخُذُوْا	حِذْرَهُمْ	وَاَسْلِحَتَهُمْ ۚ	
نواودې کړی	مونځ	تاسوسره	اواودې نیسی	هغوئ	سامان د حفاظت خپل
اوتاسره دې	مونځ کښې شریک شی	اودخپل	حفاظت سامان	دې	ځان سره اوساتی
وَدَّ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَوْ تَغْفُلُوْنَ	عَنْ اَسْلِحَتِكُمْ		
خوښوی	هغه کسان	چې کافران دی	چې که تاسو غافلان شئ		دوسلو خپلو نه
کافران دا	غواړی چې	تاسو د خپلو	وسلو	اواسبابو نه	(لږ قدرله) غافله شئ
وَاَمْتِعَتِكُمْ	فَيَمِيْلُوْنَ	عَلَيْكُمْ	مَّيْلَةً وَّاحِدَةً ۭ	وَلَا جُنَاحَ	
او د سامانونو	خپلو نه	نو حمله به اوکړی	په	تاسو	په یو خل
.....	نوچې په تاسو باندې	په یو ځل	حمله اوکړی	.....	اوپه تاسو هیڅ

(۱) الطبری : ۱۰۳۲۳)-
(۲) الطبری : ۱۰۳۲۳)-

عَلَيْكُمْ	اِنْ	كَانَ	بِكُمْ	اَذًى	مِّنْ مَّطَرٍ	اَوْ كُنْتُمْ	مَّرْضٰٓى اَنْ
په تاسو	که چرې	وی	په تاسو	څه تکلیف	دوجې دباران نه	یا وئ تاسو	ناجوړه
.....که چرته تاسو ته د باران د وجې تکلیف وی							.....یا بیماران یئ

تَضَعُوْٓا	اَسْلِحَتَكُمْ	وَخُذُوْا	حِذْرَكُمْ	اِنَّ اللّٰهَ	اَعَدَّ
کیږدئ تاسو	وسلې خپلې	اوبیا هم اونیسئ	د خپل حفاظت سامان	بیشکه چې الله	تیار کړې دي
چه تاسو خپله وسله پرانیزئ	.....	خودخپل حفاظت خیال ساتئ		بیشکه الله ﷻ	

لِلْكٰفِرِيْنَ	عَذَابًا	مُّهِيْنًا ۝١٠٢	
دپاره دکافرانو	عذاب	رسواکونکې	
کافرانو دپاره رسواکونکې عذاب تیارکړې دي			

د ویرې حالت کښې مونځ کول :-د ویرې دمونځ دوه قسمونه دی.اومختلف صورتونه او حالتونه دی.کله داسې هم وی چه دښمن قبلې طرفته وی ، کله دښمن بل طرفته وی ، مونځ هم کله څلور رکعته وی اوکله درې رکعته لکه د ماښام کله دوه رکعته وی لکه د سحر مونځ او صلوة سفر ، کله جماعت سره ادا کول ممکن وی.کله لښکرې داشان یو بل سره په جنګ کښې وی چه په جمع مونځ ادا کول ممکن نه وی بلکه ځان ځانله قبلې طرفته او بغیر قبلې نه پیدل او په سورلئ چه څنګه هم اوشی نو ادا کیږی.

دسختې ویرې په وخت د مونځ په مقدار کښې مذاهب:- ①بلکه داسې هم وی اودا جائز هم دی چه د دښمنانو د حملو نه بچ شی ، په هغوئ پرله پسې حملې کوی.مونځ ادا کوی .داسې حالت کښې صرف یو رکعت مونځ باره کښې د علماء کرامو فتوی ده. اودلیل دحضرت عبدالله بن عباس ﷺ حدیث مبارک دې چه کوم ددې نه مخکښې تیر شو. حضرت عطاء رحمه الله ، حضرت جابر رحمه الله ، حضرت حسن رحمه الله ،حضرت مجاهد رحمه الله ، حضرت حکم رحمه الله ، حضرت قتاده ، حضرت حماد ، حضرت طاؤس رحمه الله ، حضرت ضحاك رحمه الله ، حضرت محمد بن نصر رحمه الله ، حضرت مروزی ابن حزم رحمه الله نه هم دا فتوی ده. د سحر مونځ کښې صرف یو رکعت پاتې کیږی .② اسحاق بن راهویه رحمه الله فرمائی چه دداسې کوشش په وخت کښې یورکعت کافی دې اګرکه اشارې سره نې ادا کوی.که دومره قدرې هم قادر نه وی نو سجده دې اوکړی دا هم ذکر الله دې.③ اوځه خلق وائی چه صرف یو تکبیر هم کافی دې.

د دې مذهب تطبیق:- لیکن دا کیدیشی چه یو سجده او یو تکبیر نه مراد هم یورکعت وی.لکه امام احمدبن حنبل رحمه الله اوددوی ملګرونه هم دا فتوی ده.اوهم دا قول دې د حضرت جابر بن عبدالله ﷺ ، حضرت عبدالله بن کعب ﷺ وغیره صحابه کرامو ﷺ.

د تطبیق رد:- حضرت سدی رحمه الله فرمائی لیکن چه دکومو خلقو قول صرف یو تکبیر بیان شوې دې دهغې قائلین دا په پوره رکعت نه محمول کوی بلکه هم تکبیر ظاهروی او مراد تری اخلی.لکه د اسحاق بن راهویه مذهب چه دې.امیر عبدالوهاب ابن بخت مکی هم دې طرفته مائل دې.④ تردې پورې چه هغه وائی که په دې هم قدرت نه وی نو دا دې په خپل نفس هم نه پریږدی.یعنی صرف نیت دې اوکړی ، فالله اعلم..

د سختې ویرې په وخت په یو رکعت اکتفاء جائز نه ده

مسلک حنفی:- د سختې ویرې په وخت کښې په یو رکعت یا صرف په تکبیر تحریمه اکتفاء جائز نه ده بلکه پوره مونځ به کوی البته که مسافر وی نو سفرانه مونځ به کوی (تفسیر مظهری ۴۳۸\۲)-

Scanned with Ca

د مونځ روستو کولو قائلین:- بعضې عالمان داسې خاص وختونو کښې دمونځ د تاخیر رخصت ورکوی. **دلائل:**- ①ددوی دلیل دا دې چه حضرت نبی کریم ﷺ جنګ خندق کښې د نمر پریوتلو نه پس د ماسپخین او مازیګر مونځ کړې وو. (۱) بیائې مابنام لو ماستختن .(۲)

② بیا دې نه پس د بنو قریظه د جنګ په ورځ دوی طرفته چه نې څوک لیږلی وو هغوئ ته ئې تاکید کړې وو چه تاسو دې هیڅوک هم بنو قریظه ته درسیدو نه مخکښې دمازیګر مونځ نه کوی.دا ډله لا په لار کښې وه چه دمازیګر وخت شو نوبعضو اووئیل چه د حضرت نبی کریم ﷺ مقصد ددې فرمان نه دا وو چه مونږ زر بنو قریظه ته اورسو ، دا نه چه مونږ دې مونځ نه کوو. نودې خلقو په لار کښې مونځ اداکړو. اونورو بنو قریظه ته په رسیدو مونځ ادا کړو او نمر ډوب شوې وو. هرکله چه ددې خبرې ذکر حضرت نبی کریم ﷺ ته اوشو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دواړو ډلو کښې یو ته هم څه ملامتیا نشته دې.

تبصره:- مونږ په دې باندې تفصیلی بحث په خپل کتاب السیرة کښې کړې دې.او دا مو ثابت کړې ده. چه صحیح خبره باندې هغه ډله وه چه کومې په وخت مونځ ادا کړې وو. اګر چه دوئمه ډله هم معذوره وه.مقصد دا دې چه دا ډله د جهاد په موقع په دښمن دحملې کولو په غرض قلعې طرفته روانه وه او مونځ ئې موخر کړو. ددښمنانو دا ډله د ملعون یهودیانو وه چه کومو وعده ماته کړې وه. او د صلح خلاف ئې کړی وو.

د جمهورومسلک:- خو جمهور وائی چه د صلوة خوف نازلیدو سره دا منسوخ شو. دا واقعه ددې آیت مبارك د نازلیدو نه مخکښې وه. د صلوة خوف نه پس اوس د جهاد په وخت کښې مونځ روستو کول جائز نه دی.د ابوسعید ﷺ روایت کښې هم دا ظاهره ده اودا حضرت امام شافعی رحمه الله نه مروی دی.(۳)

دامام اوزاعی رحمه الله قول:- لیکن د صحیح بخاری (۴) ﴿باب الصلوة عند مناهضة الحصون﴾ کښې دی چه اوزاعی رحمه الله فرمائی که د فتح تیاری وی او د جمعې د مونځ امکان نه وی نو هر سړې دې خپل خپل ځان له مونځ په اشاري سره ادا کړی.که دا هم نه شی کیدې نو مونځ کښې دې تاخیر اوکړی تردې چه جنګ ختم شی یا امن شی نو هغه وخت کښې دې دوه رکعته ادا کړی اوکه امن نه وی نو یو رکعت دې اداکړی.صرف تکبیر وئیلو سره کافی نه دی.که داسې وی نو مونځ دې روستو اوکړی کله چه دده ښه اطمینان اوشی.حضرت مکحول رحمه الله هم دا فرمان کړې دې.

د سخت جنګ په وخت کښې د مونځ روستو کولو روایت:- حضرت انس بن مالك ﷺ فرمائی چه د تستر د قلعې په محاصره کښې څه موجود ووم. د صبا صادق په وخت کښې لاس په لاس جنګ شروع شو او سخته هنګامه شوه. مونږ خلقو مونځ نشو کولې.او یوشان جهاد کښې اخته وو. هرکله چه الله ﷻ مونږ په قلعه قابض کړو نو په هغه وخت کښې مونږ د نمر راختلو په وخت کښې مونځ ادا کړو. په دې جنګ کښې څومره امام حضرت ابوموسی ﷺ وو. حضرت انس ﷺ فرمائی چه ددې مونځ بدله کښې ټوله دنیا اوددې ټول څیزونه هم ما نشی خوشحالولې.(۵)

---

(۱) صحیح بخاری کتاب مواقیت الصلاة باب من صلی بالناس جماعة بعد الوقت : ۵۹۶، صحیح مسلم: ۶۳۱)-

(۲) ترمذی کتاب الصلاة باب ماجاء فی قول الرجل تفوته الصلوة : ۱۷۹، وهوحسن نسائی : ۶۲۳)-

(۳) صحیح بخاری کتاب المغازی باب مرجع النبی صلی الله علیه وسلم من الاحزاب : ۴۱۱۹، صحیح مسلم: ۱۷۷۰)-

(۴) النسائی : ۱۷/۲، ح/۶۶۲، وسنده صحیح)-

(۵) صحیح بخاری ابواب صلاة الخوف باب الصلاة عند مناهضة الحصون ولقاء العدو وقبل حدیث : ۹۴۵)-

Scanned with Ca

دامام بخاری په بخاری کښې طریقه کار:- امام بخاری رحمه الله دې نه پس جنګ خندق کښې د حضرت نبی کریم ﷺ د مونځ د تاخیر بیان کوی.بیا بنو قریظه ولا واقعه او د حضرت نبی کریم ﷺ فرمان چه تاسو بنو قریظه ته د رسیدو نه مخکښې د مازیګر مونځ مه کوئی وارد دی.اګر چه امام همام حضرت امام بخاری رحمه الله هم دا خوښوی چه دداسې سخت جنګ او سختې خطرې په وخت کښې اوچې فتح نزدې وی نو که په داسې موقع باندې مونځ موخر شی نو هیڅ باك نشته دې.

دحضرت ابوموسی رضی الله عنه والا فتح تستروالا واقعه دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه د زمانې ده.او دا منقول نه دی چه د مسلمانانو یو خلیفه یا بل صحابی په دې اعتراض کړې وی.اودا خلق دا هم وائی چه د خندق په موقع هم د صلوة خوف آیتونه موجود وو. ځکه چې دا آیتونه په غزوهٔ ذات الرقاع کښې نازل شو. او دا غزوة د غزوهٔ خندق نه مخکښې وه.او په دې د جمهوروعلماء کرامو اهل سیراومغازی اتفاق دې .حضرت محمد بن اسحاق رحمه الله ، حضرت موسی ابن عقبه رحمه الله ،.حضرت واقدی رحمه الله ، حضرت محمدبن سعد کاتب واقدی رحمه الله ، اوحضرت خلیفه بن خیاط رحمه الله وغیره هم ددې قائل دی.البته دامام بخاری رحمه الله وغیره قول دې چه غزوة ذات الرقاع د خندق نه پس شوې وه. په سبب د حدیث ابوموسی رضی الله عنه او دوی پخپله خیبر ته راغلی وو. (۱)والله اعلم.

د حافظ ابن کثیر تعجب:- لیکن تعجب په دې امر دې چه قاضی ابویوسف رحمه الله ، مزنی رحمه الله ، ابراهیم بن اسماعیل رحمه الله وائی چه صلوة خوف منسوخ شوې دې.نبی الله ﷺ غزوه خندق کښې روستو مونځ کړې وو. دا قول بالکل غریب دې.ځکه چه غزوه خندق نه پس د صلوة خوف احادیث ثابت دی.ددغې ورځې مونځ تاخیر د مکحول او اوزاعی په قول محمول کول زیات قوی او زیات درست دی.یعنی دهغوئ هغه قول چه په حواله د بخاری بیان شویدې چه فتح نزدې وی او د مونځ ادا کولو امکان نه وی نو په مونځ کښې تاخیر جائز دې.والله اعلم.

آیت مبارك کښې حکم دې چه کله تاسو دوی ته د جماعت مونځ ورکوئ نو دا حالت د رومبنی نه علاوه دې.په هغه وخت کښې یعنی انتهائی د ویرې په وخت کښې خو رکعت دې او هغه هم جدا جدا پیدل او په سورلئ قبلې طرفته مخ کول وی اوکه نه وی. چه څنګه هم ممکن وی.لکه څنګه چه حدیث مبارك تیر شوې دې.داحال د امامت او جماعت بیانیږی .

دجماعت په وجوب باندې ا ستدلال:- د جماعت په وجوب باندې دا آیت بهترین اومضبوط دلیل دې چه د جماعت په وجه سره ډیر کمې کړې شوې دې.که جماعت نه وې نو دا صورت جائزکیدې نشو.

د ایت نه یوکمزورې استدلال:- چا ددې نه یو بل استدلال هم کړې دې.هغوئی وائی چه په دې کښې چونکه دا الفاظ دی چه کله ته په دوی کښې ئې او دا خطاب حضرت نبی کریم ﷺ ته دې.نومعلومه شوه چه د صلوة خوف حکم حضرت نبی کریم ﷺ نه پس منسوخ شوې دی.دا استدلال بالکل ضعیف دې.

د دې استدلال یو نظیر:- دا استدلال داسې دې لکه څنګه استدلال د هغه خلقو وو چه کومو خلفاء راشدینوته زکوة نه ورکولو او ونیل به ئې چه قران پاك کښې دی چه ﴿خُذْ مِنْ أَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً﴾ یعنی ته ددی خلقو د مال نه زکوة واخله او په دې سره ته دوی پاك کړه او ته ددوی دپاره د رحمت دعا اوکړه. ستا دعا د دوی دپاره باعث تسکین ده. نو مونږ به حضرت نبی کریم ﷺ نه پس هیڅا ته زکوة نه ورکوو. بلکه مونږ به زکوة هغه چاته په خپل لاس ورکوو. چه چاته مو خوښه شی .او صرف هغه چاته به زکوة ورکوو چه د چا دعا خمونږ دپاره د تسکین سبب وی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی بآب غزوة ذات الرقاع قبل حدیث: ٤١٢٥)

Scanned with Ca

د نظیرد استدلال تضعیف:- خو د هغوی دا استدلال غلط وو. ددې وجې صحابه کرام ﷺ دا رد کړه او دوی نې مجبور کړل چه دوی زکوة ادا کړی بلکه په دوی کښې چه کومو خلقو دوی منع کړی وو هغوئ سره نې جنګ اوکړو.

د ایت شان نزول:- راځئ چه مونږ د آیت صفت بیانولو نه مخکښې ددې شان نزول بیان کړو. ابن جریر کښې دی چه دښنو نجار یو قوم حضرت نبی کریم ﷺ نه سوال اوکړو چه مونږ تجارت کوؤ نومونږ دې مونځ څنګه اداکوؤ. نو الله ﷻ خپل دا قول نازل کړو چه ﴿وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلَاةِ﴾ بیا ټول کال څه وحی رانغله ، بیا حضرت نبی کریم ﷺ یو غزوه کښې وو چه د ماسپښین مونځ دپاره اودریدل ، مشرکانو اووئیل چه افسوس څه ښه موقع مولاس نه اووتله کاش چه په دوی مو د مونځ حالت کښې حمله کړې وې.په دې بعضو مشرکانو اووئیل چه دا موقع خو به مونږ ته بیا ملاویږی ، ددې نه لږ وخت پس دوی بل مونځ دپاره (یعنی دمازیګر) دپاره اودریږی.لیکن الله ﷻ د مازیګر د مونځ نه مخکښې او د ماسپښین دمونځ نه پس ﴿إِنْ خِفْتُمْ﴾ پوره دوه آیتونه نازل کړل. او کافران ناکام شو. پخپله الله د صلوة خوف تعلیم ورکړو. (۱)اګر چه دا شان نزول ډیر ضعیف دې لیکن داسې احادیث شته چې په هغې سره دا مضبوطیږی

د اولنی قول مطابق بل روایت:- حضرت ابوعیاش زرقی ﷺ فرمانی چه عسفان کښې مونږ حضرت نبی کریم ﷺ سره وو ، خالد بن ولید د کفر حالت کښې وو. او مشرکانو سردار وو ، دا خلق ځمونږ مخامخ وو. هرکله چه مونږ قبلې طرفته د ماسپښین مونځ ادا کړو نو مشرکانو اووئیل چه کاش مونږ په دې موقع حمله کړې وې اودا موقع مو لاس نه لاړه.هم دا وخت وو چه دوی کله مونځ کښې مشغول شوې وې او په دوی موحمله کړې وې.بیا په دوی کښې بعضو پیژندګلو خلقو اووئیل چه هېڅ خبره نشته ، دې نه پس ددوی د بل وخت دمونځ راځی.اوهغه مونځ خودوی ته د خپلو بچو نه هم زیات عزیز دې.په هغه وخت کښې به حمله اوکړو. نود ماسپښین او مازیګر په وخت کښې الله ﷻ حضرت جبریل ﷺ نازل کړو او آیت ﴿وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ﴾ نازل شو. نو د مازیګر د مونځ وخت کښې مونږ ته الله ﷻ حکم اوکړو چه خپله وسله ځان سره کړئ او صفونه درست کړئی او حضرت نبی کریم ﷺ پسې روستو اودریږئی.قیام کښې ، رکوع کښې ،قومه کښې ټول په ټوله اوسئ.هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ سجدې ته لاړو. نو دوه صفونو کښې ړومبی صف حضرت نبی کریم ﷺ سره سجدې ته لاړو او دویم صف ولاړ وو د هغوئ نګرانی نې کوله. هرکله چه فارغ شو نو دا خلق اودریدل او دویم صف والا سجدې ته لاړل.هرکله چه نې دواړه سجدې اوکړې نو اوس ړومبی صف والا دویم صف کښې اودریدل او دویم صف والا د ړومبی صف په ځای.بیا قیام رکوع او قومه ټولو حضرت نبی کریم ﷺ سره ادا کړه.اوهرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ سجدې ته لاړو نو اول صف سجدې ته لاړو او دویم صف ولاړ وو نګرانی نې کوله. هرکله چه دوی د سجدې نه فارغ شو اوالتحیات باندې کیناستل نو د دویم صف خلقو سجدې ادا کړې التحیات کښې ټول په ټوله یو ځای شو او سلام نې هم حضرت نبی کریم ﷺ سره یو ځای اوګرزولو. صلوة خوف خو حضرت نبی کریم ﷺ یو ځل دلته عسفان کښې اوکړو او په دویم ځل نې بنوسلیم کښې.(۲) دا حدیث مسند احمد ، ابوداود او نسائی کښې هم دې.ددې اسناد صحیح دی او شاهد هم په کثرت سره دی. بخاری شریف کښې دا روایت اختصار سره دې او په هغې کښې دی چه

---

(۱) الطبری : ۱۰۳۱۹)-

(۲) احمد ٤/٥٩، ابوداود : کتاب الصلاة السفر صلاة الخوف : ١٢٣٦ وسنده صحیح نسائی : ١٥٥١)-

Scanned with Ca

ددې باوجود چه ټول خلق مونځ کښې وو لیکن د یو بل نګرانۍ نې کوله. (۱)

د صلاة خوف بل شان نزول:- ابن جریر کښې دی چه سلیمان بن قیس یشکری حضرت جابر بن عبدالله نه تپوس اوکړو چه دمونځ دقصر کولو حکم کله نازل شو ؟ نو هغوئ اوفرمائیل چه د قریشو یو قافله د شام نه راتله.مونږ هغوئ طرفته روان شو اوهر کله چه نخله ته اورسیدو نویو سړې حضرت نبی کریم ﷺ ته ورغلواو وې وئیل چه آیا تاسو ځمانه نه ویریږئ. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه نه.هغه اووئیل چه تاسو ځمونږ نه څوک بچ کولې شی ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ ما تاسو نه بچ کوی.بیا ئې توره راویستله او وې ویرولو اوبیا کوچ کولو آواز اوکړو. او حضرت نبی کریم ﷺ وسلې سره روان شو.

د صلاة خوف طریقه:- بیا اذان اوشو اوصحابه کرام ﷺ دوه حصو کښې تقسیم شو. یوې حصې حضرت نبی کریم ﷺ سره مونځ ادا کولو او دوهمې حصې نګرانی کوله او حضرت نبی کریم ﷺ سره متصل وو ، هغوئ دوه رکعته حضرت نبی کریم ﷺ سره ادا کړل او روستو شو او روستو خلق خپل ځائې ته لاړل.او اوس روستو خلق مخکښې راغلل او د مخکښې خلقو په ځائې اودریدل او هغوئ ته حضرت نبی کریم ﷺ دوه رکعته مونځ ادا کړو او بیا ئې سلام اوګرزولو. نو حضرت نبی کریم ﷺ څلور رکعته ادا کړل او د ټولو دوه دوه رکعته شو. او الله ﷻ مونځ کښې د کمی او ځان سره د وسلې ساتلو حکم نازل کړو. (۲)

په نبی کریم ﷺ باندې د توري ویستلو واقعه:-مسند احمد کښې حدیث مبارک دې چه کوم سړی توره ترلې حضرت نبی کریم ﷺ باندې حمله کړې وه هغه د دښمن د قبیلې نه وو. اودهغه نوم عرث بن حارث وو. هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ دالله ﷻ نوم واخستو نو د هغه د لاس نه توره پریوتله او حضرت نبی کریم ﷺ توره خپل لاس کښې واخستله او هغه ته ئې اوئیل چه اوس به تا ځما نه څوک بچ کوی ،نو هغه معافی اوغوښتله چه تاسو ما باندې رحم اوکړئی.حضرت نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته دالله ﷻ د یو والی او ځما د رسول کیدو شهادت ورکوې ؟ هغه اووئیل چه دا خو نه ورکوم.خو څه دا اقرار کوم چه څه به تاسو سره جنګ نه کوم. او هغه خلقو سره به ملګرتیا نه کوم چه کوم حضرت نبی کریم ﷺ سره جنګ کوی. حضرت نبی کریم ﷺ هغه معاف کړو. هرکله چه دې خپلو ته راغلو نو وې وئیل چه ما د حضرت نبی کریم ﷺ پشان په مخ د زمکې هېڅ یو کس نه دې لیدلې. (۳)

اویو روایت کښې دی چه یزید فقیر رحمه الله حضرت جابر ﷺ نه تپوس اوکړو چه دا په سفر کښې دوه رکعته دې آیا دا قصر دی ؟ نو دوی اوفرمائیل چه پوره مونځ دې خو په وخت د جهاد کښې یو رکعت دې او بیا دا شان د صلوة خوف ذکر اوشو. په دې کښې دا هم دی چه د حضرت نبی کریم ﷺ سلام سره حضرت نبی کریم ﷺ نه روستو خلقو اوپه هغه خلقو سلام اوګرزولو او په دې کښې دواړوفوج سره د یو یو رکعت بیان دې. نو دټولو یو یو رکعت شو او د حضرت نبی کریم ﷺ دوه رکعته شو. (۴)

د صلاة خوف بل روایت:- او نورو روایتونوکښې دی چه یوه ډله حضرت نبی کریم ﷺ نه روستو صف کښې وه او یو ډله د دښمن مقابلې ته ولاړه وه. بیا یو رکعت نه پس چه کوم خلق حضرت نبی کریم صلی الله علیه وسلم پسې روستو ولاړوو هغوئ روستو شو او د ولاړو خلقو په ځائې اودریدل او روستو

---

(۱) صحیح بخاری کتاب صلاة الخوف باب یحرس بعضهم بعضا فی صلاة الخوف : ۹٤٤ ، نسائی : ۱۵۳٤)-

(۲) الطبری : ۱۰۳۳۰)-

(۳) احمد : ۳۹۰/۳، وسنده صحیح ، ابن حبان : ۲۸۷۲)-

(۴) ابن ابی حاتم: ۲۹۸/۳، نسائی : کتاب صلاة الخوف: ۱۵٤٦، وسنده صحیح)-

Scanned with Ca

خلق مخکښې شو. (۱)داحدیث مبارك ډیرو کتابونو کښې ډیرو سندونو سره د حضرت جابر ﷺ نه مروی دی.

د صلاة خوف د طریقې بل روایت:- یو بل حدیث مبارك کوم چې په روایت د سالم عن ابیه مروی دی.په هغې کښې دا هم دی چه بیا صحابه کرام ﷺ پاسید او خانله خانله ئې یو یو رکعت ادا کړو. (۲)ددې حدیث هم ډیر سندونه دی.او ډیر الفاظ دی.حافظ ابن بکر ابن مردویه دا ټول جمع کړی دی اودا شان ابن جریر هم.مونږ دا په کتاب احکام کبیر کښې لیکل غواړو.انشاء الله.

په صلاة الخوف کښې د وسلې نیولو حکم:- د ویرې په مونځ د وسلې خان سره د ساتلو حکم دبعضو په نیز خو په طور د وجوب دی ، خکه چه د آیت ظاهری الفاظ هم دا دی.حضرت امام شافعی رحمه الله نه هم دا قول نقل دی.او ددې تائید ددې آیت مبارك د رومبئ فقرې نه کیږی چه باران یا د بیمارئ په وجه وسله خان نه کیخودو کښې تاسو باندې څه ګناه نشته دی.خپل حفاظت دپاره ئې خان سره ساتئ.یعنی داسې تیار اوسئ چه وخت راتلو سره وسله تاسوسره وی.الله ﷻ کافرو دپاره سخت عذاب تیار کړې دی.

په ایت کښې د وسلې نیولو حکم استحبابی دی

مسلک حنفی:- داکثروعالمانو په نیز چې احناف په کښې هم شامل دی د ویرې په حالت کښې په مانځه کښې خان سره وسله نیول مستحب دی.(تفسیر مظهری ۴۳۶/۲)-

فَاِذَا	قَضَيْتُمُ	الصَّلٰوةَ		
بیا چې کله	اوکړئ تاسو	مونځ		
اوهرکله چې تاسودمونځ نه فارغ شئ				
فَاذْكُرُوا اللّٰهَ	قِيٰمًا	وَّقُعُوْدًا	وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ ۚ	فَاِذَا	اطْمَاْنَنْتُمْ
نو یادوئ الله	په ولاړه	اوپه ناسته	او په ارخونو خپلو	نوکله چې	په اطمینان شئ تاسو
نو په ولاړه ، ناسته او په ملاسته په هر حال کښې دالله ﷻ ذکر کوئ	بیا چې (د دشمن نه) بې غمه شئ				
فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ	اِنَّ الصَّلٰوةَ	كَانَتْ	عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ	كِتٰبًا
نو قائموئ مونځ	بیشکه مونځ	دې فرض	په مومنانو باندې	لازم کړې شوې
نو پوره مونځ اداکوئ	بیشکه مونځ په مسلمانانوباندې په خپل خپل وخت فرض کړې شوې دې			
مَّوْقُوْتًا ۝	وَلَا تَهِنُوْا	فِي ابْتِغَآءِ	الْقَوْمِ ؕ	اِنْ تَكُوْنُوْا
په وخت کښې	اوسستی مه کوئ	په طلب	دقوم (دکافرانو)	که یئ تاسو
..... او د (دښمن) قوم په لټون کښې سستی مه کوئ	که تاسو (دکافرانو سره په جنګ			
تَاْلَمُوْنَ	فَاِنَّهُمْ	يَاْلَمُوْنَ	كَمَا	تَاْلَمُوْنَ ۚ
چې دردمن کیږئ تاسو	نو بیشکه هغوئ هم	دردمن کیږی	لکه څنګه چې	تاسو دردمن کیږئ
(کولوکښې قسم قسم)دردیږئ	نو ستاسوپشان هغوئ (کافرانو) هم دردیږی		(اوتکلیفونه ورته رسی)	

(۱) احمد: ۲۹۸/۳، کتاب صلاة الخوف: ۱۵٤٦، وهو صحیح)-

(۲) صحیح بخاری : ۱۳۳، صحیح مسلم: ۱۹٤۲، ابوداود: ۱۲٤۳، ترمذی : ٥٦٤، نسائی: ۱٥۳٦)-

Scanned with Ca

وَتَرْجُوْنَ	مِنَ اللّٰهِ	مَا لَا يَرْجُوْنَ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ	عَلِيْمًا
اوتاسو امید لرئ	دالله نه	دهغه ثواب چې نه ئې لری هغوئ	اودې الله	پوهه
حال دا دې چه تاسو دالله ﷻ نه هغه امیدونه (د جنت وغیره) ساتئ اچې هغوئ یئ نه ساتی اوالله په هر څه				
حَكِيْمًا ۝				
اوخاوند د حکمت	بیش			
پوهه او خاوند د حکمت دې				

قوله تعالی:: فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ

د امن حالت کښې مونځ په وخت ادا کول :- الله ﷻ په دې آیت مبارک کښې حکم کوی چه د ویرې د مونځ نه پس د الله ﷻ ذکر کثرت سره کوئی.اگر چه دالله ﷻ د ذکر حکم او تاکید او ترغیب دمونځونو نه پس هر وخت کښې دې.لیکن دلته خصوصیت سره په دې وجه بیان شوې دې. چه دلته ډیرزیات رخصت دې .مونځ کښې تخفیف اوکړې شو ، بیا د مونځ حالت کښې یو خوا بل خوا تلل ئې د مصلحت دپاره جائز کړل.لکه څنګه دحرمت د میاشتو متعلق الله ﷻ فرمائی چه په دې کښې په خپلو ځانونو ظلم مه کوئی.اگر چه نورو وختونو کښې هم په ځان ظلم ممنوع دې.لیکن دې پاکو میاشتو کښې د دې زیات تاکید راغلې دې.نو فرمان دې چه خپل هر حالت کښې دالله ذکر کوئی.او کله چه درته اطمینان حاصل شی،ویره نه وی ، نو باقاعده خشوع او خضوع سره دمونځ د ارکانو پابندی کوئی.دا مونځ تاسو باندې په خپل وخت کښې مقرر شوې دې د الله ﷻ د طرفنه.لکه څنګه چه د حج وخت مقرر دې.هم دا شان د مونځ وخت هم مقرر دې.یو وخت نه پس دویم ، اودې نه پس دریم.

قوله تعالی:: وَلَا تَهِنُوْا فِي ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ؕ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ۚ

بیا فرمائی چه ددښمن تلاش کښې ناراستی مه کوئی.بهادرئی او چالاکئ سره یو پټ ځائې کښې کینئ اودهغوئ خبر اخلئ.که تاسو ته زخم او قتل سره نقصان رسی نوآیا هغوئ ته نه رسی څه؟ هم دا مضمون ئې په دې الفاظو کښې سورة ال عمران کښې بیان کړې دې چه ﴿اِنْ يَّمْسَسْكُمْ قَرْحٌ﴾ نو مصیبت او تکلیف رسیدو کښې خو تاسو او هغوئ برابر یئ ، خو فرق ډیر دا دې چه تاسو دالله ﷻ ذات اقدس نه امیدونه ساتئ او هغوئ سره خو دالله آسره نشته. تاسو ته به اجر او ثواب ملاویږی ، تاسو سره به مدد او نصرت کیږی لکه څنګه چه الله ﷻ خبر ورکړې دې او وعده ئې کړې ده.نه خو دالله ﷻ وعده په دروغه ده او نه دهغه وعده روستو کیدو والا ده.نو تاسو ته د هغوئ په نسبت ډیرزیات کوشش کول پکار دی.ستاسو زړونو کښې د جهاد جوش پکار دې.تاسو ته پکار دی چه دې طرفته رغبت ورکړئی.ستاسو په زړونو کښې دالله ﷻ دکلمې قائم ساتلو او مضبوطولو او خورولو او اوچتولو جوش اوولوله موجود پکار ده. الله ﷻ چه څه مقدر کوی ، چه کومه فیصله کوی ، چه څه جاری کوی ، چه څه شروع کوی ، چه کوم کار کوی ، تولو کښې خبر لرلو والا صحیح او ریښتونی علم سره حکمت والا دې.هر حال کښې هر وخت د تعریف او حمد لائق دې.

اِنَّآ	اَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ
بیشکه مونږه	نازل کړې دې	تاته	دا کتاب	په حقه
مونږ تا ته دا کتاب (قرآن) په حق (مضامینو سره) نازل کړې دې				

Scanned with Ca

لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ اَرٰىكَ اللّٰهُ ؕ وَلَا

دپاره ددې چې فیصله اوکړې ته | په منځ | دخلق کښې | په هغه طریقه | چې ښودلې ده تاته الله | اومه

د دې دپاره چې تاته الله کومه حقه خبره خودلې ده | د هغې مطابق ته د خلقو په مینځ کښې فیصله اوکړې

تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ۙ﴿۱۰۵﴾ وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا

کیږه ته|دپاره دخیانتکرو|جګړه کونکې |اومعافی غواړه دالله نه | بیشکه الله | دې |ښښونکې

اودخیانت ګرو ملګرتیا مه کوه| اودالله ﷻ نه معافی غواړه| بیشکه الله ﷻ ښښونکې .....

رَّحِيْمًا ۚ﴿۱۰۶﴾ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ

رحم کونکې | او جګړه مه کوه ته| دهغه خلقو د طرفه | چې خیانت کوی هغوئ| دځانونوخپلوسره

اومهربان دې| اوځوک چې د خپلو ځانونو سره خیانت کوی| نو ته دهغوئ دطرفه جګړه مه کوه

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ۚ﴿۱۰۷﴾ يَّسْتَخْفُوْنَ

بیشکه الله| نه خوښوی | هغه څوک| چې وی |دیرخیانت کونکې | ګناهګار |پټولې شی هغوئ(ګناهونه)

بیشکه الله تعالی خیانت ګر اوګناهګار خلق نه خوښوی |..... دا خلق (خپل ګناهونه)

مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ

د خلقو نه | اونه شی پټولې | دالله نه |اوهغه| دهغوئ سره وی| کله چې| هغوئ دشپې کوی

دخلقونه خو پټولې شی|خودالله ﷻ نه ئې نشی پټولې| اوالله ﷻ خو په هغه وخت کښې هم هغوئ سره وی

مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ﴿۱۰۸﴾

هغه| چې نه ئې خوښوی الله| د خبرو نه | اودې الله |په هغه کارونو|چې کوی ئې دوئ|احاطه کونکې

کله چې هغوئ پټ په پټه دهغه دمرضئ خلاف مشورې کوی|اوالله ددوئ په ټولو عملونو احاطه کونکې دې

هٰٓاَنْتُمْ هٰٓؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۫

یئ تاسو | هغه کسان | چې جګړه مو اوکړه | دطرفه ددوئ نه | په ژوند | د دنیا کښې

خبردار! تاسو خو په دې دنیا کښې د دوئ دطرفه جګړه اوکړه.....

فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ

پس څوک به | جګړه کوی | دالله سره | دطرفه ددوئ نه| په ورځ دقیامت| یا آخر | څوک | به وی

نو په ورځ دقیامت به د دوی دپاره څوک دالله ﷻ مخکښې جګړه کوی|..... اوآخرهلته به

عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿۱۰۹﴾

ددوئ | وکیل |

څوک ددوئ د طرفه وکالت اوکړی

Scanned with Ca

نبی کریم ﷺ به په څه فیصله کوی ؟ :-الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته فرمائی چه دا قران پاك چه تاسو باندې الله تعالی نازل کړې دې او دا بالکل حق او سچ دې او د دې خبرونه هم حق او د هغه فرمان هم حق دی. قوله تعالی:: لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ

نبی کریم ﷺ ته په خلقو کښې انصاف سره د فیصلې کولو حکم:- بیا فرمائی چه تاسو د خلقو مینځ کښې هغه انصاف اوکړئی چه الله ﷻ کوم تاته اوښائی.د علم اصولو بعضې علماء کرامو ددې نه استدلال کړې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ ته د اجتهاد نه د حکم کولو اختیار وو. ددې دلیل هغه حدیث مبارك دی چه کوم بخاری اومسلم شریف کښې دې چه حضرت نبی کریم ﷺ خپله دروازه مبارکه کښې د جنګ کوونکی آوازونه واوریدل نو حضرت نبی کریم ﷺ بهر تشریف راوړو او وې فرمائیل چه څه یوانسان یم چه څه آورم او د هغې مطابق فیصله کوم ، ممکن دی چه یو سړې زیات حجت باز او زیات زبان دراز وی او ماته د هغه خبرې صحیح ښکاره شی او څه د هغه حق کښې فیصله اوکړم او فی الواقع هغه حقدار نه وی نو په دې پوهه شئ هغه ددې دپاره د جهنم ټکړه ده.اوس ده ته اختیار دې چه دا اخلی او که پریږدی نې.(۱)

د نبی کریم ﷺ فیصله چا دپاره ناجائز نشی جائز کولې:- مسند احمد کښې دی چه دوه انصارو یو فیصله د میراث باره کښې حضرت نبی کریم ﷺ ته راوړه. په دې واقع موده تیره شوې وه. ددې ګواه او شاهد هېڅوك نه وو. نو په هغه وخت کښې حضرت نبی کریم ﷺ ورته هم هغه حدیث مبارك بیان کړو او وې فرمائیل چه هغه دې ځما د دې فیصلې په بناء د خپل رور حق نه اخلی.که داسې اوکړی نو دقیامت په ورځ به خپل څټ کښې د جهنم اور اچوی.اوس دواړه بزرګان په ژړا شو او وئیل نې چه خپل حق خپل رور ته ورکوم. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اوس تاسو داسې اوکړئی چه اوس لاړشئ او څومره چه تاسو نه کیدیشی نو تاسو صحیح صحیح برخې تقسیم کړئی او بیا په هغې پچه واچوئی او هر یو خپله برخه واخلئ.اود یو بل غلطی معاف کړئی.(۲)ابوداود کښې هم دا حدیث مبارك شته دې.او په هغې کښې دالفاظ دی چه څه ستاسو په مینځ کښې د خپلې پوهې مطابق فیصله کوم او په دې کښې هیڅ وحی نه ده نازل شوې.(۳)

دځادر د پټیدو واقعه:- ابن مردویه کښې دی چه دانصارو یو ډله یو جهاد کښې حضرت نبی کریم ﷺ سره وه.هلته یو سړې نه چا ځادر پټ کړو. او دهغه سړی ګمان په طعمه ابن اسیرق باندې وو. دا قصه د حضرت نبی کریم ﷺ خدمت اقدس کښې پیش شوه.غل دا ځادر دیو سړی کور کښې په بې خبرنی کښې غوزار کړې وو او خپل خاندان والوته نې اووئیل چه ما ځادر فلانی ځائې کښې غوزار کړې دې.تاسو د شپې لاړشئ او حضرت نبی کریم ﷺ ته اووائې چه ځمونږ ملګرې غل نه دې ، غل خو فلانې دې اومونږ معلومات کړی دی چه ځادر هم د هغه کور کښې پروت دې .نو حضرت نبی کریم ﷺ تاسو د ټولو مخکښې خمونږ ملګرې بری کړئی.اود هغه حمایت کوئی ګنی ویره ده چه هسې نه هغه هلاك شی،حضرت نبی کریم ﷺ هم داسې اوکړل او په دې باندې دا آیتونه نازل شو. اوکوموخلقو چه خپل دروغ پټ کړی وو اوحضرت نبی کریم ﷺ ته راغلی وو د هغوئ باره کښې دا دوه آیتونه نازل شو چه

---

۱) صحیح بخاری کتاب الاحکام باب من قضی له بحق اخیه یاخله.....: ۷۱۸۱، صحیح مسلم: ۱۷۱۳)-
۲) احمد: ۳۰۸/٦، ابوداود: ۳۵۷٤، وسنده حسن)-
۳) ابوداود کتاب القضاء باب فی قضاء القاضی اذا خطاء : ۳۵۸۵، وهو حسن)-

Scanned with Ca

﴿يَسْتَخْفُونَ﴾ نه .(۱)

قوله تعالی:: وَلَا تَكُنْ لِلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا

بیا الله ﷻ فرمائی چه څوك بد اوخراب كارونه كوی ، ددې نه مراد هم دا خلق دی ، او د غل او د هغه د حمایتیانو باره كښې فرمان نازل شو چه څوك خطا او ګناه اوكړی او هغه ګناه او الزامونه چه چا نه وی كړې او هغه په چا تهمت اولګوی نو هغه ښكاره ګناهګار دې.خودا سیاق غریب دې.بعضې بزرګانو نه مروی دی چه دا آیت دبنو ابیرق د غل باره كښې نازل شوې دې.

د بنو ابیرق قبیلې خلقو غلا كول:-دا قصه په تفصیل سره ترمذی كتاب التفسیر كښې د حضرت قتاده ﷺ په ژبه داشان مروی ده چه ځمونږ كورنئ بنو ابیرق قبیله كښې یو كور وو چه په هغې كښې بشر ، بشیر او مبشر وو. بشیر یو منافق سړې وو. اشعارو كښې به ئې د حضرت نبی كریم ﷺ او د حضرت نبی كریم ﷺ د صحابه كرام ﷺ هجوه كوله. اوبیا به ئې دا اشعار بل چا طرفته منسوب كول او بنه مزې به ئې اوچتولې.اصحاب رسول ﷺ ته معلوم وو. چه هم دا خبیث ددې اشعارو جوړونكې دې.دا خلق د جاهلیت د زمانې راسې تنګدست وو. راروان وو.دمدینې د خلقو خوراك اوربشې او كهجورې وې.خو چه كوم خلق مالدار وو هغوئ به د راغلو قافلو څخه میده واخسته او دا به هغوئ خپل ځان دپاره مخصوص كوله. باقی كور والوبه اوربشې او كهجورې خوړلې .ځما ترۀ رفاعه هم د شام نه راغلې یو قافلې نه میده اخستې وه او دا ئې خپله بالاخانه كښې محفوظ كړه. اوهغه ځائې كښې ئې توړې او زغرې وغیره پرتې وې.د شپې غلو د لاندې نه دې ته سورې اوكړو او غله او وسله ئې راوویستله او دانې یوړه.صبا له ځما تره راغلو ټوله واقعه ئې بیان كړه. بیا مونږ لټون كولو نومعلومه شو چه دبنو ابیرق كور كښې بیګاه اور بلیدو او خوراك ئې پخولو.غالباً چه هغوئ ستاسو نه غلا كړې وه. ددې نه مخكښې چه مونږ د خپلې كورنئ نه تپوس كولو ددې قبیلې خلقو مونږ ته وئیلی وو چه ستاسو غل لبید بن سهل دې.مونږ ته معلوم وو چه د لبید دا كار نه دې هغه خو یو ریښتونئ مسلمان وو. حضرت لبید ﷺ ته چه كله ددې خبر اوشو نو ډیر غصه شو. تورو سره مونږ بنو ابیرق ته راغلو او ورته ئې اوونیل چه یا خو ځمونږ غلا ثابته كړئی ګنی تاسو به قتل كړو. دې خلقو دې بری كړو او معافی نې اوغوښتله. مونږ ټول په ټوله د پوره تحقیق نه پس په دې نتیجه اورسیدو چه غلا بنو ابیرق كړې وه. ځما تره ماته اووئیل چه ته لاړشه او حضرت نبی كریم ﷺ ته دا واقعه اووایه.ځه لاړم او حضرت نبی كریم ﷺ ته مې ټوله واقعه اوونیله او دا مې هم ورته اووئیل چه مونږ ته وسله راكړه ، دغلې د واپس كولو ضرورت نشته دې .حضرت نبی كریم ﷺ ځه مطمئن كړم چه بنه ده ځه به ددې تحقیق كوم. دا خبر چه كله بنو ابیرق ته اوشو نو هغوئ خپل یوكس حضرت نبی كریم ﷺ ته اولیږلو اود هغه نوم اسید بن عروه وو. هغوئ راغلل او حضرت نبی كریم ﷺ ته ئې اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! دا خو ظلم دې بنوابیرق د بنه صلاحیت او اسلام والا خلق دی.اودوی ته قتاده بن نعمان او دده تره غلۀ وائی او بغیر د ځه ثبوت او دلیل نه د غلا داغ په دوی لګوی.وغیره.بیا چه كله ځه د حضرت نبی كریم ﷺ خدمت كښې حاضر شوم نو حضرت نبی كریم ﷺ ماته اووئیل چه دا ته خو بدرد وائې او په دینداره اونیكو خلقو د غلا الزام لګوې او تاسره ځه ثبوت نشته دې.ځه چپ ناست ووم او واپس راغلم او زړه كښې ډیر زیات پښیمانه او پریشان ووم. خیال راتلو چه كاش چه ما چپ چاپ ددې مال نه لاس وینځلې وې او حضرت نبی كریم ﷺ ته مې ددې ذكر نه وې كړې نو بنه به وو. په دې كښې ځما ترۀ راغلو او ځما نه ئې تپوس

---

(۱) ابن مردویه وسنده ددې سند كښې عطیه بن سعد العوفی مجروح راوی دې التقریب: ۲۴/۲ رقم: ۲۱۶.

Scanned with Ca

اوکړو چه تا څه اوکړل ؟ ما ورته ټوله واقعه بیان کړه.ددې په آوریدو سره هغه اووئیل ﴿وَاللّٰهُ الْمُسْتَعَانُ﴾ ، الله نه مدد غواړو.د دوی تګ وو چه حضرت نبی کریم ﷺ ته په ذریعه د وحی دا آیتونه نازل شو. نو ﴿خائنین﴾ نه مراد بنوابیرق دی .دوی ته د استغفار حکم اوشو اودادهغه فرمان په وجه وو چه کوم دوی حضرت قتاده ؓ ته فرمائیلې وو ، او بیا ئې دې سره فرمائیلی وو که دا خلق استغفار اوکړی نوالله ﷻ به دوی اوبښی.

د روایت باقی حصه :- بیا فرمائی چه کومه ګناه نه وی شوې هغه په بل چا ټپل بدترین جرم دی.﴿اَجْرًا عَظِیْمًا﴾ پورې یعنی هغوئ حضرت لبید ؓ باره کښې اووئیل چه دې غل دې.هرکله چه دا آیتونه نازل شو نوحضرت نبی کریم ﷺ بنو ابیرق نه ځمونږ وسله واپس کړه. ما دا واخسته او خپل ټره ته ورغلم. دې بې چاره بوډا وو. د سترګو نظر ئې هم کم وو. ماته ئې اوفرمائیل چه ځویه لاړشه اودا ټوله وسله دا لله ﷻ په نوم خیرات کړه.تر نن پورې څه د خپل ټره باره کښې بدګمانه ووم چه د زړه نه ایماندار نه دي ،لیکن دې واقعه سره ځما بدګمانی ختمه شوه. او په دې قائل شوم چه ریښتونې مسلمان دې.بشیر د دې آیتونو آوریدوسره مشرکانو سره یو ځائې شو.اوسلافه بنت سعد بن سمیه ته لاړواو هلته ئې قیام اوکړو. دې باره کښې دې نه پس آیتونه ﴿وَمَنْ یُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ﴾ نه تر ﴿بَعِیْدًا﴾ پورې نازل شو. او حضرت حسان ؓ د دې فعل هجوه په خپلو شعرونوکښې اوکړه. ددې اشعارو آوریدو سره دده ښځې ته ډیر زیات غیرت راغلو او د بشیر ټول اسباب ئې په خپل سرکیخودو او د ابطح میدان کښې ئې غوزار کړو او وې وئیل چه ته هیڅ ښیګړې مالره نه ئې راوستې بلکه د حسان ؓ اشعارو ماته راوستې ئې څه به تا خپل ځان سره نه پریږدم.دا روایت ډیرو کتابونوکښې راغلې دې ډیرو سندونو سره مطول او مختصر مروی دي.(۱)

قوله تعالی::یَسْتَخْفُوْنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا یَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ

ددې منافقانودکم عقلئی بیان کیږی چه هغوئ خپل شرارتونه خلقو نه پټوی.نوددې نه څه نتیجه راوخته؟ الله ﷻ نه ئې پټ نه شی ساتلئ ؟بیا دوی ویروی چه ستاسو پټ رازونه هم الله ﷻ نه پټ نه دی.

قوله تعالی::هٰۤاَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِی الْحَیٰوةِ الدُّنْیَا

بیا فرمائی چه دا مو اومنل چه دنیاوی حاکمانوسره چه کومې فیصلې کیږی په هغې تاسو غلبه اومونده.لیکن د قیامت په ورځ چه دالله تعالی مخکښې چه دظاهراو باطن عالم دې هلته چې فیصله کیږی.نوتاسو به څه کونی ؟ هلته به څوک وکیلان پیش کوئی ؟ چه هغوئ ستاسو د دروغو دعوؤ تائید اوکړی. مطلب دادې چه په هغه ورځ ستاسو هیڅ داؤ نه چلیږی.

وَمَنْ	یَّعْمَلْ	سُوْٓءًا	اَوْ یَظْلِمْ	نَفْسَهٗ	ثُمَّ
او څوک چې	اوکړی	بدی	یا ظلم اوکړی	په ځان خپل	بیا
اوڅوک چې ګناه	یا په خپل ځان زیاتې اوکړی	.....	بیا		
یَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ	یَجِدِ اللّٰهَ	غَفُوْرًا	رَّحِیْمًا ۝	وَمَنْ	یَّكْسِبْ
ببنه اوغواړی دالله نه	اوبه مومی الله	ببنونکې	رحم کونکې	اوڅوک چې	اوکړی
الله ﷻ نه ببنه اوغواړی	نوالله ﷻ به ډیرببنونکې اوزیات مهربانه بیامومی	.....	اوڅوک چې		

(۱) ترمذی: کتاب تفسیر القران باب ومن سورة النساء: ۳۰۳٦/۲۲، وسنده حسن الحاکم: ۳۸۵/٤، وابن اسحاق صرح بالسماع عنده

إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُ عَلَىٰ نَفْسِهِ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا

گناه | نو بیشکه | بار کوی نې هغه | په خان خپل باندې | اودې | الله | به هر څه پوهه

گناه کوی نود هغه د گناه نقصان هم هغه ته رسیږی | .....اوالله په هرڅه پوهه

حَكِيمًا ۝ وَمَن يَكْسِبْ خَطِيئَةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهِ

صاحب د حکمت | اوڅوك چې | اوکړی | غلط کار | یا یوه گناه | بیا | اولی | په دې گناه سره

اوصاحب د حکمت دې | او چا چې خطا کار اوکړو | یانې گناه اوکړه | بیا نې د هغې تهمت په یوبې گناه

بَرِيئًا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ۝

یوبې گناه سړې | نوبې شکه چې بارئې کړوپه خان | غټ دروغ | اوگناه | ښکاره

کس باندې اولګوو | نو ډیرلرې بهتان ئې جوړ کړو | .....او ښکاره جاره گناه ئې اوکړه

وَلَوْلَا فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهُ لَهَمَّت

اوکه چرې نه وې | فضل | دالله | په تاباندې | او رحمت دهغه | نو خامخا قصد کړې وو

اوانې پیغمبره ﷺ که په تادالله ﷻ فضل اومهربانی نه وې | نو ددوئ یوې ډلې خودا قصد کړې وو چې

طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ أَن يُضِلُّوكَ ۖ وَمَا يُضِلُّونَ إِلَّا أَنفُسَهُمْ وَمَا

یوې ډلې | ددوئ نه | چې تیر باسی تالره | او نه تیر باسی دوئ | مګر | خانونه خپل | اونه شی

د امجرم په بچ کیدلو کښې تا په غلطه لار روان کړی | اوحال دا دې چې دوی د خپل خان نه بغیر بل څوک نشی غلطولې

يَضُرُّونَكَ مِن شَيْءٍ ۚ وَأَنزَلَ اللَّهُ عَلَيْكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ

ضرر رسولې تاته | د هیڅ څیز | اونازل کړې دې الله | په تاباندې | کتاب | اوحکمت

اوتاته هیڅ قسمه نقصان نشی رسولې | اوالله ﷻ په تاکتاب اود حکمت خبرې (احادیث) نازل کړې دی

وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُن تَعْلَمُ ۚ وَكَانَ فَضْلُ اللَّهِ عَلَيْكَ

اوښودلی ئې دی تاته | هغه څه | چې نه وې ته | چې پوهیدلې پرې ته | اودې | فضل دالله | په تاباندې

اوهغه خبرې ئې درته خودلې دی چې تاته معلومې نه وې | اوپه تاباندې دالله ﷻ لویه مهربانی ده

عَظِيمًا ۝

ډیر لوی |

قوله تعالی: وَمَنْ يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللَّهَ يَجِدِ اللَّهَ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝

دالله تعالی درحمت بیان: - الله ﷻ خپل فضل او خپله مهربانی بیانوی.چه څوك یو گناه نه توبه اوباسی نوالله ﷻ هغه سره مهربانی کوی.هر هغه سړې چه خپل رب طرفته ئې رجوع اوکړه ،الله ﷻ به هغه په خپل وسیع رحمت کښې پټ کړی.او دده کبیره او صغیره گناهونه به معاف کړی.اگر چه دده گناهونه د زمکې او آسمان نه زیات وی.بنو اسرائیلو کښې چه به کله چا یو گناه اوکړه نو په قدرتی حرفونو کښې به دهغه په دروازه هغه گناه لیکلې شوې په نظر راتله او ددې کفاره به هم لیکلې کیده او دا به ده ادا

Scanned with Ca

کوله. او دوی ته دا حکم وو که چرې د دوی په کپړا میتازې پریوزی نو هغه هومره کپړه به پریکوی.الله ﷻ په دې امت باندې آسانه کړه او صرف په اوبو وینځلو سره هم جامه پاکیږی.او تویه کولو ګناه معافی کیږی.

دیوې ښځې واقعه:- یو ښځې حضرت عبدالله بن مغفل ؓ نه سوال اوکړو چه یوښځې بدکاری اوکړه، بیا چه کله ددې بچې پیدا شو نوهغه ئې مړکړو. نو دوی اوفرمائیل چه د هغې سزا جهنم دې.هغه په ژړاواپس شوه نو دوی هغه راواپس کړه او آیت ﴿مَنْ يَعْمَلْ﴾ ئې ورته اووئیلو. نو هغې خپلې اوښکې اوچې کړې او واپس شوه .

دګناه نه پس دوه رکعته مونځ کول:- حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه دیو مسلمان نه یوه ګناه اوشی او بیا هغه اودس اوکړی او دوه رکعته مونځ اداکړی او الله تعالی نه استغفار اوکړی نو الله ﷻ د هغه ګناهونه بخښی.بیا حضرت نبی کریم ﷺ دا آیت مبارك او آیت ﴿وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً﴾ الخ تلاوت کړو.(۱)ددې آیت مبارك پوره بیان مونږ په مسند ابوبکر کښې کړې دې.او څه بیان په سورة آل عمران کښې تیر شوې دې.

په توبه ویستلو سره د ګناه معاف کیدل:- حضرت ابودرداء ؓ فرمائی چه د حضرت نبی کریم ﷺ عادت مبارك وو چه مجلس کښې به ناست وو او څه کار دپاره به پاسیدو او بیا به ئې د واپس کیدو اراده اوکړه نو پیزار مبارك یا کپړا مبارکه څه نه څه به ئې پریښودل.یو ځل حضرت نبی کریم ﷺ خپل پیزار مبارك پریښودې وو او یو دولچه ئې اوبو سره یوړه.څه هم حضرت نبی کریم ﷺ پسې روستو روستو لاړم.حضرت نبی کریم ﷺ څه لږ شان لرې تلو نه پس حاجت پوره کولو نه بغیر واپس راغلو او وې فرمائیل چه ما ته د رب یو پیغام راوړونکې راغلو او ماته ئې پیغام راکړو ، بیا حضرت نبی کریم ﷺ دا آیت مبارك ﴿ مَنْ يَعْمَلْ﴾ الخ تلاوت کړو.او وې فرمائیل چه څه خپلو صحابه کرام ؓ ته د زیری ورکولو دپاره د لارې نه راواپس شوم.

ددې نه مخکښې چونکه آیت ﴿وَمَنْ يَعْمَلْ سُوءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ﴾ یعنی هرې بدئې کونکې ته به د هغې سزا ملاویږی ، نازل شوې وو ، ددې وجې صحابه کرام ؓ پریشانه وو. ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! اګر چه زنا اوکړی ، اګر چه غلا اوکړی ، بیا هغه استغفار اوکړی.نو هغه به هم الله ﷻ بخښی ؟ حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آو. ما دوباره تپوس اوکړو.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آؤ. ما په دریم ځل تپوس اوکړو نو حضرت نبی کریم ﷺ په دریم اوفرمائیل چه آؤ. اګر چه د ابودرداء پوزه خاك آلود شی.نو حضرت ابودرداء چه به کله دا حدیث مبارك بیانولونو خپله پوزه به ئې وهله.(۲)ددې اسناد ضعیف دی ، اوداحدیث غریب دی.

قوله تعالی:: وَمَنْ يَكْسِبْ إِثْمًا فَإِنَّمَا يَكْسِبُهُ عَلَىٰ نَفْسِهِ ۚ:: بیافرمائی چه ګناهګار خپل ځان سره بد کوی.لکه بل ځائې کښې فرمائی چه هیڅوك به د بل بوج نه اوچتوی.یو بل ته به فائده نشی ورکولې،هرسړې به دخپلوکړو ذمه داروی.هیڅوك به نه وی چه د چابوج واخلی.درب علم،درب حکمت،درب عدل،د رب رحمت خلاف دی چه دیوګناه باندې بل اونیسی.

قوله تعالی:: وَمَنْ يَكْسِبْ خَطِيئَةً أَوْ إِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهِ بَرِيئًا

بیافرمائی چه څوك بدکار اوکړی اودهغه الزام په بل اولګوی لکه څنګه چه بنو ابیرق د لبید په نوم کړې وه او دا واقعه ددې نه مخکښې تفصیل سره بیان شوه ، یا تړې مراد زید بن سمین یهودی

---

(۱) ابوداود : ۱۵۲۱، وسنده حسن)-

(۲) ابن مردویه)-

Scanned with Ca

دي لکه د بعضو نورو مفسيرينو خيال دي چه ددي غلا تهمت دي قبيلي د يو بي ګناه په ذمه لګولي وو. او پخپله خائنان او ظالمان وو. آيت اګر چه د شان نزول اعتبار سره خاص دي ليکن د حکم اعتبار سره عام دي. چه څوک هم داسي کوي نو الله ﷻ د سزا مستحق دي.

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ

دي نه پس د آيت ﴿ وَلَوْلَا ﴾ تعلق هم دي واقعي سره دي. يعني لبيد بن عروه اوده ملګرو دبنو ابيرق د غلو د حضرت نبي کريم ﷺ مخکښي برات اوکړو، اوهغه ئي پاک کړل ، او د حضرت نبي کريم ﷺ د اصلي حالت نه اړولوکښي ټول کار دوی کړي وو. خو الله ﷻ د حضرت نبي کريم ﷺ حقيقي نګهبان دي اوپه دي موقع ئي حضرت نبي کريم ﷺ ددي خائنانو د طرفدارئی نه بچ کړو او اصلي واقعه صفا شوه. کتاب نه مراد قران او حکمت نه مراد سنت دي. نزول وحی نه مخکښي دوی ته معلوم نه وو ، ددوی علم الله ﷻ حضرت نبي کريم ﷺ ته د وحی په ذريعه اوکړو. لکه يو آيت مبارک کښي دی چه ﴿وَكَذٰلِكَ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ رُوْحًا مِّنْ اَمْرِنَا﴾ نه پوره سورت پوري. او آيت کښي دی چه ﴿وَمَا كُنْتَ تَرْجُوْٓا اَنْ يُّلْقٰٓى اِلَيْكَ الْكِتٰبُ اِلَّا رَحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ فَلَا تَكُوْنَنَّ ظَهِيْرًا لِّلْكٰفِرِيْنَ﴾ الخ ، ددي وجي فرمائی چه دا تولي خبري د الله ﷻ فضل دي ، چه تاسو سره شامل دي

لَا خَيْرَ	فِيْ كَثِيْرٍ	مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ	اِلَّا	مَنْ	اَمَرَ
نشته خير	په ډيرو کښي	دپټو خبرو ددوئ نه	مګر	دهغه چا	چې حکم کوی
..... ددوئ په ډيروپټومشورو کښي هيڅ خير نشته	.....البته هغه څوک چې(خلقو ته)				
بِصَدَقَةٍ	اَوْ مَعْرُوْفٍ	اَوْ اِصْلَاحٍۭ	بَيْنَ النَّاسِ ؕ	وَمَنْ	يَّفْعَلْ
په صدقه کولو	ياپه يو نيک کار	يا په اصلاح کولو	په منځ دخلقو کښي	او هغه څوک	اچې کوی
دصدقې ورکولويادنيکئ کولويا دخلقو په مينځ کښي د اصلاح کولو دپاره مشوره اوکړی(نودا ښې خبرې دي)					
ذٰلِكَ	ابْتِغَآءَ	مَرْضَاتِ اللّٰهِ	فَسَوْفَ	نُؤْتِيْهِ	اَجْرًا عَظِيْمًا ۝ وَمَنْ
دا کارونه	دپاره د لټولو	د رضا دالله	نو زر به	مونږ ورکړوهغه ته	ثواب لوئ او څوک چې
اوڅوک چې دالله ﷻ درضادپاره داسي کار اوکړی	نومونږ به ډير زر هغه ته ډيرلوئي اجر ورکړو	اوڅوک			
يُّشَاقِقِ	الرَّسُوْلَ	مِنْۢ بَعْدِ	مَا	تَبَيَّنَ	لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ
مخالفت کوی	درسول	روستو	دهغې نه	چې ښکاره شوې ده	هغه ته نيغه لار او روان شی
چې د هدايت ښکاره کيدونه پس هم د پيغمبر ﷺ مخالفت کوی	.....اود				
غَيْرَ	سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ	نُوَلِّهٖ	مَا	تَوَلّٰى	
په غير	دلارې دمومنانو	نو مونږ به اوګرزوؤ هغه لره	هغه طرفته	چې دي ورګرزيدلي دي	
مومنانود لارې نه سوا په بله لار روان شی	نومونږ ئي هغه طرفته ګرزوو	چه دي ورته پخپله ورګرزيدلي وی			
وَنُصْلِهٖ	جَهَنَّمَ ؕ	وَسَآءَتْ	مَصِيْرًا ۝ ع		
اومونږ به داخل کړو هغه	په جهنم کښي	اوبدخائي دي	د ورتلو		
او دوزخ ته به ئي داخل کړو	اودوزخ ډير بدخائي دي	.....			

Scanned with Ca

قوله تعالی:: لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ

د اصلاح بین الناس فضیلت :- د خلقو اکثر کلام بې خیره وی،سوا د هغو نه چه د چا خبرې خیرات کولو، د نیکئ،خلقو کښې د ملاپ وی.دحضرت سفیان ثوری رحمه الله پوښتنې ته څه خلق ورغلل ، په هغوئ کښې حضرت سعید ابن احسان رحمه الله هم وو ، نو وې فرمائیل چه سعید تا چه د ام صالح روایت مبارک نه کوم حدیث بیان کړې وو نن هغه بیا بیان کړه.هغوی اوفرمائیل چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د انسان ټولې خبرې د ده دپاره وبال دی سوا د ذکر الله او بنه کارونو خودولو نه او د خرابو کارونونه منع کولو نه.حضرت سفیان ثوری رحمه الله اوفرمائیل چه هم دا مضمون په دې آیت کښې دې، هم دا مضمون په آیت ﴿يَوْمَ يَقُومُ الرُّوحُ﴾ کښې دې هم دا مضمون په سورة العصر کښې دې .(۱)

په صلح کښې د دروغو وئیلو اجازت:- مسند احمد کښې د حضرت نبی کریم ﷺ فرمان دې چه خلقو کښې دمیل ملاپ دپاره او اصلاح دپاره چه کومې خبرې کیږی یا څه اخوا دیخوا خبرې اوکړی نوهغه دروغژنو کښې نه دې.حضرت ام کلثوم بنت عقبه رضی الله عنها فرمائی چه ما د داسې خبرو اجازت په دریو موقعو آوریدلی دی ① جهاد کښې ② خلقو کښې صلح کولو دپاره ③ دښځې خاوند خبرو کښې.دا موږې بی په هجرت کونکو او بیعت کونکو کښې ده. (۲)

دصدقې نه افضل عمل:- اوحدیث مبارک کښې دی چه تاسو ته یو داسې عمل اوښایم چه د روژې او مونځ او صدقې نه هم افضل دې ؟ خلقو خواهش اوکړو.چې آو، نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خپلو کښې اصلاح کول.فرمائی چه خپلو کښې فساد نیکئ بربادوی.(۳) (ابوداود وغیره).

بهترین تجارت:- بزار کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ حضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه تن څه تاته یو تجارت ښایم.خلق چه کله جنګ کوی نو په هغوئ کښې صلح کوه. هر کله چه یو بل نه خفه شی نو دوی یوبل سره پخلا کوه. الله ﷻ فرمائی چه څوک داسې نیکې خبرې د رب د رضا دپاره خلوص او نیك نیت سره اوکړی نو هغه ته به اجر عظیم ورکوم.(۴)

قوله تعالی:: وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ

چه کوم کس غیر شرعی طریقه باندې عمل کوی چه شریعت یو طرفته وی او دې بل طرفته وی او فرمان رسول ﷺ څه بل څه وی اودده څه بل غرض وی ،حالانکه ده ته حق معلوم وی ، دلیل ورته معلوم وی ، بیا هم درسول الله ﷺ نه مخالف روان وی او د مسلمانانو صفا خلاف کوی ، نومونږ هم هغه په بده اوخرابه لار سموؤ. اوبیا ده ته هغه بنه اوبد معلوم شی او تر دې چه دې د جهنم مینځ ته ورپریوزی.دومنانو دلارې نه علاوه بله لار تلاش کول د رسول الله ﷺ سره شقاوت کول دی.لیکن کله کله د حضرت نبی کریم ﷺ د خبرې صفا خلاف وی او کله د هغه څیز خلاف چه د هغې باره کښې ټول امت محمدیه متفق وی او الله ﷻ دې ددهٔ دشرافت او کرامت په وجه د خطا نه بچ ساتې دې. دې باره کښې ډیر احادیث مبارکه دی او مونږ هم احادیث الاصول کښې د دوی لویه حصه بیان کړې ده. بعضې عالمان خو ددې متواترې معنوی قائل دی.حضرت امام شافعی رحمه الله د غور وفکر کولو نه ددې آیت مبارک نه د امت په اتفاق په دلیل باندې استدلال کړې دی.حقیقت کښې هم دې باره کښې بهترین او قوی څیز دې.بعضې نورو امامانو په دې باندې دلالت مشکل اودوه رازونو والا آیت هم ګرزولې دې.

---

(۱) سنن ترمذی کتاب الزهد باب : ٦٣ ح/٢٤١٢، ابن ماجة: ٣٩٧٤،)-

(۲) احمد : ٤٠٣/٦، صحیح بخاری کتاب الصلح باب لیس الکاذب الذی یصلح بین الناس : ٢٦٩٢، صحیح مسلم: ٢٦٠٥)-

(۳) ابوداود کتاب الادب باب فی اصلاح ذا الیمین : ٤٩١٩،)-

(۴) مسند البزار : ٢٠٦٠،)-

قوله تعالی:: نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴿۱۱۵﴾
غرض داسې کولو والو ته الله تعالی هم رسۍ سسته پریږدی. لکه فرمان دې چه ﴿سَنَسْتَدْرِجُهُمْ﴾ او ﴿فَلَمَّا زَاغُوْا﴾ او ﴿تَذَرُهُمْ﴾ یعنی مونږ دوی په بې خبرئی کښې په مزه مزه زیاتوو. کله چه دوی بې لارې شی نو مونږ هم ددوئ زړونه کاږه کړو. مونږ دوی لره ددوی په سرکشئ کښې حیران پریږدو. او آخر د دوی دا کارونه دوی جهنم ته رسوی. لکه فرمان دې چه د ظالمانو دخپلو ملګرو سره یو ځائې حشر اوکړئ. او لکه فرمائی چه کله ظالمان اور اووینی نو وائی به دې کښې به داخلیدل وی. لیکن ددوی به هېڅوک نه وی چه دوی ددې نه ځې بچ کړی.

اِنَّ اللّٰهَ	لَا يَغْفِرُ					
بیشکه الله	نه بښی					
.....الله ﷻ خوبس یوشرک نه بښی						
اَنْ يُّشْرَكَ	بِهٖ	وَيَغْفِرُ	مَا	دُوْنَ	ذٰلِكَ	لِمَنْ
دا چې شریك جوړ کړې شی	دهغه سره	او بښی	هغه	چې سوا وی	ددې نه	دپاره دهغه چا
اوددې نه سوا هرڅه (ګناه) معاف کوی	.....			چې چاته ځې (معاف کول) خوښ شی		
يَّشَآءُ ؕ	وَمَنْ	يُّشْرِكْ	بِاللّٰهِ	فَقَدْ	ضَلَّ	ضَلٰلًا
چې اوغواړی	اوڅوك چې	شریك جوړ کړی	دالله سره	نوبیشکه	بې لارې شو	په بې لارې کیدو
اوچاچې الله ﷻ سره شریک جوړ کړو	.....				نوهغه په ډیره لرې ګمراهئ	
بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾	اِنْ يَّدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِهٖٓ	اِلَّآ	اِنٰثًا ۚ	وَاِنْ يَّدْعُوْنَ	
لرې سره	نه رابلی دوئ	بې دهغه (الله) نه	مګر	ښځې بتانې	اونه رابلی دوئ	
سره ګمراه شو	.....	دوئ الله ﷻ پریخودې دې او دیوڅو زنانه څیزونو عبادت کوی				
اِلَّا	شَيْطٰنًا	مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾	لَّعَنَهُ	اللّٰهُ ۘ	وَقَالَ	
مګر	شیطان	سرکشه	چې لعنت کړې دې په هغه باندې	الله	اووئیلې وو هغه	
اوصرف د هغه نافرمانه شیطان عبادت کوی			چې الله ﷻ پرې لعنت کړې دې		.....	اوشیطان
لَاَتَّخِذَنَّ	مِنْ عِبَادِكَ	نَصِيْبًا	مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾	وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ		
چې خامخا به نیسم زه	د بندګانو ستا نه	حصه	مقرر کړې شوې	اوخامخا به بې لارې کوم زه هغوئ		
خوالله ﷻ ته وئیلی وو	چې ستا د بندګانونه به ضرور مقرره حصه اخلم			اوهغوئ به ضرور بې لارې کوم		
وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ	وَلَاٰمُرَنَّهُمْ	فَلَيُبَتِّكُنَّ				
اوخامخا به زه په امیدونو کښې اچوم هغوئ	اوخامخا به زه حکم کوم هغوئ ته	نو خامخا به اوڅیری هغوئ				
اودوی به په (دنیاوی قسم قسم) طمع اوامیدونو کښې ساتم	اوورته به حکم کوم نو د څاروو غوږونه به					
اٰذَانَ	الْاَنْعَامِ	وَلَاٰمُرَنَّهُمْ	فَلَيُغَيِّرُنَّ	خَلْقَ اللّٰهِ ؕ		
غوږونه	د څاروو	اوخامخا به زه حکم کوم هغوئ ته	نوخامخا به بدلوی هغوئ	پیدا اوښت د الله		
څیرې کوی ئ	اوورته به حکم کوم (چې دالله پیدا اوښت بدلوی) نو د الله په پیدائش کښې به بدلون راولی					

Scanned with Ca

وَمَنْ	يَّتَّخِذِ	الشَّيْطٰنَ	وَلِيًّا	مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ	فَقَدْ	خَسِرَ
اوهغه څوك	چې اونيسي	شيطان	دوست	بې دالله نه	نوبه تحقيق سره	نقصان ئې اوكړو
اوچا چې د الله ﷻ نه سوا شيطان دوست جوړ كړو						..... نو بيشكه هغه په ښكاره تاوان سره
خُسْرَانًا	مُّبِيْنًا ۝١١٩	يَعِدُهُمْ	وَيُمَنِّيْهِمْ ؕ	وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ		
نقصان	ښكاره	هغه وعده كوي دوئ سره	اواميدونه اچوي دوئ ته	اونۀ كوي وعدې دوئ سره شيطان		
تاوانى شو	شيطان ددوئ سره وعدې كوي	اود دروغو طمعې وركوي	اوشيطان خودوئ سره صرف د			
اِلَّا	غُرُوْرًا ۝١٢٠	اُولٰٓئِكَ	مَاْوٰىهُمْ	جَهَنَّمُ	وَلَا يَجِدُوْنَ	عَنْهَا
مكر	دهوكه	داكسان چې دى	خائې ددوى	جهنم دى	اونۀ به مومى دوئ	دهغې نه
دهوكې نه پكې وعدې كوي	ددغه خلقو خائې دوزخ دى	..... اوددې خائې نه به خلاصې				
مَحِيْصًا ۝١٢١	وَالَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ	سَنُدْخِلُهُمْ		
څۀ طريقه دخلاصى	اوهغه كسان	اچې ايمان راوړى	اوعمل اوكړى نيك	نوداخل به كړو مونږ هغوئ		
بيانۀ مومى	اوچا چې ايمان راوړې دې	او نيك كارونه كوى	نوهغوئ به مونږ داسې باغونو ته			
جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَآ	اَبَدًا ؕ
داسې باغونوته	چې بهيږى به	لاندې دهغې نه	نهرونه	چې همېشه به اوسيږى	په هغې كښې	اتل ترتله
داخل كړو	چې دهغې (د بنكلو) لاندې به ولې بهيږى	اودوئ به په هغې كښې همېشه همېشه دپاره وى				
وَعْدَ اللّٰهِ	حَقًّا ؕ	وَمَنْ	اَصْدَقُ	مِنَ اللّٰهِ	قِيْلًا ۝١٢٢	
داوعده د الله ده	حقه	اوڅوك دې	زيات ربښتينې	دالله نه	په خبرو كښې	
دادالله ﷻ حقه وعده ده	اودالله ﷻ نه سوا بل څوك زياته ربښتنې خبره كولې شى					

قوله تعالى:: اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ

د شرك نه سوا نوره هره ګناه معاف كيږى:- ددې سورت په شروع كښې درومبى آيت متعلق مونږ پوره تفسير كړې دې. او هلته ددې آيت متعلق احاديث هم بيان شوى دى. حضرت علي ﷺ به فرمائيل چه ماته ددې آيت مبارك نه هيڅ يو آيت مبارك زيات محبوب نه دې (۱) (ترمذى). مشركان د دنيا او آخرت د نيكو نه محرومه كړې شوى دى. او حق لارې نه لرې پريوځى. هغوئ خپل نفس او خپل دواړه جهانونه بربادكړى دى. دوى د مشركانو ښځو عبادتګار دى.

قوله تعالى:: اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اِنٰثًا

د اناث په تفسير كښې اقوال:- ①حضرت كعب رحمه الله فرمائى چه هر صنم سره يوجنيه ښځه ده. ②حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ﴿ اِنٰثًا ﴾ نه مراد بتان دى. دا قول نورو مفسرينو هم بيان كړې دې. ③دحضرت ضحاك رحمه الله قول دې چه مشركانو به د فرښتو عبادت كولو. اوهغوئ ته به ئې د الله ﷻ لونړه وئيلې اووئيل به ئې چه ددوى د عبادت نه ځمونږ اصل غرض د الله ﷻ نزديكت حاصلول دى. او ددوى

(۱) الترمذى : ۳۰۳۷.

تصویرونه به ئې د ښځو شکلو سره جوړول. بیا به ئې حکم کولو او تقلید به ئې کولو او وئیل به ئې چه دا صورتونه د فربښتو دی چه دالله ﷻ لونړه دی.دا تفسیر آیت ﴿ اَفَرَءَيْتُمُ اللّٰتَ﴾ مضمون کښې ښه شان سره ملاویږی.اوهلته د دوی دبتانو نومونه هم الله ﷻ خودلی دی چه دا ښه انصاف دې چه هلکان خو ستاسو اوجینکئ خما.اوآیت کښې دی چه ﴿وَجَعَلُوا الْمَلٰٓئِكَةَ الَّذِيْنَ هُمْ عِبٰدُ الرَّحْمٰنِ اِنَاثًا﴾ دې خلقو د الله ﷻ غلامانې فربښتې ګنړلې دی.او بل ځائې کښې دی چه الله ﷻ کښې او جناتو کښې نسبونه راوکاږی. ④حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ددې نه مراد مردګان دی. ⑤حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه هر بې روح څیز اناث دې که هغه لرګې وی او که هغه کانړئی وی.لیکن دا قول غریب دې.

قوله تعالی::وَاِنْ يَّدْعُوْنَ اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ۙ

د شرک حکم کونکې شیطان دې:- بیا ارشاد دې چه اصل کښې دوی د شیطان تابعداری کوی ځکه چه هغه دوی ته دا لار ښائسته کوی او اصل کښې دوی هم دهغه منی.لکه فرمان دې چه ﴿ اَلَمْ اَعْهَدْ اِلَيْكُمْ﴾ ائې بنی آدم آیا تاسو ماسره وعده نه وه کړې چه د شیطان عبادت به نه کوؤ؟ ددې وجې به فربښتی د قیامت په ورځ صفا وائی چه ځمونږ د عبادت دعویدار اصل کښې د شیطان پنجه کښې انځته وو. الله ﷻ شیطان دخپل رحمت نه یو طرفته کړو او بهر ئې کړو. هغه هم ډمه داری اخستې وه چه د الله بندګان به ډیرکسان دهوکه کوی.

قوله تعالی::وَّقَالَ لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ۙ

څومره خلق به شیطان سره جهنم ته ځی؟:- حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه په هرو زور کښې به نهه سوه اویوکم سل (۹۹۹)خپل ځان سره جهنم ته بوځی او یو به بچ شی او هغه به د جنت مستحق شی.

قوله تعالی::وَلَاُضِلَّنَّهُمْ وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ اٰذَانَ الْاَنْعَامِ

د شیطان د ګمراهئ لاری:- شیطان اوئیل چه ①ځه به هغوئ د حق نه اړوم. ②او دوی ته به امیدونه ورکوم چه دوی به توبه نه اوباسی. ③خواهشاتو پسې به روان وی. ④مرګ به ئې هیر کړې وی. ⑤د نفس غلامان به وی ⑥او آخرت نه به لرې وی. ⑦د ځناورو غوږونه به کټ کوی. ⑧او په هغې کښې به سوری کوی ⑨او دالله ﷻ نه سوا به د نورو د نوم تلقین ورکوم

قوله تعالی::وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ؕ

دالله په مخلوق کښې دبدلون تفسیر:①دالله ﷻ جوړ کړې شوی صورتونه خرابول به ورته ښایم،لکه خناورخصی کول.لکه یوبل حدیث مبارک کښې ددې نه هم ممانعت راغلې دې چه (شاید ددې نه مراد ددې نه نسل منقطع کولو غرض سره داسې کول وی) یو معنی دا هم کړې شوې ده چه مخ باندې ستنې سره سیوری کول،دا په صحیح بخاری کښې هم ممنوع دې.او ددې په کولو الله ﷻ لعنت کړې دې.(۱)

② حضرت ابن مسعود ﷺ نه صحیح سند سره مروی دی چه ستنې سره سیوری کولو والا سړی اوښځې دتندی ویښته اوښکلو والا سړی او ښځو باندې چه د حسن او ښائست دپاره د الله ﷻ شکلونه خرابوی. په دوی دالله ﷻ لعنت دی.ځه دې په دوی ولې لعنت اونه کړم ؟ چه په کومو رسول الله ﷺ لعنت کړې دې ، اودا په کتاب الله کښې موجود دې.بیا دوی آیت مبارک ﴿وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ﴾ اولوستلو.(۲)

③ بعضونورو مفسرینو نه مروی دی چه ددې نه مراد دالله ﷻ دین بدلول دی ،لکه بل آیت مبارک کښې دی چه ﴿فِطْرَتَ اللّٰهِ الَّتِيْ فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا ؕ لَا تَبْدِيْلَ لِخَلْقِ اللّٰهِ ؕ﴾ یعنی خپل مخ قائم اوساته د الله ﷻ دین

---

(۱) صحیح مسلم کتاب اللباس باب النهی عن ضرب الحیوان فی وجهه : ۲۱۱۶،)-

(۲) صحیح بخاری کتاب للباس باب المتفلجات للحسن: ۵۹۳۱، صحیح مسلم: ۵۵۷۱)-

Scanned with Ca

طرفته،دا د الله ﷻ فطرت دي چه په ذې ئې ټول انسانان پیدا کړی دی.دالله ﷻ خلق کښې هیڅ بدلون نشته دي.

په دریم تفسیر د ابن کثیر رحمه الله تبصره:- ددې نه مخکښې جملې لره چه کله د امر معنی کښې واخستې شی نو دا تفسیر صحیح دي.یعنی د الله ﷻ فطرت مه بدلوئی.ما چه خلق په کوم فطرت پیدا کړی دی په هغې ئې پریږدئی.

خلق په فطرت اسلامی پیدا کیږی:- صحیحین کښې دی چه هر ماشوم په فطرت پیدا کیږی لیکن بیا د ده مور پلار دي یهودی یا نصرانی یا مجوسی جوړوی.لکه څنګه چه د چیلئ بچې صحیح سالم او بې عیبه وی.خو بیا خلق د ده غوږونه غیره پریکړی او دا عیب دار کړی.(۱)

خلق په یو دین پیدا شوی وو:- صحیح مسلم کښې دی چه الله ﷻ فرمائی چه ما خپل بندګان په یو دین پیدا کړی دی ، لیکن شیطان راغلو او دوی ئې اوغلول. بیا ما په دوی خپل حلال حرام کړل.(۲)

څوک چې شیطان دوست جوړوی هغوی خپل نقصان کوی ، دکوم نقصان چې هیڅکله تلافی نشی.څکه چه شیطان دوی ته شنه باغونه ښائی.او دوئ ته د فلاح وبهود ددوی غلطه لارښائی او دوی دوئ ته دهوکاورکوی ، او هغه اصل کښې ډیر غټ فریب او صفا دهوکاباز دي.

قوله تعالی:: يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ ۖ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا ﴿

دقیامت په ورځ د شیطان خپلو تابعدارو ته تقریر:- نو د قیامت په ورځ به صفا اووائی چه د الله تعالی وعدې رښتونې وې.او څه خو وعده خلاف یم.ځما تاسو باندې هیڅ زور نه وو. ځما آواز آوریدو سره تاسو مست او بې عقل شوئی.اوس ماته ولې بدرد وائی خپل ځان ته بدرد اووائې.دشیطان وعدو لره صحیح ګنړلو والا ،د هغه ورکړې شوی امیدونو لره پوره کولو والا آخر به جهنم ته داخلیږی اوهلته ددوی خلاصې مشکل دي.

قوله تعالی:: وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَنُدْخِلُهُمْ

د نیکانوخلقو د جزاء بیان:- د دې بدبختو د ذکر کولو نه پس اوس د نیکو خلقو حال بیانوی چه ما په زړه سره منی.او بدن سره ځما تابعدار وی.ځما په احکامو عمل کوی.ما چه کومو څیزونونه منع کړې دی د هغې نه منع اوسی.څه به دوی ته خپل نعمتونه ورکړم. دوی به جنت ته داخل کړم چه په هغې کښې به نهرونه بهیږی چه دوی به په کښې پخپله روان وی اوچه چرته غواړی نو بوځئ به ئې .او په هغې کښې به زوال ، انتقال او نقصان نه وی.د الله ﷻ دا وعده اټل او رښتونې او یقینی ده. دالله ﷻ نه به زیاته رښتیا خبره د چا وی.د هغه نه سوا هیڅوک معبود نشته ، هغه برحق دي اوهغه نه سوا بل څوک مربی نشته.

د نبی کریم ﷺ خطبه:- حضرت نبی کریم ﷺ خپله خطبه کښې اوفرمائیل چه د ټولو نه زیاته رښتیا خبره دالله ﷻ کلام دي.اودټولو نه زیات بهتر هدایت د محمد ﷺ هدایت دي.او ټولو کارونو کښې د ټولو نه زیات خراب کار دین کښې نوې خبره راویستل دی او هره داسې خبره بدعت ده. او هر بدعت ګمراهی ده او هره ګمراهی جهنم ته داخلونکې ده.(۳)

لَيْسَ	بِأَمَانِيِّكُمْ	وَلَا أَمَانِيِّ	أَهْلِ الْكِتَابِ ۗ	مَنْ	يَعْمَلْ
نه ده	په آرزوګانو ستاسو	اونه په آرزوګانو	داهل کتابو	هغه څوک	چې اوکړی
نه ستاسو	په آرزوګانو کارکیږی	اونه داهل کتابوپه	آرزوګانو کارکیږی	.....	(قانون دادي، چا چې

(۱) صحیح بخاری کتاب الجنائز باب ما قیل فی الوادکم المشرکین : ۱۳۸۵، صحیح مسلم: ۲۶۵۸، ترمذی : ۲۱۳۸،)-
(۲) صحیح بخاری کتاب الجنة باب الصفات التی یعرف بها فی الدنیا: ۲۸۶۵)-
(۳) صحیح مسلم کتاب الجمعة باب تخفیف الصلاة والخطبة : ۸۶۷، نسائی : ۱۵۷۸، ابن ماجة: ۴۵، واللفظ للنسائی -

سُوْٓءًا	يُّجْزَ	بِهٖ ۙ	وَلَا يَجِدْ	لَهٗ	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	وَلِيًّا
بدکار	بدله به ورکړې کیږی	دهغې	اواوبه نۀ مومی	دخان دپاره	ماسوا دالله نه	څوک دوست
بدکاراوکړو	دهغې سزا به ورکولې شی	اودالله ﷻ په مقابله کښې به هیڅوک دخان ملګرې				

وَّلَا نَصِيْرًا ﴿۱۲۳﴾	وَمَنْ	يَّعْمَلْ	مِنَ الصّٰلِحٰتِ	مِنْ ذَكَرٍ	اَوْ اُنْثٰى	
اونۀ مددګار	اوهغه څوک	چې اوکړی	نیك عملونه	که نارینه وی	اوکه زنانه وی	
اومددګاراونۀ مومی	اوڅوک چې نیک کارونه کوی برابره خبره ده که نارینه وی او که زنانه وی					

وَهُوَ مُؤْمِنٌ	فَاُولٰٓئِكَ	يَدْخُلُوْنَ	الْجَنَّةَ	وَلَا يُظْلَمُوْنَ
اوهغه ایماندار وی	نو دغه کسان به داخلیږی	جنت ته	او ظلم به او نۀ کړې شی په هغوی	
خوچې مومن وی	..... نودغه کسان به جنت ته داخلیږی		.....او په دوئ باندې به	

نَقِيْرًا ﴿۱۲۴﴾	وَمَنْ	اَحْسَنُ دِيْنًا	مِّمَّنْ	اَسْلَمَ
په قدر د پردې د زړی دخرما	اوڅوك دې	دیربهتر په لحاظ ددین سره	دهغه چانه	چې هغه حواله کړو
ذره برابر هم ظلم نه شی کولې	اودهغه چانه ښکلې دین د چا	کیدې شی	چې خپل خان د الله تعالی	

وَجْهَهٗ	لِلّٰهِ	وَهُوَ	مُحْسِنٌ	وَّاتَّبَعَ	مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ؕ
خان خپل	الله ته	اوهغه	نیکی کونکې وؤ	اوپیروی ئې اوکړه	دطریقې دابراهیم
تابعدار کړی	اوپه	اخلاص سره نیک کارونه کوی	او د ابراهیم ﷺ	چې یومخیزې وو د ملت تابعداری کوی	

وَاتَّخَذَ	اللّٰهُ	اِبْرٰهِيْمَ	خَلِيْلًا ﴿۱۲۵﴾	وَلِلّٰهِ	مَا فِي السَّمٰوٰتِ
اونیولې وؤ	الله	ابراهیم ﷺ	په دوستئ سره	اوالله لره دی	هغه څه چې په آسمانونو کښې دی
اوالله ابراهیم ﷺ	په خالصې دوستئ سره نیولې وو				.....اودآسمانونو

وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ	بِكُلِّ شَيْءٍ	مُّحِيْطًا ﴿۱۲۶﴾ ع	
اوهغه چې په زمکه کښې دی	او دې	الله	په هر څیز باندې	احاطه کونکې
اوزمکې ټول څیزونه صرف د یو الله ﷻ دی	.....	اوالله ﷻ	په هرڅیز احاطه کونکې دې	

قوله تعالی:: لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ ؕ

د مسلمانانو په اهل کتابو فضیلت :-حضرت قتاده رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه مونږ ته ذکر شوی دی چه اهل کتابو او مسلمانانو کښې مشهور شو،اهل کتاب په دې خبره خپل فضیلت ښکاره کولو چه ځمونږ نبی ﷺ ستاسو نبی ﷺ نه مخکښې دې اوځمونږ کتاب هم ستاسو نه مخکښې دې اومسلمانانو به ونیل چه ځمونږ نبی خاتم النبیین ﷺ دې اوځمونږ د مخکښې ټولو کتاب فیصله کونکې دې نو دې باندې دا آیت مبارك نازل شو. اودمسلمانانو په نور دین والو فضیلت بیان شو.

دامام مجاهد قول:- حضرت مجاهد رحمۃ اللہ علیہ نه مروی دی چه عربو اووئیل چه نه خو به مونږ د مرګ نه پس ژوندی کیږو اونه به مونږ باندې څه عذاب وی .

Scanned with Ca

دایت مفهوم:-د آیت مضمون دا دې چه صرف اظهار کولو سره او دعوی کولو سره صداقت او حقانیت نه ثابتیږی ،بلکه ایماندار هغه دې چه د هغه عمل صفا وی او عمل ئې شاهد وی او دالله ﷻ دلیل د دوی لاسونو کښې وی ،نو نه ستاسو خواهشات اودعوې څه وقعت لری اونه د اهل کتابو خواهشات اواوچتې خبرې.د نجات دارومدار اقوال نه دی بلکه د الله ﷻ فرمانبرداری او د رسولانو تابعداری ده ، څوك چه بدی کوی نو دا ناممکن ده چه دوی د دې بدئی په وجه خلاصې بیا مومی. بلکه ذره ذره نیکی او بدی به دوی په خپلو سترګو د قیامت په ورځ وینی.

د مصیبت په شکل کښې دګناه سزا ملاویدل:- دې آیت مبارك سره صحابه کرام ﷺ ډیر زیات پریشانه شو تردې چه حضرت ابوبکرصدیق ﷺ اوفرمائیل .چه یارسول الله ﷺ نجات به څنګه وی ؟ څکه چه د یو یو عمل بدله به ضروری وی ؟ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ دې تا اوښې انې ابوبکر ﷺ! دا جزا هغه ده چه کله ستا د بیمارئی په صورت کښې وی اوکله د څه تکلیف په وجه او کله د صدمې په وجه او کله د غم او پریشانئی په وجه او کله د څه مصیبت په شکل کښې(نودا ټول مصیبتونه او تکلیفونه چه په تا راځی نو داستا د ګناهونو سزا ده)([1])(مسند احمد)

مصیبت د ګناه وجه ده:-او یو روایت کښې حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه هرې بدئی کولو والا به دنیا کښې د هغې بدله مومی.([2]) ابن مردویه کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ اوفرمائیل چه ګورئی کوم ځائې کښې چه حضرت عبدالله بن زبیر ته پهانسی ورکړې شوې ده هلته تاسو مې څئ غلام نه هیر شو.اود حضرت عبدالله نظر په ابن زبیر ﷺ پریوتو او وې فرمائیل په الله قسم ترکومې چه خما معلومات دی خما ګواهی ده چه ته روژه دار او مونځګزار او رشته ساتونکې وې او خما د الله تعالی نه امید دې چه تاسو نه کومه غلطی اوشوه د هغې بدله تاسو ته دنیا کښې درکړې شوه. اوس به تاسو باندې د الله ﷻ عذاب نه وی.بیا ئې حضرت مجاهد ﷺ طرفته اوکتل او وې فرمائیل چه ما د حضرت ابوبکرصدیق ﷺ نه آوریدلی وو چه هغوئ فرمائیل ما د حضرت نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه کوم سړې بدی کوی نو د هغې بدله هغه ته په دنیا کښې ملاویږی.([3])

بل روایت کښې دی چه کله حضرت عبدالله بن عمر ﷺ حضرت ابن زبیر ﷺ په دار ختلو اولیدو نو وې فرمائیل انې ابوخبیب! الله ﷻ دې په تا رحم اوکړی ما ستا دپلار نه دا حدیث مبارك آوریدلې دې([4])ابن مردویه کښې دی چه حضرت ابوبکر صدیق ﷺ په موجودګئ کښې دا آیت نازل شو.هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ دا واورولو نو حضرت ابوبکرصدیق ﷺ خفه شو اوهغوئ ته معلوم شو چه هرکله د هرعمل بدله به ملاویږی نو بیا نجات مشکل دې.حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واوره صدیق ! تاته اوستاسو ملګرو ته خو به په دنیاکښې بدله ملاویږی او ددې مصیبتونو په وجه به ستاسو ګناهونه معاف کیږی اودقیامت په ورځ به پاك صاف پاسئ.خو چه کوم نور خلق دی دهغوئ ګناهونه جمع کیږی د قیامت په ورځ به هغوئ سزا مومی.([5])دا حدیث مبارك ترمذی هم روایت کړې دې او وئیلی ئې دی چه ددې راوی موسی بن عبیده ضعیف دې.او دویم راوی مولی بن سباع مجهول دې.او نورو طریقو سره هم دا روایت ماحصل مروی دې.

---

[1]) احمد: ۱۱/۱)-
[2]) احمد: ٦/۱)-
[3]) ابو یعلی :۱۸)-
[4]) مسند البزار : ۲۲۰۵،)-
[5]) ترمذی : کتاب تفسیر القران الکریم باب ومن سورة النساء : ۳۰۳۹،)-

هم دا مضمون د عائشې په حدیث کښې:- یو بل حدیث مبارک کښې دی چه حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها اوفرمائیل یارسول الله ﷺ ! مونږ باندې دا آیت مبارک ډیر زیات بوج غورزوی.نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د مومن دا بدله هغه ده چه مختلفو صورتونو پریشانو او تکلیفونوسره ده ته په دنیا کښې ملاویږی.(۱)

هرمصیبت دمومن دپاره د ده د ګناه بدله ده:- اویوحدیث مبارک کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل تردې چه مومن خپل څه نقد رقم په جیب کښې کیږدی او بیا دضرورت په وخت کښې چه دې کله هغه تلاش کوی اوهغه ملاؤنشی او دې بیا جیب کښې لاس ښکته کړی نو دې لږ وخت کښې چه ده ته کوم تکلیف رسی نودې سره دده ګناهونه معاف کیږی.اودا هم دده د بدو سزا ده. اوداشان ددنیادامصیبتونه دې داسې صفا جوړوی چه په ده به قیامت کښې څه بوج نه وی.لکه څنګه چه سره زرپه بټئ کښې پخولونه پس راویستلې شی نوداشان به دوی ددنیا نه پاک اوصفا الله ﷻ طرفته خی(۲)

هرمصیبت د مومن دپاره اجر دې:- ابن مردویه کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ نه دې آیت مبارک باره کښې تپوس اوشو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مومن ته په هر څیز کښې اجر ورکولې شی ، تردې چه دمړک سختی هم.)

تکلیفونه د ګناهونومعاف کیدو ذریعه ده:- مسند کښې دی چه کله د بنده ګناهونه زیات شی او ددې د ختمولو دپاره څه نیك اعمال نه وی نو الله په ده غم راولی ، اودې سره د ده ګناهونه معاف کیږی.(۳)

ازغې هم تکلیف دې:- سعید بن منصور وائی چه کله صحابه کرام ﷺ دې آیت مبارک سره پریشان شو. نو حضرت نبی کریم ﷺ دوی ته اوفرمائیل چه صحیح اوسئ او یو ځائی اوسئ ، د مسلمان هریو تکلیف دده دپاره په دنیا کښې کفاره ده تر دې چه ازغی تکلیف هم.(۴)او یو روایت کښې دی چه صحابه کرام ﷺ په ژړا شو او غم کښې وو چه حضرت نبی کریم ﷺ دوی ته دا اوفرمائیل.

د کعب بن عجره عجیبه ﷺ دعا:- یو سړی حضرت نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه څونږ په دې بیمارو مونږ ته څه ملاویږی ؟ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا ستاسو د ګناهونو کفاره ده. ددې آوریدو سره حضرت کعب بن عجره ﷺ دعا اوکړه چه یاالله تر مرګه پورې ځما نه تبه لرې نه کړې خو حج اوعمرې او جهاد نه محروم پاتې نشم. د دوی دا دعا قبوله شوه اوکله چه به د دوی بدن ته چا لاس هم پورو نو ددوی به تبه وه (۵)(مسند احمد).

په چا افسوس پکار دې؟:- حضرت نبی کریم ﷺ ته یو ځل اووئیلې شو چه آیا د هرې بدئی بدله به ملاویږی ؟ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آؤ. هم ددې هومره او ددې په شان لیکن د هرې نیکئ بدله به لس چنده شی ، نو په هغه افسوس دې چه د هغه بدئی د نیکو نه زیاتې شی (ابن مردویه).

د حسن رحمه الله په نیز د بدئ نه مراد:- حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه ددې نه مراد کافر دی .لکه یو بل آیت مبارک کښې دی چه ﴿وَهَلْ نُجٰزِيْٓ اِلَّا الْكَفُوْرَ﴾

ددبدئ نه مراد شرک دې:- .حضرت ابن عباس ﷺ او حضرت سعیدبن جبیر ﷺ فرمانی چه دلته د بدنی

---

۱) ابوداود کتاب الجنائز باب عیادة النساء : ۳۰۹۳)-

۲) ترمذی کتاب تفسیر القران باب ومن سورة البقرة : ۲۹۹۱)-

۳) احمد : ۱۵۷/۶)-

۴) صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب ثواب المومن فیما ....: ۲۵۷٤ ترمذی : ۳۰۳۸)-

۵) احمد: ۲۳/۳ وسنده حسن)-

Scanned with Ca

نه مراد شرک دي.داسي سړي به دالله ﷻ نه سوا بل څوک ولی او مددګار نه مومی. خودا بله خبره ده چه دي توبه اوباسی .

صحیح قول:- حضرت امام ابن جریر رحمه الله فرمائی چه صحیح خبره هم دا ده چه دا آیت مبارک دهرې بدئی باره کښې دي .لکه څنګه چه احادیث مبارکه تیرشو ، والله اعلم.

قوله تعالی::وَمَنْ يَعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ

د نیکو اعمالو بدله جنت دي:- د بدو عملونو د سزا ذکر کولو نه پس اوس د نیکو عملونو د اجر بیان کوی.د بدئی سزا خو به یا په دنیا کښې ورکړي کیږی او بنده دپاره دا ښه ده ، او یا به آخرت کښې ورکولې شی،الله ﷻ دي د دې نه مونږ محفوظ اوساتی.مونږ د الله ﷻ نه سوال کوو چه یاالله ﷻ مونږ ته په دواړو جهانونوکښې عافیت راکړې ، اومونږته معافی اوعافیت راکړې ، اومونږ د خپلې ناراضګۍ اوغصې نه په امن کښې اوساتې.نیك اعمال الله ﷻ خوښوی.اوپه خپل احسان او کرم سره دا قبلوی.هغه د هیڅ یو سړی یا ښځې عمل نه ضائع کوی خو په دې شرط چه هغه ایماندار وی.دا نیك خلق به هغه ذات خپل جنت ته داخلوی.او د دوی نیکو کښې به هیڅ کمې نه کیږی.

قوله تعالی::وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا

د قران د درې مشکلو لغاتو حل:- نقیر دکهجورې د ګټکی په شا چه کوم وړوکې شان کرخه وی هغې ته وائی.فتیل دګټکی منیځ کښې چه کوم وړوکې پوستکۍ ته وائی. دا ددې دواړو په مینځ کښې وی ، او قطمیر دهغې د مینځ والا پورته لفافې ته وائی، دا درې واړه الفاظ په دې موقع په قران پاك کښې راغلی دی.

قوله تعالی::وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ

بیا فرمائی چه دهغه نه ښه دین د چاکیدې شی چه خپل اعمال هغه دپاره کوی .ایماندارئی او ښه نیت سره د هغه د فرمان مطابق د هغه احکام اومنی.او هغه محسن یعنی دشریعت پابند ،حق دین او هدایت باندې چلیدو والا د رسول ﷺ حدیث باندې عامل هم وی دهر نیك عمل د قبلیدو دپاره دواړه خبرې شرط دی یعنی اخلاص او د وحی مطابق کیدل .د خلوص مطلب دا دې چې دعمل نه مراد صرف د الله ﷻ رضا وی .او صحیح کیدل دا دی چه د شریعت مطابق وی.نو ظاهر خو د قران پاك او حدیث موافق سره صحیح کیږی او باطن په نیت سره ښه کیږی. که دې خبرو کښې یو هم نه وی نو هغه عمل فاسد دي .چه اخلاص په کښې نه وی نو منافقت راځی.اوکه د خلقو د رضا دپاره او هغوی ته د خودنې دپاره وی..او چه کوم عمل دسنت مطابق نه وی نو هغه قابل قبول نه دې او که په دې ضلالت او جهالت وی نو دا ددې دواړو(جهالت او ضلالت) مجموعه ده. سره عمل هم د قبولیت نه پاتې کیږی.او چونکه د مومن عمل ریاکارئی نه پاك وی او د شریعت خلاف هم نه وی ، ددې وجې دده عمل ښه وی .او د الله ﷻ ته خوښ وی.او دده جزا دا وی چه دې سره دده د نور ګناهونو معاف کیږی .

قوله تعالی::وَاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا

دابراهیم علیه السلام تابعدار څوک دي؟:- ددې وجې دي نه پس فرمائی چه د ملت ابراهیمی تابعداری اوکړئی.یعنی د حضرت نبی کریم ﷺ په نقش قدم تلونکی چه تر قیامته پورې به وی.لکه بل یو آیت مبارك کښې فرمائی چه ﴿اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاِبْرٰهِيْمَ﴾ .یعنی ابراهیم علیه السلام ته نزدې دی هغه خلق چه کوم دهغوی حکم منی اود دې نبی اکرم ﷺ.او یوبل آیت مبارك کښې دی چه ﴿ ثُمَّ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ ﴾ یعنی بیا مونږ ستا طرفته وحی اوکړه چې د ابراهیم حنیف ملت تابعداری اوکړئی چه مشرك نه وو.

د حنیف معنی:- حنیف وائی قصد سره شرك نه بې زاری کونکې او حق طرفته متوجه کیدونکې چه بل څوك ئې منع نه کړی او دده څوك لرې کولو والا نه وی.

Scanned with Ca

ابراهیم ﷺ ته د خلت مقام ملاویدو سبب:- بیا د حضرت خلیل الله د اتباع تاکید او ترغیب دپاره د هغوئ وصف بیانوی چه هغه دالله ﷻ دوست وو.یعنی بنده چه د ترقئ دپاره داعلی نه اعلی درجې ته رسیدې شی هغې ته اورسیدو. د خلت د درجې نه هیڅ یو درجه لویه نشته دې ، دا د محبت اعلی مقام دې.په کومه وجه چې حضرت ابراهیم ﷺ عروج ته رسیدلې دې.هغه د هغوی کامل اطاعت دې لکه چه فرمان دې چه ﴿وَاِبْرٰهِيْمَ الَّذِيْ وَفّٰٓى﴾ یعنی هغه ابراهیم ﷺ چه کوم حکم ورته شوې وو هغه یې پوره کړې وو.هغوی هیڅ کله ئې دالله ﷻ د مرضئ نه مخ وانړولو ، هیڅکله د عبادت نه ستړې نه شو، هیڅ یو څیز هغه د الله ﷻ د عبادت نه منع نه کړو. اویو آیت مبارک کښې دی چه ﴿وَاِذِ ابْتَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ رَبُّهٗ بِكَلِمٰتٍ فَاَتَمَّهُنَّ﴾ چه څنګه څنګه مو په هغه آزمېښت اوکړو هغه هغوئ پوره کړو. چه څه الله ﷻ اوفرمائیل هغه هغوئ پوره کړل.فرمان دې چه حضرت ابراهیم ﷺ دیکسوئ رنګ کښې د شرک نه بچ شوې وو اوخمونږ تابع شوې وو. حضرت معاذ ﷺ یمن کښې چه کله دسحر په مونځ کښې دا آیت مبارک اولوستو نو یو سړی اووئیل چه ﴿لقدقرت عین امابراهیم﴾ د حضرت ابراهیم ﷺ سترګې یخې شوې.(۱)

دخلت مقام ملاویدو په سبب کښې دویم قول:- بعضې خلق وائی چه ﴿خلیل الله﴾ د لقب وجه دا وه چه یو ځل دقحط په موقع دوی خپل یو دوست ته مصر یا موصل ته ورغلو چه د هغه خائې نه څه غله راوړی.دړې خائې کښې ورته هیڅ هم ملاؤ نشو، خالی لاسونه واپس شو. هرکله چه خپل کلی ته نزدې ورغلو نوخیال ئې راغلو چه د دې شکې نه بورئی ډکې کړم اوکور ته ئې یوسم چه کور والو ته څه تسلی خو اوشی که نه.نوددې نه ئې بورئی ډکې کړې او په خناورو ئې واچولې .دالله ﷻ قدرت سره هغه شکه په ریښتیا اوړه شو. دوی خو کور ته تلو سره ځملاستل او دوی خو هسې هم ستړې شوې وو.نو سترګې ئې ورغلې.د کور والو د دوی نه بورئی واختسې او په هغې کښې بهترین اوړه وو. اوړه ئې واغړل او روټئ ئې پخې کړې .هرکله چه دوی پاسیدل او په کور کښې ئې ټول خوشحاله اولیدل او روټئ پخول ئې اولیدل نو تعجب سره ئې اووئیل چه دا اوړه چرته نه راغلل ؟ تاسو ترینه روټئ پخوئی.هغوئ اووئیل چه دا هم تاسو د خپل دوست نه راوړی وو .نو دوی پوهه شو او وې فرمائیل چه دا ما خپل دوست الله ﷻ نه راوړی دی.نو الله ﷻ هم دوی خپل دوست جوړ کړل او دوی ته ئې خلیل الله نوم ورکړو.

په دې واقعه د حافظ ابن کثیر رحمه الله تبصره:-لیکن ددې صحت اوپدې واقعه کښې لږ شان تامل دې.زیات نه زیات دا دی چه دا د بنی اسرائیلو روایت دې.او دې ته مونږ صحیح نه وایو. او دې ته دروغ هم نشو ونیلې.حقیقت دا دې چه دوی ته د القب په دې وجه ملاؤ شو چه ددوی په زړه کښې د الله ﷻ محبت ډیر زیات وو او ددوی په زړه کښې اطاعت او فرمانبرداری وه. په خپل عبادت سره ئې الله تعالی خوشحاله کړې وو.حضرت نبی کریم ﷺ هم خپله آخری خطبه کښې دا فرمائیلی وو چه ائې خلقو ! که ما په زمکې والوکښې څوک دوست جوړولې نو ابوبکر بن ابوقحافه به مې جوړ کړې وې ،بلکه ستاسو ملګرې حضرت محمد ﷺ د الله ﷻ خلیل دې (۲)(بخاری او مسلم)اویو روایت کښې دی چه الله ﷻ څنګه حضرت ابراهیم ﷺ خلیل جوړ کړې وو ، دا شان ئې څه هم خلیل جوړ کړم.(۳)

محمد ﷺ حبیب الله وو:- یوځل حضرات صحابه کرام ﷺ د دوی انتظار کښې ناست وو.ذکرئې کولو،یو وئیل چه تعجب دې چه الله ﷻ خپل مخلوق کښې حضرت ابراهیم ﷺ خپل خلیل جوړ کړو ، بل اووئیل چه ددې نه هم زیاته مهربانی ئې په حضرت موسی ﷺ اوکړه چه هغه سره ئې پخپله خبرې اوکړې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب المغازی باب بعث ابی موسی ومعاذ بن جبل الی الیمن : ۴۳۴۸)-

(۲) صحیح بخاری کتاب فضائل اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم سدوا الابواب : ۳۶۵۴ صحیح مسلم: ۲۳۷۲ باختلاف یسیر)-

(۳) صحیح مسلم کتاب المساجد باب النهی عن بناء الجمات علی القبور : ۵۳۲)-

Scanned with Ca

اوهغه ته ني کليم اووئيل.يو اوئيل چه حضرت عيسى ﷺ خو روح الله کلمة الله دي ، يو اووئيل چه حضرت آدم صفى الله او دالله ﷻ خوښ دي.هرکله چه حضرت نبى کريم ﷺ بهر تشريف راوړلو نو سلام ني واچولو او دا خبري ني واوريدلي نو وې فرمائيل چه بيشکه ستاسو خبري صحيح دى ، ابراهيم خليل الله دي ، موسى ﷺ کليم الله دي ، او حضرت عيسى ﷺ کلمة الله دي ، اوحضرت آدم ﷺ صفى الله دي او دا شان محمد مصطفى ﷺ دي.واورنى څه حقيقت بيانوم څه د فخر په طور ني نه وايم چه څه حبيب الله يم.څه د ټولو نه رومبي شفاعت کونکي يم. اود ټولو نه مخکښې به ځما شفاعت قبليږى.او د ټولونه مخکښې به د جنت دروازه هم زه ټکوم .الله ﷻ به ځما دپاره جنت بيرته کوى اوما به دي کښې داخلوى.او ماسره به مومنان فقيران وى ، د قيامت د ټولو نه زيات اکرم او عزت والا زه يم دا په طور د فخر نه دى بلکه په طور د حقيقت ښکاره کولو ثاسو ته وايم.(۱)

دا حديث دي سندسره غريب دي ليکن ددي بعضې شواهدموجود دى.حضرت ابن عباس ﷺ فرمائى آيا تاسو په دې تعجب کوئى چه خلت ابراهيم ﷺ دپاره وو. او کلام حضرت موسى ﷺ دپاره وو. او ديدار حضرت محمد ﷺ دپاره ، صلوات الله وسلامه عليهم اجمعين (مستدرك حاكم). (۲)دغه شان روايت دانس بن مالك ﷺ او نورو ډيرو صحابه كرامو ﷺ او تابعينو او سلفو او خلفو نه مروى دى.

ابراهيم ته د خلت مقام ملاويدو بل قول:- ابن ابى حاتم کښې دى چه د حضرت ابراهيم ﷺ عادت وو چه ميلمنو سره به ني خوراك کولو. يو ورځ دوى د ميلمه په تلاش کښې اووتلو ليکن دوى ته څوك ملاؤ نشو. کله چه واپس راغلل او وې کتل نو يو سړي په کور کښې ولاړ دي.تپوس ني ترې اوکړو چه ته څوك ني ؟ وې وئيل چه څه ملك الموت يم ،څه الله تعالى يو بنده ته راليږلي يم چه هغه ته زيرې ورکړم چه هغه الله تعالى خپل خليل جوړ کړيدي.دې آوريدو سره حضرت ابراهيم ﷺ اوفرمائيل چه ماته ضرور اووايه چه هغه بنده څوك دي ؟ قسم په الله ﷻ که هغه سړي ډير لرې هم وي خوزه به هغه سره ضرور ملاقات کوم ، او بيا به څه خپل ژوند د هغه په قدمونو کښې تيروم.دې آوريدو سره حضرت ملك الموت اووئيل چه هغه سړي تاسو پخپله يئ.دوى تپوس اوکړو چه دا ريښتيا دى ؟ فرښتې ورته اوئيل چه آو هغه تاسو يئى .دوى بيا تپوس اوکړو چه تاسو به ماته دا اووائې چه په څه وجه الله ﷻ څه خپل خليل جوړکړم ؟ فرښتې اووئيل په دې وجه چه تاسو هر چا ته ورکړه کوئى او پخپله چا نه څه نه غواړئى .

د خلت لقب ملاويدو باندې د ابراهيم حالت بدليدل:- او يو روايت کښې دى چه هرکله حضرت ابراهيم ﷺ لره الله ﷻ خپل خليل جوړ کړو او دا ممتاز او مبارك لقب ني ورته ورکړو نو په هغه وخت کښې هم د هغوئ زړه کښې د الله ﷻ ويره اوهيبت پريوتو. د هغوى زړه داسې په درزار شو چه د لرې نه هم د دوى د زړه درزار آوريدو شو.اوداسې وو لکه څنګه چه فضا کښې مارغان پرواز کوى.صحيح حديث مبارك د حضرت نبى کريم ﷺ باره کښې هم راغلى دى.چه په کوم وخت کښې به د الله ﷻ ويره په دوى غالبه شوه د دوى د ژړا آوازو نه به لرې او نزدې خلقو داسې آوريدو لکه چه کټونى آواز کوى او دوى به کوشش کولو چه دا ضبط کړى.(۳)

قوله تعالى:: وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

د زمکې او اسمانونو مالک صرف يو الله دي:- بيا فرمائى چه په زمکه اوآسمان کښې څه دى هغه ټول دالله ملکيت کښې دى او د هغه غلامئ کښې دى اود هغه پيدا شوى دى.چه څنګه او کله الله تعالى په دوى

---

۱) ابن مردويه)-

۲) حاكم : ۱/٦٥)-

۳) ابوداود كتاب الصلاة باب البكاء فى صلاة : ۹۰٤ ، وسنده صحيح نسائى : ۱۲۱٥)-

Scanned with Ca

کښې تصرف کول غواړی نو بغیر د څه روک ټوک نه او مشورې نه او بغیر د چا د شرکت نه او مدد نه هغه کوی.هېڅوک نشته دې چه هغه لوئې ذات د دې ارادې نه منع کړی.هېڅوک نشته دې چه د هغه لوئې ذات په حکم کښې رکاوټ شی. هېڅوک داسې نشته دې چه د هغه مرضی بدله کړی .هغه د عظمت خاوند دې.او عادل صاحب د حکمت ،د لطف او کرم خاونداو د رحم مالک دې او صمد ذات دې .دهغه لوئې ذات علم په هر وړوکی او لوئې څیز باندې شته.د پټ نه پټ او وړوکی نه وړوکې او لرې نه لرې څیز هم د هغه نه پټ نه دې.ځمونږ نظرونو نه چه کوم پټ دی ، د هغه پاک ذات علم کښې ټول ښکاره دی.

وَيَسْتَفْتُوْنَكَ	فِي النِّسَآءِ ؕ	قُلِ	اللّٰهُ	يُفْتِيْكُمْ
اوتپوس کوی ستا نه دا خلق	په باره دښځو کښې	اووایه	چې الله	فتوی درکوی تاسو ته
اوخلق ستانه دښځو په باره کښې تپوس کوی (ته) ورته اووایه چې الله ﷻ تاسوته				
فِيْهِنَّ ۙ	وَمَا	يُتْلٰى	عَلَيْكُمْ	فِي الْكِتٰبِ
په باره د هغوئ کښې	اوهغه حکم هم دریادوی	چې لوستلې شی	په تاسو باندې	په کتاب کښې
دهغوئ باره کښې حکم درکوی	اوهغه حکمونه(درته یادوی)چې مخکښې په دې کتاب کښې			
فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ	الّٰتِيْ	لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ	مَا	كُتِبَ
په باره دیتیمانو جینکو کښې	هغه	چې نۀ ورکوئ تاسو هغوئ ته	هغه	چې فرض شوې دې
دیتیمانو جنیکوباره کښې اورولې شوی وو	کومو ته چې تاسو هغه حقونه نۀ ورکوئ کوم چه الله تعالی			
لَهُنَّ	وَتَرْغَبُوْنَ	اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ	وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ	
دپاره دهغوئ	او رغبت کوئ تاسودې کارته چې	په نکاح کړئ هغوئ	او په باره دکمزورو کښې	
دهغوی دپاره مقرر کړې دی	او تاسودهغوی سره دنکاح کولو شوق ساتئ	اوهغه حکمونه چې د کمزورو		
مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ	وَاَنْ	تَقُوْمُوْا	لِلْيَتٰمٰى	بِالْقِسْطِ ؕ
دورو هلکانو نه	اودا چې حکم کوی الله	چې قائم اوسئ	په حق دیتیمانو کښې	په انصاف سره
ماشومانو په باره کښې شوی وو	اودا خبره چې دیتیمانو کارونه په انصاف سره کوئ			
وَمَا تَفْعَلُوْا	مِنْ خَيْرٍ	فَاِنَّ اللّٰهَ	كَانَ بِهٖ	عَلِيْمًا ﴿۱۲۷﴾
چې کوئ تاسو	دنیکئ نه	نو بیشکه چې الله	دې	په هغې
اوهره نیکی چې تاسو کوئ هغه الله ﷻ ته ډیره ښه معلومه ده				

قوله تعالی:: وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ

د ایت شان نزول:- صحیح بخاری کښې دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه ددې نه مراد هغه کس دې چه د هغه پرورش کښې څوک یتیمه جینئ وی او دې د هغې ولی او وارث وی ،مال کښې ورسره شریک شوې وی ،او اوس غواړی چه دې یتیمې جینئ سره څه نکاح اوکړم ، او د دې په وجه بل ځائې کښې واده نه منع شی ،د داسې سړی باره کښې دا آیت مبارک نازل شوې دې.(۱)

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب (ویستفتونک فی النساء) : ٤٦٠٠) صحیح مسلم: ۳۰۱۸، ابوداود: ۲۰۶۸،)-

Scanned with Ca

د دې ایت نه پس د یتیمانو باره کښې د بل ایت نزول:- یو روایت کښې دی چه د دې ایت مبارک د نازلیدو نه پس کله چه بیا خلقو د حضرت نبی کریم ﷺ نه د یتمې جینئ متعلق سوال اوکړو نو الله ﷻ آیت ﴿یَسْتَفْتُوْنَكَ﴾ الخ نازل کړو. فرمائی چه دې آیت مبارک کښې چه دا فرمائیلې شوی دی چه ﴿وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ﴾ قرآنی رسم الخط ته واړوه﴾ ددې نه مراد ړومبې آیت ﴿وَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تُقْسِطُوْا فِي الْيَتٰمٰى﴾ الخ دی.

د ایت مذکوره په شان نزول کښې بل روایت:- ددوی نه دا هم منقول دی چه دیتیمې جینئ ولی او وارث چه کله د دوی مال کم اووینی یا دوی ښکلې نه وی نو بیا دوی سره نکاح نه کوی او که مال ورسره زیات وی او ښکلې هم وی نو دوی ته د نکاح رغبت کوی.لیکن دې حال کښې چه ددې جینکو به هیڅ آسره نه وه د دوی مهراوحقوقو کښې به ئې کمې کولو. نو الله تعالې دوی منع کړل چه کله تاسو دوی ته پوره مهر او پوره حقوق نه ورکوئی نو دوی سره نکاح مه کوئی.([1])

د ایت مقصد:- مقصد دادې چه داسې یتیمه جینئ چه هغې سره د هغې د ولی نکاح جائز وی نو هغه دې سره نکاح کولې شی خو په دې شرط چه دې ته به هغه شان مهر ورکوی چه کوم د دې قبیلې نورو ښځو ته ورکولې شی اوکه دا نشی ورکولې نو ده ته پکار دی چه دې سره نکاح نه کوی.ددې سورت شروع کښې د دې مضمون ړومبی آیت هم دا مطلب دې اوکله داسې هم کیږی چه دې یتیمې جینئ سره د دې ولی نکاح کوی ،اګر چه دې سره دده نکاح کول حلاله ده. خو بیاهم دې غواړی چه د دې نکاح بل چا سره هم اونکړی ځکه که داسې اوکړی نو د دې جینئ تول مال هال به دده د قبضې نه اوځی.نو د داسې غلط کار نه دې آیت کښې منع کړې شوې ده.

د ایت مذکوره د شان نزول بل روایت:داهم مروی دی چه په جاهلیت کښې دا دستور وو چه د یتمې جینئ ولی به کله دا جینئ خپل ولایت کښې اخسته نو په دې ئې یوه جامه اچوله.بیا به د چا مجال نه وو چه هغې سره به ئې نکاح کړې وې.اوکه هغه به ښائسته وه نو دې سره به ئې پخپله نکاح کوله او ددې مال به ئې هم قبضه کړو. اوکه هغه به ښکلې نه وه او مالداره په وه نو د دې نکاح به ئې بل خائې کښې نه کوله. هغه غریبه به هم دغه شان مړه شوه. او ده به د هغې مال قبضه کړو. ددې نه الله تعالی منع اوفرمائیله.

حضرت ابن عباس ﷺ نه دې سره دا هم مروی دی چه د جاهلیت خلقو به واړه هلکان او وړې او لوئې جینکئ وارثانې نه ګنړلې .دا رسم هم قران پاک ختم کړو ،او هر یو ته ئې د هغه حصه ورکړه او وې فرمائیل چه هلکان او جینکئ اګر چه واړه وی یا لوئې وی ، هغوئ ته ضرور حصه ورکوئی.خو جینئ ته نیمه او هلک ته پوره یعنی د دوٗ جینکو برابره.او د یتیمو جینکو باره کښې د انصاف حکم دې چه کله د جمال اومال والو سره تاسو پخپله نکاح کوئی نو بیا هغه یتیمانو سره هم نکاح کوئی چه په جمال او مال کښې کمې وی.

وَمَا تَفْعَلُوْا مِنْ خَيْرٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِهٖ عَلِيْمًا۝

بیا فرمائی چه یقین اوکړئی چه ستاسو د عملونو نه الله ﷻ خبر دې.نو تاسو ته پکار دی چه د خیر کارونه کوئی ، حکم منئ او د نیکې بدلې حاصلې کړئی.

وَاِنِ امْرَاَةٌ
او که چرې یوه ښځه
اوکه چرې یوه ښځه

[1]) صحیح بخاری کتاب الشرکة باب شرکة الیتیم واهل المیراث : ۲۴۹۴، صحیح مسلم: ۳۰۱۸، عن عائشه ﷺ مطولا)-

خَافَتْ	مِنْۢ بَعْلِهَا	نُشُوْزًا	اَوْ اِعْرَاضًا	فَلَا جُنَاحَ
ویریدله	دخاوند خپل نه	دبدسلوکئ دهغه نه	یا دمخ اړولو د هغه نه	نو نشته ګناه
دخاوند د بدسلوکئ یا بې پرواهئ نه ویریدله	.....	نوپه هغوی دواړو باندې هیڅ ګناه نشته چه		
عَلَيْهِمَآ	اَنْ يُّصْلِحَا	بَيْنَهُمَا	صُلْحًا ؕ	وَالصُّلْحُ
په دې دواړو باندې	چې اوکړی دواړه	په خپل منځ کښې	صلح	اوصلح
هغوئ دواړه په خپل مینځ کښې (دحقوقوپه اداکولو) کښې صلح اوکړی	اوصلح په هرکار کښې ښه ده			
وَاُحْضِرَتِ	الْاَنْفُسُ الشُّحَّ ؕ	وَاِنْ تُحْسِنُوْا	وَتَتَّقُوْا	فَاِنَّ اللّٰهَ
اوحاضر کړی شوی دی	انفسونه	حرص ته	اوکه تاسو احسان اوکړئ	اواوویریږئ
اوزړونه په لږ څه باندې زر تنګیږی	اوکه تاسوخلقو سره ښه سلوک اوکړئ	اوداللہ ﷻ نه اوویریږئ	نواللہ پاک	
بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرًا ۝	وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا	اَنْ تَعْدِلُوْا
په هغه کارونو	چې کوئ	ئې تاسو	خبردار	اوهرګزنه لرئ تاسوطاقت
ستاسودکارونونه بې خبره نه دې (خبردې نو بدله به درکړی)	او د ښځو مینځ	کښې انصاف کول		
بَيْنَ النِّسَآءِ	وَلَوْ حَرَصْتُمْ	فَلَا تَمِيْلُوْا	كُلَّ الْمَيْلِ	
په منځ دښځو کښې	اګر چه ډیر حرص اوکړئ	تاسو	نومه ګرځوئ مخ تاسو	په پوره مخ ګرځولو سره
ستاسودوس خبره نه ده	اګر که تاسو ډیراوغواړئ نو (دومره بس ده چې) یوې ښځې ته دومره مه مائله کیږئ			
فَتَذَرُوْهَا	كَالْمُعَلَّقَةِ ؕ	وَاِنْ تُصْلِحُوْا	وَتَتَّقُوْا	فَاِنَّ اللّٰهَ
چې پریږدئ	تاسو هغه	پشان دزوړندې شوې ښځې	اوکه تاسواصلاح اوکړئ	اویریدئ (داللہ نه)
چې بله په شان د زوړندې پریږدئ	اوکه تاسو ښه سلوک ساتئ	او داللہ ﷻ نه ویریږئ	نواللہ ﷻ	
غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا ۝	وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا	يُغْنِ اللّٰهُ	كُلًّا
ښښونکې	ارحم کونکې	اوکه جدا شول دواړه	نو بې پروا به کړی اللہ	هر یو
ښښونکې مهربان دې	اوکه ښځه خاوند دواړه یوبل نه جدا شی	نواللہ به پخپل قدرت سره هریودبل نه بې پرواه کړی		
وَكَانَ اللّٰهُ	وَاسِعًا	حَكِيْمًا ۝		
اودې اللہ	خاوند دفراخئ	اوصاحب د حکمت		
او اللہ ﷻ دفراخئ او دحکمت خاوند دې	.....			

قوله تعالی:: وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا نُشُوْزًا اَوْ اِعْرَاضًا

خاوند ته خپلو ډیرو بیبیانو کښې د انصاف تاکید :-اللہ ﷻ دخاوند اوښځې حالات او د دوی احکام بیانوی .کله سړي ددې نه خفه شی اوکله ورسره مینه کوی ، اوکله تري جدا شی.نو ړومبی حالت کښې کله چه ښځې ته د خپل خاوند د خفګان خیال وی او دده خوشحالولو دپاره خپل ټول حقوق یا خاص حق نه خپل خاوند ته معاف کړی. لکه خپل خوراك څکاك ورته پریږدی یا ورته د شپې حق معاف کړی نو دواړو دپاره جائز دی.بیا ددې رغبت ورکوی چه صلح بهتر ده.

Scanned with Ca

د یو روایت مطابق د ایت شان نزول:- حضرت سوده بنت زمعه رضی الله عنها چې کله چه د ډیرعمر شوه نو ورته معلومه شوه چه حضرت نبی کریم ﷺ دا جدا کوی نو وې وئیل چه څه د خپل نمبر حق حضرت عائشه رضی الله عنها ته ورکوم. نو هم په دې صلح اوشوه. اوحضرت نبی کریم ﷺ دا قبول کړه.ابو داود کښې دی چه دې باندې دا آیت مبارك نازل شو. حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی بنځه خاوند په ګومه خبره راضی وی نو هغه جائز ده.(۱)

دوی فرمائی چه د حضرت نبی کریم ﷺ د وصال په وخت کښې د حضرت نبی کریم ﷺ نهه بیبیانې وې.او په دوی کښې خضرت نبی کریم ﷺ اته نمرې تقسیم کړی وو. (۲) بخاری اومسلم کښې دی چه د حضرت سوده رضی الله عنها ورځ به هم حضرت نبی کریم ﷺ حضرت عائشه رضی الله عنها ته ورکوله.(۳) د حضرت عروه رحمه الله قول دې چه حضرت سوده رضی الله عنها ته زیات عمر کښې دا معلومه شوه چه حضرت نبی کریم ﷺ دا پریږدی نو خیال ئې اوکړو چه د حضرت نبی کریم ﷺ حضرت صدیقه رضی الله عنها سره ډیر زیات محبت دې ،که څه خپل نمبر هغې ته ورکړم نو څه پته چه حضرت نبی کریم ﷺ په دې راضی شی اوخه د حضرت نبی کریم ﷺ بیبیانو کښې ترآخره پاتې شم. (۴)

حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کوی چه حضرت نبی کریم ﷺ به خپلو بیبیانو کښې برابره درجه ساتله. عام طور حضرت نبی کریم ﷺ هره شپه خپلو بیبیانو ته راتلو خو دوی سره به ئې لاس نه ملاولو، اوآخر کښې چه به دوی کومې بی بی سره شپه تیرول غوښتل نو هلته به لاړو او هلته به ئې شپه تیره کړه. بیا ئې د حضرت سوده رضی الله عنها واقعه بیان کړه چه پورته تیره شوه ،(۵) (ابو داود).معجم ابوالعباس نه یو مرسل حدیث مبارك کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ حضرت سوده رضی الله عنها ته طلاق اولیږلو اودا حضرت عائشه رضی الله عنها سره ناسته وه. هرکله چه حضرت نبی کریم ﷺ تشریف راوړو نو وې فرمائیل په تاسو دې د الله ﷻ قسم وی چه هغه ذات تاسو باندې خپل کلام نازل کړې دې او خپل مخلوق کښې ئې تاسو خوښ او بهتر جوړ کړئی ، تاسو ماته رجوع اوکړئی ، ځما عمر زیات شوې دې ،ماته د سړی خاص خواهش نشته ،لیکن څه دا غواړم چه څه د قیامت په ورځ ستاسو بیبیانو کښې پورته شم. حضرت نبی کریم ﷺ دا منظور کړل او رجوع ئې اوکړه. بیا حضرت سوده رضی الله عنها اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ ! څه خپل نمبر اوشپه ستاسو محبوبې حضرت عائشه رضی الله عنها ته هبه کوم.

بخاری شریف کښې دی چه ددې آیت مبارك نه مراد دا دې چه یو بوډنی بنځه چه خپل خاوند ته ګوری چه هغه دې سره محبت نه ساتی بلکه دا جدا کول غواړی او دا اووائی چه څه خپل حق پریږدم خو ما مه جدا کوه. نو دا آیت دواړو ته اجازت ورکوی.(۶)هم دا صورت په هغه وخت کښې هم دی چه کله د چا دوه بنځې وی اودې سره د هغې د بدشکلئ او بوډا والی په وجه محبت نه وی او دا جدا کول ئې غواړی.اودا بنځه د څه مصلحتونو او محبت په وجه جدا کیدل نه غواړی .نو د دې حق دې چه دا خپل ټول حقوق یا بعضې حقوق معاف کړی .او خاوند دا خبره منظوره کړی اودا دې جدا نکړی.

د عمرفاروق رضی الله عنه نه په دې مسئله کښې تپوس:- ابن جریر کښې دی چه یو سړی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه نه سوال اوکړو (اودوی هغه د هغه د بې هوده خبرو په وجه) خوښ نه کړل او وې فرمائیل چه دې کورد

---

۱) ترمذی کتاب التفسیر القران باب ومن سورة النساء : ۳۰٤۰)-

۲) صحیح بخاری کتاب النکاح بآب کثرة النساء : ٥۰٦۸، صحیح مسلم: ۱٤٦٥، من طریق ابن جریج)-

۳) صحیح بخاری کتاب النکاح باب المراة تهب یومها من زوجها : ٥۱۱۲، صحیح مسلم: ۱٤٦۳)

٤) سنده حسن الی عروع وله شواهد وهو بها صحیح)-

٥) ابوداود: کتاب النکاح باب فی القسم بین النساء : ۲۱۳٥، وسنده حسن)-

٦) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النساء باب (وان امراة خافت من بعلها) : ٤٦۰۱، صحیح مسلم: ۳۰۲۱)-

Scanned with Ca

باندې اووهئ.بیا هغه د یو بل ایت باره کښې سوال اوکړو نو دوی اوفرمائیل چه اؤ دا خبرې د پوښتنې کولو دی .ددې نه داسې صورت مراد دې لکه چه د یوسړی بښځه وی او هغه بوډئی شوې وی ،اود دې اولاد نه کیږی ،ده د اولاد د خاطره یو ځوانې بښځې سره نکاح اوکړه ،بیا دا دواړه په یو ځیز باندې اتفاق اوکړی نو داجائز دی.(۱)

دعلی ﷺ نه په دې مسئله کښې تپوس:- حضرت علی ﷺ نه چه کله دا سوال اوشو نو دوی اوفرمائیل چه ددې نه مراد هغه بښځه ده چه هغه د خپل خاوند په نظر کښې د بدصورتئی ، بدخلقئ ، ګندګئ ، یا بوډوالی په وجه نښه نه وی اودهغې دا خوښه نه وی چه ددې خاوند دا پریږدی ، نو دا دې ورته خپل ټول ، نیم مهر معاف کړی .یا دې ورته خپل نمبر معاف کړی وغیره.نو داشان صلح کولې شی.(۲) د سلف امامانو نه هم دا تفسیر مروی دی.بلکه تقریبًا په دې اتفاق دې زما په خیال په دې کښې څه خلاف نشته ، والله اعلم.

دایت په شان نزول کښې بل روایت:- دمحمد بن مسلمه ﷺ لور د حضرت رافع بن خدیج ﷺ کور کښې وه. د بوډاتوب یا په څه بله وجه ددوی هغه خوښه نه وه تردې چه د طلاق ورکولو اراده ئې اوکړه. په دې هغې اووئیل چه تاسو ماته طلاق مه راکوئی ،ته چه څه غواړې نوهغه ماته منظور دی.نو دې باندې دا آیت مبارك نازل شو. (۳)

د رافع بن حدیث واقعه په بل روایت :- په دې دواړو آیتونو کښې دهغه بښځې ذکر دې. چه د هغې نه د هغې خاوند خفه وی. هغه ته پکار دی چه دې خپلې بښځې ته اووائی که ته طلاق غواړې نو چه تاته طلاق درکړم. اوکه غواړی نو دا خبره دې خوښه کړی چه د ده په کور کښې پاتې شی او د مال او د نمبر په تقسیم کښې دې ته په دویمه بښځه ترجیح ورکړی.نو اوس ده ته اختیار دې چه دویم شق منظور کړی نوشرعی طور خاوند دپاره جائز دی چه دې ته نمبر ورنکړی او چه کوم مهر وغیره هغه پریخودې دې هغه خپل ملکیت اوګڼی.د حضرت رافع بن خدیج انصاری ﷺ بښځه چه بوډئی شوه نو هغه یو ځوانې بښځې سره نکاح اوکړه او بیا ئې دې سره ډیرزیات محبت اوکړو او دې ته ئې په رومبئ بښځه ترجیح ورکړه. آخر دا تنګه شوه او طلاق ئې اوغوښتلو. بیا عدت ته نزدې ئې واپس کړو.لیکن بیا هغه حال اوشو چه ځوانې بښځې سره ئې زیات محبت وو اوهغې طرفته مائل وو. هغې بیا طلاق اوغوښتلو. دوی ورته دوباره طلاق ورکړو. بیا واپس شوه او هم دا نقشه بیا وه. بیا ورته هغې قسم اوکړو چه ماته طلاق راکړه .نو دوی ورته اوفرمائیل چه دا په دریم ځل طلاق دې که ته غواړې نو څه به ئې درکړم.اوکه غواړې نو هم دا شان اوسیږه. هغې سوچ کولو نه پس جواب کښې اووئیل چه ماته هم داشان منظور ده.نوهغه هم دا شان د خپلو حقوقو نه دستبرداره شوه او هم داشان اوسیده. (۴)

د حافظ ابن کثیر رحمه الله تبصره:- ددې جملې چه صحیح خیره ده یو مطلب دا دې چه د خاوند خپلې بښځې ته د اختیار ورکول که ته غواړې نو دا شان اوسیږه چه ستا حقوق به د بلې بښځې سره برابر نه وی اوکه ته غواړې نو طلاق واخله دا بهتردی ددې نه چه هسې بلې ته په دې ترجیح ورکړی .لیکن ددې نه نښه مطلب دا دی چه بښځه خپل حق پریږدی اوخاوند دې ته طلاق ورنکړی او خپلو کښې یو ځائې اوسیږی.د طلاق ورکولو او اخستلو نه بهتردی.لکه چه حضرت نبی کریم ﷺ پخپله حضرت سوده رضی الله عنها

---

۱) الطبری : ۱۰۶۸٤)-
۲) الطبری : ۱۰۵۸۰)-
۳) حاکم : ۳۰۸/۲)-
٤) حاکم : ۳۰۸/۲)-

Scanned with Ca

سره کړی وو چه هغه ئې خپل زوجیت کښې اوساتله او هغې خپله ورځ حضرت عائشه رضی اللہ عنہا ته هبه کړه.د حضرت نبی کریم ﷺ په دې فعل کښې هم د خپل امت دپاره یو بهترینه نمونه ده که ستاسو ورسره موافقت نه وی نو بیا هم طلاق مه ورکوئی.د الله تعالی په نیز صلح افتراق نه بهتر ده د دې وجې دلته ئې اوفرمائیل چه صلح بهتره ده.بلکه د ابن ماجه حدیث مبارك کښې دی چه الله تعالی ته په تولو څیزونو کښې د تولو نه ناخوښه څیز طلاق دې.(۱)

قوله تعالی:: وَاِنْ تُحْسِنُوْا وَتَتَّقُوْا

بیبیانو سره د احسان کولو حکم:- بیا فرمائی چه ستاسو احسان او تقوی یعنی د ښځې نه د خفګان په صورت کښې هغې ته معافی کول ، او د ناخوښئ باوجود هغې ته پوره حق ورکول ، نمبر کښې ، لین دین کښې،برابر کول،دا بهترین عمل دې او دا الله ﷻ تعالی ته ښه معلوم دې.او په دې باندې هغه ښه بدل ورکوی.

قوله تعالی:: وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ

په بیبیانو کښې د انصاف کولو حکم:- بیا ارشاد دې اګر چه تاسو غواړئ چه تاسو خپلو ډیرو بیبیانو کښې عدل او انصاف اوکړئ نو دا تاسونشئ کولئ.ځکه که تاسو نمبر مقررکړئ خو بیاهم شهوت او جماع وغیره کښې برابرې څنګه کولئ شئ ؟ ابن ملیکه فرمائی چه دا آیت مبارك د حضرت عائشه رضی اللہ عنہا باره کښې نازل شوې دې.حضرت نبی کریم ﷺ هغې سره ډیرزیات محبت کولو. په دې وجه یو حدیث مبارك کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ به صحیح طور د ښځو مینځ کښې مساوات کولو. خو بیا به ئې هم د الله تعالی نه دعا کوله چه یاالله دا هغه تقسیم دې چه ځما په وس کښې وو،اوس چه کوم څیز زما د وس نه بهر دې یعنی د زړه مینه نوما په هغه مه ملامته کوه. (۲)(ابوداود). ددې اسناد صحیح دی.لیکن امام ترمذی رحمہ اللہ فرمائی چه دا بل سند سره مرسلاً مروی دې اوزیات صحیح دې.

قوله تعالی:: فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ

یو طرف ته میلان مه کوئ:- بیا فرمائی چه بالکل یو طرفته مه کیږه چه بله زړوندې پریږدئ او هغه نه خاوند والا پاتې شی اونه بې خاونده. که تاسو د دوی نه مخ اړوئی خودا ستاسو بی بی ده. نه خو دې ته طلاق ورکوئ چه دا بل چا سره نکاح اوکړی اونه د دې حقونه پوره ادا کوئی چه کوم د ښځې او خاوند ترمینځه وی.چه د چا دوه ښځې وی بیا هغه بالکل یو طرفته وی نو د قیامت په ورځ الله تعالی ته پیش کیږی .نو دده نیم بدن به شل وی (احمد وغیره). (۳)امام ترمذی رحمہ اللہ فرمائی چه دا حدیث مبارك مرفوع طریقې سره سوا د همام د حدیث مبارك نه نشی پیژندې.

قوله تعالی:: وَاِنْ تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا

دخپل پوره کوشش باوجود بعضې تقصیر حکم: بیا فرمائی که تاسو دخپلو کارونو اصلاح کوئی او څومره چه ستاسوپه اختیار کښې وی دښځو مینځ کښې عدل اوانصاف او برابری کوئی،او هره حال کښې دالله ﷻ نه ویریږئی،نو که تاسو په څه وخت کښې یو طرفته مائل شئ،نو هغه به الله ﷻ معاف کړی.

قوله تعالی:: وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ

بیا دریم حالت بیانوی که د جوړ هیڅ صورت نه وی. نو دواړه دې جدا شی ، نو الله ﷻ به هر یو د بل بې نیازه کړی.هغې ته به ددې نه ښه خاوند او ده ته به هغې نه ښه ښځه الله تعالی ورکړی. دالله ﷻ

---

(۱) ابوداود کتاب الطلاق باب فی کراهیة الطلاق : ۲۱۷۸ وسنده ابن ماجة: ۲۰۱۸)-

(۲) ابوداود کتاب النکاح باب فی القسم بین النسا : ۲۱۳٤، وسنده صحیح ترمذی : ۱۱٤۰، نسائی : ۳۳۹۵ ابن ماجة ۱۹۷۱)-

(۳) احمد : ۲٤۷/۲، ابوداود کتاب النکاح باب القسم بین الناس : ۲۱۳۳ ترمذی : ۱۱٤۱ ابن ماجة: ۱۹٦۹)-

Scanned with Ca

فضل ډیر وسیع دي او هغه ذات ډیر لوئي احسان والا دي او دي سره سره هغه حکیم ذات دي ، ټول کارونه ، ټول تقدیرونه ، اوپوره شریعت د حکمت نه سراسر ډک دي.

وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ
اوخاص الله لره دی| هغه څه| چې په آسمانونو کښې دی
|.....او هرڅه چې په آسمانونو کښې دی
وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ
اوهغه |چې په زمکه کښې دی||اوپه تحقیق سره|هدایت کړې وؤ مونږه|هغه کسانو ته|چې ورکړې شوې وؤ کتاب
اوکه په زمکه کښې دی	ټول دالله ﷻ دی	اوستاسونه ورانديچې چاته کتاب ورکړې شوې وو
مِنْ قَبْلِكُمْ وَاِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ
مخکښې ستاسونه||او خاص تاسوته هم|ددې خبرې چې||او ویرېږئ دالله نه||اوکه چرې تاسو انکار کوئ| بیشکه
مونږ هغوئ ته هم وئیلی وو	اوتاسو ته هم وایو چې دالله ﷻ نه ویره کوئ	.....اوکه نه منئ (نومهٔ منئ
لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا
الله دپاره دی| هغه څه	چې په آسمانونو کښې دی	او هغه	چې په زمکه کښې دی| اودې الله	بې پروا
هرڅه چې په آسمانونو کښې دی اوکه په زمکه کښې دی ټول دالله ﷻ دی	اوالله ﷻ بې پرواه دې
حَمِيْدًا ۝ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ
ستایلې شوې| اوالله لره دی| هغه چې په آسمانونو کښې||اوهغه چې|په زمکه کښې دی| اوکافی دې الله
هرتعریف ئې شوې دې	اوداسمانونو او زمکې هرڅه دالله ﷻ دی	او الله د کارسازئ دپاره کافی دې
وَكِيْلًا ۝ اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ وَيَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ ؕ
کارساز	که اوغواړی هغه	نو لرې به کړی تاسو	انې خلقو	اورابه ولی	نور خلق
.....که الله ﷻ اوغواړی نو انې خلقو تاسوبه فنا کړی| او(ستاسو په ځائې) نورخلق به راولی
وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ۝ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا
او دې الله	په دې کار باندې	پوره قدرت لرونکې	هغه څوک چې وی	چې غواړی	ثواب ددنیا
اوالله ﷻ په هرڅهٔ قدرت لری| .....څوک چې (په خپل عمل سره) صرف ددنیا بدله غواړی
فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ۝ ع
نو دې دالله سره	ثواب د دنیا	اوداخرت	اودې الله	اوریدونکې	لیدونکې
نو الله ﷻ سره ددنیا بدله هم شته او داخرت هم	او الله ﷻ اوریدنکې دې اوهرڅه وینی

قوله تعالی:: وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ؕ

د الله ﷻ قدرت کامله :- الله ﷻ خبر ورکوی چه د زمکې او اسمان مالك صرف الله ﷻ دی.فرمائی چه کوم احکام تاسو ته درکولې شی چه دالله ﷻ نه ویریږئی او د هغه پاك ذات وحدانیت اومنئ او د هغه عبادت کوئی او دنورچا عبادت مه کوئی،هم دا احکام تاسونه مخکښې اهل کتابو ته ورکړې شوی وو.اوکه تاسو کفر کوئی (نود الله ﷻ به څه اوکړئی)هغه خو د زمکې اوآسمان تنها مالك دی.لکه حضرت موسی ﷺ چه خپل قوم ته وئیلی وو که تاسو او په مخ د زمکې ټول انسانان کفر اوکړی نو بیا هم الله ﷻ بې پروه او لائق د تعریف دی.اوبل ځائې کښې فرمائی چه ﴿فَكَفَرُوا وَتَوَلَّوا وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ؕ وَاللّٰهُ غَنِيٌّ حَمِيْدٌ۝﴾یعنی هغوئ کفر اوکړو او مخ ئې واړولو ، الله ﷻ د هغوی نه بې نیازه شو، اوالله ﷻ ډیر زیات بې نیاز او د تعریف لائق دی.د خپلوبندګانو نه غنی دی.او ټولو کارونو کښې ئې تعریف شوی دی. داسمان او زمکې هرڅیز مالك دی.اودهرکس ټولو عملونو باندې ګواه دی.اودهرڅیز هغه په خپله عالم او شاهد دی.هغه قادر ذات دی ، که تاسو د هغه ذات نافرمانی اوکړه نو هغه به تاسو برباد کړی اونور خلق به آباد کړی.لکه بل ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَاِنْ تَتَوَلَّوْا يَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ ۙ ثُمَّ لَا يَكُوْنُوْٓا اَمْثَالَكُمْ۝﴾ یعنی که تاسومخ واړولو نو الله ﷻ به تاسو بدل کړی اوستاسونه سوا به بل قوم راولی چه ستاسو پشان به نه وی. بعضې سلفو نه منقول دی چه په دې آیت مبارك غوراوکړئی او سوچ پرې اوکړئی چه ګناهګار بندګان دالله ﷻ په نیز څومره زیات ذلیل او خوار دی ؟ او په آیت مبارك کښې ئې دا هم فرمائیلی دی چه الله ﷻ باندې داکار مشکل نه دی.

قوله تعالی::مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ؕ

بیافرمائی چه ائې هغه کسانو چه د چا پوره قصد او پوره کوشش صرف د دنیا دپاره دی ، نو هغوئ دې پوهه شی چه د دواړو جهانونو ښیګړې صرف د الله ﷻ په قبضه کښې دی.نو کله چه د ده نه دواړه طلب کړئ نو هغه به تاسو ته دواړه درکوی ، او هغه به تاسو بې پرواه کړی او آسوده به مو کړی.

د مومنانو دعا:- اوبل ځائې ارشاد دې چه بعضې هغه خلق دی چه وائی ائې الله ﷻ !مونږ ته دنیا راکړه ، دهغوئ هیڅ حصه نشته دی په آخرت کښې.اوداسې هم شته چه دعا کوی نو وائی چه ائې الله ﷻ ! مونږ ته دنیا کښې نیکی راکړې او آخرت کښې هم نیکی راکړې او د جهنم د اور نه مو اوساتې.دا ده چه دوی ته به د دوی د عملونو پوره پوره حصه ورکولې شی.اوبل ځائې کښې ارشاد دې چه کوم کس د آخرت د پټې اراده ساتی،مونږ به د هغه پټې کښې زیاتې کوو.اویو آیت مبارك کښې دی چه ﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَآءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا۝﴾ یعنی چه کوم سړې د دنیا طلب کوی نومونږ چه چاته څه ورکوؤ نو هغه په دنیا کښې ورکوؤ.

د ابن جریر په نیز د ایت مطلب:- امام ابن جریر رحمه الله ددې آیت دا معنی بیان کړې ده چه کومو منافقانو به ددنیا تلاش کښې ایمان قبول کړې وو،نو هغوئ ته دنیاورکړې شوه یعنی مسلمانیدو سره هغوئ ته غنیمت ملاؤ شو.لیکن آخرت کښې د هغوی دپاره الله ﷻ چه کوم اور تیار کړې دې هغه به دوی ته هغه ځائې کښې ملاویږی.یعنی د جهنم اور اود هغه ځائې سخت عذاب.

نوداماام صاحب رحمه الله په نیز مذکوره آیت د آیت ﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا﴾ پشان دې.هیڅ شك نشته دې چه ددې آیت معنی خو په ظاهره هم دا ده.لیکن رومبې آیت مبارك هم دې معنی کښې اخستل غور طلب امردې.ځکه چه ددې آیت مبارك الفاظ خو صفا وائی چه د دنیا او آخرت نیکی ورکول دالله ﷻ لاس کښې دی نوهر سړی ته پکار دی چه هغه خپل تلاش په یو څیز نه خرچ کوی بلکه د دواړوڅیزونو د حاصلولو کوشش دې کوی چه څوك تاسو ته دنیا درکوی نو هغه د آخرت مالك هم دی.دا به ډیره ناراستی وی چه تاسو خپلې سترګې بندې کړئی او ډیرو ورکونکو نه لږ اوغواړئی.نه بلکه تاسو د دنیا او آخرت لوئې لوئې کارونو او بهترین کارونو حاصلولو دپاره کوشش کوئی.خپل نصب العین مو

Scanned with Ca

صرف دنیا جوړه کړي ده.اوچت همت سره او ډیر کوشش سره او دنظر په وسعت سره دا ښه ژوند تیرولو کوشش کوه.

یادداشتئی چه د دواړو جهانونو مالك صرف الله ﷻ دي.هرنفع او نقصان صرف د هغه په لاس کښې دي .هیڅوك هغه لوئي ذات سره د شراکت ګولو دپاره نشته دي .او د هغه ذات کارونو کښې مداخلت کولو والا هیڅوك نشته دي.سعادت او شقاوت هم د هغه د ذات تقسیم دي.د خزانو کنجیانې هم هغه لوئي ذات خپل لاس کښې اخستې دی .هغه هر یو مستحق ګڼړي او چه د څه هغه مستحق دي ، هغه ته رسی.تاسو لږغوراوکړئی چه تاسو ته چه د آوریدو قوت درکړې دي دهغه دآوریدوقوت به څومره زیات وی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	كُوْنُوْا	قَوّٰمِيْنَ	بِالْقِسْطِ	
ائي هغه کسانو	چې ایمان موراوړې دي	شئ	تل محکم ودریدونکی	په انصاف سره	
ائي دایمان خاوندانو په انصاف باندې قائم دائم ولاړ اوسیږئ					
شُهَدَآءَ	لِلّٰهِ	وَلَوْ عَلٰٓى	اَنْفُسِكُمْ	اَوِ الْوَالِدَيْنِ	وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ
ګواهی کونکی	خاص الله لره	اګر که وی	خلاف دنفسونو ستاسو	یاد دمور او پلار	او د خپلوانو
اوالله ﷻ دپاره ګواهئ ورکوئ	اګر که(د اګواهی) دخپلوځانونو ، دمور پلار یا خپلوانو خلاف وی				
اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا	اَوْ فَقِيْرًا	فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ۣ		فَلَا تَتَّبِعُوا	
که وی	مالدار	یا غریب	نو الله تعالی زیات خیر خواه دي د دواړو	پس مه ځئ تاسو	
که هغه مالداروی اوکه غریب	هرحال کښې الله تعالی تاسو نه زیات د هغوی خیرخواه دي نو د خپل نفس په				
الْهَوٰٓى	اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ	وَاِنْ	تَلْوٗٓا	اَوْ تُعْرِضُوْا	
په خواهشاتو پسې	چې بې انصافی اوکړئ	اوکه	تاسو واړوئ ژبې خپلې	یامخ واړوئ دربښتیاونه	
تابعداري کښې تاسو د انصاف نه منع نه شئ	چې عدل پریږدئی	اوکه تاسوژبې واړوئ	یاد ګواهئ نه ډډه اوکړئ		
فَاِنَّ اللّٰهَ	كَانَ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ	خَبِيْرًا ۝	
نو بیشکه چې الله	دي	په هغه کارونو	چې کوئ ئې تاسو	خبردار	
نوالله ﷻ ستاسود کارونونه ښه خبردي					

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ

ریښتونی ګواهی پتول جائز نه دی اګر چه د چا خلاف وی :الله ﷻ ایماندارو ته حکم ورکوی چه عدل او انصاف باندې مضبوطیا سره اوسئ.ددې نه یو انچ هم اخو دیخوا نشئ ، هسې نه چه د چا د ویرې په وجه یادچا دلالچ په وجه یا د چا د خوشامدئی په وجه یا چا په د رحم په وجه یا د چا د سفارش په وجه انصاف پریږدئی.ټول یو ځائي شئ او عدل جاری اوساتئ.یو بل سره دي معامله کښې مدد اوکړئی ، اوالله ﷻ مخلوق کښې عدالت قائم کړئ. دالله ﷻ دپاره ګواه جوړ شی.لکه څنګه چه بل ځائي کښې دی چه ﴿ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ ﴾ یعنی ګواهئ دالله ﷻ د رضا دپاره ورکړئی چه هغه بالکل صفا او ریښتونې وی.بدلون په کښې مه راولئ.اومه دا پټوئی.صفا صفا ریښتونې ګواهئ ورکوئی.اګر چه هغه پخپله ستاسو خلاف وی. تاسو د حق ګواهئ نه مخ مه اړونی.او یقین اوساتئی چه الله ﷻ د خپل اطاعت

کونکو او د غلامانو د خلاصی صورتونه راوباسی.څه په دی موقوف نه ده چه تاسو ددې نه د دروغو گواهۍ په ذریعه خلاصې حاصل کړئی.اگر چه دا ریښتونې گواهۍ د مور پلار خلاف وی ، اگر چه دا ریښتونې گواهی د رشته دارو نقصان باره کښې وی.لیکن تاسو ریښتیا بالکل مه پریږدئی .گواهۍ صفا ورکوئی.څکه چه حق په هر چا باندې حاکم دې.د گواهۍ ورکولو وخت د مالدار او غریب خیال مه ساتئ خو په غریب باندې رحم کوئی.د هغوئ مصلحتونه الله ﷻ ته ښه معلوم دی.تاسو هر صورت کښې او هر حالت کښې ریښتونې گواهۍ ورکوئی.د چا بدو کښې مه راځئ هسې نه چه پخپله درنه بد اوشی.که تاسو چاسره دښمنی کوئی یاعصبیت کوئی اوتاسو کښې دقومیت جراثیم وی نوداسی حالت تاسوته پکار دی چې عدل او انصاف نه کار واخلئ. بلکه هر حال کښې او هر وخت کښې د انصاف لمن نیسئ.لکه بل ځائې کښې دالله ﷻ فرمان دې چه ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا ۚ اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ﴾ یعنی دیو قوم دشمنی دې تاسو لره د عدل نه په خلاف کولو آماده نکړی،عدل کوئی او هم دا تقوی ته نزدې دی.

دعبدالله بن رواحه ﷺ کردار:- حضرت نبی کریم ﷺ حضرت عبدالله بن رواحه ﷺ چه کله خیبر والوته د هغوئ دپټواو باغونو اندازې لګولو دپاره اولیږلو نو هغوئ دوی ته رشوت ورکولو چه تاسو مقدار کم اوښائې.نوحضرت عبدالله بن رواحه ﷺ ورته فرمائی چه واورئی!د الله ﷻ نبی ماته د ټول مخلوق نه زیات عزیز دې او تاسو ماته د سپو او خنزیرانو نه کم یئ.نوددې باوجود چې زما د حضرت نبی کریم ﷺ سره محبت دې.او تاسوسره مې دشمنی ده دانا ممکن ده چه څه عدل پریږدم او انصاف نه لرې شم.ددې آوریدو سره هغه دهغه خلقو اووئیل چه هم دې سره خو زمکه اوآسمان قائم دی.دا پوره حدیث به د سورة مائده تفسیر کښې انشاء الله راشی.

قوله تعالی::وَإِنْ تَلْوُۥٓا۟ أَوْ تُعْرِضُوا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ﴿١٣٥﴾

بیا فرمائی که تاسو شهادت کښې تحریف اوکړو ، غلطی مو اوکړه ، دواقعې خلاف مو کار اوکړو .دیر په کمزوری آواز مو پیچیده الفاظ اوئیل ،واقعات مو کم یا زیات کړل ، یا مو څه پټ کړل یا مو څه زیات بیان کړل،نویاد ساتئ الله ﷻ غوندې خبر لرونکی مخکښې دا چال نشی چلیدې ، ددې بدله به هلته مومئ ، او ددې سزا به هلته ملاویږی.د حضرت نبی کریم ﷺ ارشاد دې چه بهترین گواه هغه دې چه د تپوس کولو نه مخکښې ریښتونې گواهی ورکړی.([1])

يَٰٓأَيُّهَا	ٱلَّذِينَ	ءَامَنُوٓا۟	ءَامِنُوا۟	بِٱللَّهِ	وَرَسُولِهِۦ
وَٱلْكِتَٰبِ	ٱلَّذِى	نَزَّلَ			
ائې هغه کسانو چې ایمان موراوړې دې|ایمان راوړئ| په الله| اودهغه په رسول |اوپه کتاب هغه باندې|چې نازل کړې دې الله					
ائې د ایمان خاوندانو په الله ﷻ (په ریښتیا او په اخلاص سره) ایمان راوړئ| اودهغه په رسول هم او په هغه کتاب چې					
عَلَىٰ	رَسُولِهِۦ	وَٱلْكِتَٰبِ	ٱلَّذِىٓ	أَنزَلَ	مِن قَبْلُ ۚ
په رسول خپل باندې	او په هغه کتاب باندې	چې په یوخل نازل کړې دې الله	مخکښې		
پخپل رسول نې نازل کړې دې	اوپه هغه کتاب چې ددې نه وړاندې نازل شوې دې				
وَمَن	يَكْفُرْ	بِٱللَّهِ	وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ	وَكُتُبِهِۦ	
او هغه څوک	چې انکار نې اوکړو	دالله نه	اودفرښتو دهغه نه	او دکتابونو دهغه نه	
اوچا چې دالله ﷻ (دوحدانیت) نه .....اودالله ﷻ د فرښتو نه ..... او دکتابونونه					

([1]) صحیح مسلم کتاب اقضیة باب بیان خیر الشهود : ۱۷۱۹.

وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا ۝
اودرسولانو دهغه نه	اودورځ داخرت نه	نو په تحقیق سره	ګمراهه شو	په ګمراهئ	لرې سره
اود الله ﷻ دپیغمبرانو نه او داخرت نه انکار اوکړو	نوهغه په ګمراهئ کښې ډیرلرې لاړدې

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ

مسلمان چې ایماندار دې هغه ته دایمان راوړلو مطلب:- ایمان والوته حکم کیږی چه ایمان کښې پوره پوره داخل شئ.ټول احکام ، ټول شریعت لره دایمان جزئیات اومنئ.دا خیال دې ستاسونه وی چه خه تحصیل حاصل دې نه. بلکه تکمیل کامل دې.چه ایمان مو راوړې دې نو اوس په دې قائم اوسئ.که الله تعالی منئ نو ځنګه چه هغه تاسوته وائی نوهغه شان ئې اومنئ.هم دا مطلب دې دهر مسلمان ددې دعا چه مونږ ته د صراط مستقیم هدایت اوکړه. یعنی مونږ په هدایت لره ثابت قدم او مدام اوساته.په دې کښې مونږ مضبوط کړه او مونږ ته په کښې زایاتوالې راکړه. داشان دلته هم مومنانو ته په خپل ذات اقدس اوپه رسول الله ﷺ باندې دایمان راوړلو وائی.او آیت مبارک کښې ایماندارو ته خطاب دې او فرمائی چه دالله تعالی نه ویریږئ او په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړئ.

د نزل او انزل مصداق:- د ړومبی کتاب نه مراد قران پاک دې.او ددې نه مخکښې کتاب نه مراد ټول نبیانو باندې چه کوم کتابونه نازل شوی دی .هغه دی.د قران دپاره لفظ ﴿ نزل ﴾ استعمال شوې دې.او د نورو کتابونودپاره ﴿ انزل ﴾ځکه چه قران پاک په مزه مزه وخت په وخت لږ لږ نازل شو او باقی پوره یو ځل باندې نازل شوی دی.

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًۢا بَعِيْدًا ۝

بیافرمائی چه کوم سړې په الله تعالی باندې د هغه په فرښتوباندې، دهغه په کتابونو باندې ، دهغه په رسولانوباندې،په آخرت باندې کفر اوکړی هغه هدایت نه لرې شو.او ډیرلرې پریوتلو. په ګمراهئ کښې د یو نه بل طرفته لاړو.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا
بیشکه هغه کسان	چې ایمان ئې راوړو	بیا ئې	کفر اوکړو	بیائې ایمان راوړو	بیا ئې کفر اوکړو
بیشکه چا چې ایمان راوړو	بیامنکر شو	بیا ئې ایمان راوړو	او بیا منکر شو
ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ
بیا زیات شول	په کفر کښې	نه دې	الله	چې اوبښی	هغوئ	اونه چې	اوښائ هغوئ ته
او بیا ئې په انکار کولو کښې زیاتې اوکړو	نو الله به هغوئ هیڅ کله اونه بښی	اونه به هغوئ ته
سَبِيْلًا ۝ بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمَا ۝ الَّذِيْنَ
نیغه لار	زیرې ورکړه منافقانو ته	چې بیشکه دې	دهغوئ دپاره	عذاب	دردناک	هغه منافقان
سمه لار اوښائی	دې منافقانو ته خبرورکړه چې د دوئ دپاره دردناک عذاب مقرر دې	هغه کسان
يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ اَيَبْتَغُوْنَ
چې نیسی	کافران	دوستان	سوا د مومنانو نه	آیا طلبوی
چې د مسلمانانو نه سوا کافران دوستان جوړوی	.....	آیا دوئ د کافرانو نه

Scanned with Ca

عِنْدَهُمُ	الْعِزَّةَ	فَإِنَّ	الْعِزَّةَ	لِلّٰهِ	جَمِيعًا ﴿۱۳۹﴾	وَقَدْ
ددې کافرانو سره	عزت	نوبیشکه	عزت	خاص الله لره دې	ټول	اوپه تحقیق سره
عزت غواړي	.....خوبیشکه هرقسم عزت ذالله ﷻ سره دې	او یقینا				

نَزَّلَ	عَلَيْكُمْ	فِي الْكِتٰبِ	أَنْ	إِذَا	سَمِعْتُمْ	اٰيٰتِ اللّٰهِ
نازل کړې دې	په تاسو باندې	په دې کتاب کښې	دا حکم	چې کله	واورئ تاسو	آیتونه دالله
الله تعالی په تاسو باندې کتاب (قرآن) کښې دا حکم نازل کړې دې چې کله واورئ چې د الله ﷻ آیتونو						

يُكْفَرُ	بِهَا	وَيُسْتَهْزَأُ	بِهَا	فَلَا تَقْعُدُوا	مَعَهُمْ	
چې انکار کولې شی	د هغې نه	اوټوقې کیږی	په هغې پورې	نومهٔ کینئ تاسو	دهغوئ سره	
نه انکار کولې شی	..... او ورپورې ټوقې کولې شی				.....نوهغوئ سره مهٔ کینئ	

حَتّٰى	يَخُوضُوا	فِي حَدِيثٍ	غَيْرِهٖ	إِنَّكُمْ	
تردې پورې	چې مشغول شی هغوئ	په داسې خبره کښې	چې بدله وی دهغې نه	بیشکه تاسو	
ترڅوچې هغوئ په بله خبره کښې مشغول نشی	که تاسو داسې اوکړو (یعنی په قرآن پورې د ټوقو کولو				

إِذًا	مِّثْلُهُمْ	إِنَّ اللّٰهَ	جَامِعُ	الْمُنٰفِقِيْنَ
په دغه وخت کښې	پشان دهغوئ یئ	بیشکه الله	یوځائې جمع کونکې دې	منافقانولره
باوجود هم په هغه مجلس کښې ناست پاتې شوې نودهغوئ په شان به شئ	بیشکه الله ﷻ به منافقان			

وَالْكٰفِرِيْنَ	فِي جَهَنَّمَ	جَمِيعًا ﴿۱۴۰﴾	
او کافرانو لره	په دوزخ کښې	په جمع سره	
اوکافران ټول په دوزخ کښې راجمع کړی			

قوله تعالی:: إِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا

کافرو سره موالاتو کښې عزت نشته دکفناه مجلس کښې کنیاستل هم کفناه ده :- ارشاد دې چه څوک ایمان راوړی اوبیا مرتدشی ،بیا مومن شی او بیا کافر شی ، بیا په خپل کفر باندې کلك ولاړ وی او هم په دې حالت کښې مړ شی نو نه خو دده توبه قبلیږی او نه دده د بښنې څه امکان شته.او نه دده خلاصې شته او نه به دې کامیاب شی او نه به الله ﷻ دې اوبښی او نه به دې نیغې لارې ته راولی.علی ﷺ چه به ددې آیت مبارك تلاوت اوکړو.نو فرمائیل به ئې چه مرتدته دې دری خل اووئیلې شی چه توبه اوباسه

قوله تعالی:: الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ

بیا فرمائی چه دا د منافقانو حال دې چه ددوئ په زړونو باندې مهر لګولې شی، بیا دوی مومنان پریږدی او کافرو سره دوستانه کوی.یو طرفته په ظاهره مومنانوسره ملاؤ وی او بل طرفته کافرو سره کینی او مومنانو پورې خندا ګانې کوی.او وائی چه مونږ هغوئ (مسلمانانو) نه بې قوف جوړ کړی دی، اصل کښې مونږ تاسو سره یو.نوالله ﷻ د دوی اصلی مقصد دوی ته پیش کوی او د دوی ناکامی بیان فرمائی چه تاسو غواړئی چه دوی سره ستاسو عزت وی،دوی تاسوته دهوکه درکوی ، اوتاسو غلطی کښې اخته ئې.واورئی د عزتونو مالك صرف الله ﷻ دې ، هغه وحده لاشریك دې ، هغه ذات چه چاته

Scanned with Ca

غواړی نو عزت ورکوی.او یو آیت مبارک کښې دی چه ﴿مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعِزَّةَ﴾ او فرمائی چه ﴿فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ﴾ یعنی عزت الله ﷻ سره دې او دهغه د رسول ﷺ او دمومنانو سره لیکن دا منافقان خلق نه پوهیږی. مقصد دا دې چه حقیقی عزت غواړئ نو د الله تعالی نیکو بندګانو سره یو ځائې شئ او د هغه عبادت طرفته راشئ او د هغه پاك ذات نه د عزت غوښتونکی جوړ شئ.دنیا او آخرت کښې به هغه تاسو ته عزتمند جوړ کړی.

مسند احمد کښې د امام احمدبن حنبل رحمه الله دا حدیث په دې ځائې کښې د یاد ساتلو دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم کس د غرور او فخریه طور خپل عزت ظاهرولو دپاره خپل نسب خپل کافر پلار نیکه سره وی او نهوپوری اورسی نو هغه به هم هغوئ سره لسم جهنمی دې.(۱)

قوله تعالی::وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ

دګناه په مجلس کښې کیناستل ګناه ده:- بیا فرمان دې چه هر کله تاسو منع کړې شوئی چه په کوم مجلس کښې دالله ﷻ د آیتونونه انکار کولې شی او هغوئ پورې خنداګانې کولې شی نو په هغې کښې مه کینئ ، بیا هم که تاسو داسې مجلسونوکښې کینئ نو یاد ساتئ چه ځما په نیز به تاسوهم د هغه سره شمیرلې شئ.تاسو به هم د هغوئ په ګناهونو کښې شریك یئ.لکه یو بل حدیث مبارك کښې دی چه په کوم دسترخوان شراب نوشی کیږی نو په دې یو داسې سړی ته کیناستل نه دی پکار چه هغه په الله ﷻ او په ورځ د قیامت ایمان لری.(۲) دې آیت مبارك کښې چه دکوم ممانعت ذکر دې هغه د سورة انعام مکی ، دا آیت دې چه ﴿وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ یعنی هرکله چه تاسو دوی اوګورئی چه ځما په آیتونو کښې غوټې لګولو دپاره کینی نو دوی نه مخ واړوه.

د پورتنی ایت د نسخې قول:- حضرت مقاتل بن حیان رحمه الله فرمانی چه ددې آیت حکم ﴿اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ﴾ دالله ﷻ ددې فرمان ﴿وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ﴾ سره منسوخ شوې دې.یعنی متقیانو باندې د دوی د حساب هیڅ بوج نشته دې.لیکن نصیحت دې.څه تعجب دې چه دوی بچ شی.

قوله تعالی::اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا

منافقان به کافرانو سره یوځائې په جهنم کښې وی:- بیا دالله ﷻ فرمان دې چه الله ﷻ ټول منافقان او ټول کافران جهنم کښې داخلونکې دې یعنی څنګه چه دا منافقان د دی کافرو په کفر کښې دلته شریك دی دقیامت په ورځ به دوی جهنم کښې همیشه دپاره اودهغه ځائې سختو عذابونو کښې ورسره هم شریک وی.د هغه ځائې سزاګانو او قیدوبند کښې ،طوق اوځنزیرونوکښې ، دګرمواو ترخو اوبو څکلو کښې اودپیپ او وینو څکلو کښې به هم دوی سره شریک وی ، او د دائمی سزا اعلان به ټولو ته اورولې شی.

الَّذِيْنَ	يَتَرَبَّصُوْنَ
هغه منافقان	چې انتظارکوی
دوئ ستاسوپه باره کښې (په تاسو) د(بدو) حالاتو انتظار کوی	

(۱) احمد :۱۳٤/٤)-

(۲) ترمذی کتاب الادب باب ماجاء فی دخول الحمام : ۲۸۰۱)-

Scanned with Ca

بِكُمْ ۚ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ قَالُوْٓا اَلَمْ نَكُنْ

په باره ستاسو کښې | نوکه چرې وه | تاسولره | فتح | دطرفه دالله نه | نو وایئ | آیانه وؤ مونږ

.....که تاسو ته الله ﷻ (په دشمن) کامیابی درکړی | نودوئ به (تاسو) ته وایئ چې آیا مونږ

مَّعَكُمْ ۖ وَإِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ۙ قَالُوْٓا اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ

تاسو سره | اوکه چرې وی | کافرانو لره | څه حصه | نو وایئ | آیا نه وو قادر شوی مونږ

تاسو سره ملګری نه وو څه؟ | اوکه کافر غالب شی | نو(هغوی ته) وائی چې آیا مونږ په تاسو غالب کیدونکی نه وو؟

عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ

په تاسو | او بچ کړې مونږ نه وئ تاسو | دمومنانو نه | نو الله | به فیصله کوی

خو سره د دې مونږ تاسو دمسلمانانو نه بچ کړئ | او الله ﷻ به د قیامت په ورځ ستاسو په مینځ کښې فیصله کوی

بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۭ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ

په منځ ستاسو کښې | په ورځ دقیامت | اوهرګز نه ده | ګرځولې الله | دپاره دکافرانو

..... | اوهیڅرې به الله ﷻ کافرانو ته د مسلمانانو په مقابله کښې .....

عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ۝

په مومنانو باندې | لاره دغلبې

غلبه ورنکړی | .....

قوله تعالی:: اَلَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ۚ

د منافق مونځ او دمنافق مثال:- دمنافقانو باطنی ذکر دې چه د مسلمانانو د بربادئ او د پستئ په تلاش کښې دی.موقع ګوری،کله چه یو جهادکښې مسلمانان کامیاب شئ او د الله ﷻ مدد سره په دوی غالب شی نوددوی ملګرتیا کولو دپاره راشی او وائی چه مونږ هم ستاسوملګری یو. او کله که الله ﷻ د مسلمانانو د آزمینبت دپاره دوی مغلوب کړی لکه چه په احد کښې شوی وو ، اګر چه انجام کښې حق غالب شو ، نو دوی هغوئ ورځی او وائی چه پټ په پټه خو مونږ ستاسومرسته کوو.او هغوی (مسلمانانو)ته نقصان رسوو. دا ځمونږ چالاکی ده چه ددې په وجه تاسو غالب شوئی.دا د دوی کارونه دی چه په دوؤ کشتو باندې پښې ایږدی.دوی نه د دین شو اونه د سادین.دوی خپل مکر خپل خان دپاره د فخر باعث ګنړی.خو دا ددوی د بې ایمانئ او کم یقینئ دلیل دې.ددوی دا کچه رنګ به ترکومې پورې وی.ترکومې به تش ډهولونه غږوی ؟ د کاغذ کشتئ به ترکومې روانه وی ؟ وخت به راشی چه دوی به خپلو کړو باندې پښیمانه شی.په خپل بې وقوف توب به لاسونه مروړی.په خپلو کرتوتونو باندې به اوښکې تویوی.کله چه دالله ﷻ ریښتونې فیصله واوری نو دوی به ناامیده شی.ددی رازونه به ښکاره شی او پټ به نې هم ښکاره شی ، چه د دوی دننه زړه کښې څه دی هغه به بهر راوځی .ددوی داپالیسی اوحکمت عملی او مصلحت او اقتضائې موقع به زر ترزره د ویرې په صورت کښې مخکښې راشی .اودوی به د عالم الغیب په بې پناه عذابونو کښې راګیر شی.ناممکن ده چه کافرانو ته به الله ﷻ په مسلمانانو لار ورکړی.

Scanned with Ca

دعلی ﷺ په قول کښې د سبیلا مطلب:- حضرت علی ﷺ نه یوسړی ددې د مطلب تپوس اوکړو نو دوی اولنۍ جملې سره یو ځائې اولوستلو. مطلب دا وو چه د قیامت په ورځ به داسې نه وی.

د سبیل دریم مفهوم:- داهم مروی دی چه د سبیل نه مراد خبثت دې.خوددې ظاهری معنی اخستو کښې هم څه مانع نشته دې .یعنی دا ممکن نه ده چه الله ﷻ اوس دوی ته ترقیامت پورې یو داسې صورت جوړ کړی .چه کافر دومره غلبه حاصله کړی چه مسلمانان بالکل ختم شی،دا بله خبره ده چه دوی ته د دنیاپه لحاظ سره په څه وخت کښې کامیابی حاصله شی.خو انجام به دمسلمانانو بهتر وی .دنیا کښې هم او آخرت کښې هم.

دالله مدد د مسلمانانو سره دې:- دالله ﷻ فرمان دې چه ﴿اِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ یعنی مونږ د خپلورسولانتواوایماندارو مدد په دنیا کښې ضرور کوو. او ددې په معنی کښې یو لطافت داهم دې چه منافقانو ته د مسلمانانو د ذلت او ددوی د بربادئی انتظار وو،نودوی مایوسه کړې شو چه الله تعالی به هیڅ کله هم کافران په مسلمانانو غالب نکړی .تاسو مه خوشحالیږئ.هغوی چه دکومې ویرې د مسلمانانو سره ملګرتیا نه کوله هغه ویره ئې هم زائله کړه. چه تاسودا اونه ګنړئ چه ګنې مسلمانان به ختم شی.

د ایت استدلال:- هم ددې مطلب وضاحت آیت ﴿ فَتَرَى الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ﴾ کښې شوې دې.ددې آیت کریمه نه حضرات علماء کرامو په دې خبره استدلال کړې دې چه مسلمان غلام په کافر خرڅول جائز نه دی.ځکه چه په دې صورت کښې یو کافر ته په یو مسلمان غالب کول دی او په دې کښې د مسلمان ذلت دې.چه کومو بعضې ذی علم دا سودا جائز کړې ده. هغوئ ددې حکم کوی چې دا دې دخپل ملکیت نه آزاد کړی.

اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ	يُخٰدِعُوْنَ	اللّٰهَ	وَهُوَ	خَادِعُهُمْ ۚ	وَاِذَا	قَامُوْٓا	اِلَى الصَّلٰوةِ
بیشکه منافقان	دهوکه کوی	دالله سره	حالانکه هغه	دامنافقان الله ﷻ سره دهوکه کوی	(حال دا چې په حقیقت کښې) دوئ		
قَامُوْا	كُسَالٰى ۙ	يُرَآءُوْنَ	النَّاسَ	وَلَا يَذْكُرُوْنَ	اللّٰهَ	اِلَّا	قَلِيْلًا ﴿۱۴۲﴾
ګټکه ورکوونکې دې هغوی ته	اوهرکله چې	اودریږی دوئ	مانځه ته	نواودریږی دوئ	سست		
الله په دهوکه کښې غورزولی دی	.....	اوکله چې مونځ ته اودریږی	نو سست	اودریږی			
مُّذَبْذَبِيْنَ	بَيْنَ ذٰلِكَ ۗ	لَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ	وَلَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ	وَمَنْ	يُّضْلِلِ	اللّٰهُ	فَلَنْ تَجِدَ
خودنه کوی دوئ	خلقو ته	اونۀ یادوی دوئ	الله لره	مکر	لږ	حال داچې حیران پریشان دی	
خلقو ته ځان ښائی	اوډیر کم خلق الله یادوی	دوی دکفر	اواسلام په مینځ کښې دی				
لَهٗ	سَبِيْلًا ﴿۱۴۳﴾						
چې بې لاری کړی هغه لره	الله	نوتۀ هرګز نه شې موندلې	دپاره دهغه	لاره			
الله ﷻ بې لاری کړی	د هغوئ دپاره	به تۀ هیڅ کله سمه اونۀ مومې					

Scanned with Ca

قوله تعالی:: ﴿إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ خَادِعُهُمْ﴾

منافقان الله سره دهوکه نشی کولې:- د سورة بقرة په شروع کښې هم آیت ﴿يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ﴾ په دې مضمون تیر شوې دي.دلته هم دا بیان کیږي چه دا ناپوهه منافقان د خپل رب په مخکښې چالونه چلوی. چه څه ددوی په سینوکښې پټې خبرې دی او زړه کښې ئې پټ رازونه دی د هغې نه الله ﷻ ښه خبر دي .کم فهمۍ کښې پراته دی چه څنګه په دنیاکښې ددوی چال چلیدو او خپل ځان ئې مسلمانانو کښې ګرځولو ،نو دغه شان به الله تعالی سره هم د دوی مکرفریب چلیږی.نو قران پاك کښې دی چه د قیامت په ورځ به داخلق هم الله ﷻ ته د خپل یو رنګۍ قسمونه خوری لکه څنګه چه دلته خوری ، لیکن د هغه عالم الغیب په مخکښې داهرڅه نا کاره او کارآمد نه دی.الله تعالی هم دوی په دهوکه کښې ساتلی دی.هغه ذات دوی ته مهلت ورکوی ، ددوی کبر زیاتوی ، دوی ښه خوشحاله دی ، او خپل ځان دپاره دانبه ګڼړی.دقیامت په ورځ به د دوی هم دا حال وی چه مسلمانان به نور کښې روان وی او دوی به وړته آوازونه کوی چه صبر اوکړئی مونږ هم درسره ځو. جواب کښې به ورته اوونیلې شی چه (دنیا ته) واپس شئ او (هلته په دنیا کښې د ایمان) رنړا تلاش کړئی او هغه راوړئی.دوی به واپس شی او په (د مسلمانانو او منافقانو په) مینځ کښې به پرده راشی. مسلمانانو طرفته به رحمت وی او دوی طرفته به عذاب وی.حدیث مبارك کښې دی چه څوک بیانوی یعنی د چا عیب بیانوی نو الله ﷻ به هم هغه ته وائی یعنی دهغه عیب به بیانوی. او چه څوك ریاکاری کوی نوالله ﷻ به هم هغه ته بنائی.(۱)

دمنافقانو انجام:- او حدیث مبارك کښې دی چه په دې منافقانوکښې به هغه خلق هم وی چه په ظاهره به الله تعالی ددوی باره کښې اووائی چه دوی جنت ته داخل کړئی خو فربنتې به دوی دوزخ ته داخل کړی.الله ﷻ دې مونږ خپله پناه کښې اوساتی .

قوله تعالی:: ﴿وَإِذَا قَامُوْٓا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى﴾

د منافقانو د مونځ کیفیت:- بیا ددې منافقانو د بدذوقۍ بیان کیږی چه د مونځ په شان بهترین عبادت کښې هم د دوی نصیب نشته دې.ځکه چه دوی کښې نیك نیتی ، حسن عمل ، حقیقی ایمان ، او ریښتونې یقین نشته.حضرت ابن عباس ﷺ ستړی شوی بدن مونځ ادا کیدو ته مکروه وئیل او هغوئ به فرمائیل چه پکار دی چه مونځ ښه په ذوق و شوق ، او رضا او خوشحالئ او پوره رغبت ،او انتهائی توجو سره مونځ ته اودریږی او دا یقین دې ساتی چه دده آواز الله ﷻ آوری.دده طلب پوره کولو ته تیار دې.داخو شو د هغه منافقانو ظاهری حالت چه ستړی او تنګ زړه سره هسې وخت تیرولو دپاره مونځ ته راځی .خو د دوی اندرونی حالت دادې چه د اخلاص نه په میلونو لرې دی.د دوی رب سره هیڅ تعلق نشته.ددې شهرت دپاره چه دوی ته خلق مونځګزار اووائی او د دوی ایمان ظاهرشی ، دوی مونځ په دې وجه کوی .دې خلقوته به څه ملاوٌ شی چه ددوی په زړونوکښې د بتانو مینه ده ؟ همدا وجه ده چه په هغه مونځونوکښې چې په کومو کښې به دوئ یوبل کم لیدل دوئ به هغې کښې غیر حاضر وو.لکه دسحر او ماسختن مونځ کښې .

په منافقانو باندې ګران مونځ :- بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه تولو نه زیات ګران مونځ په منافقانو دماسختن او سحر دې.که دا خلق ﷺ د زړه نه ددې مونځونو د فضیلت قائل وې نو ډیر لرې نه به راتلل او ضرور به راتلل.ځما خو اراده کیږی چه تکبیر اووایم او بل څوك په خپل ځائې امامت دپاره مقررکړم او مونځ پرې شروع کړم اوځه خلقو نه لرګی واخلم اود هغه خلقو

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الرقاق باب الریاء والسمعة : ٦٤٩٩، صحیح مسلم: ۲۹۸۷)-

کورونو ته لارشم چه کوم خلق جمع کښې نه شاملیږی او لرګی ددې خلقو د کورونو نه ګیر چاپیره واچوم او حکم اوکړم چه د دوی کورونه اوسوزوئی.(۱)

دماشومانو په وجه د کورونو سزولو نه منع ګیدل:- یو روایت کښې دی چه په الله قسم که دوی ته ددې خبرې امید وی چې مونږ ته به ډیر هډوکی یا دوه ښکرونه ملاوشی نو دوی به په منډه راتلل.خو دوی سره دالله ﷻ د ثوابونو هیڅ قدر نشته.(۲)که ماته د ماشومانواو ښځو خیال نه وې نو ما به ددوی کورونه سوزولې وې.(۳)

د الله تعالی اهانت کونکې مونځکذار:- ابویعلی کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه کوم سړې د خلقو موجودګئ کښې مونځ ښه طریقې سره کوی خو کله چه څوک نه وی نو مونځ ښه طریقې سره نه کوی.دا هغه خلق دی چه دوی د خپل رب اهانت اوکړو.(۴)

وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا

ډیر کم الله یادوی:- بیا فرمائی چه دا خلق د الله ﷻ ذکر هم ډیر کم کوی.یعنی مونځ کښې د دوی زړه نه لږی.دوی چه څه وائی نوپه هغې نه پوهیږی.بلکه غافله زړه او بې پرواه نفس سره مونځ کوی.حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه دا دمنافقانو مونځ دې .دا دمنافقانو مونځ دې.دا دمنافقانومونځ دې چه ناست دې او نمر طرفته ګوری تردې چه کله هغه ډوبیږی نو شیطان خپل دواړه ښکرې دده ګیر چاپیره کړې .او زر زر څلور رکعته اوکړی.اوپه هغې کښې دالله ﷻ ذکر برائې نام کوی (مسلم وغیره)

قوله تعالی:: مُذَبْذَبِينَ بَيْنَ ذَٰلِكَ لَا إِلَىٰ هَٰؤُلَاءِ وَلَا إِلَىٰ هَٰؤُلَاءِ

دمنافقانو تذبذب:- دامنافقان حیران او پریشان دی.د ایمان او کفر په مینځ کښې ددوی زړه مضطرب دی.نه په صفا زړه مسلمانانو سره دی او نه کافرو سره.کله ددوی په زړونوکښې د اسلام نور اوپرقیږی او کله په دوی د کفر تیرې راشی او دوی دایمان نه یو طرفته شی. نه خو د حضرت نبی کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ طرفته دی اونه یهودیانو طرفته.حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه د منافق مثال داسې دی لکه د دوۀ رمو مینځ کښې د چیلئ ، کله هلته چغې وهلی بئ بئ کوی یعنی چغې وهی او دې رمې طرفته زی او کله بل طرفته..دوی لا دا فیصله نه ده کړې چه دوی سره لاړ شو اوکه هغوئ سره.(۵)یو روایت کښې دی چه ددې پشان یو حدیث د حضرت عبید بن عمیر ﷺ دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ مخکښې بیان کړو خو په هغې څه الفاظ کم زیات وو.نوحضرت عبدالله ﷺ خپل آوریدلی الفاظ دوباره اوئیل چه نه داسې نه ده ،بلکه اصل حدیث داسې دی. اوپه دې حضرت عبید ﷺ خفه شو (ممکن دی چه یوبزرګ یو شان او بل شان الفاظ آوریدلی وی).(۶)

دمومن ،کافراومنافق مثال:- ابن ابی حاتم کښې دی چه د مومن ،کافر او منافق مثال د هغه درې کسانو په شان دی چه یو دریاب ته لاړل .اویو خو ددې په غاړه ولاړ پاتې شو ، دویم منزل مقصودته اورسیدو ، او دریم چه کله مینځ ته اورسیدو نو یو طرفته او بل طرفته ده ته خلقو آوازونه شروع کړل چه چرته د هلاکیدو دپاره لاړې ، واپس شه ، بل طرف والو ورته آواز ورکړو چه راشه ځما په شان او منزل مقصود

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الاذان باب وجوب صلاة الجماعة :٦٤٤، صحیح مسلم: ٦٥١)-

(۲) احمد: ٣٦٧/٢)-

(۳) مسند ابی یعلی : ٥١١٧)-

(۴) صحیح مسلم کتاب المساجد باب استحباب التکبیر بالعصر : ٦٢٢)-

(۵) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین : ٢٧٨٤)-

(۶) احمد : ٣٢/٢،)-

Scanned with Ca

ته اورسه ، نیمه لار دې وهلې ده. اوس حیران شوې کله یو طرفته ګوری او کله بل طرفته.تذبذب کښې ولاړ وی چه چرته لاړشم او چرته نه ؟ په دې کښې یو زبردسته چپه راغله او دې ئې یوړو او غوټو وهلووهلو سره مړ شو. نو کوم چه دریاب نه پوري وتل هغه مسلمان دې.او په غاړه ولاړ کافر دې.او چپوکښې ډوبیدونکوې منافق دې.

دمنافق بل مثال:- اوحدیث مبارك کښې دی چه دمنافق مثال دهغه چیلئ په شان دې چه په یو غونډئ ئې چیلئ اولیدې چه شنوشنو وخوکښې څریږی.دا ورته هم نزدې ورشی او هسې هغه وانبه بوئی کړی او واپس لاړه شی.اوبیا بلې غونډئی ته لاړه شی.(۱)

قوله تعالی:: وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ۝

بیا فرمائی چه څوک الله ﷻ د حق لارې نه بې لارې کړی نو د هغه ولی مرشد څوك نشی کیدې ؟ هغه ذات چه څوك ګمراه کړی نوهغوئ ته به لار څوك ښائی ؟ الله ﷻ دا منافقان د دوی د بدترین عمل په وجه د سمې لارې نه بې لارې کړی دی.او اوس نه څوك دوی په سمه لار راوستې شی او نه دوی ته خلاصې ورکولې شی.دالله ﷻ دمرضئ نه خلاف څوك کولې شی.هغه په ټولو حاکم دې.په هغه د هیڅا حکومت نشته دې .

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا	لَا تَتَّخِذُوا	الْكٰفِرِيْنَ	اَوْلِيَآءَ	مِنْ دُوْنِ
ائې هغه کسانو چې ایمان موراوړې دې	مهٔ نیسئ	کافران	دوستان	په ځائې
ائې دایمان خاوندانو تاسود مسلمانانو نه سوا د کافرو سره دوستانه مهٔ کوئ				
الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ اَتُرِيْدُوْنَ	اَنْ تَجْعَلُوْا	لِلّٰهِ	عَلَيْكُمْ	سُلْطٰنًا
د مومنانو	آیا تاسو غواړئ	دا خبره چې اوګرځوئ	الله لره	په ځان خپل	حجت
بلکه صرف مسلمانان سره دوستی کوئ	آیا تاسود	غواړئ چې دخپل ځان خلاف د الدله ﷻ			
مُّبِيْنًا ۝	اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ	فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ	مِنَ النَّارِ ۚ	وَلَنْ
ښکاره	بیشکه منافقان به وی	په درجه لاندې کښې دی	د اور	اوهرګز به او نهٔ
ښکاره دلیل قائم کړئ	دایقین اوساتئ چې منافقان به ددوزخ په لاندې درجه کښې پراتهٔ وی			
تَجِدَ	لَهُمْ	نَصِيْرًا ۝	اِلَّا الَّذِيْنَ	تَابُوْا	وَاَصْلَحُوْا
مومې تهٔ	دپاره دهغوئ	مددګار	مګر هغه کسان	چې توبه اوباسی	اواصلاح اوکړی دعمل خپل
اوتهٔ به هیڅوک ددوئ مددګار او نهٔ مومې	البته څوک چې توبه اوباسی او خپله اصلاح اوکړی				
وَاعْتَصَمُوْا	بِاللّٰهِ	وَاَخْلَصُوْا	دِيْنَهُمْ	لِلّٰهِ	فَاُولٰٓئِكَ
اومنګلې ځنبې کړی	په دین دالله	اوخالص کړی	دین خپل	الله لره	نودغه خلق
اودالله ﷻ دین مضبوطیاسره اونیسی	اوخپل دین خالص دالله دپاره کړی	نودغه کسان			

(۱) الطبری : ۱۰۷۳۷)-

مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ	وَسَوْفَ	يُؤْتِ	اللّٰهُ	الْمُؤْمِنِيْنَ	اَجْرًا	عَظِيْمًا ۝
مومنانو سره دی	او زر به	ورکړی	الله	مومنانوته	بدله	لویه
به مومنانوسره ملګری وی	اومومنانو ته به الله ﷻ دیرلوئ اجر ورکړی					

مَا يَفْعَلُ	اللّٰهُ	بِعَذَابِكُمْ	اِنْ شَكَرْتُمْ	وَاٰمَنْتُمْ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ	
څه کوی	الله	په عذاب ستاسو	که شکراوباسئ تاسو	اوایمان راوړئ	اودئ الله	
الله ﷻ تاسونه په عذاب درکولو څه کوی	خو که تاسو شکر اوباسئ اوایمان راوړئ	اوالله تعالی				

شَاكِرًا	عَلِيْمًا ۝
قدردان	پوهه
دیرقدردان او په هرڅه پوهه دئ	

کافرو سره دوستی کول منع دی :- الله مسلمانان ددئ خبرئ نه منع کوی او فرمائی ورته چه کافرو سره دوستئ مه کوئی ، هغوئ سره د زړه محبت مه ساتئی ، هر وخت هغوئ سره ناسته پاسته مه کوئی ، د مسلمانانو رازونه هغوئ ته مه ښکاره کوئی،اوهغوئ سره پټ تعلقات مه ساتئ لکه څنګه چه بل آیت مبارک کښئ دی چه ﴿لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ﴾ مومنانو ته پکار دی چه دمومنانونه سوا کافروسره دوستی نه ساتی ، داسئ کولو والا دالله ﷻ په نیز دهیڅ ښیګړئ مستحق نه دئ.خوکه صرف دیچ کولو په طور وی او ظاهر داری وی نو بله خبره ده.الله ﷻ تاسو د خپل ذات مبارک نه ویروی.یعنی که تاسو د هغه نافرمانئ کوئی نو تاسو ته پکار دی چه د هغه د عذاب نه ویریږئی.

د سلطان لفظ معنی:- ابن ابی حاتم کښئ حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه مروی دی چه حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه په قران پاک کښئ چرته هم د سلطان لفظ وی نو هلته ددئ نه مراد حجت دئ.یعنی که تاسو مومنان پریښودل او کافرو سره مو دوستی جوړه کړه نو ستاسو دا فعل به کافی ثابت شی او پوره دلیل به وی ددئ خبرئ چه تاسو ته الله ﷻ سزا درکړی.دیر مفسرینو ددئ آیت مبارک هم دا تفسیر بیان کړئ دی.

قوله تعالی:: اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ

د درک لفظ معنی:- بیا دمنافقانو د انجام ذکر کیږی چه هغوئ به ددئ خپل سخت کفر په وجه د جهنم د ټولو نه لاندئ طبقه کښئ داخلیږی . ﴿ درک ﴾ مقابل دئ د درجئ.جنت کښئ درجئ دی یو نه یو اعلی.او دوزخ کښئ درک دی یو نه یو لاندئ.

په جهنم کښئ د منافقانو دعذاب کیفیت:- حضرت ابوهریره ﷺ فرمائی چه دوی به د اور صندقونو کښئ بندولئ شی او جهنم ته به اچولئ شی.او دوی به سوزلئ شی.حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه دا صندوق به داوسپنئ وی چه اور لګیدوسره به اورشی اودا به څلورو واړو طرفونونه بالکل بند وی.او ددوی د مدد کولو دپاره به هیڅوک نه وی چه دوی جهنم نه راوباسی.یا د دوی په عذابونوکښئ څه کمئ اوشی.

قوله تعالی:: اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ

خو دوی کښئ چه څوک توبه اوباسی او پښیمانه شی او په ریښتونی زړه سره نفاق پریږدی او د رب تعالی نه د خپلو ګناهونو معافی اوغواړی ، بیا خپلو عملونو کښئ اخلاص پیدا کړی.اوصرف د الله ﷻ د رضا دپاره نیک عملونه اوکړی ، ریا کاری په اخلاص بدله کړی ، دالله ﷻ دین لره مضبوطیا سره

Scanned with Ca

اونیسی ، نوبیشکه الله ﷻ ددوی توبه قبلوی.اودوی به ریښتونو مسلمانانو کښې داخل شی.او دوی ته به اعلی اجر ورکړی.

ابن ابی حاتم کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه خپل دین خالص کړئی نو دې دپاره به لږ عمل هم کافی وی.(۱)

قوله تعالی:: مَا يَفْعَلُ اللَّهُ بِعَذَابِكُمْ إِنْ شَكَرْتُمْ وَآمَنْتُمْ

بیا ارشاد فرمائی چه الله ﷻ غنی اوبې نیاز دې.هغه بندګانو ته سزا ورکول نه غواړی ، خو کله چه دا بندګان ګناه کوی نو دوی ته سزا ورکول ضروری دی.نو فرمائی که تاسو خپل اعمال ښه کړئی او په الله ﷻ اود هغه په رسول ﷺ باندې ایمان راوړئی نوهیڅ وجه نه ده چه الله ﷻ تاسو ته عذاب درکړی.هغه پاك ذات خو د وړو وړو نیکو هم قدردان دې.چه څوك د هغه شکرادا کوی نو هغه پاك ذات د هغه عزت افزائی کوی.هغه پاك ذات پوره او صحیح علم والا دې.هغه ذات ته معلومه ده چه د چا عمل د اخلاص او قبولیت اوقدر والا دې.هغه عظیم ذات ته معلومه ده چه په کوم زړه کښې ایمان قوی دې او کوم یو زړه ایمان نه خالی دې.چه کوم ایمان او اخلاص والا دی هغوئ ته به مکمله حصه ورکوی اوبدله به ورکوي (الله ﷻ دې مونږ ته دایمان او اخلاص دولت رانصیب کړی او بیا ددې اجراو ثواب راکړی ..... آمین).

(الحمد لله دپنځمې پارې پښتو ترجمه ختمه شوه .)

(۱) حاکم : ٤/۳۰٦)-

لَا يُحِبُّ	اللّٰهُ	الْجَهْرَ	بِالسُّوْٓءِ	مِنَ الْقَوْلِ	اِلَّا	مَنْ ظُلِمَ ؕ
نه خوښوی	الله	اوچت آواز	په بده	خبره	مګر	دهغه چانه چې ظلم پر شوې وی

الله ﷻ ته داخوښه نه ده چې څوک په بده وینا آواز اوچت کړی خوپه چا چې زیاتې شوې وی

وَكَانَ	اللّٰهُ	سَمِيْعًا	عَلِيْمًا ﴿١٤٨﴾	اِنْ	تُبْدُوْا	خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ
اودې	الله	ښه اوریدونکې	ښه پوهه په پټ اوښکاره	که	تاسو ښکاره کوئ	نیکی یا پټوئ هغه

اوالله هرڅه آوری په هرڅه عالم دې که تاسو په ښکاره نیکی کوئ اوکه په پټه نې کوئ

اَوْ تَعْفُوْا	عَنْ سُوْٓءٍ	فَاِنَّ اللّٰهَ	كَانَ	عَفُوًّا	قَدِيْرًا ﴿١٤٩﴾
یا عفوه کوئ	دبدئ نه	نوبیشکه الله دې		عفوه کونکې	قدرت لرونکې

یادخلقوبدی معاف کوئ انوبیشکه الله ﷻ معاف کونکې په هرڅه قادر دې

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ

د ظالم ظلم بیانول جائز دی:- حضرت عبدالله ابن عباس ددې آیت مبارك تفسیر کښې فرمائی چه د یو مسلمان دپاره جائز نه دی چه هغه بل مسلمان دپاره بد دعا اوکړی.خو چه په چا ظلم شوې وی نوهغه که ظالم ته خیرې کوی نو داجائز دی.اوکه هغه په دې صبراوتحمل اوکړی نو فضیلت په دې کښې دی (١)

ظالم ته خیرې نه کول غوره دی:ابوداؤد کښې دی چه حضرت عائشه ؓ نه غلو څه څیز پټ کړ نو حضرت عائشه هغوی دپاره بددعا کوله نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ولې د هغه بوج سپکوې ؟ (٢)

ظالم ته دعا کول پکار دی:- حضرت حسن ؓ فرمائی چه هغه دپاره بد دعا نه دی کول پکار ،بلکه دا دعا کول پکار دی چه ﴿اللهم اعنی علیه واستخرج حقی منه﴾ یعنی ائې الله ﷻ ! په غل ما سره مدد اوکړې او د هغه نه ځما حق واخلې.(٣)

ظالم ته د هغه د ظلم نه زیاته سزا نه دی ورکول:دوی نه په یو روایت کښې د اهم مروی دی اګر چه مظلوم ته ددې اجازت دې چه ظالم ته سزا ورکړی خو داخیال ساتل پکاردی چه دحق نه تجاوزاونه کړی.

بهتان لګونکی باندې بهتان نشی لګولې:- عبدالکریم بن مالك جزری ؒ د دې آیت مبارك تفسیر کښې فرمائی چه کنځلو کولو والا ته یعنی بدزدونیلو والا ته بد وئیلې شې.خو چه کوم سړې بهتان اوتړی نوپه هغه پورې بهتان مه تړئی.

دظالم نه بدله اخستل جائز دی:- یو بل روایت کښې دی چه ﴿وَلَمَنِ انْتَصَرَ بَعْدَ ظُلْمِهٖ فَاُولٰٓئِكَ مَا عَلَيْهِمْ مِّنْ سَبِيْلٍ ﴿٤١﴾﴾ (٤) یعنی کوم مظلوم چې دخپل ظالم نه بدله اخستلودپاره هغه سره ظلم اوکړی نو په هغه هیڅ مواخذه نشته دې.

دجګړې ګناه په هغه چا ده چه د جګړې شروع هغه اوکړی:- ابوداؤد کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه د ددؤ کنځلو کونکو وبال په هغه چا دې چه کوم ابتداء کړې وی.خو که مظلوم د حد نه تیر شو نو بله خبره ده .(١)

---

(١) الطبری : ٣٤٤/٩.
(٢) ابوداود کتاب الوتر باب الدعاء : ١٤٩٧، احمد: ٤٥/٦.
(٣) الطبری : ٣٤٤/٩.
(٤) الشوری: ٤١.

Scanned with Ca

دکوربه شکایت کولو اجازت:- حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه یو سړي بل کره میلمه شی او کوربه د میلمه حق ادا نکړی نو دا جائز دی دي خلقوته د خپل کوربه شکایت اوکړی،تر کومې چه هغه د ده حق ادا نکړی.

دمیلمستیا حق:- ابو داؤد او ابن ماجه وغیره کښې دی چه صحابه کرام ﷺ نبی کریم ﷺ ته شکایت اوکړوچه نبی کریم ﷺ تاسو مونږ چرته لیږئی نوهلته داسې کیږی چه دهغه خانې خلق خمونږ میلمستیانه کوی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که هغه ستاسومیلمستیا دخپل وس مطابق کوی نو خبر دې ګنی تاسودهغه نه د خپل میلمستیا حق اخلئ .(٢)

دمیلمستیا اهمیت:- مسند احمد کښې یو حدیث مبارک کښې دی د نبی کریم ﷺ فرمان دې چه کله یو مسلمان یواهل قبیله کښې میلمه شی اوټوله شپه تیره کړی اوهغه خلق دده دمیلمستیا څه حق ادا نکړی نوپه هر مسلمان ددې مسلمان نصرت کول ضروری دی دهغه سړی د مال نه د هغه د پټی په قدر دې د ده میلمستیا اوکړی .(٣)د مسند یو حدیث مبارک کښې دی چه د میلمستیا شپه په هر مسلمان واجب ده. که یو مسافر تر سحره پورې محروم پاتې شی نو دا د دې کوربه په ذمه قرض دی،که ادا کوی نې او که باقی نې ساتی .(٤)

دمیلمستیا حکم:- ددې احادیثو په وجه د امام احمد رحمه الله مذهب دې چه میلمستیا واجب ده.

درې ورځو پورې میلمستیا واجب اوبیا صدقه ده

مسلک حنفی:- ملا علی قاری رحمه الله په شرح د مشکاة کښې فرمائیلی دی چه درې ورځو پورې میلمستیا کول واجب وو خو بیا د زکاة په وجوب سره منسوخ شو یا دا چې اوس هم واجب خو نه دی بلکه د واجب پشان دی او د درې ورځو نه پس صدقه ده که میلمستیا ورکوی نو وردې کړی اوکه نه ورکوی نه هم ورته اجازت دې (مرقاة المفاتیح باب الضیافة)

دګواندې د تکلیف نه بچ کیدو یوه طریقه:- ابوداؤد وغیره کښې دی چه یو سړي د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او عرض نې اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! ماته خما ګواندې ډیر زیات تکلیف راکوی.نو نبی کریم ﷺ ورته اوونیل چه څه لار شه او یو کار اوکړه چه خپل ټول مال اواسباب د کور نه بهر راوباسه. ده هم داسې اوکړل او ټول مال او اسباب نې د کور نه راوویستو او لار کښې کیناستو. اوس چه به څوک په لار تیریدو نو ده نه به نې تپوس کولو چه څه خبره ده ؟ نو ده به ورته وئیل چه ما ته خما ګواندې تکلیف راکوی او ما تنګوی.نو هر سړی به هغه ته بد رد وئیل،چا به وئیل چه الله ﷻ دې هغه تباه کړی،چا به وئیل چه الله ﷻ دې ورسره پوهه شی،هرکله چه ګواندې ته د دې رسوائی حال معلوم شو نو ده ته راغلو او ورته نې اوونیل چه خپل کور ته څه،په الله قسم څه به تر مرګه پورې تاته هیڅ تکلیف نه درکوم .(٥)

قوله تعالی::إِنْ تُبْدُوا خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا عَنْ سُوءٍ

الله ته پټ او ښکاره برابر دی:- بیا ارشاد دې چه انې خلقو که تاسو یو نیکی په ښکاره کوئی او که په پټه نې کوئی، که تاسو باندې چا ظلم کړې وی او تاسو هغه ته معافی کوئی نو الله ﷻ سره تاسو دپاره

---

١) ابوداود کتاب الادب باب المستیان : ٤٨٩٤، ترمذی : ١٩٨١، کتاب البروالصلة: باب النهی عن السباب : ٢٥٨٧.
٢) صحیح بخاری کتاب المظالم باب قصاص المظلوم اذا وجد مال ظالمه : ١٧٢٧، ابوداود : ٣٧٥٢، ابن ماجه: ٣٦٨٧.
٣) احمد: ١٣٧/٤، ابوداود کتاب الاطعمة باب ماجاء فی الضیافة : ٣٧٥١، وه حسن،حاکم: ١٣٢/٤.
٤) احمد: ١٣٣/٤، ابوداود کتاب الاطعمة باب ماجاء فی الضیافة : ٣٧٥٠، وسنده صحیح،ابن ماجه: ٣٦٧٧، مشکل الآثار : ٣٩/٤.
٥) ابوداود کتاب الادب باب فی حق الجوار : ٥١٥٣، وسنده حسن،حاکم : ١٦٠/٤، ابن حبان : ٥٢٠، الادب المفرد: ١٢٤.

Scanned with Ca

ډیر لوئې اجر دی او لویه درجه ده. هغه پخپله هم معاف کولو والا دی.او د بندګانو ورته دا عادت هم خوښ دی د انتقام په اخستلو باندې د قدرت باوجود بیا دی هم معاف کول کوی.

د قدرت باوجود الله معافی کول:- یو روایت کښې دی چه عرش اوچتونکې فرښتې د الله تعالی تسبیح کوی.بعضې خو وائی چه ﴿سبحانك على حلمك بعد علمك﴾ ائې الله ﷻ ستا ذات پاك دی،ته د علم باوجود بردباری او چشم پوشی کوې.بعضې وائی چه ﴿سبحانك على عفوك بعد قدرتك﴾ ائې الله ﷻ ستا ذات پاك دی،ته د قدرت نه باوجود معاف کونکې یې

دې قیمتی خویونه:- صحیح حدیث مبارك کښې دی ①چه صدقه او خیرات سره مال نه کمیږی،② عفواومعافئ سره الله ﷻ عزت زیاتوی.③او چه کوم سړې د الله ﷻ حکم سره تواضع او عاجزی اوکړی نو الله ﷻ د ده مرتبه او عزت زیاتوی .([1])

إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ	وَرُسُلِهِ	وَيُرِيدُونَ	أَن يُفَرِّقُوا	بَيْنَ اللَّهِ
بیشکه هغه کسان چې کفرکوئی دالله	اودرسولانو دهغه	اوغواړی	چې بیلتون اوکړی	په منځ دالله
دالله ﷻ اودهغه دپیغمبرانو نه انکارکوی		.....اوداغواړی چې دالله تعالی اوپه پیغمبرانو باندې ایمان		

وَرُسُلِهِ	وَيَقُولُونَ	نُؤْمِنُ	بِبَعْضٍ	وَنَكْفُرُ
اودرسولانودهغه کښې	اوږائی	چې مونږ ایمان راوړو	په ځینو	اومنکران کیږو
راوړو کښې فرق اوکړی	اودا وائی چې په بعضو ایمان راوړو او په بعضو نۀ راوړو			

بِبَعْضٍ ۙ	وَيُرِيدُونَ	أَن يَتَّخِذُوا	بَيْنَ ذَٰلِكَ	سَبِيلًا ﴿١٥٠﴾ ۙ
په ځینو	اوغواړی هغوئ	چې	اونیسی	اپه منځ ددې کفر اواسلام کښې
.....اودا غواړی چې دکفر اوایمان ترمینځه (بله) لار اختیار کړی				

أُولَٰئِكَ	هُمُ	الْكَافِرُونَ	حَقًّا ۚ	وَأَعْتَدْنَا	لِلْكَافِرِينَ
دا کسان چې دی اهم دوئ		کافران دی	په حقه سره	اوتیارکړې دي مونږه	دپاره دکافرانو
همدغه خلق یقینی کافران دی			اومونږ د کافرانو دپاره رسوا کونکې عذاب		

عَذَابًا	مُّهِينًا ﴿١٥١﴾	وَالَّذِينَ	آمَنُوا	بِاللَّهِ	وَرُسُلِهِ
عذاب	رسواکونکې	اوهغه کسان	چې ایمان ئې راوړې دی	په الله	او په رسولانو دهغه
تیار کړې دي	اوچا چې په الله اودهغه په پیغمبرانو باندې ایمان راوړو				

وَلَمْ يُفَرِّقُوا	بَيْنَ أَحَدٍ	مِّنْهُمْ	أُولَٰئِكَ	سَوْفَ	يُؤْتِيهِمْ
اواونۀ کړو فرق هغوئ	اپه منځ دیو کښې	ددوئ نه	انودغه کسان چې دی	زر به	اورکړی الله هغوئ ته
او د هغوی په مینځ کښې هیڅ فرق نه کوی		نو داسې خلقو ته به الله ﷻ دهغوئ			

[1]) صحيح مسلم كتاب البر باب استحباب العفو والتواضع : ٢٥٨٨، ترمذی : ٢٠٢٩، احمد: ٢/٢٣٥، ابن حبان ٣٢٤٨، ابن خزيمه: ٢٤٣٨، بيهقي: ٤/١٧٨، السنن الكبرى : ١٨٧/٤، شعب الايمان : ٣٤١١، البغوى : ١٦٣٣، دارمي: ١٦٨٦.

Scanned with CamScanner

أُجُورَهُمْ ۗ	وَكَانَ اللَّهُ	غَفُورًا	رَّحِيمًا ﴿١٥٢﴾
اجرونه دهغوئ اودي	الله	معاف کونکي	رحم کونکي
اجرونه ورکړي	اوالله ﷻ معاف کونکي	رحم کونکي دي	

قوله تعالی:: إِنَّ الَّذِينَ يَكْفُرُونَ بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ

دیوپیغمبر نه انکار د ټولو نه انکار دي:- دې آیت مبارک کښې بیانیږی چه څوک یو نبی هم اونه منی نو هغه کافر دي.①یهودو به دحضرت عیسی ﷺ اوحضرت محمد نه سوا نور ټول نبیان علیهم السلام منل.②عیسایانو د افضل الرسل،خاتم الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نه سوا په نورو نبیانوعلیهم السلام ایمان لرلو③سامری د حضرت یوشع ﷺ نه پس د هیچا د نبوت قائل نه وو. حضرت یوشع ﷺ د حضرت موسی ﷺ خلیفه وو④د مجوسیانو متعلق مشهور دی چه هغوئ به خپل نبی زردشت منلو. خو هرکله چه هغوئ د هغه د شریعت نه منکر شو نو الله ﷻ هغه شریعت اوچت کړو.والله اعلم.

قوله تعالی:: وَيُرِيدُونَ أَنْ يُفَرِّقُوا بَيْنَ اللَّهِ وَرُسُلِهِ

د پیغمبرانو په مینځ کښې فرق کول:- نو هم دا خلق دی چه دوی د الله ﷻ او د هغه رسولانو مینځ کښې تفریق کړي دي.یعنی یو نبی ئې اومنلو او بل نبی ئې او نه منلو. دا څه د الله ﷻ د طرفه دلیل په وجه نه وو (چې دوی ته وئیلی شوی وو چه تاسو صرف په خپل نبی ایمان راوړئ) بلکه صرف د خپل نفسانی خواهشاتو په وجه وو. او د جوش او تعصب او د خپل پلار نیکه د تقلید په وجه وو. د دې نه داهم معلومه شوه چه د یو نبی نه منلو والا د الله تعالی په نیز د ټولو نبیانو نه منلو والا دي.په دې وجه چه نورنبیان که ئې منلې نو دا نبی به ئې هم منلې.نو د دې نه معلومه شوه چه دوی کوم یو نبی منی هغه هم د څه لالچ او غرض په وجه منی. د دوی شریعت د منلو او نه منلو ترمینځه دي.دا یقینی او حتمی کافران دی.په هیڅ یو نبی هم د دوی شرعی ایمان نشته دي.بلکه تقلیدی او تعصبی ایمان دي.اودا قابل قبول نه دي.نود دې کافرانو دپاره به د اهانت او رسوائی والا عذاب وی.ځکه چه په چا ئې ایمان نه راوړو او د هغوئ توهین ئې کولو د هغې بدله همدا ده چه د دوی دې هم توهین اوشی. اودوی به د دې د ذلت والا عذاب کښې واچولې شی.که د دوی د ایمان نه راوړلو وجه د غور او فکر نه کول وی اود دې وجې دوی د نبوت تصدیق نه وی کړې،اوکه د دې وجې وی چه حق ورته ښکاره شوخود دنیوی غرض په وجه ئې مخ اړولې وی او د نبوت انکارئې کړې وی ،لکه څنګه چه د یهودو عالمانو کړې وو د حضرت محمد ﷺ باره کښې چه صرف د حسد په وجه حضرت نبی کریم ﷺ د نبوت نه منکر شو. او د حضرت نبی کریم ﷺ مخالفت او عداوت ته ئې ملا اوترله. نو دوی باندې الله ﷻ د دنیا ذلت واچولو. اود دوی دپاره د آخرت سزا هم تیاره ده.

قوله تعالی:: وَالَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ

دامت محمدی تعریف:- بیا د امت محمدیه ﷺ تعریف کیږی چه په الله ﷻ دایمان راوړلو نه پس په ټولو نبیانو علیهم السلام هم ایمان لری او هغه هم بلاتفریق. د الله ﷻ په دې آخری کتاب باندې ایمان راوړلو نه پس د الله ﷻ نور کتابونه هم منی.لکه څنګه چه یو آیت مبارک کښې دی چه ﴿كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ﴾،بیا دوی دپاره چه کوم اجر جمیل تیار شوی دي هغه هم بیانوی چه دا به ددوی دکامل ایمان په وجه دوی ته ملاویږی.که د دوی نه څه ګناه اوشی نو الله ﷻ به هغه معاف کړی.او په دوی به د رحمت باران اووروی.

Scanned with Ca

يَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ
اتپوس کوی ستا نه| دااهل کتاب
دااهل کتاب(نن)ستانه داغواړی
اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ سَاَلُوْا
چې ته نازل کړې	په دوئ باندې ایو کتاب	د آسمان نه	نو په تحقیق سره	اتپوس کړې وړ دوئ
چې دوئ باندې دآسمان نه یو کتاب رانازل کړه| اوحال دادې چې دوئ
مُوْسٰٓى اَكْبَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَقَالُوْٓا اَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً
دموسی نه	ډیر لوئ	ددغه تپوس نه	نو وئیلی وړ دوی	چې اوښایه مونږ ته	الله	ښکاره
موسی ﷺ نه ددې نه لویه مطالبه کړې وه	ورته ئې وئیلی وؤ چې مونږته الله ﷻ څرګند اوښایه
فَاَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ۚ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِ
نواونیول دوئ لره	یوتندر دبجلئ	په سبب دظلم ددوئ	ایبا اونیور هغوئ	سخی لره	روستو
نوددې سرکشئ په وجه پرې تندر راپریوتو|ایبادوئ سخې معبود جوړ کړلو
مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِكَ ۚ وَاٰتَيْنَا
دهغې نه	چې راغلې وې هغوئ ته	ښکاره نښې	نو معافی اوکړه مونږه	ددغې ګناه	اوږدکړو مونږ
اوحال دادې چې دوئ ته ښکاره نښې راغلې وې|نومونږ ورته داګناه هم معاف کړه
مُوْسٰى سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ۝ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِيْثَاقِهِمْ
موسی ته	فرمان	ښکاره	اوپورته کړو مونږ	دپاسه دهغوئ	طور(غر)	د لوظ اخستلو د پاره
اوموسی ﷺ ته موښکاره فرمان ورکړې وؤ| اومونږ ددوئ دپاسه کوه طور پورته کړو| چې وعده ترې واخلو
وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا لَهُمْ
اواورئیل مونږه	هغوئ ته	چې ننوخئ	په دروازه	سجده کونکی	اواورئیل مونږه	هغوئ ته
اووَرته موحکم اوکړو	چې (دفلسطین ښار)دروازې ته) سرتیټی داخل شئ	اودا حکم مو ورکړې وؤ
لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ وَاَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۝
مۀ اوړئ دحدنه	په ورځ د خالی کښې	اوراخسته مونږه	دهغوئ نه	وعده	محکمه
چې دخالی په ورځ دحدنه تجاوزمۀ کوئ |اودا مو ترې پخه وعده اخستې وه

قوله تعالی:: يَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ اَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ

داهل کتابو د ګستاخئ تپوسونه:- یهودیانو دالله ﷻ رسول ﷺ ته اووئیل چه څنګه حضرت موسی ﷺ د الله ﷻ د طرفنه توراة لیکلې شوې راوړې وو،تاسو هم آسمانی کتاب لیکلې شوې راوړئی،دا هم مروی دی چه هغوئ وئیلی وو چه مونږ ته دې الله ﷻ خط راولیږی چه مونږ تا اومنو.د هغوی دا سوال هم په طور د مذاق او بدنیتئ او کفر وو. لکه څنګه چه اهل کتابو دغه شان سوال کړې وو کوم چې په سورة

Scanned with Ca

سبحان کښې مذکور دي چه ترڅو پورې د عربو زمکه د دریابونو او بنه زرخیزه ،شاداب او ښکلې نشي نو مونږ په تا ایمان نه راوړو .بیا الله ﷻ خپل رسول حبیب ﷺ ته د تسلئ په طور فرمائی چه تاسو دوی په بې خایه سوالونو او سرکشئ مه خفه کیږئی ،د دوی دا بد عادت پخواراسې دي.دوی دغه شان بې هوده سوال د حضرت موسی علیه السلام نه هم کړې وو چه مونږ ته دي الله ﷻ اوښایه تکبر ،سرکشئ او فضول سوالونو انجام دوی کتلې دي.یعنی په هغوئ د آسمان نه تندر راپریوتې وو. لکه څنګه چه سورة بقره کښې ددې تفصیل تیر شوې دي.اوګورئی آیت ﴿وَاِذْ قُلْتُمْ یٰمُوْسٰی لَنْ نُّؤْمِنَ لَكَ حَتّٰی نَرَی اللّٰهَ جَهْرَةً﴾ یعنی کله چه تاسو اووئیل چه ائې موسی ! مونږ په تا هرګز ایمان نه راوړو ترڅوچې مونږ په خپلو سترګو الله ﷻ اونه وینو.نو تاسو آسمانی تندر اونیوئی او د یوبل مخکښې ټول هلاک شوئی.بیا هم مونږ ستاسو د مرګ نه پس تاسو ژوندی کړئی چه تاسو شکر اوباسئ.

قوله تعالی:: ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَیِّنٰتُ

دځخی عبادت کول:- بیا فرمائی چه د ډیرو ننبو کتلو نه پس دوی د ځخی عبادت شروع کړې وو. مصر کښې د خپل دښمن فرعون د حضرت موسی علیه السلام مقابله کښې هلا کیدل،دده ټول درباریان مړه کیدل،او ددوی د سمندر نه پورې وتل هم ددوی دسترګو مخکښې شوی وو ،خو چه کله دوی لږ لرې لاړل نو یو بت پرست قوم ئې اوکتل نو دوی خپل پیغمبر ته اووئیل چه زمونږ دپاره هم داسې یو معبود جوړ کړه. د دې پوره بیان په سورة اعراف او سورة طه کښې هم شته. حضرت موسی علیه السلام الله تعالی سره مناجات کوی.ددوی د توبې قبلیدو دا صورت راوځی چه کومو خلقو د سخی عبادت نه دې کړې هغوئ دې هغه خلق قتل کړی چه کومو د سخی عبادت کړې دي.هرکله چه قتل شروع شو نو الله ﷻ د دوی توبه قبوله کړه او مردګان ئې دوباره ژوندی کړل.نو دلته فرمائی چه مونږ دوی ته معافی اوکړه.او داعظیم جرم مو اوبخښلواو حضرت موسی علیه السلام ته مو ظاهری حجت او غلبه ورکړه.

قوله تعالی:: وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِیْثَاقِهِمْ

د دوی په سرونو د کوه طور پورته کول:- اوکله چه خلقو د توراة د منلو نه انکار اوکړو،اود حضرت موسی علیه السلام د تابعدارئی نه روستو شو،نود دوی په سرونو مو طور غر رازورند کړو،او دوی ته مو اووئیل چه اوس اووائې تاسو احکام منئ او که دا غر دربانديې درغوزار کړم ؟ نودا ټول په سجده پریوتل او فریاد ئې شروع کړو او د الله ﷻ د احکامو منلو پخه وعده ئې اوکړه. په زړه کښې ئې دومره ویره وه چه په سجده کښې ئې هم د سترګو ګوټونو کښې کتل چه هسې نه غر رابانديې راپریو ځې او ورلاندې ښخ شو،بیا غر اوچت کړې شو. د

قوله تعالی:: وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا

د قول او فعل بدلول:- بیا دوی د بلې سرکشئ بیان کیږی چه قول او فعل دواړه ئې بدل کړل،دوی ته حکم شوې وو چه د بیت المقدس دروازې ته د سجدې حالت کښې (سرټیټې) داخل شئ او ﴿حطة﴾ وائې یعنی ائې الله ﷻ ځمونږ ګناهونه معاف کړه،ځکه چه مونږ جهاد پرینبودو او سترې کیناستو او د دې په سزا کښې ځلوینښت کاله په میدان تیه کښې حیران وپریشان وو،خو دوی خپل کمینه توب دلته هم اوخودلو،او د خپلو ځنګونونو په سر دروازې ته داخل شو او ﴿حنطة فی شعرة﴾ ئې وئیل یعنی دغنمو دانه په وږی کښې ده

قوله تعالی:: وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوْا فِی السَّبْتِ

دخالی د ورځې بې حرمتی کول:- بیا یو بل شرارت اوګورئی چه د خالی د ورځې د تعظیم او تکریم دوی نه وعده اخستې شوې وه،او کلك عهد ورسره شوې وو. خو دوی د دې هم مخالفت اوکړو او نافرمانی ئې اوکړه اود حرمت لرې کولو حیلې ئې راوویستې لکه څنګه چه سورة اعراف کښې بیان دي.اوګورئی

Scanned with Ca

آیت ﴿وَاسْئَلْهُمْ عَنِ الْقَرْيَةِ الَّتِيْ كَانَتْ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ﴾ الخ. یو حدیث مبارک کښې دی چه یهودونه الله ﷻ خاص د خالی د ورځې د تعظیم وعده اخستې وه(١) دا پوره حدیث مبارک به په سورة سبحان کښې آیت ﴿وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسٰى تِسْعَ اٰيٰتٍ بَيِّنٰتٍ﴾ تفسیر کښې انشاء الله راشی.

فَبِمَا	نَقْضِهِمْ	مِّيْثَاقَهُمْ	وَكُفْرِهِمْ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ
نو په سبب دماتولو دهغوئ	وعدې خپلې لره	اودکفر کولو دهغوئ	په آیتونو	دالله سره	
آخر د دوی د بې لوظئ په وجه او د الله ﷻ د آیتونو نه د انکارکولو په وجه					
وَقَتْلِهِمُ	الْاَنْۢبِيَآءَ	بِغَيْرِ حَقٍّ	وَّقَوْلِهِمْ	قُلُوْبُنَا	
اودقتلولودهغوئ	پیغمبرانو لره	په ناحقه	اوپه سبب	ددې وینا دهغوئ	
اود پیغمبرانو په ناحقه د قتلولو په وجه او د دې وینا په وجه چې زمونږ زړونه					
غُلْفٌ ؕ	بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ	عَلَيْهَا	بِكُفْرِهِمْ	فَلَا يُؤْمِنُوْنَ	
په پردو کښې پټ دی	بلکه مهروهلې دې الله	په هغې	په سبب د کفردهغوئ	نو نه راوړی ایمان هغوئ	
غلافونو کښې پټ دی (ځکه ایمان نه راوړو) (داسې نه ده) بلکه ددوئ د کفرپه وجه پرې الله ﷻ مهر اولګولو					
اِلَّا	قَلِيْلًا ۝	وَّبِكُفْرِهِمْ	وَقَوْلِهِمْ	عَلٰى مَرْيَمَ	بُهْتَانًا
مګر	لږ	اوپه سبب د کفر کولودهغوئ	اودوئیلودهغوئ	په مریم باندې	د بهتان
ډیروکمو خلقو په کښې ایمان راوړو	اوبیادوئ په کفر کښې مخکښې لاړل	اوپه بې بې مریم ئې			
عَظِيْمًا ۝	وَّقَوْلِهِمْ	اِنَّا قَتَلْنَا	الْمَسِيْحَ	عِيْسَى	ابْنَ
لوئې	او په سبب دوئیلو دهغوئ	چې بیشکه وژلې دې مونږ	مسیح	عیسی	خوئ
لوئې بهتان اولګولو	اوپه خپله ئې اوژئیل چې مونږ عیسی خوئې				
مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ	وَمَا	قَتَلُوْهُ	وَمَا صَلَبُوْهُ	وَلٰكِنْ	
دمریم	رسول د الله	حالانکه نه کړو	اقتل هغوئ هغه لره	اونه ئې په دارکړو هغه لره	لیکن
دمریم قتل کړې دې	چې هغه دالله رسول دې	اوحال دادې چې نه ئې وژلې دې	اونه ئې په سولئ کړې دې	بلکه	
شُبِّهَ	لَهُمْ ؕ	وَاِنَّ الَّذِيْنَ	اخْتَلَفُوْا		
معامله شکمنه کړې شوه	دپاره دهغوئ	اوبیشکه هغه کسان	چې اختلاف ئې کړې دې		
خبره پرې ګډه وډه شوې وه	.....	اوکومو کسانو چې په دې باره کښې اختلاف کړې وو			
فِيْهِ	لَفِيْ شَكٍّ	مِّنْهُ ؕ	مَا لَهُمْ	بِهٖ	مِنْ عِلْمٍ
په حق دعیسی کښې	اخامخا په شک کښې دی	دشان دهغه نه	نشته هغوئ لره	په دې باندې	څه علم
هغوئ ټول په شک کښې اخته دی	.....	د دوئ په اصل واقعه هیڅ علم نشته			

(١) ترمذی کتاب الادب باب ماجاء فی قبلة الید والرجل : ٢٧٣٣، وسنده حسن.

Scanned with Ca

اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ	وَمَا قَتَلُوْهُ	يَقِيْنًا ۙ﴿۱۵۷﴾	بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ	
مگر| صرف پیروی ده |د ګمان |اونۀ کړو قتل هغوئ هغه لره|په یقین سره|بلکه پورته کړو هغه لره الله				
صرف په ګمان پسې روان دی	او یقینی خبره دا ده چه هغوی عیسی قتل کړې نه وؤ	بلکه الله خان ته خیژولې دې						
اِلَيْهِ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ	عَزِيْزًا	حَكِيْمًا ﴿۱۵۸﴾	وَاِنْ	مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ
طرف خپل ته| او دې اللهﷻ|لوئ طاقت والا	حکمت والا	ا و نشته	داهل کتابو نه هیڅوک				
اوالله ﷻ په هرچا غالب او د حکمت خاوند دې	اوپه اهل کتابو کښې به هیڅوک پاتې نۀ شی							
اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ	بِهٖ	قَبْلَ	مَوْتِهٖ ۚ	وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ
مګر	خامخا به ایمان راوړی|په هغه باندې	مخکښې| دمرګ دهغه نه|	او په ورځ دقیامت				
مګردهغه دمرګ نه مخکښې به پرې ایمان راوړی	.....اودقیامت په ورځ به پرې							
يَكُوْنُ	عَلَيْهِمْ	شَهِيْدًا ۚ﴿۱۵۹﴾						
به وی هغه	په هغوئ	ګواه						
هغه ګواهی ورکوی								

قوله تعالی:: فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ

د یهودیانو مختلفې نافرمانئ:- داهل کتابود ګناهونو بیان کیږی چه د هغې په وجه هغوئ د الله ﷻ د رحمت نه لرې پریوتل،ملعون او مطرود شول①اول خو د هغوئ وعده خلافی چه کومې وعدې هغوی الله ﷻ سره کړې وې په هغې قائم پاتې نشو②او بل دالله ﷻ د آیتونو یعنی حجت او دلیلونو او نبیانو او معجزو نه انکار اوکفر③دریم په ناحقه دالله ﷻ د نبیانو قتل کول،د الله ﷻ د نبیانو یو لوئې جماعت د دوی دلاسه قتل شوی وو.

قوله تعالی:: وَّقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ

د یهودو په زړونو د پردو کیدل:④څلورم ددوی دا خیال او دا قول چه ځمونږ زړونه په غلافونو یعنی پردو کښیې دی،لکه څنګه چه مشرکانو وئیلی وو چه ﴿وَقَالُوْا قُلُوْبُنَا فِيْٓ اَكِنَّةٍ مِّمَّا تَدْعُوْنَآ﴾ ای نبی ستا دعوت نه ځمونږ زړونه په پرده کښې دی .او داهم وئیلې شوی دی چه ددوی ددې قول مطلب دادې چه ځمونږ زړونه د علم لوښی دی ،هغه د علم اوعرفان نه ډک دی.سورة بقره کښې ددې مثال تیر شوې دې.الله ﷻ د دې تردید کوی او فرمائی چه داسې نه ده بلکه الله ﷻ د دوی په زړونو مهر لګولې دې ځکه چه دوی خپل کفر کښې پاخه شوی دی.نود ړومبی تفسیر مطابق مطلب دا شو چه دوی به عذر کولو چه ځمونږ زړونه غلاف کښې دی او په دې وجه د نبی خبرې نشی یادولې. دوی ته جواب ورکړې شو چه داسې نه ده بلکه ستاسود کفر په وجه ستاسو زړونه مسخ شوی دی.اوددویم تفسیر په بناء خو جواب بنکاره دې.دسورة بقره تفسیر کښې د دې پوره وضاحت او تشریح تیره شوې ده. نو د نتیجې په طور ئې اوفرمائیل چه ددوی زړونه د سرکشئ او کفر په وجه ایمان نه راوړی.

قوله تعالی:: وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيْمًا ۙ

په بی بی مریم د زنا تهمت لګول:- ⑤بیا ددوی پنځم عظیم جرم بیانیږی چه دوی په سیده مریم علیهاالسلام باندې د زناکارئی غوندې بدترین او شرمناک تهمت اولګولو. او دانې وئیل چه هم د دې زناکارئی نه حضرت عیسی ﷺ پیدا شو. بعضې د دې نه یو قدم نور هم مخکښې لاړل او وې وئیل چه

دا بدکاری دحیض په حالت کښې شوې وه. په هغوئ دې د الله ﷻ غضب وی چه هغوئ نه د الله ﷻ نیک بندګان هم بچ نشو.

قوله تعالی:: ﴿وَقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ﴾

د عیسی ﷺ د قتل دعوی:- بیا د دوی شپږمه ګناه بیانیږی چه دوی د خندا او مسخرې په طور دا هم وائی چه مونږ حضرت عیسی ﷺ قتل کړې دې،لکه څنګه چه مشرکانو نبی کریم ﷺ ته وئیل چه ائې (نبی ﷺ) په تاسو خو قران پاک نازل شوې دې،تاسو خو لیونی یئ.

دعیسی ﷺ اسمان ته د پورته کیدو واقعه:- پوره واقعه دا ده چه کله الله ﷻ حضرت عیسی ﷺ ته نبوت ورکړو او وې لیږلو او دوی ته ئې لوئې لوئې معجزې ورکړې،لکه پیدانشی روند بینا کول،برص والا ښه کول،مړی ژوندی کول،د ښاورې مارغان باندې پوک وهل او هغه ژوندی کول وغیره،نو په دې یهودیان ډیر غصه شو او دوی مخالفت ته ملا اوترله،او دوی ته ئې رنګ په رنګ تکلیفونه رسول شروع کړل،او د دوی ژوند ئې تنګ کړو. او په یو کلی کښې هم دوی ته څو ورځې آرام نصیب نه شو. ټول عمر ئې خپلې مور بی بی سره په څنګلونو او بیابانو کښې تیر کړو او بیا هم دوی ته آرام رانغلو او دوی د هغه زمانې د دمشق بادشاه ته ورغلل،هغه مشرک وو او د ستورو عبادت به ئې کولو،ددې مذهب والو ته په هغه وخت کښې یونان وئیلې کیدلو.دلته چه راغلل نو دې بادشاه ته ئې ډیر زیات فریاد اوکړو او بادشاه ئې د حضرت عیسی ﷺ خلاف اولمسولو او وې وئیل چه دا ډیر مفسد سړې دې.خلق لمسوی،او ورځ په ورځ نوې نوې فتنې ولاوړوی.امن کښې خلل اچوی او خلقو ته بغاوت ښائی وغیره. بادشاه د بیت المقدس ګورنر ته اولیکل چه حضرت عیسی ﷺ ګرفتار کړه اوهغه په سولئ اوخیژوه. اود ده په سر د ازغو تاج کیږده او خلقو ته د ده نه نجات ورکړه. ده د بادشاه فرمان واورولو او څو یهودیان ئې خان سره واخستل او دهغه مکان محاصره ئې اوکړه په کوم کښې چې حضرت روح الله ﷺ وو.حضرت عیسی ﷺ سره په هغه کښې دیارلس یا دولس یا زیات نه زیات اولس کسان وو. د جمعې په ورځ د مازیګر نه پس دوی محاصره اوکړه او د خالی د شپې پورې دوی د کور محاصره جاری ساتلې وه هرکله چه حضرت عیسی ﷺ د امحسوس کړل چې اوس خو به هغوئ فوځیان دې مکان ته داخلیږی او دوی به ګرفتاروی او یا به دوی(عیسی ﷺ) پخپله بهر ته راوځی .نوحضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل چه په تاسو کښې دا څوک کولې شی چه د هغه سره مشابهت زما سره اوشی یعنی د هغه صورت الله ﷻ ځما په شان کړی. اوهغه دوی ګرفتار کړی او الله ﷻ ماته خلاصې راکړی نو څه د هغه د جنت ضامن یم.دې آوریدو سره یو ځوان اووئیل چه ماته منظور ده.خو حضرت عیسی ﷺ هغه د دې قابل اونه ګنړلو او هغه په دویم ځل اووئیل خو هر ځل به همدا کس پاسیدو،نو بیا حضرت عیسی ﷺ دا منظور کړل او څه ګوری چه د هغه شکل د حضرت عیسی ﷺ په شان شو. بالکل دا معلومیده چه داحضرت عیسی ﷺ دې او د چت طرفنه یو روشندان جوړ شو، او په حضرت عیسی ﷺ باندې پرکالی راغله،اودا شان هغه آسمان ته پورته کړې شو. لکه څنګه چه قران کښې دی چه ﴿اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسٰٓى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَيَّ﴾ یعنی څه وخت چه الله ﷻ اوفرمائیل چه ائې عیسی ! څه تا لره پوره پوره اخستو والا یم الخ .کله چه حضرت عیسی ﷺ آسمان ته پورته کړې شو نو دا خلق د کور نه بهر راووتل. د یهودو یو جماعت دا بزرګ صحابی چه د ده شکل د حضرت عیسی ﷺ پشان وو اوونیولو او دې ئې حضرت عیسی ﷺ اوګنړلو او د شپې شپې ئې دې په سولئ اوخیژولو اوده په سر ئې د ازغو تاج کیخودو.اوس یهودو خوشحالئ کولې چه مونږ حضرت عیسی ﷺ قتل کړو او زیاته عجیبه خبره دا ده چه دعیسایانو جماعت هم یهودو سره متفق وو.(یعنی چه دوی عیسی ﷺ ته پهانسی ورکړې ده) خو صرف هغه خلق نه وو چه کوم حضرت عیسی ﷺ سره په هغه مکان کښې وو،او هغوئ ته یقینی طور

Scanned with Ca

معلومه وه چه حضرت عیسی ﷺ اسمان ته پورته کړې شوې دې.اودا فلانې سړې دې چه د حضرت عیسی ﷺ په بدله کښې شهید شوې دې،باقی عیسایانو هم یهودو سره متفق وو. بیا تر دې ئې اووئیل چه دحضرت عیسی ﷺ موربی بی هم د سولئ لاندې ناسته وه او ژړل ئې.او دا هم وائی چه هغې ده سره خبرې هم اوکړې،والله اعلم.

قوله تعالی:: وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِن شُبِّهَ لَهُمْ

د عیسی ﷺ د قتل او پهانسی کیدو تردید:- اصل کښې دا ټولې خبرې د الله ﷻ د طرفنه په خپلو بندګانودامتحان دپاره دی اودا د هغه پاك ذات د حکمت تقاضا ده. نو دا غلطی الله ﷻ واضح کړه او بنکاره ئې کړه او د حقیقت نه ئې خپل بندګان آګاه کړل اود خپل ټولو نه بهتر رسول ﷺ په خوله مبارکه ئې په خپل پاك او بهترین کلام کښې داحقیقت واضح کړو چه حضرت عیسی ﷺ هیڅا نه دې قتل کړې او نه ئې په سولئ خیژولې دې،بلکه د کوم سړی شکل اوصورت چه د حضرت عیسی ﷺ په شان کړې شوې ووهغه ئې حضرت عیسی ﷺ اوګنړلو.چه کوم یهود د دوی د قتل قائل دی هغوئ ټول په ټوله په حیرت او پریشانئ کښې اخته دی دوی سره هیڅ دلیل نشته او نه دوی ته څه علم شته دې.صرف په هوائی خبرو باندې یقین کوی او دوی سره هیڅ دلیل نشته،ددې وجې ئې بیا دې اوفرمائیل چه روح الله ﷺ چا نه دې قتل کړې،بلکه الله ﷻ خپل خاص بنده او خپل روح خپل ځان ته پورته کړې دې،الله ﷻ غالب دې،د هغه قدرتونه د بندګانو په فهم کښې نه راځی،او د هغه د نعمتونو بیخ ته او د هغه دکارونو بیخ ته هیڅوك نشی رسیدلې.چه کوم بنده ته الله ﷻ روح وئیلی ووهغه ئې خپل ځان ته اوبللو.

د عیسی ﷺ د بعضې ملګرو کفر:- حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه کله الله ﷻ حضرت عیسی ﷺ آسمان ته اوچتول اوغوښتل نو دی کورته راغلل،په هغه وخت کښې ددوی کورکښې دولس حواریان وو،ددوی دسر نه اوبه څڅیدلې،دوی اوفرمائیل چه په تاسو کښې بعضې داسې دی چه په ما ئې ایمان راوړې دې خو دولس دولس ځل به ما باندې کفر کوی.بیا حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل چه په تاسو کښې څوك دا خوښوی چه هغه ځما په شان کړې شی او هغه ځما په ځائې قتل کړې شی او هغه جنت کښې ځما ملګرې شی.په دې روایت کښې دا هم دی چه د حضرت روح الله د پیشن ګوئی مطابق بعضو په دوی باندې دولس دولس ځل کفر کړې وو.

دعیسایانو دری ډلې:- بیا د عیسایانو دری فرقې شوې.①یعقوبیه ② نسطوریه ③ مسلمان.یعقوبیه وئیل چه خپله الله تعالی مونږ کښې وو او تر کومې چه ئې غوښتل نو وو او بیا چه کله ئې اوغوښتل نو آسمان ته اوختو. د نسطوریه عقیده وه چه د الله ﷻ خوئې مونږ کښې وو او څه مودې پورې ئې مونږ کښې اوساتلو او بیا ئې خپل طرفته پورته کړو.اود مسلمانانو عقیده وه چه د الله ﷻ رسول مونږ کښې اوترکومې چه ئې غوښتل نو مونږ کښې وو اوبیا ئې آسمان طرفته پورته کړو. د دې رومبو دوؤ فرقو زور ډیر زیات شواو دا دریمه فرقه ئې په مخه راواخسته او تنګول ئې شروع کړل.تر دې چه دوی کمزوری شواوالله ﷻ پیغمبر آخر الزمان حضرت محمد ﷺ مبعوث کړو او اسلام ئې غالب کړو. ددې اسناد بالکل صحیح دی(۱) او نسائی کښې هم د حضرت امیر معاویه ﷺ نه د امنقول دی.دغه شان په سلفو کښې هم د ډیرو بزرګانو هم دا قول دې.

دوهب بن منبه رحمه الله روایت:- وهب بن منبه رحمه الله فرمائی چه کله شاهی سپاهیانو او یهودو په حضرت عیسی ﷺ حمله اوکړه او محاصره ئې اوکړه نو هغه وخت کښې دوی سره اولس حواریان وو. دې خلقو چه کله دروازې بیرته کړې او وې کتل نو ټول خلق د حضرت عیسی ﷺ شکل کښې وو ،دې کتلو سره

---

(۱) ابن ابی حاتم : ۱۱۱۰/٤.

دې خلقو اوونیل چه تاسو خلقو په مونږ جادو کړې دې.اوس خو یا حقیقی عیسی ﷺ مونږ ته حواله کړئ یا به مونږ تاسو ټول قتل کړو. دې آوریدو سره حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل چه څوک شته دې چه جنت کښې ځما ملګرې جوړ شي او دلته ځما په ځائې په سولئ اوخیژی ؟ یو صحابی دې دپاره تیار شو او وې ئیل چه ائې حضرت عیسی ﷺ څه یم.نو داسلام دښمنانو هغه ګرفتار کړو او هغه ئې قتل او بیا خوشحالیدل چه مونږ حضرت عیسی ﷺ قتل کړو. حالانکه داسې نه وو شوی بلکه هغوئ مغالطه کښې اوالله ﷻ خپل رسول ځان ته اوبللو.

دعیسی ﷺ د پهانسئ بل روایت:- تفسیر ابن جریر کښې دی چه کله الله ﷻ حضرت عیسی ﷺ ته القا اوکړه چه هغه دنیا نه واپس کیدو والا دې،نو په دې باندې دوی ډیر پریشانه شو او په دوی د مرګ ویره راغله.حضرت عیسی ﷺ خپل حواریانو ته دعوت ورکړو او خوراک ئې تیار او ټولو ته ئې اوونیل چه نن شپه تاسو ټول راځئ ځما تاسو سره څه ضروری کار دې .هرکله چه حواریان راغلل نو دوی په خپل لاس خوراک تیار کړو او ټول کار ئې په خپل لاس اوکړو. هرکله چه خوراک نه فارغ شو نو پخپله ئې د هغوئ لاسونه وینځل او په خپله کپړه ئې اوچ کړل. دا هغوی ته ښه اونه لګیدل او ښه ورته معلوم نشو.خو دوی اوفرمائیل چه واورئی ! نن شپه چه څه کوم که چا ددې نه څه منع کړم نو ځما به هغه سره هیڅ واسطه نه وی.نو ټول معتقدین خاموش شو او کله چه دوی د دې عزتناکو کارونو نه فارغ شو نو وې فرمائیل چه ګورئی ستاسو په نیزځه د ټولو نه زیات مرتبې والا یم،خود دې باوجود بیا هم ما ستاسو خدمت اوکړو. دا په دې وجه چه تاسو ځما په سنتو عاملان شئ.خبردار ! تاسو کښې دې هیڅوک خپل رور د ځان نه کم نه ګڼرئ.بلکه هر مشر دې د کشر خدمت کوی لکه څنګه چه ما ستاسو خدمت اوکړو. او تاسو سره ځما یو خاص کار دې او د هغې دپاره تاسو ما رابللی یئ،هغه هم واورئی چه نن شپه به تاسو ټول زما دپاره خشوع او خضوع سره دعا کوئی چه الله ﷻ ځما اجل روستو کړی.نوټولو دعاګانې اوکړې خود خشوع اوخضوع وخت راتلو نه مخکښې مخکښې په هغوئ باندې داسې خوب راغلو چه د هغوئ د خولو نه یو لفظ هم اونه وتلو .حضرت عیسی ﷺ هغوئ بیدارول او یو یو ته به ئې حرکت ورکولو ر(خوزول به ئې) او ورته به ئې وئیل چه په تاسو څه اوش ؟ چه یوه شپه هم ویخ نشئ پاتې کیدئ او زما مدد نه کئ ټولو جواب ورکړو اې پیغمبره مونږ په خپله حیران یو چه دا څه کیږی یوه شپه نه بلکه څو څو شپې مونږ د ویخ پاتې کیدو عادی یو خو الله پوهیږی چه نن څه وجه ده چې خوب راګیر کړی یو د دعا او زمونږ په مینځ کښې څه قدرتی رکاوټ پیدا شوې دې بیا حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل بیا به ګډبه پاتې نشی او ګډې به ختمې شی غرض دا چه اشارو او کنایو کښې ئې د صورت حال اظهاراوکړو او بیا ئې اوفرمائیل چه ګورئی تاسو کښې به یو سړې د سحر د چرګ اذان کولو نه مخکښې په ما باندې درې ځل کفر کوی،او د څو درهمو په قیمت به ما خرڅ کړی او ځما قیمت به اوخوری.اوس دا خلق بهر ر اووتل او یو طرف او بل طرفته لاړل.یهودیان په دې تلاش کښې وو او هغوئ شمعون حواری اونیلو او وې وئیل چه دا هم د هغوئ ملګرې دې.خو شمعون اوونیل چه دا غلطه ده څه دهغه ملګرې نه یم،په دې باور ورکولو ئې هغه پرینبودو.مخکښې چه لاړو نو دې یو بل جماعت سره یو ځائې شو او د هغوئ نه ئې هم په دې انکار ځان خلاص کړو. په دې چرګ بانګ اوونیلو او ده ډیر زیات افسوس کولو او غمګین وو. سحر یو حواری یو یهودی سره ملاویږی ورته وائی که تا ته د حضرت عیسی ﷺ معلومات درکړم نو ماته به څه راکوې ؟ نو هغه ورته اوونیل چه دیرش درهمه.نو ده دیرش درهمه واخستل او د حضرت عیسی ﷺ معلومات ئې ورکړل.د دې نه وړاندې هغوی په شبه کښې وو. نو هغوئ ګرفتار کړو او رسو کښې ئې بوتلو او د طعنې په طور ئې ورته وئیل چه تاخو به مړی ژوندی کول،جنات به دې تښتول،لیونی به دې ښه کول،اوس څه خبره ده چه خپل ځان هم نشې بچ

کولې ،دا رسئ هم نشې شلولې،دا به ئې وئیل او په دوی به ئې ازغی اچول،دغه شان بې درد سره ئې رابنکل او چه کله ئې دی لرګی ته راوستو نو دوی ئې په سولئ خیژول نو په هغه وخت کښې الله ﷻ خپل نبی ﷺ خان ته اوبللو او هغوی کښې ئې بل سړې چه د دوی مشابه وو ،په سولئ اوخیژولو بیا اووه ورځې پس حضرت مریم علیها السلام او هغه ښځه چه چاته حضرت عیسی ﷺ د جن نه نجات ورکړې وو هغه ځائې ته راغلې او فریادونه ئې کول،نو دوی ته حضرت عیسی ﷺ راغلو او ورته ئې اووئیل چه تاسو ولې ژاړئ ؟ ځه خو الله ﷻ خپل ځان ته بللې یم،ماته د دوی تکلیفونه نه رارسی .نو په دې هغونی په شبه کښې شو. او دا ئې ورته اووئیل چې ځما حواریانوته اووایه چه ماسره فلانی ځائې کښې ملاقات اوکړی.کله چه دا زیرې حواریانوته ملاؤ شو نو هغوئ یولس په یولس هغه ځائې ته لاړل کوم حواری چې حضرت عیسی ﷺ خرڅ کړې وو هغه ئې هغه ځائې کښې اونه لیدو. حضرت عیسی ﷺ تپوس اوکړو چې هغه څه شو نو هغوی ورته خبر ورکړو چه هغه د شرم او ندامت نه خودکشی اوکړه. حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل چه که هغه توبه ویستلې وې نو الله ﷻ به دهغه توبه قبوله کړې وې،بیا ئې اوفرمائیل چه داکوم بچې تاسو سره دې د ده نوم یحیی دې.اوس دا ستاسو ملګرې دې.واورئی سحر به ستاسو ژبې بدلې شی .هرسړې به د خپل خپل قوم ژبه وائی.نو هغه ته پکار دی چه خپل قوم ته لاړشی او هغوئ ته ځما دعوت اورسوی او الله ﷻ نه ئې ویروی.دا واقعه ډیره غریبه ده.

د حواریانو نومونه:د ابن اسحاق قول دې چه کوم بادشاه د حضرت عیسی ﷺ د قتل کولو دپاره فوج لیږلې وو د هغه نوم داؤد وو. حضرت عیسی ﷺ په هغه وخت کښې ډیر زیات پریشان وو. هیڅوک به د خپل مرګ نه داسې پریشانه او فکرمند نه وو چه څومره حضرت عیسی ﷺ په هغه وخت کښې وو. تردې چه وې فرمائیل چه ائې الله ﷻ ! که ته د چا نه هم د مرګ پیاله لرې کولو والا یې نو ځما نه ئې لرې کړه. او تردې چه د ویرې په وجه د هغوئ د بدن نه وینه روانه شوه. په هغه وخت کښې دوی سره په هغه کور کښې دولس حواریان وو. دهغوئ نومونه دا دی ① فرطوس ②یعقوبس ③ ربدانجس (داد یعقوب رور وو) ④ اندار ابلیس ⑤ فیلبس ابن یلما ⑥ منتا ⑦یعقوب بن خلقا یا ⑧ نداوسیس ⑨ قتابیا ⑩ لیودس⑪ طوماس ⑫ وکریا یوطا .⑬بعضې وائی چه دا دیارلس کسان وو. اود هغه دیارلسم نوم سرجس وو اوهغه دعیسی ﷺ په بشارت باندې خپل ځان په سولئ خیژول منظور کړی وو

دعیسی ﷺ د ګرفتارئ دپاره چاپې وهل:- هرکله چه حضرت عیسی ﷺ آسمان ته پورته کړې شو او باقی خلق دیهودودلاسه قیدیان شو نو کله چه دوی شمیر کولو یو په کښې کم وو .د یو کس دکمی په وجه په دوی کښې اختلاف پیدا شو. اوس چه به دې خلقوپه کوم جماعت چاپه وهله او هغه به ئې ګرفتارولو نو حضرت عیسی ﷺ به ئې نه پیژندو. نو لیودس وکریایوطا دیرش درهمه واخستل او دوی ته ئې اووئیل چه خه ځم او چه د ټولو نه مخکښې د چا نه بوسه واخلم نوتاسو پوهه شئ چه هغه حضرت عیسی ﷺ دې.هرکله چه دوی دننه لاړل نو په هغه وخت کښې حضرت عیسی ﷺ پورته کړې شوې وو. او حضرت سرجس د حضرت عیسی ﷺ صورت کښې موجود وو. هغه لاړو او وعدې مطابق ئې د حضرت سرجس نه بوسه واخسته او هغه ئې ګرفتارکړو. د دې ارتکاب نه پس دا حواری ډیر زیات نادم شواو دې نه پس ئې ځان پهانسی کړو. اودې نصرانیانوکښې ملعون شو.

پهانسی شوې څوک وو؟:- بعضې وائی چه دده نوم لیووس وکریا یوطا وو. دې چه څنګه هم دحضرت عیسی ﷺ کورته د پیژندګلو د پاره داخل شونو حضرت عیسی ﷺ پورته کړې شو او د ده صورت د حضرت عیسی ﷺ په شان شوې وو او هم دې خلقو ګرفتار کړو. ده ډیرې چغې اووهلې چه څه عیسی نه یم،څه ستاسو ملګرې یم،ماتاسو ته دعیسی ﷺ معلومات درکړی وو.خودا چا آوریدل ؟ آخرهم دې ئې پهانسی کړو.اوس الله تعالی ته علم دې چه دعیسی ﷺ مشابهت کښې سرفروشی کولو والا مومن

Scanned with Ca

صادق سرجس وو یا وکرویایوطا منافق حواری وو. د حضرت مجاهد رحمه الله قول دي چه حضرت عیسی علیه السلام مشابهت چا سره کړي شوي وو هغه په سولې اوخیژولي شو او حضرت روح الله علیه السلام الله ﷻ ژوندي آسمان ته پورته کړو.ابن جریر رحمه الله فرمائی چه دعیسی تشبیه ددوی ملګرو باندي اچولي وي وه.

قوله تعالی:: ﴿وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ﴾

دعیسی علیه السلام د وفات نه مخکښې به ټول اهل کتاب په دوی ایمان راوړی.دي نه پس بیان کیږی چه د روح الله علیه السلام د مرګ نه مخکښې به ټول اهل کتاب په دوی ایمان راوړی او د قیامت په ورځ به ګواه وی.ابن جریر رحمه الله فرمائی چه ددې تفسیر کښې ډیر اقوال دی :

① **دعیسی علیه السلام د مرګ نه مخکښې**:- اول قول دا دي چې د حضرت عیسی علیه السلام د وفات نه مخکښې یعنی کله چه به حضرت عیسی علیه السلام د دجال قتل کولو دپاره دوباره زمکې ته راشی.نو په هغه وخت کښې به ټول مذهبونه ختم شی او صرف ملت اسلامیه چه اصل کښې دین حنیف دي دا به پاتې شی.حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ﴿مَوْتِهٖ﴾ نه مراد د حضرت عیسی علیه السلام مرګ دي (۱). ابو مالك رحمه الله فرمائی چه کله حضرت عیسی علیه السلام تشریف راوړی نو په هغه وخت کښې به ټول اهل کتاب په هغوئ ایمان راوړی(۲).د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه نه یو بل حدیث مبارك کښې دی چه خاص یهودی کښې به یو هم باقی پاتې نشی. حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه نجاشی او دده ملګری.د دوی نه مروی دی چه په الله قسم چه حضرت عیسی علیه السلام اوس هم الله تعالی سره ژوندي موجود دي.هرکله چه دوی زمکې ته راکوز شی نو په هغه وخت کښې به اهل کتابو کښې یو هم باقی پاتې نه وی چه په دوی ایمان راونړی.ددوی نه علیه السلام چه کله ددې آیت مبارك د تفسیر باره کښې تپوس اوشو نو وې فرمائیل .چه الله ﷻ حضرت عیسی علیه السلام خپل ځان ته بللي دي.اود قیامت نه مخکښې به حضرت عیسی علیه السلام دي حیثیت سره زمکې ته رالیږی چه هر نیك اوبد به په حضرت عیسی علیه السلام ایمان راوړی. د حضرت قتاده رحمه الله او حضرت عبدالرحمان رحمه الله وغیره نه هم دا تفسیر شوي دي.اوهم دا قول حق دي.او همداتفسیر بالکل صحیح دي.انشاء الله دالله ﷻ مدد او دهغه توفیق سره به مونږ ددې دلائل بیان کړو.

② **دکتابی د مرګ نه مخکښې**:- دویم قول دا دي چه هر کتابی به د خپل مرګ نه مخکښې په دوی ایمان راوړی.ځکه چه د مرګ په وخت کښې حق او باطل ټولو باندي واضح کیږی.نو هر کتابی یعنی اهل کتاب د دې فانی دنیا نه د تلو نه مخکښې مخکښې د حضرت عیسی علیه السلام باور کوی.حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه هیڅ یو یهودی تر هغه پورې نه مری تر کومې چه هغه په حضرت عیسی علیه السلام باندي ایمان نه وي راوړئی.د حضرت مجاهد رحمه الله هم دا قول دي بلکه د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه نه ترډې پورې مروی دی که د یو کتابی څټ پرې کړي شی نو د ترهغه وخته پورې دهغه ساه نه اوځی چه ترڅو پورې هغه په حضرت عیسی علیه السلام باندي ایمان راونړی. او د اونه وائی چه حضرت عیسی علیه السلام د الله ﷻ بنده اورسول دي .د حضرت ابی قرات کښې ﴿قبل موتهم﴾ دي. حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه نه تپوس اوشوچه فرض کړه څوك د دیوال نه راپریوزی او مړ شی ؟ نو وې فرمائیل چه بیا هم په دې مینځ کښې دي ایمان راوړی.حضرت عکرمه رحمه الله ،محمد بن سیرین ضحاك رحمه الله او حویریه رحمه الله نه هم دا منقول دی.یو قول حضرت امام حسن رحمه الله نه هم داشان مروی دي چه دهغې مطلب د سابقه قول په تائید کښې کیدیشی.او د حضرت عیسی علیه السلام د مرګ نه مخکښې هم کیدې شی.

---

۱) الطبری : ۹/۳۸۰.

۲) ایضا.

Scanned with Ca

③ دریم قول دا دې چه اهل کتابو نه هیڅوک نشته مګر هغه به په نبی کریم ﷺ مرګ نه مخکښې ایمان راوړی. حضرت عکرمه رحمه الله هم دا فرمائی.

صحیح قول - ابن جریر رحمه الله فرمائی چه په دې ټولو کښې زیات صحیح قول ړومبې دې چه کله حضرت عیسی علیه السلام قیامت ته نزدې آسمان نه لاندې تشریف راوړی نو په هغه وخت کښې به هیڅ یو اهل کتاب په دوی د ایمان راوړلو نه بغیر پاتې نشی. فی الواقع د امام صاحب دا فیصله حق بجانب ده. ځکه چه دلته آیتونو نه صفا ظاهر دی اصل مقصد د یهودو دا فیصله غلطه ثابتول دی چه مونږ حضرت عیسی علیه السلام په سولې خیژولې دې. اودا شان چه کوم جاهلو عیسایانو دا وئیلې دی د هغوئ قول هم باطل ثابتول دی. نو الله ﷻ خبر ورکوی چه په حقیقت کښې نه خو حضرت عیسی علیه السلام مقتول شوې دې او نه مصلوب شوې دې بلکه دوی په شك کښې اخته کړې شو. اوهغوئ د حضرت عیسی علیه السلام هم شکل قتل کړو. خو دوی ته په خپله هم دا معلومه نه شوه چه الله ﷻ حضرت عیسی علیه السلام خپل ځان ته اوبللو اوهغه ژوندې دې. او اوسه پورې ژوندې دې او قیامت ته نزدې به راکوزیږی. لکه څنګه چه صحیح متواتر احادیثو کښې دی. مسیح دجال به قتل کړی، صلیب به مات کړی، خنزیر به قتل کړی، جزیه به نه قبلوی، اعلان به اوکړی چه یا اسلام قبول کړئی یا توره سره مقابله اوکړئی. نو آیت کښې خبر ورکوی چه ټول اهل کتاب به د دوی په لاس ایمان را وړی. او یو به هم باقی پاتې نشی چه اسلام نه روستو شی یا څنګه چه جاهل یهودیان او نصرانیان مراد اخلی او دا منی چه دوی په سولې خیژولې شوی دی، دوی به د حقیقی مرګ نه مخکښې په دوی ایمان راوړی. او کوم کارونه چه دوی د دوی موجودګئ کښې کړی دی یا به کوی هغه به د قیامت په ورځ په دوی ګواه وی، یعنی آسمان ته د پورته کولو نه مخکښې کارونه چه کوم دوئ کړی دی هغه ټول به د دوی د نظرونو مخکښې شی او الله ﷻ ته به دوی پیش کړی. اوددې تفسیر کښې چه کوم دوه اقواله دی هغه هم د واقعې اعتبار سره بالکل صحیح او درست دی. د مرګ د فرښتې راتلو نه پس د آخرت د ربښتیاؤ او دروغو احوالو معاینه کیږی. هم په هغه وخت کښې هر سړی ته ربښتیا اودروغ معلوم شی او پوهه شی. خو هغه ایمان د الله ﷻ په نیزمعتبر نه دې، ددې سورة په شروع کښې دی چه ﴿وَلَيْسَتِ التَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّئَاتِ ۚ حَتَّىٰ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ﴾ بل ځائې کښې فرمان دې چه ﴿فَلَمَّا رَأَوْا بَأْسَنَا قَالُوا آمَنَّا بِاللَّهِ وَحْدَهُ﴾ یعنی کوم خلق د مرګ راتلو پورې په بدو عملونو کښې مصروف وی دهغوئ توبه قبوله نه ده. او چه کوم خلق دالله ﷻ عذاب کتلو سره ایمان راوړی نود هغوئ ایمان به هم هغوئ ته هیڅ نفع نه ورکوی. نو د دواړو آیتونو مخکښې ایښودلو سره مونږ دا وئیلې شو چه د مخکښې دوؤ قولونو دکومو چه امام ابن جریر رحمه الله تردید کړې دې هغه صحیح نه دی، په دې وجه امام صاحب فرمائی چه ړومبی دواړه اقوال که د دې ایت په تفسیر کښې صحیح اومنلې شی نو د دې نه دا لازمیږی چه د هیڅ یو یهودی یا نصرانی خپلوان به دده وارثان نه وی، ځکه چه هغوئ خو به په حضرت عیسی علیه السلام او حضرت محمد ﷺ باندې ایمان راوړې وې او مړشوې به وی او دده وارثان خو یهود اونصرانیان دی. حالانکه د مسلمان وارث کافر نشی کیدې.

د حافظ ابن کثیر تبصره - خومونږ دا وایو چه دا په هغه وخت کښې دی چه کله داسې وخت کښې ایمان راوړې چه د الله تعالی په نزد معتبر وی. نه داسې وخت کښې چه ایمان راوړل بالکل بې فائدې وی. د حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما قول باندې که ژور نظر واچولې شی چه د دیوال نه دراپریوتلو په وخت کښې، د درنده خوړلو په وخت کښې، د توري د چلیدو په وخت کښې هغه ایمان راوړی، نو صفا ظاهر دی چه د داسې حالت ایمان مطلق نفع نه ورکوی. لکه څنګه چه د قران پورتنی آیتونو نه صفا ظاهر دی. والله اعلم.

Scanned with Ca

خما خیال سره خو دا بالکل صفا ظاهره ده که د دې ایت مبارک د رومبی تفسیر دواړه اقوال معتبر اومنلی شی.نوهیڅ اشکال نه پیدا کیږی.هغه په خپل خانې صحیح دی .خود دې آیت مبارک نه صحیح مطلب هغه دې چه کوم رومبی قول کښې دې،نود دې نه مراد دا دې چه حضرت عیسیٰ ﷺ آسمانونو کښې ژوندې موجود دې او قیامت ته نزدې به راکوزیږی.او وانی به چه یهود او نصاری دواړه دروغژن دی،او چه کوم افراط تفریط دوی کړې دې هغه به باطل اوګرځوی.یو طرفته د یهودیانو ملعون جماعت دې چه هغوی حضرت عیسیٰ ﷺ د دوی د عزت نه ډیر زیا ت اوغورزولو،او د دوی حق کښې نې داسې ناپاکې خبرې اوکړې چه د دې نه هر انسان نفرت کوی.بل طرفته نصرانیان دی چه هغوئی د دوی مرتبه دومره اوچته کړه چه هغه په دوی کښې نه وه،د دې ئې هم اثبات اوکړو او مقام نبوت نه ئې مقام ربوبیت ته اورسولو،دکوم نه الله ﷻ بالکل پاک دې.

حضرت عیسیٰ ﷺ به قیامت ته نزدې دوباره راځی:- اوس هغه احادیث واورئی چه په هغې کښې بیان دې چه حضرت عیسیٰ ﷺ به آخره زمانه کښې قیامت ته نزدې آسمان نه زمکې ته راکوزیږی او الله وحده لاشریك عبادت طرفته به خلق رابلی.

دعیسیٰ ﷺ کارونه:- صحیح بخاری ټول امت منی او دا قبلوی،په دې کښې حضرت امام بخاری ﷺ کتاب ذکر انبیاء کښې حدیث راوړې دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په هغه ذات قسم چه د هغه په قبضه کښې خما ساه ده نزدې ده تاسو کښې به حضرت عیسی به مریم ﷺ نازل شی،عادل حاکم به جوړشی او صلیب په مات کړی،خنزیر به قتل کړی او جزیه به ختمه کړی،مال به دومره زیات شی چه د ابه څوك نه خوښوی،یو سجده کول (١) به دنیا او مافیها نه بهتره وی. د دې حدیث مبارك تلاوت کولو نه پس د دې حدیث مبارك راوی حضرت ابوهریره ﷺ د شهادت په طور قرآنی آیت مبارك ﴿وَاِنْ مِّنْ﴾ آخر پورې تلاوت کړو.

صحیح مسلم کښې هم دا حدیث مبارك شته دې او بل سند سره هم دا روایت بخاری اومسلم شریف کښې مروی دې.په هغې کښې دی چه سجده به صرف د رب العالمین دپاره وی او په دې آیت مبارك کښې ﴿قَبْلَ مَوْتِهٖ﴾ نه پس فرمان دې چه ﴿قبل موت عیسیٰ بن مریم﴾،بیا دا د حضرت ابوهریره ﷺ درې ځل وئیل هم دی.

دعیسیٰ ﷺ حج اوعمره:- د مسند یو حدیث مبارك کښې دی چه حضرت عیسیٰ ﷺ به میدان فج روحا کښې حج او عمره دواړو دپاره لبیك وانی (٢). دا حدیث مسلم کښې هم دې (٣).

د مال زیاتیدل:- د مسند یو بل حدیث مبارك کښې دی چه حضرت عیسیٰ ﷺ به راکوزیږی او صلیب به ماتوی او خنزیر به قتلوی او مونځ به باجماعت وی،اود الله ﷻ لار کښې به مال دومره زیات ورکولې شی چه څوك اخستو والا به نه وی.خراج به پریږدی،روحاء ته به لارشی اوهلته به حج یا عمره کوی یا به دواړه یو خانې کوی. بیا حضرت ابوهریره ﷺ دا آیت مبارك تلاوت کړو.خو د دوی شاګرد حضرت حنظله خیال دې چه حضرت ابوهریره ﷺ اوفرمائیل چه د حضرت عیسیٰ ﷺ د انتقال نه مخکښې به په دوی ایمان راوړی،ماته نه دی معلوم چه دا ټول د حدیث الفاظ دی اوکه د حضرت ابوهریره ﷺ خپل (٤)

---

(١) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب عیسیٰ بن مریم : ٣٤٤٨، صحیح مسلم: ١٥٥، ترمذی : ٢٢٣٣، ابن ماجه: ٤٠٧٨، ابن حبان: ٦٨١٨، احمد: ٢/٢٤٠، مسند حمیدی: ١٠٩٧، شرح مشکل الآثار: ١٠٣، الشریعة للآجری :٣٨٠، الایمان لابن منده: ٤١١.

(٢) احمد:٢/٢٤٠،وسنده صحیح،ابن حبان :٦٨٢٠ بیهقی :٢/٥، مسندحمیدی :١٠٠٥، ددې سنددمسلم په شرط صحیح دې

(٣) صحیح مسلم کتاب الحج،باب اهلال النبی صلی الله علیه وسلم وهدیه : ١٢٥٢.

(٤) احمد: ٢/٢٩٠، وهو صحیح بالشواهد.

Scanned with Ca

صحیح بخاری کښې دی چه په هغه وخت کښې به څه وی چه حضرت مسیح بن مریم ﷺ نازل شی او ستاسوامام به هم ستاسو نه وی(۱).

دعیسی ﷺ پیژندګلو:- ابوداود او مسند احمد وغیره کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه انبیاء کرام ټول د یو پلار اولاد د رونړو پشان دی،میاندې ئې جدا جدا او دین ئې یودې.عیسی بن مریم نه زیات نزدې څه یم،ځکه چه د هغوئ او ځما ترمینځه بل نبی نشته دې .او یقینی طورهغه به نازلیږی نو تاسو هغه اوپیژنئ. سور سپین رنګ ئې دې،درمیانه قد ئې دې،دوه مصرې کپړې به ئې تړلې وی،د دوی سرنه به اوبه څاڅی،اګر چه لوند به نه وی.صلیب به مات کړی،خنزیر به قتل کړی،جزیه به نه قبلوی،خلق به اسلام طرفته رابلی،د هغوئ زمانه کښې به ټول ملتونه ختم شی،صرف اسلام به باقی پاتې شی.د هغوئ زمانه کښې به الله تعالی مسیح دجال هلاک کړی.بیا به زمکې باندې امانت واق شی.تردې چه تور ماران به اوښانو سره،شرمخان غواګانو سره،او شرمخان به چیلو سره څری.او ماشومان به مارانو سره لوبې کوی.او دوی ته به هیڅ نقصان نه رسوی، څلویښت کاله پورې به وی بیا به وفات شی او مسلمانان به د حضرت عیسی ﷺ جنازه ادا کوی (۲).

عیسی ﷺ ته د نبی ﷺ نزدیکت:- دابن جریر روایت کښې دی چه دوی به خلقو سره په اسلام جهاد کوی.ددې حدیث مبارک یو ټکړه صحیح بخاری کښې هم ده. او یو روایت کښې دی چه دټولو نه زیات نزدې دنیا او آخرت کښې حضرت عیسی ﷺ ته څه یم (۳).

دعیسی ﷺ مسلمانانو ته امامت ورکول:- صحیح مسلم کښې دی چه قیامت به ترهغه پورې قائم نه شی چه ترکومې چې رومیان اعماق یا دابق (د دوو ځایونو نومونه دی) کښې کوز نشی او د دوی مقابلې دپاره مدینې نه لښکر رانشی ،او دوی به په هغه وخت کښې په مخ د زمکې ټولو نه زیات الله ﷻ ته خوښ بندګان وی.هرکله چه صفونه جوړ شی نو رومیان به اووانی چه مونږ تاسوسره جنګ نه کوو، مونږ کښې چه کوم خلق بې دینه شوی دی مونږ هغوئ سره جنګ کول غواړو،تاسو مینځ نه لرې شئ.خومسلمانان به اووائی چه والله د انښی کیدې چه مونږ تاسو ته خپل کمزوری مسلمانان رونړه پریږدو. نو جنګ به شروع شی او د مسلمانانود دې لښکر دریمه حصه به اوتښتی .

د دې خلقو توبه به الله ﷻ بالکل نه قبلوی .او دریمه حصه به شهیدان شی.اودوی به د الله تعالی په نزد ټولو نه زیات افضل شهیدان وی.خو آخری دریمه حصه به فتح اومومی او غالب به شی.بیا به دوی هیڅ فتنه کښې نه پریوځی.قسطنطنیه به فتح کړی،او دوی به لا خپلې توري په زیتونو (د زیتون په ونو) کښې زړوندکړی او مال د غنیمت به تقسیموی،چې په دې دوران کښې به یو شیطان چغې کړی چه ستاسو په بچو دجال راغلو او د ده دا دادروغ به مسلمانان رښتیا اوګنړی اود دې څانې نه به اوځی.شام ته به اورسی او دښمنانوسره به دجنګ کولو دپاره صفونه جوړوی چه بل طرفته به د مونځ دپاره اقامت اوشی ،او حضرت عیسی ﷺ به نازل شی .اودوی ته به امامت ورکوی.هرکله دښمن دوی اوګوری نو داشان به ویلې شی لکه څنګه چه اوبوکښې مالګه ویلې کیږی.که حضرت عیسی ﷺ دوی

---

۱) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب نزول عیسی بن مریم علیه السلام : ۳۴۴۹، صحیح مسلم : ۱۰۰، مصنف ابن عبدالرزاق : ۲۰۸۴۱، الاسماء والصفات للبیهقی : ۸۹۵.

۲) ابوداود کتاب الملاحم باب خروج الدجال : ۴۳۲۴، باختلاف یسیر وسنده حسن احمد: ۴۰۶/۲، بهذه الالفاظ،حاکم: ۵۹۵/۲، ابن حبان ۶۸۲۱، مصنف عبدالرزاق : ۲۰۸۴۵.

۳) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی (واذکرفی الکتاب مریم اذ انتبذت من اهلها) ۳۴۴۳، صحیح مسلم: ۲۳۶۵.

Scanned with Ca

ته اوګوری نو دوی به ټول ختم شی .اوالله ﷻ به د دوی په لاس دوی قتل کړی،او دوی به په خپله حربه (نیزه) خلقو ته د دجال وینه اوښائی(۱).

دعیسی علیه السلام دنیا ته دوباره راتګ :- مسند احمداو ابن ماجه کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ما د معراج په شپه حضرت ابراهیم علیه السلام ،حضرت موسی علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام او لیدل،خپلو کښې مو یو بل سره د قیامت باره کښې خبرې اترې کولې. حضرت ابراهیم علیه السلام خپله لاعلمی ظاهر کړه،اودغه شان حضرت موسی علیه السلام هم،حضرت عیسی علیه السلام اوفرمائیل چه دالله تعالی نه سوا د قیامت راتلو صحیح وخت خو هیچا ته نه دی معلوم خو ما سره چه ځما رب کومه وعده کړې ده هغه دا ده چه دجال به راوځی او هغه سره به دوه ښاخونه وی.هرکله چه ما اوګوری نو داسې به ویلې کیږی لکه څنګه چه فولاد ویلې کیږی. نو الله ﷻ به هغه هلاک کړی کله چه هغه ما اووینی.تردې چه هر یو کانړئی او ونه به هم وانی چه ائې مسلمانه ! راشه د ایوکافر ځما په شا پټ دې،دې قتل کړه. نوالله تعالی به دوی هلاک کړی او خلق به امن اوامان سره خپلو خپلو کورونو ته لاړ شی.

دیاجوج ماجوج راوتل:- او دې نه پس به یاجوج اوماجوج راوځی ،اوهرطرفته به منډې وهی، ټول ښارونه به ویران کړی. چه په کوم څیز تیر شی نو هغه به هلاکوی او چه په کومو اوبو تیر شی نو هغه به ټولې اوڅکی،خلق به بیا ماته راشی،ځه به الله تعالی نه دعا اوغواړم او الله ﷻ به دا ټول تباه کړی.او د دوی لاشونونه به هوا خوره شی،بدبو به تری خوره شی،بیا به دومره باران اوشی چه دا ټول لاشونه به یوسی او په سمندر به لاهوشی.نو په هغه وخت کښې داسې د قیامت راتګ وی لکه څنګه چه د حامله ښځې خلقو ته نه وی معلومه چه سحر به ددې ماشوم پیدا کیږی یا به مابنام ددې ماشوم پیدا کیږی،د شپې به پیدا کیږی او که د ورځې ؟ (۲)

په مسلمانانو سختئ راتلل:- مسند احمد کښې حضرت ابونضره رحمه الله فرمائی چه مونږ حضرت عثمان بن ابوالعاص ﷺ سره د جمعې مونځ اوکړو او دې دپاره راغلو چه خپل لیکلې شوې قران پاک دوی ته اوښایو،هرکله چه د جمعې وخت راغلو نو دوی مونږ ته اوفرمائیل چه غسل اوکړئی،بیائې خوشبو راوړه اومونږ اولګوله،بیا جمات ته راغلو او یوسړی سره کیناستو. او هغه مونږ ته د دجال والا حدیث مبارک بیان کړو. بیا حضرت عثمان بن ابوالعاص راغلو او مونږ اودریدو،بیا ټول کیناستل،دوی اوفرمائیل چه ما نبی کریم ﷺ نه دا آوریدلی دی چه د مسلمانانو به دې ښارونه شی.یو د دوؤ سمندرونود یو ځائې کیدو په ځائې باندې،یو په حیره باندې،او یو شام کښې.بیا به خلقو باندې دې ویرې راشی.بیا به دجال راوزی.دې به رومبی ښار طرفته لاړشی او د هغه ځائې خلق به دریو حصو کښې تقسیم شی .یو حصه به اووائی چه مونږ د ده مقابله کوو او ګورو چه څه کیږی.دویمه حصه به د کلی خلقو سره یوځائې شی.اودریم جماعت به بل ښار ته لاړ شی او دوی ته به نزدې شی.دجال سره به اویا زره کسان وی او د هغوئ په سرونو به تاجونه وی.اوهغوئ کښې به اکثر یهود او ښځې وی.د دې ځائې مسلمانان به یو غار کښې پناه واخلی.د دوی چه کوم څناور څریدو دپاره تلی وی هغه به هم هلاک شی. په دې وجه به د دوی مصیبتونه زیات شی او د اولږې د وجې به د دوی حالت خراب شی تر دې چه په دوی کښې به یو کس د خپلې لیندې (په کوم کښې چې غشی کیخودې شی او ویشتلې شی) د غشې وتلو ځائې وریت کړی او هغه به اوخوری. هرکله چه دوی په سختئ کښې وی نو دوی ته به د سمندر نه آواز اوشی چه ائې خلقو تاسو ته مدد راغلو،دې آواز آوریدو سره به دا خلق خوشحاله شی خکه چه آواز نه به دوی ته معلومه وی چه دا د یو پوهه سړی آواز دې.بالکل د سحر مونځ په وخت

---

۱) صحیح مسلم کتاب الفتن باب فی فتح قسطنطیه وخروج الدجال ونزول عیسی بن مریم : ۲۷۹۷، ابن حبان: ٦٨١٣.

۲) احمد: ۳۷۵/۱، ابن ماجه کتاب الفتن باب فتنة الدجال وعیسی بن مریم : ٤٠٨١، وسنده صحیح،حاکم : ٤٨٨/٤.

Scanned with Ca

کښې به حضرت عیسی ﷺ نازل شی. د هغوئ امیر به حضرت عیسی ﷺ ته اووائی چه انې روح الله ﷺ ! تاسو مخکښې شئ او مونځ راکړئی.خوحضرت عیسی ﷺ به اووائی چه د دې امت بعضې خلق د بعضو امیران دی.نوهم دهغوئ امیر به مخکښې شی او مونځ به ورکړی. د فارغیدو نه پس به حضرت عیسی ﷺ خپله نیزه لاس کښې واخلی او دجال پسې به روان شی.دجال چه دوی ﷺ اوګوری نو د فولاد په شان په ویلې کیږی.دوی ﷺ به هغه په سینه اووهی او دې سره به هغه هلاک شی.او د هغه ملګری به شکست اوخوری او تیښته به اوکړی.خوهغوئ ته به یوځائې کښې هم پناه نه ملاویږی.تردې چه هغوئ به د یو ونې په شا پټ شی او هغه ونه به وائی چه ائې مسلمانه دا دې یو کافر ځما شاته پټ دې،اودغه شان کانړی به هم وائی(١).

د دجال لویه فتنه:- د ابن ماجه په روایت کښې دې چه نبی کریم ﷺ دې خپلې خطبې زیاته حصه د دجال په واقعه بیانولو کښې تیره کړې وه.او په هغې کښې دا هم وو چه د دنیا د اول نه واخله تر آخره پورې د دې نه زیاته لویه فتنه بله نشته دې.ټولو نبیانو علیهم السلام خپل خپل ا متونه د دې نه ویرول.ځه ټولو کښې آخر کښې یم او تاسو ټولو کښې آخری امت یئ.او هغه به یقینی طور تاسو کښې راځی.که ځما په موجودګئ کښې ر اغلو نو ځه به هغه سره ګورم.او که ځما نه پس راغلو نو هر سړې دې د دې نه خپل خپل ځان بچ کوی.ځه الله ﷻ د هر مسلمان خلیفه جوړوم. هغه به د شام او عراق ترمینځه راوځی او ښه به ګرځی. خلقو ! ائې دالله ﷻ بندګانو ! ګورئی تاسو ثابت قدم اوسئی.واورئی ! ځه تاسو ته د هغه یوداسې صفت ښایم چه هغه هیڅ یو نبی خپل امت ته نه دې خودلې.هغه به په شروع کښې دعوې کوی چه ځه نبی یم خو یاد ساتئ چه ځما نه پس به بل نبی نه راځی.او بیا به هغه د دې نه هم ورتیرشی او وائی به چه الله یم.نوتاسو یاد ساتئ چه الله ﷻ هیڅوک په خپلو سترګو نشی لیدئی. خو د مرګ نه پس د الله ﷻ دیدار کیدیشی. او واورئی هغه به کانړې وی او ستاسو رب کانړې نه دې.او د هغه د دواړو سترګو مینځ کښې به کافر لیکلې شوې وی او هغه به هر تعلیم یافته او غیرتعلیم یافته لوستلې شی.هغه سره به اور وی او باغ به ورسره وی.د هغه باغ به اصل کښې دوزخ وی او د هغه اور به اصل کښې جنت وی.واورئی ! تاسو کښې چه څوک هم هغه اور ته واچوی نو هغه دې الله تعالی ته فریاد کوی او د سورة کهف ړومبی آیتونه دې تلاوت کوی. د هغه اور به امن او سلامتیا والا شی.لکه څنګه چه خلیل الله ﷺ باندې د نمرود اور شوې وو. د هغه یو فتنه به دا هم وی چه هغه به یوبانډیچی ته اووائی که څه ستا مړ پلار راژوندې کړم،نو بیا خو به ته ما رب منې که نه.نو هغه به اقرار اوکړی،دې کښې به دوه شیطانان د ده پلار او مور په شکل کښې ظاهر شی او ده ته به اووائی چه څویه ! هم دا ستا رب دې او ته دې اومنه،او د هغه به یو فتنه دا هم وی چه هغه په یوسړی مسلط کړې شی اوهغه به دې آره کوی او دوه ټکړې به نې کړی، بیا به خلقو ته وانی چه تاسو دې کس ته ګورئی چه دې بیا ژوندې کوم.خو بیا به هم دې وائی چه ځما رب د ده نه سوا بل دې.نودې به هغه راپورته کړی او دا خبیث به هغه ته اووائی چه ستا رب څوک دې،هغه به جواب کښې اووائی چه ځما رب الله ﷻ دې،او ته د الله ﷻ دښمن یې. په الله ﷻ قسم اوس خو ماته مخکښې نه هم زیات یقین اوشو. (چې ته دجال یې)

ددجال په ټوله دنیا چکرلګول:- بل سند سره مروی دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا مومن به ځما د امت لوې درجې والا جنتی وی.حضرت ابوسعید خدری ﷺ فرمائی چه د دې حدیث بیانولو سره ځمونږ خیال وو چه دا سړې به حضرت عمر بن خطاب وی،د دوی د شهادت پورې ځمونږ هم دا خیال وو. نبی کریم ﷺ فرمائی چه د ده به یوفتنه دا هم وی چه هغه آسمان ته د اوبو ورولو حکم اوکړی او آسمان نه به باران اوشی،اوهغه به زمکې ته حکم اوکړی او زمکې نه به پیداوار راوځی. د ده به یو فتنه دا هم

---

١) احمد: ٢١٦/٤، ابن ابی شیبة: ٦٥٠/٨، وسنده ضعیف طبرانی : ٨٣١٠، مجمع الزوائد: ٣٤٢/٧، حاکم : ٤٧٨/٤.

وی چه هغه به یو قبیلې ته ورشی او هغوئ به دې اونه منی،هم په هغه وخت کښې به د هغوئ ټول څیزونه برباد او هلاک شی،اودغه شان به دې بلې قبیلې ته ورشی او هغوئ به دې اومنی،هم په هغه وخت به د آسمان نه باران اوشی او زمکې نه میوې زرغونې شی.اود هغوئ څناور به مخکښې نه زیات ځارېه او پنیووالا شی. د مکې او مدینې نه سوابه هغه د ټولې زمکې چکر لګوی. هرکله چه د مدینې رخ اوکړی نو په هره لار کښې به فرښتې توړې په لاس ولاړې وی نودې به د سنجه(د یو څانې نوم دې) اخری حد ضریب احمر(ډاهم د یو څانې نوم دې) کښې پاتې شی. بیا به مدینه کښې دری زلزلې راشی،او دې سره به ټول منافقان سړی او منافقانې بنځې د ده لښکر کښې شاملې،اومدینه به دا ګنده خلق خپلې سینې نه اوباسی،لکه څنګه چه بټئ د اوسپنې نه خیرې اوزنګ لرې کوی،د دې ورځې نوم به یوم الخلاص وی.

د عیسیٰ علیه السلام د راکوزیدو باره کښې تفصیلی حدیث:- ام شریك رضی الله عنها نبی کریم ﷺ نه تپوس کوی چه یا رسول الله ﷺ ! په هغه ورځ به عرب چرته وی،نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اول به هډو وی نه او که وی نو اکثریت به بیت المقدس کښې وی ،اود دوی امام به یو نیك سړې وی او هغه به دوی ته د سحر مونځ ورکوی.او دې کښې به حضرت عیسیٰ علیه السلام راکوزیږی.دا امام به روستو شی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام مخکښې شی او امامت ورکړی خو حضرت عیسیٰ علیه السلام به د هغه په ملا لاس کیږدی او فرمائی به چه مخکښې شه او مونځ ورکړه،اقامت ستا دپاره شوې دې،نو هم د دوی امام به مونځ ورکړی.د مونځ نه په فارغیدو به حضرت عیسیٰ علیه السلام حکم اوکړی چه دروازې بیرته کړئی،دروازې به بیرته کړې شی،هلته به دجال اویازره لښکر سره موجود وی ،اود هغوئ په سرونو به تاجونه او د هغوئ توړې وی.دجال چه کله حضرت عیسیٰ علیه السلام اوګوری نو داسې به ویلې کیږی لکه څنګه چه مالګه اوبو کښې ویلې کیږی.او یو دم به شا کړی او تښتی به.حضرت عیسیٰ علیه السلام به اووائی چه الله ﷻ مقرر کړی دی چه ته به ځما دلاسه یو ګزار خورې،اودا نشی بدلیدې.نو حضرت عیسیٰ علیه السلام به دې مشرقی باب لد سره اونیسی او یهودیان به تښتی اومنتشر به شی،خو هغوئ ته به د سر پتیدو ځائې هم نه ملاویږی.هره ونه،هر کانړې،هر دیوال او هر څناور به وائی چه ائې مسلمانه ! دا دې یو یهودی ما سره پټ شوې دې،راشه او دې قتل کړه. خو د ببول ونه د یهودو ونه ده دا به نه وائی.نبی کریم ﷺ فرمائی چه دې به څلویښت کاله وی.یوکال به د نیم کال برابر وی،یوکال به د میاشتې برابر وی،او یوه میاشت به د هفتې برابره وی،او باقی ورځې به د ٠شراره په شان وی.سحر په سړې یو دروازې نه روان شی او لا به بلې دروازې ته نه وی رسیدلې چه مانبام به شی.خلقو تپوس اوکړو چه بیا به مونږ په هغه لنډو ورځو کښې مونځ څنګه کوو؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اندازه کوئی لکه څنګه چه دې لویو ورځوکښې اندازه کوئی.نبی کریم ﷺ فرمائی چه بیا به حضرت عیسیٰ علیه السلام ځمونږ امت کښې بادشاه وی،عادل به وی،انصاف کولووالا به وی،امام به وی ،صلیب په مات کړی،خنزیر به قتل کړی،جزیه به لرې کړی،صدقه به پریښودې شی . په چیلئ او اوښ د محنت کار نشی کولې.حسد او کینه به ختمه شی.د هر زهریله څناور زهر به ختم شی.ماشومان به خپلې ګوتې د مارانوخولو کښې ورکوی.او دا ماران به دوی ته هیڅ تکلیف نه ورکوی،شرمخانوسره به هلکان لوبې کوی،او دوی ته به هیڅ نقصان نه ورکوی.شرمخان به چیلو سره داسې ګرځی لکه څنګه چه د دوی شپونکې وی.ټوله زمکه به اسلام او اصلاح نه داسې ډکه شی لکه څنګه چه یو لوښې د اوبو نه تر سره پورې ډک وی،د ټولو به یوکلمه شی. د الله تعالی نه سوا به دهیڅا عبادت نه کیږی او هرقسمه جنګ به بند شی.قریش به خپل ملك واخلی.زمکه به لکه د سپینو زرو روښانه شی،او څنګه برکتونه چه د حضرت آدم علیه السلام زمانه کښې وو هغه شان به بیا شی.یوډلې دپاره به د انګور یوه غنچه کافی وی.یو انار به دومره وی چه یوډله به ئې

اوخوری او دوی به ښه ماړه شی. غوایان به دومره دومره قیمت ملاویږی.او اس به په څو روپو ملاویږی (ډیره ارزانی به شی) خلقو تپوس اوکړو چه د دې قیمت به ولې کم وی ؟ وې فرمائیل چه په ټوله زمکه به کر کیږی .د دجال د ظاهریدو نه به دري کاله مخکښې سخت قحط وی.په رومبی کال به ذ باران دریمه حصه د الله ﷻ په حکم اونه شی.او د زمکې پیدوار به هم دریمه حصه کم شی.بیا په دویم کال به الله ﷻ آسمان ته حکم اوکړی چه د باران دوه حصې کمې کړه.اوهم دا حکم به زمکې ته هم اوشی چه خپل پیداوار دوه حصې کم کړه. په دریم کال به د آسمان نه یو څاڅکئ باران هم او نشی او نه به زمکې نه پیداوار کیږی.ټول ځناور به دې سره هلاك شی خو کوم چې الله ﷻ نه غواړی (هغوی بهٔ هلاکت نه بچ شی) خلقو تپوس اوکړو چه بیا به هغه وخت کښې خلق څنګه ژوندی وی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د دوی غذا به په هغه وخت کښې لااله الاالله واالله اکبر اوسبحان الله والحمدلله وی.

امام ابن ماجه رحمه الله فرمائی چه ځما استاد د خپل استاد نه آوریدلی دی چه دا حدیث مبارك ددې قابل دی چه د بچو استاد دې دا بچو ته هم اوښائی لکه ورته دې اولیکی چه دوی ته یاد وی (١). دا حدیث مبارك خو دې سند سره غریب دې خود دې د بعضو تکړو شواهد نورو احادیثو کښې ملاویږی (٢) ددې حدیث پشان یو بل حدیث مبارك حضرت نواس بن سمعان ﷺ نه مروی دی.هغه هم دلته ذکرکوو.

صحیح مسلم کښې دی چه یو ورځ سحر نبی کریم ﷺ د دجال ذکر اوکړو او داسې ئې پورته او لاندې کړو چه مونږ اوګنړل چه ګنی هغه دلته د مدینې دقجورو په باغونو کښې موجود دی.بیا چه کله مونږ واپس کیدو نو نبی کریم ﷺ ځمونږ د مخونه نه معلومه کړه او تپوس ئې اوکړو چه څه خبره ده ؟ مونږ ورته بیان کړل (چه زمونږ دا ویره شوه چه دجال به اوس راوځی)، نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د دجال نه علاوه خو ماته په تاسو ډیره ویره ده. که هغه ځما په موجودګئی کښې راوتلو خو څه به هغه سره پوهیږم اوکه ځما نه پس راوتو نو هر مسلمان به هغه سره پخپله پوهیږی.څه خپل خلیفه په هر مسلمان الله ﷻ جوړوم. هغه به ځوان شی،او د هغه یو سترګه به راوتې وی،بس داسې اوګنړئی چه د عبدالعزی بن قطن په شان به وی.تاسو کښې چه څوك هم هغه اوګوری نو هغه ته پکاردی چه د سورة کهف رومبی آیتونه تلاوت کړی.هغه به د شام او عراق مینځ کښې ظاهریږی یو خوا بل خوا به ګرځی. انې د الله ﷻ بندګانو ښه ثابت قدم اوسئ.مونږ تپوس اوکړو چه هغه به څومره موده وی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څلویښت ورځې.یو ورځ به د یوکال برابره وی،یو ورځ به د یوې میاشتې،اویوه ورځ به دیو هفتې برابره وی،اوباقی ورځې به ستاسو د معمول د ورځو مطابق وی.بیا مونږ تپوس اوکړو چه کومه ورځ د کال برابر وی نو په هغې کښې به مونږ مونځ د یوې ورځې کوو اودا به کافی وی که نه.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه نه بالکل اندازه به لګوئی .(نو په اندازه سره به په دغه یوه ورځ کښې د یو کال مونځونه کوئ) مونږ تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ اد هغه د رفتار تیزی به څومره وی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه داسې به وی لکه څنګه چه وریځې بادونونه سره روانې وی.یو قوم به خپل طرفته راوبلی هغوئ به دې رب اومنی او په هغوئ به آسمان نه باران اووروی. او د زمکې نه به میوې او فصل زرغون کړی د هغوئ ځناور به ښه څاربه او ښه پئ ورکونکی شی.یو قوم ته به ورشی اوهغوئ به دې رب نه منی او انکار به اوکړی،دې چه د هغه ځائې نه واپس شی نو د ده لاس کښې به هیڅ نه وی،دې به په شاړه زمکه اودریږی او وانی چه د زمکې خزانو بهرته راوځئ ،نو ټولې به د شاتو د مچو په شان بهر راوځی. دې به یو ځوان راوبلی او هغه به قتل کړی او هغه به دومره دومره لرې ګزار کړی

---

١) ابن ماجه کتاب الفتن باب الفتن الدجال وخروج عیسٰی بن مریم.وخروج یاجوج وماجوج : ٤٠٧٧.

٢) صحیح بخاری حواله سابق،: ٢٩٢٦.

Scanned with Ca

،بیا به هغه ته اواز اوکړی نو هغه به ژوندی په خندا راپاسی او ده ته به راشی.بیا به الله ﷻ مسیح ابن مریم اولیږی او هغه به د دمشق مشرق طرف ته مینارې سره راکوزیږی او دوه څادرې به ځې اچولې وی او د دوۀ فرښتو په وزرو به ځې لاسونه اینبودی وی،هر کله چه سر تیټ کړی نو د دوی ﷺ د سرنه به څاڅکی پریوزی.اوکله چه سر تیټ کړی نو د دوی ﷺ په سر کښې به هغه قطری لکه د غمو پرقیږی.چه کوم کافر پورې د دوی ﷺ ساه رسی نو هغوئ به مړشی او د دوی ساه به هغه پورې رسی چه تر کومې نظر لګی.دوی ﷺ به دجال پسې شی او باب لد سره به هغه قتل کړی.بیا به هغه خلقو ته واپس راشی چه کوم الله ﷻ د دې فتنې نه بچ کړی وی. د دوی په مخونو به لاس راکاږی او دوی ته به د جنت د درجو زیرې ورکړی.بیا د الله ﷻ د طرفنه نه حضرت عیسی ﷺ ته وحی راشی چه څه خپل بندګان لیږم او دهغوئ مقابله هیڅوک نشی کولې.نو ته خمادا خاص بندګان طور طرفته بوځه.

د یاجوج ماجوک راوتل :- بیا به یاجوج او ماجوج راوځی او هر طرفته به خواره شی.د دوی رومبئ ډله به په بحیره طبریه راشی اود هغې تولې اوبه به اوڅکی.هرکله چه دوی نه پس بله ډله راشی نو دا به داشان اوچ وی چه هغه به اووائی چه دې کښې ګنی هډو اوبه نه وې.حضرت عیسی ﷺ او د هغوئ ملګری به هلته داسې بند وی چه دوی ته غوښی یوسر هم که ملاویږی نودا به ښه ګنړی،لکه څنګه چه تاسو ته ښ سل دیناره خوښ دی.بیا به حضرت عیسی ﷺ او مومنان د الله تعالی نه دعاګانې کوی ،اوالله ﷻ به په هغوئ د څټ بیماری راولی .او دې سره به دا ټول فنا شی.بیا به حضرت عیسی ﷺ او دوی ملګری زمکې ته راکوز شی خو په زمکه به یو لیشت ځائې هم د دوی دلاشونو نه خالی نه وی اوهر طرفته به بدبوئی وی.بیا به دالله تعالی نه دعاګانې کوی او د بختی اوښانو د څټ برابر مارغان به راشی او د دوی لاشونه چه چرته الله تعالی غواړی نو هلته به ځې یوسی. بیا به باران اوشی او ټوله زمکه به لکه د تلی پاکه شی.بیا به زمکې ته حکم اوشی چه خپلې میوې راوباسه او خپل برکتونه ښکاره کړه. په هغه ورځ به یو انار د یوې ډلې دپاره کافی وی.او ټول به د دې د پوستکی لاندې آرام کولې شی.د یو اوښې پئ به ټول کور نشی څکلې .بیا به الله ﷻ یو ښکلې هوا راولی چه د خلقو د ترخونو لاندې به تیره شی او دې سره به ټول مړ شی او صرف بدخلق به پاتې شی.اوهغوئ به خپلو کښې لکه د خرونو په شان جنګونه کوی.په دوی به قیامت راشی .([1])

مسند احمد کښې یو حدیث مبارک دې هغه به مونږ د سورۀ انبیاء آیت ﴿حَتَّىٰٓ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ﴾ تفسیر کښې بیانوو. انشاء الله.

صحیح مسلم کښې دی چه یو سړې حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ته راغلو او ورته ئې اووئیل چه دا څه خبره ده چه ماته رارسیدلې ده چه تاسوفرمائې چه قیامت به تردې راشی.عمر ﷺاوفرمائیل سبحان یا ئې لا اله الا الله اووئیل او بیائې اوفرمائیل خما خو زړه غواړی چه څه تاته یو حدیث هم اونه وایم ما خو دا وئیلی وو چه تاسو به لږ وخت پس غټ غټ کارونه اووینئ،بیت الله شریف به اوسیزلې شی،اودا به وی او هغه به وی وغیره. بیا د نبی کریم ﷺ فرمان دې چه دجال به راوځی او خما امت کښې به څلویښت ورځې ایسار وی.ماته معلومه نه ده چه څلویښت ورځې یا څلویښت میاشتې یا څلویښت کاله ،بیا به الله ﷻ عیسی بن مریم اولیږی،او د حضرت عیسی ﷺ صورت د عروه بن مسعود ﷺ په شان دې.دوی ﷺ به هغه تلاش کړی او هغه به قتل کړی.بیا به خلق داسې وی چه دوۀ کسانو کښې به

---

[1]) صحیح مسلم کتاب الفتن باب ذکر الدجال : ٢٩٣٧، احمد: ١٨١/٤. ددوی نه علاوه دا روایت مختصر دې څایونو ی هم موجود دې : ابوداود : ٤٣٢١. ترمذی : ٢٢٤٠، السنن الکبری : ٨٠٢٤، معجم الصحابة : ١٦٣/٣، عمل الیوم واللیلة : ٩٤٧.

عدوات نه وی.بیا به د شام د طرفه یوه یخه هوا اوچلیږی .اوتول ایمان والا به دې سره وفات شی.چه د چا په زړه کښې د ذرې برابر هم ایمان وی او اګر چه هغه د یو غر په غار کښې وی،هغه به هم وفات شی.بیا به بدترین خلق باقی پاتې شی.او هغوئ به د مارغانو په شان سپك او د درندګانو په شان دروند دماغ والا وی.په دوی کښې به د ښه او بدهڅو تمیز نه وی.شیطان به دوی ته د انسان په شکل راشی او دوی به بت پرستئ طرفته مائل کړی.خو په هغوئ به په دې حالت کښې هم د رزق دروازې بیرته وی،او دوی به ښه د آرام ژوند تیروی، بیا به شپیلئ پوک وهلی شی اوخلق به غوزاریږی،یو سړی به وی چه خپل اوښ ته د اوبو څکولو دپاره به حوض صحیح کوی،تولو نه مخکښې به هغه د شپیلئ آواز واوری. او دې سره به ټول خلق بې هوشه شی.د دې تولو د فناکیدو نه پس به الله ﷻ یو میاشت باران اووروی او دا به د پرخې په شان وی.دې سره به دوباره جسمونه پیدا شی او بیا به دوباره شپیلئ اووهلې شی،او ټول به راپاسی،بیا به اووئیلې شی چا ائې خلقو رب طرفته ځئ،دوی نه به تپوس کولې شی .او بیا به اوفرمائیلې شی چه د جهنم حصه راوباسئ،تپوس به اوشی چه څومره نه څومره ؟ جواب به ورکړې شی چه هرو زرو نه نهه سوه او یو کم سل،همدا ورځ ده چه بچی به بوډاګان کړی او هم دا ورځ ده چه په دې کښې به پنډئی پرانیستې شی(١)مسند احمد کښې دی چه ابن مریم ﷺ به باب لد یا لد طرفته مسیح دجال قتل کوی (٢).

په ترمذی شریف کښې ،،باب لد ،، دې.او دا صحیح حدیث مبارك دې(٣).دې نه پس امام ترمذی د څو نورو صحابه کرام ﷺ نومونه اخستی دی چه هغوئ نه هم دې باب کښې احادیث مروی دی.نودې نه مراد هغه احادیث دی چه په هغې کښې د دجال مسیح لاس سره قتل کول ذکر دی.صرف د دجال د قتل کولو احادیث خو بې شمیره دی.او د هغې جمع کول مشکل دی.

دقیامت لس نښې:- مسند احمد کښې دی چه د عرفې نه د راتلو په وخت کښې نبی کریم ﷺ د خپلو صحابه کرام ﷺ یو مجمعې سره تیر شو او په هغه وخت کښې هغوئ د قیامت ذکر کولو. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تر کومې لس خبرې نه وی نو تر هغه به قیامت نه قائمیږی.① نمر د مغرب طرف نه راختل② د لوګی راتلل ③ دابة الارض راوتل ④ دیاجوج او ماجوج راوتل ⑤ د عیسی بن مریم ﷺ نازلیدل ⑥ د دجال راتلل ⑦ دری ځانې کښې د زمکې شلیدل په مشرق کښې ⑧ په مغرب کښې ⑨او په جزیره عرب کښې ⑩او د عدن نه یو اور راوتل چه دا به خلق شړی او یو طرفته به ئې راجمع کړی.هغوئ به دې اور سره شپه هم تیروی او د غرمې به هغوئ آرام هم کوی،(٤). دا حدیث مبارك مسلم او سنن کښې دې(٥). او حضرت حذیفه بن اسید غفاری ﷺ نه موقوفاً هم مروی دې.والله اعلم.

نود نبی کریم ﷺ د امتواترحدیث مبارك چه دابوهریره ﷺ،حضرت ابن مسعود ﷺ،حضرت عثمان بن العاص ﷺ،حضرت ابوامامه ﷺ،حضرت نواس بن سنان ﷺ،حضرت عبدالله بن عمر ﷺ،حضرت مجمع بن جاریه ﷺ،حضرت ابوشریحه ﷺ،حضرت حذیفه اسید ﷺ نه مروی دی.دا صفا دلالت کوی چه حضرت عیسی ﷺ به نازلیږی.دې سره داهم بیان دې چه څنګه به نازلیږی او چرته به نازلیږی،او په

---

١) صحیح مسلم کتاب الفتن باب خروج الدجال ومکثه فی الارض :::الخ : ٢٩٤٠.

٢) احمد : ٤٢٠/٣، عبدالرزاق : ٢-٨٣٥.

٣) ترمذی کتاب الفتن باب ماجاء فی قتل عیسی بن مریم الدجال : ٢٢٤٤، وهو حسن.

٤) احمد : ٦/٤، وهو صحیح ابن حبان : ٦٨٤٣، مسند حمیدی : ٨٢٧، طبرانی : ٣٠٣٣، شرح السنة : ٤٢٥٠ الاحاد والمثانی : ١٠١٣، مسندالطیالسی : ١٠٦٧ ددې روایت سند صحیح دې.

٥) صحیح مسلم کتاب الفتن باب فی الآیات التی تکون قبل الساعة: ٢٩٠١، ابوداود : ٤٣١١، ترمذی : ٢١٨٣، السنن الکبری للنسائی : ١١٣٨٠،ابن ماجه : ٤٠٤١ مختصرا.

کوم وخت کښې به نازلیږی،یعنی د سحر مونځ د اقامت په وخت کښې د شام ښار د دمشق شرقی مناره باندې به راکوزیږی.په هغه زمانه کښې یعنی ۷۴۱ هجری کښې د جامع اموی مناره ډیره مضبوطه جوړه کړې شوې ده. ځکه چه دا په اور سیزلې شوې ده او دا اور لګولو والا غالبا ملعون عیسایان وو. څه معلومه ده چه هم دا هغه مناره وی چه په دې به حضرت مسیح ﷺ نازلیږی.او خنزیران به قتل کوی او صلیب به ماتوی،اوجزیه به ختموی،او د دین اسلام نه سوا به بل دین نه قبلوی،لکه څنګه چه د بخاری اومسلم شریف احادیثو کښې تیر شو. چه په هغې کښې صادق اومصدوق پیغمبر ﷺ دا خبر ورکړې دې،او دا ئې ثابت کړی دی،چې دا به هغه وخت وی چه کله ټولې شك شبهې ختمې شی،او خلق به د حضرت عیسی ﷺ په ماتحتئ کښې اسلام قبول کړی.لکه څنګه دې آیت مبارك کښې فرمان دې چه ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ یو قرات کښې ﴿لَعَلَمٌ﴾ دې یعنی د مسیح ﷺ نازلیدل د قیامت یو غټه نښه ده یعنی د قیا مت نزدیکت.ځکه چه حضرت عیسی ﷺ به د دجال راتلو نه پس تشریف راوړی. اوهغه به قتل کوی لکه څنګه چه صحیح حدیث مبارك کښې دی چه الله ﷻ هیڅ یو بیماری داسې نه ده پیدا کړې چه د هغې علاج نه وی(۱).هم د حضرت عیسی ﷺ په وخت کښې به یاجوج او ماجوج راوزی او د دوی ﷺ دعا سره به الله ﷻ هغوئ ختم کړی.قران پاك د دوی د راوتلو هم خبر ورکوی چه ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِّلسَّاعَةِ﴾ یو قرات کښې ﴿لَعَلَمٌ﴾ دې یعنی د مسیح ﷺ نازلیدل د قیامت یو غټه نښه ده یعنی حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ ۝ وَاقْتَرَبَ الْوَعْدُ الْحَقُّ ﴾ یعنی دهغوئ راوتل هم د قیامت د قرب دلیل دې.

دعیسی ﷺ صفتونه:- اوس د حضرت عسی ﷺ صفتونه واورئی.رومبی دوؤ حدیثونوکښې د حضرت عیسی ﷺ صفتونه بیان شوی دی.بخاری او مسلم شریف کښې دی چه حضرت موسی ﷺ سره مې ملاقات اوکړې شو،هغوئ درمیان قد وو .صفا وینښتو والا وو. لکه څنګه چه د شنو قبیلې خلق وی. اوحضرت عیسی ﷺ سره مې هم ملاقات اوکړو،هغه سورسپین،او میانه قد والا وو. داسې معلومیدل لکه چه اوس د حمام نه راوتلې وی.ما حضرت ابراهیم ﷺهم اولیدل،هغه بالکل ځما په شان وو.(۲) د بخاری یو بل روایت کښې دی چه حضرت عیسی ﷺ سورسپین،ګالګوټې وینښتو والا او پلن او اوږد وو. حضرت موسی ﷺ غنم رنګئ او بدن ئې نیغ او نیغ وینښتووالا وو لکه د زطئ قبیلې خلق چه وی (۳). دا شان دوی ﷺ ددجال صورت هم بیان کړې دې،د هغه ښئ سترګه کانړئ ده،لکه راوتلې انګور. نبی کریم ﷺ فرمائی چه ماته کعبې سره خوب کښې اوخودلې شو. چه یو غنم رنګئ دې اود هغه د سرزلفې تراوړو پورې وې.صفا وینښتو والا دې او د هغه د سر نه اوبه څڅیدلې،د دوؤ سرو په اوکو ئې لاسونه اینبودی اوطواف ئې کولو. ما تپوس اوکړو چه دا څوك دی ؟ نو ماته اووئیلې شو چه دا مسیح بن مریم ﷺ دې.ما ده پسې یو سړې اولیدو چه د هغه ښئ سترګه کانړئ وه،د ابن قطن په شان وو،وینښته ئې ډیر سخت وو،هغه هم د دوؤ سرو په اوکو لاسونه اچولی وو اود بیت الله شریف طواف ئې کولو. ما تپوس اوکړو چه دا څوك دی نو ماته اووئیلې شو چه د مسیح دجال دې.(۴)

بخاری شریف یو بل روایت کښې دی چه حضرت عبدالله ﷺ نه مروی دې په الله قسم چه نبی کریم ﷺ دا نه دی وئیلی چه د حضرت عیسی ﷺ شکل سور دې.بلکه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه هغه غنم

---

۱) صحیح بخاری کتاب الطب باب ماانزل الله داء الانزال

۲) صحیح بخاری کتاب احادیث انبیاء باب قول ا لله تعالی (واذکر فی الکتاب مریم اذانتبذت من اهلها....) :۳٤۳۸، صحیح مسلم: ۱٦۸.

۳) صحیح بخاری حواله سابق : ۳٤۳۹،صحیح مسلم : ۱٦۹.

٤) صحیح بخاری کتاب احادیث انبیاء باب قول ا لله تعالی (واذکر فی الکتاب مریم اذانتبذت من اهلها....) :۳٤٤۰صحیح مسلم: ۱٦۹.

Scanned with Ca

رنګي دي .بيا ئې پورته حديث مبارك بيا ن کړل.حضرت زهري رحمه الله فرمانی چه ابن قطن د قبيله خزاعه يو سړي وو چه په جاهليت کښې مړ شوي وو(۱)

هغه حديث مبارك تير شويدي په کوم کښې چې بيان دي چه مسيح عليه السلام به د خپل نزول نه پس څلويښت کاله ژوندي وي.بيا به وفات شي.او مسلمانان به د دوی د جنازي مونځ ادا کوی(۲) خود مسلم يو حديث مبارك کښې دی چه حضرت عيسی عليه السلام به اووه کاله پوري وی والله اعلم.د ابن عساکر اوبعضو قول دي چه هرکله دوی عليه السلام آسمانونو ته لاړو نو په هغه وخت کښې د دوی عليه السلام عمر يو نيم کال وو،د ابالکل غلط دی،او رد قول دي. حافظ ابوالقاسم رحمه الله خپل تاريخ کښې د بعضو سلفو نه هم دا نقل کړی دی چه دوی عليه السلام به د نبی کريم صلی الله عليه وسلم حجره مبارکه کښې نبی کريم صلی الله عليه وسلم سره دفن کيږی. (۳)والله اعلم.

بيا ارشاد دي چه دوی به د قيامت په ورځ په هغوئ ګواه وی،يعنی په دي خبره چه د الله ﷻ رسالت دوی رسولې وو.اوبخپله دوی د الله تعالی د عبوديت اقرار کړې وو لکه د سورة مائده په آخر کښې دی چه ﴿واذقال الله﴾ نه تر ﴿الحکيم﴾ پوري دي.يعنی د دوی دګواهئ هلته ذکر شته دي او د الله ﷻ د سوال.

فَبِظُلْمٍ	مِّنَ الَّذِيْنَ	هَادُوْا	حَرَّمْنَا	
انو په سبب دظلم	دهغه کسانو	چې يهوديان شوی دی	حرام کړل مونږه	
انود هغه کسانو دظلم اوزياتې په وجه چې يهوديان شوی دی				
عَلَيْهِمْ	طَيِّبٰتٍ	اُحِلَّتْ	لَهُمْ	وَبِصَدِّهِمْ	عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ
په دوئ باندې اپاك څيزونه	هغه چې حلال کړې شوی وو	ددوئ د پاره	اوپه سبب دمنع کولو د دوئ	دلارې دالله نه	
مونږ په هغوئ پاکيزه حلال شوی رزقونه حرام کړل	اوپه دې وجې چې دالله ﷻ دلارې نه ډير				
كَثِيْرًا ۙ	وَّاَخْذِهِمُ	الرِّبٰوا	وَقَدْ نُهُوْا	عَنْهُ	
ډير	او په سبب داخستلو ددوئ	سود لره	او حال دا چې منع کړې شوی وو دوئ	ددغه سود نه	
خلق منع کوی	اوپه دې وجه چې سود ونه اخلی	حالانکه دوئ دسود اخستونه منع کړې شوی وو			
وَاَكْلِهِمْ	اَمْوَالَ النَّاسِ	بِالْبَاطِلِ ؕ	وَاَعْتَدْنَا		
اوپه سبب دخوړلو ددوئ	مالونو دخلقو لره	په باطلې طريقې سره	اوتيار کړې دي مونږه		
اوپه دې وجه چې دخلقو مالونه په ناحقه خوری	اومونږ په دوی کښې د کافرانو دپاره درد ناک عذاب				
لِلْكٰفِرِيْنَ	مِنْهُمْ	عَذَابًا	اَلِيْمًا ۝	لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ	فِي الْعِلْمِ
دپاره دکافرانو	ددوئ نه	عذاب	دردناك	اليکن کوم خلق چې پاخه دی	په علم کښې
تيار کړې دي	.....خوپه دوئ کښې چې څوک په عمل کښې پاخه شوی دی				

---

۱) صحيح بخاری حواله سابق : ۳٤٤۱. صحيح مسلم: ۱۷۱.بدون قول الزهری.

۲) ددې روايت تخريج د آيت ۱۵۹ لاندې تير شوې دي.

۳) مجمع الزوائد : ۲۰٦/۸، ترمذی کتاب المناقب باب سلوالله لی الوسيلة : ۳٦۱۷ وسنده حسن.

Scanned with Ca

مِنْهُمْ	وَالْمُؤْمِنُوْنَ	يُؤْمِنُوْنَ	بِمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ
ددوئ نه |	اومومنان خلق |	هغوئ ایمان راوړی |	په هغه تعلیم |	چې نازل کړې شوې دې |	تاته
.....او مومنان دی |	هغوئ په هغه کتاب هم ایمان راوړی کوم چه په تاباندې نازل شوې دې				
وَمَآ	اُنْزِلَ	مِنْ قَبْلِكَ	وَالْمُقِيْمِيْنَ	الصَّلٰوةَ	وَالْمُؤْتُوْنَ
او په هغه |	چې نازل کړې شوې دې |	مخکښې ستانه |	اوقائیمونکی |	مانخه لره |	او ورکونکی
اوپه هغه(کتابونو)هم ایمان راوړی |	چې ستانه وړاندې نازل شوی دی |	اومونځونه کوی			
الزَّكٰوةَ	وَالْمُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ	وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ	اُولٰٓئِكَ	
زکاة لره |	اوایمان راوړونکی |	په الله |	او په ورځ د آخرت |	دغه ټول کسان چې دی	
اوزکوة ورکوی |	اوپه الله ﷻ اوپه ورځ دآخرت ایمان لری |	.....دغه شان کسانو ته به			
سَنُؤْتِيْهِمْ	اَجْرًا عَظِيْمًا ۝				
زر به ورکړو مونږ هغوئ له |	اجر لوئ |				
مونږ ډیرلوې اجرورکړو |					

قوله تعالی:: فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا

د سزا په طور الله تعالی حلال څیزونه حرامول:- ددې آیت مبارک دوه مطلبونه کیدیشی.یو دا چه دا حرمت قدرتی وی یعنی مقدرات الهی کښې دا وو چه دا خلق به خپل کتاب بدل کړی او په دې کښې به تحریف اوکړی.او حلال څیزونه به په خپل ځان حرام کړی. صرف د خپل تشدد او خپلې سختئ په وجه .دویم دا چه حرمت شرعی دې یعنی د تورات د نزول نه مخکښې چه بعضې څیزونه په دوی حلال وو او د تورات راتلو په وخت کښې هغه د دوی د بدکارو په وجه هغه حرام کړې شو،لکه فرمان دې چه ﴿كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ﴾ الخ یعنی د اوښ غوښه او پئ چه حضرت اسرائیل ﷺ په خپل ځان حرام کړی وو. ددې نه سوا ټول طعامونه د بنی اسرائیلو دپاره حلال وو بیا تورات کښې په دوی بعضې څیزونه حرام شو لکه سورة انعام کښې فرمائی چه ﴿وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا﴾ الخ،اومونږ په یهود هر نوك والا څیز حرام کړو. او د غوګانو اوګډو چیلو وازګه چه بیله وی مونږ په دوی حرامه کړه. دا ځکه چه دوی باغیان او د رسول مخالفت کونکی او اختلاف کونکوی وو. نودلته هم بیانیږی چه د دوی د ظلم او زیاتئ په وجه او د الله ﷻ د لارې نه یو طرفته کیدو په وجه او نورو ته د دهوکه کولو په وجه چه د دوی پخوانې عادت وو ،د رسولانو د دښمنئ په وجه،چې هغوی به ئې قتلول،هغوی به ئې دروغژن ګنړل،هغوی سره به ئې مقابله کوله،او رنګ په رنګ حیلې او بهانې به ئې تلاش کولې،سو- ه ئې خوړل اودا حرام وو ،او نور دغه شان د خلقو مالونو وهلو پسې شوی وو. او دا به دوی ته معلومه و چه الله تعالی دا حرام کړی دی.دا به ئې ښه په زړورتیا کول.په دې وجه په هغوئ حلال څیزونه هم حرام شو. ددې کفارو دپاره دردناك عذاب تیار شوې دې.

قوله تعالی:: لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ

په اهل کتابو کښې د مضبوط ایمان خاوندان:- خودوی کښې چه کوم پوخ ایمان والا او په ریښتیا ئې اسلام قبول کړې دې.ددې جملې تفسیر سورة آل عمران کښې تیر شوې دې.او چه کوم ایمان دار دی دوی خو قران پاك او ټول کتابونه منی .حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه دې نه مراد حضرت

Scanned with CamScanner

عبدالله بن سلام، حضرت ثعلبه بن سعید، حضرت زید بن سعید، اوحضرت اسید بن عبید ﷺ دی چه اسلام نې قبول کړې وو. او نبی کریم ﷺ نې نبی منلې وو.

د قراءت وضاحت:- مخکښې والا جمله ﴿وَالْمُقِيمِينَ الصَّلٰوةَ﴾ د ټولو امامانو قراءت کښې او د ابی بن کعب مصحف کښې داشان دی، خو د علامه ابن جریر رحمه الله د ابن مسعود ﷺ په مصحف کښې ﴿وَالْمُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ﴾ دې صحیح قرات ړومبې دې، چه کومو خلقو دې ته د کتاب غلطی ونیلې ده د هغوئ قول غلط دې. بعضې خو وائی چه د دې نصبی حالت د مدح په وجه سره دې لکه ﴿وَالْمُقِيمِينَ الصَّلٰوةَ﴾ کښې چه دی، او کلام عرب کښې او شعرونو کښې برابر قاعده موجود ده. بعضې وائی چه دا په ړومبی جمله عطف دې یعنی ﴿وَالْمُوفُونَ بِعَهْدِهِمْ إِذَا عٰهَدُوا ۚ وَالصّٰبِرِينَ﴾ اود عربو په کلام کښې او په اشعارو کښې دا قاعده برابر موجود ده بعضې وائی چه دا په راروانه جمله باندې عطف دې یعنی ﴿يُؤْمِنُونَ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ﴾ یعنی هغوئ په ده هم ایمان راوړی او په مونځ قائمولو هم د دوی ایمان دې یعنی دا واجب او برحق منی او یا دا مطلب دې چه د دې نه مراد فرشتې دی یعنی هغوئ په قران باندې، او د الله تعالی په کتابونو باندې او فرشتو باندې ایمان راوړی. امام ابن جریر همدا خوښوی، خو په دې کښې د سوچ ضرورت دې، والله اعلم.

قوله تعالی:: وَالْمُقِيمِينَ الصَّلٰوةَ وَالْمُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ

د اهل کتابو مؤمنانو نور صفتونه:- او زکوة ورکونکی دی، یعنی د مال او خان زکاة ورکوی دا دواړه مراد کیدیشی، والله اعلم. او صرف الله ﷻ د عبادت لائق دې، او د مرګ نه پس ژوند باندې هم د دوی ایمان دې چه د هر نیک او بد عمل جزا اوسزا به ورته ملاویږی. همدا خلق دی چه دوی ته مونږ اجر عظیم ورکوو. اوجنت به ورکوو.

إِنَّآ	أَوْحَيْنَآ	إِلَيْكَ	كَمَآ			
ابیشکه مونږه	وحی کړې ده	تاته	لکه څنګه چې			
انې پیغمبره مونږ تاته هغه شان وحی کړې ده	لکه څنګه چې مو					
أَوْحَيْنَآ	إِلَىٰ نُوحٍ	وَّالنَّبِيّٖنَ	مِنۢ بَعْدِهٖ ۚ	وَأَوْحَيْنَآ	إِلَىٰٓ إِبْرٰهِيمَ	
وحی کړې وه مونږه	نوح ﷺ ته	اوپیغمبرانو ته	روستو دهغه نه	اووحی اوکړه مونږه	ابراهیم ﷺ ته	
نوح ﷺ اودهغه نه پس نوروپیغمبرانو ته وحی کړې وه	.....اومونږ ابراهیم ﷺ ته					
وَإِسْمٰعِيلَ	وَإِسْحٰقَ	وَيَعْقُوبَ	وَالْأَسْبَاطِ	وَعِيسٰى		
اواسماعیل ﷺ	اواسحاق ﷺ	او یعقوب ﷺ ته	او اولاد (دیعقوب ﷺ) ته	او عیسی ﷺ ته		
اواسماعیل ﷺ ته، او اسحاق ﷺ ته، اویعقوب ﷺ ته او د دوی اولاد ته او عیسی ﷺ ته						
وَأَيُّوبَ	وَيُونُسَ	وَهٰرُونَ	وَسُلَيْمٰنَ ۚ	وَاٰتَيْنَا	دَاوٗدَ	
اوایوب ﷺ ته	اویونس ﷺ ته	او هارون ﷺ ته	اوسلیمان ﷺ ته	او ورکړو مونږ	داود ﷺ ته	
اوایوب ﷺ ته، او یونس ﷺ ته، او هارون ﷺ ته او سلیمان ﷺ ته وحی کړې وه	اومونږ داود ﷺ ته					
زَبُورًا ۝	وَرُسُلًا	قَدْ قَصَصْنٰهُمْ	عَلَيْكَ	مِنْ قَبْلُ	وَرُسُلًا	
زبور	او نورهغه رسولانو ته	چې بیان کړې دي مونږ دهغوئ	تاته	مخکښې ددې نه	او هغه رسولانو ته	
زبور ورکړې وؤ	اوهغه پیغمبرانوته موؤحی لیږلې وه	چې مخکښې موتا ته دهغوئ ذکر کړې دی				

Scanned with Ca

لَمْ نَقْصُصْهُمْ	عَلَيْكَ ط وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا ۚ
چې نه دې کړې مونږ بیان دهغوئ	تاته | اوخبرې اوکړې الله |دموسی سره | په خبرو کولوسره
اودهغې پیغمبرانو چې دهغوئ ذکر مودرته نه دې کړې | اوالله ﷻ موسی ﷺ سره خاص خبرې کړې دی	
رُسُلًا	مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ
(را اولیږل مونږ) رسولان (زیری ورکونکی |اویرونکی |دپاره ددې چې نه وی |خلقو لره | په الله باندې	
داتول پیغمبران (نیکانوته) زیرې ورکونکی اود(بدو) نه ویرونکی رالیږلې شوی وؤ | چې دپیغمبرانورانلونه پس خلقو	
حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ط وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ۝	
څه دلیل | روستو | درسولانو نه | او دې الله | غالب قوی | حکمت والا |	
سره دالله په وړاندې هیڅ عذر پاتې شی |اوالله ﷻ غالب او صاحب د حکمت دې |	

قوله تعالی:: اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ

یو شان نزول:- حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه سکن او عدی بن زید اووئیل چه انې محمد ﷺ مونږ نه منو چه حضرت موسی ﷺ نه پس الله ﷻ په یو انسان څه نازل شوی دی (۱) په دې باندې دا آیتونه نازل شو. حضرت محمدبن کعب قرظی ﷺ فرمائی چه کله آیت ﴿يَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ﴾ پورې نازل شو اود یهودو د بدوعملونو شیشه د دوی مخکښې کیخودې شوه نو هغوئ صفا اووئیل چه په یو انسان الله ﷻ یو کلام نه دې نازل کړې نه په حضرت موسی ﷺ او نه په حضرت عیسی ﷺ او نه په بل نبی ﷺ باندې.نبی کریم ﷺ په هغه وخت کښې تکیه لګولې ناست وو،نبی کریم ﷺ خپله حوبه (هغه کپړه په کومه چې د کیناستو په وخت پنډئ او خیټه اوتړی او خان راټینګ کړی یعنی نبی کریم ﷺ په دغه وخت کښې احتیا کړې وه) او وې فرمائیل الله تعالی په هیڅ چا کتاب نه دې نازل کړې ؟ نوالله ﷻ آیت مبارك ﴿وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ﴾ نازل کړو،خو دا قول د سوچ کولو قابل دې څکه چه دا آیت مبارك په سورة انعام کښې دې .او دا مکی دې او د سورة نساء پورتنی آیت مبارك مدنی دې .اودا د هغې رد کښې دې،څه وخت چه هغوئ وئیلی وو چه آسمان نه یو کتاب تاسو راوړئی.نود دې جواب کښې اوفرمائیلې شو چه حضرت موسی ﷺ نه هغوئ د دې نه هم زیات لوئې سوال کړې وو. بیا ئې د هغوئ عیبونه بیان کړل،د دوی ډومبی او اوسنی عیبونه ئې ښکاره کړل،

د وحی کول:- بیا فرمائی چه الله ﷻ خپل بنده او رسول حضرت محمد ﷺ طرفته هم دا وحی نازله کړې وه. لکه څنګه چې مو نورو نبیانو علیهم السلام طرفته کړې وه. زبور د هغه کتاب نوم دې کوم چې په حضرت داود ﷺ باندې نازل شوې وو. د دې نبیانو علیهم السلام قصې به په سورة قصص کښې انشاء الله بیانوو.

د پیغمبرانو شمار:- بیا فرمائی چه ددې آیت یعنی مکی سورة نه مخکښې دڅیرو نبیانو علیهم السلام ذکر تیر شوې دې.او د ډیرو نه دې شوې.د کومو نبیانو علیهم السلام نومونه چه د قران پاك لفظونو کښې راغلی دی هغه دادی.①حضرت آدم ②ﷺحضرت نوح ③ﷺحضرت ادریس ④ﷺحضرت هود ﷺ،⑤حضرت ابراهیم ﷺ،⑥حضرت لوط ﷺ ⑦، حضرت اسماعیل ﷺ ⑧،

---

(۱) الطبری : ۹/ ٤٠. ددې سند کښې محمد بن ابی محمد مجهول راوی دې.الضعفاء والمتروکین لابن جوزی: ۹۲/۳ رقم: ۳۱۷۹.

Scanned with Ca

حضرت اسحاق ﷺ ⑨، یعقوب ﷺ، ⑩حضرت یوسف ﷺ ⑪، حضرت شعیب ﷺ ⑫،حضرت موسی ﷺ ⑬ حضرت هارون ﷺ ⑭حضرت یونس ﷺ ⑮حضرت داؤد ﷺ ⑯حضرت سلیمان ⑰حضرت الیسع ﷺ ⑱حضرت زکریا ﷺ ⑲ حضرت عیسی ﷺ ⑳حضرت یحیی ﷺ،او په قول د اکثرو مفسرینو حضرت ذوالکفل ﷺ،حضرت ایوب ﷺ او حضرت الیاس ﷺ او د دې ټولو سردار حضرت محمد دې.او نو ډیرداسې رسولان هم دی چه د هغوئ ذکر قران پاك کښې نه دې شوې.

د پیغمبرانو د شمیر متعلق حدیث:- هم په دې وجه د نبیانو او مرسلینو تعداد کښې اختلاف دې.دې باره کښې مشهور حدیث مبارك د حضرت ابوذر نه دې چه هغه په تفسیر ابن مردویه کښې داسې دې چه ما د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو.چه د نبیانو علیهم السلام تعداد څومره دې ؟ نو وې فرمائیل چه یو لاك څلیرشت زره.ما تپوس اوکړو چه په دوی کښې رسولان څومره دی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه درې سوه دیارلس،ډیرلوئې تعداد. ما بیا تپوس اوکړو چه د ټولو نه مخکښې څوك دې ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه حضرت آدم ﷺ.ما اووئیل چه هغه هم رسول وو ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آو،الله تعالی هغه په خپل لاس پیدا کړو ،بیا ئې په هغه کښې خپل روح پوك وهلو،بیا ئې درست کړو او بیا ئې صحیح کړو.بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه انې ابوذر څلور پیرئی دی.حضرت آدم ﷺ،حضرت شیث ﷺ،حضرت نوح ﷺ او حضرت خنوخ ﷺ.اود ده مشهور نوم ادریس ﷺ دې.هم ده خپل قلم سره خط اولیکلو.څلور عربیان دی.حضرت هود ﷺ،حضرت صالح ﷺ،حضرت شعیب ﷺ او ستاسو نبی حضرت محمد ﷺ،اې ابوذر ! بنی اسرائیلو کښې ټول نه ډومبی نبی حضرت موسی ﷺ دې .او آخری نبی حضرت عیسی ﷺ دې.ټولو نبیانو علیهم السلام کښې ډومبې نبی حضرت آدم ﷺ دې او آخری نبی ستاسو نبی حضرت محمد ﷺ دې (۱)

په داسې قسم روایاتو باندې د حافظ رحمه الله تبصره:- دا پوره حدیث کوم چې ډیر اوږد دې حافظ ابوحاتم رحمه الله په خپل کتاب الانواع والتقاسیم کښې روایت کړې دې او په دې ئې د صحت نشان لګولې دې.خو د دوی خلاف امام ابوالفراج ابن جوزی رحمه الله دا بالکل موضوع ګرځولې دې. او ابراهیم بن هاشم رحمه الله د دې یو راوی باندې د وضاع کیدو وهم کوی.حقیقت دا دې چه دآئمه تعدیل او جرح کښې ټولو په ده باندې ددې حدیث په وجه کلام کړې دې.والله اعلم.

خودا حدیث مبارك بل سند سره حضرت ابو امامه ﷺ نه هم مروی دې .(۲)اوپه هغې کښې معان بن رفاعه سلامی ضعیف دې.او علی بن یزید هم ضعیف دې.او قاسم بن عبدالرحمان هم ضعیف دې.

او یو حدیث مبارك ابویعلی کښې دې چه الله تعالی اته زره نبیان لیږلی دی،څلور زره بنی اسرائیلو طرفته او څلور زره نورو خلقو طرفته (۳). دا حدیث مبارك هم ضعیف دې او دې کښې زید اود ده استاد قاشی هم ضعیف دې.والله اعلم.د ابویعلی یو بل حدیث مبارك کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اته زره نبیان علیهم السلام څما رونړه تیر شوی دی.دوی نه پس حضرت عیسی ﷺ راغلو (۴)او یو حدیث مبارك کښې دی چه څه داته زره نبیانو علیهم السلام نه پس راغلې یم.او په دې کښې څلور زره خو بنی اسرائیلو کښې وو.(۵)دا حدیث مبارك دې سند سره غریب ضرور دې خو د دې

---

۱) ابن حبان : ۳۶۱، وسنده ضعیف جدا حلیة الاولیاء : ۱۶۶/۱،.

۲) احمد: ۲۶۵/۵، ۲۶۶، ،طبرانی : ۷۸۷۱، مجمع الزوائد : ۱۵۹/۱،.

۳) مسند ابی یعلی : ۴۱۳۲. مجمع الز وائد: ۲۱۰/۸،

۴) مسند ابی یعلی : ۴۰۹۲. مجمع الزوائد : ۲۱۱/۸،.

۵) حلیة الاولیاء : ۱۶۳/۳،.

Scanned with Ca

ټول راویان معروف دی،او سند کښې ئې هیڅ ویره نشته دي،د احمد بن طارق نه سوا خکه چې د دوی بارد کښې ماته هیڅ عدالت یا جرح نه ده ملاؤ شوې،والله اعلم.

دیو لاکهه څلیرشت زره پیغمبرانوتعداد روایت:- حضرت ابوذر غفاری ﷺ والا اوږد حدیث مبارك د نبیانو علیهم السلام باره کښې دي هغه هم واورئی. دوی ﷺ فرمائی چه خه مسجد نبوی ﷺ ته راغلم،نبی کریم ﷺ یواځې مسجد نبوی کښې ناست وو. خه هم نبی کریم ﷺ سره کیناستم ما اوونیل یارسول الله تاسو مونږ ته د مونځ کولو حکم کړې دي نو مونځ څه څیز دي ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا بهترڅیزدي نو که زیات مونځ کوې اوکه کم مونځ کوې ما اوونیل چه یارسول الله ﷺ کوم اعمال بهتر دی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په الله تعالی ایمان راوړل،د هغه لار کښې جهاد کول.ما اوونیل یارسول الله ﷺ کوم یو مومن افضل دي ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ټولو نه ښه اخلاقووالا.ما اوونیل یارسول الله ﷺ کوم یو مسلمان غوره دي،نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د هغه دلاس او ژبې نه نور مسلمانان سلامت وی.ما تپوس اوکړو چه کوم یو هجرت افضل دي ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بدعملونه پریښودل.ما تپوس اوکړو چه کوم یو مونځ بهتر دي ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اوږد قنوت والا. ما تپوس اوکړو چه کومه یوه روژه بهتر ده ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه فرض کفایت کونکي دي اوالله تعالی سره د دي ډیر اجر او ثواب دي .ما تپوس اوکړو چه کوم یو جهاد افضل دي ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د یو کس آس هم زخمی کړي شی او دي پخپله هم زخمی شی .ما تپوس اوکړو چه کوم یو غلام آزادول زیات افضل دی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د کوم یو قیمت زیات وی او مالك ته زیات خوښ وی .ما تپوس اوکړو چه کومه یوه صدقه افضله ده ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د کم مال والا صدقه کولوکښې کوشش کول او دا پته ورکول.ماتپوس اوکړو چه قرآن پاك کښې اوږد آیت کوم یو دي ؟ حضرت نبی کریم صلی الله بیا علیه واله وسلم اوفرمائیل چه آیت الکرسی.بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اې ابوذر ! اووۀ آسمانونه د کرسئ مقابله کښې داسې دی لکه یو حلقه د یو میدان مقابله کښې.او دعرش فضیلت په کرسئ داسې دي لکه دوسیع میدان په حلقه باندې.ما اوونیل چه یارسول الله ﷺ ! انبیاء علیهم السلام څومره دی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه یو لاك څلریشت زره. ما اوونیل چه په دوی کښې رسولان څومره دی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه درې سوه دیارلس یو ډیر غټ جماعت.ما تپوس اوکړو چه رومبې څوك وو؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه حضرت آدم ﷺ.ما اوونیل چه هغه هم رسول او نبی وو؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آؤ الله تعالی هغه خپل لاس سره پیدا کړي وو، او خپل روح ئې هغه کښې پوك وهلو او هغه ئې صحیح جوړ کړو. بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه واورئی څلور پیړئی دی. ❶ حضرت آدم ﷺ ❷ حضرت شیث ﷺ ❸ حضرت خنوخ ﷺ او هم دا حضرت ادریس ﷺ دي او هم دوی ﷺ ټولو نه مخکښې قلم سره لیکل اوکړل ❹ او حضرت نوح ﷺ.او څلور عرب دی. ❶ حضرت هود ﷺ ❷ حضرت شعیب ﷺ ❸ حضرت صالح ﷺ ❹ او ستاسو نبی ﷺ.ټولونه مخکښې رسول حضرت آدم ﷺ دي او ټولو نه آخری رسول حضرت محمد ﷺ دي.ماتپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ الله تعالی څومره کتابونه نازل کړی دی. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه یو سل څلور.حضرت شیث ﷺ باندې پنځوس صحیفې او حضرت خنوخ ﷺ باندې دیرش صحیفې حضرت ابراهیم ﷺ باندې لس صحیفې او حضرت موسی باندې تورات،حضرت عیسی ﷺ باندې انجیل او حضرت داؤد ﷺ باندې زبور او حضرت محمد ﷺ باندې فرقان. ما اوونیل یارسول الله ﷺ ! دحضرت ابراهیم ﷺ صحیفو کښې څه وو؟

د ابراهیم د صحیفو نصیحتونه:- نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په هغې کښې دا وو اې بادشاه مسلط په تا څه اوشو،ته خو غرورکښې مبتلا شوې،ماته مال جمع کولو او یوځائې کولو دپاره نه وې لیږلې بلکه

دې دپاره مې لیږلې وې چه ته د مظلوم اواز ځما نه لرې کړې (یعنی چه هغه فریاد اونه کړی) که ماته راورسی نو څه به هغه نه رد کوم اگر چه هغه مظلوم کافر ولې نه وی .او په هغې کښې مثالونه هم ورپه عاقل باندې لازم دی چه هغه خپل وختونه تقسیم کړی،یو وخت کښې د خپل نفس حساب کوی اوبل وخت کښې دې د الله ﷻ صفتونو کښې غورکوی،یو وخت کښې دې د خپل معاش فکر کوی .عاقل ته پکار دی چه دریو څیزونو نه سوا خپل ځان نورو څیزونو کښې نه اخته کوی.یا خو د آخرت توښه یا حصول معاش،یا غیر حرام څیزونو سره سرور او لذت.عاقل ته پکار دی چه خپل وخت ته گوری او خپل کار کښې مشغول اوسی .د خپلې ژبې حفاظت کوی،چه کوم سړې خپل قول خپل فعل سره یوشان کوی،هغه به ډیرې کمې خبرې کوی او دا به تاسو ته نفع درکوی.

دموسی د صحیفو عبرتونه:- ما تپوس اوکړو چه د حضرت موسی ﷺ صحیفو کښې څه وو؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه سراسر عبرتونه وو. ماته تعجب دې په هغه سړی چه ده ته د مرګ پته وی او بیا هم دې مست وی،په تقدیر یقین ساتی او بیا هم هائې هائې کوی،د دنیا بې ثباتی ورته معلوم وی اوبیا هم دې په دې اطمینان کوی،د قیامت د ورځې حساب ورته پته وی اوبیا هم دې بې عمله وی .

د پخوانو کتابونو مضامین په قران کښې:- ما تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ د مخکښې نبیانو کتابونو کښې چه څه وو دهغې نه څه په دې کتاب کښې شته دې چه کوم ځمونږ لاس کښې دې ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اووایه ﴿قَدْ أَفْلَحَ مَنْ تَزَكَّىٰ﴾ د سورة آخره پوری.

څو اهم نصیحتونه:- ما اووئیل چه یارسول الله ﷺ ماته وصیت اوکړئی .نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه قران پاك او ذکر الله کښې مشغول اوسه،دا به ستا په آسمانونو کښې د ذکرکولو او زمکه کښې د نور باعث وی .ما بیا اووئیل یارسول الله ﷺ ! نور هم اوفرمائې.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خبردار ! ډیر مه خانده ځکه چه دا زړه مړ کوی،اود مخ نور لرې کوی .ما اووئیل چه نور زیات وصیت راته اوکړئی .نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه جهاد کښې زیات مشغول اوسه،ځما د امت رهبانیت درویشی ده. ما اووئیل چه څه نور وصیت اوکړئی.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د نیکئ د خبرې نه سوا خپله خوله بند ساته .دې سره شیطان تښتی،او د دینی کارونو تائید به وی .ما اوئیل چه څه نور اوفرمائې .نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خپل ځان نه لاندې درجې والا خلقو ته گوره،او د خپل ځان نه اوچتې درجې والا خلقوته نظر مه کوه. دې سره به ستاپه زړه کښې د الله ﷻ د نعمتونو قدر وی.ما اووئیل چه ماته نور زیات نصیحت راته اوکړی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مسکینانو سره محبت کوه او هغوئ سره کینه. دې سره به تاته د الله تعالی نعمتونه لوئې معلوم شی.ما اووئیل چه نور وصیت راته اوکړئی،نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه رشته دارو سره تعلق ساته اگر چه هغوئ تاسره تعلق نه ساتی. ماااووئیل چه نور څه وصیت اوفرمائې .نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه حق وایه اگر چه تراخه وی. ما د نور وصیت غوښتنه اوکړه نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د الله ﷻ باره کښې د ملامته کولو د ملامتیا ویره مه کوئی .ما اووئیل چه یارسول الله څه نور اوفرمائې .نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په خپلو عیبونو نظر اچوه او د نورو عیبونه مه لټوه .بیا نبی کریم ﷺ ځما په سینه لاس مباکر کیخود او وې فرمائیل چه ائې ابوذره تدبیر برابر هیڅ عقل مندی نشته دې او حرامو نه د بچ کیدو برابر هیڅ پرهیزګاری نشته دې ،او د ښه اخلاقو پشان هیڅ نسب نشته دې . مسند احمد کښې دا حدیث مبارك څه کمئ سره دې (۱)

د دجال نورې ننبې:- حضرت ابوسعید خدری ﷺ تپوس کوی چه آیا خارجیان هم د دجال قاتل دی ؟ خلقو اووئیل چه نه .وې فرمائیل چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه څه د زرو بلکه دې نه هم د زیاتو نبیانو ختمیدو والا یم.هر نبی خپل امت د دجال نه ویرولو.خو ماته الله ﷻ هغه علامت خودلې دې چه

---

(۱) احمد : ۱۷۸/۵.

هغه نې بل چاته نه دی خودلی وې فرمائیل واوره ! هغه کانړې دې او رب داسې نشی کیدې .د هغه نبئ ستر که راوتلې ده او کانړئ ده ،او پورته وتلې ده،لکه چه د چونې په دیوال د چا پوزه څونړ پروت وی ،اود هغه ګسه ستر ګه د پرقیدونکی ستوری پشان ده. هغه ته ټولې ژبې ورځی او هغه سره به د جنت صورت وی،او دوزخ صورت به ورسره هم وی (۱) یو حدیث مبارک کښې راغلی دی چه د یو لاک نبیانو علیهم السلام خاتمه په ما شوې ده. بلکه ددې نه هم زیات

قوله تعالی:: وَكَلَّمَ اللهُ مُوسٰى تَكْلِيمًا ۞

د موسی ﷺ الله ﷻ سره کلام کول :- بیا فرمائی چه حضرت موسی ﷺ سره پخپله الله ﷻ خبرې کړې دی دا د هغه خصوصیت دې چه کلیم الله وو، یو سړې ابوبکر بن عیاش ته راغلو او وئیل چه یو سړې دا جمله داسې وائی ﴿وَكَلَّمَ اللهُ مُوسٰى تَكْلِيمًا﴾ (۲) یعنی موسی ﷺ الله ﷻ سره کلام کړې دې .په دې دوی دیرزیات غصه شواو وې فرمائیل چه دابه چرته کافر وئیلې وی.ماد اعمش نه او اعمش دیحیی نه او یحیی دعبدالرحمان نه او عبدالرحمان دعلی ﷺ نه اوعلی ﷺ دنبی کریم ﷺ نه روایت کړې دی ﴿وَكَلَّمَ اللهُ مُوسٰى تَكْلِيمًا﴾ (۳) غرض د دې سړی معنوی او لفظی تحریف باندی دوی غصه شو.کیدیشی چه دا معتزلی وی خکه چه د معتزلو هم دا عقیده وه چه نه الله تعالی چا سره کلام کړې نه موسی ﷺ او نه نور چا سره .

د یومعتزلی لاجوابه کول:- یو معتزلی دیو بزرګ مخکښې دا آیت مبارک کښې ﴿وَكَلَّمَ اللهُ مُوسٰى تَكْلِيمًا﴾ اولوستو نوهغوئ ورته بدرد اووئیل او وې وئیل چه بیا به په دې آیت مبارک بې ایمانی څنګه کوې چه ﴿وَلَمَّا جَآءَ مُوسٰى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ﴾ یعنی موسی ﷺ ځمونږ په وعده راغلو او د ده رب ورسره کلام اوکړو، مطلب دا دې چه دلته دا تاویل اوتحریف نه چلیږی.

ابن مردویه کښې حدیث مبارک دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل کله الله ﷻ حضرت موسی ﷺ سره کلام اوکړو هغه به هغه میږې هم لیدو چه کوم به په تیاره کښې روان. (۴) دا حدیث مبارک هم غریب دې.اوددې اسناد صحیح نه دی اوپه قول د حضرت ابوهریره ﷺ کله چه موقوفًا ثابت شی نو ډیر ښه وی.مستدرک حاکم وغیره کښې دی چه کلیم الله ﷺ سره چه کله الله ﷻ خبرې اوکړې نو هغه د وړئ څادر او د وړئ پرتوګ او د غیر مذبوح خر د څرمنې څپلئ اغوستې وې.(۵)

د موسی ﷺ سره د خبرو تعداد:- حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه الله ﷻ حضرت موسی ﷺ سره یو لاک څلویښت زره خبرې کړې وې .اودا ټول وصیتونه وو. بیا به حضرت موسی ﷺ د خلقو خبرې نه آوریدې خکه چه په غوږونو مبارکوکښې به ئې هم د دې خبرو ګونج وو.(۶) ددې اسناد هم ضعیف دی. بیا په دې کښې انقطاع هم ده. یو اثر ابن مردویه وغیره کښې هم دې.

حضرت جابر ﷺ فرمائی چه د طور په ورځ کله چه الله ﷻ حضرت موسی ﷺ سره خبرې کړې وې.اوپه کومه ورځ ئې ورته آواز کړې وونو دهغې صفت ددې کلام د صفت نه جدا وو. نو حضرت موسی ﷺ د

---

(۱) احمد: ۶۹/۳،

(۲) مجمع الزوائد :۱۲/۷، المعجم الاوسط للطبرانی : ۸۶۰۳،

(۳) مجمع الزوائد : ۲۰۳/۸.

(۴) مجمع الزوائد :۲۰۳/۸،

(۵) حاکم: ۳۷۹/۲، ترمذی کتاب اللباس باب ماجاء فی لبس الصوف: ۱۷۳٤،

(۶) المعجم الاوسط : ۳۹٤۹،

Scanned with Ca

دې راز معلومول اوغوښتل.الله تعالی ورته اوفرمائیل چه ائې موسی اما خو لا د لسوزرو زښو برابر قوت سره کلام کړې دې،حالانکه ماته د ټولو زښو قوت حاصل دې.بلکه د دې نه هم زیات .

د الله ﷻ کلام څنګه وو؟: بنی اسرائیلو چه کله د دوی ﷺ نه د الله تعالی د صفت کلام آوریدو باره کښې تپوس اوکړو نو دوی ﷺ اوفرمائیل چه څه هیڅ نشم وئیلې.نو هغوئ ورته اووئیل چه ښه ده څه تشبیه خو بیان کړه. نو دوی ﷺ اوفرمائیل چه تاسو به د تندر آواز آوریدلې وی،هغه د دې مشابه وو خو د دې پشان نه وو.(١) د دې راوی فصل رقاشی ضعیف دې.او دې ډیر زیات ضعیف دې .

د الله د اواز تشبیه:-حضرت کعب ﷺ فرمائی چه کله الله ﷻ حضرت موسی ﷺ سره کلام اوکړو سوا دخپل کلام نه،نو حضرت کلیم الله ﷺ اوفرمائیل چه یا الله ﷻ داستا کلام دې ؟ الله ﷻ اوفرمائیل چه نه اونه ته ځما د کلام طاقت لرلې شې .حضرت موسی ﷺ اوفرمائیل یا الله ﷻ ! ستا مخلوق کښې ستا آواز د چا په شان دې،نو الله ﷻ اوفرمائیل چه نه،سوا د سخت تندر نه. دا روایت هم موقوف دې.اوښکاره دا ده چه حضرت کعب رحمۃ اللہ علیہ به د مخکښې کتابونو نه روایت کولو. او په هغې کښې د بنی اسرائیلو حکایتونه او هر رنګه صحیح او غیر صحیح روایتونه وو. هم د الله رسول دې چه د الله ﷻ تابعداری کونکو او دهغه رضا لټونکو ته دجنتونو زیرې ورکوی او دالله ﷻ نافرمانی کونکو او هغه لوئې ذات دروغ ګړونکو ته عذاب اوروی

قوله تعالی:: رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ؕ

بیا فرمائی چه الله خپل کتابونه نازل کړی دی او خپل رسولان ئې رالیږلی دی .او هغوی ته ئې خپل مرضی او نامرضی معلومه کړې ده. دا په دې وجه چه د چا څه حجت یا عذر پاتې نشی. لکه یو بل آیت مبارک کښې فرمائی چه ﴿رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ لِئَلَّا يَكُوْنَ لِلنَّاسِ عَلَى اللّٰهِ حُجَّةٌ بَعْدَ الرُّسُلِ ؕ﴾یعنی که مونږ دوی د دې نه مخکښې په خپل عذاب هلاکول نو دوی به وئیلې شوې چه ائې زمونږ ربه ! تا مونږ ته رسولان ولې نه وو رالیږلی،چه مونږ د هغوئ خبرې آوریدلې وې او د دې ذلت او رسوائی نه بچ شوې وې.ددې پشان یو آیت مبارک دا دې چه ﴿وَلَوْلَآ اَنْ تُصِيْبَهُمْ مُّصِيْبَةٌ﴾

الله ډیر غیرتی دې:- صحیح بخاری او مسلم شریف کښې یو حدیث مبارک دې حضرت نبی کریم صلی الله علیه واله سلم اوفرمائیل د الله ﷻ نه زیات غیرتی هیڅوک نشته.په دې وجه الله ﷻ ټولې بدنی حرامې کړې دی. که هغه پټې وی او که ښکاره وی،او داسې هیڅوک هم نشته دې چه هغه ته خپل مدح د خپل ځان نه زیاته خوښه وی .هم دا وجه ده چه هغه خپله مدح پخپله کړې ده. او داسې هیڅوک نشته دې چه هغه ته د الله ﷻ نه زیات عذر خوښ وی .هم دا وجه ده چې الله تعالی.نبیان علیهم السلام زبری ورکونکی او ویرونکی لیږلی دی.(٢) بل روایت کښې دا الفاظ هم دی چه په دې وجه الله ﷻ کتابونه او رسولان علیهم السلام اولیږل (٣).

لٰكِنِ اللّٰهُ
لیکن الله
خو(که دوئ نه منی نو څه اوشو)الله

---

١) مجمع الزوائد :٨/٢٠٤، البزار: ٢٣٥٣.

٢) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب قوله تعالی(ولاتقربوا ماظهر منهاومابطن):٤٦٣٦، صحیح مسلم:٢٧٦٠، ترمذی:٣٥٣، السنن الکبری للنسائی:١١١٧٣، ابن حبان:٢٩٤، احمد:١/٣٨١، ابن ابی شیبة:١/٢٤٧، عبدالرزاق:١٩٢٥.

٣) صحیح بخاری کتاب التوبة باب غیرة الله تعالی وغیرة وتحریم الفواحش:٢٧٦٠

يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ

گواهی کوی | په هغه څیز | چې نازل کړې نی دې | تاته | چې نازل کړې نې دې هغه | په علم سره

په دې خبره گواه دې | چې تاته کوم حکمونه رالیږلې شوی دی | هغه نې په خپل کامل علم سره رالیږلې دی

وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ ؕ وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

او فرښتې هم | گواهی کوی | اوکافی دې | الله | په گواهئ سره | بیشکه هغه کسان | چې انکارنې اوکړو

اوفرشتې هم په دې خبره گواهی کوی | او صرف د الله ﷻ گواهی هم کافی ده | چا چې انکار کړې دې

وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًا بَعِيْدًا ۝

او منع نې کړل خلق | دلارې دالله نه | یقینا چې بې لارې شودحق نه | په بې لارې کیدو | لرې سره

اودالله ﷻ دلارې نه خلق منع کوی | .....هغوئ دسمې لارې نه ډیرلرې تلی دی

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ

بیشکه هغه کسان | چې دکفر په لارروان شو | اوظلمونه نې شروع کړل | نو نۀ دې الله | چې اونیسی

چا چې انکار کړې دې | اوپه خلقوظلمونه کوی | الله ﷻ به هغوئ هیڅ کله اونۀ بخښی

لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ۝ اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ

هغوئ لره | او نۀ | اوښائی هغوئ ته | لار | مګر | لار | ددوزخ | چې تل به وی

اونۀ به هغوئ ته سمه لار اوښائی | .....البته د د دوزخ لار به ورته اوښائی چې همیشه

فِيْهَآ اَبَدًا ؕ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ

په هغې کښې | همیشه | اودې | دا کار | په الله باندې | آسان | ائې خلقو

دپاره به په کښې پراتۀ وی | اوداکار خو الله ﷻ ته ډیرآسان دې | .....ائې خلقو!

قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَاٰمِنُوْا

په تحقیق سره | راغلې دې تاسوته | رسول | دحق سره | دطرفه درب ستاسونه | نوایمان راوړئ

تاسوته پیغمبر دالله ﷻ دطرفنه دحق تعلیم راوړې دې | .....نوپه دې یقین اوکړئ

خَيْرًا لَّكُمْ ؕ وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

دابهتره ده ستاسو دپاره | اوکه انکارکوئ تاسو | نوبیشکه | الله لره دی | هغه څه | چې په آسمانونو کښې دی

خکه چې په دې کښې ستاسو خیر دې | اوکه انکار کوئ نو هرڅه چې په آسمانونو کښې دی

وَالْاَرْضِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝

اوپه زمکه کښې دی | اودې الله | په هر څیز پوهه | حکمت والا |

او په زمکه کښې دی هغه ټول دالله ﷻ دی | اوالله ﷻ په هرڅه پوهه اودحکمت خاوند دې |

Scanned with Ca

قوله تعالی:: لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ اَنْزَلَهٗ بِعِلْمِهٖ ۚ

الله تعالی او فرښتې د پیغمر د رسالت ګواه دی • مخکښې آیتونوکښې د نبی کریم ﷺ د نبوت ثبوت وو او د نبی کریم ﷺ دنبوت د منکرانو رد وو. په دې وجه دلته فرمائی چه څه خلق تا دروغژن ګڼې،او ستا مخالفت کوی،خو الله ﷻ پخپله ستا د رسالت ګواه دې،هغه لوئې ذات فرمائی چه هغه خپل کتاب قران مجید په تا نازل کړې دې .چې باطل هغې ته ورتلې نشی په دې کښې د هغه څیزونو علم دې چه په هغې هغه پاک ذات خپل بندګان خبر کړی دی یعنی دلیلونه،هدایت او فرقان او د الله ﷻ د رضامندئی او خفګان احکام او د تیرو شوو او راتلونکو خبرو علم او د الله ﷻ هغه مقدس صفتونه خو نه یو نبی ته معلوم دی او نه یوې مقربې فرښتې ته سوا د دې نه چه هغه پاک ذات نې ورته پخپله اوښائی .ارشاد ې چه ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهٖٓ﴾ او په بل ځائې کښې فرمان دې چه ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهٖ عِلْمًا﴾.

حضرت عطاء بن سائب چه به کله د حضرت ابوعبدالرحمان سلمی رحمه الله نه قران پاک لوستو نو دوی به فرمائیل چه تا د الله ﷻ علم اخستې دې .نو نن ستا نه هیڅوک غوره نه دی سوا د هغه چا نه چه ستا نه ئې عمل زیات وی.بیا دوی آیت ﴿انزله بعلمه﴾ تر آخرې پورې تلاوت کړو..

قوله تعالی:: وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ

بیا فرمائی چه د الله ﷻ شهادت سره د فرښتو شهادت هم دې چه تا لره راغلې دې،چه کومه وحی په تا نازله شوې ده هغه بالکل رښتونې او سراسر حق ده. د یهودو یو جماعت نبی کریم ﷺ ته راغلو نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل په الله ﷻ قسم ماته ښه معلومه ده چه تاسو ته ځما د رسالت علم دې.خو هغه خلقو انکار اوکړو نو الله ﷻ دا آیت مبارک نازل کړو(١).

قوله تعالی:: اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

بیا فرمائی چه کومو خلقو کفر اوکړو او د حق اتباع ئې اونه کړه بلکه نور خلق ئې هم د حق لارې نه منع کړل نو دوی د صحیح لارې نه جدا شو. اود حقیقت نه جدا شو. او هدایت نه بې لارې شو. دا خلق چه ځمونږ د آیتونو نه منکر دی،ځمونږ کتاب نه منی،په خپل ځان ظلم کوی،ځمونږ لارې نه خلق منع کوی،چه کوموکارونو نه مونږ منع کړې ده هغې نه نه منع کیږی،ځمونږ د احکامو نه مخ اړوی،مونږ به دوی معاف نکړو.او نه به دوی خیر طرفته راولو. اودوی ته به د جهنم لار ښایو. او دوی به په دې کښې همیشه وی.

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمُ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِّكُمْ فَاٰمِنُوْا خَيْرًا لَّكُمْ

ائې خلقو!تاسوته ستاسو رسول د الله ﷻ حق راوړې دې،تاسو په ده ایمان راوړئی،د دې اطاعت اوکړئی ،هم دا ستاسو دپاره بهتره ده.که تاسو کفر کوئی نو الله ﷻ ستاسو نه بې نیازدې.نه ستاسو ایمان دوی ته څه فائده ورکولې شی او نه ستاسو کفر څه ضرر ورکولې شی.د زمکې او آسمانونو ټول څیزونه د هغه ملکیت کښې دی.هم دا قول د حضرت موسی علیه السلام خپل قوم ته وو که تاسو او په مخ د زمکې ټول څیزونه په کفر کولو راجمع شی نو د الله ﷻ هیڅ نقصان نشئ کولئی.هغه د ټولو جهانونو نه بې پرواه دی.هغه علیم ذات دې،هغه ته معلوم دی چه دهدایت لائق څوک دی اود ضلالت لائق څوک دی ؟ هغه حکیم ذات دې،د هغه ذات قول،د هغه ذات فعل،د هغه ذات شرع ټول په ټوله د حکمت نه ډک دی.

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ	لَا تَغْلُوْا	فِيْ دِيْنِكُمْ	وَلَا تَقُوْلُوْا	عَلَى اللّٰهِ	اِلَّا الْحَقَّ ؕ	اِنَّمَا
ائې اهل کتابو	مهٔ اوځئ دحد نه	په دین خپل سره	او مهٔ وایئ	په الله باندې	مګر حق	بیشکه
ائې اهل کتابو	پخپل دین کښې دحد نه مه تیریږئ		او الله ﷻ ته د حقې خبرې نه سوا		بل نسبت مهٔ کوئ	

(١) الطبری:٩/٤٠٩،

الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ ۚ أَلْقَاهَا
مسیح |عیسی	خوې	دمریم|رسول دالله دې| فرمان دې دهغه| چې اولیږلو الله دغه فرمان
خبره داده چې عیسی دمریم خوئې دې	اودالله ﷻ رسول دې	او دهغه حکم دې	چې الله ﷻ
إِلَىٰ مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِّنْهُ ۖ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ ۚ
مریم ته	او روح دې| دطرفه دالله نه|نو ایمان راوړئ	په الله	اوپه رسولانو دهغه
مریم ته راولیږلو	اودالله ﷻ دطرفه یوروح دې	نو په الله ﷻ	اودهغه په پیغمبرانو باندې ایمان راوړئ
وَلَا تَقُولُوا ثَلَاثَةٌ ۚ انتَهُوا خَيْرًا لَّكُمْ ۚ إِنَّمَا اللَّهُ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ ۚ
اومه وایئ	دري	منع شئ |ادابهتره ده|ستاسو دپاره |بیشکه الله|معبود دې| اکی یو
اودامه وائې چې خدایان دري دی |دد ې نه منع شئ |هم په دې کښې ستاسو خیردې |معبود صرف یو الله دې
سُبْحَانَهُ أَن يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَّهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ
پاک دې هغه |ددې خبرې نه چې وی| هغه لره	خوئې	هغه لره دی|هغه هرڅه| چې په آسمانونو کښې دی
هغه ددې نه پاک دې چه څوک دې د هغه خوئې شی	د آسمانونو او د زمکې هر څه
وَمَا فِي الْأَرْضِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ۝
اوهغه هر څه چې په زمکه کښې دی	اوکافی دې	الله	په حیثیت دخبر اخستو دهغې
د هغه مخلوق دی	..... اوددې تولود ساتنې دپاره صرف الله ﷻ کافی دې

قوله تعالی:: يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ

د عیسایانو خپل دین کښې غلو کول:- الله ﷻ اهل کتاب د زیاتئ او د حد نه د تیریدو نه منع کوی.عیسایان د حضرت عیسی ﷺ باره کښې د حد نه تیر شوی وو، د هغوی د نبوت نه تیرشو او هغه ئې د الله مقام ته رسولې وو .د اطاعت به ځائې ئې عبادت کولو. د دین بزرګانو باره کښې هم د دوی عقیده خرابه وه. او چه کوم د حضرت عیسی ﷺ دین کښې عالمان او عاملان وو هغه ئې محض معصومان ګنړلی وو. او دا خیال ئې کولو چه څه د دین امامان اووائی د هغې منل خمونږ په ذمه ضروری دی،ربښتیا دروغ،حق او باطل،هدایت اوضلالت لره د تللو مونږ ته هیڅ حق نشته دې.او ددې ذکر د قران پاک آیت مبارک کښې موجود دې چه ﴿اِتَّخَذُوْٓا اَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ اَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾.

د نبی کریم ﷺ خپل امت ته تعلیم:- مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ماته داسې د حد نه زیات مه ګورئی لکه څنګه چه یهود او نصرانیانو زیات کتلی وو. څه خو صرف یو بنده یم،نو تاسو ما عبدالله او رسول منئ .([1]) دا حدیث مبارک بخاری وغیره کښې هم دې ([2]).

د نبی کریم ﷺ په باره کښې دغلو نه ممانعت:- د مسند یو حدیث مبارک کښې دی چه یو سړی نبی کریم ﷺ ته اووئیل چه ائې خمونږ سرداره ! او ائې د سردار خویه ! ائې خمونږ تولو نه بهتره ! او ائې بهتر هلکه انبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ائې خلقو دخپلو خبرو پخپله ښه خیال ساتئ،هسې نه چه تاسو

---

[1]) احمد:۱/۲۳، وهو صحیح بالشواهد داروایت صحیح درجه کښې دې

[2]) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی(واذکر فی الکتاب مریم اذانتبذت من اهلها....)۳٤٤٥،

Scanned with Ca

شیطان غلط کړی.خه محمد بن عبدالله یو بنده یم،خه د رب غلام یم ،او د هغه رسول یم،په الله ﷻ قسم زه نه غواړم تاسو ما زما د مرتبې نه زیات اوچت کړئ (۱).

قوله تعالی::إِنَّمَا الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ

عیسی علیه السلام دالله بنده او رسول وو:- بیا فرمانی چه افتراء مه ترنی،او الله ﷻ دپاره اولاد او ښځه مه مقرر کوئی،الله ﷻ د دې نه پاك دې د دې نه لرې دې،د دې نه اوچت او بالا دې،د هغه په لوئې او عزت کښې هیڅوك شریك نشته دې،او د هغه نه سوا څوك معبود نشته اونه څوك رب .مسیح عیسی بن مریم علیهم السلام رسول دی،هغه د رب غلامانوکښې دې،اود هغه پاك ذات مخلوق دې،هغه صرف دکن په کلمه پیدا شوې دې او دا کلمه حضرت جبریل علیه السلام حضرت مریم علیها السلام ته راوړې وه،او د رب ﷻ اجازت سره پوك وهلې وه. نو حضرت عیسی علیه السلام بغیر پلار نه دې کلمې سره پیدا شو او هم دې خصوصیت سره دوی ته کلمة الله اووئیلې شو. د قران پاك یو بل آیت مبارك کښې دی چه ﴿مَا الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ﴾ یعنی مسیح بن مریم صرف یو رسول دې،د ده نه مخکښې هم رسولان تیر شوی دی،د ده مور ریښتونې ده،دوی دواړو به خوراك کولو.اویو آیت مبارك کښې دی چه ﴿إِنَّ مَثَلَ عِيسَىٰ عِندَ اللَّهِ كَمَثَلِ آدَمَ﴾ یعنی د عیسی علیه السلام مثال د الله تعالی په نیز د آدم علیه السلام پشان دې اوهغه د ښاوړې نه پیدا کړې شوې وو او ورته اوفرمائیلې شو چه شه نو هغه شو .دقران پاك یو بل آیت مبارك کښې دی چه ﴿وَالَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا﴾ یعنی اوهغې د خپلې شرمګاه حفاظت اوکړو او مونږ په کښې روح پوك وهلو او پخپله د دې او د دې دبچی دپاره مو نښه جوړه کړه. او یو ځائې کښې فرمائی چه ﴿وَمَرْيَمَ ابْنَتَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا﴾ نه د سورت د آخره پورې د حضرت عیسی علیه السلام باره کښې یوبل آیت مبارك کښې دی چه ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ﴾ یعنی هغه ځمونږ بنده وو،او په هغه مونږ انعام کړې وو.نوددې دا مطلب نه دی چه پخپله حضرت عیسی کلمه شو بلکه د رب د کلمې نه حضرت عیسی علیه السلام پیدا شو .امام ابن جریر رحمه الله ﴿وَإِذْ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ﴾ تفسیر کښې چه څه وئیلی دی دهغې مراد صحیح دې چه د الله تعالی کلمه چه دحضرت جبریل علیه السلام معرفت سره پوك وهلې شوې وو،دې نه حضرت عیسی علیه السلام پیدا شو.

عیسی علیه السلام دالله بنده کښولو صله:- صحیح بخاری کښې دی چه چا د الله ﷻ د یو اولاشریك کیدو او د حضرت محمد ﷺ د رسول او بنده کیدو او د عیسی علیه السلام د رسول اوبنده کیدو گواهی ورکړه او دا ئې اومنل چه دوی علیه السلام د الله کلمه وه چه کومه حضرت مریم طرفته ورکړې شوې وه،او د الله تعالی پوك وهلې شوې روح وو،او چا چه جنت او دوزخ اومنلو،که هغه په هر څنګه عملونو کښې اخته وی،الله تعالی باندې دې چه دې جنت ته داخل کړی (۲).

اویو رو ایت کښې دومره زیات دی چه د جنت اتو دروازو نه چه په کومه دروازه باندې داخلیدل غواړی نو داخل به شی (۳) .لکه څګه چه ئې په آیت او حدیث کښې حضرت عیسی علیه السلام ته ﴿رُوحٌ مِّنْهُ﴾ وئیلی دی،همدا شان د قران پاك یو آیت مبارك کښې دی چه ﴿وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا مِّنْهُ﴾ یعنی هغه مسخر کړل ستاسو دپاره څه چې په آسمانونوکښې دی او څه چې په زمکه کښې دی ټول په ټوله خپل طرفته یعنی د خپل مخلوق نه او د خپل طرف نه. هم دا مطلب د ﴿رُوحٌ مِّنْهُ﴾ دې.یعنی د خپل مخلوق اودخپل پاك روح نه نو لفظ من تبعیض دپارنه نه دې لکه د ملعون نصرانیانو چه خیال دې چه

---

(۱) احمد:۳/۱۵۳، وسنده صحیح.السنن الکبری للنسائی:۱۰۰۷۸، ابن حبان: ٦٢٤٠، دلائل النبوة:٥/٤٩٨.

(۲) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی (یااهل الکتاب لاتغلوا فی دینکم....):۳٤۳۵، صحیح مسلم:۲۸، احمد:٥/٥١٥، ابوعوانه:۹، الایمان لابن منده:٤٤، شرح السنة:٥٥، مسندالبزار:۲٦۸۲.

(۳) صحیح بخاری کتاب حواله سابق،ابن حبان:۲۰۷، عمل الیوم واللیلة:۱۱۳۰.

حضرت عیسی ﷺ د الله تعالی یو جز وو. بلکه من د ابتداء دپاره لکه چه بل ایت مبارک کښې دی.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه ﴿رُوْحٌ مِّنْهُ﴾ نه مراد ﴿رَسُوْلٌ مِّنْهُ﴾ دې او خلق وائی چه ﴿محبی منه﴾ لیکن زیات ظاهر رومبې دې.یعنی دوی ﷺ پیدا کړې شوی وو. روح چه پخپله د الله ﷻ مخلوق دې،نو دوی ته روح الله وئیل داسې دی لکه ناقة الله او بیت الله چه وئیلې شوی دی.یعنی صرف د شرافت د اظهار دپاره خپل طرفته ئې نسبت کړې دې. او حدیث مبارک کښې هم دی چه خپل رب ته اود هغه کور ته خم

قوله تعالی:: فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ۚ وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ

دالله د وحدانیت حکم :- بیا فرمائی چه تاسو ددې یقین اوکړئی چه الله ﷻ واحد دی،دهغه نبخه او بچی نشته دې،او یقین اوکړئی چه حضرت عیسی ﷺ د رب غلام دې،د الله ﷻ مخلوق او برگزیده رسول دې.تاسو دریم مه وائې یعنی حضرت عیسی ﷺ او مریم رب سره شریك مه جوړوئی،الله ﷻ د شرکت نه پاك دې.سورت مائده کښې الله ﷻ فرمائی چه ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ﴾ یعنی څوك چه وائی چه الله ﷻ دریو کښې دریم دې نو هغه کافر شو. الله ﷻ هم یو دې،د هغه نه سوا بل څوك د عبادت لائق نشته،د سورة مائده آخر کښې دی چه د قیامت په ورځ به حضرت عیسی ﷺ نه تپوس اوکړی چه تا خلقوته د خپل او د خپلې مور د عبادت حکم کړې وو ؟ هغه به صفا انکار اوکړی.

د نصرانیانو دې باره کښې څه ضابطه نشته دې.هغوئ بې لارې دی .او خپل ځان په خپله بربادوی.په دوی کښې بعضې خو حضرت عیسی ﷺ الله ﷻ ګڼړی او بعضې ئې د الله ﷻ شریك ګڼړی او بعضې ورته د الله ﷻ ځوئې وائی.ریښتیا خو دا دی که چرته لس نصرانیان راجمع شی نو د دوی خیالات به یوولس وی.

د نصرانیانو دریې ډلې:- سعید ابن بطریق اسکندری چه په ۴۰۰ هجرئی کښې تیر شوې دې،هغه او هغه بعضو عالمانو ذکر کړی دی چه د قسطنطینه بادشاه قسطنطین په زمانه کښې د هغه د نصرانیانو اجتماع اوشوه،او په هغه ځائې د دوؤ زرو نه زیات لاټ پادریان وو. بیا دومره اختلاف پیدا شو چه اویا کسانو نه زیات هم په یوه خبره متفق نه وو. د لسو یو عقیده وه او د شلو بل خیال وو،اوځلوینتو به نور څه وئیل،او شپیته په بل طرف رو ان وو،غرض په زرګونو تعداد کښې په مشکله دریې سوؤ اتلس کسان په یو قول جمع وو. بادشاه هم دا عقیده قبوله کړه او باقی ئې پریښودل .او هم د دې تائید اونصرت ئې اوکړو.او د دوی دپاره ئې کلیسې او ګرجې جوړې کړې .او کتابونه ئې اولیکل،او قوانین ئې جوړ کړل.هم دې ځائې کښې دوی د امانت کبری مسئله راپورته کړه اودا اصل کښې بدترین خیانت دې.دې خلقو ته ملکانیه وائی.بیا دوباره د دوی اجتماع اوشوه او په هغه وخت کښې چه کومه فرقه وجود کښې راغله د هغې نوم یعقوبیه وو. بیا په دریم ځل یو اجتماع اوشوه او د دې نه چه کومه یو فرقه جوړه شوه د هغې نوم نسطوریه دی.دا دریې واړه فرقې اقانیم ثلثه حضرت عیسی ﷺ دپاره ثابتوی.په دوی کښې هم خپلو کښې اختلاف دې.او هر یو بل ته کافر وائی .اوخمونږ په نیز خو دا دریې واړې کافرې فرقې دی.

قوله تعالی:: اِنْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ

الله ﷻ فرمائی چه د دې نه منع شئ،او دا ستاسو دپاره بهتر دی.الله ﷻ خو یو دې،هغه توحید والا دې .د هغه ذات د اولاد نه پاك دې ټول څیزونه د هغه مخلوق دی .اودهغه ملکیت کښې دی .ټول د هغه په غلامئ کښې دی او ټول د هغه په قبضه کښې دی.هغه په هر څیز وکیل دې .نو بیا مخلوق دهغه نبخه او بچی څنګه کیدیشی ؟ بل آیت مبارک کښې دی چه ﴿بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ﴾

هغه ذات خوبه اول خل د اسمان او زمکې پیدا کونکې دې .دهغه څوئې څنګه کیدیشی ؟ سورۀ مریم کښې ﴿وَقَالُوا اتَّخَذَ الرَّحْمٰنُ وَلَدًا﴾ نه تر ﴿فَرْدًا﴾ پورې هم ددې تفصیل سره انکار فرمائیلې دی .

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ	الْمَسِيْحُ	اَنْ يَّكُوْنَ	عَبْدًا لِّلّٰهِ	وَلَا	الْمَلٰٓئِكَةُ
هیڅ کله عار نه کنړی	مسیح	دا خبره چې شی	بنده د دپاره دالله	اونه	فرښتې
مسیح (حضرت عیسی علیه السلام) هیڅکله دا شرم نه کوی	چې هغه ته دې دالله بنده اوونیلې شی	اونه هغه فرښتې			
الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ وَمَنْ	يَّسْتَنْكِفْ	عَنْ عِبَادَتِهٖ	وَيَسْتَكْبِرْ	فَسَيَحْشُرُهُمْ	
مقربې	اوڅوک	چې عاراوکړی	ادبندګۍ دهغه نه	اوتکبراوکړی	نوزر به راجمع کړی الله دوئ
چې مقربې دی	اوڅوک چې دالله ﷻ عبادت کښې شرم کوی	اوکبرکوی	نو زر ده چې الله ﷻ		
اِلَيْهِ	جَمِيْعًا ۝	فَاَمَّا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	وَعَمِلُوا	الصّٰلِحٰتِ
طرف خپل ته	ټول	نوهغه کسان	چې ایمان ئې راوړې دې	اوکړې ئې دی	نیک عملونه
به ټول خلق دقیامت په ورځ راجمع کړی	نوچا چې ایمان راوړې وی	او نیک کارونه ئې کړی وی			
فَيُوَفِّيْهِمْ	اُجُوْرَهُمْ	وَيَزِيْدُهُمْ	مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ	وَاَمَّا الَّذِيْنَ	
نوپوره به ورکړی الله هغوئ ته	ابدلې دهغوئ	اوزیات به ورکړی هغوئ ته	دفضل خپل نه	اوهغه کسان	
نوهغوئ ته به خپلې خپلې بدلې پوره پوره ورکړی	اودخپل فضل نه به ورله زیاتې هم ورکړی	اوچا چې			
اسْتَنْكَفُوْا	وَاسْتَكْبَرُوْا	فَيُعَذِّبُهُمْ	عَذَابًا	اَلِيْمًا ۙ	
چې عارګنړلې وی	اوتکبر یئ کړې وی	انو عذاب به ورکړی هغوئ ته	عذاب	دردناک	
(دالله ﷻ بندګی) شرم ګنړلې وی	او کبر ئې کړې وی	نوهغوئ ته به دردناک عذاب ورکړی			
وَّلَا يَجِدُوْنَ	لَهُمْ	مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ	وَلِيًّا	وَّلَا نَصِيْرًا ۝	
او اوبه نه مومی	هغوئ دپاره دڅان	سوا دالله نه	څوک دوست	اونه څوک مددګار	
اود خپل ځان دپاره به دالله ﷻ نه سوا بل څوک ملګرې یامددګار اونه مومی					

قوله تعالی::لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ ؕ

حضرت عیسی علیه السلام او ټولې فرښتې د الله ﷻ بندګی کوی:- مطلب دا دې چه مسیح علیه السلام او بهترینې فرښتې هم د الله ﷻ د بندګۍ نه تکبر او ډډه نه کوی .اونه د دوی د شان سره لائق دی.بلکه چه څومره مرتبه کښې نزدې وی نو هغه هومره د رب عبادت کښې زیاتې وی.بعضو خلقو ددې آیت مبارک نه دا استدلال کړې دې چه فرښتې د انسانانو نه افضل دی .خو اصل کښې د دې څه ثبوت دې آیت مبارک کښې نشته دې .په دې وجه دلته د ملائکه عطف په مسیح دې او د استنکاف معنی منع کول دی،او فرښتو کښې دا قدرت په نسبت د حضرت مسیح علیه السلام زیات دې،په دې وجه ئې دا اوفرمائیل.او په منع کولو باندې زیات قادر کیدلونه افضیلت نه لازمیږی .او دا هم ونیلې شوی دی چه څنګه حضرت مسیح علیه السلام ته خلقو سجدې کولې دغه شان به ئې د فرښتو هم عبادت کولو. دې نه ثابته شوه چه تاسو چاته سجدې کوئی هغوئ د الله ﷻ عبادت کوی.بیا تاسو دوی ته څنګه سجدې کوئی ؟ او آیت کښې دی چه ﴿بَلْ عِبَادٌ مُّكْرَمُوْنَ﴾ او هم په دې وجه دلته فرمائی چه څوک د هغه پاک ذات د عبادت نه مخ

Scanned with Ca

واړوی او سرکشی اختیار کړی نو هغه به هم هغه ذات طرفته واپس کیږی.او دخپل ځان باره کښی به د هغه فیصله واوری او چه څوك ایمان راوړی او څوك نیك عمل كوی نو هغه ته به پوره بدله ورکولې شی.او زیاتی فضل دا دې چه کوم خلق د دوزخ قابل دی په هغوی کښې به هم د چا دپاره د دوی شفاعت قبلولی شی چې دوی سره نې ښه کړې وی (۱) خو ددې سند ثابت نه دې.البته که دا د ابن مسعود ﷺ قول باندې حمل کړې شی نو صحیح ده.

قوله تعالی::وَمَنْ يَسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا۝

دالله د بندګئ نه د تکبر کولو سزا:- بیا فرمائی چه کوم خلق دالله ﷻ دعبادت نه مخ واړوی او دې نه کبر اوکړی نو دوی ته به الله تعالی دردناك عذاب ورکوی.او دوی به د الله تعالی نه سوا بل څوك ولی یا مددګار نه مومی.لکه څنګه چه بل آیت مبارك کښې دی چه ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دٰخِرِيْنَ۝﴾ یعنی کوم خلق چې د الله ﷻ د عبادت نه تکبر اوکړی هغوئ ذلیل او حقیر جهنم ته تلونکی دی.یعنی دوی ته به د دوی د تکبر او انکار بدله ملاویږی.اودوی به ذلیل اوخوار جهنم ته داخلیږی.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ	قَدْ جَآءَكُمْ	بُرْهَانٌ	مِّنْ رَّبِّكُمْ	وَاَنْزَلْنَآ	
ائې خلقو	راغلې دې تاسو ته	دلیل	دطرف درب ستاسونه	اونازل کړې دې مونږه	
ائې خلقو! تاسوته دالله ﷻ دطرفنه ښکاره دلیل راغلې دې				.....اوتاسو ته مو	
اِلَيْكُمْ	نُوْرًا	مُّبِيْنًا۝	فَاَمَّا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ	وَاعْتَصَمُوْا
تاسوته	نور	ښکاره	انو هغه کسان	چې ایمان ئې راوړو په الله باندې	اومنګولی ئې ښخې کړې
ښکاره رڼا د نبی کریم په صورت کښې رالیږلې ده			نوچا چې په الله ﷻ ایمان راوړو		اودهغه په احکامو
بِهٖ	فَسَيُدْخِلُهُمْ	فِيْ رَحْمَةٍ	مِّنْهُ	وَفَضْلٍ	
په هغه	نو زر به داخل کړی الله هغوئ په رحمت کښې		دطرفه خپل نه	او په مهربانئ کښې	
.....ئې منګلې ښخې کړې	نو الله ﷻ به ئې په خپل رحمت او فضل کښې داخل کړی				
وَّيَهْدِيْهِمْ	اِلَيْهِ	صِرَاطًا	مُّسْتَقِيْمًا۝		
اواوبه ښائی هغوئ ته	طرف خپل ته	لاره	نیغه		
اوپه سمه نیغه لار به ئې روان کړی					

قوله تعالی::يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَآءَكُمْ بُرْهَانٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكُمْ نُوْرًا مُّبِيْنًا۝

قرآن لا جواب او برهان او واضح نور دي:- الله ﷻ ټولو انسانانو ته فرمائی چه ځما د طرفه کامل دلیل او د عذر معذرت ختمونکې او شك او شبه جداکونکې او برهان ستاسو طرفته نازل شوې دې .اومونږ تاسو طرفته ښکاره نور او ښکاره رڼا نازله کړې ده. او دې سره د حق لاره ښکاره طور واضحه کیږی .ابن جریج رحمه الله وغیره فرمائی چه ددې نه مراد قران پاك دې(۲).اوس چه کوم خلق ایمان راوړی،اوتوکل او بهروسه کوی،او دې پورې انخلی،اود هغه پاك ذات سرکار کښې نوکری کوی،او مقام عبودیت اومقام توکل باندې قائم وی او ټول کارونه هم هغه پاك ذات ته سپاری،اودا هم کیدیشی

---

۱) المعجم الاوسط:۵۷۶۶، والمعجم الکبیر:۱۰۴۶۲، السنة لابن ابی عاصم:۸۴۶.

۲) الطبری:۹/۴۲۸.

Scanned with Ca

چه په الله تعالی ایمان راوړی او د الله تعالی کتاب ښه محکم اونیسی نو الله ﷻ به په هغه خپل رحم اوکړی. او په ده به خپل فضل نازل کړی اودې به نعمتونو او خوشحالو والا جنت ته داخل کړی، د دې ثوابونه به زیات کړی، اود ده درجې به اوچتې کړی، او دې به خپل نیغې لارې او صفا لارې طرفته راولی. اودا لار به هیڅ خائې کښې کږه اوتنګه نه وی. نومومن دنیا کښې صراط مستقیم باندې وی او د اسلام په لار وی، اوپه آخرت کښې د جنت او سلامتیا په لار وی د تفسیر شروع کښې یوپوره حدیث مبارک تیر شوې دې په هغې کښې د نبی کریم ﷺ فرمان دې چه د الله ﷻ نیغه او مضبوطه رسۍ قران دې (۱).

يَسْتَفْتُوْنَكَ ط	قُلِ							
غواړی خلق فتوی ستانه	اووایه							
انې پیغمبره ﷺ دوئ ستانه (د کلاله باره) کښې تپوس کوی	ورته اووایه							
اللّٰهُ	يُفْتِيْكُمْ	فِي الْكَلٰلَةِ ط	اِنِ امْرُؤٌا	هَلَكَ	لَيْسَ	لَهٗ		
چې الله	فتوی درکوی تاسو ته	په کلاله کښې	که یو داسې سړې	امړ شی	چې نۀ وی	هغه لره		
چې الله ﷻ درته د کلاله حکم بیانی	که یوسړې بې اولاده (اوبې مورپلاره) مړشی							
وَلَدٌ	وَّلَهٗٓ	اُخْتٌ	فَلَهَا	نِصْفُ	مَا	تَرَكَ ج	وَهُوَ	يَرِثُهَآ
اولاد	اوړی هغه لره	ایوه خور	انوده هغې لره	نیمه	د هغې مال	چې پریښې وی	او ورور	میراث وړی دخور
اودهغه یوه خور وی	انونیم میراث دهغې دې	اوکه خور بې اولاده مړه شی	انو ورور به ئې د ټول مال مالک وی					
اِنْ لَّمْ يَكُنْ	لَّهَا	وَلَدٌ ط	فَاِنْ	كَانَتَا	اثْنَتَيْنِ	فَلَهُمَا		الثُّلُثٰنِ
که چرې نۀ وی	هغې لره	اولاد	انوکه چرې	وی	دوه	انودی هغوئ دواړو لره	په دریو کښې دوه حصې	
نوکه د مړی وارثان دوه خویندې وې	نوهغوئ به د ټول میراث نه دریو							
مِمَّا	تَرَكَ ط	وَاِنْ	كَانُوْٓا	اِخْوَةً	رِّجَالًا	وَّنِسَآءً		
دهغه مال نه	چې پریښې وی مړی	اوکه چرې	ووُ	اړونړه خویندې	نارینه	اوښځې		
کښې دوه برخې اخلی	.....	اوکه ډیر رونړه خویندې وی						
فَلِلذَّكَرِ	مِثْلُ	حَظِّ	الْاُنْثَيَيْنِ ط	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمْ		
نو ده حصه دپاره دنارینه	په برابر	دحصې	ددوؤ ښځو	بیانوی	الله	تاسو ته		
نوبیا به دسړی یوه حصه دښځو د دوؤ حصو برابر وی	الله ﷻ تاسوته خپل حکمونه بیانوی							
اَنْ تَضِلُّوْا ط	وَاللّٰهُ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عَلِيْمٌ ۝ ع				
چې بې لارې نۀ شئ	او الله	په هر	څیز	عالم دې				
چې تاسوبې لارې نۀ شئ	اوالله ﷻ په هرڅه ښه پوهه دې							

(۱) ترمذی کتاب فضائل القران باب ماجاء فی فضل القران:۲۹۰٦، .

قوله تعالی: يَسْتَفْتُونَكَ ۖ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ ۚ

د ایت شان نزول:- حضرت براء ﷺ فرمائی چه سورتونوکښې د ټولو نه آخری سورت سورة برات نازل شوې دي او آیتونو کښې ټولو نه آخری آیت ﴿يَسْتَفْتُونَكَ ۖ﴾ نازل شوې دي (۱)حضرت جابر بن عبدالله ﷺ فرمائی چه خه خپله بیمارئی کښې بې هوشه پروت ووم،او دې کښې د الله رسول ﷺ ځما پوښتنې ته راغلو،نبی کریم ﷺ اودس اوکړو او هغه اوبه نې په ما واچولې او خه په هوش کښې راغلم .او ما اووئیل یارسول الله ﷺ ا د واراثانو لحاظ سره خه کلاله یم،ځما میراث به څنګه وی ؟ نو په دې الله ﷻ آیت د فرائضونازل کړو(۲).

د کلاله د لفظ په باره کښې اختلاف:-مخکښې دا بیان تیر شوې دي چه لفظ کلاله ماخوذ دي اکلیل نه چه دځلورو واړو طرفونو نه ګیروی①اکثرو عالمانو وئیلی دی چه کلاله هغه دي چه دکوم مړده نمسی نه وی②اودبعضو دا هم قول دي چه دچا ځامن نه وی.لکه آیت مبارك کښې دی چه ﴿لَيْسَ لَهُ وَلَدٌ﴾

د کلاله په باره کښې د حضرت عمر قول:- حضرت عمر ابن خطاب ﷺ ته چې کومې مشکلې مسئلې راغلې وې هغې کښې یو دا هم وه.بخاری او مسلم شریف کښې دی چه حضرت عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل چه د دریو څیزونو متعلق ځما خواهش نیمګړې پاتې شوې دي.ځما خواهش وو که نبی کریم ﷺ ځمونږ په هغې کښې رهنمائی کړې وې نو مونږ به هغې طرفته رجوع کړې وې.①نیکه،②کلاله ③اود سود ابواب (۳).

اویوبل روایت کښې دی چه حضرت عمر فاروق ﷺ فرمائی چه دکلاله باره کښې ما د نبی کریم ﷺ نه ځومره سوالونه کړی دی د نورو مسائلو باره کښې ما دومره نه دی کړی تر دې چه نبی کریم ﷺ خه په خپله ګوته مبارکه په سینه کښې اووهلم او دائې اوفرمائیل چه تالره د ګرمئ هغه آیت کافی نه دي چه کوم د سورة نساء آخر کښې دي .(۴) او یو حدیث مبارك کښې دی که ما دې باره نبی کریم ﷺ نه خپل اطمینان کړې وې نو دا به مادپاره د سرو اوښانو نه زیات بهتر وو(۵). د نبی کریم ﷺ ددې فرمان مطلب دادې چه دا آیت دګرمئ موسم کښې نازل شوې وو(۶).والله اعلم.

دعمر ﷺ د افسوس وجه:- او چونکه نبی کریم ﷺ د دې پوهیدو طرفته رهنمائی کړې وه او په دې کښې نې کفایت خودلې وو،اوس فاروق اعظم نه د دې د معنې تپوس کول هیر شو او په هغې نې اظهار افسوس کولو.تفسیر ابن جریر ﷺ کښې دی چه جناب فاروق اعظم نبی کریم ﷺ نه دکلاله باره کښې سوال اوکړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ دا نه دی بیان کړی،نو دا آیت مبارك نازل شو.

حضرت ابوبکرصدیق ﷺ خپله خطبه کښې اوفرمائیل چه کوم آیت د سورة نساء شروع کښې د فرائضو باره کښې دي،هغه د ولد او والد دپاره دي،او دویم آیت مبارك د ښځې او خاوند دپاره دي اود هغه

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر باب(یستفتونک قل الله یفتیکم فی الکلالة.....):٤٦٠٥ صحیح مسلم:١٦١٨، ابوداود:٢٨٢٨، ترمذی:٣٠٤٤، مسندابی یعلی:١٧٤٣.

۲) صحیح بخاری کتاب المرضی باب ضوء العائد للمریض:٥٦٧٦، صحیح مسلم:١٦١٦، ابوداود:٢٨٨٦، ترمذی:٢٠٩٧.

۳) صحیح بخاری کتاب الاشربة باب ماجاء فی ان الخمر ماخامر العقل من الشراب:٥٥٨٨، صحیح مسلم:٣٠٣٣، ابن حبان:٥٣٥٣.

۴) صحیح مسلم کتاب الفرائض باب میراث الکلالة:١٦١٧، السنن الکبری للنسائی:١١١٣٥. احمد:١/١٥، ابویعلی :١٨٤، ابن حبان:٢٠١٩.

۵) احمد:١/٣٨..

۶) ابوداود:٢٨٨٩، ترمذی:٣٠٤٥، احمد:٤/٢٩٣.

Scanned with Ca

خویندو باره کښې دې چه کومې د مور نه وی او چه کوم آیت مبارك باندې سورة نساء ختمیږی هغه د سکه رونړو خویند باره کښې دې.اوهغه رحمی رشته عصبه کښې چلیږی. (ابن جریر)

د ،،هلك،، معنی:- ددې آیت مبارك ﴿هلك﴾ معنی ده مړ شو،لکه چه فرمان دې چه ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ﴾ یعنی هر څیز فنا کیدونکې دې سوا د ذات ربانی نه چه همیشه باقی پاتې کیدونکې دې.لکه یو بل آیت مبارك کښې دی چه ﴿وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾ یعنی هر یو څیز چه په دې دې فانی دې،اوستا درب ذات باقی دې او هغه د جلال اوکرم خاوند دې.

قوله تعالی:: وَهُوَ يَرِثُهَا إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ

د کلاله خور ته نیمه حصه ملاویدل:- بیا فرمانی چه د هغه ولد نه وی،ددې نه بعضو خلقو دا دلیل نیولې دې چه په کلاله کښې د پلار نه کیدل شرط نه دی،بلکه چه د چا اولاد چې نه وی هغه کلاله دې.په روایت د ابن جریر رضی الله عنه حضرت عمر ابن خطاب رضی الله عنه نه مروی دې خو صحیح قول د جمهورو دې او د حضرت صدیق رضی الله عنه فیصله هم دا ده چه د هغه نه والد وی اونه ولد او د دلالت هم د دې آیت مبارك نه پس چې کوم الفاظ دی. د هغې نه هم کیږی په کوم کښې چې فرمانی ﴿وَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ﴾ یعنی چې د ده خور وی نوخور لره د ټول پریخودې شوی مال نیم په نیمه حصه ده.

د پلار په وجود کښې د خور محرومتیا:- اوکه خور پلار سره وی نو پلار دا د میراث نه محرومه کولې شی.او دې ته اجماعی طور هیڅ نه ملاویږی .نو ثابته شوه چه کلاله هغه دې چه د هغه ولد نه وی او دا خو د نص نه ثابت دی.اوپلار ئې هم نه وی اود اهم د نص نه ثابتیږی.خو د لږ غور نه پس څکه چه د خور نیمه حصه د پلار موجودګئ کښې نه کیږی .بلکه هغه دورثې نه محرومه وی. حضرت زید بن ثابت نه د دې مسئلې باره کښې تپوس کیږی چه یوښځه مړه شی او د دې یو خور او خاوند دې.نو دوی اوفرمائیل چه نیمه به خاوند ته ورکړی او نیمه به خور ته.هرکله چه د دوی نه د دې دلیل اوپوښتلې شو نودوی اوفرمائیل چه ځماموجودګئ کښې نبی کریم ﷺ ددې مسئلې داصورت فرمائیلې وو([1]) (احمد).

د لور په وجود د خور محرومتیا:- حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه او حضرت ابن زبیر رضی الله عنه نه ابن جریر کښې منقول دی چه د دواړو فتوی د هغه مرده باره کښې چه یو لور او یو خور پریږدی دا وه چه په دې صورت کښې به خور محرومه وی. اودې ته به هیڅ نه ملاویږی ځکه چه د قرآن دې آیت مبارك کښې د نیمې حصې ملاویدو صورت بیان شوې دی چه د مرده اولاد نه وی او دلته اولاد شته،

د لور په وجود کښې د خور عدم محرومتیا:- لیکن جمهور ددې خلاف دی،هغوئ وائی چه دې صورت کښې به هم لور ته نیمه حصه ملاویږی.په سبب د فرضو او نیمه به خور ته ملاویږی.په سبب د عصبه.اسود رضی الله عنه وائی چه حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ زمانه کښې فیصله اوکړه چه نیمه به جینئ ته اونیمه خور ته ملاویږی ([2]).

صحیح بخاری کښې یو روایت کښې دی چه حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه د لور او نمسئ او خور باره کښې فتوی ورکړې وه چه نیمه به لور ته او نیمه خور ته بیا ئې اوفرمائیل چه لږ خو ابن مسعود رضی الله عنه ته هم ورشه،چې هغه هم ماسره موافقت کوی.خو هرکله چه ابن مسعود رضی الله عنه نه سوال اوشو او د حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه فیصله ورته واورولې شوه نو دوی اوفرمائیل چه بیا خو به څه ګمراه شم،اوهدایت یافته خلقو نه به شمیر نه یم.واورنی دې کښې څه هغه فیصله کوم چه کومه نبی کریم ﷺ کړې ده. نیمه به لور ته او شپږمه حصه به نمسئ ته او دوه ثلثه پوره شو او چه کوم باقی پاتې شی هغه خورته .نومونږ

---

[1]) احمد:١٨٨/٥، ،مجمع الزوائد :٢٢٨/٤،

[2]) صحیح بخاری کتاب الفرائض باب میراث الاخوات مع البنات عصبة:٦٧٤١.

بیا واپس شو او حضرت ابوموسی اشعری ﷺ ته مو دا خبرورکړو، نووې فرمائیل چه په تاسو کښې ترڅو پورې دا علامه موجود وی نو ځمانه تپوس مه کوئی.(۱)

قوله تعالی:: وَهُوَ يَرِثُهَآ إِن لَّمْ يَكُن لَّهَا وَلَدٌ

د رور د کلاله خور نه میراث اوړل:- بیا فرمان دې چه دا به د هغه وارث وی که د ده اولاد نه وی یعنی رور د خپلې خور په ټول میراث کښې وارث دی.په دې صورت کښې چه هغه کلاله مړه شی یعنی د هغې اولاد نه وی اونه ئې پلار وی ،ځکه چه د پلار موجودګی کښې خو رور ته به میراث کښې هیڅ نه ملاویږی.خوکه رور سره بل څوک حصې والا وارث وی لکه خاوند یا مور یا رور نو ده ته به د هغې حصه ملاویږی.او د باقی مال وارث به رور وی.

صحیح بخاری کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمانی فرائض د دوی اهل سره یو خانې کړئی او چه کوم باقی پاتې شی نو هغه د هغه سړی دی چه د ټولو نه ورته زیات نزدې وی (۲).

قوله تعالی:: فَإِن كَانَتَا ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا ٱلثُّلُثَانِ مِمَّا تَرَكَ

د دوو خویندو نه د زیاتو صورت:- بیا فرمانی که خویندې دوه وی نو هغې ته به د متروکه مال نه دوه ثلث ملاویږی .هم دا حکم د دوؤ نه د زیاتو خویندو هم دی.هم ددې څانې نه یو جماعت د دوؤ لونړو حکم کړې دی .لکه چه د دوؤ نه د زیاتو خویندو حکم د لونړو حکم سره دی.او د هغه آیت مبارک الفاظ دا دی چه ﴿فَإِن كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ ٱثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ﴾

وَإِن كَانُوٓا۟ إِخْوَةً رِّجَالًا وَنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ ٱلْأُنثَيَيْنِ

درونړو او خویندو د جمع کیدو په صورت کښې حکم:بیا فرمانی که رور او خور دواړه وی نو د سړی حصه به د دوؤ ښځو برابر وی.داحکم د عصباتو هم دی.که هلك او که نمسی وی یا رور وی هرکله چه په دوی کښې سړی یا ښځه دواړه موجود وی نو څومره چه دوو ښځو ته ملاویږی نو دومره به یو سړی ته ملاویږی.

د احکامو بیانولو حکمت:- الله ﷻ خپل فرائض بیان فرمائی.خپل حدونه مقرروی،خپل شریعت واضح کوی،چه هسې نه تاسو دهوکه شئ،الله ﷻ د ټولو کارونو د انجام نه واقف دی ،اود هر مصلحت نه دانا ،د بنده ګانو خیرخواه دی،د مستحق د استحقاق پیژندونکې دی.

د ابن جریر رحمه الله روایت کښې دی چه نبی کریم ﷺ او صحابه کرام چرته په سفر روان وو ،د حذیفه ﷺ د اوښې سر نبی کریم ﷺ پسې چې کوم صحابی ناست وو د هغه کجاوې سره برابر وو،او د حضرت عمر فاروق ﷺ د سورلئ د خذیفه ﷺ سره روستو دویم کس سره برابر وو اودا آیت مبارک نازل شو.نو نبی کریم ﷺ حضرت حذیفه ﷺ ته دا آیت مبارک واورولو، او حضرت حذیفه ﷺ حضرت فاروق اعظم ﷺ ته او دې نه پس حضرت عمرفاروق ﷺ چه کله دا آیت مبارک و اوریدو او دې باره کښې ئې سوال اوکړو نو وې وئیل چه په الله قسم ته ناپوهه ئې،ځکه چه ماته نبی کریم ﷺ آورولې وو م دغه شان ما تاته واورولو. په الله قسم ما په دې کښې هیڅ زیاتی نه ده کړې.حضرت عمرفاروق ﷺ به فرمائیل چه ائې الله ﷻ ! اګر چه تا ظاهر کړی دی مګر ما باندې نه دی ظاهر شوی .(۳) خو دا روایت منقطع دی.هم ددې روایت یو بل سند کښې دی چه حضرت عمر فاروق ﷺ دوباره دا سوال د خپل خلافت په زمانه کښې کړې وو.

---

۱) صحیح بخاری کتاب الفرائض باب میراث ابنة ابن مع ابنة:٦٧٣٦. ابوداود :۲۸۹۰. ترمذی:۲۰۹۳.

۲) صحیح بخاری کتاب الفرائض باب میراث الولد من ابیه وامه:٦٧٣٢، صحیح مسلم:١٦١٥، ترمذی:۲۰۹۸.

۳) الطبری

دکلاله په باره کښې د عمر ﷺ عدم تشفی:- او یو حدیث مبارک کښې دی چه حضرت عمرفاروق ﷺ نبی کریم ﷺ نه تپوس کړی وو چه یارسول الله ﷺ ! د کلاله میراث به څنګه تقسیمیږی ؟ په دی باندې الله ﷻ دا آیت مبارک نازل کړو ،خو د حضرت عمرفاروق ﷺ پوره تشفی نه وه شوې،خکه ئې خپلې لور او د نبی کریم ﷺ بی بی حضرت حفصه ﷺ ته فرمائیلی وو چه کله نبی کریم ﷺ خوشحاله وی نو ته د دې تپوس اوکړه. نو حضرت حفصه ﷺ یوورځ هم دغه شان موقع اومونډله او تپوس ئې اوکړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه شاید ستا پلار تاته د دې د تپوس کولو هدایت کړې دی.خما خیال دې چه هغه به دا معلوم نکړې شی.حضرت عمرفاروق ﷺ چه کله دا واوریدل نو وې فرمائیل چه هرکله نبی کریم ﷺ دا اوفرمائیل نو اوس څه دانشم معلومولې.

اویو روایت کښې دی چه د حضرت عمر فاروق ﷺ په حکم چه کله حضرت حفصه ﷺ سوال اوکړو نو نبی کریم ﷺ ورته په یو پاڼه دا آیت مبارک په چا اولیکلو ،بیا ئې اوفرمائیل چه عمر ﷺ تاته د دې د تپوس کولو وئیلی دی ؟ خما خیال دې چه هغه به دا صحیح نه کړی.آیا هغه ته دګرمئ هغه آیت مبارک یاد نه دې (یعنی هغه ایت چې د ګرمئ په موسم کښې نازل شوې وو) چه کوم په سورة نساء کښې دې،اوهغه کافی نه دې څه ؟ ﴿وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُوْرَثُ كَلٰلَةً﴾ بیا چه کله نبی کریم ﷺ نه خلقو سوال اوکړو نو هغه آیت نازل شو چه کوم د سورة نساء په اخرکښې دې.اودا حدیث مبارک مرسل دې.

یو ځل حضرت عمرفاروق ﷺ صحابه کرام ﷺ جمع کړل او یو تکړه ئې راوخسته چه هم نن دکلاله باره کښې فیصله کوم چه په پرده کښې هم بنځو ته هم معلومه شی،نو په هغه وخت کښې کور کښې یو مار راووتلو ،او ټول خلق خواره شو.نو عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل که د الله ﷻ د دې د پوره کولو اراده وې نو دا به ئې پوره کړې وې.ددې اسناد صحیح دی (۱).

په دې مسئلو کښې د عمر ﷺ عدم تشفی:- مستدرک حاکم کښې دی چه حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه دې مسئلې که ما د نبی کریم ﷺ نه پوښتلې وې نو دا به ماته د سرو اوښانو د ملاویدو نه زیات خوښ وو① یو خودا چه نبی کریم ﷺ نه پس به خلیفه څوک وی؟②دویم دا چه کوم خلق د زکوة قائل وی خو وائی چه مونږ به ئې تاته نه درکوو،نو دوی سره د جنګ کول څنګه دی؟③دریم د کلاله باره کښې(۲)او یو حدیث مبارک کښې د زکوة نه ورکونکو په ځانې د سودی مسئلو بیان دې (۳).

حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه د حضرت عمرفاروق ﷺ آخری وخت کښې ما د دوی نه واوریدل چه قول هغه دې چه کوم ماواوریدو ؟ چې تپوس مو تري اوکړو چه هغه څه دی ؟ نو وې فرمائیل چه کلاله هغه دې چه د چا اولاد نه وی (۴).

د شیخینو اختلاف:- او یو روایت کښې دی چه حضرت عمرفاروق ﷺ فرمائی چه خما او د حضرت ابوبکرصدیق ﷺ مینځ کښې دکلاله باره کښې اختلاف پیدا شو او خبره هم هغه وه چه کومه ما ونیله.حضرت عمرفاروق ﷺ خپل سکه رونړه او چه کوم د مور نه وی (او د پلا نه وی) جمع شی نو دائې ثلث کښې شریك کړی وو، اوحضرت ابوبکر صدیق د دې خلاف وو.ابن جریر کښې دی چه خلیفة المسلمین حضرت عمرفاروق یو رقعه باندې د نیکه د میراث او کلاله باره کښې څه اولیکل ،بیا ئې استخاره اوکړه،او څه وخت چې ئې آرام اوکړو،او د الله ﷻ نه ئې د دې دعا اوکړه،چه انې الله ﷻ ! که

---

(۱) الطبری :۹/۴۳۹.
(۲) حاکم :۲/۲/۳۰۳،
(۳) حاکم:۲/۳۰۴.
(۴) حاکم:۲/۳۰۳ وسنده صحیح.

Scanned with Ca

ستا په علم کښې په دې کښې بهتری وی نو دا جاری کړه. بیا چه کله دوی زخمی شو نو دوی دا رقعه راوغوښته او هیڅا ته د دې علم او نشو چه په دې کښې ئې څه لیکلی وو،بیا ئې پخپله اوفرمائیل چه ما په دې کښې د نیکه او کلاله باره کښې لیکلی وو.او ما استخاره کړې وه،بیا ځما خیال اوشو چه تاسو هم په دې پریږدم چه په څه تاسویی.

ابن جریر کښې دی چه عمرفاروق ﷺاوفرمائیل د کلاله په باره کښې چې زه د حضرت ابوبکرصدیق ﷺ نه خلاف کوم نو ماته شرم راځی او د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ فرمان وو چه کلاله هغه ده چه د چا ولد نه وی،او هم په دې د جمهور صحابه کرام ﷺ او تابعین رحمهم الله او آئمه دین دې.هم دا حال د څلور وارواماما نو او اوڅ واړه فقهاؤ دې،او هم په دې باندې قران پاک دلالت کوی لکه څنګه چه الله ﷻ واضح کړی دی او فرمائی چه ستاسو دپاره مو ښکاره ښکاره بیانونه کړی دی چه تاسو ګمراه نه شئ،او الله ﷻ ته هر څیز ښه معلوم دې.والله اعلم.(الحمدلله) دسورة نساء تفسیر ختم شو الله تعالی دې قبول کړی.

د سوره مائده تفسیر

د سورة د نزول وخت:- حضرت آسماء بنت یزید ﷺ فرمائی چه ما د نبی کریم ﷺ د اوښې عضباء واکې نیولې وې چه په نبی کریم ﷺ سورة مائده پوره نازله شوه. نزدې وه چه په دې بوج سره د اوښې پښې ماتې شوې وې (۱) (مسند احمد).

اویو روایت مبارك کښې دی چه په هغه وخت کښې نبی کریم ﷺ سفر کښې وو .او د وحی د بوج نه معلومه شوه چه ګنی د اوښې پښې ماتې شوې (۲) (ابن مردویه).اویو روایت کښې دی چه کله د اوښې د طاقت نه زیات بوج په اوښه راغلو نو نبی کریم ﷺ دې نه کوز شو (۳). (مسند احمد).

سورة مائده اخری سورت دې:- ترمذی شریف کښې یو روایت کښې دی چه ټولو نه آخری سورة چه په نبی کریم ﷺ نازل شوې دې هغه سورة ﴿إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللَّهِ﴾ دې(۴).

مستدرك حاکم کښې دی چه حضرت جبیر بن نفیر فرمائی چه څه حج ته لاړم،هلته د حضرت عائشه بنت صدیق ﷺ خدمت کښې حاضر شوم نو حضرت عائشه ﷺ ماته اووئیل چه ته د سورة مائده تلاوت کوې ؟ ما ورته اووئیل چه آو. وې فرمائیل چه واوره ! ټولو نه آخری سورة هم دا دې.په دې کښې چه کوم څیز حلال ګوري نو هغه حلال اوګنړه او په دې کښې چه کوم څیز حرام اومومې نو هغه حرام اوګنړه.(۵).

مسند احمد کښې هم دا روایت دې او په هغې کښې دی چه بیا ما دوی نه د نبی کریم ﷺ د اخلاقو باره کښې تپوس اوکړو نو دوی ﷺ اوفرمائیل چه د نبی کریم ﷺ د اخلاقو مکمل نمونه قران پاك دې.د اروایت نسائی کښې هم دې (۶)

---

۱) احمد:٦/٤٥٥، طبرانی :۱۹۹۲۰، مجمع الزوائد:۷/۴۳.

۲) الدرالمنثور :۲/٤٤٦، دلائل النبوة :۷/٤٥،.

۳) احمد: ۲/۱۷٦، مجمع الزوائد:۷/۱۳.

۴) ترمذی کتاب التفسیر القران باب ومن سورة المائدة:۳۰٦۳، وسنده حسن حاکم:۲/۳۱۱.

۵) حاکم:۲/۳۱۱ وسنده صحیح السنن الکبری للنسائی: ۱۱۱۳۸، امام دې ته صحیح وئیلی دی.

۶) احمد:٦/۱۸۸، وسنده صحیح السنن الکبری للنسائی:۱۱۱۳۸، دلاالنبوة:۱۱۸، فضائل القرآن:ص/۱۲۸ ددې روایت سند صحیح درجه کښې دې

Scanned with Ca

آیاوتونه	سورة مائده مدنی دی	رکوعګانې
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
۱۲۰	شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دې	۱۶

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ۭ اُحِلَّتْ لَكُمْ

ائې هغه کسانو | چې ایمان مو راوړې دې | پوره کړئ | ټولې وعدې | حلال کړې شو | ستاسو دپاره

ائې مومنانو! خپلې وعدې پوره کوئ |..... تاسودپاره د ځاروؤ

بَهِيْمَةُ الْاَنْعَامِ اِلَّا مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ

ټول څریدونکی ځاروی| دځناورو |اما سوا د |هغې نه| چې لوستې به شی| په تاسو باندې

ټول قسمونه حلال دی |.....مګر دکومو بیان چې به وړاندې تاسو ته اوشی

غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

مګر حلال مۀ ګڼړې | ښکار |احال دا چې تاسو | احرام تړونکی یئ | بیشکه الله

خوځان دپاره ښکار حلال مۀ ګڼړئ چې تاسود احرام حالت کښې یئ | بیشکه الله ﷻ

يَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا

حکم کوی | دهغه څه|چې غواړی| ائې هغه کسانو |چې ایمان مو راوړې دې | مه ګڼړئ حلال

چې څه غواړی هغه حکم کوی|ائې دایمان خاوندانو دالله ﷻ د ننبو ننبسانو بې حرمتی مۀ کوئ

شَعَاۗىِٕرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَاۗىِٕدَ

ننبې د الله |اونۀ میاشتې د حرمت |اونۀ ځاروی دقربانئ| اونۀ پټئ والاځاروی

اونۀ د معززو میاشتو | اونه دقربانئ د ځاروؤ | اونه د هغه ځاروی چې (دالله ﷻ دنامې) پټې ورته اچولې شوې وی

وَلَآ اٰۗمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ

اونۀ|قصد کونکی| محترم کورته |احال دا چې غواړی هغوئ| فضل | درب خپل نه

اونۀ هغه کسان چې بیت الحرام(کعبې)ته روان وی | دخپل رب فضل خوشحالی لټوی .....

وَرِضْوَانًا ۭ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ۭ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ

اود(هغه)رضا |اوکله چې |احرام ختم کړئ تاسوانو بیا ښکارکوئ تاسو |اونۀ دې کړی باعث تاسو

.....اوهرکله چې د احرام پابندی ختمه شی | نوبیاښکارکولئ شئ |او(خیال ساتئ) چې یوه ډله چې

شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ

دشمنی دیو قوم|چې هغوئ منع کړی یئ تاسو |د مسجد حرام نه | په دې خبره چې زیاتې اوکړئ تاسو

تاسوئې دمسجد حرام نه منع کړی یې د هغوئ کردار دې تاسو په ظلم کولو باندې اماده نکړی

وَتَعَاوَنُوْا	عَلَى الْبِرِّ	وَالتَّقْوٰى ۖ	وَلَا تَعَاوَنُوْا
اومدد کوئ	ادیوبل سره په نیکئ کښې	او په تقوی کښې	اومدد کوئ
	اود نیکئ اوپرهیزګارئ په کارونو کښې یوبل سره مدد کوئ		او دګناه او
عَلَى الْاِثْمِ	وَالْعُدْوَانِ ۖ	وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	شَدِيْدُ
په ګناه	او په زیاتی کښې	او اوویریږئ دالله نه	بیشکه الله	ډیر سخت دی
	دظلم په کارونو کښې هیڅاسره مددمدد کوئ	اودالله ﷻ نه ویره کوئ	بیشکه الله ﷻ	
الْعِقَابِ ۝				
په عذاب کښې				
سخت عذاب ورکونکی دی				

مؤمنانو ته خطاب:- ابن ابی حاتم کښې دی چه یو سړی حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ته اوونیل چه تاسو ماته څه خاص وصیت اوکړئی.دوی ﷺ ورته اوفرمائیل چه کله ته په قران کښې د ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا﴾ لفظ واوري نو زر دا په غور او توجه سره واوره.ځکه چه دی نه پس به د څه نه څه ښیګړی حکم وی یا به د څه بدئ نه د منع کیدو حکم وی

حضرت زهری رحمه الله فرمائی چه چرته هم الله ﷻ ایمان و الو ته حکم کړی دی نو دی حکم کښې نبی ﷺ هم شامل یم.حضرت خیثمه رحمه الله فرمائی چه توراة کښې د ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا﴾ په ځائ ﴿يٰٓاَيُّهَا الْمَسٰكِيْنُ﴾ دی،

دعلی ﷺ په فضیلت کښې موضوعی اثر:- په یو روایت کښې دی کوم چه حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ په نوم سره بیان شوی دی چه چرته هم ﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا﴾ دی نو ټولو موقعو کښې ددې ټولو ایمان والو سردار شریف او امیر حضرت علی ﷺ دی.د نبی کریم ﷺ په صحابو کښې هر یو ته زورنه ورکړې شوی ده.سوا د حضرت علی ﷺ نه چه هغه په هیڅ خبره کښې کښې زورنه نه ده ورکړې شوی.

د روایت تضعیف:- یاد ساتئ چه د اثر بالکل غلط دی او ددې الفاظ منکر دی او د دی سند هم صحیح نه دی.حضرت امام بخاری رحمه الله فرمائی چه د دی راوی عیسی بن راشد مجهول دی،دده روایت منکر دی.څه وایم چه دغه شان ددی بل راوی علی بن بذیمه اګر چه ثقه دی مګر د اعلی درجې شیعه دی،بیا د ده داسې روایت چه دده د خاص خیال تائید کوی څنګه د قبلیدو لائق دی ؟ نو یقینی طور به هغه دی کښې ناقابل قبول وی.دې روایت کښې دا دی چه ټول صحابه کرام ﷺ زورلې شوی دی سوا د حضرت علی ﷺ نه،دی نه مراد د دوی هغه آیت مبارک دی چه په هغې کښې الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته سرګوشئ کولو نه مخکښې د صدقې کولو حکم کړی دی.نو دیو نه زیاتو مفسرینو وئیلی دی چه په دی باندې عمل صرف حضرت علی ﷺ کړی دی .او بیا دا فرمان نازل شو چه ﴿ءَاَشْفَقْتُمْ اَنْ تُقَدِّمُوْا﴾ الخ،خو دا غلط دی چه آیت کښې صحابه کرام ﷺ زورلې شوی دی،بلکه اصل کښې دا حکم په طور د وجوب نه وو بلکه اختیاری امر وو. دې باندې عمل کولو نه مخکښې الله ﷻ دا منسوخ کړو نو حقیقت کښې هیڅا نه ددې اختلاف نه دی شوی،بیا دا خبره غلطه ده چه حضرت علی ﷺ په هیڅ خبره نه دې زورلې شوی.د سورة انفال آیت مبارک اوګورئی.په هغې کښې هغه ټول صحابه کرام ﷺ زورلې شوی وو چه کومو د بدری قیدیانو دپرینبودلو او ددوی نه د فدیه اخستلو مشوره ورکړې وه.اصل کښې سوا د حضرت عمرفاروق ﷺ نه باقی د ټولو صحابه کرامو ﷺ هم دا مشوره وه،نودا د حضرت عمرفاروق ﷺ

نه سوا نورو ټولو ته دی.او په دوی کښې حضرت علی ﷺ هم دې.نو دا ټولې خبرې په دې خبره ښکاره دلیل دې چې دا اثر بیخی ضعیف او واهی دې،والله اعلم،

د ابن حزم ﷺ په کتاب کښې د مائدې ایت:- ابن جریر کښې دی چه حضرت محمد بن سلمه ﷺ فرمانی چه کوم کتاب نبی کریم ﷺ حضرت عمر بن حزم ﷺ ته لیکلې ورکړې وو اوهغه نې نجران ته لیږلې وو،دا کتاب ما حضرت ابوبکر ابن حزم ﷺ سره لیدلې وو،او دا مې لوستلې وو،او په دې کښې د الله ﷻ اود هغه رسول ﷺ احکام وو،په هغې کښې ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ﴾ نه تر ﴿إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾ پورې لیکلې شوی وو (۱).

ابن ابی حاتم کښې دی چه د حضرت عمر بن حزم ﷺ نمسی حضرت ابوبکربن محمد اوفرمانیل چه مونږ سره دا کتاب چه کوم حضرت عمروبن حزم ﷺ لیکلې وو هرکله چه نې هغه یمن ته د دین خوږولو اواحادیثو خودلو او زکوة وصولولو دپاره لیږلې وو،په هغې کښې د وعدې او د حکم کولو احکام وو،او په هغې کښې د ﴿بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ﴾ نه پس لیکلې شوی وو چه دا کتاب دالله تعالی او دهغه درسول ﷺ د طرفنه دې،انې ایمان والو ! وعدې پوره کړئی،دا وعده د حضرت محمد ﷺ د طرفنه حضرت عمرو بن حزم ﷺ دپاره ده هرکله چه دوی نې یمن ته لیږل،دوی ته رسول الله ﷺ خپلو کارونوکښې د ویرولو حکم کړې وو. یقیناً الله ﷻ هغوی سره دې څوك چې د هغه نه ویریږی او احسان او نیکی کوی (۲).

د عقود نه مراد:- حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ وغیره فرمانی چه عقود نه مراد عهد دې (۳)،ابن جریر ﷺ په دې باندې اجماع ښائی که هغه قسمیه عهد وی او که وعدې وی ټول پوره کول فرض دی (۴).

دابن عباس ﷺ قول:- حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ نه دا هم مروی دی چه عهد پوره کولو کښې د الله ﷻ حلال لره حلال ګنړل او حرام لره حرام ګنړل د هغه د فرائضو پابندی کول د هغه د حد بندو خیال ساتل د څه خبرې خلاف نه کول یو حد نه ماتول څه حرام کار نه کول دا ټول شامل دی اولولئ آیت ﴿وَالَّذِينَ يَنْقُضُونَ عَهْدَ اللَّهِ﴾ لره ﴿سُوءُ الدَّارِ﴾ پورې.

حضرت ضحاك ﷺ فرمائی چه مراد تری دا دې چه د الله ﷻ حلال،د الله ﷻ حرام،اود هغه وعدو لره چه دایمان نه پس ستاسو په ذمه دی،پوره کول د الله ﷻ د طرفنه فرض دی.د فرائضو پابندی،د حلال او حرام عقیده ساتل وغیره وغیره.

حضرت زیدبن اسلم ﷺ فرمانی چه دا شپږ وعدې دی.د الله ﷻ د وعدو خپلو کښې یوشان والئ قسمیه عهد ،دشرکت عهد ،دتجارت عهد ،دنکاح عهد ،قسمیه عهد ،محمد بن کعب ﷺ وانی چه پنځه دی.چه په دې کښې د جاهلیت د زمانې قسمونه او شرکت تجارت او وعدې شاملې دی.

خرڅونکی او اخستونکی ته د اختیار مسئله:- کوم خلق وائی چه اخستلو خرڅولو نه پس تر اوسه پورې چه خرڅونکی او اخستونکی لا جدا شوی نه وی نو بیا هم د واپس کولو اختیار نشته دې.هغوئ خپل دلیل دا آیت ګنړی.امام ابو حنیفه ﷺ،او د امام مالك ﷺ هم دا مذهب دې.خود امام شافعی ﷺ او امام احمد بن حنبل ﷺ ددې خلاف دی او جمهور علماء هم ددې خلاف دی.

اودلیل کښې هغوئ دا صحیح حدیث پیش کوی .اودا په صحیح بخاری کښې د حضرت ابن عمر ﷺ

---

۱) الطبری:۹/٤٥٤.
۲) دلائل النبوة: ٥/٤١٣. وهوحسن
۳) الطبری: ۹/٤٥٠.
٤) ایضا :۹/٤٤٩،

Scanned with Ca

نه مروی دي چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اخستونکی او خرڅونکی ته د سودا واپس کولو اختیار شته دي تر کومې چه جدا شوی نه وی (۱).د صحیح بخاری شریف په یو روایت کښې داسې دي چه هرکله دوه سړو خرڅول او اخستل اوکړو نو دوی ته د یو بل نه د جدائي کیدو پورې اختیار دي (۲).دا حدیث مبارک بسکاره او صریح دلیل دي چه دا اختیار د اخستلو او خرڅولو نه پس دي،آو دا دي د د بیع لازمیدو کیدو نه خلاف نشی ګنړلې بلکه دا شرعی طور د دي مقتضی دی .نوددي پوره کول هم ددي آیت مبارک ماتحت ضروری دی.

صرف په ایجاب او قبول باندې بیع مکمل کیږی د مجلس اختتام ضروری نه دي

مسلک حنفی:- حافظ رحمه الله چې امام ابوحنیفه رحمه الله ته کوم نسبت کړې دي دا صحیح دي چه کله په مجلس د عقد کښې عقد پوره شی نو بیا بائع یا مشتری ته اختیار نشته اګرچې لامجلس باقی وی ځکه چه کوم حدیث امام شافعی رحمه الله وغیره ذکر کوی د هغې نه مراد تفرق بالابدان نه دي بلکه تفرق بالاقوال دي یعنی چې د خرڅولو او اخستلو خبره ختمه شی نو بیع منعقده شوه چاته د واپس کولو اختیار نشته (تسهیل الهدایه شرح هدایه (۳۵۱۵)-

قوله تعالی:: أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ

د حلالو ځناورو ذکر:- بیا فرمائي چه ځناور،چارپایان،ستاسو دپاره حلال کړې شوی دی یعنی اوښ، غوا، چیلئ وغیره.ابوالحسن ،رحمه الله،حضرت قتاده رحمه الله وغیره نه هم دا قول منقول دي.ابن جریر رحمه الله فرمائی چه عربو کښې د دي د لغت مطابق هم دا دی.

د مذبوحې په خیټه کښې د بچی حکم:- حضرت ابن عمر رضي الله عنه، حضرت ابن عباس رضي الله عنه وغیره بزرګانو هم د دي آیت نه استدلال کړې دي چه کومه حلاله ماده ذبح کړې شی او د دي د خیټې نه بچې راوځی اګر چه مړ وی نوبیا هم هغه حلال دي (۳).ابوداود او ترمذی اوابن ماجه کښې دی چه صحابه کرامو رضي الله عنهم د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه کله اوښ یا غوا یا چیلئ ذبح کړې شی او د دي د خیټې نه بچی راوځی نو مونږ هغه خورو که نه ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که غواړئی نو خورئی ځکه چه د دي ذبیحه ددي د مور ذبیحه ده (۴). امام ترمذی رحمه الله دي ته حسن وئیلی دی.ابوداود کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خیټه کښې دننه د بچی ذبح دده د مور ذبح ده.(۵)

قوله تعالی:: إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ

د ،،ما یتلی،، نه مراد:- بیا فرمائی مګر هغه چه ستاسو مخکښې به بیان شی.①حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه د دي مطلب مردار او وینه اود خنزیر غوښه ده. (۶) ②حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه د دي نه مراد پخپله مړ شوي ځناور او هغه ځناردي چه د هغه په ذبیحه باندې د الله ﷻ نوم نه وی اخستې شوي (۷).

د حافظ رحمه الله رائي:- پوره علم خو الله ﷻ ته دي. خو په ظاهره دا معلومیږی چه دي نه مراد د الله ﷻ فرمان ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾ الخ دي.①یعنی تاسو باندې مرداره ②او وینه ③او د خنزیر غوښه حرامه

---

۱) صحیح بخاری کتاب البیوع باب اذا لم یوقت الخیار هل یجوز البیع: ۲۱۰۹، صحیح مسلم: ۱۵۳۱، ابوداود: ۳٤٥۷. احمد:۲/۷۳،

۲) صحیح بخاری کتاب البیوع باب اذا خیر احدهما صاحبه بعدالبیع فقد وجب البیع :۲۱۱۲ صحیح مسلم:۱۵۳۱، ابوداود: ۳٤٥۷.

۳) الطبری:۹/٤٥٥.

٤) الطبری:۹/٤٥٦.

٥) ابوداود حواله سابق : ۲۸۲۸.

٦) الطبری:۹/٤٥۸.

۷) ایضا

Scanned with Ca

کړي شوي ده ④او هرهغه څيز چې په هغې د الله تعالی د نوم نه سوا د بل چا نوم واخستې شی ⑤او چه د کوم مرغۍ خپه کړي شی، ⑥او کوم چې په وهلو سره مړ شوي وی. ⑦او کوم چې د يوپورته خانې نه راوغورزيږی. ⑧اوکوم چې تکر وهلو سره مړ شی، ⑨او کوم چې څيرونکی خناور اوخوری. ⑩نو دا هم چارپايانو کښې دي.خو دې وجوهاتو سره د احرامیږی.

په دې وجه دې نه پس فرمائی چه تاسو کوم يوذبح کړئی او چه کوم څناور په بت خانو کښې ذبح کړې شی هغه هم حرام دې اوداسې حرام چه په هغې کښې هيڅ يو څيز هم حلال نه دې د دې وجه په دې باندې استدلال نه دې شوې ،او حلال سره نه د دې هيڅ ذکر نه دې شوې نو دلته هم دا فرمائی چه څناور چارپايان ستاسودپاره حلال دی.اود بعضو ذکر راځی چه هغه د بعضو وجوهاتوپه بناء حرام دی.او د دې نه پس جمله د حالیت په بناء منصوب ده،مراد د انعام نه عام دې.بعضې هغه چه په انسانانو کښې اوسيږی،لکه اوښ،غوا،چيلۍ او بعضې هغه چه څنګلی دی.لکه نيل اوسۍ غوا او څنګلی خرنو په ساتلی شوی څناورو کښې نې دا مخصوص کړل چه کوم بيان شو او وحشی څناورو کښې د احرام حالت کښې هر يو ښکار کول منع دی.د ا هم وئيلې شوی دی چه دې نه مراد مونږ ستاسو دپاره چارپايان هر حال کښې حلال کړی دی.

قوله تعالی::يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ

دالله د نښو احترام کول:- نو تاسو د احرام حالت کښې د ښکار کولو نه منع شئ.اودا حرام اوګنړئی ځکه چه د الله تعالی هم دا حکم دې.او د هغه پاک ذات په هر حکم کښې حکمت وی.اودغه شان د هغه هر ممانعت کښې هم حکمت دې.الله ﷻ چه د څه اراده اوکړی نو د هغې حکم کوی انې ايمان والو ! د الله ﷻ د نښو توهين مه کوئی.يعنی د حج د مناسکو او عمرې وغيره صفا مروه،د قربانۍ د څناور او اوښ اود الله ﷻ حرام کړې شوی هر څيز. د حرمت والامياشتو توهين مه کوئی.ددې ادب کوئی،د دې لحاظ ساتئی،د دې تعظيم کوئی ،او دې کښې خصوصيت سره د الله ﷻ د نافرمانونه بچ اوسۍ،او دې مبارکو مياشتو کښې خپل دښمن سره پخپله جنګ مه کوئی.لکه ارشاد دې چه ﴿يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلشَّهْرِ ٱلْحَرَامِ﴾ الخ يعنی اې نبی ﷺ ستانه د حرمت والا مياشتو باره کښې تپوس کوی د جنګ په حقله نو ته ورته اووايه چه په دې کښې جنګ کول ګناه ده.او په يو بل آيت مبارک کښې دی چه د مياشتو شمير د الله ﷻ په نيز دولس دی.

څلورمياشتې معززې دی:- صحيح بخاری کښې دی د حضرت ابوبکر صديق ﷺ نه مروی دی چه نبی کريم ﷺ د حجة الوداع په موقع اوفرمائيل چه زمانه واپس داسې طرز ته راغله څنګه چې په اول کښې وه .چه کومه ورځ الله ﷻ آسمان او زمکه پيداکړی وو. کال د دولسو مياشتو دې.او دې کښې څلور مياشتې حرمت والا دی.دري خو پرله پسې دی يعنی ذی القعده،ذی الحجه،او محرم اوځلورمه رجب،اودې ته د قبيله مضر رجب وئيلې شی.اودا د جمادی الاخراو شعبان په مينځ کښې وی (١).

په معززو مياشتو کښې د جنګ حکم:- ددې نه دا هم معلومه شوه چه د دې مياشتو حرمت تر قيامته پورې دې.لکه څنګه چه سلفو د يو جماعت مذهب دې.د آيت مبارک تفسير کښې حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ وغيره نه منقول دی چه دې مياشتو کښې جنګ کول مه حلالوئی.خود جمهور دا مذهب دې چه دا حکم منسوخ شوې دې.او حرمت والا مياشتو کښې هم د اسلام دښمنانو سره جهاد کول هم جائزدی.د هغوئ دليل دالله ﷻ دا فرمان دې چه ﴿فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلْأَشْهُرُ ٱلْحُرُمُ فَٱقْتُلُواْ ٱلْمُشْرِكِينَ حَيْثُ وَجَدْتُمُوهُمْ﴾ يعنی هرکله چه حرمت والا مياشتې تيرې شی نو مشرکان قتل کړئی چه چرته نې هم تاسو مومئ.

---

(١) صحيح بخاری كتاب بدء الخلق باب ماجاء فی سبع ارضين:٣١٩٧، صحيح مسلم:١٦٧٩.

اودې نه مراد دلته د دې څلورو میاشتو تیریدل دی، کله چه دا تیرې شی چه کومې په هغه وخت کښې وې نو اوس دې نه پس برابر جهاد جاری دې. او قران پاك بیا کومه یو میاشت نه ده خاص کړې بلکه امام ابوجعفر رحمه الله خو په دې اجماع نقل کوی چه الله ﷻ مشرکانو سره جهاد کول هر وخت هره میاشت کښې جاری ساتلې دې. دوی فرمائی چه هم داشان په دې اجماع هم ده که یوکافر د حرم د تولو ونوپوستکی په خان واچوی نو مونږ به هغه دپاره امن نه کنړو. که مسلمانانو ورته پخپله ددې نه مخکښې امن نه وی ورکړې. ددې مسئلې پوره بحث دلته نشی کیدې،

په معززو میاشتو کښې هم کافرانو سره جنګ کول جائز دې

مسلك حنفی:- په اشهرالحرم کښې د کافرانو سره د جهاد نه کولو حکم اوس منسوخ شوې دې بلکه په تولو میاشتو کښې دوی سره جهاد کولی شی دا د جمهورو عالمانو مذهب دې باقی دا خبره چه په کوم آیت سره په دې میاشتو کښې د حرمت حکم منسوخ شوې دې نوددې د تفصیل دپاره اوګورئ (۱)

قوله تعالی:: وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ

بیا فرمائی چه د ﴿**هدی**﴾ او ﴿**قلائد**﴾ بې حرمتی هم مه کوئی، یعنی بیت الله شریف ته قربانئ لیږلونه مه مانع کیږئی. ځکه چه په دې کښې دالله تعالی نښې او تعظیم دې. او قربانئ دپاره چه کوم اوښ حرم ته لیږئی نو د دې په غاړه کښې د غارکئ اچولو نه هم مه منع کیږئی، چه د دې نښې نه ئې هرڅوك اوپیژنی چه دا فی سبیل الله لیږلې شوې ده. اوس به دې ته څوك په بدنیت لاس نه لګوی. بلکه د دې کتلو سره د نورو هم شوق پیدا کیږی چه مونږ د الله ﷻ د نوم څاروی دې ته اولیږو. او دې صورت کښې به تاسو ته هم ثواب ملاویږی. ځکه چه څوك هدایت طرفته بل څوك راوبلی نو هغه ته هم اجر ملاویږی کوم اجر چه د دې منلو والا ته ملاویږی. او الله ﷻ به د هغه اجر کښې هیڅ کمې نه راولی. بلکه هغه ته به د خپل طرفنه اجر ورکوی.

د نبی کریم ﷺ د قربانئ څاروی:- نبی کریم ﷺ چه کله حج دپاره تشریف یوړو نو نبی کریم ﷺ وادی عقیق یعنی ذوالحلیفه کښې شپه تیره کړه، سحر خپلو نهو بیبیانو ته ورغلو او بیا ئې غسل اوکړو، خوشبو ئې اولګوله او دوه رکعته مونځ ئې ادا کړو، او د خپل قربانئ څاروی په کوب باندې ئې نښه اولګوله. اود هغه په غاړه کښې ئې غارکئ واچوله، او د حج او عمرې دپاره ئې احرام اوترلو. قربانئ دپاره نبی کریم ﷺ خان سره ډیر خوش رنګ، څورب، او ځوانان اوښان اخستی وو. لکه څنګه چه قران پاك کښې دی چه کوم سړې د الله ﷻ د احکامو تعظیم اوکړی، د هغه زړه تقوی والا دې.

د تعظیم یو صورت:- د بعضو سلفو فرمان دې چه تعظیم دا هم دې چه د قربانئ ځناور په نښه شان سره اوساتلې شی. او دوی ته نښه خوراك ورکړې شی. اودوی نښه مضبوط او نښه څورب کړې شی. حضرت علی بن ابی طالب ﷺ فرمائی چه مونږ ته نبی کریم ﷺ حکم اوکړو چه کله مونږ د قربانئ څاروی اخلو نو د دوی سترګې او غوږونه نښه ګورو. (۲) (رواه اهل السنن).

دحرم د ونو کټ کولو ممانعت وجه:- مقاتل بن حیان فرمائی چه د جاهلیت په زمانه کښې چې کله خلق خپل وطن نه وتلی وو او د حرمت میاشتې به نه وې نو دوی به خپل خان په وینبتو او ورځی کښې انغښتی وو او حرم کښې چه کوم مشرکان اوسیدل هغوئ خپل خانونه د ونو پانړوکښې پټ کړی وو. دې سره به عامو خلقو دوی ته امن ورکولو او دوی به ئې نه وهل. نو الله ﷻ دوی د حرم د ونو کټ کولو نه منع کړل.

---

(۱) (معارف القران تفسیر مفتی محمد شفیع رحمه الله (۵۱۹۱۱)۔

(۲) ابوداود کتاب الضحایا باب یکره من الضحایا: ۲۸۰٤، ترمذی: ۱٤۹۸، نسائی: ٤۳۷۷، ابن ماجه: ۳۱٤۲.

Scanned with Ca

وَلَآ آٰمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّن رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا

بیا فرمائی چه کوم خلق د بیت الله شریف ارادې سره وتلی وی هغوئ سره جنګ مه کوئ، دلته چه څوک هم را غلل نو هغه امن کښې شو. نو څوک چه دې ارادې سره وتلی وی د هغوئ نیت د الله ﷻ د فضل تلاش کول او د رضامندئ تلاش کول وی. نو اوس دې مه ویروئ، دده عزت او ادب کوئ، اوهغه بیت الله شریف نه مه منع کوئ. د بعضو قول دې چه د الله ﷻ فضل تلاش کولو نه مراد اخستل اوخرڅول دئ، لکه یو آیت مبارک کښې دی چه ﴿لَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَن تَبْتَغُوا فَضْلًا مِّن رَّبِّكُمْ﴾ یعنی د حج په زمانه کښې تجارت کولو کښې هیڅ ګناه نشته دې. رضوان نه مراد حج کولو کښې د الله ﷻ مرضی تلاش کول دی، ابن جریر رحمه الله وغیره فرمائی چه دا آیت حطم بن هند بکری باره کښې نازل شوې دې. دې سړی د مدینې په صحراګانو باندې قبضه کړې وه. بیا راتلونکی کال دې د عمرې ارادې سره راتلو چه د بعضو صحابه کرامو ﷺ زړه کښې راغلل چه دې منع کړی، نو دې باندې دا آیت مبارک نازل شو.

امام ابن جریر رحمه الله په دې مسئله اجماع نقل کړې ده. که یو مشرک د مسلمانانو په امان کښې نه وی نواګر چه هغه د بیت الله شریف ارادې سره روان وی. یا بیت المقدس ته ئې د تلو اراده وی. د ده قتل کول جائز دی. دا حکم د دوی حق کښې منسوخ شوې دې، والله اعلم.

مشرکان به د حرم نه منع کولې شی:- خو چه کوم سړې الحاد خورولو دپاره روان وی د شرک اود کفر اراده ئې کړې وی نو هغه به منع کولې شی. حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ فرمائی چه مخکښې به مومنانو او مشرکانو ټولو حج کولو. او الله ﷻ منع فرمائیلې وه چه هیڅ مومن یا کافر به نشی منع کولې. خو دې آیت مبارک نه پس دا آیت مبارک نازل شو چه ﴿إِنَّمَا الْمُشْرِكُونَ نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ عَامِهِمْ﴾ یعنی مشرکان بالکل نجس دی، هغوئ دې د دې کال نه پس مسجد حرام ته نه راځی. بل ځائې کښې فرمان دې چه ﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَن يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ﴾ یعنی مشرکانو بالکل د الله ﷻ کورونو آبادونکی نه دی بل ځائې کښې فرمان دې چه ﴿إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ﴾ یعنی د الله تعالی کورونه خوهغه خلق آبادوی کوم چې په الله ﷻ او د قیامت په ورځ ایمان لری.

مشرکانو سره د جنګ کولو اجازت:- نو مشرکان د جماتونو نه منع کړې شو حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه ﴿وَلَا الْقَلَائِدَ وَلَآ آٰمِّينَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ﴾ منسوخ شوې دې. د جاهلیت په زمانه کښې چه به کله یوسړې د خپل کور نه د حج ارادې سره اووتلو نو هغه به ځان د ونو په پانړو پټ کړو نولاړ کښې به ده ته چا څه نه وئیل. بیاچه به کله واپس کیدو نو دوپینبتو هار به ئې اچولواو دې به محفوظ وو. په هغه وخت کښې مشرکان بیت الله شریف نه نه وو منع شوی. نو مسلمانانو ته حکم اوشو چه هغوئ دې د حرمت والا میاشتو کښې جنګ نه کوی. او نه دې بیت الله شریف (حرم) سره جنګ کوی، بیا دا حکم منسوخ شو چه مشرکانو سره جنګ کوئی چه چرته هم تاسو دوی مومئ. ابن جریر رحمه الله فرمائی چه د قلائد نه مراد هم دا دې چه کوم هار به ئې حرم شریف نه د راتلو په وخت کښې اچولو او د دې په وجه به دوی په امن کښې وو، عربو کښې ددې تعظیم کیدو، او چه چا به ددې خلاف اوکړل نو هغه ته به ډیر بددعا وئیلې کیدل. او شاعرانو به د هغه هجو کوله.

قوله تعالی:: وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا

بیا فرمائی چه کله تاسو احرام پرانیزئ نو بیا ښکار کولې شئ. احرام کښې د ښکار ممانعت وو. اوس احرام نه پس بیا ددې اجازت ملاؤ شو. کوم حکم چې د ممانعت نه پس اوشی نو هغه حکم نه ثابتیږی (یعنی هغه حکم د وجوب دپاره نه وی بلکه د اباحت دپاره وی) کوم چې د ممانعت نه مخکښې په اصل کښې وو یعنی که وجوب اصلی وو نو د ممانعت نه پس به امر هم د وجوب دپاره وی. اودغه شان مستحب اومباح لره، اګر چه بعضو وئیلی دی چه داسې امر د وجوب دپاره وی. خو د دواړو جماعتونو

خلاف د قران پاك ایتونه موجود دی.نو صحیح مذهب چه هغې سره ټول دلیلونو کښې موافقت راشی هغه دې کوم چې مونږ ذکر کړو علماء کرامو هم دا اختیار کړې دې.والله اعلم.

د محرم د حلالیدو نه پس ښکار کول مباح دې واجب نه دې

مسلک حنفی:-دلته د احرام نه پس د ښکار کولو حکم د اباحت دپاره دې د وجوب دپاره نه دې په دې باندې دامت اجماع ده (تفسیر مظهری ۴۷۱/۳).

قوله تعالی:: وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ تَعْتَدُوا

انصاف مه پریږدئ:- بیا فرمانی چه کوم قوم تاسو دحدیبیه په کال مسجد حرام نه منع کړې وې نوتاسو دوی سره د دښمنئ کولو په وجه او قصاص اخستلو ته د اماده کیدو په وجه د الله تعالی د حکم نه مه وړاندې کیږئ چه ظلم او زیاتې اوکړئ بلکه هیڅ یو وخت کښې هم انصاف د لاس نه مه غورزونی. دغه شان هغه آیت مبارك هم دې په کوم کښې چې فرمانیلې شوی دی چه تاسو دې د یو قوم دشمنی په انصاف نه کولو آماده نکړی.عدل کوئی،عدل تقوی ته نزدې دی.

د بعضو سلفو قول دې اګر چه څوک تاسو سره ستاسو په باره کښې د الله تعالی نافرمانی اوکړی خو تاسو ته پکار دی چه تاسو د هغه باره کښې د الله ﷻ نافرمانی اونکړئ.د عدل په وجه آسمان قائم دې.

د ایت شان نزول:- نبی کریم ﷺ او د نبی کریم ﷺ ملګری ﷺ چه کله مشرکانو د بیت الله شریف د زیارت کولو نه منع کړل او حدیبیه نه ئې مخکښې پرې نښودل نو هم دې غم کښې صحابه کرام ﷺ واپس راروان وو،او دائې وئیل چه کوم یو مشرقی مشرك دوی ته ملاؤ شی نو دوی به هم هغه د بیت الله شریف د زیارت کولو نه منع کوی لکه څنګه چه د هغوئ جماعت دوی منع کړل.نو دې باندې دا آیت مبارك نازل شو([1]).

د شنان وضاحت:- د ﴿شَنَآنُ﴾ معنی بغض دې.بعضې عربو دې ته شنان هم وئیلی دی.خو هیڅ یو قاری نه هم دا قرات ندې شوې.خو عربوشعرونو کښې شنان هم راغلې دې.بیا الله ﷻ ایمان والو ته د نیکئ په کارونو کښې یوبل سره د مدد کولو حکم فرمانی.،،بر،، وائی نیکئ کولو ته،اوتقوی وائی بدئ پریښودو ته اومسلمانان د ګناهونو کولو او د چا سره په حرامو کارونو کښې د مدد کولو نه منع کوی.

وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

د اثم او عدوان فرق:- ابن جریر رحمه الله فرمانی چه الله تعالی د کوم کار د کولو حکم کړې دې او انسان هغه نه کوی نو دا اثم دې،او دین کښې چه کوم حدونه الله تعالی مقرر کړی دی،او کوم فرائض الله ﷻ د خپل جان او مال باره کښې مقرر کړی دی د هغې نه مخکښې تلو ته عدوان وائی([2])

دظالم سره هم مدد کوه:-دمسند یو حدیث مبارك کښې دی چه دخپل رور سره مددکوه اګر چه هغه ظالم وی،نو نبی کریم ﷺ نه سوال اوشو چه یارسول الله ﷺ ! د مظلوم کیدو صورت کښې خو مدد کیږی دا خو صحیح دی خود ظالم کیدو صورت کښې به څنګه مدد کوؤ ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه هغه د ظلم کولو نه منع کړې چه ظلم اونکړی.هم دا د هغه سره مددکول دی([3]). دا حدیث مبارك صحیح بخاری او صحیح مسلم کښې دی([4]).

د خلوت نه جلوت افضل دې:- مسنداحمد کښې دی چه کوم مسلمان خلقو سره ګډون کوی او د هغوئ په

---

[1]) الطبری:۴۷۲/۹.

[2]) الطبری :۴۷۸/۹،

[3]) ایضا :۴۹۰/۹.

[4]) احمد:۹۹/۳ صحیح بخاری کتاب الاکراه باب یمین الرجل لصاحبه انه اخوه اذا خاف علیه القتل اونحوه:۶۹۵۲،

Scanned with Ca

تکلیفونو صبر کوی نو هغه مسلمان زیات اجر والا دي د هغه مسلمان نه چه کوم خلقو سره ګډون نه کوی اود هغوئ په تکلیفونو صبر نه کوی .([1])

د نیکئ دلالت کونکی اجر:- مسندبزار کښې دی چه ﴿الدال علی الخیرکفاعله﴾([2]) یعنی کوم سړي چه د نیکئ خبره کوی اونورو ته هدایت کوی هغه د نیکئ کونکی په شان دي،امام ابوبکر بزار دا بیان فرمائی چه دا حدیث مبارك صرف هم دي سند سره مروی دي.خو څه وایم چه د دي شاهد دا صحیح حدیث مبارك دي چه کوم سړي خلق هدایت طرفته رابلی نو هغه ته به د هغه ټولو خلقو د اجر برابر ثواب ملاویږی چه کوم قیامت پوري راځی،اود ده تابعداری کوی اود هغه خلقو ثواب کښې به هیڅ کمي نه راځی .او کوم سړي چې ګناه کوی او خلق ګناه طرفته رابلی نو تر قیامته پوري چه څومره خلق ګناهونه کوی نو د هغه ټولو ګناهګار به وی،د هغه ټولو چې څومره ګناهونه وی. هغه هومره به ددې وی .اود هغه خلقو ګناه کښې به څه کمي نه راځی ([3]).

ظالم سره د مدد قباحت:- طبرانی کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی کوم سړي چې یو ظالم سره لارشی چه هغه سره مدد اوکړی او هغه ته معلوم وی چه دي ظالم دي نو هغه په یقین سره د اسلام نه خارج دي ([4]).

حُرِّمَتْ	عَلَيْكُمُ	الْمَيْتَةُ	وَالدَّمُ	وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ		
احرام کړې شوا په تاسو باندې	مرداره	اووینه		اوغوښه دخنزیر		
په تاسو باندې حرام کړې شوې ده مرداره اووینه او دخنزیرغوښه						
وَمَآ	أُهِلَّ	لِغَيْرِ اللَّهِ	بِهِۦ	وَالْمُنْخَنِقَةُ	وَالْمَوْقُوذَةُ	
اوهغه څناور چې آواز شوې وی دغیر الله په هغې باندې اومرئ خفه مړ څناور اوهلې شوې مړ څناور						
اوهغه چې د الله ﷻ نه سوا دبل چا په نوم حلال شوې وی او چې مرئ ئې خفه شوې وی او چې دګزار نه مړ شی						
وَالْمُتَرَدِّيَةُ	وَالنَّطِيحَةُ	وَمَآ	أَكَلَ	السَّبُعُ	إِلَّا مَا	
او د غښتې مړ څناور اودبنکر په ډغره مړ څناور اوهغه څناور چې وې خوری درنده بغیر دهغې نه						
او چې راوغورزیږی او چې بل څناورئې په ښکر اووهی اومړشی او چې یودرنده تري نه خوراک کړې وی بغیر دهغې نه						
ذَكَّيْتُمْ	وَمَا	ذُبِحَ عَلَى	النُّصُبِ	وَأَنْ		
چې حلال ئې کړئ تاسو اوهغه څناور چې ذبحه کړې شوې وی په دربارباندې اوداهم ناجائز دی						
چې تاسوژوندې مونده وی اوحلال کړې مو وی اوهغه چې د بتانو په نوم ذبح شوې وی او دا چه						

---

[1]) احمد:٣٦٥/٥، ترمذی: کتاب صفة القیامة باب ف فضل المخالطة: مع الصبر علی اذی الناس:٢٥٠٧، وهو صحیح. ابن ماجه: ٤٠٣٢، الادب المفرد:٣٨٨ بیهقی:٨٩/١٠.

[2]) مسند البزار:١٥٤، ترمذی کتاب العلم باب ماجاء ان علی الخیر کفاعله: ٢٦٧٠، وهو صحیح ابوداود:٥١٢٩، بنصرف یسیر مشکل الآثار:٤٨٤/١.

[3]) صحیح مسلم کتاب العلم باب من سن سنة حسنة اوسنة ومن دعا الی هدی اوضلالة:٢٦٧٤، ابوداود:٤٦٠٩.

[4]) الطبری:٢٢٧٢/١.

تَسْتَقْسِمُوا	بِالْاَزْلَامِ ط	ذٰلِكُمْ	فِسْقٌ ط	اَلْيَوْمَ
چې تاسو قسمتونه معلوم کړئ/په غشو دفال سره/داټول کارونه ستاسو/ فسق دې / نن ورځ				
دجواريئ/په غشو تقسيم کوئ/ داټول دګناه کارونه دی/ نن ورځې کافران				
يَئِسَ	الَّذِيْنَ كَفَرُوْا	مِنْ دِيْنِكُمْ	فَلَا تَخْشَوْهُمْ	
ناامیده شو/اهغه کسان/چې کافران دی / د دین ستاسو نه / نو تاسو مهٔ ویریږئ دهغوئ نه				
ستاسو دین (تباه کولو)نه پوره پوره مایوس شوی دی/ نو دهغوئ نه مه ویریږئ				
وَاخْشَوْنِ ط	اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ	لَكُمْ دِيْنَكُمْ	وَاَتْمَمْتُ	عَلَيْكُمْ
او ویریږئ زما نه / نن ورځ / مکمل کړو ما / دپاره ستاسو / دین ستاسو / او تمام کړو ما / په تاسو باندې				
اوزما نه ویریږئ/ نن ما ستاسو دین کامل کړو/ اوخپل نعمتونه مې درباندې پوره کړل				
نِعْمَتِيْ	وَرَضِيْتُ لَكُمُ	الْاِسْلَامَ دِيْنًا ط	فَمَنِ	اضْطُرَّ
نعمت زما/اوراضی شوم زهٔ/دپاره ستاسو/ په اسلام / په حیثیت ددین سره/ اوڅوک چې / مجبور شی				
اواسلام مې ستاسو دپاره غوره دین منتخب کړو/ .....نوڅوک چې دلوږې نه مجبوره شی				
فِيْ مَخْمَصَةٍ	غَيْرَ مُتَجَانِفٍ	لِّاِثْمٍ لا	فَاِنَّ اللّٰهَ	غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝
په لوږه کښې. /حال دا چې نهٔ وی / مائل / ګناه ته /بیشکه الله /بښونکې/ مهربان دې				
.....چه ګناه ته ئې میلان نهٔ وی/اودغه غوښې اوخوری/نوالله بښونکې مهربان دې				

قوله تعالی:: حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ

دمرداري حرمت:- په دې آیتونو کښې الله ﷻ دهغه څه بیان فرمائی چه د کومو خوراك الله ﷻ حرام کړی دی.دا خبرد هغه څیزونو د نه خوړلو حکم کښې شامل دې.میت هغه دې چه پخپله مړشی .نه خو هغه ذبح شی او نه ښکار کړې شی .د هغې خوراك په دې وجه حرام کړې شوې دې چه د هغې وینه نقصانی ده. او هغه په دې کښې پاتې شی .اوکله چه دا ذبح کړې شی نو هغه د دې نه اوځی. او دا وینه د دین او بدن دپاره نقصانی ده. خو دا یاد ساتئ چې هر مردار حرام دې.

د کب حلت:- .خو مهې نه.ځکه چه موطا امام مالك رحمۃ اللہ علیہ ،مسند شافعی رحمۃ اللہ علیہ ،مسند احمد رحمۃ اللہ علیہ ، ابوداؤد ، ترمذی، نسائی،ابن ما جه،صحیح ابن خزیمه او صحیح ابن حبان کښې حضرت ابوهریره ﷺ نه مروی دی چه نبی کریم ﷺ نه د سمندری اوبو باره کښې د مسئلې تپوس اوشو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د هغې اوبه پاکې دی او د هغې مردار حلال دې (١).

دملخ حلت:- دغه شان که مولخ هم په خپله مړ شوې وی نو هغه هم حلال دې .د دې دلیل کښې حدیث مبارك راځی.د دم نه مراد دم مسفوح یعنی هغه وینه چه د ذبح کولو په وخت کښې اوبهیږی .

قوله تالی:: وَالدَّمَ

د ابن عباس ﷺ فتوی:- حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ نه سوال اوشو چه آیا توري مونږ خوړې شو؟ نو حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چه آو.خلقو اووئیل چه هغه خو وینه ده.نو حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چه صرف هغه وینه حرامه ده چه کومه د ذبح کولو په وخت کښې اوځی.

---

١) ابوداود کتاب الطهارة باب الوضوء بماء البحر:٨٣، وسنده صحیح.ترمذی: ٦٩، نسائی:٣٣٢، ابن حبان : ٣٨٦.

Scanned with Ca

حضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمائی چه صرف بهیدلې وینه حرامه ده.حضرت امام شافعی ﷺ حدیث مبارك راوړې دې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څمونږ دپاره دوه قسمه مرداري او دوه ویني حلالې کړې شوی دی.کب او مولخ،کلیجی او توري (١).

دا حدیث مبارك مسند احمد ،ابن ماجه،دار قطنی،اوبیهقی کښې عبدالرحمان بن زید بن اسلم نه مروی دې.اودې ضعیف دې.حافظ بیهقی فرمائی چه عبدالرحمان سره اسماعیل بن ادریس او عبدالله هم روایت کوی.څه وایم چه دا دواړه ضعیف دی.خودا ده چه د دوی په ضعف کښې کمې بیشې شته دې.سلیمان بن بلال ﷺ هم دا حدیث روایت کړې دې.اوهغه ثقه دې،لیکن دا روایت بعضو په ابن عمر ﷺ باندې موقوف کړې دې.

د وینې حرمت:- حافظ ابوزرعه رازی فرمائی چه زیات صحیح د هغه صحیح موقوف کیدل دی.ابن ابی حاتم کښې حضرت صدی بن عجلان نه مروی دی چه څه نبی کریم ﷺ خپل قوم طرفته اولیږلم چه هغوئ ته د اسلام احکام پیش کړم .څه چه هغه ځائې ته اورسیدم نو خپل کار کښې مشغول شوم،یو ورځ اتفاقی طور د وینې یو ډکه پیاله یو سړی راوړه او ماته مخامخ کیناستو،او ده اونورو حلقه جوړه کړه او دا وینه ئې څکله،او ماته ئې اووئیل چه رازه صدی ته هم اوڅکه.ما اووئیل چه تاسو څه غلط کارکوئی،څه خو دهغه خلقونه راغلې یم چه چاددې خوراك حرام کړې دی.نوهغه ټول ماته متوجه شو اووې وئیل چه پوره خبره اوکړه نوما ورته هم دا آیت مبارك ﴿إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ﴾ تلاوت کړو (٢)،

د صحابی ﷺ کرامت:- دا روایت ابن مردویه کښې هم دې،په هغې کښې دې نه پس دی چه څه هغه ځائې کښې تر ډیره پورې اوم،اوهغوئ ته مې د اسلام پیغام رسولو. خو هغوئ ایمان قبول نه کړو. یوه ورځ چه کله څه ډیر سخت تږې اوم ،اواوبه راته بالکل نه ملاویدې نو ما اوبه اوغوښتلې،اوما اووئیل چه د تندې د وجې ځما حال ډیر خراب دې.لږې اوبه راکړئی.خو هیڅوا ماته اوبه رانکړې ،او وې وئیل چه مونږ تا هم دا شان زوراوو تر دې چه ته مړ شې.څه ډیر غم کښې وم.او په سره ګرمئ کښې مې په کانړو خپله کمبل غوړولې وه.او په مخ مې اچولې وه اودې میدان کښې پروت وم. چه په دې کښې ځما سترګې ورغلې.خوب کښې ګورم چه یو سړی سره یو جام دې او په هغې کښې بهترینې او خوندناك او مزیدار د څکلو څیزدې،هغه سړې ماته راغلو او ماته ئې لاس کښې جام راکړو،ما ښه په په مړه خیټه اوڅکل،او دې کښې مې سترګې پرانیستئ شوی.نو په الله ﷻ قسم ماته تنده نه وه،بلکه د هغه نه تردې وخت پورې ماته د تندې تکلیف نه دې راغلې.بلکه داسې وئیل پکار دی چه څه نه یم تږئی شوی.کله چه څه بیدار شوم نو دې خلقو خپلو کښې اووئیل چه آخر دا ستاسو د قوم سردار دې،ستاسو میلمه دې،دغه شان بې رڅی هم صحیح نه ده. دا صحیح نه دی چه مونږ ده ته یو ګوټ اوبه هم نه ورکوؤ.نو دا خلق ما ته راغلل او څه ئې راوړل،ما اووئیل چه اوس ماته هیڅ حاجت نشته دې.ځما رب ما باندې اوڅکول .دا ئې اوئیل او هغوئ ته ئې خپله ډکه خیټه اوخودله.دده دې کرامت کتلو سره هغه ټول مسلمانان شول (٣).

د اعشی قصیده:اعشی خپله قصیده کښې څه ښه وئیلی دی چه مردار ته نزدې مه ورځئ.او د یو څناوورګ وهلو نه پس چه کومه وینه راوځی هغه مه څکئ،اوبت خانو باندې څه مه اچوئی،او د الله تعالی نه سوادبل چا عبادت مه کوئی صرف د الله ﷻ عبادت کوئی.

---

١) احمد: ٩٢/٢، ابن ماجه: کتاب الاطعمة باب الکبد والطحان:٣٣١٤،

٢) طبرانی ::٨٠٧٤، مجمع الزوائد:٣٨٩/٩،

٣) حاکم:٦٤١/٣، طبرانی :٨٠٩٩.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ

د خنزیر د غوښې حرمت:- د خنزیر غوښه حرامه ده که هغه ځنګلی وی او که ساتلې شوې.لفظ ﴿لحم﴾ کښې شامل دی. د دې ټول اجزاء چه په دې کښې وازګه هم داخل ده،نو د ظاهریه (یوه ډله ده) پشان داسې تکلفاتو کولو څه حاجت نشته دې اوپه بل آیت مبارك کښې ﴿فَإِنَّهُ رِجْسٌ﴾ دی. په کښې د ،،ه،، ضمیر خنزیر ته راجع دې.نو مطلب دا دې چه دده ټول اجزاء حرام دی. حقیقت کښې دا خبره د لغت نه بعیده ده،چې مضاف الیه طرفته داسې موقعو باندې ضمیر ګرځی ،بلکه صرف مضاف د ضمیر مرجع وی،نو ښکاره خبره هم دا ده چه لفظ لحم شامل دې ټولو اجزاء ته د عربو د لغت مفهوم او عام عرف هم دا دې.

د خنزید د ټولو اجزاؤ د حرمت دپاره استدلال:- د صحیح مسلم حدیث مبارك کښې دی چه شطرنج کولو والا خپل لاسونه د خنزیر په غوښه کښې وهی(١)خیال اوکړئ چه صرف ګوتې وراوړل شرعی لحاظ سره څومره قدري د نفرت قابل دی.نو بیا د دې د خوراك په حرمت کښې هیڅ شك پاتې نشو. او په دې کښې دلالت دې چه لفظ لحم شامل دې ټول اجزاؤ ته که هغه وازګه وی او که بل څه،

د مرادې وازګه هم حرامه ده:- او بخاری او مسلم شریف کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمانی چه الله ﷻ مرداره،خنزیر اود بتانو تجارت منع فرمائیلې دې.نو تپوس اوشو یارسول الله ﷺ ! د مرداري د چربئ باره کښې څه ارشاد دې ؟ هغه په کشتو باندې اچولې شی،په څرمنو لګولې شی،اود ډیوې بلولودپاره هم پکار راوستلې شی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه نه نه هغه حرام دی (٢).

قوله تعالی:: وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ

د مرداري، وینې او ما اهل لغیرالله حرمت:- صحیح بخاری کښې دی چه ابوسفیان هرقل ته اوونیل چه هغه نبی ﷺ مونږ د مرداري او وینې نه منع کوی (٣)، اوهغه ځناور هم حراموی په کوم چې د ذبح کولو په وخت کښې د الله ﷻ نوم و انخستې شی او دبل چا نوم پرې واخستې شی.الله ﷻ په خپل مخلوق دا فرض کړی دی چه هغوئ دې د الله تعالی په نوم ځناو رذبح کوی، نو که څوك د دې نه التپه کار کوی او د الله ﷻ د پاك نوم په ځائې د بل چا نوم واخلی یعنی د بت وغیره نوم واخلی اګر چه هغه په یو مخلوق کښې وی نو یقینا هغه ځناور بالاجماع حرام دی.

د متروک التسمیه ځناور حکم:- خو چه د کوم ځناور د ذبح کولو په وخت کښې بسم الله ونیل پاتې شی که د هغه په هیره وی او که په قصد سره وی نو هغه حرام دې که حلال ؟ په دې کښې د عالمانو اختلاف دې.اوددې بیان به انشاء الله په سورة انعام کښې راشی.

دځلورو څیزونو حرمت:- حضرت ابوالطفیل رضی الله عنه فرمائی چه د حضرت آدم علیه السلام د وخت نه واخله تر اوسه پورې دا څلور څیزونه نن پورې حرام دی،په هیڅ یو وخت کښې دا حلال شوی نه دی.① مرداره ② وینه ③ د خنزیر غوښه ④ دالله ﷻ نه سوا د بل د په نوم څیزذبح کول. البته د بنی اسرائیلو د ګناهونو په وجه بعضې غیر حرام څیزونه په هغوئ حرام شوی وو. بیا د حضرت عیسی علیه السلام په ذریعه هغه دوباره حلال کړې شو. خو بنی اسرائیلو دوی ربښتونی اونه ګنړل او د دوی علیه السلام مخالفت نې اوکړو. (ابن ابی حاتم) دا اثر غریب دې.

---

(١) صحیح مسلم کتاب الشعر باب تحریم اللعب بالنرد شیر:٢٢٦٠، الادب المفرد:١٢٧١، ابوداود:٤٩٣٩، ابن ماجه: ٣٧٦٣، ابن حبان:٥٨٧٣.

(٢) صحیح بخاری کتاب البیوع باب بیع المیتة والاصنام:٢٢٣٦، صحیح مسلم: ١٥٨١، ابوداود:٣٤٨٦، ترمذی:١٢٩٧، ابن ماجه:٢١٦٧، بیهقی:٦/١٢.

(٣) صحیح ابن عوانة:٤/١٩٢.

Scanned with Ca

د علی ﷺ د دور خلافت یوه واقعه:- حضرت علی چه کله د کوفې حاکم وو نو په هغه وخت کښې د قبیلې ابن نائل یو سړی چه شاعروو او نوم ئې بنو رباح وو،د فرزدق نیکه غالب سره ئې مقابله شوه،او دا مقرر شوه چه دواړه به مخامخ کیږی اود سلو سلواوښانو پرې به شلوی،نو د کوفې په شا د اوبو خائی ته راغلل،اوهرکله چه هلته اوښان راغلل نو دوی خپلې توري راوویستې.اود اوښانو پرې ئې پریکول شروع کړل.او خودئې ئې کولې ،او دواړه فخر او ریاکائی کښې مشغول شو. هرکله چه کوفیانو ته معلومه شوه نو په خپلو خچر او خرو سواره شو او د غوښې اخستلو دپاره راغلل،په دې کښې حضرت علی ﷺ په سپینه خچر سور راغلو او دا آواز ئې اوکړو چه دا غوښه مه خورئی دا ځناور ﴿وَمَآأُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِۦ﴾ کښې داخل دی.(ابن ابی حاتم)،دا اثر هم غریب دې.خو ددې د صحت شاهد هغه حدیث مبارک دې چه نبی کریم ﷺ د اعرابو پشان مقابله کولو کښې پرې شلولو نه منع فرمائیلې ده.(١) بیا ابوداود فرمائی چه محمد بن جعفر رحمه الله دا حدیث په حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ باندې موقوف کړې دې.

📖 دابوداود یو بل حدیث مبارک کښې دی چه حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ هغه دواړه سړی د خوراک کولو نه منع کړی وو چه کومو خپلو کښې یو بل باندې سبقت اخستل او مقابله کول او ریاکاری کول غوښتل (٢)

قوله تعالی:: وَالْمُنْخَنِقَةُ

①﴿منخنقة﴾ چه د کومو ځناورو مرئی خپه کړې شی که دا په قصدوی او که نه،یا دده مرئی ماته کړې شی.لکه ترې ئې وې او دا اوتښتی او د ده مرئی په پرې تیزندی شی او دې ئې راکاږی او هغه مړ شی دا حرام دی.

قوله تعالی:: وَالْمَوْقُوذَةُ

②﴿موقوذة﴾. چه چا یو ځناور په لرګی وغیره داسې څیز سره اووهلو چه هغه تیره نه وو او هغه مړشو نو دا حرام دې.جاهلیت کښې داهم دستور وو چه ځناور په تیزندئی وژلې شو اودا به خوړلې شو. نو قران پاك دا سې ځناور حرام اوګرځول.

په پس طرف د ښکار لګیدلو حکم:- صحیح سند سره مروی دی چه حضرت عدی بن حاتم ﷺ د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو چه یارسول الله ﷺ ! څه معراض سره ښکار کوم نو د دې څه حکم دې ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله ته دا اوولې او هغه ځناور زخمی شی نودا خوړلې شې.اوکه دا په لنډوالی اولګی نو هغه ځناور د مرئی خپه کیدو حکم کښې دې.د امه خوره.(٣) نبی کریم ﷺ داسې ځناور کښې فرق کړې دې چه کوم په لنډوالی اولګی په تیز او نوکدار څیز سره. اول ئې حرام او دونم ئې حلال کړې دې.د فقهاء کرامو په هم نیز دا مسئله اتفاقی ده،

په تیره څیز د ځناور لګیدلو حکم:- خو په دې کښې اختلاف شته دې چه کله یو داسې څیز سره ا ولګی چه هغه زخمی کونکې وی او دې سره ورته تکلیف اورسی،او هغه د هغې د بوج او پلنوالی سره مړ شی نو آیا دا ځنارو حلال دې حرام؟ امام شافعی رحمه الله نه دې کښې دوه قولونه دی.یو خو د حرمت دې ددې پورتنی حدیث په وجه.او دویم حلالوالی د سپی د ښکار د حلت په وجه،ددې مسئلې پوره تفصیل اوګورئی :

---

١) ابوداود کتاب الضحایا باب ماجاء فی الاکل معاقرة الاعراب: ٢٨٢٠، بیهقی:٣١٣/٩.

٢) ابودادو کتاب الاطعمة باب فی طعام المتبارین: ٣٧٥٤، وهو صحیح

٣) صحیح بخاری کتاب الذبائح باب صید المعراض :٥٤٧٦، صحیح مسلم: ١٩٢٩، ابوداود:٢٨٥٤، ترمذی:١٤٦٧، نسائی: ٤١٩١، ابن ماجه:٣٢٠٨.

Scanned with Ca

فصل

د سپی د ښکار حکم:- دعالمانو په دې کښې اختلاف دې چه کله یو سړی خپل سپې ښکار دپاره پریښود او سپې دا ښکار په خپلو وهلو او خپل بوج سره اووهلو اوزخمی ئې نه کړو یا ده ته نې دومره تکلیف ورکړو چه هغه مړشو او زخمی نه شو نو آیا هغه حلال دې که نه ؟ په دې کښې دوه قولونه دی،یو دا چه دا حلال دې ځکه چه د قران پاك الفاظ عام دی،﴿فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ﴾.یعنی هغه چه کوم ځناور راونیسی تاسو هغه خورئی شئ.دغه شان حضرت عدی رضی الله عنه وغیره صحیح حدیث هم عام دی،د امام شافعی رحمه الله ملګرو د امام صاحب رحمه الله دا قول نقل کړې دې او متاخرینو ددې صحت کړې دې ،لکه امام نووی رحمه الله او رافعی رحمه الله شو،

د حافظ ابن کثیر رحمه الله رائې:- خه وایم چه اګرچه دا وئیلې شی خو د امام صاحب رحمه الله د کلام نه دا ښکاره نه معلومیږی،اوګورئی ،،کتاب الام او مختصر،، دې دواړو کتابونو کښې هغوی فرمائیلی دی چه دواړه معانی د دې احتمال لری (یعنی حلت او حرمت) او بیا نې د هرې یوې معنی وجه بیان کړې ده نو دهغه ملګری شافعیانو د هغوی نه دا په دې مسئله کښې مطلقا دواړه قولونه نقل کړی دی

خو مونږ په ډیره مشکله صرف دا وئیلې شو چه په دې بحث کښې امام شافعی رحمه الله د حلت کوم قول نقل کړې دې د هغې ئې لږ وضاحت کړې دې خوپه دواړو قولونو د حلت او حرمت کښې ئې دیو قول هم تصریح نه ده کړې او نه ئې په یقین سره یو قول کړې دې

دامام ابوحنیفه رحمه الله نه یو روایت:- اوابن الصباغ د امام ابوحنیفه رحمه الله نه په روایت د حسن بن زیاد سره د حلالیدو قول نقل کړې دې،او نورځه ئې نه دی نقل کړې.او امام ابن جریر رحمه الله خپل تفسیر کښې دا قول حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه،حضرت ابوهریره رضی الله عنه،حضرت سعد بن وقاص رضی الله عنه او حضرت ابن عمر فاروق رضی الله عنه نه نقل کړې دې خودا ډیر زیات غریب دې.او اصل کښې د دې بزرګانو نه صراحت سره دا اقوال نه دی نقل شوی دا صرف خپل تصرف دې،والله اعلم.

د حرمت قول:- دویم قول دادې چه هغه حلال نه دې،د حضرت امام شافعی رحمه الله د دوؤ اقوالو نه یو قول دا دې او مزنی رحمه الله دا خوښ کړې دې،او د ابن الصباغ د قول نه هم د دې ترجیح ښکاری.والله اعلم.او ابویوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله هم دا د ابوحنیفه رحمه الله نه روایت کړې دې او د امام احمدبن حنبل رحمه الله نه هم دا قول مشهور دې اودا د صحیح کیدو سره زیات مشابه دې،والله اعلم .،ځکه چه دا د اصولی قاعدو مطابق دې.او د شریعت د اصولو سره زیات مناسب دې

د ښکاری سپی ښکار زخمی کیدل د حلت دپاره ضروری دی

مسلک حنفی:- دا خبره ضروری ده.چه ښکاری ځناور ښکار زخمی هم کړی.ګنی که زخم نه وی.او ځاروې مړ شوې وی.نو دا به حلال نه وی.او که زخمی کړې ئې وی.او ښکار مړشی.نو حلال دې.او دې زخم ته به د ذکاة اضطراری مرتبه ورکولې شی.او په ذکاة اضطراری چه د بدن په کومه حصه کښې هم زخم اولګی.دا کافی دې.خو دا خبره ضروری ده.چه کومه آله استعمال کښې راشی.هغه ښکار طرف ته منسوب وی.او نسبت کول د استعمال په اعتبار سره وی.نو سپی او باز هم د ښکار دپاره آلې دی.دده د طرفه استعمال یعنی لګیدل ضرور پکار دی.دا د تسهیل الهدایه شرح هدایه عبارت دی د دې عبارت نه دا معلومه شوه چه د احنافو په نیز په ذکرشوې صورت کښې کوم چې حافظ ابن کثیر رحمه الله ذکر کړې دې ښکار حرام دی (تسهل الهدایه ۴۴۰/۷).

د حرمت دلیل: ابن الصباغ د حرمت دپاره د حضرت رافع بن خدیج رضی الله عنه د حدیث نه دلیل نیولې دې هغوئ اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! مونږ صبا دښمنانو سره مقابله کوونکی یو،او مونږ سره چرې نشته دې،نو

Scanned with Ca

ایامونږ تیز بانږس سره ذبح کولې شو ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم څیز نه وینه اوبهیږی او دې باندې د الله ذکر اوشی نو دا خورئی (۱).الخ (بخاری ومسلم).

اعتبار عموم د الفاظو لره وی:- دا حدیث مبارك اگر چه د یو خاص واقعه په موقع راغلې دې،خو حکم کښې د عامو الفاظو پشان دې،لکه څنگه چه د علماء اصول او فروع وینا ده،د دې دلیل هغه حدیث مبارك دې کوم کښې چې کله نبی کریم ﷺ نه تپوس اوشو چه د شهدو د ګبین څه حکم دې ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هرهغه د څکاك څیز چه نشه راولی نو هغه حرام دې.(۲)

استدلال:- نو دلته سوال دې د شهدو دګبین باره کښې،خو د جواب الفاظ عام دی.او مسئله هم ددې نه عامه اوګنړلې شوه.دغه شان دا پورتنې حدیث مبارك دې اگر چه سوال د یوې خاص طریقې سره د ذبح کول تعین دې خو د جواب الفاظ دې طریقې ته اود دې نه سوا عامو صورتونو ته هم شامل دې.د الله د رسول ﷺ دا هم یوه خاص معجزه ده چه الفاظ لږ او معنی ئې زیاتې دی.

ددې په ذهن کښې د اچولو نه پس،اوس غوراوکړئی چه د سپې د تکلیف نه چه کوم ښکار مړشی یا دده د بوج په وجه د کوم ښکار ساه اوځی،نودده وینه په څه څیز سره نه ده وتلې،نو د دې حدیث مبارك د مفهوم به بناء هغه نشی حلالیدې،

اعتراض:- نو دې باندې دا اعتراض کیدیشی چه د دې حدیث د سپې د ښکار د مسئلې سره هیڅ تعلق نشته دې،ځکه چه سائل د ذبح کولو د یو خاص آلې طرفته اشاره کړې وه،د هغه سوال د دې څیز باره کښې نه وو چه کوم سره ذبح کړې شی،په دې وجه نبی کریم ﷺ د دې نه غاښونه او نوکونه مستثنی کړل (۳) او وې فرمائیل چه سوا د نوکونو او غاښونو .اود دې استثناء وجه درته وایم هغه دا غاښونه خوهډوکې دې،او نوکونه د حبشیانو چرې دی،او دا قاعده ده چه مستثنی د مستثنی منه د جنس نه وی .ګنی متصل به نه وی نو ثابته شوه چه سوال د ذبحې د اله په باره شوې وو.نواوس څه دلالت ستاسو په قول باقی پاتې نشو،

جواب:- نو د دې جواب دا دې چه د نبی کریم ﷺ جوابی جملې ته اوګورئی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم څیز نه وینه اوبهیږی او دې باندې د الله ﷻ نوم هم واخستې شو نو هغه خورئی،دا ئې اونه فرمائیل چه دې سره ئې ذبح کوئی،نو د دې جملې نه دوه حکمونه یو ځائی معلومیږی،د ذبح کولو د آله حکم هم او پخپله د ذبح کولو حکم هم.اودا چه د دې څناور وینه په یو داسې آله سره بهیدل ضروری دی چه د نوکونو او غاښونونه سوا وی.

دویم مسلک:- ، دویم مسلك د مزنی رحمه الله دې،هغه دا د تیر په باره کښې ښکاره تصریح راغلې ده که په لنډالی لګیدلې وی اومړ شوې وی نو هغه مه خوره او که په تیرۀ لګیدلې وی مړ شوې وی نو دا خوره،اود سپې باره کښې اطلاق احکام دی نوچوکه موجب یعنی ښکار په دواړو ځایونو کښې یو دې نو د مطلق حکم به هم په مقید باندې حمل کولې شی اگر چه سبب جدا جدا وی لکه څنگه چه د ظهار په وخت د غلام آزادول مطلق دی .هغه به محمول کولې شی،د قتل په کفاره کښې دغلام په آزادولو کوم چې د ایمان په قید سره مقید دې (یعنی د کفاره د قتل خطاء کښې د مومن غلام آزادول دی او د ظهار په کفاره کښې د مطلق غلام آزادولو ذکر دې نو د ظهار د کفارې مطلق غلام به د قتل د کفارې په مقید

---

[۱]) صحیح بخاری کتاب الشرکة باب من عدل عشرة من الغنم بجزور فی القسم: ۲۵۰۷، صحیح مسلم: ۱۹۶۸، ترمذی: ۱٤۹۱.

[۲]) صحیح بخاری کتاب الاشربة باب الخمرمن العسل وهو البتع:۵۵۸۵، صحیح مسلم:۲۰۰۱، ابوداود: ۳۶۸۲.

[۳]) صحیح بخاری کتاب الذبائح والصید باب التسمیة علی الذبیحة ومن ترک متعمدا:۵٤۹۸، صحیح مسلم:۱۹۶۸.

Scanned with Ca

غلام باندې حمل کولې شی چه غلام مومن دې ازشاه فیصل، بلکه ددې نه زیات ضرورت د ښکار په مسئله کښې دې.

دادلیل په هغه خلقو ډیر لوئې حجت دې چه د دې قاعدې اصل منی او چونکه د دې قاعدې مسلم کیدو کښې څه اختلاف نشته دې،نو ضروری ده چه یا خودې هغوئ دا اومنی ګنی یو مضبوط جواب دې ورکړی،

ددې نه علاوه دا ډله دا هم وئیلې شی چه چونکه دا ښکار سپی دخپل ثقل په وجه وژلې دې او دا ثابته ده چه کله غشئ په خپل پلنو باندې ښکار اوژنی نو دا حرامیږی.نو دې باندې قیاس کولو سره د سپی دا ښکار هم حرام شو.دواړو کښې دا خبره مشترکه ده چه دواړه د ښکار آلات دی او دواړو په خپل بوج او زور سره ښکار وژلې دې.اوآیت مبارک عموم د دې معارض نشی کیدې.ځکه چه عموم باندې قیاس مقدم دې لکه څنګه چه د ځلورو واړو امامانو اوجمهورو مسلك دې اودا مسلك ډیر ښه دې.

دویمه خبره داده چه د الله ﷻ فرمان دې چه ﴿فَكُلُوا مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ﴾ یعنی ښکاری سپی چه کوم څناور راونیسی نو د هغې خوراك ستاسو دپاره حلال دې.دا عام دې دې ته هم شامل دې.چه کوم ئې زخمی کړې وی او د دې نه سوا ته هم، خو اوس چې په کوم صورت کښې بحث دې هغه خو یا هغه دې چې وهلې شوی وی یا د دې حکم کښې وی یا ئې مرئ خپه شوې وی یا ددې حکم کښې،

وجوه ترجیح:- بهرصورت ددې آیت مبارك تقدیم به په دې وجوه سره به ضرور وی،①اول دا چه شارع ﷺ د دې آیت مبارك حکم د ښکار حالت کښې معتبر ګنړلی دی ځکه چه عدی بن حاتم ﷺ ته د الله ﷻ رسول ﷺ هم دا اوفرمائیل که هغه په پلنوالی لګیدلې وی نو د هغه مرئی خپه شوې ده هغه مه خورئی.ترکومې چه ځمونږ علم دې مونږته معلومه ده چه یو عالم دا نه دی وئیلی چه مرئی خپه کولو سره وژلې شوی وی نو د ښکار حالت کښې معتبر وی اوکه ښکر یا وهلو سره وژلې شوې وی نو دا به معتبر نه وی،نو د کوم صورت چه دې دلته بحث کیږی دې څناور ته حلال وئیل اجماع ماتول دی .اودې ته هیڅوك جائز نه شی وئیلې.بلکه اکثر عالمان دې ته ممنوع وائی.

② دویم دا چه آیت ﴿فَكُلُوا مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ﴾ خپل عموم باندې باقی نه دې او په دې باندې اجماع ده،بلکه د آیت نه مراد صرف حلال حیوان دې،نو د دې عامو الفاظو نه هغه حیوان چه د هغې خوراك حرام دې بالاتفاق اووتل،اودا قاعده ده چه عموم محفوظ مقدم وی،په عموم غیر محفوظ باندې ،

③ یوتقریرپه مسئله کښې بل واورئی چه داشان ښکار د مرداري په حکم کښې دې،ځکه چه د دې وینه او د دې رطوبات په دې کښې پاتې شو،نو چه په کومه وجه مردار حرام دې هم هغه وجه دلته هم موجوده ده،نوپه دې قیاس سره هم دا حلال نه دې.

④ یو بله وجه هم واورئی چه د حرمت ایت بالکل محکم دی،په دې کښې په هیڅ شان هم د نسخ دخل نشته ،اونه په کښې څه تخصیص شته.هم دغه شان ایت تحلیل هم محکم کیدل پکار دی ،یعنی د الله ﷻ فرمان چه ﴿يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۙ﴾ خلق تاسو نه تپوس کوی چه دوی دپاره څه حلال شوی دی نو ته ورته اوایه چه ټول پاك څیزونه ستاسو دپاره حلال دی.هرکله چه دواړه آیتونه محکم اوغیر منسوخ دی نو یقیناً دې کښې تعارض نه دی کیدل پکار.

نوحدیث د دې د بیان دپاره ازده کول پکار دی اوددې شهادت د غشی واقعه ده چه په هغې کښې دا بیان دې چه په دې کښې دا صورت داخل دې.یعنی چه هغه په خپل تیزئی طرفنه زخمی کړی نو څناور به حلال وی ځکه چه هغه طیبات کښې راغلو.دې سره حدیث مبارك کښې د اهم بیان شویدې چه آیت تحریم کښې کوم یو صورت داخل دې ؟یعنی هغه صورت چه په هغې کښې دځناور مرګ د غشی

Scanned with Ca

لنډوالی سره شوې وی هغه حرام شوې دې،او هغه به نه شی خوړلې.په دې وجه چه هغه وقیذ دې او وقیذ د تحریم یو حصه ده .

هم دغه شان که ښکاری سپی ځناور په خپل بوج ،زور او نیولو سره وژلې وی نو هغه به ﴿نطیحة﴾ یعنی د وهلو او ښکرسره د وهلو په حکم کښې وی،او حلال به نه وی .خو که دانې زخمی کړې وی نو هغه د آیت تحلیل حکم کښې دې،اویقیناً حلال دې.

اعتراض:- په دې که دا اعتراض اوکړې شی که دا مقصود وې نو د سپې ښکار کښې هم تفصیل کولې شو.او فرمائیلې به شو که هغه ځنار اوشلوی یا زخمی کړی نو حلال به وی اوکه زخمی ئې نه کړی نو حرام،به وی

جوابوانه:- ① نو ددې جواب دا دې چه چونکه د سپی بغیر د زخمی کیدو نه قتل کول ډیر کم وی ،د ده عادت دانه وی ،بلکه دا وی چه په خپلو پنجو او نوکارو سره ئې اوژنی یا دواړو سره ډیرکم،کله کله داسې کیږی چه هغه په خپل زور او بوج سره ځناور اوژنی،په دې وجه د دې ضرورت نه وو چه د دې حکم بیان کړې شی ،②او دویمه وجه دا هم ده چه کله چه آیت تحریم کښې دمیتة،منخنقة،موقوذة،متردیة،او نطیحة حرمت موجود دې نو د دې پیژندونکو ته د مخکښې نه د داسې قسم ښکار حکم بالکل ظاهر وو،په غشئ او معراض کښې ئې دا حکم په دې وجه بیان کړو چه هغه عام طور خطا کوی،د هغه سړی د لاس نه چه قادرنه وی یعنی نښه خطا کوی نو په دې وجه د دې دواړو احکام تفصیل سره بیان شو،والله اعلم.

ګورئی چه چونکه د سپی ښکار کښې دا احتمال وو او ممکن دی چه هغه سپې د ښکار کولو نه پس د دې ښکار نه څه خوړلی وی،څکه دا حکم ئې صراحت سره بیان اوفرمائیلو او ارشاد اوشو که هغه ئې پخپله اوخوری نو تاسو دا مه خورئی ممکن ده چه ده دا خپل ځان دپاره رانیولې وی (۱)دا حدیث مبارك صحیح بخاری او مسلم کښې موجود دې.او داصورت داکثرو حضراتوپه نیز د آیت تحلیل د عموم نه مخصوص دې،او د دوی قول دې چه کوم یوښکار سپې اوخوری نودهغې خوراك حلال نه دې.

حضرت ابو هریره ﷺ او حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ نه هم دا حکایت شوې دې .د حضرت حسن او د حضرت شعبی رحمه الله او نخعی رحمه الله هم دا قول دې،او هم دغه شان د حضرت ابوحنیفه رحمه الله او ددوی دواړه صاحبان (امام ابویوسف او امام محمد) او احمدبن حنبل رحمه الله او مشهور روایت کښې امام شافعی رحمه الله هم په دې تلې دی.

ابن جریر رحمه الله په خپل تفسیر کښې د علی ،سعید ،سلمان رحمه الله ،ابوهریره ﷺ ، ابن عمر او عبدالله ابن عباس ﷺ نه دا نقل کړی دی اګر چه سپی د دې ښکار نه څه خوړلی وی نو د دې خوراك جائز ګنړی.بلکه حضرت سعید ﷺ،حضرت سلمان ﷺ ،حضرت ابوهریره ﷺ وغیره خو فرمائی اګر چه سپې نیم خوړلې وی نو بیا هم د دې ښکار خوړل جائز دی،امام مالك رحمة الله هم خپل قدیم قول کښې دې طرفته تلی دې،او قول جدید کښې ئې دواړو اقوالو طرفته اشاره کړې ده.لکه څنګه چه ابونصر ابن الصباغ وغیره ونیلی.

سنن ابی داود کښې په قوی سند سره مروی دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله ته خپل سپې پریږدې او د الله تعالی نوم دې اخستې وی نو هغه خورئی اګر چه هغه سپې د دې نه خوراك کړې وی اوخورئی هغه څیز کوم چې ستا لاس ستاطرفته واپس کړی (۲). نسائی کښې دا روایت دې.

---

۱) صحیح بخاری کتاب الذبائح والصید باب اذا اکل الکلب:۵٤۸۳، صحیح مسلم:۱۹۲۹.

۲) ابوداود: کتاب الضحایا باب فی الصید:۲۸۵۲، وهو حسن

تفسیر ابن جریر کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه کله چه یو سړی خپل سپي ښکار دپاره پریخود او هغه ښکار اونیولو او د هغې نه ئې څه غوښه اوخوړه نو تاته اختیار دې چه باقی ځناورخپل خوراک کښې راولی .(١)

په دې کښې دومره علت دې چه موقوفًا د حضرت سلمان ﷺ د قول نه مروی دې چه جمهورو هغه حدیث په دې باندې مقدم کړې دې په کوم کښې چې دی که نیم نې خوړلې وی نو هم نې ته خوره او د ابوثعلبه ﷺ وغیره حدیث ته نې ضعیف ونیلی دی.

بعضې عالمانو دا حدیث په دې خبره محمول کړې دې چه دا حکم په هغه وخت کښې دی چه کله سپي ښکار اونیولو او تر ډیره نې د خپل مالك انتظار اوکړو اوهرکله چه هغه رانغلو نو د اولړې په وجه هغه ښکار نه سپي څه اوخوړل.دې صورت کښې دا حکم دې چه باقی غوښه دې مالك اوخوری ځکه چه دې حالت کښې دا ویره نه وی چه شاید ښکاری سپي ته نې لا تربیت نه وی ورکړې.ممکن دی چه ده خپل ځان دپاره ښکارکړې وی.په خلاف د دې چه دې سپی دا ښکار اونیولو نو ده هغه خوړل شروع کړو، نو ده ته معلومه شوه .چه ده خپل ځان دپاره ښکار کړې دې.والله اعلم .

که سپی د ښکار نه خوراک کړې وی هغه حرام دې

مسلک حنفی:- د نورو امامانو پشان د احنافو هم دا مذهب دې کله چه سپي د ښکار نه خوراک اوکړی نو هغه ښکار سپی د ځان دپاره کړې دې د هغې خوراک جائز نه دې اوکه سپي د ښکار کولو نه پس د هغې نه خوراک اونکړی نو په دې صورت کښې د هغې خوراک جائز دې لکه څنګه چه په قرآن پاک کښې دی (تفسیرمظهری (٥٨١٣)۔

د ښکاری مارغه خوړلې شوی ښکار حکم:- اوس پاتې شو ښکاری مرغان نو امام شافعی رحمه الله صفا وائی چه دا د سپی په حکم کښې دی،نو که دې ښکار کښې اوخوری نوښکار خوړل د جمهورو په نیز خو حرام دې او د بعضو په نیز حلال دې. خو د مزنی رحمه الله مختار قول دا دې اګر چه ښکا ری مارغه دښکار غوښې خوړلې وی،بیاهم هغه حرام نه دی.هم دا مذهب د ابوحنیفه رحمه الله او احمد بن حنبل رحمه الله دې.په دې وجه چه مارغان په وهلو ټکولو سره د سپو په شان سمولې شی .اوهغوئ تعلیم نشی حاصلولې ، هر کله چه هغه اونه خوړلې شی.نو دلته د ا خبره معاف ده. اوځکه چه دا نص هم د سپو باره کښې وارد شوې دې د مارغانو باره کښې نه دې.

که ښکاری مارغه د ښکار نه خوراک کړې وی هغه حلال دې

مسلک حنفی:- اوکه ښکاری مارغه د خپل ښکار نه څه اوخوری نو هغه به حلال وی لکه څنګه چه حافظ ابن کثیر رحمه الله ابوحنیفه رحمه الله ته نسبت کړې دې (تفسیرمظهری (٥٨١٣)-

📖 شیخ ابوعلی په ،،افصاح ،، کښې فرمائی چه هرکله مونږ دا فیصله اوکړه چې د هغه ښکار خوړل حرام دی د کوم نه چې ښکاری سپی خوړل کړې وی نود کوم ښکار نه چه ښکاری مرغئ خوراک اوکړی په هغې کښې دوه وجې دی.خو قاضی ابوالطیب ددې فرع او ددې ترتیب نه انکارې کړې دې.ځکه چه امام شافعی دا دواړه برابر لفظونو کښې ساتلی دی ﴿**والله سبحانه وتعالی اعلم**﴾.

قوله تعالی:: وَالْمُتَرَدِّيَةُ

③ **د متردیة حرمت**:﴿مُتَرَدِّيَةُ﴾ هغه ده چه دغر یا یو اوچت ځائې نه راوغورزیږی او مړشی،هغه ځناور هم حرام دې.حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ هم دا فرمائی(١)حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه دا هغه دی چه کوهی کښې پریوزی (٢).

---

١) الطبری:

Scanned with Ca

قوله تعالی::وَالنَّطِيحَةُ

④ **د نطیحة حرمت**:- ﴿نطیحة﴾ هغه ده چه هغه بل ځناور ښکر سره اووهی او د دې تکلیف نه مړه شی .اګر چه زخمی شوې هم وی،او اګر چه ددې نه وینه هم وتلې وی بلکه صحیح د ذبح په ځائې لګیدلې وی.او دې نه وینه وتلې وی .

د نطیحة اعرابی تشریح:- دا لفظ معنی کښې مفعول یعنی منطوحه دې،دا وزن په کلام د عربو کښې عام طور د ،،ة،، نه،بغیر راغلې دې لکه ﴿عین،کحیل،اوکف،اوخضیب﴾،په دې مواقع کښې ﴿کحیلة﴾ او ﴿حضیبة﴾ نه شی وئیلې.په دې ځائې کښې ،،ة،، په دې و جه راوړلې شوې ده چه دلته د دې لفظ استعمال قائمقام د اسم دې.لکه د عربوکلام کښې چې دی چه ﴿طریقة طویلة﴾،بعضې نحوی وانی چه تا، تانیث دلته راوړې شویده چه په رومبی ځل په تانیث دلالت کوی په خلاف د ﴿کحیل﴾ او ﴿حضیب﴾ ځکه چه هلته تانیث د کلام په ابتدائی لفظ سره معلومیږی.

قوله تعالی::وَمَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ

د درنده خوړلی ځناور حرمت:⑤﴿مَآ أَكَلَ ٱلسَّبُعُ﴾ نه مراد هغه ځناور دې چه په هغې باندې زمرې یا لیوه یا سپې وغیره حمله اوکړی اوددې څه حصه اوخوری او په دې وجه هغه مړ شی نو د دې ځنارو خوراك هم حرام دې.اګرچه ددې نه وینه وتلی وی بلکه د ذبح کولو په ځائې ترینه وینه وتلې وی.خو ددې باوجود په اجماع سره داحرام دې.اهل جاهلیت به دداسې ځناور باقی حصه خوړله.الله ﷻ مومنانو ددې نه منع کړل

قوله تعالی::إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ

د حلت صورت:- اوبیا فرمائی مګر هغه چه تاسو ئې ذبح کړئی،یعنی چې مرئ خپه شوې وی یا څټ نې مات شوې وی یا د پورته نه راپرې وتې وی یا په ښکر سره لګیدلې وی یا ئې څه سره ډغره وهلې وی یا د څیرونکو ځناورو خوړلې شوې وی، که په دې حالت کښې تاسو ته ملاو شی چه په هغې کښې ساه وی او تاسو په هغې د الله ﷻ نوم واخلئ او په چاړۀ ئی ذبح کړئی،نو بیا دا ځناورستاسو دپاره حلالیږی.

د علی﵁ قول:- حضرت عبدالله ابن عباس ﵁ ،سعید بن جبیر ﵁،حسن رحمه الله او سدی رحمه الله فرمانی (٣)حضرت علی ﵁ نه مروی دی که تاسو دا په دې حالت کښې اومومئی چه د چاړې رابنکلو په وخت کښې هغې نه ساه اوخی یا پښې اوخوزوی،یا سترګې اورپوی،نو بیشکه دا ذبح کوئی او خورئی یئ.

ابن جریر کښې د دوی نه مروی دی چه کوم ځناور وهلې شوې وی یا پورته نه راپریوتې وی،یا وهلې شوې وی ،او په دې کښې روح باقی وی،او تاسو ته په دې حالت کښې ملاؤ شی چه پښې او لاسونه پرقوی نو تا سو دا ذبح کولې او خوړلې شئ .(٤)

حضرت طاوس رحمه الله ،حضرت حسن رحمه الله ،حضرت قتاده رحمه الله او حضرت عبید بن عمیر رحمه الله ،ضحاك او ډیرو حضراتو نه مروی دی چه د ذبح کولو په وخت کښې که څه حرکت هم د دې ځناور ظاهرشی چه د هغې نه دا معلومه شی چه په دې کښې ساه شته دې نو هغه حلال دی (٥).

د جمهورو مذهب:- د جمهور فقهاو هم دا مذهب دې.د دریوواړو امامانو هم داقول دې.امام مالك رحمه الله د هغه چیلئ باره کښې چه هغه یو څیرونکی ځناور اوخوری اود دې کولمې راوزی نو فرمائی چه ځما

---

(١) الطبری:٤٩٨/٩،

(٢) ایضا

(٣) الطبری:٥٠٤/٩.

(٤) الطبری: ٥٠٣/٩،

(٥) ایضا

Scanned with Ca

خبال دې چه دا دې ذبح نه کړې شی.په دې کښې به د څه څیز ذبح وی.یو خل د دوی نه سوال اوشو که درنده حمله اوکړی اود چیلې خیټه اوشلوی نو آیا د دې چیلې ساه وتلو نه مخکښې مخکښې دا ذبح کولې شی.دوی اوفرمائیل که بالکل آخره پورې رسیدلې وی،نو خما رائې ده چه دادې اونه خوړلې شی او که په اطرافو کښې وی نو دې کښې هېڅ باك نشته .نو هغه صاحب اوونیل چه درنده په دې حمله کړې وی ،اودا نې اونیوله او دې سره د دې ملامانه شوه،نو دوی اوفرمائیل چه ماته د دې خوراك خوښ نه دې .ځکه چه د دې دومره غټ زخم نه پس دا ژوندنی نشی پاتې کیدې.دوی نه بیا تپوس اوشو چه خیټه نې ورته اوشلوله نو د دې څه حکم دې ؟ نو وې فرمائیل چه خما دا رائې ده چه دا دې اونه خوړلې شی .دا د امام مالك رحمه الله مذهب دې.خو چونکه آیت مبارك عام دې،په دې وجه امام صاحب چه کوم صورتونه مخصوص کړی دی،په دې باندې څه خاص دلیل پکار دې.والله اعلم.

د ښکاری ځناورد زخمی کولو نه پس په ذبحې سره ښکار حلالیږی

مسلک حنفی:- کوم ځناور چې درنده اوخوری او د هغې نه ساه نه وی وتلې او په دغه حالت کښې ذبح شی نو په ذبح کولو سره هغه حلال شو او که درنده نې داسې مات کړی چه د مذبوح پشان شی نو په روستو ذبحه کولو سره هغه نه حلالیږی بلکه هغه د مرداړ پشان دې (تفسیر مظهری ۵۰۱/۳).

د بانډس د ذبح حکم:- بخاری او مسلم کښې حضرت رافع بن خدیج رضی الله عنه نه مروی دی چه ما نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! مونږ سبا دښمن سره جنګ کولو والا یو،او مونږ سره به چرې نه وی نو آیا مونږ بانډس سره ذبح کولې شو،نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم څیز نه وینه تویولې شی او په دې باندې د الله تعالی نوم واخستې شی نو دا خورئ.سوا د غاښونو او نوکونو نه،ځکه چه غاښ هډوکې دې او نوکونه د حبشیانو چرې دی (۱).

کوم ځناورچې په غاښ یا نوک سره ذبح شی هغه حلال دې

مسلک حنفی:- امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی که غاښ یا نوک داسې ویستلې شوې وی یعنی د بدن نه جدا کړې شوې وی اوتیرۀ وی نوکه په هغې باندې ذبح اوشی هغه به حلاله وی ځکه چه په حدیث کښې د وینې تویولو شرط راغلې دې چې وینه توئې شی نو خورئ باقی پاتې په حدیث کښې چه د غاښ او نوک کومه استثناء راغلې ده نوهغه په داسې صورت کښې چه غاښ پس وی تیرۀ نه وی ځکه نبی کریم ﷺ د هډوکی سره تشبیه ورکړې ده او باقی پاتې شوه د نوک استثناء نو دا په دې وجه چه حبشو به نوک ویستلې نه وو او په هغې به نې ذبح کوله نو ځکه نبی کریم ﷺ د نوک استثناء اوکړه (۲).

د مرئ نه سوا د بل ځائې ذبحې حکم:- مسند احمد او سنن کښې دی چه نبی کریم ﷺ نه تپوس اوشو چه آیا ذبح صرف حلق او ګورګرو سره کیږی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که تا د دې په پتون کښې زخم لګولې وی نو دا کافی دې (۳). دا حدیث مبارك خو صحیح دې خو دا حکم په هغه وخت کښې دې چه کله صحیح طور سره په ذبح کولو قادر نه وی.

قوله تعالی:: وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ

د بت په نوم د ذبحې حکم:- نصب باندې چه کوم ځناور ذبح کړې شی نو هغه هم حرام دې.حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه دا د عبادت خایونه د کعبې ګیر چاپیره وو(۴).ابن جریر رحمه الله اوفرمائیل چه دا

---

(۱) بخاری مسلم حواله مخکښې تیره شوې ده.

(۲) (تفسیر مظهری ۵۱۱/۳).

(۳) احمد:۳۳٤/٤، ابوداود کتاب الضحایا: باب فی ذبیحة المتردیة:۲۸۲۵، ترمذی: ۱٤۸۱، نسائی: ٤٤۱۳، ابن ماجه:۳۱۸٤، تاریخ الکبیر:۲۲/۱/۲. دارمی:۹/۲، مسند ابی یعلی :۱۵۰۳.

(۴) الطبری:۵۰۸/۹،

دري سوه شپيته بتان وو د جاهليت د زمانې،عربو به د دې مخکښې خپل خناور ذبح کول .او په دې کښې به چه کوم بيت الله ته نزدې وو په هغې به ئې د دې خناورو وينه شيندله، او غوښه به ئې په دې بتانو باندې آويزانده کوله (١) نو الله ﷻ دا کار په مومنانو باندې حرام کړو،او د دې خناورو خوراک ئې هم حرام کړو،اګر چه د دې خناورو د ذبح کولو په وخت کښې بسم الله ونيلې شوې وی،خکه چه دا شرک دې او دا الله تعالی او د الله رسول ﷺ حرام کړې دې.او هم دا لاتی دی او د دې جملې نه هم دا مطلب دې خکه چه د دې نه مخکښې ددې حرمت بيان شوې دې چه د الله تعالی نه سوا د نورو په نوم باندې ذبح کړې شی.نوهغه حرام دی

قوله تعالی::وَأَنْ تَسْتَقْسِمُوا بِالْأَزْلَامِ ط

په غشو د تقسيمولو حرمت:- د ﴿ازلام﴾ نه مراد تقسيمول دی دا حرام دی او د جاهليت په زمانه کښې د عربو دا دستور وو.هغوئ به دري غشی اينبودی وو ،يو باندې به ئې ليکلی وو چه ﴿افعل﴾ يعنی اوکړه،په دويم به ئې ليکلی وو چه ﴿لاتفعل﴾ يعنی مه کوه.او دريم به خالی وو. بعضې وائی چه يو باندې به ئې ليکلی وو چه ماته ځما د رب تعالی حکم دې،په دويم به ئې ليکلی وو چه ماته د رب ممانعت دې.دريم به خالی وو. په هغې کښې به هيڅ نه وو ليکلی شوی.هغه خلقو به په طور د قرعه اندازئی دا غشی استعمالول،يعنی چه کله به هغوئ ته په څه کار کښې شک شو نو دا غشی به ئې راوويستل،که دوی ته به حکم وو چه دا کار اوکړه نو هغه کار به ئې کولو اوکه حکم به وو چه کار مه کوه نو هغه کار نه به منع شو. که خالی غشئ به راووتلو نو بيا به ئې دوباره قرعه اندازی کوله. ازلام جمع د زلم،

اوبعضې زلم هم وائی.د استقسام معنی د دې غشو نه د دې تقسيمول طلب کول دی .د قريشو د ټولو نه لوئې بت هبل وی چې په خانه کعبه کښې دننه په کوهی باندې لګيدلې وو او په هغه کوهی کښې به د خانه کعبې مال او هديې خلقو جمع کولې د دغه بت سره اووه (٧) غشی وو چه په هغې څه ليکلې شوی وو. چه په کوم کار کښې به د دوی اختلاف پيدا شو نو دا قريش به دلته راغلل او د دې غشو نه به ئې يو غشئ واخستو او چه په هغې به څه ليکلې شوی وو هغه به ئې کول. (٢)

په خانه کعبه کښې د ابراهيم ﷺ مجسمه:- بخاری شريف او مسلم شريف کښې دی چه کله حضرت نبی کريم ﷺ کعبې ته داخل شو نو هلته د حضرت ابراهيم ﷺ او حضرت اسماعيل ﷺ مجسمې نقش کړې شوې وې ،اود هغوئ لاسونو کښې غشی وو. حضرت نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه الله ﷻ دې دوی تباه کړی دوی ته ښه معلوم دی چه دې بزرګانو هيڅ کله هم فال نه دې کتلې (٣).

د سراقه بن مالک ﷺ په غشو پال نيول:- صحيح حديث مبارک کښې دی چه سراقه بن مالک بن جعشم چه کله نبی کريم ﷺ او حضرت ابوبکرصديق ﷺ تلاش کولو دپاره اووتلو چه هغوئ اونيسی او د مکې کافرانو ته ئې حواله کړی او په هغه وخت کښې نبی کريم ﷺ مدينې ته هجرت کولو. نو ده دغه شان قرعه اندازی اوکړه. دده بيان دې چه په رومبی ځل هغه غشئ راووتلو چه ځما د مرضئ خلاف وو .ما بيا غشی ګډ کړل او غشې مې راوويستلو نو دې ځل هم هغه غشې راووتلو.په کوم کښې چې وو چې ته هغه (نبی کريم ﷺ) ته څه نقصان نشی رسولې. ما بيا اونه منل او په دريم ځل مې فال راوويستلو نو دې ځل هم هغه غشې راووتلو. خو ما د دې هيڅ پرواه اونکړه او د انعام حاصلولو په لالچ کښې اووتلم. دې

---

١) ايضا

٢) الطبری: ٥١٣/٩

٣) صحيح بخاری كتاب الحج باب من كبر ف نواحی الكعبة:١٦٠١، ابوداود :٢٠٢٧، احمد:٣٣٤/١.

وخت پورې سراقه مسلمان شوې نه وو. ده د نبی کریم ﷺ هیڅ اونکړل او دې نه پس دې اسلام کښې داخل شو.(۱)

د فال حرمت:- ابن مردویه کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی هغه سړې د جنت اوچت مقامات نشی حاصلولی چه څوك کهانت کوی یا فال گوری یا د څه بدفالئ په وجه سفر نه واپس شی.(۲)

دغشو رواج په فارسیانو کښې:- حضرت مجاهد رحمه الله هم دا فرمائیلی دی عربو به د دې غشو په ذریعه او فارسیانو او رومیانو د پانسو په ذریعه جواری کوله. نودا په مسلمانانو باندې حرام کړې شوه. ممکن دی چه د دې قول مطابق مونږ داسې اووایو چه دا خو د استخارې دپاره وو خو کله کله به نې د دې سره جواری هم کوله والله اعلم.

د جوارئ وغیره حرمت:- ددې سورت په آخر کښې الله ﷻ جواری هم حرامه کړه. او وې فرمائیل چه ائې ایمان والو شراب، جواری، بتان، غشی پلیت دی او شیطانی کارونه دی. تاسو دې نه بچ اوسئ نو تاسو ته به نجات حاصل شی. شیطان خودا غواړی چه تاسو کښې د دې په ذریعه دشمنی او بغض پیدا کړی .دغه شان دلته هم فرمائی چه د غشو نه تقسیم غوښتل حرام دی. ددې کار کول فسق او گمراهی ده او جهالت او شرك دې.

دغشو په ځائې د استخاره حکم:- ددې په ځائې مومنانو ته حکم اوشو چه کله تاسو ته په خپل څه کار کښې شك شی نو تاسو استخاره کوئی. د هغه پاك ذات عبادت کوئی، اود هغه نه خیر غواړئی. مسند احمد.

د استخارې دعا:- بخاری او سنن کښې مروی دی چه حضرت جابر بن عبدالله رضی الله عنه فرمائی چې مونږ ته به نبی کریم ﷺ څنگه د قران پاك سورتونه خودل نودغه شان به نې مونږ ته په خپلو کارونو کښې داستخارې حکم کولو. نبی کریم ﷺ به فرمائیل چه کله تاسو کښې چاته څه کار کول وی نو هغه ته پکار دی چه استخاره کوی، نودوه رکعته نفل دې اوکړی او بیا دې دا دعا اووائی چه :

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاقْدُرْهُ لِي وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ رَضِّنِي بِهِ(۳)

(ترجمه) * ائې الله ﷻ ! څه ستا نه ستا د علم په ذریعه خیر غواړم او ستا د قدرت په وسیله ستا نه قدرت غواړم، او څه ستا د ډیر لوئې فضل طلب کوم، یقینی ته په هر څیز قادر ئې او زه محض مجبور یم او ته د پوره علم خاوند یې او څه بیخی بې علمه یم. هم ته ئې چه ټولې د غیبو خبرې تاته معلومې دی. ائې خما ربه ! که ستا په علم کښې دا کار خما دپاره بهتر وی نو ته دا خما دپاره اوکړه. اوما دپاره دا آسان کړې. او په دې کښې مادپاره هر رنگه برکت واچوې. اوکه ستا په علم کښې دا کار زما د دین او دنیا او د انجام په لحاظ سره خراب وی نو دا خما نه لرې کړې او ماد دې نه لرې اوساتې اوما دپاره چه چرته هم خیر اوبرکت وی نو مالره ئې مقرر کړه. بیاما په دې راضی کړه. د دعا دا الفاظ مسند احمد

---

۱) صحیح بخاری کتاب مناقب الانصار باب هجرة النبی ﷺ واصحابه الی المدینة :۳۹۰٦، احمد:٤/۱۷۵، ابن حبان : ٦۲۸۰.

۲) مجمع الزوائد: ۱۱۸/۵، تمام الرازی فی الفوائد:۱٦۸/۲، مسند الشامین.:۲۱۰٤.

۳) صحیح بخاری کتاب التهجد باب ماجاء فی دعاء الاستخارة،ابوداود :۵۳۸، ترمذی:٤۸۰، نسائی:٦/۸۰، ابن ماجه: ۱۳۸۳.

Scanned with Ca

کښې دی (۱). چه ﴿هذاالامر﴾ چرته دې،هغه ځائې کښې د خپل کار نوم واخله،لکه که نکاح وی نو ﴿هذاالنکاح﴾ سفر وی نو ﴿هذاالسفر﴾ که تجارت وی نو ﴿هذه التجارة﴾ وغیره.بعضو روایتونو کښې ﴿خیرفی دینی﴾ نه ﴿امری﴾ پورې په ځائې دا الفاظ دی چه ﴿خیرلی فی عاجل امری واجله﴾.امام ترمذی رحمه الله دې حدیث مبارك ته حسن غریب وائی.

قوله تعالی::اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ

دکافرانو ناامیده کیدل:- ① بیا فرمائی چه نن کافر ستاسو د دین نه مایوسه شو یعنی د دوی امیدونه بناوري شو چه دوی ستا په دین کښې څه کمې زیاتې اوکړی .او خپل دین ستا په دین کښې گډوډ کړی.نو صحیح حدیث مبارك کښې دی چه شیطان خو ددې نه مایوسه شوې دې چه مسلمانان په جزیره عرب کښې د ده عبادت اوکړی .خودې به په دې کوشش کښې وی چه مسلمانان خپلو کښې یو بل سره واچوی (۲).②دا هم کیدیشی چه د مکې مشرکان د دې نه مایوسه شی چه مسلمانانو سره یو خانې شی .خکه چه د اسلام احکامو په دوی کښې ډیر لوئې فرق راوستې دې.په دې وجه د الله ﷻ ارشاد دې چه مومنان دې صبر کوی او ثابت قدم دې اوسی او د الله ﷻ نه دې سوا د بل چا نه نه ویریږی.او نه دې د کافرانو د مخالفت پرواه کوی .او الله ﷻ به دوی دنیا او آخرت کښې کامیاب کړی

قوله تعالی::اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا

د دین اسلام تکمیل:- بیا د خپل افضل او بهترین نعمت ذکر کوی چه ما ستاسو دین هر رنګ مکمل او کامل کړو. تاسو ته به د دې دین نه سوا د بل دین احتیاج نه وی.اونه به تاسوته د دې نبی ﷺ نه سوا د بل نبی ﷺ احتیاج وی.الله ﷻ ستاسو نبی ﷺ خاتم النبیین جوړ کړې دې،او هم دې ئې ټول انسانانو اوجناتو طرفته لیږلې شوې دې .حلال هغه دی چه کومو ته دې حلال اووائی او حرام هغه دی چه کوموته دې حرام اووائی.دین هغه دې چه کوم دې مقرر کړی او د دوی ﷺ ټولې خبرې حق او صداقت والا دی.اوپه دې کښې هیڅ قسمه دروغ او اختلاف نشته. لکه د الله ﷻ فرمان دې چه ﴿وَتَمَّتْ كَلِمَةُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا﴾ یعنی ستا د رب کلمه پوره شوه اودا په خبر ورکولو کښې ریښتونې ده او حکم او منع کښې عدل والا ده.د دین مکمل کول تاسو باندې خپل لوئې نعمت کول دی.څه پخپله ستاسو په دې دین او اسلام خوشحاله یم،د دې وجې تاسو هم په دې خوشحاله اوراضی اوسئ.د الله ﷻ دا دین خوښ دین دې،دا ئې خپل افضل رسول ته ورکړل او دې ئې په خپل اشرف کتاب پیغمبر جوړ کړو

دابن عباس ؓ روایت:- حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چه الله ﷻ ستاسو دپاره دین اسلام کامل او مکمل کړې دې.او خپل نبی اومومنانوته ئې د دوی کامل والې په خپل کلام کښې خودلی دی .اوس د پاتې دنیا پورې د څه زیاتې محتاج نه دې .دا الله ﷻ پوره کړې دې او تر قیامته پورې به دا نه ناقص کیږی په دې باندې الله تعالی خوشحاله دې اوکله هم خفه کیدونکې نه دې

په احکامو کښې اخری ایت:- سدی رحمه الله فرمائی چه دا آیت مبارك د عرفې په ورځ نازل شوې دې.دې نه پس د حرام او حلال هیڅ حکم نه دې نازل شوې.دې نه په واپس کیدو د الله رسول ﷺ وفات شو.

حضرت اسماء بنت عمیس ؓ فرمائی چه دې حج کښې څه هم نبی کریم ﷺ سره اوم.مونږ روان وو چه په دې کښې د حضرت جبریل ؑ تجلی اوشوه او نبی کریم ﷺ په خپله اوښه مبارکه ټیټ شو. وحی نازلیدل شروع شو. اوښې د وحی د بوج طاقت نه لرلو. ما هم په هغه وخت کښې خپل څادر په نبی کریم ﷺ واچولو.

---

(۱) احمد:۳/۳٤٤، وسنده صحیح (الموسوعة الحدیث:۲۳/٥٦) بخاری :۱۱٦۲.

(۲) صحیح مسلم کتاب صفات المنافقین باب تحریش الشیطان وبعثه سرایاه لفتنة الناس:۲۸۱۲، ترمذی:۱۹۳۷ احمد:۳/۳۱۳ مسند ابی یعلی :۲۰۹٥.

Scanned with Ca

د حضرت عمر ﷺ فراست:- ابن جریر وغیره فرمائی چه دې نه پس نبی کریم ﷺ یواتیا ورځو پورې ژوندي وو. هر کله چه د حج اکبر په ورځ دا آیت مبارك نازل شو نو حضرت عمرفاروق ﷺ په ژړا شو نبی کریم ﷺ تري تپوس اوکړو نو حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه مونږ خو لا د دین نور زیاتی په امید کښې وو اوهغه کامل شو نو دستور دا دې چه د کمال نه پس نقصان شروع کیږی ،نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ربښتیا دی . د دې معنی (چې د کمال نه پس زوال وی) شهادت ددې حدیث نه ثابتیږی چه په هغې کښې د نبی کریم ﷺ ارشاد دې چه اسلام د پردیسۍ او غریبۍ نه شروع شوې دې او نزدې ده چه دا به غریب شی.نو د غریبانانو دپاره خوشخبری ده ([1]).

د تکمیل دین ایت د نزول ورځ او مقام:- مسند احمد کښې دی چه یو یهودی حضرت فاروق اعظم ﷺ ته اوونیل چه تاسو چې کوم آیت مبارك ﴿اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ﴾ وائې که په مونږ یهودیانونازل شوې وې نو په دې ورځ به مونږ اختر کولو. حضرت عمر فاروق ﷺ اوفرمائیل چه ماته د الله ﷻ فضل سره علم دې چه دا آیت مبارك په دوی ﷺ باندې کله او په کوم وخت کښې نازل شوې دې.دا د عرفې په ورځ د جمعې په مابنام نازل شوې دې .اومونږ ټول په هغه وخت کښې په میدان عرفه کښې وو([2]). ټول سیرت والا په دې خبره متفق دی چه د حجة الوداع په ورځ د عرفې ورځ د جمعې په ورځ وه. او روایت کښې دی چه حضرت کعب ﷺ حضرت عمرفاروق ﷺ ته اوفرمائیل اوحضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه دا آیت مبارك مونږ دپاره د دوؤ اخترونو په ورځ نازل شوې دې .

د ایت نزول په عرفه او جمعه کښې:- د حضرت ابن عباس ﷺ نه ئې چه کله د دې آیت مبارك تلاوت واوریدونو یهودو هم دا وئیلی وو. نو په دې حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چه مونږ دپاره خو دا آیت مبارك د دوؤ اخترونو په ورځ نازل شوې دې .دا اختر ورځ هم وه او د جمعې ورځ هم وه.([3])

حضرت علی ﷺ نه مروی دی چه دا آیت مبارك د عرفې په ورځ مابنام نازل شوې دې.حضرت امیر معاویه بن ابی سفیان ﷺ په منبر باندې دا پوره آیت مبارك تلاوت کړو او وې فرمائیل چه دا آیت مبارك د جمعې په ورځ عرفه کښې نازل شوې دې.

د اسلامی تاریخ اهم واقعات په کومه ورځ:- حضرت سمره ﷺ فرمائی چه په هغه وخت کښې نبی کریم ﷺ په موقف باندې ولاړ وو. حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه ستاسو نبی ﷺ د ګل په ورځ پیدا شو،د ګل په ورځ د مکې نه اووتلو او هم د ګل په ورځ مدینې ته داخل شو ،دا اثر غریب دې.او د دې سند ضعیف دې.

مسنداحمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ د ګل په ورځ پیدا شو او د ګل په ورځ نبی جوړ کړې شو.د ګل په ورځ د هجرت ارادې سره مکې نه اووتلو او هم د ګل په ورځ مدینې ته اورسیدو. اوهم د ګل په ورځ وفات شو. حجر اسود ئې هم د ګل په ورځ ایښودې وو.([4]) په دې کښې دسورة مائده د ګل په ورځ نازلیدل ذکر نه دې.خما خیال دې چه حضرت ابن عباس ﷺ به وئیلی وی چه دا آیت مبارك ددوؤ اخترونوپه ورځ نازل شوې دې.نو د دوؤ دپاره هم لفظ د اثنین دې.او د ګل ورځې ته هم اثنین وانی.دې کښې راوی ته شك شوې دې.والله اعلم.

---

[1]) الطبری:٥١٩/٩،

[2]) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان ان الاسلام بدا غریبا سیعودا غریبا:١٤٥. ابن ماجه:٣٩٨٦، احمد:٣٨٩/٢، مسند ابی یعلی :٦١٩٠.

[3]) احمد:٢٨/١، صحیح بخاری کتاب الایمان باب زیادة الایمان ونقصانه: ٤٥، صحیح مسلم:٧٠١٧، نسائی:٤٩٢٦. بیهقی:١١٨/٥.

[4]) احمد: ٢٧٧/١، مجمع الزوائد: ٢٠١/١، ددې سند کښې ابن لهیعه مختلط راوی دې.

Scanned with Ca

د تکمیل دین ایت په وخت نزول کښې دوه ضعیف قولونه:- په دې کښې دوه اقواله نور هم دی.یو خو دا چه دا ورځ خلقو ته معلومه نه ده. دویم دا چه دا آیت مبارك د غدیر خم په ورځ نازل شوې دې.په کومه ورځ چې نبی کریم ﷺ د حضرت علی ﷺ باره کښې فرمانیلی وو چه د چا مولا څه یم د هغه مولا علی دی. نو گویا چه د ذوالحجه اتلسم تاریخ شو. او دوی ﷺ د حجة الوداع نه واپس راتلل.خویاد ساتئ دا دواړه قولونه بالکل صحیح نه دی او بې شك و شبه قول دا دې چه دا آیت مبارك د عرفې په ورځ نازل شوې دې.امیر المومنین حضرت عمر بن خطاب او امیر المومنین حضرت علی بن ابی طالب او د اسلام رومبې بادشاه حضرت امیر معاویه بن ابی سفیان ﷺ او ترجمان القران حضرت عبدالله بن عباس ﷺ او حضرت سمره بن جندب ﷺ نه هم دا مروی دی.او هم دا حضرت شعبی رحمه الله حضرت قتاده رحمه الله او حضرت شهر رحمه الله وغیره انمه وائی او هم دا قول مختار د ابن جریر دې.

قوله تعالی:: فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ

د مجبورئ په وخت کښې د حرامو خوړلو اباحت:- بیا فرمائی چه کوم یو سړې دې حرامو څیزونو کښې د یو څیزپه استعمال ته مجبور او بې بس شی نو هغه د داسې اضطرار حالت کښې هغه په کار راوستې شی .الله ﷻ غفور رحیم دې او هغه ته معلوم دی چه د هغه بنده د هغه حد نه تیر نشو. بلکه هغه دا د مجبورئ او بې بسئ حالت کښې داسې اوکړل.نو الله ﷻ به دې معاف کړی.

په رخصت باندې عمل کولو حیثیت:- صحیح ابن حبان کښې دی چه حضرت عمرفاروق ﷺ نه مرفوعًا مروی دی چه الله ﷻ د کومو څیزونو اجازت ورکړې دې.او بندگان په هغې عمل کوی نو الله پرې داسې خوشحالیږی لکه څنگه چې د هغه خلقو نه خوشحالیږی کوم چې د الله ﷻ د نافرمانئ نه ځان ساتی (۱)مسند احمد کښې دی چه کوم سړې د الله ﷻ ورکړې شوې رخصت نه قبلوی نو په هغه د عرفات د غر هومره ګناه ده.(۲)

په دې وجه فقهاء کرام وائی چه په بعضو صورتونوکښې مرداره خوړل واجبیږی.لکه یو سړې د اولږې حالت کښې داسې حالت ته اورسی چه د مرګ خطره وی ورته . او کله دا جائز وی .اوکله مباح.البته په دې کښې اختلاف شته دې چه کله د اولږې حالت کښې حلال څیز نه وی نو حرام صرف دومره خوړلې شی چه دې پرې بچ شی یا په مړه خیټه خوراك هم کولې شی.بلکه ځان سره هم ایښودې هم شی.ددې د تفصیل ځائې د احکامو کتابونه دی.

په اضطراری حالت کښې درې حرام موجودیدل:- په دې مسئله چه کله یو سړې اوږې وی او هغه د اضطرار حالت کښې وی،اوپه داسې حالت کښې ده ته درې حرام څیزونه ملاویږی، یو مرداره وی دویم د بل چا د خوراك څیز وی دریم په حالت د احرام کښې شکار موجود وی نو داوس دار درې واړه څیزونه حرام دی نودې به څه کوی ①آیا مرداره به خوری ؟ ②اوکه د احرام حالت کیدو باوجودې به شکارکوی اوچې کله پرې د اسانئ وخت راشی چې بیا د دې جزا یعنی فدیه ورکړی، ③اوکه د بل څیز به بغیر دهغه د اجازت نه خوری او کله چه په ده آسانی شی نو هغه به ورته واپس کوی .په دې کښې د امام شافعی نه دوه اقوال دی.

تنبیه:- دا هم یاد ساتئ چه د مرداري خوراك کوم شرط عوامو کښې مشهور دې چه کله سړې د دریو ورځو نهروی نو بیا حلال دی.دا بالکل غلط دی بلکه کله چه اضطرار اوبې قراری او مجبوری وی نو په هغې کښې د هغه دپاره مرداره خوراك حلال دی.

---

(۱) احمد:۲°۱۰۸ وسنده حسن،ابن حبان:۲۷٤۲، شعب الایمان:۳۸۹۰، تاریخ بغداد:۳٤۷/۱۰.

(۲) احمد:۷۱/۲ .

کوم د اولوږې حالت دی؟:- مسند احمد کښې دی چه خلقو نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! مونږ داسې خانې کښې اوسیږو چه هلته مونږ ته د فقر او فاقې نوبت راځی.نو زمونږ دپاره مرداره خورل کوم وخت کښې جائز دی .؟ نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه کله سحرمابنام ملاوٗ نشی او نه درته سبزی ملاوٗ شی نو تاته اختیار دې (١). ددې حدیث مبارك یو سند کښې ارسال هم دی خو د مسندوالا مرفوع حدیث مبارك د شیخینو په اسناد او شرطونو صحیح دې .

ابن عون رحمه الله فرمائی چه حضرت حسن ﷺ سره د حضرت سمره ﷺ کتاب وو.اوهغه به ئې د هغوئ مخکښې لوستلو. په هغې کښې دا هم وو چه سحر مابنام نه ملاویدل.هغه سړی نبی کریم ﷺ نه دا هم پوښتلی وو چه حرام خورل کله حلالیږی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه ترڅوپورې چې ته په پینو سره د خپلو بچو خیټه مړه نه کړې. او ترڅو پورې چه د هغوئ (د خوراک ، سامان رانشی (٢).

یو اعرابی نبی کریم ﷺ نه د حرامو باره کښې سوال اوکړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه ټول پاك ځیزونه حلال او ټول ګنده ځیزونه حرام دی.خو که د دې محتاج شې نو دا خورلې شې.ترکومې چه ته د هغې نه بې احتیاجه نشې. نو دې سړی بیان تپوس اوکړو چه هغه محتاجی کومه یوه ده؟ چې په هغې کښې زما دپاره حرام ځیزونه حلال شی او هغه مالداری کومه ده چې د هغې په وجه زما دپاره د هغې نه منع کیدل پکار وی نو نبی کریم ﷺ اوفرمانیل نو نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه ته صرف د شپې خپلو بچو ته پئ ورکولې شې نو ته د حرامو ځیزونو نه پرهیز کوه (٣).

ابوداوٗد کښې دی چه حضرت شیخ نجیع ﷺ نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! مونږ دپاره د مرداري خوراك کله حلال دی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه تاته خوراك کښې څه ملاویږی ؟ نو هغه اووئیل چه سحر صرف یو پیاله پئ او د مابنام صرف یو پیاله پئ.نو نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه هم دا دی.او بل به کومه اولړه وی،نو دې حالت کښې نبی کریم ﷺ هغه ته د مرداري د خوراك اجازت ورکړو.(٤) د حدیث مبارك مطلب دا دې چه سحر مابنام د پینو یو پیاله ملاویدل کافی نه وو. اولړه به ئې باقی وه.نو په دې وجه د هغه دپاره مرداره خوراك حلال کړې شو چه هغه په مړه خیټه خوراك اوکړی .بعضې خلق دا دلیل جوړوی اووائی چه د اضطرار په حالت کښې په مړه خیټه خوراك کولې شی.اوڅوك چې دا قید لګوی چې ، دومره خوراك چه دده ځان پرې بچ شی دا قیدنه دې.(بلکه ځان مړولې هم شی) والله اعلم.

د ضرورت نه د زیاتو خوړلو دلیل:- د ابوداود یو بل حدیث مبارك کښې دی چه یو سړې د خپل اهل وعیال سره راغلو او حره کښې ایسار شو. د یوسړی اوښه ورکه شوې وه نو ده ته ئې اووئیل که چرته ځمااوښه دې اولیده نو هغه اونیسه ،اتفاق سره دااوښه هغه ته په لاس ورغله.نو ددې مالك ئې تلاش کولو خو هغه ورته ملاوٗ نشو او دا اوښه بیماره شوه.نو د هغه سړی بی بی اووئیل چه مونږ اوږی یو دا ذبح کړه.خو هغه به انکار کولو. اوآخر اوښه مړه شو نو د ده ښځې ده ته اووئیل چه ددې نه ځرمن اوباسه او دا ټکړې ټکړې کړه مونږ نه به پکار شی.خو دې بزرګ ورته اووئیل چه څه داسې هم نشم کولې خوکه د الله نبی ﷺ اجازت راکړی نو (بیا صحیح ده). نو دې د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضرشو او ټوله قصه ئې بیان کړه. نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمانیل چه تاسره بل څه د خوراك دپاره شته دې که نه ؟ نوهغه سړی اووئیل چه نه.نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمانیل چه بیا ئې ته خوړلې شی.نو

---

١) احمد:٥/٢١٨ .
٢) داروایت مرسل دې.
٣) الطبری :٩/٥١٤،.
٤) ابوداود کتاب الاطعمة باب فیمن اضطر الی المیتة:٣٨١٧، بیهقی :٩/٣٥٧. شرح السنة:٢٩٠٠.

Scanned with Ca

دې نه پس ئې اوښې والا سره ملاقات شو. نو هغه ورته اوونیل چه تا هغه ولې نه ذبح کوله چه خورلې دې وې.نو دې بزرګ صحابی ورته اوئیل چه ماته شرم راتلو. (١)دا حدیث مبارک دلیل دې د هغه خلقو دپاره چه کوم وانی چه د اضطرار په وخت کښې مرداره په مړه خیټه خورل بلکه خپل ځان سره اینسودل هم جائز دی .والله اعلم.

قوله تعالی::غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝

د حرام خورلو اجازت کښې یو قید:- بیا ارشاد دې چه دا حرام د اضطرار په وخت کښې د دې وجې مباح دی چه یو ګناه طرفته تاسو لاړ نشئ.نو په دې وجه دا مباح کوی او نورو دپاره خاموشی ده. لکه څنګه چه سورة بقره کښې دی چه ﴿فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ ۙ فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝﴾ یعنی چه کوم سړې بې قراره شي سوا د باقی اوحد نه تیریدونکی نه نو په هغه هیڅ ګناه نشته دې الله بخښونکې او مهربان دې.دې آیت نه په دې استدلال کیږی چه کوم سړې د الله ﷻ نافرمانئ کښې سفر کښې کوی نو هغه ته د شریعت اجازتونو کښې هیڅ یو اجازت نشته دې.ځکه چه اجازتونه د ګناه په وخت کښې جائز نه دی.والله اعلم.

يَسْـَٔلُونَكَ	مَاذَآ	أُحِلَّ	لَهُمْ ۖ	قُلْ
تپوس کوی خلق ستانه	چې کوم کوم څیز	احلال کړې شوې دې	دپاره دهغوئ	ورته اووایه
دوی ستانه تپوس کوی چې دوی دپاره کوم کوم څاروی حلال شوی دی				ورته اووایه
أُحِلَّ	لَكُمُ	الطَّيِّبَٰتُ ۙ	وَمَا	عَلَّمْتُم
حلال کړې شوی دی	ستاسو دپاره ټول پاك څیزونه		اوهغه	چې تاسو خودلې دی
ستاسو دپاره ټول پاکیزه څیزونه حلال دی			وکوم ښکاری څناور چې تاسو عادت کړې وی	
مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ	مُكَلِّبِينَ	تُعَلِّمُونَهُنَّ		مِمَّا
ښکاری څناورو ته	ښکار باندې ورپریښودو د پاره	چې تعلیم ورکوئ	تاسو دوی ته	دهغه علم نه
اوبیا تاسوئې په ښکار پسې پریږدئ	اود هغه تعلیم (د ښکار طریقه) مو ورته خودلې وی			کومه چه
عَلَّمَكُمُ	ٱللَّهُ ۖ	فَكُلُوا۟	مِمَّآ	أَمْسَكْنَ	عَلَيْكُمْ
چې ښودلې دې تاسو ته	الله	نوخورئ	دهغه ښکارنه	چې اونیسی هغوئ	دپاره ستاسو
الله ﷻ تاسوته خودلې ده	نو کوم ښکار چې هغوئ ستاسو دپاره راونیسی هغه خورئ شئ				
وَٱذْكُرُوا۟	ٱسْمَ ٱللَّهِ	عَلَيْهِ ۖ	وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ	إِنَّ ٱللَّهَ	سَرِيعُ
اویاد وئ تاسو	نوم د الله	په هغه باندې	اویره کوئ د الله نه	بیشکه الله	ژر اخستونکې دې
(او د ورپریښودلو په وخت) کښې پرې د الله ﷻ نوم اخلئ			اود الله ﷻ نه وپریږئ		الله ﷻ
ٱلْحِسَابِ ۝					
د حساب					
ژر حساب اخستونکې دې					

(١) ابوداود كتاب الاطعمة باب فيمن اضطر الميتة: ٣٨١٦ وسنده صحيح .

يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ ۖ قُلْ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ

ماقبل سره ربط: ددې نه مخکښې الله ﷻ نقصان رسوونکو او د خبیث څیزونو د حرمت بیان فرمائی که هغه نقصان جسمانی وی اوکه دینی وی او که دواړه وی.بیا ئې د ضرورت د حالت هم ذکر اوکړو. لکه فرمان دې چه ﴿وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ﴾ یعنی د ټولو حرامو څناورو بیان ستاسو مخکښې تفصیل وار راغلو مګر دا چه تاسو دې طرفته مجبوره شئ.یعنی دهغې خوراک ته مجبوره شئ نودې نه پس ارشاد د حلال څیزونو باره کښې تپوس کولو والاته فرمائی چه ټول پاک څیزونه ستاسو دپاره حلال دی.سورة اعراف کښې د نبی کریم ﷺ دا صفت بیان شوې دې چه پاک څیزونو ته نې حلال وئیلی دی او پلیت څیزونوته نې حرام وئیلی دی.

د آیت شان نزول:- ابن ابی حاتم کښې دی چه د قبیله طائی دوه سړو حضرت عدی بن حاتم ﷺ او حضرت زید بن مهلهل ﷺ نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو چه مړ څناور خو حرام شوې دې نو حلال څه دی؟ نو دا آیت مبارك نازل شو.

پاک څیزونه حلال دی:- ① حضرت سعید ﷺ فرمائی چه ذبح شوی څناور حلال اوطیب دی ② مقاتل رحمه الله فرمائی چه هر حلال رزق طیبات کښې داخل دې.③ امام زهری رحمه الله نه سوال اوشو چه د دوائی په طور د متیازو څکل څنګه دی ؟ نو جواب کښې نې اوفرمائیل چه هغه طیبات کښې داخل نه دی.④ حضرت امام مالك رحمه الله نه تپوس اوشو چه د هغه څاوړې خرڅول څنګه دی کومه چې خلق خوری.نو وې فرمائیل هغه په طیبات کښې داخل نه ده.او ستاسو د ښکاری سپو هرکار هم حلال دی.لکه د تربیت یافته سپی او شکری وغیره کړې شوې ښکاری.هم دا مذهب د جمهور او تابعینواو ائمه کرامو دی

قوله تعالی:: وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ ٱللَّهُ

د کومو څناورو ښکار حلال دی؟:- حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه ښکار سپی ،باز،آسونه،شکری وغیره هر هغه مارغه چه هغه ته د ښکار کولو تعلیم ورکولې شی [1] او نورو هم ډیرو بزرګانو نه دا نقل دی چه څیرونکی څناور او داسې مارغان چه کومو ته تعلیم ورکړې شوی وی د هغې په ذریعه ښکار کول حلال دی.

د مارغانود ښکار کراهت:- ① خو حضرت مجاهد رحمه الله نه مروی دی چه هغه د ټولو ښکاری مارغانو ښکارته مکروه وئیلی دی.او دلیل کښې دا آیت مبارك وائی چه ﴿وَمَا عَلَّمْتُم مِّنَ ٱلْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ﴾ ② سعید بن جبیر رحمه الله نه هم دغه شان روایت شوې دې ③ حضرت ضحاك رحمه الله اوحضرت سدی رحمه الله نه هم داقول په ابن جریر کښې نقل دې.

د ابن عمر ﷺ قول :- حضرت ابن عمر ﷺ فرمائی چه باز وغیره مارغان چه کوم ښکار اونیسی که هغه تاسو ته ژوندی ملاؤ شی نو هغه ذبح کولو نه پس خورئی .[2]

دجمهورو مذهب:- خود جمهور اهل اسلام دا فتوی ده چه د ښکار سپو په ذریعه کوم ښکار اوشی د هغې اود ښکاری مارغانو یو حکم دې.ځکه چه هغوئ هم د سپو پشان په خپلو پنجو سره ښکار نیسی. نو په دې کښې د فرق کولو هیڅ خبره نشته دې.د څلورو وارو امامانو هم دا مذهب دې.امام ابن جریر رحمه الله هم دا خوښوی.

د جمهورو دلیل:- اوددې دلیل کښې دا حدیث مبارك راوړی حضرت عدی بن ابی حاتم نبی کریم ﷺ

---

[1]) الطبری :٥٤٨/٩، بیهقی:٢٣٥/٩،

[2]) الطبری :٥٤٩/٩،

Scanned with Ca

نه دباز د ښکار باره کښې تپوس اوکړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم ځناور هغه ستا دپاره راونیسی نو هغه خوره (۱).

د امام احمد رحمه الله په نیزد تور سپی استثناء :- امام احمد رحمه الله ددې نه د تورو سپو ښکار هم مستثنی کړې دې.ځکه چه د دوی په نیز د دې قتل کول واجب دی.او د دې ساتل حرام دی.ځکه چه صحیح مسلم کښې حدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مونځ درې ځیزونه ماتوی،خر،ښځه،او تورسپی.په دې باندې حضرت ابی رضی الله عنه سوال اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! د تور سپې څه خصوصیت دې؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه شیطان دی (۲).

بل حدیث مبارک کښې دی چه دوی د سپو وژلو حکم کړې دی او بیا ئې اوفرمائیل چه د دوی سپو سره څه واسطه ؟ دې سپو کښې تور سپې وژنئی (۳). ښکاریږی ځناورو ته جوارح وائی اودا په دې وجه چه جرح کسب او کمائی ته وائی لکه عرب وائی چه ﴿فلان جرح اهله خیرا﴾ یعنی فلانې سړی خپل اهل وعیال دپاره خیر حاصل کړو. او عرب وائی چه ﴿فلان لاجارح له﴾ یعنی د فلانی سړی هیڅ ګټه نشته دې.قران پاك کښې هم لفظ دجرح دکسب او ګټې اوحاصلولو په معنی کښې استعمال شوې دې.فرمان دې چه ﴿وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ﴾ یعنی تاسو چه د ورځې کوم خیر حاصلوئی د هغې هم الله ﷻ ته پته ده.ددې آیت کریمه د نازلیدو وجه په مسند ابن ابی حاتم کښې داده چه نبی کریم ﷺ د سپو د قتل کولو حکم ورکړو اودا قتل کول شروع شو نو خلق راغلل او نبی کریم ﷺ نه ئې تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! چه تاسود کوم امت د قتل کولو حکم کړې دی د هغې نه مونږ دپاره څه فائده حلاله ده؟ نو نبی کریم ﷺ خاموش شو،دې باندې دا آیت مبارك نازل شو.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه یو سړې خپل سپې یو ښکار پسې پریږدی او هغه ﴿بسم الله﴾ هم اووائی او بیا هغه ښکار اونیسی نو ترکومې چه هغه نه وی خوړلې نودې (ښکار پسې پریخودونکې سړې) دې هغه خوری (۴).

د سپو د قتل کولو حکم:- ابن جریر کښې دی چه حضرت جبریل علیه السلام دننه راتلو اجازت اوغوښتلو. نو نبی کریم ﷺ هغه ته د راتلو اجازت ورکړو خو هغه بیا نه راتلو. نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه ائې د مونږ هغه کور ته نه خو چه په کوم کښې سپې وی.نو نبی کریم ﷺ حضرت ابورافع رضی الله عنه ته حکم اوکړو چه د مدینې ټول سپی دې اووژولې شی.حضرت ابورافع رضی الله عنه فرمائی چه څه لاړم او ټول سپی مې اووژل.یو بوډئی سره یوسپې وو چه هغه د هغې په لمن پورې انختو.او د فریاد په طور د هغې مخکښې په غپیدو شو.ما ته په هغه رحم راغلو او ما هغه پریښودو او راغلم او نبی کریم ﷺ ته مې خبرورکړو. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هغه هم مه پریږدئی .څه واپس لاړم اوهغه مې هم قتل کړو. اوس خلقو نبی کریم ﷺ نه دې باره کښې تپوس اوکړو چه تاسود کوم امت د قتل کولو حکم کړې دی د هغې نه مونږ دپاره څه فائده شته اوکه نه ؟ نو دې باندې دا آیت مبارك نازل شو چه ﴿يَسْئَلُوْنَكَ﴾ الخ.(۵)

یو روایت کښې دا هم دی چه حضرت ابورافع رضی الله عنه د مدینې سپی قتل کولو نه پس د مدینې چاپیر چل ته اورسیدو اود مسئلې تپوس کولو والو نومونه هم په هغې کښې شته دې.یعنی حضرت عاصم بن

---

۱) الطبری :۹/۵۵۰، ترمذی: کتاب الصید باب ماجاء فی صید البزاة:۱٤٦۷..

۲) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب قدر مایستر المصلی.....:۵۱۰،.

۳) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب حکم لوغ الکلب: ۲۸۰، ابوداود : ۷٤، ابن ماجه: ۳۲۰، احمد:٤/۸٦.

٤) حاکم:۲/۳۱۱،).

۵) حاکم :۲/۳۱۱، طبرانی : ۹۷۱، مجمع الزوائد: ٤/٤۳، .

Scanned with Ca

عدی ﷺ، حضرت سعید بن خیثمه ﷺ، حضرت عویمر بن ساعده ﷺ. محمد بن کعب قرظی ﷺ فرمائی چه د آیت مبارك شان نزول د سپو قتل دی

د سپی خوراک کړی ښکار حرمت:- د ﴿مُكَلِّبِينَ﴾ لفظ ممکن دی چه د ﴿عَلَّمْتُمْ﴾ ضمیر یعنی د فاعل نه حال وی او ممکن دی چه د جوارح یعنی د مفعول حال وی یعنی تاسو چه کومو سپو ته تربیت ورکړې وی هغوئ خپلو پنجو او نوکونو سره ښکار کوی. د دې نه دا استدالال هم کولې شی چه کله یو ښکاری ځناور ښکار خپل ځان له راونیسی او هغه مړ کړی نو هغه به حلال نه وی. لکه څنګه چه د امام شافعی ﷺ دوه اقوالو کښې یو قول دې اود عالمانو د یوې ډلې خیال دې. هم په دې وجه فرمائی چه تاسو هغوئ ته څه خودلی وی چه کوم تاسو ته الله ﷻ خودلی دی. یعنی کله چه تاسو هغوئ پریږدنی نو خی اوکله چه تاسوهغوئ منع کړئی نو منع شی. ښکار ستاسو دپاره اونیسی چه تاسو ورشئ اوهغه ښکار راواخلئ. او هغه دا ښکار خپل ځان دپاره نه وی کړې. په دې وجه دې نه پس فرمائی چه ښکاری ځناور تربیت یافته وی او هغه د خپل پریښودونکی دپاره ښکار کړې وی. اوده هم د پریښودو په وخت کښې د الله ﷻ نوم اخستې وی. نو هغه ښکار به مسلمانانو دپاره حلال وی اګر چه هغه مړ شوې وی. په دې باندې اجماع ده.

د سپی پریخودو په وخت کښې بسم الله وئیل:- ددې آیت مبارك د مسئلې مطابق بخاری اومسلم کښې دا روایت دې چه حضرت عبدالله بن سلام ﷺ اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ ! څه د خپل سپی د پریښودو په وخت کښې د الله ﷻ نوم مبارك اخلم. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم ځناور هغه راونیسی نو ته هغه خوره اګر چه هغه مړ شوې وی. خودا ضرور دی چه هغه سره د ښکار کولو په وخت کښې بل سپې نه وی ځکه چه تا خپل سپې د الله ﷻ نوم سره پریښودې دې بل دې بسم الله سره نه دې پریښودې. ماا ووئیل یارسول الله ﷺ ! څه نوکدار لرګی سره ښکار کوم. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که هغه خپل تیرۀ طرف سره زخم جوړ کړی نو ته هغه خوره. اوکه بل سره اولګی نو ته هغه مه خوره ځکه چه هغه ویشتلې شوې دې ([1]).

بل روایت کښې دا الفاظ دی چه کله ته خپل سپې پریږدې نو د الله ﷻ د نوم ذکر کوه، بیا که هغه تاله ښکار راونیسی او تاته راورسی او مارغه تاته ژوندې راورسوی نوهغه ذبح کړه او که هغه سپی قتل کړې وی او د دې نه ئې څه خوړلی نه وی نو ته هغه هم خوړلې شې. ځکه چه د سپې ښکار کول ددې ذبح کول دی ([2]).

اویو روایت کښې دا الفاظ هم دی که هغه تړې خوړلې وی نو بیا هغه مه خورئی. ماته ویره ده چه هسې نه هغه د خپل ځان دپاره ښکار کړې وی. ([3]) هم دا د جمهورو دلیل دې. اوحقیقت کښې د امام شافعی ﷺ صحیح مذهب هم دا دې چه کله سپی ښکار اوخوری نوهغه مطلقًا حرامیږی. په دې کښې هیڅ تفصیل نشته دې. لکه څنګه چه حدیث مبارك کښې دی.

د سپی خوراک کړی ښکار حلت:- خو د سلفو دیو جماعت قول دې چه دا مطلقًا حلال دې. د هغوئ دلائل دادی چه: حضرت سلمان فارسی ﷺ فرمائی چه ته خوړلې شې اګر چه ددې نه سپی یوه حصه خوړلې وی. حضرت سعد بن ابی وقاص ﷺ فرمائی اګر چه یو ټکړه باقی پاتې وی نو ته هغه خوړلی شې. حضرت سعدبن ابی وقاص ﷺ نه یو بل روایت کښې دی اګر چه دوه حصې ئې خوړلې وی نو بیا

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الذبائح باب اذا وجد مع الصید کلبا آخر:۵۴۸۶، صحیح مسلم :۱۹۲۹، ابوداود:۲۸۴۷، ترمذی:۱۴۶۷، ابن ماجه:۳۲۰۸.

[2]) صحیح بخاری کتاب الذبائح باب الصید اذا غاب عنه یومین اوثلاثة:۵۴۸۴، ابن حبان:۵۸۸۵، بیهقی:۹/۲۳۶.

[3]) صحیح بخاری کتاب الذبائح باب اذا اکل الکلب وقول تعالی (یسئلونک ما احل لهم) :۵۴۸۳، صحیح مسلم:۱۹۲۹.

هم ته هغه خوړلې شي.حضرت ابو هریره ﷺ نه هم دا فرمان نقل دي.حضرت عبدالله بن عمر فرمائی چه کله ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ اووائې او تا خپل تربیت یافته سپې د ښکار دپاره پریښودو نو کوم ځناور چه هغه ستا دپاره راونیسی نوته هغه خوره که سپې د هغې نه خوراك کړې وی او که نه.حضرت علی ﷺ او حضرت ابن عباس ﷺ نه هم دا مروی دی.حضرت حسن بصری رحمه الله او حضرت عطاء رحمه الله نه هم مختلف اقوال مروی دی.حضرت زهری رحمه الله ،حضرت مالك رحمه الله ،حضرت ربیعه رحمه الله نه هم دا روایت کړې شوې دې.هم دې طرفته حضرت شافعی رحمه الله خپل رومبی قول کښې تلې دې.اوخپل نوی قول کښې نې هم دې طرفته اشاره کړې ده.

حضرت سلمان فارسی ﷺ نه د حضرت ابن جریر رحمه الله یو مرفوع حدیث کښې نقل کړی دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کله یو سړې خپل سپې ښکار دپاره پریږدی او بیا ښکار په دې حالت کښې اوموی چه د دې نه سپی څه خوراك کړې وی نو چه کوم باقی پاتې وی هغه خوړلې شي .دا قول د ابن جریر رحمه الله دې حدیث مبارك کښې نظر شته دې.اود سعید راوی د حضرت سلمان فارسی ﷺ نه آوریدل معلوم نه دی.او نور ثقه راویان دې ته مرفوع نه وائی بلکه د حضرت سلمان فارسی ﷺ قول ئې نسائی دا قول هم صحیح دې خو د دې معنی او مرفوع کیدو کښې حدیثونه هم مروی دی.

دیو اعرابی څو اهم تپوسونه:- ابو داود کښې دی چه حضرت عمرو بن شعیب رحمه الله خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه نه روایت کوی چه یو اعرابی نبی کریم ﷺ ته اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! ماسره تربیت یافته ښکاری سپی دی،د هغوئ د ښکار باره کښې څه فتوی ده؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم ځناور هغوئ ستا دپاره راونیسی نوهغه ستادپاره حلال دی.نو هغه اووئیل هغه ذبح کړم او که نه ؟. اوکه ددې نه سپی خوړلې وی نو بیا هم ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اگر چه د دې نه سپې خوراك کړې وی .هغه بل سوال اوکړو چه څه خپل غشی سره ښکار کوم د دې څه فتوی ده ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ته هغه هم خوړلې شي.وې فرمائیل که هغه ماته ژوندې ملاؤ شی او څه هغه ذبح کړم نو بیا هم او که غشی لګیدوسره هغه مړشی نو بیا هم ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که ته هغه اونه وینې او تلاش کولو سره ملاؤ شی نو بیا هم په دې شرط چه دې کښې د بل سړی د غشی نښه نه وی.هغه بل سوال اوکړو چه د ضرورت په وخت کښې د مجوسیانو د لوښو استعمال څنګه دی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ته هغه اووینځه نو بیا هغې کښې خوراك کولې شې (١). دا حدیث مبارك نسائی کښې هم دې.

د ابوداود بل حدیث مبارك کښې دی چه کله تا خپل سپې دالله ﷻ نوم سره پریښودې وی نو ته د هغه ښکار خوړلې شې.اگر چه دی سپی هغې نه څه خوراك کړې وی،اوستا لاس چه کوم یو ښکار ستا دپاره راوړې وی نو ته هغه هم خوړلې شې .(٢) ددې دواړو احادیثو سندونه ډیر زیات اعلی او بهتر دی .اویو حدیث مبارك کښې دی چه ستا تربیت یافته سپې چه ستا دپاره کوم ښکار راوړی نو ته هغه خوړلې شې .حضرت عدی ﷺ تپوس اوکړو اگر چه دې نه هغه څه خوړلی وی ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بیا هم.نود دې آثارو او احادیثو نه ثابتیږی اگر چه ښکاری سپې د دې نه څه خوراك کړې وی.نو دا باقی ښکار ښکاری خوړلې شی.دسپی وغیره ښکار ته د حرام نه ویونکو دا دلائل دی.

دریم درمیانی مذهب:- یوبل جماعت ددې دواړو جماعتونو مینځ کښې دې.هغوئ وائی که ښکار کولو سره دې کیناستو او دائې خوړل شروع کړو نو باقی حرام شو اوکه ښکار نیولو نه پس نې د خپل مالك انتظار اوکړو او د ډیروخت تیریدو نه پس نې خپل مالك اونه موندو او د اولږې په وجه ده هغه ښکار

---

(١) ابوداود کتاب الصید باب فی الصید:٢٨٥٧، وسنده حسن دارقطنی:٤/٢٩٣.

(٢) ددې تخریج آیت نمبر ٤ کښې تیر شوې دې.

اوخوړلو نو باقی حلال دي..د حضرت عدی ﷺ حدیث مبارك په رومبئ خبره باندې محمول دی او ابو د ثعلبه حدیث مبارك په دویمه خبره محمول دي.دا فرق ډیر ښه دي .اوپه دي سرع دوه قسمه صحیح احادیث مبارك جمع کیږی.استاد ابوالمعالی جوینی رحمه الله په خپل کتاب نهایه کښې دا خواهش کړې وو چه کاش په دې کښې څوك تفصیل اوکړی.نوالحمد لله دا تفصیل خلقو اوکړو.

څلورم قول:- په دې مسئله کښې څلورم قول هم دي.هغه دا چه د سپی ښکار شوې ښکار خو حرام لکه څنګه چه حضرت عدی ﷺ والا حدیث مبارك کښې دی .او د شکری وغیره ښکار حرام نه دي ځکه چه هغه خوراك سره تعلیم قبلوی .

حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی که مارغان خپل مالك ته راواپس شی او وژلې نې نه دې بیا راغلو او ددې وزرې نې اوخوړلې اوددې نه نې غوښه اوخوړله.نو ته نې خوره د حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله،حضرت شعبی رحمه الله،حماد بن ابی سلیمان رحمه الله نه هم دا نقل دی.

د هغوئ دلیل د حضرت ابن ابی حاتم والا حدیث مبارك دې چه حضرت عدی ﷺ د نبی کریم ﷺ نه تپوس اوکړو خلق سپو او بازونو سره ښکار کوی نو آیا دا ځمونږ دپاره حلال دی که نه ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم ښکاری ځناور ښکار حاصلولو والا تربیت یافته وی اوهغه ستادپاره ښکار راونیسی او تا په هغې دالله تعالی نوم اخستې وی نو ته هغه خوړلې شې.بیا نې اوفرمائیل چه تا کوم یو سپې دالله تعالی نوم سره پریښودې وی او هغه یو ځناور راونیسی نو ته هغه خوره. ما اووئیل که هغه نې وژلې وی.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل اګر چه وژلې نې وی.خو دا شرط دې چه د دې نه نې خوراك نه وی کړې.ما اووئیل که چرې دې سپې سره نور سپی هم یوخاني شوی وی نوبیا ؟ نو وې فرمائیل چه بیا دا مه خوره ترکومې چه تاته د دې پوره اطمینان اونشی چه دا ستا سپی ښکار کړې دې ما اووئیل چه مونږ خلق غشو سره هم ښکار کوؤ دې کښې کوم یو حلال دې ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم یو غشئ زخم جوړ کړی او تا په هغې د الله تعالی نوم اخستې وی نو هغه خوره. د دلالت وجه دا ده چه سپی کښې د خوراك شرط دوی بیان کړو او باز کښې نې بیان نه کړو.نو دې دواړو کښې فرق ثابت شو. والله اعلم.

قوله تعالی::وَاذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهِ

د ښکاری سپی پریخودو په وخت کښې بسم الله وئیل:- الله ﷻ فرمانی چه تاسو خورنی چه کوم حلال ځناور تاسو لره راونیسی.او تاسود دوی د پریښودو په وخت کښې د الله ﷻ نوم اخستې وی.لکه څنګه چه د حضرت عدی ﷺ او حضرت ثعلبه والا حدیث مبارك کښې دی.په دې وجه حضرت امام احمد رحمه الله وغیره امامانو دا شرط لګولې دې چه د ښکاری دپاره د سپی دپریښود په وخت کښې او د غشی ویشتلو په وخت کښې ﴿بِسْمِ اللَّهِ﴾ ونیل شرط دی .د جمهور مشهور مذهب هم دا دې چه ددې حدیث مبارك نه مراد د ځناور د پریښودو وخت دې.

د ښکاری سپی پریخودو په وخت کښې بسم الله هیریدل:- حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه د خپل ښکاری ځناور پریښودو په وخت کښې ﴿بِسْمِ اللَّهِ﴾ وائې.خوکه هیره شی نو هیڅ باك نشته دې .([1])

بعضې خلق وائی چه د مرداري خوراك په وخت کښې ﴿بِسْمِ اللَّهِ﴾ وئیل پکاردی لکه څنګه چه بخاری شریف اومسلم شریف کښې حضرت عمر بن ابوسلمه ﷺ نه د نبی کریم ﷺ فرمان دې چه دالله ﷻ نوم واخله او خپل ښی لاس سره د خپلې مخې نه خوره.([2])

---

[1]) الطبری :٥٧١/٩.

[2]) صحیح بخاری کتاب الاطعمة باب التسمیة علی الطعام والاکل بالیمین:٥٣٧٦، صحیح مسلم:٢٠٢٢، ترمذی:١٨٥٧.

Scanned with Ca

د نو مسلم مسلمان د مذبوحې حکم:- صحیح بخاری شریف کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها نه حدیث مروی دې چه څه نوی مسلمانان مونږ لره غوښه راوړی اومونږ ته د دې علم نه وی چه په دې نې د الله تعالی نوم اخستې دی اوکه نه ؟ نو مونږ دا خورو او که نه ؟ نو.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسو پخپله د الله ﷻ نوم واخلئ اودا خورئی.

د خوراک په اول کښې بسم الله هیریدل:- مسند کښې دی چه نبی کریم ﷺ شپږو صحابه کرام رضی الله عنهم سره خوراک کولواودې کښې یو باندیچی راغلو او د دې نه نې دوه نمرئی اوچتې کړې.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل که ده ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ وئیلې وې نو دا خوراک به ستاسو ټولو دپاره کافی وو. تاسوکښې چه څوک هم خوراک دپاره کینی نو ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ ضرور وائې.که اول کښې هیره شی اوبیا درته یاده شی نو ﴿بِسْمِ اللهِ اوله واخره﴾ وایه (١). هم دا حدیث منقطع سند سره ابن ماجه کښې هم دې (٢). بل سند سره دا حدیث مبارک ترمذی ،نسائی او مسنداحمد کښې دې او امام ترمذی رحمه الله دې ته حسن وئیلې دې (٣).

جابربن صبح رحمه الله فرمائی چه ما حضرت مثنی بن عبدالرحمان سره یو سفراوکړو. د هغه دا عادت وو چه خوراک شروع کولو نه اول کښې به نې ﴿بِسْمِ اللهِ﴾ وئیله او آخری نمرئی سره به نې ﴿بِسْمِ اللهِ اوله واخره﴾ وئیل.ما ترې د دې باره کښې تپوس اوکړو نو هغه راته د امیه بن مخشی رضی الله عنه حدیث بیان کړو چه نبی کریم ﷺ یو کس اولیدو چه هغه شروع کښې بسم الله اونه وئیل،تردې چه هغه آخرته اورسیدواو وې وئیل بسم الله اوله واخره.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په الله قسم شیطان ده سره خوراک کولو ترکومې چه ده بسم الله نه وه وئیلې،ده چه کله بسم الله اووئیله نو شیطان هغه خوراک قې کړو او ټول خوراک نې خپلې خیټې نه بهر کړو.(٤) (مسنداحمد ،ابوداود).

په خوراک کښې د شیطان شرکت کول:- حضرت حذیفه رضی الله عنه فرمائی چه مونږ نبی کریم ﷺ سره خوراک کولو چه په دې کښې یو جینئ په پریوتو پریوتو راغله لکه چه څوک ورته دیکې ورکوی.او چه څنګه راغله نو هغې نمرئی اوچتوله نو نبی کریم ﷺ د هغې لاس اونیولو او یو اعرابی هم دغه شان راغلو او پیاله کښې نې لاس دننه کړو،نو نبی کریم ﷺ د هغه لاس هم اونیولو او وې فرمائیل چه کله یو کس بغیر بسم الله نه خوراک کوی نو شیطان هغه خوراک خپل ځان دپاره حلالوی.هغه خو رومبې دې جینئ سره راغلو خو ما د هغه لاس اونیولو اوبیا دې باندیچی سره راغلو خو ما د هغه لاس هم اونیولو.په هغه الله مې دې قسم وی چه د چا په قبضه کښې ځما ساه ده چه د شیطان لاس ځما لاس کښې د دې دواړو لاسونو مینځ کښې وو.(٥) (مسلم ابو داؤد ،نسائی).

کورته د داخلیدو په وخت بسم الله وئیل:- مسلم ابو داؤد، نسائی او ابن ماجه کښې دی چه کله انسان خپل کور نه خې او یا خوراک کوی اود الله ﷻ نوم واخلی نو شیطان وانی چه ائې شیطانانو انه خو ستاسو دپاره د شپې تیرولو ځائې شته دې اونه د شپې خوراک،اوکله چه دې خپل کور ته خې او بسم الله اونه وانی نو شیطان وانی چا تاسو د شپې تیرولو اود شپې د خوراک کولو ځائې بیاموندو.(٦)

---

١) صحیح بخاری کتاب الذبائح والصید باب ذبیحة الاعراب ونحوهم:٥٥٠٧، ابوداود:٢٨٢٩، ابن ماجه:٣١٧٤.

٢) احمد:١٤٣/٦، وسنده ضعیف،وهو صحیح بالشواهد، دارمی :٢٠٢٠، ابن حبان:٥٢١٤، داروایت بشواهد حسن دې.

٣) ابوداود کتاب الاطعمة: باب التسمیة علی الطعام:٣٧٦٧، وسنده صحیح ترمذی:١٨٥٨.

٤) احمد:٣٣٦/٤، ابوداود کتاب الاطعمة: باب التسمیة علی الطعام:٣٧٦٨، وسنده حسن عمل الیوم واللیلة:٢٨٢.

٥) احمد:٣٨٣/٥، صحیح مسلم: کتاب الاشربة باب آداب الطعام والشراب واحکامها:٢٠١٧. ابوداود: ٣٧٦٦.

٦) صحیح مسلم حواله سابق: ٢٠١٨، ابوداود:٣٧٦٥، ابن ماجه:٣٨٨٧، احمد:٣٨٣/٣، عمل الیوم واللیلة:١٧٨ ابن حبان:٨١٩.

Scanned with Ca

په ګډه خوراک کولو کښې برکت:- ابوداود او ابن ماجه کښې دی چه یو سړی د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او شکایت ئې اوکړو چه کله مونږ خوراک کوؤ نو مونږ نه مړیږو، نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمانیل چه تاسو به بیل بیل خوراک کوئی. تاسو په ګډه خوراک کوئی او بسم الله وائی. په دې کښې به دالله ﷻ د طرفنه برکت اچولې شی (١).

اَلْيَوْمَ	اُحِلَّ	لَكُمُ	الطَّيِّبٰتُ ؕ	وَطَعَامُ
ننورځ	احلال کړې شوی دی	دپاره ستاسو	ټول پاک څیزونه	اوخوراک
ننورځ تاسودپاره ټول پاکیزه څیزونه حلال کړې شو				.....او د
الَّذِيْنَ	اُوْتُوا الْكِتٰبَ	حِلٌّ	لَّكُمْ ۖ	وَطَعَامُكُمْ
دهغه کسانو	چې ورکړې شوې دي کتاب	حلال دي	ستاسودپاره	اوخوراک ستاسو
اهل کتابوخوراک ستاسودپاره حلال دي		اوستاحوراک د هغوئ دپاره جائز دي		
حِلٌّ	لَّهُمْ ۪	وَالْمُحْصَنٰتُ	مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ	وَالْمُحْصَنٰتُ
حلال دي	دپاره دهغوئ	او پاکدامنې ښځې	د مومنانو نه	او پاکدامنې ښځې
اوپاکدامنې مسلمانانې ښځې ستاسو دپاره حلالې دی				.....او پاکدامنې ښځې د
مِنَ الَّذِيْنَ	اُوْتُوا الْكِتٰبَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	اِذَآ	
دهغه کسانونه	چې ورکړې شوې دي ورته کتاب	مخکښې ستاسو نه	هرکله چې	
هغه کسانو نه چې ستاسو نه وړاندې ورته کتاب ورکړې شوې دي			هله	
اٰتَيْتُمُوْهُنَّ	اُجُوْرَهُنَّ	مُحْصِنِيْنَ		
ورکړئ تاسوهغوئ ته	مهرونه دهغوئ	چې نکاح کونکی یئ		
چې تاسوورته مهرونه ورکړئ	اودنکاح په بند کښې ئې راګیر کړئ	ستاسودپاره په نکاح کولوسره حلالې دی		
غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ	وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ؕ	وَمَنْ يَّكْفُرْ		
نه چې شهوت پوره کونکی یئ په زنانه سره	اونه نیونکی یئ دپټې یارانې	اوچا چې انکار اوکړو		
دانه چې ښکاره زنا ورسره کوئ	یا ورسره پټې پټې یارانې ساتئ	.....اوچا چې د		
بِالْاِيْمَانِ	فَقَدْ حَبِطَ	عَمَلُهٗ ۫	وَهُوَ	فِي الْاٰخِرَةِ
د ایمان	نو ضائع شو	عمل د هغه	او هغه به	په آخرت کښې وی
ایمان راوړلو نه پس کفراوکړو	نویقینا دهغه عملونه ضائع شو	اوهغه به په آخرت کښې		
مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝٥ ع				
د تاوانیانو نه				
د تاوانیانو نه وی				

(١) احمد:٣/٥٠١، ابوداود: كتاب الاطعمة: باب الاجتماع على الطعام:٣٧٦٤.

Scanned with Ca

اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ

دپاکوشیزونو حلت :دحلال اوحرام دبیان نه پس په طوردخلاصه بیان فرمائی چه ټول پاك شیزونه حلال دی

وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ۖ

د اهل کتابو د ذبیحې حکم:- بیا دیهود او نصرانیانو د ذبح شوی ځناور حلت بیان فرمائی.حضرت ابن عباس ﷺ،حضرت ابو امامه رحمۃ اللہ علیہ،حضرت مجاهد رحمۃ اللہ علیہ،حضرت سعید بن جبیر رحمۃ اللہ علیہ،حضرت عکرمه رحمۃ اللہ علیہ،حضرت حسن رحمۃ اللہ علیہ،حضرت مکحول رحمۃ اللہ علیہ،حضرت ابراهیم نخعی رحمۃ اللہ علیہ،حضرت سدی رحمۃ اللہ علیہ،حضرت مقاتل بن حبان رحمۃ اللہ علیہ دا ټول هم دا وائی چه د طعام نه مراد د دوی خپل لاس سره ذبح شوې ځناور دي.او د هغې خوراك مسلمانانو دپاره حلال دي او د عالمانو په دې اجماع ده چه د هغوئ ذبیحه خمونږ دپاره حلاله ده. ځکه چه هغوئ هم غیرالله دپاره ذبح ناروا ګڼری.اود ذبح کولو په وخت کښې دالله ﷻ نه سوا د بل چا نوم نه اخلی .اګر چه د هغوئ عقیدې د الله ﷻ په نیز باطلې او سراسر غلطې دی .او د هغې نه الله ﷻ پاك اومنزه دي.

د اهل کتابود وازګې حکم:- صحیح حدیث کښې د حضرت عبدالله بن مغفل ﷺ بیان دې چه ما ته په جنګ خیبر کښې د وازګه نه ډك یو مشك ملاؤ شو ،ما دا قبضه کښې واخستو او ما اوئیل چه ددې نه به نن هیچا ته څه نه ورکوم.ما چه کله یو خوا بل خوا نظر واچول نو نبی کریم ﷺ ماسره خوا کښې ولاړ وواوخندل ئې(١) ددې حدیث مبارك نه دا هم استدلال کولې شی چه د مال غنیمت نه د خوراك څکاك څیز نه د تقسیم نه مخکښې اخستل جائز دی.اودا استدلال د دې حدیث مبارك نه صفابښکاره دي .د دریو وارو مذهبونو فقهاء کرامو په مالکیانو باندې خپل دا سند پیش کړې دې. او وئیلی ئې دی چه تاسو خو دا وائې چه داهل کتاب صرف هغه خوراك په مونږ حلال دې چه کوم د هغوئ دپاره حلال دې،دا غلط دی.تاسو اوګورئی چه یهودیانو به چربئ ته حرامه وئیلې او مسلمانان دا خوری .خو دا د یو سړی واقعه ده خو دې سره دا هم کیدیشی چه دا چربی چه کومې ته یهود حرامه وائی یعنی د ملا چربی،کولمو سره لګیدلې چربی ،اوهډوکی سره لګیدلې چربی.وی

دیهودو وریته شوې چیلئ نبی کریم ﷺ خوری:- ددې نه هم زیات دلالت والا هغه حدیث مبارك دې چه د خیبر والو نبی کریم ﷺ ته یوه ورته شوې چیلئ تحفه کښې ورکړه. او هغوئ ددې د شا غوښه زهر آلوده کړې وه.اوهغوئ ته معلوم وو چه نبی کریم ﷺ د شا غوښه خوښوی .هرکله چه نبی کریم ﷺ هغه د شا غوښه خپلو غاښونومبارکو کښې اونیوله نو هغه غوښې پخپله اووئیل چه ما کښې زهردی .نو نبی کریم ﷺ هغه زر توکړه او د هغې زهرو اثردنبی کریم ﷺ مخکښې غاښونو کښې پاتې شو.نبی کریم ﷺ سره بشر بن براء ﷺ هم وو چه د دې اثر په وجه ددې فانی دنیا نه لاړو. اود هغه په قصاص کښې هغه ښځه قتل کړې شوه چه کومې په دې کښې زهر ګډ کړی وو. د هغې نوم زینب وو.(٢) د دلالت وجه دا ده چه نبی کریم ﷺ خپلو ملګرو سره ددې غوښه خوړلو پخه اراده کړې وه. اودا تپوس ئې نه وو کړې چه د دې کومه چربی تاسو حرامه ګڼرئی هغه مو اوښکلې ده که نه.

د یهودی د وازګې حکم:- اوپه حدیث مبارك کښې دی چه یو یهودی د نبی کریم ﷺ خدمت اقدس کښې د اوربشو روټئ او زړه اوچه چربی پیش کړه .(٣)

---

(١) صحیح بخاری کتاب کتاب فرض الخمس باب ما یصیب من الطعام فی ارض الحرب :٣١٥٣، بدون (تبسم) صحیح مسلم:١٧٧٢، ابوداود:٢٧٠٢.

(٢) صحیح بخاری کتاب الهبة یا قبول الهدیة من المشرکین:٢٦١٧، صحیح مسلم:٢١٩٠، مختصرا ابوداود:٤٥٠٨.

(٣) احمد:٣/٢١٠، صحیح بخاری کتاب البیوع باب شراء النبی ﷺ بالنسیئة:٢٠٦٩، بدون ذکر الیهودی

Scanned with Ca

یو ضعیف قول:- حضرت مکحول رحمه الله فرمائی چه په کوم څیز د الله تعالی نوم وانخستې شی نو د هغې خوراك حرام کیدو نه پس الله ﷻ په مسلمانانو رحم اوکړو او دا ئې منسوخ کړل او داهل کتابو ذبح شوی ځناور ئې حلال اوګرځول. د ا یاد ساتئ چه د اهل کتابو ذبیحه حلالیدو سره دا ثابت نه ده چه په کوم ځناور د الله ﷻ نوم وانخستې شی نو هغه دې حلال وی.ځکه چه هغوئ په خپلو ذبیحو د الله ﷻ نوم اخستو. خو مشرکانو چه به کومه غوښه خوړله هغه به نې په ذبیحه نه موقوف کوله. بلکه مړ ځناور به نې هم خوړل. په خلاف داهل کتابو.

دغه شان سامره ، صائبه ، او د ابراهیم او شیث وغیره پیغمبرانو د دین مدعیانو حکم دې لکه ځنګه چه د عالمانو د دوو ډلو نه د یوې ډلې قول دې دغه شان د عربو نصرانیان لکه بنو تغلب،تنوخ بهرا،جذام،لخم،عامله او د دې په شان نور د جمهورو په نیز ددوی دلاس ذبیحه به نه شی خوړلې.

حضرت علی ﷺ فرمائی چه د بنو تغلب د لاس ذبح شوې غوښه مه خورئی ،ځکه چه هغوئ خو په نصرانیت کښې سوا د شرابو نه بل څیز نه وو اخستې.خو سعید بن مسیب او حسن رحمه الله د بنو تغلب دلاس ذبیحه خوړلوکښې هیڅ باك نه ګڼلو.

د مجوسیانو د ذبیحې حکم:- باقی پاتې شو مجوسیان نو اګر چه ددوی نه جزیه اخستې شوې ده.ځکه چه دوی دې مسئله کښې یهودیانو او نصرانیانو سره یو شان کړې دی .او د هغوئ تابع کړې شوی دی .خود دوی ښځو سره نکاح کول او د دوی دلاس ذبیحه خوړل ممنوع ده.

دابوثور رحمه الله د حلت قول:- خو ابو ثور رحمه الله او ابراهیم بن خالد کلبی رحمه الله چه دوی د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله ملګری وو ،ددې خلاف دی .هرکله چه هغوئ دا قول اوکړل (چې د مجوسیانو ذبیحه حلاله ده) نو نورو خلقو کښې ددې شهرت اوشو.

د دې قول تردید:- نو فقهاء کرامو د دې قول سخت تردید اوکړو.تردې چه حضرت امام احمدا بن حنبل خو اووئیل چه ابوثور خو په دې مسئله د خپل نوم په شان دې.یعنی دغونی پلار .ابوثور به د یوحدیث عموم مخکښې اینبودې وی او دا مسئله به ئې وئیله په هغې کښې دی چه مجوسیانو سره د اهل کتابو پشان سلوك کوئی .([1]) اول خو دا روایت دې الفاظو سره ثابت نه دې.بل دا چه دا روایت مرسل دې خو صحیح بخاری کښې صرف دومره دی چه د هجر مجوسیانو نه نبی کریم ﷺ جزیه واخسته .([2]) ددې ټولو نه علاوه مونږ وایو چه د ابو ثور پیش شوې حدیث که مونږ صحیح اومنو نو بیا هم مونږ وئیلې شو چه د دې په عموم سره هم په دلیل د مفهوم مخالف کوم چې د دې ایت نه معلومیږی داهل کتابو نه سوا د نورو دین والو ذبیحه زمونږ دپاره حرامه ثابت شوې ده.

قوله تعالی:: وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ

د مسلمانانو ذبیحه د اهل کتابو دپاره حلاله ده:- بیا فرمائی چه ستاسو ذبیحه د هغوئ دپاره حلال ده.یعنی تاسو هغوئ ته خپله ذبیحه ورکولې شئ.دا د دې خبرې امر نه دې چه د دوی په دین کښې ستاسو ذبیحه حلاله ده. خو زیات نه زیات دومره وئیلې شی چه دا د دې خبرې خبردې چه هغوئ ته هم د هغوئ په کتاب کښې د دې حکم ورکړې شوې دې چه دکوم ځناور ذبح د الله ﷻ په نوم وی نوهغه خورئی.عام ددې نه چه د ذبح کونکې هم د دوی نه وی یا د دوی نه سوا بل څوك وی خو زیاته ظاهره خبره رومبئ ده.یعنی دا چه تاسو ته اجازت دې چه تاسو په دوی خپلې ذبیحې اوخورئی.لکه څنګه چه تاسو د هغوئ د لاس ذبیحې خورئی .دا به داسې وی لکه د بدل په طور.لکه څنګه چه نبی کریم ﷺ

---

[1]) مؤطاامام مالک:۲۷۸/۱ وسنده ضعیف وللحدیث شواهد بیهقی :۱۸۹/۹.

[2])صحیح بخاری کتاب الجزیة والموداعة: باب الجزیة والموادعة مع اهل الذمة الحرب:۳۱۵۷، ابوداود:۳۰٤۳، ترمذی:۱۵۸۷.

Scanned with Ca

عبدالله بن سلول منافق په خپل قمیص مبارک کښې په کفن کړې وو. او ددې وجه بعضو حضراتو دا وئیلې ده چه هغه د نبی کریم ﷺ تره حضرت عباس ﷺ ته خپل قمیض ورکړې وو. کله چه مدینې ته راغلو نو دوی ئې بدل خلاص کړو.(١) خو یو حدیث مبارک کښې دی چه د مومنانو نه سوا د نورو سره ناسته پاسته مه کوئی او نه دې ستاسو نه څوک خوراک اوکړی سوا پرهیزګارو خلقو نه (٢). نو دا دې د دې بدل اونه ګنړلې شی .(لکه څنګه چه نبی کریم ﷺ د ابی بن سلول ته خپل قمیص ورکړو خکه چه هغه امیرحمزه ﷺ ته کفن ورکړې وو او نبی کریم ﷺ دهغه بدل خلاص کړې ووبلکه ، کیدیشی چه دا حدیث مبارک د استحبابی حکم او افضیلت په طور سره وی، والله اعلم.

قوله تعالی:: وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ

د اهل کتابو پاکدامنو سره د نکاح حکم: بیا ارشاد دې چه پاکومومنانو ښځوسره نکاح کوئی ،اودا ستاسو دپاره حلال کړې شوی دی.دا په طور د تمهید دې ځکه چه د دې نه پس فرمانی چه ستاسو نه مخکښې چاته کتاب ورکړې شوې وو په هغوئ کښې عفیفه ښځوسره نکاح کول ستاسو دپاره حلال دی .

د محصنات نه ازادې ښځې مراد اخستل:- دا قول هم دې چه د محصنات نه مراد آزادې ښځې دی .یعنی وینځې نه وی .دا قول حضرت مجاهد رحمه الله طرفته منسوب دې او د حضرت مجاهد رحمه الله الفاظ دادی چه د محصنات نه مراد حرائردی .او هرکله چه داسې دی نوچرته چه د دوی د قول نه دا مطلب اخستې شی چه وینځې د دې نه خارج دی

دمحصنات نه د پاکدامنو ښځو کیدلو ترجیح:- نو هلته دا معنی هم اخستې شی چه پاکدامنې حیا والا.لکه څنګه چه دوی نه بل روایت کښې هم دا الفاظ نقل دی.(چې په ایت کښې د محصنات نه پاکدامنې ښځې مراد دی ازمترجم) جمهور هم دا وائی او هم دا صحیح دی.هسې نه ذمی کیدو سره غیر عفیفه هم شاملې شی او د فساد باعث جوړ شی.او د دې خاوند فضول او خراب شی.نو په ظاهره دا معلومیږی چه د محصنات نه مراد دلته حیاء والا او بدکارئی نه بچ شوې اخستې شی.لکه څنګه چه بل آیت مبارک کښې دی چه ﴿غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ﴾ د علماء او مفسرینو په دې کښې اختلاف دې چې آیا دا آیت هرې عفیفه کتابیه ښځې شامل دې ؟ که هغه آزاده وی اوکه وینځه وی ؟ ابن جریر رحمه الله د سلفو یو جماعت نه دا نقل کړی دی .اوهغوئ وائی چه ﴿الْمُحْصَنٰتُ﴾ نه مراد پاک دامنې دی،یو قول کښې دا هم دی چه د اهل کتابو نه مراد اسرائیلی ښځې دی .دامام شافعی رحمه الله هم دا قول دې.

د محصنات نه ذمی ښځې مراد کیدل:- اودا هم وئیلې شوی دی چه د دې نه مرادې ذمی ښځې دی سوا د آزادو ښځو نه .او دلیل دا آیت مبارک دې چه ﴿قَاتِلُوا الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ﴾ یعنی تاسو هغوی سره جنګ کوئی چه کوم په الله ﷻ او په ورځ د قیامت ایمان نه ساتی.نوعبدالله بن عمر ﷺ به نصرانی ښځو سره نکاح کول جائز نه ګنړل .اودا به ئې فرمائیل چه د دې نه به لوئې شرک بل کوم یو وی چه دا وائی چه د دې رب عیسی علیه السلام دی(٣)او په دې وجه دا مشرکانې دی اونص قران کښې موجود دی چه ﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ﴾ یعنی مشرکو ښځو سره نکاح مه کوئی تر کومې چه دوی ایمان راوړی،

مشرکانو سره د نکاح حرمت حکم نزول تاریخ:- ابن ابی حاتم کښې د حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه کله مشرکو ښځو سره د نکاح نه کولو حکم نازل شو نو صحابه کرام د دوی نه روستو شو ،تردې چه

---

١) صحیح بخاری کتاب الجنائز هل یخرج المیت من القبر واللحد: ١٣٥٠، صحیح مسلم:٢٧٧٣.

٢) ابوداود کتاب الادب باب من یؤمر ان یجالس: ٤٨٣٢، وسنده صحیح.

٣) صحیح بخاری کتاب الطلاق باب قول الله تعالی(ولاتنکحوا المشرکات حتی یؤمن ولا مة مؤمنة.....) ٥٢٨٥.

Scanned with Ca

د دې نه پس والا آیت مبارک کښې د اهل کتابو پاکو ښځو سره د نکاح کولو اجازت ملاؤ شو. نو صحابه کرامو ﷺم اهل کتابو ښځوسره نکاح کول شروع کړل او د صحابه کرامو د یو جماعت نه داسې نکاح هم د دې آیت مبارک په بنیاد باندې ثابته شوې ده .نوګویا چه مخکښې د سورة بقره آیت کښې ممانعت وو خو دویم آیت مبارک دا مخصوص کړل.دا به په هغه وخت کښې منلې کیږی چه کله د ممانعت والا آیت مبارک حکم کښې دوی هم داخل وو.ګنی دې دواړو آیتونوکښې هیڅ معاوضه نشته دې. خکه چه نور هم په ډیرو آیتونو کښې نې دوی د عامو مشرکینو جدا بل بیان کړی دی.لکه چه یو آیت مبارک کښې دې چه ﴿لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ او ﴿وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَالْأُمِّيِّينَ﴾

قوله تعالی::إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ

اهل کتابو ښځوته مهر ورکول:- بیا فرمائی چه کله تاسو دوی ته د دوی مقرر مهر ورکړئی او خپل نفس بچ کړئی او تاسو د دوی مهر ادا کولو والا یئ.حضرت جابر بن عبدالله،حضرت عامر شعبی رحمه الله ، حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله ،اوحضرت حسن بصری رحمه الله نه همدا فتوی ده چه کله یو سړی یو ښځې سره نکاح اوکړه او د دخول نه مخکښې دې بدکاری اوکړه نو ښځه خاوند به جدا کولې شی.او چه کوم مهر خاوند ښځې ته ورکړې وو هغه به واپس اخستې شی.(ابن جریر).

مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِي أَخْدَانٍ

د سړو د پاکدامنئ شرط:- بیا فرمائی چه تاسو پاک دامن او حیادار اوسئ او په بدکاره او پټ بدکاره کیږئی مه .د ښځودپاره چې ئې څنګه د پاکدامنئ او عفیفه کیدو شرط لګولې وو،سړو دپاره هم ئې اولګولو.اودې سره ئې دا هم اوفرمائیل هغوئ بدکاره بدکار نه وی.چه یو خوا بل خوا بدکارئی کښې ځړیږی .اونه داسې وی چه خاص تعلق سره بدکاری کوی .په سورة نساء کښې هم داسې تیر شوی دی.

دزناکار سړی سره د پاکدامنې د نکاح حکم:- حضرت امام احمد رحمه الله هم دې طرفته دې چه زانیه ښځې سره دیو نیک سړی نکاح جائز نه ده.او هم دا حکم د دوی په نیز دیو سړی هم دې چه د بدکاره سړو نکاح نیکو ښځوسره جائز نه ده .ترکومې چه هغوئ ریښتونې توبه اونه باسی .اود دې رذیل کار نه منع نشی .او ددوی دلیل هغه حدیث پاک دې چې په هغې کښې دی چې کوم زانی په کوړو وهلې شوې وی نو هغه خپل ځان پشان ښځې سره نکاح کولې شی (١).

د حضرت عمر ﷺ ارارده:- حضرت عمرفاروق ﷺ یو ځل اوفرمائیل ځما اراده ده چه کوم مسلمان بدکاری اوکړی نو څه د هغه نکاح یو پاکدامنې ښځې سره اونکړم. په دې حضرت ابی بن کعب ﷺ عرض اوکړو چه ئې امیر المومنین ! شرک د دې نه ډیر زیات لوئې دې د دې باوجود بیا هم د مشرک توبه قبوله ده .دا مسئله به مونږ د آیت ﴿الزَّانِي لَا يَنكِحُ إِلَّا زَانِيَةً﴾ په تفسیر کښې پوره بیان سره ذکر کوو. انشاء الله.

قوله تعالی::وَمَن يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ

د مرتد د اعمالو ضائع کیدل:- د آیت په خاتمه کښې د کافرانود اعمالو د تباهئ بیان دې او دا چې هغوئ په آخرت کښې نقصان موندونکی دی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	إِذَا	قُمْتُمْ
ائې هغه کسانو	چې ایمان موراوړې دې	کله چې	اودریږې تاسو
ائې دایمان خاوندانو!	کله چې تاسو مونځ ته	اودریږئ (یعنی د مانځه اراده اوکړئ)	

(١) ابوداود کتاب النکاح باب فی قوله تعالی (الزانی لا ینکحها الا زانی):٢٠٥٢، وسنده صحیح،احمد:٢/٣٢٤.مشکل الآثار:٤٥٤٨.

اِلَى الصَّلٰوةِ	فَاغْسِلُوْا	وُجُوْهَكُمْ	وَاَيْدِيَكُمْ	اِلَى الْمَرَافِقِ
مانخه ته	نواووینځی	مخونه خپل	اولاسونه خپل	دځنګلوپوري
نو خپل مخونه اووینځئ	..... او خپل لاسونه ترځنګلو پوري اووینځئ			
وَامْسَحُوْا	بِرُءُوْسِكُمْ	وَاَرْجُلَكُمْ	اِلَى الْكَعْبَيْنِ ط
اومسح اوکړئ	اپه سرونو خپلو	اواووینځی تاسوخپلې پښې	دپرکو پوري
اوپه خپلو سرونوباندې مسح اوکړئ	اوترګیتوپوري خپې اووینځئ		
وَاِنْ	كُنْتُمْ	جُنُبًا	فَاطَّهَّرُوْا ط	وَاِنْ	كُنْتُمْ	مَّرْضٰٓى
او که چرې	وئ تاسو	په جنابت کښې	نو پاکی حاصله کړئ	اوکه چرې	وئ تاسو	بیماران
اوکه په حالت د جنابت کښې یئ	نو خپل ځانونه په بنه شان پاکوئ	..... او که مریضان یئ				
اَوْ عَلٰى سَفَرٍ	اَوْ جَآءَ	اَحَدٌ مِّنْكُمْ	مِّنَ الْغَآئِطِ	اَوْ لٰمَسْتُمُ
یاوئ په سفر کښې	یاراغې	یوله تاسو نه	دبولو نه	یا جماع اوکړئ تاسو
اویاپه سفر کښې یئ	یا په تاسو کښې یوکس لونې اودس ماتې (غټ بولو) ته لاړ شی	یا بنځو سره جماع		
النِّسَآءَ	فَلَمْ تَجِدُوْا	مَآءً	فَتَيَمَّمُوْا	صَعِيْدًا طَيِّبًا	فَامْسَحُوْا
دبنځوسره	اواونه مومئ	اوبه	نو قصد اوکړئ	دخاورې پاکې	نو مسحه اوکړئ
اوکړئ	اوتاسو اوبه بیانه مومئ	نو دپاکې خاورې نه کار واخلئ	..... اود هغې نه په		
بِوُجُوْهِكُمْ	وَاَيْدِيْكُمْ	مِّنْهُ ط	مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ	لِيَجْعَلَ
په مخونو خپلو	او په لاسونو خپلو	دهغې نه	نه غواړی الله	چې مقرر کړی
خپلو مخونواولاسونوباندې مسح اوکړئ	..... الله ﷻ نه غواړئ چې تاسو په			
عَلَيْكُمْ	مِّنْ حَرَجٍ	وَّلٰكِنْ	يُّرِيْدُ	لِيُطَهِّرَكُمْ	وَلِيُتِمَّ
په تاسو	څه تنګی	لیکن	غواړی	چې پاک کړی تاسو	او چې تمام کړی
مشقت کښې واچوی	هغه خودا غواړی چې تاسوپاک کړی	اوچه خپل نعمتونه په تاسو باندې			
نِعْمَتَهٗ	عَلَيْكُمْ	لَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُوْنَ ۝٦
نعمت خپل	اپه تاسو باندې	دپاره ددې چې تاسو	اشکر ګزار جوړشئ
پوره کړی	..... دې دپاره چې تاسو شکر اوباسئ		

قوله تعالی: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ

اودس کله فرض کیږی؟ ①اکثر مفسرینووئیلی دی چه د اودس حکم په هغه وخت کښې دې چه کله سړې بې اودسه وی. ②یو جماعت وائی چه کله تاسو اودریږئ یعنی خوب نه پاسئ. ددې دواړو اقوالو تقریبا یومطلب دې ③او بعضې حضرات وائی چه آیت مبارک عام دې. اوپه خپل عموم باندې به وی. خو چه څوک بې اودسه وی نود هغه دپاره اودس کول واجب دی. او چه څوک اودس کښې وی نو هغه دپاره

Scanned with Ca

اودس کول مستحب دي ④د یوجماعت خیال دي د اسلام شروع کښې د هر مونځ دپاره د اودس کولو حکم وو. خو بیا دا حکم منسوخ شو.

د نبی کریم ﷺ د هر مونځ دپاره اودس کول:- مسنداحمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ به هر مونځ دپاره نوي اودس کولو.د مکي د فتح په ورځ نبی کریم ﷺ اودس اوکړو او په جرابو ئې مسح اوکړه.اوهم په دي یو اودس ئې ډیر مونځونه ادا کړل. دي کتلو سره حضرت عمرفاروق ﷺ اوفرمائیل چه یارسول الله ﷺ! تن خو تاسو هغه کار اوکړو چه د تن نه وراندي مو نه وو کړي.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ما په هیره داسي اونکړل بلکه په قصد سره مي داسي اوکړل .(١)

د نبی کریم ﷺ په یو اودس زیات مونځونه کول:- ابن ماجه وغیره کښې دی چه حضرت جابر بن عبدالله به یو اودس سره ډیر مونځونه کول ،دي کتلو سره حضرت فضیل بن مبشر رحمه الله سوال اوکړو چه آیا دا تاسو خپلې رائې سره کوئې ؟ نو وې فرمائیل چه نه بلکه ما نبی کریم ﷺ په دي کتلي دي (٢).

ابن عمر ﷺ د هر مونځ دپاره اودس کول:- مسند احمد وغیره کښې دی چه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ به هر مونځ دپاره نوي اودس کولو. که اودس به ئې مات شوي وو او که نه. ددوی خوئې حضرت عبیدالله رحمه الله نه سوال اوشو چه د دي سند څه دي ؟ نو وې فرمائیل چه حضرت اسماء بنت زید بن خطاب ونیلی دی .هغې ته حضرت عبدالله بن حنظله ﷺ ونیلی دی چه فرښتو ورته غسل ورکړي وو چه نبی کریم ﷺ به هر مونځ دپاره تازه اودس کول او دا دوی ته حکم شوي وو. که اودس به ئې باقی وو اوکه نه.خوپه دي کښې لږ شان تکلیف وو نو د اودس په ځاني د مسواك کولو حکم اوشو. خو چه کله اودس مات شي نو مونځ دپاره اودس کول ضروری دی .ددي کتلو سره د حضرت عبدالله ﷺ خیال دي چه چونکه په ما کښې قوت دي نو په دي وجه زه د هر مانځه دپاره اودس کوم .تراخره پوري د دوی هم دا حال وو(٣).

ﷺ.ددي یو راوی حضرت محمدبن اسحاق رحمه الله دي خو هغوئ صراحت سره ﴿حدثنا﴾ ونیلی دی پدي وجه د تدلیس ویره هم ختمه شوه. خود ابن عساکر روایت کښې دا الفاظ نشته دي.والله اعلم.

دحضرت عبدالله ﷺ په دي فعل او ددي په همیش والی نه دا ثابتیږی چه مستحب ضرور دی او هم دا مذهب دجمهورو دي.ابن جریرکښې دی چه خلفاء ﷺم به د هرمونځ په وخت کښې اودس کولو. حضرت علی ﷺ به هرمونځ دپاره اودس کولو او دلیل کښې به ئې دا آیت مبارك پیش کولو. یو ځل هغوئ دماسپخین مونځ ادا کړواو بیا د خلقو یو ډلې ته ورغلل،بیا ئې اوبه راغوښتلې او دوی مخ لاس وینځل او بیا ئې په سر مسح اوکړه او پښې ئې وینځلې،او وې فرمائیل چه دا اودس دي د هغه چا چه بې اودسه نه وی .یوځل دوی یو خفیف اودس اوکړو او دائې فرمائیلی وو. حضرت عمر فاروق ﷺ نه هم دغه شان مروی دی.

ابوداؤد طیالسی کښې د حضرت سعید بن مسیب قول دي چه اودس مات شی نو بغیر اودسه پاتې کیدل زیاتي دي ،اول خودا قول د سندلحاظ سره غریب دي او دویم دا چه د دي نه مراد هغه سړي دي چه دي ته واجب وائی او چه څوك دي ته مستحب وائی نو هغه عامل باالحدیث دي.بخاری اوسنن وغیره کښې مروی دی چه حضرت نبی کریم ﷺ به هر مونځ دپاره نوي اودس کولو.یو انصاری دحضرت انس ﷺ نه چه دا واوریدل نو وې وئیل چه تاسو خلقو به څه کول ؟ نو وې فرمائیل چه په یو اودس به مو ډیر مونځونه کول ترکومې چه به اودس مات شوي نه وو(٤).

---

١) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب جواز الصلوات کلها بوضوء واحد :٢٧٧، ترمذی:٦١، ابن ماجه:٥١٠، احمد:٥/٣٥٠.

٢) ابن ماجه: کتاب الطهارة باب الوضوء لکل صلاة والصلوات کلها بوضوء واحد:٥١١.

٣) ابوداود کتاب الطهارة باب السواك :٤٨،وسنده حسن،احمد:٥/٢٢٥.

٤) صحیح بخاری کتاب الوضوء من غیر حدث: ٢١٤، ابوداود :١٧١، ترمذی:٦٠، احمد:٣/١٣٢، ابن ماجه:٥٠٩.

Scanned with Ca

ابن جریر کښې د نبی کریم ﷺ فرمان مروی دې چه کوم کس اودس دپاسه اودس اوکړی نوهغه دپاره لس نیکئ لیکلې کیږی (۱). ترمذی وغیره کښې هم دا حدیث مبارك روایت کړې شوې دې.او امام ترمذی دې ته ضعیف وئیلی دی.

یوه ډله وائی چه د ایت نه صرف دومره مقصود دې چې د بل کار په وخت کښې اودس کول واجب نه دی.صرف مونځ دپاره د دې وجوب دې.دا فرمان په دې وجه دې چه د نبی کریم ﷺ سنت مبارك وو چه د اودس ماتې نه پس به ئې یو کار نه کولو. ترکومې چه به ئې بیا اودس اونکړو. ابن ابی حاتم وغیره کښې یو ضعیف اوغریب روایت دې چه نبی کریم ﷺ به کله د متیازو کولو اراده فرمائیله نو مونږ به دوی ته وئیل خو دوی به هیڅ نه وئیل .مونږ به سلام کولو خو نبی کریم ﷺ به جواب نه راکولو. تردې چه دا آیت مبارك نازل شو.(۲)ابوداؤد کښې دی چه یو ځل نبی کریم ﷺ پاخانې نه راووتلو او نبی کریم ﷺ ته خوراك مخکښې کړې شو نو مونږ ورته اووئیل که تاسو وائې چه مونږ ستاسو دپاره د اودس اوبه راوړو. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د اودس کولو حکم خو ماته صرف مونځ دپاره دې(۳)امام ترمذی رحمه الله دې حدیث ته حسن وائی.او یو روایت کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل څه خو څه مونځ نه کوم چه اودس اوکړم .(۴)

چې اودس وی نو د هرمانځه دپاره اودس فرض نه دې

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز هم په یو اودس باندې زیات مونځونه کولی شی ترڅو چې بې اودسه شوې نه وی اود هرمانځه دپاره اودس کول اگرچه اودس ئې وی دا استحبابی خبره ده واجب نه ده (درس ترمذی لشیخ الاسلام مفتی تقی عثمانی مدظله العالی (۲۲۴\۱)-

د آیت مبارك دا الفاظ چه کله تاسو مونځ دپاره اراده اوکړئی نو اودس کوئی.ددې نه د علماء کرامو یو جماعت دا استدلال کړې دې چه په اودس کښې نیت واجب دې .د کلام مطلب دادې چه مونځ دپاره اودس کوئی لکه چه عرب وائی چه کله ته امیر اوگورې نوپاسه اودریږه.نوددې مطلب دا دې چه امیردپاره اودریږه.د بخاری اومسلم یوحدیث مبارك کښې دی چه داعمالو دارومدار په نیت دې اوهرسړی دپاره هغه دی چه د کوم دې نیت اوکړی .(۵)

په اودس کښې نیت شرط نه دې

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز د اودس دپاره نیت کول سنت دې واجب نه دې ځکه چه اوبه پخپله پاکونکی دی که څوك د پاکولو نیت کوی او که نه کوی (کذا فی عامة المتون شاه فیصل غفرله)-

د اودس کولو نه مخکښې بسم الله وئیل مستحب دی.ځکه چه یو مضبوط او صحیح حدیث مبارك کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د هغه سړی اودس ندې شوې چه څوك د اودس په شروع کښې بسم الله اونه وائی .(۶)

د اودس نه وړاندې بسم الله وئیل سنت ده فرض نه ده

مسلک حنفی:- احناف وائی چه د اودس نه وړاندې بسم الله وئیل سنت ده او په پورتنی حدیث کښې چې دا راغلی دی چه دده اودس اونشو نه د دې مطلب دا دې چه کامل اودس ئې اونشو هغه اودس ئې اونه شو

---

۱) ابوداود کتاب الطهارة باب الرجل یجدد الوضوء من غیر حدث:٦٢، ترمذی:٥٩.
۲) الطبری
۳) ابوداود کتاب الاطعمة باب فی غسل الیدین عند الطعام:٣٧٦٠، وسنده صحیح .
٤) صحیح مسلم کتاب الحیض باب جواز اکل المحدث الطعام:٣٧٤، احمد:٢٢٢/١.
٥) صحیح بخاری کتاب بدء الوحی باب کیف کان بدء الوحی الی رسول الله :١،صحیح مسلم:١٩٠٧.
٦) ابوداود کتاب الطهارة باب فی التسمیة علی الوضوء:١٠١، وهو حسن،ابن ماجه:٣٩٩.

Scanned with Ca

په کوم باندې چې ګناهونه معاف کیږی د دې تاویل مثال داسې دې لکه د نبی کریم ﷺ په یو بل حدیث کښې دی ﴿لاصلاة لجار المسجد الافی المسجد﴾ یعنی د جمات د ګاونډی د جمات نه بغیر (په کور کښې) مونځ نه کیږی حالانکه که یو کس په کور کښې مونځ اوکړی نو مسئله دا ده چه د هغه مونځ اوشو بلکه هلته د نبی کریم ﷺ مراد دا دې چه دده مونځ په کامله طریقه باندې اونشو. نو دغه شان د بسم الله په حدیث کښې هم مونږ دا تاویل کوو از شاه فیصل غفرله). دا هم یاد ساتئ چه داودس لوښی کښې لاس اچولو نه مخکښې ددې وینځل مستحب دی. اوکله چه خوب نه بیدار شئ نو د دې سخت تاکید راغلې دې بخاری او مسلم کښې د نبی کریم ﷺ فرمان دې چه تاسو کښې څوک هم د خوب نه پاسی نو په لوښی کښې دلاس وهلو نه مخکښې دې خپل لاس دریې خله وینځی. معلومه نه ده چه دده لاسونه د شپې په وخت کښې چرته وو(١).

د خوب نه په راپاسیدو د لاسونو وینځل سنت دی

مسلک حنفی:- به هر حال په اودس کښې د ټولو نه رومبې سنت دا دې. چه کله متوضی د خوب نه رابیدار شی. نوهغه دے دواړه لاسونو په لوښی کښې د داخلولونه وړاندې درے خله اووینځی. اود وینځلو طریقه دا ده. ① که اوبه ئې په وړکی لوښی کښې ایخے وی. نوپه ګس لاس دے راپورته کړی. او په ښی لاس دے واچوی. اوبیا دے په ښی لاس سره په ګس باندې اوبه واچوی. ②اوکه لوښے دومره غټ وو. چه د هغے پورته کول ممکن نه وو. نو وړکے لوښے دے واخلی. او په هغے دے ترے اوبه راوباسی. او بیا دے په خپل ګس لاس سره په ښی لاس اوبه واچوی. او په ښی لاس سره دے په ګس لاس اوبه واچوی. ③اوکه وړوکے لوښے نه وی. نود ګس لاس ګوتے دے جوختے کړی. او د غټ لوښی نه دے اوبه راواخلی. په ښی لاس دے واچوی. تلے به په اوبو کښې نه داخلوی. او بیا دے په ښی لاس سره اوبه راواخلی. او ګس لاس دے اووینځی. (تسهیل الهدایه (٥٥١١) تالیف احقرالعباد شاه فیصل)-

د مخ حد د فقهاء په نیز په پلن والی کښې د سر د ویښتو د راوتلوځائې نه ترد لاندې خنې اوږیږي پورې دي. او په پلنوالی کښې د یو غوږ نه تربل غوږ پورې دي. په دې کښې اختلاف دې چه د دواړو ارخونود تندی د ویښتو ځائې حکم کښې دی یامخ کښې ؟

په اودس کښې د ږیرې وینځلو حکم:- اود ږیرې زوړند ویښته د مخ د وینځلو په فرضیت کښې شامل دی که نه ؟ په دې کښې دوه اقواله دی. یو خو دا چه په دې اوبه تیرول واجب دی ځکه چه د مخ مخامخ کولو په وخت کښې دا هم مخامخ کیږی. یوحدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ یو کس اولیدو چه ږیره ئې پټه کړې وه. نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه دا پرانیزه دا هم مخ کښې داخله ده حضرت مجاهد رحمه الله هم فرمائی چه د عربو محاوره کښې داسې دی چه کله د بچی ږیره راوزی نودوی وائی چه (طلع وجهه) نومعلومه شوه چه د عربو کلام کښې ږیره د مخ حکم کښې ده او لفظ ﴿وجه﴾ کښې شامل ده. که ږیره ګنړه وی نو دې کښې خلال کول مستحب دی. د حضرت عثمان رضی الله عنه داودس ذکر کوی او راوی وائی چه دوی د مخ وینځلو په وخت کښې دریې خله خلال کړې وو. او بیانې اوفرمائیل چه څنګه تاسو څه په اودس کولو اولیدم نو دغه شان ما نبی کریم ﷺ په اودس کولو لیدلې دې. دا روایت امام بخاری رحمه الله او امام ترمذی رحمه الله ذکر کړې دې اودې ته ئې حسن وئیلی دی (٢).

---

(١) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب الاستجمار وترا: ١٦٢، صحیح مسلم: ٢٣٨، ابوداود: ١٠٣، احمد: ٢٤١/٢، ابن حبان: ١٠٦١.

(٢) ترمذی کتاب الطهارة باب ماجاء فی تخلیل اللحیة: ٣١، وسنده حسن

Scanned with Ca

ابوداود کښې دی چه نبی کریم ﷺ به داودس په وخت کښې یو چونګ اوبه واخستې او په خپله خنډ مبارکه به نې اچولې او د خپلې ږیرې مبارکې خلال به نې کولو.اودا به نې فرمائیل چه ماته خما رب تعالی دغه شان حکم کړې دې (۱).

حضرت امام بیهقی رحمه الله فرمائی چه د ږیرې خلال کول د حضرت عمار رضی الله عنه،حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها،حضرت ام سلمه رضی الله عنها،حضرت علی رضی الله عنه نه مروی دی اوددې د ترک کولو اجازت حضرت ابن عمر رضی الله عنه او حسن بن علی رضی الله عنه او نخعی رحمه الله اود تابعینو رحمهم الله یو ډلې ورکړې دې

د ږیرې خلال سنت دی

مسلک حنفی:- امام قدوری رحمه الله فرمائیلی دی.چه د ږیرے خلال کول هم سنت دی.دلیل دا دے چه جبرئیل علیه السلام نبی ﷺ ته د ږیرے دخلال حکم کړې وو.صاحب دعنایه دا الفاظ نقل کړی دی. قال علیه السلام نزل علی جبرئیل علیه السلام وأمرنی أن أخلل لحیتی إذا توضأت (۲) نبی ﷺ فرمائی.چه جبرئیل علیه السلام ماته راغلو اووے فرمائیل:کله چه اودس کوې.نو دخپلے ږیرے خلال کوه! (تسهیل الهدایه شرح هدایه ۲۱۱/۱).

د خولې وینځل او پوزه کښې اوبه اچول:- صحاح وغیره کښې نقل دی چه نبی کریم ﷺ به کله اودس کولو نو خوله مبارکه کښې به نې اوبه اچولې او پوزه کښې به نې اوبه اچولې.د امامانو په دې کښې اختلاف دې چه دا دواړه اودس اوغسل کښې واجب دی یامستحب دی ؟ امام احمد رحمه الله او امام مالک رحمه الله دې ته مستحب وائی او ددوی دلیل د سنن هغه حدیث مبارک دې چه په هغې کښې زر زر مونځ کونکو ته د نبی کریم ﷺ دا فرمان مروی دې چه اودس اوکړئی چه څنګه تاسو ته الله ﷻ د اودس کولو حکم کړې دې .(۳) دامام ابوحنیفه رحمه الله مسلک دادې چه دا په غسل کښې واجب دی او اودس کښې نه دی.یو بل روایت کښې دامام احمد رحمه الله نه مروی دی چه پوزه کښې اوبه اچول خو واجب دی او خوله کښې اوبه اچول مستحب دی (۴).ځکه بخاری او مسلم کښې د نبی کریم ﷺ فرمان دې چه څوک اودس کوی نو پوزه کښې دې اوبه اچوی.او یوروایت کښې دی چه تاسو کښې څوک اودس کوی نو هغه دې خپله پوزه کښې اوبه اچوی او په بنه شان سره (۴)

اومسند احمد اوبخاری شریف کښې دی چه حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه چه اودس کولو نو مخ نې اووینځلو او یو چونګ اوبه نې واخستې او هغه نې خوله کښې واچولې او پوزه نې صفا کړه او یو چونګ اوبه نې واخستې او خپل ښې لاس نې وینځلو،او یو چونګ اوبه نې واخستې اوخپل ګس لاس نې وینځلو،او بیا نې په خپل سر مسح اوکړه.بیا نې د اوبو یو چونګ ډک کړو او خپله ښۍ پښه نې وینځله او بیا نې یو چونګ اوبه واخستې او خپله ګسه پښه نې اووینځله .او بیائې اوفرمائیل چه ماد الله ﷻ پیغمبر ﷺ په داسې اودس کولو لیدلې دې .(۵)

خوله او پوزه کښې اوبه اچول په اودس کښې سنت او غسل کښې فرض دی

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز خوله کښې اوبه اچول او پوزه کښې اوبه اچول په اودس کښې سنت دی او په غسل کښې فرض دی پوره تفصیل د احقر شاه فیصل په کتاب تسهیل الهدایه شرح هدایه کښې اوګورئ (۵۷۱/۱).

---

(۱) ابوداود کتاب الطهارة باب تخلیل اللحیة:۱۴۵.

(۲) ابوداود کتاب الصلاة باب من لا یقیم صلبه فی الرکوع والسجود:۸۶۱، وسنده صحیح ترمذی:۳۰۲.

(۳) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب الاستنثار فی الوضوء:۱۶۱، صحیح مسلم:۲۳۷، ابن ماجه:۴۰۹. احمد:۴۰۱/۲.

(۴) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب الاستجمار وترا:۱۶۲، صحیح مسلم:۲۳۷، ابوداود:۱۴۰، احمد:۲۷۸/۲، ابن حبان:۱۴۳۹

(۵) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب غسل الوجه بالیدین من غرفة واحدة: ۱۴۰، احمد:۲۶۸/۱.

Scanned with Ca

په اودس کښې د څنګلو وینځلو فرضیت:- ﴿الی المرافق﴾ نه ﴿مع المَرَافِقِ﴾ دي لکه فرمان دي چه ﴿وَلَا تَأْكُلُوٓا أَمْوَالَهُمْ إِلَىٰٓ أَمْوَالِكُمْ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حُوبًا كَبِيرًا﴾ یعنی تاسو د یتیمانو مالونه خپلو مالونوسره مه خورئی دا ډیره لویه ګناه ده. دغه شان دلته هم دی چه لاسونه ترځنګلو پورې نه بلکه ځنګلو سره وینځئ.دار قطنی وغیره کښې دی چه نبی کریم ﷺ به کله اودس کولو نو پخپلو ځنګلو به ئې اوبه تیرولې[1]. خو ددې په دوه راویانو کښې کلام دي.والله اعلم.

د ځنګلو نه پورته حصه وینځل:- اودس کوونکی لره مستحب دی چه د ځنګلو نه پورته خپل لاسونه هم اووینځی.ځکه چه بخاری اومسلم کښې روایت دي چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ځما د امت د اودس ځایونه به د قیامت په ورځ پرقیږی او پدې به ددوی پیژندګلو وی.نو تاسو چه ځومره کولئ شئ نوخپل پرق تر پورته پورې بوزئی[2] صحیح مسلم کښې حدیث مبارک دي چه مومن ته به ترهغه ځایه پورې کالی اچولې شی چه ترکومې د ده داودس اوبه رسیدلې[3].

په «بروسکم» کښې د باء وضاحت:- ﴿بِرُءُوسِكُمْ﴾ کښې چه کومه ﴿ب﴾ ده ددې الصاق یعنی یو ځای کولو دپاره کیدل خو زیات ظاهر دی او تبعیض یعنی څه حصې دپاره کیدل د سوچ اوفکر محتاج ده بعضې اصولی حضرات فرمائی چه چونکه آیت مبارک کښې اجمال دي په دې نوچه سنتو ددې کوم تفصیل کړیدي هغه بهتردي.اوسنت ته به رجوع کول وی .حضرت عبدالله بن زید بن عاصم صحابی ﷺ ته یو سړی اووئیل چه تاسو مونږ ته اودس اوښائې نو دوی اوبه راوغوښتلې او خپل دواړه لاسونه ئې دوه دوه ځل اووینځل ،بیا ئې دري ځل خوله کښې اوبه واچولې او پوزه کښې ئې اوبه واچولې.دري ځل ئې خپل مخ اووینځلو،بیا ئې ځنګلو سره لاسونه دوه دوه ځل وینځل.بیا ئې په دواړو لاسونو د سر مسح اوکړه.د سر د شروع د حصې نه ترلاندې نرم څټ پورې.او بیا د هغه ځائې نه واپس شو.بیا ئې خپل دواړه لاسونه وینځل[4] (بخاری اومسلم) حضرت علی ﷺ نه هم د نبی کریم ﷺ د اودس طریقه هم داسې مروی ده[5] ابوداود کښې دی چه دمعاویه ﷺ،حضرت مقداد ﷺ نه هم داسې مروی دی.

د سر د مسحې فرضیت:- دا احادیث دلیلونه دی په دې باندې چه د پوره سر مسح کول فرض ده.هم دا مذهب د حضرت امام مالك رحمه الله او حضرت امام احمد رحمه الله.او هم دا مذهب د هغه ټولو حضراتو دي چه کوم دا آیت مبارک مجمل منی.اوددې حدیث مبارک بیان ورته معلوم دي.د حنفیانو خیال دي چه د څلورمې حصې سر مسح کول فرض ده اودا د سر د شروع حصه ده .او خمونږ ملګری وائی چه فرض صرف دومره دي چه په هغې د فرض اطلاق کیږی .

ددې هیڅ حد نشته دي.که په څو ویښتو هم مسح اوشوه نو فرضیت پوره شو. ددې دواړو جماعتونو دلیل د حضرت مغیر بن شعبه ﷺ والا حدیث دي چه نبی کریم ﷺ مونږ نه روستو پاتې شو او څه هم نبی کریم ﷺ سره روستو پاتې شوم.هرکله چه دوی قضاء حاجت اوکړل نو ځما نه ئې اوبه اوغوښتلې . ما ورته لوټه راوړه.نبی کریم ﷺ خپل دواړه مړوندونه مبارک اووینځل.بیا ئې مخ مبارک اووینځلو. بیا

---

[1]) دارقطنی:۸۳/۱،

[2]) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب فضل الوضوء والغر المحجلون من آثار الوضوء:۱۳٦، صحیح مسلم:۲٤٦، احمد:٤۰/۲، ابن حبان:۱۰٤٦، بیهقی:۵۷/۱.

[3]) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب تبلیغ الحلیة حیث یبلغ الوضوء :۲۵۰ احمد:۳۷۱/۲، ابن حبان:۱۰٤۵.

[4])صحیح بخاری کتاب الوضوء باب مسح الراس کله:۱۸۵،صحیح مسلم:۲۳۵،ابوداود:۱۱۸،ترمذی:۳۲، ابن ماجه:٤۳٤، ابن حبان:۱۰۸٤

[5]) ابوداود کتاب الطهارة باب صفة الوضوء النبی ﷺ وسنده صحیح.

Scanned with Ca

نې د څنګلو نه جامې لرې کړې او تندی سره ئې په نزدې وینښتو او پټکی باندې مسح اوکړه او په دواړه جرابو هم (۱) (مسلم وغیره).

ددې جواب امام احمد رحمه الله اوددوی ملګری دا ورکوی چه د سر په ابتدائی حصه باندې مسح کولو سره باقی پټکی باندې مسح کولو سره د ټول سر مسح اوشوه. او ددې ډیر مثالونه احادیثو کښې دی. نبی کریم ﷺ به په پټکی او جرابو باندې مسح کوله. نو هم دا غوره ده.او په دې کښې بالکل ددې خبرې هیڅ دلالت نشته چه د سر په بعضې حصه باندې یا صرف د تندی په وینښتو باندې دې مسح اوکړی اوددې تکمیل دې په پټکی نه وی،والله اعلم.

د سر د څلورمې حصې مسح فرض ده

مسلک حنفی:- د سر مسح کول په اتفاق سره فرض ده.ځکه چه ددے ثبوت په نص صریحی سره دې.خو په فرض مقدار کښې اختلاف دې.① داحنافو عالمانوپه نزد د سر د څلورمے حصې مسح کول فرض ده.که د سر د مخکنۍ حصې وی او که د روستنۍ او که د ښی طرف څلورمے حصې وی اوکه د ګس طرف (تسهیل الهدایه شرح هدایه ۵۲۱/۱).

د سرد مسحې تعداد:- بیا په دې کښې اختلاف دې چه د سر مسح به دریځل وی یا یو ځل ؟ د امام شافعی رحمه الله اول مذهب دې (یعنی مسح به دریځله وی) او امام احمد رحمه الله دویم مذهب دې.(یعنی مسح به یو ځل وی)

د یوځل مسح کولو دلائل:- دلائل دا دی.عثمان بن عفان رضی الله عنه اودس دپاره کینی او په خپلو دواړو لاسونو دریځله اوبه اچوی.ددې وینځلو نه پس بیا خوله کښې اوبه اچوی او پوزه کښې اوبه اچوی.بیا دریځل مخ وینځی.بیا دریځل دریځل دواړه لاسونه څنګلو سره وینځی.اول ښې اوبیا ګس.بیا دسرمسح کوی او بیا پښې دریځل دریځل وینځی.اول ښئ او بیا ګسه.او بیا ئې فرمائی چه ما نبی کریم ﷺ په داسې اودس کولو لیدلې دې او اودس نه پس نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څوک ځما پشان داسې اوکړی اوبیا دوه رکعته مونځ ادا کړی او په زړه کښې خبرې اونکړی (دنیوی خیالات رانولی) نو د هغه ټول مخکښې ګناهونه معاف شی(۲) بخاری اومسلم او ابو داود.کښې هم دې روایت کښې دسرمسح کولو سره داالفاظ هم دی چه دسرمسح دې یو ځل اوکړې شی(۳) علی رضی الله عنه نه هم داشان مروی دی (۴)

د دریځل مسحې کولو دلیل:- او چه کوم خلق د سر مسح دریځل ګنړی هغوئ د هغه حدیث مبارک نه دلیل نیسی چه دریځل دریځل ئې د اودس اندامونه اووینځل (۵). حضرت عثمان رضی الله عنه نه مروی دی چه نبی کریم ﷺ اودس اوکړو او بیا داشان روایت دې او په هغې کښې په خوله کښې او پوزه کښې د اوبو اچولو ذکرنشته دې .او په هغې کښې دی چه بیا دوی دریځل د سر مسح اوکړه او دریځل ئې خپلې پښې وینځلې .او بیا ئې اوفرمائیل چه ما نبی کریم ﷺ په داسې اودس کولو لیدلی دې .او بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څوک داسې اودس اوکړی نو دا کافی دی.(۶) خو حضرت عثمان رضی الله عنه نه چه کوم روایت په صحاح کښې مروی دې په هغې کښې د سرمسح یو ځل ثابت ده.

---

۱) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب المسح علی الناصیة والعمامة:۲۷٤، ابوداود:۱۵۰، ابن ماجه:۱۳۲٦، احمد:۲٤۸/٤، ابن حبان:۱۳٤۷، بیهقی:۵۸/۱.

۲) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب الوضوء ثلاثاثا:۱۵۹، صحیح مسلم: ۲۲٦ ابوداود:۱۰٦.

۳) ابوداود کتاب الطهارة باب صفة الوضوء :۱۰۸،

٤) بوداود کتاب الطهارة باب صفة الوضوء :۱۱۱، وسنده صحیح،نسائی:۹۲.

۵) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب فضل الوضوء الصلاة عقبة:۲۳۰.

٦) بوداود کتاب الطهارة باب صفة الوضوء :۱۱۱، وسنده حسن

Scanned with Ca

د سرمسح یو خل مسنون ده

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز د سر مسح یوخل ده پوره تفصیل دپاره اوګورئ (تسهیل الهدایه ۱/۲۵۱).

د پښو وظیفه وینځل دی:- ﴿اَرْجُلَكُمْ﴾ دلام زبر سره عطف دي. ﴿وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ﴾ باندې ماتحت دي د وینځلو حکم کښې حضرت ابن عباس ﷺ به هم دا ونیلو او هم دا به ئې فرمائیل .. .(۱) حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ، حضرت حسن رحمه الله، حضرت مجاهد رحمه الله، حضرت ابراهیم رحمه الله، حضرت ضحاك رحمه الله، حضرت سدی رحمه الله، حضرت مقاتل بن حیان رحمه الله، حضرت زهری رحمه الله، حضرت ابراهیم تیمی رحمه الله، وغیره نه هم دا قول نقل دي. اوهم دا قرات دي (۲). اودا بالکل ظاهر دی چه پښې وینځل پکار دی. هم دا فرمان د سلفو دي.

د اودس کښې د ترتیب حکم:- اوهم ددې خانې نه جمهورو د اودس ترتیب خودلې دي او په دې ئې استدلال کړې دي. صرف حضرت ابوحنیفه رحمه الله ددې خلاف دي او هغوئ اودس کښې ترتیب شرط نه ګڼي. د دوی په نیز که څوك اول پښې اووینځی او بیا د سر مسح اوکړی او بیا لاسونه اووینځی اوبیا مخ اووینځی نودا هم جائز دی. ځکه چه آیت قرانی د دې آیتونو د وینځلو حکم کړې دي. د واو دلالت په ترتیب باندې نه کیږی.

دجمهورو جوابونه:- ①ددې جوابونه جمهورو ډیر ورکړی دی. یوخودا چه ﴿ف﴾ ترتیب باندې دلالت کوی د آیت مبارك الفاظو کښې مونځ کونکی ته د مخ وینځلو حکم ﴿فَاغْسِلُوْا﴾ نه کیږی. نو د مخ کم ازکم اوله حصه وینځل خوددې لفظونو نه ثابت شو. اوس دې نه د اندامونو وینځلو ترتیب د اجماع نه ثابت دي. او په هغې کښې خلاف نظر نشته دي. بیا چه ﴿ف﴾ د تعقیب دپاره ده اود ترتیب مقتضی ده اوپه یو بل داخله شوې ده نو د دې یو ترتیب منلو سره د بل د ترتیب انکار څوك هم نه کوی. بلکه یا خو ټول په ټوله د ترتیب قائل دی یا یو هم د ترتیب قائل نه دي. نو دا آیت مبارك یقینی طور په دی حجت دي چه د بل نه ترتیب منکردی.

②دویم جواب دادې چه واؤ ترتیب باندې دلالت نه کوی دا هم مونږ نه منو. بلکه دا ترتیب باندې دلالت کوی ځکه چه د نحویانو یو جماعت اود بعضو فقهاء کرامو مذهب دې نو بیادا څیز هم قابل غور دي چه بالفرض د لغت لحاظ سره ددې دلالت په ترتیب باندې هم نه کیږی خو شرعی طور چه کومو څیزونو کښې ترتیب کیدیشی په هغې کښې د دې دلالت د هغې په ترتیب باندې کیږی. صحیح مسلم شریف کښې حدیث مبارك دي چه نبی کریم ﷺ کله د بیت الله شریف طواف نه پس باب صفا نه اووتلو نو نبی کریم ﷺ دا آیت ﴿اِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَآئِرِ اللّٰهِ﴾ تلاوت کولو او وې فرمائیل چه څه د هغې نه شروع کوم چه کوم الله ﷻ مخکښې بیان فرمائیلی دی. نو صفا نه ئې سعی شروع کړه. (۳)

نسائی کښې د رسول الله ﷺ دا حکم ورکول هم مروی دی .(۴) د هغې نه شروع کړه چې کومې نه الله تعالی د شروع کولو بیان کړې دي. ددې اسناد هم صحیح دی او د دې نه دا خبره معلومه شوه چه د کوم ذکر مخکښې وی هغه مخکښې کول او چه د کوم ذکر روستو وی هغه روستو کول واجب دی. نو ثابت شو چه داسې موقعو باندې شرعی طور ترتیب ثابت وی. والله اعلم.

---

۱) الطبری: ۱۰/۵۵.

۲) الطبری: ۱۰/۵۵،

۳) صحیح مسلم کتاب الحج باب حجة النبی ﷺ :۱۲۱۸، ابوداود: ۱۹۰۵، ابن ماجه: ۳۰۷٤.

٤) السنن الکبری للنسائی: ۳۹٦۸، وسنده صحیح :

Scanned with Ca

③دریم جماعت جواب کښې وائی چه د لاسونو دځنګلو سره د وینځلو حکم اود پښو د وینځلو حکم مینځ کښې د سر د مسح کولو حکم بیانول صفا دلیل دې د دې امر چه ددې نه مراد ترتیب باقی سائل دی ګنی کلام به ئې داسې نه التپه کولو.

④ یو جواب د دې دا هم دې چه ابو داود وغیره کښې صحیح سندسره مروی دی چه نبی کریم ﷺ داودس اندامونه یو یو ځل اووینځل او بیا ئې اوفرمائیل دا اودس دې او د دې نه بغیر الله ﷻ مونځ نه قبلوی .اوس دوه صورتونه دی چه یاخو دې اودس کښې ترتیب وو یا نه وو. که اوونیلې شی چه د نبی کریم ﷺ دا اودس ترتیب سره وو یعنی یو نه پس ئې بل اندام وینځلې دې نو معلوم شو چه کوم اودس کښې تقدیم او تاخیر وی او ترتیب په کښې نه وی او په هغې کوم مونځ اوکړې شی نوهغه مونځ نه قبلیږی .نو ترتیب واجب او فرض دې .اوکه دا اومنلې شی چه په دې اودس کښې ترتیب نه وو بلکه صرف د اندامونو وینځل وو ،مخکښې پښې وینځل وو،بیا خوله کښې اوبه اچول وو،بیامسح،بیا مخ وینځل وغیره نو عدم ترتیب به واجب شی.خوددې قائل امت کښې یو هم نشته دې.نوثابت شو چه اودس کښې ترتیب فرض دې .

په اودس کښې ترتیب سره د اند امونو وینځل سنت دې

مسلک حنفی:- د اودس په فرض اندامونوکښې د ترتیب مسئله مختلف فیه ده.① داحنافو عالمانو ﷺ په نزد د اودس په فرض اندامونوکښې ترتیب سنت دې.

① او زمونږ دلیل دا دې.چه د اودس دفرض اندامونوپه مینځ کښې "واو" ذکر دې.او داهل لغت په دې اجماع ده.چه واوٗ د مطلق جمع دپاره راځی.نوکه مونږ دا هم تسلیم کړو.چه فاء دپاره د تعقیب راځی.نوددې مطلب به دا وی.چه د ځلوروانداموِ د مجموعې وینځل به مانځه ته په اودریدوباندې مرتب وی.داسې نه چه په ځلوروانداموِنوکښې به ترتیب وی. حالانکه کلام دځلوروانداموِ په ترتیب کښې دې.اوپه ځلورو اندامونوباندې واو داخل دې.او هغه د ترتیب فائده نه ورکوی.نوځکه مونږ وایو.چه د اودس په فرض اندامونو کښې ترتیب فرض نه دې.خو چه نبی ﷺ د قرآن پاك د ذکرکړی ترتیب موافق اودس کړې دې.نوځکه به په اودس کښې ترتیب سنت وی فرض نه.

دلته یو اشکال دې.هغه دا چه واو دپاره د جمع دې.په دې باندې د صاحب هدایه داجماع دعوی ټیك نه ده.ځکه چه بعضې حضرات واو مفید د ترتیب ګنړی.او بعضې مفید د قران (اتصال)ابوعلی فارسی ذکرکړی دی.چه د نحویانو په دې باندې اجماع ده.چه واو دمطلق جمع دپاره دې.د نحو امام سیبویه په خپل کتاب کښې په اوولس ځایونو کښې ذکر کړی دی.چه واو د مطلق جمع دپاره راځی.نود علامه مرغینانی په دې باندې اعتماد کړې دې.او د اجماع دعوی ئې کړې ده.او د څو کسانو اختلاف مانع د اجماع نه دې. (تسهیل الهدایه ۱ ۶۷).

په پښو د مسحې کول:- د آیت ددې جملې یو قرات بل هم دې.﴿وَاَرْجُلَكُمْ﴾ دلام زیر سره او هم ددې نه شیعه حضراتو د په خپل قول دلیل نیولې دې چه په پښو مسح کول واجب دی.ځکه چه د هغوئ په نیز د دې عطف د سر په مسح دلالت کوی .د بعضو سلفو نه هم څه داسې اقوال په دلیل کښې دی چه د هغې نه د مسح د قول قائلیت معلومیږی.

په پښو د مسحې کولو دلائل ① په ابن جریر کښې دی چه موسی بن انس د حضرت انس ﷺ نه د خلقو موجودګئ کښې اووئیل چه حجاج په اهوازکښې خپله خطبه کښې د اودس او طهارت احکامو کښې اووئیل چه مخ لاس وینځئ اود سرمسح کوئی او پښې وینځئ ځکه چه عام طور په پښو باندې پلیتی پریوځی.نو د پښو تلی اود پښو شاګانې اوګیټئ نښه طریقې سره وینځئ.نو حضرت انس ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ رینبتونې اوحجاج دروغژن دې .الله ﷻ فرمائی چه ﴿وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ﴾ او د حضرت

Scanned with Ca

انس ﷺ عادت وو چه کله به ئې د پښو مسح کوله نو دا به ئې بالکل لمدولې .هم د دوی نه مروی دی چه قران پاك په پښو د مسح کولو حکم دې .حضرت قتاده رحمه الله نه هم دا مروی دی .او د نبی کریم ﷺ سنت د پښو وېنځل دی.

② حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه په اودس کښې دوه ځیزونه وینځل دی او په دوو باندې مسح کول دی.② ابن علقمه رحمه الله ،ابوجعفر رحمه الله ،محمد بن علی رحمه الله ،او یو روایت کښې د حضرت حسن ﷺ او حضرت جابر بن زید او یو روایت کښې ③د حضرت مجاهد رحمه الله نه هم دا شان مروی دی.④حضرت عکرمه رحمه الله په پښو مسح کوله. ⑤شعبی رحمه الله فرمائی چه د حضرت جبرئیل ﷺ په معرفت د مسح حکم نازل شو.ددوی نه دا هم مروی دی چه آیا تاسو نه ګورنی چه د کومو ځیزونو د وینځلو حکم وو په هغې خو د تیمم په وخت کښې د مسح کولو حکم اوشو اوچه په کومو ځیزونو د مسح کولو حکم ووهغه بالکل پریښودې شو.⑥حضرت عامر رحمه الله ته چا اوئیل چه حضرت جبرئیل ﷺ په پښو دمسح کولو حکم راوړې وو نو دوی اوفرمائیل حضرت جبرئیل ﷺ د مسح حکم سره نازل شوې وو. نو دا ټول آثار بالکل غریب دی او محمول دی په دې چې د دې حضراتو د مسحې نه مراد معمولی شان وېنځل دی،ځکه چه سنت رسول نه ثابت دی چه د پښو وینځل واجب دی،

د جر د قراءت وجه:- یاد ساتئ چه (په ارجلکم) د زیرقرات خویاد مجاورت د کلام په وجه دې لکه څنګه چه دعربوکلام دې چه﴿جحرضب خرب﴾کښې اود الله ﷻ کلام کښې چه ﴿لِيَهْمُ ثِيَابُ سُنْدُسٍ خُضْرٌ وَاسْتَبْرَقٌ﴾. د عربو په لغت کښې دا دواړه الفاظو ته یو شان اعراب ورکول زیات زیات موندې شوی دی .حضرت امام شافعی رحمه الله د دې یو توجیه بیان کړې ده چې دا حکم په هغه وخت کښې دې چه کله په پښو جرابې وی .بعضې وائی چه د مسح نه مراد لږ شان وینځل دی.لکه څنګه چه بعضو روایتونو کښې سنتو نه ثابت دی.الغرض د پښو وینځل فرض دی .اوددې نه بغیر به اودس مکمل نه وی.آیت مبارك هم دادی او احادیثو کښې هم دا شان دی.لکه څنګه چه به مونږ اوس دا نقل کړو انشاء الله.

د مسحې نه مراد غسل خفیف دې:- بیهقی کښې دی چه حضرت علی بن ابوطالب ﷺ د ماسپخین مونځ نه پس بیټك کښې ناست وو او ترمازیګره پورې د خلقو کارونو کښې مشغول وو. اوبه ئې راوغوښتلې او د اوبو یو چونګ سره ئې د خولې اود سر او د دواړو لاسونو او پښو مسح اوکړه او بیا اودریدل او بچ شوې اوبه ئې اوڅکلې.اوبیا ئې اوفرمائیل چه خلق په ولاړه اوبه څکل مکروه ګڼری او ما نبی کریم ﷺ په داشان کولو لیدلې دې اونبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا اودس دې د هغه چا چه بې اودسه نه وی (۱). (بخاری)

د شیعګان غلطی:- په شیعه ګانو کښې چې کومو کسانو د موزو مسح داسې ګرځولې ده لکه څنګه چې جرابو مسح کوی دې خلقو یقینا غلطی کړې ده او خلق ئې په ګمراهئ کښې اچولې دی دغه شان هغه خلق هم ګمراه دی چه مسح او وینځل دواړه جائز ګرځوی.

ابن جریر رحمه الله ته په پښو د مسحو کولو د نسبت تردید:- اوچه کومو خلقو د امام ابن جریر رحمه الله متعلق خیال کړې دې چه هغوئ د احادیثو په بناء د پښو وینځل او د آیت قران په بناء په پښو مسح کول فرض کړی دی ،د هغوئ دا تحقیق غلط دې صحیح نه دې.تفسیر ابن جریر ځمونږ لاسونو کښې موجود دې د هغوئ دکلام خلاصه دا ده چه د پښو مړل واجب دی او اندامونوکښې دا واجب نه دی ځکه چه پښې په زمکه باندې د ښاوړې نه ډکې شی نو ددې وینځل ضروری دی چه دې پورې څه لګیدلې وی چه هغه لرې شی .خو ددې مړلو دپاره هغه د مسح لفظ راوړې دې .اوهم په دې وجه بعضو ته دا شك شوې دې .

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الاشربة باب الشرب قائما: ٥٦١٥، ابوداود:٣٨١٨، الشمائل: ٢١٠، احمد: ٧٨/١،

Scanned with Ca

اوهغوئ دا ګنړی چه د مسح او غسل تر مینځه دا شان جمع کوی حالانکه ددې هډو څه معنی نشته دي .مسح خو غسل کښې داخل ده که مقدم وی اوکه مؤخر .نو حقیقت کښې د امام صاحب رحمه الله اراده هم هغه ده چه کومه ما ذکر کړې ده او په دې د نه پوهیدو په وجه اکثر فقهاء کرامو دا مشکل کړی دی .ما چه بار بار غور اوکړو نو ما باندې دا صفا ظاهر شو چه امام صاحب رحمه الله دواړو قراتونو کښې جمع تلاش کوی .نو د زیر قرات یعنی مسح خو محمول کوی په ﴿دلك﴾ باندې یعنی ښه طریقې سره په صفا کولو او د زبر والا قرات په غسل باندې یعنی وینځلو باندې.نو هغوئ وینځل او مړل دواړه واجب ګنړی.چه زیر والا او زبر والا دواړو قراتونو باندې په یو ځل عمل اوکړې شی.

هغه احادیث چه د پښو وینځل ضروری ګرځوی:- اوس هغه احادیث واورئی چه په هغې کښې د پښو وینځل ضروری دی.امیر المومنین حضرت عثمان بن عفان ﷺ ،امیر المومنین حضرت علی بن ابی طالب ﷺ ،حضرت ابن عباس ﷺ ،حضرت امیر معاویه ﷺ،حضرت عبدالله بن زید بن عاصم ﷺ ،حضرت مقداد بن معد یکرب ﷺ والا روایات مخکښې بیان شوی دی چه نبی کریم ﷺ د اودس کولو په وخت کښې خپلې پښې مبارکې اووینځلې یو یو ځل یا دوه دوه خل یا دري دري خل.دعمرو بن شعیب حدیث مبارك کښې دی چه نبی کریم ﷺ اودس اوکړو او خپلې پښې مبارکې نې یو خل اووینځلې .او بیا ئې اوفرمائیل چه دا اودس دې او ددې نه بغیر الله ﷻ مونځ نه قبلوی (١). بخاری اومسلم کښې دی چه یو ځل یو سفر کښې حضرت نبی کریم ﷺ روستو پاتې شوې وو ،هرکله چه نبی کریم ﷺ راغلل نو مونږ زر زر اودس کولو ځکه چه د مازیګر وخت په تیریدو وو.مونږ زر زر په خپلو پښو هسې اوبه اچولې نو نبی کریم ﷺ ډیر په اوچت آواز اوفرمائیل چه خپل اودسونه کامل کړئی پوندې به په اورکښې سوځی (یعنی کومې پوندې چې اوچې پاتې شوی وی هغه به په اور کښې سوځی) (٢). یوبل حدیث مبارك کښې دی چه د پوندو دپاره او تلو دپاره ویل دې د اور نه (٣)(بیهقی وحاکم).اویو روایت کښې دی چه ګیتو دپاره ویل (هلاکت) دې د اور نه(٤) (مسند احمد) د یو سړی په پښه کښې نبی کریم ﷺ د یو درهم هومره ځائې اوچ کتلو سره نبی کریم ﷺ اوفرمائیل خرابی ده پوندو دپاره د اور نه (مسنداحمد) ابن ماجه وغیره کښې دی چه څه خلقو اودس کول او د هغوئ پوندو ته په ښه طریقه اوبه نه وې رسیدلې نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل پوندو دپاره د اور نه خرابی ده .(٥) مسند احمد کښې هم د نبی کریم ﷺ دا الفاظ راغلی دی.ابن جریر رحمه الله کښې دوه ځل د نبی کریم ﷺ دا الفاظ وارد دی.راوی حضرت ابوامامه فرمائی چه بیا په جمات کښې یو هم داسې شریف او وضیع پاتې نشو چه هغه به خپلو پوندو ته ښه نه کتل .(٦) او یو حدیث مبارك کښې دی چه نبی کریم ﷺ یو کس اولیدو چه مونځ ئې کولو او دهغه په پونده کښې د یو درهم هومره ځائې اوچ پاتې شوې وو. نو نبی کریم ﷺ هم دا اوفرمائیل،او بیا خو دا حالت وو چه د چا په پښه کښې به لږ شان ځائې هم اوچ پاتې شو نو هغه به پوره اودس کولو.(٧)

---

١) ددې تخریج مخکښې تیر شوې دې

٢) صحیح بخاری کتاب الایمان باب من رفع صوته بالعلم :٦٠، صحیح مسلم:٢٤١، ابوداود: ٩٧، ابن ماجه:٤٥٠، احمد:٢/١٩٣، ابن حبان:١٠٥٥، بیهقی:١/٦٨.

٣) حاکم:١/١٦٢، احمد:٤/١٩١،.

٤) احمد:٣/٣٦٩، وسنده صحیح.

٥) احمد:٣/٣٩٠، وهو صحیح بالشواهد، مسندالطیالسی: ١٧٩٧، ابن ابی شیبة:١/٢٦، مسند ابویعلی:٢٠٦٥

٦) الطبری : ١٠/٧٣،

٧) طبرانی : ٨١٠٩، مجمع الزوائد:١/٢٤، الطبری :١٠/٧٤،.

نو ددې احادیثو نه ثابته شوه چه د پښو وینځل فرض دی که ددې مسح کول وې نو نبی کریم ﷺ به د لږ خانې په اوچ پاتې کیدو دومره وعید او بیا د جهنم د اور وعید نه فرمانیلو. خکه چه مسح کښې لږ لږ خانې ته لاس رسول داخل نه دی.نو بیا خو د پښو د مسح هم هغه صورت وی چه کوم په جرابو د مسح کولودې .هم دا څیز امام ابن جریر رحمه الله د شیعه حضراتو مقابله کښې پیش کړې دې .صحیح مسلم کښې حدیث مبارک دې چه نبی کریم ﷺ یو کس اولیدو چه هغه اودس اوکړو اودهغه په پښه کښې د نوک برابر یوخانې اوچ پاتې شوې وو نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه واپس شه او په ښه طریقې سره اودس اوکړه.(١) بیهقی وغیره کښې هم دا حدیث مبارک دې.مسند کښې دی چه دوی یو مونځګزار په مونځ اولیدو چه د هغه په پښه دیو درهم هومره خانې اوچ پاتې شوې دې نو دوی ورته د اودس د بیا کولو حکم اوکړو(٢).

حضرت عثمان رضی الله عنه نه چه د نبی کریم ﷺ کومه طریقه نقل ده په هغې کښې دا هم دی چه نبی کریم ﷺ د ګوتو مینځ کښې خلال هم اوکړو. سنن کښې دی چه حضرت صبره رضی الله عنه نبی کریم ﷺ نه د اودس باره کښې تپوس اوکړو نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه اودس ښه کامل کوه او پوره کوه،د ګوتو مینځ کښې خلال کوه ،او پوزه کښې اوبه اچوه،خو که د روژې په حالت کښې نې نو دا بله خبره ده .(٣)

په اودس کولو د اندامونو ګناهونه رژیدل:- مسند اومسلم وغیره کښې دی چه حضرت عمرو بن عبسه رضی الله عنه عرض اوکړو یارسول الله ﷺ ! ماته د اودس باره کښې خبر راکړه. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم یو کس د اودس اوبه واخلی او خوله کښې ئې واچوی او پوزه کښې ئې واچوی،نو د ده د خولې نه او پوزې نه ګناهونه رژیږی.اودې پوزه سونړکوی او مخ وینځی لکه څنګه چه دالله حکم دې نو دده دمخ ګناهونه اوږیږي ګناهونه،دې اوبو سره اورژیږی .بیا چه دې مسح کوی نو د ده دسر ګناهونه ددې د ویښتو نه اوبه څڅیدو سره اورژیږی.اوبیا چه دې کله خپلې پښې د الله ﷻ د حکم مطابق تر ګیټو پورې اووینځی نو دده د ګوتو نه د اوبو تلو سره دده ګناهونه معاف کیږی .بیا چې دې اودریږی او دالله ﷻ حمد و ثناء بیان کړی او دوه رکعته مونځ اوکړی نو دې د ګناهونونه دا سې پاک شی لکه چه دې نن پیدا شوې وی.ددې آوریدوسره حضرت ابو امامه رضی الله عنه حضرت عمرو بن عبسه رضی الله عنه ته اووئیل چه ښه غور اوکړه چه دوی څه فرمائی.نبی کریم ﷺ نه دوی هم دغه شان آوریدلی دی.آیا دا ټول هر څه انسان په یو مقام باندې حاصلوی.حضرت ابوامامه رضی الله عنه اوفرمائیل چه اې عمرو رضی الله عنه ! څه بوډا شوې یم،ځما هډوکی وراسته شوی دی،ځما مرګ نزدې دې ،ماته څه فائده چه څه به دالله په رسول ﷺ باندې دروغ ترم .یو ځل نه ،دوه ځل نه،دری ځل نه ،ما دا د نبی کریم ﷺ نه اووه ځل بلکه ددې نه هم زیات آوریدلی دی.د دې حدیث مبارک سند بالکل صحیح دې.

د صحیح مسلم دویم سند والا حدیث مبارک کښې دی چه بیا دې خپلې دواړه پښې وینځی لکه څنګه چه دالله ﷻ حکم دې .(٤) نو ثابته شوه چه دقران پاک حکم د پښو وینځلو دې.ابو اسحاق سبیعی رحمه الله حضرت علی رضی الله عنه نه په واسطه د حضرت حارث رضی الله عنه روایت کړې دې چه دوی اوفرمائیل دواړه پښې ګیټو سره وینځئ. لکه څنګه چه تاسو ته حکم شوی دې.

ددې نه دا هم معلومه شوه چه په کوم روایت کښې حضرت علی رضی الله عنه نه مروی دی چه نبی کریم ﷺ خپل دواړه قدمونه خپل پیزار مبارک کښې لامده کړل.نوددې نه مراد په پیزار مبارک کښې لږشان وینځل

---

١) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب وجوب استیعاب جمیع اجزاء محل الطهارة:٢٤٣.

٢) احمد: ١٤٦/٣، ابوداود کتاب الطهارة باب تفریق الوضوء:١٧٣، وهوصحیح،ابن ماجه:٦٦٥، مسندابویعلی : ٢٩٤٤.

٣) ابوداود کتاب الصیام باب الصائم یصب علیه الماء من العطش ویبالغ فی الاستنشاق:٢٣٦٦، وسنده صحیح ترمذی:٧٨٨.، ابن ماجه:٤٠٧.

٤) احمد: ١١٢/٤، صحیح مسلم: کتاب الصلاة المسافرین باب اسلام عمرو بن عبسه:٨٣٢.

Scanned with Ca

دی .اوکه پیزار اوچپل وغیره په پښو وی نو پښې وینځلې شی .غرض دا چه دا حدیث مبارک هم د وینځلو دلیل کښې دې.البته ددې نه څه وسوسه او وهم هغه خلقو ته کیږی چه کوم خلق حد نه تیریږی دغه شان بل حدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ د یو قوم په هغه ځائې کښې اودس مات کړو چه کوم ځائې به هغوئ خپل ګند اچولو(چې پښتو کښې ورته ډیران وائی) او بیا ئې اوبه راوغوښتلې اوخپل پیزار مبارک ئې مسح کړل .([1]) خو دا حدیث مبارک نورو سندونو سره مروی دی .اوبه هغې کښې دی چه نبی کریم ﷺ په خپلو جرابو مسح اوکړه ([2]) نو په دې کښې داسې جمع کیدیشی چه جرابې ئې پښو کښې وې .او په هغې نعلین مبارک وو. او په دې دواړو نبی کریم ﷺ مسح اوکړه. هم دا مطلب د دې حدیث مبارک دی.

مسند احمد کښې اوس بن ابواوس نه مروی دی چه نبی کریم ﷺ ځما په مخکښې اودس اوکړو اوبه خپلو پنړو مبارکو ئې اودس اوکړو او مونځ ته اودریدل.هم دا روایت بل سند سره مروی دی،په هغې کښې د نبی کریم ﷺ د ګند په ځائې اودریدل او اودس ماتول او بیا اودس کول او په پنړو مبارکو اودواړو پښو مسح کول ذکر دی([3])

د امام ابن جریر رحمه الله تاویل:-امام ابن جریر رحمه الله دا حدیث راوړې دې اوبیا فرمائی چه دا محمول دی په دې باندې چه په هغه وخت کښې د نبی کریم ﷺ رومبې اودس وو نویو مسلمان دا څنګه قبلولې شی چه دالله ﷻ په فریضه کښې او د پیغمبر ﷺ په سنتو کښې دې تعارض وی.اوالله ﷻ یو څه اووائی او پیغمبر ﷺ بل څه وائی.نود نبی کریم ﷺ دوامی فعل نه د نبی کریم ﷺ پښې وینځل په طور فرض ثابت دی .او د آیت مبارک صحیح مطلب هم دا دی.نو چه د چا غوږونو ته د الله ﷻ دا حکم اورسی نو په هغه دالله ﷻ حجت پوره شو. چونکه د زور قرات نه د پښو وینځل او د زیردقرات نه هم په دې باندې محمول کول د فرضیت قطعی ثبوت دې

په جرابو مسح کول:- په دې وجه بعضو سلفو دا هم وئیلی دی چه دې آیت مبارک سره په جرابو مسح کول منسوخ شو. اګر چه یو روایت حضرت علی ﷺ نه داشان مروی دی.خو د هغې اسناد صحیح نه دی.بلکه د دوی نه پخپله صحت سره ددې خلاف ثابت دی .او چه د چا هم دا خیال دې نو د هغونی دا خیال صحیح نه دی.بلکه ددې آیت مبارک د نازلیدو نه پس نبی کریم ﷺ نه په جرابو مسح کول ثابت دی په په مسنداحمد کښې د حضرت جریر بن عبدالله بجلی رضی الله عنه قول دی چه د سورة مائده نازلیدو نه پس مسلمان شوې وو چې د خپل اسلام راوړو نه پس ما پیغمبر ﷺ په جرابو په مسح کولو لیدلی وو([4]). بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت جریر ﷺ اودس مات کړو او بیا ئې په خپلو جرابو مسح اوکړه،ددوی نه تپوس اوشو چه تاسو داسې ولې کوئی ؟ نو وې فرمائیل چه هم داشان ما نبی کریم ﷺ هم لیدلی دی ([5]).

د حدیث راوی حضرت ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی چه خلقو ته به دا حدیث ډیر عجیبه معلومیږی ځکه چه د حضرت جریر اسلام راوړل د سورة مائده نه پس وو. د احکامو په لویو لویو کتابونو کښې په جرابو مسح کول د نبی کریم ﷺ نه ثابت دی .

---

[1]) الطبری: ١٠/٧٥،

[2]) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب المسح علی الخفین :٢٧٣، ابوداود:٢٣، ترمذی:١٣، ابن ماجه: ٣٠٦.

[3]) احمد:٤/٨، معرفة الصحابة:٩٧٨، طبرانی :٦٠٧،

[4]) احمد:٤/٣٦٣، وهو صحیح بالشواهد.

[5]) صحیح بخاری کتاب الصلاة باب صلاة فی الخفاف:٣٨٧، صحیح مسلم:٢٧٢، ابوداود:١٥٤، ترمذی:٩٣ ابن ماجه:٥٤٣، احمد:٥/٣٦٤، ابن حبان:١٣٣٦.

Scanned with Ca

اوس د مسح موده وغیره .د هغې د ذکر کولو دا خائې نه دي .د احکامو کتابونو کښې ددې تفصیل موجود دي.

په سختو جرابو باندې مسح کول جائز ده

مسلک حنفی:- د احنافو عالمانو په خپل مینځ کښې په جورابو باندې مسح کولو کښې اختلاف دې امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه په جورابو باندې مسح جائز نه ده مګر دا چه مجلدې وی یعنی لاندې باندې تړې څرمن لګیدلې وی یا منعلې وی یعنی لاندې تړې څرمن لګیدلې وی او صاحبین فرمائی چه په جورابو باندې مسح جائز ده خو چې سختې وی. یعنی که جوربین د داسې ډیلے کپړې وی. چه بغیر د تړلو نه په پنډئ باندې ایسارپږی. اوپه هغے کښې مزل کول اوسفر کول ممکن وی. نودا جوربین د موزو مشابه شوې. نولکه څنګه چه په موزو مسح جائزده. دغه شان به په دے هم جائزوی. اویه دې کښې د صاحبینو قول راجح دې یعنی په جرابو باندې مسح جائز ده خوچې سختې وی او تګ په کښې ګولې شی (تسهیل الهدایه ۱۷۱/۱)

د رافضیانو تردید:- رافضیانو هم په دې کښې اختلاف کړې دې او ددې هغوئ سره هیڅ دلیل نشته دې. صرف جهالت او ضلالت دې. پخپله د حضرت علی رضی الله عنه یو روایت صحیح مسلم کښې دې (۱). خو روافض هغه نه منی. لکه څنګه چه د حضرت علی رضی الله عنه په هغه حدیث مبارک کښې چې په مسلم او بخاری کښې دې د نکاح متعه ممانعت ثابت دې (۲). خو شیعه حضرات دا مباح ګڼی. هم داشان دا آیت مبارک د دواړو په وینځلو دلالت کوی. اوهم دا امر د نبی کریم صلی الله علیه وسلم متواتر احادیثو نه ثابت دی. خو شیعه حضرات ددې مخالف دی. فی الواقع دې مسائلو کښې ددوی لاسونه د دلیل نه خالی دی. ولله

لشیعه ګانو بله غلطه نظریه:- دغه شان دې خلقو د آیت مبارک او سلف صالحینو دکعبین باره کښې هم خلاف کړې دې، هغوئ وائی چه دهر قدم په شا یو ګیټئ وی، نو ددوی په نزد هر قدم کښې یو کعب یعنی ګیټئ وی. اود جمهورو په نزد دګیټئ هغه هډوکی چه دپنډئی او قدم په مینځ کښې راوتلی وی هغه کعبین دی. د حضرت امام شافعی رحمه الله فرمان دې چه د کومو کعبینو ذکر دلته شوې دې دا د ګیټئ دوه هډوکی دی چه یو طرفته او بل طرفته لږ شان بنکاره دی او هم په یو قدم کښې کعبین دی، او دخلقو په عرف کښې هم د ادی. اود حدیث مبارک دلالت هم په دې باندې دې.

بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت عثمان رضی الله عنه د اودس کولو په وخت کښې خپله ښئ پښه کعبینو سره اووینځله، بیا ئې ګسه پښه اووینځله، (۳) دغه شان بخاری شریف کښې تعلیقا په صیغه د جزم او صحیح ابن خزیمه او سنن ابو داود کښې دی چه څومره طرفته متوجه ګیدو نه پس نبی کریم صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه خپل صفونه درست کړئی، دې څل ئې دا اوفرمائیل، او بیا ئې قسم اوخوړو چه په الله قسم تاسو خپل صفونه درست کوئی ګنی الله ﷻ به ستاسو زړوه کاږه کړی. حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه راوی وائی چه دا اوشو چه هر سړی به د خپل ملګری ګیټئ سره ګیټئ او او اوګې سره اوګه یو خائې کوله، (۴) ددې روایت نه صفا معلومه شوه چه کعبین د هغه هډوکی نوم نه دې چه د قدم تا طرفته وی. ځکه چه د هغې یو خائې کول د دوؤ سړو دپاره ممکن نه دی. بلکه دا هغه دوه هډوکی دی چه د پنډئی په خاتمه کښې دی، او هم دا د اهل سنت مذهب دې.

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب التوقیت فی المسح علی الخفین:۲۷٦.

(۲) صحیح بخاری کتاب النکاح باب نهی النبی ﷺ عن نکاح المتعة اخیرا: ٥١١٥، صحیح مسلم :۱٤۰۷، ترمذی:۱۷۹٤، ابن ماجه:۱۹٤۱، ابن حبان: ٤١٤٠ بیهقی:۲۰۱/۷.

(۳) صحیح بخاری کتاب الوضوء باب الوضوء ثلاثا ثلاثا:۱٥۹

(٤) صحیح بخاری کتاب الاذان باب الزاق المنکب المنکب والقدم بالقدم فی الصف تعلیقا قبل حدیث:۷۲٥، ابوداود:٦٦۲ دارقطنی:۲۸۲/۱.

Scanned with Ca

ابن ابی حاتم کښې یحیی بن حارث نه منقول دی چه د زید کوم ملګری شیعه قتل شوی وو هغوئ ما کتلی وو ،نود هغوئ ګیتئ می د دقدم په شا اولیدې ،دا د دوی لږ قدرتی سزا وه چه د دوی د مرګ نه پس ظاهره شوه ،او د حق دمخالفت او د حق د پټولو سزا ورته ملاؤ شوه.

قوله تعالی:: وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ۭ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى

دتیمم حکم:- دې نه پس د تیمم صورتونه اود تیمم طریقه هم بیان شوې ده،ددې پوره تفسیر په سورة نساء کښې تیرشوې دي،په دې وجه دې خائې کښې نه بیانیږی .د تیمم د آیت شان نزول هم هلته بیان شوې دي.

دعائشې ﵂ هار روکیدل:- خوامیرالمومنین فی الحدیث حضرت امام بخاری ﵀ ددې آیت متعلق په خصوصیت سره یو حدیث مبارك نقل کړی دی هغه واورئی. حضرت عائشه ﵂ بیان فرمانی چه ځما د غاړې هار په بیداء کښې پریوتو ،مونږ مدینې ته داخلیدو والا وو چه نبی کریم ﷺ خپله سورلی اودروله او ځما په غیږ کښې ئې خپل سرمبارك کیخودو او اوده شو.په دې کښې ځما پلار حضرت ابوبکرصدیق ﵁ راغلو او ما ته په غصه شو چه تا هار ورك کړو او خلق دې ایسار کړل.او په ما ئې څوکنداري لګولې اودې سره ماته تکلیف کیدو،خو په دې خیال نه خوزیدم چه د نبی کریم ﷺ خوب کښې به خلل راشی.هرکله چه نبی کریم ﷺ پاسیدو او د سحرد مونځ وخت شو او اوبه تلاش کړې شوې نو اوبه ملاؤ نشوې په دې باندې دا آیت مبارك نازل شو. حضرت اسید بن حضیر اوفرمائیل چه ائې آل ابوبکر ! الله ﷻ تاسو خلق بابرکت پیدا کړی یئ،تاسو دوی دپاره ټول په ټوله بابرکت یئ (١).

قوله تعالی:: مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ

په امت باندې اسانتیا:- بیا بیان فرمائی چه الله ﷻ تاسو باندې څه تنګی نه راولی بلکه تاسو دپاره دین آسانوی.سخت او مشکل کوی ئې نه ،حکم خو دا وو چه تاسو اوبو سره اودس کوئی خو کله چه اوبه نه وی یابیماری وی نو تاسوته د تیمم کولو اجازت دي.باقی احکام د احکامو په کتابونو کښې اوګورئی.بلکه د الله ﷻ غوښتنه دا ده چه هغه تاسو پاك کړئی او تاسو ته پوره پوره نعمتونه درکړی.چه تاسو د هغه په رحمت باندې شکر ادا کړئی او د هغه په توسیع احکام اود هغه ذات په رحمت اواجازت باندې د هغه شکر ادا کړئی .

د اودس نه پس دعا کول:- د اودس د ذکر کولو نه پس د الله رسول ﷺ یو دعا اوکړه اوهغه د دې آیت مبارك ماتحت ده.مسند سنن او صحیح مسلم کښې د عقبه بن عامر ﵁ نه روایت دې چه مونږ به نمبر په نمبر اوښان څرول،څه په خپل نمبر کښې دماسختن په وخت کښې لازم نو څه ګورم چه نبی کریم ﷺ ولاړ دې خلقو ته څه فرمائی ،چه هرکله څه هلته اورسیدم نو ما دا واوریدل چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کوم کس په ښه شان اودس اوکړی او بیا دوه رکعته مونځ اداکړی نو دده دپاره جنت واجب شو. ما اووئیل چه واه واه دا څه ښه خبره ده،ځما نه مخکښې یو صاحب ناست وو ،هغه چه دا واوریدل نو وې وئیل چه د دې نه مخکښې نبی کریم ﷺ کومه خبره کړې ده هغه ددې نه هم بهتره ده.ما چه کله غور اوکړو نو هغه حضرت عمرفاروق ﵁ وو.وې فرمائیل چه ته اوس اوس راغلې ستا نه مخکښې چه نبی کریم ﷺ څه فرمائیلی دی (هغه دادی) چه کله یو سړې ښه شان سره اودس اوکړی بیا ﴿اشهدان لااله الا الله واشهدان محمداعبده ورسوله﴾ اووائی نو دده دپاره د جنت اته واړه دروازې بیرته شی.چه په کومه داخلیدل غواړې نوداخل دې شی (٢).

---

١) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله(فلم تجدا ماء فتیمموا صعیدا طیبا):٤٦٠٨.

٢) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب الذکر المستحب عقب الوضوء:٢٣٤، ابوداود: ١٦٩، باب الخروج الخطایا مع ماء الوضوء: ٢٤٤، ترمذی :٢،مؤطا امامالک:٣٢/١، احمد: ٣٠٣/٢، ابن حبان: ١٠٤٠.

Scanned with Ca

په اودس د ګناهونو معاف کیدل:- اویو روایت کښې دی چه کله ایمان او اسلام والا اودس دپاره کینی ،نو کله چه دې مخ وینځی نو د سترګو تول ګناهونه اوبو سره یا د اوبو آخری څاڅکی سره لاړشی .دغه شان دلاسونو د وینځلو په وخت کښې دلاسونو تول ګناهونه لاړشی او دغه شان د پښو وینځلو سره د پښو تول ګناهونه لاړ شی او دې دګناهونو نه بالکل پاک شی .(۱)

ابن جریر کښې دی چه کوم سړې اودس اوکړی او کله دې خپل لاسونه یا پښې وینځی نو دده ګناهونه لري شی،دمخ وینځلو سره دده نه ګناهونه لاړشی ،د سر مسح کولو سره د ده ګناهونه لاړشی،د پښو وینځلو سره ددې ګناهونه لاړشی.بل سند کښې دسر د مسح ذکر نشته دي .(۲)ابن جریر کښې دی چه کوم سړې ښه شان سره اودس اوکړی اومونځ دپاه اودریږی نو دده د غوږونو نه،دده دلاسونو نه ،دده د سترګو نه او دده د پښو نه تول ګناهونه جدا شی (۳)صحیح مسلم شریف کښې دی چه اودس نیم ایمان دي.الحمدلله وئیلو سره د نیکئ چاپړې ډک شی،قران یا ستا د موافقت دپاره دلیل دي یا ستا خلاف دلیل دي،هر سړې سحر سحر د خپل نفس خریدو فروخت کوی،نو یا خو خپل ځان آزاد کړی یا هلاک کړی(۴) اوحدیث مبارک کښې دی چه د حرام مال صدقه الله ﷻ نه قبلوی ،اوبې اودسه مونځ نه قبلیږی (۵).(صحیح مسلم). دا روایت ابوداود ،طیالسی،مسند احمد ،نسائی،ابن ماجه کښې هم دي (۶).

وَاذْكُرُوا						
او یاد کړئ						
اود الله تعالی هغه						
نِعْمَةَ اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	وَمِيثَاقَهُ	الَّذِي	وَاثَقَكُمْ		
نعمت دالله	په تاسو باندې	او وعده د هغه	هغه	چې محکموالې کړې دې الله ستاسوسره		
نعمتونه یاد کړئ اکوم چې ئې په تاسو کړې دی اوستاسو نه یئ چې کومه پخه وعده اخستې ده(هغه مه هیروئ)						
بِهٖ ۙ	اِذْ قُلْتُمْ	سَمِعْنَا	وَاَطَعْنَا ۫	وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	
په هغې	یعنی کله چې اووئیل تاسو	اوریده مونږ	اواومنله مونږ	اواویریږئ دالله نه	بیشکه الله		
څه وخت چې تاسواوؤئیل چې مونږ واوریدل او مونږ اومنل	اوالله ﷻ نه ویره کوئ	او الله ﷻ				
عَلِيْمٌۢ	بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ۝	يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	كُوْنُوْا		
ښه عالم دي	په رازونو د زړونو	ائې هغه کسانو| چې ایمان مو راوړې دي|	اوسیږئ		
دزړونو په پټوخبروهم خبر دي	.....ائې دایمان خاوندانو ! دالله دپاره					

---

۱) احمد:٤/٢٣٤، ددې سند صحیح لغیره درجه کښې دې

۲) احمد:٤/٢٣٤، ددې سند صحیح لغیره درجه کښې دې

۳) الطبری : ١٠/٨٦، احمد: ٥/٢٥٢، وسنده ضعیف.وهو صحیح بالشواهد مجمع الزوائد: ١/٢٢٣.

۴) صحیح مسلم کتاب الطهارة باب فضل الوضوء: ٢٢٣، ترمذی : ٣٥١٧، عمل الیوم واللیلة: ١٦٩، ابـن ماجـه: ٢٨٠، احمد:٣٤٢.

۵) صحیح مسلم کتاب الطهارة : باب وجوب الطهارة للصلاة :٢٢٤، ترمذی: ١، احمد:٢/٢٠، بیهقی :١/٤٢.

۶) احمد:٥/٧٤، ابوداؤد: کتاب الطهارة: باب فرض الوضوء:٥٩، وسنده صحیح،نسائی: ١٣٩، ابن ماجه:٢٧١.

Scanned with Ca

قَوّٰمِيْنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالْقِسْطِ ۡ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ

محکم ولاړ|دپاره دالله| ګواهی کونکی| په انصاف سره|اونۀ دی کړی باعث تاسو | دشمنی

په سمه لار قائم اوسئ | او په انصاف سره ګواهی ورکوئ | اودیوې ډلې دشمنی دې تاسو

قَوْمٍ عَلٰٓى اَلَّا تَعْدِلُوْا ؕ اِعْدِلُوْا ۟ هُوَ اَقْرَبُ لِلتَّقْوٰى ۡ

دیو قوم | په دې خبره | چې اونۀ کړئ انصاف تاسو | انصاف کوئ| دا انصاف | زیات نزدې دې | تقوی ته

په ظلم کولو باندې آماده نکړی | همیشه انصاف کوئ | .....داکار پرهیزګاری ته ډیرنزدې دې

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ۝ وَعَدَ اللّٰهُ

اووویریږئ دالله نه | بیشکه الله | خبردار دې | په هغو عملونو| چې کوئ ئې تاسو | وعده کړې ده الله

اوالله ﷻ نه ویریږئ | بیشکه الله ﷻ ستاسو دټولواعمالونه خبر دې |.....الله هغه خلقو سره

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ

دهغه کسانو سره| چې ایمان راوړی | او عمل اوکړی نیك| دې دهغوئ دپاره | مغفرت

چې ایمان ئې راوړې دې | او نیک عملونه کوی دببنې .....اود دلوئې بدلې

وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ۝ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ

اوبدله | لویه |اوهغه کسان| چې کفر ئې اوکړو| اودروغ ئې اوګڼړل|آیتونه زمونږ| دغه کسان

وعده کړې ده | ..... اوچا چې انکار کړې دې | اوزمونږ آیتونه ئې دروغ ګڼړلی دی |دغه کسان

اَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَتَ اللّٰهِ

ملګری د دوزخ دی | ائې هغه کسانو | چې ایمان موراوړې دې| یادکړئ | احسان د الله

جهنمیان دی | .....ائې مومنانو ! دالله ﷻ هغه احسان یادکړئ | څه وخت چې یوې

عَلَيْكُمْ اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ يَّبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ

په تاسو | چې کله اراده اوکړه| یو قوم | چې را اوږده کړی| تاسو ته | لاسونه خپل

یوې ډلې په تاسو باندې د لاس اوچتولو اراده اوکړه .....

فَكَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ وَعَلَى اللّٰهِ

نو منع کړل الله |لاسونه دهغوئ |ستاسو نه | او اووویریږئ دالله نه | او خاص په الله باندې

نوالله دهغوئ لاسونه ستاسونه بند کړل | اوالله ﷻ نه ویره کوئ | او په الله ﷻ باندې دې

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ ۝

توکل پکار دې| مومنانو لره |

مومنان بهروسه اوکړی

قوله تعالی:: وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَاقَهُ الَّذِي وَاثَقَكُمْ بِهِ ۙ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ

د عدل او انصاف حکم:- الله تعالی دا عظیم دین او خپل رسول ﷺ راولیږل او الله ﷻ په دې امت ډیر لوئې احسان اوکړو او اوس ورته هغه یادوی،اوددې وعدې د مضبوطولو هدایت ورته کوی.اودا وعده مسلمانانو دالله ﷻ د پیغمبرد تابعدارئی او مدد دکولو،دین باندې د قائم اوسیدو،ددې د قبلولو او نورو ته د دې درسولو وه.د اسلام راوړلو په وخت کښې به هرمومن ددې د بیعت کولو اقرار کولو،نو د صحابه کرام ﷺ الفاظ دی چه مونږ نبی کریم ﷺ نه بیعت اوکړو چه مونږ به آورو اومنو به .که زړه مو غواړی اوکه نه.اگرچه مونږ ته نورو باندې ترجیح ورکړې شی اودا چې د یو لائق سړی نه به مونږ یو کار نه اخلو(یعنی هغه به د خپلې عهدې او منصب نه نه معزوله کوو) (۱)

دایمان راوړلو ترغیب:- ①دالله ﷻ ارشاد دې چه تاسو ولې ایمان نه راوړئی ؟ حالانکه تاسو ته د الله رسول ﷺ د ایمان راوړلو دعوت درکوی اوهغه ستاسو نه وعده اخستې ده که تاسو ته یقین وی .②داهم وئیلې شوی دی چه دې آیت مبارک کښې یهودو ته یادولې شی چه ستاسو نه د نبی کریم ﷺ د تابعدارئی وعدې اخستې شوی دی،بیاددې څه مطلب چه تاسو نبی کریم ﷺ نه منئ ؟ ③دا هم وئیلې شوی دی چه د حضرت آدم ﷺ د شا نه د راتلو په وخت کښې چه الله ﷻ ستاسو نه کومه وعده اخستې وه هغه ورته یادوی اودا ئې فرمائیلی وو چه آیا څه ستاسو رب نه یم ؟ تولو اقرار کړې وو چه مونږ په دې باندې گواه یو .لیکن رومبې قول زیات صحیح دې.حضرت سدی رحمه الله او حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ نه هم دا مروی دی،او امام ابن جریر رحمه الله هم دې ته مختار وئیلی دی.په هر حال کښې انسان ته پکار دی چه د الله ﷻ نه ویریږی،څکه چه الله ﷻ د زړونو او سینو رازونو نه ښه واقف دې.

قوله تعالی:: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ ۖ

په اولاد کښې عدل کول:- اې ایمان والو ! خلقو ته د خودنې دپاره نه بلکه د الله ﷻ دپاره په حق قائم اوسئ او عدل سره صحیح گواه جوړ شئ.بخاری او مسلم شریف کښې د حضرت نعمان بن بشیر ﷺ نه روایت دې چه څما پلار ماته یو عطیه راکړې وه،څما مور عمره بنت رواحه رضی الله عنها اووئیل چه څه به ترهغه وخت پورې مطمئنه نشم چه ترڅو ته په دې نبی کریم ﷺ گواه نکړې .څما پلار د نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او تولې واقعې ئې ورته بیان کړه نو نبی کریم ﷺ تپوس اوکړو چه آیا تا خپل نور اولاد ته هم دغه شان عطیې ورکړې ده ؟ نو هغه اووئیل چه نه،نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه د الله ﷻ نه ویریږه اوخپل اولاد کښې عدل کوه او څه ظلم گواه نه جوړیږم. نو څما پلار هغه صدقه واپس کړه.(۲)

قوله تعالی:: وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا ۚ اعْدِلُوا ۖ

د دشمنئ په وجه د عدل نه نه اوړیدل:- بیا فرمائی چه د دښمنئ په وجه د عدل نه مه روستو کیږئ.که دوست وی اوکه دښمن وی تاسو ته پکار دی چه د عدل نه کار واخلئ.دا تقوی ته زیات نزدې دې

قوله تعالی:: هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ

د هو د ضمیر مرجع:- .د﴿هو﴾ ضمیر مرجع باندې دلالت فعل کړې دې.لکه ددې مثال قران پاک کښې نوروځایونو کښې هم شته .اوکلام عرب کښې هم شته دې،لکه بل ځائې کښې فرمانی چه ﴿وَإِنْ قِيلَ لَكُمُ ارْجِعُوا فَارْجِعُوا هُوَ أَزْكَىٰ لَكُمْ﴾ یعنی که تاسویوکور ته د تلو اجازت اوغواړئی اواجازت درته ملاؤ

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الفتن باب قول النبی ﷺ سترون بعدی اموراتنکرونها:۷۰۵٦، صحیح مسلم: ۱۸٤۰، احمد:۳۲۱/۵، بیهقی :۱٤۵/۸.

(۲) صحیح بخاری کتاب الهبة باب الاشهاد فی الهبة :۲۵۸۷، صحیح مسلم: ۱٦۲۳، مؤطا امام مالک: ۷۵۱/۲، ابن حبان: ۵۱۰۰، بیهقی :۱۷٦/٦.

نشی،بلکه اوونیلې شی چه واپس شئ نو تاسو واپس لارشئ اوهم دا ستاسو دپاره زیاته پاکی ده نو دلته هم د ﴿هو﴾ ضمیر مرجع مذکور نه دې خو د فعل دلالت موجود دې،یعنی واپس کیدل .هم داشان پورتنی آیت مبارك کښې یعنی عدل کول،دا هم یاد ساتئ چه دلته د ﴿أَقْرَبُ﴾ صیغه داسې موقع باندې ده چه بل طرفته هیڅ ځیز نشته دې،لکه څنګه چه آیت مبارك کښې دی چه ﴿أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَأَحْسَنُ مَقِيلًا﴾ او لکه څنګه چه د حضرت عمر فاروق ﷺ وینا چه ﴿انت افظ واغلظ من رسول الله صلی الله علیه وسلم﴾ (١) دالله ﷻ نه ویریږه هغه ستا د عملونونه باخبردې،هغه به ستا خیر او شر پوره بدله درکوی.هغه پاك ذات ایمان والو،نیکانو خلقو سره د دوی دګناهونو بخښلو او دوی ته د اجر عظیم ورکولو او د جنت ورکولو پوره وعده کړې ده.یعنی دوی به دا اصل کښې جنت د الله ﷻ په فضل سره حاصلوی .خو د رحمت د توجه سبب به د دوی نیك اعمال وی،نو حقیقت کښې هر لحاظ سره قابل تعریف او قابل ستائش الله ﷻ دې .اودا ټول هرڅه د الله ﷻ فضل اوکرم دې .دحکمت او عدل تقاضا هم دا وه چه ایماندارو او نیکانو خلقو ته جنت ورکړی،او کافران جهنم ته اولیږی،نو هم داشان به کیږی.

قوله تعالی::يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱذْكُرُوا۟ نِعْمَتَ ٱللَّهِ عَلَيْكُمْ

د ایت شان نزول:- اوبیا خپل یو بل نعمت وریادوی، د هغې تفصیل دا دې حضرت جابر ﷺ فرمانی چه نبی کریم ﷺ یو ځائې کوز شو او خلق یو خوا بل خوا د سیورو تلاش کښې شو،نبی کریم ﷺ خپله وسله اوویستله او یو ونې ته ئې زوړنده کړه،یو اعرابی راغلو او هغه د نبی کریم ﷺ توره خپل لاس کښې واخسته،او د نبی کریم ﷺ مخکښې اودریدو او وې وئیل چه اوس وایه تا به ځما نه څوك خلاصوی ؟ نو نبی کریم ﷺ جواب کښې اووئیل چه الله ﷻ.هغه بیا دا سوال اوکړو او نبی کریم ﷺ ورته بیا هم دا جواب ورکړو،په دریم ځل جواب سره دده لاس نه تورا اوغرزیده.نو نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته آواز اوکړو،اوکله چه هغوئ راغلل نو نبی کریم ﷺ ورته ټوله واقعه بیان کړه،اعرابی په هغه وخت کښې هم موجود وو. خو نبی کریم ﷺ د هغه نه هیڅ بدله وانخسته. حضرت قتاده ﷺ فرمائی چه څه خلقو په دهوکه نبی کریم ﷺ قتل کول غوښتل او هغوئ د اعرابی د دې دپاره لیږلې وو.خو الله ﷻ هغه ناکام او نامرادکړو (٢)،فالحمد لله.

ددې اعرابی نوم صحیح احادیث کښې غورث بن حارث راغلې دې .حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه یهودیانو نبی کریم ﷺ او د نبی کریم ﷺ د ملګرو د قتل کولو ارادې سره په خوراك کښې زهر ګډ کړل او دوی ته ئې دعوت ورکړې وو خو الله ﷻ په دې نبی کریم ﷺ خبر کړو. او دوی ټول بچ شو. دا هم وئیلې شوی دی چه کعب بن اشرف او دده یهودی ملګرو نبی کریم ﷺ خپل کور ته رابلل او دوی ته ئې تکلیف رسول غوښتلی وو.

د نبی کریم ﷺ د قتل مختلفې منصوبې:- ابن اسحاق ﷺ فرمانی چه ددې نه مراد د نبی نضیر هغه خلق وو چه کومو د ژرندې کانړې د پورته قلعې نه په نبی کریم ﷺ راغورزول غوښتلی وو.او نبی کریم ﷺ د عامری خلق د دیت اخستو دپاره هغوئ ته ورغلې وو نو دې شریرانو عمرو بن حجاش بن کعب په دې کار کولو راضی کړې وو.خو الله ﷻ لار کښې نبی کریم ﷺ د دې شریرو د شرارت نه خبر کړل.نبی کریم ﷺ خپلو اصحابو ﷺ سره واپس شو. هم د دې ذکر په دې آیت مبارك کښې دې .مومنانوته پکار دی چه

---

(١) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق: باب صفة ابلیس وجنوده: ٣٢٩٤، صحیح مسلم: ٢٣٩٦.

(٢) صحیح بخاری کتاب المغازی باب غزوة الرقاع: ٤١٣٥، صحیح مسلم: ٨٤٣، بتصرف یسیر،عبدالرزاق : ١٨٥/١. احمد: ٣٦٤/٣، ابویعلی : ١٧٧٨، ابن حبان: ٣٨٨٣.

Scanned with Ca

به الله ﷻ بهروسه اوساتی .کفایت کولو والا او حفاظت کولو والا صرف هغه الله ﷻ دي .دي نه پس نبی کریم ﷺ دالله ﷻ په حکم د بنو نضیر محاصره اوکړه اوځه خلق ئې قتل کړل او باقی جلاوطن کړي شو.

وَلَقَدْ أَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ إِسْرَآءِيْلَ ج
| اوپه تحقیق | اخستلي وه الله | پخه وعده | دنبی اسرائیلو نه
او الله ﷻ د بنی اسرائیلونه پخه وعده اخستې وه
وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ط وَقَالَ اللّٰهُ إِنِّيْ مَعَكُمْ ط
اواولیږل مونږه | دهغوئ نه | دولس | مشران | اواوونیل الله | بیشکه زهٔ | ستاسو سره یم
اومونږ په دوی دولس سرداران مقرر کړي وو | اوالله ﷻ ورته وئیلی وؤ | چې زه تاسو سره مل یم
لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ
که چرې | قائم اوساتو تاسو مونځ | او ورکړو تاسو زکاة | اوایمان راوړو تاسو | په رسولانو زما
که تاسومونځ کوئ | ..... او زکاة ورکوئ | او زما په پیغمبرانو ایمان راوړئ
وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا لَّأُكَفِّرَنَّ
او مدد مو اوکړو دهغوئ | اوقرض مو ورکړو | الله له | قرض | ښه | انوخامخا به زهٔ لرې کړم
اودهغوئ مدد کوئ | او الله تعالی ته موقرض حسنه ورکړو | نومونږ به ستاسونه
عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ
ستاسو نه | ګناهونه ستاسو | اوخامخا به زهٔ داخل کړم تاسو | داسې باغونو ته | چې بهیږی به
ستاسوګناهونه اورژوؤ | اوتاسو به داسې باغونو ته داخل کړو | چې دهغې لاندې به
مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهٰرُ ج فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ
لاندې د هغې نه | نهرونه | نو هغه څوك | چې انکار ئې اوکړو | روستو ددې نه | ستاسونه
(څلور قسمه) ولې بهیږی | اوچا چې ددې نه پس هم کفر اوکړو
فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ السَّبِيْلِ ۝١٢ فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ
نو په تحقیق | اورکه یئ کړه | نیغه لار | نوپه سبب | دماتولودهغوئ | دپخې وعدې دهغوئ
نویقینا هغه د نیغې لارې نه بې لارې شو | .....بیافقط دوعدې دماتولو په وجه مونږ په دوئ
لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً ج يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ
لعنت اوکړو مونږ په هغوئ | اوګرځول مونږه | زړونه دهغوئ | سخت | ابدلوی هغوئ | خبره
لعنت اوکړو | او د دوی زړونه مو سخت کړل | (نو اوس په توراة کښې تحریف کوی) کلمې د خپلې نه
عَنْ مَّوَاضِعِهٖ لا وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا
دخپلو نو خپلو نه | او هیره کړې ده هغوئ | یوه حصه | دهغې نه | چې نصیب شوې وؤهغوئ ته
بې خایه کوی | او چې کوم نصیحت ورته شوې وؤ | دهغې لویه حصه ئې هیره کړې ده

Scanned with Ca

بِهٖ ۚ	وَلَا تَزَالُ	تَطَّلِعُ	عَلٰى خَآئِنَةٍ	مِّنْهُمْ	اِلَّا	قَلِيْلًا

په هغې سره| اوهمیشه به نې ته| چې خبریږې به ته|په یوخیانت سره |دهغوئ نه| سوا د |لږو کسانو

اوهمیشه به ته ددوی په خیانتونو خبریږې | .....مګر لږ کسان په کښې داسې دی چې (ددې عیب نه) بچ دی

مِّنْهُمْ	فَاعْفُ	عَنْهُمْ	وَاصْفَحْ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	يُحِبُّ	الْمُحْسِنِيْنَ ۝

دهغوئ نه|نومعاف کړه | هغوئ |او مخ اوګرځوه | بیشکه الله | خوښوی | احسان کونکی

نودوئ معاف کړه| اوسترګې پرې پټې کړه | بیشکه الله تعالی نیکان خلق خوښوی

وَمِنَ الَّذِيْنَ	قَالُوْٓا	اِنَّا	نَصٰرٰٓى	اَخَذْنَا	مِيْثَاقَهُمْ

او دهغه کسانونه | چې وئیلی وؤ هغوئ | چې بیشکه مونږه | نصاری یو|اخستلی وه مونږه| پخه وعده دهغوئ

(دغه شان) مونږ دهغې کسانونه هم وعده اخستې وه | چې وئیل یئ مونږ عیسایان یو

فَنَسُوْا	حَظًّا	مِّمَّا	ذُكِّرُوْا	بِهٖ ۠	فَاَغْرَيْنَا

نوهیره کړه هغوئ|ډیره حصه|دهغه سبق نه|چې نصیب شوې وه هغوئ ته|په هغې سره| نواوکړله مونږه

نوهغوئ د هغه تعلیم لویه حصه هیره کړه په کوم چې ورته نصیحت کولې شو | .....نومونږ

بَيْنَهُمُ	الْعَدَاوَةَ	وَالْبَغْضَآءَ	اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ	وَسَوْفَ	يُنَبِّئُهُمُ

په مینځ دهغوئ کښې | دشمنی |اوبغض وکینه| ورځې دقیامت پورې| او زر به |خبر ورکړی هغوئ ته

ددوئ په مینځ کښې ترقیامته پورې دشمنی او کینه واچوله| .....اوډیر زر به ورته

اللّٰهُ	بِمَا	كَانُوْا	يَصْنَعُوْنَ ۝

الله | په هغه کارونو | چې وؤ هغوئ | چې کول به نې

الله ﷻ د دوئ د عملونو خبر ورکړی|

قوله تعالی:: وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ۚ وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا ؕ

سابقه ایاتونو سره ربط:- پورته آیتونو کښې الله ﷻ خپلو مومنانو بندګانو ته د وعدو پوره کولو او په حق د ولاړې اوسیدو، دعدل اود شهادت حکم ورکړې وو، او دې سره ئې ورته خپل ظاهری او باطنی نعمتونه هم ورپه یاد کړی وو. نواوس دې آیتونو کښې د دوی نه مخکښې اهل کتابوسره چه کومه وعده شوې وه هغه یادوی. ددې حقیقت اوکیفیت بیانوی. بیا چه کله هغوئ الله ﷻ سره کړې وعدې ماتې کړې نود هغوئ څه حال وو، د دې بیانولو سره مسلمانان د وعده خلافئ نه منع کوی.

د دولسو سردرانو نومونه:- ددوی دولس سرداران وو. یعنی د دولسو قبیلو دولس سرداران وو چه دوی به د هغوئ نه بیعت کولو، دوی دالله اورسول فرمانبردار وو، او دکتاب الله اتباع کوونکی پاتې شوی وو. هرکله چه موسی علیه السلام سرکشو سره د جهاد دپاره تلو نو دوی کښې ئې یویو سردار منتخب کړې وو. د روبیل قبیلې سردار شامون بن رکون وو. اودشمعونیانو سردارشافاط بن حری وو، د یهوذا کالب بن یوفنا، داتین میخائیل بن یوسف، د افرایم یوسف بن نون او د بنیامین قبیلې سردار فلطم بن وفون او زبون جدی بن شوری او منشا جدی بن موسی او د دان خملائیل بن حمل او اشار ساطور وو، د

Scanned with Ca

نفتالی بحر اویساخر کالایل دتوراة په څلورم جزء کښې دبنی اسرائیلو د قبیلو د سردارانو نومونه مذکور دی. اوهغه ددې نومونو نه لږ شان مختلف دی. والله اعلم.
د موجوده توراة نومونه دادی.بنوروبیل باندې یصور بن سادون،بنو هاشم باندې شموال بن صورشکی،بنو یهوذا باندې حشون ابن عمیاذاب،بنو یساخر باندې شال بن صاعون،بنو بولون باندې الیاب بن حالوب،بنو افرایم باندې منشا بن عمنهور،بنو منشا باندې حملیائل،بنو بنیامین باندې ابیدن،بنو دان باندې جعیذر،بنو اشار بادندې تحایل،بنو کان باندې سیف بن دعوابیل،بنو نفتالی باندې اخبرع.

د لیلة العقبه د شرکاؤ نومونه:- دا یاد ساتئ چه «لیلة العقبة» کښې چه کله نبی کریم ﷺ انصارو نه بیعت اخستې وو نو په هغه وخت کښې هم د دوی سرداران دولس وو. دري د قبیله اوس حضرت اسید بن حضیر ؓ،حضرت سعد بن خثیمه ؓ او حضرت رفاعه بن عبدالمنذر ؓ بعضو روایتونوکښې ددوی په خائې د حضرت ابوالهیثم بن تیهان ؓ نوم دې.اونهه سرداران د قبیله خزرج وو،ابو امامه اسعد بن زراره ؓ،حضرت سعد بن ربیع ؓ،حضرت عبدالله بن رواحه ؓ،حضرت رافع بن مالك بن عجلان ؓ،حضرت براء بن معرور ؓ،حضرت عباده بن صامت ؓ،حضرت سعد بن عباده ؓ،حضرت عبدالله بن عمرو بن حرام ؓ،حضرت منذر بن عمر بن حنیش ؓ،دې سردارانو د نبی کریم ﷺ نه د آوریدو او د منلو بیعت کړې وو.

د امت د خلفاؤ تعداد:- حضرت مسروق ؒ فرمائی چه مونږ خلق حضرت عبدالله بن مسعود ؓ سره ناست وو،دوی په هغه وخت کښې مونږ ته قران پاك خودلو،یو سړی سوال اوکړو چه تاسو نبی کریم ﷺ نه تپوس کړې دې چه ددې امت به څومره خلفاء وی ؟ حضرت عبدالله بن مسعود ؓ اوفرمائیل چه کله نه عراق ته راغلې یم نو ستا نه سوا هیچا د اسوال نه دې کړې،مونږ دې باره کښې نبی کریم ﷺ نه سوال کړې وو نو نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی چه دولس به وی په شمیر د بنی اسرائیلو د نقیبانو وه.(۱) دا روایت د سند لحاظ سره غریب دې.
خو د حدیث مضمون د بخاری او مسلم شریف عبارت نه هم ثابت دې.جابر بن سمره ؓ فرمائی چه ما د نبی کریم ﷺ نه آور یدلی دی چه د خلقو کار به چلیږی ترکومې چه د دوی ولیان دولس نه شی،بیا نبی کریم ﷺ یو لفظ اووئیلو خو هغه ما واو نریدو،نوما خلقو نه تپوس اوکړو چه نبی کریم ﷺ دا بل کوم یو لفظ اووئیلو نو خلقو اووئیل چه دا ټول به د قریشو نه وی(۲).

دولس خلفاء به کله وی:- صحیح مسلم کښې ددې حدیث مبارك هم دا مطلب دې چه دولس خلفاء به نیك بخت وی چه په حق به قائم وی اوخلقو کښې به عدل کوی.ددې نه دا ثابت نه دی چه دا به پرله پسې وی،نو څلور خلفاء خو پرله پسې شو،حضرت ابوبکر صدیق ؓ،حضرت عمرفاروق ؓ،حضرت عثمان ؓ،حضرت علی ؓ،او چه د چا خلافت د نبوت طریقه وو په هغه دولسو کښې حضرت عمر بن عبدالعزیز ؒ دې.بنو عباس کښې هم بعضې داشان خلفاء تیر شوی دی او د قیامت نه مخکښې مخکښې د دوی شمیر دولس پکاردې .او هم په دوی کښې حضرت امام مهدی ؒ هم دې چه د هغه بشارت احادیثو کښې راغلې دې،د هغه نوم به د نبی کریم ﷺ نوم سره یو شان وی،دهغه د پلار نوم به د نبی کریم ﷺ د پلار د نوم په شا ن وی. زمکه کښې به عدل اوانصاف راشی .اوددوی نه مخکښې به ډیر زیات ظلمونه شوی وی.اوددې نه د شیعه حضراتو امام منتظر مراد نه دی.د هغه خو هدو حقیقت نشته دې اونه د هغه څه وجود شته دې بلکه دا خو صرف د شیعه حضراتو وهم او خیال

---

(۱) احمد : ۳۹۸/۱، مسند ابی یعلی : ۵۰۳۱، مسندالبزار: ۱۵۸۶، طبرانی : ۱۰۳۱، مجمع الزوائد: ۱۹۳/۵.
(۲) صحیح بخاری کتاب الاحکام باب : ۷۲۲۲، صحیح مسلم : ۱۸۲۱، ابوداؤد: ۴۲۷۹.

Scanned with Ca

دي.اونه ددي حديث مبارك نه د شيعه حضراتو د فرقې اثنا عشريه مراد ده. دا حديث په ائمه باندې محمول کول هم دشيعه حضراتو جوړه کړې شوې خبره ده. اودا د هغوئ دکم عقلئ او د جهالت نښه ده.

د شيعه ګانو د دولسو امامانو د عقيدې ترديد:- توراة کښې د حضرت اسماعيل ﷺ بشارت سره دی چه د دوی نسل کښې به دولس لوئې سړی وی.د دې نه مراد هم د دې قريشو دا دولس بادشاهان مراد دی. خوچه کوم يهوديان مسلمانان شوی وو او هغوئ په خپل اسلام کښې کچه او دې سره جاهل هم وو،هغوئ د شيعه ګانو غوږ کښې دا خبره اچولې وه اوهغوئ ددې نه مراد ددوی دولس امامان اخستی وو،ګنی احاديثو کښې ددې نه صفا خلاف موجود دی.

قوله تعالى:: وَقَالَ اللَّهُ إِنِّي مَعَكُمْ ۖ لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنْتُمْ بِرُسُلِي

د يهوديانو د وعدې ماتول:- اوس دهغه وعدې ذکر کيږی چه کومه الله ﷻ يهودو نه اخستې وه چه تاسو به مونځ کوئی،زکوة به ورکوئی،د الله ﷻ درسولانو تصديق به کوئی،د هغوئ مدد به کوئی،اوالله ﷻ مدد او نصرت به هغوی سره وی .ددوی ګناهونه به معاف وی .او دوی به جنتيانو کښې داخل وی .مقصد به حاصل شی او د دوی نه به ويره لرې شی .خو که د دې وعدې نه بيا هم واوړيدل او ددې خلاف ئې اوکړو نو دوی به حق نه لرې شی .ورځ او لرې به پريوځئ .نوهم داشان اوشو،دوی ميثاق مات کړو او وعده ئې ماته کړه،نو په دوی باندې دالله ﷻ لعنت اوشو. هدايت نه لرې شو،د دوی زړونه سخت شو،د وعظ او پندو نصيحت نه خړوب نه شو، ددوی پوهه ختمه شوه.دالله ﷻ خبرو کښې ئې تاويلونه شروع کړل،چه کوم حقيقت مراد وو هغې نه ئې کلام الله کښې خلاف اوکړو او ددې نه ئې نور نور مطلبونه واخستل،او د الله ﷻ نوم به ئې اخستو او هغه مسائل به ئې بيانول چه کوم دوی ته الله ﷻ نه وو خودلی. اوتردې چه د دوی دلاسونو نه دالله ﷻ کتاب پريوتواو دوی نه صرف بې عمله بلکه بې رغبته هم شو. د دين اصل چه کله ددوی د لاسونو نه پريوتو نو بيا فروعی عمل څنګه قبليدې شی ؟ د عمل ختميدو په وجه نه د دوی زړونه صحيح شو اونه د دوی فطرت صحيح شو،او نه د دوی اخلاص پاتې شو اودوی مکاری او دهوکه خپله طريقه جوړه کړه،د نبی ﷺ او صحابه کرام ﷺ خلاف نوی نوی محاذونه پرانيستې کيدل.بيا دالله ﷻ نبی ته حکم اوشو چه تاسو په دې سترګې پټې کړئی هم دا معامله دوی سره ښه ده لکه څنګه چه حضرت عمرفاروق ﷺ نه مروی دی چه څوک تاسره دالله ﷻ د فرمان خلاف اوکړی نو دوی د الله ﷻ د حکم ماتحت کړئی،په دې کښې يو لوئې مصلحت دا وو چه ممکن دی چه د دوی زړونه صحيح شی او دوی ته هدايت نصيب شی .او حق طرفته راشی. الله ﷻ احسان کونکو سره دوستی کوی .يعنی د نورو د بدسلوکئ نه چشم پوشی کوی او نيک سلوک کولو والا د الله ﷻ دوست دې .حضرت قتاده ﷺ فرمائی چه د معاف کولو حکم د جهاد آيت مبارک سره منسوخ شوې دې (١).

قوله تعالى:: وَمِنَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ أَخَذْنَا مِيثَاقَهُمْ

بيا ارشاد دې چه ددې نصرانيانونه هم مونږ وعده اخستې وه چه کوم رسول راځی دوی به په هغه ايمان راوړی.د هغه مدد به کوی،اود هغه خبره به آوری،خو دوی هم د يهوديانو په شان وعده خلافی اوکړه،اوددې سزا کښې مونږ دوی کښې خپلو کښې دشمنی واچوله چه ترقيامته پورې به جاری وی.دوی کښې فرقې فرقې جوړې شوې چه يو بل ته ئې کافر وئيل .اوخپلو عبادت خانو ته هم نه راځی.ملکانيه فرقه،يعقوبيه فرقې او يقوبيه فرقې ته ښکاره کافر وئيل.داشان نورې فرقې هم وې دوی ته د دوی داعمالو په وجه پوره تنبيه ورکړې شوه .دوی هم د الله ﷻ نصيحتونه هيرکړل .اوالله ﷻ

---

(١) الطبری: ١٣٤/١٠

باندې نې تهمتونه اولګول،او وې وئيل چه د الله تعالى ښځه او اولاد شته دې،دوى به د قيامت په ورځ ډير خراب رانيولې شى.الله ﷻ واحد فرد ﴿الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝﴾ دې.

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ	قَدْ
ائې اهل كتابو	په تحقيق سره
اې اهل كتابو!	يقينا
جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِّمَّا كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ	
درغلې دې تاسو ته	رسول زمونږه	چې بيانوى	تاسو ته	ډيرې	اهغه خبرې	چې تاسو به پټولې
تاسوته زمونږ رسول راغلې دې	اودكتاب هغه ډيرې خبرې نې درته ښكاره كړې دى					
مِنَ الْكِتٰبِ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ۬ قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ						
د كتاب نه	اومعافى كوى	د ډيرو(خبرو)نه	راغلې ده تاسو ته	دطرفه دالله نه	رڼا	
كومې چې به تاسوپټولې	اوډيرې داسې دى چې هغه ئې نه بيانوى	تاسوته دالله ﷻ دطرفه يو رڼا راغلې ده				
وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ۝١٥ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ						
اوراغلې دې داسې كتاب	چې واضحه دې	چې ښايئ	په هغې سره	الله	هغه چا ته	
اويوروښانه كتاب راغلې دې	..... ددې په ذريعه الله ﷻ هغه چا ته					
اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ						
چې پيروى كوى	د رضا د هغه	لارې د سلامتيا	او راوباسى هغوئ لره	د تيارو نه		
دسلامتيا لارې ښائى	چې چاته ئې خوښه شى	..... اوهغوئ د(كفر)د تيرونه				
اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝١٦						
رڼا	ته	په حكم خپل سره	او هدايت كوى د هغوئ	لارې	انيغې ته	
د(هدايت)رڼا	ته راوباسى	اوپه نيغه لار ئې قائم ساتى				

قوله تعالى: يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِّمَّا كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ ۬

د اهل كتابوعلمى بد ديانتى:- فرمائى چه رب تعالى خپل اوچتې مرتبې والا رسول حضرت محمد ﷺ هدايت اوحق دين سره ټول مخلوق طرفته ليږلې دې،معجزې او روښانه دليلونه ئې دوى ته وركړى دى چه كومې خبرې يهوديانو او نصرانيانو بدلې كړې وې،تاويلونه ئې كړى وو.او نور مطلبونه ئې جوړ كړى وو،اودالله ﷻ په ذات ئې بهتان لګولو،د كتاب الله كومې حصې چه ئې خپل خلاف موندې،هغه به ئې پټولې،دا ټول هغه رسول ښكاره كړل،اوچه دكومو د بيان ضرورت شته دې دوى هغه نه بيانوى .مستدرك حاكم كښې دى چه چا د رجم د مسئلې انكار اوكړو نو هغوئ لاعلمئ سره قران پاك نه انكار اوكړو.نو دې آيت مبارك كښې هم د دې رجم پټولو ذكر دې.([1])

[1])حاكم: ٣٥٩/٤، امام حاكم دې ته صحيح وئيلى دى او امام ذهبى ددې موافقت كړې دې.صحيح ابن حبان الاحسان: ٤٤١٣ والسنن الكبرى للنسائى: ٧١٦٢، وسنده حسن.

Scanned with Ca

قوله تعالی:: قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ۝

د قران پاک صفتونه:- بیاد قران عظیم باره کښې فرمائی چه هم هغه لوئې ذات په نبی کریم ﷺ باندې خپل کتاب نازل کړو .اودغه قران هغه خلقو ته دسلامتیا لار ښائی چه کوم حق منی .خلق د ظلم نه منع کوی.اونور طرفته ئې بوځی او صراط مستقیم طرفته د دوی رهنمائی کوی.ددې کتاب په وجه د الله ﷻ انعامات حاصلول اود هغه د سزا ګانو نه بچ کیدل آسان شوی دی.دا ضلالت ختمونکې اوهدایت واضح کونکې کتاب دې .

لَقَدْ	كَفَرَ						
	یقیناً چې	کفر اوکړو					
بیشکه هغه کسان چې کافران دی							
الَّذِيْنَ	قَالُوْٓا	اِنَّ اللّٰهَ	هُوَ	الْمَسِيْحُ	ابْنُ مَرْيَمَ ؕ	قُلْ	فَمَنْ
هغه کسانو	چې وایی	چې بیشکه الله	هم دا	مسیح	ځوئې دمریم دې	اووایه ائې نبی	نو څوك به
وائی چې الله ﷻ هم دغه مسیح دمریم ځوئې دې	..... ورته اووایه چې څوك داسې شته دې						
يَّمْلِكُ	مِنَ اللّٰهِ	شَيْـًٔا	اِنْ اَرَادَ	اَنْ يُّهْلِكَ	الْمَسِيْحَ		
طاقت اولری	د الله د مقابلې	اځه قدرله	که اوغواړی	چې هلاك کړی	مسیح		
چې د الله ﷻ په مقابله کښې اختیار اولری	که الله ﷻ اوغواړی چې مسیح						
ابْنَ مَرْيَمَ	وَاُمَّهٗ	وَمَنْ	فِي الْاَرْضِ	جَمِيْعًا ؕ	وَلِلّٰهِ	مُلْكُ	
ځوئې د مریم	او مورد هغه	اوهغه څوك	چې په زمکه کښې دی	تول	اوالله لره ده	بادشاهی	
دمریم ځوئې اودهغه مور اود زمکې تول خلق هلاك کړی	..... د اسمانونو اود						
السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا	بَيْنَهُمَا ؕ	يَخْلُقُ	مَا		
داسمانونو	او د زمکې	اودهغه څیزونو	چې په منځ ددواړو کښې دی	پیدا کوی	هغه څه		
زمکې تر مینځه دتولو څیزونو اختیار د الله سره دې	..... څه چې اوغواړی پیدا کوی ئې						
يَشَآءُ ؕ	وَاللّٰهُ	عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ ۝	وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ	وَالنَّصٰرٰى		
چې اوغواړی	او الله	په هر څیز باندې	قادر دی	او وائې یهودیان	اوعیسایان		
اوالله ﷻ په هرڅه کامل قدرت لری	.....اویهود (خانله) اونصاری (خانله) دا دعوی کوی						
نَحْنُ	اَبْنٰٓؤُا	اللّٰهِ	وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ	قُلْ	فَلِمَ	يُعَذِّبُكُمْ	
چې مونږ	خامن یو	د الله	اودوستان یو د هغه	ورته اووایه	انو ولې	عذاب درکوی تاسو له	
چې مونږ د الله ﷻ خامن او نزدې خلق یو اورته اووایه چې تاسوته بیا ولې په ګناهونو سزا ګانې درکوی							
بِذُنُوْبِكُمْ ؕ	بَلْ	اَنْتُمْ	بَشَرٌ	مِّمَّنْ	خَلَقَ ؕ	يَغْفِرُ	
په ګناهونو ستاسو	بلکه	تاسو	انسانان یئ	دهغه مخلوقاتو نه	چې الله پیدا کړی دی	بخښنه کوی	
(داسې نه ده) بلکه تاسوهم هغه شان عام انسانان ئې څنګه چې د الله ﷻ نور مخلوق دې	چاته چه الله						

لِمَنْ	يَّشَآءُ	وَيُعَذِّبُ	مَنْ	يَّشَآءُ ؕ	وَلِلّٰهِ	مُلْكُ السَّمٰوٰتِ
هغه چاته	چې اوغواړي	اوسزاورکوي	هغه چاته	چې اوغواړي	اوالله لره دي	ملکیت د اسمانونو
اوغواړي نوببنه اوکړي	او چاته چې اوغواړي نوعذاب ورکړي				اوپه اسمانونواو زمکه او د دې په مینځ	
وَالْاَرْضِ	وَمَا بَيْنَهُمَا ۚ	وَاِلَيْهِ	الْمَصِيْرُ ۝١٨			
او د زمکې	او هغه چې په منځ د دې دواړو کښې دي		اوخاص هغه ته	ورتلل دي		
کښې چې څه دي ټول د الله ملکیت دي			او الله ﷻ ته واپس تګ دي			

قوله تعالی:: لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ

حضرت عیسی علیه السلام او ددوئ مور ته اله وئیلو والا کافر دی:- الله تعالی د عیسایانو دکفر بیان کوی چې هغوئ دالله تعالی مخلوق ته دالله درجه ورکړې وه .الله تعالی شرک نه پاک دې ټول څیزونه د هغه محکوم اومقهوردی.هریو څیزد هغه حکومت اوملکیت کښې دي.داسې هیڅوک نشته دې چې هغه د هغه د ارادې نه منع کړی .داسې څوک نشته دې چې د هغه د مرضئ خلاف څه خبره اوکړی .که هغه ذات عیسی علیه السلام اود هغه مور او په مخ د زمکې هرڅه تباه کول غواړی نو د چا مجال چې د هغه مخې ته راشی.هغه د ټولوموجوداتو اومخلوقاتو خالق دې .دټولو مالک او ټولو حکمران دې .څه چې غواړی نوهغه کوی .هیڅ یوشیز دهغه د اختیار نه بهر نه دې .هغه نه څوک تپوس کولووالا نشته .د هغه سلطنت اومملکت ډیر وسیع دې. د هغه عظمت او عزت ډیراوچت دې.هغه عامل اوغالب دې .څنګه چې غواړی نوهغه شان کوی ،د هغه د قدرتونو هډو انتها نشته.

قوله تعالی:: وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ

د نصرانیانو دتردید نه پس اوس د یهودو او نصریانیانو بیا تردید بیانیږی چې دوی په الله تعالی باندې یو دروغو اوترلو اوهغه دا چې مونږ دالله تعالی ځامن او محبوب یو.مونږ د نبیانو علیهم السلام اولاد یواومونږ دالله تعالی نیازبین یو.خپل کتاب نه به ئې نقل کول چې الله تعالی د بنی اسرائیلو باره کښې فرمائیلی دی چې [انت ابنی بکری] بیا تاویولونه کوی او ددې مطلب التې کوی او وائی چې هر کله هغوئ د الله تعالی ځامن شو نو مونږ هم د الله تعالی ځامن اوعزیز یو.حالانکه دوی کښې به چې کوم عقل منداو صاحب دین وو هغوئ به دوئ پوهه کول چې د دې لفظونو نه مراد صرف بزرګی ظاهرول دی،د دې نه مراد رشته داری نه ده.هم ددې پشان آیت به نصرانیانو خپلو کتابونو کښې نقل کولو چې حضرت عیسی علیه السلام به فرمائیل [انی ذاهب الی ابی وابیکم] ددې نه هم مراد سکه پلار نه وو بلکه هم د هغوئ محاوره کښې دا لفظ د الله تعالی دپاره راتلو.نو ددې مطلب دا شو چې خپل اوستاسو رب طرفته څم.اوهغوئ د دې نه بل څه مطلب اخستلو اودې آیت کښې چې کوم نسبت عیسی علیه السلام طرفته شوې دې هغه ئې ټول امت طرفته کولو.خو هغه خلقو خپله باطله عقیده کښې چې کوم نسبت حضرت عیسی علیه السلام ته کولو هغه ئې خپل ځان ته نه کولو.نو دا لفظ صرف د عزت دپاره وو بل څه دپاره نه وو. الله تعالی دوئ ته جواب ورکوی که د اصحیح وی نو بیا تاسو ته الله تعالی ولې ستاسو په کذب،کفر،بهتان اوافتراء باندې سزا درکوله.یو صوفی دیو فقیه نه تپوس اوکړو چې آیا قران پاک کښې دا هم دی چې حبیب خپل حبیب ته عذاب نه ورکوی.هرکله چې هغه سره د دې جواب نه وو نو هغه دا آیت مبارک تلاوت کړو.داډیر بهترین قول دې.

د الله په خپلو بندګانو مهربانی:- هم ددې دلیل د مسند احمد دا حدیث پاک دې چې یو ځل حضرت نبی کریم ﷺ خپلو صحابه کرام رضی الله عنهم سره په لار تیریدل،دوئ یو وړوکې ماشوم اولیدو چې په لار کښې ئې

لوبې کولې. هرکله چې د هغه مور دا اولیدل چې یوه ډله راروانه ده اوهسې نه چې هغوئ په ده پښې کیږدی نو چغې ئې کړې ځما بچې، ځما بچې، منډه ئې کړه او خپل بچې ئې زرخپله غیږه کښې راپورته کړو. په دې باندې صحابه کرامو اوفرمائیل چې یارسول الله ﷺ دا ښځه خو به داخپل بچې هیڅ کله هم اور ته غوزار نکړی. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې دا بالکل صحیح دۀ ،الله تعالی هم خپل بندګان جهنم ته نه داخلوی.(۱)

دیهودو جواب کښې فرمائی تاسو هم د نورو انسانانو پشان انسانان یئ، تاسو ته په نورو فضیلت نه دې حاصل. الله تعالی په خپلو بندګانو باندې حاکم دې. اوهم هغه د دوی په باره کښې ریښتونې فیصله کوی. هغه ذات چې چاته اوغواړی نو بخښنه ورته کوی او چې چاته اوغواړی نو خپل کرفت کښې ئې رانیسی. د هغه د هیڅ حکم څوک رد نشی کولې. هغه خپلو بندګانو سره ډیر زر حساب کونکې دې. زمکه اوآسمان او د دې مینځ کښې مخلوق ټول د هغه ملکیت کښې دی، د هغه ذات په دباؤ کښې دی. ټول به هغه طرفته واپس کیږی. هغه ذات به په بندګانو کښې فیصله کوی. هغه ذات ظالم نه دې بلکه عادل دې. نیکانو ته به نیکی او بدانو ته به بدی ورکوی.

د ایت شان نزول:- نعمان بن آصا، بحری بن عمرو او شاس بن عدی ،دا دیهودیانو لوئې لوئې علماء وو، دوئ حضور نبی کریم ﷺ ته راغلل، دوئ ئې ډیر پوهه کړل او آخر ئې د عذاب نه ډیر ویرول، نو دوئ اووئیل چې ائې نبی کریم ﷺ ته مونږ ویروې ؟ مونږ خو د الله تعالی ځامن او نیازبین یو. هم دا به نصرانیانو هم وئیل. نو دا آیت مبارک نازل شو. دې خلقو خپل ځان نه داخبره هم مشهوره کړې وه چې الله تعالی حضرت اسرائیل ﷺ طرفته وحی کړې وه چې ستا خوا کښې چې کوم ځوئې دې دا ځما داولاد نه دې. ددۀ اولاد به تر څلویښتو ورځو پورې جهنم کښې وی. دې موده کښې به اور دوئ لره پاک کړی. اوددوئ ګناهونه به اوسیزی. بیا به یوه فرښته آواز اوکړی چې د اسرائیل اولاد کوم یو سنت شوې وی هغه دې راوزی. هم دامعنی ده د هغه قول چې کوم قران پاک کښې مروی دې چې دوئ به وئیل چې مونږ به څو ورځې په شمیر جهنم کښې اوسیږو.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ	
ائې اهل کتابو	ا
ائې اهل کتابو!	
قَدۡ جَآءَكُمۡ	رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ
په تحقیق راغلې دې تاسو ته ا رسول زمونږه ا چې بیانوی ا تاسو ته ا	روستو د ډیرې مودې د بندیز د رسولانو نه
تاسوته زمونږ پیغمبر راغلې دې ا دا دین حکمونه درته بیانوی ا په داسې وخت کښې چې د مودې راسې د پیغمبرانو راتلل بند وۥ	
أَن تَقُولُواْ	مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ
چې بیاچرته اونه وایئ تاسو ا چې نه وۥ راغلې مونږ ته ا څوک زیرې ورکونکې ا اونه څوک ویرونکې ا نوپه تحقیق سره	
چې تاسو دا اونه وائې ا چې مونږ ته څوک زیرې راکونکې یا ویرونکې نه وۥ راغلې ا نو بیشکه	

۱) احمد:۳/۱۰٤، مسند ابی یعلی : ۳۷۳۷، مجمع الزوائد: ۲۱۲/۱۰.

Scanned with Ca

جَآءَكُمْ بَشِيرٌ وَّنَذِيرٌ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٩﴾

راغې تاسونه ازيرې ورکونکې او ويرونکې او الله په هر څيز باندې قادر دې

تاسونه زيرې ورکونکې او ويرونکې راغلې دې او الله ﷻ په هرڅه قادر دې

قوله تعالى: يَٰٓأَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُولُنَا

د فطرة الوحى زمانه :- دې آيت مبارك کښې الله ﷻ يهوديانو او نصرانيانو ته خطاب کوى او فرمائى چه ما تاسو ته ولو طرفته خپل رسول ليږلې دې. او هغه خاتم الانبياء دې. د هغه نه پس به بل هيڅ رسول نه راځى. دوى ﷺ د ټولو نه روستو دې. او ګورئى د حضرت عيسىٰ ﷺ نه پس ننه پورې نبى نه دې راغلې. د فترت الوحى د دې اوږدې مودې نه پس رسول راغلل، بعضې وائى چه دا موده شپږ سوه کاله وه، بعضې وائى چه پنځه نيم سوه کاله (١) بعضې وائى چه پنځه سوه څلويښت کاله وه، څوك وائى څلور سوه نه څه زياته وه. ابن عساكر کښې دى چه حضرت عيسىٰ ﷺ آسمان ته دتلو او څمونږ د رسول ﷺ په مينځ کښې نهه سوه اودرې ديرش کاله فاصله وه. خو رومبې قول د شپږو سوو کالو دې. بعضې وائى چه د شپږو سووو او شلو کالو موده وه. په دې دواړو قولونو کښې دا شان تطبيق هم کيدیشى چه رومبې شمسى حساب سره وى او دويم قول قمرى حساب سره وى. په دې شمير کښې هردرې سوو کالو پسې تقريبًا د اتو کالو فرق راځى. ددې وجې د اهل کهف قصه کښې دى چه ﴿وَلَبِثُوا۟ فِى كَهْفِهِمْ ثَلَٰثَ مِا۟ئَةٍ سِنِينَ وَٱزْدَادُوا۟ تِسْعًا﴾ هغه خلق خپلو غارونو کښې تر درې سوو کالو پورې وو او نهه سوو کالو نه ځې نور زيات کړل شمسى حساب سره چه کومه موده د دوى د غار معلومه وه هغه درې سوه کاله وه او نهه چه ورسره زيات شى نو دا قمرى حساب سره پوره شو. ددې آيت نه معلومه شوه چه د حضرت عيسىٰ ﷺ نه چه د بنى اسرائيلو آخرى پيغمبر وو تر حضرت محمد ﷺ پورې چه على الاطلاق خاتم النبيين وو د فترت وحى زمانه وه يعنى دې مينځ کښې هيڅ نبى نه دې راغلې.

نبى كريم ﷺ اخرى پيغمبر دې:- صحيح بخارى شريف کښې دى چه نبى كريم ﷺ اوفرمائيل د حضرت عيسىٰ ﷺ په نسبت د نورو خلقو نه زه زيات اولى يم. ځکه چه ځما او د ده په مينځ کښې بل نبى نشته دې (٢) په دې کښې په هغه خلقو هم رد دې چه خيال کوئى چه ددې دواړو جليل القدر پيغمبرانو مينځ کښې يونبى تير شوى دى. او د هغه نوم خالد بن سنان وو (٣) لکه څنګه چه قضاعى وغيره کښې حکايت دى. مقصد دا دې چه خاتم الانبياء دالله ﷻ حبيب په هغه وخت کښې دنيا ته تشريف راوړو چه کله د رسولانو تعليم ختم شوې وو. د هغوئ لارې ختمې شوى دى. دنيا توحيد هير کړې وو. ځائې په ځائې د مخلوق عبادت کيدلو. نمر ته، سپوږمئ ته او اور ته سجدې کولې شوې. د الله ﷻ دين بدل شوې وو. د دنيا ګوټ ګوټ د سرکشئ او طغيانئى نه ډك وو. عدل او انصاف بلکه انسانيت هم فنا شوې وو. د جهالت او تيرو دور وو. د څو نفسونو نه علاوه په مخ د زمکې د الله ﷻ څوك نوم اخستونکې نه وو. نو معلومه شوه چه د الله ﷻ په نيز د نبى كريم ﷺ جلالت او عظمت ډير زيات وو. او نبى كريم ﷺ ته چه الله ﷻ کوم رسالت ورکړې وو هغه معمولى رسالت نه وو.

د نبى كريم ﷺ ذمه وارياني:- مسند احمد کښې دى چه نبى كريم ﷺ خپله خطبه کښې اوفرمائيل چه

---

١) صحيح بخارى كتاب مناقب الانصار باب اسلام سلمان الفارسى ﷺ : ٣٩٤٨.

٢) صحيح بخارى كتاب احاديث الانبياء باب قول الله تعالى(واذكر فى الكتاب مريم .....): ٣٤٤٢، صحيح مسلم: ٢٣٦٥، احمد: ٣١٩/٢، ابن حبان : ٦١٩٥.

٣) حاكم : ٥٩٩/٢..

Scanned with Ca

ځما د رب حکم دي چه ځه تاسو ته هغه خبري اوښایم چه د هغې نه تاسوخبر نه یئ.او نن ماته الله تعالی خودلی دی.فرمائی چه ما خپلو بندګانو ته څه ورکړی دی هغه مې ورته حلال کړی دی،ما خپل ټول بندګان موحدین پیدا کړی وو ،خوبیاشیطان دوی ته راځی او دوی لمسوی او ځما حلال څیزونه په دوی حراموی،او شیطان دوی ته وائی چه دوی دې ما سره بغیرد څهٔ دلیل نه شرك اوکړی،واورئی ! الله ﷻ زمکې والو ته اوکتل او ټول عرب اوعجم ئې خوښ نه کړل،سوا د هغه څو بنی اسرائیلو نه چه کوم په توحید قائم وو اوبیا ئې ماته اوفرمائیل چه ما ته په دې وجه پیغمبرجوړکړې اولیږلې چه خه په تا امتحان اوکړم او ستا په وجه د نورو امتحان اوکړم.ما په تا هغه کتاب نازل کړې دې چه هغه اوبه نشی وینځلې او هغه په ناسته او په ملاسته وائي.بیا ماته الله ﷻ حکم اوکړو چه خه قریشو ته د الله ﷻ پیغام اورسوم.ما اووئیل چه ائې الله ﷻ دوی خو به زما سر مات کړی او د روتیئ په شان به ئې کړی،نو الله ﷻ اوفرمائیل چه ته دوی اوباسه لکه څنګه چه ته دوی ویستې وې،ته دوی سره جهاد اوکړه تاسره به مدد کولې شی،ته په دوی باندې خرچ اوکړه په تا به خرچ کولې شی،ته دوی سره مقابلې دپاره لښکر اولیږه مونږ به د دې په پنځه چنده زیات لښکردرلیږو.خپل فرمانبرداروا خله اوخپلو نافرمانو سره جنګ اوکړه.جنتیان خلق په درې قسمه دی.عادل بادشاه،هغه کس چه د ښه کارونو توفیق ورته ملاو شوې وی صدقه خیرات کونکې ،رحم کونکې ،نیزدې مسلمان سره نرمی کونکې،د غربت باوجود حرامو نه بچ کیدونکې چې صاحب عیال هم وی.

اوجهنمیان خلق په پنځه قسمه دی.هغه سفلی خلق چه بې دینه او خوشامندګروی اوماتحت وی،چې د هغوی آل اواولاد مال دولت نه وی اوهغه خائن خلق دهغوئ غابنونه وړوکی نه په وړوکی څیز باندې هم تیز وی(یعنی په معمولی څیز کښې هم خیانت کوی) او په وړوکو څیزونو کښې هم د خیانت نه منع کیږی اوهغه خلق چه کوم سحر مابنام خلقو ته او ددوی اهل و عیال ته دهوکه ورکوی ،اوبخیل یا ئې اوفرمائیل چه کذاب یعنی بدزبانه وی (١).

داحدیث مسلم شریف کښې اونسائی شریف کښې هم دی. مقصد دادې چه د نبی کریم ﷺ د بعثت په وخت کښې دنیا کښې ریښتونې دین نه وو. الله ﷻ د نبی کریم ﷺ په وجه خلق د تیرو نه اوګمراهو نه راوویستل او په صحیح لاره ئې راوستل او دوی ته ئې روښانه او واضح دلیلونه ورکړل،ځکه چه د خلقو عذر ختم شی،او دوی دا اونه وائی چه مونږ ته څوك نبی نه وو راغلې او نه راته چا زیرې راکړې وواونه ئې مونږ ویرولی وو.نود کامل قدرتونو خاوند الله ﷻ خپل برګزیده پیغمبر ﷺ ټولې دنیادپاره هدایت راولیږلو،هغه خپلو فرمانبردارو ته زیات ثواب ورکولو باندې نافرمانو ته عذاب ورکولو باندې زیات قادردی.

وَاِذْ	قَالَ	مُوْسٰى					
اوکله چې	اووئیل	موسی					
اوهغه وخت یادکړئ	چې موسی ﷺ						
لِقَوْمِهٖ	يٰقَوْمِ	اذْكُرُوْا	نِعْمَةَ اللّٰهِ	عَلَيْكُمْ	اِذْ	جَعَلَ	
قوم خپل ته	ائې زماقومه	یادکړئ	نعمت د الله	په تاسو	هرکله چې	پیداکړل هغه	
خپل قوم ته	اووئیل	چې تاسوته الله ﷻ کوم نعمتونه درکړی دی هغه	یادکړئ	ځکه چې په			

---

١) احمد: ١٦٢/٤، صحیح مسلم کتاب الجنة باب الصفات التی یعرف بها فی الدنیا اهل الجنة واهل النار: ٢٨٦٥، السنن الکبری للنسائی: ٨٠٧١. ابن حبان : ٦٥٣ عبدالرزاق: ٢٠٨٨، بیهقی : ٢٠/٩٠.

Scanned with Ca

فِيكُمْ أَنْبِيَاءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوكًا ۖ وَآتَاكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ

په تاسو کښې | پیغمبران |اوجوړې کړې تاسو| بادشاهان |اودرنې کړل تاسوته|هغه هرڅه| چې نه وؤ ورکړی شوی

تاسو کښې نې پیغمبران رالیږلی دی | اوتاسو نې بادشاهان کړې | اوتاسوته نې هغه څه درکړی دی

أَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ

هیڅاته |دمخلوقاتو نه | اې زماقومه| ننوخئ | زمکې | پاکې ته

چې نورمخلوق ته نې نه دی ورکړی | اې زماقومه دې پاکې زمکې (شام) ته داخل شئ

الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى أَدْبَارِكُمْ

هغه زمکه| چې لیکلې ده| الله | ستاسودپاره|اومخ ځئ واپس تاسو| په شاګانو خپلو باندې

چې الله ﷻ ستاسوحصه کښې لیکلې ده | .....او په خپلو شاګانو باندې مه ګرځئ

فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ۝ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى إِنَّ فِيْهَا

ګنې نو اوبه ګرځئ تاسو| زیان کاران |اووئیل هغوئ | اې موسی | بیشکه په هغې کښې

ګنې نامراده به شئ | .....هغوئ اوؤئیل چې اې موسی ﷺ په دې زمکه کښې

قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَإِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا

خلق دی | زورور | اومونږه| هرګزنه ننوځوهغې ته| ترهغې پورې| چې اوځئ هغوئ | دهغې نه

یو ډیرمضبوط قوم اوسیږی| اومونږ دې ته هیڅکله نه داخلیږو| ترڅو چې هغوئ ددې نه بهرشوی نه وی

فَإِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَإِنَّا دٰخِلُوْنَ ۝ قَالَ رَجُلٰنِ

نوکه چرې| اووتل هغوئ |دهغې نه|نوبیشکه بیامونږه| ننوتونکی یو |اووئیل | دوؤ سړو

که هغوئ ددې نه بهرشی | نوبیا مونږ د دې داخلیدو ته تیار یو| په هغوئ کښې دوؤ کسانو اووئیل

مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا

دهغه کسانونه |چې ویریدل |چې انعام کړې وؤ الله |په هغوئ دواړو باندې | ورننوځئ

چې دالله ﷻ نه ویریدل | او الله ﷻ پرې انعام کړې وؤ| چه د دغه خلقو په مقابله کښې د دې

عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَإِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَإِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ

په دې جبارانو | په دروازه | نوکله چې اورننوځئ تاسو په دروازه | نو بیشکه هم تاسو | به غالبان یئ

ښار دروازې ته داخل شئ | نوکله چې داخل شئ غالب به شئ .....

وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى إِنَّا

اوخاص په الله باندې|ابهروسه ساتئ|که چرې|یئ تاسو| مومنان | اووئیل هغوئ|اې موسی | بیشکه مونږه

اوپه الله ﷻ بهروسه کوئ | که تاسو مومنان یئ | هغوئ اووئیل چې اې موسی بیشکه مونږ

لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ

هرگزنهٔ ننوځو دغه ښارته|هیڅکله|ترڅو چې وی هغوئ | په هغې کښې|پس لارشه | ته | اورب ستا

دې ښارته نه داخلیږو | ترڅو چې په کښې هغوئ اوسیږی | نو ته او ستا رب دواړه ورشئ

فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿٢٤﴾ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ

اوجنګ اوکړئ دواړه|ښیشکه مونږ به| دلته | ناست یو |اووئیل موسی|اې ربه زما|ښیشکه زهٔ|نهٔ لرم اختیار

او جنګ ورسره اوکړئ | مونږ به دلته ناست یو| (موسی) اووئیل چې اې زمارب! زه خو صرف د خپل ځان او د خپل

اِلَّا نَفْسِيْ وَاَخِيْ فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٥﴾ قَالَ

مګر|د ځان خپل|اودرور خپل|انوجدائی اوکړه|په منځ زمونږ|اوپه منځ| دقوم |افاسق کښې |اووئیل الله

ورور واکمند یم|..... نوزمونږ او ددې نافرمانه قوم ترمینځه فیصله اوکړې | .....الله ﷻ اووئیل

فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۚ يَتِيْهُوْنَ

نو بیشکه دغه زمکه | حرامه کړې شوی ده | په هغوئ باندې| څلویښت | کاله | سرګردان به ګرځی

چې دا ملک ترڅلویښتو کالوپورې په دوئ حرام دې | .....اوپه زمکه به

فِي الْاَرْضِ ۭ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾

هم په زمکه کښې|انومهٔ خفه کیږه ته | په قوم | فاسق باندې

سرګردان ګرځی | .....نو ته ددې نافرانه قوم په حال مهٔ خفه کیږه |

قوله تعالی:: وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ

مسلسل نبیان لیږل دالله ﷻ رحمت دي:- حضرت موسی کلیم الله ﷺ خپل قوم ته دالله ﷻ نعمتونه وریادول او دوی ته دالله ﷻ اطاعت طرفته مائل کول .ددې بیان کیږی اوفرمائی چه دالله ﷻ نعمت یادکړئی چه هغه پاك ذات تاسو کښې هم ستاسو نه یو نه پس بل نبی راولیږلو. حضرت ابراهیم ﷺ نه پس هم په دوی کښې نبوت مسلسل راروان وو. دې ټولو نبیانو علیهم السلامو تاسو ته د الله ﷻ دعوت درکولو. دا سلسله په حضرت عیسی ﷺ ختمه شوه او په آخر کښې خاتم الانبیاء حضرت محمد ﷺ ته نبوت کامله ورکړې شو. نبي کریم ﷺ د اسماعیل ﷺ په واسطه د حضرت ابراهیم ﷺ اولاد نه وو.اوحضرت نبی کریم صلی الله علیه واله وسلم د خپل ځان نه مخکښې رسولانو او نبیانو نه بهتر وو.الله ﷻ دې په نبی کریم ﷺ باندې درود وسلام اولیږی.اوتاسو ته بادشاهان جوړ کړئی.یعنی تاسو ته ئې خادمان درکړل.ښځې ئې درکړې.کورونه ئې درکړل.په هغه وخت کښې چه څومره خلق وو په هغه ټولوکښې ئې تاسوته ټولو نه زیات نعمتونه درکړل.دا خلق د دومره ورکړې نه پس دوی ته بادشاهان اووئیلې شو.

حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ نه یو سړی تپوس اوکړوچه آیا څه فقراء اومهاجرینو کښې نه یم؟دوی ورته اوفرمائیل چه ستا ښځه شته دې ؟هغه اووئیل چه آؤ.آیا ستا کور شته دې ؟ هغه اووئیل چه شته دې.نوبیا خو ته غنی یې.ده اووئیل چه هسې خوزما خادم هم شته دې.نودوی ورته اوفرمائیل

Scanned with Ca

چه بیا خو ته د بادشاهانو نه ئې (۱)حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه سورلئ او غلام ملك دي.او بنی اسرائیلو کښې به داسې خلقو ته ملوك وئیلې کیدل.د حضرت قتاده رحمه الله په قول د خادمانو اول اول رواج بنواسرائیلو ته ورکړې شوې وو(۲)یومرفوع حدیث مبارك کښې دی چه دې خلقو کښې به چا سره خادم (۳)،سورلئ او بښځه وه نو هغوئ ته به ئې بادشاه وئیلو.یوروایت کښې دی چه کوم سړې په دې حالت کښې صبا کړی چه د ده بدن صحیح سلامت وی،اوده نفس امن وامان کښې وی،او د ټولې ورځې د کافی کیدو هومره مال هم ورسره وی نو دا داسې ده لکه چه دده دپاره ټوله دنیا راغونده کړې شوې ده. (۴)

بنی اسرائیلو ته په ټولو خلقو فضیلت:- په هغه وخت کښې چه کوم یونانی قبطی وغیره وو هغوئ نه دوی اشرف جوړ کړې شوی وو. اوآیت کریمه کښې دی چه مونږ بنی اسرائیلوته کتاب،حکم نبوت،او پاکه روزی ورکړې وه او په ټولو مو فضیلت ورکړې وو. حضرت موسی علیه السلام ته چه هرکله هغوئ د مشرکانو په موجودګئ کښې د رب جوړولو اووئیل نوددې جواب کښې حضرت موسی علیه السلام د الله ﷻ فضل بیان کړواو وې فرمائیل چه هغه پاك ذات تاسو ته په ټول جهان فضیلت درکړې دي.

د بنی اسرائیلو د فضیلت وضاحت:- په ټول جهان د فضیلت مطلب هم دا دې چه د هغه وخت په ټولوخلقوباندې ئې فضیلت درکړې دي. ځکه چه ثابت شوې امردې چه دا امت د هغوئ نه افضل دي،څه شرعی حیثیت،څه احکام د شریعت،څه د نبوت حیثیت،او څه بادشاهت، عزت، مملکت، دولت،حشمت،او مال او اولاد وغیره حیثیت سره،پخپله قران پاك فرمائی چه ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ او فرما ئی چه ﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ دا هم وئیلی شوی دی چه بنواسرئیلو سره په دې فضیلت کښې امت محمد ﷺ هم شامل خطاب کړې شوې دې.اودا هم وئیلې شوی دی چه په بعضو امورو کښې هغوئ ته فی الواقع علی الاطلاق فضیلت ورکړې شوې وو،لکه من اوسلوی نازلیدل،د وریځو سیورئی کیدل،وغیره وغیره،چه دا خلاف عادت څیزونه وو.دا قول خو د اکثرو مفسرینو دې لکه څنګه چه مخکښې بیان شو چه د دې نه مراد د دوی د زمانې والوباندې فضیلت ملاویدل مراد دی.والله اعلم.

قوله تعالی:: يَقَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ

بیا بیان کیږی چه اصل کښې بیت المقدس د دوی د نیکه حضرت یعقوب علیه السلام په زمانه کښې ددوی قبضه کښې وو.اوکله چه هغه خپل اهل وعیال سره حضرت یوسف علیه السلام له مصر ته لاړو نو دلته د عمالقه قوم په دې باندې قبضه کړې وه. هغوئ ډیر زیات مضبوط او تکړه وو. اوس حضرت موسی علیه السلام خپل قوم ته فرمائی چه تاسوبه دوی سره جهاد کوئی الله ﷻ به تاسو په دوی غالب کړی.او ستاسو به بیا په دې خائې قبضه راشی.خو دوی نامردی اوخودله او بزدله شول.د دې په سزا دوی په وادی تیه کښې حیران او پریشان دخانه بدوشو په شان اوسیدل.

د مقدسې زمکه نه مراد:- د ،،**مقدسة**،، نه پاك مراد دی. ①حضرت عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه دا د،،**طور**،، او دې سره چه کومه زمکه د هغې ذکر دې.②په یو بل روایت کښې د اریحه ذکر دې.خودا

---

(۱) مسلم کتاب الزهد باب الدنیا سجن للمومن وجنة للکافرین: ۲۹۷۹.

(۲) دې روایت کښې ابن لهیعه مختلط راوی دې (التقریب: ۴۴۴/۱،رقم: ۵۷۴) نو پدې وجه دا روایت ضعیف دې

(۳) الطبری: ۱۶۳/۱۰.

(۴) ترمذی کتاب الزهد: باب فی الوصف من حیزت الدنیا: ۲۳۴۶. وسنده حسن ابن ماجه: ۴۱۴۱.

Scanned with Ca

درست نه دي خکه چه نه خود اریحا فتح کول مقصود وو.او نه د دوی په لار کښې وو. خکه چه دوی د فرعون د هلاکت نه پس د مصر ښار ته راغلی وو.او بیت المقدس ته تلل.③اوکیدي شی چه دا هغه مشهور ښار وو کوم چې طور کښې د بیت المقدس مشرق طرفته واقع وو.

د لیکلو مطلب:-الله ﷻ دا ستاسو دپاره لیکلی دی،ددې مطلب دا دې چه ستاسو پلار اسرائیل سره الله ﷻ وعده کړې وه دا به ستا د اولاد په ایماندارو خلقوورائت کښې راځی.تاسو په خپله مه مرتد کیږئ یعنی د جهاد نه مخ مه اړوئ ګنی تاسو به ډیر نقصان کښې شئ.هغوئ جواب کښې اووئیل چه تاسو کوم ښار ته د تلو اود کوم ښار خلقو سره د جهاد کولو حکم کوئ مونږ ته معلوم دی چه هغوئ ډیر زیات طاقتوراوجنګجو دی.مونږ د هغوئ مقابله نشو کولې او ترکومې چه هغوئ هلته موجود دی مونږ هغه ښار ته نشو تلې.که هغه خلق د هغه ځائې نه لاړ شی نو بیا مونږ تلې شو. ګنی ستاسو حکم منل خومونږ د طاقت نه بهر دی.

د جاسوسئ دپاره دولس کسان لیږل:- د حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ بیان دې چه کله حضرت موسی ﷺ اریحه ته اورسیدو نو دوی دولس جاسوسان مقرر کړل.د بنو اسرائیلو د هرې قبیلې نه ئې یویو جاسوس واخستو او هغه ئې اریحا ته اولیږلو چه صحیح خبر راوړی. هرکله چه دا خلق هلته لاړل نود هغوئ د جسامت او قوت نه ویریدل. دوی ټول په یو باغ کښې وو چه په دې کښې د باغ والا د میوې شوکولو دپاره راغلو. هغه میوې شوکولو شوکولو کښې د دوی د قدمونو نښو پسې راغلو او دوی ته راورسیدو او دوی ئې میووئ سره په خپلو پنډ کښې اوټړل او لاړو د بادشاه مخکښې ئې د میوې هغه پنډ پرانیستو. او دوی ټول په هغې کښې وو. بادشاه ورته اووئیل چه اوس خو به تاسو ته خومونږ د طاقت اندازه شوې وی،ځئ واپس لاړشئ اوخپلو خلقو ته اووائې.نودوی لاړل او خپلو خلقو ته ئې هرڅه اووئیل او بنی اسرائیلو ډیر اویریدل.خو ددې سند صحیح نه دی.

دعمالقهٔ قوت:- بل روایت کښې دی چه په دې دولسو خلقو کښې یو سړې ئې اونیولو او هغه ئې په خپل څادر کښې اوټړلو او ښار ته ئې یوړو او د خلقو مخکښې ئې پرینښودو. هغه تپوس اوکړو چه تاسو کوم خلق یئ ؟ هغوئ ورته اووئیل چه مونږ د حضرت موسی ﷺ د قوم خلق یو او ستاسو خبر اخستلو دپاره لیږلې شوی وو. هغوئ دوی ته یو انګور ورکړو او ورته ئې اووئیل چه خئ لاړشئ او خپلو خلقو ته دا اوښائې او ورته اووائې چه دا خومونږ میوې دی.هغوئ چه کله قوم ته واپس شو نو خپل قوم ته ئې ټول حالات اوونیلو.اوس موسی ﷺ دوی ته د جهاد کولو او ښار ته د داخلیدلو حکم اوکړو خو دوی صفا انکار اوکړو. چې ته او ستا رب دې لاړشی او جنګ دې اوکړی مونږ د دې ځائې نه نه خوځو.

د عمالقؤ قدونه:- حضرت انس ﷺ یو بانړس واخستو اوهغه ئې ناپ کړو اوهغه پنځوس ګزه وو او هغه ئې په زمکه کښې ښخ کړو او وې فرمائیل چه د عمالقو قدونه دومره وو.

اسرائیلی روایات:- مفسرینو دلته اسرائیلی روایات ډیر بیا ن کړی دی. چه داخلق ډیر زیات طاقتور وو،غټ او اوږده وو،په دوی کښې عوج بن عنق بنت آدم ﷺ هم وو اود هغه قد دې زره دې سوه او دې دیرش ګزه وو. او پلن والی کښې د هغه بدن دې ګزه وو. خو دا ټولې خبرې هسې واهیات دی،ددې په ذکرکولو کښې حیا مانع ده. بیا د صحیح حدیث خلاف هم دی. نبی کریم ﷺ فرمانی چه الله ﷻ حضرت آدم ﷺ شپیته لاسه اوږد پیدا کړې وو. اوتر نن د مخلوق قدونه کمیږی.(١)

دحافظ رحمه الله تنقیدی تبصره:- په دې اسرائیلو روایتونوکښې دا هم دی چه عوج بن عنق کافر او ولدالزنا وو. دې په طوفان نوح کښې وو اوحضرت نوح ﷺ سره په کشتئ کښې نه وو سور شوې.او اوبه دده

---

١) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب خلق آدم وذریته: ٣٣٢٦، صحیح مسلم: ٢٨٤٨، احمد: ٣١٥/٢، ابن حبان: ٦١٦٢، بیهقی : عبدالرزاق : ١٩٤٣٥،

Scanned with Ca

خنګونونو پورې هم نه وې رارسیدلې،خو دا هم محض لغو او بالکل دروغ خبره ده بلکه د قران پاک خلاف ده. قران پاک کښې د د حضرت نوح ﷺ دعا موجود ده او په هغې کښې دی چه انې الله ﷻ په مخ د زمکې یو کافر هم بچ پاتې نشی.اودعا قبوله وه هم او داسې اوشو. قران پاک کښې دی چه مونږ حضرت نوح ﷺ او د هغه کشتۍ والو ته نجات ورکړو او بیا مو باقی ټول کافر هلاک کړل.پخپله د قران پاک وینا ده چه په کومو خلقو رحمت شوې دې د هغه خلقو نه سوا به نور ټول خلق هلاک شی.دا یو تعجب دې د حضرت نوح ﷺ خپل خوئې چه ایماندار نه وو هم بچ نه شو او عوج بن عنق چه ولد الزنا وو بچ شو دا ډیره د عقل نه خلاف خبره ده. بلکه مونږ خو د دې هډو قائل نه یو چه عوج بن عنق هم یو سړې وو. والله اعلم.

د موسی ﷺ د قوم بزدلی:- هرکله چه بنی اسرائیلو د خپل نبی اونه منل او په مخامخ نې د هغه سره سختې خبرې اوکړې او بې ادبی نې اوکړه البته په هغوی کښې دوه سړی وو چه هغوئ ته الله ﷻ پوهه او عقل ور کړې وو،هغوئ دا خلق پوهه کړل او دالله ﷻ نه نې اویرول. دا دوه کسان ویریدل چه هسې نه د بنی اسرائیلو د سرکشئ په وجه الله ﷻ په دوی عذاب نازل کړی.یو قرات کښې د ﴿یَخَافُوْنَ﴾ په خائې ﴿یَخَافُوْنَ﴾دې.ددې نه مراد دا دی چه د دې دواړو بزرګانو په قوم کښې عظمت او عزت وو. دیو نوم حضرت یوشع بن نون وو او د بل نوم کالب بن یوفنا وو. هغوئ اوونیل که چرې تاسو په الله ﷻ بهروسه کوئی او.د هغه د رسول ﷺ اطاعت کوئی نو الله ﷻ به تاسو په دې دښمنانو غالب کړی. او پخپله به ستاسو مدد اوْ تائید اوکړی. اوتاسو به دې ښارته غلبې سره داخل شئ.تاسو خو دروازې پورې لاړ شئ هم تاسو به غالب یئ.دې نامردو خپل رومبې جواب ښه مضبوط کړو او وې وئیل چه د دې جبار قوم په موجودګئ کښې خمونږ یوقدم مخکښې تلل هم ممکن نه دی.حضرت موسی ﷺاو حضرت هارون ﷺ دوی ډیر پوهه کړل تر دې چه د هغوئ مخکښې نې ډیره عاجزی اوکړه خو د دې کتلو سره حضرت یوشع ﷺ او حضرت کالب ﷺ خپلې کپړې اوشلولې او دوی نې ډیر زیات ملامته کړل خودا بدنصیبه نور هم په غضب شول بلکه د اهم وئیلې شوی دی چه دوی دا دواړه بزرګان په کانړو شهیدان کړل. او دوی ډیره بدتمیزی اوکړه. اوهیڅ بې هیڅ د رسول په مخالفت راولاړ شول.

د صحابه کرامو جانثاری:- ددوی دې حال کتلو نه پس د محمد ﷺ د صحابؤ حال اوګورئی چه هرکله نهه سوه یا زر کافران د خپلې قافلې بچ کولودپاره لاړل،خوقافله په بل طرف تلې وه،خو هغوئ د خپل طاقت او قوت په وجه نبی کریم ﷺ ته د نقصان رسولو نه بغیر واپس تلل په خپلو امیدونو اوبه اچول اوګنړل او د اسلام اود مسلمانانو د ختمولو ارادې سره مدینې ته راغلل. بل طرفته چه نبی کریم ﷺ ته معلومه شوه نو صحابه ګرام نې راجمع کړل او ورته نې اووئیل چه تاسو اووائې څه کول پکار دی؟ الله ﷻ د دې ټولو نه خوشحاله شو. هغوئ خپل مالونه،خپل اولاد ،او خپل خامن د نبی کریم ﷺ مخکښې پیش کړل او وې وئیل چه نبی کریم ﷺ مالك دې،نه خو مونږ تعداد ته ګورو او نه غلبې ته ګورو ،او نه په اسبابو خمونږ نظر دې،بلکه مونږ د نبی کریم ﷺ په فرمان قربان یو. ټولو نه مخکښې حضرت ابوبکرصدیق ﷺ داشان خبرې اوکړې. بیا مهاجرینو کښې ډیرو داشان تقریرونه اوکړل،خو بیا هم دوی اوفرمائیل چه تاسو خپله رائې ښکاره کړئ.د نبی کریم ﷺ مقصد دا وو چه د انصارو د زړه اراده معلومه کړی.ځکه چه دا خائې د هغوئ وو اوهغوئ شمیر کښې هم زیات وو.

د سعدبن معاذ ﷺ تقریر:- په دې حضرت سعد بن معاذ انصاری ﷺ پاسیدو او وې فرمائیل چه ستاسو مقصد د انصارو د زړه اراده معلومول دی.هغه اوونیل چه واورئی یارسول الله ﷺ ! په هغه الله ﷻ قسم چه هغه تاسو حق سره رسول رالیږلې نې،که تاسو مونږ د سمندر په غاړه اودروئی او اوائې چې په دې کښې ځانونه ډوب کړئی نو مونږ به دې کښې روستو نشو. تاسو به اوګورئی چه په مونږ کښې به یوهم

Scanned with Ca

د سمندر په غاړه نه وی ولاړ. ائې نبی کریم ﷺ تاسو د خپل دښمن مقابلې دپاره بیشکه مونږ بوخئ،تاسو به اوګورئی چه مونږ په جنګ کښې ثابت قدم اوصبر والا یو. تاسو ته به معلومه شی چه مونږ د الله ﷻ حکم منلو والا یو،تاسو د الله ﷻ نوم واخلئ او روان شئ،تاسو به مطمئن شئ چه کله تاسو ځمونږ بهادری او استقلال اوګورئی. دې آوریدو سره د الله رسول ﷺ ډیر خوشحاله شواو د انصارو دا خبرې ورته ښه معلومې شوې.

د مقداد انصاری تقریر:- یو روایت کښې دی چه د بدر د جنګ په وخت کښې نبی کریم ﷺ مسلمانانو نه مشوره و اخسته. حضرت عمرفاروق ﷺ څه اووئیل او بیا انصارو څه اووئیل که چرې تاسو ځمونږ آوریدل غواړئی نو واورئی امونږ د بنی اسرائیلو په شان نه یو چه ته اوستا رب دې لاړ شی او جنګ دې اوکړی اومونږ به دلته په قلار ناست یو. بلکه ځمونږ جواب دا دې چه تاسو د الله تعالی مدد سره جهاد ته روان شئ مونږ جان ومال سره یو.حضرت مقداد انصاری ﷺ هم اودریدو او دا ئې اوفرمائیل (۱)ابن مسعود ﷺ به فرمائیل چه د حضرت مقداد ﷺ دې قول سره الله ﷻ ډیر زیات خوشحاله شوې وو. هغوئ اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! د جنګ په وخت کښې به تاسو اوګورئی چه ستاسو ګس او بس طرفته به هم مونږ یو،کاش چه ماته څه داسې موقع په لاس راشی چه څه نبی کریم ﷺ خوشحاله کړې شم .(۲)

د حدیبیه په مقام د مقداد ﷺ جانثارانه جمله:- په یو بل روایت کښې د حضرت مقداد ﷺ دا قول د حدیبیه په ورځ مروی دی،کله چه مشرکانو نبی کریم ﷺ په لار کښې د عمرې کولو نه منع کړې وو. اود قربانئ څاروی حرم ته هم اونه رسیدل. نو دوی اووئیل چه څه د خپلې قربانئ څاوری سره بیت الله شریف ته تلل غواړم.حضرت مقداد بن اسود ﷺ اووئیل چه مونږ د موسی ﷺ د ملګرو په شان نه یو،دا خو هغوئ اوکړل چه خپل نبی ﷺ ته ئې اوفرمائیل چه ته او ستا رب دې لاړشی او جنګ دې اوکړی، مونږ خو دلته ناست یو،مونږ خو وایو چه یارسول الله ﷺ تاسو ځئ د الله ﷻ مدد دې تاسو سره وی،او مونږ تول ستاسو ملګری یو.دې آوریدو سره نورو صحابه کرامو ﷺ هم د جانثارانو پشان وعدې شروع کړې.که په دې روایت کښې د حدیبیه ذکر محفوظ وی نو کیدې شی چه د بدر په ورځ هم نبی کریم ﷺ دا فرمائیلی وی،والله اعلم.

د موسی ﷺ د خپل قوم نه بې زاری:- حضرت موسی ﷺ دې آوریدو سره خپل امت ته ډیر زیات غصه شو. دوی نه ئې د بیزارئی اظهار اوکړو چه ائې رب العالمین ! ماته خو په خپل ځان او په خپل رور اختیار دې،نو ته اوس د دې فاسقانو او ځما په مینځ کښې فیصله اوفرمائې. الله ﷻ دا دعا قبوله کړه او وې فرمائیل چه او س به دوی د دې ځائې نه ترځلویښتو کالو پورې نه ځی. او په وادی تیه کښې به حیران اوپریشان ګرځی. په هیڅ شان به د دې حدودو نه بهر نه اوځی.

په میدان تیه کښې خارق العادة حالات:- دلته هغوئ ډیر عجیبه او خلاف عادت کارونه اوکتل،①لکه په دوی د وریځې سیورئی کیدل،②د من و سلوی نازلیدل،③د یو کلك کانړی نه چه کوم دوی سره وو اوبه راوتل،④حضرت موسی ﷺ دا کانړئی په همسااووهلو او ددې نه دولس چینې راووتلې.او هریو قبیلې ته یویو چشمه روانه شوه. دې نه سوا بنی اسرائیلو هغه نورې ډیرې معجزې اوکتلې.هم دې ځائې کښې توراة نازل شواوهم دې ځائې کښې د الله ﷻ احکام نازل شو وغیره وغیره. هم دې میدان کښې دوی ګرځیدل راګرځیدل خودوی ته د وتو هیڅ لار معلومه نشوه. او په دوی باندې د وریځې سیورئی اوشو او دوی ته من اوسلوی راغله.

---

[1]) احمد: ٣١٤/٤،صحیح البخاری : ٤٢٠٩.

[2]) احمد:٣٨٩/١. صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله تعالی (فاذهب انت و ربک فقاتلا انا ههنا قاعدون): ٤٦٠٩.

د موسی ﷺ وفات:- د فتون اوږد حدیث مبارک کښې د حضرت عبدالله ابن عباس ﷺ نه مروی دی.دې نه دری کاله پس حضرت موسی کلیم الله ﷺ هم وفات شو. بیا د حضرت موسی ﷺ خلیفه حضرت یوشع بن نون نبی جوړ کړې شو.دې دوران کښې ډیر بنی اسرائیل وفات شوی وو. بلکه دا هم ونیلې شوی دی چه صرف حضرت یوشع ﷺ اوحضرت کالب باقی پاتې شوی وو.

د سنة قراءتی وضاحت:- بعضې مفسرین په ﴿سُنَة﴾ تام وقف کوی.او ﴿اَرْبَعِیْنَ سَنَةً﴾ د نصب په حالت کښې منی.او د دې عامل ﴿یَتِیْهُوْنَ فِی الْاَرْضِ﴾ بنائی.

د یوشع بن نون په مشرئ کښې بیت المقدس فتح کیدل:- ددې څلویښت کاله مودې تیریدو نه پس چه کوم خلق باقی وو هغوئ یوشع ﷺ څان سره واخستل او د نورو غرونو نه هم ورسره خلق شامل شو او د بیت المقدس محاصره ئې اوکړه، د جمعې په ورځ چه کله د فتح کیدو وخت راغلو نو دښمنانو حوصلې اوبائیللې،او په دې کښې نمر ډوب شو،او د ډوبیدو نه پس د خالی د ورځې د تعظیم په وجه جنګ نشو کیدی،نو ددې وجې د الله ﷻ نبی اوفرمائیل چه ائې نمره ته هم د الله ﷻ غلام نې،اوځه هم د هغه محکوم یم،ائې الله ﷻ !دې لږ شان ایسار کړه. نو د الله ﷻ په حکم سره نمر ایسارشو او دوی بیت المقدس فتح کړو. د الله ﷻ د طرفنه حکم اوشو چه دې ښارته دې داسې حالت کښې داخل شی چه دوی سجده کونکی وی اودوی به ﴿حطة﴾ وائی،یعنی ائې الله ﷻ ځمونږ ګناهونه معاف کړه. خو هغوئی د الله ﷻ قول بدل کړو او په ځنګونونو ئې تګ شروع کړو او په ژبه ئې ﴿حبة فی شعرة﴾ وئیل او ښار ته داخل شو نور تفصیل د سورة بقره په تفسیر کښې تیر شوې دې.

د بیت المقدس په فتح کښې مال غنیمت:- بل روایت کښې دومره زیاتوالې دې چه دوی ته دومره د غنیمت مال حاصل شو چه دوی دومره مال کله کتلې هم نه وو.د الله ﷻ د فرمان مطابق دائې په اور کښې د سیزولو دپاره یوړو،خو اور دې اونه سیزلو،نو د دوی نبی حضرت یوشع بن نون دوی ته اوفرمائیل تاسو په دې کښې څه پټ کړی دی،نو د هرې قبیلې سردار دې ځما په لاس بیعت اوکړی.نود یو قبیلې د سردار لاس د الله ﷻ د نبی لاس سره انختو.دوی ورته اوفرمائیل چه هغه د خیانت ځیز تاسره دی،لاړشه اوهغه راوړه،نوده ورته د غوا یو سر پیش کړو. اود هغې سترګې د یاقوتو وې،او غاښونه ئې د موتیانو وو،هرکله چه دا نور مال سره واچولې شو نو اوس اور دا اوسیزلو.

امام جریر رحمه الله هم د اقول خوښ کړی دی.﴿اَرْبَعِیْنَ سَنَةً﴾ کښې ﴿فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ﴾ عامل دې .او د بنی اسرائیلو هم دا جماعت هم په دې میدان تیه کښې سرګردانه ګرزیدو.بیا دا خلق یوشع بن نون ﷺ اووتل او بیت المقدس ئې فتح کړو. ددې دلیل د مخکښې یهودو د علماء اجماع ده چه عوج بن عنق حضرت کلیم الله ﷺ قتل کړې وو. نوکه دده قتل د عمالقو د جنګ نه مخکښې وی نو هیڅ وجه نه وه چه بنی اسرائیلو به د جنګ نه انکار کړې وې ؟ نو معلومه شوه چه دا واقعه د تیه نه د تلو نه پس شوې ده. د یهود د عالمانو دا اجماع ده چه بلعام بن باعوراء د عمالقو د قوم مدد اوکړو او ده په حضرت موسی ﷺ بددعا اوکړه،دا واقعه هم د دې میدان د تلو نه پس شوې وه. ځکه چه دې نه مخکښې جبارینو ته د حضرت موسی ﷺ او د دوی د قوم نه هیڅ ویره نه وه. د ابن جریر هم دا دلیل دی،هغه وائی چه د حضرت موسی ﷺ عصا لس ګزه اوږده وه. اود حضرت موسی ﷺ قد هم لس ګزه اوږد وو.اوحضرت موسی ﷺ لس ګزه توپ اووهلو او عوج بن عنق ئې په عصا په ځنګونونو اووهلو او هغه مړشو.دده د جثې نه د نیل ونه جوړه شوې وه. اودې ته تول کال اهل نیل راتلل.

د بنی اسرائیلو د بې خوندئ ذکر:- نوف بکالی وائی چه دده تخت دری سوه ګزه وو. بیا الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته تسلی ورکړه او وې فرمائیل چه ته په خپل قوم بنی اسرائیلو باندې غم مه کوه دوی هم د دې جیل خانې مستحق دی.په دې واقعه کښې په یهود غصه او زورنه ده اود دوی دمخالفو د خرابو او بدو

بیان دي.دوی د الله ﷻ دښمنان دی ،دسختئ په وخت کښې دوی دالله ﷻ په دین قائم نه پاتې کیږي.د رسولانو نه منې.جهاد نه تینبته کوی.د الله ﷻ د کلیم اوبزرګ په موجودګئ کښې دوی د وعدې.او د موسی ﷺ د حکم هیڅ پرواه نه کوله،شپه ورځ به ئې معجزې کتلې،د فرعون بربادی ئې په خپلو سترګو کتلې وه،او ددې لا ډیره موده هم نه وه تیره شوې. الله ﷻ د خپل بزرګ او کلیم سره د نصرت او فتح وعدې کړې وې ،خودا خلق په خپله بزدلئ کښې مړه شول.اونه صرف انکار بلکه ډیر په سختئ سره ئې انکار اوکړو.د الله ﷻ د نبی بې ادبی ئې اوکړه،او صفا جواب ئې ورکړو ،حالانکه په خپلو سترګو ئې کتلی وو چه د فرعون پشان جابر بادشاه ئې د هغه د سامان او لښکر سره تباه کړې وو او ډوب کړې ئې وو. خو بیا هم د دې کلی خلقو په الله ﷻ بهروسه نه کوله اونه ئې د هغه حکم نه منلو.حالانکه دوی خو د فرعون په لسمه حصه هم نه وو. دوی خپل ځان د رب محبوب ګڼړل.خو حقیقت د دې خلاف وو. دوی د رب په نظر کښې پریوتی وو. نو ټول تعریفونه هغه رب دپاره دی.چې د هغه رب فرمانبرداری د ټولو نیکو کنجی ده.

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ	
او اولوله په دوئ باندې	
او دوئ ته د	
نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ	
قیصه ددواړو ځامنو د آدم ﷺ په حقه سره کله چې اوکړه دواړو قربانی نوقبوله کړې شوه	
آدم ﷺ د دوؤ ځامنو ربښتونې قصه واوروه ..... کله چې دواړو قربانی اوکړه انو د یو قربانی قبوله	
مِنْ اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ؕ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ	
دیوددې دواړو نه اوقبوله نۀ کړې شوه دبل نه اووئیل هغه (قابیل) اچې خامخابه زۀ قتل کړم تا	
شوه د بل قربانی قبوله نشوه ..... او(قابیل) اووئیل چې زه به دې مړکړم	
قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿۲۷﴾ لَئِنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ	
اووئیل(هابیل) اچې بیشکه قبلوی الله دپرهیزګارانونه که چرې را اوږد کړو تا ماته	
نو(هابیل) اووئیل چې بیشکه الله ﷻ د پرهیزګارو قربانی قبلوی که ته ماته د قتل په اراده لاس راواوږد	
يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ	
لاس خپل دپاره ددې چې مړکړې ما خونۀ یم زۀ غزونکې دلاس خپل تاته چې مړکړم تا	
کړې خوزۀ به بیاهم تاپسې خپل لاس نه در اوږدوم .....چه زه تا قتل کړم	
اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۸﴾ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ	
بیشکه زۀ ویریږم دالله نه چې پالونکې دمخلوقاتو دې بیشکه زۀ غواړم چې اخته شې ته	
بیشکه زۀ دالله ﷻ نه ویریږم چې دمخلوق پروردګار دې .....زه داغواړم چې ته زما	
بِاِثْمِيْ وَاِثْمِكَ فَتَكُوْنَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا	
په ګناه زما اوپه ګناه خپلې سره نوشې به ته د ملګرو د اور نه او دا جزا ده	
اوخپله ګناه په سرباندې بار کړې او دوزخی شې .....اودا بدله د	

Scanned with Ca

الظّٰلِمِيْنَ ۝ فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ قَتْلَ اَخِيْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ
د ظالمانو	نو آسان کړل	ده ته	نفس خپل	وژل درورخپل	نومړي يې کړو هغه	نو اوګرځيدو
دظالمانو ده| نوخپل نفس دې د خپل ورور د قتل دپاره تيارکړو| او هغه نې قتل کړو| نوهغه په
مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا يَّبْحَثُ فِى الْاَرْضِ
دزيانکارانو نه	نو راولېږو	الله	يوکارغه	چې کنده نې کنستله	په زمکه کښې
زيانکارانو کښې شامل شو| بيا الله ﷻ يو کارغه راولېږلو| چې زمکه نې اوکنيستله د دې دپاره
لِيُرِيَهٗ كَيْفَ يُوَارِىْ سَوْاَةَ اَخِيْهِ ؕ قَالَ يٰوَيْلَتٰٓى
چې اوښائی هغه ته| چې څرنګې| پټه کړی |مړه جثه|د ورورخپل |اوونيل (قابيل)|اې افسوس دې مالره
چې هغه ته طريقه اوښائی چې دخپل ورور لاش به څنګه پټوی	چې دا نې اوليدل نو هغه اوونيل چې
اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِىَ سَوْاَةَ اَخِىْ ۚ فَاَصْبَحَ
آيا عاجز شم زهٔ	چې شم زهٔ	پشان	د دې کارغهٔ	چې پټه کړم	مړه جثه |د ورور خپل	نو شو
اې کاش زه ددې کارغه پشان(هوښيار)وې	اودخپل ورور د لاش د خښولوانتظام مې کړې وې	نو پخپلو کړو
مِنَ النّٰدِمِيْنَ ۝
دپښيمانو خلقو نه|
دپرپښيمانه شو	

د هابيل اوقابيل واقعه:-په دې قصه کښې د حسد او بغض سرکشئ او تکبر انجام بيان شوې دې کوم چه دحضرت آدم ﷺ د دوۀ ځامنو ترمينځه اوشو. اويو په په دوی کښې بې ګناه اووژلې شواو جنت کښې نې ځان دپاره ځائې بياموندو.اودويم دې په ظلم اوزياتی سره او بې قصوره قتل کړو او خپل دواړه جهانونه نې تباه کړل.

د آدم ﷺ په وخت کښې د خور سره د نکاح حکم:- فرمائی چه اې نبی ﷺ ! دوی ته د حضرت آدم ﷺ د دواړو ځامنو قصه بيان کړه،او د دوی نومونه قابيل اوهابيل وو.چونکه په هغه وخت کښې د دنيا ابتدائی حالت وو په دې وجه داسې به وو چه دحضرت آدم ﷺ کره به د يو حمل نه يو هلك او يوه جينئ پيدا کيدل اوبيا به دويم حمل نه هم داشان کيدل.ديو حمل جينئ به د بل حمل هلك ته په نکاح کولې شوه. د هابيل خور ښکلې نه وه او دقابيل خور ښکلې وه. نو قابيل غوښتل چه خپلې خور سره نکاح اوکړی. حضرت آدم ﷺ د دې نه منع کړل.آخر دا فيصله اوشوه چه تاسو دواړه د الله ﷻ لار کښې څه خيرات اوکړئ چه د چا خيرات قبول شو نو د ابه هغه ته په نکاح کولې شی.د هابيل خيرات قبول شو او بيا هغه اوشو چه دقران پاك په آيتونوکښې شته دې.

د مفسرينواحوال واورئی.د حضرت آدم ﷺ د صلبی اولاد نکاح کولو قاعده چه کومه پورته بيان شوه ددې د بيانولو نه پس مروی دی چه مشر قابيل به کرکيله کوله. او هابيل به ځناور څرول.د قابيل خورد هابيل په نسبت ډيره ښکلې وه. هرکله چه د هابيل د نکاح دقابيل خورسره دکيدلواراده اوشوه نو قابيل انکار اوکړواو خپله نکاح ئې دې سره کول غوښتل.حضرت آدم ﷺ د دې نه منع کړو. اوس دې دواړو خيرات اومنلو چه د چا خيرات قبول شی نود هغه نکاح به دې سره کيږی.حضرت آدم ﷺ په

Scanned with Ca

هغه وخت کښې مکې ته لاړو چه اوګورې چه څه کیږي ؟الله ﷻ حضرت آدم ﷺ ته اوفرمانیل چه تاته پته ده چه په زمکه ځما یوکورهم دي ؟ حضرت آدم ﷺ اوفرمائیل چه نه. حکم اوشو چه ته هلته لاړه شه،حضرت آدم ﷺ آسمان ته اوونیل چه ته ځما د بچو حفاظت کوه.خو ده انکار اوکړو.زمکې ته نې اوونیل خودا هم انکاری شوه. غرونو ته نې اوونیل خو هغوئ هم انکاری شو. قابیل ته ئې اوونیل،هغه ورته اوونیل چه څه لاړشه،تاسو چه راشئ نو خوشحاله به یئ.اوس هابیل یو بنکلې څورب ګډ د الله ﷻ په نوم ذبح کړواو مشر رور د خپل پتې څه حصه.اور راغلواود هابیل نذر نې یوړو. اودا په هغه زمانه کښې د قبلیدو نښه وه. اودقابیل نذر قبول نه شو. د ده پتې هم د اشان پاتې شو.ده دالله ﷻ لار کښې ورکولو نه پس په دې کښې ښه ښه فصلونه کرلی وو. قابیل د دې نه مایوسه شوې وو چه د ده خور به د ده نکاح کښې نه راځی په دې وجه نې خپل رور ته د قتل کولو دهمکی ورکړې وه. ده اوونیل چه الله ﷻ د تقوی والو قربانی قبلوی. په دې کښې ځما څه قصوردي ؟یو روایت کښې دا هم دی چه دا ګډ غټیدو اوهم دا هغه ګډدي چه حضرت ابراهیم ﷺ د خپل ځوئې په بدل کښې قربانی کړې وو.

یو روایت کښې دی چه هابیل خپلو ځناوروکښې مرغوب او محبوب ځناور په خوشحالئ د الله ﷻ لارکښې ذبح کړې وو. اود دې خلاف قابیل دخپل پتې نه خراب او ردی څیز په نه زړه د الله ﷻ لار کښې ورکړې وو. هابیل په طاقت او صحت کښې د قابیل نه ښه وو. خود الله ﷻ د ویرې نې د خپل رور ظلم اوزیاتې برداشت کړو.د مشر رور قربانی چه قبوله نشوه نوده حضرت ادم ﷺ ته اوونیل چه ستاهابیل خوښ دي په دې وجه تا دهغه دپاره دعا اوکړه اودهغه قربانی قبوله شوه. اوس ده په زړه کښې واچول چه دا ازغی به د مینځ نه اوباسم. د موقعې په انتظار کښې وو، یو ورځ اتفاقی طور د هابیل په راتلوکښې وخت ډیر اولګیدو.نودهغه د رابللو دپاره حضرت آدم ﷺ قابیل اولیږلو.ده ځان سره پټه یو چاړه واخستله،هم په لاره کښې د دواړو رونړو ملاقات اوشو. نوده ورته اوونیل چه څه به تا وژنم.ستا قربانی قبوله شوه او ځما قربانی قبوله نشوه،په دې هابیل اوونیل چه ما نښه او بهترین څیز د الله ﷻ په لار کښې خرچ کړې وو. الله ﷻ د متقیانو نیکی قبلوی.په دې هغه نور هم په غصه شو اوهغه نې په چاړه اووهلو.د هابیل دا وینا په خوله کښې پاتې شوه چه ته به الله ﷻ ته څه جواب ورکوې ؟ الله ﷻ ستا نه د دې ظلم بدله ډیره په خرابه طریقه اخلی.د الله ﷻ نه ویریږه اوما مه قتل کوه خودې ظالم دې ته اونه کتل اودا خپل رور نې اوژلو.

قابیل خپلې خور سره د نکاح کولو یو وجه دا هم بیان کړې وه چه مونږ دواړه جنت کښې پیداشوی یو.اودوی دواړه په زمکه پیدا شوی دی.په دې وجه هم څه ددې حقدار یم. دا مروی دی چه قابیل غنم د الله ﷻ لار کښې صدقه کړې وو. او هابیل غوا قربانی کړې وه. په هغه وخت کښې څوك مسکین نه وو چه صدقه نې ورکړې وې نو په دې وجه د آسمان نه به اور راتلو او دا به نې سیزله. او دا د قبولیت نښه وه.دې فوقیت سره چه کومه کشر رور ته حاصل شو اومشر رور هسې پاتې شو،نوددې په قتل پسې شو،اوهم دغه شان دواړو رونړو قربانی کړې وه،

د هابیل د قتل وجه څه وه؟:- د نکاح د اختلاف ختمولو وجه نه وه. د قرآن پاك د ظاهری الفاظو تقاضا هم دا ده د خفګان وچه قربانی وه نورځه نه وو.اود دې درج شوؤ روایتونو نه خلاف هم دې چه قابیل د الله ﷻ لار کښې پتې ورکړې وو او دا قبول شو،خومعلومیږی چه په دې کښې د راوی حافظه صحیح نه ده اودا د مشهورې خبرې خلاف ده.والله اعلم.

متقیان به جنت ته ځی:- الله ﷻ د هغه چا عمل قبلوی چه خپل کار کښې د هغه نه ویره کوی.حضرت معاذ ﷺ فرمائی چه خلق به د قیامت میدان کښې وی،اودې کښې به یواواز کونکې آوازاوکړی چه پرهیزګار چرته دی ؟ نو د الله ﷻ نه ویریدونکی به اودریږی.او دالله ﷻ دلاس لاندې به جمع شی،الله ﷻ

Scanned with Ca

به د دوی نه پرده کوی اونه به ددوی نه مخ اړوی.د حدیث راوی حضرت ابوعفیف رضی الله عنه نه تپوس اوشو چه متقیان څوک دی ؟ نودوی اوفرمائیل چه متقیان هغه خلق دی چه څوک شرک نه او بت پرستی نه خان بچ ساتی او د الله ﷻ عبادت کوی، نوبیا به دا ټول خلق جنت ته ځی.

قابیل ته د هابیل جواب:- چه دکوم نیك بخت قربانی قبوله شوې وه هغه د خپل رور دې ارادې آوریدو سره اوونیل چه خیر ته څه غواړې نوهغه اوکړه خه به ستا په شان نه کوم. بلکه خه به صبر کوم. ته خوپه زوراوطاقت کښې زیات ئې خونیکئ او تواضع او پرهیزګارئی په وجه ئې اوفرمائیل چه ته په ګناه کولو آماده ئې خو خه به ددې جرم ارتکاب اونه کړم. خه خو د الله ﷻ نه ویریږم او هغه د ټول جهان رب دې.

قاتل او مقتول دواړه جهنمیان:- صحیحینو کښې دی چه کله دوۀ مسلمانانو توري واخستې او یو بل پسې وړاندې شو نو قاتل اومقتول دواړه جهنمیان دی.صحابه کرامو رضی الله عنهم اوفرمائیل چه قاتل خو ټیک ده .خو مقتول ولې ؟.نبی کریم ﷺ اوفرمائیل ځکه چه هغه هم د خپل ملګری په قتل کولو حریص وو(١).

د فتنې نه ډډۀ کول :- حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه په هغه وخت کښې اوونیل چه کله حضرت عثمان ذوالنورین رضی الله عنه دښمنانو ګیر کړې وو چه خه ګواهی ورکوم چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل نزدې به یوه فتنه راشی،ناست به د ولاړ نه بهتروی،او ولاړ به د تلونکی نه بهتر وی. او تلونکې به د منډې وهونکی نه بهتروی،چا تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! که څوک ځما کور ته هم راشی اوما قتل کوی ؟نوې فرمائیل چه بیا هم د حضرت آدم علیه السلام د خونې په شان شه.(٢)

دفتنې په وخت کښې د نبی کریم ﷺ ارشادات:- یو روایت کښې د دې واقعې نه پس د دې آیت مبارك تلاوت کول هم مروی دی (٣). حضرت ایوب سختیانی رحمة الله علیه فرمائی چه په دې امت کښې د ټولو نه مخکښې چا په دې آیت مبارك عمل کړې دې هغه حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه دی.یو ځل نبی کریم ﷺ په یو ځناور سور وو او نبی کریم ﷺ پسې حضرت ابوذر رضی الله عنه وو. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه اې ابوذر دا خو اووایه چه کله په خلقو داسې فاقې راشی چه دوی د مسجد نه کور ته هم نه شی تلئ نو ته به څه کوې ؟ ما اووئیل چه څه د الله ﷻ اودهغه د رسول ﷺ حکم وی.وې فرمائیل صبر کوه.بیا ې اوفرمائیل چه کله وینې تویږی یعنی جنګ وی او تردې چه د شګې کانړی هم وینه کښې ډوب شی نو ته به څه کوې ؟ نوما هم هغه جواب ورکړو.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه خپل کور کښې کینه او دروازې بندې کړه. وې فرمائیل اګر چه زۀ کوز نشم ؟ نو وې فرمائیل چه ته هغه خلقوته لاړشه چه کومو کښې اوسیدې او هم هلته اوسیږه .ما عرض اوکړو چه څه خپله وسله ولې وانخلم.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بیا خو به ته هم هغه خلقو سره شامل شې.بلکه که تاد توري شړنګار پریشانه کوی نو ته هم په خپل مخ کپړا واچوه چه ستا اوخپل ګناهونه هلته یوسم (٤).

دحذیفه رضی الله عنه په جنازه کښې:- حضرت ربعی رحمة الله علیه فرمائی چه مونږ د حضرت حذیفه رضی الله عنه جنازه کښې وو،نودې کښې یو صاحب اووئیل چه ما ددې مرحوم نه آوریدلی دی چه دوی د نبی کریم ﷺ نه آو ریدلی دی که تاسو خپلو کښې جنګونه کوئی نو زه به د ټولو نه لرې کور ته لاړشم او دروازې به بندې

---

١) صحیح بخاری کتاب الفتن باب اذا التقی مسلمان بسیفهما:٧٠٨٣، صحیح مسلم: ٢٨٨٨، ابوداود: ٤٣٦٨، احمد: ٤٦/٧، ابن حبان : ٥٩٤٥، بیهقی : ١٩٠/٨.

٢) ترمذی کتاب الفتن باب ماجاء انه تکون فتنة القاعد فیها خیر من القائم : ٢١٩٤. وهو صحیح.احمد: ١٨٥/١، مسند ابی یعلی : ٧٥٠.

٣) ابوداود کتاب الفتن : باب النهی عن السعی فی الفتنة: ٤٢٥٧، وهو حسن

٤) احمد:١٤٩/٥، ابوداود کتاب الفتن باب النهی عن السعی فی الفتنة: ٤٢٦١ وهو حسن.

Scanned with Ca

کړم او هلته به کینم.که هلته هم څوک راغلل نو څه به ورته اووایم چه زما او خپله ګناه په خپل سرواخله. نوزه به د حضرت آدم په دوو ځامنو کښې دهغه چا پشان کیږم چه کوم یو بهتر وو، اودا به اووایم چې څه خوغواړم چه ته ځما اوخپله ګناه په خپل سرکیږدې یعنی ستا هغه ګناهونه چه د دې نه مخکښې وو او ځما د قتل ګناه هم په خپل ځان بار کړې(۱).

دامطلب هم د حضرت مجاهد رحمه الله نه مروی دې چه ځما ګناهونونه به هم ستا په غاړه وی او ځما د قتل ګناه به هم ستا په غاړه وی خو ددوی نه یو قول د مخکښې په شان هم مروی دې. ممکن دی چه دا دویم قول ثابت نه وی.هم په دې وجه بعضې خلق وائی چه قاتل د مقتول ټول ګناهونه په خپل سراخلی.اوددې معنی یو بل حدیث مبارك هم ده.خوددې څه اصل نشته دې.

بزارکښې یو حدیث مبارك کښې دی چه بې قصوره قتل ټول ګناهونه ختموی.اګرچه دا حدیث پورتنۍ معنی کښې نه دې.نوپه دې وجه دا هم صحیح نه دې.او د دې روایت مطلب دا هم دې چه د قتل د تکلیف په وجه الله ﷻ د مقتول ټول ګناهونه معاف کوی.اوس هغه په قاتل طرفته متوجه کیږی.دا خبره ثابت نه ده. ممکن دی چه بعضې قاتلان داسې هم وی،چې قاتل به د قیامت په ورځ قاتل تلاش کوی،او دده د ظلم مطابق به دده نه نیکئ اخلی.نوممکن دی چه ټول ګناهونه د بعضو قاتلانو په سر شی.ځکه چه د ظلم دداسې بدلې اخستلو خبره د حدیث مبارك نه هم ثابت ده. اوظاهره ده چه قتل د ټولو نه لوئې ظلم او ټولو نه خراب دې.والله اعلم.

امام ابن جریر رحمه الله فرمانی چه ددې جملې صحیح مطلب دا دې چه ځه غواړم چه ته خپل ګناهونه او ځمادقتل ګناه په خپل سرواخلی.ستاګناهونو سره دا یو ګناه بله هم زیاته شی.د دې مطلب بالکل دا نه دې چه ځما ګناهونه دې هم ستا شی.ځکه چه د الله ﷻ فرمان دې چه هر عامل ته د هغه د عمل سزا او جزاملاویږی. بیا دا څنګه کیدیشی چه د مقتول د ټول عمر ګناهونه په قاتل انبار شی اود هغه د ګناهونوپه وجه دې راونیولې شی؟ باقی پاتې شوه چې هابیل خپل رور ته دا خبره ولې اوکړه ؟ ددې جواب دا دې چه ده ورته په آخری ځل نصیحت اوکړو اودې نې ویرولو چه د دې کار نه منع شه،ګنی ګناهګار به شې اوجهنم ته به اورسې ځکه چه خه ستا د مقابلې نه یم او ټول بوج به په تا راشی.اوهم ته به ظالم شې اود ظالمانو ځائې جهنم دې.د دې باوجود هم هغه ته خپل نفس دهوکه ورکړه او حسد او تکبرکښې راغلو اوخپل رور نې قتل کړو.

هابیل په څه قتل شوې وو؟:- ① هغه شیطان په دې قتل آماده کړواو هغه د خپل نفس آماره پیروی اوکړه.اوهغه نې په اوسپنه اوژولو.②یوروایت کښې دی چه ده خپل ځناور غر ته بوتلی وو.دې په تلاش کولو هلته اورسیدو اویوغټ کانړۍ نې راوچت کړو اوهغه نې په سراووهلو او هابیل په هغه وخت کښې ملاست وو. ③بعضې وائی چه درنده په شان نې تکړې تکړې ګړو د ده مرئی نې خپه کړه او ساه نې تړې اوویستله.

د شیطان قابیل ته د قتل طریقه خودل:- دا هم وئیلې شوی دی چه هرکله شیطان دې اولیدو چه ده ته د قتل کولو طریقه نه ورځی اود هغه مرئی نې خپه کوله نودې ملعون شیطان یو ځناور راونیولو اود هغه سرنې په یو کانړی کیخوداوبل کانړی سره نې د هغه سر چخنړې کړو. دې کتلو سره هغه هم خپل رور داشان اوژولو.دا هم مروی دی چه تردغه وخته پورې په مخ زمکې قتل نه وو شوې ،نو قابیل خپل رور راواچولو اوکله به نې د هغه سترګې بندې کړې اوکله به نې په خپیړو او څوکانو وهلو. دې کتلو سره هغه لعین ده ته راغلو اوده ته نې اووئیل چه دده سر چخنړې کړه.هرکله چه هغه داشان اوکړل نو دا

---

[1]) مسندالبزار:: ١٥٤٥، وسنده حسن مجمع الزوائد: ٢٢٦/٦، الطبقات: ٦٦/٢، اخبار اصبهان : ٣٦/٢.

لعین په منډه منډه حضرت حوا علیها السلام نه راغلو او ورته ئې اوونیل چه قابیل خو هابیل قتل کړو.دې تپوس اوکړو چه قتل څنګه وی ؟ نودې لعین اوونیل ورته اوونیل چه نه اوس هغه خوراک کولې شی اونه څه څکلې شی او نه خبرې کولې شی او نه ګرزیدې شی.وې ونیل چه شاند مرګ ورته راغلې وی. هغه اوونیل چه آو مرګ.اوس مور بی بی په چغو شوه،په دې کښې حضرت آدم ﷺ راغلو،تپوس ئې اوکړو چه څه خبره ده ؟ خو دې ورته هیڅ جواب ورنکړو.حضرت آدم ﷺ دوباره سوال اوکړو خو دې ورته د غم په وجه هیڅ اونه اوونیل.ده ورته اوونیل چه ته او ستا لونړا به ښه په غم کښې وی او څه او ځما ځامن به ددې نه بری یو.قابیل خساره او نقصان کښې شو.اود هغه دنیا اوآخرت دواړه تباه شول.

دهرقتل سزا به قابیل ته ملاویږی:- نبی کریم ﷺ فرمائی چه کوم انسان په ظلم سره قتل کړې شی نو دده د قتل بوج به د حضرت آدم ﷺ د دې رومبې ځوې په غاړه وی.ځکه چه هغه په ناحقه قتل کړې وو(١)حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه د قاتل د پښې یو پتون په هغه ورځ زورند کړې شی او دده مخ نمر طرفته وی،دده ګرزیدو سره به ګرزی او په یخنئ او ګرمئ کښې اور او واوره کښې دې معذب دې. حضرت عبدالله ﷺ نه مروی دی چه د جهنم د اور نیمه حصه به دده په سر وی.ټولو نه لوئې معذب به هم دې وی.د زمکې د هر قتل ګناه به دده په سروی. ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی چه په ده باندې اوپه شیطان په دهر قتل بوج وی.

هرکله چه قابیل خپل رور هابیل اووژولو نو دا ورته معلومه نه وو چه ده سره څه اوکړی.او څنګه دې پټ کړی.نوالله ﷻ دوه کارغان راولیږل او دواړه خپلو کښې رونړې وو.دوی خپلو کښې د ده په مخکښې په جنګ شوې اویو بل اووژلو،او بیائې یوکنده اوکنیسته اوهغه ئې دې کښې ښخ کړو او ده دپاسه ئې ښاوره واچوله.دې کتلو سره د قابیل په پوهه کښې هم دا ترکیب راغلو اوهم دغه شان ئې اوکړل. حضرت علی ﷺ نه مروی دی چه یوکارغه پخپله مړه شوې وو بل کارغه دې مړکارغه دپاره کنده اوویستله اوهغه ئې په دې کښې ښخ کړو.

دا هم مروی دی چه قابیل ټول کال د خپل رور لاش په خپله شا ګرزولو،بیا د کارغه په کتلو ده خپل نفس ملامته کولو چه ما دومره هم اونه کړل. دا هم وئیلې شوی دی چه د قتل کولو نه پس دې ډیر پښیمانه وو اولاش ئې ګرزولو او خپله غیږه کښې ئې ایښودې وو،او دا په دې وجه چه په مخ د زمکې د ټولو نه رومې قتل هم دا وو.

اهل تورات وائی چه کله قابیل خپل رور هابیل قتل کړو نو الله ﷻ هغه نه تپوس اوکړو چه ستا په رور هابیل باندې څه اوشو ؟ ده اوونیل چه څه څه خبر یم ؟ څه خو د ده سرپرست نه اوم. الله ﷻ اوفرمائیل چه ستا د رور قتل ما ته فریاد کوی او په تا ځما لعنت دې.اوتا په دې زمکه د خپل رور وینه اوڅکوله،نو اوس چه ته څه په دې زمکه کار کوې نوتاته به هغه هیڅ نه درکوی چه تر کومې ته په دې کښې سرګردانی اونکړې.ده خو دا کار اوکړو خو په دې ډیر زیات پښیمانه شو. نقصان باندې پښیمانتیا ګویا په عذاب باندې عذاب دې.

قابیل او هابیل د ادم ﷺ ځامن وو:- په دې قصه کښې د مفسرینواقوال په دې خبره متفق دی چه دا دواړه دحضرت آدم ﷺ صلبی ځامن وو. او هم دا د قران پاك د الفاظو نه صفا معلومیږی.او د حدیث مبارك نه هم دا معلومیږی چه په مخ د زمکې کوم یو قتل کیږی نو ددې یو حصه بوج او ګناه به د حضرت آدم

(١) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب خلق آدم وذریته: ٣٣٣٥، صحیح مسلم: ١٦٧٥، ترمذی : ٢٦٧٣، ابن ماجه: ٢٦١٦، احمد: ٣٨٢/١، ابن حبان : ٥٩٨٣، بیهقی : ١٥/٨، ابن ابی شیبة: ٣٦٤/٩، عبدالرزاق : ١٩٧١٨، مسند حمیدی : ١١٨٠ السنن الکبری للنسائی: ١١١٤٢.

Scanned with Ca

ﷺ په دې خوښې وی. خکه چه هم ده د ټولونه مخکښې د قتل کولو طریقه ایجاد کړې وه.(۱)

یوضعیف قول:- خودحضرت حسن بصری رحمه الله قول دې چه دا دواړه د بنی اسرائیلو نه ؤو. قربانی ټولو نه مخکښې په دوی کښې راغله او په مخ د زمکې د ټولو نه مخکښې د حضرت آدم ﷺ انتقال شوی وو. خو دا قول تامل طلب دې اوددې سندهم صحیح نه دی.یومرفوع حدیث مبارک کښې دی چه دا واقعه په طور دیو مثال ده. تاسو ددې نه ښه واخلئ او خراب پریږدئی. دا حدیث مبارک مرسل دې(۲).

د هابیل د قتل نه پس د ادم ﷺ غم:- وائی چه حضرت آدم ﷺ د دې غمه ډیر تکلیف کښې وو. اویو کال پورې دوی خندلی نه وو آخر فرښتو دده دغم لرې کیدو او دده د خندا دپاره دعا اوکړه. حضرت آدم ﷺ په هغه وخت کښې ونیلی وو چه ښار اوددې ټول څیزونه متغیر شو. د زمکې رنګ بدل او دا ډیره بدصورته شوه. د هریوڅیز مزه ختمه شوه اود مخونو کشش هم ختم شو. په دې دوی ته جواب ورکړې شو چه دې مرده د دې ژوندی کس هم خپل ژوندتباه کړو اوچه مقتول کوم ګناهونه کړی وو د هغې بوج هم دقاتل په سرشو.

قابیل ته په دنیا کښې سزا:- په ظاهره معلومیږی چه قابیل ته هم په هغه وخت سزا ورکړې شوه. نو وارد شوی دی چه دده پنډئی دده پټون سره زورنده کړې شوه. اوددده مخ نمر طرفته شو.اوهم د نمر سره به د ده سره تاویدو. یعنی چه کوم طرفته به نمر وو هغه طرفته به دده مخ تلو.

حدیث مبارک کښې دی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څومره ګناهونه ؟دده دی،د چا ګناهونه دی زر به په دنیا کښې ده ته سزا ورکړې شی او بیا آخرت کښې به ده ته زبردست عذاب ورکولې.او په دې کښې د ټولونه لویه ګناه سرکشی او قطع رحمی ده.(۳) اوپه قابیل کښې دا دواړه څیزونه جمع دی.xفانا لله وانا الیه راجعون﴾

مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۚ	كَتَبْنَا	عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	اَنَّهٗ	مَنْ قَتَلَ
په سبب ددې	الیکلې وؤ مونږه(تورات کښې)	په بنی اسرائیلو باندې	چې بیشکه	چا چې مړکړو
ددې وجې نه مونږ بنی اسرائیلو ته دا حکم ورکړې وؤ				چې چا یونفس
نَفْسًۢا	بِغَيْرِ	نَفْسٍ	اَوْ فَسَادٍ	فِى الْاَرْضِ	فَكَاَنَّمَا	قَتَلَ
یونفس	بې دعوض	دبل نفس نه	یابې دفسادخورولونه	په زمکه کښې	نولکه چې	امړه کړل هغه
دبل نفس دبدلې نه بغیر یا د زمکې په مخ دفساد کولونه بغیر قتل کړو					نوګویا چې هغه	
النَّاسَ	جَمِيْعًا ؕ	وَمَنْ اَحْيَاهَا	فَكَاَنَّمَآ	اَحْيَا	النَّاسَ	جَمِيْعًا ؕ
خلق	ټول	اوچا چې ژوندې کړوهغه	نولکه چې	ژوندی کړل هغه	خلق	ټول
ټول خلق قتل کړل	اوچا چې یو نفس ژوندې بچ کړو			نوګویا هغه ټول خلق ژوندی کړل		
وَلَقَدْ	جَآءَتْهُمْ	رُسُلُنَا	بِالْبَيِّنٰتِ ۫	ثُمَّ	اِنَّ
اوپه تحقیق سره	راغلی وؤ هغوئ ته	رسولان زمونږه	دواضحه ښښوسره	بیا	بیشکه
اوزمونږپیغمبرانو دوئ ته څرګندې ښښې راوړې وې					.....خو ددې باوجود

---

۱) ددې تخریج مخکښې صفحو کښې تیر شوې دې.

۲) الطبری : ۱۲۹/۱۰.

۳) ابوداود کتاب الادب باب فی النهی عن البغی : ٤٩٠٢، وسنده صحیح ترمذی : ٢٥١١، ابن ماجه : ٤٢١١،

كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ۝ اِنَّمَا جَزٰٓؤُا

پیر خلق| دهغوئ نه| روستو ددې نه اپه زمکه کښې | خامخا زیاتی کونکی دی | بیشکه | سزا

په دوئ کښې ډیر خلق دزمکې په مخ زیاتې کوی| بیشکه د هغه کسانو سزا کوم چې

الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ

دهغه کسانو| چې جنګ کوی|د الله سره|او درسول دهغه سره|اوکوشش کوی | په زمکه کښې

دالله او د رسول سره جنګ کوی| او دزمکې په مخ دفساد کولو کوشش کوی

فَسَادًا اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا اَوْ يُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَيْدِيْهِمْ

د پاره دفساد| چې قتل دې کړې شی هغوئ| یادې په سولئ کړې شی|یادې پریکړې شی|لاسونه دهغوئ

نودهغوئ سزا دا ده | چې هغوئ قتل کړې شی| یا په سولئ کړې شی | یاترې لاسونه اوپښې

وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ۭ ذٰلِكَ لَهُمْ

اوخپې دهغوئ| مخالفې |یا دې اوشړلې شی | دزمکې نه |د(سزا) ده| دپاره دهغوئ

ادل بدل کټ کړې شی | اویا د وطن نه اوشړلې شی | ..... د دوی دپاره دا شرمندګی

خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ

رسوائی ده|په دنیاکښې|اوده هغوئ دپاره| په آخرت کښې | سزا | لویه |مګر هغه کسان

په دنیا کښې ده| او په آخرت کښې دوئ دپاره لوئې عذاب تیار شوې دې | البته څوک چې

تَابُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ ۚ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

چې توبه اوباسی|مخکښې ددې نه | چې تاسوقادر شئ| په هغوئ باندې | نو پوهه شئ | چې بیشکه الله

ددې نه ډومبې چې تاسو پرې قابوبیا مومئ توبه اوباسی | .....نو پوهه شئ چې الله ﷻ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

بښونکې مهربان دې |

بخښونکې او مهربان ذات دې |

قوله تعالی:: مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۚ كَتَبْنَا عَلٰي بَنِيْٓ اِسْرَاۗءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ

د انسان قدرو قیمت :: فرمان دې چې د حضرت آدم ﷺ دځوئې بې د څه وجې نه قتل کولو په وجه موږ د اسرائیلو ته صفا صفا اووئیل او دهغوئ کتاب کښې مو اولیکل اوهغوئ دپاره مو شرعی حکم اوکړو چې چا قتل اوکړو او هغه مقتول څه قتل نه وو کړې او نه ئې په زمکه کښې فساد کړې وو نو دا داسې ده لکه چې هغه ټول خلق قتل کړل. هغه دپاره د رب په نزد ټول مخلوق یو شان دې اوچې څوک د بې قصوره سړی د قتل کولو نه منع شی اودا حرام اوګنړی نودا داسې دی لکه چې هغه ټول مخلوق بچ کړو. ځکه چې ټول خلق به داشان سلامتیا سره اوسیږی.

د محاصرې په وخت کښې د عثمان ﷺ قول:- هرکله چې باغیانو د حضرت عثمان ﷺ نه ګیره واچوله نوحضرت ابوهریره ﷺ هغوئ ته ورغلو اوورته ئې اووئیل چې څه ستاسو طرفنه ستاسو مخالفینو سره

Scanned with Ca

جنګ اوکړم. تاسو ګورئی چې اوبه د ورخه تیرې دی. دې اوریدو سره حضرت عثمان ﷺ اوفرمائیل چې آیا ته په دې خبره راضی یئ چې ته هغه خلق قتل کړې په کومو کښې چې څه هم یم. حضرت ابوهریره ﷺ اوفرمائیل چې نه. حضرت عثمان ﷺ اوفرمائیل چې واوره یو کس قتل کول داسې دی لکه چې ټول قتل کړې. څه واپس لاړشه ځماخواهش دې چې الله تعالی تاته اجر درکړی سزا نه. دې نه پس دوی واپس شو او جنګ ئې اونه کړو. مطلب دا دې چې د قتل شروع کول ددنیا دتباه کولو باعث دی. اوددې نه منع کیدل د خلقو د ژوند سبب دې.

حضرت سعید بن جبیر رحمه الله فرمائی چې د یو مسلمان وینه حلالونکې د ټولو خلقو قاتل دې. اود یو مسلمان وینې بچ کونکې داسې دی لکه چې هغه ټول مسلمانان بچ کړل. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چې څوک یو نبی یا یو عادل بادشاه قتل کړی نو په هغه دټولې دنیا د خلقو دقتل ګناه ده. اود نبی او د عادل بادشاه لاس مضبوطونکې د دنیا د بچ کونکو پشان دې. (ابن جریر) اویو روایت کښې دی چې بغیر د څه ګناه نه د چا قاتل د جهنم حقدار شی او دا داسې دی لکه چې ټول ئې وژلی وی.

حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چې څوک یو مومن بې وجې قتل کړی نو هغه جهنمی، د رب دښمن، ملعون اود سزا مستحق دې. بیا که دې ټول خلق هم اووژنی نو ددې نه به زیاد عذاب بل څه وی؟ څوک چې د قتل نه روستو شو یعنی قتل ئې اونکړو نو ددۀ طرفنه د ټولو خلقو ژوند محفوظ دې. (١) عبدالرحمان رحمه الله فرمائی چې دیو قتل بدلې ددۀ وینه حلاله شوه. دا نه چې ډیرو لره قتل کړی، هرکله چې دې د قصاص قابل شو اوچې څوک دې بچ کړی یعنی ولی قاتل ته معافی اوکړی نودا داسې دی لکه چې دۀ ټولو خلقو ته معافی اوکړه. اوددې دا مطلب هم بیان شوې دې چې چا یو انسان بچ کړو. لکه یوګس ډوبیدو اودۀ بچ کړو، یو سوزیدو اودۀ بچ کړو، څوک ئې د هلاکت نه بچ کړل. مقصد دا دې چې خلق د ناحق قتل نه منع کول اود خلقو خیرخواهی او امن وامان طرفته ئې رابلل.

حضرت حسن رحمه الله نه تپوس اوشو چې بنی اسرائیل څنګه ددې حکم مکلف وو (چې څوک به نه قتلوی) مونږ هم یو؟ نو وې فرمائیل چې بالکل هم داسې ده. په الله قسم د بنی اسرائیلو وینه زمونږ د وینې نه زیاته قیمتی نه وه. نود یو سړې بې د څه وجې قتل کول داسې دی لکه چې دټولو دقتل بوج په ځان کړی اوکه څوک یو کس بچ کړی نو دا د ټولو د بچ کولوبرابر دی.

یو ځل حمزه بن عبدالمطلب ﷺ رسول الله ﷺ ته درخواست اوکړو چې یارسول الله ﷺ ماته یو داسې خبره اوکړئی چې هغې سره ځما ژوند ښۀ آرام سره تیر شی. حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې ته څوک قتل کول غواړې که څوک بچ کول؟ جواب ئې کښې اوفرمائیل چې بچ کول نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې بس همیشه خپله اصلاح کوه. (٢)

قوله تعالی:: وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ

بیافرمائی چې دوئ ته زمونږ پیغمبر ﷺ واضح دلیلونه راوړی دی. اوهغه سره واضح احکامات او ښکاره معجزې دی. خو ددې نه پس هم خلق د خپلې سرکشئ نه او جنګ وجدال نه نه منع کیږی. د نبو قینقاع قبیلې یهود، بنو قریظه او بنو نضیر ته وغیره ته پام اوکړئی چې اوس او خزرج ته یو ځائې شو او یو بل سره ئې جنګونه کول او جنګ نه پس به ئې بیا د قیدیانو فدیې ورکولې او هغوئ به ئې راخلاصول. او د مقتول دیت به ئې اداکولو. نو په دې قرآن پاک دوئ پوهه کړل چې ستاسو نه دا وعده اخستې شوې وه چې تاسو به نه د خپلو قتل کوئ او نه به د نورو. خوتاسو د پخې وعدې اومضبوط

---

١) ابوداود کتاب الادب باب النهی عن البغی : ٤٩٠٢.

٢) احمد: ١٧٥/٢.

عهد نه پس هم بیا ددې خلاف اوکړل فدیې مو ورکړې او ویستل هم حرام وو. د دې څه مطلب چې تاسو یو حکم منئ اوبل نه منئ. ددې اسې خلقو سزا دا ده چې دنیا کښې به رسوا او خوار وی اودوئ لره به آخرت کښې سخت عذاب وی. او الله تعالی ستاسو د اعمالو نه غافل نه دې.

قوله تعالی:: إِنَّمَا جَزَٰٓؤُاْ ٱلَّذِينَ يُحَارِبُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَسۡعَوۡنَ فِي ٱلۡأَرۡضِ

په زمکه کښې د فساد خورولو سزا:- دمحاربة معنی د حکم برعکس، خلاف کول، مخالفت کول، اوددې نه مراد کفر، ډاکه اچول، په زمکه فساد خورول اوداشان رنګ په رنګ فسادونه خورول دی. تردې چې سلفو داوئیلی دی چې سکه ماتول هم په زمکه د فساد خورولو پشان دی. د قرآن پاک یو بل آیت مبارک کښې دی چې هرکله دوئ د یو کار مشران شی نو فساد په کښې کوی. اوو پتی او نسل تباه کوی. الله تعالی فساد نه خوښوی.

د ایت شان نزول:- ①دا آیت مبارک د مشرکانو باره کښې نازل شوې دې. ځکه چې په هغې کښې دا هم دی چې کله داسې سړې د مسلمانانو د ګرفتارولو نه مخکښې توبه اوکړی نو په هغه هیڅ مواخذه نشته دې. ددې خلاف چې کله مسلمانان داسې کارونه اوکړی او هغه اوتښتی اوکافرانو سره یوځائې شی نو په هغه به شرعی حد جاری کیږی.(۱) حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چې داآیت مبارک د مشرکانو باره کښې نازل شوې دې. بیا چې په دوی کښې مسلمانان څوک ګرفتار کړی اوددې نه مخکښې مخکښې دې توبه اوباسی نو چې په باندې دده د کار په وجه ثابت شو هغه دده نه نشی لرې کیدلې.

① حضرت ابی ﷺ نه مروی دی چې د اهل کتابو یوې ډلې سره حضرت نبی کریم ﷺ معاهده کړې وه خو هغوئ هغه ماته کړه او فساد ئې شروع کړو. په دې الله تعالی خپل نبی ﷺ ته اختیار ورکړو که ته غواړې نو دوې قتل کړه. اوکه غواړې نو ددوی لاس او پښه مخالف پرې کړه (یعنی ښې لاس او ګسه پښه یا ګس لاس او ښئ پښه).(۲)

②حضرت سعد ﷺ فرمائی دا د حروریه خوارجو باره کښې نازل شوې دې. صحیح دادی چې څوک هم داکار اوکړی نو هغه دپاره دا حکم دې. په بخاری اومسلم کښې دی چې د عکل قبیلې اته سړی د حضرت نبی کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شونو نبی کریم ﷺ هغوئ ته اوفرمائیل که تاسو غواړئ نو زمونږ شپونکو سره لاړشئ او تاسو ته به د اوښانو متیازې ملاویږی. کله چې هغوئ روغ شول نو هغوئ هغه شپونکی اووژل او اوښان ئې روان کړل. کله چې حضرت نبی کریم ﷺ ته د دې خبر ملاؤ شو نو حضرت نبی کریم ﷺ صحابه کرامو ته حکم اوفرمائیلو چې هغوئ پسې لاړشئ او وې نیسئ. نو هغوئ ګرفتار کړې شو. او د حضرت نبی کریم ﷺ مخکښې پیش کړې شو. بیا د هغوئ لاس پښې پرې کړې شوې. او سترګو کښې ورته ګرم سلایان راښکلې شو. اوپه نمر واچولې شو او مړه شو.

د عرنیینو سزا:- مسلم کښې دی چې ددې خلقو تعلق یا عکل قبیلې سره وو یا عرینه سره. دوئ به اوبه غوښتلې خو دوئ ته به نه ملاویدلې. د هغوئ مرهم پتئ اوکړې شوه. ځکه چې هغوئ غلا هم کړې وه او قتل ئې هم کړې وو. ایمان نه پس ئې بیا کفر اختیار کړې وو. اوحضرت نبی کریم ﷺ سره ئې جنګ هم کړې وو. هغوئ د شپونکو سترګو کښې ګرم سلایان هم ویلی کړی وو. هغه وخت کښې د مدینې آب وهوا نه وه. د برسام بیماری خوره وه. حضرت نبی کریم ﷺ هغوئ پسې شل آسونو والا لیږلی وو. اویو

---

۱) الطبری : ۲٤٤/۱۰.
۲) الطبری : ۲٤۳/۱۰.

Scanned with Ca

رهبر وو چې هغوئ به ددوئ رهبری کوله (١). د مرګ په وخت کښې د هغوئ د ا حالت وو چې هغوئ داولړې د وجې زمکه څټله. د هغوئ باره کښې دا آیت مبارک نازل شو. (٢)

یو ځل حجاج حضرت انس ﷺ نه تپوس اوکړو چې حضرت نبی کریم ﷺ د ټولو زیاته سخته سزا کومه ورکړې وه نوهغوئ ورته داواقعه بیان کړه. په دې واقعه کښې داهم دی چې دا خلق بحرین نه راغلی وو او د بیمارئی په وجه د دوی رنګونه زیړ شوی وو اوخیټې ئې غټې شوې وې. نو حضرت نبی کریم ﷺ هغوئ ته دا اووئیل چې تاسو لاړ شئ او اوښانو کښې اوسیږئ او د هغوئ متیازې څکئ. (٣)

دحجاج چالاګی:- حضرت انس ﷺ فرمائی چې بیا ماوکتل حجاج دا روایت د خپلو ظلمونو دپاره دلیل جوړ کړو. بیا څه ډیر پښیمانه شوم چې ما دا حدیث پاک هغه ته ولې بیان کړو؟ او یو روایت کښې دی چې هغوئ د څلورو کسانو تعلق عرینه قبیلې سره وو او دریو کسانو عکل قبیلې سره. دا ټول روغ رمټ شو. اویو روایت کښې دی چې دوئ لاړې هم بندې کړې او دوئ زناکار هم وو (٤) ځکه چې دوئ راغلی وو نو دوئ سره د غریبئ د دلاسه هیڅ نه ووصرف جامې ئې په بدن وې. دوئ قتل کولو نه پس خپل وطن ته روان شول.

د یوې جملې تردید:- حضرت جریر ﷺ فرمائی چې دوئ بس خپل قوم ته رسیدنکی وو چې ګرفتار کړې شو. هغوئ به اوبه غوښتلې او حضرت نبی ﷺ به ورته فرمائیل چې اوس به تاسو ته د اوبو بدله کښې د جهنم اور ملاویږی. دې روایت کښې داهم دی چې په سترګو کښې ورته سلایان وهل دالله تعالی خوښ نشو. دا حدیث پاک ضعیف او غریب دې. خو ددې نه معلوم شو چې ددې مرتدانو ګرفتارولو پسې کوم لښکر لیږلې شوې وو دهغوئ سردار حضرت جریر ﷺ وو. او دې روایت دا فقره منکره ده چې الله تعالی ته د هغوئ سترګو کښې سلایان وهل خوښ نشو ځکه چې په صحیح مسلم کښې موجود دی چې هغوئ شپونکو سره هم داشان کړی وو. نودا د هغوئ بدله اود هغوئ قصاص وو چې کوم دوئ هغه (شپونکو) سره کړې وو. (٥) نوهم هغه سلوک هغوئ سره اوکړې شو. والله اعلم.

او یو روایت کښې دی چې ددې خلقو تعلق د بنی فزاره قبیلې سره وو. دې واقعې نه پس حضرت نبی کریم ﷺ هیڅا ته دا سزا نه وه ورکړې. (٦) اویوروایت کښې دی چې د حضرت نبی کریم ﷺ یو غلام وو چې د هغه نوم یسار ﷺ وو. دې ډیر

ښه مونځګزار وو. په دې وجه حضرت نبی کریم ﷺ هغه آزاد کړې وواو خپلو اوښانو سره ئې لیږلې وو. دۀ به د هغوئ نګرانی کوله. هغه هم دې مرتدانو قتل کړې وو او د هغه سترګو کښې ئې ازغی منډلی وو او اوښان ئې ترینه تښتولی وو. چې کوم لښکر هغوئ ګرفتار کړی وو هغوئ کښې یو حضرت کرزبن جابر فهری ﷺ هم وو چې ډیر بهادر وو. (٧)

---

(١) صحیح بخاری کتاب المغازی باب قصة عکل وعرینة : ٤١٩٢، صحیح مسلم : ١٦٧١، ابوداود: ٤٣٦٦، ترمذی : ٢٠٤٢، نسائی : ٤٠٣٠.

(٢) ترمذی کتاب الطهارة باب ماجاء فی بول مایؤکل لحمه: ٧٢ وسنده صحیح،نسائی : ٤٠٣٩.

(٣) دې روایت کښې سلام بن اب؛ی الصهبان مجروح دې او ددې شاهد صحیح بخاری صفحه: ٥٦٨٥ باندې موجود دې. اوددې په وجه دا روایت حسن دې.

(٤) الطبری ١٠/٢٥٠، .

(٥) صحیح مسلم کتاب القسامة : باب حکم المحاربین والمرتدین: ١٦٧١.

(٦) عبدالرزاق: ١٨٥٤١، .

(٧) طبرانی : ٦٢٢٣، مجمع الزوائد: ٦/٢٩٤، .

Scanned with Ca

د عرنیینو گرفتاری:- حافظ ابوبکر ابن مردویه رحمه الله ددې روایت ټول طریق راجمع کړی دی ،الله تعالی دې هغوئ ته جزائې خیر ورکړی.ابوحمزه بن عبدالکریم رحمه الله نه د اوښانو د متیازوباره کښې سوال اوشو نو هغوئ ورته د هغه شورشیانو قصه بیان کړه.هغې کښې دا هم دی چې دې منافقانه طور سره ایمان قبول کړې وو. او حضرت نبی کریم ﷺ ته ئې شکایت کړې وو چې د مدینې منورې آب و هوا موافق نه ده هرکله چې حضرت نبی کریم ﷺ ته د هغوئ د قتل او دهوکې او فساد علم شو نو حضرت نبی کریم ﷺ اعلان اوکړو چې ائې د الله لښکره پورته شه.دې آواز آوریدو سره مجاهدین پورته شو او هډو د یو بل انتظار ئې اونه کړو او دې مرتدډاکونو او شورشیانو پسې روان شو. د هغوئ لیږلو نه پس حضرت نبی کریم ﷺ پخپله هم هغوئ پسې روان شو.هغه خلق خپل ځائې ته رسیدنکې ووچې صحابه کرامو رضي الله عنهم هغوئ نه دائره واچوله او هغوئ کښې چې څومره گرفتار شو هغوئ ئې د حضرت نبی کریم ﷺ مخکښې پیش کړل .د هغوئ سزا دا وه چې هغوئ د اسلامی حکومت حدودو نه بهر کړې شو. هغوئ ته دې نه پس عبرتناکې سزاگانې ورکړې شوې او دې نه پس حضرت نبی کریم ﷺ چاته هم داسې سزا ورنکړه چې په هغې کښې د هغه د بدن اندامونه پرې کړې شوی وی.بلکه حضرت نبی کریم ﷺ د دې نه منع اوفرمائیله.اودې نه ئې هم منع اوفرمائیل چې څوک ځناورو سره داسې عمل اوکړو.

بعضې نور اقوال:- ځینې روایتونو کښې دی چې د قتل نه پس هغوئ اوسیزلې شو. (۱) ځینې وائی چې دا د بنو سلیم کسان وو. د ځینوبزرگانو قول دې چې هغوئ ته حضرت نبی کریم ﷺ کومه سزا ورکړې وه هغه د الله تعالی خوښه نشوه.اودې آیت مبارک سره ئې هغه منسوخ کړه.د هغوئ په نزد دې آیت کښې حضرت نبی کریم ﷺ د هغه سزا نه منع کړې شو. (عَفَاالله عَنْكَ) (۲) او ځینې وائی چې حضور نبی کریم ﷺ د مثله کولو یعنی لاس،پښه،پوزه او غوږ پریکولو نه منع فرمائیلې ده.دې حدیث پاک سره دا سزا منسوخ شوه. خو دا ډیرد تامل خبره ده.

د نسخې تاریخ:- بیا دې کښې دا خبره د غور طلب ده چې د ناسخ د تاخیر دلیل څه دی؟ ①ځینې وائی چې دا واقعه د اسلام د حدودو قائمیدو نه مخکښې وه.دا هم صحیح نه معلومیږی.بلکه د حدودو تقرر کیدو نه پس واقعه معلومیږی.ځکه چې د دې حدیث پاک راوی حضرت جریر بن عبدالله رضي الله عنه دې.اوهغوئ د سورة مائده د نازلیدو نه پس اسلام قبول کړې وو. ②ځینې وائی چې حضور ﷺ د هغوئ په سترگو کښې سلایان راښکل غوښتل خو دې کښې دا آیت مبارک نازل شو اوحضور ﷺ خپله اراده منسوخ کړه.خودا هم درست نه دی.ځکه چې بخاری او مسلم کښې دا لفظ دې چې حضور ﷺ د هغوئ سترگو کښې د سلایانو راښکلو حکم اوکړو. محمد بن عجلان رحمه الله فرمائی چې حضور نبی کریم ﷺ هغوئ ته کومه سزا ورکړه د هغې په انکار کښې دا آیتونه نازل شو.او په هغې کښې د صحیح سزا بیان شوې دې. چې په کومه سزا کښې دقتل کول او د لاس،پښې په خلاف پریکولو حکم باندې مشتمل دې.اوتاسو اوګورئی چې دې نه پس د چاسترگو کښې سلایان وهل ثابت دی. (۳) ③خو اوزاعی رحمه الله وائی چې دا صحیح نه دی چې دې آیت مبارک کښې حضور ﷺ ته په هغه کار تنبه ورکړې شوه کوم حضور نبی کریم ﷺ کړې وو. خبره داده چې څه هغه کسانو کړې وو هغوئ ته د هغې بدله ورکړې شوه. اوس چې کوم آیت مبارک نازل شو په هغې کښې چې کوم خاص حکم دداسې خلقو باره کښې ورکړې شوې دې اوپدې کښې سترگو کښې د سلایانو وهلو حکم نشته دې.

---

(۱) الطبری: ۲٤٦/۱۰.
(۲) الطبری: ۲٥۳/۱۰.
(۳) الطبری: ۲٦۳/۱۰.

Scanned with Ca

د باغیانو د سزا ذکر:- ددې ایت مبارک جمهور علماء کرامو دا دلیل نیولې دې چې د لارې بندل او جنګ کول او ښارونو کښې جنګ کول یو برابر دی. ځکه لفظ ﴿وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا﴾ دې. دامام مالک رحمۃ اللہ علیہ، اوزاعی رحمۃ اللہ علیہ، لیث رحمۃ اللہ علیہ، امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ هم دا مذهب دې. شوریان که په ښار کښې داسې فتنه جوړه کړي یا د ښار نه بهر وی نو د هغوئ داسزا ده. بلکه امام مالک خو تر دې پورې وائی چې یو کس بل لره د هغه په کور کښې داسې دهوکې سره قتل کړی نو هغه به نیولې شی او هغه سره چې څومره مال وی هغه به ترې اخستې شی او هغه به قتل کولې شی. اوداکار به د وخت امام پخپله کوی، د مقتول خپلوان به ئې نه کوی. بلکه که هغوئ ورته معافی کول غواړی نو بیا هم د دوی اختیار کښې نشته دې. بلکه دا جرم بې واسطې د اسلامی حکومت دې. د امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ دا مذهب نه دې بلکه هغه وائی چې محاربه به هغه وخت کښې منلې کیږی چې کله څوک د ښار نه بهر داسې فساد اوکړی. ځکه چې ښار ته مدد رسول ممکن دی. لارو کښې دا خبره ممکن نه ده. چې کومه سزا د محاربینو بیان شوې ده د هغې باره کښې حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی چې کوم کس په مسلمانانو پسې توره راوچته کړي یا لارو دپاره خطره جوړه شی نو امام المسلمین ته دا اختیار حاصل دې چې دې سزاګانو کښې ورته کومه سزا ورکوی نو ورکولې شی.(١) اوهم دا د ډیرو قول دې. اوداشان اختیار داسې نورو آیتونو کښې هم موجود دې. لکه کله چې یو محرم ښکار اوکړی نود دې بدله د ښکار برابر قربانی یا مساکینو ته خوراک ورکول یا ددې برابر روژې نیول دی. دبیمارئی یا د سر د تکلیف په وجه داحرام حالت کښې د سر خرئیلو او خلاف احرام کار کولو والا فدیه کښې هم روژې یا صدقه یا د قربانئ بیان دې. د قسم کفاره کښې هم د درمیانه درجې خوراک لسو مسکینانو ته ورکول یا هغوئ ته جامې ورکول یا یو غلام آزادول دی. نو چې څنګه دلته ددې صورتونو بیان دې او په دې کښې د خوښې اختیار دې، نو داشان د محارب مرتد خلقو سزا هم یا خو قتل دې یا لاس پښه اډل بدل پریکول دی یا جلاوطنی ده.

د جرم د نوعیت په اعتبار د سزا بدلیدل:- اودجمهورو قول دې چې دا آیت مبارک ډیرو احوالو باره کښې دې. ① هرکله یو ډاکو قتل و غارت دواړه اوکړی نو ددۀ سزا په دار کول او څټ ئې پریکول دی. ② او چې کله ئې صرف قتل کړې وی نو بیا د قتل بدله صرف قتل دې. ③ اوکه صرف مال ئې اخستې وی نود هغه لاس پښه به اډل بدل پریکولې شی. ④ اوکه لارو کښې ئې خطرې پیدا کړې وی او خلقو کښې ئې ویره پیدا کړې وی او څه ګناه ئې نه وی کړې اوهغه اونیولې شی نو بیا صرف جلاوطنی ده.(٢) داکثرو ائمه کرامو او سلفو هم دا مذهب دې.

د محاربیو د مختلفو جرمونو مختلف حکمونه

مسلک حنفی:- که محاربینو د مسلمان یا د ذمی مال واخستل او قتل ئې نه وی کړې نو امام به د دوی لاسونه او پښې اډل بدل کټ کړی د حد قانمولو دپاره او که په اولیاؤ کښې څوک عفو اوکړی نو د هغوی عفوې ته به نشی کتلې اوکه محاربینو قتل او مال اخستل دواړو کړی وی نو په دې صورت کښې د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف په نیز امام ته اختیار دې که غواړی نو د دوی لاسونه او پښې دې اډل بدل کټ کړی او قتل دې کړی او پهانسی دې کړی یعنی دریو واړه سزاګانې جمع کولې شی او که غواړی نو قتل دې کړی او که غواړی نو پهانسی دې کړی البته امام محمد رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه قتلولې به شی یا به پهانسی کولې شی او لاسونه پښې به ئې نشی کټ کولې د تفصیل دپاره اوګورئ (تفسیر مظهری ١١٨\٣).

---

١)الطبری: ٢٦٣/١٠.

٢)البغوی فی التفسیر: ٧٨٨.

Scanned with Ca

د قتلولو په سزا کښې اختلاف:- بیا بزرګانو دې کښې هم اختلاف کړې دې چې په سولئ اوخیژولې شی اوکه هم د اسې اوږدې تږې پریخودې شی چې مړ شی یا په نیزه وغیره سره قتل کړې شی ؟ یا اول قتل کړې شی او بیا په سولئ کښې زورند کړې شی؟ چې د ټولو خلقو دپاره عبرت شی. او آیا تر درې ورځې پورې په سولئ پریخودلې شی .؟ یا هم داشان پریخودلې شی.

د جزئیاتو د اختلاف نه ذکر کولو وجه:- خود تفسیر دا موضوع نه ده چې مونږ داسې جزئی اختلافاتو کښې پریوځو چې د هریو دپاره دلیلونه راغونډو. خو یو حدیث پاک کښې تفصیلی سزاده که د هغې سند صحیح وی .هغه دا چې کله حضور نبی کریم ﷺ حضرت جبریل علیه السلام نه دمحاربینو باره کښې تپوس اوکړو نو حضرت جبریل علیه السلام اوفرمائیل چې چا مال پټ کړو او لارې ئې خطرناکې جوړې کړې نودهغوئ لاس خو دې دغلا بدله کښې پریکړې شی.اوپښه دې بدامنئ په بدله کښې او چا ت قتل اوکړو نو هغه قتل کړئی.اوچې چا قتل هم اوکړی او لارې ئې هم پرخطر کړې نو هغه په سولئ اوخیژوئ.(١)

قوله تعالی:: اَوْیُنْفَوْامِنَ الْاَرْضِ ؕ

جلا وطنی:- فرمان دې چې د زمکې نه دې جدا کړې شی یعنی هغوئ دې تلاش کړې شی او په هغوئ دې حد قائم کړې شی .یا که هغه د دارالاسلام نه اوتښتی او یا دې د یو ښار نه بل ښار او د بل نه دې بل ته اولیږلې شی یادا چې هغه بیخی د اسلامی سلطنت نه بهر کړې شی.شعبی رحمه الله خو به ویستلو او عطاء خراسانی فرمائی چې یو لښکر نه دې بل لښکر ته اولیږلې شی.اوداسې دې څو څوکاله په لړزان ګرځولې شی.خو د دارالاسلام نه دې بهر نکړې شی.ابوحنیفه رحمه الله اوددوئ ملګری فرمائی چې دې دې په جیل خانه کښې واچولې شی.د اسې خلق به دنیا کښې ذلیل او رسوا او آخرت کښې لوئې لوئې عذابونو کښې وی.د آیت مبارک دا ټکړه د هغه خلقو تائید کوی چې کوم وائی چې دا آیت مبارک د مشرکانو باره کښې نازل شوې دې.او د مسلمانانو باره کښې هغه صحیح حدیث دې چې حضرت نبی کریم ﷺ زمونږ نه هغه شان وعدې اخستې وې چې څنګه ئې ښځو نه اخستې وې.چې مونږ به الله تعالی سره شریک نه جوړوؤ، غلا به نه کوؤ،زنابه نه کوؤ، خپل اولاد به نه قتلوو،د یو بل نافرمانی به نه کوو،څوک چې دا وعده پوره کړې نو الله تعالی به ددې اجر ورکړی.اوڅوک چې په دې یو ګناه اوکړی او بیاه هغه ته سزا ورکړې شی نو دا سزا به هغه دپاره کفاره شی.اوکه الله تعالی ددۀ پرده پوشی اوکړه نو ددۀ معامله الله تعالی سره ده.که عذاب ورکوی اوکه بخښنه ورته کوی.(٢)

اویوحدیث پاک کښې دی چې چا یو ګناه اوکړه اوبیا الله تعالی په هغه پرده واچوله نو دالله تعالی ذات اودهغه رحم ډیر اوچت دې که هغه معاف کوی اوکه په دې جرم باندې سزا ورکوی.(٣) که دې دنیا کښې بې سزا نه مړشی نودهغه ورځې سزاګانې باقی دی.او په دې وخت کښې د هغې تصور هم محال دې.خوکه توبه ورنصیب شی نو دا بیله خبره ده.

د مفسد فی الارض د توبې ویستلو نه پس د سزا حکم:- بیا د توبه کونکو باره کښې فرمائی. ددې اظهار خو دې صورت کښې بالکل واضح دې چې دا آیت مبارک د مشرکانو باره کښې نازل کړې شوې اومنلې شی .خوکه یو مسلمان محارب وی اوهغه د ګرفتاریدو نه مخکښې مخکښې توبه اوباسی نو

---

١) الطبری : ٢٧٦/١٠،.

٢) صحیح مسلم: کتاب الحدود باب الحدود وکفارات لاهلها: ١٧٠٩.

٣) احمد: ٩٩/١. ترمذی کتاب الایمان باب ماجاء لایزنی الزانی وهو مؤمن: ٢٦٢٦،.

Scanned with Ca

د هغه نه خود سولئ او پښې کټ کولو سزا به ختمه شی خو د لاس کټ کولو سزا به ختمیږی که نه په دې کښې دعلماء کرامو دوه اقوال دي.

مفسدچې مسلمان وی د هغه حکم:- د آیت ظاهری الفاظو نه هم دا معلومیږی چې ټول به ورته معاف شی د صحابه کرامو ﷺ عمل هم پدې دي. جاریه بن بدتیمی بصری په زمکه کښې فساد اوکړو، مسلمانانو سره ئې جنګ اوکړو، دې باره کښې حضرت علی ﷺ ته څو قریشو سفارش اوکړو، په هغوئ کښې حضرت حسن بن علی ﷺ، حضرت عبدالله بن عباس، حضرت عبدالله بن جعفر ﷺ هم وو. خو حضرت علی ﷺ هغه ته د امن ورکولو نه انکار اوکړو. هغوئ سعید بن قیس همدانی رحمه الله ته راغلو، هغوئ دوئ خپل کور ته راوستل هغه حضرت علی ﷺ ته ورغلو اور ورته ئې اووئیل چې تاسو (دهغه کس باره کښې) اووائې چې الله تعالی اودهغه رسول ﷺ سره جنګ اوکړی او په زمکه کښې د فساد خورولو کوشش اوکړی بیا ئې دا آیتونه مبارک تلاوت کړل چې ﴿قَبْلِ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ﴾ نودوئ اوفرمائیل چې داسې سړی دپاره به امن ورکړم. حضرت سعید ﷺ اوفرمائیل چې دا جاریه بن بدر دي[1] نوجاریه دې نه پس دهغه په مدح کښې اشعار هم اووئیل.

دابوموسی اشعری ﷺ عمل:- کوفه کښې یو جمات کښې د مراد قبیلې سړې حضرت ابوموسی اشعری ﷺ ته راتلو اودې وخت کښې فرض مونځ شوې وو او وې وئیل چې ائې کوفې امیر محترمه! ځما تعلق مرادی قبیلې سره دي او ځه فلانې ځوئې د فلانې یم، ما الله تعالی اود هغه رسول ﷺ سره جنګ اوکړو، په زمکه کښې د شورش خورول کوشش مې اوکړو، خو ستاسو په قبضه کښې راتلونه مخکښې ما توبه اوویسته اوس ځه ستاسونه پناه غواړم. په دې حضرت ابوموسی اشعری ﷺ پورته شو او وې فرمائیل چې ای خلقو! اوس تاسو ددۀ د توبې نه پس دۀ سره هیڅ قسمه بدی مه کوئی. که دې رښتونې وی نو الحمدلله اوکه دروغژن وی نو ددۀ ګناه بۀ دې هلاک کړی. داسې خو تر یو مودې پورې بالکل صحیح وو. خو بیا شورشی جوړشو اوالله ﷻ دې د دۀ دګناهونو په وجه هلاک کړل. او دې اووژلې شو.

د علی اسدی ﷺ د بغاوت نه توبه:- علی نومې یو اسدی سړی هم د جنګ لارې کښې خطر واچولې او خلق ئې قتل کړل، مال ئې لوټ کړو، د لښکرامیر ډیر ځل ګرفتارول اوغوښتل خو دې په لاس نه راتلو. یو ځل دې په ځنګل کښې وو او یو سړی د قران پاک تلاوت کولو او دۀ آوریدو او چې کله هغه سړی دا آیت مبارک اووئیلو چې ﴿قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا﴾ نودې اودریدو اووې وئیل چې ائې دالله بنده ماته دا آیت مبارک بیا اووایه. هغه بیااووئیلو، د الله تعالی ددې آیت مبارک آوریدو نه پس هغه فرمائی چې: ائې ځما ګناهګار بندګانو ځما د رحمت نه مه ناامیده کیږئی، ځه په ټولو ګناهونو بخښلو قادر یم. ځه غفور اورحیم یم. دې سړی زر زر خپله توره تیکی کښې ورکړه او د زړۀ دکومی نه ئې توبه اوویسټله او سحر نه مخکښې مخکښې مدینې منورې ته اورسیدو. غسل ئې اوکړو او مسجدنبوی ﷺ کښې د سحر مونځ ئې په جمع اداکړو. اوحضرت ابوهریره ﷺ سره چه کوم خلق ناست وو هغوئ سره دې هم کیناستو. هرکله چې رنړا شوه نو خلقودې اوپیژندو چې دا خو مفرور اود سلطنت باغی علی اسدی دي. پورته شو چې هغه ګرفتار کړی. هغه اووئیل چې ځما رونړو واورئی، تاسو ما نشئ ګرفتارولئ، دې نه مخکښې چې تاسو ما ګرفتار کړئی ما توبه ویستلې ده اوپوره توبې ویستلو نه پس تاسوته راغلې یم. حضرت ابوهریره ﷺ اوفرمائیل چې دې رښتیا وائی او دې ئې د لاس نه اونیول او مروان بن حکم ته ئې پیش کړو. دې په هغه وخت کښې د امیر معاویه ﷺ طرفنه د مدینې ګورنر وو. هلته چې اورسیدو نو وې

---

[1]) الطبری : ۲۸۰/۱۰.

فرمائیل چې دا علی اسدی دې دۀ توبه ویستلې ده اوپه دې وجه تاسو اوس دۀ سره هیڅ نشئ کولئ نو هیڅا هم هغه سره هیڅ اونه کړل هرکله چې د مجاهدینو یو جماعت رومیانو سره د جهاد کولو دپاره لاړو نو دې هم هغوئ سره وو .ددوی کشتئ سمندر کښې روانه وه چې مخې کښې ورته د رومیانو کشتئ راغله دۀ خپله کشتئ پریخودله اود رومیانو کشتئ ته ورغلو او هغوئې وژل شروع کړل هغوئ ددۀ مقابله اونه کړې شوه او ټول پورته شو او کشتئ کښې یوطرفته شو ،دې سره د کشتئ بوج یو طرفته شو نو په دې وجه کشتئ الټه شوه او هغه ټول رومیان هلاک شو او حضرت علی اسدی رضی الله عنه هم شهید وشو .[1] (الله تعالی دې پرې رحمتونه نازل کړی) آمین.

محارب کښې د کړفتارئ نه وړاندې توبه اوباسی هغه معاف دې

مسلک حنفی:- که محارب او فسادی کس ددې نه وړاندې چه امیر هغه کرفتار کړی او دهغه په قابو کښې راشی دې پخپله توبه اوباسی او د توبې نه پس حکومت ته په لاس راشې نو په ده باندې به حد نشی قائمولې دا حکم د عامو حدودو د حکم نه مختلف دې ځکه چه هغه جرمونه کوم چې موجب د حد وی که هغه عدالت ته اورسی نو په توبې ویستلو سره هغه نه معاف کیږی اګرچې اخروی سزا په توبې ویستلو سره معاف کیږی خو د باغی حکم داسې نه دې (بتغیر تفسیر مظهری ۱۲۰/۳).

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوا	اتَّقُوا اللّٰهَ	وَابْتَغُوْٓا	اِلَيْهِ
ائې هغه کسانو	چې ایمان مو راوړې دې	اووېرېږئ د الله نه	او اولټوئ	هغه ته
ائې د ایمان خاوندانو	دالله ﷻ نه اووېرېږئ		اودهغه دربار کښې	
الْوَسِيْلَةَ	وَجَاهِدُوْا	فِيْ سَبِيْلِهٖ	لَعَلَّكُمْ	تُفْلِحُوْنَ ۝
ذریعه	اوکوشش اوکړئ	په لاره دهغه کښې	ښائیږی چې تاسوته	کامیابی نصیب شی
دکامیابئ وسیله	اولټوئ	اودهغه په لار کښې کوششونه اوکړئ		چې کامیاب شئ
اِنَّ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	لَوْ	اَنَّ لَهُمْ	مَّا
بیشکه هغه کسان	چې انکار ئې اوکړو	که چرې وی	دهغوئ دپاره	هغه څه
بیشکه چا چې کفر اوکړو	که چرته هغه ټول څه چه په مخ د زمکې دی هغه اود هغې پشان نور هم			
فِي الْاَرْضِ	جَمِيْعًا	وَّمِثْلَهٗ	مَعَهٗ	لِيَفْتَدُوْا
چې په زمکه کښې دی	ټول	او په مثل دهغې	ورسره نور	د پاره ددې چې فدیه اوکړی
د دوی ملکیت شی	او دوی په هغې سره د قیامت د ورځې د عذاب نه فدیه ورکول اوغواړی			
بِهٖ	مِنْ عَذَابِ	يَوْمِ الْقِيٰمَةِ	مَا تُقُبِّلَ	مِنْهُمْ ۚ	وَلَهُمْ
په هغې سره	د عذابه	د ورځې د قیامت	نه انوقبول به نه کړې شی	دهغوئ نه	او وی به دهغوئ دپاره
نو بیا به هم د دوی نه قبول نشی	.....				اودوئ دپاره
عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝	يُّرِيْدُوْنَ	اَنْ يَّخْرُجُوْا	مِنَ النَّارِ	وَمَا هُمْ	بِخٰرِجِيْنَ
عذاب دردناک	غواړی به هغوئ	چې اوځی	د اور نه	اونه به وی هغوئ	وتونکی
دردناک عذاب تیار شوې دې	دوئ به غواړی چې د دوزخ نه راوځی		خو د هغې نه به وتیدونکی نه وی		

[1] (الطبری : ۲۴۸/۱۰)

Scanned with Ca

مِنْهَا ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴿٣٧﴾
دهغې نه| او وی به دهغوئ دپاره| عذاب	همیشه	
.....اود دوئ دپاره د همیشه عذاب مقرر دي	

د وسیلې تفسیر:- د تقوی حکم کیږی اوهغه هم اطاعت سره. مطلب دادې چه الله ﷻ کومو کارونو نه منع کړې ده هغې نه لرې اوسئ.الله ﷻ طرفته قربت یعنی نزدیکت تلاش کړئی.هم دا معنی د وسیلې د حضرت عباس ﷺ نه منقول ده.(١) حضرت مجاهد رحمه الله، حضرت ابواوائل رحمه الله، حضرت حسن رحمه الله، حضرت ابن زید رحمه الله او ډیرومفسرینونه هم دا نقل دي.حضرت قتاده رحمه الله فرمائی چه د الله ﷻ اطاعت اود هغه پاك ذات د مرضئ اعمالو سره نزدې شئ.(٢)

ابن زید رحمه الله دا آیت هم اولوستلو چه ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ﴾ یعنی چه کومو ته دوی آوازونه کوی هغوئ خو پخپله د رب په نزدیکت پسې لګیدلی دی. آئمه کرامو چه د وسیلې کومه معنی په دې آیت کښې کړې ده په هغې کویا د مفسرینو اجماع ده.په دې کښې د یو هم خلاف نشته دي .امام ابن جریر رحمه الله په دې یو عربی شعر هم نقل کړې دي. په هغې کښې وسیله د قربت او نزدیکت په معنی کښې استعمال شوې ده.

د وسیلې نور معانی:- د وسیلې معنی د هغه څیزهم ده چه د هغې په ذریعه مقصود طرفته رسیدلې شی. او وسیله د جنت د هغه اعلی او بهترین مقام نوم هم دي چه کوم د رسول الله ﷺ ځانې دي.عرش ته ډیر زیات نزدې هم دا درجه ده.

د وسیله په جنت کښې مقام دي:- د صحیح بخاری شریف یو حدیث مبارك کښې دي چه کوم سړې آذان واوری او ﴿**اللهم رب هذه الدعوة التامة**﴾ اووائی نو د هغه دپاره ځما شفاعت حلالیږی.(٣) د مسلم یو حدیث مبارك کښې دی چه کله تاسو آذان واورئی نو څه چه موذن وائی نوهغه تاسو هم وایې،بیا په ما درود اووایی.د یو درود بدله کښې به تاسو باندې الله ﷻ لس رحمتونه نازل کړی.بیا تاسو د الله ﷻ نه ځما دپاره وسیله اوغواړئی.هغه د جنت یوه درجه ده چه صرف یو بنده ته به ملاویږی. ځما امیددې چه هغه بنده ځه یم.نو چا چه ځما دپاره وسیله اوغوښتله نوهغه دپاره ځما شفاعت واجب شو.(٤)

مسند احمد کښې دی چه کله درود وایی نو زمادپاره وسیله هم غواړئی.تپوس اوکړې شو چه یارسول الله ﷻ وسیله څه څیز دي ؟ نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا د جنت یو اعلی مقام دي او دا به صرف یو کس ته ملاویږی. او زما امید دي چه هغه به هم ځه یم (٥).

طبرانی کښې دی چه تاسو د الله ﷻ نه دعا کوئی چه ماته وسیله راکړی اوچه کوم سړې په دنیا کښې زمادپاره د وسیلې سوال کوی نو د قیامت په ورځ هغه دپاره ځما شفاعت واجب شو.(٦)

اویو حدیث مبارك کښې دی چه په جنت کښې د وسیلې نه زیاته لویه درجه بله تشته دي .نوتاسو د الله ﷻ نه ځما دپاره د وسیلې دعا کوئی (١)اویوغریب اومنکر حدیث کښې دومره زیاتي دي چه په دې

---

١) الطبری: ٤٣/٩.

٢) الطبری: ٢٩١/١٠.

٣) صحیح بخاری کتاب الاذان باب الدعاء عندالنداء: ٦١٤، ابوداود: ٥٢٩، ترمذی ٢١١، ابن ماجه: ٧٢٢، احمد: ٣٥٤/٣، ابن حبان: ١٦٨٩.

٤) صحیح مسلم کتاب الصلاة باب استحباب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه: ٣٨٤. ترمذی: ٣٦١٤. احمد: ١٦٨/٢.

٥) احمد: ٣٦٥/٢، ترمذی: کتاب المناقب: باب سلوالله لی الوسیلة: ٣٦١٢. وهو صحیح

٦) المعجم الاوسط : ٦٣٧، وسنده حسن،مجمع الزوائد: ٣٣٣/١.

وسیله کښې به تاسو سره نورځوک وی. نو حضرت نبی اکرم ﷺ د حضرت فاطمه رضی الله عنها اود حسن او حسین نوم واخستو.

یوبل ډیرغریب روایت کښې دی چه حضرت علی ﷺ د کوفې په منبر اوفرمائیل چه په جنت کښې دوه موتیان دی، یو سپین او بل زیړ، زیړ خو د عرش لاندې دې اومقام محمود د سپین موتی دې.او په دې اویا زره بالا خانې دی،او په دې کښې هریو کوردرې دریې میله دې.د دې کړکۍ او دروازې او تخت وغیره ګویا د یو جرړې نه دی.د دې نوم وسیله دې اودا حضرت محمد ﷺ اود دوی د اهل دپاره دې

دجهاد حکم:- تقوی یعنی ممنوعاتو نه د منع کیدلو حکم او د حکم منلو نه پس فرمائی چه د هغه پاک ذات په لار کښې جهاد کوئی مشرکانو اوکفارو سره چه کوم د هغه پاک ذات دښمنان دی.د هغه پاک ذات د دین نه جدا دی.د هغه لوئې ذات د نیغې لارې نه په بل مخ روان دی.دوی قتل کړئی،داسې مجاهدین بامراد دی.فلاح او شرافت دوی دپاره دې.د جنت اعلی نعمتونه او بالاخانې ددوی دپاره دی. دوی به هغه جنت ته څی چه چرته مرګ اوفوت نشته دې.او هلته به همیشه خوانی او ابدی صحت اودوامی عیش وعشرت وی.

دکافرانو د جهنم نه د خلاصی دپاره فدیه ورکول غوښتل:- د خپلو دوستانو نیک انجام ذکرکولونه پس اوس د خپلو دښمنانو خراب حالت بیانوی چه دوی به داسې سخت او خراب عذاب کښې وی چه په دې وخت کښې که دوی د ټولې زمکې مالکان هم وی او بلکه دومره دوی سره نوره هم وی او دا ټول هر څه ددې په بدل کښې ورکړی چه د دې عذاب نه خلاصې بیا مومی،خوکه داسې اوشی نو بیا هم د دوی نه دا فدیه نشی قبلولې بلکه ددوی دپاره چه کوم عذاب دې هغه دوامی او ابدی دې لکه بل ځائې کښې ارشاد دې چه یو جهنمی به راوستلې شی اوهغه نه به تپوس اوشی چه ائې ابن آدم ! چه اووایه ستا ځائې څنګه دې ؟ نوهغه به اووائی چه سخت اوبدترین.نوددې نه به تپوس اوشی چه ددې نه د بچ کیدودپاره ته څه خرچ کول غواړې ؟ نودې به اووائ چه د ټولې زمکې برابر سره زر ورکړم او د دې ځائې نه می ځان خلاص شی نو دا به هم ډیر ښه وی.الله ﷻ به اوفرمائی چه ته دروغژن ئې ما خو ستا نه ددې نه هم کمه غوښتنه کړې وه خو تا هیڅ ورنکړل.بیا به حکم اوشی اودې به جهنم ته اوغورزولې شی (۲) (مسلم)

دمسلمانانود جهنم نه راوتل:- یوځل حضرت علی ﷺ د نبی کریم ﷺ دا فرمان بیان کړوچه یو قوم به جهنم نه راوویستلې شی او جنت کښې به داخل کړې شی.نو په دې د دوی شاګرد حضرت فقیر رحمه الله تپوس اوکړو چه د دې آیت قرآنی مطلب دې چه ﴿يُرِيدُونَ أَنْ يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ﴾یعنی دوی به جنهم نه آزادیدل غواړی خو دوی به نشی آزادیدلې.نو دوی اوفرمائیل چه ددې نه مخکښې آیت ﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ اووایه.د کوم نه چې ښکاره واضحه ده چه دا کافران خلق دی اودوی به هیڅ کله نه راوځی.(۳) (مسنداحمد وغیره).

د نبی کریم ﷺ په شفاعت د جهنم نه ازادی:- دویم روایت کښې دی چه د زید هم دا خیال وو چه د جهنم نه به هیڅ څوک نه راوځی ځکه د دې په آوریدو سره هغه حضرت جابر ﷺ ته اووئیل چه ماته په نوروخلقو افسوس نشته دې خو په تاسو صحابه راته افسوس دې چه تاسوهم د قران پاک خلاف وائې.په

---

(۱) احمد: ۸۳/۳ ح/۱۸۱۸۳)

(۲) صحیح بخاری کتاب الرقاق : باب من نوقش الحساب عذب: ٦٥٣٨، صحیح مسلم: ٢٨٠٥، احمد: ٢١٨/٣. ابن حبان: ٧٣٥١.

(۳) احمد: ٣٣٠/٣، صحیح مسلم: کتاب الایمان باب ادنی اهل الجنة منزلة فیها: ١٩١.

Scanned with Ca

هغه وخت کښې څه غصه شوې ووم. په دې باندې څه د هغه ملګرو اورتلم.خو حضرت جابر ﷺ ډیر زیات حلیم الطبع وو. هغوئ ټول منع او څه ئې پوهه کړم چه په قرآن پاك کښې د چا د جهنم نه د نه راوتلو ذکر دې هغه کفاردی،آیا تا قرآن پاك نه دې لوستې ؟ ما ورته اووئیل چه ماته ټول قرآن پاك یاد دې،بیا د قرآن پاك آیت کښې دا نشته دې چه ﴿وَمِنَ الَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهٖ نَافِلَةً لَّكَ﴾،په دې کښې دمقام محمود ذکر دې.هم دا مقام شفاعت دې.الله ﷻ به بعضې خلق د ګناهونوپه وجه جهنم ته داخل کړی.اوچه ترکومې غواړی نو دوی به جهنم کښې ساتی.بیا چه کله اوغواړی نو دوی به راوباسی.حضرت زید ﷺ فرمائی چه دې نه پس ځما خیال صحیح شو.

د طلق بن حبیب د جهنم نه د چا د راوتلو انکار:- حضرت طلق بن حبیب رحمۃ اللہ علیہ وائی چه څه هم د شفاعت نه منکر ووم تر دې چه حضرت جابر ﷺ سره مې ملاقات اوشو. اود خپلې دعوې په ثبوت کښې مې ورته هغه آیتونه اووئیل چه په کومو کښې په جهنم کښې د همیشوالی بیان دې ،نو هغوئ اوفرمائیل چه ائې طلق ! چه آیا ته خپل ځان په کتاب الله او سنت رسول ﷺ کښې ځما نه بهترګڼې ؟ واوره تا چه څومره آیتونه اووئیل هغه ټول د اهل جهنم باره کښې دی،یعنی د مشرکانودپاره،اوکوم خلق چې به راوخی هغوئ به هغه خلق وی چه کوم مشرکان نه وی خوګناهګار وی. د ګناهونو په وجه ئې سزا اوخوړله او بیا د جهنم نه راوویستلې شو. حضرت جابر ﷺ دا ټول هرڅه اوفرمائیل ا اودې نه پس ئې خپلوغوږونو طرفته اشاره اوکړه اووې فرمائیل چه دا دواړه دې کانړه شی که ما دا د رسول الله ﷺ نه نه وی آوریدلی چه جهنم ته د داخلیدو نه پس به هم خلق ددې نه راوویستلې شی.او دوی به جهنم نه آزادکړې شی.د قرآن پاك دا آیتونه چه ته څنګه وائې داسې نې مونږ هم وایو. (١)

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ	فَاقْطَعُوْٓا				
اوغل سړې اوغله ښځه چې ده | نو پریکړئ (تاسو)					
اوغل که نارینه وی اوکه زنانه نو د دواړونه					
اَيْدِيَهُمَا	جَزَآءً	بِمَا	كَسَبَا	نَكَالًا	
لاسونه دهغوئ دواړه|دپاره د سزا ورکولواپه هغه عمل|چې کړې دې هغوئ دواړو|دپاره دعبرتناکې سزا					
لاسونه کټ کړئ او دا د هغوی دعمل بدله ده | او دا سزا د الله تعالی د طرفه مقرر شوې ده					
مِّنَ اللّٰهِ ؕ	وَاللّٰهُ	عَزِيْزٌ	حَكِيْمٌ ۝	فَمَنْ	تَابَ	مِنْ بَعْدِ
دطرفه دالله نه| اوالله| غالب دې|دحکمت خاوند دې|نوهغه څوك | چې توبه ئې اوویستله | روستو د						
..... الله ﷻ غالب دې اوصاحب د حکمت دې | نوڅوك چې دزیاتې کولونه پس توبه اوباسی						
ظُلْمِهٖ	وَاَصْلَحَ	فَاِنَّ اللّٰهَ	يَتُوْبُ	عَلَيْهِ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ	
ظلم خپل نه|اواصلاح ئې اوکړه |نوبیشکه الله| به توبه قبلوی| د هغه | بیشکه الله						
اوخپله اصلاح اوکړی | نو بیشکه الله ﷻ به ورته خپل رحمت متوجه کړی | بیشکه الله ﷻ						

(١) احمد: ٣/٣٥٥،

Scanned with Ca

غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ۝	اَلَمْ تَعْلَمْ	اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ	مُلْكُ السَّمٰوٰتِ
بښونکي	مهربان دي	آيا تاته معلومه نۀ ده	چې بيشکه الله لره ده	بادشاهي د آسمانونو
بښونکي	اومهربان دي	آيا تاته دا معلومه نۀ ده	چې د آسمانونو او د زمکې	

وَالْاَرْضِ ؕ	يُعَذِّبُ	مَنْ يَّشَآءُ	وَيَغْفِرُ لِمَنْ	يَّشَآءُ ؕ
اودزمکې	اهغه عذاب ورکوي	هغه چاته چې اوغواړي	اوبښنه کوي هغه هغه چاته	چې اوغواړي
بادشاهي صرف دالله ﷻ ده	چاته چې اوغواړي نو سزا ورکوي	او چاته چې اوغواړي نو بښنه ورته کوي		

وَاللّٰهُ	عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ ۝	
اوالله	په هر څيز باندې	قادردي	
اوالله ﷻ په هرڅيز قادر دي			

دغلا نصاب او د دې شرطونه :- دحضرت ابن مسعود ﷺ قرات کښې ﴿فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا﴾ دي ليکن دا قرات شاذدي.اګرچه عمل په دې دي ليکن هغه عمل ددې قرات په وجه نه دي بلکه د نورو دلائلو په وجه دي.

د غلا د حد طريقه پخوانئ وه:- د غل د لاس د پريکولو طريقه د اسلام نه مخکښې هم وه. اسلام دا تفصيل وار منظم کړه. دغه شان د قسامت ديت فرائضو مسائل هم مخکښې وو خوغيرمنظم او نيم ګنړې.اسلام دا پوره او درست کړل.يو قول دا هم دي چه د ټولو نه مخکښې دويك نومې خزاعي سړي نه قريشو دغلا په الزام کښې دده لاس کټ کړې وو.ده د کعبې غلاف پټ کړې وو.اودا هم وئيلې شوی دی چه غلو ده سره ايښودې وو.

په مطلق غلا د لاس کټ کولو حکم:- د بعضو فقهاء کرامو خيال دي چه د غلا د څيز هيڅ حد نشته دې لږ وی اوکه ډير ،محفوظ ځائې نه ئې کړې وی اوکه غير محفوظ ځائې نه،په هر صورت کښې به د دې سزا لاس کټ کول وی.حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه دا آيت مبارك عام دي.خو ممکن دی چه د دې قول هم دا مطلب وی او نور مطلبونه هم وی.يو دليل ددې حضراتو دا حديث هم تير شوې دي نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه الله ﷻ دي په غل باندې لعنت اوکړی چه اندا(هګئ) هم پټوی اود څان نه لاس پريکوی.رسئ نې هم پټوی اولاس نې کټ کولی شی (١)

د موجب حد غلا مقدار:- دجمهورو مذهب دي چه د غلا د مال حد مقرر دي اګر چه ددې د حد په تقرر کښې اختلاف دي. ①حضرت امام مالك رحمة الله عليه فرمائی چه دري درهمه سکې والا خالص يا ددې قيمت يا زيات چه څه څيز هم وی نو په دې به لاس کټ کولې شی.

د مالکی مذهب دلائل:- ①صحيح بخاری اومسلم کښې د نبی کريم ﷺ نه ديو ډهال په پټيدو د غل دلاس پريکول مروی دی.اوددې قيمت هم دومره وو.(٢)

② حضرت عثمان ﷺ د اترنج د غل لاس پريکړی وو اود هغې قيمت دري درهمه وو(٣).د حضرت عثمان ﷺ دا فعل اګر چه د صحابه کرامو ﷺ اجماع سکوتی ده او ددې نه دا ثابتيږی چه د ميوې د غل لاس به کټ کولې شی.خوحنفيه دا نه منی اوددوی په نيز د غلا د مال قيمت به لس درهمه ضروری وی

---

١) صحيح بخاری كتاب الحدود باب لعن السارق اذالم يسم: ٦٧٨٣.
٢) صحيح بخاری كتاب الحدود باب لعن السارق اذالم يسم: ١٦٨٦.
٣) مؤطا امام مالک،كتاب الحدود باب مايجب فيه قطع:٢/٨٣٢،

Scanned with Ca

شافعی مسلک:- په دې کښې د شوافعو اختلاف دې دپاؤ دینار په تقرر کښې دامام شافعی رحمۃ اللہ علیہ فرمان دې چې پاؤ دینار د قیمت څیز وی یا زیات.

دمذهبی شافعی دلیل:- ①ددوی دلیل د بخاری او مسلم حدیث مبارك دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه د غل لاس د پاؤدینار یا چه ددې نه زیات وی کټ کول پکاردی .(۱)

②د مسلم یو حدیث مبارك کښې دی چه د غل لاس دې پرې نکړې شی مګر یو پاؤ دینار کښې.(۲) نو دا حدیث مبارك ددې مسئلې صفا فیصله کوی.اوچه کوم حدیث کښې د دریو درهم ذکردې چه حضرت امام بخاری رحمۃ اللہ علیہ پرې دلاس پریکولو حکم کړې دې هغه ددې خلاف نه دې.خکه چه په هغه وخت کښې دیناردولسو درهمو وو. نو اصل څلورمه حصه دیناردې درهم نه.

حضرت عمر بن الخطاب رضی اللہ عنہ،حضرت عثمان بن عفان رضی اللہ عنہ،حضرت علی بن ابی طالب رضی اللہ عنہ هم دا فرمانی.حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ،حضرت لیث رحمۃ اللہ علیہ،حضرت ابن سعد رحمۃ اللہ علیہ،حضرت اوزاعی رحمۃ اللہ علیہ،حضرت امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ،حضرت اسحاق بن حضرت راهویه رحمۃ اللہ علیہ،حضرت ابوثور رحمۃ اللہ علیہ ،حضرت ابوداود ابن علی ظاهری رحمۃ اللہ علیہ نه هم دا قول نقل دې.یو روایت کښې حضرت امام اسحاق بن راهویه رحمۃ اللہ علیہ اوامام احمدبن حنبل رحمۃ اللہ علیہ نه مروی دی اګر چه ربع دینار وی اوکه درې درهمه وی دواړو کښې د لاس پریکولو نصاب دې.

③ مسنداحمد کښې یو حدیث مبارك کښې دی چه په څلورمه حصه دینار باندې لاس پریکړئی.ددې نه په کم نه.په هغه وخت کښې دینار د دولسو درهمو وو. دڅلورمه حصه دینار نه درې درهم جوړ شو.

④ نسائی کښې دی چه د غل لاس دې د ډهال د قیمت نه په کم پرې نکړې شی.حضرت عائشه رضی اللہ عنہا نه تپوس اوکړې شی چه د ډهال څه قیمت دې ؟ نو وې فرمائیل چه پاؤ دینار.نو د دې ټولو احادیثو نه صفا صفا ظاهریږی چه د لسو درهم شرط لګول غلط دی،والله اعلم.

د احنافو مسلک:- امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ اوددوی ملګری وائی چه په کوم ډهال باندې د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د غل لاس کټ شوې وو،د هغې قیمت لس درهمه وو، ابوبکر بن ابی شیبه کښې دوی موجود دی او عبدالله بن عمر رضی اللہ عنہ نه،عبدالله بن عباس رضی اللہ عنہ او عبدالله بن عمرو رضی اللہ عنہ مخالفت کوی.او د حدود باره کښې احتیاط باندې عمل کول پکاردی.اواحتیاط زیاتې کښې دې.د دې وجې مونږ لس درهمه مقرر کوو.

دعلی بن مسعود رحمۃ اللہ علیہ مسلک:- بعضې سلف وائی چه لس درهمه یایودینار دې.علی ابن مسعود رضی اللہ عنہ ابراهیم نعی رحمۃ اللہ علیہ او ابوجعفر نه همدا مروی دی.

د غلا نصاب لس درهمه دې

مسلک حنفی:- د سرقه (غلا) نصاب لس دراهم دی او یا یو دینار دې یا د کوم څیز قیمت چې دې ته رسیږی (تفسیرمظهری ۱۲۹۱۳)-

سعید بن جبیر رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه پنځه واړه ګوتې دې نه پریکوی مګرد پنځو دینارو یا پنځوسو درهمو قیمت برابرد غلا مال کښې دې (پریکوی).

مسلک ظاهریه:- د ظاهریه مذهب دا دې چه په هر لږ ډیر څیز به لاس پریکولې شی.

---

۱) صحیح بخاری کتاب الحدود باب لعن السارق اذا لم یسم: ٦٧٨٣. صحیح مسلم: ١٦٧٨.

۲) صحیح بخاری کتاب الحدود باب قول الله تعالی : والسارق والسارقة فاقطعوا ایدیهما،وفی کم یقطع: ٦٧٩٥. صحیح مسلم: ١٦٨٦، ابوداود: ٤٣٨٥، ترمذی: ١٤٤٦، نسائی: ٧٦/٨، ابن ماجه:٢٥٨٤

Scanned with Ca

د جمهورو جوابونه:- ①دوی ته جمهور دا جواب ورکوی چه اول خو دا اطلاق منسوخ شوې دي،خو جواب صحیح نه دي،ځکه چه د تاریخی نسخې هیڅ یقین نشته دي.②دویم جواب دادې چه دانډې (هګۍ) نه مراد د اوسپنې هګۍ ده او د رسۍ نه مراد د کشتو قیمتی رسۍ ده.③ دریم جواب دا دي چه دا فرمان په اعتبار د نتیجې سره دي یعنی د دې وړو وړو معمولی معمولی څیزونو غلا شروع کوی آخرکار قیمتی څیزونه پټوی.اولاس تري کټ شی.④اودا هم کیدې شی چه دا فرمان د نبی کریم ﷺ په طور د واقعي وی،د جاهلیت په زمانه کښې به په هر وړوکی څیز هم لاس پریکولې شو.نو ګویا نبی کریم ﷺ په طور افسوس اوغل شرمنده کوی اوفرمائی چه څنګه ذلیل او بې وقوفه انسان دي چه د معمولی څیز دپاره د خپل لاس نه محروم شی.

د ابوالعلاء معری اعتراضونه:- مذکوردی چه ابوالعلاء معری چه کله بغداد ته راغلو نو هغه دې باره کښې ډیر اعتراضونه شروع کړل اود ده زړه کښې دا خیال وو چه ځما د دې اعتراض جواب هیچا سره نشته دي.نو ده یو شعراووئیلو که لاس پریکوئی نودیت ئې پنځه سوه درهمه ورکړئی او بیا هم دا لاس دپاؤ دینارغلا کښې پریکړئی.دا یوداسې تناقض دي چه ځمونږ پوهه کښې نه راځی بس زمونږ دپاره چې اوسیدل پکار دی او ځمونږ مولا دې مونږد جهنم نه بچ کړی.خو کله چه دا بکواس مشهور شو نو علماء کرامو ده ته جواب ورکول غوښتل خو دې اوتښتیدو.

جواب:- بیا جواب مشهور شو.قاضی عبدالوهاب رحمه الله جواب ورکړو چه تر کومې لاس امین وو نو تر هغه ثمین یعنی قیمتی وو اوکله چه خائن شو نو ده غلا اوکړه نوددې قیمت کم شو. بعضې بزرګانو دا تفصیل سره بیان کړې دي چه ددې نه دشریعت کامل حکمت ظاهریږی.او د دنیا امن وامان قائمیږی.چه څوک د چا لاس بې وجې پریکړی نو په هغه ئې جرمانه کیخوده چه خلق د دې خراب کار نه منع شی.هلته هم دا حکم مناسب وو.د غلا په لږ څیز دده د پریکولو حکم ئې ورکړو چه دې سره د غلو دروازه بنده شی.نودا خو عین حکمت دي.که په غلاکښې هم د دومره رقم قید لګولې شو نو د غلا انسداد به نه کیدو. دا بدله ده د دوی دکرتوتونو،مناسب مقام هم دادې چه په دې اندام سره ده نورو ته نقصان رسولې دي.هم دې اندام باندې سزا وه چه دوی ته عبرت حاصل شی،او نورو ته هم تنبیه وی.

د غل توبه قبلیدل:- الله تعالی خپل انتقام کښې غالب دي اوخپلو حکمونو کښې حکیم دي.چه کوم سړي ګناه نه پس توبه اوباسی اوالله ﷻ طرفته رجوع اوکړی نو الله ﷻ هغه معاف کوی.خو که د چا نه ئې په غلا مال اخستې وی نودا دهغه سړی حق دي،نوهغه صرف توبه کولو سره نه معاف کیږی تر څو چه هغه ته خپل مال ورنکړی.یا ددې بدله کښې پوره قیمت ادانکړی.د جمهور آئمه کرام هم دا قول دي.صرف امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه کله په غلا کښې لاس پریکړې شو او مال تلف شوې وی نو ددې بدله ورکول په غل ضروری نه دی.

د لاس کټ کیدو نه پس غل د مال ضامن نه دي

مسلک حنفی:- چې کله د غلا په حد کښې د غل لاس کټ کړې شی نود لاس کټ کولو نه پس غل د هغه مال ضامن نه دي کوم چې ده پټ کړې وی ځکه چه د هغې سزا ده ته ملاؤ شوه نو چې سزا ملاؤ شوه نو د مال واپس کول باقی پاتې نشو (تفسیر مظهری ۱۳۶\۳)-

د غل توبه ویستل په عهد نبوی کښې:- دارقطنی وغیره کښې یو مرسل حدیث مبارک دي چه یو غل نبی کریم ﷺ ته راوستې شو،اوهغه څادر پټ کړې وو. نبی کریم ﷺ ورته اووئیل چه ځما خیال دي چه تا به غلا نه وی کړې.هغه اووئیل یارسول الله ﷺ ما غلاکړې ده.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دې بوځئ او دده لاس پریکړئی.هرکله چه دده نه لاس پریکړې شو او واپس راوستې شو نو نبی کریم ﷺ ورته

اوفرمائیل چه توبه اوباسه. نوهغه توبه اوویسته. نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه الله ﷻ ستا توبه قبوله کړه. (۱)

د عمربن سمره ﷺ د غلا اقرار:- ابن ماجه کښې دی چه عمر بن سمره ﷺ نبی کریم ﷺ ته راغلواو وې فرمائیل یارسول الله ﷺ ما غلا کړې ده.نو تاسو ما پاك کړئی،ما د فلانئ قبیلې والو اوښ پټ کړې دې. نبی کریم ﷺ هغه قبیلې والو پسې سړې اولیږلو اوتپوس ئې تړې اوکړو نو هغوئ اووئیل چه اوزمونږ یو اوښ چا پټ کړې دې. نبی کریم ﷺ حکم اوکړو اود هغه لاس پریکړې شو. هغه نه چه کله لاس پریکړې شو نو ده اووئیل چه یاالله شکردې چه تا دې ځما د بدن نه جدا کړو.یا الله ﷻ تاخو به ځما ټول بدن جهنم ته بوتلو. (۲)

په عهدی نبوی کښې د غلا حد جاری کول:- ابن جریر کښې دی چه یو ښځې څه کالې پټ کړو. هغه خلقو دا نبی کریم ﷺ ته پیش کړه. نبی کریم ﷺ ددې د ښې لاس پریکولو حکم ورکړو. هرکله چه لاس پریکړې شو نو هغه ښځې اووئیل چه یارسول الله ﷺ ! آیا ځما توبه قبوله شوه. نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه ته داسې پاکه شوې لکه چه نن پیدا شوې ئې.نودې باندې دا آیت مبارك نازل شوچه ﴿فمن تاب﴾ الخ (۳).

د حد په بدله کښې د فدیې اخستلوممانعت:- مسنداحمد کښې دومره زیاتوالې دې چه په هغه وخت کښې هغه ښځې اووئیل چه مونږ ددې فدیه ورکولو ته تیاریو.خو نبی کریم ﷺ دا قبول نه کړل او ددې دلاس پریکولو حکم ئې اوکړو.(۴)

د حد په باره کښې سفارش نه قبلول:- دا ښځه د مخزوم قبیلې وه.او دا واقعه بخاری او مسلم کښې موجود ده (۵). دا د یو لوې کورنئ ښځه وه.خلقو کښې ددې ډیر لوئې فکرشو. او اراده ئې اوکړه چه د نبی کریم ﷺ نه دې باره کښې څه واوری.دا واقعه غزوه فتح کښې شوې وه. بالآخر دا اوشو چه حضرت اسامه بن زید ﷺ چه د رسول الله ﷺ ډیر زیات خوښ وو.هغه ددې ښځې باره کښې نبی کریم ﷺ ته اووئیل.حضرت اسامه ﷺ چه کله د دې سفارش اوکړو نو نبی کریم ﷺ په دې ډیر خفه شو اوغصه کښې ئې اووئیل چه انې اسامه ! ته د الله ﷻ حدودو کښې دیو حد باره کښې سفارش کوې.اوس خو اسامه ﷺ ډیر زیات ویریدو او وې وئیل چه ځمانه ډیره لوه خطا اوشوه،تاسو ځما دپاره استغفار اوکړئ: د مابنام په وخت کښې نبی کریم ﷺ یو خطبه اووئیله اوپه دې کښې ئې د حمدوثناء نه پس اوفرمائیل چه ستاسو نه مخکښې خلق هم د دې خصلت په وجه تباه شوی وو چه کله به هغوئ کښې یو شریف اولوئې سړی غلا اوکړه نو هغه به ئې پرینبودو،اوکله چه به یو معمولی سړی غلا اوکړه نو په هغه به ئې دالله ﷻ حد جاری کولو. په الله قسم چه د چا په قبضه کښې ځما روح دې،که فاطمه بنت محمد ﷺ هم غلا اوکړی نو زه به د هغې لاس هم پریکوم. بیا ئې حکم اوکړو چه د دې لاس پریکړئی.حضرت عائشه صدیقه ﷺ فرمائی چه بیا دې بی بی صاحبې توبه اوکړه او پوره اوپخه توبه ئې اوکړه او نکاح ئې اوکړه.بیا دا ماته د څه کار دپاره راغلې وه او مادې د حاجت باره کښې نبی کریم ﷺ ته وئیلی وو. (۶)

---

۱) شرح المعانی الاثار: ۱۰۲/۲.
۲) ابن ماجه کتاب الحدود باب السارق یعترف : ۲۵۸۸.
۳) الطبری : ۲۹۹/۱۰.
٤) احمد: ۱۷۷/۲
٥) صحیح بخاری کتاب الحدود باب کراهیة الشفاعة فی الحد اذا رفع الی السلطان:٦٧٨٨، صحیح مسلم: ١٦٨٨.
٦) صحیح بخاری کتاب المغازی باب: ٥٤، صحیح مسلم: ١٦٨٨، ابوداود: ٤٣٧٣.

Scanned with Ca

مسلم کښې دی چه یوې ښځې به خلقو نه څیزونه قرض اخستل،او بیا به دا منکره کیده. نبی کریم ﷺ ددې لاس پریکولو حکم اوکړو (١).اویوروایت کښې دی چه دې به کالی دا شان اخستل او ددې دلاس پریکولو حکم حضرت بلال ﷺ ته شوې وو.(٢)

کتاب الاحکام کښې داسې ډیر احادیث وارد دی چه غلا سره تعلق ساتی.فالحمدلله.دټولو مملوکانو مالك د ټول کائناتو بادشاه،ریښتونې حاکم،الله ﷻ دې.اودهغه یوحکم هم څوك نشی روستو کولې.او د هغه ذات هیڅ یو اراده څوك نشی بدلولې.چه څوك بخښل غواړی نو وې بخښی او چه چاته عذاب ورکول غواړی نو عذاب ورکړی.په هرڅیز قادردی.د هغه پاك ذات قدرت کامله او قبضه ریښتونې ده.

يَٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ	لَا يَحْزُنْكَ	الَّذِينَ		
ائې رسوله	په غم کښې دې نۀ اچوی تالره|هغه کسان			
ائې پیغمبره ! ته دهغه کسانو په کار غم مۀ کوه				
يُسَٰرِعُونَ	فِي الْكُفْرِ	مِنَ الَّذِينَ	قَالُوٓا۟	ءَامَنَّا
چې تیز کوششونه کوی	په کفر کښې	دهغه کسانو نه	چې وائی	مونږه ایمان راوړې دې
چې هغوئ کفر ته په تیزئ سره ورځی	هغه کسان چې په خله وائی چې مونږ ایمان راوړې دې			
بِأَفْوَٰهِهِمْ	وَلَمْ تُؤْمِن	قُلُوبُهُمْ ۚ	وَمِنَ الَّذِينَ	هَادُوا۟ ۛ
تش په خلوخپلو	اونۀ وی ایمان راوړې	زړونو د هغوئ	او هغه کسان	اچې یهودیان دی
خوددوئ په زړونو کښې ایمان نشته	.....او هغه کسان چې یهودیان دی			
سَمَّٰعُونَ	لِلْكَذِبِ	سَمَّٰعُونَ	لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ ۙ	
حال دا چې ډیر اوریدونکی دی ستا|د پاره د دروغو	اوریدونکی دی	دپاره دبل قوم		
ددوئ داحال دې چې دروغو سره عادت دی	اودهغه نوروخلقو دپاره چې تاسوته کله			
لَمْ يَأْتُوكَ ۖ	يُحَرِّفُونَ	الْكَلِمَ	مِنۢ بَعْدِ	مَوَاضِعِهِۦ ۖ
چې لاندې دی راغلې تاته	چې بدلوی	کلمې	پس دمقرر والی دهغې نه	په خایونو خپلو کښې
راغلې نه وی جاسوسی هم کوی	اوداالله ﷻ کلمې دخانې نه بې خایه کوی (تحریف لفظی په کښې کوی)			
يَقُولُونَ	إِنْ أُوتِيتُمْ	هَٰذَا	فَخُذُوهُ	وَإِن	لَّمْ تُؤْتَوْهُ
وایئ	که درکړې شو تاسو ته	دا حکم	نو وایئ خلئ	او که چرې	درنۀ کړې شو تاسو ته هغه
خلقوته وائی که تاسوته(تحریف شده) حکم اوکړې شی	نو قبول نې کړئ	اوکه درنۀ کړې شی نو			
فَٱحْذَرُوا۟ ۚ	وَمَن	يُرِدِ اللَّهُ	فِتْنَتَهُۥ		
نو خان اوساتئ اومۀ نې منئ	اوهغه څوك	چې اراده اوکړی الله	په فتنه کښې د اچولو د هغه			
خان ترې نه اوساتئ	.....او چې الله ﷻ دچادخرابولو اراده اوکړی			

(١) صحيح مسلم كتاب الحدود باب قطع السارق الشريف وغيره والنهى عن الشفاعة فى الحدود:١٦٨٨.

(٢) نسائى كتاب قطع السارق باب مايكون حرزا ومالايكون : ٤٨٩٣، وهو صحيح.

Scanned with Ca

فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ؕ

نونۀ شی لرلې اختیار تۀ(نونشی مالك کیدې ته)| دپاره دهغه| دالله نه دخلاصولو| هیڅ قدرله

نو د هغه په باره کښې تۀ د الله ﷻ په مقابله کښې هیڅ وس نشی لرلې

اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللّٰهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ؕ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا

داکسان هغه خلق دی| چې اراده اونۀ کړه الله| چې پاك کړی|زړونه دهغوئ|دپاره دهغوئ|په دنیا کښې

داهغه کسان دی چې الله ﷻ ددوئ زړونه پاکول نه غواړی | د دوئ دپاره په دنیا کښې

خِزْيٌ ۚ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ سَمّٰعُوْنَ

شرمندګی ده | اودې دهغوئ دپاره | په آخرت کښې | عذاب | لوئ | ډیراوریدونکی دی

رسوائی ده | او په آخرت کښې ورله لوئې عذاب مقرر دې |دا خلق د دروغو خورولو په خاطر جاسوسی کونکی

لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ؕ فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ

دروغو لره | خوړونکی دی | حرامو لره | نوکه چرې|راشی هغوئ تاته |نو فیصله اوکړه

دی | غټ حرام خواره دی |که تاسوته په (مقدمه کښې) راشی| نو(که ستاخوښه وی)نوددوئ مینځ کښې فیصله اوکړه

بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ

په مینځ دهغوئ کښې |یا مخ اوګرځوه | دهغوئ نه | اوکه تۀ مخ اوګرځوې | د هغوئ نه

او یا تري مخ واړوه (د دوی په مینځ کښې د فیصلې کولونه انکار اوکړه) |اوکه ته ددوئ نه مخ واړوې

فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ

نو هرګز ضرر نۀ شی رسولې تاته |هیڅ قدرله| اوکه فیصله کوې تۀ| نوفیصله اوکړه |په منځ دهغوئ کښې

نودوئ تاته هیڅ نقصان نشی رسولې | او که ددوې په مینځ کښې فیصله کوې | نو بیا په

بِالْقِسْطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ وَكَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ

په انصاف سره | بیشکه الله |خوښوی| انصاف کونکی |اوڅرنګې به|هغوئ منصف جوړ کړی تالره

انصاف سره فیصله کوه | بیشکه الله تعالی انصافدار خلق خوښوی| اودوئ په تاڅنګه فیصله کوی

وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ

حال دا چې موجود دې دهغوئ سره| تورات | چې شته په هغې کښې | حکم د الله | بیا

حال دادې چې دوئ سره تورات شته | اوپه هغې کښې دالله ﷻ احکام لیکلې شوی دی | بیا

يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝ اِنَّآ اَنْزَلْنَا

مخ اړوی هغوئ |روستو دهغې نه | اونۀ دی |هغوئ | ایمان لرونکی|بیشکه مونږه| نازل کړو

دوئ د هغې نه مخ اړوی | خبره داده چې په دوئ کښې بیخی ایمان نشته | .....بیشکه مونږ

التَّوْرٰىةَ	فِيْهَا	هُدًى	وَّنُوْرٌ ۚ	يَحْكُمُ	بِهَا	النَّبِيُّوْنَ
توراة	چې په هغې کښې وه الارښودنه	اورنړا وه	چې فیصلې به کولې	په هغې سره	پیغمبرانو
تورات نازل کړې دې	اوپه هغې کښې هدایت اورنړا وه	ټولو پیغمرانو چې			

الَّذِيْنَ	اَسْلَمُوْا	لِلَّذِيْنَ	هَادُوْا	وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ	وَالْاَحْبَارُ
هغه	چې مسلمانان وؤ	هغه کسانو ته	چې یهودیان وؤ	اودغسې ربانیانو	اوعالمانو هم
دالله ﷻ تابع وؤ ددې کتاب مطابق یهودیانودپاره فیصلې کولې	اودغه شان بزرګانواوملایانوهم				

بِمَا	اسْتُحْفِظُوْا	مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ	وَكَانُوْا
په سبب دهغې	چې طلب دحفاظت شوې وؤ	دهغوئ نه	دالله دکتاب	اووؤ هغوئ
خکه چې هغوئ د الله ﷻ دکتاب ذمه وار کړې شوی وؤ	..... او پخپله په دې			

عَلَيْهِ	شُهَدَآءَ ۚ	فَلَا تَخْشَوُا	النَّاسَ	وَاخْشَوْنِ	وَلَا تَشْتَرُوْا
په هغې باندې	ګواهان	انومهٔ ویریږئ	دخلقو نه	اواوویریږئ زمانه	اومهٔ اخلئ
خبره ګواهان شوی وؤ	.....نودخلقو نه مه ویریږئ	او زما نه ویریږئ	.....او زما په		

بِاٰيٰتِيْ	ثَمَنًا	قَلِيْلًا ؕ	وَمَنْ	لَّمْ يَحْكُمْ	بِمَآ	اَنْزَلَ اللّٰهُ
په آیتونو زما	قیمت	لږ	اوچا چې	اونهٔ کړو حکم	په هغه	چې نازل کړې دې الله
آیتونو د دنیا لږ قیمت مهٔ اخلئ	اوڅوک چې دالله ﷻ دقانون مطابق فیصله نهٔ کوی					

فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْكٰفِرُوْنَ ۝
نودغه کسان	هم هغوئ دی	کافران
نوهم دغه کسان کافران دی		

د یهودیانومذمت:- دې ایتونوکښې دهغه خلقو مذمت بیانږی چه څوک رانې او قیاس او خواهش نفسانی د الله ﷻ په شریعت مقدم کوی.دوی دالله ﷻ اورسول ﷺ د اطاعت نه اوځی او کفر طرفته منډې وهی.اګر چه دا خلق د ایمان زبانی دعوې کوی لیکن ددوی زړه د ایمان نه خالی دې.د منافقانوهم دا حالت وو چه په ژبه کره او په زړه کوته وو،اوهم دا خصلت د یهودیانودې چه داسلام او اهل اسلام دښمنانان دی.دوی دروغ ښه مزې سره آوری.اودا د زړه نه قبلوی.خو دوی د ریښتاؤ نه تښتی بلکه نفرت تړې کوی.اوچه کوم خلق د نبی کریم ﷺ مجلس ته نه راځی نو دوی یو څه بل څه وائی.دوی ستا طرفته دجاسوسئ دپاره راځی.بیا نالائقی دا کوی چه خبره بدلوی،مطلب یو وی او دوی بل څه واخلی.ارادې ئې دا وی که تاسود دوی دخواهش مطابق خبره اوکړئ نو وې منی اوکه د طبیعت خلاف وی نو لرې کوی یې.

د ایت شان نزول:- اواوونیلې شوی دی چه دا آیت دهغه یهودو باره کښې نازل شوې وو چه کوم یو بل قتل کړی وو. او بیا ئې اووئیل چه څئ نبی کریم ﷺ ته ورځو،که د دیت اوجرمانې حکم اوکړی نو منظور به ئې کړو.اوکه د قصاص بدله ئې اووئیله نونه ئې منو. خو زیاته صحیح خبره دا ده چه هغوئ

Scanned with Ca

یوزناکار راوستې وو. دهغوئ کتاب توراة کښې حکم دا وو چه واده شوې زانی به سنګسار کولې شی. خو هغوئ دا بدل کړې وو. اوهغوئ به سل کوړې اووهلو او بیا به ئې دده مخ تور کړو او په خر به ئې سور او رسوا به ئې کړو او بیا به یې پریښودو. هرکله چه هجرت نه پس دوی کښې څوک د زناکارئ په جرم کښې اونیولې شو نو دوی اووئیل چه راځئ نبی کریم ﷺ ته ورځو او دنبی کریم ﷺ نه ددې باره کښې تپوس کوو ،که نبی کریم ﷺ هم د اووفرمائیل چه کوم مونږ وایونو هغه به قبول کړو، او دا به د الله مخکښې هم ځمونږ سندوی. که د رجم کولوئې اوفرمائیل نو هغه به نه منو. نوهغوئ راغلل او نبی کریم ﷺ ته ئې ددې ذکر اوکړو چه ځمونږ یو سړی اوښځې دا بدکاری کړې ده. د هغوئ باره کښې تاسو څه وائې ؟ نبی کریم ﷺ ورته اووئیل چه ستاسو په توراة کښې د دې څه حکم دې ؟ نو هغوئ اووئیل چه مونږ خو هغه رسوا کوؤ اوپه کوړو ئې وهو اوبیا ئې پریږدو، دې آوریدو سره حضرت عبدالله بن سلام ﷺ اوفرمائیل چه تاسو دروغ وائې. توراة کښې د سنګسارولو حکم دې. راوړئ توراة پیش کړئ. هغوئ تورات راوړو او د رجم په حکم ئې لاس کیخودو اوددې نه روستو او مخکښې نې ټول عبارت بیان کړو. حضرت عبدالله ﷺ پوهه شونو دوی ورته اووئیل چه خپل لاس لرې کړئ، لاس ئې لرې کړو نود سنګسارولو آیت موجود وو. اواوس خو هغوئ هم اقرار اوکړو. بیاد نبی کریم ﷺ حکم سره زانی سنګسارکړې شو. حضرت عبدالله ﷺ فرمائی چه ماوکتل چه هغه زانی به ددې ښځې دبچ کولو دپاره ددې مخکښې راتلو چه دا په کانړو اونه لګی .([1]) (بخاری ومسلم)

یهودی ته رجم ورکول:- اویو بل سند سره مروی دی چه مونږ دده مخ تور کړو او څه ئې اووهواو بیا ئې پریږدو. اودآیت مبارك دظاهریدو نه پس هغوئ اووئیل چه هم دا حکم دې. لیکن مونږ خودا پټ کړې وو. چه څه وئیلې کیدل نوهغوئ د رجم په آیت باندې لاس اینبودې وو. هرکله چه د هغوئ لاس اخواکړې شو نو آیت ښکاره شو. ددې دواړو د رجم کولو په وخت کښې حضرت عبدالله بن عمر ﷺ هم موجود وو.

یهودو د رجم ولې پټ کړې وو:- اویوروایت کښې دی چه دې خلقو خپل کسان اولیږل او نبی کریم ﷺ ئې راوبللو. دخپلې مدرسې په ګډئی یې نبی کریم ﷺ کینولو او چه چا د نبی کریم ﷺ مخکښې توراة وئیلو([2]) هغه د توراة لوئې عالم وو. اویو روایت کښې دی چه نبی کریم ﷺ هغه ته قسم ورکړې وو چه ته په توراة کښې د زانی دپاره څه سزا مومی ؟ نو هغه هم دا جواب ورکړې وو. خو یو ځوان خاموش ولاړ وو او هیڅ ئې اونه وئیل. نبی کریم ﷺ هغه ته اشاره اوکړه اوهغه ته ئې هم قسم ورکړو او ورته ئې اووئیل چه ته اووایه .هغه اووئیل چه تاسو داسې قسمونه راکوئی نو څه به دروغ اونه وایم. واقعی توراة کښې د دې خلقو په ذمه سنګساری دې. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بیا داربښتیا ربښتیا اووایه چه رومبې رومبې دا د رجم تاسو په چا باندې نه وو جاری کړې ؟ او ولې مو نو وو جاری کړې؟ هغه اووئیل چه ځمونږ دیو بادشاه رشته دار چه یولوئې سړې ووهغه زنا کړې وه. د هغه د عظمت او دبادشاه د هیبت په وجه نه وورجم کړې او هغه ئې پریښودې وو. بیا یوعام سړی زنااوکړه اوهغه ئې رجم کول غوښتل خو دا هغه ټول قوم اووئیل چه یا خودا مخکښې سړې هم رجم کړئی یا دې هم پریږدئی. نوبیا مونږ ټول یو ځائې شو او دا مو اووئیل چه د رجم کولو په ځائې دا قسمه څه سزا مقرر کړو. نو نبی کریم ﷺ د توراة حکم جاری کړو. اوهم دې باره کښې دا آیت ﴿إِنَّا أَنْزَلْنَا الخ﴾ نازل شو. نو نبی کریم ﷺ هم د دې احکاموجاری کیدو کونکو کښې دې ([3]) (احمد ابوداود).

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الحدود باب احکام اهل الذمة واحصانهم اذا زنوا.....) ٦٨٤١، صحیح مسلم: ١٦٩٩.

[2]) ابوداود کتاب الحدود باب فی رجم الیهود بین: ٤٤٤٩، وهو حسن.

[3]) ابوداود حواله بالا رقم: ٤٤٥٠.

Scanned with Ca

د نبی کریم ﷺ په یهودی زانی د رجم حکم جاری کول:- مسند احمد کښې دی چه یو سړی د یو یهودی مخ تور کړې وو او بوتلو ئې،اوهغه ئې په کوړو هم وهلو. نو نبی کریم ﷺ هغه راوغوښتلو او تولـه خبره ئې تړې واوریده. هغه اووئیل چه ده زنا کړې ده. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آیا تاسو زانی تـه دا سزا ورکوئ؟ هغه اووئیل چه آؤ. نبی کریم ﷺ دهغوئ یوعالم راوبللو اوقسم ئې ورکړو چه اووایه،د د زانی څه حکم دې ؟ نوهغه اووئیل که تاسو داسې قسم نه وې را کړې نو ما به بالکل نه وو وئیلی.اصل خبره داده چه څمونږ په نیز د زنا کارنی سزا هم سنګساردې خو مالدارو او شریفانو خلقو کښې دا بیماری زیاته شوې وه.

او مونږ هغوئ ته دا قسمه سزا ورکول مناسب اونه ګڼړل.نوپه دې وجه به مو هغوئ پریښودل.اود الله ﷻ حکم نـه پریښـودو دپـاره مـو داسـې اوکـړل چـه غریبانـانو اوکـم حیثیـت والا خلقـو تـه مـو رجـم ورکولو.بیامونږ رائې واخسته چه راخئ یو داسې سزا مقرر کړو چه په شریف او غیر شریف، مالدار اوغریب تولو باندې یو شان جاری شی.نو څمونږ په دې اجماع اوشوه چه مخ بـه ئې تـوروو. او کـوړې بـه ورته ورکوو.دې آوریدو سره نبی کریم ﷺ حکم اوکړو چه دا دواړه سنګسار کړئی.نو هغوئ رجم کړې شو.او نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ائې الله ﷻ ! څه رومبې کس یم چه مـا سـتا مړحکم ژوندې کړو.دې باندې دا آیت مبارك نازل شو ﴿يَاأَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ﴾نه تر ﴿فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَفِرُوْنَ﴾.

د نبی کریم ﷺ دوو یهودیانو عالمانو ته قسم ورکول:- هم ددې یهودیانو باره کښې یو بل آیت مبارک کښې دی چه د اللہ ﷻ نازل شوی حکم مطابق فیصلې نه کولو والا ظالمان دی.او یو بل آیت مبارك کښې دی چه دا فاسقان دی (١).(مسلم وغیره).اویو روایت کښې دی چه د زنا واقعه په فدك کښې شوې وه. او دهغه ځائې یهودو نبی کریم ﷺ ته لیکلی وو.اودنبی کریم ﷺ نه ئې معلوم کړی وو. چه کوم یو عالم دهغوئ راغلې وود هغه نوم ابن صوریا وو. دده یوسترګه کانړئ وه اوده سره یو بل عالم هم وو. هرکله چه نبی کریم ﷺ دې دواړو ته قسم ورکړو نو دوی قبول کړل. نبی کریم ﷺ هغوئ ته وئیلی وو چه ستاسو دې په الله ﷻ قسم وی چه کوم ذات بنی اسرائیلو دپاره په اوبوکښې لاړې جوړکړې وې.او په هغوئ ئې د وریځې سیورې کړې وو. او هغوئ ئې د فرعونیانو نه بچ کړی وو.او په هغوئ ئې مـن اوسلوی نازل کړې وه. دې قسم سره هغوئ دواړه ویـخ شـواو وې وئیـل چـه دا خـو ډیـر زبردسـت قسـم دې.په دې موقع دروغ وئیل صحیح نه دی.نو وې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! توراة کښې موجود دی چه خراب نظر سره کتل هم د زنا په مثل دی.او غاړه ورکول اوبوسه اخستل هم.کـه ددې څلور ګواهان وی چه ددوی دخول اوخروج ئې داسې کتلی وی لکه څنګه چه سلائی رنجړومه کښې ورکولې شی نو بیا رجم واجب دې. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه هم دا مسئله ده. بیائې حکم اوکړو اوهغـه کسـان ئې رجم کړل.نودې باندې دا آیت مبارك نازل شو چه ﴿فَإِنْ جَاؤُكَ﴾ الخ.(٢) (ابوداود وغیره)

یوروایت کښې دی چه دوه عالمان د نبی کریم ﷺ خدمت کښې پیش شو. دا دواړه د صوریا څامن وو. په یهودیانو کښې د حد نه قائمولو وجه ئې دا بیان کړې وه چه کله مونږ کښې سلطنت باقی پاتې نشو نو خپل کسان وژل مومناسب اونه ګڼړل.بیا نبی کریم ﷺ ګواهان راوغوښتـل او ګواهی ئې واخسـته .هغوئ بیان اوکړو چـه مونږ دا دواړه پـه دې خراب کـار پـه خپلـو سترګـو لیـدلی دی لکـه څنګـه چـه رنجړومه کښې سیلئ ورکوی .

---

(١) صحیح مسلم،کتاب الحدود باب رجم الیهود اهل الذمة فی الزنی : ١٧٠٠. ابوداود : ٤٤٤٧.

(٢) ابوداود کتاب الحدود باب رجم الیهود بین: ٤٤٥٢،

Scanned with Ca

د توراة او اهل توراة راغونښتلو کښې حکمت: -اصل کښې د توراة وغیره راغونښتل او د هغوئ عالمان راغونښتل دا ټول په هغوئ الزام ثابتول وو ،په دې وجه نه وو چه هغوئ ددې د منلو مکلف وو. بلکه پخپله دنبی کریم ﷺ فرمان واجب العمل دې. ددې نه خو یو مقصد د نبی کریم ﷺ د رښتینوالی اظهار ووچه دوی دالله ﷻ د وحی نه معلوم کړل چې د هغوئی توراة کښې هم د رجم حکم موجود دې او هم داسې اوشو. او بله ددوی رسوائی چه هغوئ د انکارنه پس بیا اقرار اوکړو. اودا دنیا ته ظاهره شوه چه دا خلق دالله ﷻ د فرمان پټولو والا او په خپل رائې قیاس کولو والا دی.اوپه دې وجه دا خلق په صدق دل سره نبی کریم ﷺ ته نه راتلل چه د نبی کریم ﷺ حکم اومنی بلکه صرف په دې وجه راغلی وو چه نبی کریم ﷺ به هم د خپلې اجماع مطابق اوموهی (چه زانی ته به کوړې ورکړی او مخ به نې تور کړی) کنی بالکل به نې نه قبلوی.نو ددې وجې فرمان دې الله ﷻ چې څوک ګمراه کړی نو هېڅوک ددوی په لارې کولو والا نشته دی.الله ﷻ د دوی د ګنده زړونو د پاکولو اراده نه لری.دوی به په دنیا کښې ذلیل او خواروی او په آخرت کښې به په اور کښې وی.دوی باطل طرفته غوږ ایږدی اوهغه آوری.په رښوا ورځ رشوت خوری.نو ددوی نجس زړونه به څنګه پاک شی ؟ اوالله ﷻ به ددوی دعاګانې څنګه قبولې کړی ؟ که دوی تاسوته راشی نو تاسو ته اختیاردې که د دوی فیصلې کوې اوکه نه کوې.اوکه ددوی نه مخ واړوې نو بیا هم دوی ستا څه نشی کولې. ځکه چه دوی د حق اتباع نه کوی بلکه خپلو خواهشاتو پسې روان دی.بعضې بزرګان وائی. چه دا آیت مبارک منسوخ شوې دې په دې آیت سره چه ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ أَنْزَلَ اللَّهُ﴾ (١)

بیا فرمائی که ته دوی کښې فیصله کوې نو عدل او انصاف سره کوه،اګر چه دوی پخپله ظالمان دی. او عدل نه تښتیدونکی دی،او پوهه شه چه الله ﷻ عدل کوونکو خلقو سره محبت ساتی.بیاد دوی خباثت او بدباطنی اوسرکشی بیانوی.چې یو طرفته خو دوی کتاب الله پرېښودې دې،او د دې د حقانیت اوتابعدارنی حقانیت پخپله قائل دی.بل خوا دوی هغه طرفته تیتیږی چه هغه نه منی او وائی چه دا دروغ دی.او بیا په دې کښې هم د دوی نیت بددې څکه چه دا وائی که چرې د هغه (محمد ﷺ) د طرفنه زمونږ دخواهش مطابق حکم ملاؤ شونو منو به نې ګنی به به نې منو.نو فرمائی چه دوی به څنګه ستاسودحکم منل اوکړی؟دوی خو توارة هم پرېښودې دې او په هغې کښې د الله ﷻ د حکم اقرار هم نه کوی. خو بیا هم دوی بې ایمانی کوی او ددې نه مخ اړوی.

د توراة حقانیت: بیادهغه توراة مدح اوتعریف بیانوی چه کوم هغه په خپل رسول موسی بن عمران ﷺ باندې نازل کړې وو.اوپه هغې کښې هدایت او نورانیت وو اونبیانو علیهم السلامو هم پدې باندې فیصله کوله،یهودوکښې نې هم د دې احکام جاری ساتلی وو او د دوی د تحریف نه بچ وو او عابدان علماء اواحباریعنی د علم والا خلق هم ددې په طریقه روان وو. ځکه چه هغوئ ته دا پاک کتاب سپارلې شوې وو.اوددې د اظهاراو په دې د عمل کولو دوی ته حکم شوې وو. اوهغوئ په دې باندې شاهدا و ګواه وو. نواوس تاسو ته پکاردی چه دالله تعالی نه سوا دبل چا نه او نه ویریږنی.په قدم قدم اوپه هروخت کښې دالله ﷻ ویره خان سره ساتئ.او ځما آیتونه په لږ قیمت مه خرڅوئی.او پدې پوهه شئ چه څوک دالله ﷻ حکم نه منی نو هغه کافردی.پدې کښې دوه اقواله دی چه روستو به بیان شی انشاء الله.

دویم شان نزول: - ددې آیتونو یو بل شان نزول هم واورئی.حضرت ابن عباس ﷺ نه مروی دی چه داسې خلقو ته نې یو آیت مبارک کښې کافر اوبل کښې ظالم او دریم کښې فاسق وئیلی دی.خبره داده چه د یهودو دوه ډلې وې یو غالبه او دویمه مغلوبه.دوی کښې خپلو کښې دا فیصله شوې وه که غالبه فرقې

(١) الطبری: ١٠/٣٣٠.

Scanned with Ca

یو عزت والا سړي د مغلوبې فرقې یو ذلیل سړي قتل کړی نو هغه به پنځوس (٥٠) وسق دیت ورکوی.اوکه ذلیل خلقو کښې یو سړي راپاسی او دوی عزت والا خلقو کښې څوك اووژنی نو سل (١٠٠) وسق دیت به ورکوی.هم دا رواج کښې راروان وو. هرکله چه مدیني منوري ته راغلو نو دې نه پس یوواقعه داسې اوشوه چه د دې لاندې یهودو نه یوکس د پورته یهودو یو کس اوژلو.د هغه خاني نه سړي راغلو چه سل وسق راکړئی.ددې طرفنه جواب ورکړې شو چه دا بالکل ناانصافی ده ځکه چه مونږ دیو قبیلې اودیو دین او دیو نسب اودیو ښار والا یو،بیا څمونږ کم اوستاسو زیات ولې دي.اوسه پوري خومونږ ستاسو نه مجبور وو او دا ناانصافی مو په نه زړه برداشت کوله.خو هر کله چه د حضرت محمد ﷺ په شان عادل بادشاه راغلو نو مونږ به تاسوته هغه هومره دیت درکوؤ چه څومره تاسومونږ ته راکوئی.پدې خبره یوبل سره په جنګ شو.آخر دا خبره اوشوه چه ددې جنګ فیصله نبی کریم ﷺ ته سپارو.خوهرکله چه اوچتې کورنئ خلقو خپلو کښې په دې مشوره اوکړه نوددوی پوهانواوونیل چه کورنئ ددې نه روستو شئ چه نبی کریم ﷺ د څه ناانصافئ حکم اوکړی.دا بالکل زیاتې ده چه مونږ زیات اخلو اولږ ورکوؤ. اوواقعی دې خلقو دا منظور کړل.اوس چه تاسو نبی کریم ﷺ حاکم او ثالث مقررکړې دې نویقینا به دې ستاسو حق خوری.چااووئیل چه ښه ده داسې اوکړئی چه څوك پټ نبی کریم ﷺ ته واستوئی چه تاسو به ددې متعلق څه فیصله کوئی؟ که هغه څمونږ موافقت کښې وو خو صحیح ده او لارشئ دهغوئ نه حق واخلئ.اوکه خلاف وه نو بیا جدا جدا سهی.نو هغوئ د مدیني منورې څوکسان جاسوسان نبی کریم ﷺ ته اولیږل.دلته رارسیدو نه مخکښې الله ﷻ خپل نبی ﷺ ددې دواړو دلو د ارادو نه خبر کړې وو.(١) (ابوداود).

اویوروایت کښې دی چه دا دوه قبیلې بنو نضیر او بنو قریظه وې.د بنو نضیر پوره دیت وو او د بنو قریظه نیم.نبی کریم ﷺ د دواړو د برابر دیت فیصله اوکړه.او یو روایت کښې دی که قریظی به یو نضری قتل کړو نو هغه نه به ئې قصاص اخستلو.لیکن د دې خلاف کښې قصاص نه وو،سل وسق دیت وو. (٢)

تطبیق:- دا ډیر ممکن ده چه یو طرفته دا واقعه شوې وی اوبل طرفته د زنا قصه شوې وی.او د دې تفصیلی بیان تیر شوې دې.اودې دواړو په باره کښې دا آیتونه نازل شوی وی.والله اعلم.خویوخبره بله هم ده چه هغې سره دې شان نزول ته نور هم تقویت ملاویږی.هغه دا چه دې نه پس فرمائی چه ﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ﴾ یعنی مونږ یهودیانو باندې توراة کښې دا حکم فرض کړې وو چه د جان بدل کښې جان،د سترګې بدله کښې سترګه الخ. والله اعلم.

قوله تعالی::وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَٰفِرُونَ ﴿٤٤﴾

دالله د حکم نه خلاف فیصله کول:- بیاهغوئ ته کافر اووئیلې شو چه د الله ﷻ حکم اودهغه شریعت د وحی مطابق فیصلې اوحکم نه کوی.اګر چه د شان نزول اعتبارسره د مفسرینو په قول دا داهل کتابو په باره کښې دې.خو د حکم اعتبار سره دهرسړی باره کښې دې.دبنواسرائیلو باره کښې نازل شواو ددې امت هم دا حکم دې.(٣)

د قران خلاف فیصله کول کفر دې:- ①حضرت ابن مسعود ﷺ فرمائی چه رشوت حرام دې اورشوت اخستو نه پس د یو شرعی مسئلې خلاف فتوی ورکول کفردې.②حضرت سدی رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه چا د

---

١) احمد: ٢٤٦/١، ابوداود كتاب القضاء باب فى القاضى يخطى: ٣٥٧٦. وسنده حسن.

٢) ابوداود كتاب القضاء باب الحكم بين اهل الذمة: ٣٥٩١..

٣) الطبرى : ٣٥٦/١٠.

Scanned with Ca

وحی الهی خلاف فتوی ورکړه د دې باوجود چه دې په دې پوهه وو نوهغه کافردې. ③ حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه چا دالله ﷻ دفرمان انکار اوکړو نو دهغه دا حکم دې،نو چه چا انکار خواونه کړو خو ددې مطابق نې فیصله هم اونه کړه نو هغه ظالم او فاسق دې .([1]) که هغه اهل کتاب وی اوکه نور څوک ④حضرت شعبی رحمه الله فرمائی چه په مسلمانانوکښې چاد کتاب الله خلاف فیصله اوکړه هغه کافر دې.اوکه یهودو کښې داسې اوکړی نو هغه ظالم دې.اوکه نصرانیانو کښې داسې اوکړی نو هغه فاسق دې. ⑤حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د هغه کفردې آیت مبارك سره دې.

دا کفر،کوم نوعیت دې؟ ①حضرت طاؤس رحمه الله فرمائی چه د هغه کفردهغه کفر په شان نه دی چه هغه بالکل دالله ﷻ اود هغه رسول ﷺ اود هغه د فرښتو نه منکر وی. ②حضرت عطاء رحمه الله فرمائی چه د ده کفرد عامو کافرانو د کفر نه کم دې.داشان د ظلم اوفسق هم ادنی اواعلی درجات دی([2])دې کفرسره هغه د ملت اسلام نه مخ اړولووالا نه دې. ③ حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه ددې نه مراد هغه کفر نه دې چه کوم طرفته تاسو ځئ .([3])

			وَكَتَبْنَا	عَلَيْهِمْ	فِيهَآ
			اولیکلې وؤ مونږ| په هغوئ باندې	په دې کښې	
			اومونږ دوئ ته په تورات کښې حکم ورکړې وؤ		
اَنَّ النَّفْسَ	بِالنَّفْسِ ۙ	وَالْعَيْنَ	بِالْعَيْنِ	وَالْاَنْفَ	
چې بیشکه نفس	په بدله دنفس کښې	اوسترګه په بدل دسترګې کښې	اوپوزه		
چې دځان بدله کښې ځان ، دسترګې بدله کښې سترګه ، دپوزې					
بِالْاَنْفِ	وَالْاُذُنَ	بِالْاُذُنِ	وَالسِّنَّ	بِالسِّنِّ ۙ	وَالْجُرُوْحَ
په بدل دپوزې کښې	اوغوږ	په بدل دغوږ کښې	اوغاښ	په بدل دغاښ کښې	اوزخمونه
بدله کښې پوزه ، اود غوږ بدله کښې غوږ اود غاښ بدله کښې غاښ دې|اوباقی ټولو زخمونه په برابری					
قِصَاصٌ ؕ	فَمَنْ تَصَدَّقَ	بِهٖ	فَهُوَ	كَفَّارَةٌ	لَّهٗ ؕ
په قصاص دی|انو څوک چې معافی اوکړی|ددغې(زخم)|انو دغه عفوه|کفاره ده|دپاره دهغه(د ګناهونو)					
دی| .....نوچاچې بدله اخستل معاف کړل	نوهغه به ورله کفاره اوګرځی				
وَمَنْ	لَّمْ يَحْكُمْ	بِمَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الظّٰلِمُوْنَ ۝
اوهغه څوک	چې فیصله اونه کړه	په هغه قانون	چې نازل کړې دې	الله	نودغه کسان چې دی	هغوئ	ظالمان دی	
اوڅوک چې دالله ﷻ د حکم مطابق فیصلې نه کوی	.....نو هم دغه کسان ظالمان دی				

د یهودیانو په تورات کښې تحریف :- یهودیانوته سزا اورولې شی چه دوی په کتاب کښې په بنکاره لفظونوکښې کوم حکم وو دهغې خلاف کوی او سرکشی او بې پرواهئ سره دا پریږدی.نصری یهودیان

---

[1]) ایضا : ٤/٥٩٧.
[2]) ایضا: ٤/٥٩٥.
[3]) حاکم: ٢/٣١٣.

Scanned with Ca

دقریظی یهودیانو په بدله کښې قتل کوی لیکن د قریظه یهودیان د بنو نضیر په بدله کښې نه قتلوی.بلکه دوی نه دیت اخلی اودوی پریږدی.هم داشان هغوئ واده شوی زانی حکم هم بدل کړې دی.اوددې صرف د شرمولو،رسوا کولو او وهلو نه پس پریږدی.خکه نې هلته دوی ته کافراوونیل او دلته نې دانصاف نه کولو په وجه ظالم اوونیل.داسې یوحدیث هم دې. نبی کریم ﷺ نه ﴿وَالْعَيْنَ﴾ هم مروی دی .(١) (ابوداود وغیره)

قاعده:- دعلماء کرامو قول دې چه مخکښې شریعتونه که خمونږ دپاره په طور د تقریر بیان کړې شی اومنسوخ شوې نه وی نوهغه خمونږ دپاره هم شریعت دې.لکه څنګه چه دا احکام ټول په ټوله خمونږ شریعت کښې دی.امام نووی رحمه الله فرمائی چه په دې مسئله کښې دری مسلکونه دی.①یو خو هغه چه کوم بیان شو ② یو ددې خلاف ③یو دا چه ابراهیمی شریعت صرف باقی او جاری دې نور څه نه.

د ښځې او سړی په قصاص کښې دوه مذاهب:- ①ددې د آیت عموم نه دا استدلال هم کړې شوې دې چه ښځه د سړی بدله کښې هم قتل کولې شی.خکه چه دلته لفظ د نفس دې چه سړی او ښځې دواړو دپاره دې.اویوحدیث مبارك هم دې چه سړې به د ښځې د وینې بدله کښې قتلولې شی .(٢) او یو حدیث مبارك کښې دی چه د مسلمانانو وینې خپلو کښې برابرې دی (٣)②د بعضو بزرګانونه دا هم نقل دی چه کله سړې یوه ښځه قتل کړی نو د دې بدله کښې به دې نشی قتل کولې.بلکه صرف دیت به ورکولې شی.لیکن دا دجمهورو د قول خلاف دې.

د ښځې په قصاص کښې به سړې قتل کولې شی

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز به د ښځې په مقابله کښې سړې قصاص کولې شی (التفسیرات الاحمدیة صفحه ٥٠)-

امام ابوحنیفه رحمه الله خو فرمائی چه د ذمی کافر بدله کښې به هم مسلمان قتلولې شی.اود غلام بدله کښې به آزاد هم قتلولې شی.خودا مذهب د جمهورو خلاف دې.بخاری او مسلم کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه مسلمان به دکافر به بدله کښې نشی قتل کولې (٤). اود سلفو ډیر آثاردې باره کښې موجود دی په هغې کښې دی چه هغه د غلام قصاص آزاد نه نشی اخستې.احادیث هم دې باره کښې مروی دی.لیکن صحت ته نه رسی.امام شافعی رحمه الله خو فرمانی چه په دې مسئله کښې دامام ابوحنیفه رحمه الله خلاف اجماع ده.خو په دې خبرو سره د دې قول بطلان نه لازمیږی،ترکوم وخته پورې چه د آیت عموم خاص کولو والا زبردست بنکاره دلیل ثابت نه وی.

د ذمی په قصاص کښې به مسلمان قتل کولې شی

مسلک حنفی:- د دې مسئلې پوره تفصیل د سورة بقرې په دویمه پاره ایت القصاص لاندې تیر شوې دې هلته نې اوګورئ

د اصیلې غابنونه د وینځې د غابنونو په بدله کښې قصاص کول:- بخاری او مسلم کښې دی چه د حضرت انس بن نضر رضی الله عنه ترور ربیع د یوې وینځې غابنونه مات کړل.اوس خلقو ددې نه معافی غوښتله خودې نه منله.دا معامله نبی کریم ﷺ ته راغله. نبی کریم ﷺ ورته د بدل اخستلو حکم ورکړو. دې باندې

---

١) ابوداود کتاب الحروف والقرات : ٣٩٧٦،

٢) نسائی کتاب القسامة باب ذکر حدیث عمرو بن حزم فی العقول واختلاف الناقلین له : ٤٨٥٧،

٣) ابوداود کتاب الجهاد: باب فی السریة ترد علی اهل العسکر: ٢٧٥١، وهو حسن.

٤) صحیح بخاری کتاب الدیات باب لایقتل المسلم بکافر: ٦٩١٥، ابوداود : ٤٥٠٦، ابن ابی شیبة: ٢٩٤/٩. ترمذی : ١٤١٣.

Scanned with Ca

حضرت انس بن نضر ﷺ اوفرمائیل چه ایا ددې دې مخامخ غاښونه مات کړې شی؟ نونبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه آو ائې انس ! د رب کتابونوکښې د قصاص حکم موجود دې.دې آوریدو سره نې اوفرمائیل چه نه نه اې دالله رسوله ﷺ ! په هغه الله قسم چه هغه ته حق سره رالیږلې ئې،د هغه غاښونه به نشی ما تولې.نو هم داسې اوشو چه هغه خلق راضی شو او قصاص ئې پریښودو بلکه معاف نې کړو. په هغه وخت کښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د الله ﷻ بعضې بندګان داسې دی که هغوئ په څه قسم اوخوری نو الله ﷻ هغه پوره کوی.دویم روایت کښې دی چه مخکښې هغوئ معافی نه وه کړې او نه یې دیت منظور کړې وو.([1])

دغریبانانو غلام معاف کول:- نسائی وغیره کښې دی چه د یوغریب جماعت غلام نه د یو مالدار جماعت غلام غوږ پریکړې وو،دا خلق راغلل او نبی کریم ﷺ ته ئې عرض اوکړو چه مونږ خلق فقیران یو مونږ سره هیڅ نشته دې،نو نبی کریم ﷺ په دوی هیڅ جرمانه اونه لګوله ([2]).

دمعافئ وجوهات:- ①کیدیشی چه دا غلام بالغ نه وو ②اوکیدیشی چه نبی کریم ﷺ دیت ورته د خپل ځان نه ورکړې وی ③اودا هم کیدیشی چه هغوئ ئې د معاف کولو سفارش کړې وی.

په اندامونو کښې قصاص:- حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی د نفس بدله کښې به نفس قتل کولې شی،د سترګې ویستلو والا سترګه به ویستلې شی، د پوزې پریکولو والا به پوزه پریکولې شی،د غاښ ماتوونکی والا غاښ به ویستلې شی،او زخم بدله به هم اخستې شی ([3]). په دې کښې آزاد مسلمان ټول برابر دی.سړی او ښځې یوحکم کښې دی.کله چه دا کارونه قصدسره شوی وی. په دې کښې غلامان هم خپلو کښې برابردی.ددوی سړی هم او ښځې هم.

قاعده:- ①د اندامونو پریکول کله خود جوړ نه وی په دې کښې قصاص واجب دې،لکه لاس،پښه،تلې وغیره،لیکن کوم زخم چه په جوړ نه وی بلکه هډوکی باندی وی د هغې باره کښې حضرت امام مالک رحمۃ اللہ علیہ فرمائی چه په دې کښې هم قصاص شته دې.خو پتون کښې او ددې په شان نورو اندامونوکښې څکه چه د خطرې ځایونه دی.②ددې برخلاف حضرت امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ اوددوی دملګرو مذهب دې چه په هیڅ هډوکی کښې قصاص نشته دې سوا دغاښ نه ③اود امام شافعی رحمۃ اللہ علیہ په نیز مطلق هډوکی کښې قصاص نشته دې.دحضرت عمر فاروق ﷺ،حضرت علی ﷺ نه هم مروی دی.او عطاء رحمۃ اللہ علیہ، شعبی رحمۃ اللہ علیہ، حسن بصری رحمۃ اللہ علیہ، زهری رحمۃ اللہ علیہ، ابراهیم نخعی رحمۃ اللہ علیہ اوعمربن عبدالعزیز رحمۃ اللہ علیہ هم دا وائی.اودې طرفته دی. سفیان ثوری رحمۃ اللہ علیہ او لیث بن سعد رحمۃ اللہ علیہ هم او امام احمد رحمۃ اللہ علیہ هم دا قول زیات خوښ کړې دې.

د احنافو دلائل - ①د امام ابوحنیفه رحمۃ اللہ علیہ دلیل هم هغه دې چه کوم انس ﷺ والا روایت کښې دی چه په هغې کښې دربیع دغاښ دقصاص ورکولوحکم نبی کریم ﷺ کړې وو.لیکن اصل کښې د دې روایت نه دامذهب هم ثابت نه دې څکه چه په دې کښې دا الفاظ دی چه دده مخکښې غاښونه ئې مات کړی وو اوکیدیشی چه بغیردماتولو نه غورزیدلی وی.دې حالت کښې قصاص اجماع سره واجب دې.②ددوی د دلیل پوره حصه هغه ده چه کومه ابن ماجه کښې ده چه یو سړی دبل سړی د څنګل لاندې تیره اووهله اودې سره دهغه سړی مړوند کښې لاس مات شو. دا مقدمه نبی کریم ﷺ ته راغله، نبی کریم ﷺ حکم اوکړو چه دیت دې ورکړئی ،هغه اووئیل چه څه قصاص غواړم، نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه دا واخله الله

---

[1]) صحیح بخاری کتاب الصلح باب الصلح فی الدیة: ٢٧٠٣، صحیح مسلم: ١٦٧٥، ابوداود: ٤٥٩٥.

[2]) ابوداود کتاب الدیات باب جنایة العبد یکون للفقراء : ٤٥٩٠،

[3]) الطبری : ٣٦٠/١٠.

ﷺ به تالره په دې کښې برکت واچوی.اونبی کریم ﷺ قصاص اونه فرمانیلو[1] لیکن داحدیث مبارك بالکل ضعیف دې،ددې یو راوی هشتم بن قران عکلی اعرابی ضعیف دې،ددوی په حدیث حجت نشی قائمولې،دویم راوی نې نمران بن جاریه اعرابی هم ضعیف دې.

په غاښونو کښې که ممکن وی قصاص شته

مسلک حنفی:- د امام ابوحنیفه رحمه الله په نیز په غاښونو کښې به هم قصاص داسې جاری کیږی لکه څنګه چې په هغه صورت کښې په غاښونو کښې قصاص لازمیږی کله چه د ویخ نه غاښ اوباسی (تفسیر مظهری ۱۵۱/۳)-

دزخمونو د قصاص وخت: بیا وائی چه زخمونو قصاص د دې روغیدو نه مخکښې اخستل جائز نه دی. اوکه مخکښې واخستې شی بیا زخم درست شی نو هیڅ بدله به نه شی ورکولې.ددې دلیل امام احمد والاحدیث مبارك دې چه یو سړی د بل سړی په څنګون کښې زخم راوستو،هغه نبی کریم ﷺ ته راغلو اووې وئیل چه څه بدله غواړم. نبی کریم ﷺ ورته ورکړه.دې نه پس بیا هغه راغلو اووې وئیل چه یارسول الله ﷺ ! څه ګوډ یم،نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ماخومنع کړې وې،لیکن تا اونه منل.اوس ستاددې ګوډوالی هیڅ بدله نشته دې.بیا نبی کریم ﷺ دزخمونو دروغیدونه مخکښې بدله اخستل منع کړل[2].

په زخمونو کښې که مماثلت کیدې شی نو قصاص شته ګنې نشته

مسلک حنفی:- د زخمونو په قصاص کښې دا مسئله ده چې ترکومو پورې مماثلت او یوشان والې کیدې شی نو قصاص به اخستې شی اوکه مماثلت او یوشان والې نشی کیدې نو قصاص به نشی اخستې مثلاً - که د چا لاس په پیوند کښې مات شی نو په پیوند کښې به د جانی لاس هم ماتولی شی اوکه د پیوند نه بغیر په بل ځائې کښې مات شوې وی نو په دې صورت کښې مماثلت ممکن نه دې نو قصاص به نشی اخستې د زخمونو د قصاص دپاره تفصیلی احکامو دپاره اوګورئ (تفسیر مظهری ۱۴۹/۳)-

دزخم د قصاص نه پس د مرګ واقع کیدو په صورت کښې د دیت حکم؟ ①که یو کس بل کس زخمی کړاوودده بدله واخستې شوه اودې کښې دې مر شو نو په هغه هیڅ نشته دې.حضرت امام مالك رحمه الله،حضرت امام شافعی رحمه الله،حضرت امام احمد رحمه الله اودجمهور صحابه کرام او تابعین نه هم دا قول نقل دې.②د امام ابوحنیفه رحمه الله قول دې چه په ده باندې د ده د مال نه دیت واجب دې.③ بعضې نور بزرګان فرمائی چه دده دمور پلار طرفنه درشته دارو په مال کښې واجب دی④بعضې نور حضرات وائی چه ددې د بدلې په قدرخوساقط دی باقی هم د ده مال کښې واجب دی.

د قصاص په اخستلو د مرګ واقع کیدل موجب حد نه دې

مسلک حنفی:- د زخم د قصاص نه پس د مرګ واقع کیدو په صورت کښې په هغه چا باندې څه نشته د چا دپاره چه قصاص اخستې شوې وی لکه څنګه چه حافظ ابن کثیر رحمه الله امام ابوحنیفه رحمه الله ته نسبت کړې دې (شاه فیصل غفرله)-

دقصاص معاف کولو نه پس حکم:- بیا فرمائی چه کوم سړې قصاص معاف کړی او په طور د صدقې هغه خپله بدله معاف کړی نو د زخمی کوونکی کفاره اوشوه.اوچه څوك زخمی شوې دې د هغه به

---

[1]) ابن ماجه کتاب الدیات باب ما لا قودفیه: ۲۶۳۶،

[2])احمد: ۲۱۷/۲، مجمع الزوائد: ۲۹۵/۶،دې روایت کښې محمد اسحاق مدلس راوی دې اودهغې دسماع صراحت نشته دې.

Scanned with Ca

ثواب اوشی. چه دا د الله ﷻ په ذمه دي. بعضو داهم وئیلی دی چه دا کفاره د زخمی دپاره ده یعنی دده گناه هم ددي زخم په مقدار سره الله ﷻ بخښی.یومرفوع حدیث مبارك کښې راغلی دی که د څلورمې حصې برابرخیزوی.اوده هغه معاف کړو نو دده څلورمه حصه گناه به معاف کړی.که دریمه حصه وی نو دري حصې گناهونه به ئې معاف شی اوکه پوره وی نو پوره گناهونه به ئې معاف شی.

د انصاری قریشی ته معافی کول:-یوقریشی یوانصاری په زوره دیکه کړو او دي سره د هغه مخکښې غاښونه مات شو.حضرت معاویه ﷺ ته دا مقدمه راغله اوکله چه هغه ډیر غصه شو نودوی اوفرمائیل چه څه لاړه شه تاته اختیار دي، حضرت ابودرداء ﷺ هم هلته ناست وو وي فرمائیل چه ما نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی چه دکوم مسلمان بدن ته څه تکلیف اورسی اوهغه صبراوکړی او بدله وانخلی نوالله ﷻ دده درجې اوچتوی،او د ده گناهونه معاف کوی،دي انصاری دي آوریدو سره اووئیل چه دا رښتیا دی،دا تاسو پخپله د نبی کریم ﷺ نه آوریدلی دی،دوی ﷺ اوفرمائیل چه ځمادي غوږونو آوریدلی دی او ځمازړه یادکړی دی. هغه اووئیل چه بیا خو ته ګواه اوسه چه ما خپل مجرم معاف کړو. حضرت معاویه دي آوریدو سره ډیر زیات خوشحاله شو اوهغه ته ئې انعام ورکړو([1]) (ابن جریر).

ترمذی کښې هم دا روایت دي لیکن په قول د امام ترمذی دا غریب دي.د ابوسفر د ابو درداء نه آوریدل ثابت نه دی.اوروایت کښې دی چه هغه دري چنده دیت ورکولو لیکن دي راضی نشو،دي کښې د حدیث مبارك الفاظ دا دی چه کوم کس وینه یا دي نه کم معاف کړی نوهغه دده د پیدائش نه واخله ترمرګه پوري دده کفاره ده،مسند احمد کښې دی چه دکوم کس په بدن څه زخم اولګی اوهغه ئې معاف کړی نو الله ﷻ د هغه هم دومره ګناهونه معاف کوی .

د الله ﷻ د حکم مطابق فیصله نه کولو والا ظالم دي ([2]).مخکښې تیر شوی دی چه کفر د کفر نه کم دي.ظلم کښې فرق دي(څه زیات او څه کم) دي.او فسق کښې هم درجې دی.

وَقَفَّيْنَا	عَلَىٰٓ اٰثَارِهِمْ	بِعِيْسَى	ابْنِ	مَرْيَمَ	مُصَدِّقًا	لِّمَا
اواولیږلو مونږه	روستو دهغوئ نه	عیسی ﷺ	څوئ	د مریم	چې تصدیق کونکي وؤ	ادهغه څه
بیا مونږه دغه پیغمبرانو نه ورستو عیسی دمریم څوئ راولیږلو	چې هغوی د هغه کتابونو تصدیق کونکي					
بَيْنَ يَدَيْهِ	مِنَ التَّوْرٰىةِ ۖ	وَاٰتَيْنٰهُ	الْاِنْجِيْلَ	فِيْهِ	هُدًى
چې دهغه د وړاندې موجود وؤ	ادتورات نه	اوورکړو مونږ هغه له	انجیل	چې په هغې کښې	الارښودنه وه(حق ته)
وؤ	کوم چې د تورات نه وړاندې تیر شوی وؤ	اومونږ هغه ته انجیل ورکړو		چې په هغې کښې	هدایت
وَّنُوْرٌ ۙ	وَّمُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهِ	مِنَ التَّوْرٰىةِ	وَهُدًى
اورنړاوه	اوتصدیق کونکي وؤ	ادهغه څه	چې په هغه وخت کښې موجود وؤ	ادتورات نه	اوهدایت وؤ
اورنړاوه	اود تورات تصدیق ئې کولو کوم چې دهغه وړاندې وؤ	.....	اودغه انجیل د پرهیزګارانو		
وَّمَوْعِظَةً	لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝	وَلْيَحْكُمْ	اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ	بِمَآ
اونصیحت وؤ	دپاره دپرهیزګارانو	اوفیصله دکوی	اهل د انجیل	مطابق دهغه قانون
دپاره هدایت اونصیحت وؤ	.....	اوزمونږ داحکم وؤ	چې دانجیل منونکی دي	دهغې مطابق

[1]) ترمذی : کتاب الدیات باب ماجاء فی العفو: ١٣٩٣، ابن ماجه: ٢٦٩٣.

[2]) الطبری: ٣٣٢/١٠،.

أَنْزَلَ اللّٰهُ	فِيْهِ ؕ	وَمَنْ	لَّمْ يَحْكُمْ	بِمَآ	أَنْزَلَ اللّٰهُ
چې نازل کړې دي الله	په هغه کښې	اوهغه څوک	چې فيصله اونه کړي	په هغه قانون	چې نازل کړې دي الله
فيصله کوي	اوڅوک چې دالله ﷻ دحکم مطابق فيصله نه کوي				

فَأُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْفٰسِقُوْنَ ۝
نودغه کسان	هم هغوئ دي	فاسقان
نوهم دغه کسان نافرمان دي		

داسمانی کتاب انجیل څه خصوصیات :- د بنی اسرائیلو د نبیانو علیهم السلام نه پس مونږ عیسی ﷺ اولیږلو،هغوی په تورات باندې ایمان ساتلواوددې داحکامو مطابق نې فیصلې کولې،مونږ دوی ته هم خپل انجیل ورکړو.اودې کښې د حق هدایت وو اود شبهات اومشکلاتو وضاحت وو،اومخکښې کتابونو سره موافقت وو.خوڅو مسائل چه په هغې کښې یهودیان مختلف وو،د هغې ښکاره فیصلې په هغې کښې موجود وې.لکه قران پاك کښې بل ځائې کښې دی چه حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل چه ستاسو دپاره به بعضې هغه ځیزونه حلال کړم چه کوم په تاسو حرام شوی دی.ددې وجې د علماء کرامو مشهوره مقوله ده چه انجیل د تورات بعضې احکام منسوخ کړی وو.انجیل نه د پاکو خلقو دپاره رهنمائی اوپندونصیحت کیدو چه هغوئ دې نیکئ طرفته رغبت اوکړی اودبدئی نه دې بچ اوسی.

په اهل الانجیل کښې اختلاف د قراءت:- ﴿اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ﴾ هم لوستلې شوې دي،دې صورت کښې به ﴿وَلْيَحْكُمْ﴾ کښې لام د ﴿کې﴾ په معنی کښې وی.مطلب به دا وی چه مونږ حضرت عیسی ﷺ ته انجیل په دې وجه ورکړې وو چه هغوئ خپله زمانه کښې خپل منونکی په دې روان کړی او دې لام ته دامرلام دې اوګنړلې شی.او مشهور قراة ﴿وَلْيَحْكُمْ﴾ لوستې شی نو معنی به دا وی چه دوی ته پکار دی چه د انجیل احکامو باندې ایمان راوړی اوهم د دې مطابق حکم اوکړی.لکه بل آیت مبارك کښې دی چه ﴿قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَسْتُمْ عَلٰى شَيْءٍ﴾ یعنی ائې اهل کتاب ترکومې چې تاسو په انجیل اوتوراة باندې اوچه څه دالله ﷻ طرفنه نازل شوی دی باندې قائم پاتې نشئ نوتاسو په هیڅ معتبر دین باندې نه یئ.او آیت کښې دی چه ﴿اَلَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ الَّذِيْ يَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا﴾ چه کوم خلق ددې رسول نبی امی ﷺ تابعداری کوی او دده صفت په توراة کښې لیکلې شوې مومی.هغه خلق چه کوم کتاب الله او د خپل نبی ﷺ فرمان مطابق حکم نه کوی نو هغوئ دالله ﷻ د اطاعت نه خارج دی.د حق پریښودونکی اود باطل عاملان دی. دا آیت د نصرانیانو په حق کښې دې. لکه څنګه چې د آیت نه ظاهریږی اومخکښې هم بیان شوی دی.

وَاَنْزَلْنَآ	اِلَيْكَ	الْكِتٰبَ	بِالْحَقِّ		
او رااولیږو مونږ	تاته ائې محمد ﷺ	کتاب	دحق سره		
اومونږ تاته داکتاب درکړې دې	چې حقې خبرې کوی				
مُصَدِّقًا	لِّمَا	بَيْنَ يَدَيْهِ	مِنَ الْكِتٰبِ	وَمُهَيْمِنًا	عَلَيْهِ
چې تصدیق کونکې دې	دهغه څه	چې موجود دی په وړاندې د دۀ	د کتاب نه	اومحافظ دې	په هغه کتاب
اودمخکینی کتاب تصدیق کوی	.....			او د هغې حفاظت کوی	

Scanned with Ca

فَاحْكُمْ	بَيْنَهُمْ	بِمَآ	اَنْزَلَ اللّٰهُ	وَلَا تَتَّبِعْ
نو فیصلې کوه	په منځ ددوئ کښې	مطابق دهغه قانون	چې نازل کړې دي الله	اومه کوه پیروی
نوائي پیغمبره ﷺ ته ددوئ مینځ کښې دالله ﷻ دحکم مطابق فیصله کوه	اوته د هغې حقې لارې مقابله کښې			
اَهْوَآءَهُمْ	عَمَّا	جَآءَكَ	مِنَ الْحَقِّ ط	لِكُلٍّ جَعَلْنَا
دخواهشاتو ددوئ	دهغه څیزونو نه	چې راغلې دي تاته	د حکم د الله نه	مقرر کړې دي مونږه د هریو د پاره
د دوی دخواهشاتوتابعداری مه کوه	کومه چې تاته راغلې ده	.....		مونږ په تاسو
مِنْكُمْ	شِرْعَةً	وَّمِنْهَاجًا ط	وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ	لَجَعَلَكُمْ	اُمَّةً
ستاسونه	یو شریعت	اویوه لاره دعمل	اوکه غوښتلې الله	انوخامخا به نې جوړ کړی وئ تاسو	امت
کښې د هریوې ډلې دپاره یوخاص شریعت اوخاص لار مقرر کړې ده			اوکه الله ﷻ ته منظوره وې نو		
وَّاحِدَةً	وَّلٰكِنْ	لِّيَبْلُوَكُمْ	فِيْ مَآ	اٰتٰىكُمْ
یو	الیکن بیل نې کړئ	دپاره ددې چې ازمائی تاسو	په هغه څه کښې	چې درکړی ئې دی تاسو لره
تاسوټول به ئې یوه ډله کړې وئ	خوهغه داغواړی چې پخپلواحکامو سره ستاسوامتحان اوکړی			
فَاسْتَبِقُوا	الْخَيْرٰتِ ط	اِلَى اللّٰهِ	مَرْجِعُكُمْ	جَمِيْعًا	فَيُنَبِّئُكُمْ
نو وراندې شئ	نیکوته	الله ته	واپس تلل دی ستاسو	دټولو	نو خبریه کړی تاسول
نونیکو کارونو کښې وراندې شئ	اخرتاسوټول به الله ﷻ ته واپس کیږئ		نوهغه به تاسو د هغه خبرې		
بِمَا	كُنْتُمْ	فِيْهِ	تَخْتَلِفُوْنَ ۝٤٨ لا	وَاَنِ	احْكُمْ
په هغه څه	چې وئ تاسو	اپه هغې کښې	چې اختلاف به موکولو	اودا چې	فیصله کوه
خبر درکړی په کومه کښې چه تاسو اختلاف کولو	او انې (پیغمبره) ددوئ مینځ کښې د				
بَيْنَهُمْ	بِمَآ	اَنْزَلَ اللّٰهُ	وَلَا تَتَّبِعْ	اَهْوَآءَهُمْ
په منځ ددوئ کښې	مطابق دهغه قانون	چې نازل کړې دي الله	اومه کوه پیروی	دخواهشاتو ددوئ
دالله ﷻ د کتاب (قرآن) مطابق فیصله اوکړه	.....		اوددوئ د خواهشاتو تابعداری مکوه	
وَاحْذَرْهُمْ	اَنْ يَّفْتِنُوْكَ	عَنْۢ بَعْضِ	مَآ	اَنْزَلَ اللّٰهُ
اویره کوه ددوئ نه	چې په فتنه کښې وانه چوی تاله	دځینی	هغه هدایت نه	چې نازل کړې دي الله
اود دوی نه ویره کوه چې دداسې فیصلې نه دې اونه ګرځوی چې الله ﷻ تاته رالیږلې وی				
اِلَيْكَ ط	فَاِنْ	تَوَلَّوْا	فَاعْلَمْ	اَنَّمَا	يُرِيْدُ اللّٰهُ	اَنْ
تا ته	نو که چرې	مخ واړوو ددوئ	نو پوهه شه	چې بیشکه	اراده لری الله	چې
که دوئ دحقې لارې نه مخ واړوی	نو پوهه شه	چې الله ﷻ داغواړی چې				

Scanned with Ca

يُصِيبَهُمْ	بِبَعْضِ	ذُنُوبِهِمْ ط	وَإِنَّ	كَثِيرًا	مِّنَ النَّاسِ
اورسوی دوئ ته سزا	په سبب د څینو	ګناهونو ددوئ	اوبیشکه	زیات	دخلقو نه
دوئ ته د بعضې ګناهونوسزا ،په دنیا کښې هم، ورکړی	اوربښتیاخبره داده چې په دوئ کښې ډیرخلق				
لَفَاسِقُونَ ۝	أَفَحُكْمَ	الْجَاهِلِيَّةِ	يَبْغُونَ ط	وَمَنْ	أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ
خامخا فاسقان دی	آیا نو فیصلې	دجاهلیت	غواړی دوئ	او څوك دې	زیات ښه دالله نه
فاسقان دی	نوآیا دوئ دجاهلت دوختونو	فیصلې غواړی	اوحال دادې چې څوک په الله ﷻ یقین ساتی دهغوئ		
حُكْمًا	لِّقَوْمٍ	يُوقِنُونَ ۝ ع			
په فیصلو کولو کښې	دپاره دهغه قوم	چې یقین لری			
په نږد دالله ﷻ نه بهتره فیصله دچانشی کیدې					

د قران پاک صداقت :- د توراة اوانجیل تعریف او ثناء نه پس اوس د قران پاك بزرګی بیانیږی چه مونږ دا حق او صداقت سره نازل کړې دې.دا په یقین سره دیو الله ﷻ طرفنه دې.اوهم دهغه پاك ذات کلام دې.داکتاب ټول مخکښې کتابونه حق منی او په هغه کتابونوکښې هم ددې قران پاك صفت بیان شوې دې.اوپه هغې کښې دا بیان هم دې چه دا پاك اوآخری کتاب په آخری او افضل رسول ﷺ باندې نازل شوې دې.نوهر عقل مند سړې په دې یقین ساتی اودا منی لکه فرمان دې چه ﴿إِنَّ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهِ﴾ کومو کسانو ته چې ددې کتاب نه مخکښې علم ورکړې شوې وو ،هرکله چه د هغوئ مخکښې د دې تلاوت اوکړې شی نو دوی په زنو باندې په سجده پریوځی.او زبانی اقرار کوی چه خمونږ د رب وعده ریښتونې ده.اوهغه ریښتونې شوې ده. هغه چه د مخکښې رسولانو په ذریعه کوم پیغام ورکړې وو هغه پوره شو.اوآخری رسول د ټولو رسولانو سرتاج راغلو. اوداکتاب د مخکښې ټولو کتابونو امین دې.یعنی دې کښې چه څه موجود دی هغه مخکښې کتابونوکښې موجود وو.اوس که څوك اووائی چه فلانی مخکښی کتاب کښې دا موجود وو نو دا به غلط وی.دا د هغوئی ریښتونې ګواهی اوهغه ګیرولو والا دې.او هغه مخکښې کتابونوکښې چه څه موجود نه ووهغه ټول په دې کښې موجود دی .په دې وجه هم دا په ټولو حاکم او مقدم دې.اود دې د حفاظت کفیل پخپله الله ﷻ دې.لکه څنګه چه الله ﷻ فرمانی چه ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ۝﴾

دویم تفسیراودهغې ضعف:- بعضوونیلی دی چه ددې نه مراد دا دې چه نبی کریم ﷺ امین دې ددې کتاب.واقع کښې دا قول ډیر صحیح دی لیکن ددې آیت مبارك تفسیر ګرځول صحیح نه دی بلکه د عربیت اعتبار سره هم دا غور طلب دې.صحیح تفسیر ډومبې دې.امام ابن جریر رحمه الله هم حضرت مجاهد رحمه الله نه دا قول نقل کړې دې او فرمانی چه دا ډیره لرې خبره ده بلکه صحیح نه ده ددې وجې د ﴿مهيمن﴾ عطف مصدق باندې دې.نودا هم د دې څیزصفت دې چه د کوم صفت مصدق لفظ وو. که چرې د حضرت مجاهد رحمه الله معنی صحیح اومنلې شی نو عبارت بغیردعطف نه پکار وو.

قوله تعالی::فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ

نبی کریم ﷺ ته د کتاب الله مطابق فیصلې کولو حکم:- نوائې نبی ﷺ ! تاسو په دې ټولو کښې دالله ﷻ دکتاب احکام خواره کړئی.که عرب وی اوکه عجم ،که خوانده وی اوکه ناخوانده.دالله ﷻ نازل شوی نه دالله ﷻ وحی مرد ده. که هغه ددې کتاب په صورت کښې وی اوکه د الله تعالی د مخکښې احکامو په صورت کښې وی کوم چې ئې د نبی کریم ﷺ دپاره مقرر کړی وو. حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه ددې آیت مبارك نه مخکښې نبی کریم ﷺ ته آزادی ورکړې شوې وه که غواړې نو دوی کښې فیصلې

اوکړه اوکه غواړې نومه کوه.خو دې ایت مبارك دا حکم ورکړو چه دالله ﷺ د وحی مطابق فیصلې کول ضروری دی (۱).

دهر امت دپاره لار او طریقه:- ددې بدنصیبو جاهلانو په وجه چه کوم احکام رائج شوی دی اوددوی په وجه نې کتاب الله شاته غورزولې دې،خبردار انې نبی ﷺ ! تاسو خو ددوی خوښې پسې ځئ خو چه حق پرې نږدئی.دوی کښې هریودپاره مونږ لار او طریقه جوړه کړې ده.دیو څیز طرفته ابتداء کولو ته شرعه وائی.منهاج لغت کښې واضحې او آسانې لارې ته وائی. نوددې دواړو لفظونو هم دا تفسیر زیات مناسب دې،

د شریعتونو په اصولو کښې اتفاق:- مخکښې چه څومره شریعتونه دالله ﷺ د طرفنه وو هغه ټول په توحید خو متفق وو البته وړو وړو احکامو کښې لږ شان مخکښې روستووو.لکه حدیث مبارك کښې دی چه مونږ ټول نبیان علیهم السلام ناڅکه رونړه یو. ځمونږ د ټولو یودین دې (۲).هریو نبی توحید باندې لیږلې کیږی او هر آسمانی کتاب کښې د توحید بیان دې،ددې ثبوت او هم دې طرفته دعوت ورکولې کیږی.لکه قران پاك کښې فرمائی ستا نه مخکښې چه څومره هم رسولان مونږ لیږلی دی هغه ټولو طرفته مونږ وحی کړې وه چه ځما نه سوا هیڅ معبود نشته دې تاسو ټول صرف هم ځماعبادت کوئی،اوآیت کښې دی چه ﴿ولقدبعثنا﴾ مونږ هریو امت ته د نبی په خوله اووئیل چه د الله ﷺ عبادت کوئی اودهغه نه سوا د نورو عبادت نه بچ اوسئ.

په احکامو کښې اختلاف:- خو احکامو کښې اختلاف ضرور شوې دې.یو څیز په یوه زمانه کښې حرام وو او بیا حلال شو یا ددې برعکس،یا یوحکم کښې تخفیف وو او اوس تاکید اوشو،یا ددې خلاف،اودا هم حکمت او مصلحت اوحجت ربانی سره، توراة لکه یو شریعت دې،انجیل یو شریعت دې،قران پاك یو مستقل شریعت دې چه هرې زمانې د فرمانبرداروا و د نافرمانو امتحان واخستې شی.البته توحید ټولو زمانوکښې یوشان وو.اوددې جملې معنی داده چه انې امت محمدی ﷺ ! تاسوکښې هریو سړی دپاره مونږ خپل کتاب قران پاك نازل کړې دې او دا مو شریعت او طریقه ګرزولې دې.تاسو ټول ته پکار دی چه ددې اقتداء او تابعداری اوکړئی.دې صورت کښې د ﴿جعلنا﴾ نه پس ضمیر محذوف به منلې شی.نو د بهترینو مقاصدو حاصلولو ذریعه او طریقه صرف قران پاك دې او بس (هم داده). خو صحیح قول رومبې دې او ددې دلیل دادې چه ددې نه پس فرمان دې که الله ﷺ غوښتلې نو تاسو ټول به نې یو امت کړې وې . نومعلومه شوه چه راتلونکې خطاب صرف دې امت ته نه دې بلکه ټولو امتونوته دې اوپه دې کښې د لله ﷺ د کامل او ډیر لوړ قدرت بیان دې که هغه پاك ذات غوښتلې نو ټول به نې یو امت او په یو دین کړې وې او هیڅ یووخت کښې به هیڅ تبدیلی نه وې.خو دالله ﷺ د حکمت تقاضا ده چه جدا جدا شریعتونه نې مقرر کړی،یو نه پس بل نبی اولیږی اودمخکښې نبی بعضې احکام روستنی نبی دپاره بدل کړی تردې چه ټول مخکنی دینونه د نبی کریم ﷺ نبوت سره منسوخ شو. او نبی کریم ﷺ ټول مخلوقات ته اولیږلې شو. او خاتم الانبیاء اولیږلې شو.

دشریعتونو په اختلاف کښې امتحان:- دا مختلف شریعتونه صرف ستاسود آزمینښت دپاره وو چه تابعداروته جزا او نافرمانو ته سزا ورکړې شی.دا هم ونیلې شوی دی چه تاسو باندې آزمینښت اوکړی په هغه څیز کښې چه کوم تاسوته درکړې شوې دې یعنی کتاب،نو تاسو ته پکار دی چه نیکو اوخیرات طرفته په منډه راشئ.تاسوته پکار دی چه دالله ﷺ اطاعت اوشریعت ته مخکښې راشئ.اوتاسوته پکار

---

(۱) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی (واذکر فی الکتاب مریم.....) : ۳٤٤۳، صحیح مسلم: ۳۲٦٥.

(۲) الدرالمنثور ۳/۱۰۰،

Scanned with Ca

دی چه داخری نبی ﷺ کتاب اوشریعت د زړه نه اومنئ. انې خلقو استاسو دتولومرجع اوماوی او ستاسو
وایس کیدل صرف الله ﷻ طرفته دی. هلته به تاسوته ستاسو داختلاف اصلیت اوښائی. ریښتونوته به د
هغوئ بهتره میوه ملاؤ شی، او بدانوته به د هغوئ د تکذیب اوسرکشئ او خواهش نفسانی کښې مبتلا
کیدو په وجه سزا ورکولې شی. چه حق فعل طرفته حق پسې انښلی. او
مقابله کوی. ضحاك رحمه الله وائی چه مراد د حضرت محمد ﷺ امت دی. خواول قول اولی دی.

قوله تعالی:: وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ

بیادرومبئ خبرې نورتاکید کیږی اوددې خلاف کولو نه منع کیږی، او فرمائی چه هسې نه تاسو ددې
مکار اوکذاب اوکافر په خبرو کښې راشئ او د الله ﷻ حکم نه واوړئ. که دوی ستا احکامونه مخ
واړوی اودشریعت خلاف اوکړی نو پوهه شه چه ددوی د غلطو په وجه به الله ﷻ دوی باندې څه عذاب
راولی. نوپه دې وجه د دوی نه توفیق واخستې شو. اکثر خلق فاسقان دی، یعنی د حق اطاعت نه خارج
دی، د الله ﷻ ددین خلاف، اوهدایت نه لرې دی، لکه فرمائی چه ﴿وَمَا أَكْثَرُ النَّاسِ وَلَوْ حَرَصْتَ بِمُؤْمِنِينَ﴾ یعنی
اگرچه ته حرص کوې اوغواړې خو دوی کښې زیات خلق مومنان نه دی. اوفرمائی چه ﴿وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي
الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾ یعنی که ته په زمکه کښې دزیاتو خلقو اومنې نودوی به تاد الله ﷻ دلارې نه
واړوی.

دایت شان نزول:- دیهودو څولوئې لوئې سردارانو او عالمانو خپلو کښې یو جرګه اوکړه او د نبی
کریم ﷺ خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه تاشوته معلوم دی چه ﷺ که مونږتاسواومنو نو
ټول یهود به ستاسود تبوت اقراراوکړی اومونږ ستاسو منونکی یو. خوتاسو صرف دومره اوکړئ چه
زمونږ او زمونږ دقوم مینځ کښې یو تنازعه اود هغې فیصله څمونږ مطابق اوکړئی. نبی کریم ﷺ انکار
اوکړو اوهم دې باندې دا آیت مبارك نازل شو.(١)

ددې نه پس الله په هغه خلقو انکارکوی چه کوم دالله ﷻ د حکم نه یو طرفته شی. او په هغوئ کښې
ټولې ښیګړې موجود وی. اوددې پاك حکم نه واوړی او د رائې اوقیاس طرفته، او خواهش نفسانی
طرفته. او ددوی د احکامو ټیټیدوطرفته شی چه کوم خلقو دخپل دلیل او بغیردشریعت نه پیدا کړی
دی لکه څنګه چه جاهلیت او ضلالت والو به خپلې مرضئ سره حکم او احکام جاری کول. او لکه څنګه
چه به تاتاریانو د ملك معاملاتو کښې د چنګیز احکامو پیروی کوله چه کوم الیاسق پیدا کړی وو. هغه
ډیرمجموعی داحکامو دفترونه وو چه مختلفو شریعتونواومذهبونونه راوویتسې شوی وو. هغه د
یهودیت، نصرانیت اواسلامیت وغیره ټولواحکامو مجموعه وه. او بیا په دې کښې ډیراحکام هغه هم
وو چه هغه صرف خپل عقل او د وخت لحاظ سره ایجاد کړې شوی وو. او په هغې کښې د خپلو
خواهشاتو منل هم وو. اوهم دا مجموعه د دوی اولاد کښې قابل عمل شوې وه. او هم دې ته ئې کتاب
اوسنت باندې د فوقیت او تقدیم ورکړو. اوحقیقت کښې داسې کولووالا کافران دی. اودوی سره جهاد
واجب دې. تردې چه واپس د الله ﷻ اود هغه رسول ﷺ طرفته راشی. او په څه وړه یا لویه معامله کښې یا
سفلی معامله کښې سوا د کتاب اوسنت نه بل څه حکم اونه منی. الله ﷻ فرمائی چه دوی د جاهلیت د
احکامو اراده کوی، او د الله ﷻ د حکم نه منډې وهی. یقین والو دپاره به د الله ﷻ نه بهتر حکمران او
کارفرمان څوك وی، الله ﷻ نه زیات عدل اوانصاف والا احکام د چا دی؟ ایماندار اوکامل یقین والو ته
نبه معلوم دی او داهم منی چه د هغه احکم الحاکمین او ارحم الراحمین نه زیات نبه او صفا او آسان

---

(١) الطبری: ٣٩٣/١٠.

احکام اوقواعد دهیچا نشی کیدې.هغه په خپل مخلوق دومره مهربان دې څومره چه مور په خپل اولاد مهربانه وی.هغه پوره او پوخ علم والا او کامل اوعظیم الشان قدرت والا او عدل اوانصاف والا دې. حضرت حسن رضی الله عنه فرمائی چه دالله ﷻ فیصلې نه بغیر چه کومه فتوی ورکړی شی د هغه فتوی د جاهلیت فتوی ده. یو سړی حضرت طاؤس رحمه الله عنه نه تپوس اوکړو چه څه خپل اولاد کښې یو ته زیات او بل ته کم ورکولې شم ؟ نو دوی هم دا آیت مبارك تلاوت کړو.طبرانی کښې دی چه نبی کریم ﷺ فرمانی چه د ټولو نه غټ دښمن هغه دې چه هغه په اسلام کښې د جاهلیت طریقه او چال تلاش کړی او بې وجې څوك قتل کړی.دا حدیث بخاری شریف کښې هم څه قدرې زیات موجود دې (١).

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَتَّخِذُوا				
ائې هغه کسانو	چې ایمان موراوړې دې	مه نیسئ				
.....ائې ایماندارو ! تاسو دهغه کسانو سره						
الْيَهُوْدَ	وَالنَّصٰرٰٓى	اَوْلِيَآءَ	بَعْضُهُمْ	اَوْلِيَآءُ	بَعْضٍ ؕ	وَمَنْ
یهودیان| اوعیسایان	|دوستان ځان له|ځینی ددوئ| دوستان دی|	دځینو		اوچا چې
دوستی مه کوئ چې یهودیان او نصاری دی	دوئ دیو بل دوستان دی	اوکه په تاسو کښې څوك				
يَّتَوَلَّهُمْ	مِّنْكُمْ	فَاِنَّهٗ	مِنْهُمْ ؕ	اِنَّ اللّٰهَ		
دوستی اوکړه	ددوئ سره ستاسو نه	نو بیشکه چې هغه	هم دهغوئ نه دې	بیشکه چې الله		
دوئ سره دوستی ساتی	نودهغوئ ډله کښې به شمیرلې شی	.....الله ﷻ				
لَا يَهْدِى	الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ۝	فَتَرَى	الَّذِيْنَ	فِىْ قُلُوْبِهِمْ		
هدایت نه کوی	قوم ظالم ته		پس وینې ته	هغه کسان		چې په زړونو دهغوئ کښې
ظالمان خلق دهدایت نه محروم ساتی	څکه خو ته وینې کوړې چې دچاپه زړونو کښې					
مَّرَضٌ	يُّسَارِعُوْنَ	فِيْهِمْ	يَقُوْلُوْنَ	نَخْشٰٓى	اَنْ تُصِيْبَنَا	
مرض دې	چې هغوی منډې وهی	د هغوی طرف ته	وائی	چې مونږه ویریږو	چې اوبه رسیږی مونږ ته	
(دنفاق)مرض دې	هغوئ په منډه منډه دغې خلقو کښې ورننوځی	او وائی چې مونږ ویریږو چې دمصیبت په				
دَآئِرَةٌ ؕ	فَعَسَى اللّٰهُ	اَنْ يَّاْتِىَ	بِالْفَتْحِ	اَوْ اَمْرٍ	مِّنْ عِنْدِهٖ	فَيُصْبِحُوْا
یوه حادثه|نونزدې ده چې الله به| راولی	فتحه	یا بل حکم	دطرف خپل نه|نو شی به هغوئ		
چکر راګیرنه شو	زرده چې الله ﷻ به تاسوته فتح درکړی	یابه د خپل طرفه بله څه حکم اوکړی	نو دوی			
عَلٰى مَآ	اَسَرُّوْا	فِىْٓ اَنْفُسِهِمْ	نٰدِمِيْنَ ۝ ؕ	وَيَقُوْلُ		
په هغه منافقت باندې	چې پټ ساتلې دې هغوئ	په زړونوخپلوکښې	شرمنده		اووائی به	
چې خپلوزړونو کښې کوم نفاق پټولو په هغې به پښیمانه شی	.....او تاته هغه کسان وائی کوم					

١) صحیح بخاری کتاب الدیات باب من طلب دم امرئ بغیر حق : ٦٨٨٢.

الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	اَهٰٓؤُلَآءِ	الَّذِيْنَ	اَقْسَمُوْا	بِاللّٰهِ
هغه کسان | چې ایمان نې راوړې وی | آیا دا | هغه کسان دی | چې قسمونه خوړل دوی | په الله باندې					
چې مسلمانان دی | چې ښه دا هغه کسان دی | چې دالله ﷻ په نوم به نې غټ غټ قسمونه خوړل					
جَهْدَ	اَيْمَانِهِمْ ۙ	اِنَّهُمْ	لَمَعَكُمْ ؕ	حَبِطَتْ	اَعْمَالُهُمْ
سخت | قسمونه خپل | چې بیشکه دوی | خامخاستاسوسره دی | عبث شو | عملونه د دوی					
..... چې مونږ (یعنی دوی) تاسوسره ملګری یو | د دوی ټول کوششونه ضائع شو					
فَاَصْبَحُوْا	خٰسِرِيْنَ ۝				
نو شول دوی | انقصانیان |					
اودوی نامراده پاتې شو					

د اسلام دشمنانو سره د دوستۍ ممانعت:-داسلام دښمنانو یهودو اونصاری سره الله ﷻ ددوستۍ کولو نه منع فرمانی،او فرمائی چه دوی هرګز ستاسو دوستان نشی کیدې.ځکه چې ستاسو دین سره ددوی بغض او دښمنی ده.خو خپلو سره ددوی دوستۍ او محبتونه دی.ځما په نیز چه څوک هم دوی سره محبت ساتی نوهغه د هغوی نه دي.حضرت عمر ﷺ،حضرت ابوموسی اشعری ﷺ ته په دې خبره تنبیه اوکړه او دا آیت مبارک ئې ورته واورولو(۱) حضرت عبدالله بن عتبه ﷺ اوفرمائیل چه انې خلقو! تاسوله پکار دی چه ددې نه ېچ شئ هسې نه چه تاسونه پخپله هم معلومه نه وی او تاسو یهودیان یا نصرانیان جوړ شوی یئ.مونږ پوهه شوچه ستاسو مراد د دې آیت مبارک نه هم دا مضمون دې.(۲)

د حضرت ابن عباس ﷺ نه دعربو د نصرانیانو دلاس د ذبیحې باره کښې تپوس اوشو.نودوی هم دا آیت مبارک تلاوت کړو.چه دکومو خلقو زړه کښې خیرې دې هغوی خو پټ په پټه دوی سره سازباز او محبت اومودت ساتی او بهانه دا کوی که چرې مسلمانانو باندې دا خلق غالب شو نو مونږ به زیات خراب کړی نو په دې وجه مونږ دوی سره میل ملاپ ساتو. مونږ دې ولې چا سره په جنګ شو ؟ الله ﷻ فرمائی ممکن دی چه الله ښکاره مسلمانان غالب کړی.مکه هم ددوی په لاس فتح شی.فیصلې او حکمونه هم ددوی چلیږی،حکومت د دوی پښو ته راولو،یا الله ﷻ څه ځیز دوی طرفته رانازل کړی.یعنی یهود اونصاری مغلوب کړی او دوی ذلیل کړی اوددوی نه د جزیه اخستلو حکم مسلمانانو ته ورکړی،بیا دا منافقان چه نن دوی سره کینی،دوی ته به شا کوی،خپلو کښې به سره بنګیږی،او په دې خپله چالاکئ به دوی اوښکې تویوی،د دوی د پردې کارونه به ښکاره شی،او څنګه چه دننه یعنی حقیقت کښې وو هغه شان به د بهرنه په نظر راشی.په هغه وخت کښې به مسلمانان د دوی په مکارتوب باندې تعجب کوی او وائی به چه اوګورئی چه دا هم هغه خلق دی چه دوی به لوئې لوئې قسمونه خوړل اومونږ ته به ئې یقین راکولوچه دوی ځمونږ ملګری دی،دوی نه هغه لاړل چه څه دوی کول.او برباد شو. ﴿وَيَقُوْلُ﴾ خو د جمهورو قرات دې.یو قرات بغیر د واو نه هم دې،د اهل مدینه هم دا قرات دې ﴿يَقُوْلُ﴾ دې نو مبتداء دې او دویم قرات ددې ﴿يَقُوْلُ﴾ نو دا (به ﴿فَعَسَى﴾ باندې عطف وی یا ﴿وَاَنْ يَقُوْلُ﴾ دې.

---

۱) الدرالمنثور ۳/۱۰۰،
۲) ابن ابی حاتم: ۱۱۵۶/۴.

Scanned with Ca

د ایت شان نزول:- نود اهل مدینه په نیزددې ایتونو شان نزول دادې چه د جنګ احد نه پس یوسړی اووئیل چه څه دې یهودی سره دوستی کول غواړم چې په موقع ماته فائده راکړی.بل اووئیل چه څه فلانی نصرانی ته ورځم هغه سره دوستی کوم اوځه به د هغه مددکوم.نودې باندې دا آیتونه نازل شو.

حضرت عکرمه ﷺ فرمائی چه د لبابه بن عبدالمنذر ﷺ باره کښې دا آیتونه نازل شوی دی اونبی کریم ﷺ دې بنوقریظه طرفته لیږلې وو نو هغوئ تپوس کړې وو چه رسول الله ﷺ به مونږ سره څه کوی ؟ نوده ورته په اشارې سره په مرئی لاس رابښکلو یعنی تاسو به قتل کړی.یو روایت کښې دی چه دا آیتونه د عبدالله بن سلول باره کښې نازل شو.

حضرت عباده بن صامت خو نبی کریم ﷺ ته اوفرمائیل چه ځما ډیرو یهودو سره دوستی ده خوددې تولودوستئ پریږدم.زمادپاره دالله اود هغه د رسول ﷺ دوستی کافی ده. دې باندې دې منافق اووئیل چه څه مخکښې روستو د سوچ کولو عادی یم،څه به دا اونکړې شم.پته نشته چه په کومه موقع څه کیږی ؟نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ائې عبدالله !ته د عباده نه ډیر نقصان کښې پاتې شوې.نویه دې باندې دا آیتونه نازل شو.

یوروایت کښې دی چه کله بدر کښې مشرکانو ته شکست اوشو نو بعضو مسلمانانو هغه یهودیانوته اووئیل چه کوم دوی سره ملاویدل چه هم دا ستاسودپاره بهتردی.ددې نه مخکښې تاسو دا حق دین قبول کړئی.هغوئ جواب ورکړو چه په څو قریشو چه په جنګ کښې د جنګ د فنونو نه خبر نه وو. فتح حاصلولو نه پس هسې نه مغروره شئ،مونږ سره مو که معامله راغله نو معلومه به شی چه جنګ دې ته وائی.دې باندې د حضرت عباده ﷺ اود عبدالله بن ابی په مینځ کښې هغه خبرې اترې اوشوې چه کومې پورته بیان شوې.هرکله چه دیهودو دې قبیلې سره د مسلمانانو جنګ اوشو نودالله ﷻ فضل سره غالب شو. نواوس عبدالله دوی ته اووئیل چه یارسول الله ﷺ ځما دوستانو په معامله کښې ما باندې احسان اوکړئی،داخلق د خزرج ملګری وو.نبی کریم ﷺ دوی ته هیڅ جواب ورنکړو. ده بیا اووئیل نونبی کریم ﷺ دده نه مخ واړولو. دې په نبی کریم ﷺ پورې انختلو. نبی کریم ﷺ غصه کښې اووئیل چه ما پریږده. هغه اووئیل چه نه یارسول الله اخه به دې هیڅ کله نه پریږدم تردې چه تاسو دده باره کښې احسان اوکړئی،دده ښه پوره غټ جماعت دې.اونن پورې داخلق ځما طرفداردی اودوی به ټول په یوورځ فناشی نومارتلوونکی مصیبتونه ویروی.آخرنبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څه هغه ټول ستادپاره دی.

اویوروایت کښې دی چه کله د بنو قینقاع یهودیانو سره نبی کریم ﷺ جنګ اوکړو اوالله ﷻ هغوئ ته شکست ورکړو. عبدالله بن ابی خو د نبی کریم ﷺ نه مخکښې د دوی ملګری وو. او عباده بن صامت ﷺ ددې باوجود چه د دوی حلیف وو لیکن هغوئ ددوی نه صفا برات اوکړو. نودې باندې دا آیتونه نازل شو. ﴿هُمُ الْغٰلِبُوْنَ۝﴾ پورې (١).

مسنداحمد کښې دی چه ددې منافق عبدالله بن ابی بیمارپرسئ دپاره نبی کریم ﷺ تشریف یوړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ماته ډیرخل ددې یهودو سره د محبت کولونه منع کړې ئې نوده اووئیل چه سعدبن زراره هغوئ سره دښمنی کوله هغه هم مړشو(٢).

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	مَنْ	يَّرْتَدَّ
ائې هغه کسانو! چې ایمان مو راوړې دی!	هغه څوک!	چې واوړیدو	
!..... ائې دایمان خاوندانو که په تاسو کښې څوک دخپل			

١) ابن هشام : ٥٢/٣.

٢) احمد: ٢٠١/٥، ابوداود كتاب الجنائز باب فى العيادة : ٣٠٩٤..

Scanned with Ca

مِنْكُمْ	عَنْ دِيْنِهٖ	فَسَوْفَ	يَأْتِي اللّٰهُ	بِقَوْمٍ	يُّحِبُّهُمْ
ستاسو نه	د دین خپل نه	نو زر به	راولی الله	داسې قوم	چې محبت به کوی (الله) دهغوئ سره
دین نه واوړی	نوالله ﷻ به نور داسې ډیر خلق راپیدا کړی			چې هغوئ به دالله ﷻ خوښ وی	

وَيُحِبُّوْنَهٗٓ	اَذِلَّةٍ	عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ	اَعِزَّةٍ
اومحبت به کوی هغوئ دالله سره	انرم به وی	په مؤمنانو باندې	سخت به وی
او الله ﷻ به د هغوئ خوښ وی	دمسلمانانو دپاره به نرم وی	او د کافرانو دپاره به سخت وی	

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ز	يُجَاهِدُوْنَ	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	وَلَا يَخَافُوْنَ	لَوْمَةَ
په کافرانو باندې	کوشش به کوی	په لاره دالله کښې	اونۀ به ویریږی	د ملامتیا
.....	اودالله ﷻ په لار کښې به جهاد کوی		اود ملامتگر د ملامتیا نه به نۀ ویریږی	

لَآئِمٍ ط	ذٰلِكَ	فَضْلُ اللّٰهِ	يُؤْتِيْهِ	مَنْ	يَّشَآءُ ط
دملامت کونکی نه	دا	فضل دالله دی	چې ورکوی دا	هغه چاله	چې رضائي شی
.....	دادالله ﷻ فضل دی	چې چاته ئې خوښ شی ورکوی ئې			

وَاسِعٌ	عَلِيْمٌ ۝	اِنَّمَا	وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ	وَرَسُوْلُهٗ	وَالَّذِيْنَ
فراخه دی	پوهه دی په هرڅه	بیشکه	دوست ستاسو الله دی	اورسول دهغه دی	اوهغه کسان
ډیر وسعت مالک دی	او په هرڅه پوهه دی	په حقیقت کښې خو ستاسو ملگری الله اودهغه رسول			

اٰمَنُوا	الَّذِيْنَ	يُقِيْمُوْنَ	الصَّلٰوةَ	وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ	وَهُمْ
چې ایمان ئې راوړې دی	هغه	چې قائیموی	مونځ	او ورکوی زکاة	او هغوئ
اوهغه مومنان دی	چې په پابندئ سره مونځونه کوی			اوزکاة ورکوی	او هم دوی

رٰكِعُوْنَ ۝	وَمَنْ يَّتَوَلَّ	اللّٰهَ	وَرَسُوْلَهٗ	وَالَّذِيْنَ
رکوع کونکی دی	اوڅوك چې دوستی کوی	دالله سره	او د رسول دهغه سره	اودهغه کسانو سره
الله ﷻ ته سرتیټوی	.....	اوڅوک چې الله ﷻ سره او د هغه رسول سره او		

اٰمَنُوْا	فَاِنَّ	حِزْبَ اللّٰهِ	هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ۝ ع
چې ایمان ئې راوړو	نوبیشکه	ډله دالله	هم هغوئ غالب دی

مرتد هم خپل نقصان کوی:- الله ﷻ چه قادر او غالب دی ،خبر ورکوی که څوك د دې پاك دین نه مرتدشی نوهغه به دا اسلام قوت کم نکړی.الله ﷻ به د داسې خلقو بدله کښې داسې خلق د دې دین په خدمت کښې مامورکړی.چې د دوی نه به هر حیثیت سره ښه وی.لکه یو آیت مبارك کښې دی چه ﴿وَاِنْ تَتَوَلَّوْا﴾ او آیت ﴿اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ اَيُّهَا النَّاسُ وَيَاْتِ بِاٰخَرِيْنَ﴾ اوبل ځائې کښې فرمائی چه ﴿اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَاْتِ بِخَلْقٍ جَدِيْدٍ﴾ مطلب دادې چې د دې تولو آیتونو چه کوم بیان اوشواوارتداد وائی حق پریښودو ته او باطل طرفته تلو ته.

Scanned with Ca

محمدبن کعب رحمه الله فرمائی چه دا آیت دقریشودسردارانو باره نازل شوې دې.حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه د صدیق ﷺ خلافت کښې چه کوم خلق اسلام نه روستو شوی وو د هغوئ حکم په دې آیت کښې دې.چه د دوی په بدله کښې د کوم قوم ورکولو وعده کولی شی دا اهل قادسیه دی یا قوم سبا دی یا اهل یمن دی اوددوی تعلق د کنده او سکون قبیلو سره دې.

یودیرغریب مرفوع حدیث مبارك کښې مخکښې بیان شوی دی. چه دوی حضرت ابوموسی اشعری ﷺ طرفته اشاره کړې ده او فرمائیلی ئې دی چه دا د دوی قوم دې .([1]) ددی کامل ایمان والوصفت بیانیږی چه دوی خپلو دوستانو یعنی د مسلمانانو مخکښې دوی بالکل نرم وی او د کافرو مقابله کښې دوی مضبوط،دهغونی دپاره تندر اوپه هغوئ تیز دی.لکه فرمائی چه ﴿أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلْكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيْنَهُمْ﴾،د نبی کریم ﷺ صفتونو نه دی چه نبی کریم ﷺ ضحوك وو،قتال وو یعنی ددوستانو مخکښې خندا خوشحالئ والا او ددښمنانو دپاره سخت او جنګ کوونکې وو.

دمسلمانانو صفات:- چه کوم ریښتونی مسلمانان وی نو هغوئ د جهاد نه مخ نه اړوی،نه شا کوی،نه ستړی کیږی،نه بزدله کیږی،او نه آرام غواړی،نه د څه مروت دپاره راځی،نه ورته د چا دملامتیا ویره وی،دوی برابر د الله ﷻ اطاعت کښې مشغول وی،دالله ﷻ دښمنانو سره جنګ کوی،دنیکئ حکم کولو کښې،د بدو نه منع کولوکښې مشغول اوسی.

داووه خبرو حکم:-حضرت ابوذر ﷺ فرمائی چه ماته ځما خلیل د اووه (٧) خبرو حکم کړې دې ①مسکینانو سره د محبت کولو اودوی سره دکیناستو② د نیاوی امورو کښې خپل ځان نه کم درجې والاخلقو ته دکتلو اوخپل ځان نه چه کوم خلق پورته وی هغوئ ته د نه کتلو ③ د صله رحمئی کولو اګر چه نور ئې نه کوی ④ او چانه د سوال نه کولو ⑤ اود حق خبرې د بیانولو اګر چه هغه ټولو باندې ترخه لګی ⑥ ددین معاملاتو کښې د ملامته کونکی د ملامتیا نه نه ویریدل ⑦ کثرت سره لا حول ولا قوة الا بالله وئیل ځکه چه دا کلمه دعرش د لاندې د خزانه ځنی ده .([2]) (مسند احمد).

اویو روایت کښې دی چه ما نبی کریم ﷺ نه پنځه ځل بیعت کړې دې.اوماته نبی کریم ﷺ د اووه خبرو حکم کړې دې او زه الله ﷻ په خپل ځان ګواه کوم چه څه به دالله ﷻ د دین باره کښې د یوبد هېڅ پرواه اونه کړم. نبی کریم ﷺ څه راوغوښتلم او وې فرمائیل چه آیا ځما نه به د جنت بدله کښې بیعت اوکړې ؟مادامنظور کړل او لاس مې وراوږد کړو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د چا نه څه مه غواړه،ماووئیل ډیره ښه ده، اګر چه کوړه هم وی یعنی که هغه غوزاره شی نو هم پخپله د سورلئ نه راکوزشه ([3]).(مسند احمد).

د چا نه ویره نه دی کول پکار:- نبی کریم ﷺ فرمانی چه د خلقو د هیبت په وجه د حق نه مه اوړه.یاد ساته چه نه څوك تا مرګ ته نزدې کولې شی اونه ستا نه رزق لرې کولې شی ([4]).

د نهی عن المنکر حکم:- اوګورئی دامام احمد سند. فرمائی چه کله خلاف شرع کار اوګورې یا ئې واورئ نو خپل ځان کمزوری کتلو سره خاموش مه پاتې کیږه. الله ﷻ به ددې تپوس کوی. په هغه وخت

---

[1]) حاکم: ٣١٣/٢، وسنده صحیح.مجمع الزوائد: ١٦/٧ ابن ابی شیبة: ١٢٥/١٢، الطبقات: ١٠٧/٤.

[2]) احمد: ١٥٩/٥، المعجم الاوسط: ٥٦٣٥، وسنده حسن

[3]) احمد: ١٧٢/٥،.

[4]) احمد : ٥٠/٣، المعجم الاوسط: ٢٧٢٥، مجمع الزوائد: ٢٦٥/٧.

Scanned with Ca

کښې به لنسان جواب ورکړی چه څه خلقو نه ویریدم (۱) نو الله ﷻ به اوفرمانی چه څه د دې زیات حقدار ووم چه ته ځما نه ویریدې وې .(۲) (ابن ما جه)

د وس نه زیات بوج اوچتولو ممانعت:- یوبل صحیح روایت کښې دی چه د مومن دپاره نه دی پکار چه خپل ځان پخپله په ذلت کښې واچوی. صحابه کرام ﷺ تپوس اوکړو چه دا څنګه ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمانیل چه تکلیفونه په خپل سر واخلی او ددې په ده کښې طاقت نه وی .(۳)

قوله تعالی:: فَضْلُ اللهِ يُؤْتِيهِ مَنْ يَشَآءُ

دالله فضل په بعضو کیږی:- بیافرمانی چه دالله ﷻ فضل دې چه چاته غواړی نو ورکوی یعنی دکامل ایمان دا صفتونه خاص دالله ﷻ ورکړه ده،هم د دې دوی ته توفیق ملاویږی.د هغه فضل ډیر وسیع دې،هغه کامل علم والا دې،هغه ته ښه معلوم دی چه د دې ډیر لوئې نعمت مستحق څوک دې ؟

دوستی چا سره پکار ده؟:- بیاارشاد دې چه ستاسو دوستان کافران نه دی بلکه حقیقت کښې تاسو ته پکاردی چه الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ اومومنانو سره دوستی اوساتئ.مومن هم هغه دې چه په چا کښې دا صفتونه وی چه هغوئ د مونځ پوره پابند وی او دا د اسلام یو اعلی او بهترین رکن دې اوصرف دالله ﷻ حصه ده،اوزکوة ورکوی اودا د الله د ضعیف اومسکین بندګانو حق دې،

د قول تردید:- ددې آخری جملې باره کښې بعضو خلقو ته وهم شان شوې دې چه دا ﴿وَيُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ﴾ نه حال واقع دې یعنی د رکوع حالت کښې زکوة ورکوی.دا بالکل غلط دی،که دا اومنلې شی نو دا به ښکاره ثابت شی چه د رکوع حالت کښې زکوة ورکول افضل دی.حالانکه هیڅ یو عالم د دې قائل نه دې.دې وهم والو خلقو دلته یو واقعه بیان کړې ده چه حضرت علی ﷺ د مونځ رکوع کښې وو چه یو سائل راغلو نو دوی ورته خپله ګوتمه ورکړه دمومنانو ﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا﴾ نه مراد په قول د عتبه ﷺ ټول مسلمانان اوحضرت علی ﷺ دې. نو دې باندې دا آیت مبارک نازل شو.یومرفوع حدیث کښې هم د ګوتمې واقعه ده.اوبعضو نورو مفسرینو هم دا تفسیرکړې دې. لیکن سند د یو هم صحیح نه دې.رجال هم ثقه او ثابت نه دی.نوداواقعه بالکل غلطه اوغیر ثابت ده.اوصحیح نه ده.

صحیح شان نزول:- صحیح هغه دی چه کوم مونږ مخکښې بیان کړل چه دا ټول آیتونه د حضرت عباده بن صامت ﷺ باره کښې نازل شوی دی.هرکله چه هغوئ ښکاره یهودو سره دوستی پریښوده نو الله ﷻ اود هغه رسول ﷺ او ایمان والو خلقو سره په دوستئ راضی شو.د دې وجې د دې ټولو آیتونوآخرکښې فرمان اوشو چه کوم سړي الله اود هغه رسول او مومنانو سره دوستی ساتی نو هغه د الله ﷻ لښکرکښې شامل دې.او هم دا دالله ﷻ لښکر غالب دې لکه د الله تعالی فرمان دې چه ﴿كَتَبَ اللهُ لَاَغْلِبَنَّ اَنَا وَرُسُلِيْ﴾ الخ، یعنی الله ﷻ لیکلی دی چه څه او ځما رسول به غالب وی.الله ﷻ باندې او په آخرت باندې ایمان راوړونکی خو دالله ﷻ او د رسول دښمنانو سره هیڅ کله دوستی کونکی اونه مومی،اګر چه هغه پلار وی،یا خوئې،یا رور او د خاندان او قبیلې خلق وی.هم دا خلق دی چه د دوی په زړونو کښې الله ﷻ ایمان لیکلې دې او خپل روح سره ئې د دوی تائید کړې دې.دوی به الله ﷻ هغه جنتونو ته داخل کړی چه هغې لاندې نهرونه بهیږی،اودوی به هلته همیشه وی.دوی نه الله ﷻ راضی دې.دوی د الله ﷻ نه خوشحاله وی.هم دا د الله ﷻ لښکر دې او د الله ﷻ لښکر فلاح موندونکې دې.نو څوک چه د الله ﷻ

---

۱) ابن ماجه کتاب الفتن باب المر والنهی عن المنکر : ٤٠٠٨، احمد: ٣/٧٣،

۲) ابن ماجه کتاب الفتن باب قوله تعالی (یاایهاالذین امنوا علیکم انفسکم) :٤٠١٧، وسنده حسن.

۳) ترمذی کتاب الفتن باب لایعترض من البلاء لما لا یطیق : ٢٢٥٤.

Scanned with Ca

اودهغه د رسول ﷺ او دمومنانو په دوستئ راضی وی نو هغه دنیا کښې کامیاب دې او اخرت کښې فلاح موندونکي دي.هم ددې وجې نې دا آیت مبارك په دې جمله ختم کړو.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ	اتَّخَذُوْا	دِيْنَكُمْ هُزُوًا	
اې هغه کسانوچې ایمان موراوړې دې	امنه نیسئ	هغه کسان	چې نیولې دې هغوئ	ادین ستاسو په توقو	
اې مسلمانانو هغې خلقوسره دوستی مه کوئ	.....			چې ستاسودین پسې توقې	
وَّلَعِبًا	مِّنَ الَّذِيْنَ	اُوْتُوا	الْكِتٰبَ	مِنْ قَبْلِكُمْ	
اولوبو سره	دهغه کسانونه	چې ورکړې شوې دې ورته	کتاب		مخکښې ستاسونه
اومسخرې کوی	که ستاسونه	مخکښې اهل کتاب دی	نودوی سره هم دوستی مکوئ		
وَالْكُفَّارَ	اَوْلِيَآءَ ۚ	وَاتَّقُوا اللّٰهَ	اِنْ كُنْتُمْ	مُّؤْمِنِيْنَ ۝٥٧	وَاِذَا
او کافران	دوستان	او اوویریږئ	دالله نه	که چرې یئ تاسو	مؤمنان	اوهرکله چې
اوکه کافران دی	اودالله ﷻ نه ویره کوئ	که تاسو په سچه مسلمانان یئ			.....او چې
نَادَيْتُمْ	اِلَى الصَّلٰوةِ	اتَّخَذُوْهَا	هُزُوًا	وَّلَعِبًا ؕ	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ
رابلئ تاسو	مانځه ته	انو نیسی دوی اذان لره	په توقو	اولوبو سره	دالوبې توقې	په سبب ددې چې دوئ
تاسو دمونځ دپاره آذان کوئ	انو دوی په هغې پسې توقې اومسخرې کوی					داځکه چه دوئ
قَوْمٌ	لَّا يَعْقِلُوْنَ ۝٥٨					
داسې قوم دې	چې نه لری عقل					
دعقل نه کار نه اخلی						

د غیرمسلمو سره د محبت ممانعت:-الله ﷻ مسلمانانو ته غیرمسلمو سره د محبت نه نفرت باره کښې وانې اوفرمائی چه آیاتاسودهغه چا سره دوستئ کوئی چه کوم ستاسو د طاهر او پاك دین پورې خنداکوی اودا نې هسې لوبې توقې کنړلی دی .

د ،،من،، اعرابی تشریح:- ﴿من﴾ بیان د جنس دپاره دې لکه ﴿مِنَ الْاَوْثَانِ﴾ کښې.بعضو ﴿وَالْكُفَّارَ﴾ لوستی دی او عطف نې پرې کړې دې.بعضو ﴿وَالْكُفَّارَ﴾ لوستې دې اود ﴿لَا تَتَّخِذُوا﴾ نې معمول جوړ کړې دې نو تقدیر د عبارت ﴿وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ﴾ به وی.کفارو نه مراد مشرکان دی .د حضرت ابن مسعود ﷺ قرات کښې ﴿وَمِنَ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا﴾ دی.

الله ﷻ نه ویریږئ اودوی سره دوستی مه کوئی که تاسو رینبتونی مسلمانان یئ.دوی خو تاسو سره،او الله ﷻ سره او ستاسو دین سره دښمنی کوی.لکه فرمائی چه ﴿لَا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ چې مومنان پریږدی او کافرانو سره دوستی کوی نودالله ﷻ د طرفنه هغه سره هیڅ ښیګړه نشته دې.خو که د هغوی (د ضرر نه) نه بچ کیدل مقصود وی نو دا بله خبره ده.او الله ﷻ تاسود خپل ذات نه ویروی.اوتاسو به الله ﷻ طرفته رجوع کوئی.داسې دا اهل کتاب او مشرکان هم په هغه وخت کښې تاسو پورې خندا کوی.کله چې تاسو مونځونو دپاره آذان کوئ حالانکه دا دالله ﷻ د ټولونه زیات خوښ عبادت دی.لیکن دا بې وقوفه دومره هم نه پوهیږی خکه چه دوی د شیطان تابعدار دی او د دې اهل کتابو مشرکانو دا حالت دې چه کله دوی د آذان آواز واوری نو دوی خپلو غوږونو کښې ګوتې ورکړی او تښتی.او هغه ځائې ته ځان

Scanned with Ca

رسوی چه کوم خانې داذان اواز نشی اوریدې او دې نه پس دوني بیا راخی.بیا تکبیر اوریدو سره دوی ننبتی.ددې ختمیدو سره واپس راخی او خپلو وسوسو اچولو کښې اخته شی.او انسان ته د یو خوا بل خوا غلطې خبرې ورپه یاد کوی.تردې چه دوی ته ددې هم خبرنه وی چه مونځ څو رکعته دې ؟ هرکله چه داسې اوشي نو دوه سجده سهوه دې اوکړی (١). (متفق علیه)

امام زهری رحمه الله فرمائی چه د اذان ذکر قران پاك کښې دلته هم دې،بیا نې هم دا آیت تلاوت کړو .(٢)

دیو نصرانی په اور سوزیدل:- یونصرانی چې به په اذان کښې کله «أشهد أن محمدا رسول الله» واوریدل نو ونیل به نې چه دروغژن دې اوسوزی.یوځل د شپې دده نوکرې کور کښې اور بل کړې وو،یو بځرنی والوتو اودې سره پخپله ټول کور اوسوزیدو.

دنبی کریم ﷺ په خبرور کولو ایمان راوړل:- دفتح مکه په کال نبی کریم ﷺ حضرت بلال رضي الله عنه ته کعبه کښې د اذان کولو حکم ورکړو.دې ته نزدې ابوسفیان بن حرب،عتاب بن اسیداوحارث بن هشام ناست وو. عتاب اووئیل خما مور پلار باندې الله ﷻ احسان اوکړوچه د دې آذان آوریدو نه مخکښې مخکښې نې ددې دنیا نه فنا کړل ځکه چه دا خو غصه ورکونکې آواز دې.حارث اووئیل که ما دا ربنتیا ګنړلې نو منلې به مې وې.ابو سفیان اووئیل چه څه خو د ژبې نه هیڅ نه اوباسم.ماته ویره ده چه هسې نه داکانړی هغوئ ته خبر ورکړی.دوی لا خبرې نه وې ختمې کړې چه په دې کښې نبی کریم ﷺ راغلل او وې فرمائیل چه په دې وخت کښې تاسو دا خبرې اوکړې.ددې اوریدو سره عتاب او حارث اووئیل چه مونږ ګواهی ورکوو چه ته د الله ﷻ رسول نې.ځکه چه دلته څوك څلورم څوك نشته دې چه ګنی مونږ دا ګمان اوکړو چه هغه به دا تاسو ته وئیلی وی.(سیرة محمدبن اسحاق).

حضرت عبدالله بن محیریز رحمه الله چه کله د شام سفر ته روانیدل نو حضرت ابومحذوره رضي الله عنه چه هغه سره دوی د خپلې یتمیئ ورځې تیرې کړې وې چه هلته به ستاسو د اذان متعلق به ځما نه خلق تپوس کوی.نو تاسو خوماته خپل واقعات اووائې.وې فرمائیل چه واوره کله چه نبی کریم ﷺ حنین نه واپس راتلو نو لاره کښې مونږ خلق یو خائې کښې وو اودمونځ وخت شو اود نبی کریم ﷺ موذن اذان اووئیلو. مونږ هغه پسې خنداوتوقې شروع کړې چه هسې نه ځمونږ غوږونو کښې د دې آذان راشی،یو سپاهی راغلو اومونږ نې دوی ته بوتلو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه تاسو کښې د ټولو نه اوچت آواز د چا وو ؟ ټولوما طرفته اشاره اوکړه.نو نبی کریم ﷺ نور ټول پریښودل او ځه نې ایسار کړم او وې فرمائیل چه پاسه او اذان اووایه.په الله قسم په هغه وخت کښې د رسول الله ﷺ د ذات نه زیات خراب څیز ماته بل څه نه وو د دې وجې چه هغوی راته د اذان کولو حکم کولو خو بې بس ولاړ اوم. نو بیا ماته پخپله نبی کریم ﷺ آذان اوخودلو او نبی کریم ﷺ ماته خودل اوما وئیلو (بیا آذان پوره شو) هرکله چه آذان نه فارغ شوم نونبی کریم ﷺ ماته یو تهیلئ راکړه چه په هغې کښې چاندی وه،بیا نې خپل لاس مبارك خما په سر کیخودو او تر ملا نې رانښکلو.

د ابومحذوره رضي الله عنه ایمان راوړل:- بیافرمائی چه الله ﷻ دې تا برکتناك کړی. دې سره زما په زړه کښې چه د رسول الله ﷺ خلاف کومه دشمنی وه هغه اووتله. او ددې په ځای ځما زړه کښې نبی کریم ﷺ سره محبت پیدا شو.ما خواهش اوکړو چه د.مکې موذن نبی کریم ﷺ ما جوړکړی. نبی کریم ﷺ ځما دا

(١) صحيح مسلم كتاب السهو باب اذا لم يدر كم صلى ثلاثا اواربعا سجدتين : ١٢٣١.
(٢) ابن ابی حاتم : ١١٦٤/٤.

Scanned with Ca

درخواست منظور کړو اوخه مکې ته لاړم او هلته کورنر حضرت عتاب بن اسید سره مې ملاقات اوکړو اود موذن فرائض ئې ماته اوسپارل .(١)

د ابومحذوره ﷺ نوم:- د حضرت ابومحذوره ﷺ نوم سمره بن معیر بن لوذان وو. د نبی کریم ﷺ څلورو موذنانو کښې یو دوی هم وو. او ډیر وخت پورې دوی د مکې موذن پاتې شو.

قُلْ	يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ	هَلْ تَنْقِمُوْنَ	مِنَّآ			
اووایه ائې نبی	ائې اهل کتابو	آیا تاسو کینه لرئ	زمونږ سره			
دوئ ته اووایه چې اهل کتابو تاسوزمونږ نه نور څه بد نه ګڼئ						
اِلَّآ	اَنْ اٰمَنَّا	بِاللّٰهِ	وَمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْنَا	
صرف په دې خبره چې ایمان راوړې دې مونږ په الله باندې اوپه هغه کتاب باندې اوپه هغه کتاب چې نازل شوې دې مونږ ته						
خو بس دا چې مونږ په الله ﷻ باندې ایمان راوړې دې اوپه هغه کتاب چې مونږ ته نازل شوې دې						
وَمَآ	اُنْزِلَ	مِنْ قَبْلُ ۙ	وَاَنَّ	اَكْثَرَكُمْ	فٰسِقُوْنَ ۝	قُلْ هَلْ
اوپه هغه چې نازل شوې وؤ	مخکښې	اوبیشکه	زیات له تاسو	فاسقان دی	اووایه	آیا
اوپه هغه کتاب چې زمونږ نه مخکښې نازل شوې دې اوپه تاسو کښې اکثر خلق نافرمان دی ائې پیغمبره ورته اووایه						
اُنَبِّئُكُمْ	بِشَرٍّ	مِّنْ ذٰلِكَ	مَثُوْبَةً	عِنْدَ اللّٰهِ ؕ	مَنْ	
زهٔ خبر درکړم تاسو ته اپه زیات خراب انسان	ددې نه	اپه لحاظ دانجام	اپه نزد د الله	هغه څوک دې		
چې آیا تاسوته حال بیان کړم چې دالله ﷻ په نیز د دې (فسق) نه زیات خراب انجام د چا دې ادهغه چا چې						
لَعَنَهُ	اللّٰهُ	وَغَضِبَ	عَلَيْهِ	وَجَعَلَ	مِنْهُمُ	
چې لعنت کړې دې په هغه الله	اوغضب ئې کړې دې	په هغه	اوجوړ کړې ئې دی	دځینو دهغوئ نه		
الله ﷻ پرې لعنت کړې وی	.....او غضب ئې پرې کړې وی			.....او چې دچا نه ئې		
الْقِرَدَةَ	وَالْخَنَازِيْرَ	وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ؕ	اُولٰٓئِكَ	شَرٌّ	مَّكَانًا	
شادوګان	اوخنزیران	اوبندګی ئې اوکړه د شیطان	هم دا کسان	ډیر بد دی	اپه لحاظ دمرتبې سره	
شادوګان اوخنزیران جوړ کړې دی اوچې دشیطان عبادت کوی			ددې اسې خلقوځائې ډیربدترین دې			
وَّاَضَلُّ	عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ۝	وَاِذَا	جَآءُوْكُمْ	قَالُوْٓا	اٰمَنَّا	
اوډیر بې لارې دی	دنیغې لارې نه	اوهرکله چې	راشی تاسو ته	اوائی	چې ایمان راوړې دې مونږ	
اودسمې لارې نه ګمراه شوې دی	.....کله چې دا خلق تاسوته راشی انووائی چې مونږ ایمان راوړې دې					

---

(١) احمد: ٤٠٩/٣، صحیح مسلم کتاب الصلاة باب صفة الاذان : ٣٧٩، ابو داود : ٥٠٣، مختصرا بیهقی : ٣٩٣/١. نسائی: ٦٣٣.

Scanned with Ca

وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ
اوحال دا چې بې شکه	دوئ ننوتی وؤ	دکفر سره	اودوئ	بیشکه وتلی دی	ددې سره	اوالله
خو حقیقت دادې چې په حالت د کفر کښې راغلی وؤ	اوهم په حالت د کفر کښې واپس لاړل	اودوی چې
اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ ﴿۶۱﴾ وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ
ښه پوهه دې	په هغه څه	چې ووُ دوئ	چې پټول به ئې	اوته وینې	ازیات خلق	ددوئ نه
څه پټوی هغه الله تعالی ته ډیرښه معلوم دې |.....اوته به په دوئ کښې ډیر کسان وینې ګورې چې
يُسَارِعُوْنَ فِي الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ
چې منډې وهی	په ګناه کښې	اوپه ظلم کښې	اوپه خوړلو د دوی(کښې)	احرامو لره	خامخا بددې
ګناه او ظلم او حرامو خوړلو ته به په منډه منډه ورځی |.....اودا ډیر
مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۶۲﴾ لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ
هغه	چې ووُ دوئ	چې کول به ئې	ولې	نه منع کوی دوئ لره	عالمان	اوپوهان
بدکارونه دی کوم چې دوئ کوی |.....ددوئ عالمان او پوهه خلق ولې دوی
عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا
د دوی د ګناه د خبرو نه	اودخوړلو ددوئ	حرامو لره	خامخا ډیر بد دې	هغه کار
دګناه د خبرو نه او د حرام خوړلونه نه منع کوی	.....حقیقت دا دې	چې دوی ډیرښه
كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿۶۳﴾
چې دی دوئ	چې کوی نې
کارونه کوی

داهل کتابو مسلمانانو سره د بغض وجه- حکم کیږی چه کوم اهل کتاب ستا د دین پورې توقې کوی هغوئ ته اووایه چه تاسو مونږ سره کومه دشمنی جوړ کړې ده ددې وجه ددې نه سوا نشته دې چه مونږ په الله ﷻ اودهغه په کتابونو ایمان راوړو. نو اصل کښې دا وجه د بغض نه وه او نه ددې سبب مذمت وو.دا استثناء منقطع ده او آیت کښې دی چه﴿وَمَانَقَمُوْٓا منهم﴾ یعنی صرف په دې وجه هغوئ (کافرانو) دوی(مسلمانانو) سره دښمنی کړې وه چه الله ﷻ عزیز اوحمید ئې منلو. اولکه یو آیت مبارک کښې دی چه ﴿وَمَانَقَمُوْٓا اِلَّآ اَنْ اَغْنٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ مِنْ فَضْلِهٖ﴾ یعنی هغوئ صرف په دې وجه چه الله ﷻ په خپل فضل سره او رسول الله ﷺ ورته مال ورکړې دې اوهغوئ ئې غنیان کړی دی. بخاری او مسلم کښې حدیث مبارک دې چه ابن جمیل هم ددې بدله اخلی اودې فقیر وو اوالله تعالی هغه غنی کړو(۱).

زیات خلق فاسقان دی- اودا چه تاسوکښې اکثرد صراط مستقیم نه جدا اوخارج دی.تاسو چه څمونږ باره کښې ګمان کوئ نو راشئ چه څه تاسو ته اووایم چه الله ﷻ سره بدلې مونکو کښې څوک بدتردې او هغه تاسو یئ څکه چه دا خصلتونه تاسو کښې موندې شی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الزکاة باب قول الله تعالی (وفی الرقاب والغارمین وفی سبیل الله) : ۱٤٦۸، صحیح مسلم: ۹۸۳.

Scanned with Ca

په یهودیانو مختلف عذابونه:- یعنی په چا چه الله تعالی لعنت کړي دي دخپل رحمت نه ئې لرې کړی دی. په هغوئ عذاب نازل شو،په هغوئ غصه شو،داشان چه دې نه پس نه راضی کیدو او په هغوئ کښې ئې دبعضو شکلونه بدل کړل او هغوئ نه ئې شادوګان او خنزیران جوړ کړل.ددې پوره بیان په سورة بقره کښې تیر شوې دي. نبی کریم ﷺ نه سوال اوشو چه دا شادوګان او خنزیران هم هغه وو ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه په کوم قوم باندې عذاب نازل شی نو د هغوئ هیڅ نسل باقی نه پاتې کیږی.ددې نه مخکښې هم شادوګان او خنزیران وو.داروایت مختلفو الفاظو کښې صحیح مسلم او نسائی کښې بیان شوې دي (١).

مسند کښې دی چه د جناتو یوقوم نه ماران جوړ کړې شوی وو. لکه څنګه چه شادوګان اوخنزیران جوړ کړې شوی وو (٢).دا حدیث مبارك غریب دي

اوپه دوی کښې بعضې د غیر الله ﷻ عبادت کونکی شو. یو قرات کښې اضافت سره طاغوت پد زیرسره هم دي.یعنی دوې ئې د بتانو غلامان جوړ کړل.حضرت بریده اسلمی رحمه الله به دا ﴿**عابد الطاغوت**﴾ لوستلو.ابوجعفر قاری رحمه الله نه ﴿**وعُبدَالطاغوت**﴾ هم منقول دي.بیا دې معنی کښې لرې والې دي.لیکن فی الواقع لرې والې نه دي.مطلب دادې چه تاسو هغه یئ چه په هغوئ کښې د طاغوت عبادت کړې شوې وو.الغرض اهل کتاب باندې الزام لګولې شی چه مونږ باندې خوعیب لګوئی حالانکه مونږ موحدین یوصرف دیوالله ﷻ برحق منونکی یو او تاسو خو هغه یئ چه تاسو کښې دا ټولې خبرې مونږ شی.ددې وجې ئې خاتمه کښې اوفرمائیل چه هم دا خلق د قدرومنزلت په اعتبار سره خراب دی او د راستئ اعتبار سره ډیر لرې پریوتی دی.دې افعل التفضیل کښې بل طرفته هیڅ نشته دي. دلته هډو مشارکت نشته لکه آیت کښې دی چه ﴿أَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّأَحْسَنُ مَقِيلًا۝﴾

د منافقانو د ایمان نفی:- بیادمنافقانو یو بدخصلت بیانیږی چه په ظاهره خو دوی د مومنانو سره د ایمان اظهار کوی خو ددوی باطن دکفر نه ډك دي.دوی چه کله تاسو ته راشی نو دکفر حالت کښې وی او کله چه تاسو نه ځی نو د کفر حالت کښې ځی.ستا خبرې او ستا نصیحتونه په دوی هیڅ اثر نه کوی.دا پرده داری به د دوی څه پکار راشی.چه چا سره دوئ مخامخ کیږی هغه عالم الغیب دي،د زړونو رازونه ورته ښه معلوم دی،دوی چه کله هلته لارشی نو دوی ته به پوره پوره بدله ملاویږی.ته ګورې چه دوی ګناهونو باندې،حرام کارونو باندې،او باطلو خلقو سره په حرام مال څنګه چپتې وهی.د دوی عملونه ډیر خراب دی.د دوی اولیاء یعنی عابدان عالمان اود دوی علماء دوی ددې خبرې نه ولې نه منع کوی ؟ اصل کښې ددې عالمانو اوپیرانو عملونه هم خراب دی.حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه د عالمانو او فقیرانو دپاره د دې آیت نه زیات سخت آیت په قران پاك کښې نشته.

دعلی رضی الله عنه خطبه:- حضرت ضحاك ! نه هم داسې منقول دی چه حضرت علی رضی الله عنه خپله خطبه کښې د الله ﷻ د حمد وثناء نه پس اوفرمائیل چه انې خلقو !تاسو نه مخکښې خلق په دې وجه هلاك شو چه هغوئ به بدئی کولې او د دوی عالمان او الله والا خلق خاموش وو. هرکله چه دا عادت دوی کښې خور شو نو الله ﷻ دوی ته رنګ په رنګ سزا ګانې ورکړې.نو تاسو ته پکار دی چه دنیکئ حکم کوئی او د بدئی نه منع کوئی،دې نه مخکښې چه تاسو باندې هم هغه عذاب راشی چه ستاسو نه مخکښې خلقو باندې

---

١) صحیح مسلم کتاب القدر باب بیان ان الاجال والارزاق وغرها: ٢٦٦٣، احمد: ١/٤١٣.

٢) احمد: ١/٣٤٨، وسنده صحیح طبرانی:١١٩٤٦، مسند ابی یعلی:١٢٣٢، ابن حبان : ١٠٨٠، داروایت موقوف صحیح دي.

Scanned with Ca

راغلي وو. يقين اوكړئ كه تاسو د نيكئ حكم نه كوئ اود بدئ نه منع نه كوئ نو ستاسو روزئ به كمې شي اونه به تاسوله مرګ نزدې رازي.

دنهي عن المنكر نه ګولو وعيد:- دنبي كريم ﷺ فرمان دي چه په كوم قوم كښې دالله ﷻ نافرمانئ كيږي او هغه خلق د قدرت نه باوجود دا خلق منع نه كړي نو الله تعالى په ټولو عذاب نازلوى (١). (مسند احمد) ابوداود كښې دى چه دا عذاب به ددوى دمرګ نه مخكښې په دوى راځى (٢). ابن ماجه كښې هم دا روايت شته (٣).

وَقَالَتِ	الْيَهُوْدُ	يَدُ اللّٰهِ	مَغْلُوْلَةٌ ؕ	غُلَّتْ
	اووايئ	يهوديان	چې لاس دالله	تړلې شوې دې
	.....اويهوديان وائى چې دالله ﷻ لاسونه تړلې شوى دى			تړلى خو
اَيْدِيْهِمْ	وَلُعِنُوْا	بِمَا	قَالُوْا ۘ	بَلْ يَدٰهُ
لاسونه ددوئ	اولعنت كړې شوې دي په دوئ	په سبب دهغه	چې وائى دوئ	بلكه ادواړه لاسونه د هغه
ددوئ لاسونه دى	او د دې وينا كولوپه وجه په دوئ باندې لعنت وئيلې شوې دې			بلكه دالله ﷻ
مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ	يُنْفِقُ	كَيْفَ	يَشَآءُ ؕ	وَلَيَزِيْدَنَّ	كَثِيْرًا	مِّنْهُمْ
فرانبه دى	اخرچ كوى	څنګه چې	غواړى هغه	اوخامخا زياتوى	ډيرو خلقو لره	د دوئ نه
لاسونه خو پرانيستې دى	چې څنګه غواړى هغه شان خرچ كوى			حقيقت دادې چې تاته دالله ﷻ دطرفنه		
مَّآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	مِنْ رَّبِّكَ	طُغْيَانًا	وَّكُفْرًا ؕ	
هغه كلام	چې نازل كړې شوې دې	تاته	دطرفه درب ستانه	په سركشئ سره	اوپه كفر سره	
كوم كتاب نازل شوې دې	هغه په دوئ كښې دډيروخلقو دپاره دسركشئ اوكفرسبب ګرځيدلې دې					
وَاَلْقَيْنَا	بَيْنَهُمُ	الْعَدَاوَةَ	وَالْبَغْضَآءَ	اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ		
اواچولې ده مونږ په منځ ددوئ كښې	دشمنى	اوبغض	دورځې دقيامت پورې			
(اوددې په سزا كښې) مونږ ددوئ په منځ كښې ترقيامته پورې دښمنى اوبغض واچولو						
كُلَّمَآ	اَوْقَدُوْا	نَارًا	لِّلْحَرْبِ	اَطْفَاَهَا	اللّٰهُ ۙ	وَيَسْعَوْنَ
هركله چې	بل كړو دوئ	وور	دپاره دجنګ	مړكړو هغه	الله	اوكوشش كوى دوئ
چې كله هم دوئ دجنګ اور بل كړى	نو الله ﷻ به ئې مړ كوى					.....اودوئ كوشش كوى
فِى الْاَرْضِ	فَسَادًا ؕ	وَاللّٰهُ	لَا يُحِبُّ	الْمُفْسِدِيْنَ ۝	وَلَوْ اَنَّ	اَهْلَ الْكِتٰبِ
په زمكه كښې	دفساد	اوالله	نه خوښوى	فساد كونكى	اوكه بيشكه	اهل كتابو
چې دزمكې په مخ فساد خور كړى	او فسادیان خودالله ﷻ بالكل ناخوښه دى				كچرې دې	اهل كتابو

---

١) احمد: ٣٦٣/٤، المعجم الكبير : ٢٣٧٩

٢) ابوداود كتاب الملاحم باب الامر والنهى : ٤٣٣٩،

٣) ابن ماجه كتاب الفتن باب المر والنهى عن المنكر : ٤٠٠٩ وهو حسن.

Scanned with Ca

اٰمَنُوْا	وَاتَّقَوْا	لَكَفَّرْنَا	عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ
ایمان راوړي وي | اوتقوی ني اختیار کړي وي|نو خامخا به لري کړي وي مونږه | دهغوئ نه| ګناهونه دهغوئ			
ایمان راوړي وي |او پرهیزګاران جوړ شوي وي | نو مونږ به دوئ ته ګناهونه معاف کړي وؤ			
وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ	جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝	وَلَوْ اَنَّهُمْ	اَقَامُوا
اوخامخا به داخل کړي وي مونږ هغوئ لره| جنتونو |دنعمتونو ته |اوکه | بیشکه دوئ | قائم کړي وي			
اودوئ به مودنعمتونو ډکوباغونوته داخل کړی وؤ|..... او که چرې دوئ			
التَّوْرٰىةَ	وَالْاِنْجِيْلَ	وَمَآ اُنْزِلَ	اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ
توراة | اوانجیل | اوهغه |چې نازل کړي شوي دي| دوئ ته | دطرفه درب ددوئ نه			
په تورات او په انجیل اوپه هغې کتابونو چې د الله ﷻ دطرفنه ورته راغلی دی قائم ولاړ وي			
لَاَكَلُوْا	مِنْ فَوْقِهِمْ	وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ	مِنْهُمْ
نوخامخا به نې خوراک کولې| دپاس خپل نه| او د لاندې | د پښو خپلو نه | ځینی ددوئ نه			
نودبره نه به پرې رزق راوریدلو | او دښکته نه به ورته راتوکیدو|..... په دوئ کښې			
اُمَّةٌ	مُّقْتَصِدَةٌ ؕ	وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ	سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ۝
څه خلق دی| انصاف والا | اوزیات | ددوئ نه |ډیر بد عمل دي|هغه | چې کوی نی دوئ			
یوه ډله په سمه لار هم روانه ده | خوزیات خلق په کښې ډیر بدکاره دی			

دیهودیانو الله ته د بخل نسبت کول:- الله تعالی د ملعونیانو یهودیانو یو خباثت بیانوی چه دوی به الله ﷻ ته بخیل ونیلو. هم دا خلق الله ﷻ ته فقیر هم وائی.دالله ﷻ ذات د دې ناپاکې مقولې نه ډیر زیات اوچت دي،دوی وائی چې د الله ﷻ لاسونه تړلې شوی دی،ددې نه د دوی مطلب دا نه وو چه لاسونه ئې تړلې شوی دی.بلکه مراد ددې امر نه بخل وو. هم دا محاوره قرآن پاک کښې بل ځائې کښې هم شته دي،فرمائی چه ﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُوْلَةً اِلٰى عُنُقِكَ﴾ یعنی خپل لاسونه خپل څټ سره مه تړه اومه ئې د حد نه زیاتی خوروني چه بیا تاسوته ستړي اوپښیمانه شې.دنوبخل نه اواسراف نه الله ﷻ په دې آیت مبارک کښې منع اوکړه. دملعون یهودیانو د لاس تړلې شوی نه دا مراد وو. فنخاص نومې یهودی دا ونیلی وو (۱) اوهم ددې ملعون هغه دویم قول هم وو چه الله ﷻ فقیردې اومونږ غنیان یو. او په دې حضرت ابوبکرصدیق ﷺ هغه وهلې وو.یو روایت کښې دی چه شناس بن قیس همدا ونیلی وو. نو دې باندې دا آیت مبارک نازل شو اوارشاد اوشو چه بخیلان او بزدل اوکنجوسان هم دا خلق دی.نو یو بل آیت مبارک کښې دی که دوی مالکان جوړ شی نو چا ته به هیڅ ورنکړی. بلکه دوی خو د نورو د نعمتونوپه کتلو سره سوزی.دا ذلیله خلق دی.بلکه دالله ﷻ لاسونه خواره دی،هغه ذات ډیر څه خرچ کوی.دهغه لونې ذات فضل فراخه دې.د هغه بخشش عام دې.د هر څیز خزانې دهغه په لاس کښې دی.هرنعمت دهغه طرفنه دې.ټول شپه ورځ هر وخت هرځائې دهغه د ذات محتاج دی. فرمائی چه ﴿وَاٰتٰىكُمْ مِّنْ كُلِّ مَا سَاَلْتُمُوْهُ

(۱) الطبری : ۱۰/٤٥٣.

Scanned with Ca

وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَةَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَا ۗ إِنَّ الْإِنسَانَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ ﴾ یعنی تاسوچه څه اوغوښتل الله ﷻ هغه تاسوته درکړل. که تاسو د الله ﷻ نعمتونه شمیرئ نونه شئ شمیرلی. یقینی طورانسان ډیرلوئې ظالم دې بې حدناشکره دې

د الله په خزانو کښې کمی نه راځی:- مسند (فیصل تفسیر هم داشان دی) کښې یو حدیث د چه د الله ﷻ بنې لاس ډک دې او شپه ورځ خرچ د هغه خزانه نشی کمولې. د شروع نه واخله تر نن پورې چه څه هم هغه خپل مخلوق ته ورکړی دی نودې سره د هغه په خزانه کښې هیڅ کمې نه دې راغلې. د هغه عرش مخکښې په اوبه باندې وو. اود هغه لاس کښې فیض دې یا قبضه ده، هم هغه ذات اوچت دې، د هغه فرمان دې چه خلقو ! تاسو ځما لار کښې خرچ کړئ تاسوته به درکولې شی. بخاری اومسلم کښې هم د احدیث دی(١)،

قوله تعالی:: وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا ۚ

د مسلمانانو کامیابی د کافرانو د حسرت سبب دی:- بیافرمائی چه دالله تعالی نعمتونه څومره په تا زیاتیږی نو دومره به ددې شیطانانو حسد او کفر زیاتیږی. هم داشان چه څنګه د مومنانو ایمان او ددوی تسلیم و اطاعت زیاتیږی. لکه څنګه چه بل آیت مبارک کښې دی چه ﴿قُلْ هُوَ لِلَّذِينَ آمَنُوا هُدًى وَشِفَاءٌ ۖ﴾ ایمان والو دپاره خود اهدایت او شفاء ده. اوبې ایمانه ددې نه راندې اوکافره دی. هم دا خلق دی چه دلرې لرې نه آوازونه کوی. او آیت کښې دی چه ﴿وَنُنَزِّلُ مِنَ الْقُرْآنِ﴾ مونږ هغه قرآن پاک نازل کړې دې چه مومنانو دپاره شفاء اورحمت دی او ظالمان په نقصان کښې نور هم زیاتوی.

قوله تعالی:: وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ۚ

ترقیامته به د یهودو کینه ختمه نشی:- بیاارشاد دې چه ددوی د زړونونه به ترقیامته پورې خپلو کښې بغض او کینه لاړه نشی. خپلو کښې د یوبل وینې څکی. ناممکن ده چه دوی په حق ولاړ پاتې شی او دوی خوپه خپل دین کښې فرقې فرقې دی. جنګونه دښمنئ خودوی کښې راروانې دی اوجاری به وی. دوی اکثردجنګ سامان تیاروی، هر طرفته اورخورکړی، خوهرځل دوی ته شکست ملاویږی. ددوی مکر هم دوی ته التپه شی. دامفسدان خلق دی اودالله ﷻ دښمنان دی. هیڅ یومفسد الله ﷻ خپل دوست نه جوړوی.

قوله تعالی:: وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ

د ایمان په وجه د برکتونو نزول:- که دوی باایمان او باکردار جوړشی نومونږ به دوی نه ټولې ویرې لرې کړو او دوی به د دوی مقصد ته اورسوو. که دوی دا قرآن پاک اوانجیل اوتوراة اومنی څکه چه توراة او انجیل منل په دې قرآن پاک منلو والو باندې لازم دی. او د دې صحیح تعلیم هم دادې چه دا قرآن پاک ریښتونې دې او ددې اودنبی آخرالزمان تصدیق مخکښو کتابونوکښې موجود دې. نوکه دوی دا خپل کتابونه بغیرد تحریف او تبدیل نه اولولی نو هم دا دوی ته داسلام دهدایت فرمان ورکوی او دا حضرت محمد ﷺ وائی. دې صورت کښې به الله ﷻ دوی ته ددې فائدې هم ورکړی. اودآسمان نه به اوبه هم اووروی. زمکې نه به پیداوار پیدا کړی. په دوی به آسمان نه او زمکې نه برکتونه نازل کړی. لکه بل آیت مبارک کښې دی چه ﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْكِتَابِ آمَنُوا وَاتَّقَوْا﴾ یعنی که دې کلو والو ایمان راوړې وې او پرهیزګاری ئې کوله نومونږ به دوی باندې آسمان نه برکتونه نازل کړی وو. اویو آیت مبارک کښې دی چه ﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ﴾ یعنی دخلقو د بدو په وجه په اوچه او لمده کښې فساد ښکاره شواوهم دا ددې معنی کیدې شی چه بغیر د مشقت او مشکل نه به مونږ دوی ته د برکت نه ډکې روزئ ورکړو.

---

(١) صحیح بخاری کتاب التوحید : باب (کان عرشه علی الماء) : ٧٤١٩، صحیح مسلم : ٩٩٣، احمد: ٣١٣/٢، ابن حبان : ٧٢٥.

Scanned with Ca

د یو قول تضعیف:-بعضو ددې جملې مطلب داهم بیان کړې دې چه دا خلق داسې کولو سره حیرانیږی خو دا قوال د سلفو خلاف دی.

د دنیا نه به قرانی علوم ختم شی:- ابن ابی حاتم کښې یو خانې کښې اثر وارد شوې دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه نزدې ده چه علم به اوچت کړې شی،دې آوریدوسره حصرت زیاد بن لبید ﷺ عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! دا څنګه کیدې شی چه علم به اوچت کړې شی.مونږ خو قرآن پاك زده کړواو خپلو بچو ته مواوخودلو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه افسوس ! چه ما خوته د ټولې مدینې والو نه زیات پوهه ګنړلې.ته نه ګورې چه یهودیان او نصرانیان هم خپلو بچو ته توراة اوانجیل ښائی خو د دوی په څه کار راغلو اودوی د الله ﷻ احکام پریښودل.بیا نبی کریم ﷺ هم دا آیت مبارك تلاوت کړو. داحدیث مسند کښې هم دې چه نبی کریم ﷺ د یو څیز بیان اوکړو چه دا خبره به د علم د تلو په وخت کښې وی .دې باندې حضرت ابن لبید ﷺ اووئیل چه دا به څنګه وی ؟ مونږ خو قرآن پاك لوستې،دې او خپلو بچو ته ئې ښایو.اوهغوئ به ئې خپلو بچو ته ښائی.اوداسې به داسلسله تر قیامته پورې جاری وی. دې باندې نبی کریم ﷺ جواب کښې هغه څه اوفرمائیل کوم چه مخکښې بیان شو(١).

قوله تعالی:: مِنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ

په اهل کتابو کښې معتدله ډله:- بیا فرمائی چه په دوی کښې یو ډله میانه رو هم ده.خو اکثر بدعمله دی.لکه فرمان دې چه ﴿وَمِن قَوْمِ مُوسَىٰٓ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ﴾ د حضرت موسی ﷺ قوم کښې یوه ډله په حق اوهدایت باندې اوپه عدل اوانصاف باندې قائم دی.اود حضرت عیسی ﷺ د قوم باره کښې فرمان دې چه ﴿فَـَٔاتَيْنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مِنْهُمْ أَجْرَهُمْ﴾ په دوی کښې ایماندارو خلقو ته مونږ ددی ثواب ورکړو اودلته دانکته خیال کښې ساتل پکار دی چه د دوی بهترینه درجه مینځنۍ بیان شوه اودې امت (محمدی) بهترینه درجه دریمه ده .(نومعلوه شوه) چه دې (مینځنۍ درجې) باندې یو دریمه درجه اوچته هم شته

فرمانی چه ﴿ثُمَّ أَوْرَثْنَا ٱلْكِتَٰبَ ٱلَّذِينَ ٱصْطَفَيْنَا﴾ بیا مونږ د خپل کتاب وراثان خاص خاص بندګان جوړل کړل.په دوی کښې خو بعضې په خپلو نفسونو ظلم کوی اوبعضې میانه رودی.او بعضې دالله ﷻ په حکم منلو کښې نیکو کښې وړاندې تلونکی دی.هم دا لوئې فضل دې.نوددې امت دا درې واړه ډلې جنت ته داخلیدو والا دی.

د امت محمدی درې اویا ډلې:- ابن مردویه کښې دی چه د صحابه کرامو ﷺ مخکښې نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه د حضرت موسی ﷺ امت یو اویا ډلې شوې او په هغې کښې به یو جنتی وی اوباقی به دوزخی.د حضرت عیسی ﷺ امت دوه اویا ډلې وې.چه په هغې کښې یو جنتی او باقی یو اویا دوزخی. خما دا امت به ددې دواړو نه زیات شی.ددوی به هم یو ډله جنت ته څی او باقی دوه اویا ډلې به جهنم ته.خلقو تپوس اوکړو چه هغه څوك دی؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه جماعتونه جماعتونه.یعقوب بن یزید رحمه الله فرمانی چه هرکله حضرت علی بن ابی طالب ﷺ داحدیث بیانولو نو دقرآن پاك دا آیت مبارك ﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ ءَامَنُوا۟ وَٱتَّقَوْا۟﴾ او ﴿وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ أُمَّةٌ يَهْدُونَ بِالْحَقِّ وَبِهِۦ يَعْدِلُونَ﴾ ئې لوستلواو فرمائیل به ئې چه ددې نه مراد دحضرت محمد ﷺ امت دی .(٢) لیکن دا حدیث دې لفظونو کښې او دې سند سره بې حده غریب دې.اواویا نه زیاتو فرقو والا حدیث ډیرو

---

١) احمد: ٤/١٦٠، ابن ماجه: كتاب الفتن باب ذهاب القرآن والعلم : ٤٠٤٨،

٢) مسند ابی یعلی : ٣٦٦٨، مجمع الزوائد: ٧/٢٦١،

Scanned with Ca

سندونو سره مروی دی لکه څنګه چه مونږ بل ځائې کښې بیان کړې دی،فالحمدلله.

يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ	بَلِّغْ	مَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	مِنْ رَّبِّكَ ؕ
انې رسوله	اورسوه	هغه	چې نازل کړې شوې دې	تاته	دطرفه درب ستانه
انې پیغمبره ﷺ په تا چې دخپل رب دطرفه کوم(احکام)نازل شوی دی		هغه ټول خلقو ته اورسوه			
وَاِنْ	لَّمْ تَفْعَلْ	فَمَا بَلَّغْتَ	رِسٰلَتَهٗ ؕ	وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ	مِنَ النَّاسِ ؕ
اوکه چرې	اونه کړو تا	نواونه رسوؤ تا	اپیغام دهغه	اوالله به بچ کوی تا	د خلقو نه
اوکه چرې داکاردې اونه کړلو		نودالله یوحکم به دې هم نه وی رسولې		اوالله به تا دخلقو(دشر) نه بچ ساتی	
اِنَّ اللّٰهَ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ	الْكٰفِرِيْنَ ۝		
بیشکه الله	انه ښائی لار	قوم	کافرته		
بیشکه الله کافرو ته سمه لار نه ښائی					

نبی کریم ﷺ د پیغام رسولو حکم:- الله تعالی خپل نبی ﷺ ته د رسول ښکلی خطاب ورکوی او اواز ورته کوی او الله ﷻ ورته حکم کوی چه دالله ﷻ ټول احکام اورسوه. نبی کریم ﷺ هم داشان اوکړل.صحیح بخاری کښې حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه تاته څوک اووائی چه نبی کریم ﷺ د الله ﷻ یو نازل شوې حکم پټ کړې دې نو پوهه شه چه هغه دروغژن دې.الله ﷻ خپل نبی ﷺ ته حکم کړې دې. بیائې هم دا آیت مبارک تلاوت اوفرمائیلو. دا حدیث دلته مختصر دې او بل ځائې کښې اوړد دې (١).

نبی کریم ﷺ د الله تعالی ټول حکمونه رسولی دی:- بخاری شریف اومسلم شریف کښې دی که نبی کریم ﷺ د الله ﷻ یو حکم لره پټولو والا وې نو دا آیت مبارک به ئې پټ کړې وې.﴿وَتُخْفِيْ فِيْ نَفْسِكَ مَا اللّٰهُ مُبْدِيْهِ﴾(٢) یعنی تا په خپل زړه کښې هغه پټولو چه کوم الله ﷻ ظاهرونکې وو. او ته به د خلقو نه ویریدلې. حالانکه الله ﷻ زیات حقدار دې چه ته دهغه نه ویره اوکړې.حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته چا اووئیل چه خلقوکښې داخبره مشهوره ده چه تاته نبی کریم ﷺ څه داسې خبرې کړې دی چه هغه د نورو خلقو نه پټې دی.نو حضرت ابن عباس رضی الله عنه هم دا آیت مبارک اولوستلو او وې فرمائیل چه په الله ﷻ قسم نبی کریم ﷺ زه دالله ﷻ د هیڅ یو داسې څیز وارث نه یم جوړ کړې.(ابن ابی حاتم).

دعلی رضی الله عنه په صحیفه کښې:- صحیح بخاری کښې دی چه حضرت علی رضی الله عنه نه یو سړی تپوس اوکړو چه تاسره د قرآن پاک نه علاوه د وحی بل څه څیز شته ؟ نو حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل چه په هغه الله ﷻ قسم چه تخمونه ئې رازرغون کړی دی او خلق ئې پیداکړی دی چه هیڅ نشته د هغه فهم او پوهه سوا چه کوم الله ﷻ یو سړی ته ورکړی.اوڅه چه په دې صحیفه کښې دی.هغه تپوس اوکړوچه صحیفې کښې څه دی ؟ دوی رضی الله عنه اوفرمائیل چه د دیت مسائل دی،د قیدیانو دپرینبودو احکام،اودا دی چه مسلمان دې د کافر بدله کښې د قصاص په طور قتل نکړې شی(٣).

---

(١) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائده (یاایهاالرسول بلغ ما انزل الیک من ربک) : ٤٦١٢، مطولا صحیح بخاری : ١٧٧، ترمذی: ٣٠٦٨،احمد: ٤٩/٦، ابویعلی: ٩٠٠.

(٢) صحیح مسلم کتاب الایمان باب معنی قول الله تعالی (ولقد راه نزلة اخری.....).

(٣) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب الحراسة فی الغزوان فی سبیل الله : ٢٨٨٥، صحیح مسلم: ٢٤١٠، السنن الکبری للنسائی: ٨٨٦٧، احمد: ١٤١/٦، ابن حبان : ٦٩٨٦.

Scanned with Ca

د امام زهری قول:- صحیح بخاری کښې د حضرت زهری رحمه الله فرمان دې چه دالله ﷻ د طرفنه رسالت دې او د پیغمبر ﷺ طرفنه تبلیغ دې اوخمونږ په ذمه قبلول او تابع فرمان کیدل دی (١).

په خطبه دحجة ا لوداع کښې د نبی کریم ﷺ فرمان:- نبی کریم ﷺ دالله ﷻ ټولې خبرې اورسولې.د دې ګواه د نبی کریم ﷺ ټول ا مت دې چه واقعی نبی کریم ﷺ د امانت پوره حق ادا کړو اودټولو نه چه کوم لوئې مجلس وو هغې کښې ټولو د دې امر اقرار کړې دی یعنی د حجة الوداع په موقع باندې په خطبه کښې چه په کوم وخت کښې د نبی کریم ﷺ مخکښې څلویښت زره صحابه کرام ﷺ د جماعت شکل کښې موجود وو. صحیح مسلم کښې دی چه نبی کریم ﷺ په دې خطبه کښې خلقو ته اووئیل چه تاسو نه به الله ﷻ ځما باره کښې تپوس کوی نو اووائې تاسو به څه جواب ورکوئی،ټولو اوونیل چه ځمونږ ګواهی ده چه تاسو تبلیغ اوکړو اود رسالت حق مو ادا کړو. اوځمونږ مو پوره خیر خواهی اوکړه، نبی کریم ﷺ لاس اوسرمبارك آسمان طرفته اوچت کړل او خلقو طرفته راتیت شو او وې فرمائیل چه انې الله ﷻ ما اورسول (٢)، انې الله ﷻ ما اورسول ؟

د نبی کریم ﷺ درې ځله ایا ما اورسول وئیل:- مسند احمد کښې داهم دی چه نبی کریم ﷺ په دې خطبه کښې تپوس اوکړو چه انې خلقو ! دا کومه ورځ ده ؟ خلقو اووئیل چه حرمت والا.تپوس نې اوکړو چه انې خلقو دا کوم ښاردې ؟ جواب ورکړې شو چه حرمت والا.وې فرمائیل دا کومه میاشت ده ؟ جواب ورکړې شو چه حرمت والا.نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ستاسو وینې او ستاسو مالونه یو بل باندې داسې حرام دی لکه څنګه چه ددې ورځې،ددې ښاراو ددې میاشتې حرمت دې.بیا نبی کریم ﷺ بار بار دا وئیل بیا ئې خپله ګوته مبارکه آسمان طرفته اوچته کړه او وې فرمائیل اې الله ﷻ ! آیا ما اورسول. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه په الله ﷻ قسم دا دالله ﷻ نه نبی کریم ﷺ ته وصیت وو ،بیا نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ګورئی هرحاضر کس دې دا غائب کس ته اورسوی.ګورئی هسې نه ځما نه پس کافران شئ چه دیو بل څټونه وهئ.دا امام بخاری رحمه الله هم روایت کړې دې (٣).

قوله تعالی::وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسٰلَتَهٗ ؕ

بیافرمائی که تاسو د الله ﷻ احکام بندګانو ته اونه رسولو نوتا درسالت حق ادا نکړو. بیا د دې چه کومه سزا ده هغه ظاهرده که یوآیت دې هم پټ کړو نو رسالت دې مات کړو. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه کله دا حکم نازل شو چه څه نازل شوی دی هغه اورسوه نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څه یوازځې یم اودا ټول یوځائې کیږی نو څه څنګه اوکړم. نو دویمه جمله نازله شوه که تا اونه کړل نو تا د رسالت حق ادا نه کړو.

قوله تعالی::وَاللّٰهُ یَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ

د نبی کریم ﷺ د حفاظت ذمه واری:- بیا فرمانی چه د خلقو نه ستا بچ کول ځما په ذمه دی.ستا حافظ اوناصر خه یم.بې فکره اوسه،ستا دوی هیڅ نشی کولې.ددې آیت مبارك نه مخکښې نبی کریم ﷺ خپله پهره ساتله،خلق د نبی کریم ﷺ په نګرانئ مقرر وو. حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه یوه شپه نبی کریم ﷺ بیدار وو خوب ورته نه ورتلو نوما اوونیل چه یارسول الله ﷻ ! نن څه خبره ده ؟ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه کاش نن یو نیك بخت صحابی ځما نګرانی کړې وې.دا خبره کیده چه ما د وسلې آواز واوریدو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه څوك ئې ؟ جواب ملاؤ شو چه څه سعد بن مالك یم. نبی کریم ﷺ

---

١) ترمذی: کتاب تفسیر القرآن باب ومن سوة المائدة: ٣٠٤٦ وسنده حسن.

٢) طبرانی (١١٦٦٣، بنحوه.

٣) دې روایت کښې ابومعشر نجیح السندی ضعیف راوی دې.(ددې حواله تیره شوې ده).

Scanned with Ca

اوفرمائیل چه څنګه راغلې نې ؟ هغه اووئیل چه د ټوله شپه نبی کریم ﷺ چوکیداری اوکړم دې نه پس نبی کریم ﷺ ښه په آرام اوده شوتر دې چه خنړاری آواز نې راغلو(١).

بخاری او مسلم کښې یوروایت کښې دی چه دا واقعه د دویم هجرئی ده.ددې آیت مبارك نازلیدو سره نبی کریم ﷺ د خیمې نه سر رابهر کړو او چوکیدارو ته ئې اوفرمائیل چه ځئ لاړشئ،اوس څه دالله ﷻ پناه کښې راغلې یم،ستاسود چوکیدارئی هیڅ ضرورت نشته دې .(٢)

یوروایت کښې دی چه ابوطالب به نبی کریم ﷺ سره یو نه یو کس لیږلو.هرکله چه دا آیت مبارك نازل شو نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه بس ترڅ اوس ماسره هیڅوك مه لیږه. څه دالله ﷻ پناه کښې راغلم (٣).

لیکن دا روایت غریب دې.اومنکر هم دې.دا واقعه خو د مکې مکرمې شوه. او دا آیت مبارك د مدینې منورې د آخری دور دې.

په مکی دور کښې د نبی کریم ﷺ حفاظت:- په دې کښې هیڅ شك نشته دې چه په مکه کښې هم دالله ﷻ مدد د خپل رسول ﷺ سره وو. اګرچه دښمنانو سره هر رنګ اسباب موجود وو،هر رنګ وسلې نه پوره وو،خوبیا هم د مکې سردارانو د نبی کریم ﷺ یو ویښته قدرې ته هم نقصان اونه رسولو.د رسالت په رومبئی زمانه کښې د خپل ترڅ ابوطالب په وجه د نبی کریم ﷺ ښه حفاظت کیدو اوابوطالب د قریشو سردار اوبااثر سړې وو. د هغه به زړه کښې الله ﷻ د دوی محبت اچولې وو.دا محبت طبعی وو شرعی نه وو.که دا شرعی وې نو قریش به نبی کریم ﷺ سره دده د خان هم دښمنان وو. ددوی د انتقال نه پس الله ﷻ د انصارو زوړنو کښې نبی کریم ﷺ سره شر عی محبت پیدا کړو. نبی کریم ﷺ هم هغوئ ته تشریف یوړو.

د نبی کریم ﷺ خلاف د یهودو سازشونه:- اوس خو یهودیانواومشرکانو هم خپې سپې کړې او ډیرو ډیرو سامانونو سره اووتل.خو بیا بیا ناکامه کیدو نه پس دهغوئ امیدونه لاهو شو. اوچه څومره پټ سازشونه دوی کړی وو هغه هم الله ﷻ په دوی الټه کړل.یو طرفته دوی جادو کوی او بل طرفته سورة معوذتین نازلیږی او ددوی جادو ختموی یو طرفته هغوئ د زرګونوترکیبونه کوی او د چیلئ په غوښه کښې زهر ګډوی او نبی کریم ﷺ ته دعوت ورکوی او دا د نبی کریم ﷺ مخکښې ایږدی اوبل طرفته الله ﷻ خپل حبیب د دوی دې دهوکې نه خبروی.اونورهم داسې واقعات د نبی کریم ﷺ ژوند مبارك کښې راځی.

د بانډیچی د شر نه د نبی کریم ﷺ حفاظت:- تفسیر ابن جریر کښې دی چه یو سفر کښې نبی کریم ﷺ د یوې ونې دسیوری لاندې قیلوله (دغرمې خوب) کوله او حضرات صحابه کرامو ﷺ د خپل عادت مطابق په هرمنزل داسې سیورئی تلاش کولو او هغه به ئې نبی کریم ﷺ دپاره پریښودو.یو بانډیچی راغلو اوبه هغه وخت کښې د نبی کریم ﷺ توره په ونه کښې زوړند وه. هغه نې راواخسته او نبی کریم ﷺ ته ئې په غصه اوئیل اوس وایه تا به څما نه څوك بچ کوی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ به ما ستا نه بچ کوی.هم په هغه وخت کښې د بانډیچی لاس په رپیدو شواوتوره د هغه د لاس نه غوزاره شوه. اوهغه ونې سره وهلې اووهلې شو او د هغه دماغ ذره ذره شو. اوالله ﷻ دا آیت مبارك نازل کړو.

---

١) صحیح بخاری کتاب الجهاد باب الحراسة فی الغزوانی فی سبیل الله : ٢٨٨٥، صحیح مسلم: ٢٤١٠، السنن الکبری للنسائی: ٨٨٦٧، احمد: ١٤١/٦، ابن حبان : ٦٩٨٦

٢) ترمذی: کتاب تفسیر القرآن باب ومن سوة المائدة: ٣٠٤٦ وسنده حسن.

٣) طبرانی (١١٦٦٣، بنحوه.

Scanned with Ca

په یوه بله موقع د نبی کریم ﷺ حفاظت:- ابن ابی حاتم کښې دی چه کله نبی ﷺ بنی انمار سره غزا اوکړه، اودذات الرقاع کهجوروباغ کښې نبی کریم ﷺ یوکوهی کښې پښې زورندې کړې وې. اود بنو نجاریو حارث نومې سړی وو. دې سړی اووئیل چه ګوره اوس څه نبی کریم ﷺ قتل کوم نو خلقو اووئیل چه څنګه ؟ وې وئیل چه څه به په څه بهانه نبی کریم ﷺ توره واخلم او بیا به یو وار سره نبی کریم ﷺ اووهم. دې نبی کریم ﷺ ته نزدې راغلو او اخوا دیخوا خبرې ئې کولې او نبی کریم ﷺ نه ئې توره اوغوښتله. نبی کریم ﷺ هغه ته توره ورکړه. لیکن کله چه توره دده لاس ته راغله نو دده لاسونه په رپیدو شو او توره دده دلاس نه اوغورزیده نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه ستا اوستا دبدو او ارادو تر مینځه الله ﷻ حائل شو. او دا آیت نازل شو.(١) دغورث بن حارث همداسې واقعه مشهوره ده.

د نبی کریم ﷺ د عصمت بله واقعه:- ابن مردویه کښې دی چه د صحابه کرامو ﷺ عادت وو چه په سفر کښې به ئې کوم ځائې پراوکولونو د نبی کریم ﷺ دپاره به ئې ګنې سیوری والا ونه تلاش کول اوپریښودله چه نبی کریم ﷺ ددې سیوری لاندې آرام اوفرمائی.

یو ورځ نبی کریم ﷺ هم داشان یو ونې لاندې آرام کولو او اوده شو او د نبی کریم ﷺ توره هم دې ونه ته زوړنده وه. یو سړي راغلو او دا توره ئې لاس کښې واخسته او وې وئیل چه اوس وایه تابه خمانه څوك بچ کړی ؟ نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ به مې بچ کړی.په هغه دومره هیبت راغلو حکم منلوته تیار شو اوتوره ئې دده لاس نه پریوتله. اوالله ﷻ دا آیت مبارك نازل کړو ﴿وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ (٢)

مسند احمد کښې دی چه نبی کریم ﷺ دیو غټ سړی خیټې طرفته اشاره اوکړه او وې فرمائیل که دارغټوالې، ددې ځائې نه سوا په بل ځائې وې نو ستا دپاره به بهتروې ،یوسړی صحابه کرام ﷺ اونیولواونبی کریم ﷺ ته راوستو اووې وئیل چه ده ستا د قتل اراده لرله. هغه په رپیدو شو. نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه مه ویریږه ته خو به اراده اوکړې لیکن الله ﷻ به هغه نه پوره کوی (٣). بیا فرمائی چه ستا په ذمه صرف تبلیغ دې،هدایت د رب ﷻ په ذمه دې،هغه به کافر ته هدایت اونکړی،نو ته رسوه حساب کولو والا الله ﷻ دې.

قُلْ	يَا أَهْلَ الْكِتَابِ				
ووایه	ائې اهل کتابو				
ائې پیغمبره ﷺ دوئ ته ښکاره اووایه					
لَسْتُمْ	عَلَىٰ شَيْءٍ	حَتَّىٰ	تُقِيمُوا	التَّوْرَاةَ	وَالْإِنْجِيلَ
نه یئ تاسو	په هیڅ څیز باندې اترهغې پورې	چې قائم کړئ تاسو		تورات	او انجیل
چې تاسوپه هیڅ دین باندې نه یئ	.....	ترڅو چې په تورات او انجیل باندې عمل اونکړئ			

---

١) دې روایت کښې موسی بن عبیده الربذی راوی ضعیف دې.(المیزان : ٤/٢١٣ رقم: ٨٨٩٥) خو بخاری (٢٩١٣)، وغیره کښې ددې آیت مبارک د نزول نه بغیر ددې معنی روایت موجود دې.

٢) ابن حبان الموارد: ١٧٣٩، وسنده حسن. داروایت دحسن درجه کښې دې.(ابن کثیر تحقیق عبدالرزاق: ٢/٥٨١).

٣) احمد: ٣/٤٧١، طبرانی : ٢١٨٥، شعب الایمان : ٥٦٦٦، السنن الکبری للنسائی: ١٠٩٠٣، مجمع الزوائد: ٨/٢٢٧.

وَمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكُمْ	مِّنْ رَّبِّكُمْ ط	وَلَيَزِيْدَنَّ
اوهغه چې	نازل کړې شوې دې	تاسو ته	دطرفه درب ستاسو نه	اوخامخابه زیاتوی
اوپه هغه کتاب عمل اونکړئ کوم چه تاسو ته ستاسو د رب دطرفه نازل شوې دې			او کوم کتاب	
كَثِيْرًا	مِّنْهُمْ	مَّآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	مِنْ رَّبِّكَ	طُغْيَانًا
زیاتوخلقو لره	ددوئ نه	هغه	چې نازل کړې شوې دې	تاته	دطرفه درب ستا نه	دجهته دسرکشئ نه
چې تاته راغلې دې هغه به ددوئ ډیروکسانودپاره د زیاتې سرکشئ او د لونې کفر						
وَّكُفْرًا ج	فَلَا تَاْسَ	عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝٦٨	اِنَّ الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
اودکفرنه	نومهٔ کوه افسوس	په قوم	کافر باندې	بیشکه هغه کسان	چې ایمان نې راوړې دې	
سبب اوګرځی	نوته په دې کافرو باندې هیڅ کله افسوس مهٔ کوه	بیشکه څوک چې مؤمنان دی				
وَالَّذِيْنَ	هَادُوْا	وَالصّٰبِـُٔوْنَ	وَالنَّصٰرٰى	مَنْ	اٰمَنَ	بِاللّٰهِ
اوهغه کسان	چې یهودیان دی	اوصابیان دی	اوعیسایان دی	څوک چې	ایمان راوړی	په الله باندې
یایهودیان دی	یا صابیان دی	یا نصاری دی	په دوئ کښې چې څوک هم په الله ﷻ			
وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ	وَعَمِلَ صَالِحًا	فَلَا خَوْفٌ	عَلَيْهِمْ	وَلَا هُمْ	يَحْزَنُوْنَ ۝٦٩
اوپه ورځ دآخرت باندې	اوعمل نې اوکړو نیک	نو نشته ویره	په هغوئ باندې	اونهٔ به هغوئ	غمژن کیږی
او په ورځ دآخرت ایمان راوړی	اونیک عمل کوی	نوپه هغوئ باندې نه څهٔ ویره شته	اونه غمژن شی		

د اهل کتابو د ایمان راوړو شرطونه:- الله ﷻ فرمائی چه یهودیان او نصاری په هیڅ یو دین نه دی ترکومې چه دوی په خپل کتابونو او په الله تعالی او د الله ﷻ په کتابونو ایمان راونړی.لیکن ددوی خودا حالت دې چه څومره قرآن پاك نازلیږی نودومره د دوی سرکشی اوکفر زیاتیږی.نو اې نبی ﷺ اددې کافرو د وجې حسرت او افسوس مه کوئی اومه خپل ځان فکرمندکوې ؟

دصابیانو تعریف:- ① صابیان د نصرانیانواو مجوسیانو بې دینه جماعت ته وائی اوصرف مجوسیانوته هم.اودا یوه ډله وه چه د فرښتو عبادت به ئې کولو. ② وهب رحمه الله فرمائی چه دوی به الله ﷻ یومنلو،په هیڅ شریعت عمل کوونکی نه وو. دوی کښې د کفر ایجاد نه وو شوې.دوی عراق سره متصل اوسیدل.بکوثی به وئیل نبیان به ئې منل،هرکال به ئې دیرش روژې نیولې،اویمن طرفته به ئې مخ کولو.شوا روزکښې به ئې پنځه مونځونه کول.ددې نه سوا نور اقوال هم دی.

مخکښې د دوؤ جملو نه پس د دوی ذکر راغلې وو،په دې وجې رفع سره عطف راغلو.دې ټولو خلقو ته الله ﷻ فرمائی چه امن وامان والا بې ویرې هغه خلق دی چه په الله ﷻ په ورځ د قیامت ایمان راوړی او نیك عملونه کوی.اودا ناممکن دی ترکومې چه دوی په دې آخری نبی ایمان راونړی چه ټولو جناتو او انسانانو ته رسول لیږلې شوې دې.نو په نبی کریم ﷺ ایمان راوړو والا به راتلونکی ژوند کښې د خطراتو نه بې ویرې وی اوددوی څیزونو په پرېښودوبه دوی ته هیڅ افسوس او حسرت نه وی.ددې جملې تفصیلی تفسیر په سورة بقره کښې تیرشوې دې.

Scanned with Ca

لَقَدْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ رُسُلًا ؕ

په تحقیق سره|واخستله مونږه|پخه وعده | دبنی اسرئیلونه | اواولیږل مونږه | هغوئ ته | ډیر رسولان

مونږ دبنی اسرائیلونه پخه وعده اخستې وه | .....اوډیر پیغمبران موورته لیږلی وؤ

كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ ۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ ۙ فَرِيْقًا

هرکله چې به | راغې هغوئ ته|ایو رسول|دهغه حکم سره | چې نۀ خوښوؤ| نفسونو دهغوئ| ځینی ئې

کله چې به یوپیغمبر دوئ ته دالله ﷻ داسې احکام راوړل| چې هغه به ددوئ دخواهشاتو خلاف وؤ

كَذَّبُوْا وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ۝ وَحَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ

دروغ اوګنړل| اوځینی به ئې| وژل |اوګمان ئې اوکړو| چې نۀ | به وی | هیڅ فتنه

نوځوک بۀ ئې دروغژن ګنړل |او ځوک به ئې قتل کړل| اوددوئ دا ګمان وؤ چې دوئ ته به هیڅ سزا نشی ورکولې

فَعَمُوْا وَصَمُّوْا ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا

نوړاندۀ شو| اوکانړۀ شو | بیا |رجوع اوکړه الله| په هغوئ |خوبیا | ړاندۀ شو هغوئ

نوځانونه ئې نور هم ړاندۀ کانړه کړل |.....بیا الله ﷻ دوئ معاف کړل |خوبیاهم په دوئ کښې

وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌ ۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ۝

اوکانړۀ شو| ډیر | هغوئ نه | اوالله |الیدونکې دې | دهغه کارونو| چې کوی ئې دوئ |

ډیروکسانو ځانونه ړاندۀ کانړۀ کړل |.....اوالله ﷻ ددوئ کارونه وینی ګوری

د یهودیانواو نصرانیانو وعده خلافی:- الله ﷻ د یهودیانو نه وعده اخستې وه چه هغوئ به دالله ﷻ په احکامو عامل کوی او وحی به پابندی وی.لیکن هغوئ هغه وعده ماته کړه او خپله رائې ئې قائمه کړه اوخپلو خواهشاتو پسې روان شو،کتاب الله کښې هغوئ هغه خبرې د خپلې خوښې مطابق اومنلې او چه کومې کښې به ددوئ دمنشاء خلاف وې هغه ئې ترک کړې هغه ئې ترک کړل او نه صرف دومره بلکه د ډیرو ر سولانو خلاف شو او هغوئ ئې دروغژن اوګرځول،او ډیر ئې قتل کړل ځکه چه هغوئ کوم احکام راوړی وو هغه د دوی د رائې اوقیاس مطابق نه وو. د دومره لوئې ګناه کولو نه پس هم بې فکره کیناستل او دومره پوهه شو چه مونږ دپاره به هیڅ سزا نه وی.خو دوی ته زبردسته روحانی سزا ملاوشوه یعنی هغوئ د حق نه ډیر لرې کړې شو.او د حق نه ړانده او ګونګیان کړې شو. چه نه حق واوری او نه چې هدایت اوګوری او هغه اووینی .لیکن بیا هم الله ﷻ په دوی مهربانه شو او دې نه پس دوی کښې اکثر داسې شو چه د حق نه ړانده اوحق آوریدو نه محروم شو. الله ﷻ ددوی عملونو نه خبرې دې اوهغه ته معلوم دی چه څوک د کوم څیز مستحق دې.

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ

یقینا کفر اوکړو| هغه کسانو| چې وې وئیل| چې بیشکه الله | هم دغه| مسیح | خوئ | دمریم دې

بیشکه هغه کسان پاخه کافران شوی دی چې وائی بیشکه هم د | مسیح بن مریم خدائې دې

وَقَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ

اوحال دا چې ونیلی وؤمسیح | چې اې بنی اسرائیلو| بندګی کوئ | دالله | چې رب زمادې

اوحال دادې چې مسیح ﷺ خو دوئ ته وئیلی وؤ| چې دالله ﷻ عبادت کوئ| چې زماهم رب دې

وَرَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ

اورب ستاسودې|بیشکه | هغه څوك| چې شریك جوړوی | دالله سره| نو حرام کړوالله

اوستاسوهم رب دې | څوک چې الله ﷻ سره شریک جوړ کړی | نو الله ﷻ پرې

عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ۝

په هغه باندې | جنت | اوخائې دهغه | وور دې | اونشته دې| دپاره دظالمانو| هیڅوك مددګار

جنت حرام کړې دې| اودهغوئ ځائې به دوزخ وی | او د ظالمانو دپاره به هیڅوک مددګار نۀ وی

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَمَا

یقینا| چې کفراوکړو| هغه کسانو| چې وئیل نې| بیشکه الله|دریم دې |ددریو نه| اوحال دا چې نشته

هغه کسان په یقین سره کافران شول| چې هغوئ دا اورئیل چې الله ﷻ دریو کښې یو دې | حال دادې چې

مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ

هیڅوك لائق دعبادت| مګر| معبود| یو |اوکه چرې|نۀ شومنع دوئ|دهغه خبرو نه| چې دوئ ئې وائی

دالله ﷻ نه بغیر بل څوک معبود نشته | اوکه دوئ ددې خپلو وینا ګانونه منع نۀ شول

لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اَفَلَا

نو خامخا به رسیږی | هغه کسانو ته | چې کفر ئې کړې دې | ددوئ نه | عذاب |دردناك | آیا

نوچا چې په دوئ کښې کفر اختیار کړې وی | هغوئ ته به دردناک عذاب اورسیږی |..... آیا

يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ مَا

نونۀ اوباسی توبه دوئ| الله ته | اومعافی نۀ غواړی دهغه نه | اوالله | ببنونکې | مهربان دې | نۀ دې

دوئ الله ﷻ ته توبه نۀ اوباسی| اونۀ تري نه دخپلو ګناهونو بخښنه غواړی| اوالله ﷻ ببنونکې او مهربان دې

الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ

مسیح اخوئې | دمریم | مګر یو رسول دې | تیر شوی دی | مخکښې دهغه نه|نور ډیر رسولان

دحضرت مریم ځوئې مسیح ددې نه سوا هیڅ نه دې چې دالله رسول دې |دهغه نه مخکښې ډیرپیغمبران تیرشوی دی

وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ

اومور دهغه | ربښتینی ښځه وه | ووۀ دواړه | چې خوړوبه ئې | طعام | اوګوره | څرنګې

اودهغه مور ډیره ربښتینې ښځه وه | اودواړو به دنورو خلقو پشان خوراک کولو | اوګوره چې

Scanned with Ca

نُبَيِّنُ	لَهُمُ	الْاٰيٰتِ	ثُمَّ انْظُرْ	اَنّٰى	يُؤْفَكُوْنَ ﴿۷۵﴾
بیانوؤ مونږه | دوئ ته | ننبئ | بیااوګوره | چې کوم خوا | دوی اړولی روان دی					
مونږدوئ ته څنګه ښکاره ننبئ بیانوؤ| خوبیا اوګوره چې دوئ کوم طرفته اړولی روان دی|					

د عیسی علیه السلام عبدیت: - د نصرانیانو د فرقو یعنی د نسطوریه، یعقوبیه او ملکیه د کفر حالت بیانیږی چه دوی به حضرت عیسی علیه السلام ته الله وئیلو اومنلوبه ئې. الله ﷻ ددوی د قول نه پاك او منزه دي. مسیح خو دالله ﷻ بنده وو. کله چه هغه په دنیاکښې قدم کیخودو نود هغه دټولونه رومبئ کلمه دا وه چه ﴿انی عبدالله﴾ څه دالله ﷻ بنده یم. هغوئ دا نه وو وئیلی چه څه الله یم یا دالله تعالی څوئی یم، بلکه د خپلې بندګئ اقرار ئې کړې وو. اودې سره ئې فرمائیلی وو چه ځما او ستاسودټولو رب الله ﷻ دي. صرف د هغه عبادت کوئی. په نیغه او صحیح لار تګ کوئی اوصحیح لارداده اوهم دا قول ئې د خپلې ځوانئ نه پس عمر کښې کړې وو چه دالله ﷻ عبادت کوئی، هغه سره چه څوك په عبادت کښې شریك جوړوی نو په هغه جنت حرام دي. د هغه دپاره جهنم واجب دي. لکه د قران پاك یو بل آیت مبارك کښې دی چه الله ﷻ شرك نه معاف کوی. هرکله چه جهنمیان د جنتیانو نه خوراك څکاك اوغواړی نو اهل جنت به هم دا جواب وی چه دا دواړه څیزونه په کافرو حرام دی. نبی کریم ﷺ یو منادی په ذریعه آواز اوکړو چه جنت ته به صرف اسلام او ایمان والا داخلیږی (۱).

د سورة نساء آیت ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا یَغْفِرُ﴾ تفسیر کښې هغه حدیث هم بیان شوي دي چه په هغې کښې دی چه د ګناهونو دري دیوانه دی. په هغې کښې یو هغه دي چه هغه الله ﷻ هیڅکله نه بخښی اوهغه الله تعالی سره شرك دي (۲). حضرت عیسی علیه السلام هم خپل قوم ته دا وعظ کړې وو او فرمائیلی ئې وو چه داسې ناانصافو مشرکانو دپاره هیڅوک مددګار نشته دي.

قوله تعالی:: لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ

د عیسایانو د تثلیث د عقیدې رد: - اوس د هغوی کفر بیانوی چه الله ﷻ ئې د دریو نه یو منلو. یهودیان عزیر علیه السلام او عیسایانو عیسی ته د الله ﷻ څوئې وائی. او الله ﷻ به ئې د دریو خدایانو نه یو منلو. خو داآیت صرف د هغه نصرانیانو باره کښې دی. چې هغوی پلارځوئې، اوهغه کلمه چه د پلار د طرفنه څوئې طرفته وئیلې شوې وه الله ﷻ منی بیا ددې دریو واړو مقررولو کښې ډیر زیات اختلاف دي اوهرې فرقې به بلې ته کافر وئیلو. اوحق دا دي چه ټول په ټوله کافر وو. حضرت مسیح علیه السلام او ددوی مور بی بی او الله ﷻ یو خانې منل. هم د دې بیان د دې سورة آخر کښې دي چه د قیامت په ورځ به الله ﷻ اوفرمائی چه آیا عیسی علیه السلام تاسو ته وئیلی وو چه ما او ځما مور هم الله اومنئ. هغوئ به صفا انکار اوکړی. اود خپلې لا علمئ او بې ګناهئ اظهار به اوکړی. زیات ظاهر قول هم دا دي، والله اعلم.

اصل کښې دعبادت لائق الله ﷻ نه سوا نور څوك نشته دي، د ټول کائناتو اود کل موجوداتو معبود برحق هم هغه ذات دي، که دوی د دې خپل کفریه قول نه منع نشو نو یقیناً دوی به دردناکو عذابونو ته وراوغوزولی شی.

قوله تعالی:: اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ

بیا الله ﷻ د خپل کرم او بخښش او انعام او لطف اورحمت بیان کوی او د دوی د دومره سخت جرم او دومره سختې بې حیائی او کذب او افتراء ذوی ته د رحمت دعوت ورکوی او فرمائی چه اوس هم ما طرفته راشئ نو تاسو به ټول معاف کړم. او تاسو به د رحمت د لمنې لاندې راولم. حضرت مسیح علیه السلام د

---

۱) صحیح مسلم کتاب الایمان باب غلظ تحریم الغلول وانه لایدخل الجنة الاالمومنون: ۱۱۴.

۲) احمد: ۶/۲۴۰.

الله ﷻ بنده او رسول وو ،لکه څنګه چه دده په شان رسولان مخکښې هم تیر شوی دی.لکه چې فرمائی چه ﴿ان هو الا عبد﴾ هغوئ ځمونږ بنده وو ،مونږ په هغوئ رحمت کړې وو. اود بنی اسرائیلو دپاره مو د قدرت نښه جوړه کړې وه.

بی بی مریم نبی نه وه:- دعیسی ﷺ مور بی بی مومنه او ریښتونې وه.ددې نه معلومه شوه چه نبیه نه وه خکه چه دا مقام د وصف دې،نو ددې چه کوم بهترین وصف وو هغه ئې بیان کړو ،که نبیه وې نو په دې موقع د هغې بیان ډیرزیات ضروری وو.

دابن حزم رحمه الله رائې:- دابن حزم رحمه الله وغیره خیال دې چه ام اسحاق ﷺ اوام موسی ﷺ اوام عیسی ﷺ نبیانې وې اودلیل دا ورکوی چه فرښتو حضرت ساره ﷺ اوحضرت مریم ﷺ ته خطاب اوکلام کړې وو، د موسی ﷺ د مور نسبت کښې فرمائیلی دی چه ﴿وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى﴾ مونږ د موسی ﷺ مور بی بی طرفته وحی اوکړه چه ته دې ته پئ ورکړه. لیکن د جمهورو مذهب ددې خلاف دې،هغوئ وائی چه نبوت صرف سړو کښې پاتې شوې دې.لکه قران پاک کښې فرمان دې چه ﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا﴾ الخ،ستا نه مخکښې مونږصرف سړو ته د پیغمبرئ انعام ورکړې وو. شیخ ابوالحسن اشعری رحمه الله خو په دې اجماع نقل کړې ده،

قوله تعالی:: كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ

بیافرمائی چه مور اوځوئې دواړه د خوراك څكاك محتاج وو.اوظاهره ده چه دننه ځی هغه به بهر راوزی. (کنایه ده د قضاء حاجت نه) نو ثابته شوه چه هغه هم د نورو پشان بنده وو. الوهیت په هغه کښې نه وو. اوګوری مونږ دوی ته څنګه خپل حجتونه بیانوو. بیا هم د کتلو باوجود دوی څنګه تښتی راتښتی ؟ څنګه ګمراه مذهب اخلی.او څنګه په الله تعالی پوری ردی او بې دلیله قول ټړی.

قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	مَا	لَا يَمْلِكُ	لَكُمْ	ضَرًّا	وَّلَا نَفْعًا ؕ
اووایه ایا تاسو عبادت کوئ|ماسوا دالله نه|دهغه چا| چې اختیار نۀ لری|دپاره ستاسو	د ضرر |اونۀ دنفعې					
ورته اوؤایه ایا د الله نه سوا د هغه چا عبادت کوئ چې نۀ تاسو ته نقصان درکولې شی اونۀ فائده						
وَاللّٰهُ	هُوَ	السَّمِيْعُ	الْعَلِيْمُ ﴿٧٦﴾	قُلْ	يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ	لَا تَغْلُوْا
اوالله	هم هغه	نبه اوریدونکی	نبه پوهه دې	ورته اووایه	ائې اهل کتابو	امۀ اوړئ دحدنه
اوالله ﷻ هرڅه اوری او په هرڅه پوهه دې	..... ورته اووایه چې ائې اهل کتاب تاسو					
فِيْ دِيْنِكُمْ	غَيْرَ الْحَقِّ	وَلَا تَتَّبِعُوْٓا	اَهْوَآءَ	قَوْمٍ	قَدْ ضَلُّوْا
په دین خپل کښې	په ناحقه	اومۀ کوئ پیروی	د خواهشاتو	د قوم	چې بې لارې شوی دی
ددین په مسئلو کښې هیڅ بیخه زیاتې مۀ کوئ	اودهغه چاد خواهشاتو تابعداری مکوئ	چې د وړاندې نه ګمراه دی				
مِنْ قَبْلُ	وَاَضَلُّوْا	كَثِيْرًا	وَّضَلُّوْا	عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٧٧﴾ ع
د مخکښې نه	اوبې لارې کړې نې دی	نور ډیر خلق	او ګمراه شو	د نیغې لارې نه
اونور ډیر خلق ئې بې لارې کړی دی	اوپخپله هم د سمې لارې نه بې لارې شوی دی			

د نفع او نقصان مالک صرف الله ﷻ دی :- الله دهغه معبودانو دعبادت نه منع کوی چه کوم دالله ﷻ نه سوا دی چه دې ټولو خلقو ته اووایه چه کوم ستاسو نه د ضررلرې کولو او نفع درکولو لږ طاقت هم نه لری. نو تاسو دهغې عبادت ولې کوئی؟ د ټولو خبرو آوریدونکی،د ټولو څیزونو نه باخبره ذات هیروئی اود هغه څیزونو عبادت طرفته څئ چه کوم نه آوریدې شی او نه کتلې شی.اونه تاسو ته ضرر درکولې شی اونه نفع،نوداسې څیزونو پسې تګ کومه عقل مندی ده ؟ ائې اهل کتاب ! د اتباع حق د حدونو نه

Scanned with Ca

مخکښې مه ځئ،چه د چا عزت کولو حکم اوشو نو د هغه هومره عزت کوئی.الله تعالی انسانانوته د نبوت درجه ورکړې ده هغوئ د الوهیت درجې ته مه رسوئی.تاسودحضرت عیسی ﷺ باره کښې هم غلطی کوئی.اود دې هیڅ وجه نشته دې،ددې نه سوا چه تاسود خپلو پیرانو،مرشدانو استاذانو او امامانو لار خپله کړې ده،هغوئ پخپله هم ګمراه دی بلکه ګمراه کوونکی دی،د استقامت اوکله چې دوئ د عدل لار ئې پریښودې وه دهغې زمانه تیره شوه. اودوئ چې کله نه بدعتونواو ضلالت کښې اخته شوی،وونوهغې هم ډیره زمانه شوې وه.

د بنی اسرائیلو د یو عابد دهوکه کیدل:- ابن ابی حاتم کښې دی چه دوی کښې یو سړې وو چه هغه دالله ﷻ د دین ډیر زیات پابند وو. څه زمانه پس شیطان دې دهوکه کړو چه څه مخکښې خلقو کړی ووهغه ته هم کوې.په دې کښې څه دی ؟ددې په وجه خو به نه په عامو خلقو کښې ستا قدر وی او نه به دې څه شهرت وی،تاته پکار دی چه څه نوې ایجاد اوکړې،هغه خلقو کښې خورکړې،ته اوګوره چه خلقو کښې څومره شهرت پیدا کیږی.اوخنګه ځائې په ځائې ستا تذکرې کیږی.نوهغه هم داسې اوکړل.د هغه بدعتونه خلقو کښې خواره شول.او ډیرو خلقو د هغه تقلید کولو.او بیا دې په خپلو کړو ستومانه شو،ده ملك پریښودو،او خانله ئې دالله ﷻ عبادت شروع کړو. لیکن د الله ﷻ طرفنه ده ته جواب کښې اوونیلې شو که صرف ځما خطا وې نو ما به معاف کړې وې تا خو عام خلق هم ګمراه کړی دی او په غلط لار دې لګولی دی. چه په کومه لار هغوئ مری نو هغوئ به ستا په سر بوج وی.څه ستا توبه نه قبلوم.نود داسې خلقو باره کښې دا آیت مبارك نازل شو.

لُعِنَ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	عَلٰى لِسَانِ
لعنت اووئیلې شو | په هغه کسانو | چې دکفر لارئې خپله کړه |		دبنی اسرائیلو نه |		په ژبه
دبنی اسرائیلو په هغه کسانوباندې لعنت وئیلې شوې دې |اودا(لعنت) په ژبه د				
دَاوٗدَ	وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ؕ	ذٰلِكَ	بِمَا	عَصَوْا
ددواود | اودعیسی خوی د مریم | دا		|په دې وجه اوشو| چې نافرمانی ئی کړې وه|		او وؤ هغوئ
داود ﷺ او عیسی ﷺ کړې شوې وؤ| خکه چې دوئ نافرمانی کړې وه |				.....او
يَعْتَدُوْنَ ۝	كَانُوْا	لَا يَتَنَاهَوْنَ	عَنْ مُّنْكَرٍ	فَعَلُوْهُ ؕ
چې زیاتې ئی شروع کړې وؤ| ووؤ هغوئ | چې نه به ئې منع کول یوبل|		دهغه بد کارنه |		چې کوؤ به هغوئ هغه
دحدنه وړاندې تیرشوی وؤ| دوئ چې کوم بدکارونه کول | دهغې نه په هیڅ شان نۀ منع کیدل				
لَبِئْسَ	مَا	كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۝	تَرٰى كَثِيْرًا	مِّنْهُمْ
ډیر بد وؤ | هغه کار |	چې کوؤ به هغوئ | ته وینی|	ډیرخلق	| دهغوئ نه|	چې دوستی کوی هغوئ
دوئ چه کوم کارونه کول هغه ډیربدوؤ| ته به په دوئ کښې ډیرکسان وینې چې هغه کسانو سره دوستی کوی				
الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا ؕ	لَبِئْسَ	مَا	قَدَّمَتْ لَهُمْ
دهغه کسانوسره| چې کافران دی|یقینا چې ډیربددې|هغه انجام| چې مخکښې ولیږلو خان د پاره|				نفسونو دهغوئ
کوم چه کافران دی |	.....دوئ چې کوم عمل خان دپاره مخکښې لیږلې دې هغه ډیرخراب دې			

أَنْ سَخِطَ	اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ	وَفِي الْعَذَابِ هُمْ	خٰلِدُوْنَ ۝	وَلَوْ	كَانُوْا
چې په غضب شو	الله	په هغوئ باندې	اوپه عذاب کښې به هغوئ	همیشه وی	اوکه چرې	وۀ هغوئ
الله ﷻ ورته په قهر شوې دې		او دوئ به ټول عمر په عذاب کښې وی				.....اوکه چرې دوی
يُؤْمِنُوْنَ	بِاللّٰهِ	وَالنَّبِيِّ	وَمَآ	أُنْزِلَ	اِلَيْهِ	
چې ایمان ئې راوړې وې	په الله باندې	اوپه نبی باندې	اوپه هغه څیز	چې نازل شوې وۀ	اهغه ته	
په الله ﷻ او په رسول ﷺ او هغه کتاب چه په هغه باندې نازل شوې دې ایمان راوړې وې						
مَا اتَّخَذُوْهُمْ	اَوْلِيَآءَ	وَلٰكِنَّ	كَثِيْرًا	مِّنْهُمْ	فٰسِقُوْنَ ۝	
نونۀ به وۀ نیولی دوی	کافرانو لره	دوستان	لیکن	ډیرخلق	ادهغوئ نه	فاسقان دی
نوکافرانو سره به ئې ملګرتیا نۀ کوله		اوپه دوئ کښې زیات خلق نافرمان دی				

بنی اسرائیلو د لعنت اسباب:- ارشاد دې چه د بنی اسرائیلو پخوانی کافر ملعون دی.حضرت داود علیه السلام اوحضرت عیسی علیه السلام په ژبه د هغوئ په زمانه کښې دوی معلون شوی وو. ځکه چه دوی دالله ﷻ نافرمان وو.اودالله ﷻ په مخلوق به ئې ظلم کولو. انجیل،توراة،زبور او قران پاك ټول په دوی باندې لعنت وائی.دوی په خپله زمانه کښې یو بل په غلطو کارونو لیدل اویو طرفته به کیناستل.حرام کارونه اوګناهونه به ئې ښکاره کول. اوهیڅوك یو بل لره منع کونکی نه وو.دا وود هغوئ بدترین کار.

د نهی عن المنکر تاکید:مسند احمد کښې د نبی کریم ﷺ فرمان دې چه بنو اسرائیلو کله ډومبې ډومبې ګناهونه شروع شو نوددوی عالمانودوی منع کړل.هرکله چه دوی اوکتل چه دوی نه منع کیږی نو هغوئ دوی جدا نه کړل بلکه هغوئ سره به کیناستل اوخوراك څکاك به ئې ورسره کولو. الله ﷻ ددوی زړونو کښې کینه او عداوت واچولو. او د حضرت داود علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام په خوله ئې په دوی لعنت اوکړو. ځکه چه هغوئ نافرمان او ظالمان وو. ددې بیان په وخت کښې نبی کریم ﷺ تکیه لګولې وه او بیا رانیغ شو او کیناستلو،او وې فرمائیل چه نه نه،په الله ﷻ قسم ستاسودپاره ضروری دی چه خلق دشریعت نه خلاف خبرو نه منع کړئی.اود شریعت پابند کوئی به ئې ([1]).

په بنی اسرائیلو کښې اولنئ خرابی:- د ابوداود یو حدیث مبارك کښې دی چه د ټولو نه ډومبئ خرابی په بنی اسرائیلو کښې دا داخله شوې وه چه یو سړی به شریعت نه خلاف څه کار کولو نو هغه به ئې منع کولو. هغه ته به وئیل چه د الله ﷻ نه اوویریږه اودا غلط کارونه پریږده،دا حرام دی.لیکن که دا سړی به منع نشونوده سره به خلقو خوراك څکاك کولواوده سره به ئې میل جول ساتلو. په دې وجه ټولو کښې تنګ دلی راغله.بیا نبی کریم ﷺ دې سره ټول آیت مبارك تلاوت کړو او وې وئیل چه په الله قسم په تاسو باندې فرض دی چه د نیکو خبروهر چاته حکم کوئی اودخرابو خبرو نه ئې منع کوئی.ظالم د هغه دظلم نه منع کوئی،او هغه مجبوره کوئ چه حق ته راشی ([2])ترمذی اوابن ماجه کښې هم دا حدیث مبارك موجود دې ([3])ابو داود وغیره کښې ددې حدیث مبارك آخر کښې داهم دی که تاسو داسې کوئی نو الله ﷻ به ستاسو زړونه هم یو بل سره مسخ کړی او تاسو باندې به هم خپل عذاب نازل کړی.([4])

---

[1]) احمد: ۳۹۱/۱،.

[2]) ابوداود کتاب الملاحم باب الامر والنهی : ٤٣٣٦،

[3]) ترمذی کتاب التفسیر القرآن باب ومن سورة المائدة: ٣٠٤٨،

[4]) ابوداود کتاب الملاحم باب الامر والنهی : ٤٣٣٧،

Scanned with Ca

لکه څنګه چه پورته نازل شو. دې باره کښې نور هم ډیر احادیث دی،هغې نه څه واورئ.حضرت جابر ﷺ والا حدیث مبارک خود آیت ﴿لَوْلَا يَنْهَاهُمُ الرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ﴾ تفسیر کښې تیر شوې دې. ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ﴾ الخ. تفسیر کښې به د ابوبکرصدیق ﷺ اوابوثعلبه ﷺ احادیث راشی انشاء الله.

د نهی عن المنکر پریخودو انجام:- مسند احمد او ترمذی کښې دی چه یا خو تاسو د نیکئ او بنیګړې حکم کوئی اود بدئی نه منع کوئی یا به الله ﷻ تاسو باندې خپل طرفنه عذاب نازل کړی،بیا به تاسو هغه نه د عاګانې غواړئی او هغه به نه قبلیږی.(١)

د نهی عن المنکر دري درجې:- ابن ماجه کښې دی چه د نیکئ حکم کوئې او بدئی نه منع کوئی ددې نه مخکښې چه ستاسو دعاګانې قبلیدونه مخکښې مخکښې بندې شی.(٢) صحیح حدیث مبارک کښې دی چه تاسوکښې څوک د شریعت نه خلاف کار اوګوری نو په ده فرض دی چه هغه خپل لاس سره منع کړی او که د دې طاقت ئې نه وی نوخولې سره دې منع کړی،که ددې طاقت ئې هم نه وی نو زړه سره دې بد اوګڼړی او دا ډیرضعیف ایمان دې.(٣) (مسلم).

د عذاب عمومیت:-مسنداحمد کښې دی چه الله ﷻ خاصو خلقو د ګناهونو په وجه عام خلق په عذاب کښې نه اچوی لیکن په هغه وخت کښې چه بدئی په دوی کښې خورې شی.اوهغوئ ددې نه باوجود قدرت نه انکار نه کوی.په هغه وخت کښې الله ﷻ ټول خلق په عذاب کښې ګرفتاروی(٤).

ابوداود کښې دی چه په کوم ځائې کښې دالله ﷻ ګناهونه شروع شی، څوک چه هلته وی او د هغه خلاف شرع کارونونه ډډه کوی.

د مبلغ او غیرمبلغ مثالونه:- یو روایت کښې دی چه څوک د دې انکارکوی د هغوئ مثال دهغه چا پشان دې چه هلته حاضر نه وی او چې څوک په دې ګناهونو راضی وی. اګرچې هلته موجود نه وی د هغوئ مثال دهغه چا پشان دې چه هلته حاضر وی (٥)ابوداود کښې دی چه د خلقو عذرونه ترکومې پورې ختم شوې نه وی هغوئ به نه هلاکیږی (٦)ابن ماجه کښې دی چه نبی کریم ﷺ خپله خطبه کښې اوفرمائیل چه خبردار هیڅوک دې د حق خبرې نه منع نه کوی. د دې حدیث بیانولو نه پس حضرت ابوسعید خدری ﷺ په ژړا شو او وې فرمائیل افسوس په داسې موقعو باندې د خلقو هیبت مونږ اومنلو(٧).

افضل جهاد:- ابوداود ،ترمذی،او ابن ماجه کښې دی چه افضل جهاد د ظالم بادشاه مخامخ حق خبره کول دی (٨).

ابن ماجه کښې دی چه جمره اولی سره د نبی کریم ﷺ مخکښې یو سړې راغلو او د نبی کریم ﷺ نه ئې سوال اوکړو چه د ټولو نه افضل جهاد کوم یو دې،نبی کریم ﷺ خاموش وو.بیا نبی کریم ﷺ جمره ثانیه ته راغلل نو هغه سړی بیا هغه سوال اوکړو. خوبیا هم نبی کریم ﷺ خاموش وو. هرکله چه جمره عقبه باندې کانړی ویشتل او په سورلئ باندې د سوریدو نو تپوس ئې اوکړو چه هغه تپوس کولو والا

---

١) احمد: ٣٧٧/٥، ترمذی کتاب الفتن باب ماجاء فی الامر باالمعروف والنهی عن المنکر : ٢١٦٩، وهو حسن.

٢) ابن ماجه کتاب الفتن باب الامر باالمعروف والنهی عن المنکر :٤٠٠٤، وهو حسن احمد: ١٥٩/٦.

٣) صحیح مسلم کتاب الایمان باب بیان کون النهی عن المنکر من الایمان : ٤٩، ابوداود: ١١٤٠، ترمذی: ٢١٧٢، ابن ماجه: ١٢٧٥، احمد: ١٠/٣ ابن حبا: ٣٠٦.

٤) احمد: ١٩٢/٤، ،الزهد: ١٣٥٢، المعجم الکبیر: ٣٤٤.

٥) ابوداود کتاب الملاحم باب الامر والنهی عن المنکر : ٤٣٤٥، وسنده حسن.

٦) ابوداود حواله سابق. ٤٣٤٧، وسنده حسن.

٧) ترمذی: کتاب الفتن باب ماأخبر النبی ﷺ ٢١٩١، مطولا.ابن ماجه: ٤٠٠٧، حاکم: ٥٠٦/٤، مسند الطیالسی : ٢١٥٦.

٨) ابوداود کتاب الملاحم باب الامر والنهی : ٤٣٣٧، وهوحسن ابن ماجه: ٤٠١١.

Scanned with Ca

چرته دي ؟ هغه سړی اونيل چه يارسول الله ﷺ ! څه حاضر يم.نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه د ظالم مخکښې حق خبره کول افضل جهاد دي (١).

خپله بی عزتی کول:- ابن ماجه کښې دی چه تاسوکښې هيڅا ته نه دی پکار چه خپله بې عزتی اوکړی. خلقو تپوس اوکړو چه يارسول الله ﷺ هغه څنګه ؟ نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه خلاف شرع کاراوګورې اودي څه او نه وائی.د قيامت په ورځ به د ده نه تپوس کيږی چه په فلانئ موقع ته ولې خاموش وې ؟ دي به جواب ورکړي چه د خلقودويرې د لاسه.الله ﷻ به اوفرمائی چه څه د ټولونه زيات حقدار ووم چه ځمانه دي ويريره کړې وې (٢).

يوروايت کښې دی چه کله الله ﷻ ده ه د خپل طرف نه د جواب تلقين اوکړی نو به اووائی چه ستانه خما اميد وو (چې ته به راته په دې نه منع کولو عذاب رانکړې) اود خلقو نه ويريدم(٣)مسند احمد کښې دی چه مسلمانان دپاره خپل ځان په خپله ذليل کول نه دی پکار. خلقو تپوس اوکړو چه څنګه ؟ وې فرمائيل هغه تکليفونه په خپل سر اخستل چه دکومو د برداشت طاقت ئې نه وی.(٤)

امربالمعروف کله پريخودې شی؟:-ابن ماجه کښې دی چه نبی کريم ﷺ نه سوال اوشو چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کله پرېښودې شی ؟ نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه په هغه وخت کښې چه کله په تاسو کښې هغه څيز ظاهرشی کوم چې ستاسونه مخکښې خلقو کښې ظاهر شوی وو. مونږ تپوس اوکړو چه هغه څه څيز وو؟وې فرمائيل ①چه دکمينه سړي سلطنت چلوی② په لويو سړو کښې بدکاری راشی،③رذيلانو کښې علم راشی.حضرت زيد رحمه الله وائی چه په رذيلانو کښې د علم راتلو نه مراد فاسقانوکښې علم راتلل دی (٥)ددې حديث مبارک شاهد ابوثعلبه رضی الله عنه والا حديث مبارک دې چه ددې آيت ﴿لايضرکم﴾ تفسير کښې به راشی انشاء الله.

تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۞

د منافقانو کافرانو سره دوستی:- بيا فرمائی چه ته اکثر منافقان اوګورې چه هغوئ به کافرانو سره دوستئ کوی،د هغوئ ددې فعل په وجه يعنی مسلمانانو سره د دوستئ پرېښودو او کافرانو سره د دوستئ کولو په وجه هغوئ ځان دپاره خرابه ذخيره جمع کوی.هم په دې وجه به ددوی په زړونوکښې نفاق پيدا شی. اوپه دې وجه به په دوی باندې دالله ﷻ عذاب نازل شی. او په قيامت کښې د دائمی عذاب بيان هم مخکښې راځی.

د زنا شپږ خرابئ:- ابن ابی حاتم کښې دی چه ائې مسلمانانو اد زناکارئی نه ځان اوساتئی دې سره شپږ خرابئ راځی.دې دنياکښې اودې آخرت کښې.(ددنيا دې دادی)① دې سره دعزت او وقار رونق او تازګی لاړه شی.② دې سره فقر او فاقه راځی.③ دې سره عمر کميږی. دآخرت دې خرابئ دا دی.① دالله ﷻ غضب ② د حساب اوکتاب سختی اوبرائی ③ د جهنم خلود.بيا نبی کريم ﷺ دا آخری جمله تلاوت اوفرمائيله.(٦) دا حديث ضعيف دې والله اعلم.

قوله تعالی::وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ

---

١) ابن ماجه كتاب الفتن باب الامر بالمعروف والنهی عن المنكر: ٤٠١٢، وسنده حسن.
٢) ابن ماجه كتاب الفتن،باب الامر بالمعروف والنهی عن المنكر : ٤٠٠٨.
٣) ابن ماجه كتاب الفتن ،قوله تعالى (يايهاالذين امنوا عليكم انفسكم) ٤٠١٧.
٤) احمد: ٤٠٥/٥، ترمذی كتاب الفتن وسنده حسن باب لايعترض من البلاء لايطيق : ٢٢٥٤. ابن ماجه: ٤٠١٦.
٥) ابن ماجه كتاب الفتن ،قوله تعالى (يايهاالذين امنوا عليكم انفسكم) ٤٠١٥. وسنده حسن.
٦) شعب الايمان : ٥٤٧٥، حلية الاولياء :١١١/٤، الموضوعات: ١٠٧/٣.

Scanned with Ca

بیا فرمائی که دې خلقو په الله تعالی،د هغه په ر سول ﷺ،او په قران پاك پوره پوره ایمان راوړې وې نو بالکل به نې کافرو سره دوستئ نه کولې او چپ په چپ به وو او دې خلقو سره به ئې میل جول نه ساتلو.او نه به ئې رینبتونی مسلمانانو سره دښمنئ ساتله.اصل خبره دا ده چه په دوی کښې اکثر خلق فاسقان دی.یعنی الله ﷻ اود هغه د رسول ﷺ اطاعت نه خارج شوی دی.د هغه د وحی اود هغه د پاك کلام دآیتونو مخالف شوی دی .

لَتَجِدَنَّ	اَشَدَّ النَّاسِ	عَدَاوَةً	لِّلَّذِيْنَ	اٰمَنُوا
خامخا به ته ئ بیا مومی| زیات سخت خلقو نه	په دشمنی کښې	دهغه کسانو سره| چې ایمان نې راوړې دې				
ته به مسلمانانو سره په دشمنئ کولو کښې د ټولونه زیات				
اَلْيَهُوْدَ	وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا ۚ	وَلَتَجِدَنَّ	اَقْرَبَهُمْ	
یهودیان	او(بل) هغه کسان چې مشرکان دی	اوخامخا به ته ئ بیا مومې	د ټولو نه زیات نزدې			
یهودیان او مشرکان بیامومئ	.....اومسلمانانو سره په دوستئ			
مَّوَدَّةً	لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا	الَّذِيْنَ قَالُوْٓا	اِنَّا	
په محبت کښې	دهغه کسانو سره چې ایمان ئې راوړې دې	هغه کسان	چې وائی	بیشکه مونږه			
ساتلو کښې به د ټولونه نزدې هغه کسان مومې چې ځان ته				
نَصٰرٰى ؕ	ذٰلِكَ	بِاَنَّ	مِنْهُمْ	قِسِّيْسِيْنَ
نصاری یو| دا	په دې وجه	چې بیشکه ځینی دهغوئ نه| عبادت ګزاره عالمان دی			
نصاری وائی	ځکه چې په دوئ کښې عالمان			
وَرُهْبَانًا	وَّاَنَّهُمْ	لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ ۝		
اودنیا پرینبی فقیران دی	اوبیشکه هغوئ	تکبر لوئی اوغرورنه کوی		
اودرویشان موجود دی	.....اودوئ تکبر نه کوی			

د نجاشی او د هغه د ملګرو بیان:- دا ایت مبارك اودې نه پس څلور ایتونه د نجاشی اود هغه د ملګرو باره کښې نازل شوی دی.هرکله چه حبشه کښې د هغه مخکښې حضرت جعفر طیار بن ابی طالب ﷺ قران پاك اولوستلو نودهغه د سترګو نه اوښکې روانې شوې.او دومره ئې اوژړل چه د هغوئ ږیری لمدې شوې.خو دا یاد ساتئ چه دا آیتونه په مدینه منوره کښې نازل شوی دی.اود حضرت جعفر ﷺ دا واقعه د هجرت نه مخکښې ده. دا هم مروی دی چه دا آیتونه د هغه وفد باره کښې نازل شوی دی چه کوم وفد نجاشئ نبی کریم ﷺ طرفته رالیږلې وو چه تاسو هغوئ سره ملاقات اوکړئ اود نبی کریم ﷺ صفات او حالات معلوم کړئ.اود نبی کریم ﷺ کلام واورئ.هرکله چه دوی راغلل او نبی کریم ﷺ سره ملاؤ شو اود نبی کریم ﷺ د ژبې مبارکې نه ئې دا کلام واوریدو نو د هغوئ زړونه نرم شو اوډیر زیات ئې اوژړل.اواسلام ئې قبول کړو.اوچه واپس شو نو نجاشی ته ئې ټول حالات اووئیل (١). نجاشی خپل سلطنت پرینبود اونبی کریم ﷺ طرفته ئې هجرت اوکړو خو په لاره کښې وفات شو. خو صحیح روایاتو نه ثابت دی چه هغه په حبشه کښې خپل سلطنت کښې وفات شوې وو.د هغه د وفات په

---

١) الطبرانی : ١٠/٥٠٠.

Scanned with Ca

ورځ نبی کریم ﷺ صحابه کرام ﷺ ته د هغه د وفات خبر ورکړې وو. اود هغه غائبانه د جنازې مونځ نې کړې وو (۱).

د دې کسانو شمار بعضو روایتونو کښې دی چه په دې وفد کښې خو اووه (۷)عالمان وو او پنځه زاهدان وواو یا پنځه عالمان او اووه زاهدان وو. بعضې وائی چه دا ټول پنځوس کسان وو.او ونیلې شوی دی چه د شپیتونه لږ زیات وو. یو قول کښې دا هم دی چه دا اویا کسان وو. والله اعلم.حضرت عطاء رحمه الله فرمائی چه د چا صفتونه په دې آیت مبارک کښې بیان شوی دی هغه اهل حبشه وو. هرکله چه مسلمانان مهاجرین دوی ته اورسیدل نو دوی ټول مسلمانان شوی وو(۲)حضرت قتاده رحمه الله فرمائی دوی مخکښې په دین عیسوی قائم وو. لیکن هرکله چه هغوئ مسلمانان اوکتل اوقران پاک نې واوریدو نو مسلمانان شول.

دابن جریر فیصله دا ټول اقوال صحیح کوی او فرمائی چه دا آیتونه د هغه خلقو باره کښې نازل شوی دی چه په چا کښې دا اوصاف وی.که هغه د حبشې وی یادبل چرته وی. دیهودیانو چه د مسلمانانو سره کومه دښمنی ده د هغې وجه دا ده چه په هغوئ کښې دسرکشئ او انکار ماده زیاته ده.او په قصد به نې کولو.اودضد نه به په ناحق ولاړ وو.د حق مقابله کښې کلك ولاړ دی.حق پرستو ته په سپک نظر کوری اوهغوئ سره کینه او بغض ساتی.د علم رنړا دوی سره نشته دې.د علماء تعداد په دوی کښې ډیرکم دې.اودعلم او ذی علم وقعت د دوی په زړونو کښې نشته.هم دا وجه وه .چه دوی ډیر نبیان قتل کړی وو.اودحضرت محمد ﷺ د قتل کولو اراده نې هم کړئ وه.اویو ځل نه بلکه باربار نې نبی کریم ﷺ ته زهر ورکړل.په نبی کریم ﷺ نې جادو اوکړو اود خپل ځان په شان باطل خلق نې خپل ځان سره یوځائې کړل په نبی کریم ﷺ باندې نې حمله اوکړه. لیکن الله ﷻ هرځل هغوئ نامراد اوناکام کړل

د یهودیانو مسلمانانو سره دشمنی:- ابن مردویه کښې دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چه کله به هم یو یهودی یو مسلمان یواځی اولیدو نو د هغه په زړه کښې به د هغه دقتل کولو قصد پیدا کیدو. یو بل سند سره هم دا حدیث مروی دې لیکن هغه هم ډیر غریب دې.

عیسایان مسلمانانو ته د یهودو په نسبت نزدې دی:- خومسلمانانو سره دوستئ کښې ډیر نزدې هغه خلق دی چه په خپله نصرانیان دی.دحضرت مسیح علیه السلام په ریښتیا تابعداردی،دانجیل په اصلی او صحیح طریقه قائم دی،په دوی کښې یوحد پورې مسلمانانو سره اواسلام سره محبت دې،دا په دې وجه چه په دوی کښې نرم دلی ده لکه څنګه چه الله ﷻ ارشاد فرمائیلې دې.﴿وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً﴾ یعنی کوم خلق چه د حضرت عیسی علیه السلام تابعداردی د هغوئ په زړونو کښې مونږ نرمی او رحم اچولې دې.د هغوئ په کتاب کښې حکم دې چه تاسو ته څوک یو مخ څپیړه درکړی نو بل مخ ورته راواړوئ.د دوی په شریعت کښې هیڅ جنګ نشته.

مسلمانانو سره دحق پرستو عیسایانو د دوستئ وجه:دلته ددوی د دوستئ وجه دابیانوی چه په دوی کښې خطیبان او واعظان دی.د ﴿قسیس﴾ او ﴿قس﴾ جمع ﴿قسیسین﴾ده او د ﴿سوس﴾ هم ده﴿رهبان﴾ د ﴿راهب﴾جمع ده. راهب عابد ته وائی.دا لفظ مشتق دې درهب نه او د رهب معنی ده ویره اوخوف،لکه څنګه چه د ﴿راکب﴾ جمع ﴿رکبان﴾ ده. او د ﴿فارس﴾ جمع ﴿فرسان﴾ ده .امام ابن جریر رحمه الله فرمائی چه کله ﴿رهبان﴾ د واحد دپاره راځی.نود دې جمع ﴿رهابین﴾ راځی. لکه ﴿قربان﴾ او ﴿قرابین﴾ او ﴿جوزان﴾ او ﴿جوازین﴾ او کله د دې جمع ﴿رهابنة﴾ هم راځی. دعربو شعرونو کښې هم لفظ د ﴿رهبان﴾ واحد دپاره

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الجنائز باب الصفوف علی الجنازة: ۱۳۱۸، صحیح مسلم: ۹۵۱.

(۲) الطبرانی: ۵۰۱/۱۰.

Scanned with Ca

راغلي دي. حضرت سلمان ﷺ ته يو سړي ﴿قسيسين ورهبانا﴾ وائي اوددي معنى دريافت كوى نو هغه ورته فرمائى چه ﴿قسيسين﴾ په خانقاهونو او غيرآباد ځايونو كښې پريږده،ما ته نبى كريم ﷺ ﴿صديقين و رهبانا﴾ وئيلى دى (۱) (بزار وابن مردويه) الغرض ددوى دري اوصاف بيان شو. په دوى كښې د علماء كرامو كيدل،د عابدانو كيدل،په دوى كښې تواضع او عاجزى.

(الحمد لله) د تفسير ابن كثير شپږمې پارې ترجمه ختمه شوه.

وَاِذَا	سَمِعُوْا	مَآ	اُنْزِلَ	اِلَى الرَّسُوْلِ	تَرٰٓى	اَعْيُنَهُمْ
او كله چې	واووى هغوئ	هغه كلام	چې نازل شوې دې	رسول ته	ته وينى	سترګې دهغوئ
اوچې كله هغه كلام واورى چې پيغمبر ته نازل شوې دې	.....				نو ته وينې چه ددوئ سترګې	
تَفِيْضُ	مِنَ الدَّمْعِ	مِمَّا	عَرَفُوْا	مِنَ الْحَقِّ ۚ	يَقُوْلُوْنَ	رَبَّنَآ
چې بهيږى	داوښكو نه	اپه وجه ددې	چې پيژندلې دې هغوئ	حق	وايئ هغوئ	اې ربه زمونږه
داوښكو نه ډكې شى	ځكه چې حق خبره ئې پيژندلې ده (چه قرآن دې)					وائى چې ائې ربه زمونږه
اٰمَنَّا	فَاكْتُبْنَا	مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ۝	وَمَا لَنَا	لَا نُؤْمِنُ		
ايمان راوړې دې مونږه	نواوليكه مونږه د گواهى كونكوسره	اوځه شوى دى په مونږ	چې ايمان به نه راوړو مونږ			
مونږ ايمان راوړې دې	نومونږ په گواهى كونكو كښې شميركړه	او آخر مونږ ولې ايمان نه راوړو				
بِاللّٰهِ	وَمَا	جَآءَنَا	مِنَ الْحَقِّ ۙ	وَنَطْمَعُ	اَنْ يُّدْخِلَنَا	
په الله باندې	اوپه هغې څه	چې راغلې دې مونږ ته	چه حق دې	اوحال دا چې طمع لروچې داخل به كړى مونږ		
په الله ﷻ باندې او چې كوم حق مونږ ته راغلې هغه ولې نه منو! هركله چې دا طمع ساتو						
رَبُّنَا	مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ ۝	فَاَثَابَهُمُ	اللّٰهُ	بِمَا	قَالُوْا	
رب زمونږ	دنيكانو خلقو سره	نوورکړه بدله هغوئ ته	الله	په سبب دهغه چې وئيلى ووهغوئ		
چې الله ﷻ به مونږ دنيكانو په ډله كښې شامل كړى	.....			ددې وينا په وجه به ورته الله ﷻ		
جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا ؕ	وَذٰلِكَ جَزَآءُ
جنتونه	چې بهيږى لاندې د هغې نه	نهرونه	چې هميشه به وسيږى	په هغې كښې	او دا	بدله ده
داسې باغونه وركړى	چې دهغې لاندې به ولې بهيږى	او تل ترتله به په هغې اوسيږى	او بيشكه هم دغه			
الْمُحْسِنِيْنَ ۝	وَالَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	وَكَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِنَآ	اُولٰٓئِكَ	
دنيكانو خلقو	اوهغه كسان	چې انكار ئې اوكړو	اودروغ ئې اوګڼړل	آيتونه زمونږه	دغه كسان	
دنيكانوبدله ده	اوچا چې انكار اوكړو	اوزمونږ آيتونه ئې دروغ اوګڼړل	.....		نوهم دغه خلق	

۱) مجمع الزوائد: ۱۷/۷، طبرانى: ٦۱۷٥، هثيمى وائى چې دې روايت كښې يحيى بن عبد الحميد الحمانى او نصير بن زياد ضيعف راويان دى. اوګورئى (مجمع الزوائد حواله بالا).

Scanned with Ca

أَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿۸۶﴾ ع
خاوندان	ددوزخ دی	
دوزخیان دی

قوله تعالی:: وَاِذَا سَمِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَى الرَّسُوْلِ تَرٰٓى اَعْيُنَهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوْا مِنَ الْحَقِّ

اهل ایمان چه کله قرآن اوری نو د هغوی زړونه نرم کیږی :- اوچه کله به هغوی په رسول الله ﷺ باندې نازل شوې وحی اوری نو ته به هغوی ته گورې چه سترگې به ئی د اوښکونه ډکې وی. خکه چه هغوی بشارت پیژندلې دې چه د محمد ﷺ د بعثت سره متعلق هغوی په خپلو کتابونوتورات او انجیل کښې کتلې وه. نو هغوی اوئیل چه اې ربه مونږ په محمدﷺ باندې ایمان راوړې دې مونږ هم په هغه ټولگی کښې شامل کړه چا چه گواهی ورکړې او ایمان ئې راوړې دې. عبدالله بن زبیرؓ وائی چه دا آیت د نجاشی اوهغه دملگرو متعلق نازل شوې.حضرت ابن عباس ؓ فرمائی ﴿مَعَ الشّٰهِدِيْنَ﴾ نه حضرت محمدﷺ اودهغه امت مراد دې. چا چه د خپل نبی د پاره گواهی ورکړې ده چه نبی د تبلیغ حق ادا کړې دې اود رسول الله ﷺ ئې هم گواهی ورکړې ده چه هغه د تبلیغ فرضه ادا کړې ده.(۱) حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چه ﴿تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ﴾ نه هغه کرونده گړی مراد دی کوم چه حضرت جعفرؓ بن ابی طالب سره د حبشه نه راغلی وو او چه کله رسول الله ﷺ قرآن واورولو نو هغوی ایمان راوړلو او د هغوی په سترگوکښې اوښکې راغلې. رسول الله ﷺ هغوی ته اوفرمائیل چه کله تاسو خپل وطن ته لاړشئی نو واپس به خپل مذهب ته خو نه اوړئی؟(۲) هغوی وئیل چه مونږ به د دې خپل دین چړې هم نه اوړو. نو الله ﷻ د هغوی دا وینا داسې بیان اوفرمائیله﴿وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ الْحَقِّ ۙ وَنَطْمَعُ اَنْ يُّدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِيْنَ﴾ یعنی آخر مونږ ولې ایمان راونړو په الله ﷻباندې اود هغه په وحی باندې . زمونږ بالکل خواهش دې چه زمونږ رب مونږ د صالحینو په قوم کښې داخل کړی. دا نصاری خلق وو د چا ذکر چه الله ﷻداسې فرمائیلې دې. چه په اهل کتابو کښې داسې خلق هم شته چه د دې نه وړاندې ئې هم په انجیل ایمان راوړې وو او چه کله به قرآن په هغوی باندې تلاوت کولې شو نووئیلې به ئې چه دا د الله ﷻد طرف نه حق دې. مونږ خود اول نه مسلمانان یو(۳) په دې وجه دلته الله ﷻ فرمائی چه د دوی د دې اعتراف په سبب به دوی له جنتونه ورکولې شی. په کوم کښې چه به د اوبو چینې بهیږی، دا د هغوی د ایمان او تصدیق صله او بدله ده. هغوی به په دې جنتونو کښې د همیشه د پاره وی د هغه خائ نه به د یو ساعت د پاره نه اوځی. د حق اتباع کونکو هم دغه بدله ده.خنگه چه هم هغوی وی او چرته چه هم وی او یا چا سره هم چه وی هغوی د دې بدلې حقدار دی. دې نه پس د بدبختانو خبر ورکولې شی چاچه کفر کړې او زمونږ آیاتونه ئې دروغ ګنړلی هغه ټول دوزخیان دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا تُحَرِّمُوْا	طَيِّبٰتِ	مَآ
اې هغه کسانو|چې ایمان مو راوړې دی| مۀ حراموئ تاسو| پاك ځیزونه| هغه				
ائې دایمان خاوندانو الله ﷻ چې ستاسود پاره کوم پاکیزه ځیزونه حلال کړی دی				

(۱) حاکم : ۳۱۳/۲، وصححه الحاکم
(۲) المعجم الکبیر : ۱۲٤٥٥،
(۳) ۲۸ القصص : ٥۲، ٥۳.

Scanned with Ca

اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ۝
چی حلال کړی دی الله|ستاسو دپاره|اومهٔ اوړئ دحدنه |ببیشکه چی الله |نهٔ خوښوی|دحد نه اوړیدونکی
هغه په خان مه حراموئ او د حد نه بهر مه اوخئ بیشکه زیاتی خور خلق د الله ﷻ نه دی خوښ
وَكُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ حَلٰلًا طَيِّبًا ۪ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ
اوخورئ| دهغې رزق نه|چی درکړې دې تاسو ته الله|حلال پاك|اوخان ساتئ دنافرمانئ| دالله نه	هغه
اوالله ﷻ چې تاسوته کوم پاک څیزونه درکړی هغې نه خورئ	اودهغه الله ﷻ نه ویریږئ په کوم چه
اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ۝
چی تاسو| په هغه| ایمان لرونکی یئ	
تاسو ایمان راوړې دی|

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ

دخپل طرف نه یوڅیزحلال یاحرام کولو ممانعت:- د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه دا آیت د نبی ﷺ صحابه کرام په یوه ډله کښې نازل شوهغوی وئیلې وو چه مونږ خپل اندامونه پریکوو او ترک شهوت کول غواړو او داسې د راهبانو غوندې به اخوادیخوا گرځو او د دنیا نه به بالکل بې پرواه شو. نبی کریم ﷺ ته چه کله دا خبر اورسیدلو نو هغوی ئې راوغوښتل او تپوس ئې تری اوکړو چه تاسو داسې وئیلی دی نو هغوی اووئیل چه او زمونږ داسې اراده ده. نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه گورئې زه روژه هم ساتم او نه ئې افطار کوم. د شپې مونځ هم کوم او اوده کیږم هم، ښځو سره نکاح هم کوم او راهب جوړشوې هم نه گرځم، څوك چه زما په طریقه روان شو هم هغه زما نه دې او څوك چه زما طریقه اختیار نه کړی هغه زمانه نه دې.(۱)

درهبانیت اختیارولو اراده ښکاره کول:-حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دې چه بعض صحابه کرامو د رسول الله ﷺ دکورنی پټ عملونو باره کښې د بعض بیبیانو نه د څه سوالونو تپوس اوکړو(نود حضرت ﷺ د شپې ورځې د عبادت حال به ور معلوم شوې وی) نو په هغوی کښې یو کس اووئیل چه د نن نه به غوښه نه خورم، چا وئیل چه زه به کله هم ښځې ته نږدې نه شم، چا وئیل په زمکه به خاورو کښې اوده کیږم چرې به هم په بستره اوده نه شم. دا خبر حضور ﷺ ته اوشو نو هغوی ﷺ اوفرمائیل چه په دې خلقو څه چل شوې؟ څوك دا وائی څوك هغه وائی. زه خو روژه نیسم اوافطار هم کوم، اوده کیږم هم او مونځ هم کوم. غوښه هم خورم اونکاح هم کوم. څوك چه زما د طریقې نه اخوا شو هغه زما نه نه دی(۲) د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه یو سړې حضور ﷺ له راغلو او وئی وئیل چه زه کله غوښه خورم نو ډیر زیات شهوت راپیدا کیږی په دې وجه ما په خپل ځان غوښه حرامه کړه، نو دا آیت نازل شو د ایمان خاوندانو د الله ﷻ حلال کړې شوی څیزونه په ځان مه حرامه وئی.

دځان خصی کولو اجازت غوښتل:(۳)حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه مونږ نبی کریم ﷺ سره په جنگ کښې د اوږدې مودې راسې وو او مونږ سره ښځې نه وې.کله چه مونږ ته اوسیدل گران معلوم

---

۱) الطبری : ۵۱۸/۱۰ بدون الاية.

۲) صحیح بخاری کتاب النکاح باب الترغیب فی النکاح : ۵۰۶۳، صحیح مسلم: ۱۴۰۱، احمد: ۲۴۱/۳، ابن حبان: ۱۴.

۳) ترمذی کتاب تفسیر القران ،ومن سورة المائدة : ۳۰۵۴.

شول نومونږ دحضور ﷺ نه تپوس اوکړو چه ایا مونږ خانونه خصیان کړو چه هډو خواهش مو نه پیدا کیږی نوهغوی ﷺ مونږ منع کړلو او مونږ ته ئې د یوې کپړې یا یوې جوړې په عوض د یو موقتی نکاح اجازت راکړو، بیا حضرت عبدالله ﷺ دا آیت تلاوت کړو اې د ایمان خاوندانو د الله ﷻ حلال کړې شوی ځیزونه په ځان مه حرامه وئی(۱)خو داواقعه د نکاح متعه دحرام ګرځولو نه وړاندې ده والله اعلم.

دکهیر خوړولونه قسم کول:-حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ له د پوخ شوې کهیر تحفه راغله، خلق یوځای کیناستل او خوراک ئې کولو نو یو سړې د مجلس نه اخوا شو. حضرت عبدالله ﷺ اوفرمانیل راشه اوخوره نو هغه ونیل چه زما خو د دې د خوړلو نه قسم کړې. هغوی اوفرمانیل راشه اوخوره قسم مات کړه او کفاره ورکړه، بیاني دا آیت تلاوت کړو. (۲)

دملیمه دمیلمستیا خیال ساتل:- وانی چه عبدالله بن رواحه ﷺ یو میلمه ته دعوت ورکړو لیکن د حضور ﷺ په مجلس کښې د حصاریدو په وجه ناوخته شو. کور ته چه راغلونو معلومه شوه چه په میلمه ئې انتظارکړې دې او خوراک ئې پرې نه دې خوړلې نو ښځې ته غصه شو او وئی ونیل زما د پاره تامیلمه اوږې اوساتلو په ماباندې نن خوراک حرام دې. ښځې وئیل چه په ما باندې هم حرام دې زه ئې هم نه خورم. میلمه چه دا اوکتل نو هغه ونیل چه په ما باندې هم حرام دې زه ئې هم نن نه خورم. حضرت عبدالله ﷺ چه دا اوکتل نو ډیر پریشانه شو او بیاني لاس ورورانده کړو او خوراک ئې شروع کړو، او وئی فرمانیل چه بسم الله اووائې او ټول شروع کړئی. دا خبر حضرت ﷺ ته اورسیدو نو دا آیت نازل شو. دا حدیث اثر منقطع ګڼلې شی.صحیح بخاری کښې هغه حدیث کوم کښې چه د صدیق اکبر ﷺ واقعه اود هغه د میلمه ذکر دې هغه هم د دې په شان ده (۳)،

د جائز ځیز حرامولو نه پس د هغې په خوراک د کفارې د وجوب حکم:- ①دحلالو حرامول او د حرامو حلالول هم یو قسم له قسم دې. هغه او دا دواړه قصې د دې خبرې دلیل دې څنګه چه د امام شافعی رحمه الله وغیره علماؤ مسلك دې چه چا په خپل ځان باندې یو لباس خوراك یا ښځه پریخودل او یا څه ځیز حرام کړو نو هغه حرامیږی نه اوته د هغې کفاره شته، ځکه چه الله ﷻ اوفرمانیل د الله ﷻ حلال کړې شوې ځیز په خپل ځان به مه حرامه وئې. هم دغه خو وجه ده چه چا په خپل ځان باندې غوښه حرامه کړې وه هغه ته نبی اکرم ﷺ د کفارې ورکولو حکم نه وو ورکړې. ② خو امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمانی چه چا په ځان باندې خوراك لباس یا څه بل څه ځیز حرام کړونود قسم کفاره به ادا کوی. ځکه چه کله یو سړې د قسم په ذریعه د یو ځیز پریخودل په ځان لازم کړل نو چه څنګه د قسم کفاره لازم راځی دغه شان به بغیرد قسم نه د مجرد تحریم نه هم غیرلازم ته لازم ګرځولو په وجه د ده نیول پکار دی چه د کفارې په صورت کښې کیدی شی. حضرت ابن عباس ﷺ هم داسې فتوی ورکړې ده. هغوی فرمانی چه د الله ﷻ قول نه هم دا معلومیږی.﴿يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ﴾ او وې فرمانیل﴿قَدْ فَرَضَ اللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَانِكُمْ﴾ یعنی اې نبی د خپلو بیبیانو د خوشحالولو دپاره الله ﷻ چه کوم ځیزونه په تاباندې حلال کړی دی هغه ولې په خپل ځان باندې حرام کوې. الله ﷻ غفور او رحیم دې.

د حلال ځیز نه قسم ماتول او د قسم کفاره ورکول دی

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر : باب ﴿ یاایهاالذین امنوا لاتحرموا طیبات ماأحل الله لکم﴾ : ٤٦١٥. صحیح مسلم. ١٤٠٤. بیهقی : ٧٩/٧. ابن حبان : ٤١٤١.

(۲) حاکم : ٣١٣/٢.

(۳) صحیح بخاری کتاب الادب باب مایکره من الغضب والجزع عند الضعیف : ٦١٤٠. صحیح مسلم: ٢٠٥٧.

Scanned with Ca

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز د حلال څیز نه قسم خوړلو نه پس په ده باندې د قسم ماتول واجب دی او چې قسم مات کړی نو د قسم کفاره به ورکوی (معارف القرآن ۴۹۹/۳)۔

بیا فرمائی چه الله ﷻ په تاسو باندې فرض کوی چه خپل قسمونه مات کړئی. دلته د پورته ذکر شوی آیت ذکر کولو نه پس د قسم د کفارې ذکر اوفرمائیلو. د دې نه دا خبره ثابته شوه چه د یمین یعنی قسم ذکر نه هم وی او په خپل ځان ئې حرام کړی وی نو بیا هم د کفارې حقدار کیدو کښې په منزله د قسم دې. والله اعلم. د مجاهد رحمه الله نه روایت دې چه بزرګان صحابه لکه عثمان بن مظعون رضی الله عنه او عبدالله بن عمر رضی الله عنه اراده اوکړه چه ترک دنیا اوکړی. ځانونه خصیان کړی او د ټاټ نه علاوه بل هیڅ وانه غوندی، نو مذکوره آیت نازل شو، د کوم په آخر کښې چه داسې اوفرمائیل چه په الله ﷻ باندې مو ایمان راوړې نود هغه نه اوویریږئی.

د حضرت عکرمه رضی الله عنه نه روایت دې چه عثمان بن مظعون رضی الله عنه او علی رضی الله عنه بن ابی طالب، ابن مسعود رضی الله عنه، مقداد بن اسود رضی الله عنه، سالم مولی ابوحذیفه رضی الله عنه، دوی د ترک دنیا اراده اوکړه. په کورونوکښې کیناستل، ښځې پریخودې، ټاټونه ئې واغوستل، د خوراک څښاک ټول ښه ښه څیزونه ئې په خپل ځان حرام کړل. د بنی اسرائیلو د راهبانوغوندې خوراک څښاک ئې اختیار کړو، د خصې کیدو اراده ئې اوکړه، اتفاق ئې اوکړو چه ټوله شپه به مونځونه کوو، ټوله ورځ به روژې ساتو، نو دا آیت نازل شو چه د الله ﷻ پاک څیزونه په خپل ځان مه حرام کوئی، د حدنه مه وړاندې کیږئی، مونږ داسې خلق هیڅ کله نه خوښوو، دا د مسلمانانو طریقه نه ده چه د ښځو نه جدا اوسیدل، ښه خوراک څښاک او ښه لباس پریخودل، ټوله شپه ویښیدل، ټوله ورځ روژه نیول، خصی کیدل دا ټول غلطې طریقې دی. حضور ﷺ اوفرمائیل چه په تاسو باندې ستاسو د نفس هم حق دې. کله نفلی روژه ساته اوکله مه ساتئ، کله مونځ کوه او کله اوده کیږه، که زمونږ دا طریقه دې پریخوده نو زمونږ نه نه ئې. دې اوریدو سره ټولو اوونیل اې الله مونږ د دې خپلو ارادو نه بچ کړې او د وحی د اتباع توفیق راکړې.

نبی کریم ﷺ یو وخت کښې تذکیر او تنبیه کولو سره پاسیدو او صرف د الله ﷻ د عذاب نه ئې ویرول اوکړه نو د نبی کریم ﷺ په صحابه کرامو کښې لس کسان وو چه په هغې کښې حضرت علی رضی الله عنه هم وو. عثمان بن مظعون رضی الله عنه هم وو. وئی وئیل که چرې نصاری او راهبان په خپل ځان باندې عیش او آرام په خپل ځان حرام کولې شی نومونږ خود هغوی نه د دې زیات حقدار یو. بعض خلقو په ځان غوښه او چربی حرام کړه، بعض خوب او بعضې ښځې حرام کړې. ابن مظعون رضی الله عنه په خپل ځان باندې ښځه حرام کړې وه، نه به دې کورته تلو او نه به ئې بی بی ده ته راتله. اوس د هغه بی بی حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها ته راغله. حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها سره د نبی کریم ﷺ نورې بیبیانې هم ناستې وې. حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها تپوس اوکړو اې حولاء دا په تا څه چل شوې چه د مخ رنګ دې زیړ دې. نه ګمنزه شته او نه دې کمسئ کړی دی، نه دې تیل مخلی دی اونه د عطر لګولی دی؟ نو هغې وئیل چه ګمنز او تیل کولو باندې به څه اوکړم، زما خاوند نه په ما راپریوزی او نه زما نه لره شان کپړا اوچتوی. ټولو چه دا خبره واوریده نو په خندا شوې. په دې کښې رسول الله ﷺ تشریف راوړو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه دا ټولې ولې خاندئی؟ نو هغوی اوونیل اې رسول الله ﷺ دا حولاء داسې وانی. نو هغوی ﷺ عثمان بن مظعون رضی الله عنه راوغوښتو او ورته ئې اوفرمائیل تا څه کړی. هغه وئیل ما دا عیش د الله ﷻ دپاره پریخې دې چه د عبادت د پاره خاص شم بلکه زما خو اراده ده چه خپل ځان خصی کړم. حضور ﷺ اوفرمائیل ستا دې په الله باندې قسم وی چه داسې اونه کړې زر کور او بیبی سره ملاوشه. هغه وئیل اې رسول الله ﷺ زما خو روژه ده. حضور ﷺ اوفرمائیل روژه ماته کړه. هغه دا

Scanned with Ca

ټولې خبرې پوره کړې. اوس حولاء حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها لت راغله. ګمنزه، رانجه او عطرلګولې. حضرت عائشه صدیقه رضی‌الله عنها په خندا کښې تپوس اوکړو حولاء څه چل اوشو هغې وئیل پرون هغه راغلې وو. حضور ﷺ عثمان ﷺ ته فرمائیل داسې هیڅ کله مه کوه دا په دین باندې ډیر لوئ زیاتې دې. اود قسم د کفارې ادا کولو حکم ئې ورکړو او وئی فرمائیل چه الله ﷻ ستاسو په لغو قسمونونیول نه کوی. اودا ده که قسم مو اوترلو نو نیول یه کوی﴿وَلَا تَعْتَدُوْا﴾ معنی هم احتمال کیدې شی چه مباحات په خپل ځان حرامولوسره په خپلو نفسونو تنګی مه کوئی. دا هم احتمال دی چه دا مراد وی چه حلال حرام مه جوړوئی اود حلال نه فائده اوچتولوکښې د حد نه زیاتې مه کوئی. حلال هم د کفایت مطابق حاصلوئی د ضرورت نه زیات نه. اوفرمائیلې شوی دی‌چه ﴿كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا﴾ خورئی څکئی خو په خوراک څښاک کښې د ضرورت نه زیات مه خرچ کوئی. فرمائی چه مؤمن هغه سړې دې چه په خرچ کولو کښې اسراف نه کوی نه بخل کوی، بلکه د اعتدال په لار وی. الله ﷻ نه د افراط اجازت ورکړې نه د تفریط. هم په دې وجه ئې فرمائیلی دی:﴿وَلَا تَعْتَدُوْا﴾ بیائې اوفرمائیل چه په هر حالت کښې حلال او پاک خورئی او په خپلوتولوامورو کښې د الله ﷻ نه ویریږئی. د هغه د اطاعت او مرضئی اتباع کوئی اود مخالفت او عصیان نه منع ښئی.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ	اللّٰهُ	بِاللَّغْوِ	فِيْٓ	اَيْمَانِكُمْ	
نۀ نیسی تاسو	الله	په لغوه سره		په قسمونو ستاسوکښې	
الله ﷻ تاسو په عبث قسمونو باندې نه نیسی					
وَلٰكِنْ	يُّؤَاخِذُكُمْ	بِمَا	عَقَّدْتُّمُ	الْاَيْمَانَ ۚ	فَكَفَّارَتُهٗٓ
خو	نیسی تاسو	په هغې سره	چی کلك کړی وی تاسو	قسمونه	نو کفاره دداسې قسم
خوپه هغه قسمونونیسی چې کوم تاسو په قصد سره خوړلی وی				نوددا سې قسم ماتولو کفاره داده	
اِطْعَامُ	عَشَرَةِ	مَسٰكِيْنَ	مِنْ اَوْسَطِ	مَا	تُطْعِمُوْنَ
خوراك ورکول دی	لسو	مسکینانو ته	ددرمیانه درجې	هغه خوراك	چی خوروئ ئې تاسو
چې لسو مسکینانو ته داسې ډوډئ ورکړئ			چې کوم درمیانه حال خوراک تاسو په خپل		
اَهْلِيْكُمْ	اَوْ كِسْوَتُهُمْ	اَوْ تَحْرِيْرُ	رَقَبَةٍ ؕ	فَمَنْ	
په بال بچ خپل باندې	یا جامه اغوستل دی هغوئ ته	یا آزادول دی	دیوغلام	نو هغه څوك	
اهل باندې خوروئ	یا لسو مسکینانو ته جامې ورکړئ	یایومړئ آزاد کړئ	.....نوڅوك چې		
لَّمْ يَجِدْ	فَصِيَامُ	ثَلٰثَةِ	اَيَّامٍ ؕ ذٰلِكَ	كَفَّارَةُ	اَيْمَانِكُمْ اِذَا
چې وې نۀ موندل نو روژې نیول دی	دري	ورځې	دا	کفاره ده	دقسمونو ستاسو کله چې
ددې طاقت نه لری	نو هغه دې دري روژې اونیسی	داستاسودقسمونو کفاره ده	..... کله چې		
حَلَفْتُمْ ؕ	وَاحْفَظُوْٓا	اَيْمَانَكُمْ ؕ	كَذٰلِكَ	يُبَيِّنُ اللّٰهُ	لَكُمْ
قسم اوخورئ تاسو	اوحفاظت کوئ	دقسمونوخپلو	دارنګې	بیانوی الله	تاسو ته
تاسوقسم اوکړئ اوبیاهغه مات کړئ	اودخپلو قسمونوحفاظت کوئ	ادغه شان الله تاسوته خپل حکمونه بیانئ			

Scanned with Ca

آیته	لَعَلَّكُمْ	تَشْكُرُونَ ﴿٨٩﴾
آیتونه خپل اډپاره ددې چې تاسو اشکر اوباسئ		
چې تاسو شکر گزار جوړشئ		

قوله تعالی:: لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ
په لغوقسمونو باندې کفاره نشته ﴿لیمین لغو﴾ کوم ته چه د دروغو قسمونه یاد تکیه کلام قسمونه وئیل پکاردی ددې ذکر په سورة بقره کښې تیرشوې،ددې د سردوباره کولو ضرورت نشته ① داسې قسمونه سړې بغیر د ارادې نه په خپلو خبرو کښې کوی،د الله ﷻ قسم،داد امام شافعی رحمه الله قول دې ②د نورو قول دا دې چه داسې لغو په هزل (ټوقو) کښې کولې شی یادمعصیت په موقع هم کولې شی③د حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله قول دې چه د گمان غالب په صورت کښې هم اوگړې شی نو هغه به د یمین لغو په تعریف کښې راځی.یا د غصې په وخت کښې یا د هیرې په صورت کښې قسم خوړلې وی ④ اودا هم وئیلې شوی دی چه د خوراك څښاك او لباس د پریخودو متعلق قسم وی نو هم په دې استدلال سره هغه قابل غیرمواخذه دې چه ﴿لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ﴾ خو صحیح خبره دا ده چه بغیرد ارادې نه د ژبې نه کوم قسم راوځی هغه یمین لغو دې قسم اود هغې کفاره ﴿لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَٰكِن يُؤَاخِذُكُم بِمَا عَقَّدتُّمُ الْأَيْمَانَ﴾ یعنی که د قسم خوړلو په اراده او نیت ئې قسم خوړلې وی نو الله ﷻ به ئې رانیسی ﴿فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ﴾ یعنی په قصد باندې قسم ماتولو کفاره لسو مسکینانو ته خوراك ورکول چاسره چه د خپل محتاجئی د حاصلولو څه لار نه وی، او درمیانه غوندې خوراك ورکول پکار دی کومه چه تاسو کتهئی اوپه خپل عیال باندې خوروئی.دا اوسط غذا روټئی او پیئی یا روټئی او ترکاری ده. حضرت ابن عباس رضی الله عنه بیان کړې دې چه بعض خلقو په خپلو بچو باندې د حیثیت نه هم خرا خوراك کوی اوبعض د حیثیت نه هم زیات، په دې وجه الله ﷻ اوفرمائیل چه درمیانه قسم وی نه په هغې کښې تنگی وی اونه په خرچ کښې زیاتي کړې شوې وی. ابن عمر رضی الله عنه فرمانی هغه خوراك روټئی غوښه یا روټئی پیئی، روغن یا سرکه وغیره ده یا روټئی اوکهجورې وغیره دی. ابن جریر رحمه الله فرمائی چه د اوسط نه مراد د خوراك کمې زیاتي دې.

نوعلماؤ دخوراك په مقدارکښې اختلاف کړې دې. حضرت علی رضی الله عنه فرمائی چه سحر او مانښام لسو مسکینانو باندې اوخوړلې شی. محمد بن سیرین رحمه الله وائی چه هم یو وخت کافی دې. یعنی روټئی او غوښه، که غوښه نه وی نو روټئی او روغن یا سرکه او په مړه خیټه اوخوړلې شی. بعض وائی چه هر یو ته نیم صاع غنم یا کهجورې ورکړې شی یعنی تقریبًا پنځه پاوه. امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی که غنم وی نو نیم صاع او که نوره غله وی نو یو صاع. ابن عباس رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ یو صاع کهجورو کفاره ورکړې وه او هم دغه حکم ئې خلقو ته هم ورکړې وو او که کهجورې نه وی نو نیم صاع غنم.(۱) بیاابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل یو مد غنم یعنی ۵۶ تولې سالن سره. ابن عمر رضی الله عنه، زید بن ثابت رضی الله عنه، مجاهد رحمه الله او محمد ابن سیرین رحمه الله وغیره هم دغه مراد اخستې دې.

امام شافعی رحمه الله وئیلې دی چه د قسم په کفاره کښې مقدار مد النبی ﷺ واجب دې یعنی هم دغه شپږ پنځوس تولې غنم لیکن د ترکارئی څه قید نشته. دلته امام شافعی رحمه الله دلیل اخستې دې د نبی اکرم ﷺ د دې حکم نه کوم چه هغوی رضی الله عنهم یو سړی ته ورکړې وو د چا نه چه په حالت د رمضان د روژې د جماع

---

(۱) ابن ماجه کتاب الکفارات باب کم یطعم فی الکفارة الیمین: ۲۱۱۲.

Scanned with Ca

عمل شوې وو چه شپیتومسکینانو ته په یو داسې پیمانه سره غنم ورکړه کوم کښې چه پنځلس صاع ځای کړې شی(۱) چه هریو ته یویو مُد ملاؤ شی. دابن عمر ﷺ نه مروی دی چه نبی اکرم ﷺ د قسم کفاره یو مد غنم گرځول. احمدبن حنبل رحمه الله وائی چه واجب ډک مدغنم یا دوه مده بغیرد غنمو. والله اعلم.

په کفاره د قسم کښې د غنمو نیم صاع او نور اجناس پوره صاع ورکول دی

مسلک حنفی:- داحنافو مسلک هم دا دی څنگه چې حافظ ابن کثیر رحمه الله ذکر کړې دې یعنی دغنمو نیم صاع چې د موجوه وزن سره پوه کم دوه کلو جوړیږی دومره غنم به ورکړی یا به د دې قیمت په کفاره کښې ورکړی اوکه د غنمونه علاوه بله غله ورکوی نو بیا به پوره یو صاع یعنی درې نیم کلو ورکوی (شاه فیصل غفرله) د الله ﷻ قول دې ﴿ أَوْكِسْوَتُهُمْ ﴾ امام شافعی رحمه الله وائی که چرې دې لسو کښې هر یو ته دومره کپړا ورکړې شی چه په کومه د لباس اطلاق کیدې شی نو کافی ده. لکه یو قمیص یوه پاجامه یا یو پټکنی او څادر. د توپنی باره کښې اختلاف دې چه صرف توپنی کافی ده که نه. بعض وائی جائز ده او دلیل د دې حدیث نه اخلی چه د عمران بن حصین ﷺ نه سوال اوکړې شو نو وئی فرمائیل چه که یوځوسړی ستاسو امیرله راشی اوهغه هریو ته یوه یوه توپنی ورپسر کړی نوتاسووائې چه لباس نې ورکړو. نو ﴿كِسْوَتُهُمْ﴾ کښې توپنی هم راغله. لیکن د دې سند ضعیف دې. حضرت امام مالک رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائی چه هر یو ته دومره لباس ورکول ضروری دی ځومره چه په مانځه کښې لباس اغوستل ضروری دی. ښځې او سړی ته د هغه د شرعی ضرورت مطابق ورکول. والله اعلم. د ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه هرمسکین ته یوه عبا ورکړې شی یا یوه شمله. مجاهد رحمه الله وائی چه پورتنې لباس یا لاندینې لباس کوم چه خوښ وی ورکولې شی. ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائی چه داسې لباس کوم چه ملحفه او څادرونوباندې مشتمل وی ورکول پکار دی یعنی لحاف او څادر وغیره نه چه صرف جانگې قمیص او پړونې وغیره. دې ته لباس جامع نشی وئیلې. سعد بن المسیب رحمه الله وائی عمامه کوم چه د سر نه تاوهی او عباده کوم چه په بدن باندې اغوندی د جامع لباس په تعریف کښې دی. ابن سیرین وائی چه دوه دوه کپړې ورکړې شی. ابوموسی قسم خوړلې وو نو دوه کپړې په کفاره کښې ورکړې وې. د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه مروی دی چه ﴿كِسْوَتُهُمْ﴾ نه د هرمسکین د پاره یو عبامراد ده او دا حدیث غریب دې.

په کفاره د قسم کښې هرمسکین ته یوه جامع ورکول دی

مسلک حنفی:- په کفاره د قسم کښې داحنافو په نیز هرمسکین ته یوه جامه ورکول دی لنگ یا څادر یا قمیص یا چغه یا شړۍ اود امام محمد رحمه الله نه روایت دې چې پرتوګ او پټکې په کفاره د قسم کښې جائزنه دی (احکام القرآن للجصاص ۲۴۷\۲).

﴿أَوْتَحْرِيرُرَقَبَةٍ﴾ یا دی یو غلام آزاد کړې شی. امام ابوحنیفه رحمه الله مطلق غلام مراد اخلی که کافر غلام آزاد کړې شی یا مسلمان. امام شافعی رحمه الله او نور فقهاء وائی چه مؤمن غلام آزادول ضروری دی لکه چه د قتل په کفاره کښې د مؤمن غلام قیدکول دی. په دې صورت کښې خو به اتحاد موجب موجود وی سره ددې چه اتحاد سبب نۀ وی. دمعاویه بن حکم د حدیث نه معلومیږی اوپه صحیح مسلم کښې هم دی چه د ابن حکم سلمی په ذمه یو غلام آزادول وو نو هغه یو حبشی وینځه راوستله نو رسول الله

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الصوم باب اذا جامع ف رمضان ولم یکن له شئ فتصدق علیه فلیکفر.....:۱۹۳۶. صحیح مسلم: ۱۱۱۱. ۱۶۵.

Scanned with Ca

ﷺ دهغه نه تپوس اوکړو الله ﷻ چرته دي نوهغه حبش وئيل په اسمان کښې،بيائې تپوس اوکړو زه څوک يم؟هغې وئيل تاسو دالله ﷻ رسول ئې،نو رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه اودامومن دې دآزادولې شئ.(۱)

په کفاره د قسم کښې د کافر غلام ازادولو جواز

مسلک حنفی:- لکه څنګه چې حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائيلی دی چه په کفاره د قسم کښې د احنافو په نيز کافر غلام آزادول هم جائز دی آحنافو ته دآ نسبت صحيح دی آو د دوی دليل د ايت آطلاق دې يعنی په قران کښې مطلق غلام ازادول دی دکافر آودمسلمآن قيد په کښې نشته نودکتاب الله آطلاق به په خپل آطلاق باندې پريخودې شی آود کافر غلام ازادول به هم جائز وی (تفسير مظهری ۱۹۳\۳).

اوس په دې دريو قسم کفاروکښې چه کومه کفاره ورکړې شی نو کفاره به ادا کړې شی. په قرآن کښې اولنې د آسانئی ذکر دی، د دې نه پس درجه په درجه يعنی خوراک ورکول ډير آسان دی د لباس ورکولونه، بيا لباس ورکول ډير آسان دی د غلام آزادولونه. غرض دا چه د ادنی نه د اعلی طرف ته قدم اوچت کړې شوې دې. د تولو نه په آخرکښې دی چه که مکلف په دې تولوکښې په يو هم قادر نه وی نو ﴿فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ﴾ دری ورځې روژې دې اونيسی.ابن جبير رحمه الله اوحضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چا سره چه دری درهمه هم وی نو هغه دې خوراک ورکړی ګنی روژې دې اونيسی. د بعض متاخرينو علماؤ نه نقل دی چه د هغه د پاره جائز دی چه چا سره د ضروريا تو يا مايحتاج اليه نه علاوه څه زياتی څيز نه وی کوم چه هغه د قسم په کفاره کښې ورکړی يعنی روژې اونيسی. ابن جرير رحمه الله دا هم وئيلی دی چه هغه دومره غريب وی چه د خپل خان او خپل بال بچ د هغه ورځې د خرچې نه علاوه څه نه لری. اوس د علماؤ اختلاف په دې کښې هم دې چه پرله پسې دری روژې ساتل واجب دی که مستحب، او آيا جدا جدا ئې هم ساتلې شی؟ امام شافعی رحمه الله وائی چه پرله پسې ساتل واجب نه دی او امام مالک رحمه الله هم دغه وائی ځکه چه حکم مطلق دې هيڅ قيد نشته. لکه څنګه چه د رمضان روژې مسلسل قضا شی نودهغې هم مسلسل قضاساتلو ضرورت نشته.ځکه ﴿فَعِدَّةٌ مِّنْ اَيَّامٍ اُخَرَ﴾ يو مطلق آيت دې.د امام شافعی رحمه الله يو ځای کښې د پرله پسې د وجوب صراحت دې. د احنافو او حنابله هم دغه قول دې او هغه د دې روايت په بنا چه د ابی بن کعب ﷺ قراءت دې ﴿فصيام ثلثة ايام متتابعات﴾ اصحاب ابن مسعود ﷺ به هم دغه شان لوستلو د دې باوجود چه دا قراءت په تواترسره ثابت نه دې. ليکن کم نه کم خبرواحد ضرور دې يا د صحابه کرامو د تفسيرنه د دې ثبوت ملاويږی. د ابن عباس ﷺ نه روايت دې چه کله د کفارې آيت نازل شو نو حذيفه ﷺ اوفرمائيل چه يا رسول الله ﷺ مونږ په دې دريوارو کښې په يواختيارولوکښې آزادیو؟نو هغوی ﷺ اوفرمائيل چه اوکه غواړې نو غلام آزاد کړه يا چاته لباس ورکړه يا پرې خوراک اوکړه او چه څه هم نه وی نو دری ورځې پرله پسې روژې اونيسه، دا حديث غريب دې. ﴿ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ﴾ داد قسم شرعی کفاره ده ﴿وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ﴾ يعنی کفاره ادا کولو نه بغير مه پاتې کيږه، الله ﷻ داسې په وضاحت سره خپل آياتونه بيانوی دې د پاره چه تاسو شکر اداکړئی.

د قسم د کفارې په روژو کښې تسلسل او پرله پسې والی ضروری دی

مسلک حنفی:- لکه څنګه چه حافظ ابن کثير رحمه الله فرمائيلی دی هم دغه شان ده چه د آحنافو په نيز د قسم په کفاره کښې چې کومې روژې نيولې شی هغه به پرله پسې نيسی ځکه چې دآبی ﷺ د قراءت د وجې چې په هغې کښې د ﴿متتابعات﴾ يعنی پرله پسې والی قيد راغلی دی بله دآ چې په دې کښې آحناف څه يواځی نه دی بلکه د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ مجاهد ابراهيم نخعی قتاده اوطاوس رحمهم الله نه

---

(۱) صحيح مسلم كتاب المساجد باب تحريم الكلام فی الكلام نسخ ماكان من اباحته: ۵۳۷. ابو داود: ۹۳۰. احمد:۴۴۷/۵. بيهقی: ۵۷/۱۰. ابن حبان: ۱۶۵.

Scanned with Ca

هم د پرله پسې والی قید نقل دي (احکام القران للجصاص ۲/۲۷۳)۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا
اې هغه کسانو | چې ایمان موراوړې دي ایښکه
اې دایمان خاوندانو بیشکه
الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ
شراب | اوجواری | اوبتان | اوغشی دفال | پلیتی ده | دکار | دشیطان نه |
شراب اوجواری اوبتان اوپالونه ټول ناپاک څیزونه دی | .....اودا د شیطان کارونه دی
فَاجْتَنِبُوْهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ اِنَّمَا يُرِيْدُ الشَّيْطٰنُ
نوخان اوساتئ ددې نه | دپاره ددې چې تاسو | کامیابی بیا مومئ | بیشکه | غواړی | شیطان
نوددې نه خان بچ اوساتئ | چې تاسو ته نجات ملاؤ شی | .....شیطان خو داغواړی چې
اَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ
اچې واچوی | په منځ ستاسو کښې | دشمنی | اوبغض | په ذریعه دشرابو | اودجواری |
ستاسو مینځ کښې دشرابو او جواری په وجه دشمنی اوبغض پیدا کړی | .....
وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ وَعَنِ الصَّلٰوةِ ۚ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ۝
او منع کړی تاسو | دذکر دالله نه | او د مانځه نه | نو آیا ئ تاسو | منع کیدونکی |
اوتاسو دالله ﷻ دحکم نه اودمونځ نه منع کړی | .....نوتاسو به ګنې اوس هم منع نه شئ
وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا ۚ فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ
اوحکم اومنئ دالله | او حکم منئ درسول | اوخان اوساتئ | نوکه چرې | مخ واړلو تاسو |
دالله ﷻ حکم اومنئ | اودرسول ﷺ حکم اومنئ | اود مخالفت نه خان ساتئ | نوکه چرې تاسو مخ اوګرځولو
فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ۝ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ
نوپوهه شئ | چې بیشکه ده | په رسول زمونږه | رسول دی | ښکاره | نشته | په هغه کسانو
نوپه دې پوهه شئ | چې زمونږ د پیغمبر کار صرف احکام رسول دی | په هغه خلقو باندې هیڅ ګناه نشته
اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا
چې ایمان ئې راوړو | اوعمل ئې اوکړو | نیک | څه ګناه | په هغه شرابو کښې | چې خوړلی ئې وو مخکښې
چې کوم ایمان راوړی | او نیک کارونه کوی | هغوئ چې مخکښې څه خوړلی وو | دهغې به هیڅ تپوس نه کیږی
اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ
په دې شرط | چې خان اوساتی آئنده د شرابونه | اوپه ایمان ټینګ پاتې شی | اوکوی کارونه نیک | بیا
دابۀ حکم به په هغه وخت کښې چې بیا دپاره ترې نه خان اوساتی | اونیک کارونه کوی | .....او بیا هم

Scanned with Ca

اتَّقَوْا	وَّاٰمَنُوْا	ثُمَّ	اتَّقَوْا	وَّاَحْسَنُوْا ؕ	وَاللّٰهُ
ځان ټینګ اوساتی دشرابو نه	اواومنی	بیا	پرهیز کوي	اونیک کړی ټول عملونه خپل	اوالله
پرهیزګار پاتې شی	اوداللہ ﷻ حکمونه اومنئ	او خپله لار سمه اوساتی	اوبیشکه الله ﷻ		
يُحِبُّ	الْمُحْسِنِيْنَ ۝٩٣				
خوښوی	انیک عمله خلق				
ته نیکان خلق خوښ دی					

قوله تعالي: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ فَاجْتَنِبُوْهُ

دَ شرابواو جوارئی حرمت:- الله ﷻ خپل مؤمن بندیګان د شرابو څکلونه او جوارئی وغیره نه منع کوی د حضرت علی ﷺ نه مروی دی چه شطرنج هم یو قسم جواری ده. د مجاهد رحمه الله او طاؤس رحمه الله نه مروی دی چه هرڅیز په کوم کښې چه د قمار لګیدل وی جواری ده تردې چه د ماشومانو شرط لګولو سره میرګاتی او کانچی وغیره لوبې کول جواری ده.(۱) د اسلام راتلو پورې دا جواری د جاهلیت په زمانه کښې په خصوصیت سره کیدله.خو الله ﷻ مسلمانان د خرابو اخلاقونه منع کړل، په اهل جاهلیت کښې بالعموم دا جواری به داسې وه چه د یوې چیلئ یا دوو بکرو غوښه به د شرط په توګه خرڅولې شوه.

زهری رحمه الله فرمائی چه جواری به داسې کیدله چه په مالونو او میوو باندې به غشی غورزولې شو او دغه شان د جوارئی په ذریعه به په هغې قبضه کولې شوه. حضور ﷺ اوفرمائیل چه د غشو په ذریعه کومه لوبه کولې شی هم دغه جواری ده. دغه شان په کوم څیز سره چه لوبې کولې شی او په وهلوسره ګټلې کیږی هغه هم قمار دې. او کیدې شی چه د دې نه دا مراد وی چه د شطرنج لوبه حرام ده. او دغه شان د چوسر، څکه چه په دې کښې ګیټئی وهلوسره ګټلې شی.

حضور اکرم ﷺ فرمائیلی چه څوك شطرنج یا چوسر کوی هغه خپل لاس د سور په غوښه کښې واچولو اودهغه په وینه کښې ورڼوب کړو. (۲) د ابوموسی اشعری ﷺ روایت دې چه حضور ﷺ فرمائیلی هغه د الله ﷻ باغی دې(۳) عبدالرحمن رحمه الله وائی چه ما د خپل پلار نه اوریدلی چه حضور ﷺ فرمائیل چه څوك د چوسر لوبه کوی او مانځه ته اودریږی د دې مثال داسې دې چه څوك په پیپ او خنزیر په وینه اودس اوکړی اومانځه ته اودریږی(۴) د شطرنج باره کښې خو حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ فرمائی چه دا د چوسر نه هم خراب دې او هغه دا په قمار او میسر کښې شمیری. امام مالک رحمه الله امام ابوحنیفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله د دې د حرام کیدلو قائل دی خو امام شافعی رحمه الله دا مکروه ګڼری.

چې جواری په کښې نه وی نو د شطرنج جواز

---

(۱) الطبری : ۳۲۳/٤.

(۲) صحیح مسلم کتاب الشعر باب تحریم اللعب بالنرد شیر: ۲۲۶۰. الادب المفرد ، ۱۲۷۱ ابوداود کتاب الادب ابن ماجه:۳۷۶۳. احمد: ۳۵۲/۵. ابن حبان: ۵۸۷۳

(۳) ابوداود کتاب الادب باب فی النهی عن اللعب النرد : ٤۹۳۸. ابن ماجه : ۳۷۶۲. احمد: ۳۹۷/٤، مسند ابی یعلی : ۷۲۹۰. مؤطا امام مالک : ۹۵۸/۲ الادب المفرد: ۱۲۶۹. حاکم : ۵۰/۱. بیهقی: ۵۱٤/۱۰.

(٤) احمد : ۳۷۰/۵، مسند ابی یعلی : ۱۱۰٤. مجمع الزوائد : ۱۱۳/۸.

Scanned with Ca

مسلک حنفی:-که د شطرنج سره جواری وی نو بیا خو د ټولو فقهاؤ په نیز داحرام دي اوکه جواری ورسره نه وی نو بیا هم د زیاتو فقهاؤ په نیز حرام دي آلبته د آمام آبویوسف رحمه الله نه د جوارئ د نشتوالی په صورت کښې آباحت منقول دي (حلآل و حرام آز مولآنا خآلد سیف آلله رحمآنی (صفحه ۲۴۳)-

انصاب او ازلام:-ابن عباس رضی الله عنه او نورګنر صحابه کرام رضوان الله اجمعین فرمائی چه انصاب هغه کانړوته وائی په کوموچه مشرکانو قربانیانې کوی او بتانو ئې چړاوهی.او ازلام هغه غشوته وائی کوم چه تقسم کوی او فالونه پرې راوباسی.الله ﷻ فرمائی چه دا د شیطانی اعمالو ګندګی ده اود ټولونه خراب عملونه شیطانی عملونه دی. د دې دپاره ای زما بندیګانو د دغه ګندګئی نه بچ شئی نو تاسو به خلاصې بیامومئی.دا عبارت درومبنی سره یوځای کړئی چه اسلام قائم شی. د الله ﷻ ارشاد مبارك دې د شیطان مقصد د همیشه نه دا وی چه په خمر اومیسر کښې مو اخته کړی او په تاسوکښې بعض او دښمنی پیدا کړی اود الله ﷻ د ذکر او مونځ نه تاسو غافل کړی نو اوس به هم د دغه خبرو نه منع کیږئی.دا د الله ﷻ د طرف نه زبردسته تنبیه او ویرول دی.

دَشرابوحرمت دَاحادیثو په رنړا کښې :- د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دې چه د شرابو حرمت دړې خل راغلې دې. کله چه حضور ﷺ مدینې ته تشریف راوړلو نو خلقو به شراب څکل. د جوارې مال به ئې خوړلو. د حضور ﷺ نه دې باره کښې سوال اوکړې شو نو دا وحی نازل شوه چه تانه د شرابو او جوارئی باره کښې تپوس کوی نو دوی ته اووایه چه په دې کښې فائده خو شته لیکن ډیره کمه، او د دې په مقابله کښې نقصانات ډیر زیات دی. نوخلقو وئیل چه فائدې کمې اونقصانات ئې زیات خودلی حرام ئې نه دی وئیلی.نو شراب ئې څکل. یوه ورځ داسې اتفاق اوشوچه یو مهاجر صحابی د مانښام په مانځه کښې د نشې په حالت کښې قرآن غلط ملط او ګډوډ کړو. نو دا آیت نازل شو چه ای مؤمنانو د نشې په حالت کښې مونځ مه ادا کوئی ترکومې چه تاسو په هوش کښې نه ئې چه تاسو څه لولئی او څه نه. دا آیت د رومبی نه ډیرسخت وو نو خلقو په مانځه کښې شراب څکل پریخودل. خوبیابه ئې هم برابر څکل ځکه چه واضح حکم د ممانعت نه وو.یوه ورځ په شرابوکښې مست یو سړی مونځ کولو نو د ممانعت صفا حکم نازل شو ای خلقو شراب،جواری، فالونه او غشی دا ټول د شیطان ګنده عملونه دی زر دې نه منع شئی نوکیدې شی چه خلاصې بیامومئی نو خلقو اووئیل چه ای ربه مونږ منع شو. بیا خلقو د حضور ﷺ نه د هغه خلقو باره کښې تپوس اوکړو چه د ممانعت د حکم نه اول د الله ﷻ په لارکښې قتل شوی وو نو دا آیت نازل شو. چه کومو خلقو ایمان راوړلې وو او نیك عملونه ئې کړی وو نو د ممانعت اول چه هغوی کوم حرام خوړلی وو هغوی باندې به الزام نشی لګولې. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه که د هغوی په ژوند کښې په هغوی باندې دا حرام کړې شوې وې نو هغوی به هم دا پریخې وې لکه څنګه چه تاسو پریخودل.( )

ابومیسره رضی الله عنه نه روایت دی چه د تحریم خمر آیت نازلیدو نه اول حضرت عمر رضی الله عنه دا دعا غوښتې وه ای الله! د شرابو د حرمت باره کښې مونږ ته خپله وحی راولیګه نو دا آیت نازل چه په دې کښې نقصان ډیر او فائده کمه ده.کله چه حضرت عمر رضی الله عنه ته دا آیت واورولې شو نو هغه بیا دا دعا اوکړه ای الله! کافی او شافی حکم نازل کړې نو په سورة النساء کښې دا آیت نازل شو چه ای مؤمنانو د نشې په حالت کښې مانځه ته مه نزدې کیږئی.نود حضور ﷺ مؤذن ﴿ حی علی الصلوة﴾ نه پس دا آواز اوکړو چه د نشې په حالت کښې د مونځ کولو ممانعت راغلو. حضرت عمر رضی الله عنه ته بیا دا آیت واورولې شو نو هغه بیا اووئیل

) احمد: ۳۵۱/۲ وسنده ضعیف.

Scanned with Ca

چه اې الله! بیان کافی او شافی نازل کړې. نو په سورة مائده کښې دا آیت نازل شو چه شراب بالکل حرام دی او بالکل منع شئی. نو حضرت عمر ﷺ اووئیل چه منع شو اې الله مونږ منع شو.(۱)
دبخاری او مسلم نه ثابت دی چه حضرت عمر بن الخطاب ﷺ د رسول الله ﷺ په منبر باندې خطبه ورکوله او وئی فرمائیل اې خلقو شراب حرام کړې شو او د دې پنځوځیزونو کښې د کوم نه چه هم جوړ شی هغه شراب دی. انګور، کهجور، شهد، غنم، اوربشې او د خمر لفظ عام دې په هر هغه څیز باندې چه عقل پټ کړی(۲) حضرت عمر ﷺ فرمانی د تحریم خمر په وخت کښې د انګورو شراب چالونه وو.(۳)
یو بل حدیث دا هم دې چه د شرابو متعلق کله رومبنی وحی راغله نو عامه مشهورتیا اوشوه چه شراب حرام کړې شو. خلقو وئیل یا رسول الله ﷺ لکه څنګه چه الله ﷻ فرمائیلی دی چه په دې کښې نفع هم ده نو مونږ له نفع اوچتول پکار دی. حضور ﷺ خاموش پاتې شو نو چه کله دوئم آیت نازل شو نو بیا مشهوره شوه چه شراب حرام شو نو خلقو وئیل چه یارسول الله ﷺ مونږ خوئې په مانځه کښې نه څکو، نوحضور ﷺ بیا خاموش شو. لیکن چه کله دا آیت نازل شو چه دا د شیطان عمل دې دې نه منع شئی نو حضرت صفا اوفرمائیل چه شراب حرام کړې شو.(۴)
یوبل حدیث دې چه د ابن عباس ﷺ نه مروی دې چه د قبیله ثقیف یا قبیله دوس نه یو سړې د حضرت دوست وو. هغه د مکې دفتح په ورځ حضور ﷺ سره ملاؤشو اودشرابو یومنګې حضور ﷺ په تحفه کښې پیش کړو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه ولې تاته پته نشته چه الله ﷻ شراب حرام کړی دی نو هغه سړې خپل غلام طرف ته متوجه شو او وئی وئیل چه دا بازار ته یوسه او خرڅ ئې کړه. حضرت اوفرمائیل چه چا شراب حرام کړې دی هغه د دې خرڅول او اخستل هم حرام کړی دی. نو هغه خپل غلام ته حکم اوکړو چه دا د ښارنه بهر یوسه او دا منګې واړوه.(۵)
یوبل حدیث دحضرت تمیم داری ﷺ نه مروی دې چه هغه به هرکال حضور اکرم ﷺ له د شرابو یو منګې تحفة رالیګلو. نو چه کله شراب حرام شو او هغه د خپل عادت مطابق منګې راوړلو نوحضرت مسکې شو او وئی فرمائیل چه تاپسې شراب حرام کړې شوی دی نو هغه عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ زه به دا خرڅ کړم اوپیسې به ترلاسه کړم. نوحضور ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ دې په یهودو لعنت اوکړی چه په هغوی باندې دغوا او بکرئ چربی حرام کړې شوې وه نو هغوی به هغه ویلی کوله او روغن به ئې خرڅولو. الله ﷻ شراب او د دې قیمت هر څه حرام کړی دی.(۶) بالکل هم داسې یو حدیث د عبدالرحمن ﷺ بن غنم نه روایت دې کوم کښې چه معنًا څه فرق نشته. دغه شان یو بل حدیث هم دې چه د ابن کیسان پلاردحضرت په زمانه کښې د شرابو تجارت کولو. هغه د تجارت په غرض د شرابومنګې د شام نه راوړل اوحضور ﷺ له ئې هم یو منګې راوړلو او وئی وئیل چه یارسول الله ﷺ ستاسودپاره مې ډیر ښکلی شراب راوړی دی. نوحضور ﷺ اوفرمائیل اې کیسان! دا خوتاپسې شاته حرام کړې شوی دی. هغه

---

۱) ابوداود کتاب الاشربة باب تحریم الخمر : ۳٦۷۰، ترمذی: ۳۰٤۹. وسنده ضعیف دابو اسحاق مدلس دسماع صراحت نشته دې عمرو بن شرجیل دعمر ﷺ نه دې آوریدلې. احمد: ۵۲/۱.
۲) صحیح بخاری کتاب الاشربة باب ماجاء فی ان الخمر ماخامر العقل من الشراب : ۵۵۸۸. صحیح مسلم : ۳۰۳۲. ابوداود : ۳٦٦۹، ترمذی : ۱۸۷٤، ابن حبان : ۵۳۵۳.
۳) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله ﴿ انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام .....﴾ : ٤٦۱٦.
٤) مسند الطیالسی: ۱۹۵۷، وسنده ضعیف ، ددې سند کښې محمدبن ابی حمید ضعیف راوی دی
۵) صحیح مسلم ،کتاب المساقاة باب تحریم بیع الخمر: ۱۵۷،احمد:۲۳۰/۱.مسند ابی یعلی: ۳۵۳۵، بیهقی: ۱۲/٦، دارمی : ۲۱۰۳.
۶) احمد: ۲۲۷/٤، والطبرانی فی الکبیر: ۱۲۷۵، وسنده حسن وله شاهد فی صحیح مسلم: ۱۵۷۹. مجمع الزوائد : ۸۸/٤،

Scanned with Ca

ټپوس اوکړو چه حضرت زه دا څرخ کړم؟په دې باندې حضرت نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چه د دې قیمت همحرام دې.نوکیسان ﷺ هغه منګی واخستل اولته نې ورکړه اوټول دتجارت شراب نې اوبهیول.(۱)

دحضرت انس ﷺ نه روایت دې چه ما ابوعبیده ﷺ اود هغه نورو ملګرو باندې شراب څکول او تردې چه نزدې وه چه هغوی شراب نشه کړی چه په دې کښې پځا اووئیل چه تاسو ته پته نشته چه شراب حرام کړې شو، خلقو وئیل چه مونږ به انتظار کوو او تحقیق به کوو نو نورو صحابه کرامو اووئیل چه نه، انس! څه چه ستا په منګی کښې پچ دی هغه ټول واړوه. د الله ﷻ قسم چه اوس به مونږ بیا نه څکو. دا د کهجورو او اُوربشو شراب وو.(۲) هغه وخت انس ﷺ او د هغه ملګری دحضرت طلحه ﷺ په کورکښې وو. آواز کونکی آواز اوکړو نو وئی وئیل چه اوځه اوګوره او واوره، نو معلومه شوه چه شراب حرام کړې شوی دی.دمدینې په کوڅوکښې شراب بهیدل. بعض خلقو وئیل چه د هغه خلقو به څه کیږی چه شراب نې څکل او په جهاد کښې شهیدان شو. نو آیت نازل شو چه کومو مؤمنانو نیک عمل کولو او مړه شوی دی په هغوی باندې هیڅ ګناه نشته.(۳)

حضرت انس ﷺ فرمائی چه ما په خلقو شراب څکول، د خلقو سرونه د نشې نه رڼیدل چه آواز کونکی د شرابو د حرمت آواز اوکړو نوهریو راتلونکی خپل شراب واړول او منګی مات کړل. بعضو اودس اوکړو او بعضو غسل اوکړو. بعض د ام سلیم نه خوښوو اولګوله بیا جمات ته راغله، نبی کریم ﷺ د شرابو د حرمت آیت تلاوت کړو.یوی سړی حضرت قتاده رضی الله عنه ته اووئیل چه تا د حضرت انس ﷺ نه دا اوریدلی دی اوچا د حضرت انس ﷺ نه ټپوس اوکړو چه تا د رسول الله ﷺ نه اوریدلی؟ نو حضرت انس ﷺ اوفرمائیل چه او، نه حضرت ﷺ دروغ وائی نو مونږ دروغ وایو بلکه مونږ ته خو پته هم نشته چه دروغ څه څیز دی؟(۴)

عبدالله بن عمرو ﷺ وائی چه نبی کریم ﷺ عام شراب، د اُوربشو او غنمو شراب، شطرنج، چوسر، د موسیقئی ټول آلات حرام کړی دی.اوصرف په ما باندې صلوة وتر واجب کړی دی. رسول الله ﷺ فرمائی چه زماد طرف نه څوك د دروغو حدیث جوړکړی او وړاندې کړی هغه ځائ دوزخ دې. حضور ﷺ د عبیره ونې نه رابنکونکی شراب هم حرام ګرځولی او هرنشه ورکونکې څیز ئې حرام فرمائیلې دی.(۵)

حضرت ابن عمر ﷺ فرمائی چه حضور ﷺ فرمائیلی د شرابو په لسو متعلقاتو باندې لعنت، پخپله په شرابو لعنت، پخپله څکونکی او په نورو څکونکی باندې لعنت،په څرڅونکی او اخستونکی باندې لعنت، شراب صفاکونکی، شراب جوړونکی، شراب اوچتونکی او اوړونکیباندې او چه د چا طرف ته ئې اوړی او دشرابو په قیمت خوړونکی، په دې ټولو لعنت.(۶)

حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ د یوې باړې طرف ته اووتلو، زه د هغوی ﷺ نبی طرف ته ووم، ابوبکر ﷺ د وړاندې طرف نه راغلو نو زه روستوشوم، حضرت ابوبکر ﷺ د حضور نبی طرف ته شو، نو زه ګس طرف ته شوم، په دې کښې حضرت عمر ﷺ راتلونکې بنکاره شو نو زه ارڅ ته شوم،

---

۱) احمد: ۱۸۱/۳،صحیح بخاری کتاب الاشربة باب (من رای ان لا یخلط البسر والتمر..) ۵٦۰۰، صحیح مسلم: ۱۹۸۰.

۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب (لیس علی الذین امنوا وعملو الصالحات جناح فیما طعموا) : ٤٦۲۰. صحیح مسلم : ۱۹۸۰، ابوداود: ۳٦۷۳، احمد: ۲۲۷/۳، بیهقی : ۲۸٦/۸.

۳) الطبری : ۲٤/۷،.

٤) احمد: ۱٦۵/۲،.

۵) احمد :۱۷۱/۲، وابوداود : ۳٦۸۵، وهو حدیث حسن.

٦) ابوداود کتاب الاشربة باب العصیر للخمر : ۳٦۷٤، وسنده حسن ابن ماجه : ۳۳۸۰، احمد:۲۵/۲، مسندابی یعلی : ۵۵۹۱.

Scanned with Ca

حضرت عمر ﷺ کس طرف ته شو، نو حضور ﷺ دې باړې ته راغلو چه د کورونو شاته د اوښانود ټرلو خائ وو،هلته د شرابو یوه مشکیزه ښکاره شوه. ابن عمر ﷺ فرمائی چه حضور ﷺ زه راوغوښتم، یوه چاړه ئې راکړه اووئی فرمائیل دامشکیزه اوخیره، وئی فرمائیل چه په شرابو باندې،دشرابو څکونکو باندې، شراب اوړو راوړو والاباندې، صفاکونکی او جوړونکی باندې اود دې قیمت خوړلووالا ټولو باندې لعنت دې. هم (۱)د حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دې یوه ورځ حضور ﷺ صحابه کرامو سره د مدینې بازار ته لاړو، هلته د شرابو مشکیزې کیخودې وې چه د شام نه راوړلې شوې وې. زما په لاس کښې چاړه وه، مانه حضور ﷺ چاړه واخسته او بیا چه څومره مشکیزې د هغوی ﷺ په وراندې وې ټولې اوخیرلې. بیائې ماته چاړه راکړه او خپلو اصحابوته ئې اوفرمائیل چه ده سره لاړشئی او د ده امداد اوکړئی او ماته ئې حکم راکړو چه په بازار کښې یوه داسې مشکیزه پرینږدې کومه چه دې څیرلې نه وی او شراب دې نه وی بهیولې. نو ما هم داسې اوکړل.(۲)

د یزید خولانی رحمه الله نه روایت دې چه د هغه تره شراب خرڅول او ډیر باخیر او مالدار سړې وو. ما هغه د شرابو خرڅولو نه منع کړو، هغه واونه ریده، چه زه کله مدینې ته راغلم نو د ابن عباس ﷺ نه مې د شرابو اود هغې د قیمت باره کښې تپوس اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه شراب اود هغې قیمت حرام دې. بیائې اوفرمائیل چه ای امت محمد ﷺ که ستاسو د کتاب نه پس بل کتاب راتلې یا ستاسو د نبی نه پس بل نبی راتلونکی وو نوستاسو د ګناهونو او سرکشوبه په هغې کښې داسې ذکر کیدو لکه څنګه چه د مخکینو ګناهګارانو امتونوذکر چه ستاسو په قرآن مجید کښې دې او هغوی رسوا شوی دی. خو اوس د الله ﷻ دوئم کتاب نه دې راتلونکې په دې وجه ستاسو رسوائی د قیامته پورې اوزنډولې شوه د الله ﷻ قسم! دا د هغه خلقو نه هم اهمه رسوائی ده.

ثابت رحمه الله فرمائی چه ما دحضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه د شرابو د قیمت باره کښې تپوس اوکړو، نو وئی وئیل واوره، زه په جمات کښې رسول الله ﷺ سره ووم هغوی ډډه لګولې وه ناست وو، وئی فرمائیل چه چا سره شراب دی راوړئی، خلقو راوړل، چا منګې راوړو چا مشکیزه راوړه چا څه او چا څه،حضور ﷺ اوفرمائیل چه ټول شراب د بقیع په میدان کښې راجمع کړئی نوماته خبر اوکړئی.هم داسې اوکړې شو. اوس حضور راپاسیدو او زه هم هغوی ﷺ سره لاړم، د هغوی ښی طرف ته اوم، حضور په ما باندې سهارا اخستې وه، په دې کښې حضرت ابوبکر ﷺ ملاوشو، حضرت زما په څائ حضرت ابوبکر ﷺ واخستو او زه ئې کس طرف ته کړم، بیا په تلوکښې حضرت عمر ﷺ ملاوشو حضرت عمر ﷺ حضور ﷺ خپل کس طرف ته کړو او زه ئې شاته کړم. دې وخت کښې حضور ﷺ د شرابو ذخیرې ته اورسیدو او وئی فرمائیل خلقو تاسوته پته ده چه دا څه دی؟ جواب ورکړې شو چه او یا رسول الله! دا شراب دی. وئی فرمائیل چه تاسو ربشتیا وانهو بیائې د شرابو په لسو متعلقاتو لعنت اوفرمائیلو، بیا حضور ﷺ یوه چاړه راوغوښتله او ښه ئې تیره کړه، بیائی ټولې مشکیزې اوخیرلې. خلقو وئیل چه دې کښې خو نفع هم وه. نو هغوی ﷺ اوفرمائیل چه او، زه د الله ﷻ د غضب نه ویریدلو سره داسې کوم. په شرابو کښې د الله ﷻ ناراضګی ده.حضرت عمر ﷺ اوفرمائیل چه راکړه زه دا ټولې مشکیزې څیری کوم نو حضرت اوفرمائیل چه زه پخپله دا ضائع کوم.(۳)دحضرت سعد ﷺ نه روایت دې چه د شرابو باره کښې څلور آیاتونه نازل شو. بیا هغه حدیث بیانوی چه یوانصاری زمونږ دعوت اوکړو، مونږ هلته

---

(۱) احمد: ۷۱/۲، والبیهقی : ۲۸۷/۸، وهو حدیث حسن .

(۲) احمد: ۱۳۲/۲،.

(۳) حاکم : ۱٤٤/٤، وصححه ووافقه الذهبی وسنده حسن وانظر اتحاف المهرة : ۲۸۱/۸، مشکل الآثار : ۳۳٤۲؛ بیهقی: ۲۸۷/۸.

نبه شراب اوخکل، دا د شرابود حرام والی نه وړاندې ذکر دې. کله چه مونږ نبه نشه شو نوځپل مینځ کښې موفخر کولو. انصارو وئیل چه مونږ غوره یو او قریشو وئیل مونږ غوره یو. یو انصاری د اوښ یو لوئ هډوکې راوړو اوسعد ئې په پوزه اووهلوپه څه سره چه دسعد د پوزې هډوکې مات شو. هم په دې وجه د شرابوحرمت نازل شو کوم چه مسلم بیان کړې دې.(۱)

حضرت ابن عباسﷺ نه روایت دې چه د شرابو د حرمت دا وجه وه چه د انصارو دوو قبیلونبه شراب اوخکل کله چه نبه مست شو نو په یو بل ئې لاسونه اوچتول شروع کړه. چه کله نشه کوزه شوه نود چا په مخ زخم وو نو د چا په سر باندې زخم راغلې وو د چا نه ږیره شوکیدلې وه، چا وئیل چه زما نه فلانی ملګری زه زخمی کړې یم، نو د یو بل دښمنان شو او سره د دې چه اول ئې په خپل مینځ کښې نبه مینه وه څه کینه ئې نه وه. وئیل به ئې چه که دې زما همدردوو نو زه به ئې نه زخمی کولم، دغه شان دښمنی زیاته شوه نو بس الله ﷻ د شرابو حرمت نازل کړو، خلقو وئیل چه د هغه مړو به څه کیږی نو وحی نازل شوه چه کومو مؤمنانو نیک عمل کړې او مړه شوی دی په هغوی هیڅ ګناه نشته.(۲)

ابوبریدهﷺ د خپل پلار نه روایت کوی چه مونږ په یوه غونډئی ناست وو شراب مو څکل. مونږ درې یا څلور کسان وو د شرابو منګې پروت وو او جام چلیدلو چه زه راپاسیدم او نبی اکرم ﷺ له راغلم نو هغه وخت د شرابو د حرمت آیت نازل شو، زه زر خپلو ملګرو له راغلم او وحی مې ورته واورولې. بعضو شراب څکلې وو او بعضو څه څکلی وو او څه باقی پاتې وو، د چا خُلې سره شراب لګیدلی وو، دا اوریدو سره ټول خپل شراب په زمکه توئې کړل. او آخری آیت ﴿فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ﴾ اوریدو سره ئې اووئیل ﴿انتهینا ربنا﴾ اې ربه مونږ منع شو(۳) په صحیح بخاری کښې د حضرت جابر ﷺ نه روایت دې چه د جنګ احدپه ورځ سحرخلقو شراب څکلې وو او په جنګ کښې هم په هغه ورځ شهیدان شو، دا د تحریم خمر نه وړاندې خبره ده (۴)نو اکثرو یهودیانو وئیل کوم خلق چه قتل شوی دی د هغوی په خیټوکښې شراب وو نودا آیت نازل شوچه نیک عمل کونکو مؤمنانو باندې هیڅ ګناه نشته چه د تحریم خمر نه ئې وړاندې شراب څکلی.

د حضرت جابر بن عبدالله ﷺ نه روایت دې چه یو سړی د خیبر نه مدینې ته شراب راوړل چه دلته ئې خرڅ کړی چه کله مدینې ته راورسیدو نو یو مسلمان ورته اووئیل چه شراب خو حرام کړې شوی دی نو هغه لاړو او په یوه غونډئی کیخودل او په کپړا ئې پټ کړل. بیا نبی اکرم ﷺ له راغلو چه آیا شراب حرام کړې شوی دی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه او، هغه وئیل چه زه مال واپس کړم؟ حضور ﷺ جواب ورکړو چه شرابوکښې د اوړلو هم صلاحیت نشته نو هغه اووئیل چه زه ئې هغه سړی ته ورکړم چه د هغه څه معاوضه ادا کړې شی؟ نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه داسې هم نه. هغه اووئیل چه په دې تجارتپ کښې د یتیمانو مال هم لګیدلې دې چه زما په پالنه کښې دی. حضور ﷺ اوفرمائیل چه کله د بحرین مال راشی نو ته ماله راشه نو زه به د هغې نه ستا دیتیمانو معاوضه درکړم. بیا د شرابو د حرمت په مدینه کښې اعلان اوکړې شو. یوسړی وئیل چه یارسول الله ﷺ مونږ ته د شرابو د لوښونه د فائدې اوچتولو

---

۱) احمد : ۱۸۱/۱، وهو صحیح ابن حبان : ۶۹۹۲، مسند البزار: ۱۱۴۹. مسند الطیالسی : ۲۰۸، ابوعوانه : ۱۰۴/۴، بیهقی : ۲۶۹/۶، دارواینه مختصرا صحیح مسلم : ۱۷۴۸، ترمذی : ۳۱۸۹، کښې موجود دې.

۲) المجمع الکبیر : ۱۲۴۵۹، حاکم : ۱۴۲/۴، بیهقی : ۲۸۵/۸، السنن الکبری : ۱۱۱۵۱، مجمع الزوائد: ۱۸/۷، وسنده حسن .

۳) الطبری: ۵۷۲/۱۰، وسنده ضعیف

۴) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله ﴿ انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام .....﴾ : ۴۶۱۸.

Scanned with Ca

اجازت راکړه. حضور ﷺ اوفرمائیل دلوښو خلې کولاؤ کړئی شراب اوبهیوئې نو دومره شراب اوبهیولې شو چه ښکته زمکو کښې شراب اودریدل.(۱)حضرت ابوطلحه ؓ د حضور ﷺ نه سوال اوکړو چه زما د پالنې لاندې یتیمان دی چه هغوی ته په وراثت کښې شراب ملاودی،حضرت اوفرمائیل توئی کړه ټول توئی کړه، ابوطلحه ؓ اوونیل چه مونږ به د دې نه سرکه جوړه کړو؟حضور ﷺ اوفرمائیل چه نه.(۲) مسلم ابوداؤد او ترمذی ټولو د دې تائید کړې دې. دحضرت عبدالله بن عمر ؓ نه روایت دې چه ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾چه هم دغه آیت په تورات کښې هم دې.الله ﷻ حق په دې وجه نازل کړې چه باطل نابود او ختم کړی. او ټنګ ټکور آلات بربط، ستار،سارنګی دوپړئی ډولکی او دمسې وغیره داټول باطل کړی.الله ﷻ دخپل عزت قسم خوری وائی چه د حرمت نه پس څوك دا خپلوی زه به د قیامت په ورځ هغه ترې ساتم او چه څوك دا پریږدی زه به په هغوی د جنت ذ پاکو چینو نه شراب څکوم.(۳)

دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ؓ نه روایت دې چه حضور ﷺ فرمائیلی چه چا د نشې د وجه یو وخت مونځ بیلو نو داسې ده لکه چه د ټولې دنیا دولت ده ته حاصل وو او هغه ترې نه په زور واخستې شو، او چا چه د نشې په وجه د څلورو وختو مونځ بیلو نو اوس د الله ﷻ حق دې چه ده باندې ﴿طينة الخبال﴾ اوڅکی. خلقو وئیل دا ﴿طينة الخبال﴾ څه څیز دې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه دوزخیانو نه نچوړ شوې ګندګی.(۴)

دحضرت ابن عباس ؓ نه روایت دې حضرت فرمائیلی دی چه په عقل باندې پرده اچونکې څکونکې څیز خمر دې او هر نشه ورکونکې څیز حرام دې. کوم سړې چه نشه ورکونکې څیز اوڅکی د هغه څلوینښت ورځې مونځ نه قبلیږی. خو که هغه توبه اوکړی نو توبه به ئې قبوله شی اوکه په څلورم خل ئې شراب اوڅکل نود الله ﷻ دا حق شته چه په ده باندې ﴿طينة الخبال﴾اوڅکی. حضور ﷺ اوفرمائیل چه ﴿طينة الخبال﴾ د دوزخیانو نوونه دی. او چا چه په یو ماشوم باندې شراب اوڅکل کوم چه حرام او حلال نه پیژنی نو په هغه سړی باندې به هم ﴿طينة الخبال﴾ څکولې شی.(۵)حضرت ابن عمر ؓ نه روایت دې چا چه په دنیاکښې شراب اوڅکل او توبه ئې اونه کړه نو په آخرت کښې په هغه شراب حرام دی.(۶) حضور ﷺ فرمائیلی دی چه هر نشه ورکونکې څیز خمر دې او حرام دې. څوك چه ټول عمر شراب څکی او مړشو او توبه ئې اونه کړه نوهغه به د جنت د شرابو نه بالکل محروم وی.(۷) حضور ﷺ فرمائیلی دی چه دریې سړی دی چه هغوی ته به الله ﷻ د قیامت په ورځ نه ګوری یو د خپل والدین نافرمانه اولاد، دوئم

---

۱) مسند ابی یعلی : ۱۹۹٤، وسنده حسن عیسی بن جاریه حسن الحدیث وقه الجمهور مجمع الزوائد :٤/۹۲.

۲) صحیح مسلم کتاب الاشربة باب تحریم تخلیل الخمر:۱۹۸۳، احمد: ۳/۱۱۹،ابوداود : ۳٦۷۵،ترمذی:۱۲۹۲،مسند ابی یعلی : ٤۰٤۵

۳) ابن ابی حاتم : ٤/۱۱۹٦.

٤) احمد: ۲/۱۷۸ وسنده حسن بیهقی : ۱/۳۸۹. حاکم: ٤/۱٤٦.

۵) ابوداود کتاب الاشربة باب ماجاء فی السکر : ۳٦۸۰. وسنده حسن بیهقی : ۸/۲۸۸.

٦) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله ﴿ انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام .....﴾ :۵۵۷۵، صحیح مسلم : ۲۰۰۳. احمد : ۲/۹۲. موطا امام مالک : ۲/۷٤٦. بیهقی : ۸/۲۸۷.

۷) صحیح مسلم کتاب الاشربة باب بیان ان کل مسکر خمر : ۲۰۰۳، ابوداود: ۳٦۷۹، ترمذی : ۱۸٦۱، ابن حبان: ۵۳٦٦.

Scanned with Ca

مدام شراب څکونکي اودریم احسان کونکي چه اضباطنه کوی(۱)هغوی ﷺ فرمائیلی چه د احسان اضباطنه کونکي،دمورپلار نافرمانه اوهمیشه شراب څکونکي دادریواړه به چرې هم جنت ته نه ځي.(۲)
دحضرت عثمان بن عفان ﷺ نه روایت دې چه د شرابو نه ډیر ځان بچ کوئی ځکه چه دادتولو خرابو جړه ده.یوه واقعه واورئی چه تاسو نه وړاندې زمانه کښې یو سړې ډیر عبادت کونکي وو. د خلقو نه خان له لرې او جدا په خپله عبادت خانه کښې به ئې عبادت کولو. د یوې بدکاره ښځې په هغه نظر وو هغې خپله نوکره هغه پسې اولیګله چه د یوې ګواهئی په بهانه ئې راوغواړه، هغه غریب راغلو. کله چه هغه یوې دروازې نه رادننه شو نو هغه به ورپسې د بهر نه بنده کړې شوه. تر دې چه هغه دغه بدکاره ښځې له راورسیدو. هغې سره یو ماشوم او د شرابو منګې پروت وو، هغې دې شیخ ته اوونیل چه په الله ﷻ باندې قسم چه ته ما هیڅ ګواهئی له نه ئې راغوښتې بلکه دې له چه یا خو به ته ماسره شپه تیروې،یابه دا ماشوم قتل کوې او یا به دا شراب څکې. هغه شیخ دامناسب اوګنړل چه د دې دواړو ګناهونو نه شراب څکل آسانه ګناه ده، نو هغه شراب اوڅکل.اوس هغه په جام پسې جام غوښتلو، تر دې چه د شرابو په نشه کښې هغه ماشوم هم قتل کړو او هغه ښځې سره ئې شپه هم تیره کړه. په دې وجه د شرابو نه بچ شئی دا د تولو ګناهونو جړه ده. شراب او ایمان په یوځائ نه شی جمع کیدې.که شراب وی نو ایمان به نه وی اوکه ایمان وی نوشراب به نه وی(۳)په بخاری او مسلم کښې دی رسول الله ﷺ فرمائی چه کله زناکار زنا کوی نو هغه مؤمن نه پاتې کیږی او غل چه کله غلا کوی نو مؤمن نه پاتې کیږی او چه شرابی کله شراب څکی نو مؤمن نه پاتې کیږی(۴)کله چه د قبلې د بدلیدو آیت نازل شو نو خلقو وئیل یا رسول الله ﷺ هغه خلق چه مړه شوی ذی او بیت المقدس طرف ته یې مخ کړې وو اومونځونه ئې کړی وو دهغوی به څه کیږی؟نو وحی نازل شوه چه دهغوی عبادت به نه ضائع کیږی.(۵)

دحضرت اسماء بنت یزید رضی الله عنها نه روایت دې چه نبی اکرم ﷺ فرمائیلی چا چه شراب اوڅکل الله ﷻ د هغه نه څلویښت ورځې خفه وی. که هغه مړشو نو کافر مړشو اوکه توبه اوکړی نو الله ﷻ به ئې توبه قبوله کړی.(۶)حضور ﷺ فرمائیلی چه کله دا آیت نازل شو چه د حرمت نه وړاندې په څکونکو باندې به الزام نه شی لګولې نو ماته اووئیلې شوچه په تاباندې هم څه الزام نشته.(۷) حضور ﷺ اوفرمائیل چه د جوارئی نه بچ شئی او د چوسر او شطرنج نه بچ شئی دا دواړه د عجم جواری ده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ	ءَامَنُوا	لَيَبْلُوَنَّكُمُ	ٱللَّهُ
ای هغه کسانواچی ایمان موراوړې دې اخامخا به امتحان کوی په تاسو			الله
انې دایمان خاوندانو! الله ﷻ تاسوباندې امتحان کوی			

۱) نسائی کتاب الزکوة باب المنان بما اعطی : ۲۵۶۳، وسنده حسن، احمد: ۱۳٤/۲، بیهقی : ۳۸۸/۸، حاکم: ۱٤٦/۱، ابن حبان : ٥٦.
۲) احمد: ٤٤/۳، وسنده ضعیف وهو حسن بالشواهد انظرمسند احمد: ۱۳٤/۲، وسنده حسن ، السنن الکبری : ٤۹۲۰، ابویعلی : ۱۱٦۸
۳) بیهقی : ۲۸۷/۸، وسنده حسن ، النسائی : ٥٦٦۹.
٤) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله ﴿ انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام .....﴾ : ٥٥۷۸، صحیح مسلم ٥۷، ابوداود : ٤٦۸۹، ترمذی : ۲٦۲٥، احمد: ۲۸٦/۲، ابن حبان : ۱۸٦، بیهقی : ۱۸٦/۱.
٥) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله ﴿ انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام .....﴾ : ٤٦۱۸.
٦) احمد: ٤٦۰/٦، وسنده حسن مجمع الزوائد : ٦۹/٥.
۷) صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب من فضائل عبدالله بن مسعود وامه: ۲٤٥۹، ترمذی: ۳۰٥۳،مسند ابی یعلی: ٥۰٦٤،

Scanned with Ca

بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ

په یوځیزسره|چه ښکاردي|چې رسی به هغه ته|لاسونه ستاسو|اونیزي ستاسو|دپاره ددي چې معلوم کړي

دهغي لږ ډیرښکار په باره کښې کوم ته چه ستاسولاسونه اونیزي وررسی |دا د دي دپاره چه الله ته په علم

اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ

الله |چې څوک|یریږی دهغه نه| په نالیدلو |نو هغه څوک |چې واوړیدو دحد نه |پس د دي نه خبرداري نه

ظاهري سره هغه څوک معلوم شي | چه دهغه نه په غیب هم ویریږی| نوڅوک چې ددي حکم نه پس زیاتي اوکړي

فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ

نودي هغه دپاره| عذاب |درد ناک | اې هغه کسانو| چې ایمان موراوړي دي| مهٔ قتلوئ تاسو ښکار

نوهغه دپاره دردناکه سزا مقرر ده | ..... اې د ایمان خاوندانو! تاسو ښکار مه وژنئ په

وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ۭ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاۗءٌ

اوحال داچې تاسو|په احرام کښې یئ|اوهغه چاچې قتل کړو|ښکار|ستاسونه|په قصد|نوپرې بدل واجب دي

داسې حالت کښې چې تاسو احرام کښې یئ| او چاچې قصد سره ښکار اووژلو نودهغي بدله

مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ

برابردهغي|چې ئې قتل کړي دي| دچارپانو نه |فیصله به کوی|په هغي سره|دوه عادلان سړي| ستاسو نه

دهغي ښکارپه شان یوڅاروي دي |چې ستاسو دوه انصاف کونکی به دهغي فیصله کوی

هَدْيًۢا بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ

په داسې حال چې دانذرنه به | رسیدونکی وی| کعبې ته | یا کفاره ده | طعام | دیو څو مسکینانو

اودا نذرانه به کعبې ته رسولې شی | یا د هغي کفاره په مسکینانو باندې ډودئ خورول دی

اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ ۭ عَفَا اللّٰهُ

یا په برابر دهغه | روژې نیول دی | دپاره ددي چې اوڅکی | عذاب | دعمل خپل | معافی اوکړه الله

اویادهغي مناسب روژې ساتل دی | دا د دي دپاره چې دخپل خپل عمل سزا اوڅکی | ..... الله ﷻ

عَمَّا سَلَفَ ۭ وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ۭ

دهغه څه|چې مخکښې څه شوی دی|اوهغه څوک|چې دوباره ئې اوکړو دا کار| نو بدل به واخلی الله| دهغه نه

دهغي کړو معافی اوکړه | او که اوس هم څوک داکار اوکړی | نو الله ﷻ به تړې بدله اخلی

وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ ذُو انْتِقَامٍ ۝

اوالله| غالب دي| خاوند دبدلې اغستلو دي|

اوالله ﷻ غالب دي | او بدله اخستې شی|

قوله تعالي: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ تَنَالُهٗٓ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ

Scanned with Ca

په حالت د احرام کښې د ښکار حکم:-حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه الله ﷻ تاسو ازمینښت کوی د ښکارپه ممانعت سره که هغه کمزورې ښکار وی یا وړوکې چه اوګوری چه په حالت د احرام کښې تاسو د دې ښکار نه بچ کیږئی که نه. تر دې که خلقو غوښتل نو دا ښکار به ئې په لاسونو هم رانیولې شو. الله ﷻ هغې ته د نزدې کیدو هم ممانعت اوکړو. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه وړوکې ښکار او بچی په لاسونو هم نیولی شو د هغوی ځایونوته به راتله اود دې نه وړاندې چانه وو لیدلی. په حالت د احرام کښې د هغې ښکار نه ممانعت کړې شوې وو دې د پاره چه ثابته شی چه په ښکاره او پټه څوک تابعداری کوی اوڅوک نه کوی.لکه چه الله ﷻ فرمائیلی دی﴿إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ﴾ څوک چه د الله ﷻ نه ویریږی او په غیبوباندې ایمان لرئی د هغوی د پاره ښښنه او اجرکریم دې. دلته الله ﷻفرمائیلی دی چه اوس دینه پس څوک نافرمانی اوکړی د هغه د پاره دردناک عذاب دې ځکه چه هغه د الله ﷻ د حکم مخالفت اوکړو.

بیافرمائی چه په حالت د احرام کښې ښکار مه کوئی.دا نهی په معنوی لحاظ سره حلالوځناورو اود هغوی بچو ته هم شآمله ده.اونه خوړونکوته هم شآملیږی.لیکن د امام شافعی رحمه الله په نیز دغیرماکول ښکارکول د احرام والادپاره جائز دې.خوجمهو علماؤ داسې ښکار ته هم جائز نه وآئی او څوک ئې مستثنی کړی نه دی.

محرم دپاره د حرامو ځناورو د ښکار حرمت

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز باندې لکه څنګه چه د محرم دپاره د حلالو ځناورو ښکار حرام دې دغه شان پرې د حرامو ځناورو ښکار هم حرام دې (احکام القرآن للجصاص (۲۵۸/۲)۔

دې نه علاوه چه بخاری او مسلم کښې د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی پنځه څیزونه فاسق دی. په احرام کښې هم هغه قتل کولې شی ځکه چه دا تکلیف ورکوونکی ځناور دی. کارغه، تپوس، لړم، مږه او چك لګونکې سپې.(۱) حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دا پنځه قتل کول د محرم دپاره ګناه نه ده.(۲)

حضرت ایوب رحمه الله فرمائی چه ما د حضرت نافع رحمه الله نه تپوس اوکړو چه د مار څه حکم دې؟ نو حضرت نافع رحمه الله اوفرمانیل چه د مار په وژلو کښې څه شك دې؟د علماؤ په دې کښې اختلاف نشته. امام مالك رحمه الله امام احمد رحمه الله او نورو علماؤ غاپونکې سپی سره لیوه، ځناور ازمرې او پرانګ هم شامل کړې دی ځکه چه د دې ضرر خو د سپې نه هم زیات دی.والله اعلم.

زید بن اسلم رحمه الله او سفیان رحمه الله وائی چه د هرحمله کونکې ځناورحکم د سپی حکم کښې شامل دې د کوم تائید چه د دې حدیث نه کیږی، چه رسول الله ﷺ کله عتبه بن ابی لهب ته بددعاکړې وه نو فرمائیلې وو چه یا الله په ده باندې په شام کښې خپل یوسپې مسلط کړې نو په مقام زرقاء کښې هغه یو لیوه شلولې وو.

اوکه ددې نه علاوه هغه چرته بل ځناور قتل کړی نو فدیه به ورکول وی لکه سوسمار، لومبړه او کفتار وغیره. مالك رحمه الله فرمائی چه هم دغه حکم د دې پنځو ځناورو د بچو هم او د شلونکو ځناورو د وړوبچو هم،که محرم قتل کړل نو فدیه به ورکوی که ځناور غیرماکول یا د هغه واړه بچی ئې قتل کړې وی، ځکه چه په دې کښې د لوئ وړوکی څه قید نشته او غیرماکول ځناور ته هم سبب شامل دې.حضرت

---

(۱) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب اذا وقع الذباب فی شراب احدکم فلیغمسه...:۳۳۱٤، صحیح مسلم: ۱۱۹۸.

(۲) صحیح بخاری حواله سابق : ۳۳۱٤،صحیح مسلم :۱۱۹۹، موطا امام مالک : ۳۵٦/۱.

Scanned with Ca

امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه محرم چك لگونکي سپي او لیونۍ هم قتل کولي شی خکه چه لیوه هم خراب سپي دي.

د محرم دپاره د ماتونکی ځناور قتل کولو جواز

مسلک حنفی:- د لیوه وغیره ماتونکی ځناور قتل کول ځکه جائز دی او په قاتل باندې جزاء نشته چه د کومو علت د وجې د سپی قتل کول جائز وو هغه ضرر اوتکلیف دې اودا وجه او علت په لیوو او درنده کښې هم شته نو د دې وجې د محرم دپاره د دې قتل کول جائز دی (شاه فیصل غفرله).

خوکه د دې دواړو نه علاوه نې بل ځناور قتل کړو نو فدیه به ورکوی. او که چرته بل ځناور حمله اوکړی نو قتل کولی شی فدیه ورکول ضروری نه دی. دا د امام اوزاعی رحمه الله اوحسن بصری رحمه الله قول دې. امام زفر رحمه الله فرمائی چه فدیه به ورکوی که د حملې کولو په وجه نې قتل کړې وی. بعض خلق وائی چه د کارغه نه هغه کارغه مراد دې د کوم په شا او خیټه چه سپین والې وی توروالې نه وی. د جمهورو مذهب دادې چه دکارغه نه هرعام کارغه مراد دې ځکه چه په لفظ کښې څه قید نشته. امام مالك رحمه الله فرمائی چه کله کارغه حمله اوکړی یا څه تکلیف اورسوی نومحرم صرف په هغه وخت کښې هغه قتل کولې شی بغیروجه نه وی. مجاهد رحمه الله اونورخلق وائی چه قتل کونی مه بلکه پاره نې کړئی او والوزونی دحضرت علی رضي الله عنه نه هم یو روایت داسې دې. د ابوسعید رضي الله عنه نه روایت دې چه حضور ﷺ فرمائیلی چه مار لړم او مږه دې هغه قتل کوی لیکن محرم دې کارغه الوزوی قتل کوی دې نه. چك لگونکي سپې مرداره خوړونکي او حمله کونکي ځناور محرم قتل کولې شی.(۱)

د الله ﷻ ارشاد دې چه څوك په قصد سره په حالت د احرام کښې ښکار کوی هغه به د دې ښکار په شان بل یو ځاروې په فدیه کښې ورکوی. د طاؤس رحمه الله نه روایت دې چه دا حکم د هغه سړی متعلق نه دې چاچه په خطا سره یو ځناور قتل کړې وی بلکه عمداً د قتل کولو قید دې او د ظاهری الفاظونه هم دغه معلومیږی. مجاهد رحمه الله وائی چه دلته د ﴿مُتَعَمِّدًا﴾ نه مراد دا دې چه چا خپل د احرام حالت هیرکړې وی او د ښکار د قتل کولو اراده نې کړې وی ګنی د احرام حالت یادیدلو سره په اراده سره د ښکار قتل اوکړی نود دې ګناه خو د کفارې نه ډیره زیاته ده، د هغه خو احرام باطل کیږی. جمهور د دې خبرې قائل دې چه قصداً او په هیره سره قتل کونکي دواړه په کفاره ورکولو کښې برابر دی. زهری رحمه الله وائی چه د قرآن پاك نه خو دلالت کیږی چه عمداً قتل کونکی باندې،لیکن په حدیث کښې په هیرې سره قتل کونکی هم په دې کښې شامل دې. مطلب دا دې چه د قرآن پاك نه ثابته شوه چه دې به کفاره هم ورکوی او دې ګناهګار هم دې. لکه څنګه چه الله ﷻ فرمائیلی چه دې به د خپلې ګناه سزا خوری خوچه کوم تیر شو نو معاف دې او که چا بیا داسې اوکړل نو الله ﷻ به تري انتقام اخلی. د نبی ﷺ اوصحابه کرامو د احکامو نه هم ثبوت ملاویږی چه په خطا سره قتل کولو په صورت کښې هم به کفاره ورکوی لکه څنګه چه عمداً د قتل کولو په صورت کښې د قرآن پاك د حکم مطابق ورکولې شی ځکه چه که ښکار دې قتل کړو نو دا ښکار به ختمولې شی خو چه کله نې عمداً ختم کړې نو تاوان به ورکوې. او په خطاسره ختمولو کښې هم دغه حکم دې. فرق صرف دومره دې چه عمداً ښکار قتل کونکي د کفارې ورکولو سره ګناهګاهم دې لیکن د خطا والا ګناهګارنه دې.

د محرم په قتل کښې قصد،خطا او هیره ټول برابر دی کفاره به لازمیږی

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز هم که قتل په قصد یا په خطا یا په هیره سره وی په دې ټولو صورتونو کښې کفاره لازم ده البته په آیت کښې د ﴿عمدا﴾ قید په دې وجې لګیدلې شوې دې چې ددې نه

---

۱) ابوداود کتاب المناسک باب مایقتل المحرم من الدواب : ۱۸٤۸، ترمذی : ۸۳۸، ابن ماجه: ۳۸۹، احمد: ۳/۳، بیهقی: ۵/۲۱۰.

Scanned with Ca

وړاندې آیت کښې دی ﴿وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ﴾ او دوباره چې څوک ښکار کوی نو دا معلومه ده چه هغه خوپه خطا نه کوی بلکه په قصد سره ئې کوی نو ځکه الله د عمد قید اولګولو. (احکام القرآن للجصاص ۲۵۹/۲).

د الله ﷻ ارشاد دی ﴿فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ﴾ بعضو جزاء مضاف جوړکړې اولوستلې دې، بعضو عطف ګرځولې دی او ابن مسعود ﷺ ﴿فَجَزَآءٌ﴾په اضافت "ه" سره لولی، لیکن په هرقسم لوستلوکښې د امام مالک رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام احمد رحمه الله او جمهورو دلیل قائم پاتې کیږی. د ښکار شوی ځناور د مثل جزا په خپل ځای واجب پاتې کیږی خو په دې شرط چه د هغه په شان یا هغه سره نزدې ساتونکې ځناوروی چه هم هغه ورکړی ګنی د هغې قیمت دې ورکړی. لیکن د امام ابوحنیفه رحمه الله په دې کښې اختلاف دې هغه فرمائی چه دښکارشوې قتل شوی ساتندونکې ځناورپه شان وی یا د غیر ساتندونکی په هرصورت کښې د هغې د مثل ورکولوپه ځای قیمت هم ورکی شی. اوهغه ښکاری ته اختیار دې که غواړی نو د هغې قیمت دې صدقه کړی یا د قربانئی یو ځناور دې واخلی لیکن حق دا دې چه صحابه رضی الله عنهم د مثل ورکولو کوم حکم لګولې دې هغه زمونږ د پاره ډیر د اتباع قابل دې. هغوی حکم لګولې دې چه شترمرغ ښکار کړې شوې وو نوپه کفاره کښې اوښ ورکړه اودځنګلی ګوا په ښکار کښې کورنئی غوا او د هوسئی په ښکار کښې بکرئی. د صحابه کرامو رضی الله عنهم دا فیصلې په کتاب الاحکام کښې ټولې ذکر دی.خو چه چرته د ښکار مثل نه وی یعنی چه چرته د ساتلې شوې ځناورپه شان نه وی نو هلته ابن عباس ﷺ حکم لګوی چه د دې قیمت دې مکې ته روان کړې شی، بیهقی د دې راوی دې.

په ښکار کښې د مثل نه مراد قیمت دې

مسلک حنفی: داحنافو هم دغه مسلک دې کوم چې ورته حافظ ابن کثیر منسوب کړې دې چه په آیت کښې دمثل نه مراد قیمت دې داحنافودلائل په احکام القرآن للجصاص کښې کتلې شی دلته ئې وضاحت ضروری نه ګڼرم څوک چې پرې خبریدل غواړی نو رجوع دې ورته اوکړی (احکام القران للجصاص ۲۲۱/۲).

ښکار کونکې پخپله فیصله کونکې جوړیدی شی؟:-د الله ﷻ قول دې ﴿يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ﴾ یعنی د دې کفارې فیصله کولو د پاره دوه عادل مسلمانان مقرر کړې شی چه دا فیصله اوکړی چه په مثلی ښکار کښې مثلی ځناور ورکړې شی یا په غیر مثلی کښې قیمت ورکړې شی. که د علماؤ اختلاف دې نو صرف په دې کښې چه په دې دواړو فیصله کونکو کښې یو فیصله کونکې پخپله هم ښکاری جوړولې شی که نه ①یو قول دا دې چه نه شی جوړولې او دوئم قول دا دې چه جوړولې شی. دا د دې د پاره چه په دې صورت کښې خپل حکم هم په خپل ځان باندې نافذ کول لازمیږی.اوپه دې کښې د متهم کیدو اندیښنه ده.د امام مالک رحمه الله هم دغه قول دې ② دوئم قول دې چه جوړولې شی ځکه چه آیت عام دې په دې کښې د دې قسم څه قید نشته. دا د امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله قول دې.

د اولنی قول دلیل د رومبی قول دلیل دا دې چه هم په یوه قضیه کښې دننه حاکم په خپله محکوم نه شی جوړلې. د ابن ابی حاتم حدیث دې چه یو باندچی حضرت ابوبکر ﷺ له راغلو او وئی وئیل ما د احرام په حالت کښې یوښکار کړې دې اوس په ما څه بدله ده. هغوی د ابی بن کعب ﷺ چه خواکې ناست وو تپوس اوکړو چه وایه ته څه فیصله کوې؟باندچی وئیل چه زه خوتاله راغلې یم اوته درسول الله ﷺ خلیفه ئې لیکن ته پخپله د بل نه تپوس کوې. نو ابوبکر ﷺ اوفرمانیل چه ته ولې اعتراض کوې الله ﷻ پخپله فرمانیلی دی چه دوه کسان عادلان مسلمانان دې یوځای شی نو یو حکم دې اولګوی. نو ما خپل

ملګری سره مشوره اوکړه. مونږ دواړه چه په کومه خبره متفق شو تاته به هم هغه فیصله واورو. دلته هم د دې خبرې احتمال وو نو چه کله صدیق اکبرؓ اوکتل چه باندېچی خو جاهل دې اود عادلانو د مسئلې نه خبر نه دې نوپه پسته او نرمه لهجه سره ئې پوهه کړو خکه چه د جهل دارو تعلیم دې. خو که اعتراض کونکې صاحب علم وی نو

لکه څنګه چه ابن جریرؒ بیان کوی چه د ابن جابر ؓ نه روایت دې چه مونږ یو ځل د حج په اراده سره اووتلو اومونږ کله د سحر مونځ کولو نو په خپلو سورلو پسې به شاشاته تلو او خبرې به موکولې. یوه ورځ داسې اتفاق اوشو چه یوه هوسئی په نظر راغله. زمونږ یو ملګری هغه په کانړی اوویشتله او هغه مړه شوه.دې سړی مړه هوسئی پریخودله اوپه سورلئی سور شواو لاړو.مونږ په دې سړی سخت اعتراض اوکړو اوچه مکې ته راورسیدلونو زه حضرت عمر بن الخطابؓ له راغلم او هغه ته مې ټوله واقعه بیان کړه. حضرت عمر ؓ سره بل یو کس ناست وو تك سپین د چاندنی په شان روښانه،دا عبدالرحمن بن عوفؓ وو. حضرت عمرؓ هغه طرف ته متوجه شو څه خبرې ئې اوکړې بیائې د هغه سړی نه تپوس اوکړو،تا په قصد سره هغه مړه کړه که په خطا؟ هغه وئیل چه کانړې خو ما ارادۃ ویشتلې وو خود قتل اراده می نه وه. حضرت عمر ؓ اوفرمائیل چه ارادۃً او خطاءً دواړو صورتونوکښې کار تاته شوې دې. یوه بکرئی واخله هغه حلاله کړه او صدقه ئې کړه، اود هغې څرمن د کور په کارکښې راوله. اوس مونږ د هغه ځائ نه پاسیدو او خپل ملګری ته مې اووئیل د اللہ ﷻ د شریعت حدودو عزت کول ډیر اهمیت لری.څه تپوس چه تاکړې وو امیرالمؤمنین د هغې نه پخپله خبر نه وو تردې چه د خپل ملګری نه ئې تپوس اوکړو. اوس ته د معافې په توګه خپله اوښه ذبح کړه. کیدې شی چه ستاد دې جرم پوره والې اوشی.قبیصه وائی چه ماته دسورۃ مائده د عادلینو آیت هډو یاد نه وو. زما د دې مشورې خبر حضرت عمرؓ ته اورسیدو هغه دوره راواخسته او زما په ملګری ئې یوه کوړه راخلاصه کړه او وئی وئیل چه ته په احرام کښې قتل کوې او په حکم کښې بې وقوف حاکم جوړوې، بیا ماته متوجه شو ما وئیل چه ای امیر المؤمنین که ته ما ناروا وهې نو دا ناروا وهل به زه معاف نه کړم. نو هغه اووئیل چه ای قبیصه بن جارته څوان ئې دکولاؤ زړه خاوند او ښه وینا کونکې ئې خوکه په یو څوان کښې نهه عادتونه هم ښه وی اوصرف یوخراب وی نو هم هغه یوپه ټولو باندې اوبه اړوی،دځوانئی دخطاګانو نه محتاط اوسیږه. ابن جریر الجلبی ؓ فرمائی چه د احرام په حالت کښې ما د یوې هوسئی ښکار اوکړو. حضرت عمر ؓ ته ما د هغې ذکر اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه خپل دوه ملګری راوله چه هغه دواړه په تاباندې فیصله اوکړی. ما حضرت عبدالرحمن ؓ او حضرت سعدؓ راوستل، هغوی فیصله اوکړه چه زه یو ښه چاق او تازه چیلې فدیه ورکړم. ابن جریرؒ وائی چه اربد یوه هوسئی په حالت د احرام کښې چقنړی کړه او قتل ئې کړه بیا د فیصلې د پاره حضرت عمرؓ له راغلو، هغوی اوفرمائیل چه ما سره د فیصلې د پاره حاکم ته پخپله جوړشه، دواړو یوه ساتلې شوې بکرئ کفاره کښې مقرر کړه چه د کور اوبه او ګیا ئې خوړله او ښه تازه شوې وه. بیا حضرت عمرؓ د عادلینو والا آیت اولوستلو.

محرم د ښکار په قیمت لګولو کښې پخپله حکم نشی جوړیدې

مسلک حنفی:- ددې مسئلې دپاره چه آیا محرم پخپله حکم فیصله کونکې جوړیدې شی ما سره چې د حنفیانو کوم کتابونه دی هغه مې لټ په لټ کړل لیکن دا جزیه راته ملاو نشوه البته زه د خپلې اندازې نه دا وایم چې محرم چه په حالت د احرام کښې ښکار کړې وی نود هغې ښکار قیمت لګولو کښې دې پخپله فیصله کونکې نشی جوړیدې واللہ اعلم بالصواب

دهرې زمانې حکمین پکاردی؟:- دا واقعه د دې خبرې په جواز باندې دلالت کوی چه په راتلونکی وخت

کښې کله دیو مجرم نه داسې جرم اوشي نو هغه وخت دوه حکم پکار دی یا د صحابه کرامو رضی الله عنهم فیصلې چه د داسې مسئلو په وخت کښې شوی دی د هغې په رنړاکښې فتوی ورکولې شی. په دې کښې دوه قوله دی. امام احمد رحمه الله او امام شافعی رحمه الله وائی چه صحابه کرامو رضی الله عنهم په دې باره کښې کومې فیصلې کړی دی د هغې منل دې اوکړې شی او دې دواړو هم هغه شرعی فیصله ګرځولې ده د هغې نه انحراف مه کوئ. او په کومه مسئله کښې چه د صحابه کرامو حکم موجود نه وی نود خپلې زمانې عادلانو طرف رجوع اوکړئ. امام مالک رحمه الله او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمانی چه حکم به د خپلې خپلې زمانې په هریو فرد باندې جدا جدا لګولې شی او هم د خپلې زمانې عادلان به مقرر کولې شی که د صحابه کرامو څه حکم یا فیصله موجود وی اوکه نه څکه چه الله ﷻ د ﴿مِنْكُمْ﴾ لفظ استعمال کړې دې او د اولې زمانې صحابه په دې وخت کښې ستاسو د ډلې کسان خو نه دی.

د ښکار په قیمت لګولو کښې د هرې زمانې خپل عادلان پکار دی

مسلک حنفی:- صحابؤ چې په کوم ځناورو کښې فیصلې کړی دی په هغې فیصله کول ضروری نه دی بلکه دهرې زمانې خپل عادلان پکار دی لکه څنګه چه د قرآن پاک د ظاهری نص نه معلومیږی څکه چه الله ﷻ داسې فرمائیلی دی چه ﴿مِنْكُمْ﴾ نو د ﴿مِنْكُمْ﴾ خطاب د صحابؤ په زمانه کښې هغوی ته وو او زمونږ په زمانه کښې مونږ ته دې او زمونږ نه پس زمانه کښې به هغه خلقو ته وی کوم چې په هغه وخت کښې وی دغه د قیاس تقاضا هم دا ده چه د ښکار قیمت د هغه زمانې په اعتبار سره اولګولې شی څکه چه د زمانې په تیریدو سره د پیسې حیثیت کمیږی اوخیزونه ګرانیږی نودیوې چیلۍ قیمت چې د صحابؤ په وخت کښې کوم وو هغه قیمت ئې نن نه دې بلکه د هغې نه ډیر زیات دې (تفسیرمظهری مع اضافه ۲۰۹/۳)-

اود الله ﷻ قول ﴿هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ﴾ یعنی دا قربانی کعبه ته اورسوئی، هم هلته ئې ذبح کړئی او هم د حرم په مسکینانو باندې د دې غوښه تقسیم کړئی. په دې خبره کښې د چا څه اختلاف نشته. ټول په اتفاق سره دا رائې لری،

قوله تعالی: أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا لِيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ

په دې څیزونو کښې د اختیار حکم:- د الله ﷻ ارشاد دې ﴿أَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسَاكِينَ أَوْ عَدْلُ ذَٰلِكَ صِيَامًا﴾ یعنی که محرم د قتل شوی ښکار مثل بیانه مومی یا ښکار کړې شوی مقتول د دې قسم ځناور نه وی چه کورنو ځناورو سره یوشان والې اولری نو بیا د جزا اطعام او صیام باره کښې اختیار دې او په قرآن پاک کښې ﴿أَوْ﴾ هم د اختیار په معنی کښې راغلې دې اوهم دغه قول دامام مالک، امام ابوحنیفه، ابویوسف، محمد رحمهم الله دې اودشافعی رحمه الله هم یوقول داسې دې، داحمد رحمه الله هم دغه قول مشهوردې چه ﴿أَوْ﴾ د اختیار ورکولو په مقصد راوړلې شوې دې. ② او یوبل قول دا دې چه د اختیار په مقصد سره نه بلکه د ترتیب او سلسلې خودلو د پاره دې.

اود دې صورت به دا وی چې کوم ښکار قتل شوی وی د هغې قیمت به اولګوی اود قتل شوی ښکار تلافی اوشی. د ا د امام مالک، امام ابوحنیفه، حماد او ابراهیم رحمهم الله په نیز دی. (یعنی کوم کسان چې د تخییر قائلین دی دهغوی په نیز به د قتل شوی ځناور قیمت اولګولې شی ازمترجم)

لیکن امام شافعی رحمه الله وائی کوم ځناور چې ئې قتل کړی وی که د هغې پشان نه وو نو د هغې په مثل به اوګوری اودهغې قیمت به اولګوی بیا به هغه قیمت باندې طعام واخلی او هغه به صدقه کړی (یعنی د احنافو په نیز به براه راست د قتل شوی ځناور قیمت اولګولې شی اود امام شافعی په نیز به د قتل شوی ځناور د مثل قیمت اولګولی شی از مترجم)

Scanned with Ca

محرم ته د ښکار کولو په کفاره کښې د درې څیزونو نه د یو په ورکولو اختیار حاصل دې

مسلک حنفی:- دامام ابوحنیفه به نیز باندې محرم ته اختیار دې چې په دې درې واړه څیزونو کښې ئې کوم خوښ وی په هغې سره دې کفاره ادا کړی (احکام القرآن للجصاص ۲۲۶\۲).

مسکین ته به څومره غله ورکولې شی؟:- ①اوهریومسکین ته دې یو مد یعنی ۵۶ تولې غله ورکړی. دا مسئله دامام شافعی او امام مالك رحمهم الله اود علماء حجاز په نیز ده.②امام ابوحنیفه، امام ابو یوسف او امام محمد رحمهم الله فرمائی چه هر مسکین ته دې دوه مده ورکړې شی. ③امام احمد رحمه الله وائی چه غنم وی نو یو مد او که نوره غله وی نو دوه مده به ورکولی شی .نو که دا نشی ورکولې روژې دې اوساتی یعنی چه یو مسکین ته په ورځ کښې څومره خوراك ورکولې شی هغه هومره ورځې دې روژې اونیسی. دوئم قول دا دې چه د هرصاع په بدله کښې یوه روژه نیسی.نبی اکرم ﷺ کعب بن عجره رضی الله عنه ته حکم ورکړې وو چه یو فرق غله په شپږو کسانو تقسیم کړه یا درې ورځې روژې اوساته. (۱) یو فرق درې صاع وی او یو صاع ۲۲۵ تولې وی.

د ښکار په قیمت به غله اخستې شی او مسکینانو ته به ورکولې شی

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز به د ښکار قیمت اولګوی اوبیا به په هغه قیمت باندې طعام واخلی او هر مسکین ته به نیم صاع غنم ورکړی (احکام القرآن للجصاص ۲۲۷\۲).

د اطعام محل به کوم ځائې وی؟:-اوس په دې کښې هم اختلاف دې چه کوم ځائ کښې پرې اوخوری. امام شافعی رحمه الله وائی چه هم په حرم کښې دې پرې اوخوری اودعطاء رحمه الله هم دغه قول دې ②امام مالك رحمه الله وائی چه په هغه ځائ کښې دې اوخوری چرته چه ده ښکار قتل کړې وو یا هم هلته چرته نزدې. ③امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه د دې هیڅ تخصیص نشته چرته چه خوری، که حرم وی که غیر حرم وی او که بل مقام وی.

د ښکار په کفاره کښې د حرم د مسکینانو عدم تخصیص

مسلک حنفی:- لکه څنګه چې حافظ رحمه الله ابوحنیفه رحمه الله ته نسبت کړې دې چه د دوی په نیز د خوراک کولو دپاره د حرم د مسکینانوتخصیص نشته بلکه د هرځائې په مسکینانو باندې ئې خوړلې شی نو دا نسبت صحیح دې (تفسیر مظهری ۲۱۰\۳).

دَ دې مسئلې متعلق دَ سلفو اقوال:- ددې آیت متعلق د حضرت ابن عباس رضی الله عنه قول دې چه کله محرم ښکار اوکړی نو هم هغه شان څناور په هغه باندې لازم راځی، که د کفارې د پاره هم هغه شان څاروې ملاؤ نه شی نو د هغې قیمت به کتلې شی بیا به د خوراك اندازه لګولې شی بیا به د هر نیم صاع غلې په بدله کښې یوه روژه ساتلې شی. الله ﷻ کفاره د طعام او صیام په ذریعه مقرر کړې ده.

کله چه طعام وی نوهم ددې نه به کفاره ادا کولې شی. د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه د څاروې به کعبه ته لیګلې شی یا مسکینانوباندې دې اوخوړلې شی یا د هغې برابر دې روژې اوساتلې شی. کله چه محرم ښکار قتل کړو نو هم د هغې په شان څاروې په هغه لازمیږی. که چا هوسئی یا د دې په شان څاروې قتل کړو نو په ده باندې بکرئی لازمیږی چه مکې ته به لیګلې شی او ذبح کولې به شی.که داسې اونه شی نو شپږو مسکینانو باندې به خوراك کولې شی اوکه دا هم اونه شی نودرې روژې به نیسی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب المحصر باب قول الله تعالی ﴿ اوصدقة﴾ : ۱۸۱۵، صحیح مسلم: ۱۲۰۱.

Scanned with Ca

که چا اوښ یاد اوښ په شان بل ځناور قتل کړو نوپه هغه باندې غواواجب ده که نه وی نو شلو مسکینانوباندې به خوراك کوی که دا هم نه وی نو شل روژې به ساتی. اوکه شترمرغ یاځنګلی خر نې وژلې وی نو یوه اوښه په ده باندې واجب ده او که دا نه وی نو دیرشو مسکینانو باندې به خوراك کوی کنی دیرش روژې به ساتی. ابن جریر رحمه الله هم دغه ونیلی دی لیکن دا نې زیات کړی دی چه طعام به هریو ته یو یو مد ورکولې شی چه په ډکه خیټه ماړه شی. عطا رحمه الله اومجاهد رحمه الله فرمانی چه یو مد طعام د هغه سړی د پاره دې چه د قربانئی ځاروې کعبې ته نشی رسولې. د سدی رحمه الله وینا ده چه په دې اختیارکښې دې د ترتیب لحاظ اوساتلې شی. او ابراهیم النخعی رحمه الله وانی چه هرقسم اختیار دې چه کومه کفاره ورکول غواړی.

د الله ﷻ ارشاددی ﴿لِيَذُوقَ وَبَالَ أَمْرِهِ﴾ دې د پاره چه هغه د خپلو کړو سزا بیاموميی. یعنی مونږ په هغه باندې کفاره په دې وجه واجب کړې ده چه زمونږ د حکم مخالفت نې کړې چه دهغې سزا اوموميی. خو چه د جاهلیت په زمانه کښې څه شوی دی هغه دهغه سړی دپاره معاف دی چا چه په اسلام کښې بیه کارونه کړی.بیا نې اوفرمانیل چه ﴿وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللَّهُ مِنْهُ﴾یعنی اسلام کښې د راتلونه پس اوددې د ممانعت نه باوجود چا چه نافرمانی اوکړه الله ﷻ به دهغه نه انتقام اخلی او هغه دسرکشونه انتقام اخستونکې دې.خوچه په جاهلیت کښې څه شوی دی هغه معاف دی.اود دې سوال جواب هم په نفی کښې دې چه آیا امام د هغې څه سزا مقررولې شی؟یعنی امام ته د سزا ورکولو حق شته؟ دا ګناه د الله ﷻاود هغه د بنده په مینځ کښې ده. او ده ته د امام د سزا نه ورکولو باوجود به فدیه ضرور ورکول وی. دا ابن جریر رحمه الله روایت کړې دې. د دې مطلب دا شو چه الله ﷻ هم د کفارې په ذریعه انتقام اخلی او د انتقام به هم دغه صورت وی.

جمهور سلف اوخلف په دې متفق دی چه کله محرم بنکار قتل کړونو په ده باندې فدیه ورکول واجب شو. په رومبنی دویمه او یادریمه خطا کښې هیڅ فرق نشته، که هرڅوځل نې کړی وی. فعل خطا او فعل عمد ټول په حکم کښې برابر دی.د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې که د محرم نه خطا د بنکار په قتل کولو کښې اوشوه نو په ده باندې به د هرقتل په وخت کښې دا حکم صادر وی. لیکن که هغه دا قتل عمداً په رومبی ځل کړې وی نو په هغه به داسزا وی او په دوئم ځل به هغه ته وئیلی شی چه الله ﷻدې تانه انتقام واخلی. لکه چه پخپله هم الله ﷻ فرمانیلی دی چه دوباره اوکړی نو الله ﷻ به انتقام اخلی. امام حسن بصری رحمه الله فرمانی چه یو صاحب احرام کښې بنکار اوکړو په ده باندې د فدیه سزا مقرر کړې شوه، هغه بیا دا جرم اوکړو،دآسمان نه اُوررااکوز شوبجلی پرې راپریوتله او هغه نې اوسوزولو هم دغه معنی﴿فَيَنْتَقِمُ اللَّهُ مِنْهُ﴾ ده. الله ﷻ په خپل سلطنت کښې غالب دې څوك هغه مغلوب کولې نه شی.که هغه انتقام اخستل اوغواړی نو څوك دې چه هغه منع کړی. ټول کائنات د هغه مخلوق دې، حکم خو بس هم دهغه چلیږی، سرکشانوته به هغه سزا خامخا ورکوی.د هغه د انتقام د صفت همدغه اقتضاء ده.

د محرم د بنکار په قتل په هر ځل د کفارې لزوم

مسلک حنفی - مسئله هم دغه ده کومه چې حافظ رحمه الله ذکرکړې ده که محرم بنکار قتل کړو که په رومبی ځل وی اوکه دوباره سه باره په هر ځل په ده کفاره واجبیږی برابره ده که دا قتل کول په قصد وی اوکه په خطاء وی اوکه په هیره وی (تفسیرمظهری ۲۱۲\۳)۔

أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهٗ

| حلال کړې شو| ستاسو دپاره| ښکار دسمندر | اوخوراك

تاسو دپاره د دریاب ښکار نیول او خوړل حلال دی

مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ

دنفعې ستاسو| اودپاره دمسافرو | اوحرام کړې شوې دي | په تاسو باندې| ښکار دوچې |ترڅوچې یې تاسو

دا ستاسو خوراکه ده(په کور هم)اودسفر په حالت کښې هم | او د اوچې ښکار منع دي| تاسو چې ترڅو

حُرُمًا ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹۶﴾ جَعَلَ اللّٰهُ

په حالت داحرام کښې|اویریږئ دالله نه|هغه ذات|چې هم هغه ته به| تاسوجمع کولې شئ| جوړه کړه الله

احرام کښې یئ| اودهغه الله ﷻ نه ویریږئ چې کوم ته بۀ تاسو واپس کیږئ| .....الله ﷻ

الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْيَ

کعبه یعنی کور دعزت | ذریعه دقیام | دپاره دخلقو| اومیاشته عزتمنده |اودقربانئ څاروی|

کعبه چې دعزت ځاني دي | دخلقود قیام سبب ګرځولې شوې دي |اوهمداشان دحرمت میاشت اوقربانئ څاروی

وَالْقَلَآئِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا

اواميل والا قربانی هم| دا کاردي | دپاره دي چې معلومه شي تاسوته| چې بیشکه الله|پوهیږي |په هغه

اوهغه څاوری چې پټې ورته پرتې وی| دا په دي چې بیشکه الله ﷻ ښه عالم دي | په هغه څه

فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۹۷﴾

چې په آسمانونو کښې دی|اوپه هغه چې په زمکه کښې دی |اوبیشکه الله|په هرڅیز باندې |ښۀ عالم دي

چې په آسمانونواوزمکه کښې دی | .....اوالله ﷻ په هرڅیز باندې علم لری

اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۸﴾ ؕ

پوهه شئ | چې بیشکه الله| سخت ورکونکي دي | عذاب | اوبیشکه الله|ښونکي | مهربان دي !

پوهه شئ چې الله ﷻ ډیرسخت حساب اخستونکي دي | .....او ښونکي اومهربان هم دي

مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ ؕ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ

نشته ذمه واری | په رسول باندې | مګر | رسول دی |اوالله| پوهیږی| په هغه چې ښکاره کوئ نې تاسو

درسول ذمه واری صرف پیغام رسول دی | اوالله ﷻ ته ستاسوښکاره حالات هم معلوم دی

وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿۹۹﴾

اوپه هغه| چې پټوئ نې تاسو|

او ستاسوپټ حالات ورته هم معلوم دی|

قوله تعالي: اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ

په احرام کښې دسمندری ښکار حکم:- ستاسو د پاره د سمندرتازه ښکار حلال دې او کوم کبان چه اوچ کړې شی او د لارې توښه جوړولې شی هغه هم ستاسو د پاره او د اهل قافلې د پاره جائز دی. د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه هغه ښکار چه ژوندې د سمندرنه حاصل کړې شی مراد دې. او لفظ (طعام) نه هغه مراد دې کوم چه سمندر وژلې وی اوغاړې ته ئې غورزولې وی.حضرت ابوبکر صدیق ﷺ فرمائی چه د طعام نه هر هغه څیز مراد دې کوم چه په سمندرکښې دی. حضرت ابوبکر ﷺ خطبه ورکړه نو ونې فرمائیل چه سمندری ښکار ستاسود پاره حلال دې او نه ښکارشوې لیکن د سمندر راغورزونکې هغه هم ستاسود فائدې او د لارې د توښې څیز دې. ابن المسیب رحمه الله وائی چه سمندر خو ژوندې راغورزولې وی خو په اوچه باندې هغه مړ شوې وی نو دا طعام دې. عبدالرحمن رحمه الله سوال اوکړو چه سمندر خوډیرمړه کبان په غاړه راغورزوی نوهغه مونږخوړلې شونوابن عمر ﷺجواب ورکړوچه مه خورنی. کله چه عبدالله بن عمر ﷺ کورته راغلو او قرآن ئې کولاؤکړو او دا آیت ئې اولیدلو ﴿وَطَعَامُهُۥ مَتَٰعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ﴾ نو وئی وئیل چه لاړ شه او ورته اووایه چه خورنی څکه چه د سمندر څیز ته الله ﷻ طعام وائی. ابن جریر رحمه الله هم دغه وائی چه د طعام نه مراد هم د سمندر مړه کبان دی. حضور ﷺ هم دغه فرمائیلی دی چه د سمندر په چپوباندې مړه راغلی شوی کبان طعام دې.

متاع نه مراد منفعت اوقوت دې.سیاره جمع ده سیارده،عکرمه رحمه الله وائی چه کوم په سمندری مقاماتوکښې وی هغه خو تازه تازه ښکار کوی او چه کوم مړه شی نو هغه اوچ کړی او ذخیره ئې ساتی اویا ښکار ئې کړی او پریږدی او دا مسافران او دغاړې نه لرې اوسیدونکو دپاره د لارې د توښې کار ورکوی. جمهورو د مړ کب په حلال والی باندې د دې آیت نه استدلال کړې دې. امام مالک رحمه الله د حضرت جابر بن عبدالله ﷺ نه روایت کړې دې چه نبی اکرم ﷺ د ساحل طرف ته یو لښکر اولیګلو. ابو عبیده بن جراح ﷺ ئې د دې امیر جوړکړو. دا درې سوه کسان وو او زه هم شامل ووم. مونږ هم په لار باندې وو چه توښه ختمه شوه. نو ابوعبیده ﷺ حکم ورکړو چه د ټول لښکر نه توښه راجمع کړئی، ما سره په توښه کښې کهجورې وې، مونږ به د هغې نه هره ورځ لږې لږې خوړلې. آخر هغه ذخیره ختمه شوه اود رسد په توګه به مونږ ته یوه یوه کهجوره ملاویدله. مونږ پخپله اوس مرګ ته نزدې شو خو سمندرته راورسیدو.په ساحل باندې مو اوکتل چه یوکب د غونډئ په شان اوږد او پلن پروت دې. زمونږ ټول لښکر هغه دیارلس ورځې اوخوړلو. ابوعبیده ﷺ د ده دوه پوښتنئی د کمان په شان د لګولو حکم اوکړو.د دې کمان لاندې یو په اوښه سور تیرشو اود هغې پورتنئی حصې ته اونه رسیدلو. حضرت جابر ﷺ هم داسې بیان کوی چه د سمندر په ساحل باندې د یوې غونډنی په شان اوچت څه معلوم شو، چه اومو کتل نوهغه سمندری مخلوق مړپروت وو کوم ته چه عنبروائی.حضرت ابوعبیده ﷺ اوفرمائیل چه دا خو مړ دې بیائې اوفرمائیل چه مونږ خو د رسول الله ﷺ قاصدان یود ولړې نه مجبور یو.تازه تازه غوښه ده ښه ئې اوخورئی.مونږ هلته یوه میاشت حصار وو او مونږ درې سوه کسان وو، په خوراک خوراک ښه چاق شو. د هغه د سترګود حلقونه به مونږ ډک ډک منګی غواړی راویستل، دومره لوئ لوئ ټکړې وې لکه د غوا.حضرت ابوعبیده ﷺ د هغه په سترګه کښې دیارلس کسان کینولې وو. د هغه یوه پوښتنئی دکمان په شکل کښې اودرولې وه نود لوئ نه لوئ اوښ د هغې لاندې تیرشو. غرض دا چه هغه کب دومره غټ وو،(۱) بیا مونږ د هغه غوښه اوچه کړه او د لارې توښه مو تری جوړه کړه. کله چه مدینې ته اورسیدلو نوحضور ﷺ ته مو ذکر اوکړو نو وئی فرمائیل چه دا ستاسو د پاره د الله ﷻ د طرف نه رزق وو که تاسو سره څه وی نو راوړئی په مونږ باندې هم اوخورئی.مونږ حضور ﷺ ته څه

---

(۱)صحیح بخاری کتاب الشرکة فی الطعام...:۲۴۸۳، صحیح مسلم:۱۹۳۵،مؤطا امام مالک: ۹۳۰/۲، ابن حبان : ۵۲۶۲، بیهقی : ۲۵۲/۹

اولیګل هغوی تناول اوخوړل(۱) اوپه یو روایت کښې دی چه دا لښکر حضور ﷺ سره وو کله چه دا کب لیدلې شوې وو،ځینې وائی چه نه،حضرت ﷺ ورسره نه وو اوهغه بله واقعه ده. ځوک وائی چه نه واقعه هم یوه ده، په اوله واقعه کښې حضور ﷺ ورسره نه وو او هغه بله واقعه ده.بعض وائی چه نه هم یوه واقعه ده په رومبنی واقعه کښې نبی اکرم ﷺ ورسره ووبیا چه کله حضور ﷺ دویم لښکر اولیګلو نو د هغې امیر ابوعبیده ﷺ وو اودا واقعه هم د دې ابوعبیده ﷺ د لښکر وه. والله اعلم.

د ابوهریره ﷺ نه روایت دی چه یو سړی د حضور ﷺ نه سوال اوکړو یا رسول الله ﷺ مونږ سمندرکښې سفرکوواو لږې شان اوبه ځان سره ساتلی شو که په دې سره اودس اوکړو نو مونږ به تږې پاتې شو نو په دې صورت کښې مونږ په سمندرکښې اودس کولې شو؟ هغوی ﷺ اوفرمائیل چه د سمندر اوبه پاکې دی اوددې مړ کب حلال دی(۲)دصحابه کرامو رضی الله عنهم دیوې ډلې نه هم دغه روایت دی. ابو هریره ﷺ فرمائی چه مونږ حضور ﷺ سره په حج یا عمره کښې یوځای وو نود ملخانو یو لښکر سره مونږ مخامخ شو، مونږ به هغه په خپل لرګی وهلو او هغه به مړ مونږ ته راپریوتلو. مونږ خپل مینځ کښې اووئیل چه اوس به څه کوو مونږ خو د احرام په حالت کښې یو نوحضور ﷺ اوفرمائیل چه د سمندری ښکار ممانعت نشته.(۳) نبی کریم ﷺ چه کله ملخانو ته بددعا کړې وه نو وئیلی وویا الله لوئ واړه ټول ملخان هلاک کړې د هغوی هګنی ضائع کړې او نسل ئې تری زیات مه کړې چه دا زمونږ غله او فصلونه اوزمونږ باغونه او ونې تباه نه کړی. ته خو مجیب الدعوات ئې حضرت خالد ﷺ اووئیل یا رسول الله ﷺ داخو هم لکه چه یو الهی فوځ دې ته د دوی د نسل ختمولو بددعا ولې کوې؟ هغوی اوفرمائیل چه دا ملخان هم د سمندر د کبانو د نسل نه دی. زیاد رحمه الله بیان کوی چه ماته پخپله دې سړی بیان کړې دې چا چه د کب نه ملخ راپیدا کیدونکې لیدلې دې.(۴) دا حدیث صرف ابن ماجه بیان کړې دې. ابن عباس ﷺ په احرام کښې د ملخانو ښکار کولو ممانعت کړې دې.ځینې فقهاؤ د دې آیت نه استدلال کړې دې چه ټول سمندری ځناورخوړلې شی او په دې کښې د هیڅ ځیز استثناء نشته بعضو چیندخان مستثنی کړی دی اود دې نه علاوه باقی جائز ساتلی. د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ نه روایت دې چه حضور ﷺ د چیندخ د وژلو ممانعت کړې دې او فرمائیلی دی (۵) چه ددې آوازد الله ﷻ تسبیح دې (۶)نورو وئیلی دی چه کب دې خوړلې شی خوچیندخه دې نه شی خوړلې.

د کب نه سوا باقی ټول سمندری ځناور حرام دی

مسلک حنفی:- د احنافو په نیز په سمندری ځناورو کښې د کب نه سوا نور ټول ځناور حرام دی په هغې کښې چیندخ هم دې ځکه که مردار وی نود دې آیت په وجه حرام دې چه ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾ یعنی په تاسو باندې مرداره حرامه دا آیت عام دې که د وچې مرداره وی اوکه د سمندر البته صرف دوه مرداري حلالې دی دکومواستثناء چې په حدیث کښې راغلې ده نبی کریم ﷺ فرمائی ﴿احلت لنا میتتان الحوت والجراد﴾ یعنی دوه مرداري زمونږ دپاره حلالې دی یوکب اوبل ملخ ددې حدیث نه معلومیږی چه دلته د

---

(۱) صحیح مسلم کتاب الصید باب اباحة میتات البحر : ۱۹۳۵، صحیح بخاری : ۴۳۶۲، مختصرا ابوداود : ۳۸۴۰، احمد: ۳۰۳/۳،

(۲) ابوداود کتاب الطهارة باب الوضوء بما البحر : ۸۳، وسنده صحیح ترمذی : ۶۹، نسائی : ۳۳۳، ابن ماجه: ۳۸۶، احمد: ۳۶۱/۲.

(۳) ابو داود کتاب المناسک باب الجراد للمحرم: ۱۸۵۴، وسنده ضعیف جدا ترمذی : ۸۵۰، ابن ماجه: ۳۲۲۲، احمد: ۴۰۷/۲، ددی سند کښې اب،الهزم یزید بن سفیان ضعیف راوی دې (المیزان: ۴۲۲/۴، رقم: ۹۷۰۱).

(۴) ابن ماجه: کتاب الصید باب صید الحیتان والجراد: ۳۲۲۱، ترمذی : ۱۸۲۳،

(۵) ابوداود کتاب الطب باب فی الادویة المکروهة : ۳۸۷۱، وهو صحیح نسائی : ۴۳۶۰، احمد: ۴۵۴/۳.

(۶) ابوداود کتاب الاطعمة باب فی الطاف من السمک : ۳۸۱۵،

Scanned with Ca

مرداري نه ټولې مرداري مراد نه دی بلکه صرف د کب (مهای) حلت تري مراد دې بله یوه خبره هم د احنافو د مذهب تائید کوی هغه دا چه د مکې نه ،،جده،، په لږه فاصله کښې ده او په جده کښې سمندرشته خوپه ذخیره د احادیثو کښې دا ثابته نه ده چه نبی کریم ﷺ یا بل صحابی د کب نه سوا د سمندر بل ځناور خوړلې دی د دې نه معلومه شوه چه د کب نه علاوه د سمندر نور ځناور حرام دی (حلال اوحرام تالیف مولانا خالد سیف الله رحمانی (صفحهٔ ۱۲۲ ، ۱۲۳)-

د دې دوارو په ماسواکښې اختلاف دې.ځینې وائی د اوچې کوم ځناور چه خوړلې شی د هغې په شان چه کوم د سمندر ځناوردی هغه دې خوری او چه د اوچې کوم ځناور نشی خوړلې نود سمندر هم د هغې په شان ځناوردې نشی خوړلې. دا ټول اختلافات د امام شافعی رحمه الله په مذهب دی. او امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی چه په سمندرکښې کوم کب مړ شی هغه دې نشی خوړلې لکه څنګه چه د اوچې مړځناور نشی خوړلې. ځکه چه الله ﷻ ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ﴾ فرمائیلې دی.رسول الله ﷺ نه روایت دې چه تاسو د سمندرنه کوم ښکار کړې وو هغه ژوندې وو بیا مړشونو خورنې اوکوم مړ کب چه د سمندر چپو غاړې ته راوړې وی هغه مه خورئی.(۱) جمهورو د اصحاب مالک رحمه الله شافعی رحمه الله او احمد رحمه الله نه د حدیث عنبر په ذریعه د دې حدیث نه استدلال کړې دې. چه د سمندر اوبه صفا دی اوددې مړشوې حلال دې. په دې وجه هغه داسې کب هم جائز ګڼړی. رسول الله ﷺ فرمائیلی چه زمونږ د پاره دوه مړه ځناور او دوه وینې جائز دی. دوه مړه ځناور خو کب او ملخ دې او دوه اینهٔ او توری.

په مردارو کښې صرف د کب حلت هم چې سمک طافی نه وی

مسلک حنفی:- داحنافو په نیز د سمندر ټول ځناور حرام دی سوا د کب نه ځکه چه د کب په حدیث کښې استثناء راغلې ده یو د ملخ او بل د کب نو که د سمندر ټول ځناور حلال وې نبی کریم ﷺ به ولې صرف د دوو ځناور استثناء کوله او په کبانو کښې هم چه کوم کب په طبعی مرګ سره مړ شی یعنی بغیر د ښکار کولو نه مړ شی نو که هغه د اوبو د سردپاسه راشئ او خپته ئې پورته وی نود احنافو په نیز هغه هم حرام دې ځکه چه په حدیث کښې دې ته ،،سمک طافی،، وئیلې شوې دې او د دې د خوړولو نه ئې منع فرمائیلی ده (حلال او حرام تالیف خالد سیف الله رحمانی صفحه (۱۲۲)-

دَ احرام په حالت کښې دَ اوچې د ښکار حکم:- د الله ﷻ ارشاد دې ﴿وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا﴾ یعنی د احرام په حالت کښې تاسوله د اوچې ښکار کول حرام دی. که عمداً داسې کوئی نو ګناهګار به هم ئې اوتاوان به هم ورکوئی اوکه په خطا نه موکړې نو د تاوان ورکولو نه پس به سزا ختمه کړې شی لیکن د دې ښکار خوراك به حرام وی ځکه چه دا د ده په حق کښې د مرداري په مثال دې.

په محرم ښکاری باندې د کفارې په تعدد کښې اختلاف:- ① د امام شافعی رحمه الله او امام مالک رحمه الله یو قول دا هم دې چه داحرام والا او غیراحرام والا ټولو دپاره دَدې خوراك حرام دې. نو که هغه ښکاری د دې نه څه اوخوری نو په هغه به دوچنده فدیه لازمیږی، په دې کښې د علماؤ دوه اقوال دی. یوخودا چه دوچنده فدیه لازمیږی.دعطا رحمه الله نه روایت دې که چرې محرم ښکاری دا ذبح کړی نو دوه کفارې به لازمیږی.دعلماؤ د یوې ډلې مذهب خودا دې. ② بل قول دا دې چه په خوړونکی باندې به دویمه فدیه نه لازمیږی.دمالک بن انس رحمه الله هم دغه مذهب دې.ابوعمر وائی چه زناکار د حد وهلونه وړاندې بار بار وطی کړی وی نوپه ده باندې به صرف یوحد قائم کولې شی ③ امام ابوحنیفه رحمه الله فرمائی د خپل ښکارغوښه خوړلو باندې دخپل خوراك قیمت ورکول لازمیږی د دې نه زیات نه ④ابوثور رحمه الله فرمائی

(۱) سوره بقره کښې ددې تخریج تیر شوې دې

چه په داسې صورت کښې به په محرم صرف کفاره لازمیږی اود هغه ښکار نه خوړل دده د پاره حلال دی. لیکن زه ئې مکروه ګڼرم چه هغه د دې نه اوخوری ځکه چه حضور ﷺ فرمائیلی دی چه دا په حالت احرام کښې د اوچې ښکار په تاسو حلال دې په دې شرط چه تاسو پخپله د دې ښکار نه وی کړې اونه ستاسودپاره ښکارکړې شوی وی. د دې حدیث بیان به وړاندې راځی خود ښکاری دپاره د دې خوړل جائز ګرځول عجیبه خبره ده.

د محرم د ښکار کولو نه پس د هغې نه د خوراک دوه صورتونه

مسلک حنفی :- که محرم په حالت د احرام کښې ښکار اوکړی.اود ښکار نه پس ئې د هغې نه خوراک اوکړو نو د دې دوه صورتونه دی که د ښکار کولو نه پس ئې کفاره ورنکړه او د هغې نه پس ئې خوراک اوکړو نوبله فدیه پرې نشته صرف یوه فدیه به ورکوی اوکه د ښکار کولو نه پس ئې فدیه ورکړه اود هغې نه پس ئې خوراک اوکړو نو په دې صورت کښې په ده باندې یوه فدیه لازمیږی او ځومره خوراک چې ئې تړې کړی وی نو د هغې قیمت به ورکوی (معلم الحجاج تالیف سعید احمد مفتی مظاهرعلوم صفحه ۲۲۳).

اود غیر ښکاری دپاره د محرم دښکار باره کښې اختلاف دې. مونږ وړاندې بیان کړې دې چه جائز نه دی. لیکن ځینې خلق غیر ښکاری دپاره د دې خوراک کولو ته جائز وائی او محرم او غیرمحرم ئې ټول یو شان ګرځولی دی.

د محرم د ذبیحې یا ښکار د غیرمحرم دپاره حرمت

مسلک حنفی:- که محرم ښکاریا ذبحه اوکړی نو دهغه ذبیحه دغیرمحرم دپاره حرامه ده دې د هغې نه خوراک نشی کولې (تسهیل الهدایه شرح هدایه ۵۵۴\۲).

دغیرمحرم ښکار خوړل د محرم دپاره :- ①چه کله غیر محرم ښکار اوکړی او محرم ته ئې هدیه کړی نو ځینې وائی چه د محرم د پاره مطلقًا جائز دی او په دې کښې هیڅ فرق نشته. که پخپله ئې د هغه د پاره ښکار کړې وی اوکه نه، د حضرت ابوهریره ﷺ نه د غیر محرم د ښکارباره کښې تپوس اوکړې شو چه د هغې خوړل د محرم د پاره حلال دی نو فتوی ئې ورکړه چه او خوړې شی. بیا حضرت عمر بن الخطاب ﷺ سره ملاقات اوشو نو هغه ته پته اولګیده نوهغه اوونیل که تاد دې خلاف فتوی ورکړې وه نو ما به تاله سزا درکوله. لیکن نورو خلقو به بالکلیه ناجائز ګڼړل. ابن عباس ﷺ او ابن عمر ﷺ به مکروه ګڼړل. ځکه چه د ﴿حُرِّمَ عَلَيْكُمْ﴾ آیت عام دې. حضرت علی ﷺ به د محرم د پاره د ښکار د غوښې خوړلوته مکروه ونیلې.②او امام مالک رحمه الله امام شافعی رحمه الله او امام احمد رحمه الله وغیره وائی که غیرمحرم د محرم د پاره ښکار کړې وی نو محرم له د دې خوړل جائز نه دی. صعب بن جثامه ﷺ یو ځل نبی اکرم ﷺ له یو ګورخر هدیه کښې لیګلې وو نو حضور ﷺ واپس کړې وو، نو چه کله هغوی ﷺ د لیګونکی په مخ باندې د خفګان آثار اولیدل نو ونې فرمائیل چه زه خوئې صرف د محرم والی په وجه نه خورم. دا حدیث په بخاری او مسلم کښې (۱) په ډیرو الفاظ سره دې. د دې وجه دا وه چه نبی اکرم ﷺ دا خیال کړې وو دا ئې صرف د هغه د پاره ښکار کړې وو، په دې وجه ئې واپس کړو او که یو ښکار د محرم د پاره نه وی کړې نو د محرم د پاره د دې خوراک جائز دې ځکه چه د ابوقتاده ﷺ په حدیث کښې دی چه هغه یو ګورخر ښکار کړې وو اوهغه محرم نه وو اود هغه ملګری محرم وو نو هغوی د دې

---

۱) صحیح بخاری کتاب جزاء الصید باب اذا هدی للمحرم حمارا اوحشیاحبالم یقبل : ۱۸۲۵، صحیح مسلم : ۱۱۹۳.

Scanned with Ca

د خوراك نه منع شو اودحضرت ﷺ نه ئې تپوس اوکړو چه تاسو کښې یوکس ښکاری ته د ښکار د پاره ښکار خودلې وو یاد هغې په قتل کولو کښې مو څه امداد کړې وو؟ نو ملګرو وئیل چه نه، نو وئی فرمائیل چه بیا خو ئې خورئی او پخپله ئې هم اوخوړلو.(۱) د حضرت جابربن عبدالله ﷺ نه روایت دې چه حضرت ﷺ اوفرمائیل د اوچې ښکار ستاسو د پاره حلال دې په دې شرط چه تاسو پخپله په حالت د احرام کښې ښکار نه وی کړې یا ستاسو په وجه یا ستاسو په مقصد سره ښکار نه وی کړې شوې.(۲) عامر بن ربیعه رضی الله عنه وائی چه ما حضرت عثمان بن عفان ﷺ چه کوم وخت هغه په عرج کښې وو او محرم وود سرما زمانه وه اومې کتلوچه هغوی خپل مخ په ارغوانی رنګ څادر پټ کړې وو. بیا د ښکار غوښه راوړلې شوه نو حضور ﷺ صحابو ته اووئیل چه تاسو ئې اوخورئې زه ئې نه خورم خکه چه دا ښکار زما په خاطر کړې شوې دې او ستاسو په خاطر نه دې کړې شوې.(۳)

د غیرمحرم ښکار د محرم دپاره جواز

مسلک حنفی:- کـه غیرمحـرم کـس ښکـار اوکړلـو.اوهغـه ئـې ذبـح کړلـو.اوبیـا ئـې پـه محـرم باندې اوخوړلو.نوپه محرم باندې څه ضمان نه واجبیږی.خوپه دې شرط چه نه ورته محرم دلالت کړې وی.اونه ئې ورته حکم کړې وی (تسهیل الهدایه شرح هدایه (۵۵۶\۲)-

قُلْ	لَّا يَسْتَوِي	الْخَبِيثُ	وَالطَّيِّبُ	وَلَوْ	أَعْجَبَكَ
اووایه	ئه برابریږی	ناپاك	اوپاك	اگر که	تعجب درولی تاله
اوئ ته اووایه چې پاک اوناپاک برابرنه دی				اگر چې دناپاک څیزونو	
كَثْرَةُ	الْخَبِيثِ	فَاتَّقُوا	اللَّهَ	يَا أُولِي	الْأَلْبَابِ	لَعَلَّكُمْ
ډیروالي دناپاکو	انواویریږئ	اونافرمانئ مه کوئ	ادالله نه	اې خاوندانو	ادعقلونو	ادپاره ددې چې تاسو
ډیروالي تاسو حیرانوی	اوائې دعقل خاوندانو	الله ﷻ نه ویریږئ	.....			دې دپاره چې تاسو
تُفْلِحُونَ	يَا أَيُّهَا	الَّذِينَ	آمَنُوا	لَا تَسْأَلُوا	عَنْ أَشْيَاءَ	
خلاصې بیا مومئ	اې هغه کسانو	اچې ایمان موراوړې دې	امه کوئ	پوښتنه	اپه باره	دهغه څیزونو کښې
کامیاب شئ	انې دایمان خاوندانو	دداسې څیزونو باره	کښې تپوسونه مه کوئ	.....		
إِنْ تُبْدَ	لَكُمْ	تَسُؤْكُمْ	وَإِنْ تَسْأَلُوا	عَنْهَا		
که ښکاره شی	اتاسو ته	انو په تکلیف	کښې به واچوی تاسو	اوکه تاسو تپوس اوکړو	اپه باره	دهغې کښې
که هغه تاسوته ښکاره کړې شی	انو تاسو به خفه کړی	.....	اوکه تاسو په داسې وخت	کښې تپوس کوئ		
حِينَ	يُنَزَّلُ	الْقُرْآنُ	تُبْدَ	لَكُمْ	عَفَا اللَّهُ	
په هغه وخت	کښې چې نازلولې شی	قرآن	انوضرورپه ښکاره کړې کیږی	تاسوته	معافی اوکړه الله	
چې قران پاک رانازلیږی	انوهغه به درته خواه مخواه ښکاره کولې شی	الله ﷻ تاسو ته	معافی اوکړه			

---

۱) صحیح بخاری حواله سابق : ۱۸۲٤٤، صحیح مسلم: ۱۱۹٦.

۲) ابوداود کتاب المناسک باب لحم الصید للمحرم : ۱۸۵۱، .

۳) موطا امام مالک کتاب الحج باب ما لا یحل للمحرم کاله من الصید : ۸٤، وسنده صحیح موقوف للطبری : ۲٦٦/۱

عَنْهَا ط	وَاللّٰهُ	غَفُوْرٌ	حَلِيْمٌ ۝١٠١	قَدْ	سَاَلَهَا	قَوْمٌ
دتبرو تپوسونو	اوالله	بښونکې	صبرناک دې	په تحقیق سره	اپوښتنه کړې وه	دداسې خبرو	یوقوم
د الله ﷻ	بښونکې	او برداشت کونکې دې	.....	ستاسوپه شان یو بل قوم هم تپوسونو کولو			

مِّنْ قَبْلِكُمْ	ثُمَّ	اَصْبَحُوْا	بِهَا	كٰفِرِيْنَ ۝١٠٢
وړاندې ستاسو نه	بیا	شول هغوئ	په هغې باندې	کافران
کوم چه ستاسو نه وړاندې وو	اوبیادهغې خبرې په وجه کافرشو			

قوله تعالی:: قُلْ لَّا يَسْتَوِي الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ

په رزق حلال باندې قناعت:- الله ﷻ حضور پاک ﷺ ته ارشاد فرمائی چه پاک او ناپاک دواړه نه شی برابریدلې سره د دې چه خبیث څومره ښه ولې نه وی. ای انسانه لږ شان حلال څیز چه فائده مند وی هغه د هغه کثیر حرام څیز نه بهتر دې مضرت بخش وی لکه چه په حدیث شریف کښې دی چه کم څیز او کفایت کونکې څیز ښه دې د کثیر څیز نه کوم چه د الله ﷻ نه غافله کونکې دې. ثعلبه ابن حاطب الانصاری ﷺ اووئیل ای رسول الله ﷺ دعا اوکړئی چه ماله الله ﷻ ډیر مال حال راکړی. حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه لږ مال د کوم چه ته شکر ادا کړې هغه د هغه کثیر مال نه بهتر دې د کوم چه ته شکر ادا نه کړې.(۱) نو ای د صحیح عقل خاوندانو د الله ﷻ نه اوویریږئی، د حرامو نه بچ شئی، په حلال باندې قناعت اوکړئی کیدې شی چه تاسو په دین او دنیاکښې خلاصې بیامومئی.

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ ۚ

د بې ځایه سوالونو ممانعت:- بیائې اوفرمائیل ای ایمانداارو دداسې سوالونوتپوس مه کوئی که د هغې جوابونه ښکاره شی نو تاسو ته به سخت تکلیف دراورسی. دا د الله ﷻ د طرف نه مؤمنانو بندیګانوته خبرداري دې اوغیر فائده مند او مضر سوالونو تپوسونو نه ممانعت دې ځکه که چرې دا امور ظاهر شی نو د هغې په اوریدو به په دوی سختی تیرشی او خفګان به وراورسی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه څوک ماله د چا څه خبر مه رارسوئی زه غواړم چه هم تاسو ته مخامخ یم نو زما زړه به تاسو نه بالکل صفا وی اود چا د طرف نه به مې زړه کښې خفګان نه وی.(۲) حضرت انس بن مالک ﷺ فرمائی چه حضور ﷺ خطبه ورکړې وه چه داسې خطبه ما چرې هم نه وه اوریدلې. حضرن نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چه که تاسو هغه څه پیژندل کوم چه زه پیژنم نو ډیرکم به مو خندل او ډیر زیات به مو ژړل. نو صحابه کرامو رضی الله عنهم خپل مخونه پټ کړل او ژړلې. یو سړې پاسیدو تپوس ئې اوکړو اې حضور نبی کریم ﷺ زما پلار څوک وو؟ وئیل فلانکې وو. نو دا آیت نازل شو چه ﴿لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ﴾ (۳) د حضرت انس بن مالک ﷺ نه روایت دې چه یوه ورځ بعضو صحابه کرامو د حضور ﷺ نه څه سوالونه اوکړل او په اصرار ئې اوکړل حضور ﷺ منبر له راغلو او وئی فرمائیل چه نن کومې خبرې زما نه تپوس کوئی نو اوکړئی زه به ستاسو ټول حالات بیان کړم. حضور نبی کریم ﷺ صحابه کرامو چه دا واوریدل نو ټول اورچیدل چه څه نوې خبره ښکاره کیدونکې ده او ما چه ګس طرف او ښی طرف کوم خوا هم کتل

---

(۱) مسند ابی یعلی : ۲۹۵/۱، وسنده حسن صحیح ابن حبان : الاحسان: ۳۳۱۹، تهذیب الآثار ، مجمع الزوائد: ۲۵٦/۱۰.

(۲) المعجم الکبیر : ۷۸۷۳ مجمع الزوائد : ۳۱/۷ ۲۲.

(۳) ابوداود کتاب الادب باب رفع الحدیث من المجلس : ٤٨٦٠، ترمذی : ۳۸۹٦، احمد: ۳۹۵/۱، مسند ابی یعلی : ۵۳۸۸.

Scanned with Ca

صحابه کرامو خپل مخونه په کپړو پټول او ژړیدل. یو سړي پاسیدو څوک چه د خپل پلار باره کښې خلقو بدنام کړلو وئیل اې د الله ﷻ نبی ﷺ زما پلارڅوک وو؟ حضور ﷺ اوفرمائیل حذافه وو، بیا حضرت عمر ؓ اودریدو چه مونږ ته د هیڅ ځیز د تپوس ضرورت نشته، الله ﷻ زمونږ رب دي، اسلام زمونږ دین دي، محمد ﷺ زمونږ رسول دي. مونږ د څه فتنې د ښکاره کیدو نه پناه غواړو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د نن په شان ما چرې خیر او شر ښکاره نه دي لیدلې. جنت او دوزخ زما په وړاندې داسې مجسم دی لکه چه د دې دیوال شاته دی. (۱) د ابن حذافه په تپوس باندې ام عبدالله بن حذافه وئیل چه تانه ډیر نالائق هلك ما نه دی لیدلې تاته څه پته ده چه د جاهلیت په ورځو کښې به څه څه کیدل، فرض کړه که زه هم په هغه زمانه کښې په څه معصیت کښې اخته شوې ووم نو نن به د نبی کریم ﷺ په مبارکه ژبه د خلقو په وړاندې ستا په وجه رسوا کیدل وو. عبدالله وئیل چه که څوك حبشی غلام هم زماپلار ګرځیدلې وې نو ما به خپل ځان هم هغه طرف ته منسوب کولو. د حضرت ابوهریره ؓ نه روایت دي چه حضور ﷺ باهر راوتلو نو ډیر په غصه کښې وومخ مبارك نې تك سور وو. په منبر باندې کیناستو نو یو سړی تپوس اوکړو زما مړ پلار ګوم ځائ کښې دي. حضور اوفرمائیل دوزخ کښې دي، بل سړی تپوس اوکړو زما پلار څوك دي؟حضور ﷺ اوفرمائیل ستا پلار حذافه دي عمر ؓ اودریدو او وئی وئیل بس کافی دی زمونږ د پاره الله ﷻ زمونږ رب دي، اسلام زمونږ دین دي او محمد ﷺ زمونږ رسول دي، قرآن زمونږ امام دي،یا رسول الله ﷺ مونږ،جاهلیت او شرك زماني سره ډیر نزدې یو هم الله ﷻ ته معلوم دی چه زمونږ پلاران نیکونه څوك وو، دې اوریدو سره د حضور ﷺ غصه سړه شوه او دا آیت نازل شو چه داسې سوالونه مه کوئی چه خبره ښکاره شی نو تاسو به خفه شئی.(۲)
په یو مرسل حدیث کښې دی چه یوه ورځ حضور ﷺ په غصه کښې وو پاسیدو او وئی فرمائیل چه تپوس اوکړئی مانه چه څه تپوس کوئی چه درته نې اوښایم، دې اوریدو سره د بنی سهم یو قریشی پاسیدو چه د هغه د پلار باره کښې پیغورونه کیدل تپوس نې اوکړو حضرت زما پلارڅوك وو نو حضور ﷺ هغه هم د خپل پلار طرف ته منسوب کړو حضرت عمر ؓ پاسیدو وئی وئیل چه حضرت زمونږ خطا معاف کړئی الله ﷻ دې تاسو هم معاف کړی، هغه باربار درخواست اوکړو تردې چه د حضرت غصه سړه شوه وئی فرمائیل چه د زناکارې ښځې ځوئ به د پلار په ځائ مورطرف ته منسوب کولې شی او په زناکار باندې کانړی پریوزی. د حضرت ابن عباس ؓ نه روایت دي چه خلقو به د حضور ﷺ نه د ظرافت او خوش طبیعتئی د پاره هم تپوسونه کول چه زما پلارڅوك دي چا به وئیل چه زما ورکه شوې اوښه چرته ده نو د سوالونونه د ممانعت آیت نازل شو.
د حضرت علی ؓ نه روایت دي چه کله دا آیت نازل شو ﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾ چه ﷺ چا طاقت وی په هغه باندې حج فرض دي نو خلقو تپوس اوکړو چه یارسول الله ﷺ هرکال؟ نو هغه ﷺ خاموش شو نو دوباره تپوس اوکړې شو چه هر کال؟ هغوی ﷺ بیا خاموش شو نو په دریم ځل تپوس اوشو نوونی فرمائیل چه که چرې ما او اوکړل نو هرکال به په تاسو حج فرض شی. د څه چه تاسو طاقت نه لرئی او که ادا مو نه کړو نو کافران به شئی. نود سوالونو د ممانعت آیت نازل شو.(۳) یو بل سړی هم داسې تپوس کړې ووچه حج به هر کال کوو، نو نبی کریم ﷺ چغه اووهله چه چپ شه، یا نې په هغه

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله (لاتسئلوا عن اشیا ان تبدلکم تسؤکم) : ٤٦٢١، صحیح مسلم: ٢٣٥٩، ترمذی : ٣٠٥٨، احمد: ٢١٠/٣. مسندالطیالسی: ٦٠/٢.
(۲) الطبری :: ١٠٣/١١
(۳) ترمذی : کتاب الحج باب ماجاء کم فرض الحج : ٨١٤، وسنده ضعیف . وسنده منقطع.

Scanned with Ca

باندې غصه اوکړه، څه وخته پورې چپ حصار وو بیائې اوفرمائیل چا سوال کړې وو، یوبانډچې اونیل چه ما سوال کړې وو نو حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل کم بخته که چرې ما او وئیلې وې نو هرکال د حج د فریضې نه به چا بچ کولې ښکاره خبره ده چه تاسو به نشو ادا کولې، تاسو نه وړاندې امتونه خو هم په دې هلاک شوی دی. که زه ستاسودپاره دنیا او مافیها هم حلال کړم او یو قدم خانې حرام کړم نوهم د دې حرص به تاسو راګیر کړی،(۱) ځکه خو الله ﷻ فرمائیلی دی چه که ستاسو د سوالونو جوابونه درکړې شی نو په تاسو به ډیر ګران پریوزی. الله ﷻ اوفرمائیل ﴿وَإِنْ تَسْئَلُوْا عَنْهَا حِيْنَ يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَ لَكُمْ﴾ د قرآن د نازلیدلو په وخت که تاسو څه تپوس کوئی د څه نه چه تاسو منع شوې ئې نو یقین ساتئی چه الله ﷻ به ستاسو په سوال رنړا واچوی نو بیا به څه کوئی او دا خبره په الله ﷻ باندې آسانه ده. کوم چه تیرشوی دی نو هغه الله ﷻ معاف کړی دی الله ﷻ ډیر ښښونکې او حلیم دی. په دې وجه هیڅ یو نوې سوال بغیرضرورت نه مه کوئی ګنی په جواب کښې به په تاسو سختی او تنګی راشی. او دا په خپل لاس باندې خان مصیبت کښې اچول دی.

په حدیث شریف کښې دی چه د مسلمانانو د ټولو نه لوئ مجرم هغه دې د چاد سوال په وجه چه صرف د وضاحت د وجه هغه څیز حرام کړې شو او په خلقو باندې تنګی پیدا شوه. (۲) اوکه د قرآن یوه خبره د اجمال په توګه په پوهه کښې رانشی او تاسو پوهیدل غواړئی نو تپوس اوکړئی زه به ئې بیان کړم. ځکه چه تاسو د حکم پوره کولوکښې د هغې ضرورت لرئی. که په کتاب کښې څه ذکر نه وی او تاسو اوکړل نو ستاسو د عمل څه تپوس نشته، نو تاسو هم د یو سوال متعلق چپ اوسیږئی، لکه چه په صحیح حدیث کښې دی حضور ﷺ فرمائیلی چه ما کوم بیان نه وی کړې هغه هم غیر بیان شوې پریږدئی. د ډیرو سوالونو په وجه د انبیاء علیهم السلام د حکم نه اختلاف کولو سره وړاندینی قومونه تباه شوی دی.(۳) حضور ﷺ فرمائیلی چه الله ﷻ فرائض مقرر کړی دا مه ضائع کوئی اود عمل حدود ئې مقررکړی د هغې نه وړاندې والې مه کوئی او چه کومې خبرې حرام کړی هغه مه کوئی. زه د خپلو خبرو نه په قصد چپ پاتې شوم ،داپه تاسو باندې داقتضاء رحمت په وجه دی.زه دهیریدو په وجه خاموش نه یم په دې وجه هیڅ کله سوال مه کوئی.(۴) بیا الله ﷻ اوفرمائیل چه د دې ممنوعه مسائلو تپوسونه تاسو نه وړاندې قومونوکړی وو جواب ورکړې شو نو د سختئی راتلو په وجه هغوی عمل اونه کړو نو کافران شو. ځکه چه هغوی د هدایت غوښتلود پاره سوال نه کولو بلکه د ټوقو او مسخرو او عناد په وجه ئې سوال کولو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه ما څه پریخودل تاسو هم هغه پریږدئی، او زه چه کوم حکم درکړم تاسو هغه پوره کوئی. نصاری چه څنګه سوالونه کړی وو تاسو د هغې نه منع شئی. هغوی مائده غوښتې وه خو سره د هغې ئې کفر اوکړو اود مائده قدر ئې اونه کړو. د تپوس په خائ پخپله زما د وینا انتظار کوئی. ستاسو د تپوس نه بغیر به قرآن پاک پخپله ستاسو د سوال د وضاحت د پاره نازل کړی شی. دحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه دبحیره، وصیله، سائبه او حام متعلق سوالونوکولو ممانعت دې ګورئی ﴿لَاتَسْئَلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ﴾ نه پس ﴿مَاجَعَلَ اللّٰهُ مِنْ بَحِيْرَةٍ وَّلَاسَآئِبَةٍ﴾ وغیره دې.

---

(۱) الطبری : ۱۰۸/۱۱.

(۲) صحیح بخاری کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة باب مایکره من کثرة السوال ومن تکلف مالا یعینه : ۷۲۸۹، صحیح مسلم: ۲۳۵۸، ابوداود : ٤٦١٠، احمد: ۱۷٦/۱، مسند ابی یعلی : ۷٦۱، ابن حبان: ۱۱۰.

(۳) صحیح بخاری کتاب الاعتصام بالکتاب والسنة باب الاقتداء بسنن رسول الله صلی الله علیه وسلم : ۷۲۸۸، صحیح مسلم: ۱۳۳۷.

(۴) حاکم : ۱۱٦/٤، دار قطنی : ۱۸٤/٤، بیهقی : ۱۳/۱۰،

عکرمه رضی الله عنه فرمائی چه هغه خلقو به د معجزاتو باره کښې سوالونه کول د کوم چه ممانعت اوکړې شو قریشو به د نبی اکرم ﷺ نه باغونه او نهرونه غوښتل او وئیل به ئې چه د صفاغر زمونږ د پاره د سرو زرو کړه وغیره وغیره لکه چه د یهودیانو مطالبات وو چه موسیٰ د آسمان نه زمونږ د پاره کتاب نازل کړه الله ﷻ اوفرمائیل ﴿وَمَا مَنَعَنَآ اَنْ نُّرْسِلَ بِالْاٰیٰتِ﴾ کله چه مونږ د هغوی په غوښتنه باندې خپلې معجزې راولیکلې نو مخکینو خلقو تکذیب اوکړو، مونږ ثمودیانوته خپل روښانه دلیل ناقه یعنی اوښه ورکړه. هغوی دې سره ظلم اوکړو، زمونږ معجزې صرف د ویرولو د پاره راځی، هغه قسمونه خوری او بیانوی چه که ده سره کله هم معجزه راغلهٔ نو مونږ به ایمان راوړو، نو ای نبی اووایه چه معجزې د الله ﷻ په لاس کښې دی، تاته نه ده معلومه که معجزې که هم راشی نو دوی به ایمان نه راوړی مونږ د دوی زړونه اولټه کړی دی، په سترګو پردې اچولی دی. د وړاندینو په شان دوی هډو ایمان نه راوړی. مونږ دوی د دوی په سرکشو کښې نور هم بې لارې کوو، که مونږ په دوی باندې ملائکې هم نازل کړو مړی ژوندی شی او دوی سره خبرې اوکړی او هر مخکینې څیز راژوندې شی د دوی په وړاندې موجود شی نو بیا به هم دوی ایمان نه راوړی. اوکه الله ﷻ د چا د پاره اوغواړی نو ایمان به اختیار کړی لیکن اکثر خلق نه پوهیږی.

مَا	جَعَلَ اللّٰهُ					
نه ده	مقرر کړی الله					
اوالله ﷻ خو نه						
مِنْۢ بَحِيْرَةٍ	وَّلَا سَآئِبَةٍ	وَّلَا وَصِيْلَةٍ	وَّلَا حَامٍ ۙ	وَّلٰكِنَّ	الَّذِيْنَ	
هیڅ بحیره	اونهٔ سائبه	اونهٔ وصیله	اونهٔ حام	خو	هغه کسان	
بحیره مقرر کړې ده	او نه سائبه	او نه وصیله	اونه حام	..... لیکن هغه کسان چې		
كَفَرُوْا	يَفْتَرُوْنَ	عَلَى اللّٰهِ	الْكَذِبَ ؕ	وَاَكْثَرُهُمْ	لَا يَعْقِلُوْنَ ۝	
چې کفرني کړې دې	اترې هغوئ	په الله باندې	دروغ	اوډیر دهغوئ	نه پوهیږی	
کفرئې اختیار کړې دې	په الله ﷻ دروغ ترې	او په دوئ کښې اکثر کم عقل دی				
وَاِذَا قِيْلَ	لَهُمْ	تَعَالَوْا	اِلٰى مَآ	اَنْزَلَ اللّٰهُ	وَاِلَى الرَّسُوْلِ	
اوهر کله چې اووئیلې شی	هغوئ ته	چې راشئ	هغه حکم ته	چې نازل کړې دې الله	اوراشئ پیغمبر ته	
اوهرکله چې دوئ ته اووئیلې شی	چې هغه کتاب راشئ	چې الله ﷻ نازل کړې دې	اودپیغمبر حکمونه اومنئ			
قَالُوْا	حَسْبُنَا	مَا	وَجَدْنَا	عَلَيْهِ	اٰبَآءَنَا ؕ	اَوَلَوْ كَانَ
نووائی	کافی ده زمونږ د پاره	هغه طریقه	چې موندلی دی مونږ په	هغې باندې	پلرونه خپل	آیا اګر که وو
نووائی چې زمونږ د پاره هغه طریقه کافی ده	چې په کوموباندې زمونږ پلار نیکه وو	.....	اواګر چې			
اٰبَآؤُهُمْ	لَا يَعْلَمُوْنَ	شَيْئًا	وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ۝			
پلرونه دهغوئ	چې نه پوهیدل	په هیڅ څیز	اونه وو په سمه لار			
ددوئ پلار نیکه په هیڅ نه پوهیدل	او دسمې لارې نه خبر هم نه وو					

Scanned with Ca

قوله تعالی:: مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّلَا حَامٍ

د بتانو په نوم پریخودلی شوی ځناورو حقیقت:- بحیره هغه ځناور دی د کومو پښی چه نه شی لښلی او وئیل به ئې چه دا د بتانو په نوم دی. چا به دا پښی نه څکل. سائبه هغه ځناور کوم چه د بتانو په نوم پریخودلی شوی وو په هغې به ئې نه سامان بارولو او نه به ئې سورلی کوله ابوهریره فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه عمرو بن عامر خزاعی مې په دوزخ کښې پرمخې رابنکونکې اولیدو هغه د ټولونه اول ځناور د بتانو په نوم د پریخودلو طریقه جوړه کړې وه. او وصیله هغه اوښه ده د کومې نه چه په رومبی ځل یو نر پیدا شو بیا پرله پسې دوه ښځې پیداشی، نو داسې اوښه به ئې هم د بتانو په نوم پریخودله او حام هغه نر اوښ دی د کوم د نسل نه چه ډیر بچی شوی وی او کله ئې نسل ډیر زیات شوې وی نود هغې نه به ئې نه د بار اوړلو کار اخستلو اونه د سورلئی، بتانو ته به ئې حواله کول.(۱) دا ټول عمرو ایجاد کړی وو. نبی اکرم ﷺ اوفرمائیل چه ما دوزخ اولیدلو چه یو اُور بل اُور خوړلو عمرو په هغې کښې رابنکلې کیدو، هغه د ټولو نه اول د سائبه رسم جوړکړو.(۲) رسول الله ﷺ اکثم بن الجون ﷺ ته فرمائیل چه ای اکثم ما عمرو بن لحی بن قمه په دوزخ کښې اولیدو تانه زیات د هغه بل څوك هم شکل نشته اونه د هغه نه زیات ستا بل څوك هم شکل شته بالکل هم ستا په شان معلومیږی اکثم اووئیل چه یارسول الله ﷺ! ستاسو ګمان دې چه د هغه دا مشابهت به زما د پاره مضر وی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه نه ته مؤمن ئې او هغه کافر. هم ده د ټولونه اول د ابراهیم ﷺ په دین کښې ورانې کړې وو، بحیره سائبه او د حام بدعتونه ئې راپیدا کړل.(۳) بت پرستی کول، سائبه جوړول دا هم ابوخزاعه عمرو بن عامر کړی دی. ما هغه په دوزخ کښې اولیدو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه د ابراهیم ﷺ په دین کښې د بدلون اچولو کار هم عمرو بن لحی کړې دې چه د بنی کعب د قبیلې وو هغه په دوزخ کښې دې اود هغه بدبوئی نورو دوزخیانو ته سخت تکلیف رسوی. ماته معلومه ده چه د بحیره پیدا کونکې هم دغه دې، خلقو وئیل یا رسول الله ﷺ هغه څوك دې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه د قبیله بنی مدلج یو سړې وو د هغه دوه اوښې وی هغه د دې دواړو غوږونه پریکړل، اول ئې د هغوی پښی څکل حرام کړل بیا ئې یوځو ورځې پس څکل شروع کړل، هغه په دوزخ کښې دې او هغه اوښې هغه په خپلو خُلو باندې پریکوی او په پښوباندې چغږی کوی (۴) همدغه د عمرو لحی بنی قمه خوئ دې د خزاعه په رئیسانو کښې وو، د قبیله جرهم نه پس د کعبه متولیت هم خزاعه ته ملاؤ شوې وو. په دین ابراهیمی کښې بدلون اچونکې،په حجاز کښې بت پرستی داخلونکې، خلقو د بتانو عبادت او نزدیکت طرف ته رابلونکې،د ځناورو او څاروواره کښې د جاهلیت په زمانه کښې د ټولو نه اول بدعتونه راپیدا کونکې، د چا ذکر چه الله ﷻ په سورة انعام کښې فرمائیلې دې ﴿ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا ﴾ د پټونه چه څه پیداوار کیږی، یا د څارونه ، د هغې صرف یوه حصه به ئې د الله ﷻ په نوم کوله او باقی به ئې د بتانو په نوم کوله. بحیره هغه اوښې ته وائی چه د پنځو بچو پیدا کولونه پس کوم بچې پیدا کړی او هغه نر وی نو هغه حلال کړی او صرف سړی د هغې غوښه اوخوری، په ښځو د هغې غوښه حرامه وی اوکه هغه به ښځه وه نود هغې غوږ به ئې پریکولو او وئیل به ئې چه د دې نوم

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله (ماجعل الله من بحیرة ولا سائبة ولا وصیلة ولاحام) : ۴۶۲۳ صحیح مسلم : ۲۸۵۶ مختصرا ، احمد: ۲۷۵/۲.

۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله (ماجعل الله من بحیرة ولا سائبة ولا وصیلة ولاحام) : ۴۶۲۴

۳) الطبری : ۱۱۸/۱۱ حاکم : ۶۰۵/۴

۴) احمد: ۴۴۶/۱، مجمع الزوائد : ۱۱۶/۱ ددې حدیث پاک لغیره درجه کښې دې

حرامه وی اوکه هغه به بنځه وه نود هغې غوږ به نې پریکولو او وئیل به نې چه د دې نوم بحیره دې.(۱) سدی رحمه الله وغیره هم د دې سره نزدې نږدې بیان کړې دې. مجاهد رحمه الله وائی چه سائبه هغه بکرئی ته وائی په کومه چه د بحیرې تعریف صادق شی. لیکن د شپږو بنځو کیدونه پس چه اووم حمل یو یا دوه نران وی نو هغه به نې ذبح کول او صرف هم سړو به هغه خوړلې شوپه بنځو به د هغې غوښه حرامه وه. د محمدبن اسحاق قول دې چه سائبه هغه اوښه ده چه پرله پسې لس بنځې بچی راوړی نو دا د بت په نوم پریخودې شی په دې سورلی نشی کولې، د هغې ویښته نشی پریکولې، نه به د هغې پښی لشلې کیدل خوکه میلمه به راغلو نو د هغې پښې به نې پرې څکول. ابو روق وائی چه سائبه هغه اوښې اوګډې وغیره ته وائی چه کله سړې څه کار پسې اوخی او هغه کار پوره شی نو بیا به نې هغه ځناور سائبه جوړولو اود بت په نوم به نې کولو د هغې اولاد به نې هم د بتانو په نوم باندې ګنړلو. سدی رحمه الله وائی که یو سړې به د څه غرض د پاره وتلو یا به د بیمارئی نه جوړیدلو یا به د هغه په مال حال کښې څه زیاتې کیدلو نو خپل څه مال به نې د بتانو په نوم کولو اوکه داسې مال یا څاروی سره به چا غرض کولو نو هغه ته به نې سخته سزا ورکوله.

حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه وصیله هغه بکرئی ده چه اووه بچی راوړی او اووم که چرې نر وی او مړ پیدا شوې وی نو هغه به صرف سړو خوړلو او بنځو به نشو خوړلې او په اووم حمل کښې که به بنځه وه نو هغه به نې ژوندئی پریخودله او که په دغه حمل کښې به نر او بنځه دواړه پیدا کیدل نو دواړه به نې ژوندی پریخودل او وئیل به نې چه بنځې نر هم وصیله جوړکړو. او اوس هغه هم په مونږ باندې حرام دې.(۲) سعید بن المسیب رحمه الله فرمائی چه وصیله هغه اوښه ده چه په رومبی ځل او دوئم ځل بنځه راوړی نو وئیل به نې چه متصل دوه بنځې پیدا شوې نود دوئمې غوږ به نې پریکولو او هغه به نې د بتانو په نوم ګنړلې. (۳) محمد بن اسحاق وائی چه وصیله هغه بکرئی ده چه په پنځو لنګونونوکښې لس بنځې بچی راوړی او په هر یو حمل کښې دوه دوه، هغه به نې پریخودله او چه د هغې به کوم اولاد هم کیدو، که نربه وو اوکه بنځه نو هغه به صرف سړو خوړلواو بنځو به نه خوړلو اوکه مړ به پیدا کیدو نودواړو به خوړلو. که د یو نر به لس بچی پیدا شونو هغه به نې هم د بت په نوم کولو او پریخودلو. هغې ته به نې حام وئیل، په هغې به نې بار نه اوړلو، نه به نې د هغې ویښته پریکول، د هر یو پتې او هرې یوې چینې نه به دې څاروی ته د اوبو څکلو اجازت وو چاته هم نه منع کول.

مالك بن نضله رضی الله عنه وائی چه ما زړې خیرنې کړې اغوستې وې. نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه تاسره څه مال شته؟ ما وئیل اوښان، چیلئی او اسونه (په ګنړ شمیرکښې) وینځې غلامان هم دی. نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ تاته دولت هم درکړې نو په تاباندې د دولت ننبې هم ښکاره کیدل پکار دی. او آیا ستا د اوښانو بچی د پوره غوږونو پیدا کیږی نو ماوئیل چه او، لیکن څه د اوښانو بچی هم د پوره غوږونونه بغیر هم پیدا کیږی. حضور ﷺ اوفرمائیل چه آیا تاسو د بعضو بچو په چاړه سره غوږونه پرې کوئی او وائی چه اوس دا بحیره شو. اوس دا په مونږ باندې حرام دی نو ما وئیل چه مونږ داسې هم کوو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه داسې هیڅ کله مه کوئی الله ﷻ چه تاسو له څه درکړی دی ټول حلال دی حرام نه دی.(۴) الله ﷻ فرمائیلی دې بحیره، سائبه، وصیله اود حام الله ﷻ سره هیڅ سند نشته. د

---

۱) تفسیر عبدالرزاق : ۱۹۱/۱، وسنده ضعیف
۲) الطبری : ۱۲۹/۱۱
۳) ابن ابی حاتم: ۱۲۲۲/٤
۴) الطبری : ۱۰/۱۱۲، احمد: ۴۷۳/۳، وسنده صحیح

بحیرې غوږ پرې کوئی د بنځو نه تاسو یوې ته هم په هیڅ حیثیت سره د دې بحیرې نه فائده نه ورکوئی. سائبه د بتانو په نوم کوئی. چیلئی چه کله اووم لنګون اوکړی نود هغې غوږونه اوښکړې پرې کوئی او پریږدئی. که هغه غواړی نو چه د کوم پتې نه څرن کوی او د کوم حوض نه اوبه اوڅکی هغه نه شی منع کولې. دې ته وصیله وائی. په حدیث کښې د دې الفاظوداسې تفسیر بیان کړې شوې دې. د الله ﷻ قول دې ﴿لٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ﴾ دا کافران په الله ﷻ باندې دروغ وائی الله ﷻ دا څیزونه مشروع کړی نه دی اونه دا د الله ﷻ سره د نزدیکت سبب دې. دا د مشرکانو د ځان نه خبرې دی. هغوی دا شرع جوړه کړې ده. او الله ﷻ سره ئې د نزدیکت ذریعه ګڼړی. داڅو به حاصل نه شی بلکه په دوی به نور وبال پریوزی. او چه کله دوی ته وئیلې کیږی چه د الله ﷻ د وحی طرف ته اود هغه د رسول طرف ته راشئی نو وائی چه مونږ د خپل پلار نیکه په طریقه باندې ټیک یو، آیا دوی نه پوهیږی چه د هغوی پلار نیکه هم باطل کیدلې شی. هغوی هم د حق نه کانړه او هدایت نه محروم کیدې شی.بیا تاسو د دې منل څنګه کولې شئی،ربښتیا خو دا دی چه جاهل اوګمراه داسې وئیلی شی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ					
اې هغه کسانو					
انې دایمان					
اٰمَنُوْا	عَلَيْكُمْ	اَنْفُسَكُمْ ۚ	لَا يَضُرُّكُمْ	مَّنْ	
چې ایمان مو راوړې دې	الازم دې په تاسوفکرکول	دخانونوخپلو	انۀ رسوی ضررتاسوته	هغه څوک	
خاوندانو دخپل ځان فکر کوئ	دهغه خلقو ګمراه کیدو تاسوته هیڅ نقصان نه رسوی چه کوم ګمراه				
ضَلَّ	اِذَا	اهْتَدَيْتُمْ ؕ	اِلَى اللّٰهِ	مَرْجِعُكُمْ	
چې بې لارې شوی دی	هرکله چې تاسوپخپله په نیغه لارې	خاص الله ته دی	واپس تلل ستاسو		
شوی دی	هله که تاسوپه سمه لار باندې قائم یئ	ستاسودټولو پیشی به الله ﷻ ته کیږی			
جَمِيْعًا	فَيُنَبِّئُكُمْ	بِمَا	كُنْتُمْ	تَعْمَلُوْنَ ۝	
دټولو	نوخبربه کړی تاسو	د هغه کارونونو	چې وئ تاسو	چې کول به مو	
نوهغه به درته اوښائی	چې تاسو څه څه کارونه کړی دی				

قوله تعالی:: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ

د ﴿عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ﴾ تفسیراو ﴿امربالمعروف ونهی عن المنکر﴾ الله ﷻ خپلو بندیګانوته حکم ورکوی چه تاسو په خپل ذات باندې صحیح اوسیږئی د نیکو د ممکن حده پوری کوشش کوئی. چا چه پخپله اصلاح اوکړه، که د لرې او نزدې ټوله دنیاکښې فساد به هیڅ تکلیف نه راځی. کله چه بنده په حلال او حرام کښې زما تابعداری اوکړی نو که څوک څومره هم ګمراه ولې نه وی هغه ته هیڅ نقصان نشته. تاسو ټول به د الله ﷻ طرف ته ورتلونکی ئې، الله ﷻ به تاسو ته اوښائی چه تاسو ښه کول که بد مو کول، د چا چه عمل نیک وی هغه ته به ښه بدله ملاویږی او د چا چه عمل بد وی هغه ته به خرابه سزا

Scanned with Ca

ملاویږی.ددې ایت د مفهوم نه دادلیل نه شی اخستې چه امربالمعروف اونهی عن المنکر ضروری پاتې نه شو.حضرت ابوبکر ﷺ اودریدو او د الله ﷻ حمد او ثناء ئې اوکړه، بیائې اوفرمائیل چه ای خلقو تاسو دا آیت لولئی خو د دې په مفهوم باندې دا نه پریږدئی. رسول الله ﷺ به فرمائیل چه کله څوک د ګناه څه خبره اووینی او هغه ته غیرت او غصه ورنه شی نوځهٔ ګرانه ده چه الله ﷻ دواړو په عذاب کښې راکاږی.(۱)اوس خلقواد دروغونه بچ شئی، دروغ سړې د ایمان نه اخواکوی.

ابوامیه شعبانی ﷺ وائی چه ما ابو ثعلبه الخشنی ﷺ نه د دې آیت باره کښې تپوس اوکړو چه ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ﴾ نو هغه اووئیل چه تا والله د ډیر خبردار سړی نه تپوس او کړو، واوره! ما هم د رسول الله ﷺ نه د دې آیت باره کښې تپوس کړې وونو هغوی ﷺ اوفرمائیل چه تاسو خلق خپل خپل پټکې سنبالولو نه پس بې فکره مه کیئئی. امر بالمعروف او نهی عن المنکر برابر کوئی تر هغه وخته پورې چه خلق تنګ زړه او تنګ حوصله شی، زکوة نه ورکوی، د خواهشاتومنونکی وی، دنیا ته په آخرت باندې ترجیح ورکوی. هرسړې په خپله خپله رائې باندې کلك ولاړ وی. د ناصح هیڅ نه اوری، نو هغه وخت جدا او خان له شه، بې کاره په خپل حالت پریږده، هم ستاسو نه پس داسې زمانه راتلونکې ده چه په هغې کښې لکئی ټونبلې ناست خلق به په داسې مشکلاتوکښې وی لکه چه اُور نې په لاس کښې نیولې دې. پخپله صحیح عمل کونکی ته به لکه د پنځوسو (۵۰) سړو د نیکو اعمالو برابر اجر ملاویږی. عرض اوکړې شو یا رسول الله ﷺ زمونږ د پنځوسو سړو که د هغوی د ډلې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه نه بلکه ستاسو د پنځوسو نیکانو سړو.(۲)

د حضرت ابن مسعود ﷺ نه چا د دې آیت باره کښې تپوس اوکړو نوونی فرمائیل چه نن خو خیر ستا خبره هم منم لیکن نزدې یوه داسې زمانه راتلونکې ده چه ته به د خیر خبره کوې او هغوی به تا سره داسې داسې خراب سلوك کوی. هغه وخت چپ چاپ ګوره او هیڅ مه وایه. چه هغوی ګمراه شی نو په تاسو به هیڅ نقصان نه وی. عبدالله بن مسعود ﷺ سره خلق ناست وو نود دوو کسانو په مینځ کښې څه جګړه غوندې شروع شوه نو یو بل پسې د جنګ د پاره ورپاسیده، په حاضرینوکښې یوکس اووئیل چه زه ورپاسم او دواړه پوهه کوم. امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوم، خواکې ناست بل کس اووئیل چه ستا په څه، په خپل ځائ کینه. الله ﷻ فرمائیلی ﴿عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ﴾ نو ابن مسعود ﷺ اوفرمائیل دې مه منع کوه، د دې آیت د عمل موقع دا نه ده قرآن چه څنګه نازل شوې نو نازل شوې دې. د بعضې آیاتونو د نازلیدو نه اول د هغې د تاویل وخت تیر شوې او بعض داسې آیاتونه دی چه د هغې تاویلونه د رسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې شوی او د بعضو تاویلونه د رسول الله ﷺ نه لږې ورځې پس شوی. د بعض تاویلونه به د دې زمانې نه پس او بعضې د قیامت په ورځ او چه کله قیامت راشی، او بعضې د قیامت په ورځ کله به حساب کتاب کولې شی. ترکومې چه ستاسو زړونه یوځائ دی او ستاسو جذبات یودی تاسو کښې جدا والی نشی پریوتلې. اود یو بل په بدو پسې نه ئې، دې وخت کښې امربالمعروف او نهی عن المنکر برابر کوئی. کله چه زړونه خراب شی، ډله بازی شروع شی یو بل سره د الله د پاره دښمنی ساتی. هغه وخت کښې بالکل د خلقو نه جدا او خان له اوسه، د دې آیت ئې هم دغه تفسیر بیان کړې دې، ابن جریر رحمه الله دا روایت کړې دې.

---

(۱) ابوداود کتاب الملاحم باب الامر والنهی : ۴۳۳۸، وهو صحیح ترمذی : ۲۱۶۸، ابن ماجه : ۴۰۰۵، ابن حبان : ۳۰۴.

(۲) ابوداود کتاب الملاحم باب الامر والنهی : ۴۳۴۱، وسنده حسن ترمذی : ۳۰۵۸، ابن ماجه : ۴۰۱۴، ابن حبان : ۳۸۵، بیهقی : ۹۲/۱۰.

Scanned with Ca

ابن عمر ته اووئیلي شو چه اوس که ته کینې نو ښه به وی مه امر بالمعروف کوه او مه نهی عن المنکر. ځکه چه الله ﷻ خو داسې حکم ورکړې دې، نو ابن عمر ﷺ اوفرمائیل چه ماته دا حق نه دې حاصل اونه زما ملګروته، ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلی حاضر سړې جوړشه او غائبوته ئې اورسوه. مونږ د حاضر په حکم کښې یو او ته د غائب په حکم کښې. دا آیت د هغه خلقو په حق کښې دې چه زمونږ نه پس راتلونکی دی که هغوی ته څه اووئیلې شی نو قبول به ئې نه کړی. ابن عمر ﷺ له یو سړې راغلو تیز مزاج او تیزه ژبه ئې وه نو وئی وئیل اې ابا عبدالرحمن! شپږ سړی دی ټول د قرآن جید عالمان د خیر نه سوا هیڅ شریرالنفس نه دی، خو په یو بل باندې د شرك الزام لګوی، نو یو سړې پاسیدو وئیل د دې نه به زیات د شرارت النفس نور څه وی چه یو بل ته مشرك اووائی، نو هغه سړی اووئیل چه زه تانه تپوس نه کوم زه خو د شیخ یعنی ابن عمر ﷺ نه تپوس کوم. بیا ئې د عبدالله بن عمر ﷺ نه د مسئلې تپوس اوکړوچه داسې خلق به څه ګنړو؟ نو ابن عمر ﷺ اوفرمائیل الله دې تاسره بنیګړه اوکړی آیا ته دا غواړې چه زه تاته حکم اوکړم چه لاړشه او هغه قتل کړه. تاله خو پکار وو چه هغوی ته نصیحت اوکړې. د دې بدو خبرو کولونه ئې منع کړه او که هغوی اونه منی نو په تا هیڅ ګناه نشته. ابومازن وانی چه زه د حضرت عثمان ﷺ په زمانه کښې مدینې ته لاړم. هلته یو څو مسلمانان ناست وو یو په کښې دا آیت اولوستلو ﴿عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ﴾ نو ابن مازن وائی چه خلق ددې آیت په مفهوم باندې ښه نه پوهیدل. جبیر بن نفیر وانی چه د رسول الله ﷺ صحابه ناست وو، زه هم موجود ووم خو زه د ټولو نه کم عمره ووم، د بحث موضوع وه امر بالمعروف او نهی عن المنکر. ما وئیل چه الله ﷻ نه دی فرمائیلی ﴿عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ﴾ نو ټول زما طرف ته متوجه شو او وئیل تاته پته نشته ته د آیت مطلب باندې ښه نه پوهیږې. ما په زړه کښې اووئیل چه افسوس ما خبره نه وې کړې. بیا هغوی خبرې کولې چه کله مجلس ختم شو نو وئی وئیل ته لا ماشوم ئې د آیت صحیح مصداق نه پیژنې. خوځه عجیبه ده چه ته به داسې زمانه کښې ئې چه کله به خلق زړه تنګې شی، د نفسانی خواهشاتو منل به کوی، هر سړې به په خپله رائې فخر کوی د چا به نه اوری. نو دا هم هغه زمانه ده، حسن بصری رحمه الله فرمائی د الله ﷻ شکر دې چه په تیروشوو مؤمنانوکښې هم او په موجوده مؤمنانوکښې هم داسې خلق شته چه هم هغوی سره منافق دی خو هغوی د دوی عمل خراب ګنړی. کعب رحمه الله وائی چه دا زمانه به هغه وخت راځی چه کله د دمشق ګرجا راوغورزولې شی اوجمات به جوړولې شی. یعنی تعصب به زیات شی د دې آیت هم دا مطلب دی.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ						
اې هغه کسانو						
انې						
اٰمَنُوْا	شَهَادَةُ	بَيْنِكُمْ	اِذَا	حَضَرَ	اَحَدَكُمُ	
چې ایمان موراوړې دې	اګواهی شهادت	په منځ ستاسو کښې	کله چې	حاضر شی	یوته په تاسو کښې	
دایمان خاوندانو!	.....هرکله چې په تاسو کښې چاته د هغه د مرګ وخت راشی					.....
الْمَوْتُ	حِيْنَ	الْوَصِيَّةِ	اثْنٰنِ	ذَوَا عَدْلٍ	مِّنْكُمْ	
مرګ	په وخت	دوصیت کښې	اګواهی د دوو کسانو	چه خاوندانو دعدل وی	او وی ستاسونه	
اودوصیت موقع وی	نو دشهادت دپاره دې دوه کسان انصاف کونکی دې ستاسومینځ کښې مقررشی					

Scanned with Ca

اَوْ اٰخَرٰنِ	مِنْ غَيْرِكُمْ	اِنْ	اَنْتُمْ	ضَرَبْتُمْ	فِي الْاَرْضِ
یا دوه کسان نور	غیرله تاسونه	که چری	ایئ تاسو	اچی سفرموکوؤ	په زمکه کښی
یادبل قوم دوه کسان دی مقرر شی که (په دغه وخت کښې) تاسوپه سفر کښې یئ					
فَاَصَابَتْكُمْ	مُّصِيْبَةُ	الْمَوْتِ ؕ	تَحْبِسُوْنَهُمَا	مِنْۢ بَعْدِ الصَّلٰوةِ	
نو اورسیدو تاسوته	مصیبت	دمرګ	حصاربه کړئ تاسو دواړو ګواهان	روستو دمانځه نه	
اوتاسو دمرګ پیغام راشی	.....	نودمونځ نه پس دواړه کسان(جمات کښې)ایسارکړئ	.....		
فَيُقْسِمٰنِ	بِاللّٰهِ	اِنِ ارْتَبْتُمْ	لَا نَشْتَرِيْ	بِهٖ	ثَمَنًا
نوقسم دې اوکړی دواړه	په الله باندې	که شکمن یئ تاسو	چې نۀ اخلو مونږ	په دې قسم سره	مال
نو په الله ﷻ دې قسم اوخوری	چې مونږ دخپلې فائدې	پاره ګواهی نه خرڅوؤ			
وَّلَوْ كَانَ	ذَا قُرْبٰى ۙ	وَلَا نَكْتُمُ	شَهَادَةَ اللّٰهِ	اِنَّاۤ	اِذًا
اګرکه	وی هغه	اخاوند دخپلوئ	اونۀ	اپتوومونږ	اګواهی دالله
اګرچې دا زمونږ دخپلو خلاف ولې نه وی	اودالله ﷻ ګواهی نه پټوؤ	ګنی په دغه وخت کښې به بیا			
لَّمِنَ الْاٰثِمِيْنَ ۝	فَاِنْ	عُثِرَ	عَلٰۤى	اَنَّهُمَا	اسْتَحَقَّاۤ
د ګنهګارانو ځنی	بیا که چری	پته اولګیده	په دې خبره	چې دواړه	مستحق شوی دی
مونږ په ګناهګارو کښې شمیرشو	.....بیاکه معلومه شی چې دواړو کسانو ځان په	.....			
اِثْمًا	فَاٰخَرٰنِ	يَقُوْمٰنِ	مَقَامَهُمَا	مِنَ الَّذِيْنَ	
دګناه	نودوه نورګواهان دې	اودریږی	په ځائې ددغه دواړو	دهغه کسانو	
ګناه کښې اچولې دې	نو بیادې دهغوئ په ځائې دوه نورګواهان اودریږی	دهغه کسانو نه			
اسْتَحَقَّ	عَلَيْهِمُ	الْاَوْلَيٰنِ	فَيُقْسِمٰنِ		
چې وهلې شوې وی حق	دهغوئ	اچی هغه دواړه غوره وی په نسبت دهغوئ	انو قسم دې اوخوری دواړه		
چې مخکښې ګواهانو دچا حق وهلې وو	.....او دواړه دې په الله ﷻ قسم اوخوری	.....			
بِاللّٰهِ	لَشَهَادَتُنَاۤ	اَحَقُّ	مِنْ شَهَادَتِهِمَا	وَمَا اعْتَدَيْنَاۤ	
په الله باندې	اچی ګواهی زمونږه	ازیاته په حقه ده	دګواهئ دهغوئ	دواړو نه	اونۀ دې کړې زیاتې مونږه
چې زمونږ شهادت دهغوئ دشهادت نه زیات صحیح دې	اومونږ په شهادت کښې زیاتې نه دې کړې				
اِنَّاۤ	اِذًا	لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝	ذٰلِكَ	اَدْنٰۤى	اَنْ يَّاْتُوْا
بیشکه مونږ به ګونا په دغه وخت کښې	د ظالمانو ځنی	اد طریقه	دیره نزدې ده	چې راتلل اوکړی	داخلق
ګنی مونږ به ظالمانو کښې شمارشو	په دې چل زیات امید کیدې شی	.....چې خلق به			

بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَآ اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ تُرَدَّ
گواهئ ته|مطابق دحق دهغې	یا به اویریږی هغوئ	ددې خبری نه چی	واپس به کړې شی	
شهادت صحیح صحیح اداکړی	یا به ددې نه اوویریږی چې .....
اَيْمَانٌ بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ ۭ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ۭ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي
قسمونه(زمونږ)	روستودقسمونو دهغوئ نه	اواویریږئ	دالله نه	اواوریل کوئ	اوالله	نه ښائی نیغه لار
دهغوئ دقسمونونه پس به ددوئ دقسمونوتردید اوشی| اوالله ﷻ نه اوویریږئ |او واورئ چې الله ﷻ
الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۝
خلقو	نافرمانو ته	
فاسقانو ته سمه نه ښائی

قوله تعالي: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ

په سفر کښې د مړی وصیت کول:- دا آیت مبارك په عزیز حکم باندې مشتمل دې او دا هم وئیلی شوی دی چه دامنسوخ دې. د نحوی ترکیب په حیثیت سره ﴿اثنان﴾ خبر دې ﴿شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ﴾ په جمله کښې د مبتداء حیثیت لری. ﴿شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ شَهَادَةُ اثنان﴾ دویم لفظ ﴿شَهَادَةُ﴾ دمضاف په حیثیت وو چه حذف کړې شو او مضاف الیه یعنی هم ﴿اثنان﴾ نې د هغې په ځای اوګرځولو. او دا هم وئیلې شوی دی ﴿یشهداثنان﴾ اوګنړئی د ﴿ذواعدل اثنان﴾ صفت دې. د په معنی د ﴿عَدْلٍ مِّنْكُمْ﴾ نه ﴿من المسلمین﴾ مراد دې او بعضې وئیلی دی چه د ﴿کم﴾ نه وصیت کونکی مراد دی. د ﴿من غیرکم﴾ نه ﴿من غیرالمسلمین﴾ نه اهل کتاب مراد دی یعنی د موصی قبیلې دوه ګواهان او دوه د موصی قبیلې نه غیر وی. ﴿ضربتم فی الأرض﴾ نه مراد دا چه کله تاسو په سفرکښې نې او تاسو له مرګ راشی نو تاسو د مسلمانانونه دوه ګواهان وی او که مسلمانان نه وی نو غیر مسلم صحیح دی. دلته د دې خبرې جواز راوځی چه په سفرکښې کله د وصیت په وخت کښې مسلمانان موجود نه وی نو ذمیان هم ګواهان جوړولې شی. شریح وائی چه د سفر او وصیت د وخت نه سوا د یهودو او نصاری ګواهی بل یو وخت کښې جائز نه ده. ( ) دری واړو امامانو په مسلمانانو باندې د ذمی ګواهی جائزنه ده ګنړلې او امام ابوحنیفه رحمه الله د ذمی ګواهی په ذمی باندې جائز ګرځوی. زهری رحمه الله وائی چه سنت طریقه هم دغه ده چه د کافر شهادت نه په سفرکښې جائز دې او نه په حضر کښې. د شهادت حق صرف مسلمان ته دې. ابن زید وائی چه دا آیت هغه وخت نازل شو چه کله یو سړې مړ شو او هغه وخت هلته څوك مسلمان نه وو. د اسلام د شروع زمانه وه ټول ښارونه د جنګ میدان وو، خلق کافر وو، د وراثت څه قانون نه وو. د وصیت مطابق به نې تقسیم کولو. بیا وصیت منسوخ شو او وراثت فرض شو او خلقو د وراثت قانون باندې عمل شروع کړو. ابن جریر رحمه الله دا روایت کړې دې. داځیز لږ د غور قابل دې. والله اعلم.

د اهل ذمه ګواهی په خپل مینځ کښې یو بل باندې حجت دې

---

[1]) الطبری : ۱۱/۱۶۳.

Scanned with Ca

مسلک حنفی:- په ذمیانو کښې د بعض شهادت د بعض خلاف قبلولې شی. یعنی که یو ذمی د بل ذمی په خلاف گواهی ورکړی نود هغه گواهی به مقبول وی. اگرچه د هغوی ادیان مختلف وی. مثلاً د یهودی د نصرانی خلاف، اود نصرانی د یهودی خلاف گواهی ورکول جائز ده. (تسهیل الهدایه شرح هدایه (۷۴۸\۵)-

بیا په دې کښې اختلاف دې چه دا ﴿اَوْاٰخَرٰنِ مِنْ غَیْرِکُمْ﴾ نه څه مراد دې چه دواړه وصی وی یا گواه وی. ابن مسعود رضی الله عنه فرمانی چه یو سړې په سفر وی او هغه سره مال وی نو که د مسلمانانو نه دوه کسان بیامومی نو خپله ترکه دې هغوی ته حواله کړی او دوه مسلمانان دې هم په دې گواهان کړی. نو دا خو د وصی جوړولو صورت وو او که ﴿من غیرکم﴾ نه مراد دا دې چه دا دواړه گواه وی او ښکاره سیاق د آیت مبارک هم دغه دې نوکه دې دواړو سره دریم وصی نه وی نو په دې کښې دواړو کښې. چه کله دا دواړه گواهانو کښې وصیة اوشهادة دواړه اوصاف موندې شی لکه د تمیم داری او عدی بن بداء په قصه کښې چې ذکر دی کومې چې به انشاء الله راځی.

ابن جریر رحمه الله یو اشکال پیښ کړې دې چې کله دا دواړه گواهان وی نو په گواه باندې خو قسم نه وی لیکن دا به یو مستقل حکم گنړلې شی د نورو ټولو احکامو قیاس به په دې نه وی. دا یو خاص گواهی د یو خاص موقع د پاره ده. په دې کښې نورې ډیرې داسې خبرې دی چه په نورو احکامو کښې نشته. او چه کله شك وی نود دې آیت د احکامو مطابق په دې گواهانو قسم دې. دا دواړه گواهان د مانځه نه پس حصار کړه یعنی د مازیگر د مانځه نه پس. او ابن عباس رضی الله عنه وائی د دې دواړو گواهانود مذهبی مونځ نه پس. مقصد دا چه دادواړه گواهان د مانځه نه پس راجمع شی او په اجتماع کثیر په موقع دا گواهی په عمل کښې راشی. ﴿ ان ارتبتم﴾ که ستا شك وی چه هغوی به غلط بیان اوکړی یا به خیانت اوکړی نو په داسې صورت کښې دوی له قسم ورکړه. چه د دې فانی دنیا لږه شان گټه به مونږ د دروغو په قسم نه گټو. سره د دې چه زمونږ په قسم باندې زمونږ یو خپلوان ته نقصان ولې اونه رسی مونږ به د الله ﷻ گواهی نه پټوو. د گواهئی د امرداهمیت په سبب دشهادت اضافت د الله ﷻ طرف ته اوکړې شو. که مونږ په شهادت کښې تحریف او بدلون اوکړو او یا مودا ټول پټ کړو نو مونږ به د گناهگارانو نه شو. بیا که چرې د دواړو گواهانو یا وصیانو باره کښې تحقیق ثابت شو چه هغوی خیانت اوکړو او د مړی مال نې د هغه وارثانو ته رسولو کښې څه غبن اوکړو نوچه د چا حق وهلې شوې دې په هغې کښې دې د دوی په ځای دوه گواهان اودریږی. ﴿اولیان﴾ دا د جمهورو قراءت دې اوحسن بصری رحمه الله وغیره دې ته ﴿اولان﴾ لوستلو. دحضرت علی رضی الله عنه بن ابی طالب نه روایت دې چه نبی اکرم ﷺ ﴿اولیان﴾ لوستلې وو. ابن عباس رضی الله عنه به ﴿اولیین﴾ لوستلو. د جمهورو د قراءت ﴿اولیان﴾ په بنا په دې معنی دې چه کله په حصیح خبر سره د دې دواړو خیانت ښکاره شی نود ترکه د حقدارانو نه دې دوه کسان وارثان اودریږی او پکار دی چه دا دواړه د وارثانو نه د ټولونه نزدې وارثان وی. اود الله ﷻ قسم دې اوکړی او بیان دې اوکړی زمونږ شهادت د دوی د شهادت نه زیات صحیح دی. دې دواړو په حقیقت کښې خیانت کړې دې او په دې الزام کښې مونږ هیڅ زیاتې نه دې کړې. که مونږ د دروغو الزام لگولې وی نو مونږ به گناهگاران یو. الله ﷻ دې مونږ سره اوگوری. دا لکه چه د وارثانود طرف نه قسم دې لکه چه څنگه د مقتول وارثان قسم خوری چه کله د قاتل د طرف نه بې ایمانی ثابتیږی لکه چې د احکامو په باب قسامت کښې مقرر دی او په حدیث نبوی کښې هم داشان وارد شوې دې په کوم چه دا آیت مبارک دلالت کوی.

﴿یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ بَیْنِكُمْ اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ﴾ تمیم داری رضی الله عنه د مسلمانیدو نه پس د دې آیت باره کښې وائی چه د دې گناه نه نور ټول خلق خلاص دی خو ولې زه او عدی بن بداء رضی الله عنه د دې جرم مجرمان یو. دا

دواړه نصرانیان وو. د اسلام نه اول به د شام طرف ته تل راتلل. د تجارت په غرض شام طرف ته راغلی وو، هغوی سره د بنی سهم غلام هم د تجارت د پاره راغلې وو د هغه نوم بدیل بن ابی مریم وو. هغه سره د تجارت د پاره یوه د سپینو زرو پیاله وه چه د شام د ملك د پاره ئې راوړلې وه او دا د هغه د تجارت په مال کښې د ټولونه اهم څیز وو. بیمار شو نو دا دواړه ئې د وصیت ضامنان جوړ کړل چه د ده پاتې شوې مال به د هغه بال بچ ته رسوی. تمیم داری رضی الله عنه فرمائی چه کله هغه وفات شو نو هغه پیاله مونږ په یو زر درهم باندې خرڅه کړه او مونږ دواړو په خپل مینځ کښې پیسې تقسیم کړې او باقی مال مود هغه بال بچ ته اورسولو. هغه خلقو د پیالئی باره کښې تپوس اوکړو نو مونږ اووئیل چه څه وو هغه مونږ راورسول د پیالئی نه مونږ خبر نه یو. خو د رسول الله ﷺ مدینی ته په تشریف راوړو باندې کله چه زه مسلمان شوم نو زړه هغه خلقو له راغلم او صحیح واقعه مې بیان کړه او هغوی له مې د خپلې حصې پنځه سوا درهم ورکړه او ورته مې اووئیل چه هم دومره رقم زما ملګری سره هم دي. دا خلق هغه راغلله نو نبی اکرم ﷺ حکم اوکړو چه د ده نه د ده په مذهب قسم واخلئی، هغه قسم اوخورلو نو دا آیت نازل شو.(۱) اوس عمرو ابن العاص اویو بل سړي راپاسیدو او قسم ئې اوخورلو چه ﴿لَشَهَادَتُنَا أَحَقُّ مِن شَهَادَتِهِمَا﴾ نو د عدی نه پنځه سوه درهم واخستې شو او دا پیاله په مکه کښې اوموندې شوه. سوداګرانو وئیل چه مونږ دا د تمیم داری او عدی نه اخستې وه. نو د سهمی د اولیاءکرام نه دوه کسان پاسیدل او قسم ئې اخوړلو چه زمونږ قسم د ده د قسم نه ریښتونې دی اودا پیاله زمونږ د ملګری ده. هم د هغوی باره کښې دا آیت نازل شوې وو(۲) او بیان اوکړې شو چه دا تحلی ف د مازیګر د مانځه نه پس شوې وه. دا څیز دلالت کوی په دې خبره باندې چه په سلف کښې د دې واقعې صحت مشهور او په عوامو کښې متعارف دې. د دې صحت دلیل هم دې چې ابوجعفر بن جریر روایت کړې دې چې یو مسلمان پردس کښې وفات شو او دهغه هلته هیڅوک نه وو. نو کوم چې مړۀ کیدل هغوئ اهل کتابونه دوه کسان ګواهان کړل. بیا دا دواړه کوفې ابو موسی اشعری رضی الله عنه ته راغلل. او هغوئ ته د مردګانو وصیت او ترکه پیش کړو. اشعری اووئیل چې همداشان یو واقعه نبی کریم ﷺ ته هم پیښه شوې وه. او اوس دا بله واقعه ده. دمازیګر مونځ نه پس هغوئ ته قسم ورکړو چې مونږ خیانت نه دې کړې. اونه مونږ دروغ وئیلی دی. اونه مونږ څه پټ کړی دی. اودا د متوفی د وصیت اوترکې مطابق دی. نو په دې وجه دهغوئ شهادت اومنلې شو. اوهم په دې شهادت باندې اشعری فیصله اوکړه (۳). دنبی کریم ﷺ زمانه کښې داشان واقعې نه مراد تمیم وعدی وو، او وئیلې شوی دی چې دتمیم داری واقعه اسلام د قبلولو نه وړاندې د نهمې هجرئی ده او ښکاره خبره ده چه د اشعری والا واقعه دوئمه واقعه وه.

په دې آیت کښې حکم دې چه مړ کیدونکې دې د مرګ په وخت کښې وصی جوړ کړی او دوه مسلمانان دې ګواه اوګرځوی چه ده له څه اخستل دی او څه ورکوړل دی. دا خو د حضر په وخت کښې مسئله وه چه د دې آیت په بنا باندې وه چه ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِينَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ﴾ او د سفر باره کښې دی چه ﴿أَوْ آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ﴾ چه کله څوك مسلمان د مرګ وخت کښې موجود نه وی نو د یهودیانو، نصاراؤ یا مجوسیانو نه دوه کسان واخلئی او هغوی ته دې وصیت اوکړی او د میراث مال دې ورحواله کړی. اوس که د مړی وارثانو وصیت صحیح اومنلو

---

(۱) ترمذی کتاب التفسیر باب ومن سورة المائدة : ۳۰۵۹،

(۲) صحیح بخاری کتاب الوصایا باب قول الله تعالی (یاایهاالذین امنوا شهادة بینکم اذا حضرت احدکم الموت) : ۲۷۸۰، ابوداود : ۳۶۰۶، ترمذی : ۳۰۶۰ دارقطنی : ۱۶۹/۴.

(۳) ابوداود کتاب القضاء باب شهادة الذمة وفی الوصیة فی السفر : ۳۶۰۵،

Scanned with Ca

خو ښه ده ګنې نو مقتدر ته به مقدمه پیش کولې شی. اوس د الله ﷻ حکم دې چه ﴿ تَحْبِسُوْنَهُمَا مِنْۢ بَعْدِ الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ اِنِ ارْتَبْتُمْ﴾ یعنی که ستاسو د ده په صداقت کښې شك وی نو د مانځه نه پس ده ته د الله قسم ورکړئی. حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائی چه د مړی وارثانو انکار کړې وواو دا دواړه ګواهان نې زورولې او ویرولې وو نو ابوموسی اشعری ﷺ دې دواړو ته دمازیګر د مانځه نه پس قسم ورکړو. ما عرض اوکړو چه زمونږ د مونځ دوی سره څه قدر کیدیشی دوی ته خو د دوی د مانځه نه پس قسم ورکړئی. نو دخپل مذهب په طریقه دمونځ نه پس دوئ قسم اوکړو چې مونږ د لږ شان مال دپاره خپل قسمونه نه خرڅوؤ سره ددې چې دیو خپلوان دپاره دې ولې نه وی. مونږ د الله ﷻ شهادت نه پټوؤ ګنی مونږ ګناهګار یو ، ستاسو ملګری هم دغه وصیت کړې وواو هم دغه مال نې پریخودې دې. دقسم کولو نه پس وړاندې امام هغوئ ته وئیلی وو که چرې تاسو پت کړو یا تاسو خیانت اوکړو نو په خپل قوم کښې به تاسو رسوا شئ او بیا به هیڅ کله ه ستاسو شهادت نشی قبلولې اوتاسو له به سزا هم درکولې شی .نو ﴿ذٰلِكَ اَدْنٰۤى اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَاۤ﴾ یعنی هم دغه یو صورت داسې دې چې ګواه خپله ګواهی دواقعې مطابق ساتلې شی او هغه ته به ویره وی چې چرې داسې اونه شی چې ددې مسلمانانو د دوباره قسمونو نه پس زمونږ اولنی قسمونه رد کړې شی . الله ﷻ فرمائی ﴿ فَاِنْ عُثِرَ عَلٰۤى اَنَّهُمَا اسْتَحَقَّاۤ اِثْمًا فَاٰخَرٰنِ يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا﴾ یعنی که چرته معلومه شی چه هغوی په ناجائزه طریقه حق پټ کړې دی نو د هغوی په ځای دې دوه نور کسان اودریږی د چا حق چه وهلی شوی وی چه د کافرانو ګواهی باطله ده او مونږ زیاتې نه کوو. اوس به د کافرانو ګواهی ردکولې شی او د اولیاء کرامو شهادت به قبلولې شی.

د دې آیت مقصد هم دغه حکم دې. اکثرو ائمه اوتابعینو او سلفو رضوان الله علیهم او امام احمد رحمه الله وغیره هم دغه مسلك دې. او قوله ﴿ذٰلِكَ اَدْنٰۤى اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى وَجْهِهَاۤ﴾ یعنی د دې حکم شریعت هم د دغه وجې خوښ کړې شوې په بنا باندې دې چه ذمی ګواهانو ته دې قسم ورکړې شی ﴿اَوْ يَخَافُوْۤا اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ بَعْدَ اَيْمَانِهِمْ﴾ څه عجبه خبره ده که دغه خلق د الله ﷻ د قسم د تعظیم د پاره اود رسوائې د ویرې چه وارثان په خپلو قسمونوباندې زمونږ قسمونه رد کړی نو بیا به مونږ ته سزا هم ملاویږی رښتیا اووائی. بیا فرمائی چه رښتیا وائې او د الله ﷻ نه اوویریږئی. د هغه خبره واورئی او د هغې تابعداری اوکړئی ګنی نامنونکو او فاسقانو ته خو الله ﷻ توفیق نه ورکوی او نه هغوی ته هدایت کوی.

يَوْمَ	يَجْمَعُ اللّٰهُ	الرُّسُلَ	فَيَقُوْلُ	مَاذَاۤ
هغه ورځ | چې راجمع به کړی الله | ټول پیغمبران | نو اوبه وائی |				چې څه
| په کومه ورځ چې الله ﷻ ټول پیغمبران راجمع کړی | نوتپوس به ترې اوکړی				
اُجِبْتُمْ ؕ	قَالُوْا	لَا عِلْمَ	لَنَا ؕ	اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ۝
جواب ورکړې شو تاسوته|اوبه وائی هغوئ| نشته هیڅ علم|مونږته | بیشکه ته|هم ته | ښه عالم نې | په پټو خبرو				
چې تاسوته څه جواب درکړې شوې وو|هغوئ به اووائی مونږ ته هیڅ پته نشته | بیشکه ته په پټوخبرودې رخبردار نې				

قوله تعالی:: يَوْمَ يَجْمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوْلُ مَاذَاۤ اُجِبْتُمْ ؕ

د قیامت په ورځ د پیغمبرانو نه پوښتنه:- په دې آیت کښې اوخودلې شو چه د قیامت په ورځ به الله ﷻ پیغمبرانوته څنګه خطاب فرمائی، کومو قومونوته چه تاسو لیګلې شوی وئی هغوی د دین دعوت او تبلیغ قبول کړې هم وو که نه. نوفرمائی ﴿ فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ ﴾ چه مونږ به د هغه

قومونونه هم تپوس کوو اودهغوی د پیغمبرانونه به هم تپوس کوو.بیا ارشاد فرمائی ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَسْـَٔلَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ ۝ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ۝﴾چه ستاسو په الله ﷻ قسم چه مونږ به د هغه ټولونه تپوس کوو چه په دنیاکښې ستاسو څه عمل وو. د رسولانو قول به وی ﴿لَا عِلْمَ لَنَا﴾ مونږ ته خو هیڅ پته نشته اودا به د هغه ورځ د هیبت په وجه وی چه د ویرې د وجه به د هغوی نه څه جواب نه جوړیږی نو وائی به چه مونږ ته هیڅ پته نشته. په هغه ورځ به عقلونه په ځائ نه وی او چه بیا کله د اطمینان سا واخلی نو د خپل قوم باره کښې به د واقعې مطابق ګواهی ورکوی. ولې په اولنی ځل به د هغوی هم دغه قول وی چه یا الله مونږ ته څه پته ده ته عالم الغیب ئې ستا په مقابله کښې مونږ په څه پوهیدلې شو. په دې کښې هیڅ شك نشته چه دحسن ادب په لحاظ داډیر ښه جواب دې چه ستادعلم محیط په نسبت زمونږدعلم څه حقیقت دې.زمونږ د علم بنیاد خوصرف په ظاهر باندې دې او ستا علم خو د باطل خبر هم لری ځکه چه ته خو علام الغیوب ئې ته پوهیږې چه څه جواب هغوی ورکړې. اوس که د منافقت په وجه د چا عمل یا عقیده پاتې وی نو مونږ ته د هغې علم نشته هم ته پوهیږې.

اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِيْ عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ
کله چې|اووائی الله	اې عیسی| ځویه	دمریم	یاد کړه|نعمت زما| په تاباندې	اوپه مور ستا باندې
کله چې الله ﷻ اووائی چې عیسی خوئې دمریم! ماچې کوم نعمتونه په تااوستاپه موربانديې کړی وو هغه یادکړه
اِذْ اَيَّدْتُّكَ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ۚ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ
کله چې|ما مضبوط کړې وې ما| په روح پاك (جبریل) سره |تابه خبری کولې|دخلقو سره|په زانګو کښې
کله چه ما په روح القدس سره ستا مدد کړی وو|تاسو په زانګو کښې هم خلقو سره خبرې کولې
وَكَهْلًا ۚ وَاِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ
اوپه زوړوالی کښې هم| اوکله چې|ماانبودو تاته	کتاب	اوحکمت	اوتورات
اوپه بوډاتوب کښې هم	.....اوماتاته .....کتاب .....اوحکمت	و تورات
وَالْاِنْجِيْلَ ۚ وَاِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّيْنِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِاِذْنِيْ
اوانجیل |اوکله| چې به تاجوړول| دخټې نه |په شان د شکل| دمارغه	په حکم زما سره|
اوانجیل اوخودل| اوکله چې به تا زما په حکم دخټې نه دمرغۍ شکل جوړولو
فَتَنْفُخُ فِيْهَا فَتَكُوْنُ طَيْرًا بِاِذْنِيْ وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ
نو تابه پوکې کولو	په هغې کښې انو شو به	مارغه	په حکم زما سره	او تاروغوو	مورزادی روند
او تا به په هغې کښې پوک وهلو|نوهغه به زما په حکم مرغۍ شوه| اوتابه روغول مورزا ده راانده خلق
وَالْاَبْرَصَ بِاِذْنِيْ ۚ وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِاِذْنِيْ ۚ
اوچې لاس خپې ئې برګ وو	په حکم زماسره	اوکله چې	به تاراایستل	مړی	په حکم زماسره
اوزما په حکم دې جذامیان خلق روغول	.....او ځما په حکم به دې مړی ژوندی کول

Scanned with Ca

وَاِذْ	كَفَفْتُ	بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ	عَنْكَ	اِذْ	جِئْتَهُمْ
اوکله چې|منع کړل ما|	بنی اسرائیل	ستانه	څه وخت چې|	راغلې ته هغوئ ته
اوڅه وخت چه ما بنی اسرائیل تاته د نقصان دررسولو نه بند کړل	په هغه وخت کله چې ورته تا					
بِالْبَيِّنٰتِ	فَقَالَ الَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	مِنْهُمْ	اِنْ هٰذَآ	اِلَّا
	دښکاره ښښوسره|انواووئیل هغه کسانو|چې دحق نه منکرووا|دهغوئ نه	چې نۀ دې دا	مګر	
ښکاره ښښې پیش کړې	نو کوم خلق چې کافران وو هغوئ اووئیل چې دا(معجزې) خو					
سِحْرٌ	مُّبِيْنٌ ۝	وَاِذْ اَوْحَيْتُ	اِلَى الْحَوَارِيّٖنَ	اَنْ اٰمِنُوْا	بِيْ	وَبِرَسُوْلِيْ
جادو		ښکاره	اوکله چې اشاره اوکړه ما| حواریانو ته |چې ایمان راوړئ |په ما	|اوپه رسول زما	
ښکاره باره جادودې|اوکله چې ما حواریانو ته (ستاپه خوله) اشاره اوکړه|چې په ما اوخماپه پیغمبرانوایمان راوړئ						
قَالُوْٓا	اٰمَنَّا	وَاشْهَدْ	بِاَنَّنَا	مُسْلِمُوْنَ ۝		
اووئیل هغوئ	چې ایمان راوړو مونږ	اوګواه اوسه	چې بیشکه مونږ	مسلمانان یو		
نوهغوئ اووئیل	چې مونږ ایمان راوړئ دې	او ته ګواه اوسه چې مونږ مسلمانان یو				

قوله تعالي: اِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ نِعْمَتِيْ عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ

په عیسی علیه السلام د الله ﷻ د انعاماتو تذکره:-دلته الله ﷻ د هغه احساناتو تذکره فرمائی چه په عیسی بن مریم علیه السلام باندې کړی وو چه اې عیسی علیه السلام زمونږ هغه احسانات یاد کړه چه کوم معجزات او خوارق عادات مونږ تاته درکړې او ته مو د پلار نه بغیر یواځې د مور نه پیدا کړې او ستاذات مو د خپل قدرت د کمال یوه نښه اوګرځوله او ستا په مورباندې مو هم دا احسان اوکړو چه ته مو د هغې پاک دامنئی دلیل جوړکړې او چه کوم خراب الزام دې ظالمانو او جاهلانو ترلې وو د هغې نه مو ستا مور بچ کړه. تاته مو د حضرت جبرائیل علیه السلام په ذریعه امداد درکړو. ته مو په ماشومواليٰ او خوانئی کښې هم نبی اود الله ﷻ طرف ته رابلونکې جوړکړې چه تا په زانګوکښې هم خبرې کولې اود مور د پاکوالی ګواهی دې ورکړه او د خپل بنده کیدو اعتراف دې اوکړو. په ماشومواليٰ او خوانئی کښې دې هم خلقو ته تبلیغ اوکړو. په لوئ عمر کښې خبرې کول خو څه عجیبه نه دی خو په زانګوکښې ستا خبرې کول ځومره عجیبه وو. تاته مود کتاب تعلیم درکړو، د تورات لوستل او لیکل مو دراوخودل کوم چه په موسی کلیم الله باندې نازل شوې وو. په حدیث کښې هم د توراة لفظ دې. دې نه تورات او هر نور کتابونه هم مراد دی. تابه د خاورې نه د مرغئی غوندې شکل جوړولو او زمونږ په حکم باندې به دې په هغې کښې پوکې وهلو نو هغه به یوه ژوندئی مرغئی جوړیدله او د الله ﷻ په حکم به الوتله. د الله ﷻ قول دې ﴿وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ بِاِذْنِيْ﴾ په سورت آل عمران کښې د دې بحث تیرشویدې، په دې وجه د دوباره ذکر کولو ضرورت نشته. ﴿وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِاِذْنِيْ﴾ یعنی تابه مړی رابلل نو هغه به د الله ﷻ په حکم قدرت باندې ژوندی د قبرونونه راوتل. عیسی علیه السلام به چه کله د یو مړی د ژوندی کولو اراده کوله نو دوره رکعته مونځ به ئې کولو. په اول رکعت کښې ﴿تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾ او دوئم رکعت کښې ﴿الٓمّٓ تَنْزِيْلُ﴾ بیا به ئې د الله ﷻ حمد او ثنا کوله، بیا به ئې د الله ﷻ دا اووه نومونه لوستل ﴿یاقدیم، یاخفی،

Scanned with Ca

یادانم، یافرد، یاوتر، یااحد، یاصمد﴾ او که چرته سخته پریشانی به په وړاندې شوه نو دا اووه نومونه به نې اخستل او دعابه ئې کوله﴿ یاحی یاقیوم یاالله یارحمن یاذالجلال والاکرام یانورالسموات والارض ومابینهما ورب العرش العظیم یارب ﴾ دا ډیر اثر لرونکی نومونه دی. او زما هغه نعمتونه یاد کړه چه کله تا بنی اسرائیلو ته د نبوت دلائل راوړل او هغوی ته دروغژن اوګنړلې او په تاباندې الزام اولګولو چه ته جادوګرئې او ستا قتلول او په سولنی کولوکوشش ئې اوکړو نو مونږ ته د هغوی نه بچ کړې. ته مو خپل طرف ته اوچت کړې. د هغوی د شر نه مو ته بچ کړې. دا څیز دلالت کوی چه دا احسان په عیسی ﷺ باندې د هغوی د اوچتولو نه پس دې یا دا چه د قیامت په ورځ واقع کیدونکې دې. لیکن مستقبل د ماضی په صیغه باندې تعبیر کړې شوې دې ځکه چه الله ﷻ سره مستقبل هم د ماضی په شان یقینی واقع کیدونکې ځیز دې. دا د غیبو اسرار دی د کومو نه چه الله ﷻ حضرت محمد ﷺ خبر کړو. او چه کله مونږ حواریینوته وحی راولیږله چه په ماباندې او زما په رسول باندې ایمان راوړئی یعنی د حضرت عیسی ﷺ ملګری او امدادیان جوړشئی. دلته د وحی نه مراد په زړه کښې یوه خبره اچول دی لکه څنګه چه فرمائیلی شوی دی چه مونږ د حضرت موسی ﷺ مورته هم وحی لیږلې وه چه موسی ﷺ باندې پئی اوځکوه. داسې الهام ته بغیر د اختلاف نه وحی وئیلې شویده. او فرمائیلی شوی دی چه مونږ د شاتو مچئی ته وحی لیږلې وه چه په غرونوکښې، ونوکښې خپل کورجوړکړئی او د خلقو په محلونوکښې. دغه شان حواریینوته هم الهام اوکړې شو نو حکم ئې اومنلو. او احتمال دې چه دا هم مراد وی چه مونږ ستا په ذریعه هغوی ته وحی اولیږله او هغوی مو په الله ﷻ باندې ایمان راوړلوطرف ته راوبلل نوهغوی قبول کړلواو وئی وئیل چه ﴿ اٰمَنَّا وَاشْهَدْ بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ ﴾ یعنی ای پیغمبره! ګواه اوسیره چه مونږ اسلام راوړلو.

| | | |

عِيسَى	ابْنَ	مَرْيَمَ	اللّٰهُمَّ	رَبَّنَآ	اَنْزِلْ	عَلَيْنَا
عیسی	خوی	دمریم	اے اللہ	اربه زمونږه	انازل کړه	اپه مونږ باندې

مَآئِدَةً	مِّنَ السَّمَآءِ	تَكُوْنُ	لَنَا	عِيْدًا	لِّاَوَّلِنَا
اخوا نچه	دآسمان نه	چې شی	دپاره زمونږه	دخوشحالئ موقع	دپاره دړومبنو زمونږه

وَاٰخِرِنَا	وَاٰيَةً	مِّنْكَ	وَارْزُقْنَا
اود روستو زمونږه	اویوه نښه وی		استا دطرفنه

وَاَنْتَ	خَيْرُ	الرّٰزِقِيْنَ ۝	قَالَ	اللّٰهُ
هم ته	بهتره	روزی ورکونکی ئې	اوونیل	الله

اِنِّيْ	مُنَزِّلُهَا	عَلَيْكُمْ ۚ	فَمَنْ	يَّكْفُرْ	بَعْدُ
نازلونکی یم دهغې	په تاسو باندې	نو هغه څوک	چې کفر کوی	روستو (دهغې نه)	

مِنْكُمْ	فَاِنِّيْٓ	اُعَذِّبُهٗ	عَذَابًا	لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ
ستاسو نه	انو بیشکه زهٔ	به عذاب ورکوم	هغه ته	داسې عذاب

اَحَدًا	مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ع		
چې نهٔ به وی ورکړې	ما هغه عذاب		
نوزه به ورته داسې سخت عذاب ورکوم	چې هغه شان عذاب ما		
هیڅا ته	په مخلوقاتو کښې		
په دنیا کښې هیڅا ته نه وی ورکړې			

قوله تعالي: اِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيْعُ رَبُّكَ اَنْ يُّنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ؕ

د آسمان نه د مائده نازلیدل:- دلته د مائده قصه بیانولې شی په دې وجه د دې سورت نوم مائده کیخودې شو. په دې کښې هم الله ﷻ په خپل بنده او رسول حضرت عیسی ﷺ باندې احسان څرګندونه کړې ده. یعنی دمائده د نازلولو دعا ئې قبوله کړیده چه د حضرت عیسی ﷺ یوزبردسته معجزه اوحجت قاطعه دې بعضو امامانو بیان کړې دې چه داقصه په انجیل کښې ذکرنه ده اود مسلمانانو نه علاوه نصاری دې نه خبرنه وو. خو الله ﷻ د قرآن په ذریعه هغوی خبرکړل. د الله ﷻ قول دې چه کله د عیسی ﷺ متبعینو اووئیل چه ای عیسی ﷺ! آیا ستاد رب نه دا کیدیشی چه د آسمان یو تیار او جوړ شوې خوراك نازل کړی؟ دلته اکثرو قاریانو (يَسْتَطِيْعُ) لوستلې دې (یعنی ستا د رب نه دا ممکن دی؟) نور قاریان (تَسْتَطِيْعُ) لولی (یعنی آیا ستانه دا ممکن دی چه د خپل رب نه سوال اوکړې؟) مائده چه د طعام نه ډک دسترخوان ته وائی. د بعضو وینا ده چه د عیسی ﷺ ملګرو د خپل حاجت او فقر په وجه داسوال کړې وو چه هره ورځ یو دسترخوان نازلیږی کوم چه مونږ خورو او د عبادت د پاره طاقت حاصلولې شو. نو عیسی ﷺ اوفرمائیل که چرې تاسو ایمان لرئی نو د الله ﷻ نه اوویریږئی او داسې

سوال مه کوئی. د رزق په طلب کښې په الله ﷻ باندې یقین ساتئی. هسې نه چه هم دغه څیز ستاسو د پاره فتنه جوړشی. نو حواریانو وئیل چه مونږ د خوراك حاجت مندیو مونږ له د خوراك د پاره پکار دی او چه کله مونږ د آسمان نه نازلیدونکې مائده اووینو نو زمونږ به پوره تسلی اوشی او په تا باندې به مو ایمان نورهم زیات شی او ستا د رسول کیدو به مو کامل یقین اوشی او مونږ به پخپله د دې ګواه شو چه دا د الله ﷻ د طرف نه یوه نښه ده اود عیسی ﷺ د نبوت او صداقت یو واضح دلیل دی. نو حضرت عیسی ﷺ دعا اوکړه چه ای الله د آسمان نه په مونږ باندې یوه مائده راکوزه کړې د هغې ورځې په یاد کښې به زمونږ مخکی او روستی خلق اختر کوی. سفیان ثوری رحمه الله فرمائی چه تکون لنا عیداً نه مراد دا دی چه مونږ به په هغه ورځ مونځ کوو. قتاده رحمه الله فرمائیلی دی چه دې نه مراد دا دې چه زمونږ نه پس راتلونکو د پاره به دا ورځ د یادګار جوړه شی.سلمان فارسی ﷺ فرمائی دې د پاره چه زمونږ د تولودپاره یو عبرت جوړشی او د رسالت د تصدیق د پاره دلیل کافی شی. او یا الله او په هره خبره باندې ستا د قدرت او زما د دعا د قبلیدو دلیل جوړشی دې د پاره چه خلق زما د رسالت تصدیق د خپل طرف نه بغیر د کلفت او تعجب نه ښکلې رزق راولیږه. ته خو خیرالرازقین ئې. الله ﷻاوفرمائیل ښه ده زه خوانچه درلیږم خو که په دې باندې هم ستا قوم کفر اوکړواو مخالفت ئې اوکړو نو زه به هغوی ته داسې عذاب ورکړم چه چا به داسې عذاب نه وی ځکلې.لکه چه الله ﷻ ارشاد اوفرمائیلو ﴿وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾ او ﴿إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ﴾ حضرت عبدالله بن عمر ﷺ اوفرمائیل چه د قیامت په ورځ سخت عذاب چه په کوموخلقو وی هغه هم دا دری دی. منافقان خلق د مائدې د نازلیدلو نه پس هم کفر اوکړو او د فرعون قوم.

د سلفوهغه روایتونه چه په حوارییونوباندې د مائده د نزول سره متعلق دی:- د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دې چه حضرت عیسی ﷺ بنی اسرائیلو ته اوفرمائیل چه تاسو به دیرش ورځې روژې اوساتلې شئی.بیا به دالله ﷻ نه د مائده د نازلیدلو سوال کوئې دې د پاره چه هغه ستاسو درخواست قبول کړی، ځکه چه اجرهغه خلقو ته ملاویږی چا چه پخپله هم عمل کړې وی. هغوی هم داسې اوکړل. دیرش ورځې روژې ئې اوساتلې او دې نه پس ئې اووئیل چه ای د خیر تعلیم ورکونکی عیسی! تاوئیلې وو چه عمل کونکوته د هغې اجر ضرور ملاویږی. تامونږ ته د دیرشو ورځو روژو ساتلو وئیلې وو او مونږ هم دغه شان اوکړل. که دیرش ورځې مونږ د چا نوکری کوونو هغه مونږ ته رزق یا تنخواه راکوی نو اوس به ستا الله په مونږ باندې مائده نازل کړی؟ حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل چه که چرې تاسو مؤمنان ئې نو د الله ﷻ نه اوویریږئی. حواریینو جواب ورکړو چه مونږ خو د خپل زړه تسلی غواړو او پخپله هم یقین کولو سره د نورو په وړاندې ګواه جوړیدل غواړو. لنډه دا چه د آسمان نه مائده نازل شوه چه په هغې کښې اووه کبان او اووه روټئی وې او د هغوی په وړاندې راغله اودریده کوم چه د شروع نه واخله ترآخره پورې ټولو خلقو اوخوړله.

د عمار بن یاسر ﷺ نه روایت دې چه حضور ﷺ اوفرمائیل چه په مائده کښې روټئی او غوښه وه او حکم وو چه په دې خیانت مه کوئی او د صبا د پاره ئې مه ایږدئی. خو خلقو خیانت اوکړو او د خپل خان د پاره ئې جمع کړل، د داسې خلقو شکلونه وران کړې شو بیزوګان او خنزیران ترې جوړ کړې شو.(۱) او دا هم وئیلې شوی دی چه په هغې کښې د جنت میوې وې. وائی چه عمار بن یاسر ﷺ د مائدې نه پس د متو والا د بنی عجل یو سړی ته اووئیل پوهیږې چه د بنی اسرائیلو مائده څنګه وه؟ خلقو به د هغې نه خوړل کول او هغه به ختمیدله نه. او ورته وئیلې شوې وو چه که تاسو په دې کښې خیانت نه

---

۱) ترمذی کتاب تفسیر القرآن ومن سورة المائدة : ۳۰۶۱،

Scanned with Ca

کوئی او د صبا د پاره جمع کول نه غواړئی نو دا به ستاسود پاره مدام وی. که تاسو ذخیره اوکړه نو داسې عذاب به درکړې شی چه چا ته به نه وی ورکړې شوې. ولې هم د ړومبنی ورځې نه هغه پټول او خیانت نې اوکړو. او ای دعربو خلقو تاسو هم د اوښانو او چیلو لکئی تاوولې یعنی په ډیر ذلیل حالت کښې ونی الله ﷻ د تاسو نه یو رسول پیدا کړو تاسودهغه حسب اونسب پیژنئی. هغه تاسو ته خبرداری درکړو چه تاسو په عجمو هم غالب راتلونکی ئې او ډیر مالداره جوړیدونکې نې. د عیسی ﷺ په شان ستاسو رسول هم تاسو منع کړئی چه د سرو او سپینو زرو ذخیره کول مه کوئی. د الله ﷻ قسم یوه ورځ داسې نه ده چه تاسو به دا خزانه نه زیاتوئی. گورئی د حضرت عیسی ﷺ د قوم په شان چرته تاسو په دردناک عذاب کښې وانه چوی. اسحق بن عبدالله وائی چه په مائده کښې اووه کبان او اووه روټئی وې، خلقو اوخوړل او د صبا د پاره ئې هم اوچت کړل نو د مائدې راتلل بند شو. ونیلی شی چه په هغې کښې هرقسم خوندوو او د جنت میوې وې، هره ورځ به نازلیدلې. هغه به څلور زره کسانو په خوړله او چه کله به اوخوړلې شوه نو هم دومره به موجود وه. د اوربشو روټئی به وه د ټولو خلقو د خوړلو نه پس به هم باقی پاتې کیدله. سعید بن جبیر رحمه الله وائی چه دچیلی دغوښې نه علاوه به هر څیز وو. عکرمه رحمه الله وائی د اوریژو روټئی به وې.

حضرت وهب او سلمان الخیر فرمائی چه کله د حضرت عیسی ﷺ نه د مائده سوال اوکړې شو نو هغه ته بدمعلوم شو او وئی وئیل د زمکې نه چه تاسو ته کوم رزق درکړې شوې دې هم په هغې صبراوکړئی اود آسمان نه د رزق نازلیدلوسوال مه کوئی ځکه چه دا به یوه معجزه وی او ثمودیانو چه څنګه د خپل نبی نه سوال کړې وو خو د سوال پوره کیدلو سره د کفر په وجه هغوی هلاک شوې وو، چرته تاسو سره هم داسې اونه شی خو هغوی اصرار کولو او چه کله حضرت عیسی ﷺ اوکتل چه د الله ﷻ نه د دعا کولو نه بله لار نشته نو خپله جبه ئې کوزه کړه او د تورو ویښتو قمیص او جبه ئې واغوسته کمبل ئې واغوسته،اودس ئې اوکړو اوغسل ئې اوکړو صومعه شو، ډیر وخته پورې مونځ کولو بیا قبلې ته مخ شوې اودریدو. خپلې پښې ئې یوځای کړئی او ګیټئی سره ئی ګیټئی ملاؤ کړه. ګوتې ئې نیغې اوساتلې، ښې لاس ئې په ګس لاس باندې کیخودو او د سینې د پاسه ئې اوتړل. سر ئې ښکته کړو او نظر ئې ټیټ کړو. د اننګونه ئې اوښکې بهیدلې او په ږیره باندې راتلې او په زمکه پریوتلې او د الله ﷻ نه ئې دعا غوښتله. اوس یو سوردسترخوان د دوو اوریځو په منیځ کښې د آسمان نه نازلیدل شروع شو. خلقو هغه د بره نه راپریوتونکی لیدل او خوشحالیدل خوحضرت عیسی ﷺ د ویرې ژړل. ځکه چه الله ﷻ شرط لګولو سره مائده نازل کړې وه چه که دې نه پس هم هغه ایمان راوړلو نو سخت عذاب به خوری. هغه د الله ﷻ نه دعا غوښتله چه ای الله ته دا رحمت جوړکړه او عذاب ئی مه جوړوه. څومره عجیبه خبرې کومې چه ما غوښتلې وې تاماته راکړئی ای الله مونږ شکر ګذار جوړکړه. ای الله د دې مائدې په سبب عضب جوړیدو نه زه پناه غواړم. دا سلامتیا او عافیت جوړ کړه. هغه دعا غوښتله چه خوان د هغه د حواریینو مخې ته اودریدو او د هغې نه داسې خوشبوئی راتله چه کله داسې خوشبوئی په بونی کولو کښې نه وه راغلې. حضرت عیسی ﷺ او د هغه حواریین د شکر په سجده کښې پریوتل ځکه چه داسې لوئی نښه اوعبرت ورکونکې څیز هغوی اولیدلو د کوم چه هغوی ته امید نه وو. یهودیانوداعجیبه امر لیدلو او د هغوی زړونه د غم او خفګان نه ډک وو. بیا هغوی په خپل مینځ کښې تاؤ راتاؤ شول او لاړل. اوس عیسی ﷺ اود هغه ملګری خوان له راغله په خوان باندې رومال پروت وو. حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل چه دې نه به رومال څوک اخواکوی؟ په مونږ کښې چه څوک په خپل نفس باندې د ټولونه ډیر مطمئن دې او د الله ﷻ په امتحان کښې د ټولو نه بهادر دې هغه دې رومال اخواکړی چه مونږ د الله ﷻ رزق اووینو او د هغه نوم اخستو سره ئی اوخورو. حواریینو وئیل ای روح

Scanned with Ca

الله! تانه څوك د دې ډير حقدار كيدیشی. دې اوریدو سره حضرت عیسیٰ پاځیدو تازه اودس نې اوكړو، جمات ته راغلو مونځ نې اوكړو. د څه ساعت پورې اوژړل او الله ﷻ ته نې دعا اوكړه چه د مائده د كولاوولو اجازت راكړه او په دې كښې د قوم د پاره بركت او رزق راكړه. خوان له لاړو رومال نې تړې اوچت كړو چه وئی كتل نو په هغې كښې یو لوی سور كړې شوې كب ایخودې وو چه د هغې په سرمن باندې نه څه گرده شته او نه نې په غوښه كښې څه لشكه. غوړی تړې څخیدو، په هغې كښې هرقسم سبزیانې هم دې بغیر دمولئی نه، د هغې د سرطرف ته سركه او د لكئی طرف ته مالړه. د سبزو طرف ته پنځه روټئی دی چه په هغې كښې په یوه باندې د زیتون تیل دی او په بله كهجورې دی او پنځه انارونه دی. د حواریینو سردار شمعون اووئیل اې روح الله! دا زمونږ د دنیا خوراك دې كه د جنت؟ نو عیسی ﷺ جواب وركړو چه اوس هم هغه وخت نه دې راغلې چه دا كوم عجائبات گورئی دې نه عبرت واخلئی اود دې سوالونه منع شئی. ماته ویره ده چه چرته دغه نښه ستاسو د عذاب سبب جوړ نه شی. شمعون وئیل نه د اسرائیلو د رب قسم، اې د ربښتونی مور ځویه! زما مقصد د دې خبرې نه څه سوال كول نه وو، نو عیسی ﷺ جواب وركړو چه نه دا خوراك د دنیا دې او نه د د جنت دې. دا خو الله ﷻهم په آسمان كښې په خپل قدرت باندې پیداكړې. هغه صرف كن فرمائی او د سترگو په رپ كښې هغه څیز پیداشی. د الله ﷻ نوم واخلئی او خورئی او شكر كوئې الله ﷻ به نور هم ډیر دركړی ځكه چه هغه بدیع دې او قادر دې.

حواریانو وئیل چه مونږ غواړو چه په دې معجزه كښې یوه بله معجزه مونږ ته اوخودلې شی. نو حضرت عیسی ﷺ اوفرمائیل چه سبحان الله څه دا نشانی چه تاسو اولیدله كافی نه ده چه په دې كښې بیا د بلې نشانئی سوال كوئی. بیا عیسی ﷺ كب ته مخاطب شو او وئی فرمائیل اې كبه د الله ﷻ په حكم ژوندې شه. نو هغه وریت شوې كب د الله ﷻ په حكم راژوندې شو او تازه شو او په تړقیدو شو. د زمری په شان نې خله كولاؤكړه او سترگې تاوولې او پړقیدلی. د هغه په بدن باندې ستاری هم رابښكاره شوې. د دې په لیدو خلق اوویریدل. عیسی ﷺ اوفرمائیل چه تاسو خو یوه بله نشانی كتل غوښتل چه تاسو ته اوخودلې شوه نو اوویریدلئی. ماته اندیښنه ده چه دا تاسو څه كوئی دا به ستاسو د نیولو او فتنې سبب شی. اوس عیسی ﷺ كب ته اووئیل چه د الله ﷻ په حكم څنگه وې هم هغه شان شه نو هغه د اول په شان سورشو. خلقو اووئیل اې عیسی ﷺ! ته اول اوخوره بیا به موټر خورو. عیسی ﷺ اوفرمائیل معاذالله چا چه مطالبه كړې وه هغوی له اول خوړل پكار دی. كله چه حواریینو اوكتل چه عیسی ﷺ نه خوری نو اوویریدل چه د مائده نازلیدل د ناخوښئی سبب دې اود دې په خوراك كښې اندیښنه ده نو منع شو. حضرت عیسی ﷺ فقیران غریبان او بیماران راوغوښتل او وئی فرمائیل خورئی. دا د الله ﷻ د طرف نه رزق دې او ستاسو د نبی د طرف نه دعوت دې او د الله ﷻ شكر ادا كړئی چه تاسو له نې دا دركړو. ستاسو د پاره مبارك دې او د نورو د پاره عقوبت دې. هغه ټولو د الله ﷻنوم واخستو او وئی خوړلو. دیارلسو سوو ښځو او سړو او خوړلو او په ډكه خیټه پاځیدل. بیا دا مائده د آسمان طرف ته لاړه اوخلق كتونكی پاتې شو. كومو فقیرانو چه اوخوړله هغه غنیان شو او بیماران جوړ شو او بیا دوی همیشه غنیان او جوړ وو او چه كومو حواریینر د خوراك نه انكار كړې وو هغوی سخت پښیمانه پاتې شو او ترمرگه پورې د خوراك ارمان د هغوی په زړونوكښې پاتې وو. اوچه د كله نه دا مائده نازله شوې ده نو د هر طرف نه بنی اسرائیل راپه منډه وو. غنیان، فقیران،لوئ واړه او روغ ناروغه ټول د خوراك د پاره لیواله وو. اوس حضرت عیسیٰ د ټولو نمبر مقرر كړو. یوه ورځ به چه څوك راتله او خوړله به نې هغه به بله ورځ نه راتلو، په مینځ كښې به نې یوه ورځ پریخودله نو راتله به. دغه شان څلویښت ورځې تیرې شوې او ټوله ورځ به د خوراك سلسله جاری وه. بیا به مائده د الله

ﷻپه حکم اسمان ته اوختله او تردي چه خلقو به د هغې سورې په زمکه باندې پریوتونکې لیدلو. الله ﷻخپل نبی حضرت عیسی ﷺ ته وحی راو لیږله چه په مائده کښې زما رزق د غریبانانو او یتیمانو او بیمارانو د پاره دي. د خیټورو د پاره نه دي. مالدارانو ته دا خبره خرابه اولږیدله نو خبرې جوړول نې شروع کړل. پخپله هم په شك کښې پریوتل او نورئې هم په شك کښې اچول او غلطې خبرې خوړول ئې شروع کړه. شیطان د هغوی په زړونو قبضه اوکړه او د خو خلقو په زړونوکښې نې هم وسوسې واچولې. هغوی وئیل چه اې عیسی ﷺ دا مائده نازلیدل په ربښتیا د آسمان نه کیږی ځکه چه په مونږ کښې د ډیروخلقو شك دي. عیسی ﷺ اوفرمائیل زما په الله ﷻ قسم دي تاسو هلاك شوئې. تاسو نبی ته سوال کړې وو چه د الله ﷻ ته د مائدې دعا اوکړه او چه کله هغه دعا اوکړه او الله ﷻ په تاسو خپل رحمت او رزق نازل کړو. او تاسو ته ئې خپلې نښې او عبرتونه اوخودل نو تاسو انکار او شك اوکړو. اوس د عذاب زیږې واوړئ چه تاسو به راګیر کړی. دا یوه بله خبره ده که الله ﷻ پخپله رحم اوکړی. نو الله ﷻ حضرت عیسی ﷺ ته وحی اوکړه چه زه تکذیب کونکی نه پریږدم. څوك چه د مائده د نازلیدو نه پس کفر اوکړی ځکه چه د دې متعلق خو شرط هم دا وو چه هغوی ته به داسې عذاب ورکولې شی چه تراوسه پورې نه دې ورکړې شوې. دا شك کونکی چه کله په خپلو بسترو باندې سملاستل او د اوده کیدو په وخت کښې په خپلو خو شکلونوباندې وو خو په آخری شپه کښې الله ﷻ د هغوی نه ځنزیران جوړکړل او دوی په اسونو باندې په ګندګو او مردارو کښې ګرځیدل. دا ټول روایت ډیر حیرانونکې دي. ابوحاتم دا د بیل بیل ځای نه ټکړه ټکړه رایوځای کړې او بیان کړې دي. ما د دې سیاق او ترتیب برابرولو د پاره د واقعه په توګه رایوځای کړو.

دروایت خو دلالت کوی چه مائده رانازله شوې وه او د حضرت عیسی ﷺ په دعا سره بنی اسرائیلوته ملاؤشوې وه.ښکاره عبارت د قرآن نه دا اخستلې شی ځکه چه الله ﴿ﷻ مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ﴾ فرمائیلې دي خو ویناکونکی دا هم وائی چه مائده هډو نازله شوې نه ده او الله ﷻ داخبره د مثال په توګه فرمائیلې ده او بله دا چه کله هغوی ته د عذاب ویره اوخودلې شوه نو هغوی د دې د غوښتلو نه واوښتل او وئی وئیل چه نه زمونږ مائده نه ده پکار. د مجاهد او حسن ﷺ پورې د دې اسانید ډیر صحیح دی اود ټولو نه قوی دلیل دا دي چه نصاری د دې مائده نه هډو خبر نه دی او د هغوی په کتاب انجیل کښې چرته د دې ذکر هم نشته. که چرې مائده نازله شوې وه نو په انجیل کښې به ځای په ځای د هغې ذکر وو او یو څل نه چه متواتر به ئې ذکر وو خو د جمهورو دا خیال دي چه مائده نازله شوې وه. ابن جریر ﷺ هم دا خیال اختیار کړې دي ځکه چه الله تعالی ﴿إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ﴾ فرمائیلي.د دې وعده او وعید حق دي او همدغه خبره صحیح معلومیږی. اهل تاریخ هم دغه لیکلی دی چه موسی بن نصیر نائب بنی امیه فتوح بلاد د مابنام په وخت کښې هلته مائده موندلې وه په کومو کښې چه مرغلې پیللې شوې وې او قسماقسم قیمتی کانړی په کښې ورخښې وو.نوامیر المؤمنین ولید بن عبدالملك ته هغه اولیږلې شوه دا مائده هم په لارکښې وه چه مړه شوه. اوس ئې دا د هغه رور سلیمان بن عبدالملك له اولیږله چه د هغې نه پس خلیفه شو.خلقو د هغې یاقوت او جواهرات کتلو سره ډیره حیرانتیا اوکړه او وئیلې شی چه دا مائده د سلیمان بن داؤد ﷺ وه. والله اعلم.

دَقریشوسوال او دَجبرائیل ﷺ پیغام:- دابن عباس ﷺ نه روایت دي چه قریشو دنبی کریم ﷺ ته وئیلې وو چه د صفاغرزمونږ دپاره د سرو زروکړه نو مونږ به په تا ایمان راوړو.حضور ﷺ اوفرمائیل چه څه ایمان به راوړئ؟هغوی اووئیل او.په دې کښې جبرائیل ﷺ راغلو او وئی وئیل الله ﷻ تاته سلام وائی. او فرمائی چه که ته غواړې نوترسحره به دصفاغر دسرو زرو شی خو که د دې نه پس ئې هم ایمان رانه وړو

نوسخت عذاب سره به مخ کولې شی اوکه ته غواړې چه زه ددوی توبه قبوله کړم اوپدوی باندې رحمت اوکړو نو داسې به ښه وی. حضور ﷺ اوفرمائیل چه اې پروردګاره ستا توبه او ستا رحمت غواړو.(۱)

وَاِذْ	قَالَ اللّٰهُ	يٰعِيْسَى	ابْنَ	مَرْيَمَ		
او هرکله چی	اووئیل الله	اې عیسی		خویه		دمریم
(ددې احساناتو یادولو نه پس) الله ﷻ درته وائی چی ائې عیسی خوئې دمریم						
ءَاَنْتَ	قُلْتَ	لِلنَّاسِ	اتَّخِذُوْنِيْ	وَاُمِّيَ	اِلٰهَيْنِ	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ
ایا تا	وئیلی ووۓ	خلقو ته	چی اونیسۓ ما	اومور زما	دوه خدایان	ماسوا دالله نه
ایاتاخلقو ته وئیلی وو	چې دالله ﷻ نه سوا ماواومور دواړه معبودان جوړ کړۓ					
قَالَ	سُبْحٰنَكَ	مَا يَكُوْنُ	لِيْٓ	اَنْ اَقُوْلَ	مَا	
(نو) اوبه وائی عیسی	پاکی ده تالره	نۀ دی مناسب	ما لره	چی اووایم زۀ	هغه خبره	
هغه به اووائی چې پاکی تالره ده	مادا څنګه ولې شو چې هغه خبره مې کړې وی					
لَيْسَ	لِيْ ۘ	بِحَقٍّ ؕ	اِنْ كُنْتُ	قُلْتُهٗ	فَقَدْ	عَلِمْتَهٗ ؕ	تَعْلَمُ
چی نشته	ماته	احق	اکه وم زۀ	چی وئیلې وې ما دا خبره	انوبیشکه	معلومه به وې تاته	معلوم دی تاته
چې ماته نې حق حاصل نه دې	که ما وئیلې وې نو هغه به تا ته ضرور معلوم وې					تاته ښۀ معلوم دی	
مَا	فِيْ نَفْسِيْ	وَلَآ اَعْلَمُ	مَا	فِيْ نَفْسِكَ ؕ	اِنَّكَ	اَنْتَ
هغه	چی په زړه کښی زما دی	اونۀ دی معلوم ماته	هغه	چی په ذات ستاکښی دی	بیشکه تۀ	هم تۀ
څه چې زما په زړه کښې دی	او ماته هغه نه دی معلوم چې کوم ستا په علم کښې دی					بیشکه ته
عَلَّامُ	الْغُيُوْبِ ۝	مَا قُلْتُ	لَهُمْ	اِلَّا مَآ	اَمَرْتَنِيْ	بِهٖٓ
ښه عالم نې	په پټو حقیقتونو	انۀ دی وئیلی ما	هغوۓ ته	مګر هغه	چی حکم کړې ووتاماته	په هغې سره
په ټولو حقیقتونو	د پرښه پوهیږې	ماورته دهغې نه سوا هیڅ نه وو وئیلی		چې څه تاماته حکم کړې وو		
اَنِ	اعْبُدُوا	اللّٰهَ	رَبِّيْ	وَرَبَّكُمْ ۚ	وَكُنْتُ	عَلَيْهِمْ	شَهِيْدًا
چی	بندګی اوکړۓ	دالله	چی رب زمادې	اورب ستاسودې	اووم زه	په هغوۓ	باندې	نګران
(اوهغه دا) چې دیوالله ﷻ عبادت کوۓ	اوهغه زما اوستاسورب دې				اوزه تر ې ترهغه وخته پورې خبر اوم		
مَّا دُمْتُ	فِيْهِمْ ۚ	فَلَمَّا	تَوَفَّيْتَنِيْ	كُنْتَ	اَنْتَ	الرَّقِيْبَ	عَلَيْهِمْ ؕ
ترڅو چی وم زۀ	په هغوۓ کښی	پس هرکله چی	تاواپس اوغوښتلم زۀ	انو وې تۀ	هم تۀ	نګران	په هغوۓ باندې
ترڅو چې زه په دوۓ کښې موجود ووم	اوکله چې تازه واپس راوبللم نو بیا صرف ته دهغوۓ نه خبر وې						

(۱) احمد: ۲۴۲/۱، وهو حسن حاکم: ۲۱۴/۲، المعجم الکبیر: ۱۲۷۳۶، البیهقی: ۸/۹.

Scanned with Ca

وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿۱۱۷﴾ اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ
اوته اپه هر څيز باندې انظر لرونکې ئې اوس که ته عذاب ورکړې دوئ ته انوبيشکه دوی ستا بندګان دی
اوتاته دهرڅه خبر شته دې ا .....که ته دوئ ته سزا ورکولې نو داستا بندګان دی .....
وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۱۸﴾
اوکه ته معافی اوکړې ادوئ ته ا نوبيشکه ته هم ته غالب ئې ا دحکمت خاوند ئې ا
اوکه ته دوئ معاف کړې ا نو بيشکه ته غالب اوددحکمتونو خاوندیئ ا

قوله تعالي: وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِيْ وَاُمِّيَ اِلٰهَيْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ

د قيامت په ورځ د حضرت عيسی عليه السلام نه جواب غوښتل:-الله ﷻ به د قيامت په ورځ د هغه خلقو په موجودګئی کښې عيسی عليه السلام ته خطاب کوی چاچه عيسی عليه السلام اودهغه مورخدائ جوړکړی وو.داد نصارواؤ په څرګنده تهديد او توبيخ دې. قتاده رحمه الله په دې باندې د الله ﷻ د دې قول نه استدلال کړې دې. چه ﴿هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ ؕ﴾ يعنی دا هغه ورځ ده چه ريښتونوته په د هغوی د ريښتيا ؤ بدله ملاويږی. سدی رحمه الله وائی چه دا خطاب او جواب په دنيا کښې دې. ابن جرير رحمه الله د دې تصديق کوی چه د دې واقعه سره متعلق دې سره د دې چه عيسی عليه السلام آسمان ته اوچت کړې شوې وو. ابن جرير رحمه الله په دې باندې په دوه قسمه استدلال کړې دې. يو خودا چه کلام د لفظ ماضی يعنی ﴿قَالَ﴾ سره دې بل دا چه د الله ﷻ قول ﴿اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۚ﴾ يعنی کلام شرطيه دې نو دا خبره به هم په دنياکښې شوی وی خو عذاب يا ښښنه د آخرت د شرط د پاره اوچت کړې شو. خو دا دواړه دليلونه غورغوښتونکی دی ځکه که لفظ ماضی دې نو څه اوشو د قيامت اکثر امور د ماضی په لفظ سره بيان کړې شوی دی د دې د پاره چه په وقوع او ثبوت باندې دليل کافی شی. د ﴿اِنْ تُعَذِّبْهُمْ﴾ شرطيه کلام سره د عيسی عليه السلام د هغه ګناهګارانونه ويزاره کيدل ښکاره کول او د الله ﷻ د مرضئ په هغوی کښې نافذ کيدل ظاهر کړې شوی دی او په شرط باندې د څه څيز متعلق کيدل د يوڅيز د واقع کيدلو د پاره نشی مقتضی کيدلې. په قرآنی آياتونوکښې د دې ډير مثالونه دی. د قتاده رحمه الله چه کوم بيان دې هغه ډير واضح دې چه د قيامت د ورځې خبرې اتړې دی، دې دپاره چه د قيامت په ورځ د ټولو په وړاندې د نصاری راز ښکاره شی او تهديد او توبيخ ئې اوشی. د حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه نه روايت دې چه حضور ﷺ اوفرمائيل چه د قيامت په ورځ به انبياء عليهم السلام اود هغوی امتونه راؤغوښتې شی بيا به عيسی عليه السلام راؤغوښتې شی په هغه به د احسان څرګندونه اوکړې شی اوهغه به اقرار به اوکړې بيا به الله ﷻ دا پورتنې سوال اوکړی نو هغه به انکار اوکړی چه ما خپل امت ته د خپل عبادت نه وو وئيلی. اوس به نصاری راؤغوښتې شی هغوی نه به تپوس اوکړې شی هغوی به وائی چه او هم عيسی عليه السلام مونږ ته داسې حکم راکړې وو. د دې په اوريدو سره به د ويرې د عيسی عليه السلام د سر او بدن ويښته اودريږی. فرښتې به هغه ويښته اونيسی او دا نصاری به د الله ﷻ په وړاندې زر کاله پښې رايوخائ کړې شوی کينولې شی تر دې چه په هغوی باندې حجت قائم کړې شی او اصليت به د هغوی په وړاندې راشی. د دروغوپه سزا کښې به صليب به د هغوی پيشوا جوړولې شی بيا به دا خلق د دوزخ طرف ته پاره کولې شی.(۱) اود الله ﷻ قول دې ﴿سُبْحٰنَكَ مَا يَكُوْنُ لِيْۤ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَيْسَ لِيْ ۢ بِحَقٍّ ؕ﴾ په دې جواب کښې د حسن

---

(۱) الدرالمنثور: ۶۱۵/۲.

ادب څومره توفیق ورکړي شوی دي. د عیسی ﷺ په زړه کښې څومره ښه دلیل واچولې شو چه ای الله چه د کومې خبرې زما څه حق نشته نو داسې خبره به ما څنګه کوله. ﴿ولوفرضنا﴾ که چرې ما داسې وئیلی هم وی نو ته به خبردار ئې ځکه چه تانه خو څه خبره پټیدلې نشی. ته زما د زړه خبره پیژنې خوزه ستا اراده نه شم پیژندلې، د څه چه تاما ته حکم راکړې وو ما د هغې نه یو حرف هم زیات نه دي وئیلی. ما خو هم دا وئیلی ووچه د الله ﷻ عبادت کوئ چه زما هم رب دي او ستاسو هم رب دي. زه چه ترکومې په دوی کښې ووم د دوی د اعمالو نګران ووم او چه کله نه تازه اوچت کړم نو بیا خو ته د هغوی د اعمالو نګران شوې او ته خو د هرې خبرې نګران ئې.

د ابن عباس ﷺ نه روایت دي چه نبی کریم ﷺ مونږ ته خطبه راکوله نو وئی فرمائیل چه ای خلقو د قیامت په ورځ به تاسو برینډ او بې جامو اوچتولې شئی لکه څنګه چه د پیدا کیدو په وخت وئې. د ټولونه اول به حضرت ابراهیم ﷺ ته جامې اغوستلې شی. بیا به زما د امت یوڅوخلق راوستلې شی کوم چه به د دوزخ د نشانې په توګه ګس طرف ساتلې شی نو زه به وایم چه دا خو زما امت دي نو وئیلی به شی چه ته نه پوهیږې چه تانه پس دې خلقو ستا سنت پریخودې وو او کوم کوم بدعتونه ئې روان کړی وو. نو زه به د یو صالح بنده په شان همدغه اووایم کوم چه حضرت عیسی ﷺ وئیلې وو نو وئیلې به شی چه تانه پس خلق مرتد او بدعتیان شوې وو.(۱)

د امت د بښنې د پاره د حضور ﷺ منتونه او زارئ :- قوله ﴿إِنْ تُعَذِّبْهُمْ﴾ الی آخره. دا د الله ﷻ د کلام په اراده متضمن دی چه هغه څه غواړی نو کوی او هغه د ټولونه ټپوس کولې شی. نور دا د نصاراؤ د کلام نه په ویزارئی باندې مشتمل دي چا چه حضرت عیسی ﷺ د الله ﷻ شریك او اولاد، او حضرت مریم ئې بی بی ګرځولې وه نعوذبالله تعالی. د دې آیت لوئ شان دي. په حدیث کښې دی چه یوه شپه نبی کرم ﷺ تر سحره پورې دا آیت په مانځه کښې لوستلو.

د حضرت ابوذر نه روایت دي چه نبی اکرم ﷺ یوه شپه دا آیت لوستلو تردې چه په رکوع او سجده کښې ئې هم دا آیت اولوستلو. سحر چه کله ما د دې وجې ټپوس اړوکړو نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه ما د الله ﷻ نه چه ډیر لوئ دي د امت د شفاعت سوال کولو نو د شرك نه علاوه هغه د ټولو د بښنې وعده اوکړه.(۲) جسره بنت وجاجه نه روایت دي چه حضرت ابوذر ﷺ فرمائیل چه نبی اکرم ﷺ د ماسخوتن مونځ ورکړو نو د هغې نه پس خلقو خپل ځان له ځان له مونځونه کول. حضوراکرم ﷺ په خپل ځائ باندې کیناستو چه کله خلق خپلو کورونوته لاړل نو بیا په مصله باندې راغلواو په مانځه کښې مشغول شو. اوس زه هم راغلم او هغوی پسې په مانځه اودریدم. هغوی ﷺ نبی طرف ته د اودریدو اشاره اوکړه نو زه نبی طرف ته شوم. بیا ابن مسعود ﷺ راغلو مونږ پسې شاته اودریدو نو حضور ﷺ ګس طرفته کیدو اشاره اوفرمائیله. اوس مونږ دریواړو خپل ځان له ځان له مونځ کولو. حضور ﷺ چه په مانځه کښې کوم یو آیت شروع کړو نو هم د هغې لوستوکښې ئې سحرکړو. ما حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ته اوونیل چه ټوله شپه هم د یو آیت لوستلو سبب د حضور ﷺ نه تپوس اوکړه. هغه اوونیل چه نه ترکومې حضور ﷺ پخپله بیان نه وی فرمائیلې نو زه تپوس نه کوم. ما زړه کلك کړو او تپوس می اوکړو یا رسول الله ﷺ زما مور پلار دي په تا قربان شی ټول قرآن پاك ستاسو په سینه کښې دي خو

---

(۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة المائدة باب قوله ﴿ وکنت علیهم شهیدامادمت فیهم فلما توفیتنی ....﴾ : ٤٦٢٥، صحیح مسلم: ٢٨٦٠، ترمذی : ١٤٢٣.

(۲) احمد: ١٤٩/٥، نسائی: کتاب الافتاح باب ترديد الآية: ١٠١١، ابن ماجه: ١٣٥٠.

Scanned with Ca

تاسو د قران پاك صرف هم یو ایت لوستلو. که په مونږ کښې چا داسې کولو نو مونږ به په هغه اعتراض کولو. نو هغوی ﷺ اوفرمائیل چه ما د امت د پاره د الله ﷻ نه دعا کوله. ما تپوس اوکړو د الله ﷻ د طرف نه څه جواب ملاؤشو نو اوفرمائیلي شو چه د کومې خبرې ماسره وعده شویده نو اکثر خو به مونځونه کول پریږدئی اود الله ﷻ د رحمت بهانه به واخلئی. ما اووئیل چه آیا خلقو ته د دې زیرې اونه رسوم؟ونی فرمائیل چه او اورسوه. زه لږ شان لرې تلې وم چه حضرت عمر ﷺ اوفرمائیل یا رسول الله ﷺ که خلقو ته دا خبره اورسولې شی نو عبادت به پریږدی. نو حضور ﷺ زه واپس راوغوښتم. هغه آیت دادې ﴿إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾(۱)دا د حضرت عیسی ﷺ قول دې کوم چه نبی اکرم ﷺ تلاوت فرمائیلو.بیا حضور ﷺ خپل لاسونه اوچت کړل او وئی فرمائیل ﴿اللهمامتی﴾(اې ربه زما امت) او په چغوچغو ئې ژړل. الله ﷻ حضرت جبرائیل ﷺ راولیږلو او حضرت جبرائیل ﷺ راغلو د ژړا د سبب ئې تپوس اوکړو. نو چه حضور ﷺ کوم جواب ورکولو حضرت جبرائیل ﷺ ته ئې ورکړو نو الله ﷻ اوفرمائیل اې جبرائیل! لاړشه حضرت محمد ﷺ ته اووایه چه مونږ به ستا د امت باره کښې تا راضی کوو او زړه مه خفه کوه.(۲) حذیفه ﷺ بن الیمان وائی رسول الله ﷺ یوځل ناوخته تشریف راوړواو په سجده کښې راپریوتلو او دومره ساعت ئې تیرکړو لکه چه روح ئې الوتې وی. بیا ئې چه کله د سجدې نه سر رااوچت کړو نو وئی فرمائیل زما رب زما د امت باره کښې ماسره مشوره کړې وه چه هغوی سره څه اوکړی؟ نو ما اووئیل چه اې ربه دا خو هم ستا بندیګان دی او هم ستا مخلوق دې. په دوئم ځل ئې تپوس اوکړو بیا ما هم دغه اووئیل نو الله ﷻ اوفرمائیل اې محمد ﷺ! زه به د امت باره کښې تا نه رسوا کوم. او ماته ئې اووئیل چه تاسره به او اویا زره امتیان ځی او دغه شان هر یو امتی سره به اویا زره امتیان وی او دا ټول به بغیر حساب کتاب نه جنت کښې داخلیږی. بیا ئې اووئیل چه غواړه تاته به درکولې شی نو ما حضرت جبرائیل ﷺ ته اووئیل چه څه الله ﷻ زما سوال پوره کول غواړی. نو حضرت جبرائیل ﷺ اوفرمائیل چه او الله ﷻ زه تاله هم دې غرض د پاره رالیږلې یم. نو الله ﷻ ماته هر څه راکړه. زه په دې غرور او فخر نه کوم چه الله ﷻ زما ټول مخکی او روستی ګناهونه معاف کړل او زه په زمکه صحیح سلامت ژوندې ګرځم. اوماته ئې دا هم خصوصیت راوښښلو چه زما امت به په قحط نه مری او نه به مغلوبه کیږی. الله ﷻ ماته کوثرراکړې. دا په جنت کښې یونهر دې چه زما حوض ته به رابهیږی او ماته ئې د عزت، نصرت، رعب، شان او شوکت خصوصیت راکړې دې چه زمادامت په وراندې په خلقوباندې دیوې میاشت په اندازه اثر غورزوی. زه به جنت کښې د ټولو پیغمبرانو نه وراندې داخلیږم او زما د امت د پاره د غنیمت مال بالکل حلال ګرځولې شویدې. او اکثر داسې څیزونه ئې حلال کړی دی چه زما نه په وراندې امتونوباندې حلال نه وو او په مذهبی حیثیت سره زما په دین کښې هیڅ سختی نه ده کیخودې.(۳)

قَالَ اللّٰهُ هٰذَا	يَوْمُ	يَنْفَعُ	الصّٰدِقِيْنَ	صِدْقُهُمْ ؕ	لَهُمْ
نو اوبه وائی الله دا	هغه ورځ ده	چې نفع ورکوی	ربښتنو خلقو ته	ربښتیا وینا د	هغوئ
الله ﷻ به ورته اووائی	داهغه ورځ ده	چې ربښتینو خلقوته	به خپل	ربښتیا فائده ورکړی	دوئ د

دپاره د	داسې

(۱) احمد: ۱۷۰/۵، ابن ماجه: ۱۳۵۰.
(۲) صحیح مسلم کتاب الایمان باب دعاء النبی ﷺ لامة وبکائه﴿ففقة علیهم: ۲۰۲.
(۳) احمد: ۳۹۳/۵.

Scanned with Ca

جَنّٰتٌ	تَجْرِیْ	مِنْ تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِیْنَ	فِیْهَآ	اَبَدًا ؕ
باغونه دی چې بهیږی	لاندې دهغې نه		نهرونه	همیشه به وی	په هغې کښې	همیشه
باغونه دی چې د هغې لاندې به ولې بهیږی	او دوئ به په هغې کښې همیشه وی		الله ﷻ دهغوئ نه راضی شو			
رَضِیَ اللّٰهُ	عَنْهُمْ	وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ	ذٰلِكَ	الْفَوْزُ	الْعَظِیْمُ ۝	لِلّٰهِ
راضی شو الله دهغوئ نه	اوراضی شو هغوئ دالله نه		دا	کامیابی ده	لویه	خاص الله لره ده
اوهغوئ دالله ﷻ نه راضی شو	.....	اودا ډیره لویه کامیابی ده	.....			د آسمانونو
مُلْكُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	وَمَا	فِیْهِنَّ ؕ	وَهُوَ
بادشاهی	دآسمانونو	اودزمکې	اودهغه څه	چې په دې کښې دی	اوهغه
اوزمکې اوددې مینځ کښې دټولو څیزونو اختیار صرف الله دپاره دې	.....	اوهغه			
عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ	قَدِیْرٌ ۝ ع
په هر څیز باندې	قادر دې	
په هرڅه قدرت لری	

قوله تعالی:: قَالَ اللّٰهُ هٰذَا یَوْمُ یَنْفَعُ الصّٰدِقِیْنَ صِدْقُهُمْ ؕ

د محشر په ورځ کامیابیدونکی:- الله ﷻ دخپل بنده حضرت عیسی ﷺ د خبرې جواب ورکوی کله چه هغه د نصاراؤ ملحدینو او کاذبینونه خپله ویزاری بیزاره کړې وه، فرمائی ﴿ هٰذَا یَوْمُ یَنْفَعُ الصّٰدِقِیْنَ ﴾ یعنی د نن ورځ د موحدینود توحیدد ورکولو ورځ ده چه د بهیدونکو نهرونو والا په جنت کښې به وی. نه به د هغه څائ نه ویستلې شی او نه به د یوساعت د پاره جنت پریږدی. حضور ﷺ فرمائیلی دی چه په دغه ورځ به رب کریم جلوه افروز وی او فرمانی به غواړئی زه د ورکولو د پاره راضی یم. خلق به د هغه رضامندی غواړی نو فرمائی به چه هم زما رضامندئی تاسو زما کور ته راکوزکړی ئې. اوغواړئی څه غواړئی. خلق به بیا د الله ﷻ رضامندی اوغواړی. فرمائی به چه گواه اوسیږئی سبحانه تعالی ستاسو نه راضی دې[1] ﴿ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ۝ ﴾ داډیره لویه کامیابی ده. ﴿ لِمِثْلِ هٰذَا فَلْیَعْمَلِ الْعٰمِلُوْنَ ۝ ﴾ عمل کونکو له هم داسې عمل پکاردې. ﴿ وَفِیْ ذٰلِكَ فَلْیَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُوْنَ ۝ ﴾ اوهم ددې کوشش خلقوله پکاردې. هغه دهرڅیز خالق دې په هرڅیز باندې متصرف اوقادردې. ټول دهغه دغلبه اوقدرت لاندې دی. د هغه نه څوک مثال شته اونه دهغه څوک برابرشته اونه امدادی. دهغه نه پلارشته نه ځوئ نه ښځه. دهغه نه بغیربل هیڅ یو الله نشته.[2]

د سورة انعام مکی سورة تفسیر

دَ سورهٔ انعام فضائل:- سورة انعام په مکه کښې په یوه شپه او په یو ځل نازل شوې. دا اویا زره فرښتو راوړې حاضرې شوې وې او تسبیح ئې لوستو. [3] اسماء بنت یزید وائی چه حضور ﷺ په ناقه باندې

---

[1] ابن ابی شیبة: ۱۵۰/۲

[2] ترمذی کتاب التفسیر القرآن باب ومن سورة المائدة : ۳۰۶۳، وسنده حسن لذاته وصححه الحاکم: ۳۱۱/۲. ووافقه الذهبی

[3] طبرانی : ۱۲۹۳۰،

Scanned with Ca

سور وو او سورة انعام نازلیدلو. ما د حضور ﷺ د ناقې واګه نیولې وه. د وحی د بوج نه ناقه (اوښه) داسې تیته شولکه چه دهغې هډوکی به مات شی(۱) ملائکو زمکه اوآسمان راګیرکړې وو. د سورة انعام د نازلیدلو نه پس حضور نبي اکرم ﷺ تسبیح لوستلې. فرمائیلې د دې سورة په مشایعت کښې فرښتو د آسمانه پورې راګیرکړې وو(۲) دفرښتو ﴿سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم﴾ په آوازونو سره په زمکه او آسمان کښې یوه هنګامه وه. حضور ﷺ هم دا تسبیح لوستلې.(۳) حضور ﷺ فرمائیل چه ټول سورة انعام هم په یو ځل نازل شویدې. د اویا زره فرښتو په تسبیح او تحمید سره نازل شویدې.(۴)

آیاتونه	سورة الانعام مکی دې	رکوع ګانې
۱۱۵	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	۲۰
	شروع کوم په نوم د الله چه ډیرمهربان زیات رحم کونکې دي	
اَلْحَمْدُ	لِلّٰهِ الَّذِيْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ	
ټول تعریف	خاص الله لره دي هغه (الله) چې پیدائې کړل آسمانونه اوزمکه اوپیدا ني کړې	
ټول تعریفونه الله ﷻ دپاره دی	هغه ذات چې آسمانونه او زمکه ئې پیدا کړې ده .....او	
الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ؕ ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝		
تیاري	اورنړا بیا هغه کسان چې دحق نۀ ئې انکارکړې دي	درب خپل سره برابروی
تیاري او رنړه ئې پیدا کړې ده	بیاهم کافران (خپل بتان) د رب خپل سره برابروی	
هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰٓى اَجَلًا ؕ		
هغه ذات دي	چې ئې پیداکړئ تاسو دختې نه	بیائې مقررکړه یوه نیته دمرګ
(الله ﷻ) هغه ذات دي چې تاسوئې د ښاورې نه پیداکړئ	بیا ئې ستاسودپاره دژوندون یو نیته مقررکړه	
وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ۝ وَهُوَ اللّٰهُ		
اویوبله نیته دقیامت	مقرر ده دهغه سره بیا تاسو	شک کوئ او هم دغه الله دي
اویوه بله نیته (دقیامت) هم هغه سره مقرر ده	بیاهم تاسو شکونه کوئ	هم دغه یو الله ﷻ
فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ؕ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ		
په آسمانونو کښې	اوپه زمکه کښې هغه پوهیږی	په پټ حال ستاسو اوپه ښکاره حال ستاسو
په آسمانونو اوزمکه کښې دي	هغه ستاسو په ټولو پټو اوښکاره رازونو باندې پوهیږی	

---

۱) مجمع الزوائد : ۲۰/۷،
۲) المعجم الاوسط : ٦٤٤٣، مجمع الزوائد:۲۰/۷
۳) المعجم الاوسط : ٦٤٤٣، مجمع الزوائد:۲۰/۷
۴) المعجم الصغیر: ۸۱/۱،

Scanned with Ca

وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ ﴿٣﴾

اوپوهیږی| په هغه عملونواچی تاسوئې کوئ|

اوستاسو هرقسمه کارونه ورته ښکاره دی |

قوله تعالی: اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ثُمَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ یَعْدِلُوْنَ ﴿١﴾

دَ الله ﷻ قدرت کامله او انسان:- الله ﷻ د خپل نفس کریمه تعریف کوی چه هغه آسمانونه او زمکې پیدا کړي لکه چه بندیګانوته حمد ښائی. په ورځ کښې رڼا او په شپه کښې تیاره د خپلو بندیګانود پاره فائدې مندګرځوی. دلته دنور لفظ واحد راوړلې شویدې او ظلمات یعنی تیارې جمع راوړلې شوی دی. ځکه چه اشرف څیز هم واحد راوړلې شی. لکه چه د الله ﷻ قول دې ﴿ عَنِ الْيَمِيْنِ وَالشَّمَآئِلِ ﴾ او ﴿ وَاَنَّ هٰذَا صِرَاطِیْ مُسْتَقِیْمًا فَاتَّبِعُوْهُ ۚ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِیْلِهٖ ۚ ﴾ دلته هم یمین واحد دې او شمائل جمع دی او خپلې لارې ته ئې سبیل وئیلې واحد ئې راوړې ده او غلطو لاروته ئې سبل وئیلې جمع ئې راوړی دی. سره د دې چه بعض بندیګان کفر کوی اود هغه د پاره شریك او عدیل ګرځوی. د هغه ښځه او بچی ګرځوی. الله ﷻ د دې خبرونه منزه دې. بیا فرمائی چه هغه تاسو د خاورو نه پیدا کړئی یعنی ستاسو پلار حضرت آدم ﷺ د خاورې نه جوړ شوې وو او هم خاورې د هغه د غوښې شکل اختیار کړو. بیا هم د هغه نه خلق راپیدا شو او په مشرق او مغرب کښې خواره شو. بیا حضرت آدم ﷺ خپل وخت پوره کړو اوپه خپل مقرر وخت باندې مرګ ته راورسیدو. د روم بی لفظ اجل نه حضرت حسن بصری رحمه الله په نیز د مرګ پورې د ژوندون وخت مراد دې. او د بل لفظ اجل نه د مرګ نه پس د دوباره ژوندی کیدو وخت مراد دې. اجل خاص دانسان روان عمر دې اود اجل عام نه مراد د ټولې دنیا عمر دې. یعنی د دنیا د ختمیدو او زوال پذیرکیدو پورې او د آخرت د کور د وخت راتلوپورې.

حضرت ابن عباس ﷺ او مجاهد رحمه الله وائی چه د رومبی اجل نه مراد ددنیا موده ده او اجل مسمی نه مراد د انسان عمر تر مرګه پورې دې. لکه دا چه د الله ﷻ د دې قول نه ماخوذ دې ﴿ وَهُوَ الَّذِیْ یَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّیْلِ وَیَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ یَبْعَثُكُمْ فِیْهِ لِیُقْضٰۤى اَجَلٌ مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَیْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ یُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٦٠﴾ ﴾ یعنی هغه په شپه کښې تاسو مړه کوی او په ورځ کښې چه تاسو څه کوئی په هغې پوهیږی او په شپه کښې تاسو څه کولې نه شئی. یعنی په خوب کښې ئې چه د روح دقبض کیدو شکل کښې دې. او چه بیا رابیدارشئی نو خپلو ملګرو له لکه چه بیا واپس راشئی. او د هغه قول ﴿عنده﴾ معنی دا ده چه دغه وخت سوا د هغه نه بل څوك نه پیژنی. لکه چه یو بل ځائ کښې فرمائیلی دی چه د هغې علم هم الله ﷻ ته دې. هغه وخت د الله ﷻ نه بل څوك نه شی پیژندلې. او هم دغه شان دا د الله ﷻ قول دې چه اې نبی ﷺ تانه د قیامت باره کښې تپوس کوی چه کله به راځی؟ نو تاته د دې څه پته ده. د دې علم خو هم الله ﷻ ته دې.بیا په لاندینی آیت ارشاد دې چه تاسو دقیامت باره کښې شك کوئی، هم هغه د زمکو او آسمانونو مالك ستاسو په پټو خبرو باندې خبردار دې او په ښکاره خبرو هم. او تاسو چه څه کوئی د هغې نه ښه خبر دې. د دې آیت مفسرینو د رومبنئی فرقې جهمیه د قول نه په انکار باندې اتفاق کړیدې. او بیا د دې آیت د تفسیر متعلق د هغوی اختلاف هم دې. د جهمیه دا قول دې چه دا آیت د دې خبرې حال دې چه الله ﷻ په هرځائ کښې پخپله موجود دې، یعنی په دې عقیده سره دا خبره ښکاره کیږی چه په هرځیز کښې پخپله الله ﷻ موجود دې. صحیح قول دا دې چه په زمکو او آسمانونوکښې هم الله ﷻمنلې شی او هم د هغه عبادت کولې شی. او په آسمانونو کښې چه کومې فرښتې او زمکه کښې کوم انسانان دی ټول د هغه د الوهیت اقرار کوی. هغه ته الله ﷻ وئیلو سره رابلی خو پیریان او انسانان

Scanned with Ca

کافر د هغه نه نه ویریږی. او هم دا آیت د الله ﷻ په دې قول منطبق کیږی چه هم هغه د آسمانونو الله ﷻ دی او هم هغه د زمکو الله ﷻ دی. مطلب دا چه کوم په آسمانونو کښې دی د هغې الله ﷻ او څه چه په زمکه دی د هغې الله تعالی. دا نه چه کوم په آسمانونو او زمکو کښې دی هم هغه الله ﷻ دی. هم په دې بنا باندې حکم دې چه هغه ستاسو پټ هم پیژنی او ښکاره هم پیژنی. دوئم قول دا دی چه دینه مراد دا دی چه الله ﷻ هغه ذات دی چه په زمکه او آسمان کښې هره یوه پټه او ښکاره خبره پیژنی او د هغه قول ﴿ يَعْلَمُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ﴾ سره متعلق دی. نو د دې تقدیر هم داسې شو چه هم هغه الله ﷻ دی چه په زمکه او آسمان کښې ستاسو هره خبره پیژنی او تاسو چه څه کوئی د هغې علم لری. او دریم قول دا دی ﴿ وَهُوَاللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ ﴾ دا وقف تام دی دی نه پس بیا د خبر شروع کیږی یعنی ﴿ وَهُوَاللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ ﴾ مبتداء ده ﴿ وَفِي الْاَرْضِ ۭ يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ ﴾ خبر دی. د ابن جریر رحمه الله هم دغه مسلك دی. بیا په آخر کښې ارشاد دی چه هغه ستاسو ټول اعمالو باندې پوهیږی.

وَمَا	تَاْتِيْهِمْ	مِّنْ اٰيَةٍ	مِّنْ اٰيٰتِ	
|	اونۀ	| راځی دوئ ته |	یوه نښه	| د نښو |
| دخلقو دا حال دې چې ورته یونښه د				
رَبِّهِمْ	اِلَّا	كَانُوْا	عَنْهَا	مُعْرِضِيْنَ ۝
د رب خپل نه | مګر	| وی دوئ | دهغې نه	امخ اړونکی	| نو په تحقیق سره	| دروغ اوګنړل دوئ
خپل رب دطرفنه راشی | نو دوئ دهغې نه مخ اړوی | ..... یقینا دوئ هغه حق کتاب دروغ				
بِالْحَقِّ	لَمَّا	جَآءَهُمْ ۭ	فَسَوْفَ	يَاْتِيْهِمْ
حق	| کله چې | راغې دوئ ته |	نو زریه	| راشی دوئ ته |	خبرونه
اوګنړلو کوم چې دوئ ته راغلو | نو زرده چې دوئ ته به دهغه ځیز باره کښې خبرونه راشی				
كَانُوْا	بِهٖ	يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝	اَلَمْ يَرَوْا	كَمْ
چې وو دوئ | په هغې پورې | چې ټوقې به ئې کولې	| آیا نۀ ګوری دوئ |	چې څومره | هلاك کړی دی مونږه		
چې کوم پورې دوئ ټوقې کولې | ..... دوئ نه ګوری چې ددوئ نه				
مِنْ قَبْلِهِمْ	مِّنْ قَرْنٍ	مَّكَّنّٰهُمْ	فِي الْاَرْضِ	
| وړاندې ددوئ نه | داهل د زمانې نه	| چې قدرت ورکړې وو مونږ هغوئ ته	| په زمکه کښې	
وړاندې مونږ څومره ډلې هلاکې کړې دی | چې د هغوئ دور دوران وو | او په مخ د زمکې				
مَا	لَمْ نُمَكِّنْ	لَّكُمْ	وَاَرْسَلْنَا	السَّمَآءَ
هغه قدرت | چې نۀ دې درکړې مونږ | تاسو ته	| اولیږلې وو مونږ |	باران	| په هغوئ	
داسې طاقت ورکړې وو | چې تاسوته مونه دې درکړې | او مونږ په هغوئ باندې د پورته نه				
مِّدْرَارًا ۪	وَّجَعَلْنَا	الْاَنْهٰرَ	تَجْرِيْ	مِنْ تَحْتِهِمْ
پرلپسې په شیبوشیبو | اوروان کړی وو مونږ |	نهرونه	| چې بهیدل به |	لاندې د ونودهغوئ نه	|
درحمت بارونه اوورول | اولاندې نه مو ورته ولې بهولې | (خوچې کله نافرمانه شو)				

فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝
نوهلاك کړل مونږ هغوئ| په سبب د ګناهونو د هغوئ |اوپیدا کړل مونږ|روستو د هغوئ نه| قومونه	نور
نو مونږ هغوی د هغوی د ګناهونو په وجه هلاک کړل| اوهغوئ نه پس مو نور قومونه پیدا کړل

قوله تعالي: وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ۝

د معاندینوانجام:- د مشرکانو معاندانو باره کښې الله ﷻ خبرورکوی چه کله د الله ﷻ یو آیات دوی له راشی یعنی څه معجزه یا د الله ﷻ په وحدانیت څه واضح دلیل یا د رسول الله ﷺ د صداقت څه ښه نودا خلق د هغې نه ډډه کوی او د هغې هیڅ پرواه نه کوی. او چه کله حق خبره هغوی له راغله نو د هغې نه ئې انکار اوکړو. د دې باره کښې به هغوی ته ډیر زر معلومه شی. دا خبره د هغوی د پاره د تهدید او سخت وعید ده ځکه چه هغوی حق دروغ اوګڼلو. اوس به د تکذیب نتیجه هغوی خامخا وینی. الله ﷻ هغوی پوهه کوی او ویروی چه ړومبنوخلقو هم چه د هغوی نه په طاقت او شمیر کښې زیات وو اوپه مالونواو اولادکښې هم زیات وو. دولت او حکومت هم ورته حاصل وو. بیاهم هغوی ته څنګه سخت عذاب رسیدلې وو. ددې قسم عذاب سره تاسو هم مخ کیدې شئی. آیا هغوی نه دی لیدلی چه الله ﷻ د هغوی نه وړاندې څومره قومونه هلاک کړې دی چه په دنیا کښې ئې ډیر لوئ طاقتونه لرل. هغه شان مالونه، اولاد، عمارتونه، شان اوشوکت تاسو ته حاصل هم نه دې. د آسمان نه به مونږ د هغوی د پاره اوبه راورولې اوهغوی چرته قحط سره نه وو مخ شوی، مونږ باغونه نهرونه او چینې ورکړې وې او په دې سره مقصد هغوی له صرف وخت ورکول وو او بیا د هغوی د ګناهونو او نافرمانو په سبب هلاک کړل او د هغوی په ځای مو بیا نور قومونه آباد کړل. ړومبنی خلق خو د تلونکې ورځ په شان لاړل او قصې جوړې شوې. خود هغوی نه پس خلقو هم د هغوی په شان عمل اوکړو او په وړاندینوخلقو په شان دوی هم هلاک کړې شو.نو ای خلقو د دې خبرې نه اوویریږئ چه چرته تاسو هم داسې حالا تو سره مخ نه کړې شئی. تاسو سره د الله ﷻ کتل خو څه د هغوی نه زیات اهم کار نه دې. ستاسو رسول د چا چه تاسو تکذیب کوئی نو دې خودهغوی د رسول نه هم زیات د عزت والا دې. ځکه چه که الله ﷻ ډیر احسان او مهربانی اونه کړی نو نوتاسو خو د زیات نیولو مستحق ئې.

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ
|اوکه نازل کړې وې مونږ |په تا باندې| لیکلې کتاب |په کاغذ کښې |اومسه کړې ئې وې هغه
اوکه مونږ په تاباندې په کاغذ کښې لیکلې شوې(کتاب) راکوز کړې وې |نودوی به هغه مسح کړې وې

بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ
په لاسونو خپلو| نوخامخابه وئیلې|هغه کسانو	چې انکار ئې کړې دې دحق نه| چې نۀ دې دا
په خپلولاسونو| نوځوک چې حق نه منی |نو هغوئ به بیاهم دا وئیلې |چې دا قران چه تا ورته پیش کړې دې

اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝ وَقَالُوْا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۭ وَلَوْ
مګر دې| جادو |ښکاره	او وائی دوئ|اولې نازله نۀ کړې شوه| په دۀ باندې| فرشته |اوکه
ښکاره باره جادو دې| اودوی دا وائی چه په ده باندې ولې فرشته نه نازلیږی	که مونږ هغو

Scanned with Ca

اَنْزَلْنَا	مَلَكًا	لَّقُضِيَ	الْاَمْرُ	ثُمَّ	لَا
نازله کړي وي مونږه	فرشته	انوخامخا به فیصله شوي وي	کار	بیا	به نه وي
فرشته راکوزه کړي وي	نو ټوله قصه به ختمه شوي وه	اوبیا به هم ددي هومره			
يُنْظَرُوْنَ ۝۸	وَلَوْ جَعَلْنٰهُ	مَلَكًا	لَّجَعَلْنٰهُ		
ورکړي شوي مهلت	اوکه ګرځولي وي مونږ دا پیغمبر	ایوه فرشته	انوخامخا به ګرځولي وي مونږ هغه لره		
مهلت نه وو ورکړي شوي	اوکه مونږ هډو فرښته راکوزولي نودسړی په شکل به موراکوزولي				
رَجُلًا	وَّلَلَبَسْنَا	عَلَيْهِمْ	مَّا		
په شکل دسړی	اوخامخا به په شک کښې اچولی وو مونږه	دوئ لره	هغسې شک کښې		
.....	..... اودغه شان بیا به هم په شک کښې پاتې شوی وو	دوئ لکه څنګه چې			
يَلْبِسُوْنَ ۝۹	وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ	بِرُسُلٍ	مِّنْ قَبْلِكَ		
چې اوس پکښې اخته دی دوئ	اوخامخا ټوقې شوی دی	په پیغمبرانو پورې	مخکښې ستا نه		
اوس په شک کښې اخته دی	او(پیغمبره)ستانه مخکښې هم ډیرو پیغمبرانو پورې خندګانې شوی وي				
فَحَاقَ	بِالَّذِيْنَ	سَخِرُوْا	مِنْهُمْ	مَّا	كَانُوْا
نو چاپیره شو	دهغه کسانونه	اچې ټوقې به ئې کولې	په دوئ پورې	هغه عذاب	چې وو دوئ
نوآخر چې کوموخلقوټوقې کولې	په هغوئ باندې هغه عذاب واقع شو په کوم پورې چه به هغوی				
بِهٖ	يَسْتَهْزِءُوْنَ ۝۱۰ ع	قُلْ	سِيْرُوْا	فِي الْاَرْضِ	
چې په هغې پورې به ئې	ټوقې کولې	اووایه (دوئ ته)	چې اوګرځئ	په زمکه کښې	
ټوقې کولې	..... ورته اووایه چې دزمکې په مخ اوګرځئ				
ثُمَّ انْظُرُوْا	كَيْفَ	كَانَ	عَاقِبَةُ	الْمُكَذِّبِيْنَ ۝۱۱	
بیا اوګورئ	چې څنګه	وو	انجامد دروغو ګنړونکو		
اوبیااوګورئ چې چا(پیغمبران) په دروغه ګنړلی وو	دهغوئ څه حال شو				

قوله تعالی:: وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ

د مشرکانو ذ هنیت او دصفادلائلوبیان:-دمشرکانو د دښمنئ،مکابره اومنازعه خبر ورکولوسره الله ﷻ فرمائی چه که مونږ په تاسو هم څه داسې کتاب نازل کړي وي چه په کاغذونولیکلې شوي وي کوم له چه هغوی لاس هم ورلې شو، هغه ئې د آسمان نه راکوزیدونکې لیدلې نو بیا به هم دې کافرانو وئیل چه دا خو ښکاره جادو دي. ځکه چه په محسوساتوکښې دننه هم د دوی د فساد خوښونکی طبیعت تقاضا ده چه که مونږ په دوی باندې د آسمان یوه دروازه هم کولاؤ کړو او په هغې کښې دوی پورته اوخیژی نو هم دا به وائی چه زمونږ سترګې خو ړندې کړې شوی دی او په دې باندې نظر بندی شویده یا لکه چه اوفرمائیلې شو چه که د آسمان ټکړې هم راپریوتونکی اووینی نو وائی به چه د اوریځو

Scanned with Ca

تکړي دی. او بیا د هغوی دا هم وینا ده چه رسول الله ﷺ سره یوه فرښته ولي نه ده لږیدلي. نو الله ﷻ فرمائی چه که داسي وي نو بیا خو خبره ختمه ده. هغوی به فرښته لیدلو باندي هم هغه د جادو خبره کوی. نو هغوی ته به د هغه وخت په شان په نیغه لار د راتلومهلت نه شی ورکولي، زر به د الله ﷻ عذاب راشی. او فرمائی چه په کومه وزځ هغوی ملائکه هم اووینی نو بیا د مجرمانود پاره هیڅ څه نه خبرنشته. بیا په پورتنی آیات کښي ارشاد دي چه که مونږ انسان رسول سره فرښته هم نازلولی نو هغه به هم د انسان په شکل کښي هغوی ته په نظر راتله ځکه چه هغه خلقو سره خبري اوکړیشی یا د هغې نه څه فائده حاصله کړیشی. او چه کله داسي کیدل نو خبره به په هغوی باندي شك منه کیدله، لکه څنګه چه په بشری رسول کښي شك کوی. د بشری ملائکي باره کښي به هم دغه شك دوی راګیرول ځکه چه هغې به هم د انسان شکل او صورت لرلو. لکه څنګه چه یوخائ کښي فرمانیلي شوی دی چه دآسمان نه خوبه مونږ فرښتي هغه وخت نازلولي چه کله په زمکه باندي فرښتي ګرځیدي راګرځیدي او چه کله داسي نه دی نود آسمان نه به ولي نازلولي شی. دا خو د الله ﷻ د طرف نه یو رحمت دي چه کله د مخلوق طرف ته یو رسول رالیږی نو هم د هغوی نه ئي رالیږی چه یو بل سره خبري اوکړي شی اود هغه رسول نه فائده اخستل د هغه خلقو د پاره ممکن شی. لکه څنګه چه الله ﷻ فرمائیلی دی چه په مؤمنانوباندي د الله ﷻ دا احسان دي چه د هغوی رسول هم د هغوی نه یوسړي دي چه هغوی ته د الله ﷻ آیاتونه پیش کوی او هغوی پاکوی ګنی نو هغوی به فرښتي ته د هغې د نور د وجه نه نظر هم نه وو اوچت کړي نو خبره به بیا هم په هغوی شکمنه وه. او اې نبی ﷺ تانه وړاندي هم نبیانو سره دا قسم توقي مسخري کړیشوي وي. د دغه توقو مسخرو په وجه دغه قومونه هلاك شو. د دي آیت په ذریعه نبی اکرم ﷺ ته ډاډګیرنه ورکړي شوه که چرې چا ستاتکذیب اوکړو نو هیڅ پرواه مه کوه. بیا ئي مؤمنانو ته د خپل نصرت او ښه عاقبت وعده ورکړه او په آخره کښي ئي دا هم اوفرمانیل چه په دنیاکښي اوګرځئی او اوګورئی په مخکینو زمانو کښي چه چا د پیغمبرانو تکذیب کړی د هغوی د آبادو څنګه کنډرې دی او د دنیا د عقوبت هغوی ته څنګه عذاب ورکړي شو او په آخرت کښي به جدا عذاب ورکولي شی. او بیا رسولان او مؤمنان مونږه څنګه بچ کړی وو.

قُلْ	لِّمَنْ	مَّا				
	اووایه	چی د چا دی	هغه څه			
اورته اووایه چې دچا دی هغه څه						
فِي السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ؕ	قُلْ	لِّلّٰهِ ؕ	كَتَبَ		
چې په آسمانونو کښي دی	اوپه زمکه کښي دی	اووایه	اچی خاص دالله دی	الازم کړي دي الله		
چې په آسمانونو کښي دی	اوپه زمکه کښي دی	اووایه چې دا هرڅه دالله ﷻ دی	هغه په			
عَلٰى نَفْسِهِ	الرَّحْمَةَ ؕ	لَيَجْمَعَنَّكُمْ	اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ	لَا رَيْبَ		
په خان خپل	رحمت	خامخا به ضرور راجمع کوی تاسو	ورځ د قیامت ته	چی نشته شك		
خپل خان رحم کول لازم کړی دی	تاسوټول به ضرور دقیامت په ورځ یوځائي کړی	په دي کښي هیڅ شك				

Scanned with Ca

فِيهِ ط اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝۲۰
په هغې کښې|هغه کسان|چې په تاوان کښې ئې اچولی دی|خانونو خپل|نو هغوئ|ایمان نۀ راوړی په دې
نشته دې	نو چا چې خان په نقصان کښې اچولی دی	هغوئ ایمان راوړونکې نه دی .....
وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ط وَهُوَ
اوخاص هغه لره دی| هغه څه چې اوسیږی| په شپه کښې| اوپه ورځ کښې| اوهغۀ د هر څه
اود شپې په تیاره کښې اود ورځې په رڼه کښې هرڅه چې اوسیږی هغه ټول د الله ﷻ مخلوق دی| اوهغه
السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝۱۳ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا
اوریدونکې دې|اوپه هر څه پوهه دې	اووایه |چې آیا بغیر د الله نه| اونیسم	بل دوست
هرڅۀ اوری او په هرڅه پوهه دې	..... ورته اووایه چې آیا زه بغیر د الله ﷻ نه ځان دپاره بل دوست اونیسم
فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ط
چې پیدا کونکې|دې د آسمانونو |اود زمکې |اوهغه روزی ورکوی|اونۀ ورکړې کیږی هغه ته روزی
حال دادې چې هغه زمکه اوآسمانونه جوړ کړی دی| او(هرچاته)روزی ورکوی|او(دهیڅانه) روزی نه غواړی
قُلْ اِنِّيْٓ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ اَوَّلَ مَنْ
اووایه دوئ ته| چې بیشکه ماته	حکم راکړې شوې دې| چې شم زۀ	اول	هغه څوک
ورته اووایه چې ماته خودا حکم شوې دې	چه زه د هرچا نه وړاندې اسلام قبول کړم .....
اَسْلَمَ وَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝۱۴ قُلْ اِنِّيْٓ اَخَافُ اِنْ
چې غاړه ئې اینبی وی|اوچې مۀ کیږه تۀ	دمشرکانوځنی	اووایه |چې بیشکه| یریږم	که
.....او چې دمشرکانو په ډله کښې شامل نشې	.....ورته اووایه چې زه ددې خبرې نه یریږم
عَصَيْتُ رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ۝۱۵ مَنْ يُّصْرَفْ عَنْهُ
نافرمانی اوکړم زۀ|درب خپل| دعذاب	د ورځې لوئې نه| هغه څوک| چې واړولې عذاب شو|دهغه نه
که د خپل رب نافرمانی اوکړم	د لوئې ورځې دعذاب نه	څوک چې په دغه ورځ دعذاب نه بچ کړې شو
يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهٗ ط وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِيْنُ ۝۱۶
په دغه ورځ| نوپه تحقیق|رحم اوکړو الله په هغه	اودا	کامیابی ده	ښکاره
نوالله ﷻ په هغه لوئې فضل اوکړو	..... اودا لویه کامیابی ده	.....

قوله تعالي: قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ط قُلْ لِّلّٰهِ ط كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ط

هم دَ زمکې او آسمان دَ مالک بندګی کوئ :- خبر ورکولې شی چه الله تعالی (مالك السموت والارض) دې او هغه په خپل ځان باندې رحمت ضروری ګرځولې دې. حضور ﷺ چه کله مخلوق راپیداکړو نو په لوح

محفوظ کښې اولیکل چه زمارحمت به په غضب باندې غالب وی(۱) ارشاد دې چه هغه به یقیناد قیامت په ورځ تاسو ټول راجمع کوی. دلته لام د قسم په توګه دې نولکه چه هغه قسم خوړلې دې چه په مقرره ورځ به هغه خپل ټول بندیګان راجمع کوی. مؤمنانوته خو په هغې کښې هیڅ شك نشته ولې کافران په شك کښې پراته دی. د حضور اکرم ﷺ نه تپوس اوشوچه هلته به چینې هم وی؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه دالله قسم هلته چینې دی. د الله ﷻ نیکان بندیګان انبیاء کرام به په خپلو خپلو حوضونو باندې وی. الله ﷻ به اویازره فرښتې راولیږی د چا په لاسونوکښې چه به د اور ډنډې وی او کافران به د انبیاء کرامو د حوضونو نه شړی. (۲) دا حدیث غریب دې او په سرمدی کښې دې. حضور ﷺ فرمائیلی چه د هرنبی به یوحوض وی او زما دا امیددې چه زما په حوض به د ټولونه ډیره ګنړه وی. (۳)الله ﷻفرمائی چه هغه خلقو کوم چه د آخرت په لحاظ په نقصان کښې دی همدغه دی چه ایمان نه راوړی اود آخرت ورځې نه نه ویریږی نه. بیا ئې اوفرمائیل چه کوم مخلقو په ورځ کښې اوسیږی یا په شپه کښې هغه ټول د هغه د تصرف لاندې دی او د هغه د انتظام لاندی دی. هغه د بندیګانو خبرې اوری اود هغوی حرکتونه اود زړه رازونه پیژنی. بیا د خپل رسول ﷺ په ذریعه توحید عظیم او شرع قویم راولیږله. فرمائی چه خلق نیغې لارې ته راوړله او ورته اووایه چه آیا په آسمان او زمکه کښې د الله ﷻسوا بل څوك مالك جوړکړم. لکه څنګه چه فرمائیلی اووایه چه ای جاهلانو! آیا تاسو ماته حکم راکوئی چه د الله ﷻ سوا د بل چا عبادت اوکړم. مطلب دا چه هغه فاطر السموات والارض دې. بغیر د نمونې نه هغه زمکې او آسمانونوته وجود ورکړو. هغه پریږدم اود نورو عبادت څنګه اوکړم. هغه ټولوته رزق ورکوی او هغه ته څوك هم رزق نه ورکوی سره د دې چه هغه د بندیګانو حاجت مند نه دې چه څه غرض ئې وی لکه چه فرمائی چه پیریان او انسانان ما د خپلې بندګئی د پاره پیداکړی دی. بعضو لابطعم لوستلې یعنی هغه پخپله څه نه خوری. د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه داهل قبا یو انصاری د حضور ﷺ دعوت اوکړو. مونږ ټول هم لاړو.چه کله حضور ﷺ دخوراك نه فارغ شو نوښی فرمائیل چه د الله ﷻ شکر دې چه خوراك راکوی او پخپله څه نه خوری. په مونږ باندې احسان کوی خوراك راباندې کوی اوبه راباندې څکوی او زمونږ په برینډ بدن باندې جامې راواغوستې. مونږ الله ﷻنشو پریخودې او د نعمت کفران نه شو کولې او نه د هغه نه بې پرواه کیدیشو. هغه د ګمراهئی په بچ کړو او د زړه رونداوالې نه ئې لرې اوساتلو. په ټولو مخلوقاتو باندې مونږ نه غوره والې راکړو.(۴) اووایه ای نبی! چه ماته حکم راکړې شویدې چه د ټولو نه وړاندې مسلمان جوړشم او شرك اونه کړم. که زه د الله ﷻ نافرمانی اوکړم نود هغه لوئی ورځې د عذاب ویره ده. د قیامت په ورځ چه د چا نه عذاب اخوا شو په هغه باندې ډیر رحم اوشو او دا ډیره لویه کامیابی ده. لکه چه اوفرمائیلې شو چه د دوزخ نه لرې اوساتلې شو او جنت ته اولیږلې شو هغه ډیر کامیاب سړې دی.

وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ	بِضُرٍّ	فَلَا كَاشِفَ	لَهٗٓ	اِلَّا هُوَ ؕ	وَاِنْ يَّمْسَسْكَ
او که اورسوی تاته الله	څه ضرر	نونشته څوك لرې کونکې	دهغې	مګرهم هغه دې	اوکه اورسوی تاته
اوکه الله ﷻ درته نقصان اورسوی		نودهغه نه بغیر هیڅوك نشته چې هغه لرې کړی			.....اوکه څه

---

۱) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی﴿ ویحذرکم الله نفسه.....﴾:۷۴۰۴، صحیح مسلم: ۲۷۵۱، ترمذی : ۳۵۴۳، ابن ماجه:۴۲۹۵.

۲) ابن مردویه.

۳)ترمذی کتاب صفة القیامة باب ماجاء فی صفة الحوض:۲۴۴۳، ، المعجم الکبیر : ۶۸۸۱،

۴) حاکم :۵۴۶/۱، النسائی فی الکبری : ۱۰۳۳ الانوار للبغوی : ۱۰۳۸، وهو حدیث حسن ابن حبان: ۵۲۱۹. وهو حسن.

Scanned with Ca

بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۷﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ

څه خیر | نوهغه | په هر څه باندې | قادر دې | اوهغه کامل اختیار لرونکې دې | پورته په|

خیر درته اورسوی | نوهغه په هرڅه قدرت لری | ..... اوهغه پخپلو بندګانو باندې کامل

عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۸﴾ قُلْ اَيُّ شَيْءٍ

بندګانو خپلو | اوهغه صاحب دحکمت دې | خبردار دې | اووایه دوئ ته | چې کوم څیز |

قدرت لری | اوهغه دحکمت خاوند دې | او په هرڅه پوهه دې | .....تپوس اوکړه چې دچا

اَكْبَرُ شَهَادَةً ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ شَهِيْدٌ ۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۫

لوئ دې | په لحاظ دګواهئ سره | ورته اووایه چې الله ﷻ ګواه دې | په منځ زما او په منځ ستاسو کښې

ګواهی د ټولونه لویه ده | ورته اووایه چې الله ﷻ زما او ستاسو مینځ کښې ګواه دې

وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ

اووحی کړې شوې دې | ماته | دا قران | دپاره ددې چې زۀ اویروم تاسو | په دې سره |

اودا قران پاک ماته د وحی په ذریعه راغلې دې | چې تاسو نه په دې سره اوویروم

وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ

اوهغه څوک | چې ورته اورسی دا قران | ایا بیشکه تاسو | خامخا ګواهی کولې شئ | دا چې بیشکه

اوهرچاته چې اورسی هغه ټول (ویروم) | ښه تاسو ګنې په ربښتیا ګواهی ورکوئ | چې

مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ؕ قُلْ لَّاۤ اَشْهَدُ ۚ قُلْ اِنَّمَا

شته دالله سره | خدایان | نور | اووایه دوئ ته | نۀ کوم زۀ داګواهی | اووایه | خبره داده بله نۀ ده

دالله ﷻ سره نور خدایان هم شته | ورته اووایه چې زه دا ګواهی نشم ورکولې | ورته اووایه چې

هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ وَّاِنَّنِيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹﴾

چې هغه | معبود | یودې | اوبیشکه زۀ | بیزاره یم | دهغه څیزونونه | چې تاسو نې شریکوئ

الله ﷻ خو بل صرف یوالله دې | اوزه ستاسو د شرک کولونه بالکل بیزاره یم

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا

هغه کسان | چې ورکړې دې مونږ هغوئ ته | کتاب | پیژنی هغوئ دا خبره | لکه چې

چاته چې مونږ کتاب ورکړې دې | هغوئ دا (رسول) داسې ښه پیژنی لکه څنګه چې

يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمُ ؕ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ

پیژنی هغوئ | خامن خپل | هغه کسان | چې په نقصان کښې اچولی دی هغوئ | خانونه خپل | نوهغوئ

خپل خامن ښه پیژنی | ..... کومو کسان چه خپل خانونه په تاوان کښې اوچولی دی | نو هغوی

لَا يُؤْمِنُونَ ۝	وَمَنْ	أَظْلَمُ	مِمَّنِ	افْتَرَى	عَلَى اللَّهِ	كَذِبًا
نۀ منی دا	اوڅوك دي	ډير ظالم	دهغه چانه	چی وتړی	په الله پوري	دروغ
منونکی نه دی	اودهغه چانه لوئي ظالم څوك کیدي شی	چی په الله ﷻ باندي دروغ اوتړی				
أَوْ كَذَّبَ	بِآيَاتِهِ ۚ	إِنَّهُ	لَا يُفْلِحُ	الظَّالِمُونَ ۝		
یا دروغ اوګڼړی	ایتونه دهغه	بیشکه شان دا دي	چه نۀ مومی خلاصي	ظالمان خلق		
یاد هغه رالیږلي شوي نبیو ته دروغ اووائی	داسي ظالمان هیڅړي نشی کامیابیدي					

قوله تعالى:: وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ

د نفع او نقصان مالک هم صرف یو الله دي :- الله ﷻ خبر ورکوی چه هغه د نفع او نقصان مالك دي او هغه په خپلو مخلوقاتوکښې چه څنګه غواړی تصرف کوی. د هغه حکمت نه څوك روستوغورزونکي شته او نه د هغه قضا څوك منع کونکي شته. که هغه څه نقصان منع کړی نو څوك دجاری کولو والا نشته او که خیر جاری کړی نو څوك ئې د بندولو والا نشته. لکه چه فرمائی ﴿ مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَحْمَةٍ فَلَا مُمْسِكَ لَهَا ۖ وَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِنْ بَعْدِهِ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝﴾ یعنی الله ﷻ چه چاله کوم رحمت ورکول غواړی څوك ئې نه شی بندولې اود چانه چه ئې بند کړی هغه ته ئې څوك نه شی ورکولې. نبی کریم ﷺ به فرمائیل(اللهم لامانع لما اعطیت ولامعطی لما منعت ولاینفع ذاالجد منك الجد) ([1]) هم ددې دپاره الله ﷻ فرمائیلی دی ﴿وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ۚ﴾ یعنی الله ﷻ هغه ذات دي د چا د پاره چه د خلقو سرونه ټیټ شوی دی. په هر څیز باندې هغه غالب دي او د عظمت کبریائی او قدر اعلی په وړاندې ټول ښکته دی. د هغه په هرکار کښې حکمت دي. هغه د څیزونو د مواضع نه خبر دي که هغه څه ورکوی نو حقدار ته ئې ورکوی او چه بندوی نو د غیر حقدار نه ئې بندوی. بیا فرمائی چه د ټولونه لوئ شهادت د چا شهادت دي. بیا فرمائی چه اووایه چه الله ﷻ ستاسو اود هغوی په مینځ کښې د ګواه په حیثیت دي. اودا قرآن کریم نې زما طرف ته نازل کړې چه زه تاسو اوویروم او هغوی هم چاته چه دا قرآن وراورسی. لکه چه فرمائی ﴿ وَمَنْ يَكْفُرْ بِهِ مِنَ الْأَحْزَابِ فَالنَّارُ مَوْعِدُهُ ۚ﴾ یعنی د دې خلقو نه چه څوك کفر اختیار کړی نو دوزخ د هغوی د وعدې ځای دي او چا ته چه قرآن وراورسی نو لکه چه هغه نبی کریم ﷺ سره ملاقات اوکړو. حضور ﷺ فرمائیلی دی چه چاته زما قرآن وراورسیدو نولکه چه ما هغه ته پخپله تبلیغ اوکړو. حضور ﷺ فرمائیلی چه د الله ﷻ آیاتونه نورو ته اورسوئی چاته چه د الله ﷻ د کتاب څه آیات اورسیدو نو د الله ﷻ حکم هغه ته اورسیدو.([2]) ربیع بن انس رحمه الله فرمائی چه د رسول ﷺ په منونکی باندې لازم دی چه هغه شان دې د اسلام دعوت ورکوی لکه څنګه چه حضور ﷺ ورکولو او داسي دې ویروی لکه چه حضور ﷺ به ویرول.د الله ﷻ ارشاد دي ﴿أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَىٰ ۚ قُلْ لَا أَشْهَدُ ۚ﴾یعنی اې مشرکانو! آیاتاسو په ربښتیا سره ګواهی ورکوئي چه الله ﷻ سره بل الله ﷻ هم شته. اووایه چه داسي ګواهی خو زه نه ورکوم. لکه چه فرمائیلی شوی دی(فَإِنْ شَهِدُوا فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ) که چرې هغوی ګواهی ورکړی هم نو اې نبی ته داسي ګواهی مه ورکوه. ﴿قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ ۝﴾بیا د اهل کتابو باره کښې فرمائی چه دوی قرآن او نبی اکرم ﷺ داسي پیژنی لکه څنګه چه هغوی خپل اولاد پیژنی ځکه چه د هغوی په کتابونوکښې د مخکینو پیغمبرانو باره کښې لیکلی دی چه دا ټول پیغمبران د حضرت محمد ﷺ د

---

[1])صحیح بخاری کتاب الاذان باب الذکر بعد الصلاة : ۸٤٤، صحیح مسلم: ۵۹۳، ابوداود: ۱۵۰۵، احمد: ٤/ ۲۵۰.

[2])تفسیر عبدالرزاق: ۱۹۸/۱

وجه په وجود کښې راغلی دی. هغوی دحضرت محمد ﷺ نه په هرصفت کښې، د هغه د وطن، د هغه د هجرت، د هغه د امت د اوصافو، لنډه دا چه په خپلو کتابونوکښې دا ټولې خبرې بیا مومی. په دې وجه فرمائی ﴿اَلَّذِیْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ﴾ یعنی چه کومو خلقو خپلو خانونو ته نقصان رسولې دې همدغه خلق دی چه ایمان نه راوړی سره د یدې چه خبره واضحه ده. انبیاء کرامو د حضور ﷺ بشارتونه ورکړی دی اود پخوانې زمانې نه د هغوی ﷺ پیغمبری اودهغوی ﷺ د وجود پیښن ګوڼې ورکونکی راروان دی. ﴿وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰی عَلَی اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ بِاٰیٰتِهٖ﴾ یعنی د هغه سړی نه لوئ ظالم څوک نشته چه په الله ﷻ باندې د دروغو تهمت اولګوی چه الله ﷻ هغه پیغمبرجوړکړی رالیږلې دې او بیا د هغه نه لوئ ظالم بل څوک دې چه د الله ﷻ آیاتونه، دلیلونه دروغ اوګڼړی. ﴿اِنَّهٗ لَا یُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ﴾ دا مفتری او دروغژن به هیڅ کله خلاصې نه بیامومی.

وَیَوْمَ	نَحْشُرُهُمْ	جَمِیْعًا	ثُمَّ	نَقُوْلُ	لِلَّذِیْنَ
اوهغه ورځ	چې به راجمع کړومونږدوئ	ټول	بیا به	اووایومونږه	هغه کسانوته
اوپه کومه ورځ چې مونږ دوئ ټول راجمع کړو	.....بیا به مونږ د هغه کسانو نه تپوس اوکړو				
اَشْرَكُوْٓا	اَیْنَ	شُرَكَآؤُكُمُ	الَّذِیْنَ	كُنْتُمْ	
چې شرك ئې اختیارکړې دې	کوم ځائې دی	شریکان ستاسو	هغه	چې وئ تاسو	
چې مشرکان دی	چې ستاسو هغه جوړ کړی شریکان څه شول	چې تاسو د خپلو خانونو دپاره			
تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾	ثُمَّ	لَمْ تَكُنْ	فِتْنَتُهُمْ	اِلَّآ اَنْ	قَالُوْا
چې ګنړل به مو	بیا	به نۀ وی	عذر فتنه ددوئ	مګر دا	چې اووائی
خدایان ګرځولی وو	هغه وخت کښې به دوئ هیڅ فتنه نشی اوچتولې	خودومره به وائی چې زمونږ په الله قسم وی			
وَاللّٰهِ	رَبِّنَا	مَا كُنَّا	مُشْرِكِیْنَ ﴿۲۳﴾	اُنْظُرْ	كَیْفَ
قسم په الله	چې رب زمونږه دې	نه وؤ مونږه	مشرکان	اوګوره	څنګه ئې
چې زمونږ رب دې	چه مونږ خو هیڅرې شرک نه دې کړې	اوګوره څومره لونې دروغ په خپلو خانونو			
كَذَبُوْا	عَلٰٓی	اَنْفُسِهِمْ	وَضَلَّ	عَنْهُمْ	مَّا
دروغ اوونیل	په	خانونو خپلو باندې	اوورك شو	دهغوئ نه	هغه خدایان
چې وؤ دوئ	چې جوړول به ئې دخانه	باندې وائی	.....اودهغوئ ټول معبودان به تری بیخی ورک شی.....		
كَانُوْا	یَفْتَرُوْنَ ﴿۲۴﴾				
چې جوړول به ئې دخانه	باندې وائی				
وَمِنْهُمْ	مَّنْ	یَّسْتَمِعُ	اِلَیْكَ	وَجَعَلْنَا	عَلٰی
اوبعضې ددوئ نه	هغه څوك دی	چې غوږنیسی	تاته	اواچولی دی مونږ	په
اوپه دوئ کښې بعضې داسې دی چې ستا خبرو ته غوږ اوږدی				او مونږ دهغوئ	
قُلُوْبِهِمْ	اَكِنَّةً	اَنْ یَّفْقَهُوْهُ	وَفِیْٓ اٰذَانِهِمْ	وَقْرًا	
زړونو ددوئ باندې	پردې	چې پوهه (نۀ) شی په دې	اوپه غوږونو ددوئ کښې	درونوالې دې	
په زړونو پردې لګولی دی	چې په هیڅ نه پوهیږی	اوپه غوږونو کښې ئې کونړوالې دې			

Scanned with Ca

وَاِنْ يَّرَوْا	كُلَّ اٰيَةٍ	لَّا يُؤْمِنُوْا	بِهَا ؕ	حَتّٰٓى	اِذَا
اوکه اووینی دوئ	هرځومره ننبي	خوایمان نه راوړی	په هغي	تردي پوري	چی کله
اوکه دوی هرقسم ننبي اووینی	خودوئ په هغي ایمان نه راوړی	.....	تر دي چي کله		
جَآءُوْكَ	يُجَادِلُوْنَكَ	يَقُوْلُ	الَّذِيْنَ	كَفَرُوْٓا	اِنْ هٰذَآ
راشی دوئ تاته	جګړه کوی تاسره	وائی	هغه کسان	چی کافران شوی دی	چی نه دی دا
راشی اوجګړې درسره کوی	نوځوک چي کافران دی هغوئ	دهرڅه اوریدونه پس	دا وائی		
اِلَّآ اَسَاطِيْرُ	الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۵﴾	وَهُمْ	يَنْهَوْنَ	عَنْهُ	
مګر	قیصي دی	دپخوانو خلقو	اوهغوئ	منع کوی خلق	ددي حق قبلولو نه
چي داخو بس د پخوانو خلقو قصي دی	اوهغوئ نور خلق هم د دي	حق دین	قبلولونه منع کوی		
وَيَنْئَوْنَ	عَنْهُ ۚ	وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ	اِلَّآ	اَنْفُسَهُمْ	
او په پخپله هم لري کیږی	دهغي نه	اونه هلاکوی دوئ	مګر	ځانونه خپل	
او پخپله هم ددي نه لري ګرځی	اوپه دي طریقه دوی صرف خپل ځانونه هلاکوی	بل چاته نقصان نه رسوی			
وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۲۶﴾					
اونه پوهیږی دوئ					
اوپه دي نه پوهیږی					

قوله تعالی:: وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ اَشْرَكُوْٓا اَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِيْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ ﴿۲۲﴾

د قیامت په ورځ د مشرکانو اودهغوئ د شریکانو حال :- مونږ چه کله د قیامت په ورځ هغه ټول راجمع کړو نود هغه بتانو باره کښي به دهغوی نه تپوس کووچه الله ﷻ ئي پریخي وواوددوی عبادت ئي کولو چه هغه ستاسو بتان چرته لاړل کوم چه تاسو د الله ﷻ شریك ګرځول. د الله ﷻ قول دي ﴿ ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾ ﴾ یعنی د هغوی معذرت او احتجاج به هم دغه وی چه د الله ﷻ قسم مونږ خو مشرکان نه وو. د ابن عباس ﷺ نه روایت دي چه هغوی له یو سړي راغلو او وئی وئیل اي ابن عباس ﷺ! تا واوریده چه الله ﷻ فرمائی ﴿ وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ ﴿۲۳﴾ ﴾ خو دا به څنګه وی؟ نو ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چه کله مشرکان اووینی چه د مونږ ګذارو نه علاوه بل هیڅ څوك جنت ته نه داخلیږی نو په خپل مینځ کښي به وائی راځئی چه مونږ د شرك نه انکار اوکړو. هغوی به د خپل مشرك کیدو نه انکاراوکړی نو الله ﷻ به د هغوی په ژبو باندي مهر اولګوی نو بیا به د هغوی پښي لاسونه پخپله ګواهی ورکوی او هیڅ خبره به نه شی پټولي. نو اي سړیه! اوس خو ستا په زړه کښي څه شك پاتي نه شو.په قرآن کښي یوه داسي خبره باقی نه ده پاتي چه وضاحت غواړی خو ته نه شي پوهیدلي او تاویل اوتوجیه نه شي کولي.

حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چه دا آیت د منافقانوباره کښي نازل شوي خو دلته ته دا شك پیدا کیږی چه دا آیت خو په مکه کښي نازل شوي او مکه کښي منافقان چرته وو. نو دا د اسلام مقبول کیدلو او عام کیدلو نه پس مدینه کښي د هغوی یوه ډله پیدا شوه. د منافقانوباره کښي چه کوم آیت

Scanned with Ca

نازل شوې هغه آیت مجادله دې یعنی ﴿یَوْمَ یَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ جَمِیْعًا فَیَحْلِفُوْنَ لَهٗ﴾ چه په کومه ورځ الله ﷻ هغوی په قیامت کښې راجمع کړی نو هغوی به د الله ﷻ قسم خوری او وائی به. نو همدغه شان د هغه خلقو باره کښې اوفرمائیل چه ﴿اُنْظُرْ كَيْفَ كَذَبُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ﴾ کورنی چه هغوی سره د پوهې څنګه دروغ خبره اوکړه او چه د کومو بتانو هغوی عبادت کولو هغوی څنګه د هغې نه واوړیدل. د دې نه پس ارشاد دې چه دوی کښې بعضې ستا طرف ته غوږ ایږدی اوری خو مونږ د هغوی په زړونو پردې اچولی دی چه هغوی پوهه نه شی او د هغوی په غوږونوکښې مو کونړتوب پیدا کړې او که هغوی د الله ﷻکومه نشانی هم اووینی ایمان نه راوړی. هغوی د وحی اوریدو د پاره راځی خو دا اوریدل هغوی له هیڅ فائده نه ورکوی لکه څنګه چه الله ﷻ په یوبل مقام باندې فرمائیلی دی د دوی مثال د هغه څاروو دې چه د خپل څرونکی آواز اوری خو په مطلب نې خاوری نه پوهیږی. بیا په مذکوره آیت کښې فرمائی چه آیاتونه دلیلونه او واضحه نښې هغوی ګوری لیکن د هغوی نه عقل شته او نه د انصاف نه کاراخلی نو بیا به څه ایمان راوړی. که په هغوی کښې لږ هم د ښیګړې صلاحیت وی نو الله ﷻ به هغوی له د اوریدو توفیق ورکولواوچه کله هغوی ستاخواله راشی نو حجتونه کوی او باطلې خبرو پیش کولو سره د حق په مینځ کښې بحث مباحثه شروع کوی او وائی چه کوم څه ته د وحی په نوم پیش کوې دا خو د مخکینو خلقو د کتابونو نه نقل دی. هغوی د نبی اکرم ﷺ نه خلق بندوی او پخپله هم د هغوی ﷺ نه لرې اوسیږی .د ﴿يَنْهَوْنَ﴾ په تفسیرکښې دوه قوله دی. یو خو دا چه د حق منل او د رسول تصدیق او د قرآن د انقیاد نه خلق منع کوی او پخپله هم د هغې نه لرې اوسیږی. لکه دوه خراب کارونه کوی چه پخپله هم فائده نه اوچتوی او نور هم فائدې اوچتولو ته نه پریږدی. نو ابوطالب به هغوی بندول نو هم د هغوی متعلق دا آیت نازل شو. سعیدبن ابی هلال وائی چه دحضور ﷺ لس ترونه وو.په ښکاره د هغوی ﷺ ډیرهمدرد خوپه باطن کښې د هغوی ﷺ سخت خلاف وو. دې ټولو به د نبی کریم ﷺ د قتل نه خلق منع کول خو افسوس چه د ایمان دبرکت حاصلولو نه به پخپله محروم پاتې کیدل.ارشاد دې چه هغوی به په ناپوهۍ کښې هم خپل ځانونه هلاک کول غوښتل اوهغوی په دې خبره هډو پوهیدل نه چه هم خپل ذات ته نقصان اوضرر رسوی.

وَلَوْ تَرٰٓى	اِذْ	وُقِفُوْا	عَلَى النَّارِ		
اوکاش چې اووینې ته	څه وخت چې	ودرولې شی دوئ	په اور باندې		
اوکه چرې تاد دوئ هغه حالت اولیدو چې د دوزخ په غاړه به اودرولې شی					
فَقَالُوْا	يٰلَيْتَنَا	نُرَدُّ	وَلَا نُكَذِّبَ	بِاٰيٰتِ	
نواوبه وائی دوئ اې کاش که مونږه ابوتلې شوې واپس اودروغ اونه ګنړلې مونږه				نښې	
نووائی به چې انې کاش داسې لاز جوړه شی چې مونږ دنیا ته واپس کړې شو نود خپل رب					
رَبِّنَا	وَنَكُوْنَ	مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝	بَلْ	بَدَا	لَهُمْ مَّا
درب خپل اوشوې مونږه	د مومنانو نه	بلکه	ښکاره به شی دوئ ته	هغه حقیقت	
نښوته به دروغ نه وایو او صحیح مومنان به شو په حقیقت کښې هغوئ داخبره څکه کوی چې					
كَانُوْا	يُخْفُوْنَ	مِنْ قَبْلُ ؕ	وَلَوْ	رُدُّوْا	
چې وژ دوئ چې پټولوبه نې	مخکښې ددې نه	اوکه	واپس بوتلې شی دوئ دنیا ته		
هغوئ کوم څیز پټولو هغه ورته ښکاره شو اوکه چرې دوی دنیا ته واپس کړې شی					

Scanned with Ca

لَعَادُوْا	لِمَا	نُهُوْا	عَنْهُ
نو خامخا به بیادوباره کوی	هغه کارونه	اچی منع کړي شوي ووُدوئ	دهغې نه
نوبیابه هم هغه کارونه کوی	چې دکومود کولو نه منع شوی وو	.....	
وَاِنَّهُمْ	لَكٰذِبُوْنَ ﴿۲۸﴾	وَقَالُوْٓا	اِنْ هِيَ	اِلَّا	حَيَاتُنَا
اوبیشکه چې دوئ	خامخادروغژن دی	اووائی	چه نۀ دي ژوند	مګر	ژوندزمونږ
اودوی پاخه دروغژن دی	.....	اودوئ وائی چې بل ژوندنشته	.....	بس صرف دغه	
الدُّنْيَا	وَمَا نَحْنُ	بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿۲۹﴾	وَلَوْ	تَرٰٓى	اِذْ
ددنیادي	اونۀ یومونږ	ادوباره ژوندی کیدونکی	اوکاش	اچی اووینې تۀ	څه وخت چې
ددنیا ژوند دي	اومونږ بۀ دوباره (دقیامت په ورځ)نه پیدا کیږو	اوکه چرې ددوئ حالت اووینی کله چې			
وُقِفُوْا	عَلٰى رَبِّهِمْ ؕ	قَالَ	اَلَيْسَ	هٰذَا	بِالْحَقِّ ؕ	قَالُوْا
ودرولې شی دوئ	رب خپل ته	اوبه وائی الله	آیانۀ دي	دا	په حقه سره	اوبه وائی دوئ
به دخپل رب مخامخ اودرولې شی	نو هغه به ترې تپوس کوی	چې ولې دا ژوندون حق نه دي		نودوئ به وائی	
بَلٰى	وَرَبِّنَا ؕ	قَالَ	فَذُوْقُوا	الْعَذَابَ	بِمَا	كُنْتُمْ
هوحق دي	قسم دي په رب خپل	اوبه وائی الله	نو اوځکئ	عذاب	په سبب دهغې	چې وئ تاسو
ولې نه دي	بلکه زمونږ دي په رب قسم چه دا ژوند حق دي	نوالله ﷻ به ورته اوفرمائی			چې ښه نواوس د	
تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۰﴾ ع						
چې انکاربه موکولو						
خپل کفر په سبب عذاب اوځکئ						

قوله تعالی:: وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ فَقَالُوْا يٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِاٰيٰتِ رَبِّنَا

کافران به د قیامت په ورځ څه وائی:- الله ﷻ د کفاروحال بیانوی چه کله د قیامت په ورځ هغوی د اُور په وړاندې اودرولې شی اود هغې طوقونه او زنځیرونه اووینی نو وائی به چه افسوس چه مونږ بیا دنیا ته واپس کړې شو نودا ځل به مونږ نیك عمل کوو او د رب آیاتونه به دروغ نه ګڼړو او ایمان به راوړو. الله ﷻ فرمائی چه نه بلکه دا خبره چه د کفر تکذیب او دښمنئی کومې خبرې هغوی په خپلوزړونوکښې پټې ساتلې وې هغه اوس ښکاره شوې. سره د دې چه په دنیاکښې یا په آخرت کښې هغوی د دې انکار کړې وی لکه څنګه چه اوس اوس الله ﷻ اوفرمائیل چه د دوی حجت صرف دا دې چه مونږ مشرکان نه وو. ګوره هغوی څومره دروغ خبرې جوړې کړې او دا هم احتمال دې چه اوس په دوی باندې دا ظاهره شوه چه په دنیا کښې د رسول ﷺ صداقت پیژندلوسره چه به هغوی ایمان نه راوړلو هم هغه وخت په دغه اعتراض کونکی بحث کښې دی یعنی سره د پوهې ایمان نه راوړل. دا څیز دلته راغلو ښکاره شو. په دنیاکښې دا راز نه وو ښکاره شوې. لکه څنګه چه موسی علیه السلام فرعون ته فرمائیلی وو چه اې فرعونه ته په ښه شان سره پوهیږې چه دا هم الله ﷻ نازل کړې دي. او الله ﷻ هم فرعون اود هغه د قوم متعلق اووفرمائیل چه هغوی خو په کولو سره انکار اوکړو ولې د هغوی په زړه کښې دا یقین وو چه دا زمونږ

د طرفنه ظلم او زیاتي دي. او دا هم احتمال شته چه دي نه مراد هغه منافقان وی چه د خلقو په وړاندي به ني ایمان راوړلي وو لیکن په پته به کافر وو. دا د کافرانود هغه خبري خبر ورکولي شی چه هغوی به ني دقیامت په ورځ کوی. پدي کښي هیڅ شك نشته چه داسورت مکی دي اومنافقت دمدیني والاخلقو کښي وویاددي داطرافوپه باندچیانوکښي نو بیا په مکی سورت کښي منافقان څنګه ذکر کیدي شی. خکه چه الله ﷻ په مکی سورت کښي هم د نفاق د واقع کیدو ذکر کړي دي اوهغه سورت عنکبوت دي فرمائی ﴿وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ۝﴾ یعنی الله ﷻ د ایمان والا هم پیژنی او منافقان هم. په دي بنا باندي اووئیلي شو چه منافقان کله د آخرت په کورکښي عذاب اووینی نو کفر او نفاق پټولو پس به په دوی دا خبره ښکاره شی چه زمونږ ایمان ظاهری ایمان وو. نو چه دا اوفرمانیلي شو چه پټولوبه ني اواوس ښکاره شو نود دي مطلب دا دی چه هغوی دا کوم د دنیا طرف ته واپسی غواړی هغوی د ایمان سره د مینې او محبت په بنا باندي نه بلکه دعذاب اوقیامت ورځ په لیدوباندي چه د هغې نه اوویریدل چه اوس خو به دخپل کفر سزا ملاویږی په دي وجه د دوزخ نه وقتی توګه باندي بچ کیدلود پاره د دنیا طرف ته واپسی غواړی. اوکه هغوی بیا دنیا ته هم واپس کړي شی نو بیا به هم کفر کوی او د هغوی دا وینا چه دا خل به تکذیب نه کوو او ایماندار به اوسیږو ټول غلط دی. هغوی خو وائی چه دا کوم ژوندون دي بس هم دغه ژوند دي، څوك به بیا راوڅټولي شی. افسوس چه تاسو کتلي شوې چه هغوی د خپل رب په وړاندي څنګه ناامیده ولاړ دی. الله ﷻ فرمائی چه دا د قیامت ورځ حق ده که نه؟ هغوی به وائی چه اې الله او ستا قسم رښتوني دي. حکم به اوشی چه بیاخو د خپل کفر مزه اوڅکئی. آیا دا جادو دي که ستاسو د لیدلو طاقت نه وو.

قَدْ خَسِرَ	الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	بِلِقَآءِ اللّٰهِ ؕ		
ایقینا په نقصان کښی پریوتل اهغه کسان اچی دروغ ني اوګنړلو	ملاقات دالله سره				
ابیشکه هغه خلق نقصان کښي دی اچي خپل سره ملاقات ته دروغ وانی					
حَتّٰۤى	اِذَا جَآءَتْهُمُ	السَّاعَةُ	بَغْتَةً	قَالُوْا	يٰحَسْرَتَنَا
تردي پوري اکله چی راشی دوی ته اقیامت	اناساپه	انو اوبه وائی دوی		اې افسوس دي په مونږ باندي	
کله چي به هغه وخت ناڅاپه راشی	انو داخلق به اووائی چي ائي افسوس دي په مونږ باندي				
عَلٰى مَا	فَرَّطْنَا	فِيْهَا ۙ	وَهُمْ	يَحْمِلُوْنَ	اَوْزَارَهُمْ
په هغه څه اچی کمي کړي دي مونږه اپه هغې کښی احال داچی دوی ابه بارکړی وی اپیتی دګناهونو خپلو					
چه مونږ په دي معامله کښي څومره کوتاهی کړي ده اودخپلوګناهونوبار به ني په خپلو شاګانو باندي بار کړي وي					
عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ؕ	اَلَا	سَآءَ	مَا	يَزِرُوْنَ۝	وَمَا الْحَيٰوةُ
په شاګانوخپلو باندي اخبردار اوګورئ اخومره بددی اهغه پیتی اچی دوی ني بارکوی اونه دي ژوندي					
خبردار ډیر خراب بار ني راخستئ دي ا..... او ژوند ددي					
الدُّنْيَاۤ	اِلَّا	لَعِبٌ	وَّلَهْوٌ ؕ	وَلَلدَّارُ	الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ	لِّلَّذِيْنَ
ددنیا	امګر الوبي دی اوتماشه ده	اوخامخاڅي داستوګني	داخرت	بهتردي	دپاره دهغه خلقو	
دنیا هیڅ نه دي صرف یوه لوبه اوتماشه ده	اود آخرت ژوند د پرهیزګارانو خلقو دپاره					

Scanned with Ca

يَتَّقُوْنَ ط	اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ۝
چې بچ کیدل غواړي دنقصان نه	نو تاسو دعقل نه کارنه اخلئ
دپاره ډیر ښه دي	آیاتاسو دعقل نه کار نه اخلئ

قوله تعالي: قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ ط

د قیامت د منکرانو انجام:- د الله ﷻ دمنکرانو اود هغوی د نامرادئی او مایوسئی ذکر کیږی چه کله ناڅاپی قیامت راشی نو په خپلو خرابواعمالو به د هغوی څنګه پښیمانتیا وی او وائی چه افسوس او ارمان چه مونږ دحق خلاف کوم زیاتی کړی وو د ﴿فِيْهَا﴾ ضمیر محتمل دي چه د دنیا ژوندون او خپلو اعمالوطرفته واپسی وی او په خپلو شاګانو به ئې د خپلو ګناهونو بوج اوچت کړي وی تعجب دي چه دوی دا څومره خراب بوج اوچت کړیدي. قتاده رحمه الله ﴿يَزِرُوْنَ﴾ به ﴿يَعْمَلُوْنَ﴾ لوستلو. د ابومرزوق نه روایت دي چه کله کافران یا فاسقان د قبر نه اوچتیږی نو یو ډیر خراب شکل والا صورت به د هغه استقبال کوی. د هغه نه به ډیر خراب بوئی راځی. هغه کافر سړي به تپوس کوی چه ته څوك ئې؟ هغه صورت به ورته وائی چه ته ما نه پیژنې زه ستا د هغه خراب عمل شکل او صورت یم کوم چه به تا په دنیا کښې کولو. په دنیاکښې ډیرو ورځو پورې ته په ما سور وې اوس به زه په تا سور یم.ارشاد مبارك دي ﴿ وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ط﴾ د سدی رحمه الله نه روایت دي چه کله یو ګناهګار قبرته داخلولې شی نود هغه مخې ته یو ډیر خراب شکل راوړاندې شی، تك تور رنګ، خراب بوئی خیرنې کپړې او هغه سره په قبر کښې اوسیږی نو هغه ورته ګوری او وائی چه ستا دا مخ څومره خراب دي نو هغه بدشکل به ورته وائی چه زه ستا د بد عمل عکس یم. هم داسې وو ستا عملونه او هم داسې بدبودار وو ستا ټول کارونه. هغه به وائی چه ته څوك ئې؟ نو وئیلې به شی زه ستا عمل یم. بیا به د قیامت پورې هغه ده سره په قبر کښې اوسیږی. په قیامت کښې به هغه ده ته وائی چه د خوندونو او شهوتونو په شکل کښې ته ما په دنیا کښې اوچت کړې وې په ننۍ ورځ به ته ما اوچتوې. نو د هغه د بدو عملونو مجسمه به د هغه په شا سوره شی او هغه به د دوزخ طرف ته بوځی.(۱) هم دا د دې آیت وضاحت دي. ارشاد دي چه د دنیا اکثر ژوند لوبې ټوقې دی او د پرهیزګارانود پاره خو صرف د آخرت کور دي.

قَدْ نَعْلَمُ	اِنَّهٗ				
یقینا معلومه ده مونږ ته	بیشکه شان دادي				
انې پیغمبره مونږ ته ښه معلومه ده چې بیشکه ددوی					
لَيَحْزُنُكَ	الَّذِيْ	يَقُوْلُوْنَ	فَاِنَّهُمْ	لَا يُكَذِّبُوْنَكَ	وَلٰكِنَّ
چې خامخا خفه کوی تا	هغه خبری	چې وائی ئې دوئ	نو بیشکه دوئ	نه دروغژن کوی تا	خوليکن
په خبرو ته غمژن کیږي	خودوئ تا ته دروغژن نه نه وائی				.....بلکه
الظّٰلِمِيْنَ	بِاٰيٰتِ اللّٰهِ	يَجْحَدُوْنَ ۝	وَلَقَدْ	كُذِّبَتْ	رُسُلٌ
داظالمان	د آیتونوالله نه	انکارکوی	اوپه تحقیق سره	دروغژن بللې شوی دی	پیغمبران
ظالمان دالله ﷻ دآیتونونه انکار کوی	اوستانه مخکښې ډیرپیغمبران دروغژن ګنرلې شوی وو				

(۱) الطبری: ۳۲۸/۱۱

مِّنْ قَبْلِكَ	فَصَبَرُوْا	عَلٰى مَا	كُذِّبُوْا	وَاُوْذُوْا
وړاندې ستانه	انوصبراوکړوهغوئ	اپه هغې	چې دروغ ګنړلې شوی ووهغوئ	اوتکلیف رسولې شوې ووهغوئ ته
خو په دروغژن کولو او په تکلیف ورکولو باندې هغوئ صبر اوکړو				
حَتّٰٓى	اَتٰىهُمْ	نَصْرُنَا ۚ	وَلَا مُبَدِّلَ	لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ	وَلَقَدْ
ترهغې پورې	چې راغې هغوئ ته	مدد زمونږه	اونشته هیڅوک بدلونکې	خبرو دالله لره	اوپه تحقیق سره
تردې چې زمونږ مدد ورته اورسید و	اودالله ﷻ خبرې هیڅوک بدلولې نشی	.....	او د		
جَآءَكَ	مِنْ نَّبَاِى	الْمُرْسَلِيْنَ ۝	وَاِنْ كَانَ	كَبُرَ	عَلَيْكَ
راغلې دی تاته	دخبرونو	دپیغمبرانو نه	اوکه وی	ګران	په تاباندې
پخوانو پیغمبرانو بعضې حالات تاته رارسیدلی دی	اوکه داخبره په تاګرانه وی	چې			
اِعْرَاضُهُمْ	فَاِنِ	اسْتَطَعْتَ	اَنْ تَبْتَغِىَ	نَفَقًا	فِى الْاَرْضِ
مخ اړول ددوئ	نوکه	وس رسی ستا	چې اولټوې ته	یو سرنګ	په زمکه کښې
ددې خبرو بې رخې برداشت کړې	نو که وس دې کیږی نو په زمکه کښې یوسرنګ اولټوه				
اَوْ سُلَّمًا	فِى السَّمَآءِ	فَتَاْتِيَهُمْ	بِاٰيَةٍ ؕ	وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ
یااندرپایه	په اسمانونوکښې	نوته راوړه دوئ ته	ایوه نښه	اوکه غوښتلې الله
یااسمان ته یوپوړۍ اولګوه	او دوئ ته دیوې نښې راوړلو کوشش اوکړه	اوکه الله ﷻ غوښتل		
لَجَمَعَهُمْ	عَلَى الْهُدٰى	فَلَا تَكُوْنَنَّ	مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ۝	
نو خامخا به ئې جمع کړی وی دوئ	اپه هدایت باندې	نومه کیږه ته	د ناپوهانو نه	
نوټول به ئې په هدایت یوځائې کړی وو	.....	نودناپوهه خلقو په شان مه کیږه		
اِنَّمَا	يَسْتَجِيْبُ	الَّذِيْنَ	يَسْمَعُوْنَ ؕ	وَالْمَوْتٰى	يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ
بیشکه	قبلوی بلنه دحق	هغه کسان	چې اوری	اومړی چې دی	راپورته به کړی هغوئ لره الله
هغه څوک حق قبلوی چې هغې ته غوږ نیسی	اوپاتې شو مړی نوهغوئ خوبه الله دقبرونونه راپورته کړی				
ثُمَّ	اِلَيْهِ	يُرْجَعُوْنَ ۝			
بیا	اخاص هغه ته	به واپس وروستې شئ			
بیا به هغه ته واپس پیش کړې شی					

قوله تعالی:: وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِىَ نَفَقًا فِى الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا فِى السَّمَآءِ

د حضور ﷺ حرص چه څوک دوزخ ته لاړنه شی:- د قوم په تکذیب او مخالفت باندې الله ﷻ خپل حبیب پاک ﷺ ته تسلی ورکوی چه مونږ ته دهغوی دتکذیب اوستا دغمژن کیدوعلم دی لکه چه یو ځائ کښې ارشاددې مونږته دهغوی حرکت نښه معلوم دی ته غم مه کوه.اواوفرمائیلې شوچه که دوی ایمان رانوړی نوته ددوی په غم کښې خپل ځان ویلې کړې اوترکومې به په دوی باندې ارمان اوافسوس کوې؟

Scanned with Ca

دمکې د کفارو قلبی شهادت:- بیا ارشاد کیږی چه هغوی په حقیقت کښې تا په کذب سره نه متهم کوی بلکه د حق سره د دښمنئی په وجه د الله ﷻ د آیاتونوانکار کوی. هم د دې متعلق د حضرت علی ؓ نه روایت دې چه ابوجهل نبی کریم ﷺ ته اوونیل چه مونږ خو تادروغ نه ګڼوبلکه چه ته کوم دین وړاندې کوې هغه دروغ ګڼو نو الله ﷻ دا آیت نازل کړو(۱).

د ابویزیدمدنی رحمه الله نه روایت دې چه د نبی اکرم ﷺ او ابوجهل ملاقات اوشو. ابوجهل مصافحه اوکړه نو د هغه یوملګری اووئیل چه ته دې سړی سره مصافحه کوې؟ نو ابوجهل اوونیل د الله ﷻ قسم چه دا یقیناً نبی دې خو آیا مونږ تر اوسه پورې د عبدمناف نه ویریدلې یو؟

د ابوجهل د قصې باره کښې وئیلې شوی دی چه هغه د شپې په پټه د حضور ﷺ د قراءت اوریدو د پاره راغلو، دغه شان ابوسفیان بن صخر او اخنس بن شریق هم اود یو بل نه خبر نه وو ترسحر پورې دریواړو په پټه د حضور ﷺ نه قرآن اوریدلو. چه د ورځې رڼا شوه نو دریواړه په واپسئی کښې په یوځائ کښې ملاؤ شو. هر یو بل ته اوونیل چه ته څنګه راغلې وې. اوس ټولو فیصله اوکړه چه مونږ له د قرآن اوریدو د پاره نه دی راتلل پکار. هسې نه چه زمونږ په لیدو د قریشو خوانان هم راشی او په ازمینښت کښې پریوځی. چه کله بله شپه راغله نو هر یو دا ګمان اوکړو چه هغه دواړه به نه وی راغلې څه چه قرآن واوړو. لنډه دا چه سحر بیا د دریواړو په یوځائ ملاقات اوشو او د معاهدې په خلاف کولو سره هر یو بل ملامته کولو نو بیا ئې معاهده اوکړه چه دا څل به نه راځو. خو چه کله دریمه شپه شوه نو دریواړه بیا د حضرت ﷺ مجلس ته راغله نو بیا ئې سحر معاهده اوکړه چه بیا خو به هیڅ کله نه راځو. اوس اخنس بن شریق ابوسفیان له راغلو او وئی وئیل اې ابو حنظله! ستا څه خیال دې چه تا د حضرت محمد ﷺ نه کوم قرآن واوریدو د هغې باره کښې څه وائې؟ابوسفیان اووئیل اې ابوثعلبه! د الله ﷻ قسم ما چه کومې خبرې واوریدې هغه ښه پیژنم اودهغې چه کوم مطلب دې هغه هم پیژنم لیکن بعضې خبرې مې داسې اوریدلی دی چه د هغې مقصد او معنی باندې نه پوهیږم. نو اخنس اووئیل د الله ﷻقسم دغه حال زما هم دې. بیا اخنس د هغه ځائ نه لاړو او ابوجهل له ورغلو او وئی وئیل اې ابوالحکم! د محمد ﷺ نه چه دې څه اوریدلی دی ستا د هغې باره کښې څه رائې ده او څه دې اوریدلی دی؟ نو ابوجهل اوونیل چه مونږ او بنوعبدمناف د عزت مقام حاصلولوکښې همیشه په جنګ یو، هغوی دعوتونه اوکړل نو مونږ هم اوکړل. هغوی خیر او سخاوت اوکړو نو مونږ هم اوکړو. تردې چه مونږ خو پښې یوځائ کړې ناست یو او وئی وئیل چه مونږ سره دالله ﷻ یوپیغمبردې په هغه د آسمان نه وحی نازلیږی.نواوس مونږ دا خبره دکوم ځائ نه راوړو.د الله ﷻ قسم چه مونږ به په هغه ایمان نه راوړو اود هغه د پیغمبرئی تصدیق به نه کوو او په خپل ځان به د هغه وړاندیوالې نه منو. اخنس دې خبرې اوریدو سره لاړو.(۲)

اود دې آیت باره کښې چه هغوی تا دروغ نه ګڼړی د الله ﷻ آیاتونه دروغ ګڼړی سدی رحمه الله وائی چه د بدر په ورځ اخنس بن شریق بنی زهره ته اووئیل چه حضرت محمد ﷺ ستا خوریئې دې ته د دې خبرې زیات حقدار ئې چه د خپل خوریئی د طرف نه بندیز اوکړی که چرې هغه په حقیقت کښې نبی دې نو په نن ورځ بدرکښې تاله د هغه خلاف جنګیدل نه دی پکار. اوکه چرې هغه کاذب وی نو د خپل خوریئی نه د منع کیدلو هم ته زیات حقدار ئې چه په هغه باندې حمله مه کوه او د جنګ نه لرې شه او د هغه امداد مه کوه. ښه ده اودریږه زه ابوالحکم سره ملاویږم. که هغه په حضرت محمد ﷺ باندې غالب شو

---

۱) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة الانعام : ۳۰۶۴،

۲) ابن هشام : ۳۳۷/۱، دلائل النبوة :۲۰۶/۲

Scanned with Ca

نو ته به بغیر د نقصان نه خپل وطن ته واپس کیږي او که په دې جنګ کښې حضرت محمد ﷺ غالب شو نو تا د خپل قوم خلاف هډو جنګ نه دې کړې نو په دې وجه د جنګ د شرکت نه ولې نه منع کیږې. هم د هغه ورځ نه د هغه نوم اخنس شو ګنی د هغه نوم "ابی" وو. اوس د اخنس او ابوجهل ملاقات اوشو اخنس وئیل ابوالحکم! ښه ده ماته دا خو اوښایه چه حضرت محمد ﷺ رینبتونې دې که دروغژن؟ اوس دلته زما او ستا نه علاوه بل څوک اهل قریش نشته چه زمونږ خبره واوریدې شی. نو ابوجهل وئیل کم بختا! د الله ﷻ قسم چه حضرت محمد ﷺ خو رښتونې، چرې هم محمد ﷺ دروغ نه دی وئیلی خو خبره دا ده چه کله بنوقصی د جنهډې والا هم وی، د حج په ورځوکښې د سقایت اود کعبې د چابیانو حق هم هغه ته حاصل وی، بیا د هغه نبوت هم ټول اومنو نو د باقی قریشو د پاره څه پاتې شو. هم په دې وجه الله ﷻ اوفرمائیل چه هغوی تا دروغ نه ګنړی بلکه د الله ﷻ آیانونه دروغ ګنړی او محمد ﷺ خو هم آیت الله یعنی د الله ﷻ نښه ده.

اوداخبره چه ستانه دوړاندینورسولانوهم تکذیب شویدې.هغوی صبراوکړو هغوی ته تکلیفونه اورسولې شو تردې چه هغوی ته زمونږ امداد اورسیدلو. په دې آیت کښې نبی کریم ﷺ ته تسلی ورکړې شویده او هغوی ﷺ سره د امداد وعده کړې شویده لکه څنګه چه د نورو انبیاء کرامو امداد کړې شوې وو. تردې چه د قوم د تکذیب اود هغوی نه د سخت تکلیف د رسیدلونه پس وعده اوکړې شوه چه عاقبت ستاسو دې. په دنیاکښې هم د هغوی د پاره د الله ﷻ امداد راغلو لکه څنګه چه د آخرت نصرت حاصل شوې دې. په دې وجه اوفرمائیلې شو چه د الله ﷻ خبره نه بدلیږی اود الله ﷻ د طرف نه چه د نصرت کومه وعده شویده هغه به خامخا پوره کیږی. لکه چه اوفرمائیلې شو ﴿ وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا الْمُرْسَلِينَ ۝ إِنَّهُمْ لَهُمُ الْمَنْصُورُونَ ۝ وَإِنَّ جُنْدَنَا لَهُمُ الْغَالِبُونَ ۝ فَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ۝ وَأَبْصِرْهُمْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ۝ أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ۝ فَإِذَا نَزَلَ بِسَاحَتِهِمْ فَسَاءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِينَ ۝ وَتَوَلَّ عَنْهُمْ حَتَّىٰ حِينٍ ۝ وَأَبْصِرْ فَسَوْفَ يُبْصِرُونَ ۝ سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ۝ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ۝ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ۝﴾ بیا اوفرمائیلې شو﴿ كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي ۚ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝﴾ اوداالله ﷻ قول دې ﴿وَلَقَدْ جَاءَكَ مِنْ نَبَإِ الْمُرْسَلِينَ ۝﴾یعنی دپیغمبرانو واقعات خو تاته خودلې شوی دی اود هغوی په تاریخ کښې ستاسو د پاره اسوهٔ حسنه ده. بیا ارشاد باری تعالی دې ﴿ وَإِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ﴾ که چرې په تاباندې د هغوی اعراض کول سخت تیریږی نو ته د هغوی څه علاج کولې شې. په زمکه کښې سرنګ اوکړئی او د هغه ځایٔ نه د الله ﷻ نشانی راوړباسئی یا په آسمان باندې پاوړئی اولګوئی او اوخیژئی او د هغه ځایٔ نه څه نښه راوړئی پیش کړئی. که کولې شئی نوداسې هم اوکړئی خو دوی به چرې هم ایمان نه راوړی. که الله ﷻ ته د هغوی ایمان راوړل منظور وو نو هغوی به ئې په هدایت باندې راجمع کړې وی په دې وجه په خبره پوهه شه او ناحقه غم مه کوه او ناپوهه مه جوړیږه لکه چه الله ﷻ اوفرمائیل ﴿وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ لَآمَنَ مَنْ فِي الْأَرْضِ كُلُّهُمْ جَمِيعًا ۚ﴾ که الله ﷻ غوښتل نو د زمکې ټولو اوسیدونکو به ایمان راوړې وې او د هدایت منونکی به وو. نو الله ﷻ خبر ورکړو چه ایمان خو هغه راوړی د چا د پاره چه نیک بختی د ازل نه مقرر شوې وی. اود الله ﷻ ارشاد دې ﴿إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ ۘ﴾ ای محمد ﷺ! ستا په دعوت باندې خو به هغه خلق لبیک وائی څوک چه ستاخبره اوری اوپوهیږی. د الله ﷻ قول دې﴿ وَالْمَوْتَىٰ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ۝﴾ دا مړی به الله ﷻ بیا راپاڅوی بیا به د هغه طرف ته رجوع کوی. د "موتی" نه کافران مراد دی ځکه چه د هغوی زړونه مړه دی. په دې وجه الله ﷻ هغوی د ژوند په حالت کښې هم په مړو یاد کړل او د مړو په جوسو سره ئې تشبیه ورکړه. دا د هغوی د رسوائې او تذلیل په خاطر وو.

Scanned with Ca

وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ

|او وائی خلق | چی ولې نازله نه کړې شوه | په دۀ باندې

اودوئ وائی چې دۀ ته ولې .....

اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً

یوه نښه|دطرفه درب دهغه نه|ورته اووایه|چی بیشکه الله| قادردی |په دی| چی نازله کړی| یوه نښه

دالله ﷻ طرفه نښه نه راځی | .....ورته اووایه چې الله ﷻ دنبۍ راکوزولو پوره پوره طاقت لری

وَّلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ۝ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ

لیکن | اکثرددوئ | نۀ پوهیږی |اونشته | یو زنده ځناور | په زمکه کښی |

خو اکثر خلق په دې نه پوهیږی | .....اود زمکې په مخ هیڅ یو ساه لرونکې نشته

وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ؕ مَا

اونۀ یومارغه |چی الوزی | په دواړه وزرو خپلو | مگر |امتونه دی| په شان ستاسو| نۀ دې

اونه په هوا کښې داسې مارغان شته چې په وزرو الوزی | مگردا ټول ستاسوپشان امتونه دی

فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ۝

پریښودې مونږه کمې |په کتاب کښی | دڅه څیز | بیا |ارب خپل ته |ورجمع کړې کیږی

مونږ ددې ټولو په نصیب لیکلو کښې هیڅ کمې نه دې کړې| اوبیابه داټول خپل رب ته واپس شی

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي الظُّلُمٰتِ ؕ

اوهغه کسان | چی دروغ ګڼړی | آیتونه زمونږه | کانړه دی|اوګونګیان دی|په تیارو کښی پراتۀ دی |

اوچاچې زمونږ ایتونه دروغ اوګڼړل| هغوئ کانړه اوګونګیان او په رنګ رنګ تیرو کښې پراته دی

مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ؕ وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ

څوك چی غواړی الله | نوګمراه کوی هغه لره |اوڅوك چی غواړی | نو راونوی هغه| په لاره

الله ﷻ چې دچا باره کښې اوغواړی نوهغه ګمراه کوی | اود چا باره کښې چې اوغواړی نو هغه په

مُّسْتَقِيْمٍ ۝

نیغه

سمه لار روان کړی

قوله تعالی:: وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰٓى اَنْ يُّنَزِّلَ اٰيَةً

د معجزاتو صادریدل د الله ﷻ په مرضئ کیږی :- د مشرکانو باره کښې ارشاد کیږی چه هغوی به ونیل چه مونږ څنګه غواړودغه شان یوه نښه یاخارق عادت خبره د الله ﷻ د طرف نه په تا ولې نه نازلیږی. مثلاً په زمکه کښې چینې روانیدل وغیره. نو ارشاد کیږی چه اووایه الله ﷻ خو په دې باندې قادر دې ولې دهغه حکمت د تاخیر مقتضی دې. ځکه چه د هغوی د خوښې مطابق الله ﷻ څه نښه نازله کړی او

هغوی بیا هم ایمان رانوړی نو عذاب به پخپله په هغوی باندې نازل شی. ترمرګه پورې به هم ورته فرصت ملاؤ نشی لکه چه د مخکینو امتیانو سره او شو.اولکه چه د اهل ثمود مثال ستاسو په وړاندې دې. مونږ خو چه څه غواړو نښه ښکاره کولې شو او چه څه غواړو عذاب هم ورکولې شو.

ځناور جدا امتونه اودَ محشرورځ:- اوبیا اوفرمائیلې شو﴿وَمَامِنْ دَآبَّةٍ﴾ څرونکی او دانسې ټولونکې ځناور، الوتونکی مرغئی هم ستاسو په شان قسم قسم دی. حضرت مجاهدؒ فرمائی چه د دې ځناورو ډیر قسمونه دی د کومونومونه چه مشهور دی. قتادهؒ فرمائی چه "طیر" یو امت دې. پیریان او انسانان هم یو یو امت دې او دا امتونه هم ستاسو په شان د الله ﷻ مخلوق دې:﴿ مَافَرَّطْنَا﴾ الخ یعنی د ټولو علم الله ﷻ ته دې. چاته رزق ورکول هغه نه هیروی که هغه د اوچې وی که د لمدې. لکه چه ارشاد دې ﴿ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا﴾ هغه د دوی نومونه شمیر او مقامات پیژنی، تردې چه د هغوی د حرکتونو ئې هم احاطه کړې ده. اوفرمائی ﴿ وَكَأَيِّنْ مِنْ دَآبَّةٍ لَا تَحْمِلُ رِزْقَهَا﴾ ډیرځا لرونکی دی چه د هغوی رزق ستا په ذمه نه دې، دوی ته او تاسو ټولوته هم الله ﷻ رزق ورکوی.

د حضرت جابر بن عبدالله ﷺ نه روایت دې چه د حضرت عمر ﷺ د خلافت په زمانه کښې یو کال ملخان رانغله. هغوی تپوس اوکړو خو څه معلومات اونه شو. د هغوی خو ډیر تعلق وو نو په دې وجه ئې عراق او شام وغیره ته خلق اولیږل چه معلومه کړی چه هلته ملخان راغلی. نو د یمن د طرف نه یو سړی څه ملخان راوړل او مخکښې کیخودل. حضرت عمر ﷺ د هغې په کتو باندې دړې ځل الله اکبر اوونیل او وئی فرمائیل چه رسول الله ﷺ فرمائیلی ووچه الله ﷻ په زرګونو مخلوقات پیدا کړی په کوموکښې چه شپږه سوه سمندری دی او څلور سوه د اوچې دی. د ټولو نه مخکې به الله ﷻ دا د ملخانو مخلوق هلاک کوی. بیا به وار په وار د مخلوقاتو د هلاکت دا سلسله داسې قائمه شی لکه د منکې دانې چه ماتیږی (۱).﴿ثُمَّ إِلَى رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ﴾ یعنی دې ټولو مخلوقاتو له به بیا مرګ راشی. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د بهائمو مرګ هم د هغوی حشر کیدل دی. په دې باره کښې یو بل قول دا دې چه دابهائم به هم دقیامت په ورځ راوځتولې شی.دغه شان اوفرمائیلې شو﴿وَإِذَا الْوُحُوشُ حُشِرَتْ﴾یعنی بهائم به هم په محشر کښې راځی.

د حضرت ابوذر ﷺ نه روایت دې حضور اکرم ﷺ دوه چیلئی اولیدې چه یوه بله ئې په ښکرو باندې وهله وئی فرمائیل اې ابوذرا پوهیږې چه دوی ولې جنګ کوی. بیا حضور ﷺ اوفرمائیل الله ﷻ په دوی کښې ظالم پیژنی او په قیامت کښې به د دوی هم فیصله کوی.(۲) حضرت ابوذر ﷺ فرمائی چه حضور ﷺ مونږ ته د الوتونکې مرغئی متعلق هم علم راکړې دې.(۳) حضور ﷺ اوفرمائیل چه دا بغیر ښکرو چیلئی به د قیامت په ورځ د ښکروری چیلئی نه بدله اخلی(۴) ﴿إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ﴾باره کښې حضرت ابوذر ﷺ فرمائی چه د قیامت په ورځ به الله ﷻ بهائم ځناور او ترمرغوپورې راپیدا کړی. هریو به د بل نه خپله بدله واخلی بیا به اوفرمائی تاسو ټول خاورې شئی.

نوکافران به هم هغه وخت دا وائی﴿يَا لَيْتَنِي كُنْتُ تُرَابًا﴾ افسوس چه مونږ هم خاورې شوې وې(۵). ﴿وَالَّذِينَ

---

۱) ابویعلی فی المسند الکبیر: مجمع الزوائد:۳۲۲/۷،

۲) احمد ۱۶۲/۵،

۳) احمد: ۱۷۳/۵ .

۴) زواند مسند احمد: ۷۲/۱، مسند البزار:۳۴۴۹.

۵) حاکم :۳۱۶/۲، وهو حسن.

Scanned with Ca

كَذَّبُوا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي الظُّلُمٰتِ ؕ ﴾ یعنی چه کومو خلقو زمونږ آیاتونه دروغ ګنړلې دی هغوی د خپل جهالت کم علم او ناپوهنی په وجه د کنړو او ګونګیانو په شان دی او په تیارو کښې دی څه لیدې هم نه شی. نو اوس به داسې خلق په صحیح لار څنګه لاړشی. لکه چه الله ﷻ په سورة بقره کښې فرمانی د دوی مثال د هغه سړی په شان دې چه اور بل کړی نو د خواوشا څیزونه ورته ښکاره شی او چه هغه وخت اور مړ شی اوهغه په تیاره کښې پاتې شی اوهیڅ اونه لیدې شی.په دې وجه ئې اوفرمائیل ﴿مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ۬ وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝﴾ هغه چه څوك غواړی ګمراه ئې کړی او څوك چه غواړی نو په نیغه لار ئې کړی. هغه په خپل پیداوښ باندې د خپلې مرضئ مطابق متصرف دې.

قُلْ	اَرَءَيْتَكُمْ	اِنْ	اَتٰىكُمْ	عَذَابُ اللّٰهِ	
اورته اووایه	څه رنګې ښکاری تاسوته	که	راشی تاسو ته	عذاب دالله	
..... ورته اووایه چې فکراوکړئ که په تاسو دالله ﷻ عذاب راشی					
اَوْ اَتَتْكُمُ	السَّاعَةُ	اَغَيْرَ اللّٰهِ	تَدْعُوْنَ ۚ	اِنْ كُنْتُمْ	صٰدِقِيْنَ ۝
یا راشی تاسو ته	قیامت	آیا بغیر دالله نه بل څوك	رابلئ تاسو	که یئ تاسو	رښتینی
یاپه تاسو (ناڅاپه) آخری وخت راشی	نوآیاتاسوبه دالله ﷻ نه سوابل چاته آواز کوئ	که تاسورښتونی یئ			
بَلْ	اِيَّاهُ	تَدْعُوْنَ	فَيَكْشِفُ	مَا	تَدْعُوْنَ	اِلَيْهِ	اِنْ
بلکه	خاص هم هغه	رابلئ تاسو	ایا لرې کوی	هغه مصیبت	چې تاسو رابلئ	هغې ته	که
بلکه هغه وخت کښې تاسوصرف یو الله ته آواز کوئ	نوکه الله اوغواړی نو هغه مصیبت به درنه لرې						
شَآءَ	وَتَنْسَوْنَ	مَا	تُشْرِكُوْنَ ۝	وَلَقَدْ	اَرْسَلْنَآ
اوغواړی	اوهیروئ تاسو	هغه	چې شریك کوئ ئې تاسو	اوپه تحقیق سره	الیږلی دی مونږ (پیغمبران)
کړی اوپه داسې موقع کښې درنه خپل شریکان هیرشی	..... اومونږ لیږلو وو رسولان				
اِلٰٓى اُمَمٍ	مِّنْ قَبْلِكَ	فَاَخَذْنٰهُمْ	بِالْبَاْسَآءِ	وَالضَّرَّآءِ
ډیروقومونو ته	ورانديې ستانه	نو اونیول مونږه هغوئ	په سختوسره	او په تکلیفونوسره
ډیروقومونو ته مخکښې ستانه	بیامونږ هغوئ په سختواو مصیبتونو کښې راګیر کړل				
لَعَلَّهُمْ	يَتَضَرَّعُوْنَ ۝	فَلَوْلَآ	اِذْ	جَآءَهُمْ	بَاْسُنَا
دپاره ددې چې هغوئ	عاجزی اختیار کړی	انوولې نه وه	کله چې	راغې هغوئ ته	عذاب زمونږ
دې دپاره چې عاجزی اختیار کړی	نوهرکله چې په دوئ باندې زمونږ دطرفنه سختئ راغلې				
تَضَرَّعُوْا	وَلٰكِنْ	قَسَتْ	قُلُوْبُهُمْ	وَزَيَّنَ	لَهُمُ
چې عاجزی ئې کوې وه	لیکن	سخت شو	زړونه دهغوئ	اوښائسته کړو	هغوئ ته
نودوئ ولې عاجزی اختیار نه کړه	بلکه ددوئ زړونه سخت پاتې شو	..... اودوئ ته			

Scanned with Ca

الشَّيْطٰنُ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۴۳﴾ فَلَمَّا نَسُوْا مَا ذُكِّرُوْا
شیطان|هغه عملونه| چی وۍ|هغوئ| چی کوول به ئې |نوهرکله چی هیرکړوهغوئ|هغه کار|چی نصیحت شوې وۍ هغوئ ته
شیطان ورته د هغوی (بد علمونه) ښائسته کړل |.....نو هرکله چې دوئ نصیحتونه هیرکړل
بِهٖ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ؕ حَتّٰٓى اِذَا فَرِحُوْا
په هغې سره|نوپرانستلې مونږ|په هغوئ باندې |دروازې |دهرڅیز|تردې پورې|چی کله|خوشحاله شو
نومونږ پرې دهرقسم خوشحالو دروازې پرانیستې	.....تردې چې دوئ ته مونږ څه ورکړې وو په
بِمَآ اُوْتُوْٓا اَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً فَاِذَا هُمْ مُّبْلِسُوْنَ ﴿۴۴﴾
په هغه څه	چی ورکړې شوی ووهغوئ ته	نواونیول مونږهغوئ	اناساپه	نوبیاووهغوئ	ناامیده دخیرنه
هغې خوشاله شول	نو مونږ ناڅاپه راونیول	او دوئ بالکل حیران پاتې شو
فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا ؕ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ
نوپرې کړې شوا بیخ	دقوم	دهغه قوم| چی ظلم ئې کړې وو |او تعریف دې	الله لره	
نو دظالم قوم بیخ پرې کړې شو	.....اوټول تعریفونه الله ﷻ لره دی
رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۵﴾
چی رب دې	دمخلوقاتو	
چې دټول مخلوق پروردګار دې|

قوله تعالي: قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ

د توحید عقیده او د مکې مشرکان:- الله ﷻ په خپل مخلوق کښې د هرقسم تصرف کولو قدرت لری. نه څوك د هغه حکم بدلولې شی او نه څوك د هغه حکمت روستوغورزولې شی. که د هغه نه غوښتنه اوکړې شی او هغه اوغواړی نوقبلوی. فرمائی چه تاسو نه پیژنئی چه ناڅاپی قیامت راشی او یا د الله ﷻ عذاب نوتاسو د هغه نه علاوه بل څوك نه رابلئی ځکه چه پوهیږئی چه دا عذاب د الله ﷻ نه علاوه بل څوك نه شی واپس کولې. که تاسو غیرالله خپل رب جوړولوکښې رښتونی یئی نو ازمینښت اوکړئی اوګورئی بلکه تاسو به هم هغه الله رابلئی. بیا که هغه غواړی نو دغه عذاب به اخواکړی. په داسې وخت کښې تاسو خپل شریکان او بتان ټول هیروئی. په سمندرکښې که چرته په مشکل حال کښې راګیرشئ نود الله ﷻ نه علاوه باقی ټول شریکان هیروئی. تاسو نه وړاندې امتونوته هم مونږ پیغمبران لیږلی وو او چه کله هغوی تکذیب اوکړو نو مونږ د فقر او تنګدستئی په عذاب کښې راګیر کړل او په مرضونو او تکلیفونوکښې مو اخته کړل، دې دپاره چه هغوی هم الله ﷻ ته آواز اوکړی او هم د هغه طرف ته خشوع او خضوع اوکړی. بیا چه مونږ هغوی په عذاب کښې اخته کړو نو هغوی اثر ولې نه اخلی. خبره دا ده چه د هغوی زړونه د کانړو شوی دی هیڅ اثر پرې نه کیږی. شیطان د هغوی شرکی او د دښمنئی اعمال د هغوی د سترګو په وړاندې ښه جوړکړې پیش کړې وی. نو چه کله هغوی زمونږ تنبیه هم هیره کړی او ایمان شاته اوغورزوی نو مونږ د رزق پوره دروازې په هغوی باندې کولاؤ کړو چه هغوی نورهم په سستیاکښې پریوزی.د الله ﷻ دسیاست نه هم د الله ﷻ پناه او چه کله هغوی ددنیا په

Scanned with Ca

خوشحالوپه جاموکښې نه خائیږی اوپخپلومالونواولادونواورزقونوکښې زمونږ نه غافل شی نو ناڅاپی په هغوی باندې عذاب راځی یا مرګ راځی په دې حالت باندې هغوی د هر یو خیر نه ناامیده کیږی.

تنګدستی او خوشحالی یو ازمیښت او موقع ورکول:- حضرت حسن بصری رحمه الله فرمائی چه په چا باندې رزق زیات کړې شو هغه په دې خبره هډو غور نه کوی ځکه چه دا هم د الله ﷻ د طرف نه یو سیاست دې او په چا چه تنګ حالی وی هغه هم غور نه کوی چه د هغه ازمیښت کیږی او مهلت ورکړې شویدې. د کعبې په رب قسم کله چه د ګناهګارانو نیول مقصود وی نو په دنیاکښې هغوی خوشحاله ساتلې شی. قتاده رحمه الله فرمائی چه الله ﷻ ترهغه وخته پورې یو قوم هم نه دې رانیولی ترکومې چه ئې په خپل نعمتونوکښې ښه مست کړې نه وی. دهوکه مه خورئی فاسق او ګناهګار خلق دهوکه خوری د ﴿اَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ﴾ نه مراد دنیامزې اوخوشحالی ده. د ابن عامر نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمانیلی دی چه کله ته څوك اووینی چه د هغه د ګناه سره الله ﷻ د دنیاعیش او مزې هغه له ورکړی دی نو یقین اوکړه چه دې د الله ﷻ د روستوالئ وخت تیروی. بیا حضور ﷺ همدغه آیت اولوستلو چه کله هغه مونږ هیرکړی نو هغه له د هرقسم عیش او مزې ورکړو او چه کله هغه په دې مغروره شی او بیا زمونږ موتی کښې راشی نو د هرقسم نه ناامیده شی.(۱) حضور اکرم ﷺ به فرمانیل چه کله الله ﷻ یو قوم باقی ساتل غواړی او هغوی له ترقی ورکول غواړی نو هغه له پاك دامنی او میانه روی ورکوی او د کوم قوم نه چه خپله رشته پریکول غواړی نو هغوی له فراخی ورکوی او د خیانت دروازه په هغوی باندې کولاووی او چه کله هغوی مغروره شی نو سمدستی هغوی رانیسی. نو په دې حال کښې هغه ناامیده کینی نود هغه قوم نسیاً منسیاً شی د حمد سزاوار هم د الله ﷻ ذات دی.(۲)

قُلْ	اَرَءَيْتُمْ	اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ	سَمْعَكُمْ		
|	اووایه	آیاوینئ تاسو|	که واخلی الله	|د اوریدو طاقت ستاسو|	
|ورته اووایه چې تاسوچرې په دې خبره فکرکړې دې چې الله ستاسوغوږونه					
وَاَبْصَارَكُمْ	وَخَتَمَ	عَلٰى قُلُوْبِكُمْ	مَّنْ	اِلٰهٌ	غَيْرُ اللّٰهِ
اودلیدلوطاقت ستاسو |	اومهراولګوی|په زړونو ستاسو	|نو څوك دې |بل\) خدائې |		بې دالله نه	
اوسترګې واخلی او په زړونو درته مهر اولګوی نود الله ﷻ نه سوا بل څوك شته چې					
يَاْتِيْكُمْ	بِهٖ ؕ	اُنْظُرْ	كَيْفَ	نُصَرِّفُ	الْاٰيٰتِ
چې واپس درکړی تاسو ته| دغه قوتونه | اوګوره |		څنګه	|باربار پیش کوو مونږه |	نښې |	
دا څیزونه تاسو ته واپس راولی | .....اوګوره مونږ دوئ ته خپلې نښې په کومه کومه طریقه ښایو					
ثُمَّ	هُمْ	يَصْدِفُوْنَ ۝	قُلْ	اَرَءَيْتَكُمْ	اِنْ	اَتٰىكُمْ
بیا | دوئ	| ډډه کوی	| اووایه	|څنګه ښکاری تاسو ته|	که |	راشی تاسو ته
خوبیاهم دوئ دهغې نه ډډه کوی | ورته اووایه چې تاسو چرته فکر کړې دې که په تاسو باندې						

(۱) احمد: ۱۴۵/۴.
(۲) مسند الفردوس ۹۷/۱ ابن ابی حاتم.

Scanned with Ca

عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ۝
عذاب د الله | ناسپاپی | یا بنکاره | نه هلاکیږی | مګر | قوم | ظالمان
د الله ﷻ د طرفنه ناڅاپه یا په بنکاره عذاب راشی | نو آیا د ظالمانو نه سوا نور څوک به په کښې هلاکیږی!
وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ اِلَّا مُبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ ۚ فَمَنْ اٰمَنَ
اونه دی لیږلی مونږ | پیغمبران | مګر | زیری ورکونکی | اویرونکی | نو چاچی | ایمان راوړو
او مونږ خو رسولان په دې غرض لیږو | چې نیکانو ته زیری ورکړی | او بدان اووېروی | نو څوک دهغوئ خبره اومنی
وَاَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ۝
او اصلاح ئې اوکړه د عمل انو نشته یره | په هغوئ باندې | اونه به هغوئ | غمژن شی |
او خپله اصلاح اوکړی | .....نو په هغوئ به نه ویره وی | .....او نه به غمژن شی .....
وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا
اوهغه کسان | چې دروغ ئې اوګڼړل آیتونه زمونږه | رسیږی به هغوئ ته | عذاب | په سبب دهغې
اوڅوک چې زمونږ آیتونوته دروغ وائی | ..... نوهغوئ ته د هغوی د بدو عملونو په وجه
كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ۝
چې وو هغوئ | چې نافرمانی به ئې کوله |
عذاب رسیږی | .....

قوله تعالي: قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَخَذَ اللّٰهُ سَمْعَكُمْ وَاَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ مَّنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِهٖ ؕ

معاندینوته د حق وعظ:- رسول الله ﷺ ته ارشاد فرمائی چه دې مکذبینو معاندینوته اووایه چه څه پته درته شته چه الله ﷻ ستاسو اوریدل او لیدل بندکړی کوم چه ئې تاسو له درکړی دی لکه چه فرمائی ﴿ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ۙ ل﴾ اوداهم احتمال دې چه د اوریدو او لیدو سره هغوی د شریعت د انتفاع نه محرومه کړی اود حق خبرې نه د فاندې اخستونه هغوی رانده او کانړه شی او هم دغه مطلب وو ﴿ وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوْبِكُمْ ﴾ لکه چه فرمائی ﴿ اَمَّنْ يَّمْلِكُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ ﴾ او وئی فرمائیل ﴿ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ ﴾ یعنی که هغه ستاسو په زړونو باندې هم مهر اولګوی نو د الله ﷻ نه بغیر څوک دی چه دغه مهر مات کړی. په دې وجه اوفرمائیلي شو چه لږ شان غور اوکړئی چه مونږ خپلې خبرې څنګه په وضاحت سره بیانوو چه د دې خبرې پوره دلیل وی چه د الله ﷻ نه علاوه بل څوک رب نشته اود الله ﷻ نه بغیر چه څومره معبودان دی ټول باطل دی. د دې واضحه څیز نه پس هم هغوی د حق د تابعدارئی نه خلق منع کوی او پخپله هم منع کیږی. څه پوهیږئی که د الله ﷻ عذاب تاسو راګیرکړی چه د هغې تاسو ته څه ګمان هم نه وی چه په کتلو کتلوکښې مخامخ راشی نو آیا د دې ګمراه قوم نه علاوه به بل څوک هلاک شی. ځکه چه دا خلق الله ﷻ سره د شرک په سبب د هغه په ګرفت کښې دی خو هغه خلق به خلاصې بیامومی چه صرف د الله ﷻ عبادت کوی په هغوی باندې نه ویره شته او نه غم. لکه چه فرمائی ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ ﴾ کوموخلقو چه ایمان راوړو اوخپل ایمان ئې په شرک سره خراب نه کړو د هغوی د پاره امن او آمان دې او هغوی لارر موندونکی دی. بیا ارشاد فرمائی چه مونږ خو پیغمبران د جنت

Scanned with Ca

د زیری اود دوزخ نه د ویری د پاره لیږو. هغوی نیکانو مؤمنانو بندیګانو ته زیري ورکوی نو کفر او ګناه کونکو ته خبرداري هم ورکوی. په دې وجه اوفرمائیلي شو چه څوك د زړه نه ایمان راوړی او د نبی په تابعدارئی کښې نیك عمل اوکړی نو په هغوی باندې د راتلونکی وخت هیڅ ویره نشته اود تیرشوی وخت په نسبت هیڅ ارمان او غم نشته ځکه چه د هغوی د وړاندینو الله ﷻ مالك دې. بیا فرمائی چه کومو خلقو زمونږ آیاتونه دروغ ګنړلی هغوی به د خپل کفر او فسق په وجه عذاب سره مخ کیږی. ځکه چه هغوی د الله ﷻ د اوامرو نه آزاد جوړشوی دی اود هغه مناهی او د محارم کونکی شوی دی اود هغه حدود ئې مات کړی دی.

قُلْ	لَّآ اَقُوْلُ	لَكُمْ	عِنْدِيْ			
اووایه	نه وایم زه	تاسو ته	چې ماسره دی			
ائې پیغمبره، ورته اووایه چې تاسو زه دا نه وایم چې ماسره						
خَزَآئِنُ اللّٰهِ	وَلَآ	اَعْلَمُ الْغَيْبَ	وَلَآ اَقُوْلُ	لَكُمْ	اِنِّيْ	
خزانې د الله	اونه دا وایم اچی پوهیږم زه اپه غیبو		اونه داوایم زه	تاسوته	چی زه	
دالله ﷻ خزانې دی	اونه (درته دا وایم چه) زه په غیبو باندې پوهیږم		اونه درته دا وایم چې زه			
مَلَكٌ ۚ	اِنْ اَتَّبِعُ	اِلَّا	مَا يُوْحٰٓى	اِلَيَّ ؕ	قُلْ	هَلْ يَسْتَوِي
فرشته یم	نه کوم تابعداری زه	مګر	دهغې چې وحی کیږی	ماته	اووایه	آیا برابریدې شی
فرشته یم	زه صرف د هغې وحي تابعداری کومه چې ماته کولې شی		..... ته ورته اووایه چې آیا			
الْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ ؕ	اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ ۝	وَاَنْذِرْ	بِهِ	الَّذِيْنَ		
روند	اوبینا	نو تاسو فکر نه کوئ !	اوویروه	اپه دې وحی سره	هغه کسان	
روند اوبینا دواړه برابرکیدې شی	نوتاسو دومره فکر هم نه کوئ	ته په دې (وحی) سره	هغه کسان			
يَخَافُوْنَ	اَنْ يُّحْشَرُوْٓا	اِلٰى رَبِّهِمْ	لَيْسَ	لَهُمْ		
چې یریږی	چې جمع به کړې شی	رب خپل ته	په داسې حال کښې چې نه به وی	دپاره دهغوئ		
اوویروه چې دهغوئ په زړونو کښې دا ویره وی	چې الله ﷻ ته به داسې حال کښې پیش کیږی					
مِّنْ دُوْنِهٖ	وَلِيٌّ	وَّلَا شَفِيْعٌ	لَّعَلَّهُمْ	يَتَّقُوْنَ ۝	وَلَا	
ماسوادهغه نه	څوك دوست	اونه څوك شفاعت کونکې	شاید چې هغوئ	اویریږی دالله نه	اومنه	
چه دهغه نه بغیر بنه ئې څوك دوست نه وی	اونه به ئې څوك سفارشی وی	نودوئ ته پکاردی چې متقیان شی				
تَطْرُدِ	الَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ	رَبَّهُمْ	بِالْغَدٰوةِ	وَالْعَشِيِّ	يُرِيْدُوْنَ
شړه نه	هغه کسان	اچی رابلی	رب خپل	اپه وخت د صبا کښې	اوپه وخت د بیګاه کښې	غواړی
اوهغه کسان دځان نه لرې مه شړه	چې صبا بیګاه الله ﷻ لره یادوی		..... اوداغواړی			

وَجْهَهٗ ؕ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّمَا مِنْ حِسَابِكَ

رضا دهغه| نشته په تاباندې| دحساب دهغوئ نه| هیڅ څیز |اونشته | دحساب ستا نه |

چې الله ﷻ راضی کړی | په تاباندې دهغوئ دحساب هیڅ بوج نشته |..... او ستا د حساب

عَلَيْهِمْ مِّنْ شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ۝

په هغوئ باندې| هیڅ څیز | نوکه تا اوشړل هغوئ | نو شې به ته | دظالمانونه |

په هغوئ څه بوج نشته |.....نوکه هغوئ دخان نه اوشړې نو زیاتی کونکو کښې به شمیر شې

وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا

اودغه شان |په امتحان کښې اچولی دی مونږه|بعضې دهغوئ نه|په بعضو نوروسره|دپاره ددې چې اووائی هغوئ

اوداشان مونږ دوئ دیوبل په ذریعه په امتحان کښې اچولی دی| چې دوئ دا وینا اوکړی

اَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنْۢ بَيْنِنَا ؕ اَلَيْسَ اللّٰهُ

آیا داهغه خلق دی|چې احسان کړې دې الله| په هغوئ باندې | په منځ زمونږ کښې| آیا نه دې الله

چې آیاهغه داخلق دی چې الله ﷻ په مونږ کښې په دوی باندې مهربانه کړی دی | ..... آیا الله ﷻ

بِاَعْلَمَ بِالشّٰكِرِيْنَ ۝ وَاِذَا جَآءَكَ الَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

ښه پوهه| په شکرکونکو باندې| اوکله چې| راشی تاته |هغه کسان | چې ایمان راوړی |

شکرګزاربندګان ښه نه پیژنی | اوهرکله چې تاته هغه کسان راشی چې زمونږ په آیتونو ایمان راوړی

بِاٰيٰتِنَا فَقُلْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلٰى نَفْسِهِ

په آیتونوزمونږه|نواووایه| سلامتیاده| په تاسو | لیکلې دې |رب ستاسو| په خان خپل باندې

.....نو ته ورته وایه سلامت اوسئ| ستاسو رب په خپل خان باندې رحمت لازم کړې دې

الرَّحْمَةَ ۙ اَنَّهٗ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوْٓءًا بِجَهَالَةٍ

رحمت | بیشکه شان دادې|چاچې کړې وی | ستاسو نه |څه بد عمل | په ناپوهتیا سره |

.....تاسو کښې چې څوک په ناپوهئ سره څه ګناه اوکړی |.....

ثُمَّ تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝

بیا |توبه اوباسی | روستو دهغې نه |اونیک کړی عمل خپل | نوبیشکه چې هغه| بخښونکې مهربان دې

بیاروستوتوبه اوباسی|..... اوخپله اصلاح اوکړی | نو بیشکه الله ﷻ بخښونکې او مهربان دې

قوله تعالی: قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِيْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّيْ مَلَكٌ

د غیبو او د خزانو مالک څوک دې :- الله ﷻ فرمائی چه ای رسول ﷺ ته دوی ته اووایه چه زه د دې دعوی کله کوم چه ماسره د الله ﷻ خزانې خښې دی او نه زما د دې دعوی ده چه زه د غیبو خبرې پیژنم. د غیبوعلم خو صرف الله ﷻ ته دې. ماته په دې کښې صرف دومره معلوم دی څومره چه الله ﷻ راته

Scanned with Ca

خودلی دی او نه زه یوه فرښته یم زه خو یو بشر یم. صرف دومره ده چه زما طرف ته د الله ﷻ وحی راځی ماته هغه د دې عزت رابښلې دې او احسان ئې کړیدې. په دې وجه زه د وحی نه علاوه د بل څیز تابعداری نه کوم اود وحی د حدودو نه یوه لویشت هم بهر نه اوځم. او ورته اووایه چه بینا او نابینا دواړه برابریدې شی یعنی د حق منونکی او د دې نه ګمراه خلق دواړه یو شان کیدې شی؟ آیا تاسو په دې غور نه کوئ. لکه چه اوفرمائیلې شو، آیا هغه سړې چه په دې پوهیږی څه چه ستا طرف ته ستا د رب نه نازل شوی حق دی، په مثال د نابینا سړی کیدې شی؟

قوله تعالی: وَأَنْذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْ يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ

بیا ارشاد کیږی ای محمد ﷺ! د دې قرآن پاك په ذریعه ته هغه خلق اوویروه چاته چه د دې خبرې اندیښنه ده چه الله ﷻ ته به وړاندې کیږو. د دې خبرې ویره چه د الله ﷻ نه بغیر بل څوك ولی شته او نه به څوك د شفیع کار ورکړی. هغه خلق چه د الله ﷻ نه ویریږی اود حساب د ورځې اندیښنه لری. چاته چه دا ویره وی چه د الله ﷻ په وړاندې به اودریدل وی. په هغه ورځ د هغه د پاره نه څوك ولی شته او نه څوك شفیع چه شفاعت اوکړی او هغه د عذاب نه بچ کړی. دوی د هغه ورځې نه اوویره وه په کومه ورځ چه به د الله ﷻ نه بغیر د چاحکومت نه وی. کیدې شی چه هغوی د الله ﷻ نه اوویریږی او په دې دنیا کښې داسې عملونه اوکړی چه هغوی ته د قیامت په ورځ د عذاب نه خلاصې ورکړی اوکه ثواب ورته ملاؤ شی نو چه دوچنده ملاؤشی.

د صحابه کرامو ﷺ حفاظت د عرش والا پخپله کوی:- ارشاد دې چه کوم خلق سحر مابنام د الله ﷻ ذکرمخلصانه توګه باندې کوی نو داسې خلق د ځان نه مه اخوا کوه بلکه خپل خاص دوستان ئې ګرځوه. لکه چه اوفرمائیلې شو﴿ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ ﴾ هغه خلق سحر مابنام د خپل رب عبادت کوی او د شپې ورځې مونځونه کوی لکه چه فرمائی﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ ﴾ او ارشاد کیږی چه دا خلق دا عمل مخلصانه او د الله ﷻ د پاره ئې کوی. اوارشاد دې چه نه به د هغوی حساب ستانه اخستې شی او نه به ستا حساب د هغوی نه اخستې شی. لکه څنګه چه د نوح ﷺ قول د هغه خلقو په جواب کښې چاچه وئیلې وو ښه مونږ په تا باندې ایمان راوړو ستا منونکی خو ټول د کمې درجې خلق دی، نو نوح ﷺ فرمائیلی وو چه ماته خو علم نشته چه هغوی څه کوی که تاسو ته څه پته وی نو ټیك ده اود هغوی خبره باندې الله ﷻ خبر دې او هم هغه د هغوی حساب کونکې دې. ای نبی ﷺ! که چرې ته دوی د خپل ځان نه اخوا کړې نو د ظالمانونه به ګڼلې شې.

د حضرت ابن مسعود ﷺ نه روایت دې چه د قریشو یوه ډله د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه. هلته حضرت خباب ﷺ، حضرت صهیب ﷺ، حضرت بلال ﷺ او حضرت عمار ﷺ ناست وو نو هغه عزت دارو خلقو اووئیل ای محمد ﷺ! ستا د قوم د پاره دا خلق خوښ دی. هم دا هغه خلق دی چه تاسونږ پریخودو او الله ﷻ په دوی باندې احسان اوکړو؟ اوس مونږ د دوی په ډله کښې څنګه شامل شو او ستا تابعداری څنګه کولې شو. ته دوی د خپل خان نه اخوا کړه نو بیا به مونږ ستا تابعداری اوکړو نو دا آیت نازل شوې وو(۱). په دې موقع الله ﷻ اوفرمائیل چه دغه شان مونږ بعضو لره د بعضو په ذریعه په فتنه او ازمیښت کښې واچول. د حضور ﷺ په اطرافوکښې هغه خلقو مؤمنان ضعیفان لیدلو سره د دوی سپکاوې کړې وو. حضور ﷺ ته نې ځان له وئیلې ووچه مونږ ستا په مجلس کښې شریکیدل غواړو، دا باندچیان عرب په خپل ځان باندې زمونږ د غوره والی نه خبر دی. تاله د عربو خلق راځی مونږ ته شرم راځی چه هغه خلق مونږ د دې کمې درجې والا خلقو سره وویني. کله چه مونږ تاسو له

---

(۱) احمد: ۱/۳۲۰،

Scanned with Ca

راشو نو تاسو دا خلق د خپل ځان نه پاځوئی او چه کله مونږ تاسو نه لاړشو نو ستاسو خوښه ده چه بیا نې ځان سره کینوئ. حضور ﷺ وئیل ښه ده نو دې خلقو وئیل چه په دې معاهده باندې یو دستاویز اولیکئ. حضور ﷺ کاغذ راوغوښتو او حضرت علی ؓ نې د لیکلو د پاره راوبللو دا ضعیفان مؤمنان په ګوټ کښې ناست وو او دا آیت نازل شو چه دوی د خپل ځان نه مه اخوا کوه دوی الله ﷻ یادوی. نو نبی کریم ﷺ هغه کاغذ د حضرت علی ؓ نه واخستو او لرې نې اوغورزولو او هغه خلق نې ځان سره رانزدې کړل.(۱) دا حدیث غریب دې ځکه چه دا آیت مکی دې او اقرع بن حابس ؓ او حضرت عیینه ؓ د هجرت نه پس ایمان راوړلې دې.

حضرت سعد ؓ وائی چه دا آیت د نبی کریم ﷺ د شپږو صحابه کرامو بارې کښې نازل شویدې په کوموکښې چه حضرت عبدالله بن مسعود ؓ هم دې. مونږ به نبی کریم ﷺ ته د رسیدلو د پاره د یو بل نه وړاندې کیدو. هغوی ﷺ به مونږ ځان سره نزدې کینولو نو قریشو به وئیل چه مونږ پریږدې او دوی ځان سره نزدې کینوئ. ارشاد دې چه مونږ ازمینښت کړی دی چه څوک په دوی کښې څنګه دی. د دې ازمینښت نتیجه دا وه چه د قریشو کافرانو به وئیل چه آیا همدغه خلق دی چه په مونږ باندې د احسان کولو په ځای الله ﷻ هم په دوی احسان کړیدې. (۲)خبره دا وه چه د تبلیغ د شروع په زمانه کښې زیات خلق هغه ښځې سړی او غلامان وو چه کمزورې او د کمې درجې خلق وو په امیرانو اوسردارانو کښې ډیرو کموخلقو ایمان راوړې وو. لکه چه د نوح ؑ قوم نوح ؑ ته وئیلی وو چه مونږ خو وینو چه ستا تابعداری کمزوری او د کمې درجې خلق کوی یو ممتاز او مخوریز سړی نه کوی. او دغه شان هرقل د روم د ملك د ابوسفیان نه تپوس کړې وو چه د قوم مالداران خلق د هغه منونکی دی که غریب خلق؟ نو ابوسفیان وئیلې وو چه زیات منونکی ضعیفان او کمزوری خلق دی نو هرقل وئیلې وو چه د رسولانو منونکی او هم داسې خلق وی.(۳) مطلب دا چه د مکې مشرکانو به په هغه کمزورو خلقو پورې توقې کولې او چه وس به نې کیدو نو تکلیفونه به نې وررسول. آخر الله ﷻ د دغه خلقو ولې د خیر طرف ته لار خودنه اوکړه. د کومې خبرې طرف ته چه دغه خلقو وړاندیوالې کړیدې نو که هغه د خیر ده نو الله ﷻ مونږ ولې پریخودو. اووئیل به نې که د دې په منلوکښې خیر وو نو دوی به زمونږ نه وړاندې کیدل نه. لکه چه الله ﷻ اوفرمائیل چه کله په دوی باندې زمونږ واضحه آیاتونه تلاوت کیږی نو دا کافران مؤمنانوته وائی چه اوښائې په دواړو کښې ښه څوک دی او شریف د عزت خاوندان او دولتمند څوک دی؟ د دې په جواب کښې الله ﷻ فرمائی چه مونږ د دې نه وړاندې څومره داسې قومونه هلاك کړل چه د اوچتې درجې عزت والا شان او شوکت والا وو. او چه کومو خلقو دا وئیلی چه الله ﷻ دوی له په مونږ باندې ولې ترجیح ورکړه؟ نو د دې په جواب کښې فرمائی چه آیا الله ﷻ ربښتونی شکرګذار نیك زړه او د ښه کردار خلق نه پیژنی؟ الله ﷻ هم هغه خلقو ته توفیق ورکوی ځکه چه الله ﷻ نیکانو خلقو سره وی. په صحیح حدیث کښې دی چه الله ﷻ ستاسو صورتونو او رنګونوته نه ګوری بلکه ستاسو زړونو او ستاسو عملونوته ګوری.(۴)

د حضرت عکرمه ؓ نه د دې آیت باره کښې روایت دې چه عبرت ورکړه هغه خلقو ته چاته چه د الله

---

۱) الطبری : ۳۷۶/۱۱، .

۲) حاکم :۳۱۹/۳، وابن حبان : ۶۵۳۹، وهوحدیث حسن ، ددې اصل صحیح مسلم کتاب فضائل الصحابة باب فی فضل سعید بن ابی وقاص ؓ ۲۴۱۳ کښې موجود دې.

۳) صحیح بخاری کتاب بدء الوحی باب کیف بدء الوحی الی رسول الله ﷺ :۷ صحیح مسلم: ۱۷۷۳.

۴) صحیح مسلم کتاب البر والصلة باب تحریم ظلم المسلم وخذله واحتقاره ودمه وعرضه ومال : ۲۵۶۴، احمد:۴۳۹/۲ ابن حبان: ۳۹۴.

Scanned with Ca

ﷺپه وړاندې د راتلو اندیښنه وه چه د بنی عبدمناف یوځوشرفاء د کافرانو ابوطالب له راغله او ورته ئې اووئیل چه افسوس ستا وراره محمد ﷺ زمونږ غلامان او نوکران د خپل خان نه اخوا کړې وې خکه چه هغوی زمونږ غلامان او خادمان دی او دا خبره په مونږه ډیره سخته تیریږی. په داسې صورت کښې به مونږ د محمد ﷺ تابعداری اوکړو او د هغوی منل او تصدیق به اوکړو. ابوطالب حضور اکرم ﷺ له راغلو اود دې ذکر ئې اوکړو نو حضرت عمر بن الخطاب ﷺ اوفرمائیل ښه ده داسې هم اوکړئی معلومه به شی چه د دوی څه اراده ده او د دې نه پس به هغوی څه کوی. نو دا آیت نازل شو او تردې اوفرمائیلې شو چه ولې الله ﷻ شکر کونکی بندیګان نه پیژنی. د شکر ګذاره خلقو نه حضرت بلال ﷺ، عماربن یاسر ﷺ،سالم مولی ابی حذیفه ﷺ،د صبیح اسید آزادکړې شوې، ابن مسعود ﷺ، مقداد بن عمرو ﷺ،مسعود بن القاری ﷺ،واقدبن عبدالله حنظلی ﷺ، عمرو بن عبدعمرو ﷺ، ذوالشمالین ﷺ،مرثدبن ابی مرثد ﷺ او ابومرثد الغنوی ﷺ چه د حمزه بن عبدالمطلب حلیف وو او دا آیت د قریشو د کافرانو د سردارانو اود هغوی د حلیفانوباره کښې نازل شوې وو. کله چه دا آیت نازل شو نو حضرت عمر ﷺ پاڅیدو نبی اکرم ﷺ له راغلو اود خپلې غلطې مشورې معذرت ئې اوکړو. د الله ﷻ ارشاد اوشو چه کله زمونږ په آیانونوباندې ایمان راوړونکی ستا خواله راشی نو هغوی ته اووایه چه په تاسو دې سلامتی وی. یعنی هغوی ته سلام اوکړه او د هغوی عزت زیات کړه او د الله ﷻ د فراخه رحمت زیرې ورکړه.اوهم په دې وجه فرمائیلی شوی دی چه الله ﷻ پخپل نفس کریمه باندې رحمت واجب ګرځولې دې.اوچه څوک تاسونه په ناپوهئ کښې څه ګناه اوکړی اوبیادهغې نه پس توبه اوکړی اود همیشه دپاره دهغه ګناه نه منع شی اوارادہ اوکړی چه بیابه داسې نه کوی نو الله ﷻ غفور او رحیم دې.

د الله ﷻ د رحمت شان :- د حضرت ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمائیلی چه کله الله ﷻپه مخلوق باندې خپل تقدیر قائم کړو نو چه په عرش باندې د هغه کتاب لوح محفوظ دې په هغې کښې اولیکل زما رحمت به زما په غضب باندې غالب وی.([1]) حضور ﷺ اوفرمائیل چه کله د مخلوق باره کښې الله ﷻ د حکم نافذ کولو نه فارغ شی نو د عرش د تخت نه به کتاب راوباسی په کوم کښې چه به لیکلی وی زه ارحم الرحمین یم. بیا به یو موټې دوه مخلوق د دوزخ نه رابهر کړی چا چه به څه د خیر کار نه وی کړې اود هغوی د سترګو په مینځ په تندی به لیکلی وی عتقاءالله یعنی دا د الله ﷻآزاد کړې شوی دی. حضرت سلمان ﷺ د الله ﷻ د قول ﴿ كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ﴾ باره کښې وئیلی دی چه مونږ په تورات کښې لیکلی لیدلی دی چه الله ﷻ زمکه او آسمان پیدا کړل او خپل سل رحمتونه ئې پیدا کړل او دا ئې د مخلوق د پیدا کولو نه اول پیدا کړل. بیا ئې مخلوق پیدا کړو اود دې رحمتونونه ئې یو رحمت د مخلوق په مینځ کښې تقسیم کړو او خپل خان سره ئې یوکم سل رحمتونه کیخودل. هم د دې یورحمت په وجه خلق په خپل مینځ کښې رحمت او مینه کوی مهربانی او کرم کوی او تګ راتګ ساتی. اوښې او غوا او چیلئی هم د دې رحمت نه برخه اخستې ده او خپلو بچو سره مینه کوی او په سمندرکښې دوه ماران یو بل سره یو خای اوسیږی. د قیامت په ورځ به الله ﷻ دا ټول رحمتونه او خپل خان سره ساتلی شوی رحمتونه ټول په ګناهګارانو بندیګانو خرچ کوی. په دې مضمون کښې ډیر احادیث راغلی دی. د حضرت معاذ بن جبل ﷺ نه روایت دې چه آیا تاسو ته معلومه ده چه په بندیګانو د الله ﷻ څه حق دې؟ حق دا دې چه هم د هغه عبادت اوکړی او څوک د هغه شریک جوړ نه کړی. بیائې تپوس اوکړو چه د بندیګانو په الله ﷻ باندې څه حق دې؟ بیا ئې وئیل دا حق دې

---

[1]) صحیح بخاری کتاب التوحید باب قول الله تعالی (ویحذرکم الله نفسه) :۷۴۰۴، صحیح مسلم: ۲۷۵۱، احمد:۲/۳۱۳.

Scanned with Ca

چه الله ﷻ هغوی معاف کړی او په عذاب کښې راګیر نه کړی.(۱)

وَكَذٰلِكَ	نُفَصِّلُ	الْاٰيٰتِ	وَلِتَسْتَبِيْنَ	
اوهم دارنګې	مونږ په تفصیل سره بیانوؤ	آیتونه	اودپاره ددې چې ښکاره شی	
اومونږ دغه شان مونږ په تفصیل سره ننبې بنایو	اود دې دپاره چې د نیکانو خلقو نه			
سَبِيْلُ	الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾	قُلْ	اِنِّيْ	نُهِيْتُ	اَنْ اَعْبُدَ
لاره	دمجرمانو (دتابعدارونه)	اووایه	چې بیشکه زهٔ	منع کړې شوې یم	چې بندګی اوکړم
دمجرمانو لار بالکل ښکاره شی	ته ورته اووایه چې بیشکه زه د هغه بتانو د عبادت نه منع کړې شوې یم				
الَّذِيْنَ	تَدْعُوْنَ	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ	قُلْ ؕ	لَّاۤ اَتَّبِعُ	اَهْوَآءَكُمْ ۙ
دهغوی	چې تاسو ئې رابلئ	ماسوادالله نه	اووایه	چې نهٔ کوم زهٔ تابعداری	د خواهشاتو ستاسو
چې تاسوئې د الله نه سوا رابلئ	.....	ورته اووایه چې زه ستاسود خواهشاتوتابعداری نه کوم			
قَدْ ضَلَلْتُ	اِذًا	وَّمَاۤ اَنَا	مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۵۶﴾	
یقینا بې لارې به شم زهٔ	په دغه وخت کښې	اونهٔ به شم زهٔ	دنیغې لارې موندونکونه	
که داسې مې اوکړل نوګمراه به شم	.....	او په سمه لار به پاتې نشم		
اِنِّيْ	عَلٰى بَيِّنَةٍ	مِّنْ رَّبِّيْ	وَكَذَّبْتُمْ	بِهٖ ؕ
چې بیشکه زهٔ	په ښکاره دلیل یم	دطرف درب خپل نه	اودروغ ګنرلې دې تاسو	هغه دلیل
چې بیشکه زه دالله ﷻ دطرفنه په ښکاره دلیل باندې ولاړ یم	او تاسو هغې ته دروغ وایې			
مَا عِنْدِيْ	مَا	تَسْتَعْجِلُوْنَ	بِهٖ ؕ	اِنِ الْحُكْمُ
نشته په اختیار زما کښې	هغه	چې تاسو تلوار کوئ	هغې ته	نهٔ دې اختیار دفیصلې
اوس دهغې (عذاب) اختیار زما په لاس کښې نه دې	چې دکوم راتلو ته تاسو تلوار کوئ	فیصله صرف		
اِلَّا	لِلّٰهِ ؕ	يَقُصُّ	الْحَقَّ	وَهُوَ	خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ﴿۵۷﴾	قُلْ	لَوْ	اَنَّ
مګراالله لره دې	هغه بیانوی	حق	اوهغه	بهترین فیصله کونکې دې	اووایه	که چرې	بیشکه	
دالله ﷻ په لاس کښې ده	هغه حق خبرې بیانوی	او بهترین فیصله کونکې دې	ورته اووایه که چرې					
عِنْدِيْ	مَا	تَسْتَعْجِلُوْنَ	بِهٖ	لَقُضِيَ	الْاَمْرُ بَيْنِيْ
وې په اختیار زما کښې	هغه څیز چې تاسو تلوارکوئ	هغې ته	خامخا به شوې وه	فیصله په مینځ زما	
هغه عذاب زما په لاس کښې وې	چې د کوم راتلو ته تاسو تلوار کوئ	انوزما اوستاسو مینځ کښې به			

(۱) صحیح بخاری کتاب التوحید باب ماجاء فی دعاء النبی ﷺ امته الی توحیدالله تبارک وتعالی :۷۳۷۳، صحیح مسلم: ۳۰، ترمذی : ۲۶۴۳، ابن ماجه: ۴۲۹۶.

Scanned with Ca

وَبَيْنَكُمْ ط وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿٥٤﴾ وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ
په منځ ستاسو کښې| اواللہ| زیات عالم دې| په ظالمانوباندې| اودهغه سره دی	کنجیانې|دغیبو	
فیصله شوې وه	اواللہ ﷻ ته ظالمان ډیر ښه معلوم دی	.....اود غیبو کنجیانې خوهغه سره دی
لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ط وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ط
نه دی معلومې هغه|مګر|هغه ته |اوپوهیږی هغه|په هغه څه |چې په وچه کښې|اوپه دریاب کښې دی
دهغه نه بغیر بل چاته نه دی معلومې	اود اوچې اولوندې څیزونه ورته ښه معلوم دی	
وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِيْ ظُلُمٰتِ الْاَرْضِ
اونۀ راغورزیږی|هیڅ یوه پانړه |مګر |هغه عالم وی په هغې|اونشته یوه دانه| په تیارو کښې| دزمکې
اودونې چې یوه پانړه هم راپریوځی	نوددې علم هغه ذات سره وی	اودزمکې په تیرو کښې داسې دانه نشته
وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ ﴿٥٩﴾
اونشته لوندځیز |اونه وچ څیز| مګر	لیك دی په کتاب کښې| چې روښانه دې|
که لونده وی او که اوچه وی هرڅه دهغه په پرانیستې کتاب کښې لیکلی شوی دی		

قوله تعالی:: وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٥٥﴾

عذاب هم د اللہ ﷻ په خوښې سره نازلیږی: ارشاد دې چه څنګه وړاندې مونږ په دلیلونو او ثبوتونو د رشداوهدایت وغیره طریقه واضحه کړه دغه شان هغه آیاتو نه دکومو مخاطب چه محتاج دی په وضاحت سره بیانوی او ددې د پاره چه د مجرمانو لار کولاؤ مخې ته راشی. اې نبی ﷺ! اووایه چه کومه وحی اللہ ﷻ زما طرف ته رالیږلې ده هم په هغې باندې بصیرت لرونکې قائم یم او تاسو خو حق دروغ ګنړلې.تاسو چه کوم عذاب د پاره تندی کوئی هغه زما د لاس خبره نه ده. حکم خو صرف د اللہ ﷻچلیږی که هغه زر په تاسو عذاب راوستل اوغواړی نو زر به راشی او که هغه مهلت کول غواړی نو د خپل عظیم حکمت په وجه به تاسو ته مهلت درکړی اوهغه ته اختیار دې. په دې وجه اوفرمائیلې شو چه هغه حق طریقه اختیاروی او هغه د حکمونو او قضا فیصله کولوکښې او د بندیګانوپه مینځ کښې حکم نافذ کولوکښې په حقه دې. ته ورته اووایه که زرعذاب راوستل زما په اختیارکښې وې نو چه تاسو د کوم عذاب حقدار ئې هغه به ما په تاسو ډیر زر نازلولو او اللہ ﷻ خو د ظلم کونکونه ډیر ښه خبر دې. که چرې دا اووئیلې شی چه په دې آیت کښې او هغه حدیث کوم چه په بخاری او مسلم شریف نه ثابت دې په خپل مینځ کښې جمع او یو ځای کړې دې. یعنی هغه حدیث کوم چه د حضرت عائشه رضی اللہ عنہا نه روایت دې چه ما د رسول اللہ ﷺ نه تپوس اوکړو چه یا رسول اللہ ﷺ د احد د ورځې نه به هم په تاسو سخته ورځ تیره شوې وی نو هغوی ﷺ اوفرمائیل اې عائشه ستاسو د دې نه سخت تکلیف چه ماته راوړسیدو هغه په یوم عقبه باندې رسیدلې دې کله چه ما ابن عبدیالیل باندې خپل ځان پیش کړو نو هغه زما دعوت منظور نه کړو. زه ډیر په خفګان روان شوم. مقام قرن ثعالب ته په رسیدو باندې زما حواس ټیك شو او ما سر اوچت کړو نو اومې کتل چه یوه اوریخ په ما باندې خوره ده او په هغې کښې حضرت جبرائیل ﷺ ښکاریدو او ماته وائی اې محمد ﷺ! ستا قوم چه تاته څه اووئیل اللہ ﷻواوریدل. د غرونو ملائکه اللہ ﷻ تاسو ته رالیږلې دې د پاره چه ته څه غواړې نو دې ته حکم کوه. د غرونو ملائکې هم آواز اوکړو او سلام ئې عرض کړو چه اللہ ﷻ زه تاسو له د دې د پاره رالیږلې یم چه

Scanned with Ca

نه حکم اوکړه نو دا دواړه غرونه به ستا په قوم باندې راوغورزوم. نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زه امیدلرم چه الله ﷻ به د دې کافرانو د نسل نه داسې خلق هم راپیدا کړی چه مؤمنان به وی او هیڅ څیز به الله ﷻ سره شریك نه ګرځوی. (۱) دا د مسلم شریف الفاظ دی چه فرښتې خپل عذاب وړاندې کړو نو حضور ﷺ دوی ته د مهلت ورکولو د پاره اوفرمائیل او په عذاب کښې تاخیر کولو خواهش اوکړو. دې د پاره چه د هغوی د نسل نه مؤمنان پیدا شی.نو اوس دا شك پیدا کیږی چه په دې حدیث او د الله ﷻ په دې پورتنی قول کښې به تطابق څنګه پیدا کیږی. په مخکینی قول کښې دی چه کوم عذاب تاسو غواړې که زما په دې باندې قدرت وې نو زمونږ او ستاسو فیصله به هم په هغه وخت شوې وه او ما به هم هغه وخت په تاسو عذاب نازلولو او دلته د طاقت سره حضور ﷺ عذاب نه نازلوی.

دا شك داسې لرې کیدې شی چه آیت مبارك دلالت کوی په دې خبره باندې چه کوم عذاب هغوی طلب کوی نو په طلب کولوباندې عذاب واقع کیږی او په حدیث کښې دا ذکرنه دی چه حضور ﷺ عذاب طلب کړې وو بلکه فرښتې د خپل طرف نه د عذاب پیش کش کړې ووچه که ته غواړې نو چه دا په مکه کښې کوم دوه غرونه دی او جنوبًا شمالاً ځې دوی راګیرکړی دی په دوی باندې راوړ غورزو ولې حضور ﷺ د نرمئی او تاخیرنه د کار اخستلو خواهش ښکاره کړو.

بیاالله ﷻ ارشاددې چه د غیبوخبرې د الله ﷻ نه سوا بل څوك نه پیژنی. نبی کریم ﷺ فرمائیلی د غیبوپنځه خبرې دی او هغه دا چه اول د قیامت وخت د الله ﷻ نه سوا بل چاته نه دې معلوم. دویم د باران وریدل، دریم دا چه حمل کښې هلك دې که جینئی، څلورم دا چه صبا به کوم سړې څه کوی، پنځم دا چه یو سړی ته دا معلومه نه ده چه هغه به په کوم ځای کښې مری. الله ﷻ د دې خبرونه خبردار دې.(۲) دحضرت عمر ﷺ په حدیث کښې دی چه حضرت جبرائیل ﷺ یو ځل د اعرابی په شکل کښې د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. د ایمان احسان او اسلام باره کښې سوالونه اوکړل نو نبی کریم ﷺ د جواب په ضمن کښې فرمائیلی وو چه د پنځو څیزونوعلم د الله ﷻ نه سوا بل چاته نشته. بیا ځې آیت تلاوت کړو ﴿ إِنَّ اللَّهَ عِندَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَّاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾ اوبل قول ﴿وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ﴾ یعنی ددې علم کریم جمیع موجودات بری او بحری باندې محیط دې. د زمکې او آسمان یوه ذره د هغه نه پټه نه ده.(۳) صرصری څه ښه وینا کړې ده:﴿ فلایخفی علیه الدراما تراءی للنواظر اوتواری﴾

ترجمه:- یعنی د الله ﷻ نه یوه ذره هم پټه نه ده، که کتونکوته یو څیز کولاؤ وی که پټ.

د الله ﷻ فرمان ﴿ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا ﴾ چه کله هغه د جماداتو پورې حرکت پیژنی نو بیا به د حیواناتو خاصکر د پیریانو او انسانانو حرکتونه او عملونه به څنګه نه پیژنی او چه هغه مکلف هم دی. لکه چه فرمائی ﴿ يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ﴾ په اوچه اولمده هره یوه ونه باندې یوه فرښته موکل ده چه د پانړو پریوتو پورې یاداشات ساتی. په لوح محفوظ کتاب کښې د هرې لمدې او اوچې ، د هرې نیغې او ککې خبرې او د زمکې په تیارو کښې د یوې یوې ذرې پورې لیکلی دی. په هره ونه بلکه د ستنې په سوم باندې هم یوه فرښته مقرر ده یعنی لیکی چه کله دا تازه شوه او کله اوچه شوه. حضرت ابن عباس ﷺ اوفرمائیل چه الله ﷻ دوات پیداکړواو الواح یعنی تختئی ځې پیداکړې او په

---

(۱) صحیح بخاری کتاب بدء الخلق باب اذا قال احدکم آمین والملائکة فی السماء فوافقت ...:۳۲۳۱، صحیح مسلم: ۱۷۹۵.

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الانعام باب (وعنده مفاتح الغیب لا یعلمها الا هو) السنن الکبری:۷۷۲۸.

(۳) صحیح بخاری کتاب الایمان باب سؤال جبریل النبی ﷺ عن الایمان والاسلام....۵۰، صحیح مسلم : ۹، ترمذی : ۲۶۱۰.

Scanned with Ca

دنیاکښې کیدونکی ټول امور ئې درج کړل چه څنګه مخلوق به پیدا کیږی، رزق به ورته حلال ملاویږی که حرام، عمل به ئې نیك وی یا بد. د حضرت عمرو بن العاص ﷺ نه روایت دې چه د درې زمکې لاندې او د څلورمې د پاڅه پیریانو ښکاره کیدل غوښتل خو د هغې نور او رنړا په یوه زاویه باندې هم تاته نه شی ښکاره کیدې. دا د الله ﷻ خواتیم دی او په هرخاتم باندې یوه فرښته ده. الله ﷻ هره ورځ یوې فرښتې ته فرمانی او رالیږی چه کوم خاتم تاته حواله دې د هغې حفاظت کوه.

وَهُوَ الَّذِیْ یَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّیْلِ وَیَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ
اوهغه هغه ذات دې چې اخلی روحونه ستاسو په شپه کښې اوعالم دې په هغه چې کوئ تاسواپه ورځ کښې بیا
اوالله ﷻ هغه ذات دې چې دشپې ستاسوروحونه قبض کوی اوتاسو د ورځې چې تاسو څه کوئ د هغه په علم کښې دی ابیا
یَبْعَثُكُمْ فِیْهِ لِیُقْضٰۤى اَجَلٌ مُّسَمًّى ۚ ثُمَّ اِلَیْهِ
واپس رالیږی تاسو په هغې کښې دپاره د دې چې پوره شی نیټه مقرره بیا خاص هغه ته
تاسو(سحر) ددنیاکاروبارد پاره راپورته کوی دې دپاره چې مقرره نیټه پوره شی ..... بیا
مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ یُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۶۰﴾
واپسی ده ستاسو بیا به خبرو درکړی تاسو ته په هغه څه چې وئ تاسو چې کول به مو
تاسوټول به هغه ته واپس کیږئ اوتاسو به د هغه کارونونه خبر کړی چې کوم تاسو کړی وی
وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ وَیُرْسِلُ عَلَیْكُمْ حَفَظَةً ؕ
اوهغه اپوره قدرت لری دپاسه ادبندګانو خپلو او رالیږی هغه په تاسو باندې ساتونکی فرشتې
اوهغه په خپلو بندګانوباندې کامل قدرت لری اوستاسود نګرانئ دپاره نګرانې فرشتې رالیږی
حَتّٰۤى اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ
تردې پورې کله چې راشی یولتاسو ته مرګ نو اخلی روح دهغه فرشتې زمونږه اوهغوئ
تردې چې په تاسو کښې دچادمرګ وخت راشی زمونږرالیږلې(فرشتې)دهغه روح قبض کوی اوهغوئ
لَا یُفَرِّطُوْنَ ﴿۶۱﴾ ثُمَّ رُدُّوْۤا اِلَى اللّٰهِ مَوْلٰىهُمُ الْحَقِّ ؕ اَلَا
کمې نه کوی په کارخپل کښې ابیا اواپس بوتللې کیږی الله ته اچې کارساز دهغوئ دې حق اخبردار شئ
(پخپل کار کښې)هیڅ قسم کوتاهی نه کوی بیا بۀ داتول الله واپس شی اوهغه په حقه ددوی مولادې خبرشئ
لَهُ الْحُكْمُ ۫ وَهُوَ اَسْرَعُ الْحٰسِبِیْنَ ﴿۶۲﴾
هغه لره اختیار دفیصلې دې اوهغه ډیرتیز دې ادتولو حساب کونکو نه
چې حکم بس صرف دهغه ذات چلیږی اوهغه په حساب اخستو کښې ډیرتیزدې

قوله تعالي: وَهُوَ الَّذِیْ یَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّیْلِ وَیَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ یَبْعَثُكُمْ فِیْهِ لِیُقْضٰۤى اَجَلٌ مُّسَمًّى ۚ

دَ وړوکی مرګ اولوئې مرګ بیان:- الله ﷻ فرمائی چه هغه خپلو بندګانوته د شپې د اوده کیدو په وخت مرګ ورکوی او دا وړوکې مرګ دې لکه چه فرمائی کله چه الله ﷻ اوفرمائیل ای عیسی علیه السلام زه تاته

Scanned with Ca

مرګ درکونکې یم او خپل طرف ته تا اوچتونکې یم او فرمائی چه الله ﷻ د مرګ په وخت کښې نفسونوته مرګ ورکوی او څوک چه د خوب په حالت کښې نه مری هغه داسې نفسونه وی چه په هغوی راتلونکې مرګ بندولې شی او په هغوی باندې دوئم مرګ رالیږلې شی یعنی خوب او دا د مقرر مرګ پورې وی. په دې آیاتونوکښې ئې د دوو مرګونو ذکر کړې دې یو لوئې مرګ او دوئم وړوکې مرګ. بیا ارشاد دې چه هغه د شپې په وخت کښې تاسو ته مرګ درکوی تاسو د روزګار نه منع شئی او د ورځې په خپل روزګارکښې لګیا ئې او هغه ستاسو د ټولې ورځې اعمال پیژنی. دا یوه معترضه جمله ده چه په دې خبره باندې دلالت کوی چه د الله ﷻ علم په مخلوق باندې څنګه محیط دې. د شپې د آرام په حالت کښې او د ورځې د حرکاتو په حالت کښې. لکه چه فرمائی ﴿ سَوَآءٌ مِّنكُم مَّنْ أَسَرَّ ٱلْقَوْلَ وَمَن جَهَرَ بِهِۦ وَمَنْ هُوَ مُسْتَخْفٍۭ بِٱلَّيْلِ وَسَارِبٌۢ بِٱلنَّهَارِ ۝﴾ یعنی د پټو او ښکاره د شپې یا د ورځې د ټولو امورو هغه ته علم دې. او وئی فرمائیل ﴿وَمِن رَّحْمَتِهِۦ جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَلِتَبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝﴾ یعنی دا د الله ﷻرحمت دې چه ستاسو دپاره ئې شپه ورځ جوړه کړه، دې د پاره چه د شپې آرام اوکړئی او په ورځ کښې ګټه او خوراك اوکړئی. او وئی فرمائیل چه مونږ شپه ستاسو د پاره لباس جوړه کړه او ورځ د معاش دطلب کولو وخت. د دې د پاره په مذکوره آیت کښې فرمائی چه د شپې مو هغه مړه کوی او د ورځې چه کوم اعمال تاسو کړی وی په هغې باندې پوهیږی. بیا د دې ظاهری مرګ نه پس د ورځې بیا تاسو ژوندی کړځیدونکی راپاڅوی. حضور ﷺ فرمائی چه هرانسان سره یوه فرشته وی کله چه هغه اوده شی نو د هغه نفس اخلی او الله ﷻ ته ئې اوړی. که الله ﷻ اوفرمائی چه بند ئې کړه نو بندوی ګنی نو بیا ئې د هغه په بدن کښې واپس کوی). ﴿وَهُوَ ٱلَّذِى يَتَوَفَّىٰكُم بِٱلَّيْلِ﴾ همدغه مطلب دې. الله ﷻ فرمائی ﴿ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ﴾یعنی د هر سړی مقرر وخت پوره کیدو باندې د هغه روح الله ﷻ ته رسولې شی. الله ﷻهغه ته ښائی چه ته څه عمل کوې او بیا د هغې بدله ورکوی که خیر وی نو د خیر بدله او بد وی نو د بدو بدله. د الله ﷻ قول دې ﴿وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ﴾ یعنی هغه په هر څیز باندې غالب دې او هرڅیز د هغه طرف ته ټیټ دې. هغه په انسان باندې ملائکه مقرر کړې ده چه د هغه هر وخت حفاظت کوی. لکه چه فرمائی د انسان وړاندې روستو فرښتې وی چه د الله ﷻ په حکم سره د هغه حفاظت کوی. لکه چه فرمائی ﴿وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَٰفِظِينَ ۝﴾ او وئی فرمائیل ﴿ إِذْ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ﴾ او بیا فرمائی چه کله په تاسو کښې چاته مرګ راځی نو زمونږ ملائکې د هغه روح قبض کوی. حضرت ابن عباس﷜ نه روایت دې چه د ملك الموت ډیرې فرښتې امدادی دی چه د بدن نه روح راکاږی او کله هغه روح حلق ته راوړسی نو ملك الموت ئې قبض کړی او د دې ذکر د تفسیر په وخت کښې په آیت ﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ﴾ کښې به وړاندې راشی. بیائې اوفرمائیل ﴿وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ۝﴾یعنی هغه روح دمرګیدونکی په حفاظت کښې هیڅ کمی نه کوی. بیا دې هلته رسوی چرته چه د الله ﷻ مرضی وی. که هغه نیك وی نو په علیین کښې ځای ورکوی اوکه ګناهګار وی نو په سجین کښې چه د دوزخ طبقه ده. د الله ﷻ پناه. بیا دا ملائکې دا روحونه د خپل حق مولا طرف ته ګرځوی.

د نیک او بدروح انجام:- دلته مونږ یوحدیث ذکرکوو کوم چه حضرت ابوهریره ﷜ روایت کړې دې چه حضرت نبی اکرم ﷺ فرمائیلی دی چه مړکیدونکی له ملائکه راځی نوکه هغه سړې نیك وی نو ورته وائی چه راشه دې پاکه نفسه ته په پاك بدن کښې وې د دنیا نه کامیاب راشه. تاته د جنت دروح او ایمان زیرې دې، الله ﷻ ستانه ناراضه نه دې. کله چه دا بار بار وانی نو روح د بدن نه راوځی هغه دا واخلی او آسمان ته خیژی. د آسمان دروازه د هغه د پاره کولاویږی. تپوس کیږی څوك دې؟ وئیلې کیږی چه د فلانکی روح دې نو د آسمان فرښتې وانی چه پخیر راغلې اې پاکه روحه ته پاك بدن کښې وې

تاته پخیر راغلې او هرکلې دې. تر دې پورې چه هغوی دغه روح هغه آسمان ته یوسی کوم ځای چه الله پاك دې. اوکه هغه روح د بدکار روح وی نو ورته وائی اې په خبیث بدن کښې خبیث روحه راوځه خوار او ذلیل. تاته د حمیم او غساق زیرې دې او ستا د پاره د دغه وینو زوو او کرمو اوبو په شان نور هم عذابونه دی. دبار بارویناته پس چه کله هغه راوځی نوهغه واخلی اوآسمان ته خیژی نو دروازه کولاویږی او تپوس کیږی چه څوك دې؟ونیلې شی چه فلانکې. نوفرښتې وائی لعنت دې وی په تا اې خبیث روحه! ستا د پاره به د آسمان دروازه نه کولاویږی بیا هغه روح د ځپل قبر طرف ته واپس کولې شی.(۱) دا حدیث غریب دې او احتمال دا دې چه دا مراد وی ﴿ثُمَّ رُدُّوٓا﴾ یعنی ټول مخلوق به د قیامت په ورځ د الله طرف ته مخ کړې شی او الله ﷻ به په انصاف سره حکم اوکړی لکه چه فرمائی ﴿قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ۝ لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ﴾ اوبیا فرمائی ﴿وَحَشَرْنَاهُمْ فَلَمْ نُغَادِرْ مِنْهُمْ أَحَدًا﴾ یعنی اولین او آخرین به ټول د قیامت په ورځ راجمع کولې شی. مونږ به ټول راوځټوو څوك به هم نه پریږدو. او الله ﷻ په چا هم ظلم نه کوی. هغه د حق خاوند دې، حکم صرف د هغه چلیږی او هغه به ډیر زر د ټولوحساب اخلی.

قُلْ	مَنْ	يُنَجِّيكُمْ		
اووایه	څوك	اېچ کوی تاسو		
او	ورته اووایه	څوك دې		
مِّنْ ظُلُمَاتِ	الْبَرِّ	وَالْبَحْرِ	تَدْعُونَهُ	تَضَرُّعًا
دتیارو	دوچې نه	اودسمندرنه	اچی دعاګانې غواړئ تاسو	دهغه نه په عاجزئ سره
چې تاسو د اوچې	اوسمندر په تیرو	کښې دعذاب نه بچ کوی	چې تاسوئې په عاجزئ	
وَخُفْيَةً	لَئِنْ	أَنْجَانَا	مِنْ هَٰذِهِ	لَنَكُونَنَّ	مِنَ الشَّاكِرِينَ ۝
اوپه پټه سره	که چرې	اېچ کړو مونږه	هغه	ددې مصیبت نه	نوخامخا به شومونږه
اوپټه رابلئ	دا وائې	که مونږ ته ئې ددې	عذاب نه نجات راکړونو	مونږ به ضرور د	شکرګزارځنی شو
قُلِ اللَّهُ	يُنَجِّيكُمْ	مِّنْهَا	وَمِنْ كُلِّ	كَرْبٍ ثُمَّ
اووایه	چې الله	اېچ کوی تاسو	ددغه مصیبت نه	اودهرتکلیف نه	بیاهم تاسوئ
ورته اووایه	چې صرف الله ﷻ	مو ددې	عذابونواومصیبتونونه	بچ کوی	.....اوبیا هم
أَنْتُمْ تُشْرِكُونَ ۝	قُلْ	هُوَ	الْقَادِرُ	عَلَىٰ	أَنْ يَبْعَثَ	عَلَيْكُمْ
چې شریکان جوړوئ	اووایه	هغه	قادر دې	په دې	چې راولیږی	په تاسو باندې
تاسو هغه لره شریکان جوړوئ	ورته اووایه	چې هغه دا	قدرت لری	چې په تاسو د	پورته نه	
عَذَابًا	مِّنْ فَوْقِكُمْ	أَوْ مِنْ تَحْتِ	أَرْجُلِكُمْ	أَوْ يَلْبِسَكُمْ
عذاب	دپاسه	ستاسونه	یا	لاندې	دخپوستاسونه	یا تقسیم کړی تاسو
عذاب نازل کړی	یا ستاسو د	خپو لاندې نه	درته عذاب راوباسی	یاتاسو ډلې ډلې کړی		

[1]) ابن ماجه كتاب الزهد ذكر الموت والاستعداد له: ٤٢٦٢، وسنده صحيح ، احمد: ٢/٣٦٥، السنن الكبرى للنسائي: ١١٤٤٢، الشريعة للآجري : ص/٣٩٢، الايمان لابن منده: ١٠٦٨.

Scanned with Ca

شِيَعًا	وَّيُذِيْقَ	بَعْضَكُمْ	بَأْسَ بَعْضٍ ؕ	اُنْظُرْ	كَيْفَ
په ډلو ډلو کښې	اواوځکوی	بعضو	تاسونه طاقت دبعضو	اوګوره	څنګه
او يوې ډلې ته دبلې ډلې د طاقت زور اوښائی	.....				اوګوره مونږ څنګه

نُصَرِّفُ	الْاٰيٰتِ	لَعَلَّهُمْ	يَفْقَهُوْنَ ۝
باربارپيش کوؤمونږه	ښښې	ادپاره ددې چې هغوئ	پوهه شی په حقيقت
په جداجدا انداز خپل آياتونه بيانوؤ		دې دپاره چې دوئ پوهه شی	.....

قوله تعالی:: قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ ۝

مشرکانو به په سخت وخت کښې صرف الله ﷻ رابللو:- الله ﷻ په خپلو بندیګانو باندې د احسان کولو ذکر فرمائی چه مونږ د اوچې او لمدې د تیارو د پریشان حالوته څنګه خلاصې ورکړو. هر کله چه د اوچې سختئی او د سمندرغولئی کښې راګیرشوی وو کوم ځائ چه مخالف هوا ګانې روانې وې او هغه وخت هغوی د دعا د پاره صرف یو الله ﷻ خاص کړې وو. لکه چه په یو مقام کښې فرمانیلی دی چه کله تاسو ته په سمندرکښې په یومقام کښې سختی پیښیږی نو هغه وخت دوی ټول شریکان هیروی یو بت ورته نه یادیږی او که یادیږی نو صرف یو الله ﷻ رب العزت. د الله ﷻ قول دې چه ستاسو رب خو هم هغه یوالله دې چه په اوچه اولمده کښې تاسو ګرځوی او چه کله جهازونه په ښائسته او برابره هوا سره چلیږی نو ډیر خوشحاله اوسیږئی او چه کله مخالف هوا چلیږی او د هر طرف نه چپې ټکرې ورکوی او یقین کیږی چه اوس خو په مرګ کښې راګیرشو نو ډیرپه اخلاص سره الله ﷻ رابلی چه اې الله ﷻ که د دې مصیبت نه تا مونږ ته خلاصې راکړه نو مونږ به ډیر شکر کونکی بندیګان جوړ شو. د الله ﷻ ارشاد دې چه د اوچې او لمدې په تیاروکښې تاسو ته نیغه لار څوک ښائی او ښکلې هواګانې د خپل رحمت نه څوک رالیږی. آیا الله ﷻ سره څوک بل الله ﷻ هم شته کوم چه تاسو شریک جوړکړی دی. او دا آیت مبارک چه د تیارو نه څوک تاسو ته خلاصې درکوی کوم چه تاسو پټ او ښکاره رابلئی چه که ته مونږ ته خلاصې راکړې نو مونږ به شکر کونکی جوړشو. اووایه چه هم الله ﷻ تاسو ته د هر درد او مصیبت نه خلاصې درکوی ولې تاسو بیا هم د خوشحالئی په وخت کښې بتان د هغه شریکان جوړوئی. الله ﷻ په دې قادردې چه په تاسو عذاب راولیږی. لکه چه په سورۂ سبحان کښې دی هم ستاسو رب جهازونه په سمندرکښې چلوی چه تاسو دولت اوګټئی هغه په تاسو باندې رحیم او کریم دې. اوچه کله تاسو ته څه مصیبت دراورسی نو خپل ټول بتان هیر کړئی او هم الله ﷻ درته یاد شی. او چه کله د سمندر د خطرونه مو رابهرکړی او په اوچه مو اودروی نو د الله ﷻ نه ډډه کوئې. انسان ډیر ناشکره دې. په زمکه باندې راتلونه پس ولې تاسو بچ شوئې. که هغه غواړی نو تاسو په اوبوکښې د ډوبولو په شان په زمکه کښې خښولې نه شی. یا په تاسو باندې د آسمان نه کانړی راوړوی او بیا ستاسو هیڅ قسم امدادی نه وی. بیا هغه په تاسو باندې د سمندر سفر اوکړی او په مخالف هوا باندې تاسو غرقولې شی. الله ﷻ قادر دې که اوغواړی نو ستاسو د سر د پاڅه یا ستاسو د پښولاندې په تاسو عذاب راولیږی. دا مشرکانو ته خطاب وو. حضرت مجاهد رحمه الله فرمائی چه دا خبرداری د امت محمدیه ﷺ دپاره دې.دلته مونږ یوځو احادیث ذکر کوو چه هم دې سره متعلق دی یقین هم په الله ﷻ باندې دې. امام بخاری رحمه الله هم د دې پورتنی آیت باره کښې فرمانی (يَلْبِسَكُمْ) یعنی تاسو ډلې جوړیدو باندې په خپل مینځ کښې ډله بازی اوکړه او یو بل سره په جنګ شوئې. یعنی که الله ﷻ اوغواړی نو په داسې عذاب کښې هم تاسو اخته کولې شی.

Scanned with Ca

د نبی د امت دپاره د رحمت دعاکاني :- د حضرت جابر بن عبدالله ﷺ نه روایت دي چه کله دا آیت نازل شو ﴿عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ﴾ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ﴿اعوذبوجهك او تحت ارجلكم﴾ او په دي وخت کښې ئې هم اوفرمائیل ﴿اعوذبوجهك﴾ یعنی اې الله ستا پناه او چه کله ﴿اَوْيَلْبِسَكُمْ شِيَعًا﴾ واوریدل نو وئی فرمائیل چه دا نسبتًا آسان دي (۱)دحضرت جابرﷺ نه روایت دي چه کله داآیت ﴿قُلْ هُوَ الْقَادِرُ﴾نازل نوهغوی ﷺ اوفرمائیل ﴿اعوذبالله من ذلك﴾ بیا ﴿اَوْمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ﴾ اوریدو سره هم اوفرمائیل ﴿اعوذبالله﴾بیا ﴿اَوْيَلْبِسَكُمْ شِيَعًا﴾ اوریدوسره اوفرمائیل دا ډیر آسان دي. که په دي باندې هم هغوی پناه غوښتله نو غوښتې شوه.
د حضرت سعدبن ابی وقاصﷺ نه هم روایت دي چه د دي آیت په اوریدوسره حضور ﷺ فرمائیلي وو چه دا خبره کیږی او تراوسه پوري شوې نه ده.(۲)
یوحدیث دحضرت سعدبن ابی وقاص ﷺ نه روایت دي چه مونږ نبی اکرم ﷺ سره روان شو او مسجد بنی معاویه ته راغلو، هلته هغوی ﷺ دوه رکعته اوکړل. مونږ هم حضور ﷺ سره مونځ اوکړو. بیا هغوی ﷺ تر ډیر وخته پوري الله رب العزت سره په مناجات کښې مشغول وو بیائې اوفرمائیل ما د الله ﷻنه د دریوخبرو درخواست کړي وو چه زما امت دي د فرعونیانو په شان غرقیدو سره تباه نه شی او د قحط نه دي هلاك نه شی اود هغوی په ډلوکښې دي جنګ نه وی. نواولنئی دوه خبرې خو منظور شوې او دریمه خبره نامنظوره کړې شوه.(۳)
جابرﷺ بن عتیك نه روایت دي چه مونږ له حضرت عبدالله بن عمرﷺمقام بنی معاویه ته راغلو چه د انصارو یو کلي دي او وئی وئیل چه تاسو ته پته ده چه ستاسو په دي جمات کښې نبی اکرم ﷺ کوم ځائ مونځ ادا کړي وو؟ما وئیل چه او نو یوطرف ته می اشاره اوکړه. بیائې تپوس اوکړو چه هلته هغوی ﷺ د کومو دریو خبرو دعا کړي وه. ما وئیل چه او هغوی ﷺ دعا کړي وه چه زما په امت باندې څوك دښمن غالب نه وی او قحط دي هغوی هلاك نه کړی نو دا دواړه خبرې منظورکړې شوې. اودا دعا ئې هم کړي وه چه د دوی دي په خپل مینځ کښې جنګ نه وی نو دا دعا قبوله نه شوه. نوحضرت عبدالله بن عمرﷺ اوفرمائیل چه تاصحیح اووئیل. د قیامته پورې به په مسلمانانوکښې جنګونه وی.(۴) دا حدیث په صحاح سته کښې درج نه دي لیکن د دي اسناد جید او قوی دی.
د حضرت معاذبن جبلﷺ نه روایت دي چه زه رسول الله ﷺ له راغلم نو راته اووئیلي شو چه هغوی ﷺ اوس لاړل. چه چرته به تلم هلته به راته دا جواب کیدو چه اوس د دي ځایه لاړو. تردي چه ما حضور ﷺ په یوځائ کښې په مونځ کولو اولیدو. زه هم هغوی ﷺ سره مونځ کولو ته اودریدم. هغوی ﷺ ډیر اوږد مونځ اوکړو. دمانځه نه پس ماتپوس اوکړویا رسول الله ﷺ! تاسو ډیر اوږد مونځ اوکړو هغوی اوفرمائیل چه ما صلوة خوف اورغبت اداکولو. بیاحضور ﷺ هغه ته دخپلودریودعاګانوذکر اوفرمائیلو.(۵)
د خباب بن ارتﷺد مولی بنی زهره نه روایت دي چه په بدرکښې نبی اکرم ﷺ سره حاضروو. وانی چه ما یوخل ټوله شپه حضور ﷺ سره مونځ کولو، نو چه کله هغوی مونځ اوکړو او سلام ئې اوګرځولو نو ما عرض اوکړو یا رسول الله ﷺ! نن خو تاسو داسې مونځ اوکړو چه ما کله هم نه وو لیدلي. هغوی ﷺ

---

(۱)صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الانعام باب (قول هوالقادر علی ان یبعث علیکم عذابا من فوقکم.....): ٤٦٢٨، ترمذی: ٣٠٦٥، مسند ابی یعلی : ١٩٨٢، ابن حبان : ٧٢٢٠.
(۲) ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة الانعام : ٣٠٦٦،
(۳)صحیح مسلم کتاب الفتن باب هلاک هذه الامة بعضهم ببعض : ٢٨٩٠، احمد:١/١٧٥، مسندابی یعلی : ٧٣٤، ابن حبان : ٧٢٣٦.
(۴) احمد: ٥/٤٤٥، المؤطا امام مالک:١/٢١٦، وهو حدیث صحیح ، المعجم الکبیر : ١٧٨١، مجمع الزوائد: ٧/٢٢١.
(۵) ابن ماجه کتاب الفتن مایکون من الفتن: ٣٩٥١، وهو صحیح ، احمد:٥/٢٤٠، ابن خزیمه: ١٢١٨.

Scanned with Ca

اوفرمائیل چه او داد امید او رجا مونځ وو د کوم نه پس چه ما د الله ﷺ نه د دریو خبرو درخواست کړي وودي نه پس پوره حدیث ذکردي.(۱) داپه صحاح سته کښې دنسائی په روایت کښې دي. ابو مالک رحمه الله فرمائی چه ما هغه ته اوویل اي نافع بن خالد خزاعی! چه دا حدیث تا د رسول الله ﷺ د ژبې مبارکې نه پخپله اوریدلي دي؟ نوهغه اووئیل چه او ما د هغه خلقو نه اوریدلي دي چا چه د حضور ﷺ د ژبې مبارکې نه پخپله اوریدلي وو.

د شداد بن اوس رضي الله عنه نه روایت دي حضور ﷺ فرمائیل چه زما د پاره د زمکې مشرق او مغرب رالنډکړي شو او دا چه زما امت به د دې تولو مالک شی. او ماته دواړه خزانې راکړې شوی دی ، سپینه خزانه او سره خزانه هم. او ما دا هم سوال کړې وو چه اي الله! دې سره دې زما امت د قحط نه نه مری او نه دې په هغوی باندې څوک دښمن غالب وی چه ټول هلاک کړی او په هغوی کښې دې ګروپ بندی نه وی چه یو بل سره جنګ کوی. نو الله ﷻ اوفرمائیل اې محمد ﷺ! ما چه کوم تقدیر قائم کړې دې هغه خو به کیږی. ما ستا دواړه خبرې خو منظورکړې خو ستا امت کښې به بعضې، بعضو لره هلاکوی او یا به ئې قید کوی. حضور ﷺ اوفرمائیل چه که ماته په خپل امت باندې څه ویره ده نو هغه د ګمراه امامانو او سردارانوده. کله چه یو ځل زما په امت کښې توره روانه شوه نو بیا به نه اودریږی او تر قیامته پورې به د جنګ جګړو سلسله قائمه وی.(۲)

نافع بن خالدخزاعی رضي الله عنه دخپل پلار نه روایت کړیدې چه د رسول الله ﷺ د صحابه کرامو نه وو او د بیعت رضوان تحت الشجر نه وو چه یوه ورځ نبی اکرم ﷺ مونځ اوکړو. خلق د حضور ﷺ نه چاپیره شوی وو. هغوی ﷺ لنډ مونځ اوکړو خو رکوع او سجده ئې کامل اوکړه او چه کله ئې جلسه اوکړه نو جلسه ئې ډیره اوږده وه تردې چه په مونږ کښې بعضې بعضو ته اشاره اوکړه چه کیدې شی په حضور ﷺ باندې وحی نازلیږی. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه نه، ما صلوة رغبت او رهبت لوستلو. بیاد دې دریواړو خبرو پوره حدیث درج دي. چه هغوی دا حدیث واوړولو نو ما اووئیل چه آیا ستا پلار د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي؟ نو هغه اووئیل او د حضور ﷺ د ژبې مبارکې نه ئې اوریدلي دي او د خپلو دې لسو ګوتو برابر لس ځل.(۳)

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي چه حضور ﷺ فرمائیل چه ما د الله ﷻ رب العزت نه دعاکړې وه چه زما امت د ځلورو څیزونو نه لرې اوساته. د دوو خبرو نه الله ﷻ زما امت بچ کړو او د دوو نه ئې بچ نه کړو. ما دعا کړې وه چه زما په امت دې د آسمان نه کانړی راوښوریږی او د اهل فرعون په شان دې په غرقیدو باندې نه هلاکیږی. په هغوی کښې دې ډله بازی نه وی او هغوی دې یوبل سره جنګ نه کوی نو الله ﷻ د کانړو وریدو او غرقیدونه محفوظ ساتلو دعا قبوله کړه خو په خپل مینځ کښې ډله بازی او فرقې جوړیدل او جنګ جګړې باقی پاتې شوې.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي چه کله دا آیت نازل شو ﴿قُلْ هُوَالْقَادِرُ﴾ نو نبی اکرم ﷺ پاځیدو، اودس ئې اوکړو او دعا ئې اوغوښتله چه اي الله! زما په امت باندې د پورته او ښکته نه عذاب مه نازلوه او په هغوی کښې ډله بازۍ او جنګ دې نه وی. جبرائیل علیه السلام راغلو او وئی وئیل اې محمد ﷺ! الله ﷻ ستا امت د آسمان نه د عذاب نازلیدلو اود ښکته نه د عذاب راخوټکیدلو نه محفوظ اوساتلو.

---

(۱) ترمذی : کتب الفتن باب ماجاء فی سؤال النبی ﷺ للامّا امته : ۲۱۷۵، وسنده صحیح . نسائی :۱۶۳۹.

(۲) احمد: ۱۲۳/٤، وهو حدیث صحیح مسندالبزار:۳۲۹۱.

(۳) المعجم الکبیر:٤۱۱٤، وهوحدیث حسن ، مسندالبزار: ۳۲۸۹، مجمع الزوائد:۲۲۳/۷.

Scanned with Ca

د دې نه پس ډیر احادیث د دې په شان اود دې مضمون درج دی چه د هغې باربار ترجمه او تفسیر د لوستونکی د پاره غیرضروری دی.

د آسمانی عذاب نه کانړی وریدل مراد دی اود پښولاندې د عذاب نه په زمکه کښې خښیدل مراددی. دا څلور څیزونه وو چه په هغې کښې دوه د نبی اکرم ﷺ د وفات نه پنځه ویشت کاله پس ښکاره کیدل شروع شویعنی په خپل مینځ کښې د رائې اختلاف او ډله بازی او د مسلمانانو په دوو ډلو کښې جنګ جګړه. د رجم او خسف نه امت محمدیه ﷺ محفوظ او په امن کښې اوساتلې شو.

د دې آیت باره کښې عبدالله بن مسعود ؓ په جمات کښې په منبر د پاڅه په چغوچغو فرمائیل چه ای خلقو په تاسو د الله ﷻ آیت نازل شوې دې که د آسمان نه عذاب راغلو نو څوک به هم نه بچ کیږی. او که د پښو د لاندې عذاب راغلو نو تاسو به په زمکه کښې ورخښ کړې شئی او هلاک به شئی که په ډلوکښې تقسیم شوئې اوخپل مینځ کښې مو جنګ شروع شو نو دا به د ټولو نه خرابه خبره وی. حضرت ابن عباس ؓ به فرمائیل چه په دې آیت کښې ﴿عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ﴾ نه خراب پیشوا مراد دی او ﴿تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ﴾ نه خراب خادمان مراد دی یا دا چه مالداران او غریبانان مراد دی.

ابن جریر ؒ فرمائی چه دا قول یوه توجیه لری خو اولنې قول اظهر او قوی دې. ابن جریر ؒ فرمائی چه د دې د صحت ګواهی د الله ﷻ دا قول ورکوی ﴿أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ﴾ آیا تاسو د دې نه محفوظ ئې چه الله ﷻ تاسو په زمکه کښې ورننه باسی او هغه راوڅت شی او راوڅوتکیږی یا د دې خبرې نه بچ یئ چه د نورو قومونو په شان د آسمان نه کانړی راوږیږی. ډیر زر به تاسو پوهه شئی چه زما اندیښنه او فریاد څومره صحیح وو. (۱) او په حدیث کښې دی چه دا د آسمان نه کانړی وریدل په زمکه کښې ورخښیدل او د شکلو ورانیدل دا ټول به په دې امت کښې وی او د قیامت د نښونه دی. (۲) د قیامت نه وړاندې به د دې آیاتونو ظهور کیږی او ان شاء الله د دې ذکر به په خپله موقع راځی.

﴿أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا﴾ نه مرادمختلف فرقې دی. حضور ﷺ فرمائیلی دی چه زما امت به په درې اویا ډلوکښې تقسیمیږی. د یوې فرقې نه بغیر به نور ټولې د اُور او دوزخ وی. حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چه په بعضو باندې به د بعضو قتل عذاب سره مسلط کړې شی. د الله ﷻ ارشاد دې ﴿انْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ﴾ ګورئې چه مونږ څنګه په وضاحت سره او په تفسیر سره باربار بیان کوو دې د پاره چه تاسو د الله ﷻ په آیاتونو او دلیلونوباندې غوراوکړئی اوپوهه شئی. زیدبن اسلم فرمائی چه کله ﴿هُوَ الْقَادِرُ﴾ والا آیت نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه زما نه پس کافران کیږئی مه چه په خپل مینځ کښې توری راواخلئی اود یوبل څټونه پرې کړئی. نو خلقو وئیل چه مونږخو دا ګواهی ورکوو چه الله ﷻ یو دې او تاسو د الله ﷻرسول یئ. حضور ﷺ اوفرمائیل چه او نو چا اووئیل چه داسې هیڅ کله هم نه کیږی چه مونږ یوبل قتل کړو سره د دې چه مونږ په صحیح معنوکښې مسلمانان یو، نودا آیت نازل شو(۳) چه ﴿وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۚ قُل لَّسْتُ عَلَيْكُم بِوَكِيلٍ﴾ یعنی ستاقوم به وحی دروغ ګڼړی سره د دې چه دا حق ده. نو ته ورته اووایه چه زه خو ستاسو ذمه وار نه یم، د هرې خبرې یووخت مقرر دې ډیر زر به تاسو ته د حقیقت پته اولګی.

---

(۱) ابن مردویه والترمذی : ۲۱۵۲.

(۲) ترمذی کتاب الایمان باب ماجاء فی افتراق هذه الامة : ۲۶۴۱،

(۳) دا روایت مرسل یعنی ضعیف دې

وَكَذَّبَ بِهٖ

|اود روغ کنړی | دا

او ستا قوم د دې نه

قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ؕ قُلْ لَّسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ؕ ۶۶

قوم ستا| حالانکه هغه حقیقت دي | اووایه | نه یم زه | په تاسو باندې | حوالدار|

انکار اوکړو حال دا چې دا بالکل حق دي | ورته اووایه چې زه ستاسو ذمه دار نه یم

لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ وَّسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۶۷ وَاِذَا رَاَيْتَ

دپاره دهر خبر | یووخت مقرر دي | اوزربه | پوهه شئ تاسو | او هر کله چې | اوویني ته

دهر خبر(دښکاره کیدو)یو وخت مقرر دي | اوتاسو به ډیر زرپوهه شئ | اوهر کله چې ته اوویني

الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى

هغه کسان|چې جګړې کوي| په آیتونو زمونږ کښې| نولرې شه | دهغوئ نه | تردې پورې|

چې خلق زمونږ په آیتونو کښې جګړې کوي| نوهغوئ نه یوطرفته شه | تردې چې (هغه بحث پریږدي)

يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ؕ وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ

چې مشغول شي هغوئ|په خبره بله کښې |اوکه چرې | هیر کړې ستا نه | شیطان | نو مهٔ کینه

اوپه نوروخبرو کښې مشغول شي | اوکه چرې شیطان درنه (دانصیحت) هیر کړې .....

بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۶۸ وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ

روستو|دیادیدلونه |د ظالم قوم سره | اونشته |په هغه کسانو باندې|چې پرهیزګاري کوي

نویادیدونه پس دداسې ظالمانو ډله کښې مه کینه |اوپه پرهیزګارانو باندې .....

مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ

دحساب دهغوئ نه| هیڅ څیز |لیکن شته په هغوئ |نصیحت کول | دپاره ددې چې هغوئ|

دهغوئ دحساب هیڅ ذمه واري نشته | البته نصیحت کول (پرې فرض دی) شاید

يَتَّقُوْنَ ۶۹

ځان اوساتي دغلطې لارې دتګ نه

چې هغوئ هم دګناه نه ځان بچ کړي |

قوله تعالی:: وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ؕ

دروغ ګڼړل نه تابعداری:- ستا قوم قریش قرآن دروغ اوګڼړلو سره د دې چه د دې نه علاوه بل هیڅ څیز حق نه دي. ته ورته اووایه چه زه ستاسو حفاظت کونکې او ذمه وار نه یم. لکه چه فرمانیلې شوی دی اووایه (اې محمد ﷺ) چه داستا د رب د طرف نه حق دي چه څوک غواړي ایمان راوړي او چه څوک غواړي اونه منې. یعنی زما کار خوصرف تبلیغ کول دی اوستاسو کار اوریدل او منل دی. څوک چه زما

Scanned with Ca

تابعداری اوکړی هغه به په دین او دنیا دواړو کښې کامیاب وی او څوك چه مخالفت اوکړی هغه به په دواړه جهانه بدبخت وی. په دې وجه ارشاد اوفرمائیلې شو چه د هرې خبرې د پاره یو وخت مقرر دی اود هریو خبرد پاره یوه وقوع ده سره د دې چه څه وخت پس وی. لکه چه اوفرمائیلې شو چه څه موده پس به تاسو ته پته اولګی او اوفرمائیلې شو ﴿لِكُلِّ أَجَلٍ كِتَابٌ﴾ دا تهدید او لوئ وعید دې. په دې وجه اوفرمائیلې شو چه ډیر زر به تاسو ته معلومه شی.

دَ تَوقو کونکوسره نه کیناستلوحکم:- د الله ﷻ ارشاد دې ﴿وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ یعنی چه ته کله دا کافران اووینې چه په دروغو او ټوقومسخرو سره زمونږ په آیاتونوکښې بحث کوی نو د دوی نه مخ واړه وه ترهغه وخته پورې چه هغوی څه نورې خبرې شروع کړی. اوکه چرې تانه ئې شیطان هیرکړی نو په یاد راتلوباندې د دې ظالمانوخلقو سره مه کینه. مطلب دا چه د امت هر یو کس دې مکذبینو سره نه کینی څوك چه د الله ﷻ آیاتونوکښې تحریف کوی او د دې په صحیح او ښکاره مفهوم باندې قائم دا نه پریږدی. په دې وجه په حدیث شریف کښې دی چه زما د امت د پاره د معافئ قابل ګرځولې شوی دی په خطا او هیرې سره یو کار کول یا د مجبورئی (۱) د وجې یوکار کول او هم د دې طرف ته په دې مبارك قول کښې اشاره ده چه په کتاب کښې تاسو ته خودلی شوی دی چه کله تاسو ته پته اولګی چه د الله ﷻ آیاتونو سره کفر او ټوقې مسخرې کولې شی نو د هغوی نه پاځه ترهغه وخته پورې چه د هغوی د خبرو موضوع بدله شی که داسې نه وی نو ته به هم د ټوقومسخرو کونکونه اوګڼلې شې او هم د دوی برابر به شې. د الله ﷻ ارشاد دې ﴿وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِنْ شَيْءٍ﴾ یعنی چه کله ته د هغوی نه اخوا شوې او د هغوی د مجلس نه نه ینی نو تا خپله ذمه واری پوره کړه اود هغوی سره د ګناه د شمولیت نه خلاص شوې. سعیدبن جبیر رحمه الله د دې دا مطلب بیان کړې دې که هغه کافرانو د آیاتونو په تنقیص کښې لګیا وی نو اوس په تاهیځ ذمه واری نشته چه تاد هغوی نه جدا والې او ډډه کړې وی. نور علماء د دې دا مطلب بیانوی که تاسو خلق د دې نالائقو سره کینئی هم نود هغوی د ټوقومسخرو ذمه واری په تاسو نشته او ګمان دې چه دا آیت د سورة نساء مدنیه په آیت سره منسوخ شوې دې او هغه آیت دا دې. ﴿إِنَّكُمْ إِذًا مِثْلُهُمْ﴾ یعنی پداسې صورت کښې ته هم د هغوی په شان شوې. دا توضیح په آیت ﴿وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ﴾ سره متعلق وه. دا د مجاهد رحمه الله سدی رحمه الله او ابن جریج وغیره قول وو د هغوی د دې قول په بناء باندې د الله ﷻ د قول ﴿وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ﴾ مطلب دا شو ولې مونږ تاته د هغوی نه په داسې صورت کښې د ډډې کولو حکم کړې دې چه هغوی ته خبرداری او نصیحت اوشی. کیدې شی چه راتلونکی وخت کښې د دې نه محتاط شی او بیائې دوباره اونه کړی.

وَذَرِ	الَّذِينَ	اتَّخَذُوا	دِينَهُمْ
او پریږده	هغه کسان	چې نیولې دې هغوئ	دین خپل
اوهغه کسان پریږده چې کومو دخپل دین نه			
لَعِبًا	وَلَهْوًا	وَغَرَّتْهُمُ	الْحَيَاةُ الدُّنْيَا	وَذَكِّرْ
لوبې	اوعبث کار	اوپه دهوکه کښې اچولی دی هغوئ	ادې ژوند د دنیا	اونصیحت کوه
لوبه اوتماشه جوړه کړې ده		اود دنیا د ژوند په دهوکه کښې پریوتلی دی		او ددې

(۱) ددې تخریج دسورة بقره آیت نمبر ۲۸۶ لاندې تیر شوې دې

بِهَآ	اَنْ تُبْسَلَ	نَفْسٌ	بِمَا	كَسَبَتْ
په دې قران سره|چې اونۀ نیولې شی	یو نفس	په سبب دهغه عمل	چې کړې وی هغه	
قران په ذریعه ورته نصیحت کوه	چې څوک دعملونو په وجه داسې ګیر نه شی			
لَيْسَ	لَهَا	مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	وَلِيٌّ	وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ	وَاِنْ تَعْدِلْ
حال دا چې نۀ وی	هغه لره	ماسوا د الله نه	څوك دوست	اونه سفارش کونکې	اوکه فدیه ورکړی
چې بیا ورله د الله ﷻ نه بغیر بل څوک دوست اوسفارشی نه وی	اوکه هرقسم فدیه ورکول غواړی				
كُلَّ عَدْلٍ	لَّا يُؤْخَذْ	مِنْهَا ؕ	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	اُبْسِلُوْا
هرڅومره فدیه	وانۀ غسټلې شی|ددغه نفس نه	داکسان	هغه کسان دی	چې نیولې کیږی به	
نو دابه تړې نه نشی قبلولې	.....(څکه) چې داخلق به دخپلوعملونو				
بِمَا	كَسَبُوْا ۚ	لَهُمْ	شَرَابٌ	مِّنْ حَمِيْمٍ	وَّعَذَابٌ
په سبب دهغه عمل	چې کړې وی هغوئ اوی به دهغوئ دپاره	څکل	دګرمو اوبو نه	اوعذاب	
په سزا کښې ګرفتار وی	اودغه خلقودپاره به یشیدلې اوبه اودرد ناک عذاب مقرر دې				
اَلِيْمٌ	بِمَا	كَانُوْا	يَكْفُرُوْنَ ۝ ع		
درد ناك	په سبب دهغې	چې وۀ هغوئ	چې دحق نه انکار ئې کولو		
دا هرڅه د دې وجې چه دوی به (دوحدانیت نه) انکارکولو					

قوله تعالی: وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهٖٓ اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ ۚ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ

دین لوبې ټوقې کړلو والا انجام:- الله ﷻ فرمانی چه داخلق پریږده کومو چه دین یو دلوبوخیز ګرځولې دې څکه چه هغوی د یو لوئ عذاب طرف ته روان دی. په دې وجه اوفرمائیلې شو چه دوی ته په دې قرآن باندې نصیحت او عبرت ورکړه، د الله ﷻ د عذاب نه دوی اوویروه دې د پاره چه هغوی د خپلو عملونو په وجه هلاك نه کړې شی. ضحاك رحمۃ اللہ علیہ (تُبْسَلَ د تسلم) په معنی کښې اخلی یعنی مه ورکوه. حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمائی دې د پاره چه رسوا نه شې. قتاده رحمۃ اللہ علیہ فرمانی چه بند نه کړې شی او مره او ابن زید د نیولو په معنی کښې اخلی.دا ټول اقوال او عبارتونه تقریبا په یوه معنی کښې دی. مطلب دا چه د هلاکت د پاره پریخودل، د خیرنه بندول او د مطلب د حاصلولو نه بندیدل. لکه چه فرمائی ﴿كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِيْنَةٌ﴾ هرسړې په خپلو اعمالوکښې رابندکړې شوې دې بغیر د نبی طرف والا نه. او د الله ﷻ قول دې ﴿لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ﴾ یعنی نه به د هغوی څوك ولی وی اونه څوك شفیع. لکه چه فرمائی ﴿مِّنْ قَبْلِ اَنْ يَّاْتِيَ يَوْمٌ لَّا بَيْعٌ فِيْهِ وَلَا خُلَّةٌ﴾ د دې نه وړاندې چه هغه ورځ راشی په کومه کښې چه نه سوداوبازی شته، نه دوستی نه محبت،نه سفارش او شفاعت. هم کافران پوره ظالمان دی. د الله ﷻ قول دې ﴿وَاِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا﴾ یعنی د خپلو ګناهونو په بدله کښې که هغوی ټوله دنیا او جهان په فدیه کښې یابدله کښې ورکړی نو قبول به نه شی. لکه چه فرمائی ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَمَاتُوْا وَهُمْ كُفَّارٌ﴾ کوم خلق چه په کفر باندې وو او هم په کفر مړه شو که هغوی د ډکې زمکې هومره سره زر هم ورکړی نو ناممکن دی چه قبول کړې شی اودهغوی غاړه خلاصه شی.نو وئی فرمائیل ﴿اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اُبْسِلُوْا بِمَا كَسَبُوْا﴾

قُلْ	اَنَدْعُوْا			
	اووایه	آیاراؤبلو مونږه		
	(پیغمبره) ددوئ نه تپوس اوکړه اچې آیا مونږ			
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	مَا لَا يَنْفَعُنَا	وَلَا يَضُرُّنَا	وَنُرَدُّ	عَلٰٓى
بغیر دالله نه	هغه چې نفع نشی راکولې مونږته	اونۀ نقصان راکولې شی مونږته	اوواپس شومونږه	په
دالله ﷻ نه بغیر نور (معبودان) راوبلو	چې نه مونږ ته نفع رسولی شی اونه نقصان	اوددې نه پس چې		
اَعْقَابِنَا	بَعْدَ	اِذْ	هَدٰىنَا اللّٰهُ	كَالَّذِي	اسْتَهْوَتْهُ
پوندوخپلوباندې	روستو	دهغې نه چې الارااوښودله مونږته الله	پشان دهغه سړی اچې بې لارې کړې وی هغه		
الله ﷻ مونږ ته نیغه لار خودلې ده بیا په شالار شو	.....	دهغه چاپه شان چې هغوئ لره			
الشَّيٰطِيْنُ	فِي الْاَرْضِ	حَيْرَانَ	لَهٗٓ	اَصْحٰبٌ	يَّدْعُوْنَهٗٓ
شیطانانو	اپه زمکه کښې	چې حیران وی	حال داچې هغه لره	ملګری وی	اچې آوازونه کوی هغه ته
شیطان په بیابان کښې بې لارې کړی وی	اوبالکل حیران ګرځی	په داسې حال کښې چې ملګری ورته بلنه کوی			
اِلَى الْهُدَى	ائْتِنَا ؕ	قُلْ	اِنَّ	هُدَى اللّٰهِ	هُوَ الْهُدٰى ؕ
دې نیغې لارې ته	راشه مونږته	اووایه	ببیشکه	هدایت دالله چې دې	هغه حقیقی هدایت دې
چې زمونږ په شان دهدایت طرفته راشئ	ورته اووایه چې سمه لارهغه ده چې الله ﷻ خودلې ده				
وَاُمِرْنَا	لِنُسْلِمَ	لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۙ	وَاَنْ	اَقِيْمُوا
اوحکم شوې دې مونږته	چې تابعدارشومونږه	رب دمخلوقاتوته	اودا چې	قائیموئ
اومونږ ته حکم شوې دې چه د کائناتود رب تابعدار جوړ شئ	.....	او دا چې تاسو مونځ		
الصَّلٰوةَ	وَاتَّقُوْهُ ؕ	وَهُوَ	الَّذِيْٓ	اِلَيْهِ	تُحْشَرُوْنَ ۝
مونځ	اواویریږئ دهغه نه	اوهغه	هغه ذات دې	چې هغه ته به	ورجمع کړې شئ تاسو
قائموئی	اوداللّٰه ﷻ نه ویریږئ	او هم هغه ته بۀ تاسو ټول جمع کیږئ	.....		
وَهُوَ	الَّذِيْ	خَلَقَ	السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ	بِالْحَقِّ ؕ	وَيَوْمَ
اوهغه	هغه ذات دې	چې پیدا کړی ئې دی	آسمانونه او زمکه	اپه حقه سره	اوپه کومه ورځ
اوالله ﷻ هغه ذات دې چې آسمانونه اوزمکې ئې په حقه پیدا کړی دی	.....	اوپه کومه ورځ			
يَقُوْلُ	كُنْ	فَيَكُوْنُ ۘ	قَوْلُهُ	الْحَقُّ ؕ	وَلَهُ	الْمُلْكُ
چې اووانی الله	شه	نو شی به	خبره دهغه	حقه ده	اوهغه لره به وی	بادشاهی
چې هغه دومره اووائی اچې قیامت شه	نو هغه به شی	دهغه وینا حقه ده	اوتوله بادشاهی به			

يَوْمَ	يُنفَخُ	فِي الصُّورِ ۚ	عٰلِمُ	الْغَيْبِ	وَالشَّهَادَةِ ۚ
په هغه ورځ|چې پوک اوکړې شی	په شپیلئ کښې	عالم دې	په پټو	اوپه ښکارو باندې	
په هغه ورځ دهغه وی	چې په کومه ورځ شپیلئ پوک وهلې شی |هغه په غیبواوځرکنده څیزونوباندې عالم دې			
وَهُوَ	الْحَكِيمُ	الْخَبِيرُ ﴿٧٣﴾			
اوهغه	د حکمت خاوند دې	خبردار دې			
اوهغه دحکمتونو خاونداو خبردارذات دې					

قوله تعالی:: قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَنْفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا بَعْدَ اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ

مشرکانوته فیصله کونکې جواب:- مشرکانو مسلمانانوته وئیلې وو چه دین محمدی ﷺ پریږدنی نو الله ﷻ دا آیت نازل کړو چه دوی ته اووایه چه زه الله ﷻ پریږدم او د دې بتانوعبادت اوکړم چه نه ګټه ورکولې شی او نه نقصان ورکولې شی او په کفر اختیارولو سره مونږ په اولټه پښو واپس اوګرځو سره د دې چه الله ﷻ مونږ ته رښا راکړیده. زمونږ خوبه داسې مثال شی لکه چه شیطان څوک دهوکه کړې وی یعنی دایمان راوړلو نه پس کفر اختیارول داسې دی لکه چه یو سړې سفرکوی او لار ئې هیره کړې وی او شیطانانو هغه غلط کړې وی او د هغه ملګری په نیغه لار وی او هغه رابلی چه مونږ له راشه مونږ په نیغه لار یو او هغه انکار کړې وی. دا هغه سړې دې چه نبی اکرم ﷺ د شپه پیژندلو نه باوجود د ګمراهانو منونکې شی او کافرشی او نبی کریم ﷺ هغه نیغې لار ته رابلی. دا د اسلام لار ده. ﴿قُلْ اَنَدْعُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ﴾ په دې کښې د بتانو اود بتانود عبادت کونکو مثال بیان کړې دې اود هغه خلقو څوک چه د الله ﷻ لارې ته رابلنه کوی. لکه چه چانه لار غلطه شوې وی او څوک چغه وهونکې هغه ته چغه وهی چه ای فلانکیه ته د دې لارې طرف ته راشه اود هغه نور ملګری رابلی چه غلطی مه کوه زمونږ په شان په نیغه لار باندې واپس راشه نوکه هغه د رومبی دعوت ورکونکی آواز واوری نو هغه به دې د هلاکت طرف په کنده کښې اوغورزوی. اوکه د نوروخلقو آواز واوری نوهغوی به دې په نیغه لار اود هدایت په لار راوړسوی. رومبی بلونکې د ځنګل د شیطانانو نه دې. دا مثال دهغه سړی دپاره دې چه د الله ﷻ لار پریږدی او د بتانوعبادت شروع کړی او هغه هم په دې کښې کامیابی اوګڼړی. خو چه کله ده له مرګ راشی نو پښیمانتیا به اوچتول وی. داد لارې نه اخوا کونکی شیطانان دی چه هغوی د پلار نیکه په نومونو اود هغوی په نومونواخستو سره رابلی نو هغه د دوی منل کوی او هغه هم په دې کښې کامیابی ګڼړی. اوس شیطانان هغه په هلاکت کښې اچوی او هغه خوری یا اوږې تګې په ځنګل کښې غلطوی چه هلاک شی. ﴿حَيْرَانَ﴾ نه حیران دې لکه چه یو سړې غلط شوې وی اوحیران وی. حضرت ابن عباس ؓ فرمائی چه د الله ﷻ هدایت نه قبلونکې د شیطان تابعداری کونکې او د ګناه کارکونکې سړې مراد دې. د ده ملګری ده ته د هدایت طرف ته دعوت ورکوی. الله ﷻ فرمانی چه دا د شیطان غلط کړې شوې هغه دې د چا اولیاء چه انسانان دی. هدایت خو د الله ﷻ هدایت دې او ګمراهی هغه ده کوم طرف ته چه شیطان رابلل کوی. دا ابن جریر رحمه الله روایت کړې دې. بیا وائی چه دا د دې خبرې تقاضاده چه د ده ملګرې دې د ګمراهئی طرف ته رابلی او ګمان کوی چه همدغه صحیح لار ده.

عوفی رحمه الله فرمائی چه دارائې د آیت د ظاهر خلاف ده ځکه چه الله ﷻ فرمائیلی دی چه دده د سفرملګری دې هدایت طرف ته رابلی. نو دا جائزنه دی چه دې ته ګمراهی اووئیلې شی سره د دې چه الله ﷻ خبر ورکړې دې چه هغه هدایت دې او دا خبره خو هم هغه ده کومه چه ابن جریر رحمه الله کړې ده چه د

Scanned with Ca

عبارت سیاق د دې خبرې مقتضی دې چه ﴿كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيَاطِينُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ﴾ دا دمحال کیدو په وجه د نصب په محل کښې دې.یعنی د حیرانتیا جهل او ضلالت په حالت کښې اود هغه ملګری هم په هغه لار روان دی نو هغوی دې هم په خپله لار روان کړو او په خپله هم هغه لار باندې د راتلونې ورته اوونیل کومه چه الله ﷻ د مثال په توګه بیان کړه. اوس د کلام تقدیرداسې شو چه هغه د دوی په رابللوباندې انکار کوی اودهغوی طرف ته توجونه کوی. که الله ﷻ غوښتل نوهغوی ته به نې هدایت کړې وو او هغوی به نې په نیغه لار راګرځولې وې. په دې وجه اوفرمائیلې شو ﴿هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى﴾ اولکه چه فرمائی چه چاته الله ﷻ هدایت اوکړی هغه څوک نه شی ګمراه کولې. او ونې فرمائیل چه د هغوی په لار د راوستلو څومره حریص ولې نه وی. الله ﷻ چه څوک ګمراه کړی هغوی څوک په لار نه شی راوستې او نه د هغه خلقو څوک امدادی شته. بیا ارشاد دې چه ﴿وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ مونږ ته حکم دې چه په خلوص سره د هغه عبادت اوکړو او مونځونه په پابندنی سره اوکړو اود الله ﷻ اوویریږو او په هر حال کښې پرهیزګار اوسیږو.هم د هغه طرف ته به د قیامت په ورځ ټول اوچتولې شی. هم هغه زمکه او آسمان په اعتدال سره پیدا کړی اودهغې مالك او مدبردې. هغه به د قیامت په ورځ صرف "کن" وائی او د سترګو په رپ کښې به ټول څیزونه بیا په وجود کښې راشی. دلته ﴿وَيَوْمَ يَقُولُ كُنْ فَيَكُونُ﴾ کښې د یوم لفظ ته نصب دې یا خو ﴿وَاتَّقُوهُ﴾ باندې عطف ګرځولو سره به د هغې تقدیر داسې شی ﴿وَاتَّقُوهُ يَوْمَ يَقُولُ كُنْ فَيَكُونُ﴾ یعنی دهغه ورځو نه اوویریږه یادا چه نصیب کیږی به پدې بنا باندې چه ﴿خَلَقَ السَّمَاوَاتِ﴾ باندې عطف دې. یعنی اوویریږئی د هغه ورځې نه په کومه ورځ چه به هغه وائی "کُنْ" یعنی د مخلوق د پیدائش شروع او اعادې ذکر اوشو او همدغه ډیر مناسب هم دی. یا دا چه تنصیب به کیږی په دې بنا باندې چه فعل دلته مقدر کیخودې شوې دې نو تقدیر دا شو چه یاد کړه هغه ورځ چه وائی به ﴿واذكر يَوْمَ يَقُولُ كُنْ﴾ اود دې نه وړاندې ﴿لَحَقٌّ يَوْمَ يَقُولُ كُنْ﴾ بیا دالله ﷻ ارشاد دې چه ﴿قَوْلُهُ الْحَقُّ﴾ دا دوه جملې دی او د دواړو جملو محل جر دې په دې بنا چه دا دواړه الفاظ د سرب العلمین صفت واقع شوی دی اود الله ﷻقول دې ﴿يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ﴾ احتمال دې چه دا بدل وی ﴿وَيَوْمَ يَقُولُ كُنْ فَيَكُونُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ﴾ اودا هم احتمال دې چه ظرف وی د ﴿وَلَهُ الْمُلْكُ﴾ ﴿يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ﴾لکه چه فرمائیلی دی ﴿لِمَنِ الْمُلْكُ الْيَوْمَ لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ﴾ نن د چا بادشاهی ده د یو واحد قهار بادشاهی ده. لکه چه فرمائی ﴿الْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ لِلرَّحْمَنِ وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكَافِرِينَ عَسِيرًا﴾ په هغه ورځ د رحمن بادشاهی برحق ده او هغه ورځ به په کافرانو ډیره سخته وی.

قوله تعالی:: يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ

د اسرافیل ﷺ د شپیلئی حقیقت او ویره:- مفسرینو ﴿يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ﴾ کښې د رانې اختلاف کړې دې. بعضو وئیلی دی چه صور جمع د صورة ده. ابن جریر رحمه الله وائی لکه چه څنګه "سور" د بنار پناه ته وائی او دا د سورة جمع ده. او صحیح دا دې چه "صور" نه مراد هغه قرن دې په کوم کښې چه به دننه حضرت اسرافیل ﷺ پوك وهلی. ابن جریر رحمه الله وائی چه صحیح هم هغه دی په کوم باندې چه په حدیث کښې رانړا اچولې شوې ده. حضور اکرم ﷺ فرمائیلی دی چه اسرافیل ﷺ شپلئی په خله کښې لګولې ده، سر ئې ښکته کړې دې او په انتظاردې چه کله به د شپیلئی د پوکوهلو حکم کیږی. (۱)یو اعرابی هم د حضور ﷺ نه تپوس کړې وو چه صور څه څیز دې نو حضور ﷺ فرمائیلې وو چه قرن په څه کښې پوکې

---

(۱) دا روایت داسرافیل په نوم ترمذی کتاب التفسیر ومن سورة الزمر: ۳۲۴۳، ابن ماجه : ۴۲۷۳، ابن ما جه: ۷/۳، حلیة الاولیاء ۱۰۵/۵ مسند ابی یعلی : ۷۱/۱، ابن حبان: ۲۵۶۹، .

وهلو سره غږیږی.(۱)
نبی اکرم ﷺ یو ځل صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین سره ناست ووچه فرمائیلی کله چه الله ﷻ د زمکې او آسمان د پیدا کیدو نه فارغ شونو صور یئی پیدا کړو او اسرافیل ؑ ته ئې ورکړه کومه چه هغه په ځله کښې لګولې ده او سترګې یه عرش لګیدلې دی په انتظاردې چه کله به د پوکوهلو حکم کیږی. نو ابوهریره ؓ وائی چه ما اووئیل یارسول الله ﷺ! صورځه څیز دې؟ ارشاد اوفرمائیلې شو هغه قرن دی.تپوس اوشو چه هغه څنګه، وئی فرمائیل ډیره لویه. د الله ﷻ قسم دې چا چه زه رالیږلې یم د هغې پلنوالې دومره دې لکه څومره چه دزمکواوآسمانونو پلنوالې.په هغې کښې به په دریو وختونو کښې پوکې وهلې شی. اول به د ویرولو او پریشانه کولو پوکې وی او دوئم ټول بې هوشه کونکې او دریم بیا د الله ﷻ په وړاندې د اودرولو. الله ﷻ به اول د پوکوهلو حکم اوکړی نو هغې سره به ټول د دنیا خلق اوویریږی مګرهغه چاته چه الله ﷻ استقامت ورکړی. تر کومې چه حکم نه وی شوې شپیلئی به هم هغه شان غږیږی اودریږی به نه.لکه چه فرمائیلې شوی دی ﴿هَٰؤُلَآءِ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ مَّا لَهَا مِن فَوَاقٖ﴾ یعنی هغه به یو زبردسته چغه او ډیر اوچت آواز وی. غرونه به د اوریځو په شان الوزی او زمکه به خوزیږی او ټالئی به وهی لکه په سمندرکښې ورانه شوې کشتئی کومه چه چپې هر طرف ته دیکه کوی لکه څنګه چه یو فانوس په چت کښې زوړندوی او هغه ټالئی ورکوی. فرمائی﴿ يَوۡمَ تَرۡجُفُ ٱلرَّاجِفَةُ﴾ په هغه ورځ به ړچونکې شپیلئی پوکوهلې شی او د هغې نه پس به بیا په دوئم ځل پوک وهلې شی. په هغه ورځ به ټول په ټول ډیر ویریږی، خلق به راپریوزی، میندې به پئی روونکی ماشومان هیرکړی، د حاملو ښځو حملونه به پریوزی. په هلکانو باندې به د ویرینه بوډاوالې راشی. شیطانان به د ځان ښ کولو په خاطر د زمکې غارو ته اوتښتی خو فرښتې به هغوی په وهلو وهلو واپس راولی. یو بل ته به چغې وهی خو څوک به چاته پناه نه شی ورکولې بغیرد الله ﷻ نه. خلق به هم په دغه ویره کښې وی چه زمکه به د هر ګوټ نه شلیدل شروع شی. داسې لوئی امر به ښکاره شی چه چرې به هم نه وی لیدلې شوې او داسې مصیبت او ویره به وی چه صرف الله ﷻ ته پته ده. بیا به خلق د آسمان طرف ته اوګوری نود هغې ذرې به الوزی، ستوری به ماتیږی. نمر او سپوږمئی به توره شی. نبی کریم ﷺ فرمائی چه مړو ته به د دې خبر نه وی.
حضرت ابوهریره ؓ اوفرمائیل یارسول الله ﷺ! چه الله ﷻ کله فرمائی ﴿ فَفَزِعَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَن فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا مَن شَآءَ ٱللَّهُ﴾ نو الله ﷻ به څوک مستثنی ګرځوی. نو حضور ﷺ اوفرمائیل هغه شهیدان دی. فزع او ویره خو ژوندو ته کیږی او هغوی ژوندی خو دی، لیکن الله ﷻ سره دی، الله ﷻ هغوی ته رزق ورکوی. الله ﷻ د هغه ورځې د فزع نه هغوی محفوظ ساتلی ځکه چه هغه خو د الله ﷻ عذاب دې او عذاب خو په نافرمانه خلقو نازلیږی. هم دا څیز الله ﴿ﷻ تَذۡهَلُ كُلُّ مُرۡضِعَةٍ﴾ والا به آیت کښې پیش کړې دې چه هره یوه پئی ورکونکی مور به خپل پئی روونکی بچی نه غافله شی. د هرې حاملې ځمل په اوغورزیږی، ترکومې چه الله ﷻ غواړی په عذاب کښې اخته وی، د اوږدې مودې پورې به دا حالت وی. بیا به الله ﷻ بې هوشی راوستونکې شپیلئی وهلو حضرت اسرافیل ؑ ته حکم اوکړی نو ټول د آسمانونواو زمکو مخلوق به بې هوشه شی خو چه څوک الله ﷻ غواړی هغه به په هوش کښې وی. ملك الموت به الله ﷻ له راشی او وائی به ای الله ﷻ ټول مړه شو. الله ﷻ ته خو پته ده مګر تپوس به اوکړی څوک باقی دی؟ هغه به عرض اوکړی چه ته باقی ئې ځکه چه تاته خو به کله هم مرګ رانه شی او د عرش

(۱) ابوداود کتاب السنة باب ذکر البعث والصور: ۴۷۴۲، وسنده صحیح ، ترمذی ۳۲۴۴، دارمی : ۳۲۵/۲.

Scanned with Ca

اوچتونکې ملائکې هم دی. حضرت جبرائیل علیه السلام او حضرت اسرافیل علیه السلام او زه هم باقی یم. الله ﷻ به اوفرمائی چه جبرائیل او میکائیل له هم مړه کیدل پکار دی نو عرش به خبرې اوکړی ای ربه! جبرائیل او میکائیل به هم مړه کیږی؟ الله ﷻ به اوفرمائی ژبه مه کولاوهه د عرش د لاندې چه څومره دی ټول به مړه کیږی. ملك الموت به بیا الله ﷻ ته عرض اوکړی ای ربه! جبرائیل او میکائیل هم مړه شو. الله ﷻ به اوفرمائی اوس څوك باقی دی؟ هغه به عرض اوکړی چه ته باقی ئې او تاله خو مرګ راځی نه. اوس زه اود عرش اوچتونکې فرښتې باقی دی. الله ﷻ به اوفرمائی چه د عرش اوچتونکو له هم مړه کیدل پکار دی نو هغه به هم مړې شی. الله ﷻ به تپوس اوکړی اوس څوك باقی دی؟ عزرائیل به وائی ته چه نه مړکیدونکې ئې او زه. الله ﷻ به عرش ته حکم اوفرمائی د اسرافیل نه شپیلئی واخله او اسرافیل ته به وائی ته هم زما مخلوق ئې ته هم مړ شه. هغه به هغه وخت مړ شی او د رب واحد، صمد، لم یلد ولم یولد نه سوا به څوك هم باقی پاتې نه شی. آسمان او زمکې به راغونډې کړې شی لکه چه طومار راغونډولې شی. دری ځل به دا راغونډولې او خورولې شی بیابه فرمانی زه جباریم، زه جباریم، زه جبار یم. بیا به دری ځل آواز اوشی چه په نن ورځ د چا بادشاهت شته؟ څوك به جواب ورکړی. بیابه پخپله اوفرمائی بادشاهت صرف د الله ﷻ واحد او قهار دې.

بیا به نور زمکې آسمانونه پیداکړی او هغه به خواره کړی او اوږده به ئې کړی په هغې کښې به هیڅ کګلیچ او نقص باقی پاتې نه شی. بیا به مخلوق ته د الله ﷻ یوزبردست آواز اوشی نو په نوې پیداشوې زمکه باندې به ټول د اول په شان شی. کوم چه په زمکه کښې دننه دی هغه به دننه وی او کوم چه بهر وی هغه به بهر. بیا به د عرش د لاندې به الله ﷻ اوبه راپیدا کړی. آسمان ته به حکم اوکړی چه اووریږه. څلویښتوورځو پورې به اوبه وریږی تردې چه اوبه به دولس ګزه اوچتې شی. بیا به بدنونوته الله ﷻ حکم اوکړی نو هغه به داسې د زمکې نه رابنکاره شی لکه څنګه بوټی او سبزیانې راټوکیږی. کله چه بدنونه د مخکې په شان پوره شی نو اول به د عرش ملائکې ژوندئی کړې شی. الله ﷻ به اسرافیل علیه السلام ته حکم اوکړی چه شپیلئی واخله هغه به ئې واخلی نو بیا به الله ﷻ حضرت جبرائیل علیه السلام او حضرت میکائیل علیه السلام ژوندی کړی. بیا به روحونه رابللې شی. د مسلمانانو روحونه به لکه د رنړا پرڅیږی او د کافرانو روحونه لکه د تیارې. دا ټول به په شپیلئی کښې واچولې شی. اسرافیل علیه السلام ته به حکم اوشی چه د واپس ژوندی کیدو شپیلئی اووهه نو چه د ژوند پوکې اووهلې شی نو روحونه به داسې ټوپونه وهی لکه د شاتو د مچونه چه زمکه او آسمان ډك شی. بیا به د الله ﷻ د طرف نه حکم اوشی چه روحونه خپلو بدنونوکښې داخل شئی نو د دنیا ټول روحونه به داخلیږی او د سپیرمو په لار به بدنونوکښې راځی لکه څنګه چه زهر په مار خوړلی بدن کښې ورځی. بیا به زمکه شلیږی او خلق به راپاڅی او د خپل رب طرف ته به مخ کوی او د ټولو نه اول به زما قبرکولاویږی. د الله ﷻ طرف ته به ټول ځی نو کافران به وائی چه دا ورځ خو ډیره سخته معلومیږی. خلق به بربنډ او بې جامو وی او هم یو ځای کښې به ولاړ وی. اویاکاله به هم دغه حال وی چه الله ﷻ به نه دوی ته ګوری او نه به څه فیصله کوی. خلق به ژړا فریاد کوی، اوښکې به ختمې شی نو وینې به د سترګونه روانې شی، خلق به په خپلو خولوکښې ډوب وی، ترزنوپورې به خوله رسیدلې وی.

خلق به وائی چه الله ﷻ له څوك سفارشی تلل پکار دی چه فیصله اوشی نو په خپل مینځ کښې به وائی چه د ټولو پلار آدم علیه السلام نه علاوه داسې څوك کیدې شی چه ژبه کولاؤ کړې شی، الله ﷻ هغه په خپل لاس جوړکړې دې، خپل روح ئې په هغه کښې پوك وهلې اود ټولو نه اول ئې هغه سره خبرې کړی. خلق به حضرت آدم علیه السلام له راشی او خپل مقصد به ورته وړاندې کړی هغه به د سفارش نه انکار اوکړی چه د زه د هغه د شان لائق نه یم. بیا خان له خان له یو یو نبی علیه السلام له راشی. چا له چه هم راځی نو انکار به

Scanned with Ca

کوی. حضور ﷺ فرمائی چه بیا به ماله راشی نو زه به خم او په فحص به سجده باندې راپریوزم. حضرت ابوهریره ؓ تپوس اوکړو یا رسول الله ﷺ! فحص څه څیز دې نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه عرش مخامخ حصه ده. الله ﷻ به یوه فربنته راولیږی او هغه به ما د مټ نه اونیسی اوچت به می کړی. الله ﷻ به اوفرمائی ته څه غواړې؟زه به عرض اوکړم چه ای ربه! تاما سره د شفاعت د حق راکولو وعده کړې وه نو دا حق ماته راکړه او د خلقو په مینځ کښې فیصله اوکړه. الله ﷻ به اوفرمائی بنه ده ته شفاعت کولې شې او زه به خلقو کښې خپلې فیصلې نافذې کړم.

حضور ﷺ فرمائی چه زه به بیا خلقو کښې اودریږم. مونږ ټول خلق به ولاړ یو چه د آسمان نه به یو په زوره آواز اوشی او مونږ به اوویریږو. د زمکې د پیریانو او انسانانو نه به ډیرې فربنتې د آسمان نه نازلې شی. هغوی به زمکې ته نزدې راشی نو زمکه به د هغوی په نور سره اوپرقیږی. هغوی به صفونه جوړکړی نو مونږ به تپوس اوکړو چه آیا الله ﷻ تاسو کښې دې، هغوی به وائی نه هغه راتلونکې دې. فربنتې به بیا د آسمان نه نازلې شی چه د نازلو شوو فربنتونه به په شمیر کښې دوه چنده وی اود پیریانو او انسانانو نه به هم په شمیرکښې دوه چنده وی او زمکه به د هغوی د نور نه اوپرقیږی. هغوی به په طریقه سره اودریږی، مونږ به تپوس اوکړو چه رب کریم په تاسو کښې دې؟ هغوی به وائی چه نه هغه راتلونکې دې. بیا به په دریم ځل د دې نه هم په دوچنده تعداد کښې د ملائکو نزول اوشی. اوس به رب جبار عزوجل د اوریځو په سوری کښې په اتوفربنتو باندې خپل تخت اوچت کړې تشریف فرما وی. حالانکه دغه وخت کښې د هغه تخت څلورو فربنتواوچت کړې دې او د هغوی قدمونه د آخری زمکې په بیخ کښې دی. زمکه او آسمان د هغوی د بدن د نیم حصې په مقابله کښې دی. د هغوی په اوږو د الله ﷻ عرش دې او د هغوی په ژبوبه د الله ﷻ تسبیح او تحمید وی هغوی به وائی ﴿سبحان ذی العرش واجبروت سبحان ذی الملك والملكوت سبحان الحی الذی لایموت سبحان الذی یمیت الخلائق ولایموت سبوح قدوس قدوس سبحان ربنا الاعلی رب الملائكة والروح سبحان ربنا الاعلی الذی یمیت الخلائق ولایموت﴾ بیا به الله ﷻ په خپله کرسئ باندې جلوه افروز شی. یو آواز به اوشی ائې دپیرانو او انسانانو تولیه! ما چه د کوم وخت نه تاسو پیداکړې ونې ترنن پورې خاموش ووم، ستاسو خبرې می اوریدې ستاسو عملونه می کتل. اوس تاسو خاموش اوسیږئی ستاسو د عملونو صحیفې به تاسو ته اورولې شی. که هغه بنه ثابتې شوې نو د الله ﷻ شکر اوکړئی او که خرابې وې نو خپل ځانونه ملامته کړئی. بیا به الله ﷻدوزخ ته حکم اوکړی نو د هغې نه به یو تك تور پرقیدونکې شکل راښکاره شی. بیا به الله ﷻفرمائی چه ای بنی آدم! ما حکم نه وو کړی چه د شیطان عبادت مه کوه دا ستاسو ځان له دښمن دی. تاسو هم زما عبادت کوئې همدغه صراط مستقیم دی. دې شیطان خو ډیر ګمراه کړی دی تاسو عقل نه لرلو. دا هغه دوزخ دی د کوم چه تاسو سره وعده شوې وه او کوم چه تاسو دروغ ګڼلو. اوس ای مجرمانو! د نیکانو نه جدا شئی. الله ﷻ به امتونه جدا جدا کړی. د الله ﷻ ارشاد دې چه ای نبی! ته به هر امت په زنګونونو راپریوتونکې اووینې. هرامت سره به د هغه عمل نامه وی او ټن به د خپلو کړو بدله بیامومی. اوس به الله ﷻ په خپل ټول مخلوق کښې فیصله کول شروع کړی خو د پیریانو او انسانانو دې وخت کښې نه.

اوس به د وحوشو او بهانمو په مینځ فیصلې فرمائی تر دې چه د یوې ظالم او بنکروری بکرئی د ظلم بدله به هم بلې بکرئی ته ورکولې شی. او تر دې پورې چه یو ځناور به هم د بدلې ورکولونه باقی پاتې نه شی نو دې ځناورو ته به اووائی چه خاورې شئی نو کافران به وائی چه افسوس مونږ هم د دې عذاب نه د بچ کیدلو د پاره خاورې شوې وې. لنډهب دا چه اوس به د بندیګانو په مینځ کښې د مقدمو فیصله کیږی. د ټولو نه اول به د قتل او وینې مقدمې پیش کړې شی. اوس به هرهغه قتل شوې راڅی

Scanned with Ca

چه د الله ﷻ په لارکښې چا قاتل قتل کړې وی. الله ﷻ به قاتل ته حکم ورکوی هغه به د مقتول سر اوچتوی. هغه سر به عرض اوکړی ای الله ده نه تپوس اوکړه چه ده څه ولې قتل کړې ووم. الله ﷻ به د هغه نه تپوس اوکړی(سره د دې چه هغه ته معلومه ده) چه ولې دې قتل کړې وو؟ هغه غازی به وائی چه ای الله ستا د عزت او نوم په خاطر، نو الله ﷻ به اوفرمائی ته رښتیا وائې اود هغه د نور مخ به د نمر په شان پرقیږی. ملائکې به هغه جنت طرف ته بوځی. دغه شان په نور مقتولان هم خپلې کولمې په سر راوړی. الله ﷻ به د هغوی د قاتلانو نه تپوس اوکړی ولې مو قتل کړې وو نو هغوی به وائی د خپل شهرت او نوم د پاره. نو فرمائی به چه هلاك شه ته. د هر قتل شوی مقدمه به پیش کولې شی او انصاف به کیږی اود هرظلم بدله به د ظالم نه اخستې شی او چه کوم ظالم له الله ﷻ غواړی عذاب به ورکولې شی او چه په چا باندې غواړی نو خپل رحمت به نازلوی. بیا به د ټول مخلوق انصاف کیږی. یو مظلوم به داسې نه پاتې کیږی چه د ظالم نه ورته بدله ورنه کړې شی. تردې چه څوك په پښیوکښې اوبه ګډوی او وائی چه خالص دی هغه ته به هم سزا ورکړی او اخستونکی ته به د هغه نیکئی ورکړی. چه د دې نه هم فراغت اوشی نو یو آواز کونکې به آواز اوکړی او ټول مخلوق به نې اوری. هریو ټولی له پکار دی چه دخپلو خپلو خدایانو طرف ته لاړ شی او د خپلو معبودانو لمن دې اونیسی. اوس به یو بت پرست داسې نه وی د چا بتان چه به د هغه مخې ته خوار زار پراته نه وی. یوه فرښته به په هغه وخت د حضرت عزیر ﷺ په شکل راشی او یوې فرښتې ته به د عیسی ﷺ بن مریم شکل ورکړې شی. نو یهودیان به د حضرت عزیر ﷺ شاته شی او د عیسی ﷺ شاته به نصاری راجمع شی. بیا به د هغوی دا فرضی معبودان هغوی دوزخ طرف ته روان کړی. وائی به چه که دا د دوی رب وې نو دوی به نې چرې هم دوزخ طرف ته نه وو روان کړی. اوس به دا ټول په دوزخ کښې د همیشه د پاره وی. نو دې وخت کښې به صرف مؤمنان باقی پاتې شی په کوموکښې چه به منافقان هم شامل وی. الله ﷻ به د خپل شان مطابق څنګه چه غواړی هغوی له راشی نو وائی به چه ای خلقو ټول خلق خپلو خپلو خدایانو سره ملاؤ شوی دی تاسو هم چه د چا عبادت کولو هغوی سره ملاؤشئی. نو دا ټول خلق مؤمنان سره د منافقانو به وائی چه په الله ﷻ قسم زمونږ الله ﷻ خو ته وې. ستا نه علاوه به مونږ بل څوك نه منلو نو الله ﷻ به د هغوی نه اخوا شی اوپه خپل حقیقی شان کښې به راشی او هغوی سره به اودریږی ترکومې چه غواړی.بیا به مخامخ راشی او ارشاد به اوفرمائی ای خلقو ټول خپلوخپلوخدایانوسره ملاؤشوی دی تاسو هم خپلوخدایانو سره ملاؤ شئی هغوی به وائی چه دالله ﷻ قسم ستانه علاوه خو زمونږ بل خدائې نه وو. مونږ به ستانه علاوه د بل چا عبادت نه کولو.بیا به الله ﷻ خپله پوښتنه څنګه چه د هغه شان سره مناسب دی کولاؤکړی.دهغې په عظمت سره به په دوی داخبره بنکاره شی چه د هغوی الله ﷻخودادې. بیابه ټول په ټول په سجده کښې سربښکته پریوزی. خو چه کوم منافقان وی هغوی به په شا طرف پریوزی.دسجدې دپاره به ټیټیدې نه شی اودهغوی شاګانې به لکه د غواد شا په شان نیغې وی. بیا به الله ﷻ حکم اوکړی چه دوئ اوچت کړئی. دې وخت کښې به د هغوی په وړاندې د دوزخ پل صراط راشی چه د خنجر او توري نه به زیات تیره وی او ځائ په ځائ به ازغن او خوئیدونکې او خطرناك وی. د دې لاندې به یو بل خوئیدونکې پل هم وی. نیکان خلق به پرې داسې تیریږی لکه د سترګو رپ یا د بجلئی پرق یا د تیزې هوا په شان یا د تیز اس په شان یا د تیز سور په شان او یا د تیزې منډې وهونکی سړی په شان. بعضې خو به پوره محفوظ وی او خلاصې به بیامومی، بعضې به زخمی شی او بعضې خو به پرې پرې شی او دوزخ کښې به اوغورزیږی نو بیا چه کله جنتیان جنت طرف ته روان کړې شی نو وائی به اوس به زمونږ شفاعت الله ﷻ ته څوك کوی. هغوی به آدم ﷺ له راشی او د شفاعت درخواست به اوکړی نو هغه به د خپلې خطا ذکر اوکړی او وائی به زه د دې اهل نه

Scanned with Ca

یم تاسو نوح ﷺ له لارِ شئی هغه د الله ﷻ رومبې رسول دې. خلق به حضرت نوح ﷺ له راشی هغه به هم د خپلې خطا ذکر اوکړی او وائی به چه زه خو اهل نه یم تاسو حضرت ابراهیم ﷺ له لارِ شئی هغه ته خو الله ﷻ خپل خلیل وئیلې دې نو هغه به هم د خپلو خطاګانو ذکر اوکړی او وائی به حضرت موسی ﷺ له لارِشئی هغه سره خو الله ﷻ پخپله خبرې کړی دی. او په هغه باندې د تورات په شان کتاب د ټولونه اول نازل کړې دې خلق به حضرت موسی ﷺ له راشی نو هغه به هم د خپل قتل د خطا ذکر اوکړی او وائی به چه زه هم د دې اهل نه یم تاسو روح الله له لارِشئی خکه چه د الله ﷻ روح او کلمه ده. عیسی ﷺ به هم وائی چه نه زه د دې قابل نه یم تاسو محمد ﷺ له لارِشئی. حضور ﷺ فرمائی چه بیا به خلق ماله راشی. الله ﷻ ماله د دریو شفاعتونو حق راکړې دې او وعده ئې فرمائیلې ده. دې وخت کښې به زه جنت طرف ته روان یم، دروازه به اوټکووم، د جنت دروازه به کولاؤ شی ماته به هرکلې اووئیلې شی. زه به جنت ته داخل شم او الله ﷻ طرف ته به نظر اوکړم په سجده کښې به پریوزم نو الله ﷻ به ماته د تحمید او تمجید اجازت راکړی چه داسې تحمید به ئې چاته نه وی خودلې. بیا به فرمائی ای محمد ﷺ! سر اوچت کړه څه شفاعت کول غواړې اوکړه، ستا شفاعت به اوریدې شی، ستا سوال به پوره کولې شی. زه به خپل سر اوچت کړم نو الله ﷻ به اوفرمائی څه غواړې، زه وایم ای الله تا ماته د شفاعت حق راکړې دې د اهل جنت باره کښې زما شفاعت قبول کړه چه هغوی جنت ته داخل شی نو فرمائی به ښه ما اجازت ورکړو دا خلق جنت ته داخلیدلی شی.

حضور ﷺ فرمائیل د الله ﷻ قسم تاسو به جنت کښې خپلو کورونو او خپلو بیبیانو له دومره زر اورسیږئی لکه څومره زر چه په دنیاکښې رسئی. هر سړی ته به ښه بی بی ملاویږی دآدم ﷺ د اولاد نه اود اویاؤ حورونه. دې دواړوته به په دې اویاؤ حورو باندې فضیلت حاصل وی خکه چه په دنیا کښې دې ښځو د الله ﷻ لوئ لوئ عبادتونه کړی وو. هغه به یوې له راشی نو هغه به د یاقوتو په کورکښې په مرغلرو سره ښائسته کړې شوی د سرو زرو په تخت ناسته وی چه د سندس او استبرق اویا جنتی جوړې به ئې اچولې وی. هغه به د دې په اوږه لاس کیږدی نو د خپل لاس عکس به د هغې د سینې نه، د کپړو نه د بدن او غوښتې نه اخوا بل طرف ته ښکاری. بدن به ئې دومره صفا وی چه په هډوکی کښې به ئې مازغه ښکاری لکه چه د یاقوتو یوه چوکه وینې. دهغې زړه به د هغې د پاره آئینه جوړه شوی وی اود هغې زړه به د ده د پاره وی نه به دې د هغې نه سترې کیږی او نه به هغه د ده نه سترې کیږی. هغه چه کله هم دې ښځې له راځی هغه به پیغله وی نه به هغه د ده نه څه ګیله کوی او نه به دې د هغې نه څه ګیله کوی. په دې کښې به یو آواز راشی وائی به چه مونږ ته پته ده چه په تاسو کښې به د چا زړه مور نه شی خو ستا نورې بیبیانې هم شته نو هغه جنتی به وار په وار هغوی له راځی او چه کومې یوې له هم هغه راشی وائی چه په الله ﷻ قسم په جنت کښې زمانه بله ښائسته نشته او نه ماسره ستا نه بل څوک خوښ شته.

لیکن چه کله دوزخیان دوزخ کښې غورزولې شی نو اُور به د چا د قدمونوپورې وی د چا د نیم ورونو پورې د چا د زنګونو او ملاپورې، د چا دمخ نه علاوه ټول بدن پورې خکه چه په مخ باندې اُور حرام کړې شوې دې. رسول الله ﷺ فرمائیلی زه به الله ﷻ ته اووایم چه ای ربه! زما د امت د دوزخیانو باره کښې زما شفاعت قبول کړه. نو الله ﷻ به اوفرمائی چه راوباسه د دوزخ نه خپل امتیان کوم چه ته پیژنې نو یو امتی به هم بچ نه شی. بیا به د عام شفاعت اجازت ملاؤشی. نو هر نبی او هر شهیدبه خپل خپل شفاعت وراندې کړی. بیا به الله ﷻ اوفرمائی چه د چا په زړه کښې د دینار د وزن برابر ایمان هم وی هغه د دوزخ نه راوباسئی. بیا به اوفرمائی چه د دوو دینارو د دریمې حصې برابر هم وی، بیا به فرمائی چه د یو دینا د دریمې حصې برابر هم وی، که د دینار د څلورمې حصې برابر وی،

Scanned with Ca

بیا د قیراط برابر او بیا که د اوری د دانې برابر هم وی، نو تول به د دوزخ نه رابهر کړې شی. بیا به هغه هم چه د الله ﷻ د پاره ئې څه د خیرکار کړې وی اوس به څوك هم باقی پاتې نه شی چه د شفاعت قابل وی. تردې چه د الله ﷻ د رحمت عام کیدو ته اوګوری نو د ابلیس به هم طمع پیدا شی چه د هغه هم څوك شفاعت اوکړی. بیا به الله ﷻ اوفرمائی چه اوس یو زه باقی پاتې شوم نو زه خو په تولو رحم کونکوکښې د تولونه زیات رحم کونکې یم نو په دوزخ کښې به خپل لاس ورخښ کړی او داسې بې شمیره دوزخیان چه سوزیدو سره کوئله شوی وی هغه به د جنت په نهر کوم ته چه نهر حیاة وائی واچولې شی هغوی به د نوی سر نه داسې تازه شی لکه چه د تالاب په غاړه شنه بوتی چه نمر ورته اورسی نو شنه ښکاری اوچه په سوزی کښې وی نو زیړ ښکاری. هغوی به د مستو سبزو په شان راوتوکیږی او د ذرو په شان به خواره شوی وی. د هغوی په تندو باندې به لیکلې شوی وی د الله ﷻ آزادکړې شوی دوزخیان. په دې لیك سره به د هغوی د جنتیانو سره پیژندګلو اوشی چه هغوی څه نیك کارونه کړی وو. یو مودې پورې به هغوی په جنت کښې دغه شان وی. بیا به الله ﷻ ته درخواست اوکړی چه ای ربه! دا لیك ختم کړه نو ختم به کړې شی. دا مشهور حدیث دې او ډیر اوږد دې ډیر غریب دې او په مختلفو احادیثوکښې مختلف تګړې دی بعض خبرې د نکارت قابلې دی. اسماعیل بن رافع د مدینې قاضی د دې په روایت کښې یوازې دې، د دې په صحت کښې اختلاف دې. بعضو د دې توثیق کړې دې، بعضو ضعیف ګرځولې دې، بعضو انکار کړې دې. لکه احمد بن حنبل حاتم رازی، عمر بن علی فلاس رحمهم الله، بعضو متروك ګنړلې. ابن عدی رحمه الله فرمانی چه دا تول حدیث د غور قابل دې اود دې تول راویان ضعیف دی. زه وایم چه د دې په اسناد کښې په ډیرو وجوهاتو اختلاف دی. ما دا جدا په یوجزء کښې بیان کړې دې د دې دعبارت سیاق هم عجیبه دې. ډیر احادیث ئې یوځائ کړی او دا ئې یو حدیث جوړکړیدې او دا ئې هم یو سیاق ګرځولې دې، نو په دې وجه د انکار قابل شو. ما د خپل استاذ حافظ ابوالحجاج المزی رحمه الله نه اوریدلی دی چه دا د ولید بن مسلم یو کتاب دې کوم چه هغه راجمع کړې دې. نو لکه چه دا شواهد دی د بعضې جدا جدا احادیثو. والله اعلم.

وَاِذْ	قَالَ	اِبْرٰهِيْمُ	لِاَبِيْهِ	اٰزَرَ	
اوکله چې	اووئیل	ابراهیم	پلار خپل	آزرته	
اوهغه وخت یادکړه چې ابراهیم ﷺ خپل پلار ته آزرته اووئیل					
اَتَتَّخِذُ	اَصْنَامًا	اٰلِهَةً	اِنِّيْٓ	اَرٰىكَ	وَقَوْمَكَ	فِيْ ضَلٰلٍ	مُّبِيْنٍ ۝
آیا نیسې ته	بتان	په خدایئ سره ایښکه چې زه	وینم تا	اوقوم ستا	په ګمراهئ	ښکاره کښې	
چې آیا ته بتان په خدائې سره نیسې ازه خووینم چې ته اوستا قوم په ښکاره ګمراه کښې یئ							
وَكَذٰلِكَ	نُرِيْٓ	اِبْرٰهِيْمَ	مَلَكُوْتَ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ		
اوهمدارنګې ایښودلو مونږه	ابراهیم ته	انظام سلطنت	د آسمانو نو	او دزمکې			
اودغه شان مونږ ابراهیم ﷺ ته د آسمانونو اوزمکې دبادشاهت نظام اوخودلو							
وَلِيَكُوْنَ	مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ۝	فَلَمَّا	جَنَّ	عَلَيْهِ	الَّيْلُ		
اودپاره ددې چې شی هغه	دیقین کونکو نه	نوهرکله چې	خوره شوه	په هغه باندې	شپه		
اوددې دپاره چې په هغه ډله کښې شامل شی چه کوم یقین کوی	هرکله چې پرې شپه راغله						

رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ

اولیدو هغه | یوستوري | اووئیل هغه| دا رب زما دي|پس هرکله چي| پټ شوهغه| نووي وئیل|

اوستوری ئي اولیدل | نووي وئیل چه دازما رب دي | خو چي کله ډوب شول نو وي وئیل چي

لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ۝ فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ

نه خوښوم زهٔ| پټیدونکی |بیاهرکله چی |اولیده هغه| سپوږمئ | خلیدونکي | نو وي وئیل |

زه ډوبیدونکو سره محبت نه کوم| هرکله چي ئي روښانه سپوږمئ .....| اولیده نو وي وئیل

هٰذَا رَبِّيْ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ

دا رب زما دي | خو هرکله چی | غائبه شوه هغه | نو وي وئیل| که چری| هدایت اونکړي ماته

چي دا زما رب دي | خوکله چي هغه پټ یوته | نو وي وئیل که چرې ماته الله ﷻ سمه لار اونه ښائی

رَبِّيْ لَاَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ ۝ فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ

رب زما| نوخامخا شم به زهٔ| د قوم گمراه نه| هرکله ا اولیدوهغه | نمر

نوزه به د هغه خلقو نه شم چه گمراهان دی | .....بیاهرکله چي نمر ئي خلیدونکي اولیدو

بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ

خلیدونکي روښانه| نو وي وئیل| دا رب زما دي | دادټولونه لوئ دي| خوهرکله چی | پناه شوهغه

.....نو وي وئیل چي دازمارب دي | اوداپه ټولو کښي لوئي دي | خوکله چي هغه پریوتو

قَالَ يٰقَوْمِ اِنِّيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ۝

نو وي وئیل | اې زما قومه | بیشکه زهٔ | بیزاره یم | دهغو نه | چی تاسو ئي شریکوئ

نووي وئیل چي اې زما قومه زه ستاسو د شرک نه ویزاره یم .....

اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

بیشکه زهٔ چی یم| گرزولي دي ما| مخ خپل | هغه الله ته| چی پیدا کړی دی هغه| آسمانونه| اوزمکه

ماخوخپل مخ هغه ذات طرف ته اوګرځولو| چي آسمانونه او زمکي ئي پیدا کړی دی

حَنِيْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝

حال داچی یومخیزي یم حق ته| اونه یم زهٔ| دمشرکانونه |

زه یومخیز یم | اودمشرکانو په ډله کښي نه یم شامل |

قوله تعالي: وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ اَصْنَامًا اٰلِهَةً

د حضرت ابراهیم ﷺ خاندان او آزر:- د حضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دي چه د حضرت ابراهیم ﷺ د پلار نوم آزر نه وو بلکه تارخ وو. د الله ﷻ ارشاد ﴿وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ﴾ ابن عباس ﷺ فرمائی چه د آزر نه مراد صنم او بت دي. د ابراهیم ﷺ دپلار نوم خو تارخ، د مور نوم شانی او د بی بی نوم ساره وو او د

حضرت اسماعیل ﷺ د مور نوم کومه چه د ابراهیم ﷺ وینزه وو هاجره وه. د نسب د علماؤ نه د اکثرو قول دا دی. آزر نوم وو د یو بت نو د ابراهیم ﷺ پلار د دې بت خادم او عبادت کونکې وو په دې وجه دغه نوم په هغه باندې غالب راغلو. والله اعلم.

ابن جریر رحمه الله وغیره وائی چه د خبرو دا طریقه د هغه خلقو په خبرو اتروکښې یوه عیب جنه خبره او ناروا خبره ګنړلې شوه. د دې لفظ آزر معنی ده کوګ. لیکن د چانه ئې د دې روایت نه دې پیش کړې او نه ئې دا چاسره منسوب کړې ده. ابن ابی حاتم رحمه الله وائی چه معتمر بن سلیمان بیان کړې دې چه ما د خپل پلار نه اوریدلی دی چه هغه به د آزر معنی اعوج یعنی کوګ خودله او دا یوه سخته کلمه وه چه ابراهیم ﷺ اوونیله. ابن جریر رحمه الله وائی چه صحیح خو دا دی چه د هغه د پلار نوم آزر وو. بیا د نسب د پیژندګلو کونکو اعتراض پیش کولو سره وائی چه د ابراهیم ﷺ د پلار نوم تارخ وو. بیا وائی چه ممکن دی دوه نومونه ئې وی لکه چه د اکثرو خلقو وی او یا یو نوم د لقب او عرف په توګه وی دا یوه جید وجه کیدې شی. والله اعلم.

آزر ته دَ توحید درس او دَ هغې انجام:- د الله ﷻ په قول کښې د قاریانو اختلاف دې. حسن بصری او ابویزید مدنی رحمهم الله وائی چه د دې معنی دا دې چه ای آزره! ته بتان رب ګنړې؟ لکه آزر ئې منادی جوړکړې دې او جمهور دا په فتحې سره لولی. د حسن بصری رحمه الله په نزد پیش سره نه دې. د دې مطلب دا شو چه دا لفظ یو معرفه او علم دې په دې وجه به غیرمنصرف ګنړلې شی. لکه قول ﴿لِأَبِيهِ﴾ نه بدل دې او هم په دې بنا باندې منصوب دې یا به عطف بیان ګنړلې شی او هم دا ډیر صحیح کیدې شی اوچه کوم خلق دا نعت ګرځوی لکه احمر او اسود غیرمنصرف خو چه د چا دا ګمان دې چه دا د محمول کیدو په وجه منصوب دې ځکه چه ﴿أَصْنَامًا آلِهَةً﴾ تقدیرداسې دې ﴿يا ابت أزرا اتتخذ أصناما آلهة﴾ یعنی ای پلاره! آیا آزر بتان ته رب جوړوې خو د لغت په لحاظ سره دا قول بعید یعنی لرې دې په دې وجه چه کوم حرف د استفهام نه پس وی هغه په خپل ماقبل باندې عمل نه کوی ځکه چه د دې حرف استفهام د پاره خو صدرکلام پکار دې. ابن جریر رحمه الله وغیره د دې تقریر او تصدیق کړې دې او د عربئی په قواعدو کښې همدغه مشهور دی. مقصد دا چه ابراهیم ﷺ خپل پلار ته نصیحت اوکړو، د بتانو په عبادت کولو ئې د هغه مخالفت اوکړو، هغه ئې د دې نه منع کړو خو د هغه پلار منع نه شو. هغه اوونیل چه تا بت خپل رب جوړکړو؟ زه تا او ستا په مسلك تلونکی خلق په لویه ګمراهئی کښې شمیرم. په دې سره به بې لارې شې بلکه په حیرانتیا او جهل کښې به یئې. هغه په جهالت او ګمراهئی ګرځول د هر یو عقل سلیم صاحب د پاره یو واضح دلیل دې.

د الله ﷻ ارشاد دې په قرآن کریم کښې د حضرت ابراهیم ﷺ ذکر اوګوره، هغه صدیق او نبی وو. خپل پلار ته هغه وئیلې وو ای پلاره د دې عبادت مه کوه چه نه اوری، نه ګوری او نه ستا څه کار کولې شی. ای پلاره! د الله ﷻ د طرف نه ماته هغه علم حاصل شوې دې چه تاته نه دې حاصل شوې نو زما خبره اومنه زه تاته بالکل نیغه لار ښائم. ای پلاره! د شیطان عبادت مه کوه شیطان د الله ﷻ دښمن دې. ای پلاره سخته اندیښنه ده چه په تاباندې به عذاب نازل شی او ته به د شیطان دوست اوګرځولې شې. نو آزر جواب ورکړو چه ای ابراهیم! ته زما د خدایانونه ډډه کونکې ئې، که ته د دې طریقې نه منع نه شوې نو زه به تا سنګسار کړم او تابه بالکل پریږدم. نو ابراهیم ﷺ سلام عرض کړو او وئې وئیل چه زه به ستا د پاره د الله ﷻ نه استغفار اوکړم. زما الله ﷻ ډیر مهربانه دې خو زه تاهم پریږدم او ستا دا باطل خدایان هم. زه به هم الله ﷻ سره خپله رابطه یوخای کوم. کیدې شی چه الله ﷻ ما زما په دعاکښې ناکامه نه کړی. ابراهیم ﷺ به ترژونده پورې د خپل پلار د پاره استغفار کولو خو چه کله ئې پلار هم په شرك کښې مړشو او حضرت ابراهیم ﷺ ته معلومه شوه چه د شرك د پاره استغفار کار نه

Scanned with Ca

کوی نو استغفار ئې پریخودو. لکه چه الله ﷻ فرمائی د ابراهیم ﷺ استغفار خو د هغه د پلاره د پاره په دې وجه وو چه هغه ورسره وعده کړې وه. لیکن کله چه ابراهیم ﷺ ته معلومه شوه چه هغه د الله ﷻ دښمن دې نود هغه نه ئې ویزاری اوکړه بې شکه حضرت ابراهیم ﷺ الله پرست او حلیم وو. په صحیح حدیث کښې روایت دې د قیامت په ورځ به حضرت ابراهیم ﷺ خپل پلار سره ملاؤ شی نو آزر به ورته اووائی ای بچیه نن به زه ستا نافرمانی نه کوم نو ابراهیم ﷺ به خپل رب ته عرض اوکړی ای ربه! تاماسره وعده نه وه کړې چه زه به د قیامت په ورځ تا نه ذلیل کوم او نن زما د پاره د دې نه بله لویه رسوائی څه کیدې شی چه زما پلار په دې حال کښې دې. ارشاد به اوفرمائیلې شی چه ای ابراهیم ﷺ! ته خپل شاته اوګوره نو هغه به د خپل پلار په ځائ یو کتمل اوګوری چه په ختیوکښې لړلې شوې دې او د هغه پښې ئې نیولی دی او هغه دوزخ طرف ته راکاږی بوځی.(۱)

د آسمان او زمکې په ملکوت باندې نظر:- دغه شان الله ﷻ ارشاد فرمائی چه مونږ ابراهیم ﷺ ته د زمکې او آسمان ملکوت وراندې کوو اود هغه په نظر کښې دا دلیل قائموو چه څنګه د الله ﷻ په وحدانیت د زمکې او آسمان مخلوق بنیاد دې د کومې نه چه دا دلیل اخستې شی چه د الله ﷻ نه سوا بل رب نشته. هم داسې دلالت فی النظر ته ملکوت وائی. ځکه چه دلالت فی النظر اول د ټولو نه وراندې حضرت ابراهیم ﷺ ته حاصل وو لکه چه الله ﷻ فرمائی ﴿ أَوَلَمْ يَنظُرُوا۟ فِى مَلَكُوتِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ او بل ځائ کښې دی ﴿أَفَلَمْ يَرَوْا۟ إِلَىٰ مَا بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَمَا خَلْفَهُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ﴾ خلقو له دآسمان او زمکې په مخلوق باندې د عبرت نظر اچول پکار دی. دوی ته د ځان نه وراندې روستو کتل پکار دی. که مونږ غواړو نو په زمکه کښې به دوی ورخبس کړو او که اوغواړو نود آسمان نه به پرې یوه ټکړه راګذار کړو. رغبت او رجوع کونکو د پاره په دې کښې نښې دی. خو د ملکوت باره کښې ابن جریر رحمہ اللہ وغیره بیان کړې دې چه د ابراهیم ﷺ د سترګو په وراندې آسمان شلیدلې وو او حضرت ابراهیم ﷺ د آسمان ټولو څیزونوته کتلې وو. تردې چه د هغه نظر تر عرش پورې رسیدلې وو او اووه واړه زمکې د هغه د پاره کولاؤ شوې وې نو هغه د زمکې دننه څیزونه اولیدل. بعضو خلقو د دې مضمون اضافه هم کړې ده چه هغه د خلقو ګناهونه هم لیدلې وو او په هغه ګناهګارانو باندې ئې بددعا کړې وه نو الله ﷻ فرمائیلې وو چه نه، ای ابراهیم ﷺ! زه تانه ډیر په خپلو بندیګانو باندې مهربان یم، څه لرې خونه ده که روستو هغوی توبه کړی او رجوع اوکړی. حضرت ابن عباس ؓ د دې آیت باره کښې فرمائی چه الله ﷻ په خپل قدرت سره حضرت ابراهیم ﷺ ته د زمکې او آسمان ټول پټ او بنکاره څیزونه اوخودل، په هغې کښې هیڅ هم پټ پاتې نه شو او چه کله هغوی د ګناهګارانو په ګناه باندې بد وئیل نو اوفرمائیلې شو چه نه داسې نه، اود هغوی بد دعا رد کړې شوه. بیا هغه د وراندې په شان شو. احتمال دې چه د هغه د سترګونه پرده اخوا شوې وی او پټ د هغه د پاره بنکاره شوی وی. او دا هم احتمال دې چه د زړه په سترګو هغه لیدلې وی او د الله ﷻ حکمت باهره او دلالت قاطعه ئې معلوم کړې وی لکه چه د امام احمد او ترمذی رحمهم الله نه روایت دې. د خوب په حالت کښې الله ﷻ په یو بهترین شکل کښې ماله راغلو او وئی فرمائیل ای محمد ﷺ! په ملااعلی کښې څه بحث کیږی؟ ماعرض اوکړو ای ربه! ماته پته نشته نو هغه خپل لاس زماد دواړو اوږو په مینځ کښې کیخودو نود هغه د ګوتویخواولې ما په خپله سینه کښې محسوس کړو.اوس هرڅیز ماته بنکاره شو اوهرڅه می اولیدل.(۲) د الله ﷻ قول ﴿وَلِيَكُونَ مِنَ ٱلْمُوقِنِينَ﴾ کښې وئیلې شوی دی چه په دې آیت کښې واؤ زائده دې نود دې تقدیرداسې

---

(۱) صحیح بخاری کتاب احادیث الانبیاء باب قول الله تعالی (واتخذالله ابراهیم خلیلا). ۳۳۵۰.

(۲) احمد: ۲۴۳/۵، ترمذی کتاب تفسیر القران ومن سورة صآد : ۳۲۳۵، وسنده حسن.

Scanned with Ca

شو ﴿مَلَكُوتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ﴾ یعنی بغیرد واؤ نه.لکه څنګه چه په دې آیت کښې ﴿وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ﴾ پدې کښې د آیت نه پس واؤ زائده دې. دا هم وئیلی شوی دی چه زائد نه دی بلکه د وړاندینئی خبرې په بنیاد باندې خبره اوچته کړې ده. یعنی مونږ په هغه باندې ملکوت ښکاره کړل دي د پاره چه هغه اوګوری او یقین اوکړی. اوس د الله ﷻ قول دې چه کله تیاره شپه شوه نو حضرت ابراهیم ﷺ ستورې اولیدلو نو وئی وئیل چه دا به زما رب وی خو چه کله هغه ډوب شو نو هغه اوونیل چه ډوبیدونکی څیزونه خو زه نه خوښوم او نه غیبیدونکې څیز رب کیدې شی. قتاده رحمه الله وائی چه ابراهیم ﷺ ته معلومه شوه چه رب خو هغه کیدل پکار دی چه زائل کیږی نه. بیا ئې چه کله سپوږمئی روښانه اولیدله نو وئی وئیل چه دا به زما الله ﷻ وی. چه هغه هم ډوبه شوه نو وائی دا هم الله ﷻ نه دې. که الله ﷻ عزوجل زما لارخودنه اونه کړی نو زه خو به ګمراه شم. بیائې چه کله نمر راختونکې اولیدو نو وئیلې دا روښانه دې او د ټولو نه لوئ هم دې نو چه کله هغه هم ډوب شو نو وئی وئیل ای قومه! زه خو جدا کیږم ستاسو د دې ټولو څیزونونه د کومو چه تاسو عبادت کوئ. ماخو د هغه ذات طرف ته خپل مخ کړې دې چا چه زمکې او آسمانونه پیدا کړی دی سره د دې خبرې د دې څیزونو د پیدا کولو په وخت کښې د هغه په وړاندې د دې هیڅ نمونه نه وه په دې وجه زه د شرک نه د توحید طرف ته راځم.

دَ مناظرې میدان که دَ غوراوفکر مقام:- مفسرینو حضراتو په دې مقام کښې اختلاف کړې دې چه آیا دا د ابراهیم ﷺ د غوراو فکر مقام دې یا قوم سره د مناظرې مقام دې او هغه د قوم نه د یو مناظره کونکی په شان سوال کوی. حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا د ابراهیم ﷺ د غور او فکر مقام ګرځوی د دې قول نه په دلیل نیولوکه زما رب ماته هدایت اونه فرمائی نو زه به ګمراه شم. محمد بن اسحاق رحمه الله وائی چه ابراهیم ﷺ هغه وخت وئیلی وو کله چه هغه په اول ځل د هغه غار نه راوتلې وو په کوم کښې چه هغه د خپلې مور نه پیدا شوې وو ځکه چه د نمرود بن کنعان د ویرې هغه د بچی د پیدا کیدو په وخت کښې یو غار کښې ننوتلې وه. نمرود ته نجومیانو وئیلی وو چه دې کال کښې به یو ماشوم پیدا کیږی د چا په لاس چه به ستا ملك برباد شی نو هغه حکم ورکړې وو چه په دې کال کښې څومره ماشومانه پیدا کیږی ټول قتل کړئی. د ابراهیم ﷺ مور بی بی چه کله حامله شوه او د حمل کیدو وخت نزدې شو نوهغه د بنار نه بهر یو غار ته لاړه او ماشوم ئې هم هلته پریخودو لاړه. په دې سلسله کښې هغه ډیرد عادت نه د خلاف خبرو ذکر کوی لکه څنګه چه هم په دې بنیاد باندې مخیکینو او روستنو مفسرینو هم ذکر کړې دې خو رښتیا دادی چه د ابراهیم ﷺ خپل قوم ته دا بیان د یوې مناظرې په حیثیت سره دې. ددې عقیدې باطله کولودپاره چه تاسود کومو بتانو عبادت کوئ دا ټول هیڅ نه دی. په اول مقام کښې هغه د بتانو د عبادت متعلق د خپل پلار خطا ښکاره کوی چه دا بتان هغوی د فرښتو په شکل جوړکړی وو چه دا بتان به دخالق حقیقی په وړاندې د هغوی شفاعت کوی سره د دې چه دا بتان پخپله د هغوی په نظرکښې سپك او بې معنې وو. لیکن هغوی لکه چه د ملاتکو عبادت کولو سره دا غوښتل چه هغوی د رزق او نورو ضرورتونو متعلق الله ﷻ ته سفارش اوکړی نو په دې مقام کښې د هغوی خطا او ګمراهی ښکاره شوه. دا شکلونه د اوو ستورو وو یعنی قمر، عطار، زهره، شمس، مریخ، مشتری او زحل. د ټولو نه ډیر پرقیدونکې ستورې شمس یعنی نمر دې بیا قمر سپوږمئی ده بیا په دې ټولو ستوروکښې ډیرپرقیدونکې زهره ده. نو حضرت ابراهیم ﷺ د ټولو نه وړاندې هم دا ستورې زهره واخستله او قوم ته ئې اوخودل چه تاسو د رب په خای دا کوم ستوری نیولئی دی په دې کښې هیڅ صلاحیت نشته، دا پخپله پابند دی چه اود دوی رفتار معین او مقرر دې. دا نیغ یا ګس طرف ته لږ شان هم په خپل اختیارسره نه شی تبدیلې. دا اجرام فلکی دی کوم چه الله

Scanned with Ca

ﷺروښانه پیدا کړی دی او په دې کښې دهغه ډیر لوی ځکمت پټ دی. دا د مشرق نه راوځی بیا د مشرق او مغرب په مینځ کښې په لار تیریږی بیا د نظر نه غیب شی او بله شپه بنکاره شی. داسې ځیزونه چه په خپل عادت مستمره باندې پابند وی الله ﷻ ځنګه کیدې شی. بیاهغه د سپوږمئی طرف ته راځی او د زهره باره کښې چه کوم بیان کړې وو هم هغه بیان کوی. بیا د نمر ذکر کوی او چه کله د دې دریو ځیزونونه د الهیت انتفاء کوی چه په اجرام فلکی کښې ډیر روښانه دی او په دلیل قاطع سره خپله دعوی ثابتوی نو فرمائی چه ای قومه! زه د دې ځیزونو نه بری یم کوم چه تاسو د الله ﷻ سره شریك ګرځوئ. که چرې دا الله ﷻ دی نو دا ټول امدادیان جوړکړئ تاسو زما مخالفت اوکړئ او لږ شان هم ما سره رعایت او نرمی مه کوئ. زه د فاطرالسموات والارض شوې یم زه به ستاسو په شان شرك نه کوم. زه خو به د دې ځیزونو د خالق عبادت کوم چه د دې مخترع دې، مسخر دې او مدبر دې. د هرځیز رشته انقیاد هم د هغه په لاس کښې ده. لکه ځنګه چه اوفرمائیل ستاسو رب هم هغه دې چا چه په شپږو ورځوکښې زمکې او آسمان پیداکړل بیا په عرش باندې مستوی شو. شپه په ورځ او ورځ په شپه سره پټوی چه یو بل پسې ځی راځی. نمر سپوږمئی او ستوری ټول د هغه د حکم لاندې دی. د مخلوق اوامر مالك هم هغه دې، هغه رب العالمین دې اود ډیرو برکتونو خاوند دې.

نو دا ځنګه جائزکیدې شی چه ابراهیم ﷺ په دې مقام د غور او فکر نظر واچوی او د شرك په خیالاتوکښې اول اخته شی سره د دې چه الله ﷻ د هغه په حق کښې فرمائیلی دی چه مونږ د اول نه حضرت ابراهیم ﷺ ته هدایت وربښلې دې. مونږ هغه ښه پیژنو، هغه به خپل پلار او قوم ته وئیل، دا څه بتان دی چه تاسو ورته عبادت کوئ. او وئی فرمائیل چه ابراهیم ﷺ صرف د الله ﷻ عبادت کونکې او ډیر مخلص بنده دې. هغه چرې هم شرك نه دې کړې. هغه د الله ﷻ په نعمتونوباندې شکر ګذاردې. الله ﷻ هغه ډیره غوره جوړکړې دې اوهغه ته ئې د صراط مستقیم هدایت فرمائیلې. په دنیاکښې هم هغه ته خوبیاني او نیکئی ورکړی دی او په آخرت کښې هم هغه د صالحینونه دې، نو بیا مونږ ستا طرف ته وحی رالیږو ای نبی چه د ابراهیم ﷺ د دین مننه کوه هغه حنیف وو مشرك نه وو. الله ﷻ اوفرمائیل چه اووایه ای نبی! زما رب ماته د صراط مستقیم هدایت کړې دې چې په هغې ابراهیم ﷺ قائم وو. اوهغه مشرکانو نه نه وو. صحیح حدیث پاک نه ثابت دی چې حضرت نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې هر پیدا کیدونکې فطرت باندې پیدا کیږی. (۱) حضرت رسول اکرم ﷺ اوفرمائیل الله ﷻ خپل بندیګان حنیف پیداکړی دی (۲) یعنی هم د الله ﷻ کیدونکی. او وئی فرمائیل چه د الله ﷻ فطرت هم هغه دې په کوم چه د انسان پیدائش اوشی او کوم ځیز ئې چه ځنګه پیدا کړو په هغې کښې بدلون نه شی کیدې. او وئی فرمائیل دکوم معنی چې دیوقول په بناهم دغه ده لکه ځنګه چې د ﴿فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا﴾ او ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَىٰ﴾ ده. د دې بیان به راشی. یعنی دا چه خلق الله ﷻ په خپل فطرت باندې پیداکړی دی د الله ﷻ د تخلیق بدلون نشته. نوکله چه د دې الله پرستې فطرت او د بندګئی اعتراف د ټول مخلوق باره کښې دې نو د حضرت ابراهیم خلیل الله ﷺ باره کښې به ځنګه نه وی اوهغه د الله ﷻ په پیژندګلوکښې ځنګه فکرمند اومتردد کیدې شی هغه خو د فطرت سلیم په لحاظ باندې ښکلې هستی وه. بغیر د شك نه خبره هم دغه ده چه هغه په دې مقام باندې خپل قوم سره مناظره او مباحثه کوله او چه په کوم شرك کښې هغه خلق اخته وو د هغوی خیالات د دلیل او ثبوت په ذریعه لرې کوی. دا خبره نه ده چه په خپله متردد وو.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الجنائز باب ماقیل فی اولاد المشرکین : ۱۳۸۵، صحیح مسلم : ۲۶۸۵، ترمذی : ۲۱۳۸، احمد: ۲۵۳/۲.

(۲) صحیح مسلم کتاب الجمعة باب الصفات التی یعرف بها فی الدنیا اهل الجنة واهل النار:۲۸۶۵، احمد:۲۶۶/۴، ابن حبان: ۶۵۳، مسندالطیالسی:۱۰۷۹.

Scanned with Ca

وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ ؕ

| اوجګړه اوکړه دهغه سره| قوم دهغه

| اودهغه قوم هغه سره جګړه اوکړه

قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ ؕ

نوهغه اووئېل آیا تاسو جګړه کوئ زما سره| په حق دالله کښې | اوحال دا چې لاره ښودلی ده هغه ماته

هغه ورته اووئیل چې آیاتاسو ماسره دالله ﷻ په حق کښې جګړه کوئ| اوحال دادې چې هغه ماته سمه لار خودلې ده

وَلَآ اَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْـًٔا ؕ

اونه یریږم زه|دهغې نه|چې تاسو ئې شریکان کوئ |دهغه سره| مګر کیږی به هغه |چې اوغواړی |رب زما څه څیز

اوزه ستاسو دجوړ کړې شوؤ شریکانونه ویره نه کوم| البته زما رب چې څه غواړی(نوهغه به کیږی)

وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۸۰﴾ وَكَيْفَ

فراخه دې|رب زما|په هرڅیزباندې| په لحاظ دعلم سره| آیانونۀ قبلوئ تاسونصیحت | اوڅنګه |

زما د رب علم په هرڅۀ راخور دې | نوتاسو هم حق نه سبق نه زده کوئ | .....اوڅنګه به

اَخَافُ مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ

اویریږم زه|دهغې نه|چې شریکان کړی دی تاسو|اونۀ یریږئ تاسو|ددې نه چې بیشکه تاسو|شریك کړې دې تاسو

زه ستاسو دشریکانو نه اوویریږم| حال دا دې چې تاسونه ویریږئ چې داسې څیزونه

بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ؕ

دالله سره| هغه څه| چې نه دې نازل کړې الله | په شریکولودهغې سره| په تاسو | څه دلیل |

الله ﷻ سره شریکوئ | چې دهغې (د عبادت په جواز) هډوتاسره هیڅ دلیل نشته دې

فَاَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ۚ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۸۱﴾

نوکومه| یوه ددې دواړو ډلونه| زیاته مستحقه ده| په امن سره | که یې تاسو | چې پوهیږئ |

(دااوهاني)چې کومه یوه په دې دواړو ډلو کښې دامن زیاته حقداره ده ؟ | خوهله که تاسو پوهیږئ

اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ

هغه کسان | چې ایمان ئې راوړو| اوګډوډني نه کړو| ایمان خپل | دظلم سره | دغه کسان چې دی|

چاچې ایمان راوړې دې | اوخپل ایمان ئې ظلم (شرک) سره نه دې ګډ کړې | نوهم دغه خلق

لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۸۲﴾ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ

هم هغوئ لره دې | امن | اوهغوئ | نیغه لارموندونکی دی | اودغه ووٴ | دلیل زمونږه

په امن کښې دی | .....اوهم دوی په سمه لار روان دی | .....دا زمونږ هغه دلیل وو چې

اٰتَيْنٰهَآ	اِبْرٰهِيْمَ	عَلٰى	قَوْمِهٖ ؕ	نَرْفَعُ	دَرَجٰتٍ
چې ورکړې وؤمونږه هغه	ابراهيم ﷺ ته	په مقابله	دقوم دهغه کښې	اوچتوومونږ	په درجوکښې
چې ابراهيم ﷺ ته مودقوم مقابله کښې ورکړې وو			اومونږدهغه خلقو درجې اوچتوؤ		
مَنْ	نَّشَآءُ ؕ	اِنَّ	رَبَّكَ	حَكِيْمٌ	عَلِيْمٌ ۝
هغه څوک	چې اوغواړو مونږه	ابيشکه	ارب ستا	صاحب دحکمت دې	پوهه دې په هرڅه
چې دچا باره کښې زمونږ خوښه شي		بيشکه رب ستادحکمت خاوند		او په هرڅه پوهه دې	

قوله تعالى:: وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ ؕ قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ ؕ

د مشرکانو په وړاندې صفاصفاتوحیدی خبرې:-الله ﷻ د حضرت ابراهیم خلیل الله باره کښې ذکر فرمائی چه کوم وخت هغوی د تو حید متعلق خپل قوم سره مناظره کوله او هغوی خپل قوم ته فرمائیل چه آیا تاسو د الله ﷻ باره کښې ماسره جګړه کوئ هغه خو واحد او ځان له دې او هغه د حق طرف ته ماته بصیرت او هدایت فرمائیلې دې او زه د هغه په یو والی باندې دلائل لرم. نو زه بیا ستاسو فاسدواقوالواو باطله شبهاتوطرف ته څنګه توجو ورکولې شم. ستاسو د قول په باطل کیدو باندې ماسره دلیل شته. ستاسو دا د ځان نه جوړشوی بتان خو په یوه خبره کښې هم اثر نشی کولې. نه زه د دوی نه ویریږم او نه د دوی زه ذره پرواه کوم. که دا بتان زما څه کولې شی نو ښه ده اودې کړی او ماله دې د سمیدو د پاره یوذره مهلت هم نه راکوی. د الله ﷻ قول دې ﴿اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْـًٔا ؕ﴾ او که الله ﷻ څه کول غواړی نو کولې شی. په ټولو څیزو د هغه د علم احاطه وسیع ده. یوڅیز د هغه نه پټ نه دې. زه چه کوم څیز بیانوم د هغې نه تاسو هیڅ عبرت نه اخلئ؟ دې د پاره چه د بتانو د عبادت نه منع شئ. د احتجاج دا صورت بالکل داسې دې لکه څنګه چه حضرت هود ﷺ د خپل قوم په وړاندې ایخودې وو. اود هغه قوم عاد قصه هم په قرآن پاک کښې موجود ده چه ﴿قَالُوْا يٰهُوْدُ مَا جِئْتَنَا﴾ یعنی ای هود ﷺ! تا خو څه معجزه پیش نه کړه، ستا په خالی وینا باندې مونږ خپل معبودان پریږدو، مونږ خو په تا باندې ایمان راوړونکی نه یو، مونږ خو هم دا ګنړو چه په تاباندې زمونږ د معبودانو څه لعنت وریدلې دې. نو هود ﷺ اوونیل زه الله ﷻ ګواه جوړوم او تاسو هم ګواه اوسیږئ چه زه د الله ﷻ نه نه بلکه الله ﷻ سره نور معبودان چه تاسو شریک کړی دی هغې نه ویزاره یم. اوس تاسو سره ستاسو د بتانو ټول یوځای شئ او چه څومره زما بد غواړئ هیڅ کسر مه پریږدئ او مه ماله مهلت راکوئ. زما یقین خو په خپل رب باندې دې چه ستاسو هم رب دې هغه به هر څا لرونکی خپل ځان سره د نیولو د پاره رابلی. بیا په ذکر شوی آیت کښې فرمائی چه زه آخر ستاسو د دې باطلو بتانو نه ولې اوویریږم چه تاسو پخپله د دې خبرې نه نه ویریږئ، چه نور څیزونه د الله ﷻ سره شریک ګنړئ د کوم چه تاسو سره هیڅ دلیل هم نشته. لکه څنګه چه یو ځای کښې فرمائی ﴿اَمْ لَهُمْ شُرَكٰٓؤُا﴾ بل ځای فرمائی ﴿اِنْ هِيَ اِلَّآ اَسْمَآءٌ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ﴾ بیا ارشاد مبارک دې چه هم تاسو اونیایئ چه ستاسو او زما په ډله کښې څوک په حقه دې، آیا هغه الله ﷻ چه هرڅه کولې شی یا هغه چه د ذرې برابر نفع نقصان نه شی کولې. بیا فرمائی چه کومو خلقو ایمان راوړو او خپل ایمان سره ئې د ظلم پیوند اونه لګولو، نو امن او تسلی خو د هغوی حق دې او هم دغه د هدایت خاوندان دی. هم هغوی خپل عبادت د شرک د شک او شبهې نه خالص ساتلې، په دنیا او آخرت باندې هم د دوی قبضه ده.

Scanned with Ca

کله چه صحابه کرامو ﷺ ته د ظلم د مفهوم پته اونه لګیدې شوه:- په بخاری شریف کښې د عبدالله ﷺ نه روایت دې چه کله دا آیت ﴿ وَلَمْ يَلْبِسُوٓا إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ ﴾ نازل شونو صحابه کرامو رضوان الله اجمعین اوونیل یا رسول الله ﷺ! څوک دې چه هغه به په خپل نفس باندې ظلم نه وی کړې. نو آیت نازل شو ﴿ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ یعنی ظلم عظیم چه دې هغه شرک دې،(۱) کله چه دا پورتنې آیت نازل شوې وو په هغې خلقو ته غلط فهمی شوې وه نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه څنګه تاسو ګنړئ نو داسې نه ده. آیا تاسو نه دی اوریدلی چه عبدصالح یعنی لقمان حکیم وئیلې وو ﴿ يَٰبُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللَّهِ ۖ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ ﴾ د ظلم نه مراد شرک دې(۲) عبدالله ﷺ نه روایت دې چه کله ﴿وَلَمْ يَلْبِسُوٓا إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ﴾نازل شو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ماته اوفرمائیلې شو چه ته د هغه ایماندارہ خلقو نه ئې. (۳) جریر ابن عبدالله ﷺ فرمائی چه یوځل مونږ رسول الله ﷺ سره روان وو چه کله د مدینې نه بهر شو نو یو سور زمونږ طرف ته راروان ښکاریدو. رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا سور تاسو سره د ملاویدو د پاره راروان دې. کله چه هغه مونږ له راورسیدو نو سلام ئې اوکړو. حضور ﷺ تپوس اوکړو د کوم ځای نه راروان یئ؟ هغه د خپل کور بال بچ او قبیلې د طرف نه. بیا حضور ﷺ اوفرمائیل چرته روان یئ؟هغه وئیل رسول الله ﷺ سره ملاویدل غواړم. حضور ﷺ اوفرمائیل وایه هم زه د الله ﷻ رسول یم. هغه وئیل یارسول الله ﷺ! ماته د ایمان تعلیم راکړه. حضور ﷺ اوفرمائیل چه وایه د الله ﷻ نه علاوه بل څوک اله نشته او دا چه محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دې. مونځ کوه، زکواة ورکوه، د رمضان روژې ساته او حج کوه. هغه اووئیل ماته د دې خبرو اقرار دې. بیا چه کله روان شو نود هغه د اوښې پښه د څنګلی مړې په سوړه کښې اونښته او اوښې راپریوتلو دې سره هغه سور هم راپریوتلو د هغې سرمات شو ستې ئې هم مات شو. حضور ﷺ اوفرمائیل په ما د ده خسمانه کول ضروری دی. ورسره عمار بن یاسر ﷺ او حذیفه ﷺ ورمنډه کړه او هغه ئې اوچت کړو بیا ئې اوونیل یا رسول الله ﷺ! دا خو مړ شو. حضور ﷺ مخ بل طرف ته کړو اووئی فرمائیل چه تاسو ته پته ده چه ما مخ ولې واړولو. ما دوه فرښتې اولیدلې چه د جنت میوې د ده په خُله کښې ورکولې څه سره چه ماته معلومه شوه چه هغه اوږې مړشوې دې. بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دا دهغه خلقو نه وو د چا باره کښې چه الله ﷻ فرمائیلی دی چه هغوی د خپلو ایمانونوسره ظلم یعنی شرک نه یو ځای کوی. بیا ئې اوفرمائیل چه خپل رور انتظام اوکړئی نو مونږ هغه ته غسل ورکړو او کفن مو ورته واغوستو، خوشبوئ مو پرې اومړله او چه کله مو قبر ته اوړلو نو حضرت رسول اکرم ﷺ تشریف راوړلو او د قبر په غاړه کیناستو او وئی فرمائیل چه لحد والا قبر جوړ کړئی کولاؤ قبر مه جوړوئی. زمونږ قبرونه د لحد والا وی او د نورو خلقو کولاؤ قبرونه وی. (۴) اودې د هغه خلقو نه وو چه ډیر لږ عمل کوی او ډیر زیات خیر بیامومی.(۵) په تفصیل سره ابن عباس ﷺ داسې بیان کوی چه مونږ رسول الله ﷺ سره روان وو یو باندچی مخې ته راغلو او وئی وئیل یا رسول الله ﷺ! د هغه ذات قسم دې چا چه ته په حقه سره پیغمبر رالیګلې ئې ما خپل مال اولاد وطن پریخودو او راغلم چه ستا په ذریعه هدایت حاصل کړم او دغه شان تاسو ته رسیدلې یم چه د زمکې ګیا وانښه خورم نو ته به اوس ماته دین

---

۱) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة الانعام باب (ولم یلبسوا ایمانهم بظلم) ٤٦٢٩، صحیح مسلم: ١٢٤. ترمذی: ٣٠٦٧، احمد:٣٧٨/١، السنن الکبری للنسائی: ١١١٦٥.

۲) احمد:٣٧٨/١،

۳) ابن مردویه.

۴) احمد:٣٥٩/٤،

۵) احمد حواله سابق

اوښاني. حضور ﷺ هغه ته دين اوخودلو او هغه قبول کړو. مونږ د هغه نه چاپيره راجمع شو هغه روان شو نو د هغه د اوښ پښه د خنګلی مړې په سوړه کښې اونښته، هغه پريوتلو او په ديکه سره د هغه سټ مات شو. نوحضور ﷺ اوفرمائيل د الله ﷻ قسم هغه ربښتيا ونيلی وو چه خپل وطن بال بچ پريخودی او ماله صرف هدايت او دين حاصلولودپاره راغلې وو. هغه د دين تعليمات حاصل کړل. ماته معلومه شوه چه د سفر ورځې صرف د زمکې کيا وانښه خوړلو سره تيرې کړې وې، هغه عمل لږ اوکړو او اجرنې ډير حاصل کړو. آيا تاد هغه خلقو باره کښې اوريدلی چا چه خپل ايمان سره ظلم او شرک شامل نه کړو. هم دغه خلق د امن او د زړه د اطمينان حق دار دی. همدغه هدايت يافته خلق دی او دې هم د هغوی نه وو.

د عبدالله بن سنجره ﷺ نه روايت دې چه حضور ﷺ اوفرمائيل چاته چه ورکړې شو نو هغه شکر اوکړو او چاته چه ورنه کړې شو هغه صبر اوکړو او چا ظلم اوکړو او بيائې ښښنه اوغوښتله او په چا چه ظلم اوشو هغه ښښنه اوکړه، دومره وينا سره حضور ﷺ خاموش شو نو خلقو اووئيل يارسول الله ﷺ! ده ته به څه ملاويږی نو حضور ﷺ اوفرمائيل چه هم دغه خلق د الله ﷻ د طرف نه په امن کښې دی او همدغه خلقو هدايت موندلې دی. د الله ﷻ ارشاد دې ﴿ وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ﴾ مونږ حضرت ابراهيم ﷺ ته خپل قوم سره مناظره او دليلونه راوړل اوخودل. مجاهد رحمه الله د دې آيت نه لاندينی دليل پيش کولو نه الله ﷻ مراد اخلی يعنی دا حجت ابراهيمی چه زه ولې ستاسو د معبودانو نه اوويريږم سره د دې چه تاسو د الله ﷻ سره شرک کولو سره نه ويريږئ د کوم چه نه څه دليل او نه څه سند شته. اوس تاسو پخپله پوهه شئ چه په دواړوکښې چا خپل ډير بچاؤ اوکړو. الله ﷻ دې ته د امن او هدايت نوم ورکړې دی. بيائې اوفرمائيل ﴿اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا﴾ بيا ئې دې نه پس اوفرمائيل ﴿وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى قَوْمِهٖ ۭ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَاۗءُ ۭ﴾ دلته د درجات لفظ بالاضافة او بلا اضافة دواړه شانه لوستلې شوې دي. لکه چه په سورة يوسف کښې دی اوخبره دواړه قسمه يو شان ده. او د الله ﷻ قول ﴿اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ﴾ يعنی هغه په خپلو اقوالوکښې حکيم دې او په خپلو افعالوکښې عليم دې. يعنی چاله چه غواړی هدايت ورکړی او چاله چه غواړی ګمراه ئې کړی. لکه چه فرمائی ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ حَقَّتْ عَلَيْهِمْ كَلِمَتُ رَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴾ يعنی د چا په قسمت کښې چه د الله ﷻ فيصله متحقق شوی ده هغه به ايمان نه راوړی که هغه ته هرقسم نښې ولې اونه خودلې شی چه د الله ﷻ د عذاب سره هغه مخ نه

وَوَهَبْنَا لَهٗٓ	اِسْحٰقَ	وَيَعْقُوْبَ ۭ	كُلًّا	هَدَيْنَا ۚ	وَنُوْحًا	هَدَيْنَا
اوورکړو مونږه هغه ته	اسحاق	اويعقوب	هر يوته	اوښودله مونږ لار	اونوح ﷺ ته	ښودلی وه مونږه لار
اومونږ ورله اسحاق اويعقوب ﷺ (اولاد) ورکړل اوهريوته موسمه لار اوخودله					(هغه لار چې) پخوامونوح ﷺ ته	
مِنْ قَبْلُ	وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ	دَاوٗدَ	وَسُلَيْمٰنَ	وَاَيُّوْبَ	وَيُوْسُفَ	
ورانديې دهغه نه	اودا اولاد دهغه نه	داود ﷺ ته	اوسليمان ﷺ ته	اوايوب ﷺ ته	اويوسف	
اوخودله	او بياموددهغه اولاد کښې داود ﷺ ته	.....	او سليمان ﷺ	....او ايوب ﷺ	.... او يوسف ﷺ	
وَمُوْسٰى	وَهٰرُوْنَ ۭ	وَكَذٰلِكَ	نَجْزِي	الْمُحْسِنِيْنَ ۙ		
اوموسی ﷺ ته	اوهارون ﷺ ته	او دارنګې	بدله ورکوو مونږ	نيکانوخلقوته		
اوموسی ﷺ ..... او هارون ﷺ ته خودلې وه		..... اودغه شان مونږ نيکانوته بدله ورکوو				

وَزَكَرِيَّا	وَيَحْيٰى	وَعِيْسٰى	وَاِلْيَاسَ ؕ	كُلٌّ
اوهدایت اوکړو مونږ زکریاته	اویحیی ته	اوعیسی علیه السلام ته	اوالیاس علیه السلام ته	داټول
اوزکریا علیه السلام او یحیی علیه السلام او عیسی علیه السلام او الیاس علیه السلام ته موخودلې وه				دا ټول (پیغمبران)
مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝٨٥	وَاِسْمٰعِيْلَ	وَالْيَسَعَ	وَيُوْنُسَ	
دنیکانونه وؤ	اوهدایت اوکړو مونږ اسماعیل علیه السلام ته	اوالیسع علیه السلام ته	اویونس علیه السلام ته	
د صالحانو څخه وو	.....او اسماعیل علیه السلام .....او الیسع علیه السلام .....اویونس علیه السلام			
وَلُوْطًا ؕ	وَكُلًّا فَضَّلْنَا	عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۝٨٦ ۙ	وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ	
اولوط علیه السلام ته	اوهریو ته فضیلت ورکړو مونږ	په مخلوقاتوباندې	اودپلارانودهغوی نه	
اولوط ته موخودلې وه	او دوئ کښې هریوته مونږ دهغه زمانې په خلقو فضیلت ورکړې وو		اوددوئ بعضو پلرونو	
وَذُرِّيّٰتِهِمْ	وَاِخْوَانِهِمْ ۚ	وَاجْتَبَيْنٰهُمْ	وَهَدَيْنٰهُمْ	
اوداولاددهغوی نه	اودرونړه دهغوی	اوغوره کړل مونږه هغوئ	اونیغ برابر کړل مونږه هغوئ	
اودبعضو اولاد او د بعضو رونړوته مو فضیلت ورکړې وو		او غوره کړی وو مونږ	او په	
اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝٨٧	ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ	يَهْدِيْ بِهٖ	مَنْ	
لارې	نیغې ته	دا	هدایت دې دالله	نیغه لارښائی په دې سره
نیغه لاز موروان کړی وو	..... دغه دالله ﷻ هدایت دې		چې چاته ئې په خپلو بندګانو کښې	هغه چاته
يَّشَآءُ	مِنْ عِبَادِهٖ ؕ	وَلَوْ	اَشْرَكُوْا	لَحَبِطَ عَنْهُمْ
چې خوښ ئې شي	دبندګانوخپلونه	اوکه چرې	شرک کړې وې دوئ	انوخامخا به ضائع شوی وؤ ددوئ
کښې خوښ شی نوهغه ته ئې ورکوی		خوکه دې خلقوشرک کړې وې	نوخواه مخواه	
مَّا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ ۝٨٨	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	اٰتَيْنٰهُمُ
هغه عملونه	چې وؤ دوئ	اچې کول به ئې	داپیغمبران	هغه کسان وؤ	چې ورکړې وؤ مونږ هغوئ ته
به ئې ټول عملونه ضائع شوی وو	.....		داهغه کسان دی چې مونږ ورته	.....
الْكِتٰبَ	وَالْحُكْمَ	وَالنُّبُوَّةَ ۚ	فَاِنْ	يَّكْفُرْ	بِهَا	هٰٓؤُلَآءِ
کتاب	اوحکم	اونبوت	نوکه چرې	انکارکوی	دې دې نعمت نه	دا خلق
کتاب او حکمت او پیغمبری ورکړې وه			...نوکه داخلق ددې (قرآن) نه انکار اوکړی			
فَقَدْ	وَكَّلْنَا	بِهَا	قَوْمًا	لَّيْسُوْا	بِهَا
نو په تحقیق سره	مقررکړې دي مونږ	په دې نعمت سره	یوداسې قوم	اچې نه دی هغوئ	د هغې نه
نومونږ دا نعمت داسې خلقو ته اوسپارل				.....چې هغوئ د دې نه	

Scanned with Ca

بِكٰفِرِيْنَ ﴿۸۹﴾	اُولٰٓئِكَ	الَّذِيْنَ	هَدَى اللّٰهُ	فَبِهُدٰىهُمُ
انکار کونکی	دا پیغمبران	هغه کسان دی	چې هدایت کړې وو الله	پس په هغوئ پسې
منکر نه دی	دغه خلق وو چې الله ﷻ ورته هدایت کړې وو			نوته هم دهغوئ په لار
اقْتَدِهْ ؕ	قُلْ	لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ	عَلَيْهِ	اَجْرًا ؕ	اِنْ	هُوَ
اقتدا اوکړه ته	اووایه	نه غواړم زه ستاسونه	په کار دد ې تبلیغ	اوهدایت	څه اجر	نه دی	دا قران
تګ کوه	دوئ ته اووایه چې زه د تبلیغ پدې کار ستاسونه اجرت نه غواړم						دا قران پاک
اِلَّا	ذِكْرٰى	لِلْعٰلَمِيْنَ ﴿۹۰﴾				
مګر	نصیحت دی	دپاره دمخلوقانو				
دټولې دنیا د خلقو دپاره یو نصیحت دی						

قوله تعالی:: وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ

د الله ﷻ په ابراهیم ﷺ باندې انعامات:-الله ﷻ فرمائی مونږ حضرت ابراهیم ﷺ ته داسحق ﷺ په شان خوئ ورکړوسره د دې چه د بوډاوالی په وجه هغه اود هغه بی بی ساره د اولاد نه ناامیده شوی وو. فرښتو هغوی له راغلې او قوم لوط طرف ته هم روانې وې.فرښتو ښځې خاوند ته د اسحاق د پیداکیدو زیرې ورکړو نو بی بی حیرانه شوه او وئی وئیل چه ښه ده زما به بچې کیږی زه بوډهئی زما خاوند بوډا دا څنګه عجیبه خبره ده. نو فرښتو اووئیل اې بی بی ته د الله ﷻ په کارونو حیرانتیا کوې؟اې د کور خلقو د الله ﷻ برکتونه اورحمتونه په تاسو باندې دی. فرښتوهغوی ته دا هم زیرې ورکړو چه هغه به نبیهم وی اودهغه نسل به هم زیاتیږی.یعنی وئی فرمائیل﴿وَبَشَّرْنٰهُ بِاِسْحٰقَ نَبِيًّا مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۶﴾﴾ اوداډیر لوئ زیرې او ډیرلوئ نعمت دې، نو اوفرمائیلې شو ﴿ فَبَشَّرْنٰهَا بِاِسْحٰقَ ۙ وَمِنْ وَّرَآءِ اِسْحٰقَ يَعْقُوْبَ ﴿۷۱﴾﴾ د دې پیداکیدونکی اسحاق به هم ستاسو په ژوند کښې خوئ کیږی اوستا سو سترګې چه څنګه په خپل خوئ یخیږی په نمسی سره به هم یخې شی ځکه چه دنسل باقی پاتې کیدو په وجه د نمسی په پیدا کیدو باندې خوشحالی نوره هم زیاتیږی. چه د بوډا او بوډهئی کله د اولاد په پیداکیدوکښې شك کیدلې شی چه د ضعف د وجې د هغوی بچې نه شی کیدې نو خوئ او بیا نمسې د چا نوم چه به یعقوب وی په هغې به خوشحالی څنګه نه وی. د یعقوب اشتقاق روستو دې یعنی د اسحاق نه پس هغې پسې هم راتلونکې.داصله او بدله ده د ابراهیم ﷺ چا چه خپل وطن پریخودو،او قوم ئې پریخودو د هغوی د ښارونونه ئې هجرت اوکړو د الله ﷻ د عبادت په خاطر لرې لاړو. د دې بدله د هغوی صلبی نیك اولادوو چه په هغوی سره د هغه سترګې یخې شی. لکه چه فرمانی کله ابراهیم ﷺ خپل قوم اود هغوی معبودان پریخودل نو مونږ هغه ته اسحاق او یعقوب ورکړو او دواړه نبیان شو. اودلته فرمائی﴿ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ؕ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ﴾ او بیا ئې اوفرمائیل ﴿ وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ﴾ دې نه اول مونږ د نوح هدایت کړې وو. او مونږ حضرت ابراهیم ﷺ ته نیك نسل ورکړو او اسحاق ﷺ او یعقوب ﷺ دواړو ته خصوصیت عظیمه ورکړه. خو نوح ﷺ کله چه الله ﷻ ټول د زمکې مخلوق غرق کړو. بغیرد هغوی نه چه په نوح ﷺ ئې ایمان راوړلې وو او هغه سره په کشتئی کښې ناست وو دا باقی خلق د نوح ﷺ اولاد وو او د دنیا ټول خلق د هغوی اولاد دې او ابراهیم ﷺ چه د هغه نه پس څوك نبی شوې نه وو بغیر د هغه کسانو نه چه د هغه په اولاد کښې وو لکه چه الله ﷻ فرمائیلی دی﴿ وَجَعَلْنَا

فِیْ ذُرِّیَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ ﴾ او الله ﷻ اوفرمانیل ﴿ وَوَهَبْنَا لَهٗۤ اِسْحٰقَ وَیَعْقُوْبَ وَجَعَلْنَا فِیْ ذُرِّیَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ ﴾ اودا نې هم اوفرمانیل چه د نبیانو نه دې هم دې په چا چه الله ﷻ انعام کړې دې. د حضرت آدم ﷺ د اولاد نه او هغه کوم چه مونږ نوح ﷺ سره په کشتۍ کښې اخستې وو اود ابراهیم ﷺ او اسرائیل د اولاد نه او چاته چه مونږ هدایت کړې وو او خوښ کړې مو وو. د هغوی په وړاندې به چه کله د الله ﷻ آیاتونه لوستلې کیدل نو ژړل به ئې او په زارو سره به په سجده کښې راپریوتل. په دې آیت مبارک کښې ﴿وَمِنْ ذُرِّیَّتِهٖ﴾ نه مطلب دا دې چه هم مونږ د هغوی اولاد ته هم هدایت ورکړو یعنی داؤد ﷺ او سلیمان ﷺ ته هم خو که د اولاد ضمیر د نوح ﷺ طرف ته کړې شي نو نزدې هم د نوح لفظ دې او ضمیر اقرب ته خې نو دا خبره خو صفا ده هیڅ اشکال نشته. ابن جریر رحمه الله هم دا اختیارکړې ده. خوضمیر ابراهیم ﷺ ته اوکړې شي چه د کلام سیاق داسې دې نو دا خو ډیر ښه دې لیکن اشکال دا دې چه د ابراهیم ﷺ په اولاد کښې دلوط ﷺ لفظ هم راغلې دې او لوط ﷺ د ابراهیم ﷺ د اولاد نه نه دې بلکه د هغه د رور هارون بن آزر ځوئ دې. څه عجیبه چه غلبې او اکثریت په توګه د هغه د اولاد په ضمن کښې ذکر کړې شوی وی. لکه څنګه چه د الله ﷻ په دې قول کښې ذکر دی ﴿اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ حَضَرَ یَعْقُوْبَ الْمَوْتُ﴾ دلته آباء یعقوب ﷺ په سلسله کښې د اسماعیل ﷺ نوم هم راغلو او حضرت اسماعیل ﷺ خو د هغه تره وو. دا د کلام د سلسلې د غلبې او اکثریت په وجه اوشو. او دغه شان بل آیات دې ﴿ فَسَجَدَ الْمَلٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ اَجْمَعُوْنَ ۙ اِلَّاۤ اِبْلِیْسَ ﴾ چرته چه ملائکوته د سجدې حکم اوکړې شو اود مخالفت غندنه اوشوه نو هلته ابلیس د غلبې په وجه په ملائکوکښې شمیر کړو استثنی اوکړې شوه. ځکه چه هغه د ملائکو سره مشابهت لرلو ګنی نوملائکه نه وه.د پیریانونه وو. د هغه طبیعت نار یعنی اور وو او د فرښتو نور یعنی رنړا وه. دې سره حضرت عیسی ﷺ د ابراهیم ﷺ یا نوح ﷺ د اولاد په سلسله کښې راوړلې شو.نولکه چه ده ته ئې هم د ابراهیم ﷺ نسل اووئیلې. د دې دلیل په بنیاد چه د لور اولاد هم د سړی د نسل نه ګنړلې شی اوس که د عیسی ﷺ د ابراهیم ﷺ سره څه تعلق دې نو صرف په دې وجه چه د هغه مور حضرت مریم علیها السلام د ابراهیم ﷺ د نسل نه وه. ګنی د عیسی ﷺ خو پلار هم نه وو. وائی چه حجاج یحیی بن یعمر ته اووئیل چه ما اوریدلی دی چه حس او حسین د نبی کریم ﷺ د اولاد نه دی سره د دې چه هغوی د علي او ابوطالب د اولاد نه دی او بیا دا هم دعوی کوې چه د دې ثبوت د قرآن نه دې. ما قرآن د اول نه تر آخره پورې اولوستلو خو ما اونه موندل. نو ابن یعمر اووئیل چه تا په سورة انعام کښې نه دې لوستلی ﴿وَمِنْ ذُرِّیَّتِهٖ دَاوٗدَ وَسُلَیْمٰنَ﴾ تردې چه هغه د یحیی او عیسی پورې اولوستلو وئی وئیل چه او لوستلې می دی. وئی وئیل چه عیسی ﷺ د ابراهیم ﷺ په اولاد کښې خودلې شوې دې سره د دې چه د هغه پلار نه وو صرف د لور په حیثیت سره په اولاد کښې اوګرځولې شو نو بیا د لورپه حیثیت سره حسن اوحسین دنبی کریم ﷺ په اولادکښې ولې نه شونوحجاج وئیل تا صحیح اووئیل.(۱)

د دې د پاره چه کله یو سړې خپل میراث د خپل اولاد په نوم وصیت کوی یا وقف کوی یا هبه کوی نو په هغه اولاد کښې د لونړوبچی هم داخل ګنړی. لیکن کله چه هغه د خپل ځامنو په نوم ورکوی یا وقف کوی نو خپل خاص صلبی ځامن او نمسی حقدار وی. او نورو خو وئیلی دی چه په دې کښې د لونړو بچی هم داخل دی ځکه چه د صحیح بخاری شریف حدیث دې حضور ﷺ د حضرت حسن بن علی ﷺ باره کښې فرمائیلی دی چه زما دا ځوئ سید دې او الله ﷻ به د ده په ذریعه د مسلمانانو په دوو

---

۱) حاکم : ۱۶۴/۳.

ډلوکښې صلح کوی اود جنګ فتنه به ختمه شی.(۱) نو حسن رضی الله عنه نې د ابن په لفظ سره تعبیر کړو کوم چه دلالت کوی چه هغه هم په اولادکښې داخل ګنړلې شی. د الله ﷻ ارشاد دې ﴿ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ﴾ دلته د هغه د نسل او نسب دواړو ذکر دې او هدایت او غوره والې په دې ټولو باندې شامل دې. په دې وجه نې اوفرمائیل ﴿وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾ یعنی مونږ هغوی خوښ کړل او د نیغې لار هدایت مو ورته اوکړو. بیا فرمائی ﴿ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ﴾ دا خبره هغوی ته د الله ﷻ په توفیق او د هغه د هدایت په سبب حاصله شوه.

شرک یو ډیره خطرناکه بیماری:- ﴿ وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ یعنی که چرې هغوی شرک اوکړو نو د هغوی ټول نیک اعمال به ختم کړې شی. دلته دا خبره خودل مقصد دې چه د شرک کار څومره سخت دې اود دې د خرابوالی اهمیت څومره زبردست دې. لکه چه فرمائی ﴿لَئِنْ اَشْرَكْتَ لَيَحْبَطَنَّ عَمَلُكَ﴾ دا جمله محل شرط دې اود شرط د پاره دا ضروری نه ده چه واقع شوی وی. لکه چه فرمائی ﴿قُلْ اِنْ كَانَ لِلرَّحْمٰنِ وَلَدٌ﴾ یعنی که د الله ﷻ اولاد وې نو زه به د ټولونه اول منونکې جوړشوې وم. او ونې فرمائیل ﴿ لَوْ اَرَدْنَآ اَنْ نَّتَّخِذَ لَهْوًا لَّاتَّخَذْنٰهُ مِنْ لَّدُنَّآ ﴾ که لوبه او تماشه جوړول غواړئی نو هم د خپل ځان به مو جوړوله او نور فرمائی ﴿ لَوْ اَرَادَ اللّٰهُ اَنْ يَّتَّخِذَ وَلَدًا ﴾ که چرې الله ﷻ هم د اولاد اراده لرله هو د خپل مخلوق نه چه نې څوک غوښتل خوښ کړې به نې وو. خو هغه د دې نه پاک دې ځان له دې او غالب دې.

او په ذکر شوی آیت مبارکښې ارشاد دې چه هم دې خلقو ته مونږ کتاب حکمت او نبوت ورکړو او په خپلو بندیګانو باندې مو د دې په سبب نعمت او مهربانی اوفرمائیله. اوس که چرې هغوی د نبوت نه انکار اوکړو نو په دې مکې والا او په دې قریشو به مونږ داسې خلق مسلط کړو چه انکار به نه شی کولې او زمونږ شکر کونکی بندیګان به شی. نو که هغه اوس غیر قریش عرب او عجم وی یا اهل کتاب وی په دوی به مونږ مهاجرین او انصار مسلط کړو هغوی زمونږ د یوې خبرې نه هم انکار نه کوی او نه څه خبره رد کوی. بلکه د قرآن په ټولو آیاتونو که هغه محکم وی که متشابه وی ایمان لری. بیا خپل رسول ﷺ ته مخاطب کیږی او فرمائی چه هغه ذکر شوی انبیاء کرام اود هغوی پلاران اولاد او رونړه داسې خلق دی چا ته چه الله ﷻ هدایت فرمائیلې دې. نو ته اوس هم د هغوی اقتداء او تابعداری اوکړه. نوکله چه د رسول د پاره دا حکم دې د هغه امت خو د دې تابع دې. د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه تپوس اوکړې شو چه آیا په سورۃ ص کښې سجده شته؟ نو وئی فرمائیل چه او. بیا نې دا آیت تلاوت اوفرمائیلو ﴿ وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ۭ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۭ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِيْنَ ۙ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ۭ كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ۙ وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ۭ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ۙ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۭ ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۭ وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۭ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَاِنْ يَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَاۗءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ۙ اُولٰۗىِٕكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ اقْتَدِهْ ۭ﴾ بیا نې اوفرمائیل چه هغه هم د دغه ډلې نه دی.(۲) اود الله ﷻ ارشاد دې ﴿قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۭ﴾ زه تاسو نه خپل هیڅ څه حق یا تبلیغ نه غواړم ماله هیڅ نه دی پکار. ﴿ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ۧ﴾ دا خو د ټولې دنیا دپاره یو نصیحت دې. د دې پاره چه د ګمراهئی نه هدایت حاصل کړی.

---

(۱) صحیح بخاری کتاب الصلح باب قول النبی ﷺ للحسن بن علی رضی الله عنه (ان ابنی هذا سید) : ۲۷۰٤، ابوداود :٤٦٦٢، ترمذی : ۳۷۷۳.

(۲) صحیح بخاری کتاب التفسیر سورۃ الانعام باب قول الله تعالی (اولئک الذین هداالله فبهداهم اقتده) :٤٦٣٢.

Scanned with Ca

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ

|او اونکړو دوئ قدر| دالله | لکه څنګه چې حق دې |

| اودوئ دالله ﷻ عظمت هغه شان اونه پیژندل څنګه چه

قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَيْءٍ ؕ

د قدر دهغه | کله چې | اوونیل دوئ|چې نه دې نازل کړې | الله|په هیڅ|انسان باندې| هیڅ څیز

د هغه عظمت پیژندل پکار وو| دوئ وانی چې الله کله هم په هیڅ یو بشر هیڅ حکم نه دې نازل کړې

قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِيْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا

اورته اووایه| چا نازل کړې دې| کتاب | هغه |چې راوړې وو| هغه| موسی |چې رڼا وه

ورته اووایه چې هغه کتاب چا نازل کړې وو| چې کوم موسی ﷺ راوړې وو | هغه ټولو د خلقو پاره رڼا

وَّهُدًى لِّلنَّاسِ تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِيْسَ تُبْدُوْنَهَا

اولار ښودونکې وو |د پاره د خلقو|تاسو جوړوئ دهغې نه|پانړې پانړې | چې ښکاره کوئ بعضې دهغې نه

(او)هدایت وو| .....اوس هغه تاسو پانړې پانړې کوئ| ..... لږ څه په کښې ښکاره کوئ

وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ

اوپټوئ تړې نه | ډیر | اوښودلې شوې دې تاسو ته|هغه علم|چې نه ووپوهیدلی | تاسوته

اوډیر څه په کښې پټوئ| او(د)دې کتاب په وجه)تاسوته هغه خبرې معلومې شوې

وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِيْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ۝

اونه پلارانوستاسوته|اورته اووایه|چې الله | بیا |پریږده هغوئ|په غلطو بحثونو خپلو کښې |چې لوبې کوی

چې تاسو اوستاسو پلارنیکه ته نه وې معلومې|اووایه الله نازل کړې دې| بیاپریږده چې خپلو عبثو کښې مشغول وی

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِيْ

اوداقرآن | یو کتاب دې | چې نازل کړې دې مونږ|چې برکتناک دې| چې تصدیق کونکې دې| دهغه کتاب

اومونږ چې داکوم کتاب نازل کړې دې | داهم د(تورات پشان)یو برکتی کتاب دې| اودهغې کتاب تصدیق کوی

بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ

چې وړاندې ددۀ نه دې|د پاره ددې چې تۀ اویروې | مورد کلو(مکه)|اوهغه څوک|چې چاپیره ددې نه دی

کوم چه ددې نه وړاندې وو| اوددې د پاره راغلې دې چې ته پرې ام القری اودچاپیرچل خلق اویروې

وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ

اوهغه کسان|چې ایمان راوړی | په آخرت باندې|هغوئ ایمان راوړی| په دې قرآن| اوحال دا چې هغوئ

اوڅوک چې په آخرت باندې ایمان راوړی| نو هغوئ په دې کتاب هم ایمان راوړی | اوهغوئ د

عَلٰى صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُوْنَ ﴿۹۲﴾	
د مونځونو خپلوا	حفاظت کوی ا
د خپلو مونځونو ډیر خیال ساتی ا	

قوله تعالی:: وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَیْءٍ

د آیت شان نزول:- الله ﷻ فرمائی چه کله هغوی د رسول تکذیب اوکړونود الله ﷻ د حق تعظیم نې ادا نه کړو. عبدالله بن کثیر رحمه الله فرمائی چه دا آیت د قریشو په حق کښې نازل شوې دې (۱) او دا هم وئیلی شوی دی چه د یهودو باره کښې دې. یا دا چه هم د دوی د یو سړی فخاص په باره کښې دې او یا د مالك بن صیف باره کښې دې. د دې ناپوهه خلقو دا خیال دې چه الله ﷻ په یو انسان باندې کتاب نه دې نازل کړې. د شان نزول باره کښې رومبنۍ خبره ډیره صحیح ده ځکه چه آیت مکی دې او یهود خو د دې خبرې قائل نه وو چه په انسان باندې څه کتاب نه دې نازل شوې ځکه چه هغوی خو د تورات د نازلیدو قائل دی. او قریش اهل وطن او عرب د محمد ﷺ منکروو په دې حجت کښې چه حضور ﷺ بشر دې او په بشر باندې کتاب نه نازلیږی لکه چه فرمائی ﴿اَكَانَ لِلنَّاسِ عَجَبًا اَنْ اَوْحَيْنَآ اِلٰى رَجُلٍ مِّنْهُمْ اَنْ اَنْذِرِ النَّاسَ﴾ یعنی خلق ولې حیران دی که مونږ هم په دوی کښې په یوکس باندې وحی نازلوو چه خلق د کفرنه اوویروی.او ارشاد مبارك دې ﴿وَمَا مَنَعَ النَّاسَ اَنْ يُّؤْمِنُوْٓا اِذْ جَآءَهُمُ الْهُدٰٓى﴾ یعنی کله چه هغوی ته هدایت اورسیدو نو چه کوم څیز منع کونکې وو نو هغه د هغوی دا وینا کول وو چه آیا الله ﷻ څوك بشر رسول رالیږلې دې نو اې نبی ﷺ! ورته اووایه که فرښتې په زمکه ګرځیدې راګرځیدې نو مونږ به هم د آسمان نه یوه فرښته رسول جوړ کړې رالیږلې وو. اوس دلته الله ﷻ فرمائی چه ورته اووایه چه چا کتاب په موسی ﷺ باندې نازل کړې وو چه په خلقو باندې نور او هدایت ثابت شو. د موسی ﷺ پیش کړې شوې کتاب تورات د چا نازل کړې شوې وو. تاسو او ټول خلق دا پیژنی چه د موسی بن عمران کتاب هم الله ﷻ نازل کړې وو په څه سره به چه خلقو په مشکلاتو او سختو کښې رنړا موندله او د شبهاتو په تیاروکښې به نې نیغه لار لټوله. بیا نې اوفرمائیل چه ته تورات پانړه پانړه کړې لیکې خو په هغې کښې لیکلې شوې تحریف او بدلون هم د خپل طرف نه کوې او دا وائې چه دا هم د الله ﷻ د آیاتونو نه دی. په دې وجه نې اوفرمائیل چه څه خو حقیقی آیاتونه ښکاره کوې او اکثر پټوې. او د الله ﷻ ارشاد دې چه تا هغه څه زده کړل کوم چه نه تا پیژندل اونه ستا مشرانو. یعنی چانازل کړو دا قرآن کوم چه تاسو ته ټول تیرشوی خبرونه اوخودل او د کیدونکو خبرې پیشن ګوئی درته اوکړه کوم چه نه تاسو پیژندل اونه ستاسوپلارانو اونیکونو.قتاده رحمه الله فرمائی چه دې نه مراددعربومشرکان دی.او مجاهد رحمه الله وائی چه مسلمانان مراد دی. اوس د الله ﷻ ارشاد دې چه د دې سوال په جواب کښې هم تاسو پخپله جواب ورکړئی چه هم الله ﷻ نازل کړې دې. او هغه کوم چه ابن عباس ؓ فرمائی هغه د دې کلمې په تفسیرکښې مقرر دی. داسې نه ده لکه چه بعضې متاخرینووئیلی دی ﴿قل الله﴾ معنی دا ده چه ستاسو دا خطاب د هغوی د پاره نه دې بغیر د دې نه چه دا کلمه صرف یوه کلمه ده یعنی د الله لفظ دې او په دې سره به دا لازم راځی چه یوه مفرد کلمه هم جمله کیدې شی کومه چه غیرمرکب وی. خو مفردکلمه راوړل د عربو په لغت کښې غیرمفید ګنړلې شوې ده او په دې باندې خاموشی نه شی کیدې. اود الله ﷻ ارشاد دې چه دوی په ضلالت او جهالت کښې اورك پریږدئی تر هغه وخته پورې چه د مرګ په وجه د دوی د حقیقت سترګې کولاؤ شی او آخرهم هغوی الله ﷻ اوپیژنی.

---

(۱) الطبری: ۵۲٤/۱۱.

Scanned with Ca

د قرآن او صاحب قرآن شان:- اود الله ﷻ ارشاد دي چه دا قران مبارك دي اود تورات او انجيل تصديق كونكي دي. دي د پاره چه ته په مكه او د دي په خواوشا كښې اوسيدونكى د عربو قبائل اود عربو اوعجمو بنى آدمان د كفر او شرك د خرابې نتيجې نه اوويرولې شې. لكه چه په يو بل آيت كښې ارشاد دي ﴿قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا﴾ يعنى ورته اووايه اې خلقو! زه ستاسو انسانانو طرف ته الله ﷻ رسول جوړكړې رالېږلې يم دي د پاره چه خبرداري اوكړې شم او هغوى ته هم چاته چه زماد جنت پيغام رسيدلې دي. اوفرمانيلې شو چه كوم خلق كفركوى د هغوى د پاره د دوزخ وعده ده. بيانې اوفرمانيل ﴿تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا﴾ مبارك دي هغه ذات چا چه قرآن په خپل روسول ﷺ باندې نازل كړو، د دي د پاره چه د تولې دنيا د پاره هغه ويرونكې جوړشى. بل خاى كښې ارشاد دي ﴿وَقُلْ لِّلَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْاُمِّيّٖنَ ءَاَسْلَمْتُمْ ۭ فَاِنْ اَسْلَمُوْا فَقَدِ اهْتَدَوْا ۚ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاِنَّمَا عَلَيْكَ الْبَلٰغُ ۭ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِالْعِبَادِ﴾ اهل كتابو او ان پرهو تولوخلقو ته اووايه چه اوس به هم تاسو ايمان راوړئى كه نه، كه هغوى اسلام راوړه نو هدايت به بيامومى او كه مخ ئې واړولو نو كوى دي ستا كار صرف هغوى ته خبره رسول وو. الله ﷻ د خپلو بنديگانونه بنه خبر دي. د بخارى شريف او مسلم شريف نه ثابت دى چه رسول الله ﷺ فرمانيلى ما ته پنځه څيزونه راكړې شوى دى چه زما نه وړاندينو انبياء كرامو نه چاته هم نه وو وركړې شوى. په دي يو دا ده چه هر نبى به خاص خپل يو قوم طرف ته ليكلې شو او زه د تولې دنيا جهان د خلقو د پاره ليكلې شوې يم.(۱) هم په دي وجه فرمائى ﴿وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ﴾ يعنى هر هغه سړې چه په الله ﷻ باندې ايمان راوړى او په ورځې د قيامت نو هغه به په دي مبارك كتاب باندې هم ايمان راوړى. كوم چه اې محمد ﷺ! مونږ په تاباندې نازل كړې دي. او هغه مومنان داسې دى چه په پابندئى سره خپل مونځ ادا كوى كوم چه الله ﷻ په خپل خپل وخت كښې ادا كول په هغوى باندې فرض كړى دى.

				وَمَنْ	اَظْلَمُ	مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ
				اوڅوك دې|ازيات ظالم	دهغه چانه	چى ترې	په الله باندې
						اودهغه چا نه لوئې ظالم څوك كيدې شى	چې په الله ﷻ باندې
كَذِبًا	اَوْ قَالَ	اُوْحِيَ	اِلَيَّ	وَلَمْ يُوْحَ		اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ
دروغ	ياوائى	|چى وحى شوى ده|ماته|حال دا چى وحى كړې شوې نۀ وى|هغه ته|څه څيز|اوهغه څوك		
دروغ اوترې	يادا اووائى چې ماته وحى راغلې ده	اوپه حقيقت كښې هيڅ وحى ورته نه وى راغلې	....اوڅوك				
قَالَ	سَاُنْزِلُ	مِثْلَ	مَآ	اَنْزَلَ	اللّٰهُ ۭ	وَلَوْ تَرٰٓى
چى اووائى	چى نازل به كړم زۀ|په شان	دهغې	چى نازل كړې دي	الله	اوكاش چى اوويني ته	
چې وائى چه زه به هم دالله ﷻ پشان كتاب نازل كړم	.....اوكه ته اوګورې					
اِذِ	الظّٰلِمُوْنَ	فِيْ غَمَرٰتِ	الْمَوْتِ	وَالْمَلٰٓئِكَةُ		
څه وخت چى وى	ظالمان خلق	په سختو	دمرګ كښى	اوفرشتې ورته		
څه وخت چې دا ظالمان دمرګ په مصيبت كښې ګرفتار وى	.....اوفرشتو ورته					

(۱) ددې تخريج سورة آل عمران آيت نمبر ۱۵۱ كښې تير شوې دي.

بَاسِطُوٓا	اَيْدِيْهِمْ ۚ	اَخْرِجُوٓا	اَنْفُسَكُمْ ؕ	اَلْيَوْمَ
راوړده کونکی وی|	لاسونه خپل	اوورته وائی چی راوباسئ|	روحونه خپل	نن ورځ به|
لاسونه وراوږده کړی وی|	اوورته وائی چی خپل روحونه راوباسئ|			نن به تاسو
تُجْزَوْنَ	عَذَابَ الْهُوْنِ	بِمَا	كُنْتُمْ	تَقُوْلُوْنَ
بدله درکړې کیږی تاسوته		عذاب	سپکونکی	په سبب دهغې	چی وئ تاسو		چی وئیل به مو
ته سپکونکی عذاب درکولی شی|			خکه چې تاسو په الله ﷻ ناحقه خبرې ترلې|	
عَلَى اللّٰهِ	غَيْرَ الْحَقِّ	وَكُنْتُمْ	عَنْ اٰيٰتِهٖ	تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٩٣﴾
په الله باندې		ناحقه خبرې	اووئ تاسو	دآیتونو دهغه نه		چی تکبر به مو کولو
			او دهغه د آیاتونو منلو نه مو هم تکبر کولو|	
وَلَقَدْ	جِئْتُمُوْنَا	فُرَادٰى	كَمَا	خَلَقْنٰكُمْ	اَوَّلَ مَرَّةٍ
اوپه تحقیق سره		رابه شئ تاسومونږته		یواځې	لکه څنګه چی	پیدا کړی وئ مونږه تاسو	په اول	خل
اوالله به ورته وائی،اوس تاسومونږ ته هغه یواځې(اوتش لاس) راغلی یئ								الکه څنګه چې موپه اول خل پیدا کړی وئ
وَّتَرَكْتُمْ	مَّا	خَوَّلْنٰكُمْ	وَرَآءَ	ظُهُوْرِكُمْ ۚ	وَمَا نَرٰى
اوپریښودل تاسو		هغه څه		چی درکړی ووئمونږ تاسوته		روستو		دشاګانو ستاسو نه		اونه وینو مونږه
مونږ چې په دنیا کښې هرڅه درکړې وو						هغه موروستو پریخودل				اومونږ تاسو سره
مَعَكُمْ	شُفَعَآءَكُمُ	الَّذِيْنَ	زَعَمْتُمْ	اَنَّهُمْ
تاسو سره		شفارشیان ستاسو		هغه		چی ګمان به کووتاسو		چی بیشکه هغوئ	
ستاسو هغه سفارشیان اونه لیدل په کوموچه به تاسو ګمان کولو چه هغوی ستاسو په کارونو کښې										
فِيْكُمْ	شُرَكٰٓؤُا ؕ	لَقَدْ	تَّقَطَّعَ	بَيْنَكُمْ
ستاسوپه کارجوړولو کښې		شریکان دی		په تحقیق سره		ختم شوتعلقات				اپه منځ ستاسو کښې
ستاسو شریکان دی						ستاسوتول تعلقات ختم شول				
وَضَلَّ	عَنْكُمْ	مَّا	كُنْتُمْ	تَزْعُمُوْنَ ﴿٩٤﴾ ع
اوورک شو		ستاسو نه		هغه څه		چی وئ تاسو		چی ګمان به موپرې کولو دسفارشیانو		
اوکومې دعوې چې مو کولې هغه تولې درنه هیرې شوې										

قوله تعالی:: وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِيَ اِلَيَّ وَلَمْ يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ

د ټولونه لوئ ظالم څوک دي :- الله ﷻ فرمانی چه په الله ﷻ باندې دروغ ترونکی نه به لوئ ظالم څوک وی.هغوی د ده د پاره شریکان ګرځوی او د ده د پاره اولاد ګرځوی. دا دعوی کوی چه الله ﷻ هغه رسول جورکړې رالیګلې دې سره د دې چه الله ﷻ نه وی رالیګلې. په دې وجه ارشاد دې هغه وائی چه په ما هم وحی رالیګلې شوی ده حالانکه نه وی رالیګلې شوې. عکرمه رحمۃ اللہ علیہ او قتاده رحمۃ اللہ علیہ فرمانی چه دا

ایت د مسیلمه کذاب باره کښې نازل شوې دي. او د هغه نه به نور لوئ ظالم څوك وی چه وانی زه هم داسې قرآن نازلولې شم څنګه چه الله ﷻ نازل کړې دي. یعنی د الله ﷻ د وحی سره معارضه کوی. لکه څنګه چه الله ﷻ فرمائیلی کله چه په دوی باندې زمونږه آیاتونه لوستلې شی نو دوی وانی چه مونږ واوړیده خو که مونږ غواړو نو مونږ هم داسې کولې شو. په مذکوره آیت کښې ارشاد دې چه افسوس چه تا داخلق د مرګ په سکراتو او ګرباتوکښې لیدلې کله چه ملائکه د وهلو د پاره لاس اوچتوی لکه چه فرمائی ﴿لَئِنۢ بَسَطتَّ إِلَيَّ يَدَكَ﴾ زما د قتل کولو د پاره که چرې ته خپل لاس اوچت هم کړې(د هابیل او قابیل قصه)وئی فرمائیل﴿ وَيَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ وَأَلۡسِنَتَهُم﴾ هغوی خپل لاسونه خپلې ژبې ستا طرف ته اوږدوی دي د پاره چه تاته نقصان اورسوی او بدې ردې اووائی. ضحاك او ابوصالح رحمهم الله وائی چه د عذاب د پاره لاسونه اوچتول مراد دی. لکه چه فرمائیلی شوی دی افسوس چه تاسو لیدلې وې چه مړه کیدونکی کافران ملائکه په مخونو او شاګانو باندې د مرګ په وخت کښې وهی. د دې د پاره اوفرمائیلې شو﴿وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ﴾ چه د هغوی دبدنونونه د هغوی روحونه راوباسی. هغه فرښتې به دغه کافرانوته وائی خپل روحونه بهر راوباسئی. د کافرانو چه د مرګ وخت نزدې راشی نو ملائکه به هغوی ته خبرورکړی د عذاب او نکال بیرئی، د دوزخ او حمیم اود رحمن د غضب، نو د هغوی روحونه به د هغوی په بدنونوکښې اوګرځی،د وتلونه به انکار کوی نو ملائکې به هغوی وهی تردې چه روحونه به راوځی او وائی به ورته چه خپل روحونه بهر راوځغورزوئی نن به تاسوته ډیر ذلیل عذاب درکولې شی. په دې سزا کښې چه په الله ﷻ باندې موخنګه څنګه بهتانونه ترلې وو. د مؤمن او کافر د مرګ د وخت متعلق ډیر احادیث واردشوی دی. د الله ﷻ قول دې چه الله ﷻ مؤمنانو ته د دنیا او آخرت په ژوندکښې دثابت قول په ذریعه ثابت او قائم اوساتل. ابن مردویه رحمه الله دلته یو ډیر اوږد حدیث په غریب سندسره ذکر کړې دې چه دحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت کړې شوې خودلې شوې دې.

د الله ﷻ ارشاد دې چه تاسو به مونږ له داسې ځان له راځئی لکه چه د اول پیدائش په وخت کښې پیداکولې شئی.اودا خبره به هغوی ته په معاد کښې فرمائیلې شی. لکه چه فرمائی هغوی به د خپل رب په وړاندې صف په صف پیش کولې شی هم په هغه حالت کښې به راځی لکه چه په اول وخت د پیدائش کښې وو. یعنی لکه چه څنګه پیدا کړې شوی وو هم هغه شان به اوچتولې شی او تاسو به د دې خبرې نه انکار کولو او دا د قیامت ورځ مو مستبعد ګڼلې. او وئی فرمائیل چه په دنیاکښې تاسو کوم مال دولت جمع کړې وو هغه به روستو پریږدئی او راځئی به. په صحیح حدیث کښې دی چه نبی اکرم ﷺ فرمائیلی بنیادم وائی چه زما مال زما دې ولې ستامال خو صرف دومره وو چه څومره تاخوړلې، فناکړې، واغوستو او زوړدې کړو او بل له دې ورکړو نو لکه چه باقی دې اوساتلو د دې نه علاوه ستا ټول دولت د نورو خلقو دې. الله ﷻ به د بنیادم نه تپوس اوکړی کوم ځائ دې جمع کړې ایخودې وو نوهغه به وائی ای ربه جمع می کړو زیات می کړو او هم هلته می پریخودو. (۱) بیا فرمائی د دې ورځې د پاره دې څه رالیګلی هغه به ګوری چه هیڅ می نه دی لیګلی. بیا به فرمائی چه څه شو ستا هغه شفعاء کوم چه تا ماسره شریکان ګڼړل. اوس هغه ولې شفاعت نه کوی. دا هغه ملامت کولې او زوروله شی ځکه چه هغه په دنیاکښې د بتانو عبادت کولو او دابه نې ګڼړل چه دوی به په دنیاوی ژوندکښې او په اخروی ژوند کښې فائده ورکوی. د قیامت په ورځ خو به ټول تعلقات پریکړې شی او ګمراهی به ختمه شی. د بتانو بادشاهی به لاړه شی او الله ﷻ به انسانانوته خطاب کوی چه ستاسو هغه بتان اوس کوم ځائ دی کوم چه تاسو زما شریکان ګڼړل او هغوی ته به وئیلی شی چه ستاسو هغه

---

۱) صحیح مسلم کتاب الزهد باب الدنیا سجن للمؤمن وجنة للکافر: ۲۹۵۸، ترمذی: ۲۳٤۲، احمد: ٤/۲٤.

Scanned with Ca

باطل معبودان چرته لاړل. هغوی ستاسو څه امداد کولې شی یا تاسو د هغوی څه امدا کولې شئی. په دې وجه اوفرمائیلې شو چه تاسو سره اوس هغه شریکان نه ښکاری کوم چه تاسو ما سره شفیع ګنړلې وو او هغوی مو هم حقداران ګنړلې وو چه د دوی عبادت اوکړې شی. بیا فرمائی چه ستاسو خپل مینځ کښې ټول تعلقات ختم شوی دی.

(بَيْنَكُمْ) که په رفع سره اولولې یعنی (بَيْنَكُمْ) نو مراد به دا وی چه ستاسو ډلې به ماتې کړې شی اوکه په نصب سره ئې اولولې نو مطلب به دا وی چه په خپل مینځ کښې اسباب او تعلقات به ختم شی او د بتانو نه چه تاسو کوم امیدونه قائم ساتلی وو هغه به ټول ځی. لکه چه فرمائیلی شوی دی چه په دغه وخت کښې به دا باطل معبودان د خپلو تابعدارانونه ویزاری ښکاره کړی. عذاب به په خپلو سترګو اووینی اود هغوی ټول په خپل مینځ کښې تعلقات به ختم شی او د هغوی تابعداران به وائی افسوس چه مونږ بیا دنیا ته لیګلې شوې وې. د دې د پاره چه څنګه نن دې معبودانو زمونږ نه ویزاری ښکاره کړه مونږ هم د دوی نه ویزاره شو. ګوره الله ﷻ څنګه د هغوی اعمال په هغوی باندې ارمان او حسرت جوړولوسره پیش کوی. اوس دوی د اُور نه نشی وتلې. او اوفرمائیلې شو چه کله شپیلنی پوک وهلې شی نو په خپل مینځ کښې حسب او نسب هیڅ به هم باقی پاتې نه شی، نه به څوک پلار او نه څوک څوئ او نه به څوک د یو بل عبادت کوی. اوفرمائی چه دا تاسو په دنیاکښې دص یو بل عبادت کولو نو صرف د دنیاوی مینې محبت په خاطر او بیا به د قیامت په ورځ د یوبل انکار کوی او په خپل مینځ کښې به په یوبل لعنت او ملامتیا کوی. ستاسو ځائ به دوزخ وی او څوک به هم ستاسو د امداد د پاره نه اوچتیږی. فرمائی چه خپل شریکان راوښلئی، دوی به ئې راغواړی خود هغوی د طرف نه به هیڅ جواب نه بیاموی. او فرمائی چه په کومه ورځ مونږ هغه ټول راجمع کړو نو مشرکانو ته به وایو...(ترآخره پوری) د دې متعلق په قرآن پاک کښې ډیر بې شمیره آیاتونه دی.

إِنَّ اللّٰهَ	فَالِقُ	الْحَبِّ	وَالنَّوٰى ؕ	يُخْرِجُ	الْحَيَّ	مِنَ الْمَيِّتِ	وَمُخْرِجُ	الْمَيِّتِ
بیشکه الله	چونکې دې	ددانې	اود زړی	رااوباسی	اژوندی	د مړی نه	اورایستونکې دې	ادمړی
بیشکه الله ﷻ	ددانې او زړی چونکې دې			....دمړی نه ژوندې راوباسی			..اودژوندی نه مړئ	راوباسی
مِنَ الْحَيِّ ؕ	ذٰلِكُمُ	اللّٰهُ	فَأَنّٰى	تُؤْفَكُوْنَ ۝	فَالِقُ			
دژوندی نه	دغه کارونه کونکې	الله دې	نوکوم طرفته	ګرځولې کیږئ	تاسو	چونکې دې		
	.....دا ستاسو الله ﷻ دې		نوتاسو (دهغه د عبادت نه)	کوم طرفته	اړولی شئ	هغه د		
الْإِصْبَاحِ ۚ	وَجَعَلَ	الَّيْلَ	سَكَنًا	وَّالشَّمْسَ	وَالْقَمَرَ	حُسْبَانًا ؕ		
د صبا	اوجوړه کړی ئی ده	شپه	وخت دآرام	اونمر	اوسپوږمئ	نښې دحساب		
صبا راویستونکې دې	اوشپه ئې دآرام وخت مقرر کړې دې			اونمراو سپوږمئ	ئې حساب مقرر کړې دې			
ذٰلِكَ	تَقْدِيْرُ	الْعَزِيْزِ	الْعَلِيْمِ ۝	وَهُوَ	الَّذِيْ	جَعَلَ	لَكُمُ	
دا	اندازه ده	دغالب	اودعلیم	اوهغه	هغه ذات دې	چې پیدا ئې کړل	ستاسو	دپاره
دا دغالب او پوهه الله ﷻ	اندازه ده			.....اوالله ﷻ هغه ذات دې	چې ستاسو	دپاره ئې		

Scanned with Ca

النُّجُوْمَ	لِتَهْتَدُوْا	بِهَا	فِيْ ظُلُمٰتِ	الْبَرِّ	وَالْبَحْرِ ؕ	قَدْ

ستوری |دپاره ددې چې لاره اومومئ|په هغې سره | په تیارو کښې | دوچې |اودریاب |په تحقیق سره
ستوری مقررکړی دی|چې تاسوپرې د اوچې اوسمندرپه تیرو کښې لارې معلوم کړئ |

فَصَّلْنَا	الْاٰيٰتِ	لِقَوْمٍ	يَّعْلَمُوْنَ ۝

په تفصیل سره بیا ن کړی دی مونږه| نښې |دپاره دهغه قوم| چې پوهیږی |
مونږ خپل آیاتونه په تفصیل سره هغه چاته بیانوو چې پوهه لری|

قوله تعالی::اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ؕ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ؕ

دژوندون او د کائناتودنظام دخالق اومالک یو پیژندګلو:-الله ﷻ خبر ورکوی چه په زمکه کښې کرلې شوې دانې هغه پورته راولی اوځیری اودهغې نه مختلف قسم سبزیانې او زرغونې راپیداکوی دکومو رنګونه چه جدا شکلونه جدا خوندونه جدا. اوهم د دې ﴿اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوٰى ؕ﴾ په تفسیر کښې فرمائی چه هغه د یو بې ځا ځیز نه یو ځاوالاځیز یعنی بوټی پیدا کوی او د ځا والا نه بې ځا والا ځیز راوباسی. لکه تخم او حبوب بې ځا ځیز دې او د ځا والا د بوټی نه راپیداکیږی. لکه څنګه چه فرمائیلې شوی دی چه د پوهیدلودپاره دا هم یوه نکته ده چه زمکه خو وی اوچه او مړه لیکن باران ورولوسره مونږ بیا دا ژوندئی کړو اود دې نه غلې دانې پیدا کوو کومې چه تاسوخورئی.﴿وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ ؕ﴾ دا په ﴿فَالِقُ الْحَبِّ﴾باندې معطوف دې. بیا د دې تفسیراوکړې شو بیا په دې باندې ﴿وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ﴾ آیت عطف کړې شو. دا ټول عبارت په خپل مینځ کښې متقارب دې او د ټولو هم یو مفهوم دې. څوك وائی چه د بې ځا اګنئی نه د ځا والا بچې پیدا کول مراد دی یا د دې عکس څوك مراد اخلی چه د فاجر نه صالح بچې او د صالح سړی نه ولدفاجر مراد دې ځکه چه نیکان په مثال د ژوندو دی او بد په مثال د مړو دی. دې نه علاوه نور ډیر امور مراد کیدې شی.

وې فرمائیل چه ددې ټولو کارونوکونکې یو الله دې چه شریك نه لری نو بیا ته کوم طرف ګرځې راګرځې اود حق نه مخ اړوې، د غیرالله عبادت کوې. هغه د رنړا او تیارې پیداکونکې دی لکه چه د سورت په شروع کښې اوفرمائیلې شو چه هغه تیاره او رنړا جوړه کړې یعنی د ورځې د رنړا نه د شپې تیاره راویستې ده. بیا ئې د شپې نه ورځ راویسته کوم چه ټوله دنیا روښانه کړه. شپه ختمه شوه تیاره لاړه ورځ اوپرقیده لکه چه فرمائی شپه ورځ پټوی. دغه شان الله ﷻ د څیزونو په متضاد تخلیق باندې د خپل قدرت کامله بیان کوی. ددې د پاره ئې اوفرمائیل چه دشپې نه ورځ اوځیرلو سره راویستونکې دې اودغه شان د دې برعکس. اوشپه ئې تیاره او د آرام محل جوړه کړه دې د پاره چه ټول څیزونه په دې کښې سکون آرام او مزې واخلی. لکه چه فرمائی قسم دې د ورځې د رنړا او قسم دې د شپې چه ښه تیاره شی او وئی فرمائیل چه قسم دې د شپې چه تکه توره تیاره جوړه شی او د ورځې قسم دې چه ښه روښانه شی اوفرمائی چه قسم دې د ورځې د رنړا چه ښه خوره شی او د شپې چه ټوله دنیا راګیره کړی. د صهیب رومی ﷺ بې بی د هغه د شپې د ډیرې بیدارئی شکایت کولو سره وائی چه الله ﷻ د ټولود پاره شپه د سکون او آرام محل جوړه کړې ده لیکن د صهیب ﷺ د پاره نه. ځکه چه صهیب ﷺ ته کله جنت رایاد شی نود هغې په شوق کښې ټوله شپه نه اوده کیږی او عبادت کوی. اوچه کله دوزخ وریاد شی نوټوله شپه تري خوب اوتښتی.ابن ابی حاتم داروایت کړیدې.اوفرمائی چه نمر او سپوږمئی په خپل رفتار او حساب سره روان دی دهغوی د رفتار په قانون کښې یوه ذره فرق او بدلون نه راځی،

Scanned with Ca

نه اخوا دیخوا کیږی بلکه د هر یو منازل مقرر دی. په یخنئی او ګرمئی کښې په خپلو خپلو اصولو باندې روان دی او هم په دې مرتبه او قاعده باندې شپه ورځ کمیږی زیاتیږی. لکه چه فرمانی الله ﷻ نمر ډیر روښانه پیدا کړې او سپوږمئی ته ئې یخه رنړا ورکړې اوددې د کمیدو او زیاتیدو منازل ئې مقررکړی دی. فرمانی چه نه نمر سپوږمئی سره جنګیږی او نه د ده نه وړاندې کیږی چه شپه هم ښکاره شی او نه شپه ورځ راګیروی. هره یوه سیاره په خپل خپل مدار او احاطه کښې په ګردش دی او فرمانی چه نمر سپوږمئی او ټول ستوری د الله ﷻ په امر سره محکوم او مسخر دی. فرمانی چه دا ټول د رب چه عزیز او علیم دی مقرر کړې شوې قانون دې څوک د دې خلاف ورزی نه شی کولې. هیڅ څیز د هغه د علم نه نشی اخوا کیدې که هغه د زمکې او آسمان یوه ذره ولې نه وی.

چرته چه الله ﷻ د شپې او ورځې د پیدا کولو او نمر، سپوږمئی د پیداکولو ذکر فرمانیلې دې نو کلام هم د عزیز اوعلیم په الفاظو سره ختم کړې دې لکه څنګه چه دلته هم. او فرمانی چه د هغوی د پوهې د پاره دا هم یوه نکته ده چه شپه د کومې نه چه مونږ ورځ راوباسو هغه د دې د پاره څنګه تیاره اوسیږی او نمر هم د خپل آرام په ځای کښې حرکت کوی او د خپل مستقر طرف ته ځی دا د رب عزیز او علیم ګرځولې شوی معیار دې. کله چه الله ﷻ په اول سورة حم السجدة کښې ﴿خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ﴾ ذکر اوفرمانیلونوارشاد کیږی چه مونږ دا آسمان په چراغونوسره ښانسته کړې دې او هم دغه چراغونه د دنیا د حفاظت کار ورکوی. دا تقدیر د عزیز او علیم دې.(۱) اوفرمانی چه هغه ستاسو د پاره ستوری جوړکړی دی دې د پاره چه کله تاسو په بحروبر کښې په تیاروکښې ئې نو د دې د لارې د پیژندګلو کار واخلئی. الله ﷻ فرمانی چه دا ستوری د آسمان ښانست دې او بل دا چه شیطانان په دې سره ویشتلې شی. او دریم دا چه په دې سره په تیاروکښې د بحروبر لار پیژندلې شی. بعضې سلف وئیلی دی چه د نجوم مقصد صرف دغه دری څیزونه دی د دې نه زیات که څوک د دې څه مقصد ګڼړی نو هغه خطا کوی اوداالله ﷻ په آیات باندې اضافه کوی. بیائې اوفرمائیل چه مونږ خپل آیاتونه په ډیر تفصیل اووضاحت سره بیان کړی دی.ددې دپاره چه خلق دعقل نه کارواخلی او د حق پیژندګلو اوکړی د باطل نه اجتناب اوکړی.

وَهُوَ	الَّذِیْٓ	اَنْشَاَكُمْ	مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ	فَمُسْتَقَرٌّ	وَّمُسْتَوْدَعٌ ؕ	قَدْ	
اوهغه	هغه ذات دې	چې پیدا ئې کړئ تاسو	دنفس یونه	نوځائې دقراردې	اوځائې دامانت دې	په تحقیق سره	
الله ﷻ هغه ذات دې چې تاسوټول ئې دیونفس نه پیدا کړی یئ				نوبیایو د استوګنې ځائې دې او بل د امانت ځائې دې			
فَصَّلْنَا	الْاٰیٰتِ	لِقَوْمٍ	یَّفْقَهُوْنَ ﴿۹۸﴾	وَهُوَ	الَّذِیْٓ		
واضحه بیان کړی دی مونږه	ننبې	دپاره دهغه قوم	چې پوهیږی	اوهغه	هغه ذات دې		
مونږ پوهه خلقو ته ټولې ننبې ښکاره بیان کړې دی اوالله ﷻ هغه ذات دې چې							
اَنْزَلَ	مِنَ السَّمَآءِ	مَآءً ۚ	فَاَخْرَجْنَا	بِهٖ	نَبَاتَ	كُلِّ شَیْءٍ	
چې نازلې ئې کړې	د آسمان نه	اوبه	نو راویستل مونږ په هغې سره	بوټې	دهرڅیز		
د آسمان دطرفه ئې اوبه راورولې دی		اودهغې په ذریعه مونږ هرقسم شینکئ رازرغون کړو					

(۱) حاکم: ۳۱٦/۲، عن ابن عباس ﷺ وسنده حسن.

فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ
نورا اویستل مونږه|دهغې نه|شین فصل|را|اوباسومونږه| دهغې نه |دانې| قط په قط یو بل کښې نختې
اوبه هغې کښې مو شنه بناخونه پیدا کړل اوبه هغې مو قط په قط دانې پیدا کړې
وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَّجَنّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَّالزَّيْتُونَ
او د کجورونه |دغنچې دهغې نه| وړی	نزدې	او باغونه| دانګورو	اوخونه	
اودکهجورو دغونچې نه زوړندې غونچې..... .....|اود انګورواو خونه او د انارو باغونه
وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۗ أُنْظُرُوا إِلٰى ثَمَرِهٖٓ
اوانار |چې یوشان وی په رنګ کښې| اونۀ وی یوشان په خوند کښې| اوګورئ| میوې دهرې وني ته
.....چې څه دیوبل پشان دی	او څه دیوبل نه مختلف دی	ددې ونومیوو ته اوګورئ
إِذَا أَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ۚ إِنَّ فِي ذٰلِكُمْ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ
کله چې میوه اونیسی	اوپخیدوده ته	بیشکه	په دې څیزونو کښې	ننبې دی| دپاره دهغه قوم
چې کله میوه اوکړی او کله پخه شی	بیشکه په دې څیزونو کښې دهغه خلقو دپاره د عبرت ننبې دی
يُؤْمِنُونَ ۝
چې ایمان راوړی|
مومنان دی|

قوله تعالی:: وَهُوَ الَّذِيٓ أَنْشَأَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ ۗ

د الله ﷻ دنور قدرت کامله اوحکمت بالغه بیان:- الله ﷻ فرمائی چه هم هغه تاسودیو روح یعنی حضرت آدم ﷺ نه پیداکړئ.لکه څنګه چه فرمائیلی اې خلقو د یو الله ﷻ نه اوویریږئ چا چه حضرت آدم ﷺ پیدا کړو اود هغه نه ئې د هغه بی بی اوبیا ددې دواړو نه ډیرې ښځې او سړی پیدا کړل. ونی فرمائیل چه بیاتاسو آرام کښې کیګئ او بیا بل ځائ ته ورکولې شئ.ددې جملې په معنی کښې دمفسرینو اختلافات دی. حضرت ابن مسعودﷺ او حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه د مستقر نه مراد د مور رحم دې اود مستوع نه مراد د پلار شا ده او بعض وائی چه د مستقر نه مراد دنیا اود مستوع نه مراد آخرت پس دمرګه. سعید بن جبیرﷺ فرمائی چه "استقرار فی الارض" او "ودیعت بعدمرګ" مراد دې. حسن بصریﷺ وائی چه په مرګ باندې کوم عمل بند شو دا مستقر دې اومستوع د آخرت کور دې. لیکن اول قول ډیر صحیح دی.مونږه د پوهه لرونکود پاره خبره څومره واضحه بیانوو. بیائې اوفرمائیل هم هغه دآسمان نه اوبه نازل کړې چه مبارک دی اودبندیګانودپاره رزق راپیداکوی. دمخلوق امداکوی هم په دې سره مونږ مختلف قسم بوټی راټوکوو. لکه چه فرمائیلی هم په اوبو سره هریوځیز ژوندون بیامومی، هم په دې سره زمینداره او شنې وني راټوکیږی. هم په دغه ونوکښې بیا دانې او میوې پیدا کیږی. مونږ هم د دې د مینځ نه داسې دانې راوباسو چه یو بل سره اینښتې وی کومو ته خوشې او غونچې وائی. د خرما ونه کښې غنچه دار بناخونه وی. قنوان د قنو جمع ده د څه معنی چه تازه خرما غونچې چه نزدې نزدې او یوبل سره اینښتې وی. ابن عباس ﷺ فرمائی چه د قنوان دانیه نه د خرما وړې وړې وني د کومو خوشې چه زمکې سره لږیدلې وی مراد دی. اهل حجاز خو دې

ته قنوان وائی خود بنوتمیم قبیله قینیان (په یا سره) وائی اودا د قنو جمع ده لکه چه صنوان د صنو جمع ده. بیائي اوفرمائیل د انګورو باغونه یعنی د انګورو باغونه مونږ په زمکه پیدا کوو. د خرما او انګورو ذکر ئي اوفرمائیلو خکه چه دغه دواړه د اهل حجاز بهترینې میوې ګنړلې شی بلکه د ټولې دنیا بهترینې میوې دی. الله ﷻ د خپل احسان ذکر فرمائی چه د دې خرما او انګورو د میوو نه تاسو شراب جوړوئی او د خپل ځان د پاره ښه خوراک تیاروئی. دا آیت د شرابو د حرامیدو نه وړاندې دې. فرمائی چه په زمکه کښې مونږ د خرما او انګورو باغونه جوړکړی. فرمائی چه د زیتون او انارو باغونه چه د پانړواو شکل په لحاظ سره د یو بل په شان او نزدې دی خود میوې شکل خوند او طبیعت په لحاظ بالکل مختلف دی. بیا ئي اوفرمائیل چه کله پخې شی نودهغې د میوې طرف ته اوګوره یعنی د الله ﷻ په قدرت کښې فکر اوکړه چه څنګه ئي هغه د نیشت نه په وجود کښې راوستل اود میوې جوړیدونه اول دا هم د سوزیدو لرګی وو. بیا هم دغه لرګی خرما انګور او نورې میوې جوړې شوې. لکه چه فرمائی په زمکه باندې ګنړې وني انګور او د زمیندارئی باغونوکښې چه غنچه دار هم دی او غیر غنچه دارهم، ټولوته یو شان اوبه ملاویږی خو په خوراک کښې یوه ډیره غوره وی د بلې نه. د دې د پاره دلته اوفرمائیلې شو چه اې خلقو په دې کښې د الله ﷻ د کامل قدرت او حکمت دلیلونه دی. په دې هم ایماندار خلق پوهیږی اود الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ تصدیق کوی.

وَجَعَلُوْا	لِلّٰهِ	شُرَكَآءَ	الْجِنَّ	وَخَلَقَهُمْ
اوجوړکړی دی خلقو	الله لره	شریکان	اچی پیریان دی	حال داچی پیدا کړی دی الله پیریان
اودوئ الله ﷻ لره پیریان شریکان ګرځولی دی				حال دادې چې الله خو هغوی هم پیدا کړی دی
وَخَرَقُوْا	لَهٗ	بَنِيْنَ	وَبَنٰتٍ	بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ	سُبْحٰنَهٗ	وَتَعٰلٰى
اوجوړکړل خلقو	الله لره	خامن	اولونړه	بغیر دعلم نه	پاکی ده هغه لره	اوډیر اوچت دې
اودوئ الله ﷻ لره بغیر دپوهې نه خامن او لونړه جوړکړی دی				الله ﷻ پاک دې	او دهغه خبرو د نسبت نه	
عَمَّا	يَصِفُوْنَ ۝١٠٠					
دهغه خبرونه	چی دوئ بیانوی هغه لره					
اوچت دې کومې چې دوئ بیانوی						

قوله تعالي: وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۢ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ

د غیرالله عبادت او بطلان:- دلته په مشرکانو باندې رد دې چه په عبادت کښې الله ﷻ سره غیر شریک کوی اودشیطان عبادت کوی. که چرې داسې اوونیلې شی چه هغوی خود بتانو عبادت کولو نوبیا د شیطان دعبادت څه مطلب دې؟ نو جواب دا دې چه هغوی د بتانو عبادت هم کولو نو د شیطان په لمسون اودهغه په تابعدارئی سره لکه چه فرمائی هغوی الله ﷻ پریخودواودښځو عبادت ئي اوکړو (یعنی ملائکوته ئي د الله ﷻ لونړه اووئیل اود دې ملائکو د بتانو عبادت ئي کولو) هغوی خو صرف د شیطان سرکش عبادت کوی چا چه وئیلی وو اې الله زه به ستاد بندیګانو یوه لویه حصه خپل خان ته راکاږم، هغوی به ګمراه کوم په هغوی کښې به لرې لرې امیدون پیدا کوم. زه به هغوی ته حکم ورکوم او هغوی به د څناورو غوږونه پریکوی. زه به هغوی ته داسې حکم ورکوم او ستا ورکړې شوې شکلونه به خرابوی او چا چه الله ﷻ پریخودو او شیطان ئي خپل ولی او مشر جوړ کړو او په ډیرکولاؤ تاوان

کښې پاتې شو.هغه دې مشرکانوسره خانسته وعدې کوی اوهغه په دوی کښې لرې لرې امیدونه راپیداکوی اود هغه ټولې وعدې دهوکه وی. لکه چه فرمائی تاسو شیطان اود هغه اولاد خپلوئی؟ تاسو له خو زما لمن نیول پکار وو. اوحضرت ابراهیم ﷺ خپل پلارته وئیلې وو اې پلاره ته د شیطان عبادت کوې شیطان خو د رحمن نافرمان دې. اولکه چه فرمائی اې بنیادمه ما تاسوته نه وو خودلی چه دشیطان عبادت مه کوئې هغه خوستاسو بنکاره دښمن دې.تاسو هم زماعبادت کوئې اوهم دغه نیغه لار ده.

ملائکې به د قیامت په ورځ وائی ته پاک ئې ته زمونږ ولی ئې دې مشرکانو به مونږ ته د الله ﷻ لونړه وئیل او زمونږ عبادت به ئې کولو خوزمونږ دوی سره هیڅ تعلق نشته دوی خو په اصل کښې د شیطان عبادت کولو په دې وجه په مذکوره آیت کښې اوفرمائیل چه دې مشرکانو شیطانان د الله ﷻ شریک جوړکړی وو سره د دې چه دوی هم یو الله ﷻ پیدا کړې دی. نو هغوی د الله ﷻ سره د هغه د مخلوق څنګه عبادت کوی لکه چه ابراهیم ﷺ فرمائیلی وو آیا تاسو د هغه څیزونو عبادت کوئې کوم چه تاسو پخپله په خپلو لاسونو جوړکړی. تاسو او ستاسو جوړکړی شوی څیزونه ټول هم الله ﷻ پیدا کړی دی نودې د پاره پکار دی چه تاسو ځان د یو الله ﷻ چه شریک نه لری تعلق اوساتئی. بیائې اوفرمائیل چه هغوی په ناپوهئی کښې د الله ﷻ د پاره لونړه او ځامن جوړکړل. دلته د الله ﷻ په اوصافوکښې د ګمراهانو په ګمراهئی خبرداری ورکوی. هغوی د الله ﷻ د پاره خوئ ګرځوی لکه چه یهود وائی عزیر ﷺ د الله ﷻ خوئ دې (نعوذبالله) سره د دې چه هغه د الله ﷻ پیغمبر دې او نصاری حضرت عیسی ﷺ ته د الله ﷻ خوئ وائی او د مکې مشرکانو په ملائکوته د الله ﷻ لونړه وئیلې. دا ظالمان چه د کومې خبرې قائل دی الله ﷻ د دې نه ډیر اوچت دې.﴿خَرَقُوْا﴾ معنی ده هغوی د خپل زړه نه جوړکړل. حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چه هغوی اټکل اولګولو. عوفی رحمه الله وائی چه هغوی اوګرځول. مجاهد رحمه الله وائی هغوی دروغ خبره جوړه کړه. مطلب دا چه هغوی څوک د عبادت شریک ګنړی خو الله ﷻ چه واحد دې هغوی بغیر د چا د شرکت نه پیداکړل هغوی د حقیقت د واقفیت نه بغیر داسې وائی د الله ﷻ د عظمت او لویئې نه جاهل دی کوم چه الله ﷻ دې د هغه ځامن لونړه او ښځه څنګه کیدې شی. د دې د پاره اوفرمائیلې شو هغه پاک دې اود دوی د فضول او بیهوده خبرونه اوچت دې.

بَدِيْعُ	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ ؕ	اَنّٰى	يَكُوْنُ	لَهٗ	وَلَدٌ
اپیدا کونکې دې	آسمانونو	اودزمکې	څنګه	کیدې شی	هغه لره	خوئې
.....دآسمانونو اوزمکې پیداکونکې دې			.....څنګه			

وَّلَمْ تَكُنْ	لَّهٗ	صَاحِبَةٌ ؕ	وَخَلَقَ	كُلَّ شَيْءٍ ۚ
حال دا چی نشته	هغه لره	ملګرې دژوند (ښځه)	اوپیدا کړې دې هغه	هرڅیز
.....			اوهغه هر څیز پیدا	

وَهُوَ	بِكُلِّ شَيْءٍ	عَلِيْمٌ ۝	ذٰلِكُمُ اللّٰهُ	رَبُّكُمْ ۚ	لَاۤ اِلٰهَ	اِلَّا
اوهغه	په هر څیز باندې	خبردار دې	دغه الله	رب دې ستاسو	نشته لائق دعبادت	مګر
کړې دې	اوپه هرڅه پوهه دې	همدا الله ﷻ دې چې ستاسوپالونکې دې			دهغه نه بغیربل څوک معبودنشته	

Scanned with Ca

قوله تعالی:: بَدِيْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ؕ

د الله ﷻ د وحدانیت بیان :- هغه د زمکې او آسمان پیدا کونکې او خالق دې د هغه په وړاندې د زمکې او آسمان مثال نه وو. بدعت ته بدعت په دې وجه وائی چه په سلف کښې د هغې هیڅ مثال نه وی خلق یو عمل د خپل طرف نه شروع کړی او دا پخپله د ثواب کار ګڼړی. د هغه څوئ څنګه کیدې شی د هغه خو ښځه نشته او څوئ خو د دوو متناسبوځیزونو نه پیدا کیږی او د الله ﷻ خو مناسب او متشابه یوځیز هم نشته. لکه چه فرمائی هغه وائی چه رحمن یو خپل څوئ جوړ کړې دې دا ډیره دروغ خبره ده هغه هرڅیز پیدا کړې دې نو بیا د هغه مخلوق د هغه ښځه څنګه جوړیدې شی، د هغه څوک مثال نشته بیا د هغه څوئ د هغه مثال څنګه جوړیدې شی د الله ﷻ ذات د دې نه پاک دې.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ	رَبُّكُمْ ۚ	لَاۤ اِلٰهَ	اِلَّا
ادغه الله	رب دې ستاسو	نشته لائق دعبادت	مګر
همدا الله ﷻ دې چې ستاسوپالونکې دې ادهغه نه بغیربل څوک معبودنشته			
هُوَ ۚ	خَالِقُ	كُلِّ شَيْءٍ	فَاعْبُدُوْهُ ۚ	وَهُوَ	عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	وَّكِيْلٌ ۝
هغه دې	پیدا کونکې	دهر څیز	نو عبادت کوئ دهغه	اوهغه	په هر څیز باندې	نګهبان دې
دهرڅیزپیداکونکې دې	.....	دهغه عبادت کوئ	اوهغه دهرڅیزکارساز دې	.....	.....	
لَا تُدْرِكُهُ	الْاَبْصَارُ ۫	وَهُوَ	يُدْرِكُ	الْاَبْصَارَ ۚ	وَهُوَ	اللَّطِيْفُ
نشی کتلې هغه	سترګې	اوهغه	وینی	سترګې	اوهغه	باریك لیدونکې دې
اوهغه (د مخلوق) په سترګونه لیدلې کیږی		اوهغه ټولې سترګې وینی		اوهغه ډیر بارک بین		
الْخَبِيْرُ ۝						
خبرداردې						
خبردار دې						

قوله تعالی:: لَا تُدْرِكُهُ الْاَبْصَارُ ۫ وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ۚ

د الله ﷻ د رویت بیان:- هم دغه الله ﷻ ستاسورب دې چا چه هرڅیز پیداکړې دې د هغه نه سوا بل هیڅ څوک د عبادت لائق نشته.هغه دهرڅیز خالق دې نو تاسو هم د هغه عبادت کوئ او د هغه د وحدانیت اقرار اوکړئ. د هغه نه څوک څوئ شته نه پلار نه بی بی او نه د هغه څوک عدیل او مثال شته. هغه په هرڅیز باندې حفیظ او رقیب دې. د هرڅیز مدبر دې هم هغه رزق ورکوی شپه ورځ هم هغه جوړ کړی دی. هغه سترګې نه شی لیدلې. په دې مسئله کښې د آئمه سلف ډیر اقوال دی یو خو دا چه سترګې به هغه په آخرت کښې لیدلې شی ولې په دنیاکښې نه شی لیدلې. د حضور اکرم ﷺ د احادیثونه دا په تواترسره ثابت دی لکه چه د حضرت عائشه صدیقه رضی الله عنها نه روایت دې چه چا دا ګمان اوکړو چه نبی کریم ﷺ الله ﷻ لیدلې وو نو هغه دروغژن دې. بیا هغې هم دا آیت اولوستلو.([1]) د ابن عباس ﷺ نه د دې خلاف روایت دې. هغه د الله ﷻ رویت مطلق ساتلې اود هغې نه نې دا هم مراد دې چه

[1])صحیح بخاری کتاب التفسیر سورة النجم :٤٨٥٥، صحیح مسلم: ١٧٦، صحیح مسلم کتاب الایمان باب معنی قول الله عزجل(ولقد راه نزلة اخری): ١٧٦.

حضور ﷺ د زړه په سترګو دوه ځل الله ﷻ لیدلي دي او دا مسئله به د سورة النجم په اول کښې ان شاء الله بیانولې شی. ابن عیینه رحمه الله فرمائی چه په دنیا کښې سترګې هغه نه شی لیدلې او نورو وئیلی دی چه د دې مطلب دا دې چه په مړو سترګو هغه نه شی لیدلې. د دې نه تخصیص کیږی د هغه رویت چه مؤمنانوته به د آخرت په کور کښې حاصلیږی. معتزلو د خپلې پوهې د اقتضاء په بنیاد د دې کوم مطلب ګنړلې هغه دا دې چه نه په دنیا کښې الله ﷻ لیدلې شی نه په آخرت کښې. دا عقیده د اهل سنت والجماعت نه خلاف ده کومه چه د نادانئی په بنیاد باندې ده. ځکه چه د الله ﷻ د قول نه داخبره ثابتیږی. یعنی الله ﷻ فرمانیلی دی چه د ایماندارانو مخونه به په هغه روځ خوشحاله وی او د خپل رب طرف ته به هغوی خپل نظرونه اوچت کړی وی. اود کافرانو متعلق الله ﷻ فرمائی چه هغوی به د خپل رب د کتونه په پرده کښې وی یعنی هغوی به رب نه شی لیدلې. د دې نه په دې خبره باندې دلالت کیږی چه دمؤمنانو د پاره به د رب په رویت کښې حجاب نه وی اود متواتر احادیثونه دا هم ثابت دی چه مؤمنان به د آخرت په کورکښې الله ﷻ د جنت په روضاتوکښې ګوری. الله ﷻ دې په خپل فضل سره دا خبره رانصیب کړی، آمین.

اودا هم وئیلی شوی دی چه مراد دا دې چه عقل به پوهه نه شی حاصلولې اوداسې خیال ډیر عجیبه دې اود آیت د ظاهر نه خلاف دې. د کوم مطلب چه دا شو چه د ادراك معنی رویت دې والله اعلم. د نورو خیال دا دې چه رویت ثابت منلو سره د ادراك د انکار خلاف نه دې ځکه چه ادراك رویت سره خاص دې اود خاص په نفی سره د عام نفی نه کیږی. اوس چه د کوم ادراك دلته نفی شوې ده دا ادراك د کوم قسم دې. په دې کښې ډیر اقوال دی لکه معرفت حقیقت او حقیقت پیژندلو والا سوا د الله ﷻنه څوك نه شی کیدلې سره د دې چه مؤمن ته به رویت کیږی خو حقیقت یو بل څیز دې. سپوږمنی هر څوك وینی خود دې حقیقت دهغې ذات او کنه ته د چا رسیدل نه شی کیدلې. نو الله ﷻ خو بې مثل دی. ابن علیه رحمه الله وائی چه نه لیدل مخصوص دی په دنیاکښې یعنی په دنیا کښې په سترګو سره نه شی لیدلې. بعض وائی چه ادراك د رویت نه خاص تر دې ځکه چه ادراك احاطه کولو ته وائی اود عدم احاطه نه عدم رویت نه لازمیږی. لکه چه د ټول علم احاطه نه کیدو باندې دا نه لازم کیږی چه مطلق علم حاصل نه دې. انسان ته د علم د احاطې نه حاصلیدل د دې آیت نه ثابت دی. ﴿ وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا ﴾او په صحیح مسلم کښې دی چه ای الله! زه ستا د ثناء احاطه نه شم کولې نود دې [1] خو دا مطلب نه شی کیدې چه مطلق ثناء نه شم کولې. د ابن عباس ﷺ قول دې چه د چا نظر د الله ﷻ احاطه نه شی کولې. عکرمه رحمه الله ته اووئیلې شو ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ﴾ نو وئی وئیل ولې ته آسمان نه شې لیدلې؟ وئیل او لیدلې شم نو هغه اووئیل چه پوره آسمان په یو نظر سره لیدلې شې. لنډا دا چه د الله ﷻ شان د دې نه اوچت دې چه په هغه باندې نظر پریوزی.الله ﷻ اوفرمائیل چه د مؤمنانو مخونه به داسې خوشحاله وی او هغوی به خپل رب ته ګوری خو دهغه دعظمت په وجه به نظر هغه محیط کولې نه شی. د دې آیت په تفسیرکښې حدیث وارد دې که چرې ټول انسانان او پیریان شیطانان او ملائکې د کوم وخت نه چه پیدا کړې شوی دی ټول یو صف جوړکړی نو بیا به هم د هغه احاطه اونه کړې شی.[2] دا حدیث ډیر غریب دې او په صحاح سته کښې چرته هم نشته.

ابن عباس ﷺ وائی چه نبی کریم ﷺ خپل رب لیدلې وو چه کله اوونیلې شو چه آیا الله ﷻ نه دی فرمانیلی ﴿ لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ ﴾ نو وئی فرمائیل چه هغوی ﷺ خو هم د الله تعالی یو نور دې خود دې آیت

---

[1] صحیح مسلم کتاب الصلاة باب مایقال فی الرکوع والسجود: ٤٨٦، ابوداود:٨٧٩، ترمذی: ٣٤٩٣، ابن حبان: ١٩٣٢.

[2] الدرالمنثور: ٦٨/٣، ابن ابی حاتم.

Scanned with Ca

مطلب دا نه دي که چرې هغه په خپل ټول نور سره تجلي اوکړي نو سترګې هغه نه شي لیدلې [۱] او بعضې دا مطلب بیانوی چه هیڅ څیز د هغه په وړاندې قائم نه شی پاتې کیدې. الله ﷻ نه اوده کیږی او نه اوده کیدل دهغه د پاره سزاوار دی هغه میزان قائم کړې دي د ورځې اعمال د شپې راتلونه وړاندې او د شپې اعمال د ورځې راتلونه وړاندې د هغه مخې ته پیش کولې شی د هغه حجاب نور دي یا نار دي که هغه اوچته کړې شی نو د هغه تجلی به ټوله دنیا اوسوزوی [۲] په وړاندینوکتابونوکښې دی چه الله ﷻ موسی ﷺ ته فرمائیلی وو اې موسی ! یوڑوندې زما تجلی کتوباندې ژوندې نه شی پاتې کیدې او هیڅ څیز بغیرد فنا نه نشی پاتې کیدې. الله ﷻ فرمائی چه کله هغه په غرباندې تجلی اوکړه نو هغه خراب او اوسوزیدو او حضرت موسی ﷺ بې هوشه پریوتلو او چه کله په هوش کښې راغلو نووئی وئیل ﴿ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ ادراك خاص د قیامت په ورځ د رویت نفی نه کوی هغه به په مؤمنانو بندیګانو باندې خپله تجلی کوی. دهغه تجلی اوعظمت به دهغه د خوښې په حیثیت باندې وی. نظر د هغه ټول ادراك نه شی کولې په دې وجه ام المؤمنین حضرت عائشه رضی‌الله عنها په آخرت کښې د رویت قائله ده او په دنیا کښې د رویت نفی کوی. د هغوی احتجاج هم د دې آیت نه دې نو چه د کومې خبرې نفی ادراك اوکړی نود هغې معنی هم د رویت عظمت اود جلال ده نو هغه خبره څنګه ممکن ده چه د یو بشر یا فرښتې نه به اوشی. بیا ارشاد دې چه ﴿ وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ ﴾ یعنی هغه د خلقو د ابصار ادراك او احاطه کولې شي خکه چه هم هغه د انسان نظر پیدا کړې دې نو بیا به هغه څنګه احاطه نه شی کولې. ارشاد دې چه آیا هغه به خپل پیدا کړې شوی څیز باندې نه پوهیږی هغه خو لطیف او خبیر دې او کله د لفظ ابصار نه مبصرین مراد وی یعنی مبصرین هغه نه شی لیدلې هغه لطیف دې یعنی د یو خبرې په استخراج ډیر باریك دې اود هر څیز د خائ او مقام نه خبر دې والله اعلم. لکه چه حضرت لقمان خپل خوئ ته د نصیحت په وخت کښې وائی ﴿ يٰبُنَيَّ اِنَّهَآ اِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ ﴾ اې زما بچیه! که یوه بدی یا نیکی د وری د دانې هومره هم برابر وی که هغه په کانړو کښې وی په آسمانونوکښې وی یا په زمکه کښې الله ﷻ به هغه راوړی. الله ﷻ ډیر باریك بین او خبردار دې.

قَدْ	جَآءَكُمْ	بَصَآئِرُ	مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ
په تحقیق سره	راغلی دی تاسوته	ارنړاګانې دپوهې	دطرفه درب ستاسونه
	..... تاسو ته دخپل رب دطرفنه دلیلونه راغلی دی		
فَمَنْ	اَبْصَرَ	فَلِنَفْسِهٖ ۚ	وَمَنْ عَمِیَ	فَعَلَيْهَا ؕ
نوچاچی	اوغړولې سترګې	انوفائدې ئې دپاره دخپل خان ده	اوچاچی	اېندې کړې انونقصان ئې په هغه دې
نوڅوک ئې چې	اووینی	نوفائده ئې خان دپاره ده	اوڅوک چې	خان روند کړی انو نقصان ئې خان دپاره دې
وَمَآ اَنَا	عَلَيْكُمْ	بِحَفِيْظٍ ۝	وَكَذٰلِكَ	نُصَرِّفُ	الْاٰيٰتِ
اونه یم زه	ستاسو	ساتونکی	اوهم دغه شان	مونږ باربار بیانوو	آیتونه
اوزه په تاسونګهبان (مقرر شوې) نه یم			اومونږ خپل آیاتونه دغه شان دغه شان بیانوو		

[۱] ترمذی کتاب تفسیر القرآن باب ومن سورة النجم : ۳۲۷۹، وهو حسن حاکم :۳۱۶/۲، السنة لابن ابی عاصم : ۴۳۷.
[۲] صحیح مسلم کتاب الایمان باب فی قوله علیه السلام ان الله لاینام : ۱۷۹ مسندالطیالسی: ۴۹۱.

وَلِيَقُولُوا	دَرَسْتَ	وَلِنُبَيِّنَهُ
اوددې دپاره چې اووائی داخلق| دبل چانه وئیلې دې تا |اودپاره ددې چې مونږبیان کړوحقیقت|		
اوددې دپاره چې دوئ اووائی چې تاچرته دچانه لوستلی دی	.....او څوک چې	

لِقَوْمٍ	يَعْلَمُونَ ﴿۱۰۵﴾
هغه قوم ته|چې پوهه لری|	
پوهه دی هغوئ ته حقیقت ښکاره کړو|	

قوله تعالی: قَدْ جَاءَكُمْ بَصَائِرُ مِنْ رَبِّكُمْ ۚ فَمَنْ أَبْصَرَ فَلِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا ۗ

مومن،کافر اوروښانه دلائل:- بصائر یعنی ښښې ښښاني کومې چه قرآن کښې موجود دی او چه رسول الله ﷺ پیش کړی دی، نو چه چا د بصیرت نه کار واخستو نو د هغه ذات ته فائده اورسیده. لکه چه اوفرمائیلی شو چه څوک هدایت حاصل کړی هغه به د خپل ذات د پاره وی او چه څوک دهوکه شو نود هغې نقصان به هم په هغه وی. د دې دپاره اوفرمائیلې شو چه څوک ړوندجوړیږی نود هغې نقصان به هم هغه ته رسی. لکه چه فرمائی سترګې ړندې نه وی بلکه زړه ړوند وی او زه څه په تاسو باندې حفاظت کونکې رقیب یاساتندونکې خونه یم بلکه زه خوصرف یومبلغ یم هدایت خوالله ﷻ کوی.څوک چه غواړی نو ګمراه ئې کړی او څوک چه غواړی په نیغه لار ئې کړی او دغه شان مونږ خپل آیاتونه په تفصیل سره بیانوو. لکه څنګه چه په دې سورت کښې د توحیدبیان پیش کړې شوې دې او په دې وجه هم چه کافر او مشرك وائی ای محمد ﷺ! دا خبرې تا د وړاندینواهل کتابونه نقل کړی دی او هم د هغوی نه دې زده کړی دی او وائې. ابن عباس ﷺ فرمائی چه لفظ "درست" په معنی د تلوت. د هغوی دا خبره د مخاصمت او مجادلت په محل کښې ده لکه چه د دې کافرانو د کذب او عناد الله ﷻ داسې خبر ورکړې دې چه کافر وائی چه دا خو جوړکړې شوی دروغ دی او نورو هم د دې کتاب قرآن په جوړولوکښې امداد ورکړې دې نودا د ډیر کذب او ظلم خبره ده. هغوی وائی چه دا خو د اولنو خلقو ملفوظات او مکتوبات دی کوم چه هغوی هم لیکلی دی اود دې کافرانو د زعم او کذب باره کښې فرمائی چه هغه فکر اوکړو، سوچ ئې اوکړو او اندازه ئې اولګوله. بیا ئې سوچ اوکړو مخ ئې تریو کړو شکل ئې وران کړو غرور ئې اوکړو او وئی وئیل چه دا خو یو لوستلې شوې جادو دې د الله ﷻ نه د انسان کمال دې. او وئی فرمائیل د داسې خلقو د پاره وضاحت سره خبره کوو څوک چه حق اوپیژنی او د هغې تابعداری کوی، د باطل نه ډډه کوی. د کافرانو په ګمراهئی او مؤمنانو په تصدیق کښې د الله ﷻحکمت او مصلحت دې لکه چه فرمائی غلط تعبیر کونکی د قرآن نه ګمراه کیږی هم او هدایت هم اخلی.وئی فرمائیل چه د چاپه زړه کښې بیماری اودچا زړونه کانړی دی شیطان دهغوی په زړه کښې خبره اچوی اوداخیز د هغوی د پاره د الله ﷻ ازمینښت جوړیږی او الله ﷻ ایماندارانوته نیغه لار ښائی. اوفرمائی مونږ په دوزخ باندې فرښتې مقرر کړی دی اود هغوی د (۱۹) مقرر کړې شوې شمیر د کافرانود پاره یوه فتنه ده خو هم په دې سره د ایماندارانو او اهل کتابو ایمان زیاتیږی اهل کتاب او مؤمنان په دې کښې شك نه کوی (ځکه چه اهل کتاب هم په خپلوکتابونوکښې هم د دغه شمیر ذکرمومی) لیکن کافر او بیمار زړه والا خلق وائی چه د دې خبرې د پیش کولو الله ﷻ ضرورت څه وو دغه شان ډیر خلق ګمراه کیږی او ډیر هدایت بیامومی. د الله ﷻ شکر د هغه نه بغیرخوک پیژنی. او وئی فرمائیل مونږ قرآن د مؤمنانود پاره شفا او رحمت جوړکړو او نازل مو کړو او هم دغه څیز د

ظالمانود پاره د خساري او تاوان دي. وئی فرمائیل چه اووایه دا قران د مؤمنانودپاره هدایت او شفا ده اود کافرانو په غوږونوکښې پړدي لګیدلی دی او هغوی راننده دی. قرآن د متقیانود پاره هدایت کیدل او هدایت او ضلالت د هغې په منشاء پاندې موقوف کیدل، په دې موضوع ډیر آیاتونه دی. په دې وجه ئې دلته اوفرمائیل چه مونږ آیاتونه څنګه څنګه اړولو راړولو سره بیانوو خو کافران هم دغه وانی چه د چرته نه ئې لیکلی راوړی. ابن عباس﵁ ﴿ درست﴾ په معنی ﴿قراءت وتعلمت﴾ بیان کړي دي او حسن بصری﵀ په معنی د تقاومت وائی. عمرو بن دینار﵀ وائی چه ابن زبیر ﵁ وئیل چه ماشومان دلته "دارست" لولی او دې لفظ "درست قراءت" ابن مسعود ﵁ "درست"نصب سین او دتاء په وقف سره دې اود دې معنی ده تقاومت. مطلب دا شو چه کوم څیز ته مونږ ته اوروې هم د مخکینو په ذریعه د دې نه واقف یو. د ابن مسعود ﵁ په قراءت کښې درس دي یعنی محمد ﷺ دا زده کړي دي. دا اختلاف عجیبه دي. ابی بن کعب ﵁ به وئیل چه حضور ﷺ ماته داسې اورولې وو ﴿وَلِيَقُوْلُوْادَرَسْتَ﴾ یعنې د سین په جزم او تاء په زبر سره.(۱)

اِتَّبِعْ	مَآ	اُوْحِيَ	اِلَيْكَ	مِنْ رَّبِّكَ ۚ		
تابعداری کوه	دهغې	چې وحی شوی ده	تاته	دطرفه درب ستانه		
ته د هغه وحی تابعداری کوه کومه چې تاته ستا رب کړي ده						
لَآ اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ ۚ	وَاَعْرِضْ	عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ۝	وَلَوْ	
نشته لائق دعبادت	مګر	هغه دي	اومخ اوګرځوه	دمشرکانونه	اوکه چرې	
دهغه نه بغیر بل معبود نشته		.....اود مشرکانو هیڅ پرواه مه کوه			.....اوکه چرې	
شَآءَ اللّٰهُ	مَآ اَشْرَكُوْا ؕ	وَمَا جَعَلْنٰكَ	عَلَيْهِمْ	حَفِيْظًا ۚ		
غوښتلې اللّٰه نونه به ووُ کړي شرک دي خلقو	اونه ئې مقررکړي مونږته	په دوئ	څوکیدار ساتونکي			
اللّٰه ﷻ غوښتلې نو دوئ به شرک نه وو کړي	اومونږ ته په دوئ محافظ نه ئې مقرر کړي					
وَمَآ اَنْتَ	عَلَيْهِمْ	بِوَكِيْلٍ ۝				
اونه ئې	ته	په دوئ باندې	وکیل			
اوند ته ددوئ ذمه دار یئ						

قوله تعالي: اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ

د الله ﷻ حکم د نبی ﷺ او امت د پاره:- الله ﷻ رسول کریم ﷺ او د هغه امت ته حکم ورکوی چه تاسو هم د وحی اقتداء کوئي او هم په دې عمل کوئي ځکه چه هم دغه حق دی او په دې کښې هیڅ ګډوډوالي نشته اود دې مشرکانونه ډډه کوئي، دوی ته معافی کوئي، د دوی تکلیف رسول برداشت کوئي ترهغه وخته پورې چه الله ﷻ په دې دښمنانو باندې فتحه او کامیابی درکړی او پوهه شئی چه هم د دوی په ګمراهئی کښې د الله ﷻ حکمت دي. که الله ﷻ غوښتل نوټوله دنیا به ئې په هدایت باندې کړي وه او تول به په هدایت باندې راجمع شوی وو او شرک کونکو به هډو شرک نه کولو. په دې کښې د الله

(۱) حاکم:۲/۲۳۸

ﷻ خاص حکمت دي او چه هغه څه کوی نو په هغي باندي اعتراض نه شی کولې او دا خبره ده چه هغه په د ټولونه تپوس کوی. مونږ ته د دوی ذمه وار نه ئې جوړکړې د دوی په زړه کښې چه څه راځی کوی دي، ته په دوی باندي ساتندونکي نه ئې، نه ته دوی ته رزق ورکوې، ستا کارخو صرف تبلیغ کول دی. لکه چه فرمائی دوی ته نصیحت کوه ته صرف نصیحت او خیګړه کونکي یئې ته د هغوی د پاره ربانی فوجدار نه ئې او وئی فرمائیل چه تبلیغ کول ستا کار او تپوس کول زمونږ کار دي.

وَلَا تَسُبُّوا	الَّذِيْنَ	يَدْعُوْنَ		
اومۀ کوئی کنځل	هغو ته	اچی رابلی ئې دا خلق		
اوﷲ ئې مسلمانانو هغې معبودانو ته کنځل مه کوئ	چې دوئ ئې			
مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ	فَيَسُبُّوا	اللّٰهَ	عَدْوًا	بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ كَذٰلِكَ
ماسوا د اللّٰه نه	نو کنځل به اوکړی	اللّٰه ته	په دشمنئ کښې	په ناپوهتیا سره	دغه شان
دالله ﷻ نه سوا عبادت کوی	خکه چې دوئ به په دښمنئ کښې دناپوهئ په وجه الله ﷻ ته کنځل اوکړی داشان			
زَيَّنَّا	لِكُلِّ اُمَّةٍ	عَمَلَهُمْ ۪	ثُمَّ	اِلٰى رَبِّهِمْ	مَّرْجِعُهُمْ
ښائیسته کړې دي مونږه	هرامت ته	اعمل دهغوئ	بیا	ارب دهغوئ ته	واپس تلل دی دهغوئ
مونږ هر یو امت ته خپل خپل عمل ښائسته کړې دي	بیا به داتول خپل رب ته پیش کیږی			
فَيُنَبِّئُهُمْ	بِمَا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ ۝	
نو خبر به کړی هغوئ	په هغه کارونو	اچی وۀهغوئ	چی کول به ئې	
نوهغه بۀ ورته خبر ورکړی چې دوئ څه څه کارونه کړی دی				

قوله تعالی:: وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ

باطلو معبودانوته دکنځلو ممانعت:-الله ﷻ رسول الله ﷺ او د هغه امت منع کوی چه د مشرکانو خدایانوته کنځلې مه کوئ اوبدرد مه وائې سره د دې چه په کښې یو ذره مصلحت خو شته ولې مفاسد ئې ډیر دی یعنی په جواب کښې به هغوی هم د مسلمانانو الله ﷻ ته کنځل کوی. مشرکانو به وئیل ای محمد ﷺ! زمونږ بتانو ته د کنځلونه تاله منع کیدل پکار دی ګنی نو مونږ به هم ستا د رب بې عزتی کوو. نو الله ﷻ منع کړل. د قتاده رحمه الله نه روایت دي چه مسلمانانو به د کافرانو بتانوته کنځل کول نو کافرانو به هم د حقیقت نه خان خبرولو نه بغیر په دښمنئی کښې الله ﷻ ته هم بدرد وئیل(۱) کله چه ابوطالب زنکدن وو نو قریشو مشوره اوکړه چه ابوطالب له خو او هغه ته وایو چه خپل وراره منع کړه مونږ ته دا د شرم خبره معلومیږی چه د ابوطالب دمرګ نه پس به محمد ﷺ څوک قتل کړی.عرب به وائی چه د ابوطالب په ژوند کښې خو هیڅ اونه شو اوس چه کله هغه مړ شو نو بزدلانو هغه قتل کړو. نو ابوجهل ابوسفیان عمرو بن العاص او نور ډیر خلق د جرګې په شکل راغلل او مطلب نومې سړې د اجازت د پاره راوٹلیګلو.ابوطالب راوٹغوښتل نو هغوی اووئیل ای ابوطالب! ته زمونږ مشر او سردار ئې، محمد ﷺ مونږ ته تکلیف رسولې دي او زمونږ خدایانوته هم مونږ غواړو چه ته هغه راوٹغواړې او منع کړې چه هغه دي زمونږ د خدایانو نوم هم نه اخلی نومونږ به هم هغه اودهغه رب پریږدو.نو هغه نبی اکرم

---

(۱) تفسیر القرآن لعبدالرزاق: ۲۰۸/۱.

Scanned with Ca

ﷺ اوغوښتو اوونی وئیل چه دا هم ستا قوم دي او هم ستا د تره اولاد دي.رسول الله ﷺ اوفرمائیل تره خبره څه ده او دا خلق څه غواړی؟ هغوی وئیل چه ته زمونږ نه او زمونږ د خدایانو نه لرې شه نو مونږ به هم ستانه او ستا د الله ﷻ نه لاس اخوا کړو. حضور ﷺ اوفرمائیل چه زه تاسو ته یوه خبره ښایم که تاسو هغه خپله کړه نو تاسو به د عربو او عجمو مالکان شئ او د ټولو ملکونونه به ستاسو ملګ ته خراج او دولت راځی.نوابوجهل وئیل چه ستابه داسې یوه خبره نه بلکه لس خبرې هم قبولې کړو. اوښایه هغه څه دی؟ نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه اووایئ ﴿لااله‌الاالله﴾ نو هغوی انکار اوکړو. شکل ئې جوړکړو. ابوطالب وئیل وراره د دې نه علاوه بله خبره اوښایه ستا قوم خو په دې کلمه باندې نور غصه کیږی نو هغوی ﷺ اوفرمائیل چه تره زما څه حق دې چه د دې نه بله خبره اوکړم. که هغوی نمر هم راوړی‌او زما په لاس ئې کیږدی نو زه د دې نه علاوه بل څه نه شم وئیلې. مطلب ئې دا وو چه دوی ناامیده کړم نوهغوی د غصې نه ډک شو او وئی وئیل زمونږه خدایانوته بدرد وئیلو نه منع شه ګنی مونږ به هم تاته او ستا خدائې ته کنځل کوو. په دې وجه فرمائی چه هغوی د دښمنئی په سبب بغیر د څه ګنړلو الله ﷻ ته بدرد وئیل.

دا هغه صورت دې چه چرته مصلحت هم هیرولې شی چه د دې په مقابله کښې به فساد نور زیات شی. رسول الله ﷺ فرمائیلی چه څوک مور پلار ته کنځل کوی هغه ډیر ملعون دې. تپوس اوکړې شو چه یارسول الله ﷺ! خپل مور پلار ته به څوک څنګه کنځل اوکړی؟ وئی فرمائیل چه دې د هغه مور پلار ته کنځل کوی نو داسې ده لکه چه هم هغه اولنی سړی خپل مور پلار ته کنځل اوکړه.(۱) د الله ﷻ ارشاد دې چه مونږ هرامت ته هم د هغه عمل د هغه په نظرکښې ښه ګرځوو لکه څنګه چه دا قوم د بتانو مینه خوښوی نو تیرشوی امتونه هم په ګمراهئی وو هم داخپل عمل به ئې ښه ګنړلو. الله ﷻ چه څه غواړی اختیاروی نو په دې کښې لوئی حکمت وی. بیا دهغه خلقو واپسی هم د الله ﷻ طرف ته وی. دغه وخت به هغه ته دخپلوعقیدو ښه والی او خرابوالې معلوم شی.که عمل نیک وی نو نیکه بدله اوکه خراب وی نو خرابه بدله به ملاویږی.

وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ	اَيْمَانِهِمْ	لَئِنْ	جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ	لَّيُؤْمِنُنَّ
اوقسمونه خوری هغوی	په الله باندې	په سختوقسمونوخپلوسره	چی خامخا که	راغله دوی ته	څه نښه	نوخامخابه ایمان راوړی دوی
اودوی په الله ﷻ باندې غټ غټ قسمونه خوړل	که دوی ته دالله ﷻ طرفه نښه راشی	نو دوی په پرې ایمان راوړی
بِهَا ؕ قُلْ	اِنَّمَا الْاٰيٰتُ	عِنْدَ اللّٰهِ	وَمَا يُشْعِرُكُمْ ۙ	اَنَّهَآ
په هغې	اورته اووایه	بیشکه نښې	دالله سره دی	اوځه پوهه کړی تاسو	چی بیشکه دا نښې
(انې پیغمبره) دوی ته اووایه چې ټولې نښې الله ﷻ سره دی	اوتاسو څنګه په دې پوهه کړو
اِذَا جَآءَتْ	لَا يُؤْمِنُوْنَ ۝	وَنُقَلِّبُ	اَفْـِٕدَتَهُمْ	وَاَبْصَارَهُمْ
کله چې	راهم شی	انۀ راوړی ایمان دوی	اومونږه اړوو	زړونه ددوی	اوسترګې ددوی
که دغه نښه راشی نوبیاهم دوی ایمان نه راوړی	اومونږ به ددوی زړونه او سترګې د حق نه بدلې کړو

(۱) احمد: ۳۱۷/۱، بلفظ آخر نحو المعنی وسنده حسن ، صحیح بخاری کتاب الادب باب لا یسب الرجل والدیه : ۵۹۷۳، صحیح مسلم: ۹۰، ابوداود: ۵۱۴۱،

Scanned with Ca

كَمَا	لَمْ يُؤْمِنُوا	بِهٖٓ اَوَّلَ	مَرَّةٍ	وَّنَذَرُهُمْ
لکه څنګه چې	ایمان رانوړو دوئ	په دې کتاب باندې	په اول ځل	اوپریږدو مونږ دوئ
لکه څنګه چې دوئ په دې ښکاره نښو په اول ځل ایمان نه دې راوړئ				اوپه خپله سرکشئ

فِيْ طُغْيَانِهِمْ	يَعْمَهُوْنَ ۝
په سرکشئ ددوئ کښې	چې حیران وی
به نې حیران پریږدو	

قوله تعالی:: وَاَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا

دَ کافرانودَ معجزوسوال اودَ الله ﷻ جواب:- مشرکان د الله ﷻ قسمونه خوړلو سره بیان کوی که چرې هغوی ته څه معجزه اودخرق عادت څه څیزاوخودلې شی نو هغوی به ایمان راوړی. نو ای نبی ﷺ!اووایه دوی ته چه معجزه خو د الله ﷻ سره ده که هغه اوغواړی نو معجزه به ښکاره کړی اوکه اوغواړی نو نه ښکاره کوی. قریشو حضور ﷺ ته اوونیل ای محمد ﷺ! تامونږ ته خودلی دی موسی ﷺ خپله همسا په کانړی باندې وهلې وه نو دولس چینې تریې روانې شوې وې اوعیسی ﷺ به مړی ژوندی کول او ثمود ﷺ ته هم د اوښې معجزه ملاؤشوې وه. که چرې ته هم داسې څه معجزه پیش کړې نو مونږ به هم ستا تصدیق اوکړو.حضور ﷺ اوفرمائیل چه تاسو له کومه معجزه پکارده؟ وئی وئیل چه دا د صفاغر زمونږ د پاره د سروزرو جوړکړه حضور ﷺ اوفرمائیل چه که داسې اوشی نو تاسو به د توحید تصدیق اوکړئی؟ کافرانو وئیل او مونږ ټول به په تا باندې ایمان راوړو. حضور ﷺ پاځیدو او د الله ﷻ نه ئې دعا اوغوښتله. جبرائیل ﷺ راغلو او وئی وئیل که ته غواړې نو د صفاغربه سره زر شی خوکه په دې باندې هم دوی ایمان راوړنړلو نو ډیر زر به په دوی عذاب نازل شی اوکه ستا خوښه وی نو دا خلق به بغیر د عذاب نه داسې پریخودلې شی. د دې د پاره چه روستو په دوی کښې څوک ایمان هم راوړی او توبه اوکړی. نو الله ﷻ اوفرمائیل چه هغه قسمونو خوړلو سره بیان کوی(الی اخر) خو خبره داسې ده چه دوی کښې څه خلق نادان دی. او وئی فرمائیل چه مونږ د معجزونه صرف دا خبره منع کوی چه د دوی وړاندینوهم د معجزونه کتلو سره انکار کړې وو او دوی به هم انکار کوی نو زر به په عذاب کښې راګیرکړې شی اوچه کوم مهلت ورته حاصل دې هغه به هم لاړ شی، تاته څه پته ده چه دوی به معجزه کتلو سره هم ایمان نه راوړی.

وئیلې شوی دی چه ﴿يُشْعِرُكُمْ﴾ په ذریعه مشرکان مخاطب کړې شوی دی لکه چه الله ﷻ دوی ته فرمائی چه آیا دا د ایمان والا خبره کومه چه قسمونوخوړولو سره تاسو کوئې تاسو په حقیقت کښې رښتیا ګنړئی ﴿اَنَّهَآ اِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ یو قراءت کښې ﴿اِنَّ﴾ په زیر سره دی په دې بناء چې معجزه کتلونه پس نفی دایمان خبر شروع کیږی.اوجمله شروع کیږی.نو(انها) نه وئیلې کیږی.اوبعضو ﴿تؤمنون﴾ یعنی (ت) سره دا لفظ لوستلې دې او وئیلی دی چه قول ﴿وَمَا يُشْعِرُكُمْ﴾ مخاطبین مؤمنان دی یعنی ای مؤمنانو! تاسو ته پته ده چه د دې نښو ښکار کیدونه پس به هم دوی ایمان نه راوړی. په دې صورت کښې ﴿انها﴾ د (الف) په زیر سره هم راتلې شی اود (الف) په زبر سره هم. یعنی ﴿يُشْعِرُكُمْ﴾ معمول شو اوپدې صورت کښې د ﴿لَا يُؤْمِنُوْنَ﴾ ﴿لا﴾صله واقعه به وی لکه چه فرمائی ﴿مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ﴾ دلته هم ﴿ان لا﴾ ﴿ان﴾ صله واقع شوی ده.اود الله ﷻ قول دې ﴿وَحَرٰمٌ عَلٰى قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَآ اَنَّهُمْ لَا يَرْجِعُوْنَ﴾ یعنی چه کله ما تاته حکم درکړې وو نو څه څیز ته د سجدې نه منع کړې. د دې آیت تقدیر داسې دې ای

مؤمنانو! تاسو سره د دې خبرې څه ثبوت دې چه دوی به خپله غوښتلې شوې نشانی او معجزه لیدلو باندې ضرور ایمان راوړی. او بعضو دا هم ونیلی دی چه ﴿انها﴾ په معنی د ﴿لعلها﴾ دې بلکه د ابی بن کعب ﷺ په قراءت کښې ﴿انها﴾ په بدله کښې هم ﴿لعلها﴾. د اهل عربو نه اوریدلی شوی دی ﴿اذهب الی السوق انك تشتری لنا شیئاً﴾ یعنی بازار ته لاړ شه ته به زما د پاره هلته څه واخلې په معنی ﴿لعلك تشتری﴾ یعنی شاید چې اخلې به. داشان په دې دعوی باندې دعربو اشعار هم پیش کړې شوی دی. د الله ﷻ قول دې چې: ﴿وَنُقَلِّبُ أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ أَوَّلَ مَرَّةٍ﴾ د دوی د انکار او کفر په وجه د دوی زړونه او د دوی سترګې مونږ اړولې دی. اوس دوی په هیڅ خبره باندې کلکیدونکی نه دی. په ایمان کښې او په دوی کښې فرق پریوتلو. دوی به د دنیا او جهان نشانې اووینی خو ایمان به نه راوړی. لکه څنګه چه په اول ځل د دوی او د ایمان په مینځ حائل شوی وو. ابن عباس ﷺ فرمائی چه الله ﷻ خبر ورکړې دې د دوی د وینا کولو نه اول به دوی څه وینا کونکی دی او د عمل کولو نه اول ئې خبرداړې ورکړو چه دوی به څه عمل اوکړی. وئی فرمائیل چه د یو خبردار سړی په شان به تاته څوك پخه خبره نه شی کولې. انسان به وائی چه افسوس کوم زیاتې او ګناه ما کړې ده تردې پورې فرمائیلی شوی دی چه هغه به وائی افسوس چه مونږ ته د دنیاوی ژوند یوه بله موقع راکړې شی نومونږ به د نیکانو نه وو. الله ﷻ فرمائی که چرې دوی بیا هم دنیا ته واپس کړې شی نو بیا به هم په هدایت باندې نه ځی. اوفرمائی چه که دنیا ته واپس کړې شوئې نو د منهیاتو به خامخا مرتکب کیږئې. دوی دروغ وائی چه نیکان به شو. بیا دنیا ته په واپس کولو به هم هغوی د وړاندې ژوند په شان ایمان نه راوړی. ځکه چه د هغه وخت په شان به دې وخت کښې هم مونږ د دوی زړونه او د دوی سترګې منقلب کړواوبیا به هم په دوی کښې اوپه متوقع هدایت په مینځ کښې پرده پاتې وی اومونږبه دوی په سرکشو کښې ګرځیدونکی پریږدو.

﴿الحمدلله﴾ د اوومې سپارې تفسیر